دوهم جلد

# د قرآن پلوشې

حکمتیار

## د کتاب پېژندنه:

نوم: د قرآن پلوشې دوهم جلد

لیکوال: حکمتیار

دوهمه طبع: ثور ۱۴۰۳

د چاپ شمېره: ۱۰۰۰ توکه

قیمت: ۱۹۵ افغانۍ

**د چاپ ټول حقوق محفوظ دي**

د میثاق ایثار نشراتي اداره
پشاور ـ نصرت مینه
Tel: ۰۹۱ ۲۳۲۵۵۳۶

# فهرست


| عنوان | صفحه |
| --- | --- |
| المائدة | ۱ |
| الانعام | ۱۲٤ |
| الاعراف | ۲۲۰ |
| الانفال | ۳٦٦ |

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# المائدة

## د سورې معرفي:

د دې مبارکې سورې معروف نوم المائده دئ، دا د سورې د مضامینو لپاره عنوان نه بلکې یوازې نوم دئ، د عقود او منقذه په نامه هم یاده شوې، ۱۲۰ آیتونه لري، د آیتونو فواصل ئې دغو صیغو ته ورته دي: خاسرین، رحیم، قدیر، یرید، تشکرون، صدور او عقاب، اکثر آیتونه ئې خاسرین ته په ورته صیغو پای ته رسېدلي چې رحیم، قدیر او یرید ته هم ورنژدې دي، د نورو مدني سورتونو په څېر ئې آیتونه اوږده دي، خو هر آیت ئې له څو لنډو، متوسطو او مسجع فقرو جوړ شوی، چې آیتونو ته ئې خوندور وزن ورکړی. مدني سوره ده، د سورې له مضامینو هم او له روایاتو هم معلومېږي چې دا سوره د حدیبیې له معاهدې او د الفتح له سورې وروسته نازله شوې. کله چې د شپږم هجري کال د ذو القعدې په میاشت کې قریشو مکې ته د مسلمانانو د ننوتلو او د عمرې د اداء کولو مخنیوی وکړ او شخړه د حدیبیې په معاهدې منتج شوه او د دغې معاهدې له مخې مسلمانانو ته دا حق ورکړی شو چې په راتلونکې کال کې د عمرې لپاره مکې ته داخلېدی شي، نو په دغې مرحلې کې چې کومو څانګړو لارښوونو ته ضرورت وو، د مائدې په سورې کې ئې ګورو، په لومړي آیت کې په دوو خبرو ترکیز شوی: د تړون درناوی او د احرام په حالت کې له ښکار ډډه کول، له دې په ډاګه معلومېږي چې د مائدې مبارکه سوره د حدیبیې له معاهدې وروسته او د عمرې له اداء کولو مخکې نازله شوې.

په احرام کې له ښکار ډډه کول داسې دئ لکه له دښمن سره د تړون په دوران کې پر هغه له برید ځان ساتل، هم احرام خاصو شیانو ته لاس غځول منع کوي او هم تړون او معاهده، د احرام درناوی مو ړ ته د معاهداتو د درناوي درس راکوي، په یوه آیت کې د دواړو ذکر همدا مطلب افاده کوي.

د دې سورې اساسي مضامین دا دي:

- د طعام او خوراك اړوند احکام.
- د شعائر الله درناوی.
- په نېکو کارونو کې د هر چا مرسته او په بدو کارونو کې د هر چا له ملګرتیا ډډه کول.

- د اودس، تیمم او غسل احکام.
- د دوست او دښمن په اړه د عدالت او قسط مراعات.
- له الله تعالی سره په خپلو ژمنو وفا ته بلنه او د هغو مخکینیو قومونو بد عاقبت بیانول چې خپلې ژمنې ئې تر پښو لاندې کړې.
- د پیغمبرانو د بعثت لاملونه او دلائل او د دوی اساسي دندې بیانول.
- د اهل کتاب انحرافات او شرك په ګوته کول او د دوی د غلطو ادعاءو تردید.
- د الله تعالی په لار کې جهاد ته بلنه او د هغو قومونو بدې پایلې بیانول چې له جهاد ئې ډډه کړې.
- د هغه چا سزا ښودل چې د ناروا جګړو او تېریو بنسټ ږدي، په ځمکې کې فساد خوروي، شوکې او غلاوې کوي.
- د اهل کتاب له منافقتونو پرده پورته کول.
- دا پر الله تعالی او د ده پر کتاب د ایمان اساسي غوښتنه ګڼل چې مؤمن انسان به په ما أنزل الله حکم کوي، خپل ټول ژوند به د الله تعالی د دین مطابق تنظیموي او د ټولو خپلمنځیو شخړو او منازعاتو د حل او فصل لپاره به د الله تعالی دین ته مراجعه کوي.
- عوام او خواص، علماء او مذهبي مشران دې ته هڅول چې په ما أنزل الله حکم وکړي، له بدې وینا، له بدو کړنو او له حرامو خلك منع کړي او په دې اړه د خلکو له مخالفتونو وېره ونه لري.
- هغه څوك د کافر، ظالم او فاسق په توګه معرفي کول چې په ما أنزل الله حکم نه کوي.
- د کافرانو له موالات او دوستۍ ډډه کول، له کافرانو سره په دوستۍ کې تلوار د منافقت نښه ګڼل.
- هغه کسان واقعي مؤمنان ګڼل چې دوستي ئې له خدای، پیغمبر او مؤمنانو سره وي، له کافر سره په چلن کې شدید، له مؤمن سره په خپل تعامل کې مهربان وي، د الله په لار کې جهاد کوي او د ملامتوونکو د سپکو سپورو تبلیغاتو پروا نه کوي.
- ګناه، تېری، حرامه وینا او په حرامو اخته کېدا او د همدې په وجه په دوی کې د دښمنیو او کرکې راولاړېدا، د یوې غیر اسلامي ټولنې مشخصات ګڼل.
- پیغمبر علیه السلام او د ده له لارې مؤمنانو ته دا لارښوونه چې د دین په پلې کولو او نورو ته په رسولو کې غفلت ونه کړي او له خلکو وېره ونلري.
- د هغه چا د ایمان دعوی پوچه او بې بنسټه ښودل چې په الهي احکامو عمل نه کوي او دین ئې د خپل ژوند تګلاره او لارښود نه دئ ګرځولی.

- د مشركو اهل كتاب او ټولو هغو خلكو په اړه د كفر قاطع او پرېكنده فيصله چي له الله تعالی سره بل څه او بل څوك په الوهيت او ربوبيت كي شريكوي، تر يوه په زياتو خدايانو باور لري، له الله تعالی پرته بل څوك د ګټي رسولو او ضرر دفع كولو مرجع ګڼي او له كافرانو د كركي پر ځای له هغوی سره دوستي كوي.
- له دې ممانعت چي څوك د تقوی په نامه له هغه څه ډډه وكړي چي الله تعالی حلال كړي.
- د مُهمل قسم او د قسمونو د كفارې په اړه احكام.
- د شراب، قمار، انصاب او ازلام تحريم او دا ټول شيطاني كارونه ګڼل او بدي پايلي ئې په ګوته كول.
- د احرام په وخت كي په وچه او بحر كي د ښكار احكام.
- د بيت الله شريف اهميت او د انسانانو پر ژوند ئې ژوري اغېزې.
- تر خپل وخت وړاندي پوښتنو ممانعت.
- د بتانو په نامه د نذر شوو حيواناتو په اړه د مشركينو غلط دودونه او د پلار نيكه په دين د دوی جاهلانه ټينګار.
- د وصيت اړوند څو احكام.
- د قيامت د ورځي د هغي پوښتني ګروېږني يو هيبتناك انځور د مخاطب مخي ته ايښودل چي الله تعالی به ئې له پيغمبرانو عليهم السلام كوي او ورته وايي به: خلكو څه ځواب دركړ؟ دوی به خپل عجز او بې خبري اعلانوي، د خپلو امتونو او پلويانو له هغو شركي عقائدو او اعمالو به برائت او بې زاري څرګندوي چي دوی ته ئې منسوبول او وايي به: موږ دوی ته همغه څه ويلي چي تا پرې مأمور كړي وو، دوی ته مو ويل چي يوازي د الله تعالی عبادت وكړئ.

او په پای كي د يوه جامع آيت په ترڅ كي ويل شوي: الله تعالی مطلق ټولواك دئ، د زمكي او آسمانونو هر څه د ده په واك كي دي او دی ئې ټولواك، خاوند او واكمن دئ او په هر كار قادر، دا يوازي د ده حق دئ چي په خپل ملك كي خپل حكم نافذ كړي او دا د دې عالم د هر څه دنده ده چي د خپل مالك حكم ته غاړه كښېږدي، نه د دې عالم كومه برخه د ده له واكه وتلې، نه د عالم په اداره او د چارو په سمبالولو كي كوم شريك لري، نه د چا مرستي ته اړ دئ، نه داسي كار موندل كېږي چي قدير خدای ئې له كولو عاجز وي، بل ته ئې وسپاري او د هغه په مرسته ئې تر سره كړي، نه په واكمنۍ كي شريك لري او نه د امورو په تر سره كولو كي مرستندوی. او دا همغه خبره ده چي د دې سورې په لومړي آيت كي په دې الفاظو شوې: (إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ) المائدة: ۱؛ دا ټول مطالب د يوه بل په

څنګ کې پداسې شکلې بنې کې راغلې چې یوه موضوع ئې د بلې لپاره مقدمه او وروستۍ ئې د مخکینۍ لپاره شرح او تفصیل. په ګډه ئې له ټولې سورې یو جامع مضمون جوړ کړی او آخرې آیت ئې داسې تتمه چې د سورې له ټولو مضامینو سره ژوره رابطه لري.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ ۚ أُحِلَّتْ لَكُم بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ وَأَنتُمْ حُرُمٌ ۗ إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ ﴿١﴾

١- اې مؤمنانو! په تړونونو وفا وکړئ، څربېدونکې بوده درته حلال کړی شوې، مګر هغه چې درباندې ولوستی شې، خو حلال نه ګڼونکې د ښکار کله چې په احرام کې وئ، بې شکه چې الله همغسې حکم کوې چې غواړې ئې.

(١)- په دې مبارك آیت کې درې اساسې خبرې راغلې:

● په خپلو ژمنو او تړونونو وفا وکړئ، که دا له الله تعالی سره وې او که په خپلو منځونو کې، که د مسلمان او مسلمان تر منځ وې او که د مسلمان او نامسلمان تر منځ. په لږ دقت سره په دې پوهېدی شو چې دیانت په دوو خبرو کې راخلاصه کېږې: خپلو تعهداتو او ژمنو ته التزام او د حلال او حرام مراعات، دا مبارك آیت دغو دوو اساسې خبرو ته ګوته نیسې، په خپلو تعهداتو وفا کول په حقیقت کې د دیانت بل نوم دئ، څوك چې خپلو ژمنو ته وفا نه لري هغه هیڅ دین نه لري، لکه چې پیغمبر علیه السلام فرمایې: "لَا دِينَ لِمَنْ لَا عَهْدَ لَهُ": څوك چې په خپل عهد نه وې ولاړ، هیڅ دین نه لري.

● ټول څربېدونکې حیوانات، که دا د کور څاروې وې او که د صحراء څربېدونکې حیوانات، درته حلال دې، مګر هغه چې الله تعالی له دې حکم مستثنی کړې. د آیت دغه برخه څو لارښوونې لري:

● د هغو حیواناتو غوښه انسان ته حلاله کړی شوې چې څارویو ته ورته وې، واښه او دانه خورې. په آیت کې د (صید: ښکار) له ذکر معلومېږې چې په بهیمة الانعام کې ټول هغه حیوانات شامل دې چې څارویو ته ورته وې، یعنې د هغو حیواناتو غوښه هم حلاله ده چې صحرائې دې، په کور کې د څارویو په څېر نه ساتل کېږې، خو څارویو ته ورته وې.
په دغه مبارك آیت کې د هغو صحرائې حیواناتو په اړه وضاحت نه دئ شوی چې

ځارويو ته ورته نه وي او د واښو پر ځای غوښه خوري. د همدې لپاره ځینو فقهاءو دا حیوانات ترې مستثنی کړي، دوی په هغه روایت هم استناد کوي چې وايي پیغمبر علیه السلام د هر داړې لرونکي ځناور او د هر منګولې لرونکي ښکاري مرغه له غوښې ممانعت کړی:

عن ابنِ عباسٍ رَضِیَ االلّٰهُ عَنْهُمَا قال: نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عن أَكْلِ كُلِّ ذِی نابٍ مِنَ السِّباعِ، وعن كُلِّ ذِی مِخْلَبٍ مِنَ الطَّيرِ. رواه ابو داؤد

دا الهي احکام دي، الله تعالی دا پرېکړه کړې چې په ژمنو به وفا کوئ او د څرېدونکو حیواناتو غوښه خوړلی شئ مګر هغه چې الله تعالی ترې مستثنی کړي.

دا چې په اسلامي شریعت کې ولې د ځینو حیواناتو غوښه تحریم شوې، آیا دلیل ئې دا دئ چې د دغو حیواناتو غوښه انسان ته له صحي پلوه تاوان لري؟ او که په تحریم کې ئې کوم بل غرض او حکمت په پام کې نیول شوی؟ د بقرې سورې په (۲۱۹) آیت کې تاسو ګورئ چې د (اثم: ګناه) په مقابل کې د (منفعت: ګټې) ذکر شوی، له دې په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې د حلال او حرام د ټاکلو په اړه دا اصل په پام کې نیول شوی چې څه انسان ته ګټه لري او څه تاوان، هر څه چې انسان ته ئې تاوان تر ګټې زیات وي؛ الله تعالی هغه حرام کړي او هر څه چې ګټه ئې تر تاوان زیاته وي هغه ئې حلال کړي. د غوښه خوړونکو حیواناتو او مرغانو د غوښې خوراك چې انسان ته کوم کوم تاوانونه او ضررونه لري؛ په دې انسان هلته په دقیقه توګه پوهېدی شي چې هم د دغو غوښو د ترکیب او خاصیت په اړه کامل معلومات تر لاسه کړي او هم ئې پر انسان له اغېز پوره خبر شي. د علمي تحقیقاتو په ترڅ کې خو تر ډېره حده دا خبره معلومه شوې چې د دغو حیواناتو غوښه له صحي پلوه انسان ته ضررونه لري، یو مثال ئې د بیزو غوښه ده چې وايي د ایډز بیماري د دغې غوښې له خوړلو له بیزو انسان ته منتقل شوې. اما له روحي پلوه ئې په ټولو اضرارو پوهېدل انسان ته مقدور نه دي، د موضوع دا اړخ په لابراتوار کې نشي معلومېدی، دا به د تجاربو له مخې معلومېږي. تر اوسه انسانانو په دې اړه هیڅ نه دي کړي، د دې زحمت ئې نه دئ ایستلی چې وګوري کوم څه له روحي پلوه انسان ته تاوان لري او کوم څه ګټه. دومره ویلی شو چې هر خوراك د انسان په مزاج او روحیې ځانګړی اغېز لري، ځیني د انسان یوه غریزه پاروي او ځیني ئې بله، ځیني د نشاط او تحرك باعث شي او ځیني د کسالت او خمود؛ د داړونکو او ځیرونکو مرغانو او حیواناتو په غوښه کې د داړلو او ځیرلو خاصیت شته، د دوی د غوښې په خوراك سره دغه خصلت په انسان کې راپیدا کېږي او وده کوي او دا معلومه ده چې که په انسان کې د دغو ځناورو دا خصلت راپیدا شي څومره خطرناك عواقب پرې مرتب کېدی شي. که په وسلو د مجهز انسان له زړه ترحم او عاطفه وایستل شي او ځای ئې د داړونکو او ځیرونکو ځناورو دغه خصلت ته خالي شي، په زمکي کې به څومره تباهي خوره کړي؟!! ځناور خو یوازي د خپل

ضرورت په اندازه داړل او څیرل کوي، چې موړ شي له داړلو او څیرلو لاس واخلي، خو انسان بیا په دې حد کې توقف نه کوي، هغه د غچ، انتقام، قهر او غصې او پر نورو د خپلي لويي او برلاسي تېلو جذبات هم لري، که دا د څیرلو او داړلو خصلت هم له دغو ځناورو تر لاسه کړي، پايله به ئې څه وي؟ دغه ستر مصلحت او حکمت ته په پام سره د دغو حيواناتو غوښه تحريم شوې.

په زړو اديانو او مذاهبو کې ځيني داسي دي چي يا د غوښي خوراك ناسم او ناروا کار ګڼي او يا خو هغه د روحي او معنوي ارتقاء مانع بولي او اوس داسي ډلي راپيدا شوې چي وايي انسان بايد يوازي د حبوباتو، نباتاتو او مېوو په خوړلو اکتفاء وکړي او د غوښي له خوړلو ځان وساتي، له دوی ځيني د حيوان ذبح کول د ترحم او عاطفې خلاف کار ګڼي او ځيني ئې د غوښي خوراك د انسان روغتيا او سلامتيا ته مضر شمېري. په دې اړه څو خبرو ته ستاسو پام رااړوم:

هر هغه مذهب چې حلال شيان تحريم کړي او د انسان روغتيا او سلامتيا ته ئې مضر او د ده د معنوي ارتقاء په وړاندې ئې خنډ وګڼي؛ هغه غلط او د اسلام له دائرې وتلی مذهب دئ.

انسان ته د غوښي د خوراك له جواز معلومېږي چي قرآن په دې اړه هم ډېر دقيق او علمي دريځ لري او د انسان فطري جوړښت ئې دقيقاً په پام کې نيولی؛ د ژورو علمي تحقيقاتو په نتيجه کې ثابته شوې چي د انسان جسمي جوړښت او د هاضمې جهاز ئې نه هغو حيواناتو ته ورته دئ چي يوازي واښه خوري او هضمولی شي او نه هغو ته چي يوازي غوښه خوري او هضمولی شي، بلکې ځيني برخي ئې يوې ډلي او ځيني ئې بلي ته ورته دي؛ له غاښونو او د تريخي د موادو له ترکيب ئې معلومېږي چي هغه د غوښي خوړلو او هضمولو توان لري. د دې تحقيقاتو له مخي په قاطع توګه دا حکم کولی شو چي هر هغه دين، مذهب او مسلك چي انسان د غوښي له خوراك منع کوي؛ د انسان د فطرت خلاف غير علمي خبره کوي. په دې اړه هم د هندو مذهب دريځ غلط دئ او هم هغه نظريه چي په اروپا کې نوې راټوکېدلې او يوازي د نباتاتو په خوړلو تأکيد کوي او هم د تصوف په نامه هغه عقيده چي وايي: د معنوي ارتقاء لپاره بايد د غوښي له خوړلو ډډه وشي، ځکه د غوښي خوراك زړه سختوي!!

که څوك د حيوان ذبح کول د ترحم او عاطفې ضد عمل ګڼي؛ هغه بايد د يوه بوټي پرې کول، وريتول او سوزول هم د ترحم خلاف عمل وګڼي؛ بوټي هم ژوند او احساس لري، په ژوند او احساس کې ئې له حيواناتو سره توپير ډېر لږ دئ.

ولي بايد دا حکم يوازي پر انسان جاري او نور حيوانات ترې مستثنی کړو؟ ناچار بايد دا پرېکړه ټولو حيواناتو ته وغځوو او ووايو چي يو د بل خوړل ظالمانه عمل دئ. خو که دا غلطه او غير طبيعي نظريه ومنل شي، د يوه ژوي لپاره د بل قرباني کېدل متوقف شي او د ژوو تر منځ د ارتباط او تعلق د لويي کړۍ په کوم ځای کې دا رابطه قطع شي؛ ټول ژوي به

له منځه ځي. هره هغه نظريه چي دا خبره کوي هغه غېر علمي نظريه ده او خبره ئې د طبيعت د عام قانون خلاف. بيا خو به زمريان د پيلانو او اوښانو په ځېر د وښو په خوړلو مکلف کوو!! که په صحراء کي دا کار نشو کولی په کور کي به پشۍ له غوښي منع کوو او د پالکو خوړلو ته به ئې اړ کوو.

د احرام په حالت کي د ښکار له ممانعت معلومېږي چي الله تعالی د حج فريضه داسي ټاکلې چي په دې کي به انسان نه يوازي د خپل همنوع انسان په اړه د روغي جوړي، صلح، ورورۍ، يووالي او عدم جدل تمرين کوي، له بدو خبرو به ډډه کوي او له شخړو او جګړو به ځان لري ساتي، ټول توپيرونه به ختموي، د ټولو جامه به ورته وي، د جامې په وجه چي په خلکو کي کوم توپيرونه راولاړ شوي، دا به ټول ختموي، نه به ځوك په فاخره جامو کي ځان تر نورو اوچت ګڼي او نه به بل په خړو جامو کي حقير او ذليل شمېري، دا د جامو په وجه انسانان په شريف او ذليل وېشل به پای ته رسوي، ټول به په ورته جامو کي د خدای کور ته حاضرېږي، دا خو پرېږده چي هيڅ انسان به پر بل هيڅ تېری نه کوي بلکي د صحراء په بې ضرره حيواناتو او حتی د حرم په بوټو به هم تيری نه کوي. د حج دا تربيتي دوره حاجي ته عملاً دا روزنه ورکوي چي له حج وروسته له يوې خوا د دغو حيواناتو په اړه هم توجه ولري، يوازي د مجبوريت او ضرورت په صورت کي هغه ښکار کړي؛ نه د خپل شوق پوره کولو لپاره. او له بلي خوا د هر هغه تړون درناوی وکړي چي د هغه التزام ئې پر ځان منلی او د تړون له حدودو اوښتلو او لاس آخوا غځولو ځان داسي وساتي لکه په احرام کي چي له ډېرو شيانو حتی له حلالو هم ځان ساتي.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُحِلُّواْ شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ وَلَا ٱلشَّهۡرَ ٱلۡحَرَامَ وَلَا ٱلۡهَدۡيَ وَلَا ٱلۡقَلَٰٓئِدَ وَلَآ ءَآمِّينَ ٱلۡبَيۡتَ ٱلۡحَرَامَ يَبۡتَغُونَ فَضۡلٗا مِّن رَّبِّهِمۡ وَرِضۡوَٰنٗاۚ وَإِذَا حَلَلۡتُمۡ فَٱصۡطَادُواْۚ وَلَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ شَنَـَٔانُ قَوۡمٍ أَن صَدُّوكُمۡ عَنِ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ أَن تَعۡتَدُواْۘ وَتَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡبِرِّ وَٱلتَّقۡوَىٰۖ وَلَا تَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ۝٢

۲- اې مؤمنانو! مه د الهي نښو بې حرمتي کوئ او مه د محترمي مياشتي او مه کعبې ته د هديه شوي ځاروي او مه د هغو ځارويو چي په غاړو کي ئې غړوندي وي او مه بيت الحرام ته د خپل رب د فضل او رضاء په لټه کي د تلونکو؛ او ښکار هغه وخت وکړئ چي له احرام ووځئ او د کوم قوم دا دښمني دي تاسو تېري کولو ته ونه هڅوي چي له مسجد الحرام ئې منع کړئ، په ښېګڼې او تقوی کي يو د بل مرسته

وکړئ، په ګناه او تېري کې يو د بل مرسته مه کوئ او له الله ووېرېږئ. بې شکه چې الله سخت عذاب ورکوونکی دئ.

---

(۲)- هره عقيده، مسلك او نظام ځان ته داسي شعارونه لري چي د هغه اساسي نښې ګڼل کېږي، پلويان ئې د هغو درناوی کوي او سپکاوی ئې د خپلي عقيدې، مسلك او نظام سپکاوی ګڼي. د نظامونو لپاره بيرغ او نښان او د دين، مذهب او مسلك لپاره معبد او د عبادت طور او طريقې؛ شعائر ګڼل کېږي. له شعائر الله هغه نښې او علامات مراد دي چي پر الله د ايمان او د ده د عبادت او بندګۍ څرګندونه کوي؛ مسلمانان مکلف دي چي د دغو شعائرو درناوی به کوي، د هر چا په کړنو کې چي دا علامات او نښې وګوري، له هغه سره به له داسي سلوك ډډه کوي چي معنی ئې د دغو شعائرو بې حرمتي وي. دا حکم په هغه وخت کې ورکړی شوی چي د مسلمانانو او مشرکينو تر منځ جګړې رواني وې، پر مکه د قريشو واکمني وه، کوم مشرك قبائل چي له نورو سيمو د حج لپاره مکې ته تلل، د مسلمانانو د بريد له ګواښ سره مخامخ ول؛ په دغه وخت کې مسلمانانو ته امر وشو چي که څه هم دوی مشرکان دي، ستاسو په خلاف ئې د قريشو مرسته کړې؛ خو له دې امله چي دا سفر ئې د حج لپاره دئ او په دې کې هغوی له تاسو سره شريك دي؛ د شعائر الله د درناوي او احترام لپاره بايد د دوی مزاحم نشئ، مخه ئې ونه نيسئ او ضرر ورونه رسوئ. دا د مسلمانانو لپاره ډېره ستره لارښوونه ده، د دې حکم له مخي به پر هغه چا له تېري ډډه کوي چي د الله په عبادت لګيا دئ، که څه هم هغه نه خپل رب سم پېژندلی او نه ئې د عبادت طريقه سمه ده؛ خو الله او د الله عبادت کوونکو ته د درناوي په خاطر بايد د ده مزاحم نشي. زموږ دښمني له هغه چا سره ده چي د الله او د هغه د دين او بندګانو دښمن وي، کله چي څوك داسي وګورو چي له الله سره ئې خپله دښمني ختمه کړې او دا دئ د هغه عبادت او بندګي ته غاړه ږدي، نور نو موږ خپله دښمني ورسره بندوو او پر هغه له تېري ډډه کوو. چي کله ګورو زموږ دښمنان د حج په لوري درومي، د بيت الله د زيارت په نيت، د حج او عمرې په قصد، له چا سره داسي څاروي چي غړوندي ئې په غاړو کې او له ځينو سره له داسي نښو پرته څاروي، د چا موخه د الله رضاء او د چا غرض تجارت، دا ټول بايد د مسلمانانو له هر راز ګواښ او لاس اچوني خوندي وي. داسي نه چي بل له تا سره دښمني کړې او ته ئې له مسجد الحرام، حج او عمرې منع کړی يې؛ نو ته هم اوس هغه له مسجد الحرام او عبادت منع کړې!! نه؛ ته به برعکس د ښېګڼي او تقوی په کار کې له هر چا سره مرسته کوې که څه هم هغه کافر او ستا دښمن وي او د ګناه او تېري په کار کې به د هيڅا ملګرتيا نه کوې که څه هم هغه مسلمان او ستا دوست وي. يوازي د الله پروا کوئ؛ دا ځکه چي د هغه عذاب ډېر شديد دئ.

---

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ ٱلْمَيْتَةُ وَٱلدَّمُ وَلَحْمُ ٱلْخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيْرِ ٱللَّهِ بِهِۦ

وَٱلْمُنْخَنِقَةُ وَٱلْمَوْقُوذَةُ وَٱلْمُتَرَدِّيَةُ وَٱلنَّطِيحَةُ وَمَآ أَكَلَ ٱلسَّبُعُ إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ وَمَا ذُبِحَ عَلَى ٱلنُّصُبِ وَأَن تَسْتَقْسِمُواْ بِٱلْأَزْلَٰمِ ذَٰلِكُمْ فِسْقٌ ٱلْيَوْمَ يَئِسَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَٱخْشَوْنِ ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلْإِسْلَٰمَ دِينًا فَمَنِ ٱضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّإِثْمٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣﴾

٣- پر تاسو مردار څاروی، وينه، د خنزير غوښه او هر هغه څه چې د غير الله لپاره پرې غږ شوی وي، د خفه کړی شوي، وهل شوي، غورځېدلي، په ښکر څيرل شوي، ځناور خوړلي؛ مگر هغه چې حلال کړی مو وي، هغه چې په کوم درشل کې ذبح شوی وي او هغه چې په غشو سره ئې په خپلو کې وېشئ؛ حرام کړی شوي؛ دا به مو فسق او سرغړونه وي. نن کافران ستاسو له دين مأيوس شول، نو له دوی مه وېرېږئ او له ما ووېرېږئ. نن مو ستاسو دين درته بشپړ کړ او خپل نعمت مې پر تاسو پوره کړ او اسلام مې د دين په توگه درته غوره کړ. خو که څوك په سخته لوږه کې اړ شو؛ په داسي حال کې چې د گناه په لوري تلوسه کوونکی نه وي؛ نو الله مهربان بخښونکی دئ.

---

(٣)_ په دې مبارك آيت کې د لسو حرامو شيانو ذکر شوی:

- ميتة: په خپل مرگ مړ شوی څاروی، څرېدونکی حيوان او مرغه، (له ماهي او ملخ پرته، مشروط په دې چې گنده شوی نه وي).
- په رگونو کې بهېدونکې وينه.
- د خنزير غوښه. خنزير که څه هم د څارويو په څېر واښه خوري؛ خو دوه ډېري ناولې ځانگړتياوي لري: ١- هر گنده شيء خوري، د حيواناتو گندگي هم او حتی يو د بل گندگي هم. ٢- په جنسي عمل کې ډېر افراط کوي، يو د بل له جنسي عمل خوند اخلي. په دې کار کې له هيڅ څاروي سره نشي مقايسه کېدلی، ډېر څاروي داسي دي چې يوازي د القاح په وخت کې د لنډ وخت لپاره جنسي نژدېوالی کوي، د کال په نورو وختونو کې ئې دا تمايل سوړ او ساکت وي او ډېر نور بيا داسي دي چې په خپلې ښځې غيرت کوي او د بل د تېري په مقابل کې شديد عکس العمل ښيي؛ خو خنزير له دغو دواړو توپير لري.

د خنزير غوښه د نورو څارويو په پرتله ډېره غوړه ده؛ نژدې ٣٦٪ کې ئې وازگه وي؛ او دا د پسه په پرتله نژدې دوه ځله زياته ده؛ د علمي تحقيقاتو او تجربو له مخي ثابته

شوې چې زیاته وازګه انسان ته تاوان لري، دغو ځانګړتیاوو او هغو تاوانونو ته په پام سره هم چې ورو ورو به انسان ته څرګندېږي؛ د خنزیر غوښه حرامه شوې.

- هغه څاروی چې د حلالولو په وخت کې ئې له الله تعالی پرته د بل چا نوم اخیستل شوی وي، د بل په نامه او د هغه د تعظیم لپاره ذبح شوی وي.
- په زندۍ کولو وژل شوی وي.
- په وهلو ټکولو مړ شوی وي.
- له لوړې په رارغښتو او راغورځېدو مړ شوی وي.
- بل حیوان په ښکر وهلی او وژلی وي.
- کوم داړونکي ځناور خوړلی وي او له حلالولو پرته مړ شوی وي. البته دا او مخکیني څلور که له مرګ مخکې ذبح شي حلال دي.
- د بت، قبر، زیارت او د چا په درګاه او درشل کې ذبح شوی وي؛ که څه هم د حلالولو په وخت کې د الله نوم پرې ویل شوی وي.
- او هغه چې وېشل ئې د قمار په توګه او د غشو په اچولو سره وي؛ مګر دا چې نه په مشرکانه دود دستور سره وي او نه د قمار په توګه، بلکې مساوي او برابري برخې په قرعه ووېشل شي.

دا ټول کارونه فسق او سرغړونه ګڼل کېږي. خو که څوك ډېر اړ وو، له لوړې ئې د مرګ وېره وه، په داسې حالت کې وو چې د دغو حرامو غوښو له خوړلو پرته ئې بله چاره نه وه، نو خوړل ئې په دې شرط ورته روا دي چې ګناه ته د تمایل په وجه به دا کار نه کوي، د ګناه تلوسه به ئې په زړه کې نه وي، نه به د بغاوت په جذبه دا کار کوي او نه به له ضرورت زیات خوري. د مجبوریت په حالت کې دا رخصت ځکه ورکړی شوی چې الله تعالی مهربان بخښونکی دئ.

نن او د دغو احکامو او لارښوونو په راتلو سره ستاسو دین بشپړ شو، الله تعالی د دین د بشپړتیا او پر کافرانو ستاسو د برلاسي په نتیجه کې خپل ستر نعمت او پېرزوینه پر تاسو مکمله کړه، اوس نو کافرانو ته له یأس او ناهیلي پرته بل څه نه دي پاته، نه پر تاسو د بریا طمع کولی شي او نه خپل دین ته ستاسو د راګرځولو هیله ساتلی شي.

د مستندو روایاتو له مخې پیغمبر علیه السلام د حجة الوداع په تاریخي خطبې کې د دې آیت دغه برخه ولوسته:

(ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗاۚ)

له دې معلومېږي چې یا خو د آیت دا برخه په دغه وخت کې نازله شوې او یا له دې

مخکې او د آیت له نورو برخو سره یو ځای.

په داسې حال کې چې دا آیت د یوه داسې بشپړ مضمون یوه برخه ده چې ټولې فقرې ئې یوه له بلې سره تړلې او په ګډه ئې دا بشپړ مضمون جوړ کړی؛ خو متأسفانه یوه مذهبي فرقه د دې آیت یوه برخه داسې تعبیر او تفسیروي چې نه له مخکینیو فِقرو سره اړخ لګوي او نه له وروستنیو سره. دوی وایي چې په (ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ) کې د علي رضی الله عنه امامت ته اشاره شوې او دا فقره هغه وخت نازله شوې چې پیغمبر علیه السلام له مکې د مدینې په لور د راګرځېدو په دوران کې غدیر خم ته ورسېدو، دلته ئې د صحابه وو په وړاندې د علي رضی الله عنه امامت اعلان کړ او هغه ئې خپل ځای ناستی وټاکو او له دې وروسته دغه آیت نازل شو!! د دې فرقې یوه کس په خپل تفسیر کې د دې اعتراض په ځواب کې چې دلته خو د آیت په سر او پای او ټولو فقرو کې د حرامې غوښې په اړه بحث شوی، له دې آیت مخکې او وروسته هم د امامت او امارت هیڅ ذکر نه دئ شوی، د ټول مضمون یوه برخه څنګه رابېلوئ او داسې مطلب ترې راباسئ چې له نورو فقرو سره هیڅ اړخ نه لګوي!! هغه په ځواب کې وایي: دا داسې وګڼئ لکه څوك چې د غلو له وېرې د سرو او سپینو زرو کومه کڅوړه په غوجل کې ښخه کړي!! انسان حیران شي چې په قرآن د ایمان مدعي څنګه کولی شي د قرآن د صریح آیت په اړه داسې غلطه، خوشې او بې بنسټه خبره کوي او څنګه د الله تعالی په اړه داسې له ادب لرې بې باکي کوي!! د دې معنی خو دا ده چې الله وېرېدو، خپله خبره ئې واضح او صریح نشو کولی، د علي رضي الله عنه د امارت اعلان ئې په صریح او واضح الفاظو نشو کولی، د شیعه وو په څېر ئې تقیه کړې او په داسې اشارو او داسې ځای کې ئې دا خبره وکړه چې له دغه مفسر پرته بل هیڅوك پرې پوه نشي، هیڅ صحابي ترې دا مطلب وانخلي، حتی په خپله علي رضي الله عنه هم پرې پوه نشي او د ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم د انتخاب په وخت کې هیچا ته ونه وایي چې دغه آیت زما په اړه نازل شوی او امامت زما شرعي حق دئ او پیغمبر علیه السلام هم له دې آیت دا مطلب وانخلي او د علي رضي الله عنه د امامت لپاره داسې تدابیر ونه نیسي او په صریح الفاظو او مکرره توګه اصحابو ته دا خبره ونه رسوي چې له ده وروسته علي رضي الله عنه د ده ځای ناستی دئ، که هغه یو ځل هم ویلي وی څنګه ممکنه وه چې صحابه وو د ده د وینا مخالفت کړی وی او د ده له رحلت وروسته ئې د علي رضي الله عنه پر ځای بل څوك غوره کړی وی!! موږ چې اوس او څوارلس سوه کاله وروسته د پیغمبر علیه السلام کوم حدیث اورو نو خپل ټول شخصي افکار او آراء لرې غورځوو او په وړاندې ئې د تسلیمۍ لاسونه اوچتوو، نو د پیغمبر علیه السلام په خپل لاس روزل شوي صحابه به څنګه د ده خبره پر زمکه اچوي او د هغه خلاف به عمل کوي؟! دا کسان د ړوند تعصب په وجه هم قرآن غلط تعبیروي او هم دې ته اړ کېږي چې ووایي: د علي رضي الله عنه د امامت په نه منلو سره له دریو پرته نور ټول صحابه نعوذ بالله منافق شول!! له دوی پوښتنه کوو: تاسو وایئ چې معاویه په دې وتوانېدو چې د خپل ناأهله

زوی لپاره په تدبیر، زور یا چل سره بیعت تر لاسه کړي؛ آیا د پیغمبر علیه السلام تدبیر دومره هم نه وو چې د علي رضي الله عنه لپاره داسي بیعت تر لاسه کړي چې له ده وروسته هیڅوك ورسره مخالفت ونشي کولی؟!! معصوم پیغمبر به څنګه د الله د یوه حکم په تعمیل کې داسي اهمال کوي؟!

نه په قرآن کې د پیغمبر علیه السلام د ځای ناستي په اړه صریحاً یا تلویحاً څه راغلي او نه پیغمبر علیه السلام د خپل ځای ناستي په اړه څه ویلي؛ او همدا څه نه ویل ستر حکیمانه کار او د ده د عظمت او نبوت ستره نښه ده، که پیغمبر علیه السلام ځای ناستی ټاکلی وی نو تر ده وروسته به ظالمانو او مستبدو واکمنانو ته دا فرصت په لاس ورتلو چې اقتدار په خپلي کورنۍ کې منحصر کړي، اولاد ته ئې انتقال کړي، نااهله ځای ناستی وټاکي او خلکو ته ووایي: ما د پیغمبر علیه السلام د سنت مطابق عمل کړی، درباري مفتیانو به هم ویل چې دا د ده حق دئ او د پیغمبر علیه السلام د سنت مطابق عمل!!

شیعه وایي: امامت منصوصي دئ او امام د الله له لوري نصب کېږي!! د دغي عقیدې له مخي دوی په غائب امام باور ته اړ شول او د حکومت جوړولو او د امام او امیر د ټاکلو او غوره کولو له وجیبې ئې لاس واخیست، په دې حکم ئې عمل کول پرېښودو چې مسلمانان به حکومت جوړوي، د ظالمانو او مفسدینو واکمني به پای ته رسوي، اقتدار به صالح، عادل او متقي واکمنانو ته لېږدوي او د امارت او امامت منصب به داسي چا ته سپاري چې د دې مقام اهلیت ولري. د دوی دا عقیده د هغه دښمن په ګټه وه چې غواړي دین له سیاست ګوښه شي، مسلمانان حکومت ونلري او په یوه امیر او امام راغونډ نشي، تر پایه د داسي غائب امام انتظار وکړي چې هیڅکله نه راځي. په داسي حال کې چې د قرآن له بشپړېدو وروسته د وحي لړۍ بنده شوه، په قرآن کې د پیغمبر د ځای ناستي یادونه نه ده شوې، له دې وروسته نه پیغمبر راځي او نه وحي؛ که خلك هم د امام د غوره کولو حق ونلري؛ نو دا امام به څنګه غوره کېږي؟ مګر د دې عقیدې طبیعي او محتومه نتیجه دا نه ده چې خلك به انتظار کوي؟ غائب امام ته او مجهول راتلونکي ته؟ او آیا دا هغه څه نه دي چې دښمن ئې غواړي؟!! په ایران کې انقلاب راغی، چا راوست او څنګه راغی دا بېله خبره ده، په هر صورت قدرت د مذهبي مشرانو لاس ته ورغی؛ خو د دې عقیدې پلویان حیران وو چې اوس دا انقلاب د خپلي عقیدې له مخي څنګه توجیه کړي؟ دوی خو په دولسو امامانو باور لري، دیارلسم امام خو د دوی په مذهب کې هیڅ مجال او توجیه نه لري!! دوی خو په دې باور وو چې دولس امامان د وحي له لاري ټاکل شوي، خو اوس د دې باور خلاف دوی په خپله امام او رهبر او جمهور رئیس انتخابوي، دا خو ټول د دوی د عقیدې او باور خلاف کار دئ!! مجبور شول د ولایت فقیه په نامه داسي اصطلاح راوباسي چې نه ئې په خپلو مذهبي کتابونو کې نښه موندلی شوی او نه له دې مخکې د دوی هیچا دا خبره کړې وه!! نه پوهېږو ولې د یوې غلطي رأیي لپاره په قرآن داسي ملنډې وهي؟ کوم عقلمن انسان به داسي تعبیر او تفسیر ومني؟ ولې د واقعیت

خلاف خبره کوي؟ ولې د داسي بې بنسټې خبرې لپاره په امت کې د اختلاف باعث کېږي؟ که اوس هم دوی دا خبره ومني چې د امام او امير غوره کول د مسلمانانو وجيبه او حق دئ نو په امت کې به د اختلاف يو مهم ټکی ختم شي او ټولې هغه اختلافي مسئلې به حل شي چې له دغې غلطې انګېرنې راولاړې شوې!!

يَسْـَٔلُونَكَ مَاذَآ أُحِلَّ لَهُمْۖ قُلۡ أُحِلَّ لَكُمُ ٱلطَّيِّبَٰتُ وَمَا عَلَّمۡتُم مِّنَ ٱلۡجَوَارِحِ مُكَلِّبِينَ تُعَلِّمُونَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ ٱللَّهُۖ فَكُلُواْ مِمَّآ أَمۡسَكۡنَ عَلَيۡكُمۡ وَٱذۡكُرُواْ ٱسۡمَ ٱللَّهِ عَلَيۡهِۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ﴿٤﴾

٤- له تا پوښتې چې څه ورته حلال دي؟ ورته ووايه: پاك او سره شيان درته حلال شوي او د ښکار کوونکو حيواناتو چې کوم يو تاسو روزلی وي او په ښکار پسې ئې لېږئ او هغه څه ورښيئ چې الله تاسو ته درښودلي، نو څه چې درته وساتي هغه خورئ او د الله نوم پرې يادوئ او له الله ووېرېږئ. بې شکه چې الله ژر حساب کوونکی دئ.

(٤)- مسلمانانو د حلالو شيانو په اړه مزيد معلومات غوښتو؛ دلته د يوې جامع لارښوونې په ترځ کې د دوی پوښتنو ته ځواب ويل شوی؛ داسې ځواب چې د حلال او حرام په پېژندو کې د دوی لپاره د محك حيثيت لري: هر پاکيزه شی درته حلال دئ او هر ګنده شيء حرام؛ په دې لارښوونې کې څو اساسي خبرې د پوره غور غوښتنه کوي: په ځواب کې د دې پر ځای چې د حلالو شيانو کوم تفصيلي فهرست ورکړی شي په عامه صيغه ورته ويل شوي چې له ګنده شيانو پرته ټول پاکيزه شيان درته حلال دي؛ حرام هغه دي چې الله حرام کړي؛ بايد په دې ځان پوه کړئ چې الله تعالی څه حرام کړي، له دغو حرام شوو شيانو پرته نور ټول پاکيزه شيان حلال دي؛ د شيانو د حل او حرمت په اړه اصل دا دئ چې هر څه حلال دي مګر هغه چې الله حرام کړي وي.

ګورئ چې دلته يو ځل بيا ويل شوي چې د شيانو د حل او حرمت؛ حلال والي او حراموالي په اړه؛ د هغوی پاکي او ناپاکي په پام کې نيول شوې؛ کوم څه چې پاکيزه دي هغه درته حلال شوي او کوم څه چې ناپاك او ګنده دي هغه حرام کړی شوي.

د روزل شوي ښکاري حيوان او مرغه هغه ښکار هم درته حلال دئ چې ستاسو لپاره ښکار کوي، په څو شرائطو:

- تاسو به په ښکار پسې لېږلی وي.
- هغه به ښکار شوی حلال حيوان او مرغه ستاسو لپاره ساتي او په خپله به ئې نه

خوري.

- په ښکار پسې د لېږلو په وخت کې مو د الله نوم یاد کړی وي.

- په دې صورت کې که ښکار ژوندی یا مړ ستاسو لاس ته درشي هغه حلال دئ. خو زموږ امام ابو حنیفه رحمة الله علیه دا هم ضروري ګڼي چې ښکاري حیوان به خپل ښکار داسې زخمي کړی وي چې وینه ترې بهېدلې وي، په آیت کې د (جوارح) له لفظ ئې دا مطلب اخیستی او یا دا چې ښکار ژوندی پاته وي او ذبح شي. د آیت دا برخه (وَٱذۡكُرُواْ ٱسۡمَ ٱللَّهِ عَلَيۡهِۖ) په داسې ځای کې راغلې چې ښيي ښکاري سپې به ښکار خپل خاوند ته ژوندی رارسولی وي او هغه به ئې ذبح کوي. له دې معلومېږي چې امام ابوحنیفه رحمه الله د آیت دغې برخې ته په پام سره دا رأی ورکړې.

---

ٱلۡيَوۡمَ أُحِلَّ لَكُمُ ٱلطَّيِّبَٰتُۖ وَطَعَامُ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ حِلّٞ لَّكُمۡ وَطَعَامُكُمۡ حِلّٞ لَّهُمۡۖ وَٱلۡمُحۡصَنَٰتُ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ وَٱلۡمُحۡصَنَٰتُ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكُمۡ إِذَآ ءَاتَيۡتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ مُحۡصِنِينَ غَيۡرَ مُسَٰفِحِينَ وَلَا مُتَّخِذِيٓ أَخۡدَانٖۗ وَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلۡإِيمَٰنِ فَقَدۡ حَبِطَ عَمَلُهُۥ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٥

٥- نن ټول پاکیزه شیان درته حلال کړی شوي او د اهل کتاب طعام تاسو ته حلال دئ او ستاسو طعام دوی ته حلال دئ او له مؤمنانو پاك لمنې ښځې هم او له هغو خلکو پاك لمنې ښځې هم درته حلالې دي چې له تاسو مخکې کتاب ورکړی شوی، په دې شرط چې مهر ئې ورکړئ؛ په داسې حال کې چې نکاح کوونکې به وئ نه زنا کوونکې او نه د پټې معشوقې او محبوبې نیوونکې؛ او څوك چې له ایمان انکار وکړي نو یقیناً چې عمل ئې حبط او تباه شو او هغه به په آخرت کې له زیانمنو وي.

---

(٥)- په مخکینیو آیتونو کې د شیانو حل او حرمت یا د دوی د ذاتي مواصفاتو له مخې څېړل شوی وو او یا د حلالولو د طریقې له مخې؛ خو په دې مبارك آیت کې حل او حرمت ته له یوه بل پلوه اشاره شوې او هغه دا چې دا د مؤمن د لاس دي او که د غیر مؤمن د لاس؛ په دې اړه څو لارښوونې شوې:

- نن ټول پاکیزه شیان درته حلال شول.
- د اهل کتاب پاکیزه طعام هم درته حلال دئ.

- ستاسو طعام دوی ته حلال دئ، تاسو ته دا اجازه درکړی شوې چي هغوی ته طعام ورکړئ.
- لکه څنګه چي د مسلمانو ښځو نکاح درته روا ده د اهل کتاب د پاك لمنو ښځو نکاح هم درته روا ده؛ خو په څو شرطونو: ١- مهر ئې ورکړئ. ٢- په خپلې نکاح کې د دوی د ساتلو په موخه ئې په نکاح کړئ نه د دې لپاره چي څو ورځې خپل جنسي اړتیا رفع کړئ او نه داسې چي دا نکاح مو پټې یارانې ته ورته وي. ٣- دې ته مو پام وي چي دا نکاح تاسو کفر ته متمایل نه کړي، پام کوئ چي د اهل کتاب داسې ښځې په نکاح نه کړئ چي ستاسو ایمان ته تاوان رسوي او ستاسو آخرت تباه کوي.

دې ته مو باید پام وي چي اهل کتاب یوازې نوم نه دئ او په هر هغه چا ئې اطلاق نشې کېدی چي په قوم یهودي وي او یا له یهودي او مسیحي مور پلار پیدا شوی وي؛ اهل کتاب یعني هغه چي په کوم الهي کتاب باور لري، د تورات او انجیل متابعت کوي؛ د داسې اهل کتاب ذبیحه خوړل او ښځې په نکاح کول روا دي. اما هغه چي نوم ئې یهودي یا مسیحي دئ خو نه په عقیده کې دوی ته ورته دئ او نه په عمل او اخلاقو کې، نه په تورات عمل کوي او نه په انجیل، دوی ته د اهل کتاب په سترګه کتل، ذبیحه ئې حلاله ګڼل او ښځې ئې په نکاح کول روا نه دي. که د مسلمان هغه غیر شرعي ذبیحه حلاله نه وي چي د الله نوم پرې نه وي یاد شوی او یا له الله پرته د بل چا په نامه ذبح شوې وي؛ نو د مشرك اهل کتاب هغه ذبیحه به څنګه حلاله وي چي د خپل مذهب مطابق ئې نه ده ذبح کړې؟!

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قُمۡتُمۡ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ فَٱغۡسِلُواْ وُجُوهَكُمۡ وَأَيۡدِيَكُمۡ إِلَى ٱلۡمَرَافِقِ وَٱمۡسَحُواْ بِرُءُوسِكُمۡ وَأَرۡجُلَكُمۡ إِلَى ٱلۡكَعۡبَيۡنِۚ وَإِن كُنتُمۡ جُنُبٗا فَٱطَّهَّرُواْۚ وَإِن كُنتُم مَّرۡضَىٰٓ أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوۡ جَآءَ أَحَدٞ مِّنكُم مِّنَ ٱلۡغَآئِطِ أَوۡ لَٰمَسۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَلَمۡ تَجِدُواْ مَآءٗ فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدٗا طَيِّبٗا فَٱمۡسَحُواْ بِوُجُوهِكُمۡ وَأَيۡدِيكُم مِّنۡهُۚ مَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيَجۡعَلَ عَلَيۡكُم مِّنۡ حَرَجٖ وَلَٰكِن يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمۡ وَلِيُتِمَّ نِعۡمَتَهُۥ عَلَيۡكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ٦

٦- اې مؤمنانو! کله چي لمانځه ته پورته کېږئ نو خپل مخونه او خپل لاسونه تر څنګلو ووينځئ او پر خپل سر مسح وکړئ او پښې مو هم تر ښېڅېو او که جنب وئ نو ښه ځان پاك کړئ او که ناروغ وئ او یا په سفر او یا مو کوم یو له اودس ماتې

راوگرځېدو او یا مو له ښځو سره نژدېوالی وکړ؛ خو اوبه مو ونه موندلې؛ نو بیا کومې پاکې خاورې ته مخه کړئ او خپل مخ او لاسونو پرې مسح کړئ؛ الله پر تاسو د کومې سختۍ او زحمت تپل نه غواړي؛ برعکس دا غواړي چې تاسو پاك کړي او خپلې پېرزوینې پر تاسو بشپړې کړي؛ چې شکر وکړئ.

---

(٦)- دا د اودس په اړه لومړی او یوازینۍ لارښوونه او د غسل او تیمم په اړه دوهمه لارښوونه ده؛ مخکې له دې چې د دې مبارك آیت ټول مطالب توضیح شي څو ټکو ته توجه ضروري ده:

- د عمرې، حج او سفر په دوران کې د اوبو نشتوالې له ستونزې سره مخامخ کېږو، د همدې لپاره دلته د دې مشکل په اړه لارښوونه شوې.
- په ټول قرآن کې د اودس په اړه یوازې دغه آیت نازل شوی؛ خو که تاسو د فقه کتابونو ته رجوع وکړئ وبه گورئ چې په دې موضوع هومره مشرح او مفصل بحث شوی چې د هر فقهي کتاب یوه لویه برخه جوړوي او که تاسو دا مفصل او مشرح فقهي بحث؛ د شورې، امارت، جهاد او هجرت په څېر بحثونو سره مقایسه کړئ نو وبه گورئ چې مقایسه ئې نشي کېدی؛ دا پداسې حال کې چې د دغو قضایاءو په اړه د قرآن آیتونه ډېر زیات او د اودس په پرتله څو برابره دي. زموږ درنو فقهاءو ولې دا کار کړی؛ د دوی د وخت شرائط همداسې وو او د دې تقاضا ئې کوله او که کوم بل مصلحت ئې په پام کې نیولی؟ په دې اړه څه ویل نه مفید دي او نه ضروري؛ مهمه خبره دا ده چې اوس باید دا تشه ډکه شي، د قضایاءو په اړه زموږ اهتمام او شرح او توضیح ئې باید په همغه تناسب وي چې د الله تعالی په کتاب کې ورته اهتمام شوی، د شورې په اړه بحث باید د اودس په نسبت لږ تر لږه درې برابره وي، دا ځکه چې د اودس په اړه یو آیت راغلی او د شورې په اړه درې آیتونه.

دلته د څلورو اعضاءو د وینځلو او مسح کولو یادونه شوې: د مخ او تر څنگلو پورې د لاسونو وینځل، د سر مسح او ورپسې د پښو یادونه په داسې توگه شوې چې په یوه صورت کې د پښو وینځل ترې معلومېږي او په بل صورت کې ئې مسح کول. اهل سنت او جماعت ټول په دې متفق دي چې د دې آیت له مخې هم او د گڼ شمېر صحیح احادیثو له مخې هم د پښو وینځل فرض دي. خو اهل تشیع ئې مسح کافي گڼي او وایي چې پښې له سر وروسته ذکر شوې او د مسح تر امر لاندې راغلې او اِعراب ئې هم د (ارجلَکم) پر ځای (ارجلِکم) دئ، یعني لام ته د فتحې پر ځای کسره ورکوي. دا رأیه په څو دلیله ضعیفه ده: ١- که یوازې د پښو مسح کول مراد وی نو دا به نه ویل کېدل چې تر بېلېو پورې، لکه څنگه چې د سر په اړه نه دي ویل شوي چې له کوم ځایه تر کوم ځای پورې ئې مسح کړئ، همدا راز باید د پښو لپاره کوم حد نه وی ټاکل شوی، خو دلته گورو چې د

پښو لپاره داسې حد ټاکل شوی لکه د لاسونو لپاره، د لاسونو په اړه ویل شوي: الی المرافق او د پښو په اړه ویل شوي: الی الکعبین، له دې په ډېر صراحت سره معلومېږي چې دلته پښې په لاسونو عطف شوې او د لاسونو په څېر ئې د وینځلو امر شوی. د تیمم مربوط آیت دا موضوع توضیح کوي، هلته د لاس او مخ مسح کول راغلي خو نه مخ ته کوم حد ټاکل شوی او نه لاسونو ته، له دې په صراحت سره معلومېږي چې که په اودس کې د پښو مسح کول مراد وی نو دا به نه ویل کېدل چې تر ښېلیو پورې. ۲- اودس د پاکۍ او نظافت لپاره دئ او د هغو غړو د وینځلو وینا شوې چې د ناپاکه کېدو له ګواښ سره زیات مخامخ دي، په دغو څلورو اعضاءو کې د پښو د ناپاکه کېدو احتمال تر ټولو زیات دئ او تر ټولو ژر ناپاکه کېږي، که دا لوڅې وي هم او که په بوټونو کې وي هم، په بوټونو کې خولې شي او اکثراً بد بوی ترې پورته کېږي، که تاسو د شیعه وو جومات ته ورشئ نو له ننوتو سره سم به دا بد بوی احساس کړئ، هومره به مو ځوروي چې د ژر وتلو تکل به کوئ، دغه مشکل ته په پام سره د دوی امام؛ خمیني اعلان وکړ چې جومات ته له ننوتو مخکې خپلې پښې ووینځئ، خو ای کاش دا جرأت ئې هم کړی وی چې وواېي: د پښو نه وینځلو په اړه زموږ فقهاءو اشتباه کړې!!

له دې آیت مخکې د حرامو او ګنده شیانو له خوړلو ممانعت شوی وو او په دې آیت کې لمانځه ته له ودرېدو د مخه د اودس حکم راغلی، له دې معلومېږي چې د هغه چا اودس په واقعي معنی اودس دئ چې له حرامو ئې ځان ساتلی وي. لمونځ یو مقدس روحاني ملکوتي سفر او د الله په لوري روحي ارتقاء او الوتنه ده. ته غواړې له الله سره خپلې اړیکې تجدید کړې، د هغه په وړاندې ودرېږې او له هغه سره مخامخ تکلم وکړې؛ د همدې لپاره باید ستا هر څه پاك او ستره وي، دا مقدس سفر له تا د عقیدې پاکوالی، د وجود پاکۍ، د ودرېدو د ځای پاکوالی او د جامو پاکۍ غواړي.

باید دې ته متوجه وې چې که الله جل شانه ستا لمونځ؛ له معمولي ظاهري نجاست او ناپاکۍ سره نه قبلوي؛ نو په هغه صورت کې به څنګه ستا لمونځ قبول کړي چې:

- ستا عقیده د شرك په رجس او پلیدي ناپاکه او ستا افکار او عزائم د شیطان له ناولو وسوسو ډك وي.
- ستا د وجود سلول سلول له حرامو جوړ شوی وي؛ ستا مطعم حرام، ستا ملبس حرام، ستا د معیشت د تأمین لارې چارې حرامې، ستا کار کسب، راکړه ورکړه، بیع او شراء حرامه، د تن جامې دې حرامې او له حرامو لارو تر لاسه شوې، د خیانت، رشوت، غلا، د بل په حق د تېرې له لارې.
- ستا مصلی او هغه زمکه چې ته پرې ودرېږې او الله جل جلاله ته پرې سجده کوې، په ظاهر کې پاکه، خو په باطن کې له حرامو لارو تر لاسه شوې.
- ما ته ووایه! له دې ناپاکۍ او نجاست سره سره به؛ پاك رب چې یوازې د پاك بنده

پاك عبادت قبلوي ستا داسي لمونځ څنګه قبول کړي؟

د ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: .... ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ، يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ، يَا رَبِّ، يَا رَبِّ، وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ، وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ، وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ، وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ، فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ؟ رواه مسلم

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د يوه كس په اړه وفرمايل: اوږد سفر به وكړي (له اوږده مزل وروسته به كعبې ته ورسېږي)، وېښتان ئې ببر، په دوړو لړلی؛ (د اوږده سفر آثار ئې په خيرنو جامو او په دوړو لړلو ويښتانو كي څرګند دي)، (د حجرالاسود مخي ته ولاړ دئ)، د دعاء لاسونه ئې د آسمان لوري ته اوچت كړي، يا رب يا رب وايي؛ خو د خوراك او څښاك وسېلې ئې حرامي، د جامو ذريعه ئې حرامه او له حرامو تغذيه شوی!! نو څنګه به د ده دعاء ومنل شي؟

زما لمونځ كوونكيه وروره! ته د لمانځه لپاره اودس كوې، ستا اودس يوه ظاهري بڼه لري چي د مخ، لاس، پښو وينځل او د سر مسح كول دي، خو د دې ظاهري حركت تر شا ژور معنوي مفاهيم مضمر دي. د دې حركت معنى او تقاضا دا ده چي له هر هغه ناولي او حرام كار چي په لاس تر سره كېږي، لاسونه وينځم، خپل لاس تل پاك ساتم، له داسي عمل چي الله ته مي مختورن كړي ډډه كوم، غواړم مخ مي تل سپين وي، په طمعي او سؤال سره ځان نه سپكوم او خپل عزت نه ختموم. خوله مي پاكه ساتم، نه حرام خوراك پرې كوم او نه حرامه وينا، له هري ناپاكي خبري، دروغ، دوكې، غيبت، نمامت او شيطانت ئې خوندي ساتم. له سر مي ټول غلط افكار، ناجائز عزائم، ناروا شيطاني منصوبې، د مسلمان لپاره دسيسې، له باطل سره علاقه او له مفسدينو سره تعلق؛ لري غورځوم، په خپل سر پاك لاس راكاږم او هر راز پليدي ترې پاكوم. پښې مي وينځم، په پښو مي د حرام كار په لوري له تګ ډډه كوم، دا پښې به ما فقط د الله په لوري او د حق په پاكيزه لار بيايي او هيڅكله به د پليد شيطان په ناولي پل؛ پل كښېنږدم.

ستا د لاس، مخ او پښو وينځلو او د سر مسح كولو به څه اهميت وي كه همدا غړي دي ټول په حرامو كړنو كي مصروف او سلول سلول دي له حرامو ډك او شپه ورځ د پليد شيطان په خدمت كي وي. هغه ژبه چي له اودس او لمانځه مخكي او وروسته په حرامه وينا خوځېږي، هغه لاسونه چي په ناولو كارونو كي اخته وي، هغه ګوتي چي ناروا ليكني كوي، د باطل په خدمت كي او د ظالم د ظلم توجيه كوي او د مفسد تكريم او ستاينه كوي، څنګه ومنم چي دا خوله، دا ګوتي او دا لاسونه وينځل شوي؟! په داسي وينځلو سره خو انسان كولی شي له اسرارو بې خبره انسان دوكه كړي خو عليم، خبير او په اسرارو پوه خدای به څنګه دوكه كړي؟!

خو كه جنب وئ نو بيا به له ځانځه مخكې ښه ځان پاكوئ، د ښه پاكولو معنى غسل كول او خپل ټول ځان وينځل دي. خو كه اوبه ونه مومئ نو تيمم هم د اودس ځاى ناستى دئ او هم د غسل.

د تيمم په اړه د نساء سورې په ٤٣ آيت كې تفصيلي بحث شوى هلته؛ مراجعه وكړئ.

وَٱذْكُرُوا۟ نِعْمَةَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَمِيثَٰقَهُ ٱلَّذِى وَاثَقَكُم بِهِۦٓ إِذْ قُلْتُمْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ۖ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿٧﴾

٧- او پر تاسو د الله نعمت درياد كړئ او هغه تړون ئې هم چې تاسو ئې هغه وخت پرې ژمن كړي يئ چې ومو ويل: واموورېدو او ومومانو او له الله ووېرېږئ؛ يقيناً چې الله د سينو په شته وو ښه پوه دئ.

(٧)- دا مبارك آيت درې خبرې د مؤمنانو مخې ته ږدي:

- الله تعالى يو ستر نعمت ستاسو په برخه كړ، تاسو ئې هدايت كړئ، ستاسو د لارښوونې لپاره ئې قرآن درولېږو، په تاسو كې ئې مهربان لارښود پيغمبر مبعوث كړ، دا ستر الهي نعمت مو بايد تل په ياد وي او د هغه قدر وكړئ.
- تاسو له الله تعالى سره د اطاعت او منني ژمنه كړې، له الله تعالى سره د هر مؤمن ژمنه دا ده چې د ده د هر امر په اورېدو سره به هغه ته غاړه ږدي او له هر راز سرغړاوي به ډډه كوي.
- په دې پوه شئ چې الله تعالى ستاسو د زړونو له اسرارو خبر دئ.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ كُونُوا۟ قَوَّٰمِينَ لِلَّهِ شُهَدَآءَ بِٱلْقِسْطِ ۖ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَـَٔانُ قَوْمٍ عَلَىٰٓ أَلَّا تَعْدِلُوا۟ ۚ ٱعْدِلُوا۟ هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ ۖ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿٨﴾

٨- اې مؤمنانو! د الله لپاره د عدل د شاهدانو په توگه ښه او كلك ودرېدونكې اوسئ او د كوم قوم دښمني دې تاسو دې ته ونه هڅوي چې عدالت ونه كړئ، عدالت وكړئ چې دا تقوى ته ډېر نژدې دئ او له الله ووېرېږئ؛ يقيناً چې الله په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې كوئ.

(٨)- په دې مبارك آيت كې د عدالت په اړه مؤمنانو ته څو اساسي لارښوونې شوې:

- تاسو به د عدالت لپاره ژوندی ببلگه وئ، ستاسو له قول او عمل به خلك د عدالت په حقيقت او معنى پوهېږي.
- له عدالت به دفاع كوئ، ستاسو هر قضاوت او شهادت به پر عدالت او قسط ولاړ وي.
- دا كار به د الله لپاره كوئ، په دې كې به د الله تعالى د رضاء او د ده د حكم له تعميل پرته بله موخه او هدف نلرئ.
- د بل دښمني بايد تاسو له عدالت انحراف ته ونه هڅوي، له دښمن او دوست سره به عدالت كوئ، نه به د چا دوستي تاسو له عدالت اړوي او نه د چا دښمني.
- په خپلو قضاوتونو او شهادتونو كې به له الله تعالى وېره لرئ او له دې به ځان ساتئ چې د الله تعالى د حكم مخالفت وكړئ او د قيامت د ورځې محاسبه هېره كړئ.
- دا مو بايد تل په پام كې وي چې الله په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې كوئ.

---

وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٌ عَظِيمٞ ۝٩ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ ۝١٠

۹- الله له هغو سره د بخښنې او ستر اجر وعده كړې چې ايمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې كړي. ۱۰- او هغه چې كافران شوي او زموږ آيتونه ئې تكذيب كړي؛ دوی دوزخيان دي.

---

(۹-۱۰)- د ايمان او صالح عمل بدله بخښنه او ستر اجر دئ، په مقابل كې ئې د كفر او د الهي آيتونو د تكذيب سزا دوزخ دئ. دلته د ايمان په مقابل كې د كفر او د صالح عمل په مقابل كې د الهي آيتونو تكذيب ذكر شوی، له دې معلومېږي چې بد عمل او په الهي آيتونو عمل نه كول د الهي آيتونو د تكذيب مترادف دي.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ هَمَّ قَوۡمٌ أَن يَبۡسُطُوٓاْ إِلَيۡكُمۡ أَيۡدِيَهُمۡ فَكَفَّ أَيۡدِيَهُمۡ عَنكُمۡۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ۝١١

۱۱- اې هغو چې ايمان ئې راوړی! پر خپل ځان د الله د هغه وخت نعمت درياد كړئ چې يوه قوم غوښتل لاس دراوچوي خو الله د دوی لاسونه له تاسو دفع كړل او

له الله ووېرېږئ او مؤمنان خو باید پر الله توکل وکړي.

---

(۱۱)- دلته هغي پېښي ته اشاره شوې چي د یهودانو یوې ډلي پیغمبر علیه السلام او د ده ځو مهمو یارانو ته د مېلمستیا بلنه ورکړې وه خو په پټه ئې داسي ترتیبات نیولي وو چي ناڅاپي به پر دوی حمله کوي او په دې سره به د اسلام او مسلمانانو له ګواښ د تل لپاره ځان بې غمه کوي؛ خو پیغمبر علیه السلام ته له تلو لږ د مخه اطلاع ورسېده، هلته نه ولاړ او په دې سره الله تعالی د دښمن دا خطرناکه دسیسه شنډه کړه. د دې لویي پېرزویني دوه غوښتني د مسلمانانو مخي ته ږدي:

- باید وېره ئې له الله وي؛ له هر هغه څه ځان وساتي چي الله ناراضه کوي.
- تل او د هر دښمن په وړاندي ئې توکل پر الله وي.

د دغه (تقوی) او (توکل) په نتیجه کي به الله تعالی ستاسو په خلاف د هر دښمن توطئې او دسائس شنډوي.

---

وَلَقَدۡ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَبَعَثۡنَا مِنۡهُمُ ٱثۡنَيۡ عَشَرَ نَقِيبٗاۖ وَقَالَ ٱللَّهُ إِنِّي مَعَكُمۡۖ لَئِنۡ أَقَمۡتُمُ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَيۡتُمُ ٱلزَّكَوٰةَ وَءَامَنتُم بِرُسُلِي وَعَزَّرۡتُمُوهُمۡ وَأَقۡرَضۡتُمُ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنٗا لَّأُكَفِّرَنَّ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَلَأُدۡخِلَنَّكُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۚ فَمَن كَفَرَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ مِنكُمۡ فَقَدۡ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ﴿١٢﴾

۱۲- او یقیناً چي الله د بني اسرائیلو ژمنه هم تر لاسه کړې وه او له دوی مو دولس مشران رابرسېره کړل او الله وفرمایل: زه درسره یم؛ که مو لمونځ اداء کړ، زکات مو ورکړ، زما پر پیغمبرانو مو ایمان راوړ، د دوی ملاتړ مو وکړ او الله ته مو غوره پور ورکړ؛ نو هرومرو به ستاسو سیئات درنه محو کړم او حتماً به مو هغو جنتونو ته داخل کړم چي لاندي ئې ویالې بهېږي؛ خو که له دې وروسته له تاسو څوك كافر شو؛ یقیناً چي سمه لاره ئې ورکه کړې.

---

(۱۲)- دلته د بني اسرائیلو په قصې کي د یوه دیندار ولس د سعادت او بریا لاندي اساسي لاملونه بیان شوي:

- له الله تعالی سره تعهد او په دې تعهد ودرېدا.
- یووالی او وحدت او د یوه مشر تر قیادت لاندي راغونډېدل.

- د لمانځه التزام.
- زکات ورکول.
- پر پیغمبرانو علیهم السلام ایمان.
- د پیغمبر ملګرتیا او ملاتړ.
- او د الله تعالی په لار کې جهاد.

د دې په نتیجه کې الله تعالی له دوی سره دوه وعدې کوي:

- د سیئاتو محو کول؛ یعني وضع به ئې اصلاح کوي او له ګناهونو به ورتېرېږي.
- جنت ته به ئې داخلوي.

---

فَبِمَا نَقۡضِهِم مِّيثَٰقَهُمۡ لَعَنَّٰهُمۡ وَجَعَلۡنَا قُلُوبَهُمۡ قَٰسِيَةٗۖ يُحَرِّفُونَ ٱلۡكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِۦ وَنَسُواْ حَظّٗا مِّمَّا ذُكِّرُواْ بِهِۦۚ وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلَىٰ خَآئِنَةٖ مِّنۡهُمۡ إِلَّا قَلِيلٗا مِّنۡهُمۡۖ فَٱعۡفُ عَنۡهُمۡ وَٱصۡفَحۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١٣﴾

۱۳- نو د خپلو ژمنو د ماتولو له کبله مو ورټل او د دوی زړونه مو سخت کړل؛ کلمې له خپل خپل ځای کږوي او له هغه څه ئې برخمن کېدل هېر کړل چې پند پرې ورکول کېدو او تل به د دوی له یوه او بل خیانت خبرېږې؛ مګر لږ ئې. نو ترې تېر شه او مخ ترې واړوه؛ بې شکه چې الله داسې محسنین خوښوي.

---

(۱۳)- په دې مبارکو آیتونو کې د یهودانو څو هغو خصلتونو ته ګوته نیول شوې چې الله تعالی له همدې امله ورټل او زړونه ئې ورسخت کړل، له همدې کبله د هر چا له لوري رټل شوي او هر څوك په سپکه سترګه ورته ګوري؛ او په همدې سبب له الهي هدایت محروم شوي:

- خپلې ژمنې ماتول.
- هغه لارښوونې شا ته غورځول چې د پیغمبرانو علیهم السلام په لاس ئې په برخه شوې وې.
- پرله پسې خیانت؛ له دوست او دښمن سره؛ له الله تعالی او د ده له بندګانو سره.
- دا خیانت په کې عام شوی؛ له لږو پرته ټول پرې اخته شوي.

له دوی سره په معامله کې د څو لارښوونو توصیه کېږي: د دوی له کړنو سترګې پټول، مخ ترې اړول او ښېګڼه ورسره کول، دا ځکه چې الله تعالی ښېګڼې او نېکان خوښوي.

وَمِنَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّا نَصَٰرَىٰٓ أَخَذۡنَا مِيثَٰقَهُمۡ فَنَسُواْ حَظّٗا مِّمَّا ذُكِّرُواْ بِهِۦ فَأَغۡرَيۡنَا بَيۡنَهُمُ ٱلۡعَدَاوَةَ وَٱلۡبَغۡضَآءَ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ وَسَوۡفَ يُنَبِّئُهُمُ ٱللَّهُ بِمَا كَانُواْ يَصۡنَعُونَ ﴿١٤﴾

١٤- او له هغو مو هم خپلې ژمنې تر لاسه کړې چې وايي: موږ نصرانيان يو؛ نو هغوی هم له هغه څه برخمن کېدل هېر کړل چې پند پرې ورکول کېدو؛ نو په دوی کې مو د قيامت تر ورځې دښمني او کينه واچوله او ډېر ژر به ئې الله په هغه څه خبر کړي چې دوی به کول.

---

(١٤)- دلته د نصرانيانو هغې سترې غلطۍ ته اشاره شوې چې په سبب ئې په خپلمنځيو نښتو او دښمنيو اخته شول: له الله تعالی سره خپلې ژمنې ماتول، د الله تعالی لارښود کتاب شا ته غورځول او له نصائحو ئې مخ اړول.

د دې لپاره چې يهودان او نصاری په الهي آزمېښت کې ناکام وختل، د پيغمبرانو په لاس ورته راغلي کتابونه ئې شا ته وغورځول، په خپلمنځيو نښتو او اختلافاتو اخته شول؛ نو ځکه الله تعالی نوی پيغمبر، له نوي کتاب سره په بل قوم کې مبعوث کړ، دوی ئې له دې جليل منصب عزل کړل او بل چا ته ئې وسپارو.

---

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ قَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمۡ كَثِيرٗا مِّمَّا كُنتُمۡ تُخۡفُونَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَيَعۡفُواْ عَن كَثِيرٖۚ قَدۡ جَآءَكُم مِّنَ ٱللَّهِ نُورٞ وَكِتَٰبٞ مُّبِينٞ ﴿١٥﴾ يَهۡدِي بِهِ ٱللَّهُ مَنِ ٱتَّبَعَ رِضۡوَٰنَهُۥ سُبُلَ ٱلسَّلَٰمِ وَيُخۡرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ بِإِذۡنِهِۦ وَيَهۡدِيهِمۡ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿١٦﴾

١٥- اې اهل کتاب! بې شکه چې زموږ استازی درته راغلی، د کتاب ډېر هغه څه درته څرگندوي چې تاسو پټول او له ډېرو تېرېږي؛ يقيناً چې تاسو ته د الله له لوري رڼا او څرگند کتاب راغلی. ١٦- په دې سره الله هغه څوك د سلامتيا په لارو هدايت کوي چې د ده رضاء لټوي او په خپل اذن سره ئې له تيارو د نور په لوري بيايي او د مستقيمې لارې په لور ئې لارښوونه کوي.

---

(١٥-١٦)- له دې آيت که له يوې خوا دا معلومېږي چې د اهل کتاب مذهبي مشرانو د الله تعالی د کتاب ډېرې برخې پټولې؛ له بلې خوا د پيغمبر عليه السلام د بعثت دا دليل په

گوته کوي چې د الله کتاب د دوکه مارو مذهبي مشرانو له منګولو وباسي، خلکو ته د کتاب هغه برخې څرګندې کړي چې دغو مذهبي مشرانو پرې پرده اچولې. خو دا لارښود کتاب به یوازې هغه څوک مني، د سلامتیا روغه او مستقیمه لار به ورته ښیي او له تیارو به ئې د رڼا په لور بیایي چې د الله تعالی رضاء لټوي؛ د نفس او هوی او هوس بندګان له دې سعادت محروم دي.

---

لَّقَدۡ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ مَرۡيَمَۚ قُلۡ فَمَن يَمۡلِكُ مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـًٔا إِنۡ أَرَادَ أَن يُهۡلِكَ ٱلۡمَسِيحَ ٱبۡنَ مَرۡيَمَ وَأُمَّهُۥ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗاۗ وَلِلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَاۚ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴿١٧﴾

١٧- هغه کسان بې له شکه کافران شوي چې وئې ویل: یقیناً چې الله خو همدغه مسیح د مریمې زوی دئ!! ووایه: که الله وغواړي چې مسیح، د ده مور او ټول هغه چې په زمکې کې دي مړه کړي؛ نو څوک به له الله کوم څه په خپلې ولکې کې وساتي؟ او د آسمانونو، زمکې او څه چې په دوی کې دي؛ د ټولو واک له الله سره دئ، څه چې وغواړي پیدا کوي ئې او الله پر هر څه قادر دئ.

---

(١٧)- نصرانیانو پر الله تعالی د ایمان دعوی درلوده، په داسې حال کې چې دوی عیسی علیه السلام ته د خدای په سترګه کتل، هغه څه ئې ده ته منسوبول چې له الله تعالی پرته له هیچا سره نه ښایي. په دې آیت کې د دوی په اړه په قاطع الفاظو ویل شوي چې دوی کافران شوي، د دوی د کفر لپاره همدا کافي ده چې عیسی علیه السلام خدای ګڼي. د دوی د دغې غلطې عقیدې د تردید لپاره څو مضبوط او قوي دلائل وړاندې شوي:

- عیسی د مریمې زوی دئ، له انسان یوازې انسان پیدا کېږي؛ له یوه انسان پیدا شوی څنګه خدای ګڼئ؟

- څوک چې د ځان د مرګ او ژوند واک هم نه لري؛ څنګه هغه ته د خدای په سترګه ګورئ؟ تاسو وایئ چې مسیح وژل شوی او په صلیب ځړول شوی، مور ئې وفات شوې؛ کوم عاقل انسان به داسې چا ته د خدای په سترګه ګوري؟

- د یوه خدای په څنګ کې د بل خدای شته والی له دواړو داسې خدایان جوړوي چې هم ئې قدرت محدود وي او هم ئې واک؛ د ټولواک او په هر څه برلاسي او قادر خدای په څوا کې د بل خدای تصور ممکن نه دئ. دا ځکه چې دوهم خدای ته چې هر څومره واک او قدرت منسوب کړئ؛ د لومړي خدای له واک او قدرت باید دا برخه راکمه کړئ؛ په دې سره

هم لومړی خدای ناقص ګرځي او هم دوهم خدای.

وَقَالَتِ ٱلْيَهُودُ وَٱلنَّصَٰرَىٰ نَحْنُ أَبْنَٰٓؤُاْ ٱللَّهِ وَأَحِبَّٰٓؤُهُۥ ۚ قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُم بِذُنُوبِكُم ۖ بَلْ أَنتُم بَشَرٌ مِّمَّنْ خَلَقَ ۚ يَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ ۚ وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۖ وَإِلَيْهِ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٨﴾

۱۸- یهودانو او نصرانیانو وویل: موږ د الله زامن او د ده محبوبان یو؛ ووایه: نو ولې مو په خپلو ګناهونو تعذیبوي؟ داسي نه ده: بلکي تاسو همغه عادي انسانان یئ چي الله پیدا کړي. چا ته چي وغواړي بخښنه کوي او څوك چي وغواړي تعذیبوی ئې او د آسمانونو، زمکي او څه چي په دوی کي دي؛ د ټولو واك له الله سره دئ او بېرته ورتګ د ده په لوري دئ.

(۱۸)- نصرانیانو نه یوازي عیسی علیه السلام د خدای زوی ګڼلی بلکي ډېر نور ئې هم د خدای د نازولو زامنو په نامه یاد کړي، د ځان په اړه ئې هم ویل چي موږ د خدای نازولي زامن یو!! دلته دوی ته ویل شوي:

- که تاسو د خدای زامن او محبوبان وئ نو دا ستر ستر الهي عذابونه به پر تاسو نه نازلېدل، له هغه سپکاوي، ذلت او اسارت سره به ئې نه مخامخ کولی چي په مصر کي ورسره مخامخ وئ؛ هیڅ پلار نه غواړي چي زامن ئې په عذابونو اخته شي.
- تاسو خو همغه انسانان یئ چي الله تعالی ستاسو په څېر ډېر نور پیدا کړي، ستاسو او د هغوی تر منځ څه توپیر شته چي ځان د خدای زامن ګڼئ؟!!
- زوی ته خو هغه څوك ضرورت لري چي مري؛ خدای به ولي زوی لري په داسي حال کي چي نه یوازي هیڅکله نه مري؛ بلکي تاسو له مړیني وروسته د هغه لوري ته درومئ ؟!!
- زوی او ځای ناستي ته خو هغه څوك اړ وي چي خپل ملك په خپله، د بل له مرستي پرته او د تل لپاره نه شي سمبالولی؛ الله تعالی خو د زمکي او آسمانونو مالك او ټولواك دئ؛ هغه به ولي زوی او ځای ناستی غوره کوي؟!!

يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ قَدْ جَآءَكُمْ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ عَلَىٰ فَتْرَةٍ مِّنَ ٱلرُّسُلِ أَن تَقُولُواْ مَا جَآءَنَا مِنۢ بَشِيرٍ وَلَا نَذِيرٍ ۖ فَقَدْ جَآءَكُم بَشِيرٌ وَنَذِيرٌ ۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٩﴾

۱۹- اې اهل کتاب! بې شکه چې زموږ استازی درته راغی؛ د پیغمبرانو د لړۍ د ځنډېدو په وخت کې څرګندوني درته کوي، د دې لپاره چې ونه وایئ چې موږ ته کوم بشیر او نذیر نه وو راغلی؛ نو دا دئ بشیر او نذیر درته راغی او الله په هر څه ښه قادر دئ.

---

(۱۹)- په مخکینیو آیتونو کې د پیغمبر علیه السلام د بعثت څو اساسي لاملونه توضیح شول او هغه دا چې د مخکیني پیغمبر امت په بشپړه توګه دین ته شا کړې وه او دا ئې خصلتونه وو:

- خپلې ژمنې ماتول.
- هغه لارښووني شا ته غورځول چې د پیغمبرانو علیهم السلام په لاس ئې په برخه شوې وې.
- پر له پسې خیانت، له دوست او دښمن سره، له الله تعالی او د ده له بندګانو سره.
- دا خیانت په کې عام شوی؛ له لږو پرته ټول پرې اخته شوي.
- په دین کې تحریف کول او ډېرې برخې ئې هېرول او پټول.
- شرك او د الله تعالی نېك بندګان له هغه سره په الوهیت او ربوبیت کې شریکول.
- داسې مذهبي ډله په دوی کې راپیدا شوه چې ځان ئې تر نورو لوړ او د خدای خاص ټبر ګڼلو، له مذهب ئې د خلکو د غولولو او پر نورو د خپلې سلطې قائمولو لپاره استفاده کوله.
- دلته د پیغمبر علیه السلام د بعثت بل دلیل وړاندې کوي: او هغه دا چې اوږده موده تېره شوې وه چې په دوی کې (بشیر) او (نذیر) نه وو مبعوث شوی، د پیغمبرانو له لارښوونو محروم پاته شوي وو، نه داسې څوك په دوی کې راپیدا شوی وو چې ښېګڼو ته ئې راوبلي، نېکانو ته په دنیا او آخرت کې د سعادت او نېکو پایلو زیری ورکړي او ظالمان او مفسدان د ظلم او فساد له بدو پایلو ووېروي.
- د آیت په پای کې دا فقره راغلې چې الله په هر څه قدیر دئ؛ له مخکینیو فقرو سره ئې په ارتباط پوهېدل لږ غور غواړي. که دا فقره د ورپسې آیت په رڼا کې وڅېړئ له مخکینیو برخو سره ئې ارتباط درته واضح کېږي. په ورپسې آیت کې د موسی علیه السلام دا وینا رانقل شوې چې خپل قوم ته ئې وویل: د الله پېرزویني دریادې کړئ؛ چې په تاسو کې ئې پیغمبران راپیدا کړل، تاسو ئې پاچایان وګرځولئ او هغه څه ئې درکړل چې په ولسونو کې ئې هیچا ته نه وو ورکړي. بني اسرائیل له الله تعالی مأیوس شوي وو، دا ګمان ئې نه کاوو چې له ذلت د نجات وسیله ئې دا ده چې بېرته خپل رب ته مخه کړي او دین ته رجوع وکړي، په دې ئې باور ختم شوی وو چې الله تعالی هم سزا ورکولی شي او هم

هغه څه ورسره کولی شي چې د دوی له پلرونو سره ئې وکړل، په دوی کې ئې پيغمبران مبعوث کړل او اقتدار ئې ورپه برخه کړ. په دې فقرې سره دوی دغه حقيقت ته متوجه کوي.

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦ يَٰقَوْمِ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَةَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَعَلَ فِيكُمْ
أَنۢبِيَآءَ وَجَعَلَكُم مُّلُوكًا وَءَاتَىٰكُم مَّا لَمْ يُؤْتِ أَحَدًا مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٠﴾ يَٰقَوْمِ
ٱدْخُلُوا۟ ٱلْأَرْضَ ٱلْمُقَدَّسَةَ ٱلَّتِى كَتَبَ ٱللَّهُ لَكُمْ وَلَا تَرْتَدُّوا۟ عَلَىٰٓ أَدْبَارِكُمْ
فَتَنقَلِبُوا۟ خَٰسِرِينَ ﴿٢١﴾ قَالُوا۟ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّ فِيهَا قَوْمًا جَبَّارِينَ وَإِنَّا لَن نَّدْخُلَهَا
حَتَّىٰ يَخْرُجُوا۟ مِنْهَا فَإِن يَخْرُجُوا۟ مِنْهَا فَإِنَّا دَٰخِلُونَ ﴿٢٢﴾ قَالَ رَجُلَانِ مِنَ ٱلَّذِينَ
يَخَافُونَ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمَا ٱدْخُلُوا۟ عَلَيْهِمُ ٱلْبَابَ فَإِذَا دَخَلْتُمُوهُ فَإِنَّكُمْ
غَٰلِبُونَ ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَتَوَكَّلُوٓا۟ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٢٣﴾ قَالُوا۟ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّا لَن نَّدْخُلَهَآ
أَبَدًا مَّا دَامُوا۟ فِيهَا فَٱذْهَبْ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَٰتِلَآ إِنَّا هَٰهُنَا قَٰعِدُونَ ﴿٢٤﴾ قَالَ رَبِّ
إِنِّى لَآ أَمْلِكُ إِلَّا نَفْسِى وَأَخِى ۖ فَٱفْرُقْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ ٱلْقَوْمِ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٢٥﴾ قَالَ
فَإِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ ۛ أَرْبَعِينَ سَنَةً ۛ يَتِيهُونَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ فَلَا تَأْسَ عَلَى ٱلْقَوْمِ
ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٢٦﴾

٢٠- او کله چې موسی خپل قوم ته وويل: اې زما قومه! پر تاسو د الله پېرزوينې درياديٰ کړئ؛ کله چې ئې په تاسو کې پيغمبران راپيدا کړل، تاسو ئې پاچايان وګرځولئ او هغه څه ئې درکړل چې په ولسونو کې ئې هيچا ته نه وو ورکړي. ٢١- اې زما قومه! دغې مقدسې زمکې ته چې الله درته ليکلې ورننوځئ او شا ته شا ته مه کېږئ؛ که نه نو زيانمن به راوګرځئ. ٢٢- وئې ويل: اې موسی! په دې کې خو يو پياوړی قوم دئ او موږ به تر هغه هيڅکله ورداخل نشو چې دوی ترې ووځي؛ که ترې ووتل بيا به ورننوتونکې شو. ٢٣- له دغو چې وېرېدل؛ دوو سړيو ئې چې الله پرې پېرزوينه کړې وه؛ وويل: له دروازې پرې ورننوځئ؛ نو کله هم چې ورننوتئ تاسو به بريالي وئ او که مؤمنان وئ نو پر الله بايد توکل وکړئ. ٢٤- وئې ويل: اې موسی! تر هغه چې

دوی په کې وي موږ به هیڅکله ورداخل نشو، نو ته او رب دې لاړ شئ او وجنګېږئ، موږ به همدلته ناست یو! ۲۵- وئې ویل: اې زما ربه! زما په واك کې خو له خپل ځان او له خپل ورور پرته نور څه نشته؛ نو موږ او دغه فاسق قوم په خپلو کې سره بېل کړه. ۲٦- وئې فرمایل: نو دا تر څلوېښتو کلونو پرې حرامه شوه، په زمکې کې به لالهانده ګرځي؛ نو پر دې فاسق قوم تأسف مه کوه.

---

(۲۰-۲٦)- په پورتنیو آیتونو کې بني اسرائیلو ته هغه ورځې ورپه یاد شوې چې موسی علیه السلام دوی جهاد ته وبلل، ترې وئې غوښتل چې فلسطین ته ننوځئ، له عمالقه وو ئې ونیسئ، دا ستاسو پلرنی ټاټوبی دئ، الله تعالی درسره وعده کوي چې دا سیمه به بېرته تاسو ته سپاري، که له جهاد ډډه وکړئ، زیان کوئ او له سپکاوي او ذلت سره مخامخ کېږئ، دوی د نه ځواب ورکړ. موسی علیه السلام د سیمې او د دښمن د وضعیت څېړنې لپاره یو پلاوی ولېږو، پلاوی له سیمې بېرته راوګرځېد، له دوو پرته نورو د جنګ مخالفت وکړ او وئې ویل چې دښمن ډېر ځواکمن دئ، موږ ئې له مقابلې عاجز یو، ته ئې د ایستلو چاره وکړه، له خپل رب وغواړه چې دوی وباسي، د دوی له وتلو وروسته به سیمې ته ننوځو. د پلاوي دوو چې وېره ئې له الله تعالی وه، نه د دښمن له زور او ځواك؛ وویل: که د دښمن ظاهر ځواکمن برېښي؛ په حقیقت کې ډېر بې همته او ډارن دئ، ستاسو له برید سره سم به تښتي او سیمه به پرېږدي، د ایمان تقاضا خو دا ده چې پر خپل رب توکل وکړو. قوم په ځواب کې وویل: اې موسی! په دې پوه شه چې موږ تر هغه دې سیمې ته هیڅکله نه ننوځو چې دښمن ترې وتلی نه وي، ته دې له خپل رب سره ولاړ شه او وجنګېږئ. موسی علیه السلام له خپل بې همته او جبون قوم خپل رب ته په داسې الفاظو شکایت وکړ چې ترې معلومېږي له خپل قوم سخت مأیوس شوی، پر ځای ئې د بل باهمت او توریالي قوم د ملګرتیا هیله لري او دا شکایت او هیله په دې الفاظو بیانوي: زما ربه! له ځان او خپل ورور پرته بل څوك راسره نشته؛ ته مو له دې فاسق قوم بېل کړې!

الله تعالی د دوی په اړه پرېکړه وکړه چې تر څلوېښتو کلونو به په صحراء کې لالهانده ګرځي، د ټېکي ډاډمن ځای به نه مومي. موسی علیه السلام ته ئې وفرمایل: اې موسی! دا د دوی د فسق او له جهاد د انکار سزا ده؛ ته ئې پر دردناك حالت تأسف مه کوه.

دا قصه بني اسرائیلو ته هم او د قرآن هر مخاطب ته هم دا حقیقت په ګوته کوي چې الله تعالی ولې د بني اسرائیلو پر ځای په بل قوم کې پیغمبر مبعوث کړ؟ وجه ئې دا وه چې نور نو دا قوم د دې وړ نه وو، دوی په سختو شپو ورځو کې خپل ناجي لاربنود او پیغمبر موسی علیه السلام یوازې پرېښود، دوی د پیغمبرانو د ملګرتیا وړ نه دي، په دوی کې د جهاد او د الله تعالی په لار کې د قربانۍ جذبه مړه شوې، په کورنیو شخړو کې ډېر تکړه دي، یو د بل وینې ته تږی خو د حق په لار کې جهاد ته ئې ملا ماته ده، پر خپل آخري پیغمبر عیسی علیه السلام ئې له ایمان راوړلو ډډه وکړه او غوښتل ئې د رومیانو په لاس ئې

ووژني. له راتلونکې قصې هم معلومېږي چې په دې قصې کې همدا مطلب مراد دئ.

وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ ٱبۡنَيۡ ءَادَمَ بِٱلۡحَقِّ إِذۡ قَرَّبَا قُرۡبَانٗا فَتُقُبِّلَ مِنۡ أَحَدِهِمَا وَلَمۡ
يُتَقَبَّلۡ مِنَ ٱلۡأٓخَرِ قَالَ لَأَقۡتُلَنَّكَۖ قَالَ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ ٱللَّهُ مِنَ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿٢٧﴾ لَئِنۢ
بَسَطتَ إِلَيَّ يَدَكَ لِتَقۡتُلَنِي مَآ أَنَا۠ بِبَاسِطٖ يَدِيَ إِلَيۡكَ لِأَقۡتُلَكَۖ إِنِّيٓ أَخَافُ ٱللَّهَ
رَبَّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٢٨﴾ إِنِّيٓ أُرِيدُ أَن تَبُوٓأَ بِإِثۡمِي وَإِثۡمِكَ فَتَكُونَ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلنَّارِۚ
وَذَٰلِكَ جَزَٰٓؤُاْ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٩﴾ فَطَوَّعَتۡ لَهُۥ نَفۡسُهُۥ قَتۡلَ أَخِيهِ فَقَتَلَهُۥ فَأَصۡبَحَ
مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴿٣٠﴾

۲۷- او د آدم د دوو زامنو حقيقي خبره ورواوروه؛ کله چې دواړو يوه يوه قرباني وړاندې کړه، خو له يوه ئې ومنل شوه او له بل ونه منل شوه؛ وئې ويل: هرومرو به دې ووژنم. وئې ويل: الله خو ئې يوازې له پرهېزګارانو قبلوي. ۲۸- که زما د وژلو لپاره دې لاس رااوږد کړ؛ زه خو ستا د وژلو لپاره د خپل لاس درغځوونکی نه يم، زه خو د عالمونو له پالونکي الله وېرېږم. ۲۹- زه خو دا غواړم چې ته زما په ګناه هم او په خپلې ګناه هم مؤاخذه شې، په دې سره به ته له دوزخيانو شې او همدا د ظالمانو سزا ده. ۳۰- نو خپل نفس د خپل ورور وژل ورته ښايسته کړ؛ نو وئې واژو او له زيانمنو شو.

(۲۷-۳۰)- د آدم عليه السلام د دوو زامنو؛ هابيل او قابيل په دې قصې کې دوه ځېرې انځور شوې: يوې خوا ته يو حسود او کينه کښ ورور او بلې خوا ته يو متقي او له خپل رب وېرېدونکی ورور؛ الله تعالی له دوی دواړو له منځه د متقي ورور قرباني قبلوي، حسود ورور د الله تعالی پرېکړې ته غاړه نه ږدي، حسادت ئې دې ته پاروي چې خپل ورور ووژني، کله چې په دې موخه خپل ورور ته ورنژدې کېږي؛ هغه ورته وايي: زه د جګړې اراده نلرم، نه غواړم زما په لاس ووژل شې، که له ځان د دفاع په ترڅ کې زما په لاس ووژل شوې ګناه به ئې ستا په غاړه وي، زه له تا نه بلکې له رب العالمين وېرېږم. خپل نفس دې ته وهڅاوو چې خپل ورور ووژني. دې قتل د ګټې پر ځای تاوان ورورساوو.

دلته څو خبرو ته پام کول ضروري دي:

- په دې قصې کې بني اسرائيلو ته ويل شوي چې له محمد عليه السلام سره په خپل چلن کې د قابيل په څېر مه کېږئ؛ ولې حسادت کوئ؟ ولې په ناحقه د ده او د ده د ملګرو د

وژلو لپاره ملا تړئ؟!!

- نه دلته او نه د قرآن په کوم بل آیت کې ویل شوي چې شخړه څه وه او هر یوه څه شیء قرباني ته وړاندي کړی، له رسول الله صلی الله علیه و سلم هم په دې اړه صحیح حدیث نه دئ روایت شوی، ځینو مفسرینو د بایبل په استناد ویلي چې شخړه د ښځې پر سر راولاړه شوې، قابیل غوښتل هغه نجلۍ ده ته په نکاح ورکړی شي چې اصولاً باید هابیل ته په نکاح شوې وی. آدم علیه السلام د شخړي د حل او فصل لپاره دواړو ته وویل چې قرباني وکړي، د چا قرباني چې قبوله شوه هغه په حقه دئ، د قربانۍ لپاره هابیل د خپلي رمې تر ټولو غوره یو پسه او قابیل د غنمو یوه بې کاره ګېډۍ وړاندي کړه.

په دې اړه د بایبل بې بنسټه قصه داسي ده: حواء حامله شوه، زوی ئې وزېږاوو او نوم ئې پرې قائن کښېښود، بیا ئې بل زوی پیدا شو چې هابیل ئې ونوماوو. هابیل شپني کوله او قائن بزګري. څه موده وروسته قائن د خپلي زمکي له حاصلاتو یوه هدیه خدای ته وړاندي کړه، هابیل هم د خپلي رمې څو هغه څاروي ذبح کړل چې د خپلو میندو لومړني بچیان ول او د غوښي تر ټولو غوره برخه ئې خدای ته وړاندي کړه. خدای هابیل او د ده هدیه قبوله او قائن او د ده هدیه ئې قبوله نه کړه. قائن غصه شو او له ډېري غصې ئې سر ټیټ واچاوو. یوه ورځ قائن له خپل ورور هابیل وغوښتل چې له ده سره بېدیا ته ولاړ شي؛ کله چې په صحراء کې ول ناڅاپي قائن پر خپل ورور برید وکړ او هغه ئې وواژو. بیا خدای ترې پوښتنه وکړه چې هابیل چېري دئ؟ قائن خدای ته ځواب ورکړ: زه څه پوهېږم چې هغه چېري دئ، زه خو ئې څارونکی نه یم؟!! خدای وفرمایل: آیا دا کار د کولو وو چې تا وکړ؟ ستا د ورور وینه ما ته چیغي وهي. ته نور ملعون یې او له دغي زمکي چې ستا د ورور په وینو سره شوې رټل کېږې، نور به زمکه هغه حاصل نه درکوي چې باید درکړی ئې وی. قائن وویل: دا سزا خو زما له زغمه اوچته ده، له دې وروسته چې هر څوك ما ووینې وژني به مې. خدای وفرمایل: داسي نه ده؛ هیڅوك دې نه شي وژلی، که چا ووژلې سزا به ئې ستا د سزا اُوه برابره وي. بیا خدای قائن په داسي نښې سره نښانمن کړ چې که څوك ئې وګوري وئې نه وژني!! بیا لیکي چې قائن د عدن ختیځ ته د یوه ښار په جوړولو لګیا شو او د خپل زوی خنوع نوم ئې پرې کښېښود!! بیا وایي چې د ده په اُوم (۷) نسل کې د یابال په نامه یوه لمسي ئې په کرډیو کې ژوند کول او شپني رائج کړه او د ده ورور په لومړي ځل موسیقي اختراع کړه او چنګ او نی ئې جوړ کړل او د دوی ناسکه ورور توبل د قائن لمسي مسي اوسپنیز آلات جوړ کړل!! لمك د دوی پلار خپلو مېرمنو ته وویل: ما یو ځوان وژلی؛ که څوك د هغه په بدل کې ما ووژني؛ سزا به ئې اُوه اویا برابره وي!!

په دې بې بنسټې او له ځانه جوړي شوې جعلي قصې کې څو برخي د یادولو وړ او په دې ارزي چې نقد شي:

- د آدم علیه السلام د اولاد شمېر به د ده تر اُوم اتم نسل پوري ښایي دومره هم نه وو

چي يو وړوکی کلی ترې جوړ شي.

● د قرآن او اصلي انجیل دا وینا ډېره دقیقه ده چي د دوی د اوسېدا ځای جنت (باغ) او خوراك ئې مېوه وه، تر ډېري اوږدې مودې باید د ده اولاد په مېوو اکتفاء کړې وي، په دې مودې کي نه دوی زراعت ته مخه کړې او نه ئې حیوانات اهلي کړي، علمي تحقیقات او څېړني ښیي چي انسان ډېر وروسته او له نن څو زره کاله مخکي زراعت ته مخه کړې او حیوانات ئې اهلي کړي او دا هم د مجبوریت په وجه او په دې خاطر چي شمېر ئې زیات شوی، یوازي ئې په مېوو اکتفاء نه شو کولی او دې ته اړ شوي چي د خوراك نوي نوي توکي او نوې نوې منابع ولټوي.

● د بایبل دا وینا کاملاً غیر علمي او بې بنسټه ده چي د آدم علیه السلام زوی یا د ده اُوم- اتم نسل زراعت پیل کړی، په کړدیو کي ژوند ئې پیل کړی او له اوسپني او مسو ئې آلات جوړ کړي. علمي تحقیقات ښیي چي انسان مس او اوسپنه له نن فقط څو زره کاله مخکي کشف او له هغوی ئې د ساده وسائلو جوړولو لپاره استفاده پیل کړه، په ابتداء کي یوازي د ښکار لپاره او ډېر وروسته د زمکي کیندلو او بیا د قطع کولو او رېبلو لپاره.

● علمي څېړنې او تحقیقات دا هم ښیي چي انسان په سر کي په طبیعي سوړو او غارونو کي اوسېدو، بیا ئې د لوړو ډډې تراشلې او ځان ته ئې د اوسېدو غارونه جوړ کړي، په خېمو کي ژوند او یا د زمکي پر سر کور جوړول ډېر ډېر وروسته او له نن څو زره کاله مخکي پیل شوي، د آدم علیه السلام د زوی قائن په اړه دا ویل چي هغه د ښار په جوړولو بوخت شو ډېره مسخره خبره ده، هیڅ عاقل انسان به په داسي غلطي خبري د خولې پرانیستلو جسارت ونه کړي!!

● دا خبره هم علمي بنسټ نه لري چي یو شپون وو او بل کروندګر؛ او دا چي یوه پسه قرباني ته وړاندي کړی او بل د غنمو یوه ګېډۍ.

کومو درنو مفسرینو چي پر بایبل اعتماد کړی او د قرآن د آیتونو په تفسیر کي ئې د بایبل قصې رانقل کړې، الله تعالی دي ورته عفو وکړي. بایبل له خرافاتو او دروغجنو قصو ډك دئ، قرآن د دغو قصو تردید او تصحیح کوي نه تأیید، د بایبل دا قصه او هغه څه چي قرآن دلته ویلي ژور توپیرونه لري. عجیبه ده که څوك دا توپیرونه له پامه غورځوي او د دواړو قصو د تلفیق هڅه کوي. له دې علاوه؛ په داسي حال کي چي قرآن د یوې موضوع تفصیل نه وي وړاندي کړی؛ پیغمبر علیه السلام د هغې په اړه څه نه وي ویلي؛ آیا د ادب تقاضا او پر قرآن د ایمان غوښتنه دا نه ده چي موږ هم له څه ویلو ډډه وکړو؟!

د ۳۰ آیت له وروستۍ برخي معلومېږي چي قابیل په دې قتل سره نه یوازي خپلي موخي ته نه دئ رسېدلی بلکي مزید تاواني شوی؛ دا تاوان څه وو؟ دنیوي خسران، که اخروي او که دواړه؟ الله تعالی ښه پوهېږي؛ قرآن وضاحت نه دئ کړی، خو دا چي ندامت او خسران څنګ په څنګ راغلي ښیي چي په دنیا کي ئې هم سزا په برخه شوې. طبیعي ده

چي آدم علیه السلام به حتماً هغه ته مناسبه سزا ورکړې وي، دا قصه په داسي ځای کي راغلې چي د قتل او قصاص پر موضوع بحث کېږي؛ په مخکيني آيت کي ويل شوي چي قابيل تاوان وکړ او په وروستي آيت کي هم ويل شوي چي په خپلو کړو پښېمانه شو؛ دا ښيي چي ده ته سزا ورکړی شوې.

فَبَعَثَ ٱللَّهُ غُرَابًا يَبۡحَثُ فِي ٱلۡأَرۡضِ لِيُرِيَهُۥ كَيۡفَ يُوَٰرِي سَوۡءَةَ أَخِيهِۚ قَالَ يَٰوَيۡلَتَىٰٓ أَعَجَزۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِثۡلَ هَٰذَا ٱلۡغُرَابِ فَأُوَٰرِيَ سَوۡءَةَ أَخِيۖ فَأَصۡبَحَ مِنَ ٱلنَّٰدِمِينَ ﴿٣١﴾

۳۱- نو الله يو کارغه ولېږو چي زمکه ئې سپړله؛ د دې لپاره چي وروښيي د خپل ورور جثه څنګه پټه کړي. وئې ويل: های افسوس؛ آيا له دې هم عاجز شوم چي د دې کارغه په څېر وی او د خپل ورور جثه مي پټه کړې وی؛ نو له پښېماني کوونکو شو.

(۳۱)- دا آيت په ډېر صراحت سره ښيي چي قابيل نه پوهېدو د خپل وژل شوي ورور جسد څنګه پټ کړي؛ دا نه دي ويل شوي چي ولي ئې د هغه د پټولو هڅه کوله؟ آيا د دې لپاره چي د ورور په وژلو تورن نشي او که د دې لپاره چي د وروری عاطفه ئې تحريك شوې او دا ئې نه ده پرې پېرزو شوې چي حيوانات ئې وخوري؟! خو هغه څه چي طبيعي برېښي دا ده چي غوښتل ئې د ورور په وژلو تورن نشي. دا هم نه دي ويل شوي چي کارغه ولي زمکه سپړله؛ د دې لپاره چي څه پټ کړي او که د بل مړه کارغه جسد پټ کړي؟ د دواړو احتمال شته، کارغان داسي دي چي که يو ترې ووژل شي نو ډېر راغونډ شي، شور کوي، بل حيوان او انسان نه پرېږدي چي ورنژدې شي. که خوراك پرې زيات شي نو هغه داسي پټوي چي بل وخت ئې راوباسي. که قابيل لومړی حالت ليدلی وي نو معنی ئې دا ده: کله چي کارغه ګوري چي د خپل همنوع د مړي جسد تر خاورو لاندي کوي؛ متوجه شوی چي دا کارغه هم په شعور او هم په عاطفې کي تر ده غوره دئ، د کارغه دا نه پېرزو کېږي چي خپل مړ شوی ورور په ډاګ پرېږدي چي غوښه ئې نور حيوانات وخوري، زمکه ورته کيني او ښخوي ئې؛ قابيل د دې صحنې په ليدو سره په خپل جرم پښېمانه کېږي. او که دوهم حالت ئې ليدلی وي نو معنی ئې دا ده چي د ښخولو کار ئې له کارغه زده کړی، خو کله چي حقيقت څرګند شوی او ده ته سزا ورکړی شوې په خپل کار پښېمانه او نادم شوی.

متأسفانه په ځينو تفسيرونو کي داسي خبري هم مومو چي وايي قابيل د خپل مړي ورور جسد په جراب او کځوړي کي واچاوو او سل کاله يا يو کال ئې په خپلي غاړي

ګرځولو!! عجيبه ده! انسان خو يو کيلو درونده شيء هم لنډه موده په خپلې غاړې کې نشي ګرځولی قابيل به څنګه د ځان هموزنه شيء څو کاله ګرځولو او ولي؟! د انسان جسد خو په څو ورځو کې وروست شي؛ تر سلو کلونو پورې خو ئې هډوکې هم خاورې شي!!

دې حقيقت ته مو بايد پام وي چې انسان ډېر څه له حيواناتو زده کړي، که مرغان نه وی نو انسان به نه د الوتو هڅه کوله او نه به ئې د جهاز جوړولو هنر زده کړی وو، د جهازونو د جوړولو او الوزولو په ډېرو برخو کې انسان له مرغانو تقليد کړی. حيواناتو ته د ژوند ډېر ضروري لارښوونې په فطري توګه شوې، د دوی په دماغ کې ايښودل شوي چې څه وکړي، څه وخوري، څنګه له يخنې او ګرمي ځان وساتي، کوم مهال په هګيو کښېني او بچيان پيدا کړي، څنګه خپل بچيان له مرض او خطر وژغوري، انسان به دا هر څه زده کوي، يا په تجربو سره يا له نورو په تقليد سره. انسان هغه وخت يوه نوې مېوه او نوې دانه خوړلې چې لومړی ئې يو حيوان د هغې په خوړلو ليدلی او دا ورته معلومه شوې چې هغه ته ئې تاوان نه دئ رسولی، حيوان په فطري توګه په دې پوهېږي، مور ئې خپل بچي ته نه وايي چې دا وخوره او دا مه خوره، په خپله تاواني بوټی پېژني؛ خو انسان ئې بايد له دوی زده کړي.

---

مِنْ أَجْلِ ذَٰلِكَ كَتَبْنَا عَلَىٰ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ أَنَّهُۥ مَن قَتَلَ نَفْسًۢا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي ٱلْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ ٱلنَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَآ أَحْيَا ٱلنَّاسَ جَمِيعًاۚ وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِٱلْبَيِّنَٰتِ ثُمَّ إِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم بَعْدَ ذَٰلِكَ فِي ٱلْأَرْضِ لَمُسْرِفُونَ ﴿٣٢﴾

۳۲- د همدې لپاره مو بني اسرائيلو ته حکم وکړ چې: که څوك د بل کس له قصاص پرته او يا په زمکې کې له کوم فساد پرته يو کس ووژني؛ نو دا داسې دئ لکه چې ټول خلك ئې وژلي وي او چا چې هغه ژوندی وژغورو نو دا داسې دئ لکه چې ټول خلك ئې ژوندي کړي وي او زموږ پيغمبران له همدغو څرګندو نښو سره ورغلل؛ خو دا دئ ډېری ئې له دې وروسته هم په زمکې کې اسراف کوونکي دي.

---

(۳۲)- دا آيت که له يوې خوا د يوه بې ګناه انسان وژل د ټولو انسانانو له وژلو سره مترادف ګڼي او له مرګ ژغورل ئې د ټولو انسانانو له ژغورلو سره ورته؛ دا ځکه چې:

- د يوه انسان وژنه د ده د نسل وژل دي، د ټولو هغو له وژلو سره مترادف دي چې له همدې مقتول به زېږېدل او ژغورنه ئې دې ته ورته د يوه نسل ژغورنه ده.
- او يو قتل د نورو قتلونو لپاره لار هواروي او نور خلك هم قتل ته هڅوي؛ او يو کس

له مرګ ژغورل نور خلك دې ته هڅوي چې همدا كار وكړي.

له بلې خوا د بايبل دا ادعاء په كلكه ردوي چې د قتل سزا له قصاص پرته بل څه ګڼي او حتى قاتل ته سزا وركوونكى د اُوه برابره سزا وړ بولي. بايبل په دې اړه ليكي: خداى؛ قائن (قابيل) په داسي توګه نښانمن كړ چې څوك ئې ونه وژني او دا پرېكړه ئې وكړه چې كه څوك دا قاتل ووژني سزا به ئې د ده اُوه برابره وي. د دې قاتل په اُوم نسل كې لمسى وايي: ما قتل كړى، خو كه څوك ما ووژني سزا به ئې اُوه اويا برابره وي!! پوښتنه كوو: د بايبل له نظره د قاتل سزا څه ده؟ له مخكې بيانه خو معلومېږي چې سزا ئې لعنت او تبعيد دئ؛ نو تاسو ووايئ چې ولې د دې قاتل د قاتل سزا اُوه برابره ټاكل شوې؟ د دې معنى څه ده؟ اُوه ځله لعنت او اُوه ځله تبعيد؟ او ولې بايد د دې قاتل سزا د لومړني په پرتله اُوه ځله زياته وي؟ كه څوك زما زوى ووژني او زه انتقام ترې واخلم او هغه ووژنم زما سزا به ولې د هغه قاتل اُوه برابره وي؟ په كوم دليل او كوم انساني معيار سره دا ظالمانه فيصله توجيه كولى شو؟

د بايبل ليكونكي هڅه كړې چې د اصلي انجيل او د هر الهي كتاب هغه لارښوونه او صريح حكم نفي كړي چې د قتل عادلانه سزا قصاص او د قاتل وژل ګڼي. قرآن فرمايي چې بني اسرائيلو ته همدا خبره شوې وه، ټولو پيغمبرانو عليهم السلام دوى ته همدا حكم اورولى وو، خو دوى الهي احكام شا ته وغورځول او د تېري او اسراف لار ئې غوره كړه. په بايبل كې چې د قاتل د سزا په اړه څه ليكل شوي؛ له څرګند تېري او اسراف پرته بل څه نشي ګڼل كېدى.

بايبل د قصاص په اړه وايي: (كه چا كوم انسان داسي وواهو چې ترې مړ شو بايد ووژل شي!! كه ئې په خطاء سره وواژو نو زه به ډېر ژر داسي ځاى ورته وټاكم چې پناه ورووړي!! څوك چې پلار يا مور ووهي بايد ووژل شي، كه چا كوم انسان وتښتاوو، كه ئې د مريي په توګه پلورلى او كه ئې نه وي پلورلى بايد ووژل شي، چا چې پر خپل مور او پلار لعنت ووايو بايد ووژل شي... كه څوك خپل مريي يا وينځه داسي په لرګي ووهي چې زخمي شي او ومري بايد مجازات شي!!! خو كه هغه مريي او وينځه له وهلو وروسته ژوندي پاته شول؛ ارباب به ئې نه مجازات كېږي ځكه چې د دوى څښتن دئ!!!)

د بايبل منونكي دي د دې بې عدالتۍ، عدم مساوات او ظالمانه احكامو توجيه وړاندي كړي او زموږ دغو پوښتنو ته دې ځواب ووايي:

- تاسو خو اوس د قصاص حكم له خپلو اساسي قوانينو او جزائي مقرراتو حذف كړى؛ دا ولې؟ په بايبل ايمان نه لرئ كه هغه قوانين درته غيرعادلانه برېښي؟ څوك چې بايبل مني پر اسلام څنګه د قصاص په اړه اعتراض كوي؟!!
- آيا د دې لپاره كومه معقوله توجيه لرئ چې ارباب به د خپل غلام او مريي په وژلو نه قصاص كېږي او يوازې څه مجازات به ورته ټاكل كېږي او دا مجازات هم په هغه صورت

کې منتفي کېږي چې په څو ورځو کې وهل شوی مريي او وينځه له خپلو ټپونو ونه مري؟!!

د عدالت تقاضا خو دا ده چې په قصاص کې هم انسانان برابر وګڼل شي او هم قصاص تېري ته ورته وي، وهونکی بايد ووهل شي او وژونکی ووژل شي!! بايبل ولې د عدالت خلاف هم په انسانانو کې توپير کوي او هم په قصاص کې؟!!

د خطاء قتل په اړه خو عادلانه حکم دا دئ چې د مقتول ورثه وو ته ديت ورکړی شي؛ په دې ديت سره هم د مقتول د کورنۍ هغه خساره څه ناڅه جبرانېږي چې د خپلي کورنۍ د يوه غړي له وژل کېدو راولاړه شوې، هم قاتل ته مناسب درس دئ چې بيا بې احتياطي ونه کړي او هم د قاتل او مقتول د کورنيو تر منځ د روغې جوړې غوره طريقه ده او د هغو فتنو مخه پرې نيول کېږي چې اکثراً له داسي پېښو راولاړېږي. دې بايبل ولې ټول دغه حقائق له پامه غورځولي او د خطاء قتل په اړه ئې ويلي چې قاتل بايد داسي ځای ته پناه يوسي چې د حکومت له خوا به ورته ټاکل کېږي، دا سيمه به د حکومت تر سلطې لاندې وي خو د قصاص قانون به نه په کې عملي کېږي؟!!

راشئ لږ قرآن ته ځير شئ او وګورئ چې په دې اړه ئې قضاوت څومره عادلانه او د عقل او انصاف له غوښتنو سره سم دئ او څومره له بايبل سره توپير لري!! قرآن فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡقِصَاصُ فِي ٱلۡقَتۡلَىۖ ٱلۡحُرُّ بِٱلۡحُرِّ وَٱلۡعَبۡدُ بِٱلۡعَبۡدِ وَٱلۡأُنثَىٰ بِٱلۡأُنثَىٰۚ فَمَنۡ عُفِيَ لَهُۥ مِنۡ أَخِيهِ شَيۡءٞ فَٱتِّبَاعُۢ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَأَدَآءٌ إِلَيۡهِ بِإِحۡسَٰنٖۗ ذَٰلِكَ تَخۡفِيفٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَرَحۡمَةٞۗ فَمَنِ ٱعۡتَدَىٰ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَلَهُۥ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿١٧٨﴾ وَلَكُمۡ فِي ٱلۡقِصَاصِ حَيَوٰةٞ يَٰٓأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ﴿١٧٩﴾ البقرة: ۱۷۸-۱۷۹

اې مؤمنانو! د وژل شوو په اړه قصاص پر تاسو فرض کړی شوی، آزاد په آزاد، مريي په مريي او ښځه په ښځي. خو که چا ته د خپل ورور له لوري څه وبخښل شول؛ نو په ښه توګه ورپسې کېدل دي او په نېکه وجه ئې ده ته اداء کول؛ دا ستاسو د رب له لوري تخفيف او پېرزوينه ده. نو چا چې له دې وروسته تېری وکړ؛ هغه ته دردناك عذاب دئ. او اې عقلمنو! په قصاص کې تاسو ته ژوندون دئ؛ د دې لپاره چې ځان ساتنه مو کړې وي.

يعني قصاص پر تاسو فرض کړی شوی، قاتل به دې ته غاړه ږدي، د آزاد په بدل کې آزاد، د مريي په بدل کې مريي او د ښځي په بدلې کې ښځه، همدا راز نارينه د ښځي، ښځه د نارينه، مريي د آزاد او آزاد د مريي په مقابل کې. يوازې قاتل به وژل کېږي؛ که قاتل نارينه وي، يا ښځه، آزاد وي يا مريي، د قتل بدل به له بل چا نه اخيستل کېږي، داسي نه چې د قاتل خپلوان ووژل شي. د قصاص پرېکړه به د اسلامي حکومت قاضي کوي؛ داسي نه چې د مقتول ورثه په خپل سر دا کار وکړي. حکومت مکلف شوی چې د قصاص حکم به نافذوي، د مقتول ورثه ته به دا شرائط برابروي چې قاتل قصاص کړي.

قرآن هم د بايبل دا غلط او له انصاف لرې قوانين مردود وګڼل او هم ئې د جاهليت د دور هغه ناروا او ظالمانه دود دستور ختم کړ چې د قصاص او بدلې په اړه رائج وو. دوی خلك په عزيز او ذليل، شريف او رذيل، حر او عبد وېشلي وو، د قتلونو په اړه هم د دوی دا ناروا وېش په نظر کې نيول کېدو، شتمن د بې وزلي، شريف د رذيل او بادار د غلام په بدله کې نه وژل کېدو؛ اسلام راغی د خلکو تر منځ ئې د مساوات اعلان وکړ، وئې ويل چې ټول انسانان د يوه الله مخلوق او بندګان دي، په رګونو کې ئې يوه وينه خوځېږي، يو په بل له تقوی پرته په بل څه کې فضيلت او شرف نلري، د بدلې لپاره ئې د قصاص نوم کښېښود چې معنی ئې برابري ده. او وئې ويل: نفس د نفس په مقابل کې، (أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ) دا د انسانانو تر منځ د برابرۍ هغه اعلان وو چې زر کاله وروسته هم د نړۍ د هيڅ هېواد په مدني قوانينو کې ئې بېلګه نه ليدل کېده، په عمل کې خو تر اوسه حتی په هغو هېوادونو کې چې په دروغو ځان د بشري حقوقو مخکښان ګڼي او د انسانانو تر منځ د برابرۍ دعوی کوي؛ يوه هم دا اصل نه دئ مراعات کړی، امريکا خپلو فوځيانو ته په اشغال شوو سيمو کې د هر جنايت اجازه ورکوي، د جنګي جناياتو په نړۍ والو محاکمو کې د دوی د محاکمې مخالفت کوي، د بګرام، ابو غريب او ګوانتانامو په جهنمي زندانونو کې چې دوی له بې وزلو بنديانو سره څه وکړل او عکسونه ئې په ټولې نړۍ کې خواره شول؛ دې ټولو ثابته کړه چې دا بې رحمه متمدن کافران لا څومره له هغه څه لرې دي چې اسلام ئې د انسان د کرامت د ساتنې، مساوات او د قصاص په اړه وايي. عجيبه لا دا ده چې دغه د تمدن او ترحم دروغجن، مکار او رياکار مدعيان د قصاص په اړه اسلامي قوانين د اعتراض وړ ګڼي او وايي چې د قتل په مقابل کې د قتل حکم بايد لغو شي او د نړۍ د ټولو هېوادو له اساسي قوانينو او جزائي احکامو حذف شي. خو اسلام که له يوې خوا وايي چې قصاص د خلکو ژوند خوندي کوي، په قصاص سره عدالت تأمينېږي، په قصاص سره د قتلونو مخنيوی کېږي؛ له بلې خوا د ديت په قانون سره د قاتل او د مقتول د کورنۍ تر منځ د روغې جوړې لار پرانيزي او د قصاص واك د مقتول ورثه ته ورکوي. خو يوه ته ئې ويلي: قصاص ته به غاړه ږدې، بل ته ئې ويلي: يوازې له قاتل به قصاص اخلې نه د ده له خپلوانو. يوه ته ئې وويل: که د مقتول ورثه له قصاص منصرف او په ديت راضي شول نو په ښه توګه به هغه اداء کوې او بل ته ئې وويل: په ديت له رضايت وروسته به په ښه توګه د هغه مطالبه کوې، مبادا د ديت تر لاسه کولو وروسته له قاتل د غچ او انتقام اخيستو هڅه وکړې.

په قصاص سره د قتلونو مخنيوی کېږي، د خلکو ژوند د هغو قاتلانو له ګواښونو خوندي پاته کېږي چې د قصاص د نشتوالي په صورت کې په هر بې وزلي تېری کوي او د ټولني امنيت او د خلکو ژوند له خطر سره مخامخ کوي. په ټولني کې واقعي امنيت نه په پوليسي او جاسوسي نظام او د پوليسو په زياتولو راتلی شي او نه د زندانونو په جوړولو او ډکولو سره، له دې لارې راغلی امنيت تل کاذب او موقتي وي. د نيويارك په څېر د امريکا

په لويو لويو ښارونو کې چې په هر گام کې پوليس او د استخباراتو غړي ولاړ وي او هري خوا ته کامرې نصب دي؛ خو څوك نه په جيب کې له ځان سره پيسې ساتلی شي او نه لاسي بکس گرځولی شي؛ له دې وېرې چې بدمعاشان او اوباشان به ئې په چاړه تهديد او هر څه به ترې واخلي، که د څو ساعتونو لپاره برېښنا قطع شي؛ هومره جنائي پېښې وشي چې د آسيا په لويو لويو ملکونو کې په يوه کال کې هم دومره پېښې نه کېږي.

پيغمبر عليه السلام د دغه لومړني قتل په اړه فرمايي:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاَ تُقْتَلُ نَفْسٌ ظُلْمًا، إِلَّا كَانَ عَلَى ابْنِ آدَمَ الأَوَّلِ كِفْلٌ مِنْ دَمِهَا، لِأَنَّهُ أَوَّلُ مَنْ سَنَّ القَتْلَ» رواه البخارى

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: هيڅوك په ظلم سره نه وژل کېږي مگر دا چې د آدم په لومړي زوى به ئې د ده د وينې سزا راځي؛ ځکه چې ده په لومړي ځل د قتل طريقه رائج کړه.

دې ته مو پام وي چې په مسلمانانو کې هم ځيني وايي چې مالك د مريي په مقابل کې نه قصاص کېږي؛ دوى په ځينو رواياتو هم استناد کوي؛ خو محققين له دې رأيي سره په څو دلائلو موافق نه دي: د قرآن درې لارښووني په دې صراحت لري چې په قصاص کې برابري په نظر کې ده: ۱- (وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَا أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ...: نفس د نفس په مقابل کې. ۲- ٱلْحُرُّ بِٱلْحُرِّ وَٱلْعَبْدُ بِٱلْعَبْدِ وَٱلْأُنثَىٰ بِٱلْأُنثَىٰ: آزاد د آزاد په مقابل کې، مريي د مريي په مقابل کې او ښځه د ښځې په مقابل کې. د دې آيت له الأُنثى بالأُنثى په واضح توگه معلومېږي چې په مخکينيو دواړو کې المرء بالمرء مراد دئ ۳- قرآن د قتل او جرح لپاره د قصاص لفظ غوره کړی او د قصاص لغوي معنی برابري ده.

څوك چې دا نه مني هغه بايد دغو پوښتنو ته ځواب ووايي: ۱- که آزاد د غلام په مقابل کې نشي قصاص کېدی د والانثى بالانثى توجيه به څنگه کوي؟ د دوى د رأيي په اساس خو بايد آزاده ښځه د وينځې په مقابل کې قصاص نشي؛ او نارينه د ښځې په مقابل کې، دا نظر خو له آيت سره صراحتاً مغايرت لري، د والانثى بالانثى معنى خو دا ده چې ښځه که آزاده وي او که وينځه د بلې ښځې په وژلو سره قصاص کېږي!! د آيت الفاظ داسې دي چې هيڅ استثناء نه مني؛ د دوى د رأيي له مخې خو بايد نارينه د ښځې په مقابل کې هم قصاص نشي خو اجماع د امت په دې ده چې نارينه د ښځې په مقابل کې قصاص کېږي. ۲- إن النفس بالنفس په کوم آيت سره منسوخوي او دليل ئې څه دئ؟ دا دليل خو قطعاً د منلو وړ نه دئ چې دا د مخکيني امت د شريعت حکم دئ او زموږ لپاره نشي حجت کېدی!!

آيا د دغې رأيي د ترديد لپاره دا دوه احاديث کفايت نه کوي:

۱- عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الْمُسْلِمُونَ تَتَكَافَأُ دِمَاؤُهُمْ، وَهُمْ

يَدٌ عَلَى مَنْ سِوَاهُمْ، يَسْعَى بِذِمَّتِهِمْ أَدْنَاهُمْ، وَيُرَدُّ عَلَى أَقْصَاهُمْ" رواه ابن ماجه

له عبد الله عباس روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: د مسلمانانوويني سره برابري دي، دوی پر هغو يو لاس ګڼل کېږي چي له دوی سوا دي، د ادنی کس ذمه او چا ته پناه ورکول ئې پر ټولو جاري کېږي، که کوم لري پروت کس ئې له چا سره معاهده وکړي هيڅوك ئې د نقضولو حق نه لري.

۲- عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ الرُّبَيِّعَ عَمَّةَ أَنَسٍ كَسَرَتْ ثَنِيَّةَ جَارِيَةٍ، فَطَلَبُوا إِلَى الْقَوْمِ الْعَفْوَ فَأَبَوْا، فَأَتَوْا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «الْقِصَاصُ». قَالَ أَنَسُ بْنُ النَّضْرِ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، تَكْسِرُ ثَنِيَّةَ فُلَانَةَ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا أَنَسُ، كِتَابُ اللَّهِ الْقِصَاصُ». مسند احمد

له انس بن مالك رضي الله عنه روايت دئ چي د انس ترور الربيع د يوې وينځي ژامه ماته کړه، له خپلوانو ئې د عفوي غوښتنه وکړه خو هغوی ونه منله، رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راغلل، هغه وفرمايل: قصاص؛ ورور ئې انس بن النضر وويل: آيا د فلانۍ ژامه به ماتېږي؟ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: اې انسه! د الله كتاب د قصاص حکم کوي.

څوك چي دا صريح نصوص نه مني، له عقلي پلوه به د دې نظر لپاره څه توجيه وړاندي کوي؟ ولې به آزاد د مريي په مقابل کې نه قصاص کېږي؟ د دوی دواړو په وينه، ژوند او انساني حيثيت کې څه فرق شته؟ مالك خو د څو پيسو په مقابل کې د ده ژوند نه دئ اخيستی بلکې د ده آزادي ئې اخيستې ده، د دغو پيسو په مقابل کې خو هغه يوازي د ده له توان او ځواك د استفادې حق لري، که دا بها چي مالك پرې ورکړې د ده د ژوند او انساني حيثيت بها وګڼل شي بيا خو بايد مالك له ده سره د يوه پسه په څېر د هري معاملې حق ولري!! په وژلو ئې بايد هيڅ سزا ونه ګوري!!

---

إِنَّمَا جَزَٰٓؤُاْ ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَسۡعَوۡنَ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوٓاْ أَوۡ يُصَلَّبُوٓاْ أَوۡ تُقَطَّعَ أَيۡدِيهِمۡ وَأَرۡجُلُهُم مِّنۡ خِلَٰفٍ أَوۡ يُنفَوۡاْ مِنَ ٱلۡأَرۡضِۚ ذَٰلِكَ لَهُمۡ خِزۡيٞ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٣٣﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ مِن قَبۡلِ أَن تَقۡدِرُواْ عَلَيۡهِمۡۖ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٣٤﴾

۳۳- د هغو کسانو چي له الله او د ده له پيغمبر سره جنګېږي او په زمکي کې د فساد هڅه کوي سزا ئې له دې پرته بل څه نه ده چي يا ووژل شي يا پانسی شي، يا ئې

لاسونه او پښې سره مخالف پرې کړی شي او یا له سیمې وشړل شي، دا د دوی لپاره د دنیا سپکاوی دئ او په آخرت کې ورته ستر عذاب دئ. ۳٤- مګر هغه چې مخکې له دې توبه وکړي چې تاسو پرې برلاسي شئ؛ نو پوه شئ چې الله مهربان بخښونکی دئ.

(۳۳-۳٤)- په دې آیتونو کې د هغو شوکمارو او مفسدینو سزاوې بیان شوې چې له خدای او پیغمبر سره جنګیږي او په زمکې کې فساد خوروي؛ دا هغه مفسدین دي چې د اسلامي نظام تر واك لاندې سیمې کې شوکې کوي او بې امني خوروي؛ د دوی سزا داسې ښودل شوې:

- که ئې یوازې قتل کړی وي سزا ئې دا ده چې ووژل شي.
- که ئې د شوکې په مهال هم قتل کړی وي او هم ئې مال غلا کړی وي؛ له اعدام وروسته دې په دار وځړول شي چې د نورو لپاره د عبرت سبب شي.
- که ئې یوازې مال لوټ کړی وي او څوك ئې نه وي وژلي؛ لاس او پښه به ئې یوه د بل خلاف قطع کیږي.
- که ئې شوکمارۍ ته ملا تړلې وي، تیاری ئې ورته نیولی وي؛ خو نه ئې څوك وژلی وي او نه ئې د چا مال لوټ کړی وي؛ نو سزا ئې له خپلې سیمې بهر په بل ځای کې زنداني کول دي.
- که تر نیول کېدو وړاندې ئې توبه وکړه او له شوکمارۍ ئې لاس واخیست؛ هغه سزا ئې ورته معاف کیږي چې په حقوق الله کې راځي، حقوق العباد په توبې سره نه معاف کیږي، غصب شوی مال به مستردوي او د قتل په مقابل کې به قصاص کیږي. البته د اسلامي حکومت زعیم کولی شي په عامه بغاوتونو کې، عمومي مصلحت ته په پام سره؛ باغیان د توبې په صورت کې له محاکمې معاف کړي؛ همغسې لکه چې ابوبکر او علی رضي الله عنهما له مرتدینو او خوارجو سره وکړل.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱبۡتَغُوٓاْ إِلَيۡهِ ٱلۡوَسِيلَةَ وَجَٰهِدُواْ فِي سَبِيلِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ۝٣٥

۳۵- اې مؤمنانو! له الله ووېرېږئ او د ده لوري ته وسیله ولټوئ او د ده په لار کې جهاد وکړئ چې بریالي شئ.

(۳۵)- په دې آیت کې د مؤمنانو د بریالیتوب لپاره درې شرائط ښودل شوي:

- تقوی او ځان ساتنه؛ یعني له الله تعالی وېره درلودل او له ګناه ځان لرې ساتل.

- د الله تعالی لوري ته د تقرب وسيله لټول؛ په طاعت او نېك عمل سره د ده د رضاء حاصلولو هڅه كول.
- او د الله تعالی په لار كې جهاد.

د ټولو معتبرو مفسرينو له نظره؛ دلته له وسيلې مراد هغه نېك عمل دئ چې الله تعالی ته د تقرب سبب گرځي؛ د وسيلې له لټولو مراد دا دئ چې انسان د داسې نېكو عملونو په لټه كې وي چې د الله تعالی تقرب او رضاء ئې په برخه كړي.

دې ته مو بايد پام وي چې (وسيله) هغه قرآني مفهوم دئ چې د عوامو او عوام غولوونكو له خوا ظلم ورسره شوی، سخت مظلوم واقع شوی او داسې جامه وراغوستل شوې چې نه ئې له ښكلي شكل سره ښايي او نه ئې له اوچتي وني سره اړخ لگوي؛ وسيله په قرآنكريم او حديث كې د هغه نېك عمل په معنی استعمال شوې چې د الله تعالی د تقرب او نژدېوالي موجب گرځي؛ خو عوام غولوونكو د الله او بنده تر منځ د وسيط او رابط په معنی نيولې او د شرك بنسټ ئې ترې جوړ كړی.

كه دا مبارك آيت د قرآن په رڼا كې تفسير كړو او په قرآن كې دا ولټوو چې تقوی، وسيله او د الله په لار كې جهاد كومو اعمالو ته ويل كېږي چې بنده الله تعالی ته نژدې كوي؛ نو وبه گورو چې قرآنكريم لمونځ، زكات، حج، روژه، په نېكي امر، له بدي نهي، د الله په لار كې مال لگول، له الله او رسول اطاعت او د اسلام د حاكميت لپاره جهاد؛ الله ته د نژدېوالي او تقرب وسائل گڼي. د اسلام له نظره هيڅ داسې عمل نشته چې د فرائضو تر اداء كولو زيات الله تعالی ته د تقرب سبب شي، پيغمبر عليه السلام فرمايي چې انسان د سجدې په حالت كې تر بل هر حالت الله ته ورلنډ وي. خو كه د رنځورو زړونو خاوندانو ته ووايو چې د قرآن له نظره دا اعمال؛ الله ته د تقرب وسائل دي؛ د هغوی شيطان په دې خبرو نه قانع كېږي! كه ورته ووېل شي چې د دعاء د اجابت او قبلېدو تر ټولو غوره وخت د فريضې له اداء وروسته شېبې او لحظې دي، د دعاء د قبلېدو لپاره تر ټولو غوره ځای جومات او د جهاد سنگر دئ؛ په دې هم نه راضي كېږي؛ كه څه هم دا د الله او د ده د رسول خبره ده. دوی داسې دريځ نيولی چې نه د خدای خبره مني او نه د ده د رسول!! آيا د تعجب او حيرت خبره نه ده چې څوك په قرآن له ايمان سره سره له وسيلې داسې تعبير ولري چې سل په سلو كې له قرآن سره تناقض لري؟ قرآنكريم (وسيله) هلته ذكر كړې چې له هغې مخكې او وروسته ئې د شرك په نفي او له غيرالله د مرستي غوښتلو په تحريم ټينگار كړی او فرمايلي ئې دي: كه له خدای پرته له هر چا، كه په زمكې كې وي يا آسمان كې، مړ وي يا ژوندی، انسان وي يا فرشته او له هر چا او هر څه استعانت او مرسته وغواړئ؛ هغه نه درنه د زيان دفع كولو وس لري او نه ستا حالت بدلولی شي، هغه چې مشركان مرسته ترې غواړي په خپله د الله دربار ته د تقرب د وسيلې په لټه كې دي، غواړي د الله په وړاندې نژدې مقام تر لاسه كړي، په خپله ئې سترگې د الهي رحمت په لوري دي او له

عذاب ئې وېره لري؛ فرمايي:

﴿قُلِ ٱدْعُوا۟ ٱلَّذِينَ زَعَمْتُم مِّن دُونِهِۦ فَلَا يَمْلِكُونَ كَشْفَ ٱلضُّرِّ عَنكُمْ وَلَا تَحْوِيلًا ۝٥٦ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ ٱلْوَسِيلَةَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُۥ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُۥٓ ۚ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُورًا ۝٥٧﴾ الإسراء: ٥٦-٥٧

ووايه: له الله تعالى پرته چي "پر هر چا او هر څه د ملجأ او مرجع" ګمان کوئ؛ "خپلې مرستي ته" ئې دروبلئ؛ هغوى نه له تاسو د ضرر دفع کولو توان لري او نه ئې د بدلولو، هغه چي مشرکان ئې مرستي ته وربلي؛ هغوى په خپله د الله لوري ته د تقرب وسيله لټوي؛ هغه ئې چي تر ټولو زيات د نژدې والي وسيله وي؛ د هغه رحمت ته ئې هيله وي او له عذاب ئې وېره لري؛ بې شکه چي ستا د رب عذاب د دې وړ دئ چي وېره ترې وشي.

قرآن خپلو مخاطبينو ته امر کوي چي له شرك ځان وساتئ او له الله تعالى پرته بل چا ته د مرستي لاس مه اوږدوئ، يوازي له خداى مرسته او مدد وغواړئ او د الله لوري ته ورلنډ شئ. پداسي حال کي چي د خداى لوري ته وسيله لټول، د شرك د نفي لپاره او د هغه تر څنګ ذکر شوي؛ خو متأسفانه عوام غولوونکي او ټګماران دا جزء داسي تفسيروي چي له ماسوى الله د مرستي غوښتلو د جواز دليل په کي وموندل شي. د اهل سنت او جماعت ټول علماء او معتبر تفاسير؛ وسيله يا د تقرب يعني نژدېوالي په معنى اخلي او يا د هغه عمل په معنى چي د تقرب موجب ګرځي؛ په احاديثو کي چي چېري د وسيلې کلمه راغلې نو مطلب ترې تقرب (نژدېوالى) او د الله په وړاندي لوړ مقام دئ.

قرآنکريم؛ قريش د مشرکينو په نامه يادوي، که څه هم هغوى په خداى باور درلود، الله ئې د زمکي او آسمان پالونکى او پيدا کوونکى او د ټولو شيانو خالق منلو، د کعبې طواف ئې کاوو، ځانونه ئې د بيت الله مجاورين او متوليان بلل، بتان ئې خدايان نه؛ بلکي الله تعالى ته د تقرب وسيله ګڼل او ويل به ئې: موږ دا بتان نه لمانځو بلکي دا زموږ او د خداى تر منځ رابطه او وسيله دي، دا د الله تعالى دربار ته د نژدې او مقربو کسانو مجسمې دي، د دوى په وسيله الله ته ورنژدې کېږو او د دوى شفاعت او سپارښتنه زموږ د دعاءګانو او سوالونو د اجابت سبب کېږي!! قريشو د خپل تاريخ د مشهورو او د دوى په نظر د لوړ معنوي مقام خاوندانو او الهي دربار ته د مقربو کسانو نژدې (٣٦٠) مجسمې په بيت الله کي د ننه نصب کړې وې، لومړى ئې د دوى پر قبرونو ځلي او زيارتونه جوړ کړل او بيا ئې د دوى بتان جوړ او په کعبه کي ئې نصب کړل، دا عقيده ئې درلوده چي د الله تعالى عبادت بايد د دې بتانو له لاري وشي او دعاء د همدوى له لاري د الله حضور ته وړاندي شي؛ همدا ئې د عبادت او دعاء د قبلېدو لاره بلله او دا بتان ئې د خداى (اهل بيت: کهول) بلل او هر يوه ته ئې د کائناتو د يوې برخي د واکدار او متصرف

په سترګه کتل!! هر بت د يوې ډلې او قبيلې لپاره د ډېرو سياسي، اجتماعي او اقتصادي امتيازاتو وسيله وه، همدې ډلې به هغه ته کرامات ثابتول، د عوامو په زړه کې به ئې د هغه د هيبت، قدر او قيمت زياتولو لپاره پراخ تبليغات کول، د دې لپاره چې ساده زړي عوام د بت په نامه خپلې شکرانې او نذرانې لا زياتې کړي؛ غولوونکې لارې چارې به ئې لټولې، له همدغو شکرانو او نذرانو چې د ده په نامه به ئې تر لاسه کولې؛ يوه برخه به ئې د بت او د بت د ماحول په سينګارولو او په لا زيات جالب او جاذب جوړولو مصرفوله او زياته برخه به ئې د عبادت ځې مجاورينو او متوليانو په خپلو کې وېشله. دا بت يوه ته معبود وو، پناه ځی وو او د حاجتونو تر سره کېدو مرجع، خو بل ته دام او دکان وو او د خلکو د دوکه کولو او له دوی د پيسو شکولو وسيله. که تاسو د هر بت، بتخانې او د هر قبر په سر د زيارتونو جوړولو قصې ته ځير شئ نو حتماً به د هغه تر شا يو (سامري) او (بلعم باعور) بيامومئ.

د قرآنکريم له نظره د قريشو دا عقيده د شرك عقيده ده او دې ته ورته هره عقيده د شرك عقيده. له دې شرك سره نه د توحيد ادعاء د منلو وړ ګڼې او نه پر خدای ايمان او اعتقاد د اعتبار وړ. قرآن خلکو ته وايي: الله يو دئ، داسې نه ده چې د څو خدايانو له جملې يو وي، بلکې احد او يوازينی دئ. هغه د ټولو رب دئ، ور ئې د ټولو په وړاندې برابر پرانيستی دئ، د ده او بنده تر منځ نه فاصله شته او نه واسطه او وسيله، هر څوك مخامخ او له واسطې او وسيلې پرته هغه ته رجوع کولی شي، د هر چا دعاء اوري، هر چا ته د غاړې تر رګ زيات ورنژدې دئ، شريك نه لري، خپل ملك او واکمنې ئې په شريکانو نه ده وېشلې. ستا د توحيد معنی دا ده چې له واحد خدای پرته نه په بل معبود باور ولرې او نه بل چا ته د دعاء او حاجت لاس اوږد کړې. که قرآنکريم ته رجوع وکړئ نو دا به درته څرګنده شي چې د پيغمبرانو عليهم السلام مبارزه اکثراً د شرك خلاف وه، نه د الحاد او له خدای د انکار په خلاف. د ملحدينو په نسبت ئې له مشرکينو سره زياته مقابله راغلې. د پيغمبرانو عليهم السلام اساسي او ستر مشکل يا له هغو ټګمارانو سره وو چې له دين ئې ځانته دام او دکان جوړ کړی وو او يا له هغو ديندارانو سره چې غولېدلي وو او د دغو ټګمارانو په لومو کې نښتي وو، هغه چې شرك ئې له ايمان سره خلط کړی وو او دې ته تيار نه وو چې خپل جعلي معبودان پرېږدي. د پيغمبرانو عليهم السلام مخالفينو به د هغوی د توحيد پر بلنه دا اعتراض کاوو چې: آيا دوی راغلي چې موږ له نورو ټولو خدايانو لاس واخلو او يوازې د يوه خدای عبادت وکړو؟! د پلرونو او نيکونو خدايان پرېږدو، اصنام يا بتان چې الهي دربار ته زموږ د تقرب وسيله ده؛ پرېږدو؟! قرآنکريم دا حالت څومره ښه انځوروي او فرمايي:

أَجَعَلَ ٱلْءَالِهَةَ إِلَٰهًا وَٰحِدًا ۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَىْءٌ عُجَابٌ ۝٥ وَٱنطَلَقَ ٱلْمَلَأُ مِنْهُمْ أَنِ ٱمْشُوا۟ وَٱصْبِرُوا۟ عَلَىٰٓ ءَالِهَتِكُمْ ۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَىْءٌ يُرَادُ ۝٦ مَا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِى ٱلْمِلَّةِ ٱلْءَاخِرَةِ إِنْ

هَٰذَآ إِلَّا ٱخۡتِلَٰقٌ ۞ ص: ٥-٧

آيا ټول معبودان ئې يو معبود گرځولی، دا خو حيرانوونکې خبره ده!! مشران او سرداران ئې روان شول او وئې ويل: ځئ او پر خپلو معبودانو صبر وکړئ، بې شکه چې همدا مطلوب او غوره کار دئ، دا مو په بل مذهب کې نه دي اورېدلي، دا له کذب او افتراء پرته بل څه نه دي.

گورئ چې پيغمبر د يوه معبود لوري ته بلنه ورکوي او نور ټول معبودان باطل او مردود گڼي، خلکو ته وايي: خدای يو دئ، د ټولو خدای دئ او تاسو ټول د هغه په وړاندې برابر ياست، هم د خدايانو تعدد مردود گڼي او هم له دې تعدد راولاړ شوی طبقاتي نظام، خو د شرك ځپلي ټولني سرداران، چې د معبودانو تعدد دوی ته د ټولني سرداري ورپه برخه کړې، د يوه معبود پر ځای د متعددو خدايانو پر شتون ټينگار کوي، دوی له دين او مذهب هم د طبقاتي نظام د توجيه وسيله او د بقاء او دوام ذريعه جوړوي او خپلو پلويانو ته وايي: پر خپلو سابقه، له پلار نيکه راپاته معبودانو صبر وکړئ! پيغمبر پر توحيد او د يوه معبود په عبادت اصرار کوي؛ خو د شرك ځپلي ټولني سرداران او سالاران د شرك او متعددو خدايانو شعار پورته کوي! پيغمبران عليهم السلام توحيد د خلکو د نجات وسيله شمېري خو د کفر مشران شرك د خپل قدرت د بقاء راز بولي.

موږ ته رسول الله صلی الله عليه و سلم لارښوونه کوي چې له أذان وروسته دا دعاء وکړو:

اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلَاةِ الْقَائِمَةِ، آتِ مُحَمَّدًا الْوَسِيلَةَ وَالْفَضِيلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِى وَعَدْتَهُ متفق عليه

اې ربه! د دې بشپړې بلنې او د دې اداء کېدونکې لمانځه ربه! محمد صلی الله عليه و سلم ته وسيله، فضيلت او لوړه درجه ورکړه او په هغه ستايل شوي مقام ئې بېرته راژوندی کړه چې تا ئې وعده ورسره کړې ده.

ووایاست: موږ په دې دعاء کې له الله تعالی د اسلام ستر پيغمبر صلی الله عليه و سلم ته کومه وسيله غواړو؟! الهي دربار ته مزيد تقرب او که پر بل انسان توسل چې د ده او الله تر منځ وسيله شي، سوالونه ئې خدای ته ورسوي او د دعاء د اجابت لپاره ئې سفارش او شفاعت وکړي؟!! او دا هم ووایاست چې له لاندې دوو تعبيرونو کوم يو له قرآن او احاديثو سره تطابق لري او کوم يو ورسره ټکر کوي:

- وسيله يعنی له الله تعالی د مرستې په هيله په بل چا توسل او هغه د ځان او الله جل جلاله تر منځ وسيله او واسطه گرځول، هغه مغيث او د مشکلاتو حلوونکی گڼل او د ده له لارې الله تعالی ته د سوال او دعاء رسول!!
- وسيله يعني الله ته په نېك عمل سره نژدېوالی.

راشئ وګورو چې د (وسیلې) له دغو دوو معانیو کومه یوه د اسلام له روح سره برابره ده؟ که قرآنکریم ته په دقت سره ځیر شو نو په هیڅ آیت کې به هم دا ونه مومو چې الله تعالی ته د تقرب لپاره په ماسوی الله د توسل جواز ترې ثابت شي او صراحتاً یا اشارتاً په دې دلالت وکړي چې الله تعالی ته د رسېدو په لار کې داسي ساتونکي او څارونکي ګمارل شوي چې لومړی باید دوی ته مراجعه وکړو، د دوی له لاري د الله دربار ته ځان ورسوو، خپل سوالونه او عرائض د دوی په لاس د الله تعالی حضور ته وړاندي کړو؛ که نه نو الله تعالی ئې نه قبلوي. د دې برعکس قرآنکریم په ټینګار سره وایي:

- الله تعالی تاسو ته ستاسو د غاړي تر رګ هم درنژدې دئ.
- الله تعالی دعاء قبلوي.
- هرڅوك چې خدای ته رجوع وکړي توبه ئې قبلوي.
- هر چا چې له خدای مرسته وغوښتله همغه ورته کافي دئ.
- له خدای پرته تاسي بل ولي او مرستندوی نه لرئ.
- یوازي د خدای عبادت وکړئ او یوازي له همغه مرسته وغواړئ.

خو دا خبره چې آیا د دې جواز شته چې له کوم ژوندي انسان د دعاء غوښتنه وکړو؟ هو؛ دا نه یوازي جائز ده بلکي الله تعالی د یوه مسلمان دعاء د بل په حق کې ژر قبلوي، الله تعالی د مور او پلار دعاء، د دوستانو دعاء او د مسلمان له خوا بل مسلمان ته دعاء؛ ژر قبلوي، خو په دې شرط چې له داسي چا دعاء وغوښتل شي چې ژوندی وي او د دعاء توان ولري؛ انسان له مرګ وروسته بل چا ته د دعاء وس او توان نه لري؛ بلکي په خپله د نورو دعاء ته محتاج وي، دا که هر څوك وي او د هر څومره لوړ مقام خاوند وي. نه ګورئ چې موږ د هر لمانځه په وروستۍ برخه کي محمد صلی الله علیه وسلم، ابراهیم علیه السلام او نورو صالحو بندګانو ته دعاء کوو او له لوی خدای ورته لوړي درجې غواړو.

د دعاء د الفاظو او طریقې په اړه هم باید زموږ لپاره قرآنکریم او نبوي احادیث معیار وي؛ په قرآنکریم کي د ډېرو پیغمبرانو علیهم السلام دعاءګاني رانقل شوې؛ داسي دعاءګاني چې پیغمبرانو علیهم السلام د خپلو مشکلاتو د حل لپاره د الله تعالی حضور ته وړاندي کړې او رحیم خدای هغه قبولي کړې. زموږ اړتیاوي، غوښتني او سوالونه به حتماً د الله تعالی د دغو غوره بندګانو د غوښتنو په څېر وي؛ باید د هر ضرورت او مشکل د حل لپاره همغه لار غوره کړو چې دوی غوره کړې، خپل عرائض په همغو کلماتو سره الله تعالی ته وړاندي کړو چې له دوی کوم یوه په خپلي دعاء کي کارولي. په قرآني دعاءګانو کي له وړایه ګورو چې په هري دعاء کي په مستقیمه توګه الله تعالی ته خطاب شوی، د هر څه سوال مستقیماً او له کومي واسطې پرته مخامخ الله تعالی ته راجع شوی.

مشركين له الله تعالى پرته له نورو د مرستي غوښتلو د جواز په اړه وايي: موږ خو د دې شيانو عبادت نه كوو، فقط دوى د خداى په دربار كې خپل شفاعت كوونكي نيسو، دوى د خداى په وړاندي زموږ وسيله او شفيع دي. قرآن د دوى د دې ادعاء د ترديد لپاره فرمايي: آيا تاسي غواړئ د خپلو شفاعت كوونكو له لاري الله تعالى ته داسي څه ووياست چي هغه نه پرې پوهېږي؟!! په زمكه او يا آسمان كې له هغه پټ دي؟! په دنيا كې چي څوك د حاكم او پاچا په وړاندي د كوم كس شفاعت كوي نو ورته وايي: دا ښه سړى دئ، له تاسي سره اخلاص لري، څه جرم ئې نه دئ كړى، ستاسو معلومات د ده په اړه مكمل او دقيق نه دي، هغه د دې لايق نه دئ چي سزا وركړى شي او مجازات شي، بايد عفو ورته وشي، دا ستاسو او د نظام په گټه ده........ آيا فكر كوئ چي الله تعالى هم همداسي دئ لكه دا دنيوي پاچايان چي شفاعت كوونكي ئې د مجرم له حقيقي حالت خبروي؟! آيا داسي څه شته چي له الله تعالى پټ وي؟! او بيا دا شفاعت كوونكي راشي او الله تعالى ته ئې په اړه معلومات وركړي؟! الله تعالى له دې عيب پاك او له شريك بې نياز دئ.

قرآن د هغه كسانو حالت څومره ښه انځور كړى چي په دې ډول شفاعت باور لري او خپل مزعوم شفاعت كوونكي ئې د الوهيت تر درجې پورى لوړ كړي؛ دا كسان به د قيامت په ورځ په حقيقت پوه شي او وبه ويني چي دوى په غلطه روان وو، د دې خيالي شفاعت كوونكو په اړه ئې باطل تصور درلود، هغه چي دوى په دنيا كې له الله تعالى سره برابر او شريكان گرځولي وو؛ نه يوازي د شفاعت كولو توان نه لري بلكې له دوى خپله بې زاري اعلانوي او په خپله غلطۍ اعتراف كوي. قرآن فرمايي:

تَٱللَّهِ إِن كُنَّا لَفِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٩٧﴾ إِذْ نُسَوِّيكُم بِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٩٨﴾ وَمَآ أَضَلَّنَآ إِلَّا ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿٩٩﴾ فَمَا لَنَا مِن شَٰفِعِينَ ﴿١٠٠﴾ وَلَا صَدِيقٍ حَمِيمٍ ﴿١٠١﴾ الشعراء

قسم په خداى چي موږ په څرگند ضلالت او بې لارۍ كې وو چي تاسو مو له رب العالمين سره برابر گرځولي وئ، موږ بل چا نه يو بې لاري كړي مگر دغو مجرمينو، اوس نه شفاعت كوونكي لرو او نه رښتينى دوست.

د قيامت په ورځ چي ټول حقائق څرگند شي، وبه ليدل شي چي دا مشركه ډله او په مشركانه شفاعت باور لرونكي به په خپله خپل باورونه غلط گڼي، ځانونه به گمراه بولي، اعتراف به كوي چي دوى خپل لويان د الوهيت درجې ته اوچت كړي وو او هغه كسان به مجرم شمېري چي دوى ئې بې لاري كړي وو او وبه وايي: اوس نه داسي شفيع لرو چي د خداى په وړاندي زموږ شفاعت او مرسته كولى شي او نه داسي دوستان او اولياء چي گمان مو كولو دوى پر موږ او موږ پر دوى گران يو او د قيامت په ورځ به د الله په وړاندي زموږ حمايت او شفاعت كوي!!

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوْ أَنَّ لَهُم مَّا فِي ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا وَمِثْلَهُۥ مَعَهُۥ لِيَفْتَدُواْ بِهِۦ مِنْ عَذَابِ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٣٦﴾ يُرِيدُونَ أَن يَخْرُجُواْ مِنَ ٱلنَّارِ وَمَا هُم بِخَٰرِجِينَ مِنْهَاۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴿٣٧﴾

٣٦- يقيناً هغه چې کافران شوي که د زمکې ټول شته د دوی وی او دې ته ورته نور هم ورسره وی؛ چې د قیامت د ورځې د عذاب په بدله کې ئې ورکړي؛ ترې قبول به نشي او دوی ته به دردناك عذاب وي. ٣٧- غواړي به چې له اور ووځي خو ترې وتونکي به نه وي او دوی ته به دائمي عذاب وي.

---

(٣٦-٣٧)- په مخکيني آيت کې د مؤمنانو د دنيوي او اخروي بريا او فلاح لپاره درې اساسي عوامل په ګوته شول: تقوی، تقرب الی الله او جهاد في سبيل الله؛ په دې آيتونو کې ويل شوي چې له ايمان محروم کافران که له بلې هرې لارې وغواړي د سعادت دا مقام تر لاسه کړي او د قيامت د ورځې له عذاب وژغورل شي؛ دا هيله به ئې تر سره نشي؛ که څه هم د دنيا ټولې خزانې ئې په واك کې وي او همدومره نور هم ورسره وي او دا ټول له دې عذاب د نجات لپاره فديه کړي؛ الله تعالی ئې نه ترې قبلوي؛ که هرې وسيلې ته د پناه وړلو له لارې وغواړي له دوزخ ووځي؛ د وتلو ټولې لارې به پر خپل مخ تړلې ومومي.

---

وَٱلسَّارِقُ وَٱلسَّارِقَةُ فَٱقْطَعُوٓاْ أَيْدِيَهُمَا جَزَآءَۢ بِمَا كَسَبَا نَكَٰلًا مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٣٨﴾

٣٨- او د غله او غلې لاسونه ورپرې کړئ، د لاسته راوړنو سزا ئې، الهي عبرت؛ او الله د حکمت خاوند عزتمن دئ.

---

(٣٨)- په پخوانۍ رکوع کې د شوکمارانو او داړه مارانو د سزا يادونه وشوه؛ دلته د غلا کوونکو سزا بيان شوې؛ دا د غله او غلې سزا ټاکې چې لاس ئې قطع شي؛ خو وايي چې دا د غلا د فعل سزا ده نه د غلا شوي مال سزا؛ او دا د عبرت لپاره ده؛ هم ده ته او هم نورو ته. (جَزَآءَۢ بِمَا كَسَبَا نَكَٰلًا مِّنَ ٱللَّهِۗ) همدا مطلب افاده کوي. د آيت په پای کې ويل شوي چې الله د حکمت خاوند عزتمن دئ؛ ارتباط ئې د آيت له مخکينيو برخو سره له څو جهته دئ: قرآن معمولاً په دغسې مواردو کې د الله تعالی دا دوه صفتونه (عزيز او حکيم) راوړي او په دې سره مخاطب ته دا احساس ورکوي چې ستا معامله له عزتمن خدای سره ده او د ده حکم او پريکړې حکيمانه دي او ستا خير او مصلحت په کې مضمر دئ. د غلو د لاس پرې کولو حکم د حکيم خدای له لوري وضع شوی، دا يو حکيمانه حکم او پريکړه ده، په

ټولني کې د غلاوو د خورېدو، د شخړو، جګړو او فتنو د راولاړېدو مخه نیسي. د عزیز صفت یا دې ته یوه لطیفه اشاره کوي چې دا قانون ستاسو د عزت ضامن دئ او یا دې ته چې دا د غلبې او اقتدار د وخت کار دئ؛ دا قانون هغه مهال پلی کېږي چې اقتدار د مسلمانانو په لاس کې وي. او دا ډېره مهمه مسئله ده. پیغمبر علیه السلام ته دا حکم نه د مکې په دیارلسو کلونو کې ورکړی شو او نه د مدینې په ابتدائي دور کې؛ دا حکم هغه مهال نازل شو چې په مدینې کې یوه مستقله اسلامي ټولنه جوړه شوه، په خپلو پښو ودرېده، د دښمن ډېر بریدونه ئې په شا وټمبول، دا ئې ثابته کړه چې له ځان دفاع کولی شي، د دښمن د تېري ګواښونه پای ته رسېدلي وو، له دښمن ئې د حدیبیې د معاهدې په ترڅ کې دا اعتراف تر لاسه کړی وو چې د دوی د مستقل شتون ومني، د نوي دین د پلویانو په توګه دوی ته د عمرې او طواف حق ورکړي، اوس د دې ټولني بشپړ واک د مسلمانانو په لاس کې وو، نه ئې ځواکمن داخلي دښمنان درلودل او نه له بهر جدي ګواښ او خطر ورته متوجه وو؛ دوی کولی شو چې قانون نافذ او مجرم مجازات کړي. د شرعي قوانینو نفاذ د مدني دور کار دئ نه د مکي دور. متأسفانه ځیني خلك دغو حقائقو ته له پام کولو پرته په یوې داسي ټولني کې د شریعت او اسلامي قوانینو د نفاذ خبره او غوښتنه کوي چې هلته نه یوازې اقتدار د مسلمانانو په لاس کې نه دئ بلکې د اسلام داخلي دښمنان په مستقیمه توګه او بهرني دښمنان ئې په غیر مستقیمه توګه پرې حکومت کوي، دوی له داسي چا د غلو د لاس پرې کولو غوښتنه کوي چې هغه په خپله غل دئ. له دې الهي حکم سره د اسلامي هېوادو د اوسنیو واکمنانو د مخالفت لویه وجه دا ده چې دوی په خپله غله دي، له دغو غلو د شریعت د نفاذ غوښتنه کول یا د ناپوهانو کار دئ یا د ټګمارانو.

دې ته مو هم باید پام وي چې اسلامي شریعت یو بشپړ او مکمل نظام دئ، یوه برخه ئې له بلې سره تړلې ده، یو قانون ئې د بل د پلي کېدو لپاره لار هواروي، یو ئې د ډېرو نورو قوانینو لپاره د بنسټ په توګه عمل کوي، کوم ترتیب او تسلسل چې د قوانینو د نفاذ په اړه په مدینه منوره کې مراعات شو؛ د هري اسلامي ټولني په جوړېدو کې باید مراعات شي. دلته هم تاسو ګورئ چې لومړی د مسلح شوکمارانو او لوټمارانو یادونه شوې او د هغوی سزا بیان شوې او وروسته د غلو؛ د دې معنی هم دا ده چې اسلامي حکومت باید لومړی د هغو چاره وکړي او بیا د دغو.

شریعت انسان ته درونډ او پتمن مقام ورکړی، د ده پر مال، سر او عزت د هر راز تېري مخه نیسي، که چا د بل لاس قطع کړ نو شریعت حکم کوي چې یا به ئې لاس قطع کېږي او یا به پنځه سوه دیناره دیت ورکوي، خو که دغه لاس د بل پر حق تېري ته وړاندي شو، شریعت ئې د قطع کېدو وړ ګڼي، که څه هم ډېر لږ څه ئې غلا کړي وي.

بې دینه غربیان او د محرف بایبل پلویان پر اسلام اعتراض کوي چې ولې ئې د غله سزا د لاس قطع کول ښودلې؟ دا د تمدن او ترحم خلاف قانون دئ!! دوی ته په ځواب کې وایو: راشئ وګورو چې ستاسو سپېڅلی کتاب بایبل د غلا سزا څه ګڼي، بایبل د عخان ګناه

تر عنوان لاندې ليکي:... خو اسرائيليانو ګناه وکړه... يوه کس د عخان په نامه د غنيمت له اموالو څه پټ کړي وو... او خدای د دغه کار په سبب پر ټولو اسرائيليانو غصه شو... يوشع د عای ښار د نيولو لپاره درې زره کسان ولېږل...خو دوی ماته وخوړه او شپږ دېرش کسان ئې ووژل شول...د اسرائيليانو لښکر له دې پېښې سخت ووېرېدو او خپله روحيه ئې له لاسه ورکړه... يوشع او نورو مشرانو له ويره خپلې جامې څيرې کړې،... يوشع خدای ته شکايت وکړ چې ولې دې موږ دلته راوستو چې د اموريانو په لاس ووژل شو؟...خدای ورته وويل: پاڅه؛ ولې داسې په خاورو پروت يې؟!!... اسرائيليانو خيانت کړی...د غنيمت مال ئې پټ کړی...که دا له منځه يو نه سئ نو زه به نور له تاسو سره نه وم... سبا ټول زما په وړاندې حاضر شئ چې زه ګناهکار در معرفي کړم... قوم قوم، قبيله قبيله او کورنۍ کورنۍ دې زما مخ ته تېرې شي چې هغه کس دروښيم چې غنيمت ئې پټ کړی... خدای هغه قوم، قبيله او کورنۍ او په دوی پورې مربوط هغه مجرم معرفي کړ، د ده له خيمې د غنيمت پټ کړی مال تر لاسه شو... اسرائيليانو دی او کورنۍ ئې رجم کړل او بيا ئې وسوزول... او د ډبرو څلی ئې پرې جوړ کړ!!!

څو پوښتنې لرو:

- آيا ستاسو خدای د يوه کس په خاطر ټول قوم ته سزا ورکوي؟ هغه قوم ته چې نه په ګناه کې ورسره شريك دئ او نه ترې خبر؟ آيا دا لوی ظلم نه دئ؟
- آيا عقل او عدل د دې اجازه ورکوي چې د غنيمت له مال څه پټول داسې لوی جرم وګڼل شي چې په سبب ئې مجرم او د ده کورنۍ رجم او وسوزول شي؟!! د بايبل پلويان خو نن په دې اعتراض کوي چې اسلام ولې د غله لاس قطع کول جائز کړي، خو په خپله د معمولي غنيمت پټولو په وجه د يوه د يوه جنګيالي سوزول او رجم کول جائز ګڼي!!
- دا خو عجيب خدای دئ چې د غله د معرفي کولو لپاره به ټول خلك، صف صف، قبيله قبيله د ده تر مخ تېرېږي چې غل وپېژني او ترې راوئې باسي!!

فَمَن تَابَ مِنۢ بَعۡدِ ظُلۡمِهِۦ وَأَصۡلَحَ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَتُوبُ عَلَيۡهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ۝٣٩

٣٩- نو که چا له خپل ظلم وروسته توبه وکړه او (ځان ئې) اصلاح کړ؛ نو يقيناً چې الله ئې توبه قبلوي؛ بې شکه چې الله مهربان بخښونکی دئ.

(٣٩)- په دې مبارك آيت کې د غلو په اړه ويل شوي چې که توبه وکړي، له غلا لاس واخلي، ځان اصلاح کړي؛ نو الله تعالی به ئې توبه قبوله کړي، الله مهربان بخښونکی دئ، د رحمت او پېرزوينې لمن ئې پراخه ده او د مغفرت دروازه ئې د هر ګناهکار په وړاندې خلاصه، نه

يوازې گناه بخښي بلکې په توبه کوونکې گناهکار د خپل رحمت پېرزوينه کوي.

په رښتينې توبې کې څو شيان شامل دي: غلا شوی مال خپل خاوند ته مستردول، له خپل کار ندامت ښودل او له الله تعالی مغفرت غوښتل.

---

أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ يُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ وَيَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ ۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٤٠﴾

٤٠- آيا په دې نه پوهېږې چې د آسمانونو او زمکې واکمني د الله ده، څوك چې وغواړي تعذيبوي ئې او چا ته چې ئې خوښه وي بخښنه ورته کوي او الله په هر څه ښه قادر دئ.

---

(٤٠)- الله تعالی د زمکې او آسمانونو ټولواك دئ، قانون وضع کول، سزا ورکول او له سزا معافول د ده حق دئ؛ نه په واکمنۍ کې څوك ورسره شريك دئ، نه د قانون په وضع کولو کې، نه د سزا په ټاکلو کې او نه د گناهونو په بخښلو کې. نه يوازې ټولواك دئ بلکې د قدرت څښتن هم دئ؛ هيڅوك نشي کولی د ده واك محدود کړي او د ده د احکامو د نفاذ په وړاندې خنډ شي.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ لَا يَحْزُنكَ ٱلَّذِينَ يُسَٰرِعُونَ فِى ٱلْكُفْرِ مِنَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا
بِأَفْوَٰهِهِمْ وَلَمْ تُؤْمِن قُلُوبُهُمْ ۛ وَمِنَ ٱلَّذِينَ هَادُوا۟ ۛ سَمَّٰعُونَ لِلْكَذِبِ سَمَّٰعُونَ
لِقَوْمٍ ءَاخَرِينَ لَمْ يَأْتُوكَ ۖ يُحَرِّفُونَ ٱلْكَلِمَ مِنۢ بَعْدِ مَوَاضِعِهِۦ ۖ يَقُولُونَ إِنْ
أُوتِيتُمْ هَٰذَا فَخُذُوهُ وَإِن لَّمْ تُؤْتَوْهُ فَٱحْذَرُوا۟ ۚ وَمَن يُرِدِ ٱللَّهُ فِتْنَتَهُۥ فَلَن تَمْلِكَ
لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَمْ يُرِدِ ٱللَّهُ أَن يُطَهِّرَ قُلُوبَهُمْ ۚ لَهُمْ فِى ٱلدُّنْيَا
خِزْىٌ ۖ وَلَهُمْ فِى ٱلْءَاخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٤١﴾ سَمَّٰعُونَ لِلْكَذِبِ أَكَّٰلُونَ لِلسُّحْتِ ۚ
فَإِن جَآءُوكَ فَٱحْكُم بَيْنَهُمْ أَوْ أَعْرِضْ عَنْهُمْ ۖ وَإِن تُعْرِضْ عَنْهُمْ فَلَن
يَضُرُّوكَ شَيْـًٔا ۖ وَإِنْ حَكَمْتَ فَٱحْكُم بَيْنَهُم بِٱلْقِسْطِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ
ٱلْمُقْسِطِينَ ﴿٤٢﴾

٤١- اې پيغمبره! هغه خلك چې په خولو ئې ايمان راوړی خو زړونو ئې ايمان نه دئ

راوړی؛ په کفر کې د دوی تلوار دې هم تا غمجن نه کړي او د هغو هم چې يهودان شوي؛ درواغو ته ښه غوږ نيوونکي او د هغو خلکو لپاره ښه اورېدونکي (يا جاسوسي کوونکي) چې لا تا ته نه دي راغلي، کلمې به له خپل خپل ځای راوروسته اړوي؛ وايي به: که دا دا درکړی شو؛ نو وائې خلئ او که درنه کړی شو نو ډډه ترې وکړئ؛ او الله چې په فتنه کې د چا اچول وغوښتل نو له الله هيڅ څه نشې ورته تر لاسه کولئ، دوی همغه دي چې الله د دوی د زړونو پاکول نه دي غوښتي، دوی ته په دنيا کې رسوائي ده او په آخرت کې ورته ستر عذاب. ۴۲- درواغو ته ښه غوږ نيوونکي، د حرامو ډېر ډېر خوړونکي؛ نو که درته راغلل يا د دوی تر منځ پرېکړه وکړه او يا مخ ترې واړوه او که مخ ترې واړوې نو هيڅ ضرر نشي دررسولی او که پرېکړه دې کوله نو د دوی تر منځ عادلانه پرېکړه کوه؛ بې شکه چې الله عدالت کوونکي خوښوي.

---

(۴۱-۴۲)- په دې مبارکو آيتونو کې د قوانينو په وړاندې د منافقينو او د لار ورکو اهل کتاب غبرگون په څو فِقرو کې ښودل شوی:

- منافقين د يهودانو په څېر الهي احکامو ته په تسليمېدو کې لټ دي خو د کفر په لوري تلوار کوي. د دوی دا تلوار دې تا غمجن نه کړي.
- درواغو او د حقيقت خلاف خبرو ته ښه غوږ نيسي او مني ئې.
- د دښمن خبرو ته ښه غوږ نيسي او د هغه په وينا عمل کوي.
- په دين کې تحريف کوي؛ خلکو ته وايي: د دين د دغه او هغه حکم په اړه يوازې دا تفسير او تعبير ومنئ، له دې پرته بل تعبير او تفسير مه منئ؛ دا په داسې حال کې چې دوی د همدې احکامو په الفاظو کې داسې لاسوهني کړې وي او داسې تأويل به ئې وړاندې کړی وي چې د دين له اصلي احکامو سره هيڅ اړخ نه لگوي.
- دوی په فتنه کې لوېدلي، زړونه ئې خيرن شوي، له الهي هدايت محروم دي، د هيچا لارښوونه گټه نه وررسوي؛ الله تعالی به ئې په دنيا کې له سپکاوي سره او په آخرت کې له ستر عذاب سره مخامخوي.
- د حقيقت مخالفت کوي خو دروغجني خبري ډېر ژر مني.
- په حرامو اخته شوي، له حرامو لارو تغذيه کېږي، په دين کې د دې لپاره لاسوهني کوي چې خلك وغولوي او له دوی څه وشکوي، دا حرامه لار د دوی د تغذيې وسيله ده.
- که دوی خپلي شخړي د حل او فصل لپاره تا ته وړاندې کړې؛ نو ستا خوښه چې پرېکړه کوې که مخ ترې اړوې، حالت او مصلحت ته په پام سره تصميم ونيسه، که مخ ترې واړوې نو هيڅ ضرر نشي دررسولی او که پرېکړه دې کوله نو د دوی تر منځ عادلانه

پرېکړه کوه؛ که څه هم دوی مسلمانان نه دي؛ خو ته د دوی تر منځ په عادلانه پرېکړې مکلف يې.

- الله تعالی عدالت کوونکي خوښوي.

د بقرې سورې په (۷۷-۷۸) آيتونو کې د اهل کتاب د علماءو د دغه خصلت په اړه داسې ويل شوي: او له دوی يوه ډله داسې ده چې په خپلې ليکنې او کتاب خپلې ژبې داسې اړوي چې ته هغه د الله د کتاب يوه برخه وبولې؛ په داسې حال کې چې هغه د الله د کتاب برخه نه ده. دوی وايي: دا خبرې ټولې د الله له لورې دي په داسې حال کې چې د الله له خوا نه دي؛ پر الله دروغ تړي سره له دې چې ښه پوهېږي.

يعنی دا مکاره او ټګماره ډله خپلې ليکنې او خپلې خبرې د الله تعالی کتاب ته منسوبوي، خپل غلط او مغرضانه تفسير او تعبير ته الهي تعبير وايي؛ دوی دا غلطي قصداً او په لوی لاس کوي، ښه پوهېږي چې دا خبرې نه د الله تعالی په کتاب کې شته او نه د الهي کتاب معنی هغه ده چې دوی ئې وايي. په دې رنځ اخته کسان يا هغه خلك دي چې له دين ناوړه ګټه پورته کول ورته په ميراث رسېدلي او يا هغه واکمنان چې له دين د خپل زعامت او واکمنۍ د اثبات لپاره وسيله جوړوي او دين د خلکو د غلامۍ آله ګرځوي او يا هغه چې غواړي پيغمبرانو عليهم السلام او ديني مشرانو ته د انتساب له لارې امتيازات لاسته راوړي.

---

وَكَيْفَ يُحَكِّمُونَكَ وَعِندَهُمُ ٱلتَّوْرَىٰةُ فِيهَا حُكْمُ ٱللَّهِ ثُمَّ يَتَوَلَّوْنَ مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ ۚ وَمَآ أُو۟لَٰٓئِكَ بِٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٣﴾

۴۳- او څنګه به تا حکم ګرځوي حال دا چې له دوی سره خو تورات دئ چې د الله احکام په کې شته؛ بيا له دې سره سره مخ اړوي او دوی خو اصلاً مؤمنان نه دي.

---

(۴۳)- که دوی حق ته غاړه ايښودی او له زړه ئې دا غوښتلی چې منازعات او شخړې ئې د الله د دين مطابق حل او فصل شي؛ نو خپل مؤمن به کتاب به ئې شا ته نه غورځولو؛ په داسې حال کې چې دوی د الله په دين کې په دې خاطر تحريفونه کړي چې په احکامو ئې د عمل نه کولو لپاره ځان ته پلمې جوړې کړي؛ اوس به څنګه تا ته د دې لپاره مراجعه کوي چې د دوی شخړې او منازعات د الله د دين مطابق حل او فصل شي؟ تورات د دوی مخې ته پروت دئ، د الله تعالی حکمونه په کې بيان شوي؛ خو دوی له تورات مخ اړوي؛ دوی پر هيڅ کتاب ايمان نه لري.

له دې آيتونو په ډېر صراحت سره معلومېږي چې پر الهي کتاب د ايمان ادعاء يوازې په هغه صورت کې اعتبار لري چې په احکامو ئې عمل وشي؛ چا چې د الله تعالی په کتاب عمل ونه کړ، خپلې شخړې او منازعات ئې د الهي کتاب د احکامو مطابق حل او فصل نه

کړي؛ د ایمان ادعاء ئې د الله تعالی په نزد هیڅ وزن او اعتبار نه لري.

إِنَّآ أَنزَلۡنَا ٱلتَّوۡرَىٰةَ فِيهَا هُدٗى وَنُورٞۚ يَحۡكُمُ بِهَا ٱلنَّبِيُّونَ ٱلَّذِينَ أَسۡلَمُواْ لِلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلۡأَحۡبَارُ بِمَا ٱسۡتُحۡفِظُواْ مِن كِتَٰبِ ٱللَّهِ وَكَانُواْ عَلَيۡهِ شُهَدَآءَۚ فَلَا تَخۡشَوُاْ ٱلنَّاسَ وَٱخۡشَوۡنِ وَلَا تَشۡتَرُواْ بِـَٔايَٰتِي ثَمَنٗا قَلِيلٗاۚ وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴿٤٤﴾

٤٤- یقیناً چې دا تورات مو نازل کړ چې په هغه کې لارښوونه او رڼا ده؛ په دې سره هم هغو پیغمبرانو یهودانو ته پرېکړې اورولې چې مسلمانان ول او هم خدای پالونکو او علماءو په هغه څه چې د الله له کتاب ئې په حفاظت ګمارل شوي وو او پرې شاهدان ول؛ نو له خلکو مه وېرېږئ او له ما ووېرېږئ او زما پر آیتونو ناڅیزه بیه مه پېرئ او چا چې په ما انزل الله حکم ونه کړ نو همدا دوی کافران دي.

(٤٤)- په دې مبارکو آیتونو کې موږ ته لاندې لارښوونې شوې:

- تورات یو لارښود الهي کتاب وو چې خلك ئې له تیارو ایستل او د نجات او سعادت روښانه لار ئې ورښوده.
- خدای او د ده دین ته منقاد انبیاءو د یهودو تر منځ د دغه کتاب مطابق پرېکړې کولې. د یهودو خدای پالو علماءو او مذهبي شخصیتونو هم د دوی تر منځ د دغه کتاب احکام پلي کول، په خپله هم د دې کتاب ساتونکي او د پلي کولو ئې عملي بېلګې ول، عملاً ورته منقاد ول او دې کتاب د دوی پرعملي ژوند داسې سیوری غوړولی وو چې د هر چا تر سترګو کېدو.
- تاسو هم باید د مخکینیو انبیاءو او خدای پالو علماءو په څېر عمل وکړئ، د خلکو له وېرې او د دنیوي ګټې په طمع الهي احکام شا ته مه غورځوئ.
- څوك چې د الله تعالی له لوري د لېږل شوي کتاب مطابق حکم ونه کړي؛ کافر دئ؛ د الله تعالی په نزد ئې د ایمان ادعاء هیڅ اعتبار او وزن نه لري.

وَكَتَبۡنَا عَلَيۡهِمۡ فِيهَآ أَنَّ ٱلنَّفۡسَ بِٱلنَّفۡسِ وَٱلۡعَيۡنَ بِٱلۡعَيۡنِ وَٱلۡأَنفَ بِٱلۡأَنفِ وَٱلۡأُذُنَ بِٱلۡأُذُنِ وَٱلسِّنَّ بِٱلسِّنِّ وَٱلۡجُرُوحَ قِصَاصٞۚ فَمَن تَصَدَّقَ بِهِۦ فَهُوَ كَفَّارَةٞ لَّهُۥۚ وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٤٥﴾

٤٥- او په هغه کې مو پر دوی دا فرض کړي وو چې نفس د نفس، سترګه د سترګې، پزه د پزې، غوږ د غوږ او غاښ د غاښ په بدل کې او پرهارونه به سره برابر (قصاص) کېږي. او چا چې وبخښو نو همدا ئې کفاره شوه او چا چې په ما انزل الله حکم ونه کړ؛ همدا دوی ظالمان دي.

(٤٥)- په دې مبارکو آیتونو کې لاندې لارښوونې شوې:

- د قصاص په اړه د تورات احکام د قرآن له احکامو سره ورته وو؛ همدا چې نفس د نفس، سترګه د سترګې، پزه د پزې، غوږ د غوږ او غاښ د غاښ په بدل کې او پرهارونه به سره برابر (قصاص) کېږي.
- چا چې ضارب او جارح ته بخښنه وکړه؛ همدا ئې کفاره شوه.
- څوك چې په ما انزل الله حکم ونه کړي ظالم دئ.

دلته څو وضاحتونه ضروري برېښي:

- بايبل د زخمونو په اړه يو ځل همغه خبره کوي چې قرآن کړې او وايي: نفس د نفس په بدل کې، سترګه د سترګې په بدل کې، غاښ د غاښ په بدل کې، لاس د لاس په بدل کې، پښه د پښې په بدل کې، داغ د داغ په بدل کې، زخم د زخم په بدل کې او وهل د وهلو په بدل کې؛ خو ورپسې بېرته تبعيض ته مخه کوي او ليکي: که چا خپل مريي يا وينځه په خپل ګوزار سره ړنده کړه؛ نو د دې په بدل کې به ئې آزادوي، که ئې غاښ ورمات کړ د غاښ په بدل کې به ئې آزادوي!! عجيبه خو لا دا ده چې بايبل د حيواناتو د مجازات په اړه داسې وايي: که کوم غوايي سړی يا ښځه په ښکر ووهي او وئې وژني؛ نو دا غوايي به رجم (په ډبرو ويشتل) کېږي او غوښه به ئې هم نه خوړل کېږي!! او خاوند به ئې بې ګناه ګڼل کېږي؛ خو که ئې مخکې هم داسې کار کړی وو او خاوند ئې ترې خبر وو او هغه ئې نه وو تړلی؛ نو په دې صورت کې به غوايي رجم کېږي او خاوند به ئې وژل کېږي!! مګر دا چې د مقتول خپلوان په ديت راضي شي!! خو که غوايي کوم غلام يا وينځه په ښکر وهلو ووژني نو بايد د دوی ارباب ته دېرش مثقاله سپين زر ورکړی شي او غوايي دې ووژل شي!!

په مخکيني آيت کې ويل شوي چې څوك د الله تعالی له لوري د لېږل شوي کتاب مطابق حکم ونه کړي؛ کافر دئ؛ دلته ويل شوي چې ظالم دئ، وروسته ويل شوي چې فاسق دئ؛ د دې معنی څه ده؟ کوم يوه ته ئې کافر ويلی شو او چا ته ئې ظالم او فاسق؟ ځيني مفسرين دا درې حکمه کفارو ته راجع ګڼي، ځيني ئې د شخص په عقيدې پورې مربوط بولي او وايي چې که په ما انزل الله باور ونه لري کافر دئ، که باور ولري او حکم پرې نه کوي؛ نو ظالم او فاسق دئ. خو که لږ غور وکړو دا راته څرګندېږي چې حکم او قضاوت يا په اعتقادي مسائلو پورې مربوط وي، يا په حقوقي او يا په اخلاقي مسائلو پورې؛ که څوك په اعتقادي مسائلو کې په ما انزل الله حکم ونه کړي؛ کافر کېږي؛ په حقيقت به

پرده اچوي او د هغه خلاف به حکم کوي، که په حقوقي قضاياوو کې په ما انزل الله حکم ونه کړي؛ خامخا به ظلم وکړي او د چا حق به تلف کړي او که په اخلاقي مسائلو کې په ما انزل الله حکم ونه کړي؛ خامخا به اخلاقي حدود تر پښو لاندې کړي او فاسق به شي. دې ته مو بايد پام وي چې قرآن د هغه چا ايمان هم د اعتبار وړ نه ګڼي چې د حکميت لپاره طاغوتي محکمې ته رجوع کوي؛ فرمايي:

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ ءَامَنُوا۟ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓا۟ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوٓا۟ أَن يَكْفُرُوا۟ بِهِۦ وَيُرِيدُ ٱلشَّيْطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَٰلًۢا بَعِيدًا ﴿٦٠﴾ النساء: ٦٠

آيا هغه دې ونه ليدل چې ګمان کوي هم پر هغه څه ايمان لري چې پر تا نازل شوي او هم پر هغه څه چې تر تا مخکې نازل شوي؛ خو غواړي چې د تحاکم لپاره طاغوت ته ورشي؛ حال دا چې ورته امر شوی چې له هغه به انکار کوي او شيطان غواړي چې په ژوري تېروتنې سره ئې تېر باسي.

د دې آيت له مخې د هغه چا د ايمان دعوی د منلو نه ده چې طاغوت ته خپلې شخړې راجع کوي؛ ځوك چې د طاغوت واکمنۍ ته غاړه ږدي او د خپلو مشاجراتو په اړه د هغه پرېکړې مني؛ هغه سخت تېروتی، شيطان دوکه کړی، د ايمان دعوی ئې د اعتبار وړ نه ده؛ حتی که پر ځان ئې دا ګمان هم وي چې هم پر قرآن ايمان لري او هم پر مخکينيو کتابونو. تر هغه چې ته له طاغوت انکار ونه کړې الله تعالی ستا ايمان نه قبلوي.

همدا راز قرآن په ډېر تأکيد سره وايي چې د هغه چا ايمان هيڅ ارزښت نه لري چې پيغمبر عليه السلام او د ده په لاس لېږل شوی دين د حکميت يوازينۍ مرجع نه ګڼي؛ فرمايي:

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا۟ فِىٓ أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا۟ تَسْلِيمًا ﴿٦٥﴾ النساء: ٦٥

نو نه؛ ستا په رب قسم چې تر هغه ئې ايمان نه دئ راوړی چې تا په خپلمنځيو شخړو کې حکم ونه ګرځوي، بيا ستا د پرېکړې په اړه په خپلو زړونو کې تنګوالی ونه مومي او په بشپړه توګه تسليم نه شي.

په دې آيت کې پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي: تر هغه چې د ايمان مدعيان تا په خپلو شخړو کې حکم ونه نيسي او بيا ستا په پرېکړې راضي نه شي او په خپلو زړونو کې هيڅ حرج احساس نه کړي او عملاً انقياد ونه کړي؛ مؤمنان نه شي بلل کېدی او د ايمان ادعاء ئې نه شي قبلېدی. له دې آيت په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې د ايمان د قبلېدو لاندې شرائط دي:

- شخړې او منازعات شريعت ته محول کول.
- د اسلام په هرې پربکړې رضايت.
- او هر حکم ته ئې عملاً غاړه ايښودل.

د دې آيتونو په رڼا کې قضاوت کولی شو چې د قرآن پرېکړه به د هغه چا په اړه څه وي چې په طاغوتي محکمې کې ناست دئ او د ما انزل الله خلاف حکم کوي؟ دا په هر صورت کې هم کافر دئ هم ظالم دئ او هم فاسق.

---

وَقَفَّيْنَا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم بِعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ ۖ وَءَاتَيْنَٰهُ ٱلْإِنجِيلَ فِيهِ هُدًى وَنُورٌ وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٤٦﴾ وَلْيَحْكُمْ أَهْلُ ٱلْإِنجِيلِ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فِيهِ ۚ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴿٤٧﴾

٤٦- او د دوی پر پل مو عيسی د مريمې زوی ورپسې کړ؛ د هغه تورات تصديقوونکی چې له ده د مخه وو او هغه انجيل مو ورکړ چې لارښوونه او رڼا په کې وه او د هغه تورات تصديقوونکی وو چې ترې د مخه وو او د متقيانو لپاره لارښود او پند وو. ٤٧- نو د انجيل خاوندان دي په هغه څه حکم وکړي چې الله په کې نازل کړي او څوك چې په ما انزل الله حکم ونه کړي نو همدا دوی فاسقان دي.

---

(٤٦-٤٧)- په دې آيتونو کې دا مطالب زموږ مخې ته ايښودل شوي:

- د يهودانو له مخکينيو پيغمبرانو وروسته عيسی عليه السلام د دوی د وروستي پيغمبر په توګه مبعوث شو؛ ده ته انجيل ورکړی شو؛ چې هم لارښود وو او هم له تيارو د وتلو لپاره روڼ څراغ؛ هم ده د تورات تصديق او تأييد کولو او هم په خپله انجيل.
- مسيحيان په دې مأمور شوي وو چې خپلې شخړې به د هغو احکامو مطابق حل او فصل کوي چې په انجيل کې راغلي.
- څوك چې په ما انزل الله حکم ونه کړي؛ فاسق دئ.

---

وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ ۖ فَٱحْكُم بَيْنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ ۖ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ ٱلْحَقِّ ۚ

لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًاۚ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَلَٰكِن لِّيَبْلُوَكُمْ فِي مَآ ءَاتَىٰكُمْۖ فَٱسْتَبِقُوا۟ ٱلْخَيْرَٰتِۚ إِلَى ٱللَّهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٤٨﴾

٤٨- او تا ته مو دا پر حق ولاړ كتاب نازل كړ؛ د هغو كتابونو تصديقوونكى چي ترې د مخه وو او پرې احتواء كوونكى؛ نو د دوى تر منځ په هغه څه حكم كوه چي الله نازل كړي او تا ته د راغلي حق په معامله كي د دوى د هوى او هوس متابعت مه كوه، ستاسو هر يوه ته مو خاص شريعت او تګلاره ټاكلې او كه الله غوښتلى نو تاسو ټول به ئې يوه ډله ګرځولي وئ؛ خو (غواړي) په هغه سره مو وآزمويي چي دركړي ئې دي؛ نو د ښېګڼو په لوري تلوار وكړئ؛ ستاسو ټولو ورتګ د الله لوري ته دئ؛ نو په هغه څه به مو خبر كړي چي اختلاف مو په كي كاوو.

---

(٤٨)- د دې مبارك آيت اساسي مطالب دا دي:

- محمد عليه السلام ته قرآن وركړى شو؛ چي مخكيني نازل شوي كتابونه تصديقوي، د هغوى پر ټولو مطالبو احتواء لري. د الله تعالى له لوري نازل شوي كتابونه د اساسي مطالبو له پلوه ټول سره ورته دي، په قرآن كي ټول هغه اساسي مطالب راغلي چي په مخكينيو كتابونو كي راغلي وو.

- پيغمبر عليه السلام په دې مأمور شوى چي د خلكو تر منځ د قرآن له احكامو سره سم حكم وكړي؛ د دې معنى دا ده چي دا كتاب د حكميت او حكومت كولو لپاره نازل شوى؛ د دې لپاره چي د خلكو ټول خپلمنځي منازعات د دغه كتاب مطابق حل او فصل شي. دا يوازې د تلاوت لپاره نه بلكي د تلاوت تر څنګ د قضاوت او حكميت لپاره راغلى.

- په هيڅ څه كي به د خلكو هوى او هوس او نفسي غوښتنو ته نه تسليمېږې؛ داسي نه چي د دوى د خوشحالولو لپاره په كوم حكم عمل كول پرېږدې!

- الله تعالى د زمانې په هر پړاو كي او هر امت ته د دوى له وضعيت او شرائطو سره سم هادي پيغمبر او لارښود كتاب لېږلى، دا الهي لارښووني دوه برخي لري: شريعت يعني قوانين او ضوابط؛ او منهاج يعني تګلاره او كړنلاره. داسي نه ده چي يوازې مقررات او قوانين لېږل شوي وي او د دغو مقرراتو او احكامو د تطبيق طريقه په خپله د خلكو خوښي ته پرېښودل شوې وي؛ بلكي د قانون تر څنګ دا هم ورته ويل شوي چي د ژوند لپاره به كومه تګلاره غوره كوي. الهي اديان د انساني ژوند ټول اړخونه احتواء كوي او ټولو اړتياوو ته ئې ځواب وايي.

- که الله تعالی غوښتلی ټول انسانان به ئې داسې پیدا کړي وو چې له فکري او اعتقادي پلوه په دوی کې هیڅ توپیر او اختلاف نه وی او د ټولو دین او مذهب یو وی؛ خو الله تعالی انسان داسې پیدا کړی چې کولی شي له دوو لارو یوه په خپله خوښه غوره کړي، له نورو مخلوقاتو د ده توپیر په دې کې دئ چې (اراده) او (اختیار) ورکړی شوی، (محکوم) او (مجبور) ئې نه دئ پیدا کړی؛ دغه (واك) او (اختیار) د ده د امتحان او آزمېښت مجال دئ؛ چې معلومه شي دی له خپل (اختیار) او (آزادي) څنگه استفاده کوي.
- الله تعالی په دې راضي کېږي چې انسان د ښېگڼو په لوري تلوار ولري، خپل استعدادونه، واك او اختیار په دې لار کې وکاروي.
- په پای کې د ټولو ورتگ د الله لوري ته دئ؛ په هغه څه به ئې خبر کړي چې اختلاف ئې په کې کاوو؛ د قیامت ورځ او مکافات او مجازات ئې د دې لپاره ټاکل شوي چې هر چا ته د خپل آزمېښت پاېله په لاس کې ورکړی شي، د انسانانو تر منځ د اختلافاتو حقیقت څرگند شي او هر څوك د خپلې عقیدې او عمل حقیقي پایله او سزا وگوري.

---

وَأَنِ ٱحۡكُم بَيۡنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَهُمۡ وَٱحۡذَرۡهُمۡ أَن يَفۡتِنُوكَ عَنۢ بَعۡضِ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ إِلَيۡكَۖ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَٱعۡلَمۡ أَنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُصِيبَهُم بِبَعۡضِ ذُنُوبِهِمۡۗ وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلنَّاسِ لَفَٰسِقُونَ ۝٤٩

۴۹- او دا چې د دوی تر منځ په هغه څه پرېکړې کوه چې الله نازل کړي او د دوی د هوی او هوس متابعت مه کوه او په دې کې له دوی ځان ساته چې تا ته د الله له لوري د نازل شوو له کومې برخې دې واړوي. خو که ئې ډډه وکړه نو په دې دې پوه وې چې الله غواړي د ځینو گناهونو په وجه ئې په مصیبتونو اخته کړي او یقیناً چې د دغو خلکو ډېری فاسقان دي.

---

(۴۹)- دا مبارك آیت څو حقائق زموږ مخې ته ږدي:

- د پیغمبر علیه السلام او د ده د امت دنده دا ده چې په خپلمنځیو شخړو او منازعاتو او د ژوند په ټولو قضایاوو کې به د ما انزل الله له مخې حکم کوي، د ژوند په هیڅ برخې او هیڅ قضیې کې به نه د خپلې هوی او هوس تر اغېز لاندې قضاوت کوي او نه د نورو د نفسي غوښتنو تر اغېز لاندې؛ باید سخت محتاط وي چې څوك ئې د الهي دین له کومې برخې انحراف ته ونه هڅوي؛ نه د چا د خوشحالولو لپاره او نه د چا د زور او ځواك له وېرې.
- څوك چې دې ته چمتو نه وي چې شخړې او منازعات ئې د الله تعالی د دین مطابق

حل او فصل شي؛ د خپل جرم سزا به حتماً وګوري؛ په دنيا کې د ځينو ګناهونو نسبي سزا او په آخرت کې د ټولو ګناهونو بشپړه سزا.

● دې ته اهميت مه ورکوئ چي څومره خلك ستاسو مخالفت يا ملګرتيا کوي، په دې بنياد خپل دريځ مه ټاکئ؛ داسي نه چي د اکثريت خلکو مخالفت په تاسو کې څه تشويش راپيدا کړي او د دين له کومي برخي لاس اخيستو ته مو وهڅوي، داسي نه چي د ډېرو خلکو د حمايت او تأييد تر لاسه کولو په موخه د دين په کوم حکم عمل او حکم کول پرېږدئ؛ د خلکو ډېرى به داسي وومئ چي په ګناهونو کې غرق دي او له خپل رب ئې عصيان کړى.

أَفَحُكْمَ ٱلْجَٰهِلِيَّةِ يَبْغُونَ ۚ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ ٱللَّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ ﴿٥٠﴾

۵۰- آيا د جاهليت پرېکړه لټوي؛ په داسي حال کې چي تر الله به د باور لرونکو لپاره څوك په حکم کولو کې غوره وي؟!

(۵۰)- دا آيت موږ ته ښيي چي په نړۍ کې دوه حکمونه، حکومتونه او قضاوتونه شته: يا د الله تعالى حکم او د الهي دين حکومت او يا د جاهليت حکم او د جاهليت د دور حکومت. انسان له دې دواړو پرته بل انتخاب نشي درلودی؛ يا به د الله تعالى حکم مني او يا به د جاهليت حکم ته غاړه ږدي، په يوه کې د الله تعالى کتاب او قانون حکومت کوي او بل کې د زور او ځواك خاوندانو هوى او هوس؛ چېري چي د الله تعالى حکم نافذ نه وي او د ده دين حکومت نکوي؛ هلته د جاهليت قانون نافذ دئ، د زور د خاوندانو هوى او هوس حکومت کوي او محکمه ئې د جاهليت د دور محکمه ده. نو ځکه قرآن خپلو مخاطبينو ته وايي: آيا دوى د الله د حکم پر ځاى د جاهليت حکم لټوي؟! آيا تر الله تعالى د غوره حکم په لټه کې دي؟ الله تعالى د ايمان خاوندانو ته تر ټولو غوره حکم دئ.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ ٱلْيَهُودَ وَٱلنَّصَٰرَىٰٓ أَوْلِيَآءَ ۘ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُۥ مِنْهُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥١﴾

۵۱- اې مؤمنانو! يهود او نصارى په دوستۍ مه نيسئ؛ دوى په خپلو کې يو د بل دوستان دي؛ او له تاسو چی چا له دوى سره دوستي وکړه؛ هغه به د دوى له ډلي وي او يقيناً چی الله د ظالمانو دا ډله هيڅکله نه هدايت کوي.

(۵۱)- په مخکينيو آيتونو کې د حکميت موضوع وڅېړل شوه او دا مطلب ئې په قاطع الفاظو توضيح کړ چي په الله تعالى د ايمان اساسي تقاضا دا ده چي مؤمنان به د ده دين د ژوند په ټولو قضاياوو کې د حکم په توګه مني او ټولي شخړي به دين ته راجع کوي؛ اوس د

ایمان یوه بله اساسي غوښتنه توضیح کوي؛ چې هغه له کافرانو سره له موالات او دوستۍ ډډه او اجتناب کول دي؛ په دې آیت کې مؤمنانو ته ویل شوي چې یهود او نصارى په دوستۍ مه نیسئ، چا چې له دوی سره دوستي وکړه؛ د مؤمنانو له ډلې وتلي او د یهودو او نصرانیانو په ډلې کې شامل شوی!!

تاسو پوهېږئ چې نصارى او یهود تر نورو ټولو خلکو له اعتقادي پلوه مسلمانانو ته ورنږدې دي؛ خو د همدوی په اړه هم حکم شوی چې دوستي به ورسره نه پالئ که نه نو د دوی له ډلې شمېرل کېږئ. د قرآن ګڼ شمېر آیتونه په همدې مطلب تأکید کوي او مسلمانان له کافرانو او مشرکینو سره له دوستۍ منع کوي.

په دې اړه څو اساسي خبرې په پام کې ولرئ:

- اسلام مسلمانان له دې؛ نه دي منع کړي چې له کافرو خپلوانو سره د راکړې ورکړې او تګ راتګ مراوده ولري او حتی د حاجت په وخت کې مالي مرسته ورسره وکړي.
- له هغو کافرانو سره هم له دا راز معاملې نه دي منع شوي چې د مسلمانانو په ضد نه وي جنګېدلي، د دوی له دښمنانو سره ئې مرسته نه وي کړې، دوی ئې له خپل وطن نه وي ایستلي او د دوی په ایستلو کې ئې د دښمنانو مرسته نه وي کړې؛ له دوی سره ښېګڼه او د دوی په اړه د عدالت مطابق چلن کول له دې مقاطعې او عدم موالات سره تعارض نه لري. قرآن په دې اړه فرمايي:

﴿لَّا يَنْهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ لَمْ يُقَٰتِلُوكُمْ فِى ٱلدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُم مِّن دِيَٰرِكُمْ أَن تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوٓاْ إِلَيْهِمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُقْسِطِينَ ۝٨ إِنَّمَا يَنْهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ قَٰتَلُوكُمْ فِى ٱلدِّينِ وَأَخْرَجُوكُم مِّن دِيَٰرِكُمْ وَظَٰهَرُواْ عَلَىٰٓ إِخْرَاجِكُمْ أَن تَوَلَّوْهُمْ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُمْ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ۝٩﴾ الممتحنه: ٨-٩

الله تاسو له هغو خلکو نه منع کوي چې د دین په وجه له تاسو سره نه وي جنګېدلي او تاسو ئې له خپل ټاټوبي نه وئ ایستلي؛ له دې چې ښېګڼه ورسره وکړئ او د قسط مطابق چلن ورسره وکړئ. یقیناً چې الله مقسطین خوښوي. خبره دا ده چې الله مو له هغو خلکو منع کوي چې د دین په وجه درسره جنګېدلي، تاسو ئې له خپل ټاټوبي ایستلي یئ او ستاسو په ایستلو کې ئې (د دښمن) مرسته کړې؛ له دې چې دوستي ورسره وپالئ؛ او چا چې له دوی سره دوستي وکړه همدا دوی ظالمان دي.

---

﴿فَتَرَى ٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يُسَٰرِعُونَ فِيهِمْ يَقُولُونَ نَخْشَىٰٓ أَن تُصِيبَنَا دَآئِرَةٌ ۚ فَعَسَى ٱللَّهُ أَن يَأْتِىَ بِٱلْفَتْحِ أَوْ أَمْرٍ مِّنْ عِندِهِۦ فَيُصْبِحُواْ عَلَىٰ مَآ أَسَرُّواْ

فِيٓ أَنفُسِهِمۡ نَٰدِمِينَ ۝٥٢

۵۲- نو هغه چې په زړونو کې ئې بيماري ده؛ ته به ئې ګورې چې د دوی په دوستۍ کې به تلوار کوي؛ وايي به: د کومې حادثې له رارسېدو وېرېږو!! نو ښايي چې الله به له خپل لوري فتح او يا کوم بل څه راولي او په دې سره به په هغو خبرو پښېمانې کوونکي شي چې په خپلو زړونو کې ئې پټولې.

(۵۲)- په دې مبارك آيت کې هغه څوك د بيمار زړه خاوند او منافق ګڼل شوی چې له دغو کافرانو سره دوستي کوي؛ ويل شوي چې د دغو بيمارو زړونو خاوندان په دې موخه دښمن ته د دوستۍ پيغامونه لېږي چې د دښمن په ګټه د حالت له بدلېدو وېرېږي؛ غواړي دښمن له خپل اړخه مطمئن کړي، داسې څه وکړي چې که دښمن برلاسه کېږي نو ده او ګټو ته ئې څه ګواښ او خطر متوجه نشي. خو قرآن د دوی د زړه دغه پټ خباثت افشا کوي او فرمايي چې هيله ده الله تعالی يا مسلمانانو ته پر دښمنانو فتح ورکړي او يا بل داسې حالت راولي چې منافقينو ئې د راتلو ګمان نه کولو؛ وضعيت د خپل منافقانه تصور او ګمان په خلاف ومومي او په خپلو هغو پټو خبرو پښېمانه شي چې په زړه کې ئې ساتلې.

وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَهَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ أَقۡسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡ إِنَّهُمۡ لَمَعَكُمۡۚ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فَأَصۡبَحُواْ خَٰسِرِينَ ۝٥٣

۵۳- او هغه چې ايمان ئې راوړی وايي به: آيا دا همغه دي چې د الله په نامه به ئې کلکې کلکې لوړې کولې چې دوی له شك پرته له تاسو سره دي! عملونه ئې تباه شول نو له زيانمنو شول.

(۵۳)- په مخکيني آيت کې ويل شوي چې دا منافقين به په خپلو کړو په دنيا کې نادم او پښېمانه شي او په دې آيت کې د قيامت په ورځې د دوی وضعيت بيان شوی؛ هلته به مؤمنان په حيرت سره دوی ته ګوته نيسي او وايي به: آيا دا همغه خلك دي چې په دنيا کې به ئې کلکې کلکې لوړې کولې چې دوی د مسلمانانو ملګري دي؛ ټول عملونه ئې په هيڅ شمار شوي، د الله تعالی په وړاندې تش لاس او تور مخ ولاړ دي؛ خاسر او نامراده؟

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَن يَرۡتَدَّ مِنكُمۡ عَن دِينِهِۦ فَسَوۡفَ يَأۡتِي ٱللَّهُ بِقَوۡمٖ يُحِبُّهُمۡ وَيُحِبُّونَهُۥٓ أَذِلَّةٍ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ يُجَٰهِدُونَ فِي

سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوۡمَةَ لَآئِمٖۚ ذَٰلِكَ فَضۡلُ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٥٤﴾

٥٤- اې مؤمنانو! که له تاسو څوك له خپل دين په شا شو نو الله به ډېر ژر داسي قوم راپيدا کړي چي دوی پر ده گران وي او دی پر دوی گران وي، پر مؤمنانو تواضع کوونکي او پر کافرانو ځان بر گڼونکي، د الله په لار کي به جهاد کوي او د هيڅ ملامتوونکي له ملامتولو به نه وېرېږي. دا د الله فضل دئ؛ هغه چا ته ئې ورپه برخه کوي چي دی ئې غواړي او الله پوه د وسعت خاوند دئ.

---

(٥٤)- دلته مؤمنانو ته دا ډاډ ورکړی شوی چي د منافقينو پر بېلېدو او له کافرانو سره د دوی پر ملگرتيا مه غمجن کېږئ؛ که څوك مسلمانان کمزوري وگڼي، د دوی له ملگرتيا لاس واخلي، مرتد شي، کافران ورته ځواکمن معلوم شي او هغوی ته د ذلت سر ټيټ کړي؛ نو الله تعالی به د دوی په عوض داسي مؤمنان راپيدا کړي چي دا صفات به لري:

- پر الله تعالی به گران وي.
- دوی به له الله تعالی سره مينه لري.
- تر مؤمنانو به ځان لوړ نه گڼي، هغوی ته به د حقارت په سترگه نه گوري، کمزوري او ضعيف به ئې نه شمېري، هر يو به تر ځان لوړ او تر ځان زيات د عزت خاوند بولي.
- تر کافرانو به ځان لوړ گڼي، د هغوی په وړاندي به سر نه ټيټوي، هغوی ته به د عزت او درناوي په سترگه نه گوري.
- د الله تعالی په لار کي به جهاد کوي.
- د هيچا له ملامتولو به وېره نه لري، نه به د چا د تبليغاتو پروا کوي او نه ئې د سپکو سپورو خبرو.

دا د الله تعالی فضل دئ؛ هغه چا ته ئې ورپه برخه کوي چي الله تعالی ئې د دې وړ ومومي. الله تعالی د پراخ فضل خاوند دئ او پوهېږي چي څوك د ده د فضل وړ او مستحق دئ.

دا مطلب په بل آيت کي داسي راغلی:

مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ ٱللَّهِۚ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ أَشِدَّآءُ عَلَى ٱلۡكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيۡنَهُمۡۖ... الفتح: ٢٩

محمد د خدای رسول او هغه چي له ده سره دي پر کافرانو شديد دي او په خپلو منځونو کي مهربان.

ابو ذر رضي الله عنه وايي: زما خليل صلی الله عليه و سلم په اوو خبرو وگمارلم: له

مسکینانو سره محبت او دوی ته نژدېوالی، دا چي تر ځان ټيټ ته (چي تر ما لږ څه په واك کې لري) وګورم نه هغه چا ته چي تر ما لوړ دئ، د خپلوۍ اړيکي ټينګي وساتم که څه هم مقابل لوری شا واړوي، دا چي له هيچا د کوم څه غوښتنه ونه کړم، دا چي حق ووايم که څه هم تريخ وي، دا چي د الله په لار کې د هيچا له ملامتولو وېره ونه لرم او دا چي لا حول ولا قوة إلا بالله ډېر ووايم، ځکه چي دا کلام له هغي خزانې دئ چي تر عرش لاندي دہ.

عَنْ أَبِي ذَرٍّ رضى الله عنه قَالَ: " أَمَرَنِي خَلِيلِي صلى الله عليه وسلم بِسَبْعٍ: أَمَرَنِي بِحُبِّ الْمَسَاكِينِ وَالدُّنُوِّ مِنْهُمْ، وَأَمَرَنِي أَنْ أَنْظُرَ إِلَى مَنْ هُوَ دُونِي، وَلَا أَنْظُرَ إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقِي، وَأَمَرَنِي أَنْ أَصِلَ الرَّحِمَ وَإِنْ أَدْبَرَتْ، وَأَمَرَنِي أَنْ لَا أَسْأَلَ أَحَدًا شَيْئًا، وَأَمَرَنِي أَنْ أَقُولَ بِالْحَقِّ وَإِنْ كَانَ مُرًّا وَأَمَرَنِي أَنْ لَا أَخَافَ فِي اللهِ لَوْمَةَ لَائِمٍ، وَأَمَرَنِي أَنْ أُكْثِرَ مِنْ قَوْلِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ، فَإِنَّهُنَّ مِنْ كَنْزٍ تَحْتَ الْعَرْشِ" اخرجه احمد

له عباده بن صامت روايت دئ چي وئې ويل: موږ له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره په دې بيعت وکړ چي واورو او اطاعت وکړو، په سختۍ، آسانۍ کې، هلته چي زړه مو غواړي او هلته چي زړه مو نه غواړي، په هغه حالت کې هم چي پر موږ بل ته ترجيح ورکړي، په دې چي له چارواکو سره په امورو کې نزاع ونه کړو، په دې چي چېري وو حق به وايو او د الله په لار کې به د هيڅ ملامتوونکي له ملامتولو وېره نه لرو.

عن عبادة بن الصامت قال: «بَايَعْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ فِي الْعُسْرِ وَالْيُسْرِ، وَالْمَنْشَطِ وَالْمَكْرَهِ، وَعَلَى أَثَرَةٍ عَلَيْنَا، وَعَلَى أَنْ لَا نُنَازِعَ الْأَمْرَ أَهْلَهُ، وَعَلَى أَنْ نَقُولَ بِالْحَقِّ أَيْنَمَا كُنَّا، لَا نَخَافُ فِي اللهِ لَوْمَةَ لَائِمٍ» رواه مسلم

---

إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُمۡ رَٰكِعُونَ ﴿٥٥﴾

۵۵- ستاسو دوستان خو الله او پيغمبر ئې او هغه مؤمنان دي چي لمونځ کوي او زکات ورکوي په داسي حال کې چي رکوع کوونکي وي.

---

(۵۵)- دا مبارك آيت د هر مؤمن بنده؛ ولي او دوست په دغو ذواتو کې راخلاصه کوي: الله تعالی، د هغه پيغمبر او هغه مؤمنان چي په انکسار او خشوع او خضوع سره لمونځ اداء کوي او زکات ورکوي. د دې آيت مفهوم ډېر واضح او الفاظ ئې ډېره قاطع او پرېکنده دي، نه يهود او نصارى د مؤمنانو د دوستانو په لړ کې راځي او نه هغه چي ظاهر ئې د

مسلمان دئ خو نه ئې لمونځ لمونځ دئ او نه ئې زکات زکات، هغه منافقين هم له دې جملې ايستل شوي چې لمونځ او زکات ئې د الله تعالى په وړاندې له رکوع او خضوع نشأت نه کوي. تاسو په مخکينيو آيتونو کې وليدل چې د يهودانو او نصرانيانو تر څنګ د منافقينو يادونه هم شوې؛ د دوی ځيني خو داسې معرفي شوي چې مؤمنان به ئې حتی د قيامت په ورځ هم خپل ملګري ګڼي؛ خو هلته به ورته څرګنده شي چې دوی مؤمنان نه ول. تاسو ته دا هم بايد معلومه وي چې د مؤمنانو د موالات او دوستۍ له فهرست هغه خلك هم ايستل شوي چې د محاربو کافرانو تر سلطې لاندې ژوند کوي. د النساء په سوره کې ويل شوي:

فَمَا لَكُمْ فِي ٱلْمُنَٰفِقِينَ فِئَتَيْنِ وَٱللَّهُ أَرْكَسَهُم بِمَا كَسَبُوٓاْ أَتُرِيدُونَ أَن تَهْدُواْ مَنْ أَضَلَّ ٱللَّهُ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ سَبِيلًا ﴿٨٨﴾ وَدُّواْ لَوْ تَكْفُرُونَ كَمَا كَفَرُواْ فَتَكُونُونَ سَوَآءً فَلَا تَتَّخِذُواْ مِنْهُمْ أَوْلِيَآءَ حَتَّىٰ يُهَاجِرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَإِن تَوَلَّوْاْ فَخُذُوهُمْ وَٱقْتُلُوهُمْ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ وَلَا تَتَّخِذُواْ مِنْهُمْ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿٨٩﴾ النساء: ٨٨-٨٩

نو پر تاسو څه شوي چې د منافقينو په اړه دوه ډلې شوئ؟ حال دا چې الله تعالى دوی د خپلو لاس ته راوړنو په وجه رانسکور کړل. آيا غواړئ هغه څوك هدايت کړئ چې الله بې لارې کړل؟ او الله چې څوك بې لارې کړي هيڅ لار به ورته ونه مومې. د دوی خوښه دا ده چې تاسو هم داسې کافران شئ لکه دوی چې کافران شول؛ نو بيا به سره برابر شئ؛ نو تر هغه له دوی دوستان مه نيسئ چې د الله په لار کې هجرت وکړي؛ خو که ئې ډډه وکړه؛ نو وئې نيسئ او هر ځای چې ئې مومئ وئې وژنئ او مه له دوی کوم دوست نيسئ او مه کوم مرستندوی.

له دغو دواړو آيتونو معلومېږي چې دلته بحث د هغو خلکو په اړه دئ چې د ايمان دعوی ئې کوله خو په دارالکفر کې پاته شوي او په داسې حال کې ئې مدينې ته له تلو ډډه کړې چې له يوې خوا د هجرت کولو امر ورته شوی وو او له بلې خوا په دې نتوانېدل چې په مکه کې خپل ديني شعائر په څرګنده توګه او په اطمئنان سره اداء کړي، د هغو تر سلطې لاندې ئې ژوند کولو ته دوام ورکړی چې له مسلمانانو سره جنګېدل. په دارالحرب کې د دوی د پاته کېدو اصلي وجه دا وه چې د خپل دين او ايمان لپاره خاطر قربانۍ ته چمتو نه وو، دې ته تيار نه وو چې د اسلام لپاره له خپل کور او کلي ووځي، د کافرانو له سلطې آزاد شي او د اسلام تر بيرغ لاندې د ژوند کولو لپاره مدينې ته لاړ شي؛ نه مجبوريت منع کړي وو او نه ضعف او ناتوانۍ.

ډېر ځله به له مجاهدينو سره دا اندېښنه راپيدا کېده چې که موږ د دښمن په کومې

سیمي برید کوو او هلته داسي مسلمانان وي او یا دښمن پر موږ حمله کوي او داسي کسانو په دې حملې کې برخه اخیستې وي او زموږ په لاس ووژل شي؛ زموږ حکم به څه وي او د دوی حکم څه؟ الله تعالی د دوی د دغي اندېښنې د رفع کولو لپاره دا لارښوونه وکړه چي مهمې برخي ئې دا دي:

- دا منافقین دي.
- د دوی په اړه اختلاف مه کوئ.
- د دوی عملونه داسي دي چي دارالایمان ته د راتلو وړ نه دي، الله تعالی د دې وړ ونه ګڼل چي ستاسو خوا ته ئې راولي، د اسلام په لوري د مخکي تلو پر ځای د کافرانو تر سلطې لاندي په پاته کېدو راضي شول؛ الله تعالی پرېښودل چي په هغه کي نسکور شي.
- د دوی په اړه به ستاسو خپلمنځی اختلاف څه ګټه ولري او څنګه به د دوی د هدایت باعث شي؛ حال دا چي الله تعالی ئې د هدایت وړ نه ګڼي او دا توفیق ئې نه دئ ورپه برخه کړی چي له هغه ناولي ډنډ راووځي؟!
- دوی خو دا خوښوي چي کاش تاسو هم د دوی په څېر وئ، تاسو هم له خپل ملك هجرت نه وی کړی. له نورو سره د ګډ ژوند کوم صورت مو راپیدا کړی وی، نه هغوی زموږ مزاحم کېدی او نه موږ د دوی. که موږ داسي ژوند کولی شو نو تاسو ئې ولي نه شئ کولی؟
- تر هغه چي دا خلك د الله په لار کي هجرت ونه کړي؛ خپل اولیاء او دوستان ئې مه ګڼئ.
- که له هجرت کولو ئې ډډه وکړه نو په نیولو او وژلو ئې هیڅ صرفه مه کوئ؛ د دښمن له ډلي ئې وګڼئ او همغه څه ورسره وکړئ چي له دښمن سره ئې کوئ، هیڅ یو ئې مه خپل دوست ګڼئ او مه د مرستي طمع ترې کوئ.

ځیني شیعه د مائدې سورې د دغه آیت په اړه هم عجیب او د حیرت وړ تعبیر او تأویل لري؛ وایي چي دا آیت د علي رضي الله عنه د ولایت او امارت په اړه نازل شوی!! له ولي په دې آیت کي مراد ولي الامر او امیر دئ؛ وایي چي علي رضي الله عنه په جومات کي لمونځ کولو، د رکوع په حالت کي وو چي یوه سوالګر غږ کړ، ده په اشاره سره هغه پوه کړ چي راشي او د ده ګوتې واخلي، خپله ګوتې ئې ورکړه او دا آیت د همدې قضیې په اړه نازل شو!! ډېره عجیبه ده چي څوك د قرآن د یوه څرګند آیت په اړه د داسي تأویل جسارت کوي!! دې جنابانو ته څو خبري لرو:

- الله تعالی ستاسو په شان نه دئ چي تقیه وکړي او د چا له وېري خپله خبره په څرګندو الفاظو ونه کړي؛ که علي رضي الله عنه ئې د مسلمانانو د ولي الامر په توګه ټاکلی نو د ده په اړه به ئې په قرآن کي همداسي په وضاحت سره امر کړی وو لکه چي د هارون

عليه السلام په اړه ئې وضاحت کړی.

● دلته خو د بحث موضوع له کافرانو سره عدم موالات ده؛ نه د مسلمانانو د ولي الامر ټاکنه او انتخاب، نه له دې مخکې او نه هم وروسته داسې څه مومو چې د امير المؤمنين له ټاکلو او انتخاب سره ارتباط ولري.

● دلته خو مؤمنانو ته ويل شوي چې ستاسو دوست (دوستان او اولياء)؛ الله، د ده پيغمبر او هغه مؤمنان دي چې په خضوع سره لمونځ کوي او زکات ورکوي؛ په علي رضي الله عنه دا د جمعي صيغه څنګه تطبيقوئ؟

● که تاسو له رکوع کوونکو دا مطلب اخلئ چې د رکوع په حالت کې لمونځ کوي او زکات ورکوي؛ يا ستاسو په تعبير د رکوع په حالت کې زکات ورکوي؛ نه خو لمونځ د رکوع په حالت کې تر سره کېدی شي ځکه لمونځ د رکوع تر څنګ ډېر نور حرکات هم لري؛ او نه زکات د رکوع په حالت کې ورکول کېږي؛ زکات خو يوه فريضه ده، حکومت ته ورکول کېږي نه سوال کوونکو ته، که تاسو تکلف کوئ او زکات د صدقې او خيرات په نامه اخلئ؛ نو علي رضي الله عنه به ولې د رکوع په حالت کې دا کار کولو؟ آيا دا د علي رضي الله عنه په اړه منئ چې هغه په خپل لمانځه کې له خپلو الفاظو دومره غافل وو چې حتی د رکوع په حالت کې ئې د سوال کوونکي غږ واورېدو، بيا ئې هغه ته اشاره وکړه، بيا ئې ګوتې راوايستله او هغه ته ئې ورکړه او دا ټول کارونه ئې د رکوع په حالت کې وکړل!! ولې به ئې په دې وخت کې دا کار کاوو؟ آيا له لمانځه وروسته ئې دا کار نشو کولی؟

د دغو اصلي ستونزه دا ده چې يوه غلطه او بې بنسټه انګېرنه ئې خپله کړې؛ دا انګېرنه چې امارت د علي رضي الله عنه او د ده د اولاد منصوصي حق دئ! د دې غلطې انګېرنې د اثبات لپاره دلائل لټوي، په قرآن کې د دې لپاره نه صريحاً څه مومي او نه تلويحاً او اشارتاً؛ هڅه کوي د بې بنسټو رواياتو په مرسته خپله غلطه ادعاء ثابته کړي. که څوك ورته ووايي: امارت خو به په هغه صورت کې د دوی منصوصي حق وو چې په دې اړه کوم نص موجود وی، که داسې نص وی نو علي رضي الله عنه به څنګه تر ځان مخکې له دريو خلفاءو سره بيعت کاوو؟ صحابه وو به څنګه د نص په شتون کې له ده پرته له بل چا سره بيعت کاوو؟ د دې پوښتنو په ځواب کې وايي: علي عليه السلام؛ تقيه کوله!! او د صحابه وو په اړه وايي چې له دريو پرته نور ټول منافق شول!! ګورئ چې ړوند تعصب انسان کوم ځای ته رسوي؟ يوازې يو بې دينه او منافق انسان؛ د علي رضي الله عنه په اړه دا غلطه وينا او د هغو صحابه وو په اړه چې قرآن د دوی ستاينه کړې؛ داسې جسارت کولی شي!! پيغمبر عليه السلام د مدينې د انصارو په اړه فرمايي: که د نړۍ ټول خلك په يوې وادي کې او انصار په بلې وادي کې وي؛ زه به له انصارو سره وم!! که د هجرت خبره نه وی نو زه به له انصارو وم.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبُو الْقَاسِمِ: «لَوْ أَنَّ الْأَنْصَارَ سَلَكُوا وَادِيًا أَوْ شِعْبًا، لَسَلَكْتُ وَادِيَ الْأَنْصَارِ، وَلَوْلَا الْهِجْرَةُ لَكُنْتُ امْرَأً مِنَ الْأَنْصَارِ»

رواه البخارى و احمد

څوك چي خپل ایمان ته په ارزښت قائل وي؛ په دې پوهېږي چي پر ده د صحابه وو څومره لوی حق دئ، که دوی نه وی خدای خبر چي موږ او زموږ پلرونه به په کوم دین او مذهب وو، د بتانو عبادت به مو کولو که د اور؟! دا دوی وو چي اسلام ئې تر موږ پوري راورساوو، له مدینې تر ایران، افغانستان، هند او ماوراء النهر پوري ئې توره په لاس، د اسلام تر بیرغ لاندي مزلونه کول او د دې اوږدې لار ګام ګام د دوی په وینو سره کېدا، دا ټولي قرباني ئې د پیغمبر علیه السلام له رحلت وروسته ورکړې. ایراني شیعه وو ته وایو: تاسو د عمر رضي الله عنه د خلافت په دوران کي د کسری له استبدادي او فرعوني واکمنۍ او د اور له عبادت وژغورل شوئ؛ په کار خو دا وه چي تاسو تر علي رضي الله عنه زیات د ده درناوی کولی!! یوازي یو ناسپاسه انسان به د دغو صحابه وو احسان هېروي.

ابن کثیر د دغه آیت په اړه لیکي: و قوله تعالى: { إنما وليكم الله ورسوله والذين آمنوا } أي ليس اليهود بأوليائكم بل ولايتكم راجعة إلى الله ورسوله والمؤمنين وقوله { الذين يقيمون الصلاة ويؤتون الزكاة } أي المؤمنون المتصفون بهذه الصفات من إقام الصلاة التي هي أكبر أركان الإسلام وهي عبادة الله وحده لا شريك له وإيتاء الزكاة التي هي حق المخلوقين ومساعدة للمحتاجين والمساكين وأما قوله { وهم راكعون } فقد توهم بعض الناس أن هذه الجملة في موضع الحال من قوله { ويؤتون الزكاة } أي في حال ركوعهم ولو كان هذا كذلك لكان دفع الزكاة في حال الركوع أفضل من غيره لأنه ممدوح وليس الأمر كذلك عند أحد من العلماء ممن نعلمه من أئمة الفتوى وحتى إن بعضهم ذكر في هذا أثرا عن علي بن أبي طالب أن هذه الآية نزلت فيه وذلك أنه مر به سائل في حال ركوعه فأعطاه خاتمه: او د الله تعالى دا قول چي (إنما وليكم الله ورسوله والذين آمنوا)؛ په دې معنی دئ چي یهودان ستاسو اولیاء او دوستان نه دي، بلکي ستاسو دوستي الله، د ده رسول او مؤمنانو ته راجع ده؛ او دا قول ئې چي (الذين يقيمون الصلاة ويؤتون الزكاة)، په دې معنی دئ چي هغه مؤمنان ستاسو اولیاء دي چي په دغو صفاتو متصف دي: د لمونځ اقامه چي د اسلام تر ټولو ستر رکن او یوازي د هغه الله تعالى عبادت دئ چي هیڅ شریك نلري؛ او د هغه زکات ورکړه چي د خلکو حق او له محتاجانو او مسکینانو سره مرسته ده؛ خو دا قول ئې چي (وهم راكعون)، ځیني خلك په دې توهم کي پرېوتي چي دا فقره د زکات ورکوونکو حال بیانوي، یعني د رکوع په حالت کي زکات ورکوي!! که داسي وی نو د رکوع په حالت کي زکات ورکول به تر بل حالت غوره کار ګڼل شوی وو! خو حقیقت داسي نه دئ؛ له اهل فتوی او اهل رأی علماءو

چې موږ ئې پېژنو د هيچا له نظره خبره داسي نه ده او حتى ځينو ئې په دې اړه له علي ابن ابي طالب د دې آيت په اړه داسي روايت هم ذکر کړی چې ګواکي دا آيت د ده په ارتباط نازل شوی؛ او دا هغه مهال چې دی په رکوع کي وو او يو سوالګر ئې خوا ته تېر شو او ده خپله ګوتې ورکړه!!

دا وروستی آيت پورتنی مطلب مزيد توضيح کوي او ښيي چې په پورتني آيت کي له (ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ) مراد ټول مؤمنان دي:

---

وَمَن يَتَوَلَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فَإِنَّ حِزۡبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلۡغَٰلِبُونَ ﴿٥٦﴾

٥٦- او څوك چې له الله او د ده له پيغمبر او مؤمنانو سره دوستي کوي نو بې شکه چې همدا د الله حزب غالب دئ.

---

(٥٦)- دلته د الله تعالى مؤمنو بندګانو ته د حزب الله نوم ورکړی شوی او ويل شوي: د الله تعالى حزب له هغو جوړ شوی چې دوستي ئې يوازې له الله تعالى، د ده له پيغمبر او مؤمنانو سره وي، دا حزب فاتح او غالب دئ او الله تعالى ئې د غلبې ذمه وال. يعني چې دا د ټولو مؤمنانو صفات دي نه د کوم فرد او شخص.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ دِينَكُمۡ هُزُوٗا وَلَعِبٗا مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكُمۡ وَٱلۡكُفَّارَ أَوۡلِيَآءَۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٥٧﴾ وَإِذَا نَادَيۡتُمۡ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ ٱتَّخَذُوهَا هُزُوٗا وَلَعِبٗاۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا يَعۡقِلُونَ ﴿٥٨﴾

٥٧- اې مؤمنانو! له هغو چې تر تاسو د مخه کتاب ورکړی شوی او ستاسو دين ئې تر ټوکو او لوبو لاندې نيولی او له کافرانو دوستان مه نيسئ او له اللهووېرېږئ که مؤمنان ياست. ٥٨- او کله چې د لمانځه لوري ته بلنه ورکوئ ملنډې پرې وهي؛ دا له دې کبله چې دوی بې عقله خلك دي.

---

(٥٧-٥٨)- د مخکيني بحث په لړ کي يو ځل بيا او په مزيد تفصيل او وضاحت سره ويل شوي چې څوك ستاسو دين ته په سپکه سترګه ګوري، که له اهل کتاب وي او که له نورو کافرانو؛ دوستي ورسره مه پالئ، له دوی وېره بايد د دې باعث نشي چې دوستي ورسره وپالئ او پر خپل دين د دوی تېری او استهزاء وزغمئ؛ له الله تعالى ووېرېږئ که واقعاً ايمان لرئ. د دې معنى دا ده چې له کافرانو سره د دوستۍ وجه يا له دوی وېره ده او يا خپل دين ته د داسي ارزښتمني شتمنۍ په سترګه نه کتل چې د هيچا تېری پرې ونه زغمي. که ته پر خپل عزت تېری نشې زغملی، پر خپل مال او اولاد تېری نشې زغملی، که ايمان

لرې نو پر خپل دين او ايمان به هم تر دې زيات غيرت کوې او د هيچا تېرى او استهزاء به نه زغمې او په داسي حال کي به له چا سره دوستي نه پالې چي هغه په دين او د دين پر کوم رکن ملنډي وهي.

پر أذان استهزاء او ملنډي د هغه چا کار ګڼل شوى چي بې عقله دي؛ ځوك چي عقل لري پوهېږي چي په دې أذان کي څومره مهم الفاظ راغونډ شوي او د انسانانو په ژوند کي ئې اغېز او تأثير څومره ژور دئ. دا أذان د ورځي پنځه ځلي خلکو ته خپل رب وريادوي، دا د هر طاغوت له بندګۍ د آزادۍ اعلان دئ، دا اعلان هره ورځ خلك په خپلو کي راغونډوي، د دوى خپلمنځي اړيکي ټينګوي، د يوه بل له حالت د خبرېدو موقع په لاس ورکوي، چي په دې أذان سره د يوې محلې خلك هره ورځ پنځه ځله راغونډېږي، په هري اونۍ کي د يوې منطقې خلك يو ځل اجتماع کوي، په کال کي دوه ځله د يوې لويي ساحې اوسېدونکي په يوې ستري غونډي کي د اختر په شان دوو خاصو ورځو کي غونډه کوي او په دې اجتماعاتو کي ټول په منظمو ليکو کي د يوه بل څنګ ته، يوې قبلې ته مخه کوي، د واحد رب په وړاندي ودرېږي، په يوه امام پسي اقتداء کوي، د هغه په قومنده؛ لاسونه الله جل جلاله ته د تسليمۍ په توګه پورته کوي، لاس تړلي ودرېږي، رکوع او سجده کوي، په خپلو حرکاتو کي له امام مخکي وروسته کېدل ګناه ګڼي، په خپلو منځونو کي معمولي فاصله او ډېره کمه اندازه له يوه بل وروسته مخکي ودرېدل غلطي شمېري او له هغه ډډه کوي، دا ظاهري منظم حرکات له ژور فکري او معنوي احساس او يووالي سره توأم تر سره کېږي، د جمعې په هره اجتماع او د اختر په غونډو کي امام مکلف دئ جامع او لارښوونکي وينا وکړي او مقتدي مکلف دئ په ډېر غور او دقت سره هغه واوري، د دولت رئيس مکلف دئ چي په مرکز کي په خپله د دغو اجتماعاتو رياست وکړي او شخصاً د لمانځه امامت وکړي او په لري ځايونو کي د ده کفيل دا کار تر سره کړي. په دې سره چي د خلکو تر منځ د يووالي، د مشرانو او کشرانو تر منځ د بعد او فاصلې ختمولو، د يوه بل له حالت د خبرېدو، د محل، منطقې، ساحې او هېواد او نړۍ په وضعيت د پوهېدو او سترو سترو اجتماعي کارونو ته د ولس د چمتو کولو کوم کار کېدى شي له بلي هيڅ لاري ممکن نه دئ.

تاسو چي د نړۍ د ډېرو منظمو، ځواکمنو، سياسي او انقلابي احزابو؛ تنظيمي او تربيتي پروګرامونه او د حزبي جلسو څرنګوالى له دغه څه سره مقايسه کړئ چي اسلام راښودلي؛ نو هلته د أذان، لمانځه او جماعت پر اهميت پوهېدى شئ؛ دا د جماعت لمونځونه په حقيقت کي د حزب الله ورځنۍ، اونيزي او کلنۍ حزبي جلسې دي.

---

قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ هَلْ تَنقِمُونَ مِنَّآ إِلَّآ أَنْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْنَا وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلُ وَأَنَّ أَكْثَرَكُمْ فَٰسِقُونَ ﴿٥٩﴾

٥٩- ووایه: اې اهل کتاب! آیا له دې پرته د بل څه لپاره موږ عیبجن ګڼئ چې موږ هم پر الله ایمان راوړی او هم پر هغه څه چې موږ ته نازل شوی او هم پر هغه څه چې له دې د مخه نازل شوی او د دې لپاره چې ستاسو اکثریت فاسقان دي؟!

(٥٩)- دلته له مسلمانانو سره د اهل کتاب مخالفت او پر اسلام او مسلمانانو د دوی استهزاء او تمسخر ته د یوه حیرانوونکي عمل په توګه کتل شوي؛ دا څنګه او ولې دوی له مسلمانانو سره په داسې حال کې مخالفت ته ملا تړلې چې مسلمانان پر همغه الله تعالی ایمان لري چې دوی هم د ایمان دعوی پرې لري، مسلمانان په ټولو الهي کتابونو ایمان لري، د قرآن په شمول پر تورات او انجیل؛ په قرآن کې خو د انجیل او تورات تأیید او تصدیق شوی؛ په کار خو دا وه چې اهل کتاب د اسلام درناوی او له مسلمانانو سره ملګرتیا کولی، تر نورو د مخه دوی دا دین منلی او تأییدولی؛ عجیبه ده چې دوی د تأیید او منلو پر ځای د مخالفت لپاره ملا تړې، د دوی د مخالفت ستره وجه دا ده چې په فساد او فسق کې تر ستوني غرق دي او په خپلې خوا کې د نېکانو شتون نشي زغملی.

قُلْ هَلْ أُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ مِّن ذَٰلِكَ مَثُوبَةً عِندَ ٱللَّهِ ۚ مَن لَّعَنَهُ ٱللَّهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ وَجَعَلَ مِنْهُمُ ٱلْقِرَدَةَ وَٱلْخَنَازِيرَ وَعَبَدَ ٱلطَّٰغُوتَ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضَلُّ عَن سَوَآءِ ٱلسَّبِيلِ ﴿٦٠﴾

٦٠- ووایه: آیا پر هغه مو خبر کړم چې تر دې ئې د الله په وړاندې سزا ډېره بده ده؟ هغه چې الله رټلي، غضب ئې پرې کړی او له دوی ئې بیزوګانې، خنزیران او د طاغوت بندګان جوړ کړل؛ دوی د دریځ له مخې ډېر بد او له سمې لارې ډېر تېروتي دي.

(٦٠)- تاسو پر مسلمانانو استهزاء کوئ، د هغوی دیني شعائرو ته په سپکه سترګه ګورئ، آیا هغه خلك دروښیو چې د الله تعالی په نزد تر ټولو بد دي؟ دا هغه دي چې الله تعالی پرې لعنت ویلی، په خپل غضب ئې اخته کړي، د بیزوګانو او خنزیرانو په څېر ئې مسخ کړل او هغه چې د طاغوت بندګي ئې وکړه. دا هغه څه دي چې یهودان پرې اخته شوي، دوی څنګه ځان ته د دې حق ورکوي چې مسلمانانو ته په بده سترګه وګوري او ځان تر دوی غوره وګڼي؟!! دوی خو هغه خلك دي چې الله تعالی له خپل رحمت بې برخي کړل، د خپل رحمت دروازه ئې د دوی په مخ وتړله، خپل غضب ئې پرې نازل کړ، د بیزوګانو په څېر یو مقلد قوم ترې جوړ شو او الله تعالی د بیزوګانو په څېر مسخ کړل، په فحش او ګنده کارونو کې د خنزیرانو په څېر شول او الله تعالی د خنزیرانو په څېر مسخ کړل، د هر

طاغي او باغي واکمن په وړاندي ئې د غلامۍ او بندګۍ سر ټيټ کړ او ذلت ته ئې غاړه کښېښوده؛ داسي ذليل او پرېوتی قوم څنګه پر عزتمنو مسلمانانو استهزاء کوي؟!!

اما دا چي آيا بيزوګاني او خنزيران د مسخ شوو يهودانو له نسله دي که نه؟ لاندي دوه روايتونه حقيقت توضيح کوي:

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِىَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْقِرَدَةِ وَالْخَنَازِيرِ: أَهِىَ مِمَّا مُسِخَ؟ فَقَالَ: «إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ لَمْ يُهْلِكْ قَوْمًا , أَوْ لَمْ يَمْسَخْ قَوْمًا , فَيَجْعَلَ لَهُمْ نَسْلًا وَلَا عَقِبًا، وإن القردة والخنازير كانت قبل ذلك. مسند احمد بن حنبل

له ابن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چي له رسول الله صلی الله عليه و سلم د بيزوګانو او خنزيرانو په اړه پوښتنه وشوه چي آيا دا همغه دي چي الله تعالی مسخ کړي؟ وئې فرمايل: الله تعالی هيڅ قوم داسي نه هلاکوي يا ئې نه مسخ کوي چي بيا ئې نسل يا پاته شوني وي، بيزوګاني او خنزيران تر دې د مخه موجود وو.

عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ : سَأَلْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى الله عَلَيه وسَلَّم عَنِ الْقِرَدَةِ وَالْخَنَازِيرِ أَهُمْ مِنْ نَسْلِ الْيَهُودِ ؟ فَقَالَ : لاَ، إِنَّ اللَّهَ , تَبَارَكَ وَتَعَالَى , لَمْ يَلْعَنْ قَوْمًا قَطُّ، فَمَسَخَهُمْ فَيَكُونَ لَهُمْ نَسْلٌ، وَلَكِنْ هَذَا خَلْقٌ كَانَ، فَلَمَّا غَضِبَ اللَّهُ عَلَى الْيَهُودِ فَمَسَخَهُمْ جَعَلَهُمْ مِثْلَهُمْ. ابوداؤد الطيالسی

له ابن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چي له رسول الله صلی الله عليه و سلم مو وپوښتل: آيا بيزوګاني او خنزيران د يهودانو له نسله دي؟ وئې فرمايل: الله تعالی پر هيڅ قوم لعنت نه وايي او نه ئې مسخ کوي چي بيا ئې نسل وي، خو دا مخلوقات تر دې د مخه موجود وو، کله چي الله تعالی پر يهودانو لعنت ووايو د دوی په څېر ئې مسخ کړل.

---

وَإِذَا جَآءُوكُمْ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا وَقَد دَّخَلُواْ بِٱلْكُفْرِ وَهُمْ قَدْ خَرَجُواْ بِهِۦۚ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُواْ يَكْتُمُونَ ﴿٦١﴾

٦١- او چي درته راشي وايي: ايمان مو راوړی؛ حال دا چي له کفر سره راننوتي او له همدې سره بېرته وتلي او الله پر هغه څه ډېر ښه پوهېږي چي پټوي ئې.

---

(٦١)- دلته د اهل کتاب منافقت په ډېره اغېزمنه توګه انځور شوی: کله چي به د پيغمبر عليه السلام حضور ته راغلل يا به له نورو مسلمانانو سره مخامخ شول نو ويل به ئې: موږ هم ستاسو په څېر ايمان لرو، پر دغو خبرو چي تاسو ئې کوئ موږ هم باور لرو؛ پداسي

حال کې چې کافر به راغلل او کافر به ووتل، نه ئې له دې مخکې پر دغو حقائقو ایمان درلود او نه به ئې اوس او له ملاقات وروسته ایمان راوړی وو، د الله تعالی په نزد نه د دوی مخکینی ایمان اعتبار لري او نه اوسنی. د الله تعالی دا پرېکړه د دوی هغو پټو خبرو ته په پام سره شوې چې دا منافقین ئې پټوي، ایمان چې کومې غوښتنې لري دوی ئې تر سره کولو ته چمتو نه دي، په خوله خو د ایمان ادعاء کوي خو په زړونو کې چې څه لري هغه ټول د ایمان منافي دي. په وروستي آیت کې به وګورئ چې د دوی دا د ایمان منافي اعمال کوم کوم دي.

وَتَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يُسَٰرِعُونَ فِى ٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ وَأَكْلِهِمُ ٱلسُّحْتَ ۚ لَبِئْسَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٦٢﴾

٦٢- او ډېری به ئې وګورې چې په ګناه، تېري او د حرامو په خوړلو کې تلوار کوي؛ څومره بد دئ هغه څه چې دوی ئې کوي.

(٦٢)- دلته د ایمان منافي درې ستر ستر کارونه په ګوته شوي:

- په ګناه کې تلوار.
- د بل پر حق تېري او تجاوز کې تلوار.
- د حرامو په خوړلو کې تلوار.

له دغو بدو کړنو سره سره به الله تعالی څنګه د دوی د ایمان دعوی قبلوي؟

لَوْلَا يَنْهَىٰهُمُ ٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلْأَحْبَارُ عَن قَوْلِهِمُ ٱلْإِثْمَ وَأَكْلِهِمُ ٱلسُّحْتَ ۚ لَبِئْسَ مَا كَانُوا۟ يَصْنَعُونَ ﴿٦٣﴾

٦٣- ولې ئې خدای پالونکي او علماء د ګناه له وینا او د حرامو له خوړلو نه منع کوي؟! ډېر بد دئ هغه څه چې دوی ئې کوي.

(٦٣)- د دوی د علماءو او مشائخو حالت هم داسې دئ چې نه خلك له بدي او غلطې وینا منع کوي او نه د حرامو له خوړلو، د چا په ښه او بد کار نلري، له بدو حساسیت په کې مړ شوی او له وضعیت سره ئې روغه جوړه کړې، د حکامو په خدمت کې دي، په یوه مفسد او ګنهګار قوم کې هغه څوك د منلي عالم او پیر په نامه شهرت مومي چې د عام ولس په څېر وي، د دوی د خوښې خبرې کوي، نه د غلطې وینا مخالفت کوي او نه سمې او حق وینا ته خلك رابلي، له حکامو سره ئې لاس یو کړی وي؛ د کومې ټولنې علماء او مشائخ

چې داسې وي نو حکام او عام ولس به ئې خنګه وي؟

وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ يَدُ ٱللَّهِ مَغۡلُولَةٌۚ غُلَّتۡ أَيۡدِيهِمۡ وَلُعِنُواْ بِمَا قَالُواْۘ بَلۡ يَدَاهُ مَبۡسُوطَتَانِ يُنفِقُ كَيۡفَ يَشَآءُۚ وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرٗا مِّنۡهُم مَّآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ طُغۡيَٰنٗا وَكُفۡرٗاۚ وَأَلۡقَيۡنَا بَيۡنَهُمُ ٱلۡعَدَٰوَةَ وَٱلۡبَغۡضَآءَ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ كُلَّمَآ أَوۡقَدُواْ نَارٗا لِّلۡحَرۡبِ أَطۡفَأَهَا ٱللَّهُۚ وَيَسۡعَوۡنَ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَسَادٗاۚ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿٦٤﴾

٦٤- او يهودانو وويل: د الله لاس تړلى دئ، د دوى لاسونه دي تړلي وي او پر دوى دي لعنت وي؛ په سبب د هغه څه چې وئې ويل؛ داسې نه ده لکه دوى چې وايي؛ د الله تعالى دواړه لاسونه خلاص دي او څنګه چې وغواړي همغسې انفاق کوي او هغه څه به د دوى د ډېرو طغيان او کفر حتماً ورزيات کړي چې ستا د رب له لوري درته نازل شوى او د دوى تر منځ مو تر قيامت دښمني او کرکه وغورځوله؛ هر کله ئې چې د جګړې کوم اور بل کړى؛ الله هغه مړ کړى او په زمکې کې د فساد لپاره هڅه کوي او الله دا مفسدين نه خوښوي.

---

(٦٤)- دا مبارك آيت څو مهمې برخې لري چې په کار ده لږ په تفصيل سره وڅېړل شي:

په لومړۍ برخې کې د بخل، سخاوت، امساك او انفاق په اړه بحث شوى؛ يهودان الله تعالى ته د بخل نسبت کوي او وايي: ( يَدُ اللهِ مَغْلُولَةٌ: د الله لاس تړلى دئ)؛ يعني څه چې ترې غواړو نه ئې راکوي، د هر څه واك ورسره دئ، د ټولو شيانو مالك دئ؛ خو بندګان ئې همداسې پرېښې دي او څه نه ورکوي! په عربي ژبه کې د بخيل لپاره دا استعاره کارول کېږي؛ په همدې کلماتو سره (يده مغلولة) د هغه بخل او عدم سخاوت انځور کېږي؛ او د دې برعکس هغه چې سخاوت لري، هر چا ته د مرستې لاس ورکوي، له هر چا سره مرسته کوي؛ د هغه دا صفت د (يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ: دواړه لاسونه ئې پرانيستي دي) په الفاظو سره بيانوي، يعنى لاسونه ئې خلاص دي، هر چا ته هر څه ورکوي او په دواړو لاسونو سره انفاق کوي. الله تعالى د يهودانو په ځواب کې فرمايي: (بَل يَدَاهُ مَبسُوطَتَانِ يُنفِقُ كَيفَ يَشَاءُ: د الله تعالى دواړه لاسونه خلاص دي او څنګه چې وغواړي همغسې انفاق کوي). د دې معنى دا ده چې الله تعالى زيات انفاق کوي، هر چا ته له خپلو نعمتونو مناسبه برخه ورکوي.

په قرآن کې د عربو ډېرې معروفې استعارې راغلې؛ قرآن د عربو په ژبه نازل شوى؛ د

مطالبو د ښه تفهيم لپاره د دوی د ژبې هم الفاظ راغلي، هم استعارې او هم مجاز. په استعارو او مجاز کې الفاظ په اصلي معنی نه بلکې په مروجه او عاريت شوې معنی راځي؛ د کلماتو او الفاظو تحت اللفظي ژباړه او ترجمه ئې نه سم او صحيح کار دئ او نه د استعارې او مجاز کاروونکې هدف او مراد؛ لکه په دې آيت کې چې گورئ: نه د يهودانو مراد دا دئ چې خدای يو لاس لري او هغه هم تړل شوی دئ؛ او نه د الله تعالی د دې کلام (بَلۡ يَدَاهُ مَبۡسُوطَتَانِ) مراد دا دئ چې الله تعالی دوه داسې لاسونه لري چې په بشپړه توگه او تل پرانيستي وي. دلته د بحث موضوع د الله تعالی ذات معرفي کول نه دي؛ د بحث اصلي موضوع بخل او سخاوت دئ؛ موږ او هر قوم ځانگړې استعارې لرو؛ په هيڅ استعارې کې د الفاظو اصلي او متبادره ژباړه مراد نه وي؛ ډېر ناپوه انسان به دا کار کوي. د مثال په توگه؛ موږ وايو: فلانی دروند سړی دئ؛ معنی ئې دا نه ده چې د وزن له پلوه دروند او څو کيلو تر نورو زيات دئ؛ بلکې معنی ئې دا ده چې له اخلاقي او معنوي پلوه درند او معتبر شخصيت دئ؛ که څوك له دروندالي د وزن او حجم د زياتوالي معنی واخلي؛ نو سخته اشتباه او غلطي ئې کړې؛ همداسې که د دې آيت په دوو استعارو کې له لاس عضو مراد کړي او له تړلو او پرانيستلو ئې د لاسونو تړل او پرانيستل؛ ډېر به کمعقل او ناپوه وي. دې ته بايد متوجه وو چې د قرآن په هيڅ آيت کې او د رسول الله صلی الله عليه و سلم په هيڅ حديث کې د الله تعالی د ذات د څرنگوالي په اړه هيڅ څه نه دي ويل شوي، قرآن موږ له دې منع کړي يو چې الله تعالی ته کوم مثال بيان کړو او له مخلوق سره ئې تشبيه کړو، رسول الله صلی الله عليه و سلم موږ له دې منع کړي يو چې د الله تعالی د ذات په اړه فکر وکړو؛ الله تعالی له هيڅ مخلوق سره نه په ذات کې ورته دئ، نه صفاتو کې او نه افعالو کې. هره هغه رأيه بايد په دېوال ووهو چې الله تعالی له مخلوق سره تشبيه کوي او کوم مثال ورته انځوروي.

د قرآن يو بل آيت د همدې مخکيني آيت ښه وضاحت کوي؛ هلته چې فرمايي:

وَلَا تَجۡعَلۡ يَدَكَ مَغۡلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبۡسُطۡهَا كُلَّ ٱلۡبَسۡطِ فَتَقۡعُدَ مَلُومٗا مَّحۡسُورًا ﴿٢٩﴾

الإسراء: ۲۹

مه دې لاس تر خپلې غاړې تړلی ساته (له ورکړې لاس مه راټموه) او مه ئې په بشپړ پرانستو سره پرانيزه؛ داسې چې (سبا ته) ملامت وگنل شې او حسرت درباندې وشي.

يعني مه بخل کوه؛ دومره چې له محتاجانو سره له لازمي او ضروري مرستو هم لاس راتم کړې او مه اسراف کوه؛ داسې چې له مستحق او غير مستحق سره په خلاص لاس دومره مرستې وکړې چې سبا په خپله د بل مرستې ته اړ شې او هر څوك دې ملامتوي او ستا پر حال تأسف کوي. بلکې د ورکړې او له بل سره د مرستو په دوران کې اعتدال مراعات کړه،

دلته دوه استعارې کارول شوې:

- لاس تر خپلي غاړې مه تړه.
- لاسونه دې په بشپړ پرانستو سره مه پرانيزه.

يوه ئې د بخل لپاره کارول شوې او بله ئې د ډېر سخاوت لپاره.

اوس که کوم ساده اهل ظاهر راپاڅي او ووايي: الله تعالی فرمايلي: لاس دې له خپلي غاړې سره مه تړه؛ نو که دې لاس مات شو او ډاکټر غوښتل مات لاس دې له غاړې سره وتړي؛ پام چې دا کار ونه کړې؛ دا د الله تعالی د امر خلاف کار دئ. او يا درته ووايي: هيڅکله به خپل لاسونه په بشپړ پرانيستو سره نه پرانيزې؛ ځکه الله تعالی د دې ممانعت کړی!! آيا د دې اهل ظاهر دا وينا د خندا او تأسف وړه نه ده؟!!

انسان اکثراً د معنوي مفاهيمو بيانولو لپاره له استعارو کار اخلي؛ دې ته اړ دئ بله چاره نه لري. مثلاً وايي: فلانی دروند سړی دئ، لوی زړه لري، زړه سواندی دئ. په دې جملو کې د (دروند، لوی زړه او زړه سواند) دا معنی نه شو اخيستلی چې وزن ئې زيات دئ، يا ئې زړه د حجم له پلوه لوی دئ او يا ئې پر زړه اور بلېږي او سوزي؛ بلکې له دروندالي اخلاقي دروندوالی، معنوي متانت او سنگيني مراد ده، له لوی زړه؛ شجاعت او زړه ورتيا مراد ده او له زړه سواند؛ مهربان مراد دئ. که زموږ کوم تاجك او دري ژبی ورور ووايي: آبرويش ريخت؛ آيا مراد ئې دا دئ چې وروځي ئې توی شوې؟ او که دا چې اعتبار او حيثيت ئې ختم او سپك شو؟

متأسفانه په مسلمانانو کې يوه داسې ډله راولاړه شوې چې د لار ورکو اهل کتاب په څېر د متشابه آيتونو الفاظ په ظاهري او متبادري معنی اخلي او د دې غلط مسلك په سبب الله تعالی له مخلوق سره تشبيه کوي، دوی له دې آيت هم له حقيقت لري تعبير لري او وايي چې دا آيت په دې دلالت کوي چې الله تعالی دوه لاسونه لري!! دا په داسې حال کې چې دلته د بحث موضوع د الله تعالی ذات نه دئ، دا الفاظ په دې لړ کې نه دي راغلي چې د الله تعالی د ذات څرنگوالی موږ ته معرفي کړي، نه دلته په دې موضوع بحث شوی او نه د قرآن په کوم بل آيت کې، تاسو به په ټول قرآن او د پيغمبر عليه السلام په ټولو احاديثو کې هيڅ ځای دا ونه مومئ چې د الله تعالی د ذات د څرنگوالي په اړه ئې څه ويلي وي، پيغمبر عليه السلام په دې موضوع له بحث کولو او حتی فکر کولو موږ منع کړي يو، انسان له دې ډېر عاجز دئ چې د الله تعالی د ذات څرنگوالی درك کړی شي، که چېرې دا آيت د الله تعالی د ذات د معرفي په لړ کې راغلی وی او دا آيت د داسې يوې بشپړې وينا يوه برخه وی چې د بحث محور او اصلي موضوع ئې د الله تعالی د ذات کيفيت بيانول وی او په همدې ارتباط ويل شوي وی چې (يَدَاهُ مَبسُوطَتَانِ) نو په هغه صورت کې مو ويلی شوی چې د آيت معنی همغه ده چې دا ډله ئې ادعاء کوي. خو په دې صورت کې به هم له دې اشکال سره مخامخ وو چې: آيا الله تعالی دوه داسې لاسونه لري چې تل خلاص وي او هيڅکله نه سره يو ځای کېږي؟ ځکه د مبسوطتان معنی همدا ده!!

د صاف زړه خاوند په دې پوهېږي چي د دغو الفاظو مراد همغه دئ چي ترې وروسته راغلی (يُنفِقُ كَيفَ يَشَاءُ )، قرآن دې ته د ورته استعارو او متشابه آيتونو په اړه موږ ته لارښوونه کړې چي د تأويل هڅه ئې ونه کړو، ځکه په تأويل ئې له الله تعالی پرته هيڅوك نه پوهېږي (... وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلا اللَّهُ ...). دلته د (يد) په اړه چي هر تعبير او تأويل؛ په ژبه، قلم او ذهن کې ولرو او هر تصوير چي په خيال کې ترې جوړ کړئ؛ دا تعبير، تأويل او تصوير نه يوازې د الله تعالی په اړه صدق نه کوي؛ بلکي په دې کار سره مو د الله تعالی د صريح حکم مخالفت کړی، د تأويل ناکامه او ناسمه هڅه مو کړې، الله تعالی مو له مخلوق سره تشبيه کړی او د ټولو صحابه وو او سلف صالح له منهج سره مو مخالفت کړی.

اهل کتاب همدا غلطي وکړه، الله تعالی ئې د انسان په څېر وګڼلو، تيار يو انسان ئې ترې جوړ کړ چي توپير ئې له انسان سره يوازې په دې کې دئ چي هغه خدای دئ او دا انسان، نور ئې هر څه انسان ته ورته دي، دوه لاسونه، دوه پښې، دوه سترګې، دوه غوږونه او... لري، وايي خدای انسان د ځان په څېر پيدا کړ، دوی او ټولو لار ورکو قومونو خپل خدای او بت د انسان مجسمې ته ورته جوړ کړ، دا نن چي تاسو د مسيحيانو کليساوو ته ورشئ وبه ګورئ چي خپل خدای ئې د انسان په بڼه کې انځور کړی. دا په داسې حال کې چي بايبل دوی د مجسمو له جوړولو منع کړي وو؛ بايبل ليکي چي خدای د هر راز مجسمو له جوړولو او د دوی په وړاندې د عبادت له کولو ممانعت کړی او فرمايلي ئې دي: بت مه جوړوئ او بتان مه لمانځئ، مجسمه، د ډبرو څلي او تراشلې ډبري د لمانځنې لپاره مه جوړوئ... خو نن د مسيحيانو کليساوي له مجسمو ډکې دي، د مريمې او عيسی عليهما السلام مجسمې او حتی خدای ئې د دوو فرشتو د مجسمو تر منځ پر تخت ناست انځور کړی او د تثليث او درې ګونو خدايانو عقېدې ته ئې عيني تجسم ورکړی.

په دې مبارك آيت د ايمان غوښتنه دا ده چي که څوك الله ته د بخل نسبت وکړي او وايي: يَدُ اللَّهِ مَغْلُولَةٌ په ځواب کې ورته ووايو: بَلْ يَدَاهُ مَبْسوطتَانِ يُنفِقُ كَيْف يشاء.

په قرآن د ايمان او د قرآن د آيتونو په تفسير کې د احتياط غوښتنه دا ده چي د هر آيت د تفسير او ترجمې په وخت کې د هغه سياق، سباق او له مخکې وروسته سره رابطه په پام کې ولرو، که دا اصل مراعات نشي نو د زياتو اشتباهاتو مرتکب کېږو. که ستاسو د بحث موضوع د يوه شخص ذات او خاص حالت معرفي کول وي او په همدې لړ کې ووايئ: هلته يو څوك دئ له دوو خلاصو لاسونو سره، ستاسو له دې وينا مخاطب دا انتباه اخلي چي نوموړی سړی دوه داسي خلاص لاسونه لري چي يو له بل سره وصل کېدی نشي. خو که د بحث موضوع مو د هغه شخص د سخاوت بيان وي او په همدې ارتباط ووايئ چي هغه سړی خلاص لاس لري، نو ستا مخاطب ډېر ژر پوهېږي چي ستا مقصد د ده هغه سخاوت ته اشاره ده چي له هر چا سره په خلاص لاس مرسته کوي، يوازې کمعقله انسان به ستا له دې وينا دا انتباه اخلي چي دې سړي خپل لاس خلاص نيولی.

قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې نه به الله تعالی په ذات او صفاتو کې د کوم مخلوق سره تشبیه کوو او نه به کوم مخلوق له ده سره تشبیه کوو، د الله تعالی په اړه به د مثال له ویلو هم ډډه کوو، چا چې په خپل ذهن کې د الله تعالی د ذات په اړه کوم تصور وکړ، کوم تصویر ئې جوړ کړ، له کوم مخلوق سره ئې تشبیه کړ او کوم مخلوق ئې له ده سره ورته وګڼلو؛ اشتباه ئې کړې او د قرآن له لارښوونو سره ئې مخالفت کړی.

په ټولو هغو نصوصو کې چې د ید، عین، رجل او... نسبت الله تعالی ته شوی؛ هلته هدف دا نه دئ چې د الله تعالی د ذات کیفیت بیان کړي، بلکې د الله تعالی یو فعلي صفت ئې بیان کړی، نه ښایي له دغو الفاظو ظاهري معنی واخلو، دا ځکه چې د الله تعالی د ذات په کیفیت پوهېدا د انسان له وس لوړه خبره ده، انساني عقل دومره توان نه لري چې دا درك کړی شی. د الله تعالی د ذات د څرنګوالي د بیانولو لپاره په انساني قاموس کې الفاظ نشته، دا الفاظ چې دلته استعمال شوي ټول په حقیقت کې د محسوسو او مشهودو مخلوقاتو لپاره وضع شوي او څرګنده ده چې په دې کلماتو سره د عظیم خدای د ذات کیفیت بیانول ممکن نه دي.

ټول علماء او محققین د قرطبي په شمول په دې متفق دي چې د الله تعالی د ذات په اړه به له بحث ډډه کوو، الله تعالی ته به د غړو او جوارحو نسبت نه کوو.

د قرآن په ټولو هغو آیتونو کې چې الله تعالی ته د ید نسبت شوی، هلته داسي څه ید ته نه دي مربوط شوي چې (شیء او څیز) وي او تر لاسه کول او اخیستل ئې غړی یا اندام ایجابوي، لکه دا آیتونه:

﴿قُلْ مَنۢ بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَىْءٍ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨٨﴾﴾ المؤمنون: ٨٨

﴿فَسُبْحَـٰنَ ٱلَّذِى بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَىْءٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٣﴾﴾ یس: ٨٣

﴿تَبَـٰرَكَ ٱلَّذِى بِيَدِهِ ٱلْمُلْكُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿١﴾﴾ الملك: ١

ګورئ چې دلته ویل شوي: ملك او ملکوت د الله تعالی په لاس کې دئ، خو تاسو پوهېږئ چې ملك او واکمني داسي څه نه دي چې په اختیار کې درلودل ئې د لاس په نامه غړي ته ضرورت ولري.

همدا راز که تاسو په هغو احادیثو کې لږ غور وکړئ چې د (ید) یادونه په کې شوې، درته جوته کېږي چې هلته (ید) د غړي (اندام) په توګه نه دئ راغلی. د مثال په توګه: (بیده الامر)، (الخیر في یدیك)، (والذي نفس محمد بیده)، (إِنَّ اللهَ يَبْسُطُ يَدَهُ بِاللَّيْلِ لِيَتُوبَ مُسِيءُ النَّهَارِ وَبِالنَّهَارِ لِيَتُوبَ مُسِيءُ اللَّيْلِ وَيَبْسُطُ يَدَهُ بِالنَّهَارِ لِيَتُوبَ مُسِيءُ اللَّيْلِ)...

که په دې نصوصو کې دقت وکړو نو وبه وینو چې دلته د خیر، توبې او نفس انتساب

يد يا لاس ته مجازي دئ نه حقيقي، د امورو تدبير، د خير ورکړه، د مرگ او ژوند د فيصلې صدور، د توبې قبلول، دا نه ايجابوي چې دلته دي له يد مراد د بدن غړی او جارحه وي، ځکه نه امر جسم دئ، نه خير، نه نفس، نه توبه، نه خيرات او نه دا نور ذکر شوي شيان، دا يو هم جسم نه دئ چې ملکيت، ورکړه، اخيستل، قبلول او سمبالول ئې د جارحه، آلې او اندام غوښتونکي وي. قرآن کريم په پوره صراحت سره فرمايي:

إِنَّمَآ أَمۡرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيۡـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٨٢﴾ يس: ٨٢

بې شکه چې کله الله د څه شي اراده وکړي نو کار ئې يوازې دا دئ چې ورته ووايي: وشه، نو هغه وشي.

يعني د ټولو امورو د تدبير او تر سره کېدو لپاره يوازې د الله تعالى اراده کافي ده، د شيانو پيدايښت، مرگ، ژوند، ساتنه، پالنه، تدبير، ورکړه، تمليك، اخيستل، امساك، بطش، دا ټول د الله تعالى په ارادې سره او د كُنْ په حکم تر سره کېږي.

الله تعالى د قرآن په اړه فرمايي: مصدقاً لما بين يديه: د دې الفاظو تحت اللفظي معنى دا ده: تصديقوونکی د هغه څه چې د دواړو لاسونو منځ کې ئې دي؛ خو هيڅ عالم او هوښيار انسان له دې دا مراد نه اخلي چې قرآن دوه لاسونه لري او په لاسونو کې ئې داسې څه دي چې تصديقوي ئې، ټول په دې متفق دي چې دلته مراد هغه کتابونه دي چې تر قرآن د مخه نازل شوي. الله تعالى ته د غړو نسبت کول داسې دي لکه کوم کم عقله انسان چې د دغه آيت په استناد ادعاء وکړي چې قرآن لاسونه لري!!

که په لاندې احاديثو کې هم غور وکړو همدا مطلب راته په گوته کوي:

رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايي:

عن ابى هُرَيْرَةَ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "مَا تَصَدَّقَ أَحَدٌ بِصَدَقَةٍ مِنْ طَيِّبٍ، وَلَا يَقْبَلُ اللَّهُ إِلَّا الطَّيِّبَ، إِلَّا أَخَذَهَا الرَّحْمَنُ بِيَمِينِهِ.... رواه مسلم

هيڅوك کومه پاکه صدقه نه ورکوي او الله تعالى خو له پاك پرته بل څه نه قبلوي، مگر دا چې رحمن خدای هغه په خپل يمين (ښي لاس) اخلي.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: " الْحَجَرُ يَمِينُ اللهِ فِي الْأَرْضِ، يُصَافِحُ بِهَا خَلْقَهُ مُصَافَحَةَ الرَّجُلِ أَخَاهُ،

ابن عباس رضي الله عنه وايي: حجر الاسود په زمکه کې د الله تعالى ښی لاس دئ؛ چې په دې سره له خپل مخلوق سره داسې مصافحه کوي لکه يو سړی چې له خپل ورور سره مصافحه کوي.

يعني چا چې پر حجر الاسود لاس کښېښود او ښکل ئې کړه نو دا داسې ده لکه چې له الله تعالى سره ئې مصافحه کړې وي او د هغه ښی لاس ئې ښکل کړی وي.

د لومړي حديث مطلب او مدلول دا دئ چي الله تعالى يوازي پاکه صدقه او خيرات قبلوي، نه يوازي قبلوي ئې بلکي هغه ته خاص ارزښت ورکوي او لکه څنګه چي انسان يو باارزښته ځيز په ښي لاس اخلي؛ شکور خدای هم د خپل بنده پاکي صدق ته ارزښت ورکوي او قبلوي ئې. خو په دې حديث کي نه د يمين او نه د اخذ د کلمې ظاهري معنى مراد ده؛ ځکه ګورو چي صدقه د يوه انسان له خوا بل انسان ته ورکول کېږي، ورکوونکی او اخيستونکی دواړه انسانان دي. په دوهم روايت کي هم ګورو چي په لومړنۍ برخه کي ئې حجرالاسود ته په زمکه کي د خدای يمين (ښی لاس) ويل شوي او په دوهمه برخه کي د حجرالاسود لمس کول او يا ښکلول د الله تعالى د لاس د لمس او ښکلولو په معنى راغلی دئ؛ هيڅ عاقل انسان به دا ادعاء ونه کړي چي له دې الفاظو مراد همدا ظاهري معنى ده.

موږ د متشابه آيتونو په مراد ايمان لرو؛ الفاظ ئې په خوله يادوو، بلي ژبي ته ئې ترجمه جائز ګڼو، خو په متبادره او متداوله معنى ئې نه اخلو، په تأويل ئې له الله تعالى پرته بل څوك نه پوهېږي، که څوك يد د لاس په معنى ترجمه کړي دا د اعتراض وړ خبره نه ده خو که يد د عضوي په معنى تعبير کړي؛ څو غلطۍ ئې کړې: ۱- تأويل ئې کړی، په داسي حال کي چي له الله تعالى پرته بل څوك ئې په تأويل نه پوهېږي، که دا غړي وګڼو نو بيا خو ئې هر څوك په تأويل پوه شو. ۲- الله تعالى ئې له مخلوق سره تشبيه کړی؛ حال دا چي الله تعالى نه په خپل ذات کي، نه په صفاتو کي او نه په افعالو کي کوم مخلوق ته ورته دئ. ۳- د الله د ذات د څرنګوالي په اړه ئې څه ويلي؛ حال دا چي اسلام موږ له دې منع کړي يو چي د الله تعالى د ذات په اړه فکر وکړو. ٤- د ټول سلف له منهج سره ئې مخالفت کړی، هغه خبره ئې کړې چي له دې پېړۍ مخکي هيڅ په دين پوه عالم نه ده کړې.

د آيت د دوهمي برخي معنى دا ده چي د الله تعالى له لوري تا ته درکړی شوي آيتونه د دې پر ځای چي دا مفسدين له طغيان او فساد راوګرځوي او له کفر لاس اخيستو ته ئې چمتو کړي؛ برعکس د دوی کفر او طغيان زياتوي او د دې باعث کېږي چي له حقپالو سره دښمنۍ ته ملا وتړي او د حق دين په مخالفت او له کفر په دفاع کي د دوی طغيان ورځ په ورځ زيات شي. ګمان مه کوئ چي هر څوك به د حق او د الله تعالى د کتاب د آيتونو په اورېدو سره له خپل کفر لاس اخلي او ستاسو ملګرتيا به کوي؛ ډېر خلك به داسي ومومئ چي له تاسو سره يوازي په دې خاطر دښمني کوي چي تاسو حق ته بلنه ورکوئ او له حقيقت دفاع کوئ؛ څومره چي تاسو په خپل دعوت کي مخکي ځئ د دوی دښمني او مخالفت به همدومره زياتېږي.

دوی په خپلو منځونو کي هم په دښمنيو اخته دي او يو بل ته په زړه کي کرکه او کينه لري، دوی چي کومه لار غوره کړې، د دې په وجه به د دوی تر منځ دا دښمني او کينه تر قيامت دوام کوي.

دوی په وار وار د جګړو اور بل کړی او تل الله تعالی د جګړو دا اور مړ کړی؛ تل ئې د فساد خورولو هڅه کړې او خپل زور ځواك ئې په دې لار کې کارولی، دوی مفسدین دي او الله تعالی ئې نه خوښوي.

په ورپسې آیتونو کې به وګورئ چې د دوی د دغو ټولو انحرافاتو اصلي لامل او وجه عدم ایمان، له الله تعالی وېره نه درلودل او د الله تعالی د کتاب په احکامو عمل نه کول دي.

---

وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوْاْ لَكَفَّرْنَا عَنْهُمْ سَيِّـَٔاتِهِمْ وَلَأَدْخَلْنَٰهُمْ جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٦٥﴾ وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُواْ ٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِم مِّن رَّبِّهِمْ لَأَكَلُواْ مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِمۚ مِّنْهُمْ أُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌۖ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ سَآءَ مَا يَعْمَلُونَ ﴿٦٦﴾

٦٥- او که اهل کتاب ایمان راوړی وی او تقوی ئې کړې وی نو حتماً به مو د دوی ناخوالې ختمې کړې وې او هرومرو به مو د نعمتونو جنت ته ننیستي وو. ٦٦- او که دوی تورات، انجیل او هغه څه چې د خپل رب له لوري ورته نازل شوي؛ پلي کړي وی؛ نو هرومرو به ئې هم له بره خوړلي وو او هم د خپلو پښو له لاندې. د دوی یوه ډله خو منځ لارې ده خو ډېری ئې داسې دي چې کړنې ئې ډېرې بدې دي.

---

(٦٥-٦٦)- په دغو دوو مبارکو آیتونو کې لاندې مهم مطالب زموږ مخې ته ایښودل شوي:

- اهل کتاب په حقیقي معنی ایمان نه وو راوړی، د دوی بد وضعیت په دې شهادت ورکوي چې د ایمان دعوی ئې رښتینې نه ده، له کومو ناخوالو سره چې مخامخ دي وجه ئې عدم ایمان او عدم تقوی ده، که دوی په واقعي معنی ایمان درلودی او په عملي ژوند کې ئې د تقوی لار غوره کړې وی نو الله تعالی به په دنیا کې د دوی ستونزې او ناخوالې ختمې کړې وې او په آخرت کې به ئې جنت ورپه برخه کړی وو؛ اوس له دواړو محروم دي.
- دوی تورات، انجیل او هغه احکام او لارښوونې چې د الله تعالی د پیغمبرانو په لاس ورته راغلې شا ته وغورځول، د همدې لپاره د الله تعالی له پېرزوینو محروم شول، فقر او مسکنت ئې په برخه شو. که دوی دا لارښوونې شا ته نه وی غورځولې او خپل ژوند ئې د الهي دین له غوښتنو سره سم تنظیم کړی وی؛ نو هم به د آسمان د برکت دروازې د دوی مخې ته پرانیستل شوې وې او هم د ځمکې؛ آسمان به په خپل وخت بارانونه پرې ورول او ځمکې به له برکتونو ډك حاصلات ورکول.
- د دوی محدود شمېر خلك منځ لارې او اعتدال خوښې دي او سمه لار ئې غوره کړې،

اکثريت ئې په بدو افعالو بوخت دي؛ د دغو په سبب د دوی ټولنه په دې مصيبتونو اخته شوې، دا ځکه چې له ولسونو سره د الله تعالی معامله داسې ده چې د دوی د اکثريت له حالت سره متناسب وي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغۡ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَۖ وَإِن لَّمۡ تَفۡعَلۡ فَمَا بَلَّغۡتَ رِسَالَتَهُۥۚ وَٱللَّهُ يَعۡصِمُكَ مِنَ ٱلنَّاسِۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٦٧﴾

٦٧- اې پيغمبره! هغه څه ورسوه چې د خپل رب له لوري درته نازل شوي او که دې ونه کړ نو د ده پيغام دې نه دئ رسولی؛ او الله دې له خلکو ساتي؛ يقيناً چې الله دا کافر قوم نه هدايت کوي.

(٦٧)- دا مطلب په دې سورې کې د پيغمبر عليه السلام په اړه درې ځلې، ٦٧، ٩٢ او ٩٩ آيتونو کې او د مؤمنانو په اړه يو ځل په ١٠٥ آيت کې راغلی؛ په دې آيت سره پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چې خپل رسالت له خوف، وېرې، تردد او تزلزل پرته په بشپړه توګه پای ته ورسوه، د هغه څه په تبليغ او ولس ته په رسولو کې هيڅ کمی او قصور مه کوه چې د خپل رب له لوري درکړی شوي؛ که داسې ونه کړې نو تا به خپل الهي رسالت نه وي تر سره کړی؛ د دښمنانو د مخالفتونو هيڅ پروا مه کوه؛ الله تعالی ستا ساتونکی دئ؛ که خلك ستا دعوت ته مثبت ځواب ونه وايي؛ مه مأيوسه کېږه او په خپل دعوت کې کمی مه راوله؛ داسې نه چې د خپل دعوت له نتائجو مأيوس شې او په نيمايي کې ئې پرېږدې. د خلکو د هدايت پرېکړه الله تعالی کوي، د دوی د عدم ايمان وجه دا ده چې الله تعالی دا کافر قوم د هدايت وړ نه ګڼي.

که څه هم په دې مبارك آيت کې خطاب پيغمبر عليه السلام ته متوجه دئ؛ خو هر مسلمان او مخصوصاً علماءو ته چې د پيغمبر عليه السلام ورثه ګڼل کېږي؛ دا خطاب متوجه دئ. بايد د دې رسالت وارثان دا الهي پيغام په بشپړه توګه او د خلکو له وېرې او خوف پرته ورسوي؛ بايد مطمئن وي چې الله تعالی به ئې ساتنه کوي. په داسې حال کې چې د دې او دې ته د ورته آيتونو مفهوم ډېر واضح دئ؛ د صفا او روغ ذهن خاوندان په آسانۍ سره واضح مطلب ترې اخلي؛ خو متأسفانه د کږو او بيمارو ذهنونو خاوندان او هغه چې د قرآن په تحريف کې مهارت او جسارت لري؛ د دې آيت معنی د خپل کوږ ذهن مطابق تحريفوي او وايي: دلته پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چې ته ولې د علي رضي الله عنه امارت نه اعلانوې، که دا کار ونه کړې نو تا خپل رسالت پای ته نه دئ رسولی، ولې له خلکو وېرېږې، ما خو تا ته ډاډ درکړی چې له خلکو دې زه ساتم. پيغمبر عليه السلام د دغه تهديد له اورېدو وروسته خلك په غدير خم کې راغونډ کړل او وئې ويل: د چا چې زه مولا يم علي به ئې مولا وي، علي له حق سره دئ او حق له علي سره، د علي دوست د

خدای دوست دئ او دښمن ئې د خدای دښمن!! او همدا د پیغمبر علیه السلام د ځای ناستي په توګه د علي رضي الله عنه ټاکل وو!! دا په داسي حال کي چي:

● مولا په هیڅ قاموس کي د ولي الامر، امیر او ځای ناستي په معنی نه دئ راغلی، هیڅ خلیفه او امیر ته دا لقب نه دئ کارول شوی، صحابه وو به خپل آزاد کړي غلامان په دې نامه یادول او دا د دې لپاره چي د هغوی درناوی ئې کړی وي او د مریي پر ځای ئې سالار او سردار نومولي وي.

● له دې الفاظو نه علي رضي الله عنه دا غلطه معنی اخیستې او نه صحابه وو.

● پیغمبر علیه السلام ته له حجة الوداع د راګرځېدو په مهال دا اطلاع ورسېده چي د علي رضي الله عنه ځیني هغه ملګري چي له ده سره د زکات د راغونډولو لپاره یمن ته تللي وو؛ دی د یمن د غنائمو په اړه په لاسوهنو او ناروا تصرف متهموي. رسول الله صلی الله علیه و سلم ته له پوښتنو او ګروېږنو وروسته معلومه شوه چي دا کسان له علي رضي الله عنه په دې خفه شوي وو چي د دوی غوښتنو ته ئې مثبت ځواب نه وو ویلی او هغه څه ئې نه وو ورکړي چي ترې غوښتل ئې؛ نو ځکه پیغمبر علیه السلام خلك راغونډ کړل او د علي رضي الله عنه په اړه ئې دې ته ورته څو تأییدي خبري وکړې.

● دغو جنابانو ته وایو: دا هم د قرآن په نسبت یو کرکجن تور دئ او هم د پیغمبر علیه السلام په اړه، نه قرآن دومره مبهم، غامض او پېچلی دئ چي هیڅوك ئې له آیتونو مخامخ مفهوم نشي اخیستی او یوازي د روایاتو په مرسته کولی شي د هغه په مراد او مقصد پوه شي او نه پیغمبر علیه السلام د خپل رسالت په ابلاغ کي دومره غفلت کولو چي په درویشتو کلونو کي ئې د الله تعالی حکم پټ ساتلی وو؛ هغه هم د خلکو له وېري؛ او اوس د ژوند په پای کي، له حجة الوداع د راګرځېدو په مهال، د لاري په نیمایي کي، د الله تعالی د وروستي تهدید په سبب خپل د سفر یاران راغونډوي او په داسي مبهمو الفاظو دا خبره ورته اعلانوي چي له شیعه وو پرته هیڅوك نه دي پرې پوه شوي!! آیا په قرآن او پیغمبر ایمان لرونکی انسان به د داسي کرکجني خبري جسارت وکړي؟!!

● دوی ته وایو: د ځای ناستي نه ټاکل د اسلام او د پیغمبر علیه السلام د عظمت نښه ده، اسلام په موروثي قیادت باور نه لري، دا د جاهلیت د دور پاته شوني ګڼي، په اسلام کي امارت او قیادت اهل ته سپارل کېږي، نه له پلاره زوی ته په میراث پاته کېږي او نه د تره زوی ته، د تره زوی خو د تره په شتون کي په ورثه وو کي نه راځي؛ د پیغمبر علیه السلام د تره عباس رضي الله عنه په شتون کي به د تره زوی څنګه وارث ګڼل کېږي؟

● که قیادت موروثي وی نو له ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم به د دوی هغو زامنو ته پاته شوی وو چي ټول مسلمانان ئې په اهلیت، تقوی او علم باور لري، د ابوبکر رضي الله عنه زوی محمد بن ابوبکر خو په علي رضي الله عنه تر خپلو زامنو هم ډېر ګران

وو؛ هغه ئې د والي په توګه ټاکلی وو.

- موږ نه پوهېږو د دې آيت له کوم لفظ دا معنی راباسئ، آيا ګمان کوئ چې قرآن دومره مبهم او غامض دئ چې يوازې د رواياتو په مرسته ئې په حقيقي معنی پوهېدی شو؟ دلته خو نه تر دې آيت مخکې او نه وروسته د امارت موضوع څېړل شوې او نه د علي يادونه راغلې!! د تبليغ دا الفاظ په دې سورې کې درې ځلي او هر ځل د ما انزل الله د تبليغ او په بشپړه توګه د رسالت د رسولو په اړه راغلي؛ آيا له يوه متعصب او کوږ زړي انسان پرته بل څوك له دې څرګند آيت داسې غلط مفهوم اخيستی شي؟
- موږ په دې عقيده يو چې له عثمان رضي الله عنه وروسته د علي رضي الله عنه د انتخاب په اړه د صحابه وو پرېکړه تر ټولو مناسبه او عادلانه پرېکړه وه، تر بل هر چا زيات دی د دې مقام لپاره وړ وو؛ خو تر دې د مخه هغه په عمر خام وو، د مشرانو صحابه وو په شتون کې ده ته په ځوانۍ کې دا منصب نشو سپارل کېدی.

---

قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لَسْتُمْ عَلَىٰ شَىْءٍ حَتَّىٰ تُقِيمُوا۟ ٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ ۗ وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم مَّآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ طُغْيَٰنًا وَكُفْرًا ۖ فَلَا تَأْسَ عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٦٨﴾

٦٨- ووايه: اې اهل کتاب! تر هغه چې تورات، انجيل او هغه څه چې د خپل رب له لوري درته نازل شوي پلي نه کړئ؛ پر هيڅ څه نه يئ؛ او هغه څه به حتماً د دوی د ډېرو طغيان او کفر ورزيات کړي چې ستا د رب له لوري درته نازل شوی. نو د کافرانو پر دې قوم هيڅ تأسف مه کوه.

---

(٦٨)- دا مبارك آيت په پرېکنده او قاطع الفاظو فيصله کوي چې د اهل کتاب د ايمان دعوی يوازې په هغه صورت کې ارزښت لري چې د تورات او انجيل احکام پلي کړي، له دې پرته ئې نه پر الله تعالی د ايمان دعوی د منلو وړ ده او نه پر الهي کتابونو د ايمان دعوی. پر الهي احکامو د نه عمل کولو په صورت کې دوی اصلاً هيڅ دين او مذهب نه لري او د دې قاطع الهي حکم معنی دا ده چې پر الهي کتاب له تمسك او عمل کولو پرته د ديانت، مذهب او پر الله تعالی او پيغمبر ئې د باور دعوی پوچه او بې ارزښته ده.

همدا راز دا آيت ښيي چې دا بې دينه او بې مذهبه ټولی به داسې ومومې چې له دعوتګرانو سره ئې د مخالفت لويه وجه دا وي چې هغوی د ما انزل الله لوري ته بلنه ورکوي، ګورې به چې دا دعوت د دوی کفر او طغيان لا زيات کړي. مه د دغو کافرانو په بد حالت تأسف کوه او مه ئې له مخالفتونو مأيوسه کېږه، د دوی له مخالفت سره سره خپل دعوت ته ادامه ورکړه.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلصَّٰبِـُٔونَ وَٱلنَّصَٰرَىٰ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْأَخِرِ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٩﴾

٦٩- يقيناً له هغو چې ايمان ئې راوړى او له هغو چې يهودان شوي او له صابئينو او نصرانيانو چې څوك هم پر الله او د آخرت پر ورځې ايمان راوړي او نېك عملونه وكړي نو نه څه وېره پرې شته او نه به غمجن شي.

(٦٩)- دلته د څو مذهبي ډلو يادونه شوې: مؤمنان، يهودان، صابئين او نصارى. له مؤمنانو مراد مسلمانان دي، له يهودانو د موسى عليه السلام پلويان، له صابئينو هغه خلك چې ځان د يحيى عليه السلام پلويان گڼي، ځيني ئې اوس هم په ايران كې مېشت دي، د نصرانيانو په څېر د تعميد په غسل باور لري، د تعميد مراسم په خاصو ورځو كې په يوه سيند كې د خاصو مراسمو په ترڅ كې تر سره كوي، وايي چې دا له يحيى عليه السلام ورته په ميراث پاته دئ، دا له گناهونو د پاكېدو وسيله بولي، احناف ئې د اهل كتاب له ډلې گڼي، ذبائح ئې حلال او له ښځو سره ئې نكاح جائز گڼي؛ او له نصرانيانو د عيسى عليه السلام پلويان مراد دي.

دا آيت موږ ته وايي چې د دغو او نورو مذهبي ډلو لپاره محك دا دئ چې په واقعي معنى ايمان راوړي او عمل ئې نېك او صالح وي، د هر مذهب حقانيت په دغه محك سنجول كېږي، په دې الهي محك او معيار كې نه نوم ارزښت لري او نه ادعاء، له هيچا سره په دې اساس چلن نه كېږي چې كوم مذهبي نوم ئې ځان ته غوره كړى، كومې مذهبي ډلې ته ځان منسوبوي او د كومې عقيدې درلودو ادعاء كوي. له هر چا سره د الله تعالى معامله د ده د ايمان او عمل له مخې ده، د صحيح ايمان او صالح عمل خاوندان د دنيا او آخرت سعادت او بريا تر لاسه كوي.

لَقَدْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَأَرْسَلْنَآ إِلَيْهِمْ رُسُلًاۖ كُلَّمَا جَآءَهُمْ رَسُولُۢ بِمَا لَا تَهْوَىٰٓ أَنفُسُهُمْ فَرِيقًا كَذَّبُواْ وَفَرِيقًا يَقْتُلُونَ ﴿٧٠﴾

٧٠- يقيناً چې د بني اسرائيلو ژمنه مو تر لاسه كړې وه او پيغمبران مو ورلېږلي وو؛ خو كله هم چې كوم پيغمبر هغه څه ورته راوړي چې د دوى نفسونو نه خوښاوو؛ نو ځيني ئې تكذيب كړل او ځيني ئې وژل.

(٧٠)- بني اسرائيلو له الله تعالى سره د دې ژمنه كړې وه چې د ايمان او صالح عمل لار به غوره كوي، د ده پيغمبرانو ته به غوږ ږدي او اطاعت به ئې كوي؛ خو كله چې پيغمبران له

هغو الهي پيغامونو او احکامو سره ورته راغلي چي د دوی د نفسي غوښتنو او هوی او هوس خلاف وو؛ نو ځيني ئې تکذيب کړي او ځيني ئې وژلي. دوی د هوی او هوس بندګان دي، نه يوازې د هغه چا خبره نه مني چي د دوی د نفسي غوښتنو په وړاندي خنډ شي؛ بلکې مخالفت ته ئې ملا تړي او په وژلو ئې هم صرفه نه کوي.

وَحَسِبُوٓاْ أَلَّا تَكُونَ فِتۡنَةٞ فَعَمُواْ وَصَمُّواْ ثُمَّ تَابَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ ثُمَّ عَمُواْ وَصَمُّواْ كَثِيرٞ مِّنۡهُمۡۚ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِمَا يَعۡمَلُونَ ﴿٧١﴾

٧١- او دا ګمان ئې وکړ چي څه عذاب به نه وي؛ نو ړانده او کاڼه شول؛ بيا الله پرې ورحمېدو؛ خو بيا ئې ډېر ړانده او کاڼه شول؛ او الله د هغه څه ښه ليدونکی دئ چي کوي ئې.

(٧١)- دوی ګناهونو ته لاس کړ، په دې ګمان چي په بدو عملونو به سزا ورنه کړی شي او په عذاب به ئې اخته نشي، ګناهونو ړانده او کاڼه کړل، نه ئې د مخکينيو ګناهکارو قومونو بدو پايلو ته وکتل او نه ئې د پيغمبرانو او زړه سواندو دعاتو ويناوو ته اعتناء وکړه؛ الله تعالی پرې رحم وکړ؛ له دې امکله ئې ټول قوم په عام عذاب اخته نه کړ چي د ګناهکارانو شمېر ئې لږ وو؛ دوی بيا هم ګناهونو ته مخه کړه، ډېری ئې په ګناه کې پرېوتل، ګناهونو مزيد کاڼه او ړانده کړل؛ نو ځکه ئې له هغو بدو پايلو سره مخامخ کړل چي په مخکينيو آيتونو کې ورته اشاره شوې. دا معامله د هغه بصير خدای له لوري ورسره شوې چي د دوی ټول پټ او ښکاره عملونه ئې تر نظر لاندي دي.

لَقَدۡ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ مَرۡيَمَۖ وَقَالَ ٱلۡمَسِيحُ يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمۡۖ إِنَّهُۥ مَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ ٱلۡجَنَّةَ وَمَأۡوَىٰهُ ٱلنَّارُۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٖ ﴿٧٢﴾

٧٢- يقيناً هغه کسان کافران شول چي ويل ئې: بې شکه چي الله خو همدا مسيح د مريمې زوی دئ؛ په داسي حال کې چي مسيح به ويل: اې بني اسرائيلو! د الله عبادت وکړئ چي هم زما رب دئ او هم ستاسو رب؛ حقيقت دا دئ چي چا له الله سره شرك وکړ؛ نو يقيناً الله جنت پرې حرام کړی او ځای ئې اور دئ؛ او دغو ظالمانو ته هيڅ مرستندويان نشته.

(٧٢)- يهودانو د عيسی عليه السلام مخالفت وکړ، علماءو ئې هغه ونيولو او رومي حکامو

ته ئې د اعدام لپاره وسپارو؛ دا په داسې حال کې چې د ده تر راتلو د مخه ئې خلکو ته د يوه ژغورونکي مسيحا د راتلو زېرى ورکاوو، همغه منتَظر مسيح راغى؛ د ده دعوت ئې د خپلو غدارېو خلاف ومونډ، مخالفت ته ئې ملا وتړله؛ خو کله چې الله تعالى دا ستر نعمت ترې واخيست او هغه مسيح ترې ولاړ، په دوى کې داسې خلك راپيدا شول چې همدا مظلوم او د خپل قوم له شديد مخالفت سره مخامخ شوى مسيح او د دوى په زعم په صليب ځړول شوى مسيح ئې هغه مقام ته ورسولو چې ويل ئې: دا مسيح د مريمې زوى يو انسان نه وو؛ بلکې خداى وو چې د ده په بڼې کې زمکې ته راکوز شوى وو!! دا په داسې حال کې چې مسيح عليه السلام به خلکو ته ويل: د هغه الله عبادت وکړئ چې هم زما رب دئ او هم ستاسو رب؛ چا چې له الله تعالى سره شرك وکړ؛ جنت پرې حرام دئ، ځاى به ئې د جهنم اور وي؛ داسې ظلم ئې کړى چې هيڅوك او هيڅ څه به ئې د الله تعالى له عذاب ونه ژغورلى شي.

---

لَّقَدْ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ ثَالِثُ ثَلَٰثَةٍ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّآ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ وَإِن لَّمْ يَنتَهُواْ عَمَّا يَقُولُونَ لَيَمَسَّنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنْهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٣﴾ أَفَلَا يَتُوبُونَ إِلَى ٱللَّهِ وَيَسْتَغْفِرُونَهُۥ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٧٤﴾

٧٣- يقيناً چا چې وويل: الله د دريو دريېم دئ؛ هغوى کافران شوي؛ له يوه معبود پرته بل معبود نشته او که ئې له هغه څه ډډه ونه کړه چې دوى ئې وايي نو حتماً به د دوى کافر شوو ته دردناك عذاب ورسېږي. ٧٤- نو آيا الله ته توبه نه کوي او بخښنه ترې نه غواړي؛ په داسې حال کې چې الله مهربان بخښونکى دئ.

---

(٧٣-٧٤)- الله يو دئ، له الله تعالى پرته بل معبود نشته، چا چې له يوازيني الله پرته بل معبود غوره کړ کافر شو، هغه مسيحيان کافران شوي چې په دريو خدايانو باور لري. په کار ده له دې غلطې خبرې لاس واخلي، توبه وکړي او له مهربان بخښونکي رب بخښنه وغواړي.

مسيحيان په دريو خدايانو باور لري؛ خو په عين وخت کې وايي: خداى يو دئ. مخکينى آيت دې ته اشاره کوي چې مسيحيان عيسى عليه السلام ته د خداى په سترګه ګوري او دا آيت ښيي چې دوى عيسى عليه السلام يو له دريو خدايانو ګڼلو؛ د دې عقيدې له مخې يو خداى له دريو خدايانو جوړ شوى: پلار، زوى (مسيح) او روح القدس؛ يعنې خداى له دريو اقانيمو جوړ شوى: يعنې پلار خداى دئ، زوى خداى دئ او روح القدس خداى دئ؛ خو دا درې په ګډه يو خداى دئ!! د ځينو مسيحيانو له نظره پلار، زوى او مريم درې ګوني اقانيم دي!!

د دريو خدايانو خبره په لومړي ځل د يوحنا په انجيل کې ياده شوې، د يوحنا په اړه دا خبره مشهوره شوې چې دی د عيسی عليه السلام له دولسو حواريونو وو؛ خو محققين وايي چې د دې کتاب ليکونکی د اسکندريې د مدرسې يو شاګرد وو؛ نه حواري يوحنا. دی لومړنی کس دئ چې د درې ګونو خدايانو او د مسيح د الوهيت عقيده ئې رامنځته کړه. يوحنا وايي چې مسيح د خدای په خوا کې يوه کلمه وه! انسان شو، زمکې ته راغی او زموږ په منځ کې ئې ژوند وکړ!!

پوښتنه کوو: د دې خبرې معنی څه ده؟ دا خو يوه نامکمله او نامفهومه جمله ده؛ کلمه خو وجود نه لري، کلمه او لفظ خو (شیء) نه دئ چې د خدای په خوا کې ئې وګڼو، کلمه خو د متکلم د ارادې او فکر مظهر دئ او د دې ښودنه کوي چې متکلم څه غواړي او څه وايي؛ د دې ناقصې جملې بشپړه بڼه دا ده چې ووايو: مسيح د الله تعالی د يوې داسې کلمې مظهر دئ چې مريمې عليها السلام ته ئې القاء کړه، الله تعالی فيصله وکړه چې مسيح له پلار پرته او يوازې له مور په فوق العاده توګه پيدا شي، دا فرمان ئې صادر کړ، مسيح د هغې کلمې مظهر دئ چې دا الهي فرمان ئې منعکس کړ. قرآن هم د مسيح عليه السلام په اړه د (کلمه) لفظ کاروي خو د يوه بشپړ، مکمل او واضح آيت په ترڅ کې او فرمايي:

﴿يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَا تَغۡلُواْ فِي دِينِكُمۡ وَلَا تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّۚ إِنَّمَا ٱلۡمَسِيحُ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ رَسُولُ ٱللَّهِ وَكَلِمَتُهُۥٓ أَلۡقَىٰهَآ إِلَىٰ مَرۡيَمَ وَرُوحٞ مِّنۡهُۖ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦۖ وَلَا تَقُولُواْ ثَلَٰثَةٌۚ ٱنتَهُواْ خَيۡرٗا لَّكُمۡۚ إِنَّمَا ٱللَّهُ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ سُبۡحَٰنَهُۥٓ أَن يَكُونَ لَهُۥ وَلَدٞۘ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلٗا ١٧١﴾ النساء:١٧١

اې اهل کتاب! په خپل دين کې غلو مه کوئ او د الله په اړه له حق پرته بل څه مه وايئ، بې شکه چې مسيح د مريمې زوی خو يوازې د الله رسول او د ده هغه کلمه وو چې مريمې ته ئې القاء کړې وه او د ده يوه روح، نو پر الله او پيغمبرانو ئې ايمان راوړئ او مه وايئ چې درې دي؛ ډډه وکړئ چې دا درته غوره دئ؛ الله خو يوازينی اله دئ، له دې منزه دئ چې کوم زوی ئې وي، څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په زمکې کې دي ټول د ده دي او الله د وکيل په توګه کافي دئ.

د بايبل منونکو ته وايو: يوازې مسيح نه بلکې د عالم هر (شیء) د الله تعالی د يوې کلمې مظهر دئ، يوحنا هم د الله تعالی د يوې کلمې مظهر دئ، د الله تعالی له کلمې د يوحنا په څېر يو انسان جوړ شوی، يوحنا بايد د الله تعالی د کلمو شمېر لږ تر لږه هومره وګڼي لکه د عالم د ټولو موجوداتو شمېر. جنابه! ته له يوې خوا وايې چې مسيح کلمه وو، له بلې خوا وايې هغه تل ژوندی وو او پر دې سربېره وايې چې هغه په خپله خدای وو!!

دا درې خبرې هومره متناقضې دي چې يوازې ستر ناپوه او جاهل به په يوه وخت کې ټولې منې!! نه کلمه تلپاته ژوندی (شیء) ګڼلی شو، نه پر خدای د کلمې اطلاق کولی شو او نه د خدای په خوا کې بل شیء په خپله خدای ګڼلی شو!!

يو درې او درې يو ګڼل يوه مغالطه ده، يا به هر يو مستقل ذات لري يا يو ذات، يا درې دي يا يو، په يو وخت کې دواړه خبرې نه عقل مني او نه علم، داسي عدد تر اوسه نه دئ پيدا شوی چې هم يو وي او هم درې، داسې شیء نه شته چې هم يو وي او هم درې، که دا يو درې کړی شي نو هر يو به ئې دريمه برخه وي نه بشپړ يو؛ يوازې ډېر احمق انسان به داسې ناپړته او بېهوده خبره په خوله راوړي چې خدای هم يو دئ او هم درې!!

دوی په دې نه پوهېږي چې که له يوه شي څه بېل شي نو دوه ناقص شيان ترې جوړ شي، که يو په دريو ووېشو درې ناقص اعداد تر لاسه کوو، که د خدای له ذات، ځواك او صفاتو څه بېل او بل ته انتقال شي، نو دوه ناقص خدايان ترې جوړېږي، د بايبل د عقيدې له مخې هم د ده پلار خدای ناقص دئ او هم ئې زوی خدای!! دې اشکال ته په پام سره دوی دې ته مجبور شوي چې د تقسيم پر ځای د تجسيم نظريه وړاندې کړي او ووايي: پلار خدای د زوی خدای په بڼې کې تجسم کړی: خدای له آسمان راکوز شو، د انسان بڼه ئې غوره کړه، له مور دنيا ته راغی، ستر شو، مصلوب شو، درې ورځې وروسته بېرته ژوندی شو او آسمان ته ولاړ!! حال دا چې په دې سره دوی تر مخکې په لا زيات ژور ډنډ کې پرېوځي، د دې غلطې عقيدې معنی خو دا ده چې د بايبل خدای له هغه وخت چې د مور په رحم کې ځای پر ځای شو تر هغې ورځې چې بېرته آسمان ته ختو؛ د عالم پالنه، ساتنه او اداره ئې شا ته پرېښې وه او په خپله نورو ته محتاج وو!! په دې نژدې دېرشو کلونو کې دی هغه خدای نه وو چې دا عالم اداره کوي بلکې د يوه انسان په څېر کمزوری او ضعيف خدای وو!! داسې خو هيڅکله نه شي کېدی چې په نوې بڼې کې له تجسم سره سره په مخکيني حالت پاته وي!!

عجيبه دا ده چې دوی وايي: عيسی د خدای کلمه ده، کلمه د خدای صفت دئ، صفت له خدای بېل نه دئ؛ نو عيسی خدای دئ!! دې جنابانو ته وايو: د خدای کلمه يوه نه بلکې دومره دي چې قرآن ئې داسې بيانوي: که بحر مداد (د قلم رنګ) شي، د زمکې د سر ټولې ونې قلمونه شي، اُوه بحرونه نور ورسره يو ځای شي او د الله تعالی کلمې وليکي؛ نو رنګ به خلاص شي خو د خدای کلمې به لا پاته وي!! دا د عالم هر شیء د الله تعالی د يوې کلمې مظهر دئ، د الله تعالی د (کن) په امر سره راپيدا شوی!! ته هسې د الفاظو په چکر کې لوېدلی یې، يوازې عيسی د خدای کلمه ګڼې او کلمه يوه، په دې هم نه پوهېږې چې کلمه شیء نه دئ او په کلام سره له متکلم کوم شیء نه بېلېږي، کلمه مستقل وجود نه لري، داسې نه چې عيسی عليه السلام يا د عالم دا ټول مخلوقات د الله تعالی له ذاته رابېل شوي؛ بلکې دا هر څه د الله تعالی په يوه فرمان (کلمې) له نشت راپيدا شوي.

دوی روح القدس هم د الله تعالی د رحمت د صفت مظهر گڼي او د کلمې په څېر دلته هم وايي چې رحمت د خدای صفت دئ، صفت له خدای بېل نه دئ؛ نو روح القدس هم خدای دئ!! دا يوه کرکجنه مغالطه ده، دوی دې ته پام نه کوي چې د الله تعالی د رحمت د صفت مظاهر بې انتهاء دي، د عالم هر لوري ته چې مخ واړوو نو د الله تعالی د رحمت بې شمېره مظاهر مو تر سترگو کېږي؛ آيا کولی شو دې هر يوه ته د يوه مستقل خدای نوم ورکړو؟!!

دوی په دې هم نه پوهېږي چې د الله تعالی صفتونه يوازي دا دوه (کلام او رحمت) نه دي، هغه خدای چې يوازي دا دوه صفتونه ولري يو ناقص خدای دئ، د خدای صفتونه بې انتهاء دي، کامل ذات هغه وي چې صفتونه ئې زيات وي، په دې خور وور عالم کې چې څه موږ ته په نظر راځي او په هغه کې کوم صفت گورو دا په حقيقت کې د الله تعالی يو صفت موږ ته راپه گوته کوي، دا په حقيقت کې د الله تعالی د يوه صفت مظهر دئ؛ په دې عالم کې د اشياءو په ليدو سره په حقيقت کې موږ د الله تعالی د بې شمېرو صفتونو مظاهر گورو، دغه عالم موږ ته لارښوونه کوي چې خالق ئې په کومو کومو صفاتو متصف دئ. موږ په عالم کې مخلوقات گورو نو څکه وايو چې الله تعالی خالق دئ، د علم نښې گورو نو څکه وايو چې الله تعالی عليم دئ، د قدرت مظاهر گورو نو څکه وايو چې الله تعالی قدير دئ، ښايست او جمال گورو نو څکه وايو چې الله تعالی جميل دئ... بايبل د دې پر ځای چې د عيسی عليه السلام بې پلاره پيدا کېدا د دې دليل ونيسي چې الله تعالی له پلار پرته هم انسان پيدا کولی شي؛ له دې معکوسه نتيجه اخلي او دا خارق العاده پيدايښت د دې نښه گڼي چې عيسی عليه السلام د خدای يوه ځانگړې کلمه ده، داسې کلمه چې له خدای رابېله شوې، نو څکه دی په خپل ذات کې له خدای سره ورته دئ، خدای له خدای، نور له نور پيدا شوی!! د دې بېهوده خبري معنی دا ده چې آدم عليه السلام هم بايد خدای وگڼو او تر ده مخکې دا د زمکې او آسمان هر څه چې په لومړي ځل او په خارق العاده توگه او د الله تعالی په فرمان او حکم پيدا شوي، د الله تعالی له ذات رابېل شوي او د عيسی عليه السلام په څېر مستقل خدايان وگڼو!! دا خبره به د بايبل له جاهل ليکونکي پرته کوم باشعور انسان ومني؟!!

مَّا ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ مَرۡيَمَ إِلَّا رَسُولٞ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهِ ٱلرُّسُلُ وَأُمُّهُۥ صِدِّيقَةٞۖ كَانَا يَأۡكُلَانِ ٱلطَّعَامَۗ ٱنظُرۡ كَيۡفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ ٱلۡأٓيَٰتِ ثُمَّ ٱنظُرۡ أَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ﴿٧٥﴾

۷۵- مسيح د مريمې زوی خو له يوه استازي پرته بل څه نه دئ، تر ده د مخه هم پيغمبران تېر شوي او مور ئې ډېره رښتينې ښځه وه، دواړو به خوراك کاوو؛ وگوره

چې څنګه څرګند دلائل ورته بیانوو، بیا دې ته هم وګوره چې څنګه دوکه کېږي!

(۷۵)- دلته د دې خبرې د اثبات لپاره چې مسیح یو انسان وو؛ نه خدای او نه د خدای زوی؛ څو مضبوط او انکار نه منونکي دلائل ویل شوي:

- هغه د نورو پیغمبرانو په څېر یو پیغمبر وو، تاسو په ډېرو داسې پیغمبرانو ایمان لرئ چې معجزې ئې درلودې او حتی د ځینو معجزې تر عیسی علیه السلام هم ستري ګڼئ، که ده ته د خدای په سترګه ګورئ نو د هغو نورو په اړه به څه وایئ؟
- تاسو دا منئ چې عیسی علیه السلام د مریمې زوی وو، ماشوم دنیا ته راغی، ورو ورو ستر شو، ځوانۍ ته ورسېد، له انسان پیدا شوي ماشوم ته چې ورو ورو ستر شوی څنګه د خدای نوم ورکوئ؟ له هر څه د هغه همنوع او همجنس پیدا کېږي؛ عیسی علیه السلام ته په دې دلیل باید انسان ووایئ چې له انسان پیدا شوی.
- ده او مور ئې د انسانانو په څېر خوراك کاوو؛ خوراك د احتیاج، نقص او ناتوانۍ نښه ده، هغه څوك خوراك کوي چې له ځانه بشپړ نه وي، بل څه ته اړ وي، له خوراك پرته ژوندی نشي پاته کېدی؛ دا خوراك ته محتاج بندګان څنګه خدای او د خدای مور ګڼئ؟!

عجیبه ده چې څوك دا ټول حقائق له پامه غورځوي او په دروغجنو بې بنسټو خبرو پسې درومي!!

بایبل خدای د یوه انسان په توګه معرفي کوي او حتی د خوراك نسبت ورته کوي!! لیکي: (هغه وخت چې ابراهیم د ممري د سیمي په بلوطو (څېړیو) کې اوسېدو خدای یو ځل بیا ورته راڅرګند شو چې قصه ئې داسې وه: ابراهیم په غرمه کې د خپلې خیمې خوله کې ناست وو چې ناڅاپي ئې ولیدل درې کسان د ده خوا ته راروان دي، له ځای پورته شو او د دوی استقبال ته ورغی، ابراهیم تندی پر زمکه کښېښود او دوی ته ئې وویل: اې ښاغلو! هیله کوم چې لږ تم شئ، د دې وني سیوري ته دمه شئ، زه ځم او ستاسو د پښو وینځلو لپاره اوبه راوړم، یوه مړۍ ډوډۍ به هم راوړم چې وئې خورئ او د سفر د دوام جوګه شئ، تاسو زما مېلمانه یئ. هغوی ورته وویل: چې څه دې وویل همغسې وکړه،... لا زیات وخت نه وو تېر شوی چې ابراهیم څه کوچ، شیدې او کباب خپلو مېلمنو ته راوړل او د دوی مخې ته ئې کښېښودل او په داسې حال کې چې مېلمانه په خوراك لګیا ول دی ئې خوا ته د یوې وني په څنګ کې ودرېدو...)

ګورئ چې بایبل دلته له یوې خوا خدای د انسان په څېره کې انځور کړی، ابراهیم ئې پښې ورمنځلې، کوچ، شیدې او کباب ئې وخوړل او له بلې خوا ئې درې ګونی ګڼلی: درې کسان راغلل، ابراهیم ورته سجده وکړه. قرآن دا ټولې خبرې دروغجنې ګڼي او فرمایي چې د فرشتو یو ټولګی د ځوانانو په بڼه کې د ابراهیم علیه السلام خوا ته راغی، مأموریت ئې دا وو چې د لوط علیه السلام مرستې ته ورشي، هغه وژغوري او مفسد قوم ئې هلاك او

کلی پرې رانسکور کړي. هلته د تلو په دوران کې د ابراهیم علیه السلام خوا ته راغلې چې د ده په کورنۍ کې د دوو پیغمبرانو د پیدا کېدو زېرى ورکړي، د اسحاق او د هغه د زوى یعقوب علیهما السلام د زېږېدو زېرى، ابراهیم علیه السلام د ځوانانو گمان پرې وکړ، دوى ته ئې وریته شوې غوښه راوړه خو هغوى له خوراك ډډه وکړه، په دې توگه قرآن د بایبل منونکو ته وایي: نه یوازې دا چې خداى صمد او بې نیاز دئ، خوراك نه کوي، بلکې د ده فرشتې هم داسې پیدا شوې چې خوراك نه کوي.

قرآن د بایبل د غلطې ادعاء د تردید په اړه په دې قاطع دلیل او حجت استدلال کوي چې څوك خوراك ته اړ وي هغه خداى نه شي کېدى، په هغه د خداى گمان مه کوئ، عیسى علیه السلام او مور ئې خوراك کاوو همدا کافي ده چې باور وکړئ هغوى انسانان وو نه خدایان؛ خوراك د عجز، ضعف او نقص نښه ده.

---

قُلْ أَتَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا ۚ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٧٦﴾

۷٦- ووایه: آیا له الله پرته د داسې څه عبادت کوئ چې نه تا سو ته کوم زیان په خپل واك کې لري او نه هم کومه گټه؛ او دا خو الله دئ چې ښه پوه اورېدونکى دئ.

---

(۷٦)- دا د مسیحیانو د غلطې عقیدې د تردید لپاره بل دلیل دئ: تاسو وایئ چې مسیح علیه السلام او یاران ئې ځورول شوي، زنداني شوي، اعدام شوي، له ملك شړل شوي، په درو وهل شوي او له ډول ډول کړاوونو سره مخامخ شوي؛ څوك چې په خپل ژوند کې نه له ځان ضرر دفع کړى شي او نه له خپلو ملگرو دفاع وکړى شي؛ بل ته به څنگه گټه ورسوي او ضرر به ترې دفع کړي؟!

لازمه ده د دغو مبارکو آیتونو په اړه لږ مزید غور وکړو او د مخکینیو آیتونو په رڼا کې ئې ژور مفاهیم په غور او دقت سره تر نظر تېر کړو. دا آیت د هغه بحث پاى دئ چې د المائدې سورې له ۷۲ آیت پیل شوى؛ دلته هغو ته اشاره شوې چې د شرك مرتکب شوي او مسیح علیه السلام ئې د بندگۍ له مقام د الوهیت مقام ته اوچت کړى؛ حال دا چې مسیح علیه السلام بني اسرائیلو ته ویل: د خداى جل شأنه عبادت وکړئ، هغه زما او ستاسو ټولو رب دئ، هر څوك چې له خداى سره شریك ونیسي پر هغه باندې خداى جنت حرام کړى، ځاى ئې دوزخ دئ، دا ظالمه ډله هیڅ مل او ملگرى نه لري. په دې پسې فرمایي: هغه چې ویل ئې: خداى له دریو خدایانو یو دئ؛ دوى کافر شوي، له الله پرته بل معبود او اله نشته. بیا فرمایي: د مریم علیها السلام زوى مسیح علیه السلام فقط یو پیغمبر وو، داسې پیغمبر چې له ده مخکې د ده په شان ډېر پیغمبران تېرشوي؛ مور ئې نېکه او صادقه ښځه وه. د دې مبحث په پاى او وروستۍ برخې کې دا ۷٦ آیت د دې بحث

د خلاصې او تتمې په شکل راغلی او دا څرګندوي چې بني اسرائيل د مسيح او مريم عليهما السلام په اړه په خپلې عقيدې کې د شرك مرتکب شوي، د هغوی په اړه د دوی عقيده مشرکانه ده، د دوی عبادت ئې کړی او د ګټې په جلب او د زيان په دفع کې ئې له هغوی مرسته غوښتې. له همدې کبله قرآن د دوی په اړه فرمايي: بني اسرائيلو له مسيح او مريم عليهما السلام د ګټې د حاصلولو او د زيان د دفع کولو په هيلې او د مرستې په غوښتلو سره د هغوی عبادت کړی، هغوی ئې خپل خدايان نيولې؛ پداسې حال کې چې مريم او مسيح عليهما السلام لکه د نورو په شان نه د ګټې مالکان دي، نه چا ته زيان رسولی شي، نه د چا چيغې اورېدلی شي او نه د چا د کوم درد دوا ورسره شته. دا يوازې الله دئ چې د ټولو استغاثې او چيغې اوري، دعاءګانې قبلوي او د خپلو بندګانو له ټولو دردونو او غمونو خبر دئ.

څوك چې په دې باور وي چې خدای ئې د رزق او روزي مالك دئ، د هر څه خزانې له هغه سره دي، باران د هغه په اراده ورېږي، دانې او مېوې د هغه په حکم شنې کېږي، د مرګ او ژوند، عزت او ذلت، کاميابۍ او ناکامۍ، صحت او رنځ، دا ټولې فيصلې د هغه له لوري صادرېږي، له دې عقيدې او باور سره سره که څوك له الله تعالی پرته له بل چا طمع کوي او په زړه کې له بل چا وېره او هيله پالي، نو آيا دا په رښتيا چې ډېره عجيبه او د افسوس او حيرت وړ خبره نه ده!!

قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لَا تَغْلُوا۟ فِى دِينِكُمْ غَيْرَ ٱلْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعُوٓا۟ أَهْوَآءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوا۟ مِن قَبْلُ وَأَضَلُّوا۟ كَثِيرًا وَضَلُّوا۟ عَن سَوَآءِ ٱلسَّبِيلِ ﴿٧٧﴾

۷۷- وواېه: اې اهل کتاب! په خپل دين کې په ناحقه غلو مه کوئ او د هغه خلکو د هوی او هوس متابعت مه کوئ چې په خپله لا د مخه تېروتلي او ډېر نور ئې له سمې لارې تېر ايستلي او سمه لاره ئې ورکه کړې.

(۷۷)- دا آيت موږ ته ښيي چې اهل کتاب په دين کې غلو وکړه، د لار ورکو قومونو تر اغېز لاندې لاړل؛ شرك، مجسمې جوړول او مسيح عليه السلام ته د خدای په سترګه کتل؛ هغه څه دي چې دوی له مشرکو او بې لارو قومونو اقتباس کړي، د مجسمو جوړول له رومي بت پالو، د انسان په بڼې کې زمکې ته د خدای راتګ او د انسان په جسد کې د خدای د روح حلول، د تعميد غسل او په دې سره له ټولو ګناهونو پاکېدا؛ هغه څه دي چې دوی له هندوانو او بودايانو تر لاسه کړي.

لُعِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ لِسَانِ دَاوُۥدَ وَعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ ۚ

ذَٰلِكَ بِمَا عَصَواْ وَّكَانُواْ يَعۡتَدُونَ ﴿٧٨﴾

۷۸- د بني اسرائيلو هغه کسان د داؤد او عيسی د مريمې زوی په ژبه لعنت کړی شول چې کافران شوي وو، دا د دې لپاره چې نافرماني ئې کوله او تېری به ئې کاوو.

(۷۸)- دوی د خپلو پيغمبرانو عليهم السلام په ژبه لعنت کړی شوي، د دې لعنت سببونه دوه دي: عصيان او اعتداء؛ په دوی کې لومړی د عصيان او د دين له حدودو د سرغړاوي او بيا د بل په حقوقو د تجاوز او تېري بيماري خوره شوې، دغې بيمارۍ هغه ځای ته ورسول چې د پيغمبر او حق پالو داعيانو د مخالفت حتی وژلو لپاره ملا وتړي او د الله له آيتونو انکار وکړي.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ أَوَّلَ مَا دَخَلَ النَّقْصُ عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ، كَانَ الرَّجُلُ يَلْقَى الرَّجُلَ، فَيَقُولُ: يَا هَذَا، اتَّقِ اللَّهَ وَدَعْ مَا تَصْنَعُ، فَإِنَّهُ لَا يَحِلُّ لَكَ، ثُمَّ يَلْقَاهُ مِنَ الْغَدِ، فَلَا يَمْنَعُهُ ذَلِكَ أَنْ يَكُونَ أَكِيلَهُ وَشَرِيبَهُ وَقَعِيدَهُ، فَلَمَّا فَعَلُوا ذَلِكَ ضَرَبَ اللَّهُ قُلُوبَ بَعْضِهِمْ بِبَعْضٍ "، ثُمَّ قَالَ: {لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُدَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ} إِلَى قَوْلِهِ {فَاسِقُونَ} [المائدة]، ثُمَّ قَالَ: "كَلَّا وَاللَّهِ لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ، وَلَتَأْخُذُنَّ عَلَى يَدَيِ الظَّالِمِ، وَلَتَأْطُرُنَّهُ عَلَى الْحَقِّ أَطْرًا، وَلَتَقْصُرُنَّهُ عَلَى الْحَقِّ قَصْرًا" رواه ابو داؤد

له عبد الله بن مسعود روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: لومړی نقص چې په بني اسرائيلو کې راپيدا شو دا وو چې يوه کس به بل په گناه کې وليد نو ورته وبه ئې ويل: اې فلانيه! له خدای ووېرېږه او کوم کار چې کوې هغه پرېږده، دا درته روا نه دئ؛ سبا به بيا ورسره مخامخ شو، نو د هغه گناه به دی له دې منع نه کړ چې خوراك، څښاك او ناسته پاسته ئې ورسره وي؛ کله چې ئې دا کار وکړ نو الله د دوی زړونه سره ووهل، (د دوی زړونه ئې يوه بل ته له کينې او عداوت ډك کړل)، بيا ئې دا آيت ولوست: " لُعِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۢ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ لِسَانِ دَاوُۥدَ وَعِيسَى ٱبۡنِ مَرۡيَمَۚ إلى قوله "فَٰسِقُونَ"؛ بيا ئې وفرمايل: نه؛ پر الله قسم چې تاسو به حتماً په معروف گمارنه کوئ، له منکر به حتماً مخنيوی کوئ، ظالم به له لاس نيسئ او د ظلم پرېښودو ته به ئې اړ کوئ او د حق منلو ته به ئې مجبوروئ.

كَانُواْ لَا يَتَنَاهَوۡنَ عَن مُّنكَرٖ فَعَلُوهُۚ لَبِئۡسَ مَا كَانُواْ يَفۡعَلُونَ ﴿٧٩﴾

۷۹- دا دوی ول چې يوه به بل له هغو کرغېړنو عملونو نه منع کول چې دوی به

پرې اخته وو؛ څومره بد دئ هغه چې دوی به کاوو.

(۷۹)- پر دوی د الهي عذابونو د نازلېدو یوه ستره وجه دا وه چې یوه به بل له ګناه نه منع کاوو، د دوی علماءو او مذهبي مشرانو د امر بالمعروف او نهي عن المنکر الهي دندي ته شا کړه، خلك به ئې په ګناهونو کې اخته لیدل خو د دوی مخنیوی به ئې نه کاوو؛ دا یو نه بدلېدونکی الهي سنت دئ چې عام عذابونه هغه وخت نازلوي چې په ټولني کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر لړۍ په بشپړه توګه متوقف شي، داسي څوك په ټولني کې نه وي پاته چې د الله تعالی لوري ته بلنه ورکوي، خلك ښېګنو ته رابلي او له بدو عملونو ئې لاس اخیستو ته هڅوي.

تَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۚ لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ أَنفُسُهُمْ أَن سَخِطَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ وَفِى ٱلْعَذَابِ هُمْ خَٰلِدُونَ ﴿٨٠﴾

۸۰- ډېری به ئې ګورې چې له کافرانو سره به دوستي کوي؛ څومره بد دئ هغه چې د دوی نفسونو وروړاندي کړل؛ چې الله پرې په قهر شو او په عذاب کې به تلپاته وي.

(۸۰)- دلته د اهل کتاب د انحراف یوه بله بېلګه زموږ مخي ته کښېښودل شوې؛ چې هغه له کافرانو د کرکې او نفرت پر ځای له هغوی سره دوستي کول دي. قرآن فرمایي چې د دغي ګناه په سبب د الله تعالی له قهر او غضب او تلپاتي عذاب سره مخامخ شول. له دې معلومېږي چې له کافرانو سره دوستي او موالات؛ د الله تعالی په نزد کې څومره ستره ګناه ده. حقیقت دا دئ چې انسان هغه وخت د خپل دین او عقیدې له دښمن سره دوستي ته تیارېږي چې دین او عقیده ورته بې ارزښته شي، په خپلو اغراضو پسې شي، د کافرانو تر فکري اغېز لاندي راشي او د هغوی په څنګ کې خپلو منحطو موخو ته د رسېدو امکانات په نظر ورشي.

وَلَوْ كَانُوا۟ يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلنَّبِىِّ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ مَا ٱتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَآءَ وَلَٰكِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُمْ فَٰسِقُونَ ﴿٨١﴾

۸۱- او که دوی پر خدای، پیغمبر او هغه څه ایمان درلودی چې دوی ته نازل شوي وو نو هغوی به ئې دوستان نه نیول؛ خو اکثر د دوی فاسقان دي.

(۸۱)- دا آیت په قاطع الفاظو حکم کوي چې له کافرانو سره هغه څوك دوستي کوي چې پر خدای، پیغمبر او الهي کتاب ایمان نلري، فاسق وي او خپل فسق ئې د کافرانو دوستۍ

ته هڅوي.

لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ ٱلنَّاسِ عَدَٰوَةً لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱلْيَهُودَ وَٱلَّذِينَ أَشْرَكُواْۖ وَلَتَجِدَنَّ أَقْرَبَهُم مَّوَدَّةً لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّا نَصَٰرَىٰۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنْهُمْ قِسِّيسِينَ وَرُهْبَانًا وَأَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٨٢﴾

٨٢- له مؤمنانو سره په دښمنۍ کې به حتماً يهودان او مشرکين تر ټولو خلکو شديد ومومې او هرومرو به مؤمنانو ته په دوستۍ کې هغه کسان ډېر نژدې ومومې چې وايي: موږ نصارى يو؛ دا د دې لپاره چې د دوى ځيني کشيشان او زاهدان دي او د دې لپاره چې تکبر نه کوي.

(٨٢)- دا آيت موږ ته وايي چې د مسلمانانو تر ټولو سخت دښمنان يهودان او بيا مشرکان دي؛ او له مسلمانانو سره په دوستۍ کې تر ټولو ورنژدې خلك هغه دي چې ځان ته نصارى وايي، دا ځکه چې د دوى ځيني هغه کشيشان دي چې د دين زده کړې ته ئې ځان وقف کړى او ځيني ئې هغه زاهدان دي چې د عبادت لپاره ئې ځان وقف کړى؛ هغه چې له زړه او په اخلاص سره د الله تعالى په دين د پوهېدو هڅه کوي او غواړي په خپل عبادت سره د الله رضاء تر لاسه کړي؛ دوى به حتماً له مسلمانانو سره مينه کوي، ځان به هغوى ته ډېر نژدې ګڼي او دوى به ځان ته ډېر نژدې. د ايمان مانع يا جهل دئ يا د دنيا حب او د خپل هوس بندګي، حقيقي عالم او رښتينى زاهد به خامخا له مسلمانانو سره د دوستۍ لار غوره کوي، له دوى سره به مينه لري او د دوى په څېرو کې به هغه څوك ګوري چې دوى ئې په لټه کې دي.

خو دې ته مو بايد پام وي چې مشرکان يوازې هغو خلکو ته نه ويل کېږي چې د بتانو عبادت کوي (لکه هندوان او بودايان)؛ بلکې د نن ورځې مسيحيان د مکې تر قريشو په شرك کې مخکې دي. که د مکې قريشو کعبه له بتانو ډکه کړې وه؛ دوى خپلې کليساګانې له بتانو او مجسمو ډکې کړې دي، هغوى بتان رب العالمين ته د تقرب وسيله ګڼل؛ خو دوى په دريو خدايانو باور لري او عيسى ته د خداى په سترګه ګوري. دې ته مو هم بايد پام وي چې نني نصارى د رسول الله صلى الله عليه و سلم د دور له نېکو نصرانيانو سره قياس نه کړو، اوسني نصارى د اسلام تر ټولو خطرناك او کينه کښ دښمنان دي، د مسلمانانو په ضد ټول روان جنګونه د دوى له خوا دي، دا دوى دي چې يهودان د مسلمانانو په ضد جنګوي، د اسرائيلو صهيونستي دولت چې نن پر مظلومو فلسطينيانو دا وحشيانه ظلمونه کوي؛ نصرانيانو جوړ کړ، دوى فلسطين وروسپارو، دوى پر بيت المقدس مسلط کړ، دوى وسلې ورکوي او د مسلمانو په ضد ئې جنګوي.

وَإِذَا سَمِعُواْ مَآ أُنزِلَ إِلَى ٱلرَّسُولِ تَرَىٰٓ أَعۡيُنَهُمۡ تَفِيضُ مِنَ ٱلدَّمۡعِ مِمَّا عَرَفُواْ
مِنَ ٱلۡحَقِّۖ يَقُولُونَ رَبَّنَآ ءَامَنَّا فَٱكۡتُبۡنَا مَعَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٨٣﴾ وَمَا لَنَا لَا نُؤۡمِنُ
بِٱللَّهِ وَمَا جَآءَنَا مِنَ ٱلۡحَقِّ وَنَطۡمَعُ أَن يُدۡخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٨٤﴾
فَأَثَٰبَهُمُ ٱللَّهُ بِمَا قَالُواْ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ وَذَٰلِكَ
جَزَآءُ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٨٥﴾

٨٣- او کله چې هغه څه واوري چې پیغمبر ته رانازل شوی؛ د حقیقت د پېژندو له امله به د دوی سترګې ګورې چې له اوښکو بهېږي؛ وايي به: اې زموږ ربه! موږ خو ایمان راوړی نو د شاهدانو په زمره کې مو ولیکه. ٨٤- او ولې به پر الله او پر هغه حقیقت باور نه کوو چې موږ ته رارسېدلی او دا طمع کوو چې زموږ رب به مو د صالحانو په ډله کې داخل کړي. ٨٥- نو الله د دوی د دې وینا په سبب هغه جنتونه په بدل کې ورکړل چې ترې لاندې ویالې بهېږي، تلپاته په هغوی کې او همدا د نېکي کوونکو بدله ده.

---

(٨٣-٨٥)- په دې آیتونو کې د دغو اهل کتاب څو ځانګړتیاوې ښودل شوې:

- کله چې قرآن واوري نو حقیقت ورته څرګند شي نو په همدې سره ئې له سترګو اوښکې بهېږي.
- فوراً ایمان راوړي او الله تعالی ته د دعاء لاسونه اوچتوي او وايي: اې زموږ ربه! ایمان مو راوړ، له هغو کسانو مو وګرځوې چې په دغه حقیقت شهادت ورکوي؛ ایمان ئې په عملي ژوندکې تر سترګو کېږي او د خپل ایمان او عقیدې عیني تجسم وي.
- وايي: د دې لپاره هیڅ دلیل نه ګورو چې په دې کتاب له ایمانه ډډه وکړو، ولې به پر الله او پر دغه حقیقت چې موږ ته وړاندې شوی ایمان نه راوړو؟! موږ خو تل په دې لټه کې وو چې حقیقت ومومو، ایمان پرې راوړو او له دې لارې جنت ته ورسېږو؛ په دې بلنې کې خو موږ خپل مقصود وموندو؛ ولې به ئې نه منو؟!
- د دغې وینا په سبب به ئې تلپاته جنت په برخه شي.

---

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ ﴿٨٦﴾

٨٦- او هغه چې کافران شوي او زما آیتونه ئې تکذیب کړي؛ دوی دوزخیان دي.

(٨٦)- د اهل کتاب د دغه صالح ټولگي په مقابل کې هغه خلك دي چې د کفر لار ئې غوره کړې او د الله تعالی آیتونه تکذیبوي؛ دوی دوزخیان دي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُحَرِّمُواْ طَيِّبَٰتِ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوٓاْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْمُعْتَدِينَ ﴿٨٧﴾ وَكُلُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ حَلَٰلًا طَيِّبًا ۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِىٓ أَنتُم بِهِۦ مُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾

٨٧- اې مؤمنانو! هغه پاکیزه شیان چې الله درته حلال کړي؛ مه حراموئ او تېری مه کوئ؛ الله تېری کوونکي نه خوښوي. ٨٨- او هغه پاکیزه حلال وخورئ چې الله درروزي کړي او له هغه الله ووېرېږئ چې ایمان پرې لرئ.

(٨٧-٨٨)- دلته د تقوی د یوه غلط تصور او انگېرني تردید شوی؛ ځیني خلك داسي دي چې د تقوی په نامه حلال شیان پر ځان حرام کړي، گمان کوي چې په دې کار سره د الله تعالی رضاء تر لاسه کولی شي؛ قرآن په گڼ شمېر آیتونو کې دغه بدعت ته اشاره کړې او مؤمنان ئې ترې منع کړي، په دین کې هر بدعت حرام دئ، هم څه له خپله ځانه پرې زیاتول حرام دي او هم ئې کمول، لکه څنگه چې حرام ته حلال ویل گناه ده، حلال ته د حرام په سترگه کتل هم گناه ده. که تاسو په قرآن کې غور وکړئ وبه گورئ چې اکثراً ناپوه او غرضي خلکو له خپل لوري په دین کې زیاتوالی راوستی او د الله تعالی آسان دین ئې خلکو ته گران کړی، د قرآن په اصطلاح د خلکو پېټی ئې دروند کړی او په لاس پښو کې ئې زنځېرونه وراچولي، پیغمبران علیهم السلام د دې لپاره لېږل شوي چې دغه اضافي پېټي د خلکو له اوږو کوز کړي، دا زنځیرونه وشلوي او هغه څه چې ټگمارو مذهبي مشرانو له خپل ځان پرې حرام کړي بېرته ورته حلال کړي.

قرآن دا کار تېری گڼي چې څوك د الله تعالی له لوري حلال شوي شیان پر ځان حرام کړي او وایي چې الله تعالی داسي خلك نه خوښوي، څوك چې غواړي په دې سره خپل رب راضي کړي؛ په دې دي پوه شي چې داسي کس او داسي کار د الله تعالی نه دئ خوښ.

هغه حلال رزق وخورئ چې پاکیزه وي. د حلال تر څنگ د پاکیزه ذکر ښیي چې کېدی شي کوم حلال شیء په کوم سبب گنده شوی وي؛ له گنده حلال هم باید ډډه وکړئ.

او د آیت په پای کې د یوه جامع حکم په ترڅ کې ویل شوي چې د حلال او حرام په اړه له خپل هغه رب وېره ولرئ چې تاسو پرې ایمان لرئ.

لَا يُؤَاخِذُكُمُ ٱللَّهُ بِٱللَّغْوِ فِىٓ أَيْمَٰنِكُمْ وَلَٰكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا عَقَّدتُّمُ

ٱلۡأَيۡمَٰنَۖ فَكَفَّٰرَتُهُۥٓ إِطۡعَامُ عَشَرَةِ مَسَٰكِينَ مِنۡ أَوۡسَطِ مَا تُطۡعِمُونَ أَهۡلِيكُمۡ أَوۡ كِسۡوَتُهُمۡ أَوۡ تَحۡرِيرُ رَقَبَةٖۖ فَمَن لَّمۡ يَجِدۡ فَصِيَامُ ثَلَٰثَةِ أَيَّامٖۚ ذَٰلِكَ كَفَّٰرَةُ أَيۡمَٰنِكُمۡ إِذَا حَلَفۡتُمۡۚ وَٱحۡفَظُوٓاْ أَيۡمَٰنَكُمۡۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴿٨٩﴾

٨٩- الله مو په لغو او خوشي قسمونو نه نيسي؛ خو په هغو قسمونو مو نيسي چې ترون مو پرې كلك كړی؛ نو كفاره ئې لسو مسكينانو ته د هغه طعام اوسط وركول دي چې خپل ټبر ته ئې وركوئ، يا جامې وركول او يا د يوه مريي آزادول؛ نو چا چې دا ونه موندل نو درې ورځې روژه نيول دي؛ چې كله هم لوړه وكړئ؛ نو دا ستاسو د لوړو كفاره ده او د خپلو قسمونو حفاظت وكړئ؛ همدا راز الله خپل آيتونه درته بيانوي چې شكر وكړئ.

---

(٨٩)- دلته د لوړې او قسم په اړه څو مهمې لارښوونې موږ ته شوې:

- په خوشې قسمونو چې له كوم قصد پرته مو له خولې وځي؛ الله تعالی مو پرې نه نيسي.
- د هغه قسم په وړاندې مسئول ياست چې د كومې ژمنې او تعهد په موخه ئې كوئ.
- كه د داسې قسم ماتولو ته اړ شوئ؛ په داسې څه مو لوړه كړې وه چې عملي كول ئې صحيح او سم كار نه وو؛ نو قسم مات كړئ او كفاره ئې اداء كړئ؛ كفاره ئې لسو مسكينانو ته د هغه طعام اوسط وركول دي چې خپل ټبر ته ئې وركوئ، يا جامې وركول او يا د يوه مريي آزادول دي؛ كه چا دا توان نه درلود نو درې ورځې روژه نيول پرې لازم دي.
- د قسمونو په كولو كې احتياط وكړئ، كله چې قسم وكړئ نو بيا ئې درناوی وكړئ، يا حتماً عمل پرې وكړئ او كه عمل كول مناسب نه وو كفاره ئې وركړئ.

د آيت وروستۍ برخه كه يوازې د آيت له مخكينيو برخو سره مربوط وګڼو نو معنی ئې دا ده چې الله تعالی د قسم په اړه په دې لارښوونو سره پر تاسو احسان وكړ نو د دې احسان شكر اداء كړئ. او كه د مخكينيو آيتونو لپاره ئې هم يوه موزونه تتمه وګڼو نو معنی ئې دا ده چې الله تعالی د دغو احكامو په بيانولو سره پر تاسو احسان كړئ؛ شكر ئې اداء كړئ.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡخَمۡرُ وَٱلۡمَيۡسِرُ وَٱلۡأَنصَابُ وَٱلۡأَزۡلَٰمُ رِجۡسٞ مِّنۡ

عَمَلِ ٱلشَّيۡطَٰنِ فَٱجۡتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ۝٩٠

۹۰- اې مؤمنانو! اصلي خبره دا ده چې شراب، قمار، بتان او د فال غشي د شيطان پليتي کړني دي؛ نو ځان ترې وساتئ چې بريا ومومئ.

---

(۹۰)- په دې جامع آيت کې ستر ستر حرام شيان په لاندي توګه ښودل شوي: شراب، قمار، د بتانو لمانځل او د فال غشي. له بتانو او د فال له غشو مراد هغه حيوانات دي چې د بتانو په نامه ذبح کېږي او يا ئې غوښه د غشو په وسيله وېشل کېږي، تفصيل ئې د همدې سورې په درېيم آيت کې تېر شوی.

د اجتماعي ستونزو په حلولو کې اسلام خپله خاصه کړنلاره لري. د ځينو خاصو اجتماعي ستونزو د حلولو لپاره ئې دا کړنلاره غوره کړې چې ورو ورو د هغوی جرړې باسي، تدريجي بدلون غوره ګڼي، لومړی د داسي تبديلي لپاره ذهني شرائط برابروي، مقدماتي کارونه سر ته رسوي، ريښې ئې يوه په بل پسې قطع کوي او په پای کې د دې اجتماعي ستونزي کرغېړن بوټی له بېخه باسي. د شراب او قمار په اړه اسلام همدا اسلوب غوره کړ، په تدريج سره ئې د دې خبيثه بوټو جرړي وايستلې.

دا آيت د شرابو د تحريم په اړه د قرآن وروستی حکم دئ؛ تر دې د مخه ئې لومړی دا وويل:

يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡخَمۡرِ وَٱلۡمَيۡسِرِۖ قُلۡ فِيهِمَآ إِثۡمٞ كَبِيرٞ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ وَإِثۡمُهُمَآ أَكۡبَرُ مِن نَّفۡعِهِمَاۗ... البقره: ۲۱۹

د شراب او قمار په اړه تا پوښتي؛ ورته ووايه: په دوی کې ستره ګناه ده او د خلکو لپاره څه ګټې؛ خو ګناه ئې تر ګټې ډېره ستره ده.

يعني شراب او قمار د دې لپاره حرام کړی شوي چې تاوان ئې تر ګټې زيات دئ، هم فرد ته او هم ئې ټولني ته. شراب انسان له خپل طبيعي حالت باسي، په خپلې ارادې، ضبط نفس، حواسو او مشاعرو د ده واك کمزوری کوي، له سده ئې باسي او داسي کارونو ته ئې هڅوي چې په طبيعي حالت کې ترې ځان ساتي. او قمار په ناحقه د بل د مال غصبولو وسيله ده، په دې سره هغه حريص انسان په دام کې اچول کېږي چې غواړي له آساني لاري د ډېر مال او ثروت خاوند شي، د ده له دغه کمزورۍ په استفادې سره ځېرك، زرنګ او ماهر ټګماران د ده موجود ثروت هم ترې غارت کړي. اوس خو متأسفانه حکومتونه له خپلو ولسونو سره همدا دوکه او لوبه کوي، د لاټرۍ په غولونکو اعلاناتو کې وايي: خپل بخت وآزموئ، د مليونر کېدو دا طلايي موقع له لاسه مه ورکوئ، کېدی شي د شلو روپو يو ټکټ تاسو ته هومره څه په لاس درکړي چې ټول آرمانونه مو تر سره کړي!! ناپوه او حريص کسان په دې غولوونکو اعلاناتو دوکه کړي، له زرهاوو کسانو پيسې تر

لاسه کړي او د هغه پنځه په سلو کې څو (په اصطلاح بختورو ګټونکو) ته ورکړي او باقي ئې د غلو او خائنو چارواکو د عيش عشرت سامان شي.

وروسته ئې د النساء سورې په ٤٣ آيت کې وفرمايل:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقۡرَبُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنتُمۡ سُكَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَعۡلَمُواْ مَا تَقُولُونَ...

**اې مؤمنانو! په داسي حال کې لمانځه ته مه نژدې کېږئ چي مست وئ؛ تر هغه چي پوه شئ پر هغه څه چي وايئ...**

يعنی لمونځ په داسي حالت کې مه کوئ چي مست وئ او په دې نه پوهېږئ چي څه وايئ. لمونځ خو له الله تعالی سره ستاسو راز و نياز دئ، هغه ته خپل حاجتونه وړاندي کوئ، له خپل زړه راخوتېدلې خبري ورته کوئ؛ په داسي حالت کې په لمانځه ودرېږئ چي خپلو خبرو ته مو پام وي او ورباندي پوهېږئ.

ځيني محققين په دې باور دي چي د شرابو د تقبيح په اړه لومړنی آيت دا دئ:

وَمِن ثَمَرَٰتِ ٱلنَّخِيلِ وَٱلۡأَعۡنَٰبِ تَتَّخِذُونَ مِنۡهُ سَكَرٗا وَرِزۡقًا حَسَنًاۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ۝٦٧ النحل: ٦٧

**او د خرما او انګورو له مېوو چي ترې شراب او غوره رزق تر لاسه کوئ؛ يقيناً چي په دې کې هغو ته نښه ده چي تعقل کوي.**

د دغه آيت په اورېدو سره ډېرو صحابه وو له شرابو ډډه وکړه؛ ځکه چي دلته شراب د غوره رزق په مقابل کې ذکر شوی.

په پای کې ئې په قاطع او څرګندو الفاظو سره د دغو تحريم اعلان کړ او وئې ويل چي دا څلور واړه شيطاني کارونه دي، ځان ترې وساتئ، ستاسو سعادت او بريا په دې کې ده چي له دغو شيطاني کارونو ځان لري وساتئ.

د دې آيت له مخي هغه ټولنه يوه شيطاني ټولنه ده چي دغه شيطاني کړني په کې تر سترګو کېږي. د کومي ټولني په زړه او دماغ چي شيطان حکومت کوي؛ همدغه څلور شيطاني کارونه به په کې وګورئ.

د اسلام او هر الهي دين له مخي (شيطان) د (شر سمبول) او د انسان او انسانيت دښمن دئ، ده د انسان د پيدايښت له لومړۍ ورځي لوړه کړې چي په هر ګام کې به انسان ته په کمين کې کښېني، له ښي او کيڼ اړخه به بريد پرې کوي، له سمي لاري به ئې کږوي، بد شیء او بد کار به ورته ښايسته کوي، د خپل انساني فطرت خلاف جګړي ته به ئې هڅوي او دا به ثابتوي چي انسان د دې وړ او مستحق نه دئ چي د ځمکي خلافت ئې په واک کې وي.

دين چي څه د انسان په ضرر ګڼي او هغه ئې حرام کړي، که دا د ده په ذات پوري تعلق لري او که ئې په ټولني پوري، که د اقتصاد په برخه کې وي او که د اخلاق په برخه

کې، که د ده د سیاسي او اجتماعي نظام مربوط مسئله وي او که په اعتقادي او فکري امورو پورې مربوط مسئله؛ شیطان نه یوازې د دې حرمت نه مني او د انسان په تاوان او ضرر ئې نه ګڼي، بلکې هغه د (خلود او دوام) موجب او د ارتقاء او تعالي باعث ګڼي، څه چې دین ته کرکجن بربښي او انسان ترې منع کوي؛ شیطان هغه انسان ته ښایسته کړي او د هغه په لور لاس غځولو ته ئې هڅوي.

که د غربي نظام مختلفو برخو ته لږ ځیر شئ نو وبه ګورئ چې په دې نظام کې ټول هغه څه حلال ګڼل شوي چې هر الهي دین تحریم کړي، که د قرآن، تورات او انجیل په رڼا کې دا نظام وڅېړئ نو هغه به داسي وموموئ لکه چې شیطان په سپیني ماڼۍ کې د جمهوري ریاست پر کرسۍ ناست او د خپلي خوښي نظام ئې قائم کړی وي، په دې نظام کې ټول هغه څه روان دي چې الهي کتابونه ئې د شیطان کار ګڼي.

که شیطان ته د دې موقع په لاس ورشي چې د نړۍ په کوم ګوټ کې د خپلي خوښي ټولنه جوړه کړي او هغه نظام په کې قائم کړي چې دی ئې غواړي نو د امریکا له اوسنۍ ټولني سره به ئې هیڅ توپیر نه وي. د غربي ټولنو په څېر به ئې یوه ټولنه جوړوله او سیاسي، اجتماعي، نظامي پالیسي به ئې همغسي وه چې نن ئې غربي واکمنان پلې کوي.

که وغواړو چې غربي ټولنه په څو مختصرو کرښو کې تشریح کړو او د دې ټولني د فرهنګي، سیاسي، اجتماعي او اقتصادي برخو اساسي بنسټونه په ګوته کړو نو ویلي شو چې د غربي ټولني د اقتصادي نظام بنسټونه دا دي:

- سود چې د مظلوم او بې وزلي له اړتیا او مجبوریت د ګټي اخیستو وسیله ده او په ټولو الهي ادیانو کې تحریم شوی. سود د غربي ټولني د اقتصادي نظام اساسي بنسټ دئ، د غرب ټوله راکړه ورکړه او اقتصادي مناسبات پر سود ولاړ دي، که د دې ټولني له بانکي سیستم او تجارتي او اقتصادي تعامل؛ سود وباسئ نو دا نظام په ټپه ودرېږي او د یوه ګام مخکي اخیستو توان نه لري.

- قمار چې له زحمت پرته او د یوه حریص انسان د غولولو له لاري ویړیا مال تر لاسه کول دي او د هر دین او هر عادلانه انساني قضاوت له مخي ناروا او ظالمانه عمل دئ، په غرب کې نه یوازې جائز دئ بلکې هم په شخصي توګه او هم په دولتي کچه د ویړیا ثروت تر لاسه کولو یوه مهمه ذریعه ده.

- احتکار چې بداى ته د مسکین او محتاج انسان د استثمار او د نورو د شتمنیو د غارت کولو موقع په لاس ورکوي، له خپلي شتمنۍ په استفادې سره؛ د خلکو د اړتیا وړ شیان په ارزانه بیه تر لاسه کوي، بازار او نرخ په خپل کنترول کې راولي، چې په بازار کې د احتکار شوو شیانو عرضه محدوده او تقاضا زیاته شوه او نرخونه اوچت شول؛ هغه ئې د خپلي خوښي په بیه بازار ته راوباسي او ویړیا ګټه تر لاسه کوي، د دې ګټي عامل نه د ده زیار او زحمت دئ او نه د ده هنر او حکمت، فقط خپلي شتمنۍ او د نورو اړتیا او مجبوریت دا

فرصت ورکړی چي خلك غارت کړي. دا د احتکار د جواز او هغه ته د مشروعيت ورکولو په وجه ده چي د دوا په څېر ضروري شيان هم د خپل اصلي قيمت څو څو ځله په زياته بيه بازار ته عرضه کېږي، د دوا محتکر د دې پروا نه لري چي د ده همنوع انسان له بيمارۍ په دې خاطر مري چي د دوا هغه بيه نه شي ورکولی چي محتکر تر اصلي قيمت څو برابره زياته ټاکلې. يو مثال ئې د ایډز دوا ده، يوې امريکائي کمپنۍ هغه احتکار کړې، نورو کمپنيو ته د هغې د توليد اجازه نه ورکوي، د برازيل حکومت غواړي دا دوا په ارزانه بيه توليد او بازار ته ئې عرضه کړي؛ خو د امريکا حکومت ئې نه پرېږدي. که د دې دوا اصلي بيه يو ډالر وي نو امريکائي کمپنۍ ئې په سل ډالره بازار ته وړاندي کوي.

- غولوونکي تجارتي اعلانات او د ښځو له ښايست، جالب غږ او هڅوونکو حرکاتو د خلکو د راماتولو او د مشتريانو د جلبولو لپاره استفاده.
- د وسلو د خرڅلاو بازارونه لټول او جوړول او په نورو ملکونو کې د دې لپاره د جګړو اورونه بلول.
- د خپلو توليداتو لپاره مارکيټونه لټول او د دې لپاره هم سوړ او هم تود جنګ ضروري ګڼل.
- د پيسو د لاس ته راوړو لپاره هر کار جائز ګڼل، حتی د خپل عفت عرضه کول او د فحاشي داسي رسمي او بربنډ ځايونه جوړول چي دولت ته ټکس ورکوي او دغو ګنده مرکزونو ته د دې اجازه ورکول چي د مشتريانو د پيدا کولو او راماتولو لپاره داسي ټلويزيوني خپروني وکړي چي د فحش کار په پوره وقاحت کې بربنډ ښيي.

د غربي ټولني فرهنګي بنسټونه دا دي:

- آزاد جنسي روابط او ټول هغه اخلاقي او مذهبي حدود او ضوابط ماتول چي جنسي روابط تنظيموي او د قانون په حدودو کې ئې محدودوی.
- شراب، قمار، موسيقي او نڅا.
- لوبې، نه د روغتيا لپاره او نه د ټولو لپاره؛ دا هم د بډايانو په لاس کې په تجارتي وسيلې بدله شوې، لوبغاړي اخيستل کېږي او د لوبو په ننداره پيسې تر لاسه کوي. لوبو، نڅا او سندرو هومره عموميت موندلی چي دا د قرآن له وينا سره سم د دوی په دين او مذهب بدل شوی. ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ دِينَهُمۡ لَهۡوٗا وَلَعِبٗا : هغه چي لهو او لعب ئې خپل دين ګرځولی.

د غربي ټولني ديني او مذهبي جوړښت داسي دئ:

- په خرافاتو باور.
- عيسی خدای او د خدای زوی ګڼل.
- د عيسی ويني د ده د منونکو د معافي ذريعه نيول.

- د عبادت څو مسخره او خندوونکي شکليات.
- خدای له انسان سره تشبيه کول، دا اعتقاد چې خدای انسان خپل صورت ته ورته پيدا کړی، له ختې ئې د ده مجسمه جوړه کړې، بيا ئې په اور اېښې چې پخه شي، بيا ئې د خپلې روح يوه برخه په کې پو کړې.
- مذهبي موسيقي.
- د مذهب په نامه څو مسخره حرکات.
- د خدای پر ځای د شخصيتونو لمانځنه.
- د خدای او بنده تر منځ په واسطې او وسيلې باور.
- په هغو مسخره وړاندوينو باور چې د تورات او انجيل په نامه کتابونو کې راغلې.
- کشيش د خدای استازی ګڼل، د خدای برخه ده ته سپارل، د جنت اسناد له ده په پيسو پېرل او د کليسا په لکهاوو مفت خورو کشيشانو او راهبانو ته د مرفه او آرام بې زحمته ژوند اسباب برابرول.
- د عيسی عليه السلام بيا راتلو او په ټولې نړۍ د مسيحيانو واکمنۍ ته انتظار درلودل.

که د غربي نظام هره برخه د قرآن په رڼا کې وڅېړئ او د شيطان او شيطاني کړنو په اړه چې قرآن څه ويلي؛ د هغوی په خوا کې ئې کښېږدئ وبه ګورئ چې په غربي نظامونو کې ټول هغه څه راغونډ شوي چې هر الهي دين شيطان ته منسوب کړي.

تاسو به په بايبل کې وګورئ چې اکثر پيغمبران عليهم السلام په شراب څښلو او نورو ناوړه کارونو متهموي، حال دا چې هيڅ پيغمبر او حتی هيڅ شريف او هوښيار انسان د شرابو څښلو شوق نه کوي.

نن په غربي ټولني کې شراب عموميت لري، دغو شرابو غربيان هغه ځای ته رسولي چې جنسي بې لاريتوب عام شي، پر زړه او ذهن ئې بې مهاره جنسي تمايلات مسلط شي، ټول ژوند ئې د دې تر اغېز لاندې راشي، هر څه له دغې زاويې ګوري، د جنسي هوس بنده شي، هم ئې دوستي د دې لپاره وي او هم ئې دښمني، له دې پرته بله مينه نه پېژني، د ښځو او نارينه وو آزاد اختلاط او بربنډتوب وربانديې مزيد تيل توی کړي، مسته موسيقي، رقص او نڅا او د عشق او شهوت په ستايني کې سندري لا زيات ورته لمن ووهي، هم ئې بتان او هم ئې مجسمې د ښځو انځورونه شي. که تاسو دا اوس غربي ټولني ته لږ په دقت سره ځير شئ؛ هري خوا ته به دي د ښځو مجسمې تر سترګو شي، هم په معبد کې او هم په مغازه کې، هم د کشيش په وينا کې او هم د ټلويزيون په تجارتي اعلاناتو کې، هلته د تجارت لپاره ښځه او د دې ښايست استعمالېږي، هلته لوړو مراتبو ته رسېدل د ښځو له لاري وي، هلته مور او پلار هېر شوي، د دې ميني ټغر ټول شوی، ځای ئې جنسي هوس او تعلق ته

خالي شوی، له نکاح او د کورنۍ له جوړولو ډډه کېږي دا ځکه چې نکاح د آزاد جنسي تعلقاتو مانع کېږي، له اولاد سره د ښځې او مېړه علاقه او مينه نشته او دا د دې لپاره چې اولاد ساتل او روزل زحمت غواړي او د جنسي تلذذ او خوند اخيستو په وړاندې خنډ کېږي، مېړه او ښځه د دې پر ځای چې اولاد ولري؛ سپی او پشی ساتي، هلته به تاسو له کشيشانو هم واورئ چې مريم عليها السلام په زنا تورنوي او په دې خبرې خاص تأکيد کوي او وايي چې هغې توبه وکړه او بيا ئې دا مقام تر لاسه کړ او دا د دې لپاره چې د يوه زناکار ولس معبود هم بايد د زنا سمبول وي، هلته به تاسو د فرويد په څېر د دوی له فيلسوفانو هم واورئ چې وايي: د انسان د ټولو کړنو، اړيکو او روابطو منشأ جنسي تمايل دئ، د پلار مينه له لور سره او د مور مينه له زوی سره؛ له دغه تمايل راولاړېږي، هم د انسان د ويښې ټول فعاليتونه او هم ئې د خوب خوبونه؛ جنسي منشأ لري. هلته به په بايبل کې ولولئ چې دا د عيسى عليه السلام معجزه ګڼي چې په يوې مېلمستيا کې ئې له اوبو ډك منګي په شرابو بدل کړل.

بايبل يو ځای داسي ليکي:... بت مه جوړوئ او بتان مه لمانځئ، مجسمه، د ډبرو ځلي او تراشلې ډبري د لمانځنې لپاره مه جوړوئ...د مور او پلار احترام کوئ، غلا مه کوئ، درواغ مه وايئ، ځوك مه دوکه کوئ،... جادوګري مه کوئ، فال مه نيسئ، د بت لمانځونکو په څېر پر خپلو مړو ماتم مه کوئ او خپل مخ او ځان مه زخمي کوئ، د سر وېښتان مو د ماتم په توګه مه ګونځي کوئ او خپل ګرېوان مه څيرئ او د دوی په څېر خالونه مه وهئ، کله چې د عبادت خيمې ته درومئ نو هيڅکله شراب او نور مست کوونکي مشروبات مه څښئ... د خنزير غوښه مه خورئ... زنا او لواطت کوونکي بايد ووژل شي، جادوګران او د روح احضاروونکي بايد ووژل شي...

او دا هغه خبري دي چې هر الهي دين ئې کوي، خو تاسو ګورئ چې د بايبل منونکي د دغو ټولو خبرو مخالفت کوي، نه شراب او قمار حرام ګڼي او نه بتان او مجسمې؛ اوس خو ئې د کليساګانو چتونه او دېوالونه هم په بتانو او مجسمو ښايسته شوي.

---

إِنَّمَا يُرِيدُ ٱلشَّيْطَٰنُ أَن يُوقِعَ بَيْنَكُمُ ٱلْعَدَٰوَةَ وَٱلْبَغْضَآءَ فِى ٱلْخَمْرِ وَٱلْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ وَعَنِ ٱلصَّلَوٰةِ فَهَلْ أَنتُم مُّنتَهُونَ ﴿٩١﴾

٩١- شيطان خو غواړي چې په شرابو او قمار سره په تاسو کې دښمني او کينه واچوي او د الله له ذکر او له لمانځه مو مخنيوی وکړي؛ نو آيا امتناع کوونکي يئ.

---

(٩١)- په مخکيني آيت کې د شرابو د تحريم په ارتباط ويل شوي چې دا له يوه پلوه ګنده شیء دئ او له بله پلوه د شيطان د خوښي شیء، په دې مبارك آيت کې د شراب او قمار په رائجولو کې د شيطان موخه په ګوته شوې او همدا د دغو دواړو د تحريم دلائل ښودل

شوي؛ شیطان غواړي په دې سره څو اهداف تر لاسه کړي:

- په خلکو کې د دښمنۍ اورونه بل کړي.
- د خلکو زړونه له کینو ډك کړي.
- د الله تعالی له یاده ئې غافل کړي.
- له هغه لمانځه ئې منع کړي چې دوی هم په خپلو کې سره نژدې کوي او هم ئې له خپل رب سره.

کله چې مؤمنانو دا آیت واورېدو ډېرو په اوچت غږ وویل: انتهینا انتهینا یا ربنا: اې زموږ ربه! لاس مو ترې واخیست، لاس مو ترې واخیست؛ د مدینې په کوڅو کې دومره شراب په زمکه توی شول لکه باران چې په کې ورېدلی وي، تر اوږدې مودې له کوڅو د شرابو بوی تر سپږمو کېدو.

عن ابْنَ عُمَرَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لُعِنَتِ الْخَمْرُ عَلَى عَشْرَةِ وُجُوهٍ: لُعِنَتِ الْخَمْرُ بِعَيْنِهَا، وَشَارِبُهَا، وَسَاقِيهَا، وَبَائِعُهَا، وَمُبْتَاعُهَا، وَعَاصِرُهَا، وَمُعْتَصِرُهَا، وَحَامِلُهَا، وَالْمَحْمُولَةُ إِلَيْهِ، وَآكِلُ ثَمَنِهَا " رواه أبو داود وابن ماجه

له عبد الله بن عمر روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: شراب له لسو اړخونو لعنتي شوی: په خپله شراب، څښونکی ئې، ساقي ئې، پلورونکی ئې، پېرونکی ئې، زبېښونکی ئې، د چا لپاره چې زبېښل کېږي، وړونکی ئې، د چا لپاره چې وړل کېږي او د بها (د پیسو) مصرفوونکی ئې.

اسلامي حکومت په دې مکلف شوی چې د شرابو د تولید، پېر، پلور او څښلو مخه ونیسي، مجرم ته سزا ورکړي، د مجرم سزا د ځینو فقهاءو له نظره څلوېښت درې او د احنافو او ځینو نورو له نظره اتیا درې ده. د عمر رضي الله عنه په زمانه کې د بني سقیف د قبیلې د یوه کس دکان په دې خاطر وسوزول شو چې په پټه ئې شراب پلورل.

---

وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَٱحۡذَرُواْۚ فَإِن تَوَلَّيۡتُمۡ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ﴿٩٢﴾

۹۲- او د الله اطاعت وکړئ او د پیغمبر اطاعت وکړئ او حذر وکړئ؛ نو که مخ مو واړاوو نو پوه شئ چې زموږ د پیغمبر پر ذمه یوازې څرګند تبلیغ دئ.

---

(۹۲)- دا آیت موږ ته لارښوونه کوي چې باید د الهي احکامو اطاعت وکړو، پیغمبر علیه السلام ځان ته لارښود ونیسو، د ده په لاس چې موږ ته څه رارسېدلي په هغه عمل وکړو؛ د پیغمبر علیه السلام ذمه والي دا ده چې الهي پیغام په امانت سره خلکو ته ورسوي؛ که تاسو د دغه پیغام له رسېدو وروسته اعراض وکړئ؛ پیغمبر علیه السلام ستاسو د مخالفت

ذمه وال نه دئ او له هغه ئې پوښتنه نه کېږي. دا آيت موږ ته په وضاحت سره ښيي چې د دغې سورې په ٦٧ آيت کې له ( بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ وَ إِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسالَتَهُ) مراد همغه دئ چې موږ هلته ورته اشاره کړې؛ نه هغه څه چې شيعه ئې ادعاء کوي. د پيغمبر عليه السلام ټول رسالت او هغه پيغام چې د الله تعالی له لوري د ده په لاس خلکو ته لېږل شوی؛ ترې مراد دئ، نه کومه خاصه موضوع. دا مطلب په ٩٩ آيت کې بيا تکرار شوی؛ په ټولو کې عام رسالت ته اشاره شوې نه کومې خاصې او ځانګړې موضوع ته.

لَيْسَ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوٓاْ إِذَا مَا ٱتَّقَواْ وَّءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ثُمَّ ٱتَّقَواْ وَّءَامَنُواْ ثُمَّ ٱتَّقَواْ وَّأَحْسَنُواْۚ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٩٣﴾

٩٣- پر هغو چې ايمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي؛ په هغه څه کې کومه ګناه نشته چې خوړلي ئې دي؛ که ( له دې وروسته) ځان وساتي، (په حرمت ئې) ايمان ولري؛ او نېک عملونه وکړي؛ بيا تقوی وکړي او ايمان راوړي، بيا تقوی او احسان وکړي؛ او الله خو دا محسنين خوښوي.

(٩٣)- که دا آيت له مخکينيو سره په ارتباط کې ونيسو نو معنی ئې دا ده چې د دغو محرماتو له تحريم مخکې چې چا څه ترې خوړلي او څښلي د تقوی او ايمان په صورت کې څه الزام پرې نشته؛ خو که ئې د وروستنيو آيتونو په ارتباط کې ونيسو نو معنی ئې عامه ده او دا مطلب افاده کوي چې د خوراک څښاک پوښتنه په هغه صورت کې نه ترې کېږي چې د تقوی او ايمان لار اختيار کړي.

د شرابو له تحريم وروسته له ځينو صحابه وو سره دا تشويش راپيدا شو چې له هغو مسلمانانو سره به څه کېږي چې له تحريم مخکې ئې شراب څښلي؟! دا مطلب په ډېرو رواياتو کې راغلی چې يو ئې دا دئ:

قال أبو داود الطيالسی: عَنِ الْبَرَاءِ، قَالَ: " لَمَّا أُنْزِلَتْ تَحْرِيمُ الْخَمْرِ قَالُوا: كَيْفَ بِمَنْ كَانَ يَشْرَبُهَا قَبْلَ أَنْ تُحَرَّمَ؟ فَنَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ {لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوا} [المائدة: ٩٣]" رواه الترمذی

په مخکيني آيت کې د دوی دغې پوښتنې ته ځواب ويل شوی؛ چا چې له دې مخکې شراب څښلي خو له دې وروسته ځان ترې وساتي، په حرمت ئې ايمان ولري، صالح عمل وکړي، په تقوی او ځان ساتنې کې مزيد مخکې ولاړ شي، خپل ايمان او باور مزيد مضبوط او

پیاوړی کړي، په تقوی کې دومره مخکې ولاړ شي چې د احسان مرحلې ته ورسېږي؛ پر دوی نه یوازې په دې اړه څه الزام نشته بلکې داسې محسنان د الله تعالی خوښېږي او پرې ګران دي.

له دې آیت معلومېږي چې: تقوی درې مرحلې لري، له کبائرو او محرماتو ځان ساتنه، له صغائرو ځان ساتنه او له مشتبه او مشکوکو مواردو ځان ساتنه.

احسان تر ټولو لوړ معنوي مقام دئ. احسان دې ته وایي چې انسان نه یوازې خپله دنده په ښه توګه تر سره کوي بلکې تر خپل مأموریت او مسئولیت زیات څه کوي؛ مثال ئې هغه مأمور دئ چې په خپل ټاکلي وخت کار ته حاضرېږي او په ټاکلي وخت خپل کار پرېږدي؛ دی یو متقي مأمور دئ، خو هغه چې له ټاکلي وخت مخکې کار ته حاضرېږي او تر ټاکلي وخت وروسته هم د ضرورت په صورت کې کار کوي؛ محسن دئ.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَيَبۡلُوَنَّكُمُ ٱللَّهُ بِشَيۡءٖ مِّنَ ٱلصَّيۡدِ تَنَالُهُۥٓ أَيۡدِيكُمۡ وَرِمَاحُكُمۡ لِيَعۡلَمَ ٱللَّهُ مَن يَخَافُهُۥ بِٱلۡغَيۡبِۚ فَمَنِ ٱعۡتَدَىٰ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَلَهُۥ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٩٤﴾

٩٤- اې مؤمنانو! الله به مو حتماً په داسې ښکار سره آزمویي چې ستاسو لاسونه او نېزې وررسېږي؛ د دې لپاره چې الله معلومه کړي څوك غائبانه ترې وېرېږي؛ نو چا چې له دې وروسته تېری وکړ نو هغه ته دردناك عذاب دئ.

---

(٩٤)- د احرام په حالت کې له ښکار منع شوي یئ؛ کېدی شي ستاسو د آزمویلو لپاره پر تاسو داسې حالت راشي چې ښکار ته مو لاس او نېزې رسېږي؛ الله تعالی غواړي په دې سره تاسو وآزمویي چې په غیاب کې، هغه مهال چې له ده پرته مو بل څوك نه ګوري؛ له ده وېره لرئ که نه او ځان له محرماتو ساتئ که نه؟ د هغه چا لپاره دردناك عذاب دئ چې په دې حالت کې تېری کوي.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقۡتُلُواْ ٱلصَّيۡدَ وَأَنتُمۡ حُرُمٞۚ وَمَن قَتَلَهُۥ مِنكُم مُّتَعَمِّدٗا فَجَزَآءٞ مِّثۡلُ مَا قَتَلَ مِنَ ٱلنَّعَمِ يَحۡكُمُ بِهِۦ ذَوَا عَدۡلٖ مِّنكُمۡ هَدۡيَۢا بَٰلِغَ ٱلۡكَعۡبَةِ أَوۡ كَفَّٰرَةٞ طَعَامُ مَسَٰكِينَ أَوۡ عَدۡلُ ذَٰلِكَ صِيَامٗا لِّيَذُوقَ وَبَالَ أَمۡرِهِۦۗ عَفَا ٱللَّهُ عَمَّا سَلَفَۚ وَمَنۡ عَادَ فَيَنتَقِمُ ٱللَّهُ مِنۡهُۚ وَٱللَّهُ عَزِيزٞ ذُو ٱنتِقَامٍ ﴿٩٥﴾

أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ ٱلْبَحْرِ وَطَعَامُهُۥ مَتَٰعًا لَّكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِۖ وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ ٱلْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًاۗ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِىٓ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٩٦﴾

۹۵- اې مؤمنانو! چې کله په احرام کې وئ نو ښکار مه وژنئ او له تاسو چې چا قصداً ووژلو نو سزا ئې هغه څه ته ورته څاروی دئ چې وژلی ئې دئ؛ چې ستاسو دوه باانصافه به ئې پرېکړه کوي؛ کعبې ته د رسېدونکي نذر په توگه؛ یا څو مسکینانو ته د خوړو ورکولو کفاره ده، یا ئې له دې سره برابر روژه نیول، د دې لپاره چې د خپل کار سزا وڅکي؛ الله د هغه څه عفو وکړه چې پخوا تېر شوي او څوك چې وگرځېدو نو الله به ترې بدل واخلي او الله انتقام اخیستونکی عزتمن دئ. ٩٦- د بحر ښکار او خواړه ئې درته حلال کړی شوي؛ چې ستاسو او د نورو مسافرانو لپاره یوه متاع ده او د وچې ښکار تر هغه پر تاسو حرام کړی شوی چې په احرام کې وئ؛ او له هغه الله ووېرېږئ چې د هغه لوري ته به ورټول کړی شئ.

---

(۹۵-۹٦)- په دې مبارکو آیتونو کې د احرام په حالت کې د ښکار په اړه څو لارښووني شوې:

- د احرام په حالت کې په وچه کې ښکار منع دئ او په بحر کې جائز؛ په بحر کې د جواز حکمت دا دئ چې هلته د خوراك د ختمېدو په صورت کې بله چاره نه وي؛ دغه ضرورت ته په پام سره د بحر ښکار ورته جائز گرځول شوی. محرم به نه خپله ښکار کوي او نه به له بل سره په ښکار کې مرسته کوي؛ که د ده لپاره کوم غیر محرم کس ښکار وکړ؛ محرم ته ئې خوړل جائز نه دي؛ خو که هغه د ځان لپاره ښکار کړی وو او محرم ته ئې د هدیې او تحفې په توگه ورکړ خوراك ئې ورته جائز دئ.

- موذي حیوانات لکه لړم، موږك، تېوس، غټ کارغه، خوړونکی سپی یا لېوه له دې حکم مستثنی دي.

- که له چا دا غلطي وشوه نو کفاره ئې یا ښکار شوي حیوان ته ورته څاروی ذبح کول، یا معادل ئې مسکینانو ته خوراك ورکول یا ئې معادل روژه نیول دي؛ دا پرېکړه به دوه عادل کسان کوي چې د ښکار شوي حیوان معادل قیمت به څومره وي، دی به د دغه مقدار له مخې تصمیم نیسي چې څه وکړي.

- څوك چې د الله تعالی له احکامو سرغړاوی وکړي؛ الله به ترې بدل واخلي؛ الله انتقام اخیستونکی عزتمن دئ. باید له الله ووېرېږئ چې په پای کې هغه ته ورتلونکي یئ او د هغه په وړاندې د خپلو عملونو له سزا سره مخامخېدونکي.

ځیني مفسرین او فقهاء د دغه آیت په استناد د بحر ټول حیوانات حلال گڼي؛ په دې حدیث هم استناد کوي چې له پیغمبر علیه السلام د بحر د اوبو د پاکوالي په اړه پوښتنه

وشوه او رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: اوبه ئې پاکې او مړ شوی حیوان ئې حلال دئ.

فقال رسول الله صلى الله عليه و سلم "هو الطّهورُ ماؤهُ الحِلُّ مَيتَتُهُ" وقد روى هذا الحديث الإمامان الشافعي وأحمد بن حنبل وأهل السنن الأربع وصححه البخاري والترمذي وابن حبان وغيرهم

دا حدیث امام شافعي، امام احمد حنبل د څلورو سننو خاوندانو روایت کړی او بخاري، ترمذي او ابن حبان ئې صحیح ګڼي.

ځیني نور د بحر له طعام هغه حیوانات مرادوي چې له بحر پرته له ښکار تر لاسه شي، لکه دا چې بحر ئې بهر وغورځوي او ځیني نور ئې هغه بحري حیوانات بولي چې په خپل مرګ مړه شوي؛ په دې شرط چې ګنده شوي نه وي.

احناف یوازې ماهیان حلال ګڼي او د مړه ماهي په اړه په دې حدیث استناد کوي:

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ: "كُلُوا مَا حَسَرَ عَنْهُ الْبَحْرُ وَمَا أَلْقَاهُ، وَمَا وَجَدْتُمُوهُ مَيْتًا أَوْ طَافِيًا فَوْقَ الْمَاءِ فَلَا تَأْكُلُوا" سنن الدار قطنی

له جابر بن عبد الله روایت دی رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: هغه وخورئ چې سیند ترې تللی وي یا ئې بهر ته غورځولی وي؛ خو هغه چې مړ یا د اوبو پر سر نه ډوبېدونکی ومومئ مه ئې خورئ.

امام مالك، امام شافعي، ابن ابي لیلیٰ، اوزاعي او ثوري د اشجعي د روایت له مخې وایي: د بحر هر حیوان په شمول د ماهي او نورو ژوو خوړل کېدی شي، که ښکار شوی وي او که مړ وموندل شي، امام مالك او پلویان ئې د پیغمبر علیه السلام په دې قول استناد کوي چې فرمایي: (د سیند) اوبه پاکې او مړ شوی (حیوان) ئې هم حلال دئ. شافعي وایي: د اوبو خنزیر (غوښه خوړل) هم څه اشکال او مانع نلري؛ او لیث وایي: د بحر په مړه حیوان کې کوم اشکال نشته، همدا راز د اوبو سپی او آس ئې.

قال مالك و الشافعي و ابن أبي ليلىٰ و الأوزاعي و الثوري في رواية الأشجعي: يؤكل كل ما في البحر من السمك والدواب وسائر ما في البحر من الحيوان وسواء اصطيد أو وجد ميتا واحتج مالك ومن تابعه [بقوله عليه الصلاة والسلام في البحر: هو الطهور ماؤه الحل ميتته] قال الشافعي: لا بأس بخنزير الماء وقال الليث: ليس بميتة البحر بأس قال : وكذلك كلب الماء وفرس الماء

دوی په دې روایت استناد کوي چې په کې ویل شوي: یوه ډله د اصحابو چې په سفر تللي وو، د سیند په غاړه ئې یو ستر ماهي وموند، اتلس ورځې ئې لښکر ترې وخوړل، دومره ستر وو چې تر پوښتۍ لاندې ئې یو اوښ تېرېدی شو، کله چې مدینې ته راستانه شول دا قصه ئې پیغمبر علیه السلام ته وکړه، هغه وفرمایل: دا د الله تعالی له لورې تاسو ته رزق وو چې له سیند ئې درته راایستلی وو، آیا څه غوښه ئې درسره پاته ده چې پر موږ

ئې وخورئ؟ موږ ورولېږله او هغه وخوړله.

... فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ أَتَيْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرْنَا ذَلِكَ لَهُ، فَقَالَ: «هُوَ رِزْقٌ أَخْرَجَهُ اللهُ لَكُمْ، فَهَلْ مَعَكُمْ مِنْ لَحْمِهِ شَيْءٌ فَتُطْعِمُونَا؟»، قَالَ: فَأَرْسَلْنَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهُ فَأَكَلَهُ رواه مسلم

دغو رواياتو او د فقهاءو آراءو ته په پام سره څو خبري کېدی شي:

- د سيند او وچې د حيواناتو د حل او حرمت تر منځ توپيرونه شته.
- کوم فقهاء او مفسرين چې د اوبو ټول حيوانات حلال ګڼي د دې آيت د الفاظو په عموميت او په اړوند احاديثو استناد کوي.
- د سيند هغه حيوانات چې ځيني فقهاء ئې د غوښي خوراك ناجائز ګڼي دا عدم جواز د کراهيت په کچه ده نه د حرمت په کچه، د حرمت لپاره صريح نص ته ضرورت وي، چې نشته.

---

جَعَلَ ٱللَّهُ ٱلْكَعْبَةَ ٱلْبَيْتَ ٱلْحَرَامَ قِيَٰمًا لِّلنَّاسِ وَٱلشَّهْرَ ٱلْحَرَامَ وَٱلْهَدْىَ وَٱلْقَلَٰٓئِدَ ذَٰلِكَ لِتَعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ وَأَنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿٩٧﴾ ٱعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ وَأَنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٩٨﴾

۹۷- الله د کعبې دا محترم کور د خلکو لپاره د قيام وسيله ګرځولی او درنه مياشت هم او نذر شوی څاروی او امېلمن څاروي هم، دا د دې لپاره چې پوه شئ الله په ټولو هغو شيانو پوهېږي چې په آسمانونو او زمکې کې دي او دا چې الله په هر څه ښه پوه دئ. ۹۸- په دې پوه شئ چې الله هم سخت عذاب ورکوونکی دئ او هم مهربان بخښونکی.

---

(۹۷-۹۸)- کعبه د خلکو لپاره د قيام، نظم، ثبات او امن وسيله ده، دا يوازې د طواف لپاره يا په لمانځه کې د مخ لورې او قبلې په توګه نه ده ټاکل شوې، بلکې د خلکو د فردي او اجتماعي ژوند د سمون او ثبات لپاره د اساس او بنسټ حيثيت لري، دا ځکه چې:

- دا د مسلمانانو د يووالي او وحدت ذريعه ده، د کور يووالی د کور اوسېدونکي سره متحد کوي او په دوی کې د يووالي احساس راولاړوي، د يوې کورنۍ غړي په دې خاطر يو موټی وي چې کور ئې ګډ دئ، د يوه ټبر خلك د کور د بېلوالي په وجه ورو ورو هومره سره

لري شي لکه پردي.

- هر کال د نړۍ د بېلو بېلو قومونو په لکونو استازي د الله تعالی په دې کور کې راغونډېږي، په يو رنګ جامو کې، په ګډه او د يوه بل څنګ ته د الله د کور طواف کوي، د نړۍ هيڅ دين او مذهب او هيڅ سياسي نظام نشي کولی د دنيا د مختلفو ملتونو او نسلونو دومره خلك په يوه وخت او يوه ځای کې راغونډ کړي، هغه هم په خپل مصرف او له داسي پاکيزه او سپېڅلي شعور سره.

- هره ورځ په مليونو انسانان له خپلو نورو مسلمانو وروڼو سره يو ځای په وار وار د خدای جل جلاله د کور په لوري مخ کوي او په دې سره عملاً ښيي چي د ده او نورو مسلمانانو لوری او سمت يو دئ. له نورو سره يو ځای د الله د کور په لوري مخه کول او د يوه معبود دړي ته د درېدو معنی دا ده چي ستا د قبلې ورور، ستا ورور او ستا د لويي ديني کورنۍ غړی دئ.

- دا له الله تعالی پرته د بل چا کور ته له درېدو د بې نيازۍ درس ورکوي، هغه څوك چي په شپه ورځ کې پنځه ځله په واقعي معنی او له دې شعور سره قبلې ته مخه کوي چي زه د زمکې او آسمانونو او ټول عالم د رب د کور لوري ته مخه کوم او د هغه دروازه ټکوم، آيا ممکنه ده بلې دړې ته ودرېږي او د بل کور طواف وکړي؟

- د کعبې طواف او په لمانځه کې د کعبې په لوري مخ اړول د دې نښه ده چي دا خلك ټول په ګډه دا عزم اعلانوي چي له الله جل جلاله پرته د بل چا کور ته نه مخه کوو، نه پناه وروړو او نه ئې دړه ټکوو.

ته ډېر خلك داسي ګورې چي په دې سبب د بل په وړاندي ذلت ته تسليم شوي چي قبله ئې د الله جل جلاله کور نه، بلکې د دنيا د واکمنانو قصرونه وي، مخه ئې همدې قصرونو ته، طمع ئې له همدې قصرونو، وېره ئې له همدې قصرونو، طواف ئې د همدې قصرونو، د دې قصرونو د خاوندانو احترام ئې په زړه کې او د دوی لويي او عظمت ئې په دماغ مسلط.

آه، څومره ډېر خلك داسي ګورم چي په ظاهر کې ئې مخه د خدای د کور په لوري وي خو په حقيقت کې د دوی د زړونو قبلې نوري، په هماغه وخت کې چي د بيت الله په لوري ئې مخه وي، زړه ئې نورو قبلو ته متوجه وي. ډېر خلك بيا داسي دي چي د قبلې د سم او دقيق استقامت معلومولو لپاره ښه غور او احتياط کوي، حتی قطب نما په جيب کې ګرځوي، خو که د دوی د زړه کيفيت معلوم کړې پوه به شې چي د دوی د زړونو قبلې څومره کږې دي او څومره له اصلي قبلې په معنوي لحاظ کاږه درېږي!!

د دغه مبارك او محترم کور په سبب هغه مياشتي هم محترم او د درناوي وړ ګڼل شوې چي په هغې کې خلك د طواف لپاره راځي او هغه څاروي هم چي د دې کور خوا ته د قربانۍ لپاره بېول کېږي او په غاړو کې ئې امېلونه اچول شوي. د دغې کعبې له برکته به

د هر کال دربیمه برخه، څلور میاشتې، په ټول حجاز کې بشپړ امن او امان وو، د دښمن د قبیلې کاروانونه به ئې مخې ته تېرېدل خو د دغو محترمو میاشتو د درناوي لپاره به ئې هغوی ته په بده سترګه نه کتل او مخه به ئې نه نیوله، په ټول حجاز کې به عام اوربند وو، هر چا به توري په تېکو کې کړې، د انتقام او غچ جذبه به ئې مړه شوه، په حرم کې به ئې د خپل پلار قاتل تش لاس او بې وسلې وموند خو څه ئې نه ورته ویل.

د حج په موسم کې به د مکې تجارتي بازار داسي تود وو چي مثال به ئې په نورو وختونو کې نشو تر سترګو کېدی، دې مبارك کور له اقتصادي پلوه هم د مسلمانانو په ژوند کې ژور او پراخ اغېز درلود، قرآن قریشو ته په خطاب کې فرمایي چي الله تعالی د دغه مقدس او مبارك الهي کور له برکته ستاسو لوږه له منځه یووړه او په عوض کې ئې پراخ رزق درکړ، ستاسو خوف او وېره ئې ختمه کړه په بدل کې ئې داسي امن او امان درپه برخه کړ چي اوس په دوبې او ژمي کې، شپه او ورځ سفر کولی شئ، هیڅوك مو نه مزاحم کېږي، په هر ځای کې امنیت دئ، ستاسو تجارتي قافلې په ډاډه زړه او پوره امنیت له یوه ښار بل ته درومي، ټولي تجارتي لاري ستاسو له سیمي تېرېږي، مکه د سیمي تر ټولو په ستر او مهم تجارتي مرکز بدله شوې، چي ستاسو لپاره ډېري ګټې له ځان سره لري. د اقتصادي ګټو تر څنګ ئې د ټولو عربو قیادت او زعامت هم تاسو ته سپارلی، د حجاز ټول عرب قبائل، تاسو او ستاسو دا ښار خپل محور او قبله ګڼي، یو خور وور وېشل شوی قوم وئ، له فقر، لوږي او کورنیو جګړو سره مخامخ، د داسي خطرناکو او کینه کښو دښمنانو په محاصره کې چي تل ئې تاسو ګواښلئ، ستاسو رب د دښمنانو بریدونه دفع کړل، تاسو ئې له فقر او لوږي وژغورلئ، د خوف او وېري ټغر ئې ټول کړ، د دې سترو سترو الهي نعمتونو تقاضا دا ده چي قدر ئې وکړئ، د منعم شکر پر ځای او عبادت ئې وکړئ.

پوه شئ چي دا محترم شعائر د هغه الله تعالی له لوري ټاکل شوي چي په هر څه پوه دئ، پوهېږي چي په دغو کې تاسو ته څومره دنیوي او اخروي ښېګڼې مضمر دي.

په دې هم باید پوه وئ چي الله تعالی هم شدیدالعقاب دئ او هم مهربان بخښونکی، که له الهي احکامو سرغړاوی او د شعائرالله سپکاوی وکړئ نو د الله تعالی له شدید عقاب او عذاب سره مخامخ کېږئ او که الله تعالی ته رجوع وکړئ هغه به مهربان بخښونکی وموموئ.

---

مَّا عَلَى ٱلرَّسُولِ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُۗ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تُبۡدُونَ وَمَا تَكۡتُمُونَ ﴿٩٩﴾

۹۹- پر پیغمبر له رسولو او تبلیغ پرته بله ذمه والي نشته او الله په هغه څه هم پوهېږي چي څرګندوئ ئې او په هغه هم چي پټوئ ئې.

---

(۹۹)- قرآن دلته یو ځل بیا خپل مخاطب ته وایي چي د الله د پیغمبر دنده یوازي دا ده چي د ده پیغام په امانت سره خلکو ته ورسوي، دا چي خلك له پیغمبر او د ده له پیغام

سره، په پټه یا په ښکاره، څه چلن کوي، الله پرې پوهېږي، محاسبه به ئې ورسره کوي.

قُل لَّا يَسۡتَوِي ٱلۡخَبِيثُ وَٱلطَّيِّبُ وَلَوۡ أَعۡجَبَكَ كَثۡرَةُ ٱلۡخَبِيثِۚ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ يَٰٓأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴿١٠٠﴾

۱۰۰- ووایه: ناپاك او پاك سره برابر نه دي كه څه هم د ناپاكانو زیاتوالی دي حیران كړي، نو له الله ووېرېږئ اې عقلمنو چې بریا ومومئ.

(۱۰۰)- دلته د مخکینیو مضامینو لپاره یوه ډېره جامع او زړه راښکونکې تتمه راغلې او ویل شوي چې: ناپاك او پاك سره برابر نه دي، كه څه هم د ناپاكو زیاتوالی دي حیران كړي، لږ پاك تر ډېرو ناپاكو غوره وګڼه، لږ حلال رزق تر ډېر حرام رزق غوره وګڼه، لږ پاك لمني او صالح ملګري تر ډېرو ناولو، بدلمنو او مفسدو پلویانو غوره وګڼه، كه عقلمن یئ نو له الله ووېرېږئ او له ناپاكو ځان لرې وساتئ.

دا آیت د (ارزښت) لپاره خاص او ځانګړی معیار وړاندې كوي، چې د بې ایمانو خلكو له معیارونو سره ژور توپیر لري، دوی مقدار ته اهمیت وركوي خو دا آیت د شمېر او مقدار پر ځای پاكوالی د ارزښت بنسټ ګڼي، هغه ارزښتناك او د قدر وړ نه دئ چې د وزن او مقدار له پلوه دروند او زیات برېښي، بلكې هغه ارزښتناك دئ چې په پاكوالي كې تر بل مخكې وي، كه له ناروا لارو زر ناپاكې سكې تر لاسه كړې هغه یوه سكه تر دې غوره ده چې له حلالې لارې په لاس درځي، یو جام پاكې اوبه د یوه لوی ډنډ تر ناپاكو اوبو ډېرې غوره دي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَسۡـَٔلُواْ عَنۡ أَشۡيَآءَ إِن تُبۡدَ لَكُمۡ تَسُؤۡكُمۡ وَإِن تَسۡـَٔلُواْ عَنۡهَا حِينَ يُنَزَّلُ ٱلۡقُرۡءَانُ تُبۡدَ لَكُمۡ عَفَا ٱللَّهُ عَنۡهَاۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٞ ﴿١٠١﴾ قَدۡ سَأَلَهَا قَوۡمٞ مِّن قَبۡلِكُمۡ ثُمَّ أَصۡبَحُواْ بِهَا كَٰفِرِينَ ﴿١٠٢﴾

۱۰۱- اې مؤمنانو! د هغو شیانو په اړه پوښتنه مه كوئ چې كه درته څرګند شي نو خفه به مو كړي او كه د هغه په اړه هغه وخت پوښتنه وكړئ چې قرآن نازلېږي نو درته څرګند به شي، الله دي د دې عفو وكړي او الله حلیم بخښونكی دئ. ۱۰۲- یقیناً چې تر تاسو د مخه ځینو خلكو پوښتلي وو بیا پرې كافر شول.

(۱۰۱-۱۰۲)- دلته د پوښتنو په اړه یوه جامع لارښوونه شوې، ویل شوي چې د هرې خبرې پوښتنه په خپل وخت او خپل مناسب ځای كې وكړئ، د یوې موضوع په اړه له خپل وخت

او ځای مخکې پوښتنه مه کوئ، داسې پوښتنې اکثراً د دې پر ځای چې ګټه وکړي انسان ته ستونزې راولاړوي، قرآن دغه مطلب ته په دې آیت کې اشاره کړې، خلکو به له پیغمبر علیه السلام راز راز پوښتنې کولې او دا انتظار ئې درلود چې د دوی د هرې پوښتنې ځواب به ورکوي، دوی ته لارښوونه وشوه چې په یوه څه پوهېدل ځانته وخت او ځانته خاصه لار لري، په خپل وخت او له خپلې لارې ئې د پوهېدو لپاره صبر وکړئ، کله چې د اړوند موضوع په اړه په قرآن کې لارښوونه وشوه، هملته به ئې ټول اړوند جوانب هم درته څرګند کړی شي. مثال ئې دا وګڼئ چې الله تعالی د شرابو د تحریم لپاره خاص وخت ټاکلی وو، داسې وخت چې مسلمانان له ذهني، روحي او عملي لحاظه د دې حکم تعمیل ته چمتو شوي وي، تر دې د مخه ئې نه غوښتل چې د تحریم حکم صادر کړي، که چا تر دې د مخه له رسول الله صلی الله علیه و سلم د شرابو د حکم په اړه پوښتلي وی او هغه مبارك ځواب ورکړی وی چې شراب نجس او شیطاني شيء دئ، ځان ترې لرې وساتئ، ډېرو ته به دې حکم ستونزې راولاړې کړې وې، نو په کار ده چې تر خپل وخت وړاندې د یوې موضوع په اړه پوښتنې مه کوئ، الله تعالی د مخکینیو اشتباهاتو عفو درته کړې، دا ځکه چې الله تعالی حلیم بخښونکی دئ.

مَا جَعَلَ ٱللَّهُ مِنۢ بَحِيرَةٖ وَلَا سَآئِبَةٖ وَلَا وَصِيلَةٖ وَلَا حَامٖ وَلَٰكِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَۖ وَأَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ ﴿١٠٣﴾

۱۰۳- الله نه کومه بحیره ټاکلې، نه سائبه، نه وصیله او نه حام، خو کافران پر الله دروغجنې افتراءګانې کوي او اکثر ئې تعقل نه کوي.

(۱۰۳)- قریشو به ځینې څاروي د بتانو په نامه نذر کړل، د چا به شیدې، د چا به غوښه او له چا به بله استفاده حرام ګڼل کېده، په دغو ئې د بحیره، سائبه، وصیله او حام نومونه ایښي وو، الله تعالی فرمایي چې دا نومونه کافرانو له ځانه وضع کړي، الله تعالی ته هیڅ اعتبار نلري، دا د بې عقلو خلکو افتراءات دي، حلال شیان ئې حرام کړي.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَإِلَى ٱلرَّسُولِ قَالُواْ حَسۡبُنَا مَا وَجَدۡنَا عَلَيۡهِ ءَابَآءَنَآۚ أَوَلَوۡ كَانَ ءَابَآؤُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ شَيۡـٔٗا وَلَا يَهۡتَدُونَ ﴿١٠٤﴾

۱۰۴- او کله چې ورته وویل شي: هغه څه ته چې الله نازل کړي او پیغمبر ته راشئ،

وايي: هغه راته بس دي چې خپل پلرونه مو پرې موندلي، آيا سره له دې چې پلرونه ئې نه په څه پوهېدل او نه په سمه لار روان ول؟!

(١٠٤)- كله چې د الله تعالى دين ته راوبلل شي او دا بلنه وركړى شي چې د پيغمبر عليه السلام خوا ته راشي چې لارښوونه ئې وكړي او حلال او حرام وروښيي نو دا كافران په خپل پلرني زوړ مذهب ټينګار كوي او په دې دليل خپل مذهب سم او صحيح ګڼي چې له پلار نيكه په ميراث ورته پاته دئ، كه څه هم پلرونه ئې ناپوه او بې لاري ول. جاهلو قومونو تل خپلو پيغمبرانو ته همدا ځواب وركړى چې ستا لپاره د خپل پلار نيكه مذهب نشو پرېښودى!!

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ عَلَيۡكُمۡ أَنفُسَكُمۡۖ لَا يَضُرُّكُم مَّن ضَلَّ إِذَا ٱهۡتَدَيۡتُمۡۚ إِلَى ٱللَّهِ مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيعٗا فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿١٠٥﴾

١٠٥- اې مؤمنانو! پر تاسو د خپل ځان ذمه والي ده، كه په سمه لار روان وئ نو هغه څوك هيڅ ضرر نشي دررسولى چې بې لاري شوى، ستاسو ټولو بېرته ګرځېدل د الله په لوري دي، نو په هغه څه به مو خبر كړي چې كول مو.

(١٠٥)- كه كفار ستاسو بلنه او دعوت ونه مني، په خپل غلط دين ټينګار وكړي او له مخالفت لاس وانه خلي، تاسو ئې ذمه وال نه ياست، د دوى پوښتنه له تاسو نه كېږي، تاسو د خپلو اعمالو په اړه پوښتل كېږئ، دا پوښتنه به درنه كېږي چې آيا خپله ذمه والي مو تر سره كړې، خپل فرائض مو اداء كړي، د امر بالمعروف او نهي عن المنكر شرعي مسئوليت مو اداء كړى، دوى مو د الله تعالى دين او د پيغمبر اطاعت ته رابللي؟ كه تاسو خپل الهي مسئوليتونه اداء كړي وي نو د دوى د مخالفت او انكار پوښتنه له تاسو نه كېږي، تاسو د دوى د حتمي هدايت ذمه وال نه يئ.

كه څه هم دا آيت ډېر واضح دئ، ارتباط ئې له مخكيني آيت سره هم ډېر څرګند دئ او هغه دا چې كافرانو ته د الله تعالى په لور او د پيغمبر عليه السلام اطاعت ته له دعوت او بلني وروسته كه هغوى په خپل زوړ دين ټينګار كوي، تاسو ئې ذمه وال نه يئ او په داسي حال كې چې دا مطلب د پيغمبر عليه السلام په اړه هم څو ځلي مخكې تكرار شو او د ټولو مدعا سره ورته او واضح ده، خو متأسفانه د كږو زړونو خاوندان ئې غلط تعبيروي او د خپلو غلطو انګېرونو او افكارو د اثبات لپاره ترې ناروا استفاده كوي.

د جهاد مخالفين او هغه چې له دين د دفاع په لار كې د قربانۍ وركولو او له خطرونو سره ډغرو وهلو ته چمتو نه دي، دا آيت داسي تعبيروي چې ګواكې مسلمان يوازي د خپل ځان ذمه وال دئ، په دې نه دئ مكلف چې د نورو د اصلاح هڅه به كوي!! دوى ته وايو:

د دعوت، تبليغ، امر بالمعروف، نهي عن المنكر او جهاد في سبيل الله په اړه د هر مسلمان ذمه والي همغسي ده لكه د پيغمبر عليه السلام او د كافرانو او مخالفينو په اړه د دوى ذمه والي همغسي ده لكه د دوى د پيغمبر عليه السلام، كه هغه يوازي په ځان بسنه نه ده كړې، د الله په لار كې ئې هجرت او جهاد كړى، په لسو كلونو كې ئې له دښمنانو سره اويا غزوې او جګړې درلودې، د ده په لاس روزل شوي صحابه په هند، افغانستان او ماوراءالنهر كې په شهادت رسېدلي، طارق اسپانيا ته تر ننوتو وروسته كشتۍ وسوزولې او د بېرته ستنېدو امكانات ئې له منځه يووړل او اسپانيا ئې فتح كړه، عقبه بن نافع د افريقا فاتح له ډېرو فتوحاتو وروسته ئې مخې ته بحر حائل شو، د الله تعالى په وړاندې ئې لاسونه اوچت كړل او وئې ويل: اې زما ربه! كه بحر مې مخې ته نه وى حائل شوى ستا دين به مې د نړۍ تر وروستي ګوټه رسولى وو!! دوى ولې په ځان اكتفاء او بسنه نه كوله؟ ولې ئې ټولې نړۍ ته د الله د دين رسول خپله ذمه والي ګڼله؟ مګر د قرآن دا وينا مو هېره كړې چې درته وايي:

وَمَا لَكُمْ لَا تُقَٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلْوِلْدَٰنِ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا مِنْ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ ٱلظَّالِمِ أَهْلُهَا وَٱجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَٱجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا ﴿٧٥﴾ النساء: ٧٥

او په تاسو څه شوي چې د الله په لار كې او د هغو بې وزلوسړيو، ښځو او ماشومانو د ژغورنې لپاره نه جنګېږئ چې وايي: اې زموږ ربه! له دې كلي چې اهل ئې ظالمان دي موږ وباسه او له خپلې خوا راته كوم پالونكى وټاكه او له خپل لوري راته كوم ملاتړ وټاكه.

دا مبارك آيت په ډېرو قاطع او واضح الفاظو وايي چې د الله په لار كې وسله وال جهاد او د مظلومانو د ژغورنې لپاره له ظالمانو سره جنګېدل يوه داسې الهي فريضه ده چې پرېښودل ئې په هيڅ دليل او هيڅ بهانه نه شي توجيه كېدى، كله چې مسلمانان داسې يوې مرحلې ته ورسېږي چې وسلې ته لاس كول او د دښمن په خلاف جنګېدل ضروري وګڼل شي، نو دا كار پرې فرض دئ او پرېښودل ئې د يوې الهي فريضې پرېښودل دي او الله تعالى د داسې جهاد له تاركينو هيڅ دليل او بهانه نه مني.

مګر د دې الهي سنت په اړه مو د قرآن وينا له پامه غورځولې چې وايي: چا چې د الله په لار كې جهاد ترك كړ، نو له ذلت سره به مخامخ كېږي او دښمن به پرې مسلط كېږي!!

إِلا تَنفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَاباً أَلِيماً وَ يَسْتَبْدِلْ قَوْماً غَيرَكُمْ... التوبه: ٣٩

مګر د پيغمبر عليه السلام دا ارشاد مو نه دئ اورېدلى چې فرمايي:

عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " وَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ،

لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ، او لَيُوشِكَنَّ اللهُ أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عِقَابًا مِنْهُ، ثُمَّ تَدْعُونَهُ فَلَا يَسْتَجِيبُ لَكُمْ " رواه الترمذى و شعب الايمان

حذيفه بن يمان روايت كوي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: په هغه ذات قسم چي زما نفس ئې په واك كي دئ حتماً به په معروف امر كوئ او حتماً به له منكر مخنيوى كوئ، كه نه نو الله به له خپل لوري داسي عذاب پر تاسو راولېږي چي بيا به دعاګاني ورته كوئ خو دعاء به مو نه قبلېږي.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ شَهَٰدَةُ بَيۡنِكُمۡ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ ٱلۡمَوۡتُ حِينَ ٱلۡوَصِيَّةِ ٱثۡنَانِ ذَوَا عَدۡلٖ مِّنكُمۡ أَوۡ ءَاخَرَانِ مِنۡ غَيۡرِكُمۡ إِنۡ أَنتُمۡ ضَرَبۡتُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَأَصَٰبَتۡكُم مُّصِيبَةُ ٱلۡمَوۡتِۚ تَحۡبِسُونَهُمَا مِنۢ بَعۡدِ ٱلصَّلَوٰةِ فَيُقۡسِمَانِ بِٱللَّهِ إِنِ ٱرۡتَبۡتُمۡ لَا نَشۡتَرِي بِهِۦ ثَمَنٗا وَلَوۡ كَانَ ذَا قُرۡبَىٰ وَلَا نَكۡتُمُ شَهَٰدَةَ ٱللَّهِ إِنَّآ إِذٗا لَّمِنَ ٱلۡأٓثِمِينَ ﴿١٠٦﴾ فَإِنْ عُثِرَ عَلَى أَنَّهُمَا اسْتَحَقَّا إِثْمًا فَآخَرَانِ يَقُومَانِ مَقَامَهُمَا مِنَ الَّذِينَ اسْتَحَقَّ عَلَيْهِمُ الأَوْلَيَانِ فَيُقْسِمَانِ بِاللَّهِ لَشَهَادَتُنَا أَحَقُّ مِنْ شَهَادَتِهِمَا وَمَا اعْتَدَيْنَا إِنَّا إِذًا لَمِنَ الظَّالِمِينَ ﴿١٠٧﴾ ذَلِكَ أَدْنَى أَنْ يَأْتُوا بِالشَّهَادَةِ عَلَى وَجْهِهَا أَوْ يَخَافُوا أَنْ تُرَدَّ أَيْمَانٌ بَعْدَ أَيْمَانِهِمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاسْمَعُوا وَاللَّهُ لا يَهْدِى الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ ﴿١٠٨﴾

١٠٦- اې مؤمنانو! چي كله مو كوم يوه ته مرګ راوړاندي شي، نو د وصيت په وخت كې مو په خپلو كې شهادت ستاسو دوه عادل كسان دي او يا له تاسو پرته دوه نور، خو هغه وخت چي په زمكې كې سفر كوئ او ناڅاپي د مرګ مصيبت درورسي، له لمانځه وروسته ئې راتم كړئ، كه په شك كې پرېوتئ نو هغوی دي د الله په نامه لوړه وكړي چي نه خو كومه بيه پرې پېرو، كه څه هم خپلوان وي او نه هم الهي شهادت پټوو، يقيناً چي په دې صورت كې به موږ ګناهكار وو. ١٠٧- خو كه دا معلومه شوه چي دوی دواړو په ګناه سره ځان مستحق ګرځولی، نو دوه نور دي له هغو د دوی پر ځای ودرېږي چي لومړنيو ځان پرې مستحق ګڼلی، نو د الله په نامه دي لوړه وكړي چي زموږ شهادت د دوی تر شهادت ډېر حقيقي دئ او هيڅ تېری مو نه دئ كړی،

يقيناً چې موږ به په هغه صورت کې له ظالمانو وو. ۱۰۸- دا دې ته ډېر نژدې دئ چې شهادت په خپلې حقيقي بڼې کې وړاندې کړي او له دې وويرېږي چې د دوی له قسمونو وروسته د لوړې ترديد ونشي او له الله ووېرېږئ او واورئ او الله د فاسقانو دا قوم نه هدايت کوي.

---

(۱۰۶-۱۰۸)- په دې مبارکو آيتونو کې د هغه شهادت په اړه څو لارښووني شوې چې د ميت (مړي) په وصيت پورې تړاو لري:

- دوه عادل مسلمانان به د ميت د وصيت په اړه شهادت ورکوي.
- که هغه د سفر په حالت کې وفات شوی وو او د وصيت په مهال دوه مسلمان شاهدان نه وو نو د غيرمسلمانو شاهدانو شهادت هم معتبر وګڼل.
- له لمانځه وروسته به د مسلمانانو په وړاندې شهادت ورکړي، که شکمن شوئ نو دوی به لوړه وکړي او وبه وايي چې په دې شهادت او قسم سره څه ګټه تر لاسه کول نه غواړو، که څه هم خپلوان وي او نه الهي شهادت پټوو، که دا کار وکړو ګنهکار به وو.
- که معلومه شوه چې دوی دواړو دروغ ويلي، نو د دوی پر ځای دې د مړي د ورثه وو له لوري دوه نور شاهدان ودرېږي او د الله په نامه دې لوړه وکړي چې د دوی شهادت تر مخکينيو سم او د حقيقت مطابق دئ، هيڅ تېری مو نه دئ په کې کړی، که نه له ظالمانو به وو.

دا ترتيب د دې سبب کېږي چې شهادت په حقيقي توګه ورکړی شي او له دې وېرې په دروغو لوړه ونه کړي چې نور شاهدان به خبره ترديد کړي.

- له الله تعالی ووېرېږئ، احکامو ته ئې غوږ ونيسئ او په لارښوونو ئې عمل وکړئ.
- څوک چې له الهي حدودو او احکامو سرغړاوی وکړي، فاسق دئ او له الهي هدايت محروم.

دې ته مو بايد پام وي چې دا احکام د دې لپاره په دې لړ کې راغلي چې دا هم د عمرې اړوند يوه مسئله ده، د حج او عمرې په سفر کې د مرګ او د وصيت مسئله راولاړېږي، نو ځکه دا موضوع په همدې لړ کې ذکر شوې.

---

يَوْمَ يَجْمَعُ ٱللَّهُ ٱلرُّسُلَ فَيَقُولُ مَاذَآ أُجِبْتُمْۖ قَالُواْ لَا عِلْمَ لَنَآۖ إِنَّكَ أَنتَ عَلَّٰمُ
ٱلْغُيُوبِ ﴿١٠٩﴾ إِذْ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ ٱذْكُرْ نِعْمَتِي عَلَيْكَ وَعَلَىٰ وَٰلِدَتِكَ
إِذْ أَيَّدتُّكَ بِرُوحِ ٱلْقُدُسِ تُكَلِّمُ ٱلنَّاسَ فِي ٱلْمَهْدِ وَكَهْلًاۖ وَإِذْ عَلَّمْتُكَ

ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَۖ وَإِذۡ تَخۡلُقُ مِنَ ٱلطِّينِ كَهَيۡـَٔةِ ٱلطَّيۡرِ
بِإِذۡنِي فَتَنفُخُ فِيهَا فَتَكُونُ طَيۡرَۢا بِإِذۡنِيۖ وَتُبۡرِئُ ٱلۡأَكۡمَهَ وَٱلۡأَبۡرَصَ بِإِذۡنِيۖ وَإِذۡ
تُخۡرِجُ ٱلۡمَوۡتَىٰ بِإِذۡنِيۖ وَإِذۡ كَفَفۡتُ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ عَنكَ إِذۡ جِئۡتَهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ
فَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡهُمۡ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ١١٠ وَإِذۡ أَوۡحَيۡتُ إِلَى
ٱلۡحَوَارِيِّـۧنَ أَنۡ ءَامِنُواْ بِي وَبِرَسُولِي قَالُوٓاْ ءَامَنَّا وَٱشۡهَدۡ بِأَنَّنَا مُسۡلِمُونَ ١١١ إِذۡ
قَالَ ٱلۡحَوَارِيُّونَ يَٰعِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ هَلۡ يَسۡتَطِيعُ رَبُّكَ أَن يُنَزِّلَ عَلَيۡنَا مَآئِدَةٗ
مِّنَ ٱلسَّمَآءِۖ قَالَ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ١١٢ قَالُواْ نُرِيدُ أَن نَّأۡكُلَ مِنۡهَا
وَتَطۡمَئِنَّ قُلُوبُنَا وَنَعۡلَمَ أَن قَدۡ صَدَقۡتَنَا وَنَكُونَ عَلَيۡهَا مِنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ١١٣
قَالَ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ ٱللَّهُمَّ رَبَّنَآ أَنزِلۡ عَلَيۡنَا مَآئِدَةٗ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ تَكُونُ لَنَا
عِيدٗا لِّأَوَّلِنَا وَءَاخِرِنَا وَءَايَةٗ مِّنكَۖ وَٱرۡزُقۡنَا وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ١١٤ قَالَ ٱللَّهُ
إِنِّي مُنَزِّلُهَا عَلَيۡكُمۡۖ فَمَن يَكۡفُرۡ بَعۡدُ مِنكُمۡ فَإِنِّيٓ أُعَذِّبُهُۥ عَذَابٗا لَّآ
أُعَذِّبُهُۥٓ أَحَدٗا مِّنَ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١١٥

۱۰۹- هغه ورځ چې الله به پیغمبران راغونډ کړي او وبه وايي: څه ځواب درکړی شو؟ وايي به: هيڅ علم ئې راسره نشته، په پټو خبرو خو يوازې ته ښه پوه يې. ۱۱۰- هغه وخت چې الله به ووايي: اې عيسی د مريمې زويه! پر خپل ځان او پر خپلې مور دې زما هغه نعمتونه درياد کړه چې په پاکې روح سره مې ستا ملاتړ وکړ، په ورکوالي او زوړوالي کې دې له خلکو سره خبرې کولې او چې کتاب، حکمت، تورات او انجيل مې درزده کړ؛ او چې زما په امر سره به دې له خټې د مارغه څېره جوړه کړه، په هغه کې به دې پو کړل او زما په حکم سره به هغه الوتونکی مارغه شو او مورنی ړوند او برګی به دې زما په حکم سره روغول او مړي به دې زما په اجازه ژوندي رابره کول او چې بني اسرائيل مې له تا حصار کړل، هغه وخت چې تا ورته ځرګندې نښې راوړې خو د دوی کافرانو وويل: دا خو له ځرګند جادو پرته بل څه نه دئ!! ۱۱۱- او هغه وخت چې حواريونو ته مې وويل: پر ما او زما پر پيغمبر ايمان راوړئ، وئې ويل:

ایمان مو راوړ او ته د دې شاهد اوسه چې موږ مسلمانان یو. ۱۱۲- او کله چې حواریونو وویل: اې عیسی د مریمې زویه! آیا ستا رب کولی شي چې له آسمان یو ډك دسترخان راولېږي، وئې ویل: که ایمان لرئ نو له الله ووېرېږئ. ۱۱۳- وئې ویل: غواړو چې هم څه ترې وخورو، هم مو زړونه ډاډه شي، هم په دې پوه شو چې تا راته رښتیا ویلي او هم پرې شهادت ورکوونکې وو. ۱۱٤- عیسی د مریمې زوی وویل: اې الله زموږ ربه! له آسمان پر موږ یو ډك دسترخان رانازل کړه، چې هم زموږ د مخکینیو او وروستنیو لپاره د اختر په توګه وي او هم ستا له لوري یوه نښه او موږ ته روزي را چې ته تر ټولو غوره روزي ورکوونکی یې. ۱۱۵- الله وفرمایل: زه ئې پر تاسو نازلوونکی یم، خو که څوك له دې وروسته کافر شو نو په داسې عذاب به ئې اخته کړم چې د عالمیانو هیڅ یو به پرې تعذیب نه کړم.

---

(۱۰۹-۱۱۵)- د قیامت په ورځ به له پیغمبرانو علیهم السلام پوښتنه کېږي چې خلکو ستاسو بلنې ته څه ځواب درکړ؟ دوی به وایي: نه پوهېږو، ته په غیب ښه پوه یې، موږ د دوی د زړونو له حاله خبر نه یو، دا نشو ویلی چې چا زموږ ملګرتیا کړې په زړه کې ئې څه وو، حقیقت ئې تا ته ښه معلوم دئ.

د قرآن دغه آیت د بایبل هغه وینا ردوي چې وایي مسیح علیه السلام په دې پوهېدو چې کوم ملګری ئې مخلص او کوم نامخلص او منافق دئ؛ او دا چې یو ملګری به ئې ورسره خیانت وکړي او دی به دښمنانو ته په لاس ورکړي، قرآن فرمایي چې دی به د خپلو هغو ملګرو په اړه هم له څه ویلو ډډه کوي چې په اخلاص سره او په سختو ورځو کې ئې د ده ملګرتیا کړې. بایبل د یوحنا په کتاب کې هغه آخري ماښامنی یادوي چې ګواکې عیسی علیه السلام له خپلو شاګردانو سره درلود، د ده خائن شاګرد اسخریوطي هم په کې شرکت کړی وو او همدلته ئې تصمیم ونیولو چې خپله خائنانه نقشه عملي کړي، عیسی اوبه، لوښی او تولیا راواخیستل او د خپلو شاګردانو پښې ئې ورووینځلې او بیا ئې وچې کړې، کله چې شمعون پطرس ته راورسېد، هغه وویل: استاده! ښه نه ده چې ته زموږ پښې راووینځې! عیسی ورته وویل: اوس زما د دې کار په علت نه پوهېږې، یو وخت به پوه شې!! پطرس ټینګار وکړ، خو عیسی ورته وویل: که ما دې کار ته پرې نږدې نو زموږ رابطه به سره قطع شي!!... په پای کې عیسی دوی ته وویل: له دې کار مې مقصد دا وو چې تاسو همداسې یو د بل پښې ووینځئ!! بیا ئې وویل: آسماني کتاب وایي: داسې یو کس چې له ما سره ئې ډوډۍ خوړلې له ما سره به خیانت وکړي!! حقیقت دا دئ چې له تاسو به یو کس له ما سره خیانت وکړي،... زه (د دې کتاب لیکونکی یوحنا) د عیسی خوا ته ناست وم، ورنږدې شوم او ومې پوښتل: باداره! دا کس څوك دئ؟ هغه وویل: دا هغه څوك دئ چې زه به یوه ګوله مړۍ راواخلم او هغه ته به ئې ورکړم، په دې وخت کې ئې همدا کار وکړ

او یهودا اسخریوطي ته ئې هغه ګوله مړی ورکړه، (په نورو ځایونو کې د دې خلاف بله خبره شوې، ویل شوي چې له ما سره به یو ځای لوښي ته لاس اوږد کړي!!)، څنګه چې دا مړی د ده له ستوني تېره شوه، شیطان ئې زړه ته ننوت، عیسی ورته وویل: تلوار وکړه او کار پای ته ورسوه! هیڅوك د دې خبرې په مقصد پوه نه شو، یهودا پورته شو او د شپې په تیاره کې ووت، عیسی د ده له وتلو سره سم وویل: زما وخت پای ته رسېدلی!!

په بل ځای کې داسې لیکي: په دې وخت کې یهودا اسخریوطي چې د عیسی له دولسو شاګردانو وو، سترو کاهنانو ته ورغی او ورته وئې ویل: څومره راکوئ چې عیسی په لاس درکړم؟! هغوی د سپینو زرو دېرش سکې ورکړې، له هغې ورځې وروسته دی د مناسب فرصت په لټه کې وو چې عیسی په لاس ورکړي... یوه شپه چې عیسی له خپلو دولسو شاګردانو سره د یوه سړي په کور کې د ماښامني لپاره په دسترخان ناست وو، عیسی وویل: له تاسو به یو کس له ما سره خیانت وکړي!! ټول په اندېښنه کې ولوېدل او پوښتنه ئې وکړه: هغه به څوك وي؟ ده وویل: همغه چې له ما سره یو ځای ئې د خوراك لوښي ته لاس اوږد کړ!!... یهودا هم پوښتنه وکړه: استاده! آیا هغه کس زه یم؟ عیسی جواب ورکړ: هو په خپله دې وویل،...

پوښتنه کوو: که عیسی علیه السلام دا خائن شاګرد پېژندو نو ولې ئې سره له دې هغه کور او بیا هغه ځنګله ته راغوښتی چې دی او نور شاګردان ئې په کې پټ وو؟ داسې کار خو هیڅ هوښیار انسان نه کوي.

له عیسی علیه السلام به همدا پوښتنه وشي خو له هغه وروسته چې الله تعالی به خپلې ټولې سترې پېرزوینې ورپه یاد کړي او ورته وبه وایي:

- پر تا او ستا پر مور زما نعمتونه در په یاد کړه.
- په روح القدس سره مې ستا تأیید وکړ، پاکیزه روح مې ستا په برخه کړه، جبرئیل مې ستا مرستې ته درولېږو.
- دا توفیق مې درپه برخه کړ چې په ماشومتوب کې داسې خبرې وکړې چې په زړښت کې دې کولې.
- کتاب مې دروښود، حکمت مې درپه برخه کړ، د انجیل او تورات علم مې درکړ.
- له خټې به دې د مرغه صورت جوړ کړ، زما په إذن به دې په کې پو کړل او هغه به زما په حکم سره روغ رمټ الوتونکی مرغه شو.
- زما په حکم به دې له موره ړوند پیدا شوی او برګی روغول.
- مړي به دې له قبرونو ژوندي راپاڅول.
- د بني اسرائیلو له شره مې هغه مهال وژغورلې چې دوی په سحر متهم کړې او ستا معجزو ته ئې د سحر او جادو نوم ورکړ او غوښتل ئې تا ته هغه سزا درکړي چې جادوګران

ئې د هغې مستحق ګڼل.

- حواريون مې دې ته چمتو کړل چې ايمان راوړي او ستا ملګرتيا وکړي.
- ستا د حواريونو دا غوښتنه مې ومنله چې له آسمانه ډك دسترخان پرې نازل شي، تا ورته وويل چې له الله ووېرېږئ او داسې غوښتنه مه کوئ، د هغوی د اصرار په سبب تا دعاء وکړه او ما ستا دعاء قبوله کړه. ومې ويل: زه ئې نازلوم، خو که له دې وروسته چا د کفر او انکار لار غوره کړه داسې عذاب به ورکوم چې په عالم کې ئې هيچا ته نه ورکوم.

دا آيتونه که له يوې خوا د عيسى عليه السلام معجزې بيانوي له بلې خوا مونږ ته لارښوونه کوي چې دا نه د عيسى عليه السلام ذاتي کارونه ول او نه د ده په خوښه او هر مهال چې ده غوښتي تر سره شوي، بلکې د الله تعالى په إذن او امر تر سره شوي، دا د ده د رسالت نښې وې نه په الوهيت کې د ده د شرکت نښې.

تاسو به د بايبل په ځای ځای کې وګورئ چې د انبياءو او پيغمبرانو کار او ځانګړتيا د معجزو ښودل ګڼي، داسې لکه چې د عيسى عليه السلام د پيغمبرۍ د اثبات نښه دا ګڼي چې له آسمانه کوتره راکوزه او پر سر ئې کښېناسته، يحيى عليه السلام له آسمانه غږ واورېدو او پوه شو چې عيسى عليه السلام پيغمبر دئ، خو حقيقت دا دئ چې پيغمبر د خپل پيغام، وينا، اخلاق او عملي ژوند له مخې پېژندل کېږي، لکه څنګه چې ونه له مېوې پېژندل کېږي، شخصيتونه هم له خپل عمل او وينا پېژندل کېږي، مونږ محمد عليه السلام په خپلو سترګو نه دئ ليدلی، د ده معجزې مو هم نه دي مشاهده کړې، خو د هغه قرآن له مخې چې ده خلکو ته وړاندې کړ، مونږ په دې ايمان راوړی او د زړه هره حجره مو په دې شهادت ورکوي چې دی يقيناً د خدای پيغمبر دئ، د ده لوړ اخلاق، د ده هغه پيغام چې خلکو ته ئې درلود، هغه تبديلي چې ده په نړۍ کې راوسته، هغه انسان چې ده ئې د جوړولو هڅه کوله، دا مونږ ته ثابتوي چې دی پيغمبر وو، مونږ چې د عيسى عليه السلام له ميلاده دوه زره کاله وروسته په بايبل کې داسې کوم کلام وګورو چې د يوه پيغمبر له شأن سره ښايي نو وايو چې دا به حتماً د عيسى عليه السلام وينا وي، مونږ له بايبل سره په دې اړه موافق يو چې ناپوه انسانان او فاسقان به معجزې غواړي، عاقلان له معجزو پرته په دې پوهېږي چې څوك رښتينی پيغمبر دئ او څوك د پيغمبرۍ دروغجن مدعي.

ګورئ چې په دې آيتونو کې د حواريونو له لوري د معجزې غوښتنه مناسب کار نه دئ ګڼل شوی، عيسى عليه السلام هم ورته ويلي چې له الله تعالى ووېرېږئ او الله تعالى هم ورته وفرمايل چې ستاسو غوښتنه به تر سره شي خو که د دغې معجزې له ليدو وروسته له تاسو څوك کافر شو تر ټولو سخته سزا به ورکوم.

وَإِذۡ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ ءَأَنتَ قُلۡتَ لِلنَّاسِ ٱتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَٰهَيۡنِ

مِن دُونِ ٱللَّهِۖ قَالَ سُبۡحَٰنَكَ مَا يَكُونُ لِيٓ أَنۡ أَقُولَ مَا لَيۡسَ لِي بِحَقٍّۚ إِن
كُنتُ قُلۡتُهُۥ فَقَدۡ عَلِمۡتَهُۥۚ تَعۡلَمُ مَا فِي نَفۡسِي وَلَآ أَعۡلَمُ مَا فِي نَفۡسِكَۚ إِنَّكَ
أَنتَ عَلَّٰمُ ٱلۡغُيُوبِ ١١٦ مَا قُلۡتُ لَهُمۡ إِلَّا مَآ أَمَرۡتَنِي بِهِۦٓ أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ رَبِّي
وَرَبَّكُمۡۚ وَكُنتُ عَلَيۡهِمۡ شَهِيدٗا مَّا دُمۡتُ فِيهِمۡۖ فَلَمَّا تَوَفَّيۡتَنِي كُنتَ أَنتَ
ٱلرَّقِيبَ عَلَيۡهِمۡۚ وَأَنتَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ ١١٧ إِن تُعَذِّبۡهُمۡ فَإِنَّهُمۡ عِبَادُكَۖ
وَإِن تَغۡفِرۡ لَهُمۡ فَإِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ١١٨ قَالَ ٱللَّهُ هَٰذَا يَوۡمُ يَنفَعُ
ٱلصَّٰدِقِينَ صِدۡقُهُمۡۚ لَهُمۡ جَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ
رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ١١٩

١١٦- او كله چې الله وفرمايل: اې عيسى د مريمې زويه! آيا تا خلكو ته ويلي وو چې ما او مور مې له الله پرته د دوو خدايانو په توګه ونيسئ، وئې ويل: پاكي تا ته ده، ما ته نه ښايي چې هغه څه ووايم چې حق ئې نلرم، كه ما ويلي وى نو ته به بې شكه پرې پوه وې، ته په هغه څه پوهېږې چې زما په زړه كې دي او زه په هغه څه نه پوهېږم چې له تا سره دي، بې شكه چې ته خو په ټولو پټو خبرو ښه پوه يې. ١١٧- ما له هغه څه پرته چې تا ئې امر راته كړى وو بل څه دوى ته نه دي ويلي، هغه دا چې د هغه الله عبادت وكړئ چې هم زما رب دئ او هم ستاسو رب؛ او زه تر هغه پر دوى شاهد وم چې په دوى كې وم، خو كله چې تا زما كار پاى ته ورساوو، ته په خپله پر دوى څارونكى وې او ته په هر څه ښه شاهد يې. ١١٨- كه ئې تعذيبوې نو هغوى دي بندګان دي او كه ئې بخښې نو بې شكه چې ته باحكمت عزتمن يې. ١١٩- الله وفرمايل: دا هغه ورځ ده چې رښتينو ته به د دوى رښتيا ګټه رسوي، دوى ته به داسي جنتونه وي چې ويالې به ترې لاندي بهېږي، تل تر تله په هغه كې پاته كېدونكي، الله له دوى راضي او دوى له هغه راضي، همدا ستره بريا ده.

---

(١١٦-١١٩)- مسيحيان خپل شركي عقائد عيسى عليه السلام ته منسوبوي، په تورات او انجيل كې ئې تحريفات وكړل، داسي څه ئې له خپلي خوا په كې وليكل چې د دوى د شركي عقائدو بنسټ وګرځي، په بايبل كې ئې داسي خبري عيسى عليه السلام او نورو پيغمبرانو ته منسوب كړې چې د شرك او درې خدايانو عقيده ئې ترې راوايستله، په دغو آيتونو كې دوى

ته ویل شوي: د قیامت په ورځ به عیسی علیه السلام له ټولو هغو دروغجنو خبرو چې تاسو ده ته منسوب کړې خپل برائت اعلانوي او وايي به:

- زما ربه! ستا شأن تر دې لوړ دئ او ستا عظمت تر دې ستر او منزه چې شریك ولرې.

- ما به څنگه دوی ته هغه خبره کوله چې د ویلو حق ئې نلرم؟ څنگه به مې دوی ته ویل چې ما او زما مور د خدایانو په توگه ومنئ؟! تا ته ښه څرگنده ده چې ما دا خبره نه ده کړې، دوی له خپل ځانه جوړه کړې.

- ما دوی ته یوازې هغه خبرې کړې چې تا ئې امر راته کړی وو او هغه دا چې د هغه الله عبادت وکړئ چې هم زما رب دئ او هم ستاسو رب.

- زه تر هغه پر دوی شاهد وم چې په دوی کې وم، خو کله چې تا زما کار پای ته ورساوو، له دوی دې بېل کړم، له حاله ئې خبر نه یم، ته په خپله پر دوی څارونکی وې او ته په هر څه ښه شاهد یې.

- که ئې تعذیبوې نو هغوی دې بندگان دي او که ئې بخښې نو بې شکه چې ته باحکمت عزتمن یې او ستا په هرې پرېکړې کې حکمتونه مضمر دي.

الله وفرمایل: دا هغه ورځ ده چې رښتینو ته به د دوی رښتیا گټه رسوي، د صداقت په وجه به ئې داسې جنتونه په برخه شي چې ویالې به ترې لاندې بهېږي، تل تر تله به په هغه کې پاته وي، الله به له دوی راضي وي او دوی به له الله، همدا ستره بریا ده.

---

لِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا فِيهِنَّ ۚ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌۢ ﴿١٢٠﴾

۱۲۰- د آسمانونو، زمکې او د ټولو هغو شیانو واکمني د الله ده چې په دوی کې دي او هغه په هر څه ښه قادر دئ.

---

(۱۲۰)- دا مبارك آیت چې د سورې تتمه ده او له ټولو مضامینو سره ئې ژوره رابطه لري، وايي: الله تعالی مطلق ټولواك دئ، د زمکې او آسمانونو هر څه د ده په واك کې دي او دی ئې ټولواك، خاوند او واکمن دئ او په هر کار قادر، دا یوازې د ده حق دئ چې په خپل ملك کې خپل حکم نافذ کړي او دا د دې عالم د هر څه دنده ده چې د خپل مالك حکم ته غاړه کښېږدي، نه د دې عالم کومه برخه د ده له واکه وتلې، نه د عالم په اداره او د چارو په سمبالولو کې کوم شریك لري، نه د چا مرستې ته اړ دئ، نه داسې کار موندل کېږي چې قدیر خدای ئې له کولو عاجز وي، بل ته ئې وسپاري او د هغه په مرسته ئې تر سره کړي، نه په واکمنۍ کې شریك لري او نه د امورو په تر سره کولو کې مرستندوی. او دا همغه خبره ده چې د دې سورې په لومړي آیت کې په دې الفاظو شوې: إن الله يحكم ما يريد.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَن لَّا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

## الانعام

### د سورې معرفي:

د دې مبارکې سورې نوم الانعام دئ، دا يوازې نوم دئ نه د مضامينو لپاره عنوان، ۱٦٥ آيتونه لري، چې د ټولو فواصل يا د لومړي آيت (يعدلون) ته ورته دي يا د شپږم آيت (آخرين) ته، خو ځيني عليم، عظيم، خبير ته په ورته صيغو پای ته رسېدلي چې دا هم آخرين ته ورته وزن لري، د ډېری آيتونو فواصل ئې د لومړي آيت په څېر دي، که څه هم آيتونه ئې نسبتاً اوږده دي خو هر آيت له دوه او دريو لنډو مسجع فقرو جوړ شوی او سورې ته ئې ښکلی وزن ورکړی.

له څو محدودو آيتونو پرته ټوله سوره د مکې دور په وروستي پړاو کې نازله شوې، د آيتونو اوږدوالی ئې د دغې مرحلې سورتونو ته ورته دئ. ځيني په دې نظر دي چې دا سوره په مکمله توګه په مکه کې نازله شوې، ځيني د دې سورې دوه آيتونه، ځيني شپږ او ځيني دا نه آيتونه مدني ګڼي: ۲۰، ۲۳، ۹۱، ۹۳، ۱۱٤، ۱٤۱، ۱٥۱، ۱٥۲ او ۱٥۳. د سورې له متن په څرګنده توګه معلومېږي چې يو شمېر ئې په مدينه کې نازل شوي.

د سورې اصلي مضامين دا دي:

- له اول آيت تر شپږم پورې څو مضبوط دلائل د توحيد په ارتباط وړاندې شوي، د آسمانونو او زمکې په پيدايښت او د انسان په خلقت کې، د تاريخ په اوږدو کې د ګناهکارانو په وار وار مؤاخذه هم د يوه دليل په توګه وړاندې شوې.
- له أوم آيت تر شپږويشتم پورې د رسالت او د رسالت د معارضينو او مخالفينو او په دنيا او آخرت کې د دوی د پايلو په اړه بحث شوی.
- له شپږويشتم تر دوه دېرشم پورې د آخرت او بعثت په اړه بحث شوی.
- له درې دېرشم تر نه دېرشم پورې پيغمبر عليه السلام ته د مخالفينو د لجاجتونو په وړاندې د صبر سپارښتنه شوې او ورته ويل شوي چې د مخالفينو ځيني داسې دي چې په هيڅ دليل نه قانع کېږي.
- بيا تر درې اويايم آيت پورې د شرك د رد په اړه دقيق او جامع بحث شوی.
- ورپسې تر څلور اتيايم آيت پورې د ابراهيم عليه السلام په قصې کې د مخکينيو

مطالبو لپاره یوه تاریخي ېبلګه زمونږ مخې ته ایښودل شوې. چې په همدې لړ کې تر نوي یم آیت پورې د ګڼ شمېر نورو پیغمبرانو یادونه کېږي.

- وروسته تر څلور نوي یم آیت پورې د الهي کتاب په اړه د منکرینو ویناوې او په مضبوطو دلائلو سره د هغوی تردید ګورو.
- پدې پسې تر یو سل او دیارلسم آیت پورې یو ځل بیا د توحید په اړه ډېر جامع بحث او ډېر قانع کوونکې دلائل راغلي.
- بیا تر یو سل او اُوه ویشتم آیت پورې په دې اړه بحث شوی چې یوازې الله تعالی د حکم په توګه او د ده دین د لارښود په توګه ونیسئ، مه د شیطان متابعت کوئ او مه د خلکو د هوی او هوس.
- له دې وروسته تر یو سل او پنځه دېرشم آیت پورې د قیامت د ورځې څو صحنې زمونږ مخې ته انځور شوې.
- وروسته تر یو سل او شپېتم آیت پورې د حلال او حرام په اړه د مشرکینو غلطې انګېرنې او د الهي دین غوښتنې او لارښوونې بیان شوې.
- له یوسل او یو شپېتم تر یو سل او درې شپېتم آیت پورې پیغمبر علیه السلام ته لارښوونه شوې چې دغو مشرکینو ته څو خبرې اعلان کړې: زه خپل رب مستقیمې لارې ته هدایت کړی یم، سم او صحیح دین ته، د حنیف ابراهیم مسلك او دین ته چې له مشرکانو نه وو، زما هر څه، لمونځ، قرباني، ژوند او مرګ د عالمیانو رب لره دي، زما رب هغه دئ چې شریك ئې نشته، زه په دغو خبرو ګمارل شوی یم، زه له لومړیو مسلمانانو یم، تر هر چا زیات او تر تاسو ټولو مخکې خپل رب ته تسلیم یم.
- آخرې دوه آیتونه چې په حقیقت کې یو آیت ګڼل کېږي، د سورې د ټولو مضامینو لپاره یوه جامع تتمه ده. په دې کې پیغمبر علیه السلام ته د څو نورو اساسي خبرو د اعلان سپارښتنه شوې:
- آیا له الله تعالی پرته بل رب ځان ته ونیسم، په داسې حال کې چې هغه د هر څه رب او پالونکی دئ؟
- ولې به د خلکو د ارضاء لپاره دا کار کوم، په داسې حال کې چې انسان د خپلو غلطیو له سزا سره هرومرو مخامخ کېږي، هیڅوك د بل د ګناه پېټی په خپلو اوږو نشي اخیستی، تاسو ما ته هیڅ ګټه نشئ رسولی؟
- ستاسو د مخالفتونو راکمولو لپاره هم دا کار نه کوم، د مخالفتونو په اړه به الله تعالی خپله پرېکړه کوي، ټول د هغه لورې ته ورتلونکي یئ.
- تاسو ئې د مخکینیو پر ځای په زمکې کې مېشت کړئ، د زمکې خلافت ئې تاسو ته

وسپارو، د دې لپاره ئې يوه ته پر بل ځانګړې فضيلتونه ورکړي، هم په جسمي لحاظ، هم په فکري لحاظ او هم په اجتماعي لحاظ چې تاسو وآزمويي، دا امتحان ورکړئ چې له دغو امتيازاتو څنګه استفاده کوئ، پر نورو د خپلې لويې تحميلولو او د هغوی د تحقير لپاره ترې استفاده کوئ که له نورو سره د خواخوږۍ، ترحم او مرستې لپاره، دا فضيلتونه په تاسو کې د شکر او امتنان احساس راولاړوي که د بغاوت او تکبر احساس.

- په دې پوه شئ چې ستاسو رب هم باغي بنده ته په سزا ورکولو کې سريع دئ او هم نادم بنده ته په عفو کې مهربان بخښونکی دئ.

يادونه:

د دې سورې د تحقيق په دوران کې متوجه شوم چې دا څومره جامع، باعظمته او له ځلاندو لارښوونو ډکه سوره ده، څومره ستر ستر او اساسي مطالب په کې راغلي، داسي پراخ آسمان ته ورته چې هري خوا ته ئې ځلانده ستوري تر سترګو کېږي، له ځان سره مي ويل چې ولې تر دې د مخه د دې سورې عظمت ته نه وم متوجه شوی؟ ولې ئې حفظ رانه پاته شوی؟ د قرآن په لومړي ثلث کې له ما د المائدې او الانعام سورې پاته شوې وې، پرېکړه مي وکړه چې بايد حفظ ئې کړم. کله چې مي د دې مبارکې سورې د عظمت او لوړ مقام په اړه دا حديث تر سترګو شو نو ومي ويل: واقعاً چې دا سوره همدومره ستر او لوړ مقام لري:

عَنْ جَابِرٍ قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ سُورَةُ الْأَنْعَامِ سَبَّحَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ قَالَ: " لَقَدْ شَيَّعَ هَذِهِ السُّورَةَ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مَا سَدَّ الْأُفُقَ " شعب الايمان

له جابر رضي الله عنه روايت دئ چې کله د الانعام سوره نازله شوه، رسول الله صلى الله عليه و سلم سبحان الله وويل او وئې فرمايل: دومره فرشتو د دې سورې د نزول مشايعت او بدرګه کوله چې ټول افق ئې ډک کړی وو.

---

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَجَعَلَ ٱلظُّلُمَٰتِ وَٱلنُّورَۖ ثُمَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِرَبِّهِمۡ يَعۡدِلُونَ ۝١

۱- ستاينه هغه الله ته ده چې آسمانونه او زمکه ئې پيدا کړل او تيارې او رڼا ئې جوړه کړه، بيا هم هغه چې کافران شوي د خپل پالونکي په اړه تېروځي (او نور ورسره برابروي).

(۱)- يعنی د آسمانونو او زمكي په پيدايښت او د تيارو او رڼا په رامنځته كولو كې چې د قدرت او حكمت كومې نښې دي او هر ليدونكي ته ښيي چې دا حتماً يوه حكيم او عليم خالق پيدا كړي، كافران دا ټول حقائق له پامه غورځوي، په داسې حال كې چې گوري له الله تعالی پرته داسې څوك نشته چې د آسمانونو او زمكي كوم څه ئې پيدا كړي وي يا د ورځې او شپې په تلو راتلو كې ئې څه ونډه او اغېز وي!! قرآن په ډېرو ځايونو كې دې ته ورته استدلال كوي او فرمايي: دا د آسمانونو او زمكي هر څه چا پيدا كړي؟ دا ورځ او شپه د چا په اراده ځي او راځي؟ آيا له الله پرته داسې څوك شته چې څه ئې پيدا كړي وي؟ د ورځې او شپې په تلو راتلو كې ئې څه ونډه وي؟

د زمكي او آسمان لپاره د (خلق) او د تياره او نور لپاره د (جعل) كارول ډېر ظريف ټكي ته اشاره كوي، دا ځكه چې تياره (شی) نه دئ، بلكې يو (حالت) دئ، د نور او رڼا نشتوالي ته تياره ويل كېږي، پر دې د (خلق) اطلاق نشي كېدی. دا هم يوه ډېره ظريفه نقطه ده چې تياره د جمعې په صيغې سره او نور د مفرد په صيغې سره ياد شوي، دا ځكه چې تياره د نور نشتوالي حالت ته وايي، د نور د نشتوالي وجوهات هم بېل بېل كېدی شي او درجې ئې هم بېلې بېلې.

كه تاسو د تياره او رڼا په اړه د قرآن دا وينا د بايبل له وينا سره مقايسه كړئ درته معلومېږي چې قرآن د مطالبو په بيان كې څومره دقت كوي او څنگه هر لفظ په خپل خپل ځای كې په ډېر دقت سره كاروی.

بايبل د پيدايښت د كتاب په پيل كې داسې ليكي: (په سر كې كله چې خدای زمكه او آسمان پيدا كړل، زمكه تشه او بې شكله وه، د خدای روح د تورو بخاراتو پر سر خوځېده، خدای وفرمايل: (رڼا دې شي، نو رڼا شوه، خدای رڼايي خوښه كړه او له تيارې ئې بېله كړه، ده روښنايي د ورځې په نامه او تياره د شپې په نامه ونوموله، شپه تېره او سبا شو او دا لومړۍ ورځ وه!!)

د بايبل په دې وينا كې څو خبرې د غور وړ دي:

- دا خوشې او بې معنی خبره ده چې زمكه تشه او بې شكله وه!! له دې جملې هيڅوك څه مطلب نه شي اخيستی، له هر چا سره دا پوښتنه راولاړېږي چې زمكه څنگه او له څه تشه وه؟ هر شته شیء شكل لري، زمكه څنگه بې شكله وه؟

- دلته د عالم د پيدايښت د بېلابېلو مرحلو لپاره همدا زموږ شپه او ورځ معيار گڼل شوی، يعني د لومړۍ ورځې په لومړيو دولسو ساعتونو كې الله تعالی رڼا راپيدا كړه، دا رڼا ئې په لومړي ځل وليده او خوښه ئې شوه او د ورځې په نامه ئې ياده كړه!! كه تاسو د بايبل دا خبره د يوه ساينس پوه او هغه څېړونكي په وړاندې كښېږدئ چې د عالم د پيدايښت په اړه څېړنې كوي نو تاسو ته به ووايي:

- دا هسې يوه خوشې او بې بنسټه قصه ده، هيڅ علمي ارزښت نه لري.

● د عالم د پيدايښت بېلې بېلې مرحلې په ساعتونو او ورځو نه بلکې په سلهاوو مليونو کلونو اندازه کولی شو.

● رڼا او روښنايي له اجسامو بېل مخلوق نه ده چې په مستقله توګه پيدا شوې وي، رڼا همغه وخت پيدا شوې چې د لمر په څېر روښانه او ځلېدونکي ستوري راپيدا شول، زمکه هم په سر کې روښانه او ځلېدونکې وه، وروسته وروسته او ورو ورو سړه او تياره شوه، خپله رڼا ئې له لاسه ورکړه او له لمره ئې رڼا او روښنايي اخيستل پيل کړل.

● د زمکې پر سر شپه او ورځ هغه وخت راپيدا شوې چې زمکې خپله اصلي رڼا او ځلا له لاسه ورکړه او تياره شوه!!

● د ورځې او شپې نومونه انسانانو په خپله وضع کړي، په هر ځای او هر قوم کې ئې بېل بېل نومونه دي، څوك ئې ورځ، څوك يوم، څوك روز، څوك ئې د day په نامه يادوي، که دا نوم د الله تعالی له لوري ايښودل شوی وی نو په ټولو ژبو کې به سره ورته وو. د بايبل له ليکونکي پوښتنه کوو چې الله تعالی ورځ په کوم نامه ياده کړې وه، دا نوم عبري وو، عربي وو، انګليسي، چينائي که جاپاني وو؟!!

د بايبل د پيدايښت باب چې چا ليکلی په دې وينا سره ئې هڅه کړې چې د خپل جعلي خدای د هغې سرګرداني روح لپاره د اوسېدو مناسب ځای جوړ کړي چې د تيارو بخاراتو پر سر خوځېده، په دې سره ئې غوښتلي د مسيحيانو د دې عقيدې لپاره کوم بنسټ جوړ کړي چې خدای پر زمکه او د بني اسرائيلو په منځ کې اوسېږي، د کائناتو د پيدايښت په لومړۍ ورځ ئې د زمکې پر سر ځان ته مناسب ځای جوړ کړ او سرګردانه روح ئې له تورو بخاراتو راکوزه شوه!!

د بايبل د دې غلطې وينا په مقابل کې قرآن څو خبرې لري:

● زمکه او آسمان سره جوخت او يو وو، په يوه وخت او د يوې چاودنې په ترڅ کې سره بېل شول.

● الله تعالی آسمانونه او زمکه په شپږو ورځو کې پيدا کړي خو دا شپږ ورځې زموږ د معيارونو مطابق شپږ ورځې نه دي چې دوه اويا ساعته کېږي، بلکې د الله تعالی له عظمت سره مناسب شپږ مرحلې دي، قرآن موږ ته وايي چې دا ورځ کله د زرو او کله د پنځوسو زرو کلونو معادل وخت لپاره کارول شوې او دا ځکه چې د انسانانو لپاره د وخت معيار ورځ وه او الله تعالی همدا لفظ کارولی خو دا د داسې اوږدې مودې لپاره چې يوه طبيعي مرحله احتواء کوي. د ورځ لفظ په حقيقي او متداولې معنی نه بلکې په مجازي معنی کاروي.

---

هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن طِينٍ ثُمَّ قَضَىٰٓ أَجَلًا ۖ وَأَجَلٌ مُّسَمًّى عِندَهُۥ ۖ ثُمَّ أَنتُمْ

تَمۡتَرُونَ ۝٢

**۲- دی هماغه ذات دئ چې له خټې ئې راپیدا کړئ، بیا ئې د مرګ د نېټې پرېکړه وکړه او نومولې نېټه له ده سره ده، خو تاسو بیا هم شك کوئ!!**

(۲)- په دې مبارك آیت کې درې اساسي لارښوونې ګورو:

- انسانان ئې له خټې پیدا کړي، یا په دې معنی چې د انسانانو لومړی جد آدم علیه السلام ئې له خټې پیدا کړ او یا په دې معنی چې د هر انسان د پیدایښت اصلي ماده خټه ده، الله تعالی یوازې لومړی انسان له خټې نه دئ پیدا کړی بلکې دا اوس هم هر انسان په حقیقت کې له خټې پیدا کوي، د انسان نطفه له هغې دانې او مېوې جوړېږي چې ونې او بوټي ئې له خټې جوړوي، کله چې د ونې او بوټي بېخ ته اوبه ورسېږي، خاوره ورته خټه شي، له همدې خټې د خپلو جرړو له لارې ضروري مواد جذب کړي او دانه او مېوه ترې جوړه کړي، الله تعالی دغه له خټو جوړه شوې دانه او مېوه د انسان په بدن کې په نطفې بدله او انسان ترې جوړ کړي. دا دوهمه توجیه په دې دلیل ارجح ده چې د خلقکم لفظ عام دئ او ټولو انسانانو ته راجع دئ او همدا د هر مخاطب لپاره د یوه مضبوط او انکار نه منونکې دلیل بڼه غوره کوي او هغه ته وایي: هغه څوك دئ چې له خټې د انسان نطفه جوړوي او بیا یو بشپړ انسان ترې راپیدا کوي؟ آیا د عقل خاوندانو ته دا کافي نه دئ چې په الله تعالی ایمان راوړي؟
- الله تعالی د انسان د پیدایښت او مرګ لپاره (اجل) ټاکلی، د نطفې بېل بېل مراحل، د مور په رحم کې د ده پاته کېدا، ماشومتوب، ځواني، زړښت او په پای کې مرګ ئې د خاصې مودې په ترڅ کې وي، دا نېټې چا ټاکلې؟ ولې انسان نشي کولی دا نېټې بدلې کړي؟ ولې د خپل مرګ مخنیوی نشي کولی؟ آیا دا نه ښیي چې موږ د یوه مقتدر ذات د ارادې او پرېکړو په وړاندې مقهور یو؟
- لکه چې د انسان لپاره ئې اجل ټاکلی، همداسې ئې د دې عالم لپاره هم اجل ټاکلی، په معیني نېټې ئې پیدا کړی، زړښت لري او په مرګ محکومېږي، د انسان په اړه خو ویلی شو چې تخمیني عمر به ئې څومره وي، په نورو ئې قیاسوو خو د عالم د عمر پای او اجل له الله تعالی پرته هیچا ته نه دئ معلوم، د دې علم له الله تعالی سره دئ هیچا ته ئې نه دئ ورکړی.

وَهُوَ ٱللَّهُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَفِي ٱلۡأَرۡضِ يَعۡلَمُ سِرَّكُمۡ وَجَهۡرَكُمۡ وَيَعۡلَمُ مَا تَكۡسِبُونَ ۝٣

۳- او دى هم په آسمانونو کې معبود دئ او هم په زمکې کې، هم ستاسو په اسرارو پوهېږي او هم مو په ښکاره وو او هم مو په کړنو پوهېږي.

(۳)- په آسمانونو او زمکې کې له ده پرته بل معبود نشته، له ده پرته هيچېري داسي ځوك او څه نه موندل کېږي چي د عبادت وړ وي او دا ورسره ښايي چي انسان د خپلو اړتياوو لپاره ورته لاس اوږد کړي او مرستي ته ئې راوبلي، که له آسمان يا له زمکې څه تر لاسه کول غواړې، د واوري يا باران ورښت، د دانې يا مېوې راټوکېدا، نو له الله تعالی ئې وغواړه، هغه ستا په هر څه پوه دئ، هغه اړتياوي دي هم ورته معلومي دي چي له تا پټې يا درته ځرگندي دي، ستا په ټولو کړو او هڅو پوهېږي.

د آيت د وروستۍ برخي ارتباط له توحيد سره په دې توگه هم دئ چي الله تعالی کوم کتابونه نازل کړي او په هغوی کې ئې انسانانو ته کومي لارښووني کړې، داسي دي چي ښيي د دې کتاب او لارښوونو نازلوونکی داسي ذات دئ چي د انسان له هر څه خبر دئ، د جسمي او روحي جوړښت په ټولو ابعادو ئې پوهېږي، دا ورته معلومه ده چي د انسان د فطرت ځرگندي او پټې برخي څنگه دي، په مختلفو وختونو او شرائطو کې انسان کوم کوم کارونه کوي، دغو اسرارو ته په پام سره ئې دا لارښووني ورته کړې. دا توجيه د دې لپاره غوره ده چي د توحيد د اثبات لپاره د يوه قاطع او پرېکنده دليل بڼه لري.

وَمَا تَأْتِيهِم مِّنْ ءَايَةٍ مِّنْ ءَايَٰتِ رَبِّهِمْ إِلَّا كَانُوا۟ عَنْهَا مُعْرِضِينَ ﴿٤﴾

٤- او د خپل رب د آيتونو هيڅ آيت ورته نه راځي مگر دا چي ترې ډډه کوي.

(٤)- له دې مبارك آيت په ځرگنده توگه معلومېږي چي قرآن په مخکينيو آيتونو کې خپل مخاطب ته داسي دلائل وړاندي کړي چي د انسان د اقناع لپاره کفايت کوي، يوازي لجوج او بې عقله انسان به ترې انکار کوي، ځکه ئې دلته ويلي: دغو کافرانو ته چي هره الهي نښه راشي نه ئې مني او اعراض ترې کوي.

فَقَدْ كَذَّبُوا۟ بِٱلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ فَسَوْفَ يَأْتِيهِمْ أَنۢبَٰٓؤُا۟ مَا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٥﴾

٥- نو يقيناً کله چي دا حقيقت ورته راغی هغه ئې دروغ وگڼلو، نو ډېر ژر به د هغه څه حقيقي اخبار ورته راشي چي ملنډې ئې پرې وهلې.

(٥)- د دوی اعراض او مخالفت په اصل کې داسي دئ لکه ځوك چي حق خبره عمداً او په لجاجت سره دروغ گڼي، دوی له داسي حقيقت انکار کوي چي ښه ورته معلوم دئ. نه

يوازې اعراض او انكار كوي بلكې په دغه حقيقت استهزاء كوي، خو دا چې آيا دوی د قيامت په اړه د پيغمبر عليه السلام وينا د ملنډو وړ ګڼي او كه د هغه الهي عذاب په اړه د ده وينا چې ظالمان به په دنيا كې ورسره مخامخ كېږي، له وروستي آيت په وضاحت سره معلومېږي چې دوی دا دوهمه وينا د استهزاء او ملنډو وړ ګڼي او الله تعالى ورته فرمايي چې ډېر ژر او حتماً به ئې په خپلو سترګو وګوري.

---

أَلَمْ يَرَوْا۟ كَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَبْلِهِم مِّن قَرْنٍ مَّكَّنَّـٰهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ مَا لَمْ نُمَكِّن لَّكُمْ وَأَرْسَلْنَا ٱلسَّمَآءَ عَلَيْهِم مِّدْرَارًا وَجَعَلْنَا ٱلْأَنْهَـٰرَ تَجْرِى مِن تَحْتِهِمْ فَأَهْلَكْنَـٰهُم بِذُنُوبِهِمْ وَأَنشَأْنَا مِنۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا ءَاخَرِينَ ﴿٦﴾

٦- آيا نه ګوري چې تر دوی مخكې مو څومره داسې نسلونه هلاك كړل چې په ځمكې كې مو هومره تمكين وركړی وو چې تاسو ته مو نه دئ دركړی، له آسمانه مو پرله پسې بارانونه پرې لېږل او وياله مو داسې جوړې كړې چې تر پښو لاندې ئې بهېدلې، خو د خپلو ګناهونو په سبب مو هلاك كړل او تر دوی وروسته مو نور نسلونه راپيدا كړل.

---

(٦)- له دې آيت معلومېږي چې په مخكيني كې هغه عذاب ته اشاره شوې چې ظالمان او كافران به ورسره مخامخ كېږي، ډېرو ته د پيغمبرانو عليهم السلام دا وينا د منلو وړ نه معلومېده چې دا مسلط او په وسائلو مجهز كفري ځواكونه به د څو تش لاسو مؤمنانو په لاس له زوال سره مخامخ كېږي، د اقتدار كرسۍ به ئې نسكورېږي، باطل به ماته خوري او حقپال به بريالي كېږي، دوی ته دا خوب او خيال او د ملنډو وړ خبرې معلومېدې، خو قرآن ئې دې ته رابلي چې د تاريخ پاڼې واړوي، وګوري چې تر دغو د مخه څومره د زور او ځواك خاوندان له منځه تللي، نه ئې مال او دولت توانېدلی چې د دوی د زوال مخه ونيسي او نه ئې وسلې او فوځونه، د خپلو ګناهونو په سبب نيول شوي او الهي عذاب پرې نازل شوی. آيا دا كفايت نه كوي چې د اوسنيو مغرورو او باغي ځواكونو پايله د مخكينيو په څېر وګڼو؟!!

---

وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتَـٰبًا فِى قِرْطَاسٍ فَلَمَسُوهُ بِأَيْدِيهِمْ لَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِنْ هَـٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٧﴾

٧- او كه مو په كاغذ كې (ليكلی) كوم داسې كتاب پر تا نازل كړی وی چې لاس ئې پرې راكاږلی، نو دغو كافرانو به ويل: دا خو له ښكاره سحر پرته بل څه نه دئ!!

(۷)- دا د حق او حقیقت لجوج منکران چې په دغو دلائلو هم نه قانع کېږي، که له آسمانه داسې کتاب هم ورته راشي چې په کاغذ کې لیکلی وي، له آسمانه د دوی د سترګو په وړاندې راکوز شي او دوی ته په لاس کې ورکړی شي، نو دغه کافران به وايي: دا خو له څرګند سحر پرته بل څه نه دئ!!

وَقَالُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ مَلَكٞۖ وَلَوۡ أَنزَلۡنَا مَلَكٗا لَّقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ ثُمَّ لَا يُنظَرُونَ ﴿٨﴾

۸- او وايي به: ولې يوه فرشته پرې نه نازلېږي؟ او که کومه فرشته ولېږو نو بيا خو به حتماً کار پای ته رسي، بيا به مهلت نه ورکول کېږي.

(۸)- د کافرانو د دې وینا معنی یا دا ده چې که له آسمانه پر پیغمبر علیه السلام بشپړ کتاب نازل شي نو دوی به بیا هم وایي چې ولې هغه فرشته ځان نه راښیي چې دا کتاب ئې له آسمانه راوړی، څنګه ومنو چې دا کتاب د الله له لوري نازل شوی؟! او یا ئې معنی دا ده چې دوی وایي: څنګه ومنو چې ته د الله تعالی له لوري لېږل شوی یې، په داسې حال کې چې ته له مخالفتونو سره مخامخ یې، یاران دې وهل کېږي، نیول کېږي، ځورول کېږي، وژل کېږي او هجرت ته مجبورېږي، داسې څوك نشته چې ستا مرسته وکړي، که ته واقعاً د خدای پیغمبر وی نو ستا په خوا کې به داسې ځواکمني فرشتې ولاړې وې چې د هر چا په مقابله کې ئې ستا مرسته کولی! د دوی په ځواب کې ویل شوي: که فرشته درولېږو نو بیا خو کار پای ته رسي، یا په دې معنی چې بیا خو به د دغې فرشتې په لاس الهي عذاب پر تاسو نازلېږي او یا په دې معنی چې بیا خو به ستاسو مهلت پای ته رسي، تاسو ته خو د آزمېښت لپاره دا فرصت او مهلت درکړی شوی، که د غیب پرده څیري او د فرشتو په څېر مخلوق هم تاسو ته راڅرګند شي، بیا خو د امتحان او آزمېښت سوال منتفي او د آزمېښت مجال ختمېږي، بیا به ولې تاسو ته مزید مهلت درکول کېږي؟

وَلَوۡ جَعَلۡنَٰهُ مَلَكٗا لَّجَعَلۡنَٰهُ رَجُلٗا وَلَلَبَسۡنَا عَلَيۡهِم مَّا يَلۡبِسُونَ ﴿٩﴾

۹- که مو دا (رسول) يوه فرشته ګرځولې وی، نو حتماً به مو يو سړی ترې جوړ کړی وو؛ او داسې به مو خبره پرې شکمنه کړې وه لکه چې (همدا اوس) شك کوي.

(۹)- انسانانو ته خو باید د انسانانو له منځه پیغمبر ولېږل شي، هغه خو یوازې د خپل همنوع او همجنس په خبره پوهېدی شي، د بل نوع مخلوق په خبرو خو هغه نه پوهېږي، که له ملائکو کوم پیغمبر دوی ته لېږل کېږي هغه هم باید د انسان په بڼه کې وي، تاسو څنګه د فرشتې د راتلو غوښتنه کوئ؟!

که فرشته د انسان په بڼې کې ورته راشي، بیا به هم داسې شك کوي لکه اوس، څنګه به

پوهېږي چې دا فرشته ده که انسان؟ او څنګه به دا خبره مني چې دا د الله تعالی له لوري راغلی استازی دئ؟

وَلَقَدِ ٱسۡتُهۡزِئَ بِرُسُلٖ مِّن قَبۡلِكَ فَحَاقَ بِٱلَّذِينَ سَخِرُواْ مِنۡهُم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ١٠

١٠- او يقيناً تر تا په مخکينيو پيغمبرانو استهزاء شوې، نو پر هغو چې ملنډې به ئې پرې وهلې، همغه څه واقع شول چې استهزاء ئې پرې کوله.

(١٠)- د پيغمبرانو عليهم السلام کومي خبري چې دوی د ملنډو وړ ګڼلې او ملنډې ئې پرې وهلې، همغه رښتيا شوې، دوی نه د کمزورو او ضعيفو مؤمنانو بريا او د ځواکمنو کافرانو ماته د منلو وړ خبره ګڼله او نه دا چې د الله تعالی عذاب به پر کافرانو نازلېږي، دواړه خبري رښتيا شوې.

قُلۡ سِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ ثُمَّ ٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ١١

١١- ووايه: په زمکې کې وګرځئ، بيا وګورئ چې د دروغ ګڼونکو پای څنګه وو؟!

(١١)- دې ته ورته آيتونه په قرآن کې ډېر تر سترګو کېږي، په دې سره هم مؤمنانو ته اطمئنان ورکول کېږي چې د دښمنانو ظاهري زور او ځواك دې تاسو مشوش نه کړي، د دوی موقتي برياوي او ستاسو مقطعي ماته دې تاسو مأيوس نه کړي، مطمئن اوسئ چې دوی ته همغه پايله منتظره ده چې سلف ئې ورسره مخامخ شوی او هم کافرانو ته ويل شوي چې تکبر او غرور پرېږدئ، له تاريخ پند واخلئ، ستاسو پايله به هرومرو ستاسو د مخکينيو ملګرو په څېر وي.

قُل لِّمَن مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ قُل لِّلَّهِۚ كَتَبَ عَلَىٰ نَفۡسِهِ ٱلرَّحۡمَةَۚ لَيَجۡمَعَنَّكُمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ لَا رَيۡبَ فِيهِۚ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ١٢

١٢- ووايه: په آسمانونو او زمکې کې چې څه دي، دا د چا دي؟ ووايه: د الله دي، پر ځان ئې رحمت او مهرباني لازمه کړې، حتماً به مو د قيامت هغې ورځې ته راغونډ کړي چې هيڅ شك په کې نشته، چا چې ځانونه زيانمن کړي ايمان نه راوړي.

(١٢)- دلته درې اساسي خبرې زموږ مخې ته ایښودل شوې:

- الله تعالی د آسمانونو او زمکې ټولواک او د هر څه مالك او خاوند دئ، په دې سره مؤمنانو ته اطمئنان ورکول کېږي چې د ضعف، ناتوانۍ او بې کسۍ احساس ونه کړي، که الله تعالی وغواړي او دا د دوی په خیر وګڼي نو هر څه ورکولی شي.
- الله تعالی د رحمت او پېرزوینې خاوند دئ، څنګه به خپل مخلص او صالح بندګان یوازې او بې اسرې پرېږدي؟
- الله تعالی د دې لپاره د قیامت ورځ ټاکلې چې د ده د رحمت او پېرزوینې تقاضا همدا وه، د ده ډېر مخلص بندګان له کړاوونو سره مخامخ شي، د الله په لاره کې وځورېږي، په شهادت ورسېږي، مهربان رب به څنګه دوی بې مکافاتو پرېږدي؟! ډېر ظالمان درومي پرته له دې چې د خپلو ظلمونو بشپړه سزا وګوري، ډېر مظلومان له دنیا داسې درومي چې د ظالمانو له خوا ئې حق تر پښو لاندې شوی او په دې نه دي توانېدلي چې خپل حقوق تر لاسه کړي، مهربان رب د دې لپاره د قیامت ورځ ټاکلې چې هر چا ته د خپلو عملونو بشپړه بدله ورکړی شي. الله تعالی په دنیا کې هم د عملونو مناسبه بدله ورکوي خو بشپړه بدله د قیامت ورځې ته پرېږدي.
- په الله او آخرت له ایمان راوړلو هغه څوك ډډه کوي چې سخت خاسر او زیانمن دئ، په ډېرو ګناهونو سره ئې خپله دنیا او آخرت تباه کړی، ګناهونه ئې نه پرېږدي چې ایمان راوړي.

---

وَلَهُۥ مَا سَكَنَ فِي ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿١٣﴾

١٣- او څه چې په شپې او ورځې کې اوسي ټول د الله دي او هغه پوه اورېدونکی دئ.

---

(١٣)- په مخکیني آیت کې مکان او په دې کې زمان ته اشاره شوې، یعنی په هر ځای او هر وخت کې چې څه تر سترګو کېږي، ټول د الله تعالی دي، هغه ئې خالق او مالك دئ.

---

قُلۡ أَغَيۡرَ ٱللَّهِ أَتَّخِذُ وَلِيّٗا فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَهُوَ يُطۡعِمُ وَلَا يُطۡعَمُۗ قُلۡ إِنِّيٓ أُمِرۡتُ أَنۡ أَكُونَ أَوَّلَ مَنۡ أَسۡلَمَۖ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴿١٤﴾

١٤- ووایه: آیا له هغه الله پرته کوم مولا غوره کړم چې د آسمانونو او زمکې پیدا کوونکی دئ او هغه (نورو ته) روزي ورکوي او (هیڅوك) ده ته روزي نه ورکوي؟! ووایه: زه په دې ګمارل شوی یم چې هغه لومړی کس وم چې تسلیم شوی او دا چې له مشرکانو مه کېږه.

(١٤)- په دې مبارك آيت كې مسلمانانو ته څو ډېرې مهمې لارښوونې شوې:

- په دې خاطر بايد يوازې الله تعالى خپل مولا ومني او له ده پرته بل د مولا په توګه ونه نيسي چې الله تعالى د آسمانونو او زمكې خالق دئ، هغه ټولو مخلوقاتو ته روزي وركوي او هيچا ته په هيڅ څه كې اړ نه دئ.
- الله تعالى خپل بندګان په دوو اساسي خبرو ګمارلي: دا چې د ده په وړاندې به منقاد او تسليم وي او له ده سره به هيڅوك په اطاعت، عبادت او استعانت كې نه شريكوي.

---

قُلْ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٥﴾

١٥- ووايه: كه له خپل رب سرغړاوى وكړم، نو په يقين سره د سترې ورځې له عذاب وېرېږم.

---

(١٥)- يعني دغه وېره مې له عصيانه منع كوي او همدا وېره هر انسان له ګناه راګرځوي، حقيقت دا دئ چې په آخرت ايمان انسان له ګناه او عصيانه راګرځوي، په ګناه كې به هغه جرئ او جسور وي چې په آخرت او الهي محاسبې باور نه لري.

---

مَّن يُصْرَفْ عَنْهُ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمَهُۥ ۚ وَذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْمُبِينُ ﴿١٦﴾

١٦- څوك چې په دې ورځ ترې بچ كړى شو، نو يقيناً چې رحم ئې پرې كړى او همدا څرګنده بريا ده.

---

(١٦)- هغه څوك ترې ژغورل كېږي چې الله تعالى پرې رحم وكړي، د الله تعالى رحم تر لاسه كول او د هغې سترې ورځې له عذاب نجات، لويه او څرګنده بريا ده.

---

وَإِن يَمْسَسْكَ ٱللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَ ۖ وَإِن يَمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٧﴾

١٧- او كه الله كوم كړاو درورسوي نو له ده پرته ئې بل لرې كوونكى نشته او كه كومه ښېګڼه درورسوي نو هغه پر هر كار ښه قادر دئ.

---

(١٧)- په داسې حال كې چې الله تعالى هم د هر څه په وركولو او هم بېرته اخيستلو قادر دئ ولې به انسان له ده پرته بل ته لاس اوږدوي، له بل به طمع او وېره لري؟! د دې مبارك آيت معنى خو دا ده چې په آسمانونو او زمكې كې له الله تعالى پرته داسې څوك نشته چې د ده له لورې مقرر شوى ضرر دفع كړي او د مقرر شوې خير او ښېګڼې مانع

شي، د خير او ضرر پرېکړه د ده له لوري کېږي او هيڅوك ئې د پرېکړي په وړاندي نشي خنډ کېدی. آيا عجيبه نه ده چي څوك د خير مالك ټولواك او قدير خدای هېر کړي او د بل درشل ته لاس اوږد کړي؟!

وَهُوَ ٱلْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِۦۚ وَهُوَ ٱلْحَكِيمُ ٱلْخَبِيرُ ﴿١٨﴾

۱۸- او هغه پر خپلو بندګانو برلاسی دئ او هغه ښه باخبره حکيم دئ.

(۱۸)- دلته درې مهم مطالب بيان شوي:

- ټول بندګان ئې تر حکم او سلطې لاندي دي، مؤمنان هم او کافران هم، هيڅوك داسي څه نشي کولی چي ده ئې اجازه نه وي ورکړې، د زور او ځواك خاوندان دي دا ګمان نه کوي چي د ټولواك رب د پرېکړو مخي ته ودرېدی شي، په هغه مهلت دي نه مغروره کېږي چي الله تعالی ئې د خپل خاص حکمت له مخي باغي بندګانو ته ورکوي.
- الله تعالی د خپلو بندګانو له هر حالت ښه خبر دئ، پوهېږي چي څوك د کومي معاملې مستحق دئ.
- له بندګانو سره ئې هره معامله پر حکمت ولاړه معامله ده.

دې ته مو هم پام وي چي ځيني خلك د (فوق) لفظ په داسي توګه تعبيروي چي د دې آيت له اصلي مفهوم سره هيڅ تعلق نه لري، په داسي حال کې چي دلته بحث له قهر (سلطې او برلاسي) دئ نه د الله تعالی له فوقيت او موقعيت، خو دوی ئې د الله تعالی د مکاني موقعيت او فوقيت په معنی نيسي، دوی آيت داسي ژباړي: او هغه په خپلو بندګانو (قاهر: برلاسی) او (فوق: اوچت) دئ، حال دا چي دا ترجمه صحيح نه ده، ځکه د (او) لپاره په متن کې لفظ نشته، دقيقه ترجمه ئې دا ده: پر خپلو بندګانو برلاسی دئ. دا هم بايد په پام کې ولرو چي فوق او تحت نسبي مفاهيم دي، يوازي د مخلوق په اړه صدق کوي، څه ته چي دا اوس زه تحت وايم د امريکا اوسېدونکي ورته فوق وايي او څه ته چي همدا اوس دوی تحت وايي موږ ورته فوق وايو، فوق او تحت د الله تعالی په وړاندي مطرح نه دي، که څوك فوق د مکان په معنی ونيسي، دا تعبير به ئې د قرآن د ګڼ شمېر هغو آيتونو او احاديثو تکذيب ته اړ کوي چي وايي الله تعالی خپلو بندګانو ته د غاړې تر رګ ورنژدې دئ، لکه دا:

وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهِۦ نَفْسُهُۥۖ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ ٱلْوَرِيدِ ﴿١٦﴾ ق

او يقيناً چي موږ انسان پيدا کړی او په هغه څه پوهېږو چي خپل نفس ئې دی پرې وسوسه کوي؛ او موږ د غاړې تر رګ ورنژدې يو.

أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ مَا يَكُونُ مِن نَّجۡوَىٰ ثَلَٰثَةٍ إِلَّا هُوَ رَابِعُهُمۡ وَلَا خَمۡسَةٍ إِلَّا هُوَ سَادِسُهُمۡ وَلَآ أَدۡنَىٰ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكۡثَرَ إِلَّا هُوَ مَعَهُمۡ أَيۡنَ مَا كَانُواْۖ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُواْ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٌ ﴿٧﴾ المجادله

آيا پام دي نه دئ چي الله په هر هغه څه پوهېږي چي په آسمانونو او په زمکي کي دي، نه داسي نجوی شته چي د دريو ترمنځ وي او دی ئې څلورم نه وي او نه د پنځو ترمنځ چي دی ئې شپږم نه وي او نه تر دې کم يا زيات مگر دا چي دی ورسره وي، هرچېري چي وي، بيا به ئې د قيامت په ورځ په هغه څه خبر کړي چي دوی کولو، بې شکه چي الله په هر څه ښه پوه دئ.

هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ يَعۡلَمُ مَا يَلِجُ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا يَخۡرُجُ مِنۡهَا وَمَا يَنزِلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا يَعۡرُجُ فِيهَاۖ وَهُوَ مَعَكُمۡ أَيۡنَ مَا كُنتُمۡۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٤﴾ الحديد

دی همغه دئ چي آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو کي پيدا کړل او بيا پر عرش برابر شو؛ پر هغه څه هم پوهېږي چي په زمکي کي ننوځي او پر هغه څه هم چي ترې وځي او پر هغه څه هم چي له آسمان راکښته کېږي او پر هغه څه هم چي په کي لوړ ځي؛ او هغه په هر ځای کي چي تاسو وئ درسره دئ؛ او الله د هغه څه ښه ليدونکی دئ چي تاسو ئې کوئ.

وَنَحۡنُ أَقۡرَبُ إِلَيۡهِ مِنكُمۡ وَلَٰكِن لَّا تُبۡصِرُونَ ﴿٨٥﴾ الواقعه

او موږ هغه ته تر تاسو ډېر ورلنډ وو خو تاسي نه وينئ.

که څوك له دې انکار وکړي چي الله تعالی په هر ځای کي له موږ سره دئ، نو د قرآن له داسي څرگندو آيتونو ئې انکار کړی چي د هيڅ ډول تأويل مجال په کي نشته. دوی په دې نه پوهېږي چي د الله تعالی په وړاندي مکان او زمان، فوق او تحت، ماضي او مستقبل، شاهد او غائب مطرح نه دي، دا ټول نسبي مفاهيم دي چي يوازي د مخلوق په اړه صدق کوي.

دا ډله په دغو آيتونو کي تأويل کوي او معيت او قرب د علمي معيت او قرب په معنی نيسي او وايي چي الله تعالی د خپلو مخلوقاتو له حال داسي خبر دئ لکه چي له دوی سره وي!! وايي: هو علی العرش مباين عن خلقه!! الله تعالی پر عرش او له خپلو مخلوقاتو بېل او جلا دئ!! حال دا چي دا خبره هيڅ علمي ارزښت نه لري، د يوه کس ذاتي خبره ده، له ځانه ئې جوړه کړې، نه ئې الفاظ د قرآن او حديث دي او نه مفهوم، دقيقه خبره دا ده چي الله تعالی هم پر عرش استواء کړې او هم له خپلو بندگانو سره دئ.

دوی وايي چي په ذاتي معيت او قرب باور درلودل د وحدت الوجود او حلول په عقيدې منتج کېږي، حال دا چي د حلول او وحدت الوجود خرافي عقائد د الله تعالی په اړه د غلطي انګېرني يوه انتهاء ده او الله تعالی د مخلوقاتو په څېر په مکان او زمان مقيد ګڼل او د همدې غلطي عقيدې په حکم له بندګانو سره د الله تعالی له معيت او قرب انکار کول بله انتهاء. ډېره عجيبه ده چي څوك د دغي واهمې په وجه له مخلوق سره د الله تعالی له معيت او قرب او په دې اړه د قرآن له ګڼ شمېر آيتونو انکار کوي، له هغو آيتونو چي وايي: الله تعالی په هر ځای کي له خپلو بندګانو سره دئ، د غاړي تر رګ ورنږدې دئ، که دوی درې وي نو څلورم ئې الله تعالی دئ، که تر دې لږ وي يا زيات وي الله تعالی ورسره دئ.... دوی ځکه دا خبره کوي چي مخلوق ئې داسي موندلی چي په يو ځای کي وي نو په بل ځای کي نه وي، که د بام پر سر وي نو د بام لاندي نشته، اول او آخر لري، د پيدايښت نېټه لري، له دې نېټې مخکي نه وو، د مرګ نېټه لري له هغې وروسته نشته، د زمان تابع دئ، الله تعالی په مخلوق قياسوي او د همدې لپاره وايي: الله تعالی په آسمانونو کي او د عرش له پاسه دئ، په زمکي کي نشته، دوی دې ته اړ کېږي چي د هغو آيتونو په الفاظو کي تأويل وکړي چي بندګانو ته د الله تعالی د قرب او معيت يادونه کوي او دا د علمي قرب او معيت په معنی اخلي، دوی ته څو خبري لرو:

دا د کوم منطق له مخي صحيح ګڼئ چي اقرب د اعلم په معنی ونيول شي؟ الله تعالی فرمايي چي زه له خپلو بندګانو سره يم، د غاړي تر رګ ورنږدې يم، ته وايي: نه؛ ورنږدې نه دئ بلکي په حال ئې پوه دئ!!! که د دې آيتونو مراد دا وی چي الله تعالی د بندګانو له حاله خبر دئ، په هر حال او هر ځای کي پرې پوهېږي، نو د دې لپاره خو به حتماً د خبير او عليم الفاظ راتلل نه د قرب او معيت، قرآن خو هيڅکله داسي الفاظ نه کاروي چي د شك او ريب باعث شي، يوازي يو متعصب انسان کولی شي اقرب د اعلم په معنی ونيسي.

قرآن پر عرش د الله تعالی استواء او په زمکي کي له خپلو ټولو بندګانو سره معيت په يوه آيت کي او پر له پسې يادوي او فرمايي:

هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ۚ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنزِلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا ۖ وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٤﴾ الحديد

دی همغه دئ چي آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو کي پيدا کړل او بيا پر عرش برابر شو؛ پر هغه څه هم پوهېږي چي په زمکي کي ننوځي او پر هغه څه هم چي ترې وځي او پر هغه څه هم چي له آسمان راکښته کېږي او پر هغه څه هم چي په کي لوړ ځي؛ او هغه په هر ځای کي چي تاسو وئ درسره دئ؛ او الله د هغه څه ښه ليدونکی دئ چي تاسو ئې کوئ.

د دې معنی دا ده چې الله تعالی په داسې حال کې چې پر عرش ئې استواء کړې پر زمکې له خپلو بندګانو سره هم دئ او هر یوه ته د غاړې تر رګ ورنژدې هم، خو نه ئې پر عرش استواء د مخلوق په څېر ده او نه معیت او قرب، په حقیقت او کیفیت ئې له الله تعالی پرته بل څوك نه پوهېږي.

زه نه پوهېږم د حلول او وحدت الوجود د خرافي عقائدو ئې د الله تعالی له معیت او قرب سره څه ربط دئ؟! آیا صحیح ده چې د دغې واهمې په اساس له دغو آیتونو انکار وشي؟ که دا صحیح ګڼې نو بیا خو باید په آسمانونو او د عرش له پاسه هم د الله تعالی له شتون انکار وشي ځکه هلته هم مخلوقات شته، آسمانونه له فرشتو ډك دي، عرش حمله لري او د عرش خوا ته فرشتې په تسبیح بوختې دي، هلته ئې د شتون عقیده ولې د حلول او وحدت الوجود د عقیدې مترادف نه ګڼې!!

قُلْ أَيُّ شَيْءٍ أَكْبَرُ شَهَٰدَةً ۖ قُلِ ٱللَّهُ ۖ شَهِيدٌۢ بَيْنِى وَبَيْنَكُمْ ۚ وَأُوحِىَ إِلَىَّ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانُ لِأُنذِرَكُم بِهِۦ وَمَنۢ بَلَغَ ۚ أَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُونَ أَنَّ مَعَ ٱللَّهِ ءَالِهَةً أُخْرَىٰ ۚ قُل لَّآ أَشْهَدُ ۚ قُلْ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ وَإِنَّنِى بَرِىٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ ﴿١٩﴾

۱۹- ووایه: کوم شیء به ستر شهادت ورکوونکی وي؟ ووایه: الله، زما او ستاسو تر منځ شاهد؛ او ما ته دا قرآن د دې لپاره وحي شوی چې تاسو هم پرې انذار کړم او هغه څوك هم چې ورورسېږي، آیا تاسو په دې شهادت ورکوئ چې له الله سره نور معبودان هم شته؟! ووایه: زه خو دا شهادت نه ورکوم، ووایه: حقیقت دا دئ چې هغه یوازینی معبود دئ او زه له هغه څه بېزاره یم چې تاسو ئې شریکوئ.

(۱۹)- دلته څو خبرې باید په پام کې ولرو:

- د دې خبرې معنی چې الله تعالی تر ټولو ستر شاهد دئ او هغه زما او ستاسو تر منځ شاهد دئ؛ دا ده چې هغه په خپلو ټولو مخکینیو کتابونو کې هم دا خبره کړې چې شریك نه لري او یوازینی معبود دئ او په دغه قرآن کې چې پر ما ئې نازل کړی هم؟ په داسې حال کې چې الله تعالی په خپله په دې خبرې شهادت ورکوي آیا بل شاهد ته ضرورت شته؟!
- ما ته خو په دې قرآن کې ویل شوي چې تاسو او هر هغه څوك له شرك او د الله تعالی تر څنګ د بل معبود له عبادت ووېروم چې دا قرآن وررسېږي.
- که تاسو د خپل شرك په دفاع کې هر دلیل راوړئ، زما ځواب به یوازې دا وي چې له الله تعالی پرته بل معبود نشته او زه له هر هغه معبود بې زار یم چې تاسو ئې له الله سره شریکوئ.

ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَـٰهُمُ ٱلۡكِتَـٰبَ يَعۡرِفُونَهُۥ كَمَا يَعۡرِفُونَ أَبۡنَآءَهُمُ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٢٠﴾

۲۰- هغه چې كتاب مو وركړى، داسې ئې پېژني لكه خپل زامن چې پېژني، چا چې ځان تاواني كړى نو دوى ايمان نه راوړي.

(۲۰)- د دې آيت دوه توجيه شوې:

- هغه اهل كتاب چې په كتاب پوهېږي، د كتاب علم ئې په برخه شوى، پوهېږي چې محمد عليه السلام د الله تعالى هغه پيغمبر دئ چې مخكينيو انبياءو ئې د بعثت زېرى وركاوو، ده همغه الهي پيغام خلكو ته راوړى چې مخكينيو پيغمبرانو عليهم السلام راوړى وو، د ده او د ده د پيغام د حقانيت په اړه داسې پوهېږي لكه خپل زامن چې پېژني.
- دوى ته د مخكينيو الهي كتابونو په رڼا كې دا حقيقت څرگند شوى چې الله تعالى يو دئ او شريك نه لري، په دې حقيقت داسې پوهېږي لكه چې خپل زامن پېژني.

وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوۡ كَذَّبَ بِـَٔايَـٰتِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلظَّـٰلِمُونَ ﴿٢١﴾

۲۱- او تر هغه به زيات ظالم څوك وي چې په دروغو ئې پر الله افتراء كړې او يا ئې د ده آيتونه تكذيب كړي، يقيناً چې داسې ظالمان نه ژغورل كېږي.

(۲۱)- د دې آيت معنى يا دا ده چې كه څوك په دروغو ادعاء وكړي چې الله تعالى په الوهيت او ربوبيت كې شريكان لري، دروغجنو معبودانو ته داسې څه منسوب كړي چې له الله پرته له هيچا سره نه ښايي، د الله تعالى واك په خپلو دروغجنو معبودانو ووېشي، په دعاء او عبادت كې هغوى له الله سره شريك كړي او له هغو څرگندو آيتونو انكار وكړي چې توحيد ثابتوي، توحيد ته بلنه وركوي او شرك نفي كوي، نو تر دې ستر ظالم نشته. او يا ئې معنى دا ده چې كه څوك پيغمبر نه وي او له ځانه په دروغو د پيغمبرۍ دعوى وكړي، خپلې خبرې خداى ته منسوب كړي، يا د الله تعالى د كتاب آيتونه دروغ وگڼي، نو تر ده ستر ظالم نشته، هغه پيغمبر چې انسان ته دروغ نه وايي، په انسان پسې افتراء نه كوي، څنگه به د الله تعالى په اړه دروغ وايي؟!

لومړۍ توجيه په دې دليل موجه ده چې عموميت لري او له مخكينيو آيتونو سره ئې تراو زيات دئ.

وَيَوۡمَ نَحۡشُرُهُمۡ جَمِيعٗا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشۡرَكُوٓاْ أَيۡنَ شُرَكَآؤُكُمُ ٱلَّذِينَ كُنتُمۡ تَزۡعُمُونَ ﴿٢٢﴾

۲۲- او هغه ورځ چې دوی ټول به راغونډ کړو، بیا به مشرکانو ته ووایو: ستاسو هغه شرکاء چېرې دي چې دا گمان مو پرې کاوو (چې دوی د خدای شریکان دي)؟

(۲۲)- د قیامت په ورځ به له ټولو مشرکینو وپوښتل شي چې ستاسو هغه دروغجن معبودان چېرې دي چې له الله تعالی سره مو په دعاء او عبادت کې شریك کړي وو؟ هغه چې تاسو به گمان کولو چې د قیامت په ورځ به ستاسو شفاعت کوي او له ځان سره به مو جنت ته بیايي، چېرې دي؟

ثُمَّ لَمۡ تَكُن فِتۡنَتُهُمۡ إِلَّآ أَن قَالُواْ وَٱللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشۡرِكِينَ ﴿٢٣﴾

۲۳- بیا به د دوی فتنه له دې پرته بل څه نه وي چې وایي به: په خپل رب الله مو قسم چې موږ مشرکان نه وو!!

(۲۳)- د دوی د کفر او شرك پایله به دغه وي، یا به هغه مهال چې د خپل کفر او شرك عذاب په خپلو سترگو وگوري نو د دوی وینا به یوازې دا وي چې په دروغو به لوړه کوي چې دوی شرك نه دئ کړی او یا دا چې کله خپل مزعوم معبودان وگوري چې څه ئې له لاسه نه دي پوره، د دوی مرسته نشي کولی، د شفاعت پر ځای ترې بې زاره دي او خپل برائت ترې اعلانوي، دوی به هم په دروغو قسم خوري چې موږ مشرکان نه وو.

ٱنظُرۡ كَيۡفَ كَذَبُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡۚ وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ﴿٢٤﴾

۲٤- وگوره! څنگه پر خپل ځان دروغ وایي او هغه څه ترې ورك دي چې (له ځانه ئې) افتراء کول.

(۲٤)- هلته به هم دروغ وایي، خو د ځان په اړه، له شرك به انکار کوي، هلته به خپل دروغجن معبودان نه مومي، د چا په اړه چې دوی افتراء کوله، هغه ئې په الوهیت او ربوبیت کې د الله تعالی شریك گڼلو، له ځانه به ئې د دې غلطې عقیدې د ثابتولو لپاره دلائل جوړول، هلته به دا دلائل نه مومي او له خپل شرك به دفاع نشي کولی.

وَمِنۡهُم مَّن يَسۡتَمِعُ إِلَيۡكَۖ وَجَعَلۡنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ أَكِنَّةً أَن يَفۡقَهُوهُ وَفِيٓ ءَاذَانِهِمۡ

وَقۡرٗاۚ وَإِن يَرَوۡاْ كُلَّ ءَايَةٖ لَّا يُؤۡمِنُواْ بِهَاۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوكَ يُجَٰدِلُونَكَ يَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٢٥﴾

۲۵- او د دوی ځيني تا ته غوږ شي، په داسي حال کي چي د نه پوهېدو لپاره مو د دوی پر زړونو پرده غوړولې او د دوی په غوږونو کي مو درونداوالی ايښی؛ او که هره نښه وګوري ايمان پرې نه راوړي، تر هغه چي تا ته راشي، شخړه درسره کوي، دا کافران وايي چي دا خو د مخکينيو له نکلونو پرته بل څه نه دئ.

---

(۲۵)- د دوی زړونه زنګ وهلي او غوږونه ئې درانه دي، نه د حق خبره د دوی زړه ته لار مومي او نه ئې په خپلو غوږونو اوري، کفر، جهل او ړوند تعصب هغه ځای ته رسولي چي کله هم د خپلو غلطو افکارو او انګېرنو او د خپل شرك لړلي مذهب په خلاف څه واوري، فوراً او له ځنډ او غور پرته ئې مخالفت کوي، نه پرې غور کولو ته چمتو کېږي او نه ئې دلائلو ته غوږ نيسي، د الله له پيغمبر سره هم مجادله کوي او حتی د الله تعالی کتاب ته د زړو نکلونو نسبت کوي!! له دې نسبت د دوی مراد دا دئ چي: دا زړې او تکراري خبري دي، ډېرو تر تا د مخه دا خبري کړې دي، ستا په دعوت کي نوې خبره نه مومو، تا چي کوم کتاب راوړی د مخکينيو امتونو او پيغمبرانو له قصو ډك دئ، موږ له دغو زړو قصو سره علاقه نلرو. دا تل د بې عقلو خلکو بد خوی وي چي کله ئې زړه سواند مصلحين او دعوتګران د حق لوري ته رابلي په دې دليل منفي ځواب ورکوي چي بلنه ئې مخکينيو دعوتګرانو ته ورته مومي، دوی له هر چا د نوې خبري اورېدو انتظار لري، هغه بلنه د منلو وړ ګڼي چي نوې وي، تجدد خوښوي، په داسي حال کي چي حق يو دئ، د زمانې بدلون ئې نشي بدلولی، دوی د عقل په غوښتنه نه بلکي د هوس په غوښتنه نوې خبري غواړي. ځوك چي د ړوند تعصب په وجه د الله تعالی له کتاب سره دا معامله کوي او هغه ته د اساطير الاولين نسبت کوي آيا د انسان استدلال ته به اعتناء وکړي؟!

دې ته مو بايد پام وي چي الله تعالی د عالم ټول هغه کارونه چي د ده له سننو سره سم تر سره کېږي ځان ته منسوبوي، دا ځکه چي د هغو سننو مطابق تر سره کېږي چي ده وضع کړي، انسان ئې داسي پيدا کړی چي کولی شي يا د خپل عقل په رڼا کي وخوځېږي يا د خپل ړوند تعصب په حکم، که د تعصب لار غوره کړي، خپل عقل راکد پرېږدي، هيڅ دليل ته غوږ نه ږدي او د خپل زړه دړه ورته نه پرانيزي، د خپلي ناسمي عقيدې او غلط مذهب په نسبت ړوند تعصب کوي، همدغه حالت ته په دې آيت کي پر زړونو د پردې غوړېدا او د غوږونو درنېدا ويل شوي او الله تعالی ځکه دا ځان ته منسوبوي چي د ده د سننو مطابق تر سره کېږي.

وَهُمۡ يَنۡهَوۡنَ عَنۡهُ وَيَنۡـَٔوۡنَ عَنۡهُۖ وَإِن يُهۡلِكُونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمۡ وَمَا يَشۡعُرُونَ ٢٦

۲٦- او دوی هم نور ترې منع کوي او هم په خپله ترې ډډه کوي او دوی له ځان پرته بل څوك نه هلاکوي، په داسي حال کې چي نه پوهېږي.

---

(۲٦)- دوی د مخالفت پرېکړه کړې، په خپله هم په دې کتاب او پيغمبر له ایمان راوړو ډډه کوي او نور هم ترې منع کوي، خو دوی په دې مخالفتونو سره یوازي ځان د هلاکت کندي ته غورځوي، نه د حق د حتمي بريا مخه نیولی شي او نه له دې کاروان سره د حقپالو د یو ځای کېدو.

---

وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذۡ وُقِفُواْ عَلَى ٱلنَّارِ فَقَالُواْ يَٰلَيۡتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّنَا وَنَكُونَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٢٧

۲۷- او ای کاش هغه مهال ووينې چي د اور پر غاړه به ودرول شي، نو وايي به: کاش بېرته وگرځول شو او د خپل رب آيتونه دروغ ونه گڼو او له مؤمنانو وو.

---

(۲۷)- دوی خو اوس په ډېر کبر او غرور سره ستا مخالفت کوي او په شرك ټينگار او اصرار لري، خو هغه ورځ به حتماً راشي چي دوی به له خپل شرك نادم وي، دا هيله به کوي چي بېرته دنيا ته ولېږل شي، چي د الله تعالی په آيتونو ايمان راوړي او له مؤمنانو سره ملگري شي او دا به هغه مهال وي چي دوی د دوزخ د اور پر ژۍ ولاړ وي او د خپل کفر او شرك بدي پايلي ئې مخي ته.

---

بَلۡ بَدَا لَهُم مَّا كَانُواْ يُخۡفُونَ مِن قَبۡلُۖ وَلَوۡ رُدُّواْ لَعَادُواْ لِمَا نُهُواْ عَنۡهُ وَإِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ٢٨

۲۸- داسي نه ده بلکي هغه څه ورته راڅرگند شوي چي مخکي ئې پټولو او که بېرته وگرځول شي حتماً به همغه څه ته وروگرځي چي ترې منع شوي وو او يقيناً چي دوی دروغجن دي.

---

(۲۸)- نه به د دوی دا ندامت څه گټه لري او نه به ئې دا ژمنه حقيقي او رښتينې ژمنه وي، دا ژمنه به ئې د تعقل او تفکر نتيجه نه وي، په دې خاطر به دا ژمنه نه کوي چي د ایمان حقيقت ورته څرگند شوی، بلکي په دې خاطر به وي چي د اور پر ژۍ ولاړ دي، له خطر د ځان ژغورلو په لټه کې دي، هغه څه ورته راڅرگند شوي چي پټولو ئې، د دوزخ د اور لمبو دې ته اړ کړي چي دا خبري وکړي، خو دلته به هم دروغ وايي، که بېرته وگرځول

شي، بيا به خپل كفر او شرك ته ورستنېږي.

---

وَقَالُوٓاْ إِنۡ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنۡيَا وَمَا نَحۡنُ بِمَبۡعُوثِينَ ﴿٢٩﴾

٢٩- او وئې ويل: دا نه دئ مگر همدا زموږ دنيوي ژوند او موږ بيا راژوندي كېدونكي نه يو!!

---

(٢٩)- دوی همدا د دنيا ژوند، لومړی او وروستی ژوند گڼي، په بيا ژوندون باور نه لري، د دوی د انكار او مخالفت ستره وجه همدا ده.

---

وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذۡ وُقِفُواْ عَلَىٰ رَبِّهِمۡۚ قَالَ أَلَيۡسَ هَٰذَا بِٱلۡحَقِّۚ قَالُواْ بَلَىٰ وَرَبِّنَاۚ قَالَ فَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَ بِمَا كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ ﴿٣٠﴾

٣٠- او كاش هغه مهال ووينې چې د خپل رب په وړاندې ودرول شوي، (ورته) ووايي: آيا دا يو حقيقت نه دئ؟ وبه وايي: هو؛ زموږ دې په خپل رب قسم وي، (ورته) وبه وايي: نو د خپل كفر په سبب دا عذاب وڅكئ.

---

(٣٠)- د دوی د انكار او مخالفت پروا مه كوه، هغه ورځ به راشي چې دوی به د الله تعالی په وړاندې ودرېدلي وگورې، پوښتنه به ترې كوي چې آيا بيا ژوندون، د خپل رب په وړاندې ودرېدا او د حساب او كتاب ورځ يو حقيقت نه وو؟ دوی به له دې پرته بل ځواب نه لري چې: هو؛ زموږ دې په خپل رب قسم وي، خو هلته به ئې دا اعتراف هيڅ گټه نه لري، د خپل اعتراف په ځواب كې به ورته وويل شي: نو اوس د خپل كفر او انكار په سبب دا عذاب وڅكئ!!

---

قَدۡ خَسِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِلِقَآءِ ٱللَّهِۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَتۡهُمُ ٱلسَّاعَةُ بَغۡتَةً قَالُواْ يَٰحَسۡرَتَنَا عَلَىٰ مَا فَرَّطۡنَا فِيهَا وَهُمۡ يَحۡمِلُونَ أَوۡزَارَهُمۡ عَلَىٰ ظُهُورِهِمۡۚ أَلَا سَآءَ مَا يَزِرُونَ ﴿٣١﴾

٣١- په رښتيا چې هغو كسانو تاوان وكړ چې له الله سره مخامخېدا ئې دروغ وگڼله، تر هغه چې قيامت ناڅاپي ورته راشي، وايي به: حيف زموږ په حال، د هغه تېري په وجه چې په دې اړه مو وكړ، په داسې حال كې چې خپل پېټي (د گناهونو) به پر خپلو شاگانو وړي، اوهو! څومره بد دئ هغه څه چې پر شا ئې وړي.

(٣١)- ټول هغه خلك په سخت زيان او تاوان کې دي چې د الله لوري ته ستنېدا او له خپل رب سره مخامخېدا نه مني، کله چې قيامت د دوی د اټکلونو او انګېرونو خلاف ناڅاپي راشي، نو د قيامت په اړه به په خپلې غلطۍ اعتراف کوي او دا به تېرى ګڼي، دا حسرت به کوي چې ولې ئې دا اشتباه وکړه، د خپلو هغو ګناهونو پېټی به ئې پر شا وي چې له آخرت د انکار او غفلت په سبب ئې کړي وو.

له دې آيت معلومېږي چې د قيامت په ورځ به ګناهونه مجسم شي، د ګناهکار پر اوږو به داسي بار شي چې هر څوك به ئې له ورايه ګوري، نه به انکار ترې کولی شي او نه به ئې د نورو له نظره پټولی شي.

وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا لَعِبٞ وَلَهۡوٞۖ وَلَلدَّارُ ٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿٣٢﴾

٣٢- او دنيوي ژوند خو (د آخرت په پرتله) له لوبو او ساعت تېرۍ پرته بل څه نه دئ؛ او د آخرت کور هغو ته ډېر غوره دئ چې تقوى کوي، نو آيا تعقل نه کوئ؟

(٣٢)- دا آيت ښيي چې د عقل خاوندان په دې حقيقت پوهېدى شي چې (تقوى) ژوند ته ارزښت ورکوي، د تقوى خاوندان به د آخرت هغه لوړ ژوند تر لاسه کوي چې د دنيا ژوند د هغه په پرتله داسي دئ لکه د ماشومانو بې مقصده او خوشې لوبې. په دې کې هيڅ شك نشته چې د ژوند ارزښت په هغو کارونو پوري تړلی چې انسان ئې په خپل ژوند کې کوي، که نه نو هسي ژوند خو يوه سپړه او مچ هم لري، که داسي نه وی نه نو د جاني ژوند به مضر نه ګڼل کېدو او د لېوني ژوند بې ارزښته.

دې ته مو بايد پام وي چې د اسلام له نظره د دنيا ژوند د آخرت د ژوند مقدمه ده، ښه ژوند د ښه آخرت او بد ژوند د بد آخرت پيلامه ده، د چا چې دنيا خرابه وه آخرت به ئې خراب وي او د چا چې دنيا ښه وه آخرت به ئې ښه وي، خو اسلام د ښه او بد لپاره ځانګړي معيارونه لري، دا معيارونه د هغو خلکو له معيارونو سره ژور توپيرونه لري چې ښه او بد ته د ايمان له زاويې نه ګوري، د اسلام له نظره ښه ژوند هغه دئ چې له سپېڅلو افکارو او عقائدو او لوړو موخو او اهدافو سره توأم وي، په فساد، ظلم، د بل په حق تېري او ګناه نه وي لړل شوی، داسي ژوند د جنت مقدمه ګڼي او هغه ژوند ته د دوزخ د پيلامې او مقدمې په سترګه ګوري چې د څناورو د ژوند په څېر وي، بې مقصده، له غلطو افکارو او عزائمو سره، په ګناه، ظلم او فساد لړلی، د انسان موخي او اهداف د ده د ژوند ارزښت ټاکي، د انسان عقائد او عزائم د ده ژوند ته ارزښت ورکوي، د چا چې اهداف ټيټ او پرېوتي وي ژوند ئې د ماشومانو په څېر لهو او لعب دئ، د پرېوتو اهدافو خاوند که د ستر هېواد پاچا وي، واکمني ئې داسي ده لکه د ماشومانو په لوبو کې چې يو ئې د څو

شېبو لپاره پاچا وي، پر سر ئې کاغذي تاج ورکښېږدي، د تخت پر سر ئې کښېنوي، امرونه صادروي، د یوه د نیولو، د بل د وهلو او د بل د بخښلو پرېکړې کوي، خو څو شېبې وروسته دا لوبه پای ته ورسېږي، په بلې کې مخکینی غل د پاچايي پر تخت ناست وي، مخکینی پاچا د غلا په تور نیول شوی وي، د پاچا په وړاندې ئې لاس تړلی ودروي او خپلې سزا ته انتظار کوي!!

---

قَدْ نَعْلَمُ إِنَّهُۥ لَيَحْزُنُكَ ٱلَّذِى يَقُولُونَ ۖ فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَـٰكِنَّ ٱلظَّـٰلِمِينَ بِـَٔايَـٰتِ ٱللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴿٣٣﴾

٣٣- یقیناً پوهېږو چې د دوی وینا دې حتماً غمجن کوي، دوی خو تا نه تکذیبوي، بلکې دا ظالمان د الله له آیتونو انکار کوي.

---

(٣٣)- پیغمبر علیه السلام د خپل ترحم او زړه سوي په وجه د هغو خلکو په حالت ځورېدو چې د جهل او شرك په تیارو کې ژوند کوي، په الله او آخرت د ایمان نه راوړو په وجه د ګناه، فساد او ظلم په ګنده ډنډ کې غرق دي، د تعصب په وجه، په پټو سترګو د پیغمبر علیه السلام د دعوت مخالفت کوي، الله تعالی ده ته او د ده له لارې هر زړه سواند داعي ته فرمايي: ستا متعصب او ناپوه مخاطبین یوازې ستا مخالفت نه کوي، بلکې دوی ستا د رب ټول څرګند آیتونه تکذیبوي، د ده د سپېڅلي کتاب آیتونه هم او په عالم کې هغه خورې د قدرت نښې او آیتونه هم چې انسان ته د خپل رب په لورې بلنه ورکوي.

---

وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّن قَبْلِكَ فَصَبَرُوا۟ عَلَىٰ مَا كُذِّبُوا۟ وَأُوذُوا۟ حَتَّىٰٓ أَتَىٰهُمْ نَصْرُنَا ۚ وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَـٰتِ ٱللَّهِ ۚ وَلَقَدْ جَآءَكَ مِن نَّبَإِى۟ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٣٤﴾

٣٤- او یقینا چې تر تا مخکې د ډېرو پیغمبرانو تکذیب شوی؛ او دوی په دې تکذیب او ځورونو تر هغه صبر کړی چې زموږ مرسته وررسېدلې او د الله ویناوو ته بدلوونکی نشته او یقیناً چې تا ته د پیغمبرانو د حال خبرونه درغلي.

---

(٣٤)- دا یوازې ته نه یې چې د دعوت په لار کې له مخالفتونو سره مخامخ یې، تر تا مخکې ډېر پیغمبران تکذیب او ځورول شوي، خو د ټولو مخالفتونو او ځورونو په وړاندې ئې تر پایه او تر هغې نېټې صبر کړی چې الله تعالی د دوی مرسته کړې او پر دښمنانو ئې بری ورپه برخه کړی، نو تاسو هم صبر وکړئ، مطمئن اوسئ چې دوی به د خپلو مخالفتونو پایله وګوري او تاسو د خپل صبر، په دې اړه د الله تعالی سنن ثابت او تغییر نه منونکي دي، د مخکینیو پیغمبرانو علیهم السلام قصې په همدې حقیقت شهادت ورکوي.

وَإِن كَانَ كَبُرَ عَلَيۡكَ إِعۡرَاضُهُمۡ فَإِنِ ٱسۡتَطَعۡتَ أَن تَبۡتَغِيَ نَفَقٗا فِي ٱلۡأَرۡضِ أَوۡ سُلَّمٗا فِي ٱلسَّمَآءِ فَتَأۡتِيَهُم بِـَٔايَةٖۚ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَمَعَهُمۡ عَلَى ٱلۡهُدَىٰۚ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡجَٰهِلِينَ ﴿٣٥﴾

٣٥- که د دوی مخ اړونه پر تا ستره وي، نو که کولی شې په زمکې کې کوم سورى ولټوه يا په آسمان کې کومه زينه، چې کومه نښه (او قاطع دليل) ورته راوړې او که الله غوښتلی نو حتماً به ئې دوی ټول پر هدايت راغونډ کړي ول، نو له جاهلانو مه کېږه.

(٣٥)- په دې مبارك آيت کې څو لارښووني شوې:

- د مخالفينو اعراض او مخ اړونه وزغمئ، دا بايد تاسو مأيوس او مشوش نه کړي.
- د الله تعالی له لوري او د هغه په بليغ او جامع کتاب کې چې کوم دلائل وړاندي شوي دا کافي وګڼئ، په آسمانونو او زمکې کې تر دې مضبوط او قانع کوونکي دلائل نه موندل کېږي، خامخا څان په دې اندېښنه کې مه اچوئ چې کېدی شي بر يا لاندي داسي کوم دليل په لاس درشي چې دا مخالفين پرې قانع کړئ، څوك چې د قرآن په استدلال قانع نشي په بل څه ئې نشئ قانع کولی.
- د الله تعالی سنت دا نه دئ چې خلك ايمان راوړلو ته مجبور کړي، داسي نښي ئې مخي ته کښېږدي چې د مخالفت او اعراض ټولي لاري پرې بندي کړي، د داسي نښي د راتلو تلوسه مه کوئ، که الله تعالی غوښتلی په خپل قاهره قدرت سره به ئې ټول ايمان راوړلو ته مجبور کړي وو.
- د دوی د اعراض او مخالفت په وړاندي بې صبري او د داسي قاطع نښو د راتلو تلوسه چې دوی حتماً پرې قانع شي، د جهالت نښه ده، څان ترې وساتئ، ګمان مه کوئ چې ټول مخالفتونه په استدلال سره له منځه تلی شي، د ځينو خلکو د مخالفت وجه دا نه وي چې پوره او قانع کوونکي دلائل نه دي وررسېدلي، بلکې نور لاملونه لري، چاره ئې هم استدلال نه دئ، نوري لاري چاري ورته ولټوئ.

إِنَّمَا يَسۡتَجِيبُ ٱلَّذِينَ يَسۡمَعُونَۘ وَٱلۡمَوۡتَىٰ يَبۡعَثُهُمُ ٱللَّهُ ثُمَّ إِلَيۡهِ يُرۡجَعُونَ ﴿٣٦﴾

٣٦- خبره دا ده چې يوازي هغه خلك (ستا) بلنه مني چې اوري؛ او مړه چې دي الله به ئې راپاڅوي، بيا به د ده لوري ته ورګرځول کېږي.

(٣٦)- له دغو مخالفينو ځيني د مړو په څېر دي، احساسات او عواطف ئې مړه، جذبات

ئې ساړه، په زړونو ئې زنګ، پر سترګو ئې پرده او غوږونه ئې کاڼه، له دوی دا طمع مه کوه چې ستا په استدلال سره به قانع شي، يا ښايي داسې څه به ومومې چې د دوی مړه احساسات او مشاعر راژوندي او ساړه زړونه ئې ګرم کړي، دوی پرېږده چې د قيامت په ورځ ئې الله تعالی راژوندي کړي!

وَقَالُواْ لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ ءَايَةٌ مِّن رَّبِّهِۦۚ قُلْ إِنَّ ٱللَّهَ قَادِرٌ عَلَىٰٓ أَن يُنَزِّلَ ءَايَةً وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٧﴾ وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِي ٱلْأَرْضِ وَلَا طَٰٓئِرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلَّآ أُمَمٌ أَمْثَالُكُمۚ مَّا فَرَّطْنَا فِي ٱلْكِتَٰبِ مِن شَيْءٍۚ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِمْ يُحْشَرُونَ ﴿٣٨﴾

٣٧- او وئې ويل: ولې د خپل رب له لوري کوم آيت (معجزه) نه پرې نازلېږي، ووايه: يقيناً چې الله د معجزې په رالېږلو قادر دئ، خو د دوی ډېری نه پوهېږي. ٣٨- او نه په زمکې کې داسې هيڅ خوځېدونکی شته او نه (په هوا کې) په دواړو وزرونو الوتونکی مرغه چې ستاسو په څېر دې ټولی ټولی نه وي، په دې کتاب کې مو هيڅ څه نه دي پرېښي، بيا به د خپل رب لوري ته ورټول کړی شي.

(٣٧-٣٨)- دوی داسې معجزه غواړي چې انکار ترې ممکن نه وي او هر ليدونکی ايمان راوړو ته اړ کړي، په ځواب کې ورته ويل شوي:

- الله تعالی د داسې معجزې په ښودلو هم قادر دئ، خو دا کار د ده د سنت مطابق نه دئ.
- الله تعالی هر مخلوق له ځانګړو خصوصياتو سره پيدا کړی، ژوي ئې د بېلو بېلو ځانګړتياوو سره ټولی ټولی پيدا کړي، لکه دا چې ځينې حيوانات پر زمکه خوځېږي او لکه مرغان چې پر خپلو وزرونو الوځي، انسان ئې هم له خاصو ځانګړتياوو سره پيدا کړی، د ده ستره ځانګړتيا دا ده چې انتخاب کولی شي، که دا د انتخاب ځانګړتيا ترې واخيستل شي او د کومې خبرې په منلو مجبور کړی شي، بيا خو د ده امتياز له منځه ځي او د نورو مجبورو او بې اختيارو حيواناتو په څېر ګرځي، الله تعالی نه غواړي له انسان سره داسې معامله وکړي.
- په قرآن کې ټول هغه دلائل ويل شوي چې عقلمن او د هدايت په لټه کې انسان ته کفايت کوي.

وَٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا صُمّٞ وَبُكۡمٞ فِي ٱلظُّلُمَٰتِۗ مَن يَشَإِ ٱللَّهُ يُضۡلِلۡهُ وَمَن يَشَأۡ يَجۡعَلۡهُ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٣٩﴾

۳۹- او هغه چې زموږ آیتونه تکذیبوي کاڼه او ګونګیان دي په تیارو کې، الله چې څوك وغواړي لار ورکې ئې کړي او څوك چې وغواړي پر سمې لارې ئې برابر کړي.

(۳۹)- دا الهي آیتونه یوازې هغه څوك تکذیبوي چې د جهل او تعصب په داسې تیارو کې پراته دي چې نه په خپله ترې وتلی شي، نه د کوم لارښود غږ اوري او نه چا ته د لار موندلو لپاره غږ کولی شي، الله تعالی د دې وړ نه دي موندلي چې هدایت ئې کړي، الله تعالی د هدایت او ضلالت په اړه خاص سنن لري، څوك چې د دغو الهي سننو مطابق د هدایت وړ وي په مستقیمه لار ئې هدایتوي او څوك چې دا وړتیا ونه لري په ضلالت کې ئې پرېږدي.

قُلۡ أَرَءَيۡتَكُمۡ إِنۡ أَتَىٰكُمۡ عَذَابُ ٱللَّهِ أَوۡ أَتَتۡكُمُ ٱلسَّاعَةُ أَغَيۡرَ ٱللَّهِ تَدۡعُونَ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٤٠﴾ بَلۡ إِيَّاهُ تَدۡعُونَ فَيَكۡشِفُ مَا تَدۡعُونَ إِلَيۡهِ إِن شَآءَ وَتَنسَوۡنَ مَا تُشۡرِكُونَ ﴿٤١﴾

٤۰- ووایه: آیا پوهېږئ چې که د الله عذاب درته راشي، یا قیامت راشي، آیا له الله پرته به بل څوك (مرستې ته) دربلئ، که رښتیني یئ؟ ٤۱- بلکې یوازې هغه به دربلئ، نو که وغواړي هغه څه به لرې کړي چې تاسو ئې ورته دربلئ؛ او هغه څه به هېروئ چې (له الله سره ئې) شریکوئ.

(٤۰-٤۱)- په دې مبارکو آیتونو کې د انسان یوې سترې کمزورتیا ته اشاره شوې، هغه دا چې په سخت حالت کې او هغه مهال چې له کوم مصیبت او عذاب سره مخامخ شي، الله ته مخه کړي، یوازې له هغه مرسته غواړي او ټول دروغجن معبودان ترې هېر شي، دا ښیې چې سوکالي، آرام او مرفه ژوند د ده پر عقل او سترګو داسې پرده وغوړوي چې په حقائقو غور او ښو او دلائلو ته اعتناء ترې سلب کړي، د مصیبتونو په مهال خپل طبیعي حالت ته وګرځي، دا پردې څیرې شي، خپل حقیقي رب ورپه یاد شي او هر هغه څه هېر کړي چې له الله تعالی سره ئې شریکول.

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَآ إِلَىٰٓ أُمَمٖ مِّن قَبۡلِكَ فَأَخَذۡنَٰهُم بِٱلۡبَأۡسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمۡ

يَتَضَرَّعُونَ ﴿٤٢﴾

٤٢- يقيناً چې تر تا د مخه امتونو ته مو پيغمبران لېږلي وو، نو په کړاوونو او ستونزو مو اخته کړل چې زاري وکړي.

(٤٢)- الله تعالی تر دې د مخه ډېرو ولسونو ته خپل پيغمبران لېږلي، د دې لپاره چې دوی د غفلت له ژور خوبه راويښ کړي، د دوی د کفر، شرك او ظلم په سبب ئې مصيبتونه پرې نازل کړي، په دې موخه چې خپل رب ته رجوع وکړي او له کفر، شرك او ظلم لاس واخلي.

فَلَوْلَآ إِذْ جَآءَهُم بَأْسُنَا تَضَرَّعُواْ وَلَٰكِن قَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴿٤٣﴾

٤٣- نو ولې ئې هغه مهال زاري ونه کړه چې زموږ عذاب ورته راغی، خو زړونه ئې سخت شول او شيطان هغه څه ورته ښايسته کړل چې دوی به کول.

(٤٣)- دا مبارك آيت ښيي چې کله کله انسان داسي پړاو ته ورسېږي چې زړه ئې سخت شي، شيطان ئې پر زړه او دماغ سيوری وغوړوي، معيارونه ئې وربدل کړي، ټول غلط کارونه ورته ښايسته کړي، په دې حالت کې که مصيبتونه هم پرې راشي نو خپل رب ته رجوع نه کوي. په دې سره موږ ته لارښوونه کېږي چې يوازې په تبليغ سره د هر چا د هدايت کېدو طمع ونه لرو، ځکه داسي خلك هم شته چې ستر ستر مصيبتونه هم دوی له گناهونو نشي راگرځولی.

فَلَمَّا نَسُواْ مَا ذُكِّرُواْ بِهِۦ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَٰبَ كُلِّ شَيْءٍ حَتَّىٰٓ إِذَا فَرِحُواْ بِمَآ أُوتُوٓاْ أَخَذْنَٰهُم بَغْتَةً فَإِذَا هُم مُّبْلِسُونَ ﴿٤٤﴾

٤٤- نو کله چې ئې هغه څه هېر کړل چې پند پرې ورکېدو، د هر څه دروازې مو پرې پرانيستلې، تر هغه چې په ورکړی شوو (شيانو) خوښ شول، ناڅاپي مو ونيول، نو دا مهال مأيوس شول.

(٤٤)- کله چې دوی د مصيبتونو په نتيجه کې هم اصلاح نه شول، د الهي تنبيهاتو په نتيجه کې له گناه راونه گرځېدل، نو الله تعالی پر دوی د مصيبتونو د لېږلو او په دې سره د دوی د تنبيه کولو لړۍ بنده کړه، پراخي، وفرت او سوکالي ئې ورپه برخه کړه، چې په دې سره مغرور شي او طغيان ئې لا زيات شي او کار ئې هغه ځای ته ورسېږي چې بايد د الله تعالی عذاب په ناڅاپي توگه پرې نازل شي.

فَقُطِعَ دَابِرُ ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ ۚ وَٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٤٥﴾

٤٥- نو د ظالمانو جرړي قطع کړی شوې او ستايني ټولي د عالمونو رب ته دي.

(٤٥)- دا آيت موږ ته دوه اساسي لارښووني لري:

- موږ ته ښيي چي الله تعالی داسي ظالمانو ته هغه عذاب ټاکلی چي د دوی جرړي باسي او ټغر ئې د تل لپاره ټولوي.
- د ظالمانو سخت مجازات او د دې لړۍ بيا بيا تکرار، دا حقيقت ثابتوي چي دا عالم د ستايلو وړ پالونکی لري، که دا عالم بې ټولواکه ملك وي نو له ظالمانو سره به داسي معامله نه کېدله، د اقتدار د خاوندانو تاج او تخت به نه نسکورېدو او د واکمنۍ ټغر به ئې نه ټولېدو.

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَخَذَ ٱللَّهُ سَمْعَكُمْ وَأَبْصَٰرَكُمْ وَخَتَمَ عَلَىٰ قُلُوبِكُم مَّنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ يَأْتِيكُم بِهِ ۗ ٱنظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ ٱلْءَايَٰتِ ثُمَّ هُمْ يَصْدِفُونَ ﴿٤٦﴾

٤٦- ووايه: آيا دې ته مو پام کړی چي که الله غوږونه او سترګي درنه واخلي او ستاسو پر زړونو مهر ولګوي، له الله پرته به کوم معبود وي چي بېرته ئې درکړي، وګوره! څنګه نښي بيانوو؟ (خو) دوی بيا هم ډډه کوي.

(٤٦)- ووايئ: تاسو ته دا ليدونکې سترګي، دا اورېدونکي غوږونه او دا حساس زړونه چا درکړي؟ که الله تعالی ئې بېرته درنه واخلي آيا داسي څوك مومئ چي بېرته ئې درکړي؟ آيا دغه دليل کافي نه دئ چي په الله تعالی ايمان راوړئ، د هغه له مؤاخذې او عذاب ووېرېږئ او له ده پرته بل چا ته د دعاء لاسونه اوچت نه کړئ؟! آيا عجيبه نه ده چي له دې څرګند دليل سره سره هغوی په الله تعالی له ايمان راوړو ډډه کوي؟!

قُلْ أَرَءَيْتَكُمْ إِنْ أَتَىٰكُمْ عَذَابُ ٱللَّهِ بَغْتَةً أَوْ جَهْرَةً هَلْ يُهْلَكُ إِلَّا ٱلْقَوْمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٤٧﴾

٤٧- ووايه: آيا دې ته مو پام کړی چي که الهي عذاب ناڅاپي يا په څرګنده توګه درته راشي، آيا له ظالمانو پرته به بل څوك هلاك کړی شي.

(٤٧)- يعني که الهي عذاب پر تاسو راشي نو په دې سره به يو ظالم قوم هلاك کړی شي، څوك چي په دې عذاب اخته کېږي هغوی ظالمان او د دې عذاب مستحق دي، تاسو

ظالمان يئ، د کافي دلائلو له اوريدو سره سره له مخالفت لاس نه اخلئ، د دې عذاب مستحق يئ، ستاسو هلاکت په حقيقت کې د يوه ظالم قوم هلاکت دئ.

وَمَا نُرۡسِلُ ٱلۡمُرۡسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَۖ فَمَنۡ ءَامَنَ وَأَصۡلَحَ فَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ﴿٤٨﴾

٤٨- او موږ پيغمبران نه لېږو مگر زېرى ورکوونکي او وېروونکي، نو چا چې ايمان راوړ او (ځان ئې) اصلاح کړ، نو نه به پرې څه وېره وي او نه به غمجن شي.

(٤٨)- دا مبارك آيت موږ ته ښيي چې:

- د پيغمبرانو عليهم السلام اساسي دندي دا دي چې نېکانو ته په دنيا او آخرت کې د ښې او روښانه راتلونکي زېرى ورکړي او بدان د خپلو گناهونو له بدو پايلو ووېروي، که پيغمبرانو يوازې نېکانو ته د جنت زېرى ورکولى، فضائل ئې بيانولى، په بدانو ئې غرض نه درلودى، دوى ئې د ظلم او فساد له بدو پايلو نه وېرولى، په دوى ئې نيوکې نه کولى، له ظلم او فساد لاس اخيستو ته ئې نه رابللى، نو هيڅکله به د دوى له مخالفتونو سره نه مخامخ کېدل. د پيغمبرانو عليهم السلام د ورثه وو دنده هم دا ده چې بشير او نذير به وي، چا چې هغه کار وکړ او دا نه، رښتينى وارث نه دئ، ځوك چې د ظالمانو او بد کارانو له مخالفت سره مخامخ نه وو، د پيغمبرانو عليهم السلام په لار روان نه دئ.
- چا چې ايمان راوړ او (ځان ئې) اصلاح کړ، هغه ته نه له هيڅ څه وېره په کار ده او نه په هيڅ څه وير، که د خطرناکو دښمنانو له مخالفتونو سره مخامخ شو وېره دې نه لري او که د الله تعالى په لار کې ئې څه له لاسه ورکړل وير دې پرې نه کوي.

وَٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَمَسُّهُمُ ٱلۡعَذَابُ بِمَا كَانُواْ يَفۡسُقُونَ ﴿٤٩﴾

٤٩- او هغه چې زموږ آيتونه ئې تکذيب کړل، د خپل فسق په سبب به په عذاب اخته شي.

(٤٩)- ځوك چې د فسق په وجه د الله تعالى آيتونه تکذيبوي، حتماً به په الهي عذاب اخته شي.

قُل لَّآ أَقُولُ لَكُمۡ عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ وَلَآ أَقُولُ لَكُمۡ إِنِّي مَلَكٌۖ إِنۡ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّۚ قُلۡ هَلۡ يَسۡتَوِي ٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡبَصِيرُۚ أَفَلَا

تَتَفَكَّرُونَ ﴿٥٠﴾

۵۰- ووایه : زه نه درته وایم چې د الله خزانې له ما سره دي او نه په غیب پوهېږم او نه دا درته وایم چې زه فرشته یم، زه یوازې د هغه څه متابعت کوم چې راته وحې کېږي. ووایه: آیا ړوند او سترګور سره برابر دي؟ آیا تفکر نه کوئ؟

---

(۵۰)- په دې مبارك آیت سره پیغمبر علیه السلام ته څو لارښوونې کېږي:

● خلکو ته ووایه: د الله تعالی د خزانو واك له ما سره نه دئ، تاسو ته نه وایم چې که له ما سره ملګرتیا وکړئ، ټول حاجتونه مو پوره کوم او ټولې غوښتنې مو تر سره کوم، په دې هیله زما ملګرتیا مه کوئ، له ما دا انتظار مه لرئ، الله تعالی د خپلو خزانو ټولواك دئ، دا پرېکړه هغه کوي چې چا ته څه ورکړي، د هغو جاهلانو په څېر مه کېږئ چې ګمان کوي پیغمبران او اولیاء الله باید داسې وي چې د دوی په یوې اشارې سره د ډبرو غرونه په سرو زرو بدلېدی شي، په یوې دعاء سره ئې د زمکې لاندې خزانې بهر راوځي، هر چا ته هر څه ورکولی شي، حاجتونه ئې پوره کولی شي، ګورئ چې پیغمبران علیهم السلام په هغو ټګمارو سیاسي مشرانو قیاس نه کړئ چې د خلکو د غولولو لپاره دروغجنې وعدې کوي، شنه باغونه ورښیي، د سوکالۍ او ښه ژوند دروغجنې ژمنې ورسره کوي، زه په واضح الفاظو تاسو ته وایم چې د الله تعالی په خزانو کې هیڅ واك او اختیار نه لرم.

● دوی ته ووایه: زه په غیب نه پوهېږم، له ما دا انتظار مه لرئ چې درته ووایم: سبا به څه کېږي، له ما او له تاسو سره به الله تعالی څه کوي، پیغمبران علیهم السلام د هغو غولوونکو مذهبي مشرانو په څېر مه ګڼئ چې خلك په دې دوکه کوي چې په غیب پوه دي، د دوی له مقدراتو خبر دي، پوهېږي چې کوم مصیبت ورته انتظار کوي او څنګه ترې ژغورل کېږي، دوی کولی شي په دم او تعویذ سره د دې مصیبتونو مخه ونیسي، په دې شرط چې په شکرانو سره د دوی جیب ورډك او رضاء تر لاسه کړي، پیغمبران په غیب د پوهېدو دعوی نه کوي، دا یوازې ټګماران دي چې د جاهلانو په وړاندې په غیب د پوهېدو ادعاء کوي.

● ورته ووایه: زه تاسو ته نه وایم چې فرشته یم، په واضح الفاظو درته وایم چې زه انسان یم، له نورو انسانانو سره مې توپیر یوازې په دې کې دئ چې د الله تعالی له لوري راته وحې شوې او زه د الهي وحې متابعت کوم.

● څوك چې د الهي وحې په رڼا کې خوځي، د هغه چا په پرتله چې له دې رڼا محروم دئ، داسې دئ لکه سترګه ور د ړوند په پرتله، د عقل او فکر خاوندان د دوی تر منځ دا ژور توپیر درك کولی شي.

دې ته مو باید پام وي چې په وحې سره له غیبي امورو اطلاع علم غیب نه دئ، په

يوه آيت کې او يو په بل پسې (په غيب نه پوهېدل) او (د وحي متابعت) راوړل دا مطلب افاده کوي چې که پيغمبر عليه السلام د وحي په اساس له غيب او غيبي امورو خبري کوي نو دا د ده علم غيب نه، بلکې د الله له لوري وحي ده، داسې نه چې د وحي له لارې د غيبي امورو په اړه څه ويل، د پيغمبر علم غيب وګڼل شي.

وَأَنذِرۡ بِهِ ٱلَّذِينَ يَخَافُونَ أَن يُحۡشَرُوٓاْ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ لَيۡسَ لَهُم مِّن دُونِهِۦ وَلِيّٞ وَلَا شَفِيعٞ لَّعَلَّهُمۡ يَتَّقُونَ ﴿٥١﴾

٥١- او هغه کسان پرې انذار کړه چې د خپل رب په لوري له راغونډېدو وېرېږي، (هغه رب) چې له ده پرته ئې نه کوم مولا شته او نه کوم شفيع، ښايي تقوی او ځان ساتنه وکړي.

(٥١)- ستا انذار هغه چا ته ګټور دئ چې په آخرت او د خپل رب په وړاندې راغونډېدواېمان لري، په دې پوهېږي چې د الله تعالی په وړاندې نه کوم مولا موندلی شو او نه کوم شفيع، يوازې خپل ايمان او صالح عمل به مو ژغوري، د همدې لپاره له ګناهونو د ځان ساتلو هڅه کوي.

وَلَا تَطۡرُدِ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ رَبَّهُم بِٱلۡغَدَوٰةِ وَٱلۡعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجۡهَهُۥۖ مَا عَلَيۡكَ مِنۡ حِسَابِهِم مِّن شَيۡءٖ وَمَا مِنۡ حِسَابِكَ عَلَيۡهِم مِّن شَيۡءٖ فَتَطۡرُدَهُمۡ فَتَكُونَ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٢﴾

٥٢- او هغه کسان (له ځانه) مه شړه چې خپل رب ته سبا او ماښام دعاء کوي، په داسې حال کې چې رضاء ئې لټوي، نه د دوی له حسابه څه پر تا دي او نه ستا له حسابه څه پر دوی، نو که وئې شړې له ظالمانو به شې.

(٥٢)- په دې مبارك آيت کې پيغمبر عليه السلام او د ده له لارې ټولو مؤمنانو ته ويل شوي چې:

- ستا د سفر ملګري هغه کسان دي چې تل، سبا او ماښام، شپه او ورځ د خپل رب په عبادت بوخت دي او د هغه رضاء لټوي، داسې څه مه کوه چې دوی درنه ببل شي، د دوی د شړلو او له ځانه د لرې کولو غلطي مه کوه.
- الله تعالی له هر چا سره بېله بېله محاسبه کوي، د يوه پوښتنه له بله نه کوي، که چا له ايمان راوړو مخکې غلطي کړې وي، نه ئې تاسو ذمه وال يئ او نه ئې له تاسو پوښتنه

کېږي، نو ولې به د ایمان د لارې ملګرې له ځانه شړې، د دوی شړل لوی ظلم دئ، له دې ځان وساتئ.

په دې آیت سره د قریشو هغو سردارانو ته ځواب ورکړی شوی چې پیغمبر علیه السلام ته ئې ویل: ستا خوا ته زموږ غلامان راغونډ شوي، د بلال، مقداد، صهیب، خباب، سلمان، عمار او نورو بې وزلو صحابه وو رضي الله عنهم په څېر خلك، څنګه د قریشو له درنو مشرانو دا انتظار لرې چې له دغو غلامانو سره اوږه په اوږه ستا خوا ته ودرېږي؟! څنګه دا ګمان کوې چې د دوی په ملګرتیا سره به خپلو موخو ته ورسېږې؟ آیا د داسې کمزورو او نېستمنو ملګرو په مرسته کولی شې د ځواکمنو قریشو مقابله وکړې؟! دا خو همغه دي چې تر پرونه زموږ غلامان ول، داسې داسې سپك کارونه به ئې زموږ په امر تر سره کول، خو اوس د تقوی، پاك لمنۍ او خدای پالنې دعوی کوي!! د دوی په ځواب کې پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي چې پام کوه دا مخلص مؤمنان د مغرورو قریشو د ارضاء لپاره له ځانه لرې نه کړې. او دا د هر داعي لپاره یوه تلپاته لارښوونه ده، باید د مبارزې په دوران کې د هغه چا ملګرتیا ته ترجیح ورکړې چې د ایمان او عقیدې په حکم له ده سره یو ځای کېږي، د خپلو ملګرو په اړه په دې اساس فیصله ونه کړې چې اجتماعي حالت ئې څنګه دئ، په اجتماع کې ئې رسوخ او نفوذ څومره دئ او امکانات ئې څومره، بلکې دې ته په پام سره د سفر ملګري انتخاب کړي چې ایمان ئې څومره مضبوط دئ، له الله تعالی سره ئې اړیکې څومره ټینګې دي، د الله تعالی د رضاء تر لاسه کولو څومره تلوسه لري؟

وَكَذَٰلِكَ فَتَنَّا بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لِّيَقُولُوٓاْ أَهَٰٓؤُلَآءِ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَيْهِم مِّنۢ بَيْنِنَآۗ أَلَيْسَ ٱللَّهُ بِأَعْلَمَ بِٱلشَّٰكِرِينَ ﴿٥٣﴾

۵۳- او همداسې مو ځینې په ځینو نورو سره وآزمویل، چې ووایې: آیا دا همغه دي چې الله زموږ له منځه پرې پېرزوینه کړې؟! آیا الله شکر کوونکي تر هر چا ښه نه پېژني؟!

(۵۳)- دا آیت د مخکینۍ خبرې مزید وضاحت کوي او ښیي چې دا په اصل کې د هغو مغرورو سردارانو په ځواب کې ویل شوې چې ځان ئې تر نورو ستر او لوړ ګڼلو، د پیغمبر علیه السلام بې وزلو ملګرو ته ئې د حقارت په سترګه کتل او ویل ئې: آیا الله د ټولو خلکو له منځه دغه د ګوتو په شمېر کمزوري او بې وزلې کسان د پېرزوینو وړ موندلي؟ قرآن د دوی په ځواب کې فرمایي: دا خو یوه الهي ابتلاء او آزموینه ده چې ځینو ته د ځینو نورو په اړه د داسې غلطې وینا مجال ورکوي، چې ځان تر بل لوړ وګڼي او هغه ته په سپکه سترګه وګوري، په الهي معیارونو کې د دوی قضاوت هیڅ ارزښت نه لري، الله تعالی خپل شاکر بندګان تر هر چا ښه پېژني، د خپلو بندګانو د وړتیاوو په اړه د هغه پرېکړه د هغو

معيارونو له مخي نه ده چي تاسو ئې کاروئ، د خپل علم له مخي پرېکړه کوي.

وَإِذَا جَآءَكَ ٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِـَٔايَـٰتِنَا فَقُلْ سَلَـٰمٌ عَلَيْكُمْ ۖ كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلَىٰ نَفْسِهِ ٱلرَّحْمَةَ ۖ أَنَّهُۥ مَنْ عَمِلَ مِنكُمْ سُوٓءًۢا بِجَهَـٰلَةٍ ثُمَّ تَابَ مِنۢ بَعْدِهِۦ وَأَصْلَحَ فَأَنَّهُۥ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٥٤﴾

٥٤- او کله چي هغه خلك درته راشي چي زما په آيتونو باور کوي، ورته ووايه: سلام دي پر تاسو وي، ستاسو رب پر خپل ځان مهرباني او رحمت لازم کړی، داسي چي که له تاسو څوك په ناپوهۍ کي کوم بد کار وکړي، بيا تر دې وروسته توبه وکړي او (ځان) اصلاح کړي، نو يقيناً چي هغه مهربان بخښونکی دئ.

---

(٥٤)- په دې مبارك آيت کي پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي:

- کله چي مؤمنان درته راشي ورته ووايه: سلام پر تاسو.
- ستاسو رب مهربان دئ، پر خپل ځان ئې مهرباني او رحمت لازم کړی.
- څوك چي په ناپوهۍ کي گناه وکړي، پرې پښېمانه شي، توبه وکړي او ځان اصلاح کړي نو خپل رب به بخښونکی او مهربان ومومي، نه يوازي گناه به ئې ورته بخښي بلکي خپل رحمت او پېرزوينه به هم ورپه برخه کوي.

د توبه کوونکي مؤمن بنده په اړه د غفور د صفت تر څنگ د رحيم راوړل ښيي چي الله تعالی هغه بنده خوښوي چي توبه کوي، لاندي حديث دا مطلب ډېر ښکلی انځور کړی:

عن أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم : «للهُ أَشَدُّ فَرَحاً بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ، حِينَ يَتُوبُ إِلَيْهِ، مِنْ أَحَدِكُمْ كَانَ عَلَىٰ رَاحِلَتِهِ بِأَرْضِ فَلاَةٍ. فَانْفَلَتَتْ مِنْهُ. وَعَلَيْهَا طَعَامُهُ وَشَرَابُهُ. فَأَيِسَ مِنْهَا. فَأَتَىٰ شَجَرَةً. فَاضْطَجَعَ فِي ظِلِّهَا. قَدْ أَيِسَ مِنْ رَاحِلَتِهِ. فَبَيْنَا هُوَ كَذٰلِكَ إِذَ هُوَ بِهَا، قَائِمَةً عِنْدَهُ. فَأَخَذَ بِخِطَامِهَا. ثُمَّ قَالَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ: اللَّهُمَّ أَنْتَ عَبْدِى وَأَنَا رَبُّكَ. أَخْطَأَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ». رواه مسلم

له انس رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: يقيناً چي الله تعالی د خپل بنده په توبه، هغه وخت چي ده ته توبه کوي، ستاسو تر هغه چا هم زيات خوشحاله کېږي چي په يوې ښېديا کي په خپلي سورلۍ سور وو، خو ترې ورکه شوه، خوراك او څښاك ئې هم پرې بار وو، نو مأيوس او ناهيلی شو، يوې ونې ته راغی، په

سیوري کې ئې ډېره ولګوله، له خپلې سورلۍ په قطعي توګه ناامېده شوی، دی په همدې حالت کې وو چې سترګې ئې وغړولې، سورلۍ ئې خوا ته ولاړه، تر واګې ئې ونیوله، بیا ئې له ډېرې خوشحالۍ وویل: باری ربه! ته مي بنده او زه دې رب یم!! له ډېرې خوشحالۍ ئې خبره غلطه کړه.

---

وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ وَلِتَسۡتَبِينَ سَبِيلُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿٥٥﴾

٥٥- همداسې آیتونه په تفصیل سره بیانوو او دا د دې لپاره چې د مجرمینو لار څرګنده شي.

---

(٥٥)- الله تعالی د بندګانو په وړاندې د توبې دروازه پرانیستې پرېښې، دا د دې لپاره نه چې څوك د ګناه په کولو جرئ او جسور کړي، د دې لپاره چې له یوې خوا ده ته د ځان اصلاح کولو فرصت ورکړي او له بلې خوا هغه کسان څرګند شي چې په خپل جرم او ګناه ټینګار کوي او د ځان د اصلاح کولو اراده نه لري.

---

قُلۡ إِنِّي نُهِيتُ أَنۡ أَعۡبُدَ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِۚ قُل لَّآ أَتَّبِعُ أَهۡوَآءَكُمۡ قَدۡ ضَلَلۡتُ إِذٗا وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُهۡتَدِينَ ﴿٥٦﴾

٥٦- ووایه: بې له شکه چې زه له دې منع شوی یم چې له الله پرته د هغه چا عبادت وکړم چې تاسو ئې عبادت کوئ، ووایه: ستاسو د هوی او هوس متابعت نه کوم، که نه نو لار ورکی به شم او له لار موندونکو به نه وم.

---

(٥٦)- په دې آیت سره پیغمبر علیه السلام مکلف شوی چې لاندې خبرې خلکو ته اعلان کړي:

- له الله تعالی پرته د بل چا له عبادت منع شوی یم.
- د خلکو په هوی او هوس پسې نه ځم.
- د خلکو د هوی او هوس متابعت انسان د حق له لارې تېر باسي او د هدایت دروازې ئې پر مخ تړي.

---

قُلۡ إِنِّي عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّي وَكَذَّبۡتُم بِهِۦۚ مَا عِندِي مَا تَسۡتَعۡجِلُونَ بِهِۦٓۚ إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِۖ يَقُصُّ ٱلۡحَقَّۖ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلۡفَٰصِلِينَ ﴿٥٧﴾

٥٧- ووایه: زه خو د خپل رب په څرګند دلیل (متکي) یم، (همغه) چې تاسو تکذیب

کړ، له ما سره هغه څه نشته چې تاسو ئې په تلوار غواړئ، د پرېکړې واك خو يوازې له الله سره دئ، چې حق بيانوي او هغه تر ټولو غوره فيصله کوونکی دئ.

(۵۷)- د مخکيني آيت په دوام د لاندې نورو اساسي خبرو په اعلان ئې مکلف کوي:

- زه په هغې لارې روان يم چې زما رب راښودلې.
- د خپلې لارې د حقانيت په اړه ځرګند دلائل لرم.
- تاسو حقيقت تکذيبوئ.
- له ما د عذاب غوښتنه کوئ، وايئ چې که ستا لار حق وي، د الله تعالی وعد او وعيد رښتيني وي، ولې پر موږ عذاب نه نازلېږي؟ د عذاب پرېکړه زما په واك کې نه ده.
- اصلي حکم او حاکم خو يوازې الله تعالی دئ، هغه ټول حقائق بيان کړي او هغه تر ټولو غوره حکم کوونکی دئ.

قُل لَّوۡ أَنَّ عِندِي مَا تَسۡتَعۡجِلُونَ بِهِۦ لَقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡۗ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿۵۸﴾

۵۸- ووايه: که هغه څه راسره وی چې تاسو ئې په تلوار سره غواړئ نو لا د مخه به زما او ستاسو تر منځ کار پای ته رسېدلی وو او الله ظالمان تر هر چا ښه پېژني.

(۵۸)- يو ځل بيا پيغمبر عليه السلام په دې مکلف کوي چې خلکو ته ووايي: که هغه څه زما په واك کې وی چې تاسو ئې په تلوار او تکرار سره له ما غواړئ، نو زما او ستاسو تر منځ به لا ډېر د مخه خبره پای ته رسېدلې وه او پر تاسو به الهي عذاب نازل شوی وو، خو دا زما په لاس کې نه دئ، د دې اختيار الله تعالی نه ما ته راکړی او نه بل چا ته، د دې اختيار يوازې له الله تعالی سره دئ، هغه ظالمان ښه پېژني او په دې ښه پوهېږي چې د کومې سزا مستحق دي او کله سزا ورکړي.

وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلۡغَيۡبِ لَا يَعۡلَمُهَآ إِلَّا هُوَۚ وَيَعۡلَمُ مَا فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِۚ وَمَا تَسۡقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلَّا يَعۡلَمُهَا وَلَا حَبَّةٖ فِي ظُلُمَٰتِ ٱلۡأَرۡضِ وَلَا رَطۡبٖ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ ﴿۵۹﴾

۵۹- او له ده سره د غيب (د خزانو) کلياني دي چې له ده پرته هيڅوك پرې نه پوهېږي، په وچه او بحر کې چې څه شته په ټولو پوهېږي، هيڅ پاڼه نه راپرېوځي

مگر دی پرې پوهېږي او نه د زمکې په تيارو کې کومه دانه او نه کوم لوند او وچ داسي څه شته چي په څرگند کتاب کې دي نه وي.

---

(۵۹)- په پورتنيو څو آيتونو کې د شرك جرړي قطع شوې، د مشركانو ټول هغه شركي عقائد رد شوي چي دوی ئې د خپلو معبودانو، مرشد، پير او امام په اړه لري، هغوی ته علم غيب ثابتوي، د امورو متصرف ئې گڼي، د خير او شر واکمن ئې بولي، گمان کوي چي خلك وهلی او ښويولی شي، گټه او تاوان رسولی شي، ستونزي او مشکلات حلولی شي، حاجتونه مو تر سره کولی شي، خو تاسو وليدل چي په پورتنيو آيتونو کې پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چي په ټول صراحت او وضاحت سره اعلان وکړه چي زه په غيب نه پوهېږم، د الهي خزانو واکمن نه يم، تاسو له ما د عذاب مطالبه کوئ خو دا زما په واك کې نه دئ، که زما په واك کې وی ډېر د مخه به زما او ستاسو تر منځ خبره پای ته رسېدلې وه.

د قرآن گڼ شمېر آيتونو علم غيب الله تعالی ته مختص کړی او د زمکې او آسمان له نورو ټولو موجوداتو ئې نفي کړی، له ملائکو، له انسانانو، مړو او ژونديو او له هر څه او هر چا ئې علم غيب نفي کړی، په دې اړه د دې آيتونو الفاظ دومره واضح او څرگند دي چي د هيڅ شك او شبهې مجال نه پرېږدي. د دې آيتونو په رڼا کې په پوره ډاډ او قاطعيت سره ويلی شو: هر چا چي له الله تعالی پرته د بل چا لپاره د علم غيب ادعاء وکړه او دا ئې وويل چي له الله پرته بل څوك هم علم غيب درلودی شي، هغه په حقيقت کې د الله تعالی کتاب تکذيب کړی.

ما ته وواياست: پداسې حال کې چي په هر څه پوه خدای چي عالم الغيب والشهاده دئ، په تأكيد او مكرره توگه د قرآنكريم په متعددو آيتونو کې په څرگندو الفاظو سره وايي چي له الله پرته هيڅوك علم غيب نه لري، له ده پرته نه په آسمان کې څوك علم غيب لري او نه په زمکه کې، الله خپل پيغمبر ته امر کوي چي د خلکو ابهام او تشويش رفع کړي او دا ورته اعلان کړي چي علم غيب نه لري، هغه يوازې پيغمبر دئ، هغه څه وايي چي ورته وحي شوې. اوس له دې صراحت سره سره كه څوك راشي او د الله او د هغه د رسول د قول مغايره او مخالفه ادعاء وکړي او ووايي چي علم غيب لري او يا دا هڅه وکړي چي د بل چا لپاره علم غيب ثابت کړي، آيا دا ادعاء دروغجنه او بې بنسټه نه ده؟ آيا دا د الله او د ده د رسول د قول د تکذيب هڅه نه ده؟ آيا دا ممکنه ده چي په خدای ايمان لرونکی موحد انسان؛ چي په قرآن ايمان لري، خپل رب پېژني او د انسان د استعدادونو له حدودو واقف دئ؛ له الله تعالی سره په علم غيب کې بل څوك شريك کړي؟ واقعيت دا دئ چي فقط هغه کسان د داسي ادعاء جرأت کوي چي غواړي خلك د الله تعالی د بندگۍ پر ځای د خپل ځان او يا د ځان په څېر د بل انسان عبادت ته راوبولي، دا ډله بې علمه او جاهلو خلکو ته وايي: راشئ د دې ښاغلي لاس او لمن ونيسئ، د ده په درشل کې سرونه ټيټ کړئ، د دې لپاره چي د غيب له اسرارو مو خبر کړي، له هغه زيان مو وژغوري چي تاسو ترې

بې خبر یاست خو هغه پرې پوه دئ، هغه کولی شي له تاسو د داسي خطرونو په وړاندي دفاع وکړي، هغه ستاسي په حال خبر دئ، په دې پوهېږي چي تاسی له کوم برخلیك سره مخ کېدونکي یاستئ، که تاسو د هغه لمن ونیسئ، دربار ته ئې پناه ورووړئ، نو برخلیك به مو بدل کړي، تقدیر به داسي واړوي چي ستاسي په گټه به وي، هغه له هر ځای ستاسي کوکاري او چیغي اورېدی شي او ستاسو مرستي ته رسېدی شي....دا ټولي ادعاءگاني دروغجني او غولوونکي او دا خیالات او باورونه بې اساسه او په شرك ککړ دي او د اسلام له اصولو او اساساتو سره تناقض لري. له الله تعالی پرته هیڅوك علم غیب نه لري، هیڅوك د الله له ارادې پرته د هیڅ شي وس نه لري، له الله پرته هیڅ مرسته کوونکی، مغیث او دعاء قبلوونکی نشته، د هیچا له وسه نه ده پوره چي تقدیر بدل کړي، چا ته گټه او زیان ورسوي، هر څه د الله تعالی په واك او اختیار کې دي.

---

وَهُوَ ٱلَّذِى يَتَوَفَّىٰكُم بِٱلَّيْلِ وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُم بِٱلنَّهَارِ ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ فِيهِ لِيُقْضَىٰٓ أَجَلٌ مُّسَمًّىۖ ثُمَّ إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ ثُمَّ يُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٦٠﴾

٦٠- او دی هغه ذات دئ چي د شپې مو کار پای ته رسوي (په خوب مو ویده کوي)؛ او په هغه څه پوهېږي چي په ورځي کې ئې تر سره کوئ، بیا مو په همدې (ورځ کې) د دې لپاره راپاڅوي چي ټاکلې نېټه بشپړه شي، بیا د ده په لوري ستاسو بیرته ورتگ دئ، بیا به مو په هغه څه خبر کړي چي کول مو.

---

(٦٠)- دا مبارك آیت موږ ته ښیي:

- انسان د الله تعالی په اراده او د ده له سننو سره سم په خوب ویده کېږي.
- خوب مرگ ته ورته حالت دئ.
- د الله په اراده بېرته له خوبه راپاڅي.
- الله تعالی په دې پوهېږي چي انسان به په راتلونکې ورځي کې څه څه کارونه کوي.
- دا لړۍ تر هغه ادامه کوي چي د انسان عمر بشپړ شي او د خپل اجل ټاکلې نېټې ته ورسېږي.
- په مرگ سره د الله په لوري درومي، د قیامت په ورځ به د هغه په وړاندي ودرېږي، په ټولو هغو کارونو به ئې خبر کړي چي په خپل ژوند کې ئې کړي.

---

وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ وَيُرْسِلُ عَلَيْكُمْ حَفَظَةً حَتَّى إِذَا جَاءَ أَحَدَكُمُ

ٱلْمَوْتُ تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا وَهُمْ لَا يُفَرِّطُونَ ﴿٦١﴾

٦١- او هغه پر خپلو بندګانو مسلط دئ، پر تاسو ساتونكې (فرشتې) رالېږي، تر هغه چي د چا مرګ وروررسېږي، نو زموږ استازي ئې روح قبض كړي پداسي حال كې چي تېرى نكوي.

---

(٦١)- دا آيت هم موږ ته لارښوونه كوي چي:

- الله تعالی پر خپلو ټولو بندګانو برلاسی او مسلط دئ، هیڅوك د ده د واكمنۍ او سلطې له دائرې نشي وتلی او د ده د ارادې خلاف څه نشي كولی، نه كافر او نه مؤمن، نه كمزوری او نه ځواكمن.
- پر انسانانو ئې داسي فرشتې ګمارلې چي د دوی ساتنه او څارنه كوي.
- د انسان روح د الله په امر او د مأمور شوو فرشتو په ذریعه قبض كېږي.
- دا فرشتې په خپل مأموریت كې هیڅ كمی زیاتی نه كوي، خپل كار په ټاكلي وخت او په همغه توګه تر سره كوي چي پرې ګمارل شوې وي.

---

ثُمَّ رُدُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ مَوْلَىٰهُمُ ٱلْحَقِّۚ أَلَا لَهُ ٱلْحُكْمُ وَهُوَ أَسْرَعُ ٱلْحَٰسِبِينَ ﴿٦٢﴾

٦٢- بیا به د خپل حقیقي مولا په لوري وروستل شي، پام چي حكم كول ده ته (مختص) دي او دی تر ټولو حسابګرانو سریع دئ.

---

(٦٢)- د قیامت په ورځ به بېرته راژوندي شي، د خپل حقیقي مولا په حضور كې به غونډ كړی شي، له ټولو سره به محاسبه وشي، احكام صادرول او پرېكړې كول د هغه الله ځانګړتیا ده چي حكم دئ او په محاسبې كې تر هر چا ډېر سریع.

---

قُلْ مَن يُنَجِّيكُم مِّن ظُلُمَٰتِ ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ تَدْعُونَهُۥ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً لَّئِنْ أَنجَىٰنَا مِنْ هَٰذِهِۦ لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿٦٣﴾ قُلِ ٱللَّهُ يُنَجِّيكُم مِّنْهَا وَمِن كُلِّ كَرْبٍ ثُمَّ أَنتُمْ تُشْرِكُونَ ﴿٦٤﴾

٦٣- ووایه: څوك مو د وچي او لندې (بحر) له تیارو ژغوري، چي په زارۍ او په پټه ئې رابلئ (او وایئ:) كه مو له دې وژغوري نو حتماً به له شكر كوونكو وو. ٦٤- ووایه: الله مو له دې او هر كړاوه ژغوري، خو بیا تاسو شرك كوئ.

---

(٦٣-٦٤)- په دې دواړو مباركو آیتونو كې لاندې لارښوونې ګورو:

- د ستونزو په وړاندې، هغه مهال چې مصيبتونه انسان احاطه کړي، کړاوونه خپل تور وزر پرې وغوړوي، داسې څه په خپل لاس او ماحول کې نه ګوري چې د ژغورنې طمع ترې ولري، نو الله تعالی ته مخه کړي، هغه ته په زاريو زاريو سره دعاء کوي، مرسته ترې غواړي، ژمنه ورسره کوي چې که له دې مصيبته دې وژغورم ستا شاکر بنده به يم، خو کله چې د هغه دعاء قبوله کړي، له کړاو ئې وژغوري او توره شپه پرې رڼا ورځ کړي، نو ناڅاپه به ګورې چې همدا د پرون ورځې مضطر انسان بېرته مشرك شوی، خپلې ژمنې ئې هېرې کړې، په خپلې ژغورنې کې هم او د ژوند په نورو چارو کې هم له الله تعالی سره نور شريکوي!!
- هر انسان، تر بد لا زيات بد کافر او تر سخت لا زيات سخت مشرك هم د ستونزو او کړاوونو په مهال خدای ته مخه کوي او خپل دروغجن معبودان هېروي، همدا د دې حقيقت ښودنه کوي چې په الله تعالی ايمان د انسان په ضمير او ختې کې اايښودل شوی، ګناه د انسان ضمير مختل کړي او توره پرده پرې وغوړوي، د اضطراب حالت دا پرده څيرې کړي او انسان خپل فطري حالت ته وګرځوي، د همدې لپاره الله تعالی ته مخه کوي او مرسته ترې غواړي.

---

قُلْ هُوَ ٱلْقَادِرُ عَلَىٰٓ أَن يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّن فَوْقِكُمْ أَوْ مِن تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَيُذِيقَ بَعْضَكُم بَأْسَ بَعْضٍ ۗ ٱنظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ ٱلْءَايَٰتِ لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُونَ ﴿٦٥﴾

٦٥- ووايه: هغه په دې قادر دئ چې له بره مو عذاب پر تاسو راولېږي، يا د پښو له لاندې مو، يا مو ډلې ډلې کړي او ځينو ته د ځينو نورو د جګړو خوند وروڅکي، وګوره څنګه (په بېلې بېلې بڼې کې) آيتونه بيانوو، د دې لپاره چې دوی پوه شي.

---

(٦٥)- بې عقله انسان يوازې هغه مهال الله تعالی ته ځان اړ ګڼي چې خطر په خپلو سترګو وګوري، په سيند کې ئې څپې پر سر واخلي، په وچه کې ئې خرګند خطرونه محاصره کړي، د ستونزو او مصيبتونو وريځې پرې سيورى وغوړوي، په دې نه پوهېږي چې تل الله تعالی ته اړ دئ، له هرې خوا د محتملو خطرونو په محاصره کې دئ، د خطر غشو له هر لوري په نښه کړی، يوه سيلۍ او طوفاني هوا ستاسو هر څه تباه کولی شي، د زمکې يوه زلزله ستاسو ټول قصرونه او تأسيسات نسکورولی شي، د دوو ورو قومونو خپلمنځي جګړه په داسې سترې نرۍ والې جګړې بدلېدی شي چې ډېر ئې د اور په لمبو کې وسوزي، الله تعالی مو له دې ټولو ساتي، که د الله تعالی ساتنه نه وي نو د هغه واړه ميکروب له مقابلې هم عاجز يئ چې په خپل هر تنفس سره په زرګونو خپل سږي ته لېږئ، په دې مبارك لارښود آيت کې

دغه حقيقت د انسان مخې ته ايښودل شوی: الله په دې قادر دئ چې له بره پر تاسو عذاب راولېږي، يا د پښو له لاندې مو، يا مو ډلې ډلې کړي او ځينو ته د ځينو نورو د جګړو خوند وروڅکي، د پوهې خاوندانو ته دا دلائل کافي دي.

وَكَذَّبَ بِهِۦ قَوْمُكَ وَهُوَ ٱلْحَقُّ ۚ قُل لَّسْتُ عَلَيْكُم بِوَكِيلٍ ﴿٦٦﴾ لِّكُلِّ نَبَإٍ مُّسْتَقَرٌّ ۚ وَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٦٧﴾

٦٦- او ستا قوم (دا قرآن) تکذيب کړ؛ په داسې حال کې چې هغه حق دئ؛ ووايه: زه پر تاسو وکيل نه يم. ٦٧- د هرې خبرې لپاره د تر سره کېدو يوه نېټه ده؛ او ژر به پوه شئ.

(٦٦-٦٧)- په دې مبارکو آيتونو کې دا لارښوونه شوې چې:

- ستا قوم دا قرآن په داسې حال کې تکذيب کړ او په هغه کې راغلي وعد او وعيد ئې دروغجن وګڼل چې د قرآن او د هغه د ويناوو په حقانيت کې هيڅ شك نشته.
- دوی ته ووايه: زه پر تاسو وکيل نه يم؛ زما دنده دا نه ده چې تاسو د هغه حقيقت منلو ته اړ کړم چې نه ئې منئ، هغه څه په تاسو وګورم چې تاسو سترګې پرې پټوئ، په هغو حقائقو مو پوه کړم چې انکار ترې کوئ، دا هم زما ذمه والي نه ده چې تاسو ته هغه سزا درکړم چې د دې کفر او انکار په وجه ئې مستحق يئ.
- د قرآن د وعد او وعيد په تحقق کې ځنډ دې تاسو دوکه نه کړي، د هرې وينا د تحقق لپاره خاصه نېټه ټاکل شوې، په خپل خپل وخت به هم له مؤمنانو سره د الله تعالی وعدې رښتيني کېږي او هم د کافرانو په اړه د الهي عذاب پرېکړې.

وَإِذَا رَأَيْتَ ٱلَّذِينَ يَخُوضُونَ فِىٓ ءَايَٰتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا۟ فِى حَدِيثٍ غَيْرِهِۦ ۚ وَإِمَّا يُنسِيَنَّكَ ٱلشَّيْطَٰنُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ ٱلذِّكْرَىٰ مَعَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٦٨﴾ وَمَا عَلَى ٱلَّذِينَ يَتَّقُونَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَىْءٍ وَلَٰكِن ذِكْرَىٰ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٦٩﴾

٦٨- او کله چې هغه کسان وګورې چې زما په آيتونو کې خوشې لګيا وي، نو تر هغه ډډه ترې وکړه چې له دې پرته په بلې خبرې لګيا شي او که شيطان دا خبره درنه هېره کړه، نو له رايادولو وروسته له دې ظالم قوم سره مه کښېنه. ٦٩- او د دوی له حسابه

پر هغو چې تقوی کوي هيڅ څه (الزام) نشته، مگر يادونه چې ښايي (په دې سره) ځان وساتي.

---

(٦٨-٦٩)- په دې مبارکو آيتونو کې له متعصب مخاطب سره د بحث په اړه څو لارښووني شوې:

- که دوی داسي وگورې چې د الله تعالی د آيتونو په اړه په خوشو خبرو لگيا وي، له بحث او مناظرې ډډه وکړه، تر هغه چې په نورو خبرو بوخت شي.
- که کله شيطان دا لارښوونه درنه هېره کړه، نو له رايادولو وروسته له دغو ظالمانو سره مه کښېنه.
- په هغو کسانو چې له دوی ځان لري ساتي، هيڅ الزام نشته، د هغوی په کړنو او غلطو ويناوو نه نيول کېږي، دا پوښتنه نه ترې کېږي چې ولي مو له دغو غلطو خبرو منع نه کړل او ولي مو قناعت ورنه کړ، که د هغوی له غوندې ووځي نو په دې سره ئې داسي کوم کار نه دئ کړی چې د مؤاخذې وړ وي.
- هو؛ دومره پرې لازم دي چې نصيحت ورته وکړي او حقائق ورپه ياد کړي، پر دوی د امکان تر حده دا لازمه ده چې دغو خلکو ته نصيحت وکړي، ښايي همدا نصيحت ئې له دغي گناه راوگرځوي او د الله تعالی د آيتونو په اړه له خوشو خبرو ځان وساتي.

يا ئې معنی دا ده چې که کله مسلمانان د داسي خلکو مجلس ته په ورتلو او له دوی سره په مجلس کې ناستي ته اړ شول، نو په هغه صورت کې کوم الزام پرې نشته چې د خپل وس په اندازه هغوی ته نصيحت وکړي.

---

وَذَرِ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ دِينَهُمْ لَعِبًا وَلَهْوًا وَغَرَّتْهُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا ۚ وَذَكِّرْ بِهِۦٓ أَن تُبْسَلَ نَفْسٌۢ بِمَا كَسَبَتْ لَيْسَ لَهَا مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيٌّ وَلَا شَفِيعٌ وَإِن تَعْدِلْ كُلَّ عَدْلٍ لَّا يُؤْخَذْ مِنْهَآ ۗ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ أُبْسِلُواْ بِمَا كَسَبُواْ ۖ لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيمٍ وَعَذَابٌ أَلِيمٌۢ بِمَا كَانُواْ يَكْفُرُونَ ﴿٧٠﴾

٧٠- او هغه کسان پرېږده چې لهو او لعب ئې ځان ته دين نيولی او دنيوي ژوند دوکه کړي؛ او د دې لپاره پند پرې ورکړه چې څوك د خپلو لاس ته راوړنو په سبب په داسي مصيبت اخته نشي چې له الله پرته ئې نه کوم مولا وي او نه کوم شفيع او که هره بدله ورکړي ترې وانه خستی شي، دا خلك د خپلو کړنو په سبب په مصيبت اخته شوي، دوی ته به تود څښاك او دردناك عذاب وي، د دې لپاره چې کفر ئې کاوو.

(٧٠)- دلته هم د مخکي بحث په دوام لاندي مزيد لارښووني شوې:

● هغه خلك پرېږده او ترې لرې شه چي دين ئې لهو او لعب دئ او دنيوي ژوند غولولي، که څه هم ځينو درنو مفسرينو دا فقره داسي ژباړلي چي پر خپل دين ملنډي وهي، خو دقيقه ترجمه ئې مخکينۍ ترجمه ده، يعني هغه خلك پرېږده چي له لهو او لعب ئې ځان ته دين جوړ کړی، له لهو او لعب پرته بل دين نه لري او د دنيوي ژوند په لذائذو کې داسي غرق دي چي هر څه ئې ترې هېر کړي.

● په دې موخه نصيحت ورته وکړه چي له الهي عذاب وژغورل شي، له هغه عذاب چي له الله پرته به نه کوم ژغورونکی مولا مومي، نه کوم شفيع او نه به په کومي بدلې ترې ځان ژغورلی شي، د خپلو کړنو په سبب به په مصيبتونو اخته شي.

● د قيامت په ورځ به د خپل کفر او انکار په سبب په دردناك عذاب اخته وي او څښاك به ئې تودې اوبه وي، دا ځکه چي په دنيا کې به په شرابو مست شول او د مستۍ په حالت کې به ئې د الله تعالی په آيتونو ملنډي وهلې، خود به ئې اوس سزا دوزخ او تودې اوبه وي.

---

قُلۡ أَنَدۡعُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُنَا وَلَا يَضُرُّنَا وَنُرَدُّ عَلَىٰٓ أَعۡقَابِنَا بَعۡدَ إِذۡ هَدَىٰنَا ٱللَّهُ كَٱلَّذِي ٱسۡتَهۡوَتۡهُ ٱلشَّيَٰطِينُ فِي ٱلۡأَرۡضِ حَيۡرَانَ لَهُۥٓ أَصۡحَٰبٞ يَدۡعُونَهُۥٓ إِلَى ٱلۡهُدَى ٱئۡتِنَاۗ قُلۡ إِنَّ هُدَى ٱللَّهِ هُوَ ٱلۡهُدَىٰۖ وَأُمِرۡنَا لِنُسۡلِمَ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٧١﴾ وَأَنۡ أَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱتَّقُوهُۚ وَهُوَ ٱلَّذِيٓ إِلَيۡهِ تُحۡشَرُونَ ﴿٧٢﴾

٧١- ووايه: آيا له الله پرته داسي څه ته دعاء وکړو چي نه ګټه رارسولی شي او نه تاوان او له هغه وروسته چي الله هدايت کړو بېرته پر خپلو پوندو وګرځولی شو، د هغه چا په څېر چي شيطان په يوې بېديا کې لالهانده او حيران غورځولی وي، داسي ملګري ئې وي چي دا بلنه ورکوي: د هدايت په لوري زموږ خوا ته راشه! ووايه: يقيناً چي الهي لارښوونه حقيقي لارښوونه ده او موږ په دې ګمارل شوي يو چي د عالمونو رب ته تسليم وو. ٧٢- او په دې چي لمونځ اداء کړئ او له ده وېره ولرئ؛ او دی همغه ذات دئ چي خوا ته به ئې ورغونډ کړی شئ.

---

(٧١-٧٢)- دلته پيغمبر عليه السلام د څو خبرو په ابلاغ مأمور شوی:

● آيا له الله تعالی پرته هغه چا ته د دعاء لاسونه اوچت کړو چي نه څه ګټه رارسولی شي او نه تاوان، آيا غواړئ د شرك لوري ته په شا شو، له هغه وروسته چي الله تعالی هدايت

کړو؟ الله تعالی موږ ته لارښوونه وکړه چې له ده پرته بل چا ته د دعاء لاسونه اوچت نه کړو، له ده پرته له بل چا مرسته ونه غواړو، بل څوك د ګټې او تاوان رسولو مرجع ونه ګڼو، آیا له موږ غواړئ چې د دغو الهي لارښوونو مخالفت وکړو؟!

- آیا غواړئ د هغه چا په څېر شو چې شیطان دوکه کړی، په داسې بېدیا کې ئې غورځولی چې حیران ولاړ دئ او د لارې له موندلو عاجز؟! په داسې حال کې چې ملګري ئې د هدایت په لورې ځان ته بلې خو دی د زړه سواندو ملګرو بلنې ته مثبت ځواب نه ورکوي او د دوی خوا ته نه ورځي!! زموږ او ستاسو حالت دغو دواړو ته ورته دئ.
- یوازې د الله تعالی لارښوونه حقیقي لارښوونه ده.
- موږ په دې ګمارل شوي یو چې د رب العالمین په وړاندې تسلیم او منقاد وو، لمونځ وکړو او له الله تعالی ووېرېږو.
- الله تعالی هغه ذات دئ چې ټول به د هغه لوري ته ورغونډ کړی شئ.

---

وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّ ۖ وَيَوْمَ يَقُولُ كُن فَيَكُونُ ۚ قَوْلُهُ ٱلْحَقُّ ۚ وَلَهُ ٱلْمُلْكُ يَوْمَ يُنفَخُ فِى ٱلصُّورِ ۚ عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ۚ وَهُوَ ٱلْحَكِيمُ ٱلْخَبِيرُ ﴿٧٣﴾

۷۳- او دی هغه ذات دئ چې آسمانونه او زمکه ئې په حقه پیدا کړي او کومه ورځ چې ورته ووایي: وشه! نو (له ځنډه پرته) وشي، وینا ئې حق ده او هغه ورځ به ټولواکي د ده وي چې په شپېلۍ کې پو شي، په پټ او ښرګند پوه او هغه ښه باخبره د حکمت خاوند دئ.

---

(۷۳)- د دې مبارك آیت اساسي مطالب دا دي:

- الله تعالی آسمانونه او زمکه سم او پر حق مبتني پیدا کړي، هر څه ئې په خپل خپل ځای، په مناسب مقدار، د یوه خاص مقصد لپاره پیدا کړي، نه بې فائدې او خوشې شیء په کې شته او نه له ضرورت کم او زیات شی، دلته د باطل لپاره د سر لوړولو او جرړې ښخولو مجال نشته، باطل د موقتي تیارې په څېر دئ، د دې عالم هیڅ څه د باطل مرسته او ملګرتیا نه کوي.
- کله چې د یوه کار اراده وکړي نو د ده له فرمان سره سم او له ځنډه پرته تر سره کېږي، قیامت او بیاژوندون به هم د ده په یوه فرمان رامنځته شي.
- د ده هره وینا حق ده.

- هغه ورځ به ټولواکي د ده وي چي په شپېلۍ کي پو شي، د نورو واکمنانو سلطه به پای ته رسېدلې وي، هر چا ته به دا حقیقت ځرګند شوی وي چي اصلي ټولواك الله تعالی دئ. په صور کي د پو کېدو کیفیت به څنګه وي؟ له الله تعالی پرته هیڅوك پرې نه پوهېږي، له قرآن چي موږ څه زده کړي هغه دا دي چي د قیامت په ورځ به د الله تعالی په امر سره په صور کي پو شي او په دې سره به د عالم موجود نظام متلاشي شي، بیا به د دوهم ځل لپاره هغه مهال په صور کي پو شي چي الله تعالی ئې وغواړي، په دې سره به ټول مړي بیا راژوندي او د الله تعالی په وړاندي به غونډ کړی شي.
- الله تعالی په غیب (هغه څه چي د خلکو له نظره پټ دي) او شهادة (هغه څه چي خلکو ته ځرګند دي) پوه دئ.
- ښه د حکمت خاوند او ښه باخبره دئ او هر حکم ئې حکیمانه دئ.

---

وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ لِأَبِيهِ ءَازَرَ أَتَتَّخِذُ أَصْنَامًا ءَالِهَةً إِنِّيٓ أَرَىٰكَ وَقَوْمَكَ فِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٧٤﴾

٧٤- او هغه مهال چي ابراهیم خپل پلار آزر ته وویل: آیا بتان د خدایانو په توګه نیسې؟ زه خو تا او ستا قوم په ځرګند ضلالت کي ګورم.

---

(٧٤)- دلته د مخکینیو اساسي خبرو یوه تاریخي بېلګه د ابراهیم علیه السلام په قصې کي زموږ مخي ته ږدي او فرمایي: ابراهیم علیه السلام هم خپل پلار آزر ته ویلي وو: آیا د بتانو عبادت کوئ، بتان مو د اله او معبود په توګه نیولي، زه خو تا او ستا قوم په ځرګند ضلالت کي ګورم. اې مشرکانو! تاسو خپل شرك لرلی مذهب خپل جد ابراهیم علیه السلام ته منسوبوئ حال دا چي هغه خپل پلار او قوم ته ویلي وو چي شرك ځرګند ضلالت او تېروتنه ده.

---

وَكَذَٰلِكَ نُرِيٓ إِبْرَٰهِيمَ مَلَكُوتَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَلِيَكُونَ مِنَ ٱلْمُوقِنِينَ ﴿٧٥﴾

٧٥- او همداسي مو ابراهیم ته د آسمانونو او زمکي ملکوت (د ټولواکۍ نظام) ښودو چي له باور کوونکو شي.

---

(٧٥)- یعنی لکه څنګه چي دا نبي ستاسو مخي ته ځان ښیي او په قرآن کي پرې استناد کېږي، ابراهیم علیه السلام هم دغو نښو ته په پام سره پر الله تعالی ایمان راوړی.

---

فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ ٱلَّيْلُ رَءَا كَوْكَبًا قَالَ هَٰذَا رَبِّي فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَآ أُحِبُّ

ٱلۡأٓفِلِينَ ﴿٧٦﴾ فَلَمَّا رَءَا ٱلۡقَمَرَ بَازِغٗا قَالَ هَٰذَا رَبِّيۖ فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَئِن لَّمۡ يَهۡدِنِي
رَبِّي لَأَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلضَّآلِّينَ ﴿٧٧﴾ فَلَمَّا رَءَا ٱلشَّمۡسَ بَازِغَةٗ قَالَ هَٰذَا رَبِّي
هَٰذَآ أَكۡبَرُۖ فَلَمَّآ أَفَلَتۡ قَالَ يَٰقَوۡمِ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُشۡرِكُونَ ﴿٧٨﴾ إِنِّي وَجَّهۡتُ
وَجۡهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ حَنِيفٗاۖ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴿٧٩﴾

٧٦- نو کله چې د شپې تیاره پرې راغله او ستوری ئې ولید، وئې ویل: دا مې رب دئ؟، خو کله چې پرېوت وئې ویل: پرېوتونکي نه خوښوم. ٧٧- کله چې ئې سپوږمۍ د راختو په حال کې ولیده، وئې ویل: دا مې رب دئ؟، خو چې پرېوته، وئې ویل: که مې خپل رب لارښوونه ونه کړې له لار ورکي قوم به شم. ٧٨- او کله چې ئې لمر د راختو په حال کې ولید، وئې ویل: دا مې رب دئ؟ دا خو تر ټولو ستر دئ، خو چې پرېوت وئې ویل: اې زما قومه! زه له هغو (معبودانو) بې زاره یم چې تاسو ئې له (خدای) سره شریکوئ. ٧٩- یقیناً چې ما د هغه ذات لوري ته په یو مخیزه توګه خپل مخ ګرځولی چې آسمانونه او زمکه ئې پیدا کړي؛ او زه د مشرکانو له ډلې نه یم.

---

(٧٦-٧٩)- په دې مبارکو آیتونو کې د ابراهیم علیه السلام د ملکوتي او روحاني سفر څو برخې د مخاطب مخې ته ایښودل شوې:

● شپه پرې راغله، په آسمان کې ئې ستوري ته پام شو، وئې ویل: آیا زما رب همدا دئ؟! خو کله چې هغه پرېوت نو وئې ویل: پرېوتونکي نه خوښوم، نه غواړم هغه څوک د رب په توګه ونیسم چې حالت ئې بدلېږي، راځرګند شي او بېرته پرېوځي.

● سپوږمۍ ته ئې پام شو، هغه ئې د راختو په حال کې ولیده، وئې ویل: آیا دا زما رب دئ؟ خو کله چې پرېوته وئې ویل: که مې رب لارښوونه ونه کړي له بې لارو او تېروتو به شم.

● لمر ته ئې پام شو، هغه ئې د راختو په حال کې ولید، وئې ویل: آیا دا مې رب دئ؟ دا خو تر ټولو ستر دئ، خو چې پرېوت وئې ویل: اې زما قومه! زه له هغو (معبودانو) بې زاره یم چې تاسو ئې له (خدای) سره شریکوئ.

● ما یومخیزه خپل مخ د هغه ذات په لوري اړولی چې آسمانونه او زمکه ئې پیدا کړې او له مشرکانو نه یم.

په دې اړه مو څو اساسي خبرو ته باید پام وي:

● له دغو آیتونو په ډېر صراحت سره معلومېږي چې ابراهیم علیه السلام په یوه شرك

لړلي ماحول کې پيدا شوی، پلار او قوم ئې مشرك، چا د بتانو عبادت کاوو، چا د ستورو، چا د سپوږمۍ او چا د لمر، تاريخي څېړني هم ښيي چي دوی ګڼ شمېر جعلي معبودان ځان ته غوره کړي وو، هر ښار ځان ته يو ستر او ګڼ شمېر واړه خدايان درلودل، له دوی پاتو ليکنو کې نژدې د پنځه زره خدايانو نومونه تر لاسه شوي.

● د ستوري، سپوږمۍ او لمر په اړه د ابراهيم عليه السلام دا وينا د يوه استفهام معنی لري، له خلکو يا له ځان سره د غور او فکر په حال کې، نه په دې معنی چي دغو ته ئې د خدای په سترګه کتلي، مخکينی آيت موږ ته همدا حقيقت په ګوته کوي، مخکې ئې د بتانو ترديد وکړ، اوس ئې د دوی د نورو معبودانو د ترديد لپاره دا دليل وړاندي کړ چي پرېوتونکی، خدای کېدی نشي. قرآن په بل ځای کې موږ ته وايي چي ابراهيم عليه السلام د بتانو په اړه وويل: (إِذْ قَالَ لأَبِيهِ يَا أَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لا يَسْمَعُ وَلا يُبْصِرُ وَلا يُغْنِي عَنْكَ شَيْئًا): اې پلاره! ولې د هغه څه عبادت کوې چي نه څه اوري، نه څهويني او نه څه درنه دفع کولی شي؟!

● د استدلال په پای کې د ابراهيم عليه السلام له دې وينا چي: ما يو مخيزه خپل مخ د هغه ذات په لوري اړولی چي آسمانونه او زمکه ئې پيدا کړي او له مشرکانو نه يم، معلومېږي چي دا وينا ئې له مشرکانو سره د بحث په دوران کې کړې.

● په آسمان کې خو يو ستوری نه بلکې بې شمېره ستوري وي، ابراهيم عليه السلام به دا خبره (هذا ربي) څنګه په دې معنی کوله چي (دا مي رب دئ)؟! بې شمېره ستورو ته د يوه خدای نوم څنګه کارېدی شي؟ د دې خبري معنی له دې پرته بل څه کېدی نشي چي اې مشرکينو! تاسو پرېوتونکو ستورو ته د خدايانو په سترګه ګورئ، خدای خو داسي نه وي چي بدلېږي رابدلېږي، نه وي، راپيدا شي، له منځه ولاړ شي.

● عجيبه ده چي ځينو درنو مفسرينو په دې اړه داسي څه ويلي چي نه د ابراهيم عليه السلام له شأن سره ښايي او نه د دغو آيتونو له اصلي معنی سره اړخ لګوي، متأسفانه ځينو عبد الله بن عباس رضي الله عنه ته د نورو عجيبو خبرو تر څنګ دا قول هم منسوب کړی چي ګواکې د ابراهيم عليه السلام پلار آزر نه نومېدو، بلکې نوم ئې تارح وو، دا ځکه چي په بايبل کې د تارح په نامه ياد شوی، دا په اصل کې د هغو کسانو هڅه ده چي غواړي د قرآن وينا له بايبل سره ورته کړي، خوك چي بايبل په دقت سره ولولي، پوه به شي چي د دې کتاب هيڅ وينا د دې وړ نه ده چي څوك پرې استناد وکړي، يا ئې صحيح وګڼي، مخصوصاً کله چي د قرآن له صريح آيت سره ئې په تعارض کې ګوري، قرآن د دې لپاره د آزر نوم اخيستی چي موږ ته وښيي د بايبل ادعاء غلطه ده، که نه نو قرآن د داسي نومونو له يادولو سره علاقه نه لري، چي د محمد عليه السلام د پلار نوم نه يادوي نو د ابراهيم عليه السلام د پلار نوم به ئې ولې يادولو.

- په رواياتو کې به ډېر داسي ومومئ چي د عبدالله بن عباس رضي الله عنه، ابوهريره رضي الله عنه او محمد بن اسحاق په څېر شخصيتونو ته منسوب شوي، خو نه له قرآن مأخوذ دي، نه له صحيح حديث، كه تحقيق وكړئ درته معلومه به شي چي د دغو رواياتو منشأ بايبل دئ، د دغو رواياتو په اړه دقت او احتياط وكړئ، مخكې له دې چي د صحت په اړه ئې څه حكم وكړئ بايبل ولولئ، د بايبل په ويلو سره به د دغو رواياتو څرنگوالی درته جوت شي.
- كه د بايبل دا ادعاء منو چي د ابراهيم عليه السلام د پلار نوم تارح وو، نو بيا خو بايد د ده په اړه د بايبل نوري خبري هم ومنو، تاسو به په بايبل كې ابراهيم عليه السلام يو عادي انسان وموميئ، د تارح زوی، د بني اسرائيلو جد، يو مهاجر،... نه ئې قوم ته څه پيغام او لارښوونه درلوده، نه ئې په خپلې ټولني د مسلط سياسي، اجتماعي او ديني نظام مقابله كړې، څو ځلي ئې خدای ليدلی او يو ځلي ئې خدای ته ډوډۍ هم وركړې!! خو كه تاسو د قرآن په هېنداري كې د ابراهيم عليه السلام شخصيت ته نظر وكړئ نو هغه به داسي يو عظيم شخصيت وموميئ چي سر ئې له آسمان سره لگېږي.
- قرآن چي د ابراهيم عليه السلام په اړه څه ويلي د بايبل ټولي خبري حرف حرف ردوي. بايبل په دې اړه هيڅ نه دي ويلي چي ابراهيم عليه السلام د خپل پلار او قوم پر غلط دين اعتراض وكړ، د خپل پلار او قوم له مخالفت سره مخامخ شو، خپل پلار له كوره په شړلو وگواښو، بتان ئې مات كړل، زنداني شو، نمرود په مرگ تهديد كړ، په اور كې واچول شو او له عراقه ئې هجرت وكړ، بايبل د دې ټولو خبرو په اړه ساكت دئ او حتی له عراقه د ابراهيم عليه السلام د وتلو په اړه ليكي چي تارح (د ابرام پلار) له خپل زوی ابرام، له خپلې نږور سارای او له خپل لمسي لوط سره يو ځای له اوركلدانيان د كنعان په لوري وكوچېدو او په حران كې ځای پر ځای شول!! قرآن د ابراهيم عليه السلام د پلار د نوم په اړه هم د بايبل ادعاء غلطه گڼي او هغه د تارح پر ځای د آزر په نامه يادوي، متأسفانه زموږ ځيني مفسرين هومره د دغه جعلي بايبل تر اغېز لاندي تللي چي د قرآن د دغي صريح وينا په خلاف وايي چي د ابراهيم عليه السلام د پلار نوم تارح وو او آزر د بت نوم وو!! آيا په قرآن د ايمان غوښتنه دا نه ده چي هره هغه خبره لرې وغورځوو چي د قرآن خلاف وي؟

---

وَحَآجَّهُۥ قَوۡمُهُۥۚ قَالَ أَتُحَٰٓجُّوٓنِّي فِي ٱللَّهِ وَقَدۡ هَدَىٰنِۚ وَلَآ أَخَافُ مَا تُشۡرِكُونَ بِهِۦٓ إِلَّآ أَن يَشَآءَ رَبِّي شَيۡـٔٗاۚ وَسِعَ رَبِّي كُلَّ شَيۡءٍ عِلۡمًاۚ أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ ﴿٨٠﴾

۸۰- او قوم ئې ورسره شخړه وكړه، (ورته) وئې ويل: آيا د الله په اړه راسره لانجه كوئ؟ حال دا چي په يقيني توگه ئې زه هدايت كړی يم او زه له هغه څه نه وېرېږم چي تاسو ئې (له الله سره) شريكوئ، مگر (له دې وېرېږم چي) زما رب كوم څه (ضرر

راته) وغواړي، زما رب په ټولو شيانو علماً احاطه کړې (په هر څه پوهېږي)، نو آيا پند نه اخلئ؟!

(۸۰)- د دې مبارك آيت په اړه لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

- دا آيت ښيي چې د ابراهيم عليه السلام مخکينۍ ويناوې له قوم سره د محاجې او استدلال په دوران کې شوې، د استفهام په توګه ئې کړې، هغوی ته ئې ويلي چې آيا زما رب دا ستوری دئ، که دا سپوږمۍ او لمر؟
- قوم ته وايي: آيا د الله په اړه راسره لانجه کوئ؟ حال دا چې په يقيني توګه ئې زه هدايت کړی يم، ما خپل دلائل درته وويل، زما د لارې په حقانيت کې د شك او ترديد هيڅ مجال نه دئ پاته.
- ما له خپلو معبودانو مه وېروئ، ستاسو له معبودانو هيڅ وېره نه لرم، وېره مې يوازې له دې ده چې الله تعالی کوم ضرر راته وغواړي، که ئې زما په اړه د کوم ضرر او تاوان اراده وکړه، نو هغه ئې په وجه او سبب او دا چې څه مصلحت به پرې مرتب کوي، ډېر ښه پوهېږي.
- آيا پند نه اخلئ، آيا دغه دلائل درته کافي نه دي؟!

وَكَيْفَ أَخَافُ مَآ أَشْرَكْتُمْ وَلَا تَخَافُونَ أَنَّكُمْ أَشْرَكْتُم بِٱللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ عَلَيْكُمْ سُلْطَٰنًا ۚ فَأَيُّ ٱلْفَرِيقَيْنِ أَحَقُّ بِٱلْأَمْنِ ۖ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨١﴾

۸۱- او څنګه به له هغه څه وېرېږم چې تاسو (له الله سره) شريك کړي، په داسې حال کې چې تاسو له دې نه وېرېږئ چې له الله سره مو هغه څه شريك کړئ چې په اړه ئې هيڅ دليل پر تاسو نه دئ نازل شوی، نو که پوهېږئ (ووايئ چې) له دې دواړو ډلو کومه ئې د دې وړ ده چې خوندي وي؟!

(۸۱)- دلته د ابراهيم عليه السلام يو بل استدلال توضيح شوی: خپل مشرك قوم ته ئې وويل: آيا ستاسو له هغو معبودانو ووېرېږم چې له الله تعالی سره مو شريك کړي، په داسې حال کې چې تاسو له دې نه وېرېږئ چې له الله تعالی سره مو داسې څه شريك کړی چې الله هيڅ دليل پرې نه دئ نازل کړی؟ له موږ دواړو څوك بايد تر بل زيات د ډاډ او اطمئنان احساس وکړي؟ څوك د دې وړ دئ چې په امن کې وي؟ د علم له مخې ئې ځواب راکړئ.

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمْ يَلْبِسُوٓاْ إِيمَٰنَهُم بِظُلْمٍ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلْأَمْنُ وَهُم مُّهْتَدُونَ ﴿٨٢﴾

۸۲- چا چې ایمان راوړی او خپل ایمان ئې له ظلم سره نه وي ګډ کړی، دوی ته امن دئ او همدا دوی هدایت شوي دي.

(۸۲)- د دې پوښتنې ځواب دا دئ: امن به هغه چا ته وي چې ایمان ئې راوړی، خپل ایمان ئې په ظلم او شرك نه دئ لړلی او هدایت ئې په برخه شوی.

وَتِلْكَ حُجَّتُنَآ ءَاتَيْنَٰهَآ إِبْرَٰهِيمَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦ ۚ نَرْفَعُ دَرَجَٰتٍ مَّن نَّشَآءُ ۗ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿٨٣﴾

۸۳- او دا زموږ هغه دلیل او حجت وو چې ابراهیم ته مو د خپل قوم په خلاف ورپه برخه کړ، چا ته چې مو خوښه وي درجې ئې ورته لوړوو، بې شکه چې ستا رب پوه حکیم دئ.

(۸۳)- د دې آیت په اړه لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

- دا آیت ښیي چې د ابراهیم علیه السلام د قصې له پیل تر دې ځای ټول بحث هغه استدلال ته ځانګړی شوی چې ده د شرك د نفي او د توحید د اثبات لپاره خپل قوم ته وړاندې کړی.
- په دې آیت کې علم، قوي او مضبوط استدلال له لوړو درجو سره مترادف ګڼل شوی، یعنی الله تعالی چې کله وغواړي د چا درجه او مقام لوړ کړي نو علم او مضبوط استدلال ورپه برخه کړي.
- ستا رب پوه حکیم دئ، پوهېږي چې څوك د دې وړ دئ چې درجې ئې لوړې کړي او څنګه ئې لوړې کړي.

وَوَهَبْنَا لَهُۥٓ إِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ ۚ كُلًّا هَدَيْنَا ۚ وَنُوحًا هَدَيْنَا مِن قَبْلُ ۖ وَمِن ذُرِّيَّتِهِۦ دَاوُۥدَ وَسُلَيْمَٰنَ وَأَيُّوبَ وَيُوسُفَ وَمُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٨٤﴾ وَزَكَرِيَّا وَيَحْيَىٰ وَعِيسَىٰ وَإِلْيَاسَ ۖ كُلٌّ مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٨٥﴾ وَإِسْمَٰعِيلَ وَٱلْيَسَعَ وَيُونُسَ وَلُوطًا ۚ وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٨٦﴾ وَمِنْ ءَابَآئِهِمْ وَذُرِّيَّٰتِهِمْ وَإِخْوَٰنِهِمْ ۖ وَٱجْتَبَيْنَٰهُمْ وَهَدَيْنَٰهُمْ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٨٧﴾ ذَٰلِكَ هُدَى ٱللَّهِ

يَهْدِى بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۚ وَلَوْ أَشْرَكُوا۟ لَحَبِطَ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ
﴿٨٨﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحُكْمَ وَٱلنُّبُوَّةَ ۚ فَإِن يَكْفُرْ بِهَا هَٰٓؤُلَآءِ
فَقَدْ وَكَّلْنَا بِهَا قَوْمًا لَّيْسُوا۟ بِهَا بِكَٰفِرِينَ ﴿٨٩﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ هَدَى ٱللَّهُ ۖ
فَبِهُدَىٰهُمُ ٱقْتَدِهْ ۗ قُل لَّآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا ۖ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْعَٰلَمِينَ ﴿٩٠﴾

٨٤- او اسحق او یعقوب مو پرې پېرزو کړل چي هر يو مو هدايت کړی وو او تر دې د مخه مو نوح ته لارښوونه کړې وه او د ده له اولاد مو داؤد، سليمان، ايوب، يوسف، موسی او هارون (هدايت کړل) او مونږ نېکانو ته همداسي بدله ورکوو. ٨٥- او زکريا، يحيی، عيسی او الياس ته چي هر يو له صالحانو وو. ٨٦- او اسمعيل، اليسع، يونس او لوط ته او هر يوه ته مو پر ټولو عالميانو فضيلت ورپه برخه کړ. ٨٧- او د دوی له پلرونو، اولاد او ورونو ځينو ته؛ او دوی مو غوره کړل او په مستقيمه لار مو هدايت کړل. ٨٨- همدا الهي لارښوونه ده چي له خپلو بندګانو هغه څوك پرې هدايت کوي چي وئې وغواړي؛ او که ئې شرك کړی وی نو ټولې هڅې به ئې ترې ضائع شوې وې. ٨٩- دا همغه ډله ده چي کتاب، حکمت او نبوت مو ورپه برخه کړ، نو که دا خلك پرې کافر شي، نو داسي خلك مي پرې ګمارلي چي نه پرې کافران کېږي. ٩٠- دوی همغه دي چي الله هدايت کړي، نو د دوی په هداياتو پسي اقتداء وکړه، ووايه: په دې له تاسو کوم اجر او بدله نه غواړم، دا خو خلکو ته له پند او يادوني پرته بل څه نه دئ.

---

(٨٤-٩٠)- په دغو آيتونو کې د پورتنيو پيغمبرانو عليهم السلام په اړه لاندي خبري شوې:

- ابراهيم عليه السلام ته د شرك په ضد د ده د مبارزې په بدله کې دا مقام ورکړی شو چي ګڼ شمېر پيغمبران د ده په اولاد کې مبعوث شول، اسمعيل، اسحاق، يعقوب او يوسف عليهم السلام، همغسې لکه چي تر ده د مخه ئې په نوح عليه السلام پېرزويني وکړې او د ده په اولاد کې ئې ډېر پيغمبران مبعوث کړل.
- الله تعالی ټولو ته لارښوونه کړې وه، صالحان ول، پر نورو خلکو ئې دوی ته فضيلت ورکړی وو، دوی ئې د خلکو د لارښووني لپاره غوره کړي ول، په مستقيمي لاري ئې هدايت کړي ول، علم او حکمت ئې ورپه برخه کړی وو.
- په همدغو پيغمبرانو پسي اقتداء وکړئ، په همغه لار ولاړ شئ چي دوی پرې تللي ول او همغه څه وکړئ چي دوی کول.

- که دا خلك ستا دعوت ونه مني، پروا ئې مه کوه، الله تعالی ستا د ملګرتيا او ستا په رسالت د ايمان راوړلو لپاره داسي خلك غوره کړي او تيار کړي چي د دغو کافرانو په څېر به د کفر او انکار لار نه غوره کوي.

- ورته ووايه: زه د دعوت په عوض کې له تاسو هيڅ اجر او بدله نه غواړم، نه مالي بدله، نه مادي او نه معنوي، نه ستاينه او توصيف، نه زما لويي او برلاسي منل، زه چي تاسو ته څه وايم هغه د ټولو خلکو لپاره پند او نصيحت دئ، قرآن دا د ټولو پيغمبرانو او واقعي دعوتګرانو يوه مهمه ځانګړتيا ګڼي چي له خپل مخاطب د هيڅ اجر او بدلې طمع نه لري، خپل اجر يوازي له رب العالمين غواړي، دا د واقعي دعوتګرانو او ټګمارو مبلغينو د پېژندو لپاره د يوه حساس ملاك او محك په توګه معرفي کوي، څوك چي په خپل دعوت او تبليغ له خلکو څه تر لاسه کوي، څوك چي له دين او مذهب ځان ته دوکان جوړوي، څوك چي په تعويذونو شکرانې تر لاسه کوي، يو ټګمار داعي، دوکه مار مبلغ او غولوونکی مذهبي مشر دئ.

---

وَمَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِۦٓ إِذْ قَالُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَىٰ بَشَرٍ مِّن شَىْءٍ ۗ قُلْ مَنْ
أَنزَلَ ٱلْكِتَٰبَ ٱلَّذِى جَآءَ بِهِۦ مُوسَىٰ نُورًا وَهُدًى لِّلنَّاسِ ۖ تَجْعَلُونَهُۥ قَرَاطِيسَ
تُبْدُونَهَا وَتُخْفُونَ كَثِيرًا ۖ وَعُلِّمْتُم مَّا لَمْ تَعْلَمُوٓاْ أَنتُمْ وَلَآ ءَابَآؤُكُمْ ۖ قُلِ ٱللَّهُ ۖ
ثُمَّ ذَرْهُمْ فِى خَوْضِهِمْ يَلْعَبُونَ ﴿٩١﴾

۹۱- او هغه مهال ئې د الله د قدر په اړه سمه او حقيقي قدرونه نه ده کړې چي وئې ويل: الله پر هيڅ بشر څه نه دي نازل کړي، ووايه: نو هغه کتاب چا نازل کړی چي موسی راوړ، همغه چي خلکو ته رڼا او لارښود وو، همغه چي تاسو پاڼي پاڼي کړ، ځيني ئې ښکاره کوئ او ډېری ئې پټوئ، (چي په هغه سره) هغه څه درزده کړی شو چي نه تاسو پرې پوهېدئ او نه ستاسو پلرونه، ووايه: الله، بيا ئې پرېږده چي په خپلو خرافاتو کې لوبې کوي.

---

(۹۱)- د دې مبارك آيت په اړه لاندي خبري په پام کې ولرئ:

- د آيت له متنه معلومېږي چي يهودو ته متوجه دئ، دوی د شديد تعصب او لجاجت له مخي ويلي چي الله تعالی په هيڅ انسان څه نه دي نازل کړي، کله چي به نور عرب د يهودانو مذهبي مشرانو ته ورغلل او دا پوښتنه به ئې ترې کوله چي آيا د محمد عليه السلام ادعاء صحيح ده چي د الله له لوري وحي پرې نازله شوې او د خدای استازی او

پيغمبر دئ؟ دوی به ورته ويل: نه؛ الله تعالی نه پر ده او نه پر بل چا وحي نازله کړې!!

● د دغو متعصبو يهودانو په ځواب کې دوه خبرې شوې: ۱- دا د الله تعالی په اړه يوه غلطه محاسبه او انګېرنه ده چې د انسانانو د لارښووني او هدايت لپاره ئې نه کوم پيغمبر لېږلی او نه کومه لارښوونه، دا ځکه چې داسې کار د حکيم خدای له شأن سره نه ښايي، هغه ذات چې له انسان پرته ټولو نورو ژوو ته ئې په فطري توګه لارښوونه کړې، د دغې فطري الهي لارښوونې په رڼا کې په دې پوهېږي چې څه وخوري او څه نه، څه وکړي او څه نه، خو انسان ئې داسې پيدا کړی چې د فطري لارښوونو تر څنګ مزيد لارښوونو ته اړ دئ، هغه د فطري لارښوونو په اتکاء د مفيد او مضر، ښه او بد، حلال او حرام، تفکيك نشي کولی، د لارې د موندو لپاره رڼا او څراغ ته ضرورت لري، د ده دغه نقص او اړتيا ته په پام سره الله تعالی پيغمبران او د دوی په لاس لارښوونې لېږلې دي.۲- ستاسو دا وينا خو ستاسو د نورو ادعاءو خلاف ده، تاسو خو په دې باور لرئ چې موسی عليه السلام د خدای پيغمبر وو او د الله له لورې تورات پرې نازل شوی، نو پر موسی عليه السلام نازل شوی کتاب د چا له لورې وو؟ څنګه وايئ چې الله پر هيچا څه نه دي نازل کړي؟! آيا تورات يو لارښود کتاب او روڼ څراغ نه وو؟ آيا تاسو ته ئې لارښوونه نه کوله او له تيارو ئې نه ايستلی؟ آيا تاسو ته ئې هغه څه نه درښودل چې نه تاسو پرې پوهېدی شوی او نه ستاسو پلرونه؟ خو تاسو همغه لارښود تورات پاڼې پاڼې کړ، ځينې ئې پټوئ او ځينې ئې څرګندوئ!!

● د دې پوښتنې ځواب له دې پرته بل څه نشي کېدی چې: تورات د الله تعالی له لورې نازل شوی، همدا ځواب ورکړه، بيا ئې پرېږده چې په خپلو خرافاتو کې لوبې کوي.

---

وَهَٰذَا كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ مُبَارَكٞ مُّصَدِّقُ ٱلَّذِي بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَلِتُنذِرَ أُمَّ ٱلۡقُرَىٰ وَمَنۡ حَوۡلَهَاۚ وَٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ يُؤۡمِنُونَ بِهِۦۖ وَهُمۡ عَلَىٰ صَلَاتِهِمۡ يُحَافِظُونَ ﴿٩٢﴾

۹۲- او دا هغه مبارك كتاب دئ چې نازل مو کړ، تصديقوونکی د هغو چې تر ده د مخه وو او د دې لپاره چې مرکزي ښار او په چاپېر کې ئې چې څوك دي، پرې انذار کړې او هغه چې په آخرت باور لري په دې به ايمان راوړي، په داسې حال کې چې د خپلو لمونځونو حفاظت به کوي.

---

(۹۲)- دا مبارك قرآن هم د الله تعالی له لورې نازل شوی چې ځينې ځانګړتياوې او د حقانيت دلائل ئې دا دي:

● مبارك او د برکتونو ذريعه دئ، په دې کې د انسان د سعادت، صلاح او فلاح لارښوونې شوې، انسان ته صحيح عقائد ورښيي، ښېګڼو ته ئې ترغيبوي او د غوره اخلاقو لورې ته

بلنه ورکوي.

- تر دې د مخه چې کوم الهي کتابونه نازل شوي دا د هغوی تسلسل دئ، همغه څه وايي چې په مخکينيو کتابونو کې راغلي، په داسي حال کې چې قرآن د مخکينيو کتابونو تصديق کوي، د دغو کتابونو پلويان ولې د قرآن مخالفت کوي؟ خو دې ته مو بايد پام وي چې له مخکينيو کتابونو د تورات او انجيل په څېر اصلي الهي کتابونه مراد دي، نه تحريف شوی بايبل، په بايبل کې به د اصلي تورات يوازې يوه وړه برخه چې څو سطره ترې جوړېږي په نظر درشي او د اصلي انجيل به هيڅ څه په کې ونه مومئ؛ او د دې وجه دا ده چې په يهودانو او مسيحيانو داسي سختي شپې ورځې راغلې چې د دوی ټول ديني کتابونه د دښمنانو په لاس سوزېدلي، تر کلونو کلونو ئې نه معبد وو، نه ئې د خپل کتاب په اړه څه ويلی او ليکلی شوی، بايبل ډېر وروسته په داسي حال کې ليکل شوی چې د اصلي تورات او انجيل هيڅ برخه ئې په لاس کې نه وه. قرآن نه يوازې د بايبل تصديق او تأييد نه کوي بلکې هغه په کلکه ترديدوي، حقيقت دا دئ چې د پيغمبر عليه السلام د بعثت په مهال حجاز د محرف مسيحيت تر سخت فکري يرغل لاندي وو، د بايبل مسخره او له خرافاتو ډکې قصې په هر محفل او مجلس کې زمزمه کېدې، د همدې لپاره گورو چې په قرآن کې تر هر چا زيات د بايبل پلويانو ته خطاب متوجه دئ او د بايبل ډېرى قصې او اکثر مطالب ئې ترديد او ځيني برخي ئې تصحيح کړي، مفصل ئې په مفصله توگه او مجمل ئې په مجمله توگه.
- لکه چې تر دې د مخه د مختلفو قومونو د لارښوونې لپاره پيغمبران او د دوی له لاري الهي کتابونه لېږل شوي، همداسي دا قرآن د ام القرى او په ماحول کې ئې د اوسېدونکو خلکو د انذار لپاره لېږل شوی.
- په دې کتاب هغه خلك ايمان راوړي چې په آخرت باور لري او د الله تعالى په عبادت بوخت دي، له آخرت د منکرو باغي او عاصي انسانانو د راغونډولو ذريعه نه دئ، د ظالمانو او مفسدينو مستمسك نه دئ، آيا دا په خپله نه ثابتوي چې دا يو سپېڅلی الهي کتاب دئ؟

---

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوْ قَالَ أُوحِىَ إِلَىَّ وَلَمْ يُوحَ إِلَيْهِ شَىْءٌ وَمَن قَالَ سَأُنزِلُ مِثْلَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ ۗ وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِى غَمَرَٰتِ ٱلْمَوْتِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ بَاسِطُوٓا۟ أَيْدِيهِمْ أَخْرِجُوٓا۟ أَنفُسَكُمُ ۖ ٱلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ ٱلْهُونِ بِمَا كُنتُمْ تَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ غَيْرَ ٱلْحَقِّ وَكُنتُمْ عَنْ ءَايَٰتِهِۦ تَسْتَكْبِرُونَ ﴿٩٣﴾

۹۳- او تر هغه چا به لوی ظالم څوك وي چې پر الله د دروغو افتراء كوي او وايي چې راته وحي شوې په داسي حال كې چې وحي نه وي ورته شوې، يا وايي د هغه څه په څېر به ئې زه هم راوړم چې الله نازل كړی؛ او كاش ته دا ظالمان هغه مهال وګورې چې د مرګ په سكرات او سلګيو كې وي او فرشتو لاسونه وراوږده كړي (او ورته وايي:) خپله روح مو راوباسئ، نن به د هغه څه سزا دركول كېږي چې د الله په اړه مو په ناحقه ويل او د ده له آيتونو به مو لويي او سرغړاوی كولو.

---

(۹۳)- دلته د قرآن د نه منونكو او مخالفينو څو خبرو ته اشاره شوې او هغه ستر ظلم بلل شوی:

- دوی خپل كتاب د الله تعالی له لوري ګڼي حال دا چې دا كتاب د الله تعالی له لوري نه دئ، دوی له الهي كلام خپل تعبير او تفسير الهي وحي ګڼي، حال دا چې دا الهي وحي نه بلكې د دوی له غرض او مرض راولاړ شوي تعبيرونه دي.
- دوی ادعاء كوي چې كولی شي د قرآن په څېر كتاب جوړ او خلكو ته ئې وړاندي كړي، حال دا چې دوی ټول او شيطانان ئې په ګډه د دې كتاب د يوې وړې سورې په څېر څه نشي وړاندي كولی.
- دوی په خپل جهل، عناد، غرور او تكبر كې پرېږده، خپله سزا به حتماً ګوري، كاش دوی هغه مهال وګورې چې د مرګ په سكرات او سلګيو كې وي او فرشتو لاسونه وراوږده كړي (او ورته وايي:) خپله روح مو راوباسئ، نن به د هغه څه سزا دركول كېږي چې د الله په اړه مو په ناحقه ويل او د ده له آيتونو به مو لويي او سرغړاوی كولو.

---

وَلَقَدْ جِئْتُمُونَا فُرَادَىٰ كَمَا خَلَقْنَـٰكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَتَرَكْتُم مَّا خَوَّلْنَـٰكُمْ وَرَآءَ ظُهُورِكُمْ ۖ وَمَا نَرَىٰ مَعَكُمْ شُفَعَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ زَعَمْتُمْ أَنَّهُمْ فِيكُمْ شُرَكَـٰٓؤُا۟ ۚ لَقَد تَّقَطَّعَ بَيْنَكُمْ وَضَلَّ عَنكُم مَّا كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿٩٤﴾

۹٤- بېشكه چې زموږ خوا ته همغسې يوازې راغلئ لكه چې لومړی ځل مو پيدا كړي وئ او هر هغه څه مو شا ته پرېښودل چې موږ پر تاسو پېرزو كړي وو او اوس ستاسو هغه شفاعت كوونكي هم نه درسره وينو چې ګمان مو كړی وو دوی ستاسو په اړه زموږ شريكان دي، بې شكه چې ستاسي تر منځ بېلتون راغی او مزعوم شفاعت كوونكي مو درنه ورك شوي.

---

(۹٤)- د دې مبارك آيت په اړه لاندي خبري په پام كې ولرئ:

● معلومېږي چې د پیغمبر علیه السلام د دعوت مخالفت ته دوو ډلو ملا تړلې وه، لومړۍ ډله ئې هغه خلك ول چې په ټولني کې مخور ول، په ولس کې ئې رسوخ او نفوذ درلود، د مال او دولت خاوندان ول او دوهمه ډله ئې هغه غولېدلي مشرکان چې گمان ئې کولو د دوی مزعوم معبودان په دنيا کې هم او د قيامت په ورځ هم د الله تعالی په وړاندې د دوی شفاعت کوي.

● د دغو خلکو په اړه ويل شوي چې د قيامت په ورځ به الله تعالی ورته وفرمايي: دا دئ زموږ خوا ته همغسي بربنډ، تش لاس او يوازي راغلئ چې پيدا کړي مي وئ، هر هغه څه مو شا ته پرېښودل چې موږ پر تاسو پېرزو کړي وو او اوس ستاسو هغه شفاعت کوونکي هم نه تر سترگو کېږي چې زما د شريکانو گمان مو پرې کړی وو او داسې مو انگېرله چې دوی ستاسو په اړه زموږ شريکان دي، بې شکه چې ستاسې تر منځ بېلتون راغی او مزعوم شفاعت کوونکي مو درنه ورك شوي او ستاسو مرسته نشي کولی.

---

إِنَّ ٱللَّهَ فَالِقُ ٱلْحَبِّ وَٱلنَّوَىٰۖ يُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَمُخْرِجُ ٱلْمَيِّتِ مِنَ ٱلْحَىِّۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴿٩٥﴾

۹۵- يقيناً چې د دانې او زړي سپړونکی الله دئ، ژوندی له مړي راباسي او له ژوندي د مړي رااېستونکی دئ، همدا ستاسو رب دئ، نو څنگه دوکه کېږئ؟!

---

(۹۵)- په دې مبارك آيت کې د الله تعالی د اثبات لپاره څو قاطع او پرېکنده دلائل وړاندې شوي:

● دا خو يوازي الله تعالی دئ چې دانې او زړي سپړي او بوټي او وني ترې راټوکوي، په دې کار کې چې د قدرت، حکمت او علم کومې نښې دي، موږ ته الله تعالی راښيي، دا راته ثابتوي چې الله تعالی زموږ او د ټول عالم رب دئ، وني او بوټي ټول کال لگيا وي د دې لپاره دانه او مېوه جوړوي چې زما اړتياوو ته ځواب ووايي، زما لپاره خوندوره، ښايسته او زما د اړتياوو متکفله داسې مېوه او دانه جوړوي چې زه ئې هم له رنگ او ذائقې خوند اخلم او هم ئې هضمول راته آسانه.

● څوك چې له مړي ژوندی او له ژوندي مړی راپيدا کوي، له خاوري بوټي او وني راټوکوي او له ژونديو بوټو او ونو مړې مېوې او دانې راپيدا کوي، له الله تعالی پرته بل څوك نه دئ.

● د قدرت د دغو څرگندو نښو له ليدو سره سره څنگه دوکه کېږئ او له الله تعالی انکار کوئ؟!

فَالِقُ ٱلۡإِصۡبَاحِ وَجَعَلَ ٱلَّيۡلَ سَكَنٗا وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ حُسۡبَانٗاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ﴿٩٦﴾

۹۶- د سباوون چوونکی او شپه ئې آرامځی ګرځولې او لمر او سپوږمۍ ئې د حساب ذریعه، دا د همغه پوه غالب خدای د اندازو ټاکنه ده.

---

(۹۶)- دلته څو نور مضبوط دلائل وړاندي شوي:

● څوك چي د شپې پرده د سباوون په رڼا سره څیري، نه پرېږدي چي تل تیاره وي، که تل تیاره وی یا د شپې عمر تر اوسني حالت لږ یا زیات وی، د زمکي پر سر ژوند درته ممکن نه وو، په دې سره به یا زمکه ډېره توده یا ډېره سړه شوې وه، داسي چي نه به ئې تودوخه تاسو ته د زغملو وړ وه او نه ئې یخني، څوك چي شپه او ورځ یوه په بلې پسې راولي؛ هغه الله تعالی دئ.

● چا چي دا شپه ستاسو لپاره د سکون او آرامښت مهال او د خپل مصرف شوي ځواك او قوت د جبران وسیله ګرځولې، هغه الله تعالی دئ، د شپې په راوستو کي چي کوم حکمتونه مضمر دي په دې شهادت ورکوي چي دا د یوه حکیم او علیم ذات په اراده ځي راځي.

● چا چي لمر او سپوږمۍ په داسي دقت سره پیدا کړي او د هغوی تګ راتګ ئې د داسي دقیق نظم تابع ګرځولي چي تاسو د ساعتونو، ورځو، میاشتو او کلونو د حسابولو لپاره ترې استفاده کوئ، هغه الله تعالی دئ چي هم ئې د قدرت او ځواکمنۍ نښي په خپلو سترګو ګورئ، هم ئې د علم نښي او هم هغه اندازې چي ده د هر څه لپاره ټاکلې دي. آیا لمر، سپوږمۍ او زمکه د پیدایښت له ورځي تر نن پوري، په تېرو څو ملیارده کلونو کي په داسي حالت کي ساتل چي ختل او لوېدل ئې په دقیقه توګه تر سره کېږي، له ټاکلي حد تېری نشي کولی، په دومره دقت سره چي تاسو د حساب ذریعه ترې جوړه کړې، دا نه ثابتوي چي الله تعالی عزیز او علیم دئ او دا اندازې د ده له لوري ټاکل شوې؟!

---

وَهُوَ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلنُّجُومَ لِتَهۡتَدُواْ بِهَا فِي ظُلُمَٰتِ ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِۗ قَدۡ فَصَّلۡنَا ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ﴿٩٧﴾

۹۷- او دی همغه ذات دئ چي ستوري ئې ستاسو لپاره د صحراء او سیند په تیارو کي د لاري موندو ذریعه ګرځولي، بې شکه چي د هغو لپاره مو دا آیتونه په تفصیل سره بیان کړي چي پوهېږي.

(۹۷)- یوازې لمر او سپوږمۍ نه بلکې د آسمان ټولو ستورو ته نظر وکړئ، د هر یوه لپاره خاص ځای او مدار ټاکل شوی، په خپل وخت راخېژي او لوېږي، د دوی ختل او لوېدل دومره دقیق دي چې تاسو د سیند او صحراء په تیارو کې، هغه مهال چې د لورې د ټاکلو لپاره هیڅ نښه په خپل چاپېریال کې نه گورئ، دغه ستوري تاسو ته لارښوونه کوي، په دې سره خپله لار مومئ او خپل لورى ټاکئ، آیا د قدرت او حکمت دا نښې د عقلمنو لپاره کفایت نه کوي؟

وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنشَأَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ فَمُسْتَقَرٌّ وَمُسْتَوْدَعٌ ۗ قَدْ فَصَّلْنَا ٱلْـَٔايَـٰتِ لِقَوْمٍ يَفْقَهُونَ ﴿٩٨﴾

۹۸- او دا خو دی دئ چې تاسو ئې له یوه ژوي راپیدا کړئ، بیا (د هر یوه لپاره) د تقرر یوه نېټه او د پرېښودو یوه نېټه ده، یقیناً چې د هغو لپاره مو آیتونه بیان کړي چې پوهېږي.

(۹۸)- د علم او پوهې خاوندانو ته په دې کې څرگنده نښه ده چې الله تعالی انسانان له واحد ژوي راپیدا کړل، د هر یوه لپاره ئې د پیدایښت او مرگ نېټه ټاکلې، د الله تعالی په اراده او د ده له تقدیر سره سم دنیا ته راځي او له دنیا درومي، هم ئې پیدایښت د الهي تقدیر تابع دئ او هم ئې د ژوند موده او د مرگ نېټه.

د مستقر او مستودع په ارتباط د مخکینیو او وروستنیو مفسرینو تر منځ کافي اختلافات گورو، ځیني ئې د پلار صلب او د مور رحم، ځیني دنیا، ځیني قبر او ځیني ئې جنت او دوزخ گڼي، د اختلاف اصلي وجه دا ده چې دوی مستقر او مستودع د اسم مکان صیغې نیولې، حال دا چې دا صیغه په همدې سوره کې د زمان لپاره راغلې:

لِّكُلِّ نَبَإٍ مُّسْتَقَرٌّ ۚ وَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٦٧﴾ الانعام: ٦٧

د هرې خبرې د تحقق لپاره یوه نېټه ده، ژر به پوه شئ.

خو که لږ دقت وکړئ معلومېږي چې دا دواړه صیغې د (مستقبل) په څېر زمان او نېټه افاده کوي، مستقر یعنی د استقرار نېټه او مستودع یعنی د وداع او پرېښودو نېټه، انسان ته په دنیا کې د استقرار نېټه او له دنیا د تلو نېټه ټاکل شوې، په دې سره نه یوازې د آیت واضح مفهوم تر لاسه کېږي بلکې اختلاف رأی ته هم هیڅ مجال نه پاته کېږي.

دې ته مو باید پام وي چې د مستقر او مستودع په اړه روایات او آثار متعدد، مختلف او متعارض دي، د ترجیح لپاره هم هیڅ دلیل نشو په گوته کولی، د تعدد، اختلاف او تعارض وجه دا ده چې د مکان صیغې ئې گڼلې دي. په حقیقت کې دا آیت د سورې د دوهم آیت شرح او تفصیل دئ، هلته داسې ویل شوي:

هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن طِينٍ ثُمَّ قَضَىٰٓ أَجَلًا ۖ وَأَجَلٌ مُّسَمًّى عِندَهُۥ ۖ ثُمَّ أَنتُمْ تَمْتَرُونَ ﴿٢﴾

دی هماغه ذات دئ چې له خټې ئې راپيدا کړئ، بيا ئې د اجل (د مرگ د نېټې) پرېکړه وکړه او نومولې نېټه له ده سره ده، خو تاسو بيا هم شك کوئ!!

---

وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجْنَا بِهِۦ نَبَاتَ كُلِّ شَىْءٍ فَأَخْرَجْنَا مِنْهُ خَضِرًا نُّخْرِجُ مِنْهُ حَبًّا مُّتَرَاكِبًا وَمِنَ ٱلنَّخْلِ مِن طَلْعِهَا قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ وَجَنَّٰتٍ مِّنْ أَعْنَابٍ وَٱلزَّيْتُونَ وَٱلرُّمَّانَ مُشْتَبِهًا وَغَيْرَ مُتَشَٰبِهٍ ۗ ٱنظُرُوٓا۟ إِلَىٰ ثَمَرِهِۦٓ إِذَآ أَثْمَرَ وَيَنْعِهِۦٓ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكُمْ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٩٩﴾

۹۹- او دا خو دی دئ چې له آسمانه ئې اوبه نازلې کړې او په دې سره مو د هر څه بوټی راوايست؛ او له دې مو شنه فصلونه راوايستل، چې له دې يوه پر بلې پرتې دانې راباسو او د خرما له ځانگو داسې وږې چې (له دروندوالي ځوړندي او زمکې ته) رانژدې وي او د انگورو، زيتونو او انارو باغونه، سره ورته او ناورته، هغه مهال ئې مېوو ته وگوره چې په مېوو راغلې وي او پخېدو ته ئې، بې شکه چې په دې کې هغو خلکو ته چې ايمان راوړي ځرگندي نښې دي.

---

(۹۹)- ووايئ: هغه ځوك دئ چې له آسمانه اوبه نازلوي، په دې اوبو سره له زمکې ډول ډول نباتات راټوکوي، شنه فصلونه ترې جوړوي، يوه پر بلې پرتې دانې ترې راباسي، د خرما په ځانگو کې درانه او له کجورو ډك وږې راپيدا کوي، د ډول ډول انگورو، زيتونو او انارو باغونه ترې جوړوي، مېوې ئې په رنگ او شکل کې سره ورته او په خوند کې ناورته، هغه مهال ئې مېوو ته وگوره چې لا اومې وي او بيا هغه مهال هم چې پخې شوې وي، بې شکه هغه چا ته چې د ايمان راوړو استعداد ئې نه وي مړ شوی، په دې کې ځرگندي نښې دي.

---

وَجَعَلُوا۟ لِلَّهِ شُرَكَآءَ ٱلْجِنَّ وَخَلَقَهُمْ ۖ وَخَرَقُوا۟ لَهُۥ بَنِينَ وَبَنَٰتٍۭ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٠٠﴾

۱۰۰- او الله ته ئې له پېريانو شريکان جوړ کړل، په داسې حال کې چې الله (هغوی) پيدا کړي او په ناپوهۍ سره ئې هغه ته زامن او لوڼې جوړ کړل، پاکې ده هغه ته او لوړ دئ له هغه څه چې دوی ئې بيانوي.

(۱۰۰)- د دې آيت په اړه لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

- قرآن دلته او په نورو آيتونو کې د شيطان اطاعت د ده له عبادت سره مترادف ګڼي، چا چې د شيطان وسوسو ته سر ټيټ کړ په حقيقت کې ئې د هغه عبادت کړی. مشرکانو د شيطاني وسوسو په حکم الله تعالی ته شريکان ټاکلي، په حقيقت کې دوی شيطان له الله تعالی سره په عبادت او اطاعت کې شريك کړی.

- دوی الله تعالی ته له خپله ځانه زامن او لوڼې جوړ کړل، چا فرشتې د خدای لوڼې وګڼلې، چا عيسی او عزير عليهما السلام د خدای زامن او ځای ناستي وګڼل، يهودانو او نصرانيانو خپل قوم د خدای زامن او خپلوان او محبوبان وبلل، حال دا چې الله تعالی د دوی له دغو خبرو ډېر لوړ او له داسې عيب ډېر منزه دئ. په بايبل کې به تاسو وګورئ چې ډېر پيغمبران ئې په ځانګړې توګه او بني اسرائيل په عامه توګه د خدای زامن ګڼلي، د بايبل کمعقله ليکوال په دې نه پوهېږي چې که خدای زوی درلودی نو هغه به هم خدای وو، د بايبل ليکونکی دې موږ ته ووايي چې خدای د بني اسرائيلو په څېر دئ که بني اسرائيل د خدای په څېر؟ آيا ستا په خدای کې ټول هغه عيبونه شته چې په بني اسرائيلو کې شته؟ بني اسرائيل ناروغېږي، وږي او تږي کېږي، خوراك کوي، په خوراك پوري اړوند ډېرې نيمګړتياوې لري، ويدېږي، ووړ وي ستړ شي او په پای کې ومري، طبيعي ده چې د دوی پلار هم بايد دغسې وي!! آيا خپل خدای ته دا ټول عيبونه او نواقص راجع کوې؟!! ستا په خدای کې د بني اسرائيلو کوم صفت شته او په بنې اسرائيلو کې د خدای کوم صفت؟!! چې څوك د پيدايښت نېټه لري هغه په دې دليل خدای نه شي کېدی چې له دې نېټې مخکې نه وو!! د چا چې زوی په يوې معيني نېټې کې پيدا شوی او له هغې مخکې نه وو نو دی به هم همداسې په يوې معيني نېټې کې پيدا شوی وي او له هغه مخکې به نه وو!! موږ خو نن دا حقيقت په خپلو سترګو ګورو چې څوك زوی لري نو هغه مېرمن هم لري!! پر انسان د خدای د زوی اطلاق به ډېر ناپوه او احمق انسان کوي!!

- د هر انسان، حيوان او مارغه زوی او بچی پلار ته ورته وي، موږ ته ووايه: خدای د خپل کوم زوی په څېر دئ؟ آيا د زمکې او آسمانونو پيدا کوونکی خدای د خپل زوی په څېر ووړ دئ؟ ټول هغه انساني عيبونه لري چې زامن ئې لري؟ نه وو، پيدا شوی، ووړ وو، ستړ شوی، وږی شوی، تږی شوی، ناروغ شوی، مړ شوی؟ موږ خو اورېدلي چې د ده زامنو د خپل وزن دوه برابره پېټی نه شو پورته کولی، څنګه ومنو چې دوی د هغه خدای زامن دي چې دوه زره مليارده ستور ليکې اداره کوي، د دې ستر او پراخ عالم دا بې شمېره ستوري په خپل خپل ځای کې ساتي!! آيا په هغه عقل ژړا نه ده په کار چې دا ضعيف او کمزوری انسان د هغه څواکمن او قدير خدای زوی ګڼي؟!! او هغه باعظمته خدای د دغه ناتوان او وړوکي انسان په څېر ګڼي؟!!

د بودا په اړه د بوداپانو عقيده دا ده چې: بودا د خدای زوی دئ، له کړاوونو د خلکو

ژغورونکی دئ، د دوی د ګناهونو پېټی ئې په خپلو اوږو واخيست، روح القدس د (مايا) په جسد کې حلول وکړ او بودا دنيا ته راغی، کله چې وزېږېدو د آسمان لښکرو خوشحالي وکړه او فرشتو سندري ووېلې، حکيمانو بودا وپېژاندو چې په ده کې الهي روح ده، بودا يو ځل د بتانو ځای ته ننوت، ټول بتان ورته په سجده شول، د ژوند په وروستيو کې يو نور پرې راکوز شو او د ده سر ئې احاطه کړ، له ده ستر نور خور شو، ليدونکو ئې ووېل: دا انسان نه دئ، حتماً ستر خدای دئ، کله چې مړ شو پلويانو ئې ووېل: له خپل جسد سره آسمان ته وخوت، له هغه وروسته چې خپل کار ئې په زمکې کې بشپړ کړ، بېرته به زمکې ته راګرځي چې صلح او برکت ورپه برخه کړي، بودا ازلي دئ، له نوره جوړ شوی...

تر مسيحيت د مخه د روم د بحيرې شاوخوا مېشت قومونو کې داسي مذاهب راپيدا شول چې په يوه سري او غائب معبود ئې باور وو او دا ګمان ئې کاوو چې هغه د انسان په بڼې کې ژوند کړی، مړ شوی او بېرته راژوندی شوی، په دغو مذاهبو کې د متراس مذهب تر ټولو مشهور وو، پلويان ئې په دې عقيده وو چې متراس يو اتل ځوان او يو معبود وو، د بې وزلو خلکو مرسته به ئې کوله، آسمان ته لوړ کړی شو، اوس په هغه ځای کې د خپلو پلويانو ګټو ته پاملرنه کوي، له آسمانه به بيا زمکې ته راشي!!

بودايان، د متراس پلويان او مسيحيان سره ورته دي، د دوی منتظَر ناجي اول دنيا ته راغلی، ستر ستر کارونه ئې کړي، مړ شوی، بېرته ژوندی شوی، آسمان ته ختلی، بيا به راځي، د يهودانو منتظَر ناجي لا نه دئ پيدا شوی، په مناسب وخت کې به پيدا شي او يهودانو ته به ستر ستر کارونه وکړي، د شيعه ګانو منتظَر ناجي پنځه کلن وو چې غائب شو، تر اوسه ژوندی دئ، خدای د ټول عالم چاري ورسپارلې، د شيعه وو دعاءګانې د ده له لاري او د ده په شفاعت او وساطت قبلوي، په مناسب وخت کې به راشي او د شيعه وو ټول دښمنان به ووژني!! دا ټول خرافي مذاهب سره ورته دي او منشأ ئې يوه ده، د ټګمارو مذهبي مشرانو خدعه.

مسيحيان عيسی عليه السلام د خدای زوی ګڼي، په داسي حال کې چې وايي: پيدا شوی، ماشوم وو ستر شوی، وږی شوی تږی شوی، آيا د خدای زوی وږی کېږي؟ عقل خو وايي: هر زوی پلار ته ورته وي، که خدای زوی درلودی نو نه به کله ډوډۍ ته اړ کېدو او نه اوبو ته!!

---

بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُۥ وَلَدٌ وَلَمْ تَكُن لَّهُۥ صَٰحِبَةٌ ۖ وَخَلَقَ كُلَّ شَىْءٍ ۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿١٠١﴾

۱۰۱- د آسمانونو او زمکې پيدا کوونکی، څنګه به ئې زوی وي په داسي حال کې چې مېرمن ئې نشته او هر څه ئې پيدا کړي او په هر څه پوه دئ.

(۱۰۱)- د مشرکانو د دغې غلطې انګېرنې د تردید لپاره څو دلائل وړاندې کوي:

● څنګه هغه الله تعالی ته د زوی درلودو نسبت کوئ چې آسمانونه او زمکه او هر څه ئې په لومړي ځل، له مخکینی بېلګې پرته، پیدا کړي؟!

● څوك چې الله تعالی ته د زوی نسبت کوي باید د مېرمنې درلودو نسبت هم ورته وکړي، د هر چا زوی د هغه له مېرمنې پیدا کېږي، که خدای زوی لري نو مېرمن ئې څوك ده؟

● زوی او ځای ناستې ته خو هغه څوك اړ کېږي چې د هر کار په کولو، د هر څه په پیدا کولو او په هر څه د علم له لرلو عاجز وي، په دغو برخو کې خپلې نیمګړتیاوې د ځای ناستې او شریك په مرسته پوره کوي، په داسې حال کې چې الله تعالی د هر څه خالق او په هر څه پوه دئ، ولې به ځای ناستی او شریك غوره کوي؟!

---

ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖ فَٱعۡبُدُوهُۚ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٞ ﴿١٠٢﴾

۱۰۲- همدا ستاسو رب دئ، له ده پرته بل معبود نشته، د هر څه خالق، نو عبادت ئې کوه او هغه د هر څه کفیل دئ.

---

(۱۰۲)- په پورتنیو آیتونو کې چې د الله تعالی د ښه پېژندو په اړه څه ویل شوي، د ده صفات او ځانګړتیاوې معرفي شوې، همدا ستاسو رب دئ، له ده پرته بل معبود نشته، شریك نه لري، د هر څه خالق، زوی او مېرمن نه لري، یوازې د ده عبادت کوه او یوازې هغه خپل مولا او کفیل ګڼه.

---

لَّا تُدۡرِكُهُ ٱلۡأَبۡصَٰرُ وَهُوَ يُدۡرِكُ ٱلۡأَبۡصَٰرَۖ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلۡخَبِيرُ ﴿١٠٣﴾

۱۰۳- سترګې ئې لیدی نه شي او دی سترګېویني؛ او دی ښه باخبر لطیف دئ.

---

(۱۰۳)- دلته څو خبرو ته پام وکړئ:

● د مخلوق سترګې د ده له لیدو عاجزې دي، دا ځکه چې الله تعالی لطیف دئ، انسان په مخلوقاتو کې هغه څه نشي لیدی چې لطیف وي او متکاثف او متراکم نه وي، ساینس او علم موږ ته وايي چې د انسان سترګې د انرژۍ، نور، جاذبې، ساحې او په زرګونو نورو مخلوقاتو له لیدو عاجزې دي، نو دا سترګې به څنګه لطیف خدای ولیدی شي؟!

● دا خبره په حقیقت کې د یهودانو د هغې عقیدې د تردید لپاره راغلې چې وايي: د دوی ډېرو پیغمبرانو خدای په خپلو سترګو لیدلی، یهودانو په خپلو سترګو په داسې حال کې

ليدلی چي د وربځو په منځ کي د دوی خوا ته راغلی، بايبل د قرآن او علم خلاف دعوی کوي چي خدای د بني اسرائيلو اکثرو پيغمبرانو او حتی کاهنانو ته په وار وار راڅرګند شوی او تل د انسان په څېره کي، د وربځو له منځه راوتلی، حتی له يعقوب عليه السلام سره ئې غېږي نيولې دي او په دې نه دئ توانېدلی چي هغه راځملوي، خو د غېږو په وخت کي په يعقوب عليه السلام دومره زور راغلی چي د ښي ورون يوه عضله ئې خوږ شوه!! د دغي پېښي په سبب بني اسرائيل تر اوسه د حيواناتو دغه عضله نه خوري!! بيا ليکي چي خدای په بيت ئيل کي يعقوب ته بيا راڅرګند شو، ورته وئې ويل له دې وروسته به ستا نوم د يعقوب پر ځای اسرائيل وي!! ډېر پاچايان به ستا له نسله راپيدا شي، دا سيمه چي له ابراهيم او اسحاق سره مي د دوی اولاد ته د سپارلو ژمنه کړې وه تا ته ئې سپارم، بيا نو خدای د ده له څنګه آسمان ته ولاړ!! ښايي د دې خبري د ليکلو په وخت کي د بايبل د ليکونکي حافظې کار پرېښی وو او دا ئې په ياد نه وو چي د اردن د رود په غاړه او له خدای سره د غېږو له نيولو وروسته هم خدای ورته ويلي وو چي له دې وروسته به ستا نوم د يعقوب پر ځای اسرائيل وي!! د دې تناقض او تکرار ځواب دي د بايبل منونکي ووايي، خدای هلته د اسرائيل نوم پرې اېښی وو که دلته؟!! ورپسې ليکي: يعقوب په دې خاطر دلته د ډبرو څلی جوړ کړ چي دلته ئې خدای ليدلی وو، د څلي پر سر ئې د څښاک هديه (شراب) توی کړل او د زيتون په غوړو ئې غوړ کړ!! )

- الله تعالی د انسان سترګي ويني، د دې معنی دا ده چي الله تعالی د انسان د بصيرت هغه نور هم ويني چي ده ته د ليدو او رويت توان ورکوي، هغه نور چي له منورو توکو د انسان سترګو ته لار مومي او د رويت سبب ګرځي، انسان ئې نشي ليدی خو الله تعالی ئې ويني.
- الله تعالی له هر څه خبر دئ، د عالم هيڅ څه ترې پټ نشي پاته کېدی، دا د خبير خدای وينا ده چي د مخلوق سترګي د ده له ليدو ناتوانه دي.

قَدْ جَآءَكُم بَصَآئِرُ مِن رَّبِّكُمْۖ فَمَنْ أَبْصَرَ فَلِنَفْسِهِۦۖ وَمَنْ عَمِىَ فَعَلَيْهَاۚ وَمَآ أَنَا۠ عَلَيْكُم بِحَفِيظٍ ﴿١٠٤﴾

١٠٤- يقيناً چي تاسو ته د خپل رب له لوري د بصيرت (اسباب او رڼاګاني) راغلي دي، نو څوک چي له بصيرته کار واخلي، د ځان په ګټه ئې دئ او څوک چي ړوند پاته شي د ځان په ضرر ئې دئ او زه پر تاسو څارونکی نه يم.

(١٠٤)- په مخکينيو آيتونو کي د توحيد د اثبات او د شرك د نفي لپاره دومره کافي دلائل وړاندي شوي چي د بصيرت خاوندانو ته کفايت کوي، اوس نو که څوك له بصيرته کار

واخلي، د ځان په ګټه ئې دئ او که په دغو حقائقو او دلائلو سترګي پټې کړي، ځان ته به ضرر رسوي، پیغمبر د دوی څارونکی نه دئ او د دوی د کفر او انکار ذمه وال نه دئ.

وَكَذَٰلِكَ نُصَرِّفُ ٱلْـَٔايَـٰتِ وَلِيَقُولُوا۟ دَرَسْتَ وَلِنُبَيِّنَهُۥ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿١٠٥﴾

۱۰۵- او همدا راز آیتونه په بېله بېله توګه بیانوو او دا د دې لپاره چي دوی ووایي: (له چا دي حتماً) زده کړه کړې او دا د دې لپاره چي هغو خلکو ته (حقیقت) بیان کړو چي پوهېږي.

(۱۰۵)- د پیغمبر علیه السلام له لوري دوی ته دومره دلائل وړاندي شوي چي دوی ئې د دغي خبري کولو ته اړ کړي چي ووایي: تا دا خبري حتماً له چا زده کړې دي، دا د داعي په علم او زده کړي د دښمن اعتراف او د دوی په ضد یو حجت دئ.

ٱتَّبِعْ مَآ أُوحِىَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ۖ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ وَأَعْرِضْ عَنِ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٠٦﴾

۱۰٦- د هغه څه متابعت کوه چي د خپل رب له لوري درته وحي شوی، له ده پرته بل معبود نشته او له مشرکانو ډډه وکړه.

(۱۰٦)- پیغمبر علیه السلام ته لارښوونه شوې چي:

- د خپل رب له لوري چي کوم کتاب درکړی شوی د هغه متابعت وکړه.
- له الله تعالی پرته بل معبود نشته.
- له مشرکانو او د دوی له شرك ځان لري ساته.

وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَآ أَشْرَكُوا۟ ۗ وَمَا جَعَلْنَـٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا ۖ وَمَآ أَنتَ عَلَيْهِم بِوَكِيلٍ ﴿١٠٧﴾

۱۰۷- او که الله غوښتلی نو دوی به شرك نه وو کړی او ته مو پر دوی څارونکی نه یې لېږلی او ته پرې کفیل او ذمه وال نه یې.

(۱۰۷)- په دې آیت کې هم پیغمبر علیه السلام ته مزید څو لارښووني شوې:

- که الله تعالی غوښتلي وی نو دوی به شرك نه وو کړی، خو دا د الله تعالی سنت نه دئ چي څوك په جبر او قهر سره توحید ته اړ او له شرك ئې منع کړي.
- ته هم د دوی څارونکی او ساتونکی نه یې لېږل شوی چي هرومرو به ئې له شرك ساتې.

- ته د دوی ذمه وال نه یې.

---

وَلَا تَسُبُّواْ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ فَيَسُبُّواْ ٱللَّهَ عَدۡوَۢا بِغَيۡرِ عِلۡمٖۗ كَذَٰلِكَ زَيَّنَّا لِكُلِّ أُمَّةٍ عَمَلَهُمۡ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِم مَّرۡجِعُهُمۡ فَيُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٠٨﴾

۱۰۸- او هغو ته ښکنځل مه کوئ چې دوی ئې له الله پرته عبادت کوي، که نه نو دوی به هم (له شرك) ورتېر شي او الله ته به د جهالت په وجه ښکنځلي وکړي، داسي مو هر امت ته خپلي کړني ښایسته کړې، بیا به ئې د خپل رب لوري ته ورتگ وي او په هغه څه به ئې خبر کړي چې دوی کول.

---

(۱۰۸)- دلته مؤمنانو ته له مشرکانو او د دوی له معبودانو سره د چلن په اړه لارښوونه شوې چې:

- د دوی جعلي معبودانو ته بد او رد مه وایئ، که نه نو دوی به هم له شرك ورتېر شي او الله ته به د جهالت په وجه ښکنځلي وکړي.
- هر چا ته خپل کړه وړه، خپل مذهب او مسلك ښایسته کړی شوي.
- ټول به د خپل رب په لوري درومي، هلته به د خپلو کړنو په حقیقت او ماهیت پوه شي.

---

وَأَقۡسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡ لَئِن جَآءَتۡهُمۡ ءَايَةٞ لَّيُؤۡمِنُنَّ بِهَاۚ قُلۡ إِنَّمَا ٱلۡأٓيَٰتُ عِندَ ٱللَّهِۖ وَمَا يُشۡعِرُكُمۡ أَنَّهَآ إِذَا جَآءَتۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿١٠٩﴾

۱۰۹- او په خپلو کلکو قسمونو سره ئې د الله په نامه لوړه وکړه چې که کومه څرگنده نښه ورته راشي نو حتماً به پرې ایمان راوړي، ووایه: آیتونه خو له الله سره دي؛ او څه مو په دې پوهوي چې که هغه راشي نو دوی ایمان نه راوړي.

---

(۱۰۹)- د دوی ځیني داسي دي چې د دغو ټولو دلائلو له اورېدو وروسته به هم د الله په نامه لوړه کوي چې که د قناعت وړ دلیل ورته وړاندي شي نو حتماً به پرې ایمان راوړي، خو حقیقت داسي نه دئ، که هر دلیل ئې مخي ته کښېښودل شي ایمان نه راوړي.

دا یو له هغو آیتونو دئ چې په تفسیر کې ئې د مفسرینو تر منځ شدید اختلاف تر سترگو کېږي، هومره چې ابن تیمیه رحمه الله وایي: (په دې اړه چې په ځینو تفسیرونو کې څه هم ویل شوي خطاء او ناسم دي.)، زه د درنو مفسرینو د متعارضو آراءو له رانقلولو ډډه کوم، خو په دغو آراءو له غور وروسته چې ما کومه نتیجه تر لاسه کړې هغه ستاسو

مخې ته ږدم: دلته د هغو خلکو په اړه بحث شوی چې په مؤکدو قسمونو سره وايي: که قانع کوونکې دليل ومومو نو حتماً ايمان راوړو، يعنې نه د قرآن په دلائلو قانع شوي او نه په ټولو هغو دلائلو چې د پيغمبر عليه السلام له لوري دوی ته وړاندې شوي، ګواکې د دوی د عدم ايمان وجه د کافي او قانع کوونکو دلائلو نشتوالی دئ، که داسې دلائل ومومي نو حتماً به ايمان راوړي!! مؤمنانو د دوی دا ادعاء نه منله، احساس ئې دا وو چې دا متعنت او لجوج مخالفين په هيڅ دليل نه قانع کېږي، د قرآن د لارښوونو په رڼا کې ئې دا احساس کاوو چې د مخالفينو په ليکو کې ځينې خلك داسې دي چې په هيڅ دليل نه قانع کېږي او له مخالفت لاس نه اخلي، د دوی دغه احساس به د دې باعث شو چې دا متعنت مخالفين په کلکو قسمونو سره ادعاء وکړي چې د دلائلو په اورېدو سره حتماً ايمان راوړي، په دې آيت کې دغه حالت توضيح شوی، وروستی آيت هم دا مطلب توضيح کوي او وايي چې که مزيد دلائل او نښې هم دوی ته وړاندې شي د مخکې په څېر به ايمان نه راوړي.

---

وَنُقَلِّبُ أَفْـِٔدَتَهُمْ وَأَبْصَـٰرَهُمْ كَمَا لَمْ يُؤْمِنُوا۟ بِهِۦٓ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَنَذَرُهُمْ فِى طُغْيَـٰنِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿١١٠﴾

۱۱۰- او زړونه او سترګې به ئې داسې واړوو چې د لومړي ځل په څېر ايمان پرې رانه وړي او په خپل طغيان او سرګړاوي کې ئې لالهانده پرېږدو.

---

(۱۱۰)- دوی په طغيان، تعصب او جهالت کې داسې پړاو ته رسېدلي چې نه ئې د زړه دړه د حق خبرې منلو ته پرانيستل کېږي او نه ئې سترګې د حق ليدلو ته، د هرې نښې او هر دليل په وړاندې به همغه دريځ غوره کوي چې تر دې د مخه ئې غوره کړی.

---

وَلَوْ أَنَّنَا نَزَّلْنَآ إِلَيْهِمُ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةَ وَكَلَّمَهُمُ ٱلْمَوْتَىٰ وَحَشَرْنَا عَلَيْهِمْ كُلَّ شَىْءٍ قُبُلًا مَّا كَانُوا۟ لِيُؤْمِنُوٓا۟ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ يَجْهَلُونَ ﴿١١١﴾

۱۱۱- او که مو ملائکې ورلېږلې وی او مړو ورسره خبرې کړې وی او د دوی مخې ته مو هر څه راغونډ کړي وی، ايمان ئې نه راوړ، مګر دا چې الله غوښتي وی، خو ډېری ئې نه پوهېږي.

---

(۱۱۱)- د جهالت په ډنډ کې داسې غرق دي چې که فرشتې ئې مخې ته ودروو، مړي ورسره خبرې وکړي، هر څه ئې مخې ته راغونډ کړو، ټولې نښې او آيتونه ئې مخې ته کښېږدو، ايمان نه راوړي.

وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيَٰطِينَ ٱلْإِنسِ وَٱلْجِنِّ يُوحِي بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ زُخْرُفَ ٱلْقَوْلِ غُرُورًاۚ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُۖ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ ﴿١١٢﴾

۱۱۲- او همداسې مو د هر پیغمبر لپاره له شیطانانو او انسانانو دښمنان ټاکلي، چې ځیني ئې ځینو نورو ته په دوکې سره ښایسته شوې خبرې القاء کوي؛ او که ستا رب غوښتي وی دا کار به ئې نشو کولی، نو په خپلو افتراءاتو کې ئې پرېږده.

(۱۱۲)- الله تعالی انسانان داسې پیدا کړي چې که یوې خوا ته د پیغمبرانو په څېر لوړ لوړ شخصیتونه په کې راولاړوي، د حق او حقیقت مشعل ئې په لاس کې، د انسانانو په لارښوونه مصروف، له بلې خوا د پیغمبرانو او د حق او حقیقت هغه دښمنان راپیدا کېږي چې خلك غولوي، په ملمع او ښایسته شوو دروغجنو خبرو سره، که دا الهي سنت نه وی نو دوی دا کار نشو کولی، نو دا خلك په خپلو افتراءاتو کې پرېږده، له داسې خلکو سره ځان مه مصروفوه او خپل کار ته دوام ورکړه.

وَلِتَصْغَىٰٓ إِلَيْهِ أَفْـِٔدَةُ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْءَاخِرَةِ وَلِيَرْضَوْهُ وَلِيَقْتَرِفُوا۟ مَا هُم مُّقْتَرِفُونَ ﴿١١٣﴾

۱۱۳- او دا د دې لپاره چې د هغو خلکو زړونه ورواوړي چې په آخرت ایمان نه راوړي او چې پرې راضي شي؛ او همغه څه تر سره کړي چې کوونکي ئې دي.

(۱۱۳)- د دوی غولوونکو خبرو ته به هغه خلك تمایل ښیي او هغه به خوښوي چې په آخرت ایمان نه لري، دا له آخرته غافل د دنیا بندگان د دې لپاره د دغو بې لارو مشرانو خبرې خوښوي چې دوی ته د هر بد کار کولو، د هر خیانت، فساد، د بل په حق تېري، عیش او عشرت اجازه ورکوي، غربي دیموکراسي او بې مهاره او بې لجامه آزادي ورکوي.

أَفَغَيْرَ ٱللَّهِ أَبْتَغِي حَكَمًا وَهُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ إِلَيْكُمُ ٱلْكِتَٰبَ مُفَصَّلًاۚ وَٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ يَعْلَمُونَ أَنَّهُۥ مُنَزَّلٌ مِّن رَّبِّكَ بِٱلْحَقِّۖ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُمْتَرِينَ ﴿١١٤﴾

۱۱٤- آیا له الله پرته بل حکم ولټوم؟ حال دا چې (الله) همغه ذات دئ چې دا مفصل کتاب ئې درته رالېږلی او چا ته چې د کتاب (علم) ورکړی شوی په دې پوهېږي چې په رښتیا سره دا ستا د رب له لوري نازل شوی، نو له شك کوونکو مه

کېږه.

(۱۱٤)- آيا له الله تعالی پرته بل حکم ځان ته ولټوم؟ آيا خپل ژوند د بل چا د حکم او دستور مطابق تنظيم کړم؟ آيا په ژوند پوري مربوط قضاياء د بل چا د قانون مطابق حل او فصل کړم؟ په داسي حال کي چي الله تعالی د دې مقصد لپاره مفصل او جامع کتاب رالېږلی، د داسي جامع او مفصل کتاب په شتون کي به څنګه او ولي بل چا ته رجوع کوم؟!

چا ته چي د کتاب علم ورکړی شوی په دې پوهېږي چي دا مفصل او جامع لارښود کتاب ستا د رب له لوري نازل شوی، نو د دوی مخالفت دي تا په شك کي وانه چوي.

وَتَمَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدۡقٗا وَعَدۡلٗاۚ لَّا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِهِۦۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿١١٥﴾

۱۱۵- او ستا د رب کلام د صداقت او عدالت له مخي بشپړ دئ، هيڅوك ئې د پرېکړو بدلوونکی نشي کېدی او هغه پوه اورېدونکی دئ.

(۱۱۵)- دلته د دې الهي کتاب په اړه څو خبري شوې:

- دا ستا د رب کلام دئ.
- هره خبره ئې په بشپړه توګه رښتينې ده.
- هر قضاوت او حکم ئې په بشپړه توګه عادلانه دئ.
- هيڅوك ئې د پرېکړو، وعد او وعيد د تحقق مخه نشي نيولی.
- الله تعالی چي په دې کتاب کي څه ويلي، که دا د مؤمنانو او کافرانو د قول او عمل په اړه دي، که د توحيد او شرك، حق او باطل، دنيا او آخرت په اړه دي، که د خلکو د عملونو د پايلو او عواقبو په اړه دي، ټول حق او رښتيني دي او دا د هغه ذات له لوري ويل شوي چي پوه اورېدونکی دئ.

وَإِن تُطِعۡ أَكۡثَرَ مَن فِي ٱلۡأَرۡضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنۡ هُمۡ إِلَّا يَخۡرُصُونَ ﴿١١٦﴾

۱۱٦- او که ته د ډېری هغو خلکو اطاعت وکړې چي په زمکي کي اوسي نو د الله له لاري به دي تېرباسي، دوی خو يوازي په ګمانونو پسي روان دي او يوازي په خوشو دروغجنو خبرو کي لګيا دي.

(۱۱٦)- دلته د يوې مهمي او اساسي خبري لارښوونه شوې:

په يوې جهل وهلې او شرك ځپلې ټولني کي دا د معيار او ملاك په توګه مه نيسه چي

ځومره خلك د بوې خبرې ملاتړ كوي، دلته به اكثريت داسي وومې چې متابعت ئې تا د حق له لاري منحرف كوي. د دغو خلكو ډېرى داسي دي چې د علم پر ځاى په گمانونو پسي درومي او د بامقصده او جدي خبرو پر ځاى په خوشو دروغجنو خبرو كې لگيا دي، د دوى مذهب، مسلك، د ژوند طريقه، اصول او ضوابط په قياس او تخمين ولاړ دي.

دې ته مو بايد پام وي چې دغې خبرې ته عموميت وركول او په يوې اسلامي ټولنې ئې هم اطلاق كول صحيح نه ده، د مسلمانانو اجماع، سواد اعظم او اكثريت اعتبار لري، البته په ټولو هغو مواردو كې چې صريح نص نه وي او پرېكړه د مسلمانانو خوښې ته پرېښودل شوې وي.

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ مَن يَضِلُّ عَن سَبِيلِهِۦۖ وَهُوَ أَعْلَمُ بِٱلْمُهْتَدِينَ ﴿١١٧﴾

۱۱۷- يقيناً چې ستا رب تر هر چا هغه خلك ښه پېژني چې د ده له لاري تېروتي او دى هدايت شوي هم تر هر چا زيات پېژني.

(۱۱۷)- د ضلالت، هدايت، لار وركو او لار موندونكو په اړه چې الله تعالى په خپل لارښود كتاب كې څه ويلي، د هغه وسيع علم پر بنسټ دي چې الله تعالى ئې د هر چا او هر څه په اړه لري، دا بايد د وروستي معيار او ملاك په توگه ونيسئ، هر قضاوت او پرېكړه مو بايد د دې الهي كتاب له مخې وي نه د خلكو اكثريت او اقليت ته په پام سره.

فَكُلُواْ مِمَّا ذُكِرَ ٱسْمُ ٱللَّهِ عَلَيْهِ إِن كُنتُم بِـَٔايَٰتِهِۦ مُؤْمِنِينَ ﴿١١٨﴾ وَمَا لَكُمْ أَلَّا
تَأْكُلُواْ مِمَّا ذُكِرَ ٱسْمُ ٱللَّهِ عَلَيْهِ وَقَدْ فَصَّلَ لَكُم مَّا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ إِلَّا مَا
ٱضْطُرِرْتُمْ إِلَيْهِۗ وَإِنَّ كَثِيرًا لَّيُضِلُّونَ بِأَهْوَآئِهِم بِغَيْرِ عِلْمٍۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ
بِٱلْمُعْتَدِينَ ﴿١١٩﴾

۱۱۸- نو له هغه څه ئې وخورئ چې (د ذبحې په مهال) د الله نوم پرې ياد شوى، كه په رښتيا د ده په آيتونو ايمان لرئ. ۱۱۹- او په تاسو څه شوي چې د الله نوم پرې ياد شوى؛ هغه نه خورئ! په داسي حال كې چې تاسو ته ئې په تفصيل سره ښودلي چې څه ئې پر تاسو حرام كړي؛ له هغه پرته چې ورته اړ كړى شئ؛ او ډېرى خلك خو د خپلو هوسونو په غوښتنه په ناپوهۍ سره نور بې لاري كوي، بې شكه چې ستا رب دغه تېرى كوونكي تر هر چا ښه پېژني.

(۱۱۸-۱۱۹)- په دې مباركو آيتونو كې د مخكينۍ موضوع لپاره يوه روښانه بېلگه بيان

شوې، هغه دا چې: دا دئ تاسو ګورئ چې ستاسو د ټولني ډېر خلك د الله تعالی له لوري حلال شوي شيان حرام ګڼي، د حلال او حرام خوراك په اړه د دوی د هوی او هوس متابعت مه کوئ، که نه نو بې لارې کوي مو، کوم څاروي چې غوښه ئې الله تعالی درته حلاله کړې هغه وخورئ، خو په دې شرط چې د الله په نامه ذبح شوې وي، په استثناء د هغه حالت چې د حرام شي خوړلو ته اړ شوي وئ، ستا رب تيری کوونکي ښه پېژني، هغه تيری کوونکي هم چې له خپله ځانه حلال او حرام ټاکي او هغه هم چې د ده له قانون او له جائز حد تېری کوي.

وَذَرُواْ ظَٰهِرَ ٱلۡإِثۡمِ وَبَاطِنَهُۥٓۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡسِبُونَ ٱلۡإِثۡمَ سَيُجۡزَوۡنَ بِمَا كَانُواْ
يَقۡتَرِفُونَ ﴿١٢٠﴾ وَلَا تَأۡكُلُواْ مِمَّا لَمۡ يُذۡكَرِ ٱسۡمُ ٱللَّهِ عَلَيۡهِ وَإِنَّهُۥ لَفِسۡقٞۗ وَإِنَّ
ٱلشَّيَٰطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰٓ أَوۡلِيَآئِهِمۡ لِيُجَٰدِلُوكُمۡۖ وَإِنۡ أَطَعۡتُمُوهُمۡ إِنَّكُمۡ
لَمُشۡرِكُونَ ﴿١٢١﴾

۱۲۰- او ښکاره او پټه ګناه پرېږدئ، يقيناً څوك چې ګناه کوي حتماً به د خپلو کړنو سزا ورکړی شي. ۱۲۱- او هغه څه مه خورئ چې د الله نوم نه وي پرې ياد شوی؛ او په رښتيا چې دا فسق دئ؛ او شيطانان خو خپلو دوستانو ته وسوسې (په زړه کې) وراچوي چې له تاسو سره مجادله وکړي او که د دوی اطاعت وکړئ نو تاسو به هم مشرکان شئ.

(۱۲۰-۱۲۱)- د مخکينۍ موضوع په اړه مزيد ويل شوي چې:

- ښکاره او پټه ګناه پرېږدئ، څوك چې په پټه يا ښکاره ګناه وکړي د خپلو کړنو سزا به حتماً ګوري.
- هغه ذبيحه مه خورئ چې د الله نوم نه وي پرې ياد شوی، دا د الله تعالی له حکم سرغړاوی دئ.
- شيطانان خپل دوستان او ملګري وسوسه کوي، غلطي خبرې ورښيي، په دې موخه چې له تاسو سره ئې شخړو او لانجو ته چمتو کړي، د دوی لانجې نه عقلي منشأ لري او نه ديني، فقط شيطاني منشأ لري.
- که ئې خبرې ومنئ نو د دوی په څېر به په شرك کې پرېوځئ.

أَوَ مَن كَانَ مَيۡتٗا فَأَحۡيَيۡنَٰهُ وَجَعَلۡنَا لَهُۥ نُورٗا يَمۡشِي بِهِۦ فِي ٱلنَّاسِ كَمَن

مَّثَلُهُۥ فِى ٱلظُّلُمَٰتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا ۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكَٰفِرِينَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٢٢﴾

١٢٢- آيا هغه چې مړ وو، بيا مو راژوندى كړ او داسې رڼا مو ورپه برخه كړه چې په هغې سره په خلكو كې تګ كولى شي، هغه چا ته به ورته وي چې په داسې تيارو كې وي چې ترې وتونكى نه وي، كافرانو ته همداسې هغه څه ښايسته شوي چې دوى ئې كوي.

---

(١٢٢)- په دې مبارك آيت كې څو ډېرې مهمې او اساسي خبرې په ايجاز او اختصار سره شوې:

- كفر داسې دئ لكه مرګ او ايمان داسې دئ لكه ژوند، كافر د مړي په څېر دئ او مؤمن د ژوندي په څېر.
- څوك چې كافر وو او الله تعالى ايمان ورپه برخه كړ داسې دئ لكه چې مړ وو او الله تعالى راژوندى كړ.
- د الله تعالى لارښود كتاب داسې دئ لكه روڼ څراغ چې په تياره كې انسان ته لار ښيي.
- د دې روڼ څراغ په رڼا كې انسان كولى شي د خلكو په منځ كې د تلو لار ځان ته روښانه كړي، دوست او دښمن، صالح او طالح، مؤمن او منافق، ښه او بد وپېژني، لوړې او ژورې ووينې، خنډونه او ګړنګونه ورته جوت شي.
- بې ايمانه انسان په يوې كفري ټولنې كې هغه چا ته ورته دئ چې په پرېړو تيارو كې پروت وي او د وتلو ټولې لارې پرې بندې وي.
- دا تياره په حقيقت كې د جهل، شرك او كفر هغه تياره ده چې د ده پر زړه، دماغ او سترګو ئې سيورى غوړولى، د ده معيارونه ئې مختل كړي، د ده احساسات او مشاعر ئې ځپلي، خپلې بدې كړنې ئې ورته ښايسته كړې.
- آيا دا دواړه سره برابر دي؟ كوم د عقل او وجدان خاوند به دا دواړه برابر وګڼي؟!

---

وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا فِى كُلِّ قَرْيَةٍ أَكَٰبِرَ مُجْرِمِيهَا لِيَمْكُرُوا۟ فِيهَا ۖ وَمَا يَمْكُرُونَ إِلَّا بِأَنفُسِهِمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿١٢٣﴾

١٢٣- او همداسې مو په هر كلي كې د هغوى ستر ستر مجرمين داسې ګرځولي چې هلته دسيسې جوړوي، خو په دې ئې سر نه خلاصېږي چې په حقيقت كې د ځان خلاف

دسیسې کوي.

(۱۲۳)- په هر کلي، سیمي او هېواد کې داسي ستر ستر مجرمین، دوکه مار مذهبي مشران او دسیسه کار سیاسي زعماء راولاړېږي چي خلك غولوي، ځوك له دین دام جوړ کړي، ځوك له قومي او ژبني تعصب داسي وسیله جوړه کړي چي جاهلان په خپلي غلامۍ کې وساتي، ځوك واکمني د ځان او خپل ټبر موروثي حق وګڼي، ګمان ئې دا وي چي کولی شي ناپوه او جاهل وګړي، د تل لپاره په خپلو دسیسو سره وغولوي، دا ئې په خیال کې نه ګرځي چي دا دسیسې ئې په حقیقت کې د ځان خلاف دي، الله تعالی به ئې حتماً سزا ورکوي.

وَإِذَا جَآءَتۡهُمۡ ءَايَةٞ قَالُواْ لَن نُّؤۡمِنَ حَتَّىٰ نُؤۡتَىٰ مِثۡلَ مَآ أُوتِيَ رُسُلُ ٱللَّهِۘ ٱللَّهُ أَعۡلَمُ حَيۡثُ يَجۡعَلُ رِسَالَتَهُۥۗ سَيُصِيبُ ٱلَّذِينَ أَجۡرَمُواْ صَغَارٌ عِندَ ٱللَّهِ وَعَذَابٞ شَدِيدُۢ بِمَا كَانُواْ يَمۡكُرُونَ ﴿١٢٤﴾

۱۲٤- او کله چي کوم آیت ورته راشي وايي: تر هغه به ایمان رانه وړو چي موږ ته هم هغه څه راکړی شي چي د الله پیغمبرانو ته ورکړی شوي!! الله تر هر چا زیات ښه پوهېږي چي خپل رسالت چېري کښېږدي (چا ته ئې وسپاري)، ژر به دغو مجرمانو ته د خپلو دسیسو په وجه، د الله په نزد کې سپکاوی او سخت عذاب ورپه برخه شي.

(۱۲٤)- دلته د دغو مکارو او دوکه مارو مجرمینو د دسیسو یوه بېلګه وړاندي شوې:

- ځرګنده ښه او واضح دلیل ئې مخي ته کښېښودل شي، خو دوی په ځواب کې وايي: موږ خو پر خپل مخکیني مذهب کلك ولاړ یو، یوازي هغه خبري منو چي له مخکینیو پیغمبرانو موږ ته په میراث پاته دي، ستا خبري نوې دي، زموږ له پلرني مذهب او د مخکینیو پیغمبرانو له ویناوو سره اړخ نه لګوي، یوازي په هغه صورت کې ستا خبري منلی شو چي د مخکینیو پیغمبرانو له ویناوو سره ورته وي!! دا په داسي حال کې چي نه د دوی مذهب له مخکینیو پیغمبرانو په میراث پاته مذهب دئ، نه هغه خبري مني چي مخکینیو پیغمبرانو کولې، که داسي وی نو د پیغمبر علیه السلام مخالفت به ئې نه کولو!

- او یا ئې مقصد دا دئ: د پیغمبر خبري په هغه صورت کې منلی شو چي د وحي حامل فرشته پر موږ هم نازله شي او په دې توګه راته ثابته شي چي واقعاً پر پیغمبر علیه السلام هم له آسمانه فرشته نازله شوې!! ولې یوازي ده ته راځي؟ په کار ده دا فرشته ټولو ته ځان وښيي!! د دوی په ځواب کې ویل شوي: (الله تر هر چا زیات ښه پوهېږي چي خپل رسالت چا ته وسپاري)، د دغو مجرمانو دا وینا هسي یوه دوکه او دسیسه ده، د خلکو د

غولولو لپاره دا خبرې کوي، له حق او حقیقت سره خپل مخالفت په دغې وینا سره توجیه کوي، الله تعالی به ډېر ژر د دغو دسیسو په وجه، سپکاوی او سخت عذاب ورپه برخه کړي.

فَمَن يُرِدِ ٱللَّهُ أَن يَهۡدِيَهُۥ يَشۡرَحۡ صَدۡرَهُۥ لِلۡإِسۡلَٰمِۖ وَمَن يُرِدۡ أَن يُضِلَّهُۥ يَجۡعَلۡ صَدۡرَهُۥ ضَيِّقًا حَرَجٗا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي ٱلسَّمَآءِۚ كَذَٰلِكَ يَجۡعَلُ ٱللَّهُ ٱلرِّجۡسَ عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿١٢٥﴾

۱۲۵- څوک چې الله تعالی ئې لارښوونه وغواړي نو سینه ئې اسلام ته پرانیزي او د چا بې لاریتوب چې وغواړي نو سینه ئې ورتنګه کړي، داسي لکه آسمان ته چې خېژي، همدا راز الله پر هغو ناپاکي تپي چې ایمان نه راوړي.

(۱۲۵)- د هدایت او ضلالت په اړه د الله تعالی سنت دا دئ:

- الله تعالی چې څوک د هدایت وړ ومومي، په هغه کې د لار موندلو او هدایت تلوسه، د حق په لوري انابت، له جهل، شرك، فساد او ظلم کرکه او نفرت وګوري نو سینه ئې اسلام ته پرانیزي.
- څوك چې د هدایت وړتیا ونه لري، د بې لاریتوب له تیارو د وتلو اراده ونه لري، په زړه کې ئې له باطل کرکه او د حقیقت موندلو تلوسه نه وي، نو الله تعالی ئې سینه ورتنګه کړي، داسي لکه آسمان ته چې خېژي، د حق په لوري تګ ورته داسي برېښي لکه آسمان ته ختل.

د دې مبارك آیت دا وروستۍ فقره د قرآن یو ستر علمي اعجاز دئ، اوس او د دې آیت له نزوله څوارلس سوه کاله وروسته او هغه مهال چې انسان له زمکي لړ د آسمان په لوري لوړ ولاړ او فضاء ته وخوت، دا حقیقت ورته معلوم شو چې آسمان ته د تلو په مهال د انسان سینه تنګېږي، دا ځکه چې هر څومره لوړ ځي اوکسیجن کمېږي او د همدې په وجه انسان نفس تنګي احساسوي. که موږ نن دا خبره د کوم باانصاف او باضمیر ساینس پوه په وړاندې یاده کړو چې زموږ په قرآن کې څوارلس پېړۍ مخکې ویل شوي چې آسمان ته د ختلو په مهال د انسان سینه تنګېږي، ځواب به ئې څه وي؟ آیا د دې خبرې په اورېدو سره به حیران نه شي؟ او د دې خبرې کولو ته به اړ نشي چې دا یو ستر علمي حقیقت دئ، د هغه مهال انسان ته په دې حقیقت پوهېدا محال وه، دا د هغه مهال د یوه عادي انسان وینا نشو ګڼلی.

وَهَٰذَا صِرَٰطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيمٗاۗ قَدۡ فَصَّلۡنَا ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَذَّكَّرُونَ ١٢٦ لَهُمۡ دَارُ
ٱلسَّلَٰمِ عِندَ رَبِّهِمۡۖ وَهُوَ وَلِيُّهُم بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٢٧

١٢٦- او دا ستا د رب مستقيمه لار ده، يقيناً چې موږ پند اخيستونکو خلکو ته آيتونه په تفصيل سره بيان کړي. ١٢٧- دوی ته د خپل رب په خوا کې، د هغه څه په سبب چې کول ئې، د سلامتيا ټاټوبی دئ او هغه به ئې مولا وي.

---

(١٢٦-١٢٧)- په دې مبارکو آيتونو کې ويل شوي چې:

- اسلام هغه مستقيمه لار ده چې ستا رب درته غوره کړې.
- هغو خلکو ته چې د پند اخيستو استعداد لري، آيتونه په تفصيل سره بيان شوي.
- دوی ته به د خپلو عملونو په سبب، د خپل رب په خوا کې د سلامتيا ټاټوبی وي.
- الله تعالی به ئې مولا وي.

---

وَيَوۡمَ يَحۡشُرُهُمۡ جَمِيعٗا يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ قَدِ ٱسۡتَكۡثَرۡتُم مِّنَ ٱلۡإِنسِۖ وَقَالَ أَوۡلِيَآؤُهُم
مِّنَ ٱلۡإِنسِ رَبَّنَا ٱسۡتَمۡتَعَ بَعۡضُنَا بِبَعۡضٖ وَبَلَغۡنَآ أَجَلَنَا ٱلَّذِيٓ أَجَّلۡتَ لَنَاۚ قَالَ
ٱلنَّارُ مَثۡوَىٰكُمۡ خَٰلِدِينَ فِيهَآ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۗ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٞ ١٢٨

١٢٨- او هغه ورځ چې ټول به راغونډ کړي، (او ورته وبه وايي:) اې د پېريانو ټوليه! ډېر انسانان مو تر لاسه کړل (له ځان سره مو ملګري کړل)؛ او د دوی انسانان ملګري به وايي: اې زموږ ربه! موږ خو يوه له بل ګټه تر لاسه کړې او همغه نېټه مو راورسېده چې تا راته ټاکلې وه، وبه وايي: اور مو ځځی دئ، په هغه کې تلپاته، مګر دا چې الله (بل څه) وغواړي، يقيناً چې ستا رب پوه حکم کوونکی دئ.

---

(١٢٨)- دلته د قيامت د ورځې يوه زړه لړزوونکې صحنه انځور شوې:

الله تعالی به ټول انسانان او د دوی شيطانان راغونډ کړي، شيطانانو ته به ووايي: ډېر انسانان مو بې لارې او له ځان سره ملګري کړل، د دوی لار ورکي انسانان ملګري به ووايي: اې زموږ ربه! موږ خو يو له بل ګټه تر لاسه کړې، د ملګرتيا موخه او وجه مو همدا وه، تا دا فرصت راکړی وو، تر هغه مو دا کار کړی چې ستا له لوري ټاکلې نېټه راورسېده، خو د الله تعالی په وړاندې به د دوی دا غلط او بې بنسټه استدلال هيڅ وزن او ارزښت نه لري، دا ځواب به ورکړي چې: درومئ، اور مو ځځی دئ، په هغه کې تلپاته، مګر دا چې الله (بل څه) وغواړي، دا ځکه چې ستا رب پوه حکم کوونکی دئ، پوهېږي چې دوی د کومې سزا

او حکم ورړ دي. دې ته مو پام وي چې حکيم او حاکم د عليم او عالم په څېر صيغې دي، په دې آيت کې د حکيم غوره ترجمه ښه حکم کوونکی ده، ځکه خبره په دوزخ کې د دوزخيانو د دائمي پاته کېدو ده، دلته حکيم د حکمت خاوند په معنی ژباړل موزون نه برېښي.

وَكَذَٰلِكَ نُوَلِّي بَعْضَ ٱلظَّٰلِمِينَ بَعْضًۢا بِمَا كَانُواْ يَكْسِبُونَ ﴿١٢٩﴾

۱۲۹- او همداسې ځيني ظالمان د ځينو نورو ملګري کوو، د هغه څه په وجه چې کول ئې.

(۱۲۹)- د دې آيت درې توجيه کېدی شي:

- د قيامت په ورځ به ظالمان د خپلو کړنو په سبب يو په بل پسې په دوزخ کې واچوو.
- په دنيا کې ظالمان پر ظالمانو مسلطوو.
- ظالمان د ظالمانو په څنګ کې د دوی د ملګرو په توګه راغونډوو.

په دغو توجيهاتو کې غوره او دقيقه ئې وروستۍ توجيه ده، دا ځکه چې تر دې د مخه ويل شوي چې: الله تعالی به شيطانانو ته وايي: له انسانانو مو ډېر خپل ملګري کړل، ورپسې د دوی د لار ورکو انسانانو ملګرو په اړه ويل شوي: وَ قَالَ أَوْلِيَاؤُهُم مِّنَ الانسِ؛ او دا ښيي چې دلته نُوَلِّي د ملګري کولو په معنی راغلې.

يَٰمَعْشَرَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ يَقُصُّونَ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتِي وَيُنذِرُونَكُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَاۚ قَالُواْ شَهِدْنَا عَلَىٰٓ أَنفُسِنَاۖ وَغَرَّتْهُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا وَشَهِدُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ أَنَّهُمْ كَانُواْ كَٰفِرِينَ ﴿١٣٠﴾

۱۳۰- اې د پېريانو او انسانانو ټوليه! آيا ستاسو پيغمبران نه وو درغلي، چې زما آيتونه ئې درته بيانول او له دغې ورځې سره له مخامخېدو ئې وېرولئ، وبه وايي: د ځان په خلاف شهادت ورکوو؛ او دنيوي ژوند دوکه کړي ول؛ او پر خپل ځان به د دې شهادت ورکوي چې کافران ول.

(۱۳۰)- پېريانو او د دوی ملګرو انسانانو ته به وويل شي: آيا ستاسو له منځ پيغمبران نه وو درغلي، چې زما آيتونه ئې درته بيانول او له دغې ورځې سره له مخامخېدو ئې وېرولئ، دوی به له دې پرته بل څه نشي ويلی چې: هو؛ نن د ځان په خلاف شهادت ورکوو. دوی ولې له دې بدې پايلې سره مخامخ شوي؟ دا ځکه چې دنيوي ژوند دوکه کړي ول، د دنيا په

لذائذو کې غرق ول، خدای او آخرت ئې هېر کړی وو، خو په هغه ورځ به په خپلو غلطیو اعتراف کوي او د ځان په خلاف به شهادت ورکوي چې کافران ول.

ذَٰلِكَ أَن لَّمْ يَكُن رَّبُّكَ مُهْلِكَ ٱلْقُرَىٰ بِظُلْمٍ وَأَهْلُهَا غَٰفِلُونَ ﴿١٣١﴾

۱۳۱- دا د دې لپاره چې ستا رب په داسې حال کې په ناحقه او ظالمانه توګه کلیوال نه هلاکوي چې غافل وي (پیغمبر نه وي ورلېږل شوی).

(۱۳۱)- الله تعالی په هیڅا ظلم نه کوي، هیڅوك بې موجبه نه هلاکوي، هیڅ قوم ته په داسې حال کې عذاب نه لېږي چې غافل وي، پیغمبر نه وي ورغلی، حق ته بلنه نه وي ورکړی شوې، چا هغوی ته د حق وینا نه وي کړې او له حقائقو بې خبره پاته شوي وي، یوازې له اتمام حجت وروسته پر هغه چا عذاب نازلوي چې د عذاب مستحق وي.

وَلِكُلٍّ دَرَجَٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوا۟ ۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا يَعْمَلُونَ ﴿١٣٢﴾

۱۳۲- او هر چا ته د خپلو کړنو متناسبې درجې دي او ستا رب له هغه څه غافل نه دئ چې دوی ئې کوي.

(۱۳۲)- الله تعالی د هر چا مقام او منزلت د ده د عمل له مخې ټاکي، که څوك د دوزخ په تل کې پرېوځي خپل عمل پرې ایستی، که څوك د جنت لوړ مقام تر لاسه کوي، خپل عمل دې مقام ته رسولی، الله تعالی د هر چا له کړنو خبر دئ، پوهېږي چې د خپل عمل له مخې د کوم مقام وړ دئ.

وَرَبُّكَ ٱلْغَنِىُّ ذُو ٱلرَّحْمَةِ ۚ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَسْتَخْلِفْ مِنۢ بَعْدِكُم مَّا يَشَآءُ
كَمَآ أَنشَأَكُم مِّن ذُرِّيَّةِ قَوْمٍ ءَاخَرِينَ ﴿١٣٣﴾

۱۳۳- او ستا رب بې نیاز د رحمت خاوند دئ، که وغواړي تاسو به له منځه یوسي او له تاسو وروسته به هغه څوك (ستاسو) ځای ناستی کړي چې دی ئې غواړي، همغسې لکه چې تاسو ئې د نورو خلکو له اولاده راپیدا کړئ.

(۱۳۳)- دلته د الله تعالی دوه صفات یاد شوي: غني او د رحمت خاوند، ورپسې ویل شوي: که وغواړي تاسو به له منځه یوسي او له تاسو وروسته به هغه څوك (ستاسو) ځای ناستی کړي چې دی ئې غواړي، د دې دواړو الهي صفاتو تعلق له وروستیو دواړو خبرو سره داسې دئ: د یوه ظالم او مشرك قوم له منځه وړل له خلکو د الله تعالی د بې نیازۍ او استغنا نښه ده؛ او د دوی پر ځای د یوه صالح قوم راوستل د ده د رحمت او پېرزوینې

نښه ده، الله تعالی نه پرېږدي چې نړۍ د مفسدينو په لاس تباه شي، کله چې د دوی طغيان هغه حد ته ورسېږي چې نړۍ ترې تباه کېږي، نو دا مفسدين له منځه وړي او پر ځای ئې داسې خلك راولي چې د خير او صلاح پيغام له ځان سره لري، دا په تاريخ کې تل تکرار شوي، تل د مفسد قوم ټغر ټول شوی او صالح قوم ئې ځای ناستی شوی.

---

إِنَّ مَا تُوعَدُونَ لَآتٍۖ وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ ﴿١٣٤﴾

١٣٤- يقيناً هغه څه حتماً راتلونکی دئ چې تاسو ته ئې وعده درکول کېږي او تاسو (د الله) د عاجزولو توان نه لرئ.

---

(١٣٤)- د الله تعالی دغه وعده حتماً تر سره کېدونکې ده، دا ظالم او مشرك قوم او د دوی اقتدار به له منځه ځي، ځای به ئې صالح او مؤمن ټولي ته خالي کېږي، هيڅوك د الله تعالی دغه قاطع پرېکړه نشي ځنډولی، داسې ځواك نشته چې الله تعالی د خپلو وعدو په سرته رسولو او د خپل وعيد په تر سره کولو کې ناتوانه او عاجز کړي.

---

قُلۡ يَٰقَوۡمِ ٱعۡمَلُواْ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمۡ إِنِّي عَامِلٞۖ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ مَن تَكُونُ لَهُۥ عَٰقِبَةُ ٱلدَّارِۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿١٣٥﴾

١٣٥- ووايه: اې زما قومه! تاسو په خپل حال عمل وکړئ زه هم عمل کوونکی يم (د خپلې طريقې مطابق)، ژر به پوه شئ چې د نېکې پايلې ځای به د چا وي، دا يو حقيقت دئ چې ظالمان نه ژغورل کېږي.

---

(١٣٥)- دې خلکو ته ووايه: تاسو خپل کار وکړئ او زه به خپل کار کوم، وبه گورئ چې وروستۍ بريا به د چا وي او اخروي سعادت به د چا په برخه شي، په دې پوه شئ چې ظالمان له الهي عذاب نه ژغورل کېږي.

---

وَجَعَلُواْ لِلَّهِ مِمَّا ذَرَأَ مِنَ ٱلۡحَرۡثِ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ نَصِيبٗا فَقَالُواْ هَٰذَا لِلَّهِ بِزَعۡمِهِمۡ وَهَٰذَا لِشُرَكَآئِنَاۖ فَمَا كَانَ لِشُرَكَآئِهِمۡ فَلَا يَصِلُ إِلَى ٱللَّهِۖ وَمَا كَانَ لِلَّهِ فَهُوَ يَصِلُ إِلَىٰ شُرَكَآئِهِمۡۗ سَآءَ مَا يَحۡكُمُونَ ﴿١٣٦﴾

١٣٦- او د الله لپاره ئې په هغه کښت او څارويو کې چې ده پيدا کړي، يوه برخه وټاکله او وئې ويل: دا د الله لپاره دي، د دوی د اټکل مطابق او دا ئې زموږ د شريکانو لپاره، نو هغه چې د دوی د مزعومو شريکانو لپاره وي الله ته ترې هيڅ نه

رسېږي، خو هغه چې د الله لپاره وي نو د دوی مزعومو شريکانو ته رسېږي، څومره بد قضاوت کوي!

(۱۳۶)- دلته د مشرکانو د نذرونو په اړه څو اساسي خبري زموږ مخي ته ايښودل شوې:

- دوی به د خپل کښت او څارويو يوه برخه د خدای په نامه نذر کوله او بله برخه د خپلو بتانو او دروغجنو معبودانو په نامه.
- د خدای برخه به دوی د خپل اټکل او زعم مطابق ټاکله، خو د بتانو برخه به د دوی هغو مذهبي مشرانو ټاکله چې د بتانو مجاورين ول او د بتانو په نامه نذرونه به د دوی په کڅوړه کې لوېدل.
- د خدای په برخي کې به ئې کمی زغملی شو خو د بتانو په برخه کې نه، وېره او طمع ئې له بتانو هومره وه چې له الله تعالی ئې نه درلوده.
- د الله په نامه نذرونه به ئې مسکينانو ته ورکول، خو د بتانو اړوند نذرونه به ئې د بت مجاورينو ته سپارل، تاسو پوهېږئ چې د بت پالني بنسټ شخصيت پالنه ده، څوك چې د بت، قبر، زيارت او ځلي عبادت کوي په حقيقت کې د تېرو شخصيتونو عبادت کوي، د بت او قبر مجاور ځان د دغه شخصيت وارث ګڼي، د بت او د قبر کرامات په حقيقت کې دغه مجاور ورته جوړوي، دا مجاور د جاهلانو پير او مرشد شي، د پير کرامات هم د مريد د تبليغاتو زېږنده وي، قبر او پير ته کرامات ثابتول د ناظر او مجاور جيب له شکرانو او نذرانو ډکوي.
- که کله به دوی غوښتل يا به د پير ناظر او د قبر مجاور له دوی مزيد نذرونه غوښتل نو د دوی د خوشحالولو، رضاء تر لاسه کولو او له دې لاري خپلو حاجتونو ته د رسېدو لپاره به ئې د خدای برخه راکمه کړه او دوی ته به ئې وسپارله، خو دا جرأت ئې هيڅکله نشو کولی چې د خپلو دروغجنو معبودانو برخه کمه کړي، ځکه چې د ده آسماني خدای ترې غائب وو خو زمکنی خدای ئې مخي ته ولاړ او مجاور ئې د خپلي برخي غوښتونکی!!
- دا وه د الله تعالی او بتانو تر منځ د دوی د بد او جاهلانه قضاوت يوه بېلګه!!

وَكَذَٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٍ مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ قَتْلَ أَوْلَٰدِهِمْ شُرَكَآؤُهُمْ لِيُرْدُوهُمْ وَلِيَلْبِسُواْ عَلَيْهِمْ دِينَهُمْ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا فَعَلُوهُ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ ﴿١٣٧﴾

۱۳۷- او همداسي ډېرى مشرکينو ته د دوی شرکاءو د خپلو زامنو وژل ښايسته کړل، د دې لپاره چې په هلاکت کې ئې وغورځوي او خپل دين ورته شکمن کړي؛ او که الله غوښتلی نو دوی به دا کار نه وو کړی، نو دوی په خپلو افتراءاتو کې پرېږده.

(۱۳۷)- دلته ويل شوي چي مشركينو ته د دوی شركاءو د اولاد وژنه ښايسته كړې وه، په دې اړه لاندي خبري په پام كي وساتئ:

- د دې وينا مراد يا دا دئ چي شرك دوی دې حد ته رسولي وو چي د خپل اولاد وژنه ورته سم كار معلوم شي او يا دا چي د دوی هغو مذهبي مشرانو، پيرانو او مشائخو چي د شرك حاميان او مبلغين او د قبر او بت مجاورين ول، دي وژني ته چمتو كړي وو.
- دغه شرك او دغو شرك پالو مذهبي مشرانو په دې هلاكت كي غورځول او د حقيقي دين په اړه ئې دوی ته شكوك او شبهات راولاړول.
- د اولاد د وژلو څو وجوهات وو: لوني ئې يا د دې لپاره وژلې چي: ۱- وېرېدل د دوی پر سيمه د دښمن د بريد په حالت كي به ښايي د دښمن په لاس كي پرېوځي او لوی دائمي پېغور به ورته پرېږدي. ۲- دا ورته د عار او پېغور خبره برېښېده چي لور ئې د بل په نكاح كي راشي. ۳- د لور زېږېدا ئې د خپلي مېړاني د ضعف او كمزورۍ نښه ګڼله او په دې سره به ئې د سيالانو په قطار كي د شرم احساس كاوو. له دې علاوه به ئې كله د فقر او لوږي په وجه او كله د فقر له وېري خپل اولاد وژل او حتی د بتانو په نامه به ئې د يوه څاروي په څېر د قربانۍ لپاره وړاندي كول.
- د دوی مذهبي مشرانو به دا فتوی وركوله چي الله تعالی په دې كار راضي كېږي، ځكه د آيت په پای كي ويل شوي چي دوی په خپلو افتراءاتو كي پرېږده.

وَقَالُواْ هَٰذِهِۦٓ أَنۡعَٰمٞ وَحَرۡثٌ حِجۡرٞ لَّا يَطۡعَمُهَآ إِلَّا مَن نَّشَآءُ بِزَعۡمِهِمۡ وَأَنۡعَٰمٌ حُرِّمَتۡ ظُهُورُهَا وَأَنۡعَٰمٞ لَّا يَذۡكُرُونَ ٱسۡمَ ٱللَّهِ عَلَيۡهَا ٱفۡتِرَآءً عَلَيۡهِۚ سَيَجۡزِيهِم بِمَا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ﴿١٣٨﴾ وَقَالُواْ مَا فِي بُطُونِ هَٰذِهِ ٱلۡأَنۡعَٰمِ خَالِصَةٞ لِّذُكُورِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلَىٰٓ أَزۡوَٰجِنَاۖ وَإِن يَكُن مَّيۡتَةٗ فَهُمۡ فِيهِ شُرَكَآءُۚ سَيَجۡزِيهِمۡ وَصۡفَهُمۡۚ إِنَّهُۥ حَكِيمٌ عَلِيمٞ ﴿١٣٩﴾

۱۳۸- او وئې ويل: دا څاروي او كښتونه ممنوع او حرام دي، له هغه څا پرته ئې بل څوك نشي خوړلی چي موږ ئې غواړو، د دوی په اټكل؛ او ځيني څاروي چي ملاګاني ئې ممنوع دي (د بار او سورلۍ كار نشي ترې اخيستل كېدی)؛ او ځيني څاروي چي د الله نوم نه پرې يادوي، پر الله د افتراء په توګه، حتماً به ئې د افتراءاتو په وجه مجازات كړي. ۱۳۹- او وئې ويل: څه چي د دغو څارويو په ګېډو كي دي، زموږ د نارينه وو لپاره مختص دي او پر مېرمنو مو حرام دي او كه مردار شوی وي نو ټول په

کې شریك دي، حتماً به د دې توصیف او درجه بندۍ سزا ورکړي، یقیناً چه هغه ډېر پوه د حکمت خاوند دئ.

(۱۳۸-۱۳۹)- په دغو آیتونو کې د دوی د داسې مذهبي افتراءاتو څو نوري بېلگې بیان شوې:

- ځیني کښتونه او څاروي به ئې د خپلو بتانو په نامه داسې نذر کړل چې د دوی مذهبي مشرانو او پیرانو ته مختص وو او بل چا به ترې استفاده نه شوی کولی.
- ځیني څاروي به ئې داسې ونومول چې د سورلۍ او بار وړلو لپاره به استفاده نه ترې کېده.
- ځیني څاروي به ئې داسې گڼل چې د ذبحې په مهال به د الله تعالی نوم نه پرې یادېدو.
- د ځینو څارویو په گېډو کې بچیان به ئې د نارینه وو لپاره مختص گڼل او ښځې ترې محرومې، خو که به مړ وو دواړه به په کې شریك ول.
- دوی ته به د خپلو افتراءاتو او د حلال او حرام په اړه د دوی د ویناوو سزا ورکړي.
- الله تعالی پوهېږي چې څوك د سزا وړ دئ او څنگه او کله سزا ورکړي، دا ځکه چې هغه ډېر پوه د حکمت خاوند دئ، هر حکم ئې حکیمانه دئ.

قَدْ خَسِرَ ٱلَّذِينَ قَتَلُوٓاْ أَوْلَـٰدَهُمْ سَفَهَۢا بِغَيْرِ عِلْمٍ وَحَرَّمُواْ مَا رَزَقَهُمُ ٱللَّهُ ٱفْتِرَآءً عَلَى ٱللَّهِ ۚ قَدْ ضَلُّواْ وَمَا كَانُواْ مُهْتَدِينَ ﴿١٤٠﴾

۱٤۰- یقیناً هغو کسانو تاوان کړی چې په بې عقلۍ سره ئې خپل اولاد وژلي او هغه څه ئې حرام گڼلي چې الله ورروزي کړي وو، پر الله د افتراء په توگه، بې شکه چې لار ئې ورکه کړې او هدایت شوي نه ول.

(۱٤۰)- هغو کسانو په دنیا او آخرت کې تاوان کړی چې د ډېرې ناپوهۍ په وجه ئې خپل اولاد وژل او الله تعالی چې دوی ته کوم حلال رزق ورکړی وو هغه ئې حرامولو، په دروغو سره به ئې د دې قتل جواز او د حلال رزق تحریمول؛ الله تعالی ته منسوبول، دې ته ئې مذهبي رنگ ورکولو، یقیناً چې دوی سمه لار ورکه کړې وه او له هدایت محروم ول.

وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنشَأَ جَنَّـٰتٍ مَّعْرُوشَـٰتٍ وَغَيْرَ مَعْرُوشَـٰتٍ وَٱلنَّخْلَ وَٱلزَّرْعَ مُخْتَلِفًا أُكُلُهُۥ وَٱلزَّيْتُونَ وَٱلرُّمَّانَ مُتَشَـٰبِهًا وَغَيْرَ مُتَشَـٰبِهٍ ۚ كُلُواْ مِن ثَمَرِهِۦٓ إِذَآ أَثْمَرَ

وَءَاتُواْ حَقَّهُۥ يَوۡمَ حَصَادِهِۦۖ وَلَا تُسۡرِفُوٓاْۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُسۡرِفِينَ ﴿١٤١﴾

۱٤۱- او دی خو همغه ذات دئ چې ډول ډول باغونه ئې پيدا کړل، هسك کړی شوي (په څېرې لکه انگور) او نه هسك کړی شوي (په خپلو سټو ولاړ)، کجورې، کښتونه چې حاصلات ئې په خپلو کې توپير لري، زيتون، انار، (په رنگ او شکل کې) سره ورته او (په خوند کې) سره بېل، کله چې حاصل ورکړي نو له مېوو ئې وخورئ او د رېبلو او شکولو په مهال ئې حق (چې الله پر تاسو لازم کړی) ورکړئ؛ او اسراف مه کوئ، يقيناً چې الله اسراف کوونکي نه خوښوي.

---

(۱٤۱)- دا دانې او مېوې خو الله تعالی ستاسو لپاره پيدا کړې، لکه څنگه چې د دوی په پيدايښت کې هيڅوك له الله تعالی سره شريك نه دئ، همدا راز د دوی په اړه د حل او حرمت پرېکړه هم په الله تعالی پورې مربوط ده، بل ځوك په دې اړه د حکم کولو حق نه لري، نو د خپل رب له لوري درکړی شوې روزي وخورئ او د رېبلو او شکولو په مهال ئې هغه حق ورکړئ چې الله پر تاسو لازم کړی او اسراف مه کوئ، يقيناً چې الله اسراف کوونکي نه خوښوي.

---

وَمِنَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ حَمُولَةٗ وَفَرۡشٗاۚ كُلُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ وَلَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٞ ﴿١٤٢﴾

۱٤۲- او له څارويو باروړونکي او (پر زمکه) هوار (تلونکي)، له هغه څه چې الله درروزي کړي وخورئ او د شيطان په پلونو پسې مه ځئ، يقيناً چې هغه مو څرگند دښمن دئ.

---

(۱٤۲)- دلته د مشرکينو د غلطو انگېرنو د ترديد لپاره ويل شوي چې الله تعالی له څارويو ځيني د سورلۍ او باروړلو لپاره پيدا کړي او ځيني د دې لپاره چې له شيدو او غوښې ئې استفاده وکړئ، له حموله هغه څاروي مراد دي چې د سورلۍ او بار لپاره ترې استفاده کېږي، لکه اوښ او آس؛ او له فرش د مېږو او وزو په څېر څاروي مراد دي، چې هم ئې له غوښې استفاده کېږي او هم ئې له وړيو او پوستکو فرش او نور لوازم جوړېږي.

د شيطان او شيطان صفته مذهبي مشرانو هغه خبرې مه منئ چې د حلال او حرام په اړه د الله تعالی د حکم خلاف فتوی گاني ورکوي، دا ستاسو څرگند دښمنان دي.

---

ثَمَٰنِيَةَ أَزۡوَٰجٖۖ مِّنَ ٱلضَّأۡنِ ٱثۡنَيۡنِ وَمِنَ ٱلۡمَعۡزِ ٱثۡنَيۡنِۗ قُلۡ ءَآلذَّكَرَيۡنِ حَرَّمَ أَمِ

ٱلۡأُنثَيَيۡنِ أَمَّا ٱشۡتَمَلَتۡ عَلَيۡهِ أَرۡحَامُ ٱلۡأُنثَيَيۡنِۖ نَبِّـُٔونِي بِعِلۡمٍ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ
﴿١٤٣﴾ وَمِنَ ٱلۡإِبِلِ ٱثۡنَيۡنِ وَمِنَ ٱلۡبَقَرِ ٱثۡنَيۡنِۗ قُلۡ ءَآلذَّكَرَيۡنِ حَرَّمَ أَمِ ٱلۡأُنثَيَيۡنِ أَمَّا
ٱشۡتَمَلَتۡ عَلَيۡهِ أَرۡحَامُ ٱلۡأُنثَيَيۡنِۖ أَمۡ كُنتُمۡ شُهَدَآءَ إِذۡ وَصَّىٰكُمُ ٱللَّهُ بِهَٰذَاۚ فَمَنۡ
أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗا لِّيُضِلَّ ٱلنَّاسَ بِغَيۡرِ عِلۡمٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي
ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٤٤﴾

١٤٣- اته جوړې، له مېږو دوه؛ او له وزو دوه، ووايه: آيا (له دغو ئې) دواړه نارينه حرام کړي که دواړه ښځينه او يا هغه چي د دغو دواړو ښځينه وو رحم پرې مشتمل او حاوي وي؟ په علم سره خبر راکړئ که رښتيني يئ. ١٤٤- او له اوښانو دوه او له غويانو دوه، ووايه: آيا (له دغو ئې) دواړه نارينه حرام کړي که دواړه ښځينه او يا هغه چي د دغو دواړو ښځينه وو رحم پرې مشتمل او حاوي وي؟ يا دا چي تاسو هغه مهال شاهد وئ چي الله د دې سپارښتنه درته کوله؟ نو تر هغه به ډېر ظالم څوك وي چي پر الله د دروغو افتراء کوي، د دې لپاره چي خلك په بې علمۍ سره بې لارې کړي، يقيناً چي الله دغه ظالم وګړي نه هدايتوي.

---

(١٤٣-١٤٤)- د حلال او حرام په اړه د مشرکينو د غلط اټکل د ترديد لپاره فرمايي:

- له دغو څلورو جوړو څارويو به ولې د دوی نارينه، يا ښځينه يا د دوی بچيان حرام وي؟ د دې حرمت عقلي دليل څه دئ؟ که ئې نر حرام وي نو ښځه او بچی به ئې هم حرام وو، د کوم منطق په حکم د يوې جوړې يو حرام ګڼئ او بل حلال؟!! آيا د دې لپاره کوم نقلي دليل هم لرئ؟ آيا تاسو هغه مهال شاهد وئ چي الله د دې د حرمت سپارښتنه درته کوله؟

- هغه مذهبي مشران چي ځان ته علماء وايي خو په حقيقت کې ناپوه او بې علمه دي، د خلکو له ناپوهۍ غلطه استفاده کوي او د حلال او حرام په اړه فتوی ګاني ورکوي، ستر ظالمان دي، تر هغه به ډېر ظالم څوك وي چي پر الله د دروغو افتراء کوي، د دې لپاره چي خلك دوکه کړي! يقيناً چي دغه ظالمان له الهي هدايت محروم دي.

---

قُل لَّآ أَجِدُ فِي مَآ أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَىٰ طَاعِمٖ يَطۡعَمُهُۥٓ إِلَّآ أَن يَكُونَ مَيۡتَةً
أَوۡ دَمٗا مَّسۡفُوحًا أَوۡ لَحۡمَ خِنزِيرٖ فَإِنَّهُۥ رِجۡسٌ أَوۡ فِسۡقًا أُهِلَّ لِغَيۡرِ ٱللَّهِ بِهِۦۚ

فَمَنِ ٱضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٖ وَلَا عَادٖ فَإِنَّ رَبَّكَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ١٤٥

١٤٥- ووايه: په هغه څه کې چې ما ته ئې وحي شوې له دې پرته بل حرام توکی پر هغه خوړونکي چې خوري ئې نه مومم چې يا مردار شوی وي، يا بهېدونکې وينه، يا د خنزير غوښه چې پليته ده، يا هغه ناجائزه (ذبيحه) چې له الله پرته د بل چا نوم پرې اخيستل شوی وي، خو څوك چې اړ شو، پرته له دې چې بغاوت کوونکی يا تېری کوونکی وي، نو ستا رب مهربان بخښونکی دئ.

---

(١٤٥)- دلته پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چې مشرکينو ته ووايي: په هغو ټولو څارويو کې چې خلك ئې همدا اوس غوښه خوري، هيڅ يو ئې په هغې الهي وحي کې حرام نه مومم چې پر ما نازله شوې، مگر دا چې مردار شوی وي، يا بهېدونکې وينه وي، يا د خنزير غوښه چې پليته ده، يا هغه ناجائزه (ذبيحه) چې له الله پرته د بل چا نوم پرې اخيستل شوی وي. خو که څوك اړ شو په دوه شرطه همدا حرام ورته جائز شوي: لومړی دا چې د ضرورت په اندازه او دومره به خوري چې له مرگ ئې وژغوري او دوهم دا چې د دې کار منشأ به له خپل رب بغاوت نه وي، بلکې مجبوريت به ئې لامل وي.

دا آيت ټول حرام شيان په څلورو کې راخلاصه کوي او د آل عمران د سورې ٩٣ آيت وايي چې: يعقوب عليه السلام ته ټول خوراکي شيان حلال ول، مگر هغه چې ده په خپله ترې ډډه کوله، يو ئې حرام شيان يوازې په څلورو کې حصر کوي او بل ئې ټول خوراکي توکي حلال گڼي؛ دغو آيتونو ته په پام سره له فقهاءو ځيني په دې عقيده دي چې په خوراکي شيانو کې يوازې دغه څلور شيان حرام دي، له دې آخوا د نورو خوراکي شيانو خوړل جائز دي، د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما او عائشې رضي الله عنها مسلك همدا دئ، خو په ځينو احاديثو کې دا مومو چې پيغمبر عليه السلام د ځينو نورو شيانو له خوراك ممانعت کړی يا ئې کرکه ترې ښودلې، لکه د کورني خره غوښه، داړونکي ځناوران او د منگولو لرونکي مرغان، د همدې لپاره اکثر فقهاء له دې سره موافق نه دي چې حرام شيان په همدغو څلورو کې راخلاصه شوي، بلکې نور شيان هم پرې علاوه کوي، امام ابوحنيفه، امام مالك او امام شافعي د کورني خره غوښه حرامه گڼي، خو ځيني نور ئې حرمت موقتي يا د خاصي وجهي له مخې گڼي، احناف ټول درنده ځناوران او ښکاري مرغان او مردار خواره حيوانات حرام گڼي، خو د امام مالك او اوزاعي له نظره ښکاري مرغان حلال دي، د ليث له نظره پشی حلاله ده، د امام شافعي له نظره يوازې هغه درنده ځناوران حرام دي چې په انسان بريد کوي لکه زمری، لېوه او پړانگ، احناف ټول حشرات حرام گڼي خو امام مالك، اوزاعي او ابن ابي ليلی مار حلال بولي، له دغو آراءو معلومېږي چې اصلي او قطعي حرمت دغه څلور شيان احتواء کوي چې قرآن ورته اشاره کړې او هغه چې په صحيح احاديثو کې ترې منع شوې، په مختلفو درجو کې کراهت لري، جدي ممانعت ئې قطعي

حرمت ته نژدې کوي او په کومو شيانو کې چې فقهاءو اختلاف کړی، کراهت ئې مشکوك دئ.

---

وَعَلَى ٱلَّذِينَ هَادُواْ حَرَّمْنَا كُلَّ ذِى ظُفُرٍۖ وَمِنَ ٱلْبَقَرِ وَٱلْغَنَمِ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ شُحُومَهُمَآ إِلَّا مَا حَمَلَتْ ظُهُورُهُمَآ أَوِ ٱلْحَوَايَآ أَوْ مَا ٱخْتَلَطَ بِعَظْمٍۚ ذَٰلِكَ جَزَيْنَٰهُم بِبَغْيِهِمْۖ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ﴿١٤٦﴾

١٤٦- او پر هغو چې يهودان شوي هر نوکمن (حيوان) مو پرې حرام کړی وو او له غويانو او مېږو مو د دوی دواړو وازګه پرې حرامه کړې وه، مګر هغه (وازګه) چې پر ملا يا کلمو ئې نښتې وي او هغه چې له هډوکي سره خلط وي، دا هغه سزا وه چې د دوی د بغاوت په وجه مو ورکړه؛ او موږ رښتيني يو.

---

(١٤٦)- دلته پر يهودانو د دوی د بغاوت په وجه د ځينو حرام شوو شيانو يادونه شوې:

- هغه نوك لرونکي څاروي او مرغان چې نوکان ئې له منځه جلا نه وي، لکه اوښ او هيلۍ.
- د غويو او پسونو وازګه، د ملا او کلمو له وازګو پرته او هغه غوړ چې په هډوکو کې وي.

خو د دې شيانو تحريم دوی ته يوه الهي سزا وه، نه دا چې اصلاً او د الهي دين له مخې حرام وو. دلته دا وضاحت نه دئ شوی چې آيا الله تعالی په تورات کې دا شيان پر دوی حرام کړي وو که د دوی مذهبي مشرانو پرې حرام کړي وو. د قرآن له نورو آيتونو معلومېږي چې په تورات کې دا شيان نه وو حرام شوي، قرآن فرمايي:

كُلُّ ٱلطَّعَامِ كَانَ حِلًّا لِّبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ إِلَّا مَا حَرَّمَ إِسْرَٰٓءِيلُ عَلَىٰ نَفْسِهِۦ مِن قَبْلِ أَن تُنَزَّلَ ٱلتَّوْرَىٰةُۚ قُلْ فَأْتُواْ بِٱلتَّوْرَىٰةِ فَٱتْلُوهَآ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٩٣﴾ آل عمران:٩٣

ټول خوراکي شيان بني اسرائيلو ته حلال وو، مګر هغه چې د تورات له نازلېدو د مخه اسرائيل (يعقوب عليه السلام) په خپله په ځان حرام کړي وو، ورته ووايه: تورات راوړئ او وئې لولئ که رښتيني ياست.

له دې آيت معلومېږي چې په تورات کې دا شيان نه وو حرام کړی شوي، دا هم ترې معلومېږي چې مذهبي انحراف په اصل کې له بدعت پيل کېږي، په دين کې له لاسوهني، نه له څه راکمولو بلکې له څه زياتولو، د حلال له حرامولو، د تقوی په نامه په دين کې له څه زياتولو. پر پيغمبر عليه السلام د بني اسرائيلو د ټګمارو مذهبي مشرانو اعتراض دا نه دئ

چې ولې ئې حلال شیان حرام کړل، بلکې اعتراض ئې دا دئ چې ولې حرام شیان حلالوې؟! دا څنګه د یوه پیغمبر او مذهبي مشر په توګه ومنو چې تقوی ئې زموږ په اندازه نه ده، موږ تر ده زیات د حرامو خیال ساتو، دا دئ ګورئ چې دی ډېر هغه شیان حلال ګڼي چې موږ ئې حرام ګڼو، دا تقوی موږ ته زموږ له جد ابراهیم علیه السلام او زموږ له پلار یعقوب علیه السلام راپاته ده!! الله تعالی د دوی په ځواب کې فرمايي: د الله په دین کې ټول دغه خوراکي شیان حلال وو، حرامول ئې ستاسو کار دئ نه د الله د کتاب کار، یعقوب علیه السلام چې د کوم څه له خوړلو ډډه کوله، دا اجتناب له یوې خوا د ده شخصي کار وو او له بلې خوا د تورات له راتلو د مخه وو. پر دې استناد کول او حلال شیان حرام ګڼل غلط او بې بنسټه استدلال او توجیه ده.

بايبل په دې اړه لیکي: د وچې هغه حیوانات درته حلال دي چې شخوند وهي او نوك ئې یو نه بلکې په منځ کې بېل وي، اوښ، سوی او کوني کبر حرام دي، ځکه شخوند وهي خو نوك ئې په منځ کې بېل نه دئ او خوګ حرام دئ چې که څه هم نوك ئې بېل دئ خو شخوند نه وهي... د اوبو له ژوو هغه درته حلال دي چې پَرې او په پوستکي فلس لري (د ماهي په څېر وي) له دې پرته نور ئې درته حرام دي... له مرغانو به دا نه خورئ: کونګ، باز، شاهین، عقاب، باشه، ټپوس، کاغ، شتر مرغ، دریایي مرغان، لکلك، ماهي خوړونکي مرغان، هدهد، آسمان ځکالی، وزر لرونکې خزندې به نه خوړل کېږي مګر هغه چې ټوپ وهي، یعني ملخ او مختلف ډولونه ئې،... څوك چې د دغو حیواناتو لاش ته لاس وروړي تر ماښامه به نجس ګڼل کېږي...پر زمکه ښویېدونکي حیوانات که پښې ولري که نه، حرام دي.

ګورئ چې بايبل هر څه حرام ګڼي مګر هغه چې نومونه او ځانګړتیاوې ئې په ګوته کوي، خو قرآن هر څه حلال ګڼي مګر هغه چې نوم ئې اخلي او ځانګړتیاوې ئې بیانوي، د بايبل له نظره اصل د اشياءو حرمت دئ مګر هغه څه چې بايبل حلال کړي خو د قرآن له نظره اصل د اشياءو حلال والی دئ مګر هغه څه چې الله تعالی حرام کړي، د اشياءو د حل او حرمت په اړه د دې دواړو دریځونو تر منځ ډېر ژور او بنیادي توپیر شته، بايبل د حرامو شمېر زیات کړی او قرآن د حلالو شمېر، بايبل خپل پلویان له کړاوونو سره مخامخ کړي او بې ځایه بندیزونه پرې لګوي، خو قرآن د انسانانو ستونزه حل کړې، بايبل د حلال او حرام پرېکړه له کوم منطقي او معقول دلیل پرته کوي، خو قرآن هغه څه حرام ګڼي چې انسان ته تاوان رسوي او هغه څه حلال ګڼي چې ګټه ئې تر تاوان زیاته وي.

قرآن د المائدې د سورې په لومړي آیت کې فرمايي:

.... أُحِلَّتْ لَكُم بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ وَأَنتُمْ حُرُمٌ ۗ إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ ①

.... ټول څرېدونکي حیوانات، که دا د کور څاروي وي او که د صحراء څرېدونکي حیوانات،

درته حلال دي، مګر هغه چې الله تعالی له دې حکمه مستثنی کړي.

د آيت دغه برخه څو لارښوونې لري:

د هغو حيواناتو غوښه انسان ته حلاله کړی شوې چې څارويو ته ورته وي، واښه او دانه خوري. په آيت کې د (صيد: ښکار) له ذکر معلومېږي چې په بهيمة الانعام کې ټول هغه حيوانات شامل دي چې څارويو ته ورته وي، يعنې د هغو حيواناتو غوښه هم حلاله ده چې صحرائي دي، په کور کې د څارويو په څېر نه ساتل کېږي، خو څارويو ته ورته وي.

په دغه مبارك آيت کې د هغو صحرائي حيواناتو په اړه وضاحت نه دئ شوی چې څارويو ته ورته نه وي او د واښو پر ځای غوښه خوري. د همدې لپاره ځينو فقهاءو دا حيوانات ترې مستثنی کړي، دوی په هغه روايت هم استناد کوي چې وايي پيغمبر عليه السلام د هر داړي لرونکي ځناور او د هر منګولي لرونکي ښکاري مرغه له غوښې ممانعت کړی:

عن ابن عباس قال نَهَی رسولُ الله صلی الله عليه و سلم عَنْ أَكْلِ كُلِّ ذی نابٍ مِنَ السِّباعِ، وعن كُلِّ ذی مِخْلَبٍ من الطَّيرِ. رواه ابوداؤد

له ابن عباس روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم د هر هغه ځناور له خوړلو نهې وکړه چې داړي لري او له هر هغه ښکاري مرغه چې منګولي لري.

---

فَإِن كَذَّبُوكَ فَقُل رَّبُّكُمْ ذُو رَحْمَةٍ وَٰسِعَةٍ وَلَا يُرَدُّ بَأْسُهُۥ عَنِ ٱلْقَوْمِ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿١٤٧﴾

۱۴۷- نو که ئې تکذيب کړې؛ ووايه: ستاسو رب د پراخ رحمت خاوند دئ، په داسې حال کې چې عذاب ئې له مجرمانو نشي رد کېدی.

---

(۱۴۷)- دلته پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چې تکذيب کوونکو ته دوه خبرې وکړه:

- ستاسو رب د پراخ رحمت خاوند دئ، د خپل رحمت په وجه ئې تاسو ته سره له تکذيب او مخالفت فرصت او مهلت درکړی، د توبې دروازه ئې ستاسو پر مخ پرانيستې پرېښې، توبه وکړئ او له مخالفت لاس واخلئ.
- له مجرمانو الهي عذاب هيڅوك نه شي ردولی، نه په خپل ځواك سره او نه په خپل تدبير سره، که په خپل جرم او د الله له پيغمبر سره په خپل مخالفت ټينګار وکړئ، هرومرو به په الهي عذاب اخته کېږئ.

---

سَيَقُولُ ٱلَّذِينَ أَشْرَكُواْ لَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَآ أَشْرَكْنَا وَلَآ ءَابَآؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِن

شَيۡءٖۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ حَتَّىٰ ذَاقُواْ بَأۡسَنَاۗ قُلۡ هَلۡ عِندَكُم
مِّنۡ عِلۡمٖ فَتُخۡرِجُوهُ لَنَآۖ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا تَخۡرُصُونَ ﴿١٤٨﴾ قُلۡ
فَلِلَّهِ ٱلۡحُجَّةُ ٱلۡبَٰلِغَةُۖ فَلَوۡ شَآءَ لَهَدَىٰكُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿١٤٩﴾

۱٤۸- حتماً به هغه خلك چي شرك ئې كړى وواېي: كه الله غوښتلى نه به موږ شرك كړى وو او نه زموږ پلرونو او نه به مو (له خپله ځانه) څه شيء حرام كړى وو، همداسي تر دوى مخكينيو هم د دروغو نسبت كړى وو، تر هغه چي زموږ عذاب ئې وڅكلو، وواېه: آيا كوم علمي سند درسره شته چي موږ ته ئې راوړاندي كړئ، تاسو خو يوازي په گمانونو پسي درومئ او يوازي په خوشو دروغجنو خبرو بوخت يئ.
۱٤۹- وواېه: بشپړ دليل خو د الله دئ، نو كه ئې غوښتي وى ټول به ئې هدايت كړي وئ.

---

(۱٤۸-۱٤۹)- په مخكينيو آيتونو كې مشركانو ته ويل شوي وو چي تاسو د خپلي غلطي عقيدې او د حلال او حرام په اړه خپل دليل وړاندي كړئ، دلته د دغو مشركانو هغه دليل ښودل شوى چي دوى ئې تل توحيد ته د بلونكو په ځواب كې واېي:

- كه خداى غوښتلى نو نه به موږ او نه زموږ مخكينيو پلرونو شرك كړى وو او نه به مو (له خپله ځانه) څه حرام كړي وو، كه خداى زموږ له مذهب سره موافق نه وى، حتماً به ئې ډېر د مخه زموږ لارښوونه كړې وه، زموږ مخنيوى به ئې كړى وو، د الله تعالى له لوري نه مخنيوى ښيي چي زموږ پر مذهب راضي دئ.

- د دوى په ځواب كې درې خبري شوې: ۱- همداسي تر دوى مخكينيو هم د دروغو نسبت كړى وو، تر هغه چي زموږ عذاب ئې وڅكلو، ۲- آيا كوم علمي سند درسره شته چي موږ ته ئې راوښيئ، تاسو خو يوازي په گمانونو پسي درومئ او يوازي په خوشو دروغجنو خبرو بوخت يئ. ۳- بشپړ دليل خو د الله دئ، هغه دليل وړاندي كړئ چي په الهي كتابونو كې راغلى، الله تعالى خو له دغي لاري خلكو ته حلال او حرام ښيي، نه دا چي خلك په زور سره له غلطو لارو راوگرځوي، كه الله تعالى غوښتى چي د خلكو د هدايت په اړه له خپل قاهره قدرت كار واخلي، ټول به ئې هدايت كړي وئ.

---

قُلۡ هَلُمَّ شُهَدَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ يَشۡهَدُونَ أَنَّ ٱللَّهَ حَرَّمَ هَٰذَاۖ فَإِن شَهِدُواْ فَلَا
تَشۡهَدۡ مَعَهُمۡۚ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ

وَهُم بِرَبِّهِمۡ يَعۡدِلُونَ ﴿١٥٠﴾

١٥٠- ووايه: هغه شاهدان مو راوړاندي کړئ چي شهادت ورکړي الله دا حرام کړي، که ئې شهادت ورکړ، له دوی سره په دې شهادت کې مه ملګری کېږه او مه د هغو خلکو د هوی او هوس متابعت کوه چي زما آيتونه ئې تکذيب کړي او هغه چي په آخرت ايمان نه راوړي او له خپل رب سره (نور څه) برابروي.

(١٥٠)- همدا راز دوی ته ووايه: که داسي کوم شاهد لرئ چي په دې خبري شهادت ورکړي چي الله تعالی دغه شيان حرام کړي، راوړاندي ئې کړئ! که احياناً داسي دروغجن شاهد راپيدا شو چي دا دروغجنه ادعاء وکړي، تاسو په دې شهادت کې مه ورسره ملګری کېږئ، تاسو د هغو خلکو د هوی او هوس متابعت مه کوئ چي الهي آيتونه ئې تکذيب کړي او هغه چي په آخرت ايمان نه راوړي او له خپل رب سره (نور څه) برابروي.

قُلۡ تَعَالَوۡاْ أَتۡلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمۡ عَلَيۡكُمۡۖ أَلَّا تُشۡرِكُواْ بِهِۦ شَيۡـٔٗاۖ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ
إِحۡسَٰنٗاۖ وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَوۡلَٰدَكُم مِّنۡ إِمۡلَٰقٖ نَّحۡنُ نَرۡزُقُكُمۡ وَإِيَّاهُمۡۖ وَلَا تَقۡرَبُواْ
ٱلۡفَوَٰحِشَ مَا ظَهَرَ مِنۡهَا وَمَا بَطَنَۖ وَلَا تَقۡتُلُواْ ٱلنَّفۡسَ ٱلَّتِي حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا
بِٱلۡحَقِّۚ ذَٰلِكُمۡ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ﴿١٥١﴾ وَلَا تَقۡرَبُواْ مَالَ ٱلۡيَتِيمِ
إِلَّا بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ حَتَّىٰ يَبۡلُغَ أَشُدَّهُۥۚ وَأَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ وَٱلۡمِيزَانَ بِٱلۡقِسۡطِۖ لَا
نُكَلِّفُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَاۖ وَإِذَا قُلۡتُمۡ فَٱعۡدِلُواْ وَلَوۡ كَانَ ذَا قُرۡبَىٰۖ وَبِعَهۡدِ ٱللَّهِ
أَوۡفُواْۚ ذَٰلِكُمۡ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ﴿١٥٢﴾

١٥١- ووايه: راشئ چي (درته) ولولم چي رب مو څه پر تاسو حرام کړي، هغه دا چي هيڅ څه ورسره مه شريکوئ او له مور پلار سره ښېګڼه، خپل اولاد د لوږې په وجه مه وژنئ، موږ تاسو ته هم روزي درکوو او دوی ته هم، د فحش کارونو ته مه نژدې کېږئ، که ئې څرګند وي او که ئې پټ؛ او هغه څوك په ناحقه مه وژنئ چي الله (ئې وژل) حرام کړي، دا هغه څه دي چي حکم ئې درته کړی، ښايي تعقل وکړئ. ١٥٢- او د يتيم مال ته مه نژدې کېږئ، مګر په هغه توګه چي تر ټولو غوره وي، تر هغه چي تکړه توب ته ورسېږي، پيمانه او تله په انصاف سره بشپړه کوئ، هيڅوك تر خپل وس په زيات څه نه ګمارو، کله چي خبري کوئ نو عدالت کوئ، که څه هم خپلوان

وي؛ او د الله په ژمنو وفا وکړئ، دا هغه څه دي چې تاسو ته ئې سپارښتنه کړې، ښايي پند واخلئ.

---

(١٥١-١٥٢)- همدا راز دوی ته ووايه: راشئ هغه څه درته بيان کړم چې رب مو پر تاسو لازم کړي، هغه دا چې:

- هيڅ څه ورسره مه شريکوئ.
- له مور پلار سره ښېگڼه کوئ.
- خپل اولاد د لوږې په وجه مه وژنئ، موږ تاسو ته هم روزي درکوو او دوی ته هم.
- د فحش کارونو ته مه نژدې کېږئ، که ئې څرگند وي او که ئې پټ، خوا ته ئې مه ورځئ.
- هغه څوك په ناحقه مه وژنئ چې الله (ئې وژل) حرام کړي.
- د يتيم مال ته مه نژدې کېږئ، مگر په هغه توگه چې تر ټولو غوره وي، تر هغه چې تکړه توب ته ورسېږي.
- پيمانه او تله په انصاف سره بشپړه کوئ، هيڅوك تر خپل وس په زيات څه نه گمارو.
- کله چې خبري کوئ نو عدالت کوئ، که څه هم خپلوان وي.
- او د الله په ژمنو وفا وکړئ. له دې هغه ژمني هم مراد دي چې انسان ئې له ايمان راوړو وروسته له خپل رب سره کوي، هغه هم چې له ستونزو سره د مخامخېدو په مهال ئې له الله تعالی سره کوي، هغه هم چې د الله تعالی په نامه ئې له بل چا سره کوي.
- دا هغه څه دي چې الله تعالی ئې حکم درته کړی، ښايي تعقل وکړئ او پند واخلئ.
  دلته څو خبري په پام کې ولرئ:
- جاهلو مشرکينو حلال او حرام په وړو وړو خبرو کې راخلاصه کړي او هغه دا چې دا وخوره او دا مه خوره، په دې اړه ئې هم ډېر څه له ځانه حرام کړي، حال دا چې د الله تعالی په دين کې اساسي خبري هغه دي چې په دې آيت کې ښودل شوې.
- مسلمانانو ته ويل شوي چې د فحش کارونو او د يتيم مال ته مه ورنژدې کېږئ، بايد د حلال او جائز کارونو تر وروستۍ پولې پوري ولاړ نشئ، داسي چې که يو گام بل واخلئ نو د فحش او گناه په ډنډ کې پرېوځئ، هغه حد ته تر رسېدو د مخه راوگرځئ، د گناه تر پولې مخکې مه درومئ، له دې پولې ځان لري وساتئ، دا ځکه چې د نژدې کېدو په صورت کې په گناه کې د پرېوتو احتمال زياتېږي.
- د وزن او پيمانې په ارتباط دا خبره کول چې الله تعالی هيڅوك تر خپل وس په زيات څه نه گماري، د قرآن يو بل ستر علمي اعجاز دئ او ښيي چې د قرآن هره وينا د احکامو

او لارښوونو په اړه ځومره دقيقه ده، نن او وروسته له هغه چې انسان د وزن او پيمانې لپاره تر دې هم حساس وسائل جوړ کړل چې د ګرام او ملي متر تر زرمې برخې هم واړه شيان تللی او پيمانه کولی شي او ورته معلومه شوې چې په مکمله او بشپړه توګه تلل او پيمانه کول انسان ته محال او ناممکن دي، د قرآن د دغې وينا په اهميت پوهېدی شو، دلته قرآن همغه خبره کړې چې انسان اوس او ځوارلس سوه کاله وروسته پرې پوه شوی.

پيغمبر عليه السلام د هغو سترو سترو ګناهونو په اړه چې د موبقات په نامه ئې يادوي داسي فرمايي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «اجْتَنِبُوا السَّبْعَ الْمُوبِقَاتِ» قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا هِيَ؟ قَالَ: «الشِّرْكُ بِاللَّهِ، وَالشُّحُّ، وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ، وَأَكْلُ الرِّبَا، وَأَكْلُ مَالِ الْيَتِيمِ، وَالتَّوَلِّي يَوْمَ الزَّحْفِ، وَقَذْفُ الْمُحْصَنَاتِ الْغَافِلَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ» رواه النسائی

له ابو هريره روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: له اوو تباه کوونکو ډډه وکړئ، وويل شو: يا رسول الله! دا کوم کوم دي: وئې فرمايل: له الله سره شرك، بخل او حرص، د هغه نفس وژل چې الله ئې وژل حرام کړي مګر په حقه، سود خوړل، د يتيم مال خوړل، د جګړې په ورځ شا اړول (تښتېدل) او د مؤمنو، عفيفو او له ګناه د غافلو ښځو تورنول.

ګورئ چې د اسلام له نظره هغه ستر ستر ګناهونه کوم دي چې د الله تعالی د غضب باعث او د هلاکت سبب ګڼل شوي؟!! خو بايېل د دغو ګناهونو پر ځای د سر وېښتان خرېيل او زوی نه سنتول ستر ستر ګناهونه او د الله تعالی د غضب او غصې باعث ګڼي!!

په قرآن کې درې ځلي له توحيد وروسته، له والدينو سره د احسان او نېك سلوك سپارښتنه شوې، له دې معلومېږي چې د اسلام له نظره د مور او پلار حق ځومره ستر او له دوی سره ښېګڼه ځومره اهميت لري!

---

وَأَنَّ هَٰذَا صِرَٰطِي مُسْتَقِيمًا فَٱتَّبِعُوهُ ۖ وَلَا تَتَّبِعُوا۟ ٱلسُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِۦ ۚ ذَٰلِكُمْ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٥٣﴾

١٥٣- او همدا زما سيده لار ده، نو متابعت ئې وکړئ او په نورو لارو مه سر کېږئ که نه نو د ده له لاري به مو سره بېل کړي، دا هغه څه دي چې تاسو ته ئې سپارښتنه کړې، ښايي ځان ساتنه وکړئ.

---

(١٥٣)- دلته مؤمنانو ته څو توصيې شوې:

- د حلال او حرام په اړه چې مخکې څه ویل شوي، همدا د الله تعالی مستقیمه لار ده، د ژوند لپاره دغه تګلاره غوره کړئ.
- که له دې لارې پرته په هرې بلې لارې ولاړ شئ، پایله به ئې دا وي چې تاسو په خپلو کې سره بېل کړي، مستقیمه لار یوه ده، چې په دې لارې تلونکې سره متحد کوي او د حرکت لورې ئې یو کوي، که له دې مستقیمې الهي لارې پرته په نورو لارو سر شوئ نو د ده له لارې به مو بې لارې او په خپلو کې به مو سره بېل کړي. عجیبه دا ده چې ساینس هم وایي د دوو نقطو تر منځ مستقیم خط یوازې یو دئ او غیر مستقیمې لیکې او خطونه ډېر او بې انتهاء!!

---

ثُمَّ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ تَمَامًا عَلَى ٱلَّذِىٓ أَحْسَنَ وَتَفْصِيلًا لِّكُلِّ شَىْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً لَّعَلَّهُم بِلِقَآءِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُونَ ﴿١٥٤﴾

۱۵٤- بیا مو موسی ته هغه کتاب ورکړ چې د غوره (ویناوو او احکامو) له پلوه بشپړ او د هر څه لپاره تفصیل وو، (د خلکو) لارښود او (د دوی لپاره د) رحمت (وسیله)، د دې لپاره چې له خپل رب سره په مخامخېدو ایمان راوړي.

---

(۱۵٤)- الله تعالی موسی علیه السلام ته هغه تورات ورکړ چې د غوره وېناوو او احکامو له پلوه بشپړ او د هر څه لپاره تفصیل وو، د خلکو لارښود او د دوی لپاره د رحمت وسیله، د دې کتاب یوه اساسي موضوع دا وه چې خلك له خپل رب سره په مخامخېدو ایمان راوړي، له الله تعالی سره په ملاقات د ایمان معنی او تقاضا دا ده چې انسان د داسې ذمه وال او بامسئولیته بنده په توګه ژوند وکړي چې د خپلو کړنو په مکافات او مجازات باور لري، له ګناه او ظلم په دې خاطر ځان ساتي چې له خپل حسیب رب او د ګناه او ظلم له بدو پایلو وېرېږي، نېك کار د دې لپاره کوي چې پوهېږي بدله ئې په دنیا او آخرت کې تر لاسه کوي.

---

وَهَٰذَا كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ مُبَارَكٌ فَٱتَّبِعُوهُ وَٱتَّقُوا۟ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿١٥٥﴾

۱۵۵- او دا مبارك کتاب هم موږ نازل کړی، نو متابعت ئې وکړئ او ځان ساتنه وکړئ چې پر تاسو رحم وکړی شي.

---

(۱۵۵)- دا مبارك قرآن هم د الله تعالی له لورې نازل شوی، په دې موخه چې تاسو د دې کتاب د لارښوونو متابعت وکړئ او له ګناهونو ځان وساتئ، دې لپاره چې د الله تعالی د رحمت او پېرزوینې وړ شئ.

أَن تَقُولُوٓاْ إِنَّمَآ أُنزِلَ ٱلۡكِتَٰبُ عَلَىٰ طَآئِفَتَيۡنِ مِن قَبۡلِنَا وَإِن كُنَّا عَن دِرَاسَتِهِمۡ
لَغَٰفِلِينَ ﴿١٥٦﴾ أَوۡ تَقُولُواْ لَوۡ أَنَّآ أُنزِلَ عَلَيۡنَا ٱلۡكِتَٰبُ لَكُنَّآ أَهۡدَىٰ مِنۡهُمۡۚ فَقَدۡ
جَآءَكُم بَيِّنَةٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٞۚ فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّن كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ
وَصَدَفَ عَنۡهَاۗ سَنَجۡزِي ٱلَّذِينَ يَصۡدِفُونَ عَنۡ ءَايَٰتِنَا سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِ بِمَا كَانُواْ
يَصۡدِفُونَ ﴿١٥٧﴾

١٥٦- د دې لپاره چې ونه وایئ: کتاب خو یوازې تر موږ مخکې پر دوو ډلو نازل شوی او موږ د دوی له لوست بې خبر وو. ١٥٧- یا دا چې ووایئ: که پر موږ دا کتاب نازل شوی وی نو حتماً به تر دوی زیات په سمه لار برابر وو، نو یقیناً چې د خپل رب له لوري څرګنده نښه، لارښوونه او (الهي) پېرزوینه درته راغله، نو تر هغه چا به ستر ظالم څوك وي چې د الله آیتونه تکذیبوي او ترې ډډه کوي، حتماً به هغو ته چې زما له آیتونو ډډه کوي د همدې مخ اړولو په وجه د بد عذاب سزا ورکړو.

---

(١٥٦-١٥٧)- په دې مبارکو آیتونو کې قریشو ته خطاب متوجه دئ او ورته ویل شوي: پر تاسو دا کتاب د دې لپاره نازل شوی چې ونه وایئ:

- کتابونه خو یوازې پر دوو مخکینیو ډلو نازل شوي او موږ نه پوهېدو چې دوی په دې کتاب کې څه لوستل، دا ځکه چې موږ نه د کتاب په ژبه پوهېدو او نه د دې کتاب د حاملانو په ژبه.
- که پر موږ دا کتاب نازل شوی وی نو حتماً به تر دوی زیات په سمه لار برابر وو.
- نو ځکه الله تعالی دا قرآن ستاسو په ژبه راولېږو، د دې کتاب په راتلو سره د الله تعالی له لوري څرګنده نښه، لارښوونه او (الهي) پېرزوینه درته راغله، څوك چې دا کتاب نه مني، د دې کتاب د لارښوونو او دلائلو په وړاندې د تسلیمېدو پر ځای مخالفت ته ملا تړي، ستر ظالم دئ، الله تعالی به حتماً هغو ته د بد عذاب سزا ورکوي چې له دې آیتونو ډډه کوي او مخ ترې اړوي.

---

هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن تَأۡتِيَهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَوۡ يَأۡتِيَ رَبُّكَ أَوۡ يَأۡتِيَ بَعۡضُ ءَايَٰتِ رَبِّكَۗ
يَوۡمَ يَأۡتِي بَعۡضُ ءَايَٰتِ رَبِّكَ لَا يَنفَعُ نَفۡسًا إِيمَٰنُهَا لَمۡ تَكُنۡ ءَامَنَتۡ مِن قَبۡلُ
أَوۡ كَسَبَتۡ فِيٓ إِيمَٰنِهَا خَيۡرٗاۗ قُلِ ٱنتَظِرُوٓاْ إِنَّا مُنتَظِرُونَ ﴿١٥٨﴾

۱۵۸- آیا یوازې د دې انتظار کوي چې یا فرشتې ورته راشي، یا ستا رب راشي یا ستا د رب ځيني نښې راشي (څرگندې شي)؟، کله چې ستا د رب ځيني نښې راشي نو هغه چا ته به ئې ایمان هیڅ گټه ونه رسوي چې تر دې د مخه ئې ایمان نه وو راوړی، یا ئې په خپل ایمان کې کومه ښېگڼه نه وي تر لاسه کړې، ووایه: انتظار وکړئ چې موږ هم منتظر یو.

---

(۱۵۸)- د دې آیت معنی دا ده چې دوی ته ټولې نښې راغلې، ټول ضروري دلائل ورته ویل شوي، چې نه په دې څرگندو نښو قانع شول او نه په دغو قانع کوونکو دلائلو، ښايي دې ته منتظر وي چې فرشتې ورته راشي، یا ستا رب ورته راشي، یا ستا د رب ځيني نښې راڅرگندې شي، خو دوی باید په دې پوه شي چې نه فرشتې ورته راځي او نه ستا رب، یوازې د داسې نښو د راتلو امکان شته چې که راڅرگندې شي نو بیا به هغه چا ته د ده ایمان راوړل هیڅ گټه ونه رسوي چې تر دې د مخه ئې ایمان نه وو راوړی، یا ئې په خپل ایمان کې کومه ښېگڼه نه وه تر لاسه کړې. دوی ته ووایه: انتظار وکړئ چې موږ هم منتظر یو.

د قرآن دا وینا د بایبل هغه خبره ردوي چې د الله تعالی په اړه ئې په وار وار ویلي چې د وریځو په لوخړو کې د بني اسرائیلو خوا ته راغلی، فرشتې ورته راغلې او ځان ئې ورښودلی، قرآن د بایبل د دغو غلطو ویناوو د تردید لپاره فرمايي چې دا داسې خوشې انتظار دئ چې هیڅکله به تر سره نشي.

بایبل وايي چې خدای د اور او وریځو له منځه ځان وښود او قرآن په حیرت او تعجب سره پوښتي: آیا دوی د دې انتظار لري چې خدای د وریځو په لوخړو کې دوی ته راشي او فرشتې هم او کار پای ته ورسېږي؟!!

هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن يَأۡتِيَهُمُ ٱللَّهُ فِي ظُلَلٖ مِّنَ ٱلۡغَمَامِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ. البقرة:۲۱۰

بایبل تر دې سرلیك لاندې (بني اسرائیل په سینا کې) لیکي:... خدای موسی ته وویل: زه په پړېړو وریځو کې تا ته راځم...تر هغه چې له تا سره خبرې کوم قوم به زما غږ اوري او له دې وروسته به ستا په خبرو باور کوي... لاندې ولاړ شه او بني اسرائیل د ملاقات لپاره چمتو کړه... ورته ووایه چې خپلې جامې ووینځي، ځکه چې زه غواړم د دوی د سترگو په وړاندې د سینا په غره راکوز شم... هلته څه حدود وټاکه چې څوك ترې تېر نه شي او بر ولاړ نه شي...څوك چې له دې حدودو تېر شو وبه وژل شي... هغه باید په غشو یا ډبرو ووژل شي... کله چې په شپېلۍ کې پو شو نو د غره لمنې ته نژدې شئ... د دریېمي ورځې سهار د لمر ختو په مهال د تالندې او برېښنا درووند غږ تر

غوږ شو او پرېږه وربځ پر غره خوره شوه او بیا د شپېلۍ په څېر غږ واورېدی شو، ټول قوم له وېرې ولړزېدو.. ټول غر له لوخړو ډك وو... ځکه خدای د اور په لمبو کې هلته کوز شوی وو... نو په دغه وخت کې موسی له خدای سره خبرې وکړې او خدای هم د رعد غږ ته ورته غږ سره ځواب ورکړ... بیا موسی لاندې ولاړ او څه چې خدای ورته ویلي وو خلکو ته ئې وویل!!! دلته څو ځله لیکي چې خدای موسی ته وویل: بني اسرائیلو ته ووایه چې له دې حدودو به هیڅوك بر نه تېرېږي او خدای ته د ورنژدې کېدو هڅه به نه کوي، که نه نو وژل کېږي، له ډېر تأکید او تکرار داسې معلومېږي چې دا ټوله خبره د بایبل د لیکونکې له خوا جوړه شوې ډرامه ده!!

د بایبل له لیکوال پوښتنه کوو: تا په لسهاوو ځله لیکلي چې خدای دې او هغه پیغمبر او نبي ته او حتی عادي انسانانو ته ځان ښودلی، خو نه په داسې هیبتناك کیفیت او هیئت سره او په وربځو او لوخړو کې، دا ځل څه شوي چې د وربځو په لوخړو کې راځي او غږ ئې د تالندې په څېر دئ، غر لړزېږي او په بني اسرائیلو وېره خوره ده؟!! ستا خپله هغه خبره په یاد ده که نه چې لیکلي دي وو: خدای د انسان په شکل کې د یعقوب خوا ته راغی او له هغه سره ئې ټوله شپه غېږې نیولې خو په راپرځولو ئې بریالی نه شو؟!! عادي راغلی وو، نه په وربځو کې او نه په لوخړو کې او غږ ئې هم داسې وو چې یعقوب علیه السلام د انسان گمان پرې وکړ، ابراهیم علیه السلام ته هم د دریو انسانانو په بڼه کې راغی، هغه د مسافرو گمان پرې وکړ او وریته غوښه ئې ورته راوړه، دا ځل ولې لیکې چې هغه د غره پر سر کوز شو، ټول غر په دود او لوخړو پټ شوی وو او غږ ئې تالندې ته ورته وو!!! اسرائیلیان څنگه پوه شول چې دا د خدای غږ دئ که د تالندې؟ انسان خو په هغه کلام پوهېږي چې د انسان کلام ته ورته وي، له هغه غږ چې تالندې ته ورته وي هیڅ مطلب نه شي اخیستی، موسی علیه السلام له هغه غږ څنگه د الله تعالی په مطلب پوه شو؟!! قرآن د بایبل دا ادعاء ردوي چې الله تعالی په وربځو کې او د دود په لوخړو کې نازل شوی، دا د اسرائیلیانو وهم او بې بنسټه انتظار گڼي چې خدای او فرښتې دې په وربځو او لوخړو کې نازل شي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ فَرَّقُواْ دِينَهُمْ وَكَانُواْ شِيَعًا لَّسْتَ مِنْهُمْ فِي شَيْءٍۚ إِنَّمَآ أَمْرُهُمْ إِلَى ٱللَّهِ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُواْ يَفْعَلُونَ ﴿١٥٩﴾

۱۵۹- یقیناً چا چې خپل دین ټوټې ټوټې کړ او ډلې ډلې شول، ته په هیڅ څه کې له دوی نه یې، بې شکه چې د دوی کار الله ته (سپارل شوی) دئ، بیا به ئې په هغه څه خبر کړي چې دوی کولو.

(۱۵۹)- پیغمبر علیه السلام او د ده له لارې مؤمنانو ته لارښوونه کېږي چې د هغو خلکو

په څېر مه کېږئ چې په دين کې ئې اختلاف وکړ او په ډلو ډلو ووېشل شول، دا د جاهلانو کار دئ چې يا دين وېشي، په ځينو برخو ئې عمل کوي او ځيني ئې شا ته غورځوي، يا له دين د اختلاف وسيله جوړوي، د دې پر ځای چې د دين په اساسي خبرو ترکيز وکړي، همدا د ځان تګلاره کړي، همدې ته خلك راوبلي، هغه کسان خپل ديني ورونه وګڼي چې دغه اساسات او اصول مني، برعکس وړو وړو فرعي مسئلې به راولاړې کړي، له يوې خوا به له خپل ځانه د حرامو فهرست اوږد کړي او له بلې خوا به د مذهبي وجائبو په فهرست کې ډېر څه اضافه کړي، بيا به ئې له هر چا سره مناقشه او د هر چا د ديانت او ايمان په اړه قضاوت دغو فهرستونو ته په پام سره وي، يوه ته په لمانځه کې خپلې پښې لرې يا نژدې ايښودل، بل ته د قبلې لورى يوه درجه ښي يا کيڼ لاس ته غوره کول، بل ته د پرتوګ پايڅې له بېډيو څومره بر ساتل او دې ته ورته مسائل د کفر او ايمان لپاره ملاك او معيار شي، د همدې له مخې يوه ته د مخلص او متقي په سترګه ګوري او بل ته د ملحد په سترګه!!

مَن جَآءَ بِٱلۡحَسَنَةِ فَلَهُۥ عَشۡرُ أَمۡثَالِهَاۖ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجۡزَىٰٓ إِلَّا مِثۡلَهَا وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴿١٦٠﴾

١٦٠- څوك چې نېكي وكړي نو ده ته ئې لس برابره بدله ده او څوك چې بدكار وكړي نو يوازې وَرته سزا به وركول كېږي او ظلم به نه پرې كېږي.

(١٦٠)- له بنده سره د الله تعالى معامله په عدل او فضل ولاړه ده، چا چې نېك كار وكړ الله تعالى د خپل فضل له مخې لس برابره بدله وركوي او چا چې بد كار وكړ د خپل عدل له مخې ګناه ته ورته سزا وركوي.

قُلۡ إِنَّنِي هَدَىٰنِي رَبِّيٓ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ دِينٗا قِيَمٗا مِّلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗاۚ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴿١٦١﴾ قُلۡ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحۡيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٦٢﴾ لَا شَرِيكَ لَهُۥۖ وَبِذَٰلِكَ أُمِرۡتُ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴿١٦٣﴾

١٦١- ووايه: زه خو خپل رب مستقيمي لارې ته هدايت كړى يم، سم او صحيح دين ته، د حنيف ابراهيم مسلك او دين ته چې د مشركانو له ډلې نه وو. ١٦٢- ووايه: بې شكه چې لمونځ مې، قرباني مې، ژوند مې او مرګ مې د عالميانو رب ته دي، ١٦٣- شريك ئې نشته، په دې مأمور شوى يم او زه د مسلمانانو لومړنى يم.

(۱٦۱)- دلته پيغمبر عليه السلام ته لارښوونه شوې چې خلكو ته دا خبرې اعلان كړي:

- زه خپل رب مستقيمي لارې ته هدايت كړى يم، سم او صحيح دين ته، د هغه حنيف ابراهيم مسلك او دين ته چې له مشركانو نه وو.
- زما هر څه لمونځ، قرباني، ژوند او مرگ د عالميانو رب لره دي.
- زما رب هغه دئ چې شريك ئې نشته.
- زه په دغو خبرو گمارل شوى يم.
- زه د مسلمانانو لومړنى يم، تر هر چا زيات او تر تاسو ټولو مخكې خپل رب ته تسليم يم، زه تاسو هغه څه ته رابلم چې په خپله تر نورو مخكې د هغه متابعت كوم او ورته تسليم يم. ځينو مفسرينو له دې دا مراد اخيستى چې گواكې پيغمبر عليه السلام ويلي چې زه تر ټولو انسانانو مخكې مسلمان وم، حتى تر آدم عليه السلام هم مخكې!! داسې انتباه د آيت له مخكينيو برخو سره هيڅ اړخ نه لگوي، پيغمبر عليه السلام د ځان د ستاينې په موخه دا خبره نه كوي بلكې خپل مأموريت ته د التزام په توگه ئې كوي، دا په حقيقت كې د همدې سورې د ١٤ آيت بله بڼه ده، هلته ويل شوي: قُلْ إِنِّيٓ أُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ أَوَّلَ مَنْ أَسْلَمَ او دلته پيغمبر عليه السلام د دغه الهي حكم مطابق وايي: وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ؛ دغه مطلب د هود سورې په آيت كې په دې صيغه راغلى: وَمَآ أُرِيدُ أَنْ أُخَالِفَكُمْ إِلَىٰ مَآ أَنْهَىٰكُمْ عَنْهُ يعني زه خو هغه څوك نه يم چې غواړم تاسو له يوه كاره منع كړم خو په خپله همغه كار وكړم.

د دغو مفسرينو دا انتباه د قرآن له نورو آيتونو سره هم تعارض لري، دا ځكه چې قرآن په تأكيد او تكرار سره دا خبره كوي چې د ځمكې پر سر لومړنى پيدا شوى انسان آدم عليه السلام دئ، هره رأيه او روايت چې د قرآن د دې تأكيد خلاف وي د منلو نه دئ.

---

قُلْ أَغَيْرَ ٱللَّهِ أَبْغِى رَبًّا وَهُوَ رَبُّ كُلِّ شَىْءٍ ۚ وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ إِلَّا عَلَيْهَا ۚ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ۚ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُم مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿١٦٤﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى جَعَلَكُمْ خَلَٰٓئِفَ ٱلْأَرْضِ وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَٰتٍ لِّيَبْلُوَكُمْ فِى مَآ ءَاتَىٰكُمْ ۗ إِنَّ رَبَّكَ سَرِيعُ ٱلْعِقَابِ وَإِنَّهُۥ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٦٥﴾

١٦٤- ووايه: آيا له الله پرته بل رب ولټوم، حال دا چې هغه د هر څه رب دئ،

هیڅوك څه نه تر سره کوي مګر دا چې (پایله به ئې) پر ده وي او هیڅ په شا کوونکی د بل بار نه په شا کوي، بیا د خپل رب په لوري ستاسو بېرته ګرځېدا ده، نو په هغه څه به مو خبر کړي چې اختلاف مو په کې کاوو. ۱٦۵- او دی هغه ذات دئ چې تاسو ئې د زمکې ځای ناستي ټاکلي يئ؛ او د ځینو درجې ئې پر نورو لوړې کړې، چې مو په هغه څه کې وآزمويي چې درکړي ئې دي، یقیناً چې ستا رب په سزا ورکولو کې سریع دئ او بې شکه چې هغه مهربان بخښونکی دئ.

(۱٦٤-۱٦۵)- دا دواړه آیتونه چې په حقیقت کې یو آیت ګڼل کېږي، د سورې د ټولو مضامینو لپاره یوه جامع تتمه ده. په دې کې پیغمبر علیه السلام ته د څو نورو اساسي خبرو د اعلان سپارښتنه شوې:

- آیا له الله تعالی پرته بل رب ځان ته ونیسم، په داسې حال کې چې هغه د هر څه رب او پالونکی دئ؟
- ولې به د خلکو د ارضاء لپاره دا کار کوم، په داسې حال کې چې انسان د خپلو غلطیو له سزا سره هرو مرو مخامخ کېږي، هیڅوك د بل د ګناه پېټی پر خپلو اوږو نشي اخیستی، تاسو ما ته هیڅ ګټه نشئ رسولی.
- ستاسو د مخالفتونو راکمولو لپاره هم دا کار نه کوم، د مخالفتونو په اړه به الله تعالی خپله پرېکړه کوي، ټول د هغه لوري ته ورتلونکي یئ.
- تاسو ئې د مخکینیو پر ځای په زمکې کې مېشت کړئ، د زمکې خلافت ئې تاسو ته وسپارو، د دې لپاره ئې یوه ته پر بل ځانګړې فضیلتونه ورکړي، هم په جسمي لحاظ، هم په فکري لحاظ او هم په اجتماعي لحاظ چې تاسو وآزمویي، دا امتحان ورکړئ چې له دغو امتیازاتو څنګه استفاده کوئ، پر نورو د خپلې لویې تحمیلولو او د هغوی د تحقیر لپاره ترې استفاده کوئ که له نورو سره د خواخوږۍ، ترحم او مرستې لپاره، دا فضیلتونه په تاسو کې د شکر او امتنان احساس راولاړوي که د بغاوت او تکبر احساس.
- په دې پوه شئ چې ستاسو رب هم باغي بنده ته په سزا ورکولو کې سریع دئ او هم نادم بنده ته په عفو کې مهربان بخښونکی دئ.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَن لَّا إِلَٰهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

۱۳۸٦\۱۰\۳۰

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# الاعراف

## د سورې معرفي

د دې مبارکې سورې نوم الاعراف دئ، دا يوازې نوم دئ چې د سورې له ٤٦ آيته اخيستل شوی. دوه سوه شپږ آيتونه لري، ځيني مفسرين په دې نظر دي چې يوازې اته آيتونه ئې له (١٦٣تر ١٧٠) پورې په مدينه کې او نور ټول ئې په مکه مکرمه کې نازل شوي، د آيتونو فواصل ئې دوه وزنه لري: مؤمنين او مؤمنون ته ورته، ځيني آيتونه ئې د لومړي آيت په څېر مؤمنين ته په هموزنه صيغو پای ته رسېدلي او ځيني ئې د درېيم آيت په څېر تذکرون ته په هموزنه صيغو.

لکه څنګه چې دا سوره په څلورو مقطعاتو حروفو ا ل م ص پيل شوې د سورې محوري او اساسي مضامين هم څلور دي، دا اساسي مضامين د سورې په لومړيو آيتونو کې په دې توګه راغلي:

- کوم کتاب چې پر رسول الله صلى الله عليه و سلم نازل شوی، د ځينو لپاره انذار او د ځينو لپاره تذکار، د دې متابعت وکړئ، د الله تعالی پر ځای بل څوك متولي مه نيسئ او متابعت ئې مه کوئ.
- چا چې د الهي کتابونو مخالفت کړی په الهي عذاب اخته شوي او دې ته اړ شوي چې پر خپل ظلم اعتراف وکړي.
- له ټولو د پوښتني وخت خامخا راتلونکی دئ، هم به له پيغمبرانو او هم له هغو چې پيغمبران ورلېږل شوي پوښتنه کېږي.
- د حساب و کتاب په ورځ چې د چا تله درنه وخته بريالی شو او د چا چې تلل شوي سپك وختل خاسر او نامراد شو.

دغه څلور اساسي مطالب په ټولې سورې کې راغلي، خو داسې چې په لومړي سر کې په اختصار سره، بيا په مشرح توګه، ورپسې په بلې بڼې کې او بيا په بلې کې.

که تاسو په هغو سورتونو کې غور وکړئ چې په مقطعاتو حروفو پيل شوي، ځيني به ئې داسې ومومئ لکه د بقرې او آل عمران سورتونه چې اساسي مضامين ئې يو په بل پسې راغلي، لومړی اوله موضوع بيا دوهمه او بيا درېيمه؛ او دا هغه سورتونه دي چې د حروفو

ترتيب ئې هم منظم او د هجا په حروفو کې د دوی د موقعيت په ترتيب راغلي، لکه ا، ل، م چې د هجا په حروفو کې د الف موقعيت له لام او ميم مخکې او د لام موقعيت له ميم مخکې دئ، ځيني نور به ئې داسې ومومئ لکه د الاعراف سوره چې صاد ترښولو وروسته راغلی حال دا چې د هجا په حروفو کې ئې موقعيت تر لام او ميم مخکې دئ. د داسې سورتونو اساسي مضامين د الاعراف د سورې په څېر په مختلطه توګه راغلي.

د لومړۍ رکوع په لومړيو لسو آيتونو کې چې دغه څلور مطالب راغلي، په دوهمې رکوع کې د الله تعالی له حکم د بغاوت يوه بېلګه وړاندې شوې، د زمکې پر سر لومړی بغاوت، د شيطان بغاوت، وجه ئې تکبر او ځان تر نورو لوړ او غوره ګڼل، پايله ئې هبوط، سقوط، سپکاوی، د الله تعالی له رحمت محرومېدا؛ او بيا د نورو د اغوا او بې لارې کولو لپاره پرله پسې هڅې او دا هر څه د دې لپاره چې خپل کار سم او خپله غلطه لاره سمه ثابته کړي.

ورپسې د آدم عليه السلام په قصې کې د دې يوه بله بېلګه راغلې، د الله تعالی له امر مخالفت، د دې مخالفت پايله هم له جنت هبوط، له الهي لباس او رزق محرومېدا، خو په فوري ندامت او توبې سره د غلطۍ جبران. او بيا په همدې لړ کې د آدم عليه السلام اولاد ته لارښوونې چې شيطان ئې دوکه نه کړي او د خپل جد په څېر ئې له جنت محروم نه کړي او هغه کسان په ګوته کول چې څرګنده ګناه به کوي خو د شيطان په څېر به د خپلې غلطۍ د توجيه هڅه کوي، يا به مذهبي توجيه ورته جوړوي يا به ئې د خپلو پلرونو ميراث او دود دستور ګڼي، له دوی به ځيني داسې وي چې د تقوی او مذهب ته د التزام تر نامه لاندې حلال حراموي په داسې حال کې چې د سترو سترو حرامو کارونو مرتکب کېږي.

بيا د همدغو خلکو حالت په دوزخ کې انځوروي، چې يوه ډله به ئې پر بلې لعنت وايي، د خپلو انحرافاتو عامل به ئې ګڼي او له الله تعالی به د دوه برابره عذاب غوښتنه ورته کوي، دا همغه خلك دي چې د شيطان په څېر ئې د تکبر او د الله تعالی د آيتونو د تکذيب لار غوره کړې وه، د دوی په وړاندې هم د آسمان دروازې تړلې دي او هم د جنت. او بيا په جنت کې د مؤمنانو حالت او له دوزخيانو سره د دوی مناقشه زموږ مخې ته ږدي او هغه کسان چې نه د دوزخ دي او نه د جنت، د دواړو تر منځ، د اعراف اوسېدونکي او د دوی حالت بيانوي، چې کله ئې د دوزخ په لوري سترګې واوړي، پناه ترې غواړي او چې د جنت لوري ته ئې پام شي د ورتلو طمع ئې کوي. بيا د اعراف د خلکو او دوزخيانو تر منځ د مناقشې يوه عجيبه صحنه تمثيلوي چې د انسان زړه پوړوي.

دا بحث د اُومې رکوع په دغو اساسي موضوعاتو پای ته رسوي: ستاسو رب د آسمانونو او زمکې خالق او ټولواك دئ، شپه او ورځ د ده په اراده ځي راځي، لمر، سپوږمۍ او ستوري ده مسخر کړي، هم خالق دئ هم آمر او حاکم، زاري او دعاء مو بايد ده ته وي، له طمعې او وېرې سره دعاء ورته کوئ، په زمکې کې فساد مه خوروئ، د الله تعالی رحمت

نېکانو ته ورنژدې دئ، لکه څنګه چې مړه زمکه په باران سره راژوندۍ کوي تاسو به هم له مرګ وروسته بیاراژوندي کوي.

وروسته د نوح علیه السلام، هود علیه السلام، صالح علیه السلام، لوط علیه السلام او شعیب علیه السلام د قصو په ترڅ کې همدغو اساسي مطالبو ته تاریخي او عملي بېلګې وړاندې شوې او دا بحث د دولسمي رکوع په ضمن کې په یوې ډېرې زړه راښکونکې تتمې سره پای ته رسوي، د دې تتمې خلاصه دا ده چې: که خلکو ایمان راوړی وی او تقوی ئې کړې وی نو د آسمان او زمکې د برکتونو دروازې به ئې پر مخ پرانیستل شوې وې، خو دوی د تکذیب لار غوره کړه او الله تعالی د بدو عملونو په سبب مؤاخذه کړل.

وروسته د فرعون او د ده له ملأ او درباریانو سره د موسی علیه السلام د مقابلې په قصې کې همدغه اساسي موضوعات تمثیل شوي، دا قصه د فرعون په غرقېدو، د ده د تخت او تاج او هر څه په نسکورېدو او بني اسرائیلو ته د زمکې د وراثت په انتقال پای ته رسوي. بیا د بني اسرائیلو د عروج او زوال په قصې کې همدغه مطالب څېړي، له موسی علیه السلام او د ده په لاس لېږل شوي تورات سره د دوی چلن، مخالفت، له توحید وروسته شرك، د موسی علیه السلام پر ځای په سامري پسې اقتداء او د الله تعالی پر ځای سخوندر د معبود په توګه منل او د هغه په وړاندې ګونډه کېدا او د دې شرك او انحراف بدې پایلې زموږ مخې ته ږدي، مخکې مقابله د موسی علیه السلام او فرعون وه، دلته د موسی علیه السلام او سامري ده، مخکې توحید د ظلم او استبداد په ضد او دلته مقابله د توحید او شرك ده، هلته مبارزه له بهرني دښمن سره وه او اوس له کورني دښمن سره، د دې بحث په ضمن کې د موسی علیه السلام د پای دعاء او د ده پر ځای د بل پیغمبر د راتلو زېرې راځي؛ او دا بحث په ۱۷۱ آیت پای ته رسوي،

بیا د انسان د پیدایښت هغه فطري جوړښت ته ګوته نیسي چې پر الله تعالی ایمان ئې د فطرت غوښتنه او تقاضا ده، د ده په خټه کې دا ایمان اېښودل شوی، له الله تعالی انکار د ده له فطرت سره تعارض لري، شیطان ئې لمسوي او د خپل فطرت ضد کار پرې کوي، له ټولو څرګندو نښو او دلائلو انکار ته ئې هڅوي، دا چې ځیني ایمان راوړي او ځیني د کفر او ضلالت لار غوره کوي او ځان په تباهۍ کې غورځوي، دا هر څه د الله تعالی د سننو مطابق تر سره کېږي، دوزخ ته هغه درومي چې زړه، سترګې او غوږونه ئې د حق د پېژندو، لیدو، اورېدو او په حقیقت له ایمان راوړو عاجز دي، د څارویو په څېر دي، تر هغوی هم ډېر بد.

وروسته د قیامت په اړه او دا چې کله به راځي، بحث کوي، د شرك د تردید په موخه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي چې خلکو ته ووایې: نه د ګټې او تاوان اختیار راسره دئ او نه په غیب پوهېږم، زه یوازې بشیر او نذیر یم، هغه ذات ستاسو یوازینی معبود دئ چې تاسو ئې پیدا کړي یئ او تاسو ته اولاد درکوي، همغه چې د روغ اولاد د پیدا کېدو طمع یوازې له ده کوئ، ولې د داسې څه بندګي کوئ چې د هیڅ څه پیدا

کولو توان او واك نه لري، په خپله پيدا شوي؟! نه ستاسو مرسته کولی شي، نه ستاسو دعاء او غږ اوري، ستاسو په څېر بندګان دي. له دغو مشرکانو سره په چلن کې مؤمنانو ته څو سپارښتني کېږي: له عفوي کار واخلئ، د نېکو کارونو بلنه ورکړئ، له جاهلانو ډډه وکړئ، که شيطان په خپلو وسوسو وځورولئ الله تعالی ته پناه يوسئ، قرآن لولئ او په دقت سره ئې اورئ، خپل رب شپه ورځ، سبا او ماښام په زاريو او زګېرويو سره يادوئ. او په آخري آيت کې ورته ويل شوي: د ده خوا ته مقرب بندګان هغه دي چې درې مهم صفات لري: د الله تعالی له عبادت سرغړاوی او لويي نه کوي، د ده تسبيح وايي او ده ته تندی پر زمکه ږدي. يعنی څلور کارونه انسان ته هغه لوړ مقام ورپه برخه کوي چې د الله تعالی د مقربو بندګانو په زمره کې ونيول شي: ١- د الله تعالی عبادت، ٢- د ده په وړاندي له تکبر او لويي ډډه، ٣- د ده ذکر او تسبيح ٤- او د ده بشپړ اطاعت.

---

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓمٓصٓ ﴿١﴾ كِتَٰبٌ أُنزِلَ إِلَيۡكَ فَلَا يَكُن فِي صَدۡرِكَ حَرَجٞ مِّنۡهُ لِتُنذِرَ بِهِۦ
وَذِكۡرَىٰ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٢﴾

١- الف، لام، ميم، صاد، ٢- تا ته لېږل شوی يو کتاب دئ، په سينه کې دي ترې تنګوالی نه وي، د دې لپاره چې انذار پرې وکړې او مؤمنانو ته پند او يادونه.

---

(١)- د دغو حروفو په اړه بحث د همدې سورې د معرفي تر عنوان لاندي مطالعه کړئ.
(٢)- دا کتاب د الله تعالی له لوري درباندي نازل شوی، په دې موخه چې د کافرانو لپاره انذار وي او د مؤمنانو لپاره تذکار، خلك د کفر له بدو پايلوووېروې او مؤمنانو ته خپل رب ورپه ياد کړې. ګوره چې زړه تنګی نشي، حوصله له لاسه ورنه کړې، مسئوليت دي دروند دئ، سفر طولاني، لوړي ژوري او مخالفتونه په مخکې، ځيني به د خپل ظلم او فساد، کفر او شرك له بدو پايلو وېروې، ځيني به د جهل او شرك له ډنډ راوتلو ته بلې، يوې خوا ته ځواکمن دښمنان، بلي خواته جاهل او متعصب مخاطبين او خوا ته دي کمزوري او بې وزلي مؤمنان چې ستا تذکار او تربيت ته اړ، خو ته له دې کتاب پرته بل څه نه لرې، په همدې کتاب سره به دا ستره دنده تر سره کوې، هم به د دغه کتاب په رڼا کې دښمن ته خپله بده پايله ورپه ګوته کوې او هم به خپلو مؤمنو ملګرو ته ډاډ او اطمئنان ورکوې.

ٱتَّبِعُواْ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُمۡ وَلَا تَتَّبِعُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَۗ قَلِيلٗا مَّا تَذَكَّرُونَ ٣

٣- د هغه څه متابعت وکړئ چي ستاسو د رب له لوري دربانديي نازل شوي او له ده پرته په نورو اولياوو او پالونکو پسي مه ځئ، پند اخيستنه مو لږ ده.

(٣)- دا مبارك آيت په ډېر وضاحت سره موږ ته لارښوونه کوي چي په الله تعالی د ايمان يوه اساسي غوښتنه دا ده چي د ده د کتاب متابعت وشي، ځوك چي د الله د کتاب پر ځای د بل چا د لارښوونو او اوامرو متابعت وکړي په حقيقت کې ئې دا کس د الله تعالی په څنګ کې خپل ولي او پالونکی نيولی او په داسي څه کې ئې له الله تعالی سره شريك کړی چي د الله تعالی لپاره مختص دئ.

وَكَم مِّن قَرۡيَةٍ أَهۡلَكۡنَٰهَا فَجَآءَهَا بَأۡسُنَا بَيَٰتًا أَوۡ هُمۡ قَآئِلُونَ ٤ فَمَا كَانَ دَعۡوَىٰهُمۡ إِذۡ جَآءَهُم بَأۡسُنَآ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ٥

٤- او څومره کليوال مو هلاك کړي، هغه چي زموږ عذاب به په داسي حال کې پرې راغی چي يا به د شپې په خوب ويده وو يا به ئې د غرمې خوب کولو؟! ٥- نو وينا به ئې له دې پرته بله نه وه چي ويل به ئې: يقيناً چي موږ ظالمان وو.

(٤-٥)- دا مبارك آيتونه موږ ته وايي: د تاريخ پاڼې واړوئ، وګورئ د هغو خلکو پايله څه وه چي د الله تعالی له کتاب ئې مخالفت کړی؟ وګورئ چي د مخالفت په سبب له کومو بدو عواقبو سره مخامخ شوي؟ چا چي د الهي کتابونو مخالفت کړی څنګه په الهي عذاب اخته شوي او دې ته اړ شوي چي پر خپل ظلم اعتراف وکړي؟! د شپې يا غرمې به په خواږه خوب ويده وو، له هر څه غافل، نه ئې د الله تعالی د مؤاخذې پروا وه او نه د کفر او شرك له بدو عواقبو وېره، خو ناڅاپي الهي عذاب پرې نازل شوی، دغه مهال د خپلو ناروا کړنو څرنګوالي ته متوجه شوي او اعتراف ئې کړی چي واقعاً موږ ظالمان وو او د دې سزا مستحق.

فَلَنَسۡـَٔلَنَّ ٱلَّذِينَ أُرۡسِلَ إِلَيۡهِمۡ وَلَنَسۡـَٔلَنَّ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٦ فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيۡهِم بِعِلۡمٖۖ وَمَا كُنَّا غَآئِبِينَ ٧

٦- نو حتماً به له هغو هم وپوښتو چي پيغمبران مو ورلېږلي او له پيغمبرانو به هم خامخا پوښتنه کوو. ٧- نو د پوهي له مخي به قصه ورواوروو او موږ (هغه مهال

ترې) غائب نه وو.

(٦-٧)- د قيامت په ورځ به له ټولو بلا استثناء پوښتنه کېږي، له پيغمبرانو هم چې آيا الهي پيغام ئې خلکو ته رسولی که نه او دا چې د خلکو ځواب او عکس العمل څه وو؟ او له هغو هم چې پيغمبران ورلېږل شوي چې پيغمبرانو ته ئې ځواب څه وو؟ الله تعالی به هر چا ته د خپلو کړنو قصه د داسي شاهد په توګه ورواوروي چې هر څه ئې ليدلي او د بندګانو هيڅ څه ترې پټ نه وو.

وَٱلْوَزْنُ يَوْمَئِذٍ ٱلْحَقُّ ۚ فَمَن ثَقُلَتْ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿٨﴾ وَمَنْ خَفَّتْ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓا۟ أَنفُسَهُم بِمَا كَانُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا يَظْلِمُونَ ﴿٩﴾

٨- او په دې ورځ به حق دروندوالی وي، نو د چا چې تلل شوي درانه وختل همدا دوی بريالي دي. ٩- او د چا چې تلل شوي سپك وختل نو دوی هغه دي چې ځان ته ئې له دې کبله تاوان رسولی چې زما له آيتونو سره ئې ظالمانه چلن کولو.

(٨-٩)- د دې مبارکو آيتونو په اړه څو خبري په پام کې ولرئ:

● د اتم آيت د لومړۍ فقرې (وَٱلْوَزْنُ يَوْمَئِذٍ ٱلْحَقُّ) په اړه د مفسرينو تر منځ د رأيي اختلاف شته؛ تر ټولو غوره توجيه ئې دوه دي: ١- په دې ورځي وزن کول حقيقت لري. ٢- په دې ورځ به حق وزن او دروندوالی وي. دوهمه توجيه په دې دليل دقيقه او غوره ده چې د الفاظو ترکيب همدا معنی افاده کوي، يعنی په دې ورځ به هغه عمل وزن او دروندوالی لري چې د حق او حقيقت مطابق تر سره شوی، کوم عمل چې له (حق) او (حقيقت) تش وي، هغه به سپك او بې ارزښته وي. په رواياتو کې هم راغلي چې د لااله الا الله وزن به د زمکې او آسمانونو تر وزن زيات وي؛ فَإِنَّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا فِيهِمَا لَوْ وُضِعَتْ فِي كِفَّةِ الْمِيزَانِ، وَوُضِعَتْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ فِي الْكِفَّةِ الْأُخْرَى كَانَتْ أَرْجَحَ؛ د دې معنی دا ده چې هلته به حقيقت وزن او دروندوالی وي. د آيت ورپسې برخه هم دغه توجيه تأييدوي، په هغه بل تعبير کې خو دا خبره مجهوله پاته کېږي چې د څه شي وزن به د فلاح او خسران نښه وي؟! کېدی شي د چا د نېکو عملونو پېټی سپك وي او د بل د بدو عملو پېټی دروند، په دې صورت کې خو سپکوالی او دروندوالی معيار نشو ګڼلی.

● د هر چا عملونه به تلل کېږي، څنګه او په څه به تلل کېږي؟ نه خو عمل شیء دئ چې وتلل شي او نه د عمل د تللو لپاره تله شته، نو د دې خبري مراد څه دئ؟! آيا مراد ئې دا دئ چې د هرچا د عمل اصلي قدر او ارزښت به معلوم کړی شي، قدر او ارزښت به ئې

د عمل د ظاهري بڼې له مخې نه ټاکل کېږي، بلکې (حق) او (حقيقت) ته په پام سره به ټاکل کېږي، که مراد دا وي نو په دې کې د ابهام هيڅ ځای نشته، ځکه تلل او وزن کول د معنوي شيانو لپاره هم کارول کېږي، لکه چې مونږ د يوه عزتمن سړي په اړه وايو: درونډ سړی دئ او د ذليل او بې اعتباره انسان لپاره د سپك لفظ کاروو، خو که له تللو او وزنولو مراد بل څه وي، له الله تعالی پرته بل څوك پرې نه پوهېږي. داسې گمان مه کوئ چې هلته به تله يا تلل داسې وي لکه په کومې منډيې کې تله او تلل، نه به تله داسې وي لکه د دنيا تلې او نه تلل د دنيا د تللو په څېر، د هغه مذهب پلويان چې اهل ظاهر دي او الله تعالی په انسان قياسوي گمان کوي چې د دنيا د کومې تلې په څېر به تله ايښودل کېږي، په يوې خوا کې ئې مقياس او په بلې کې موزون او د دې مقياس له مخې به وزن معلومېږي!! هغوی د نورو مواردو په څېر دلته هم ستره غلطي کوي، د متشابه آيتونو الفاظ په متبادره او ظاهري معنی اخلي او په دې سره الله تعالی او د هغه صفات او افعال په مخلوقاتو قياسوي. د قيامت په ورځ به د عمل د وزن معلومولو لپاره (حق) (مقياس) وي او د عملونو درونډوالی او سپکوالی به د دغه مقياس له مخې ټاکل کېږي.

- د چا تلل شوي چې درانه وخېژي دوی به بريالي وي او د چا تلل شوي چې سپك وخېژي نو په خپله ئې ځان ته تاوان رسولی.
- د دې تاوان اصلي وجه دا وه چې د الله تعالی له آيتونو سره ئې ظالمانه چلن کاوو.

وَلَقَدْ مَكَّنَّٰكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَٰيِشَ ۗ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴿١٠﴾

۱۰- او يقيناً چې تاسو مو په ځمکې کې متمکن کړئ او په دې کې مو د ژوند (ټول ضروري) اسباب درته برابر کړل، خو شکر کول مو لږ دئ.

(۱۰)- انسان داسې پيدا شوی چې ځمکه ورته مناسب ټاټوبی دئ او انسان داسې پيدا شوی چې د ځمکې پر سر ژوند ورته ممکن دئ، انسان چې د ژوند لپاره څه ته ضرورت لري هغه ټول په ځمکې کې ورته پيدا شوي او د ځمکې پر سر د ژوند کولو لپاره چې کومو خصوصياتو او ځانگړتياوو ته ضرورت وو انسان ته ورکړی شوي، د دواړو تر منځ دا تنسيق د الله تعالی يوه ستره پېرزوينه ده، خو ډېری انسانان د دې پېرزوينې قدر نه کوي، څوك چې دې ته متوجه دي او غواړي د منعم خدای د دې پېرزوينې شکر اداء کړي، د دې ستر نعمت په پرتله د هغوی شکر ډېر لږ دئ.

وَلَقَدْ خَلَقْنَٰكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنَٰكُمْ ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُوا۟ لِءَادَمَ فَسَجَدُوٓا۟

إِلَّآ إِبۡلِيسَ لَمۡ يَكُن مِّنَ ٱلسَّٰجِدِينَ ﴿١١﴾

**۱۱- او يقيناً چې موږ پيدا کړئ، بيا مو شکل او صورت درکړ، بيا مو ملائکو ته وويل چې آدم ته سجده شئ، نو له شيطان پرته ټولو سجده وکړه، چې (دی) د سجده کوونکو له ډلې نه وو.**

---

(۱۱)- د دې مبارك آيت په اړه لاندي ټکو ته پام وکړئ:

- د آيت په سر کې د ټولو انسانانو د خلقت خبره شوې خو وروسته يوازي د آدم عليه السلام يادونه شوي، د دې په توجيه کې د مفسرينو ګڼ شمېر توجيهات زموږ مخي ته راځي، تر ټولو غوره او دقيقه توجيه دا ده چې د آدم عليه السلام پيدايښت په حقيقت کې د ټولو انسانانو د پيدايښت مقدمه ده.
- د انسان (خلقت) او ده ته (شکل او صورت) ورکول بېل بېل ياد شوي، د دې معنی دا ده چې آدم عليه السلام ته له پيدايښت وروسته صورت او شکل ورکړی شوی، همدا راز د ده اولاد ته تر پيدايښت څه موده وروسته صورت او شکل ورکول کېږي، دواړه سره ورته دي، توپير يوازي په دې کې دئ چې آدم عليه السلام له مور پلار پرته پيدا شوی. قرآن په دې وينا سره نه يوازي يو ستر حقيقت بيان کړی، بلکې دا د قرآن يو بل علمي اعجاز دئ، انسان د پيدايښت په لومړيو شپو ورځو کې يوه نطفه وي، بيا په رحم پوري ځوړند توکی، بيا ژوول شوې غوښي ته ورته د غوښي ټوټه،... په پای کې ورته د يوه ماشوم شکل او صورت ورکړی شي. د دې وينا په اهميت هغه څوك پوهېږي چې د انسان د پيدايښت د مختلفو مراحلو په اړه ئې ژوري علمي څېړني او تحقيقات کړي وي.

دا آيت د هغو خلکو غلطه انګېرنه بې بنسټه ثابتوي چې وايي: لومړی د انسان مجسمه جوړه شوې بيا په کې روح پو کړی شوې!! قرآن د دې رأيي په خلاف وايي چې انسان ته د ده له پيدايښت وروسته صورت او شکل ورکړی شوی. د دوی دا رأيه نه په قرآن کې کوم بنسټ لري او نه په صحيحو احاديثو کې، دوی دا رأيه له بايبل اخيستې ده، دوی احسن الخالقين خدای په يوه کلال قياس کړی، بايبل په دې اړه ليکي:... دغه وخت خدای آدم له خاوري جوړ کړ او بيا ئې د ده په پزه کې د ژوند روح پو کړه او ده ته ئې ژوندون ورپه برخه کړ او له آدم يو ژوندی موجود جوړ شو!

د مسيحيانو يو ډېر معروف انځورګر په خپلي مشهوري منظرې کې د دوو انسانانو او څو فرشتو انځورونه داسي رسم کړي چې فرشتې د وزر لرونکو ښځو په بڼه کې او خدای جل شأنه او آدم عليه السلام سره ورته د دوو انسانانو په څېره کې ښيي چې د خپلي ګوتي له لاري آدم ته روح ورکوي.

راشئ د بايبل دا ادعاء لږ په دقت سره وڅېړو او وګورو چې دا څومره بې معنی، د حقيقت خلاف او افسانې ته ورته خبره ده!!

موږ هره شېبه په خپلو سترګو ګورو چې الله تعالی ژوندي مخلوقات څنګه پیدا کوي، څنګه ئې له مړې خاورې جوړوي، څنګه روح په کې پو کوي او ژوندی مخلوق ترې جوړوي، آیا دغه څه چې موږ ئې په خپلو سترګو ګورو له هغه څه سره مطابقت لري چې بایبل ئې د آدم علیه السلام د پیدایښت په اړه وايي؟! آیا د ژوندیو شیانو په پیداکولو کې د الله تعالی سنت همداسې دئ چې لومړی د یوه شي مجسمه جوړوي، بیا ئې په پزه کې روح ور پو کوي او ژوندی مخلوق ترې جوړوي؟! آیا د بایبل لیکونکي او منونکي همداسې پیدا شوي؟! که دوی داسې نه وي پیدا شوي نو د دوی جد آدم علیه السلام به ولې داسې پیدا شوی وي؟! الله تعالی خو انسانان، حیوانات او بوټي داسې پیدا کوي چې په سر کې ووړکې نطفه وي، ورو ورو ستره شي او یو بشپړ ژوندی مخلوق ترې جوړ شي، څنګه ومنو چې لومړی الله تعالی د ټولو ژوو مجسمې جوړې کړې، بیا ئې د دوی په پزو کې روح پو کړې او ژوند ئې ورپه برخه کړی!! دا انګېرنه خو نه له انساني عقل سره اړخ لګوي او نه په پیدایښت کې د الله تعالی له مشهود او نه بدلېدونکي سنت سره.

دا آیت چې د (خَلَقۡنَٰكُمۡ او صَوَّرۡنَٰكُمۡ) د جمعي په صیغو سره ټولو انسانانو ته خطاب کوي، ښيي چې آدم علیه السلام ته سجده په حقیقت کې ټول انساني نسل ته سجده وه، نه یوازې د آدم علیه السلام ذات ته.

دا آیت ښيي چې د انسان په وړاندې له سجدې د شیطان د سرغړاوي معنی د ده په وړاندې عدم خضوع او عدم انقیاد دئ.

د آیت په سر کې ویل شوي چې فرشتو ته د سجدې امر وشو، خو وروسته ویل شوي چې شیطان له سجدې ډډه وکړه، د دې په توجیه کې هم د مفسرینو تر منځ اختلاف شته، غوره توجیه دا ده چې د انسان په وړاندې د ملائکو انقیاد په حقیقت کې د ده په وړاندې د ټولو مخلوقاتو د انقیاد او تسخیر په معنی وو، خو په ټول عالم کې یوازې شیطان له دې سرغړاوی وکړ. د قرآن ګڼ شمېر آیتونه په دې دلالت کوي چې د آسمانونو او زمکې هر څه انسان ته مسخر کړی شوي.

---

قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسۡجُدَ إِذۡ أَمَرۡتُكَۖ قَالَ أَنَا۠ خَيۡرٞ مِّنۡهُ خَلَقۡتَنِي مِن نَّارٖ وَخَلَقۡتَهُۥ مِن طِينٖ ﴿١٢﴾

۱۲- وئې فرمایل: څه شي منع کړې چې سجده ونه کړې، وئې ویل: زه تر ده غوره یم، زه دې له اوره پیدا کړی یم او دی دې له خټې پیدا کړی.

---

(۱۲)- دا آیت موږ ته ښيي:

- د زمکې پر سر لومړی جرم کبر دئ.

• لومړی کس چې د الله تعالی له حکم ئې سرغړاوی کړی، يو داسې متکبر وو چې ځان ئې تر بل غوره گڼلی، په نسلي او قومي بنياد ئې ځان تر بل لوړ او هغه ئې تر ځان ټيټ گڼلی.

• د چا لپاره چې يو صالح مشر وټاکل شو، خو د دې پر ځای چې د هغه اطاعت وکړي، بر عکس مخالفت ته ئې ملا تړي او ځان د دې مقام لپاره تر هغه وړ او مستحق گڼي، د شيطان تجربه تکراروي.

• څوك چې په قومي او نسلي بنسټ په توپيرونو باور لري، يو تر بل غوره بولي، د شيطان گناه تکراروي.

قَالَ فَٱهۡبِطۡ مِنۡهَا فَمَا يَكُونُ لَكَ أَن تَتَكَبَّرَ فِيهَا فَٱخۡرُجۡ إِنَّكَ مِنَ ٱلصَّٰغِرِينَ ﴿١٣﴾

١٣- وئې ويل: له دې کوز شه، دا حق نلرې چې دلته لويي وکړې، ووځه چې له ذليلو يې.

(١٣)- دلته دوه خبرې د پام وړ دي:

• شيطان لويي وکړه، د لويي او تکبر پايله ئې هبوط، سپکاوی او ذلت شو، د دې معنی دا ده چې الله تعالی هر متکبر له ذلت او سپکاوي سره مخامخ کوي.

• شيطان له کوم ځای کوز کړی شو؛ له آسمان؟ له جنت؟ له هغه ځای چې آدم عليه السلام هم په کې اوسېدو؟ او که له کوم معنوي مقام چې د ده په برخه وو؟ د دې وضاحت نه په قرآن کې شوی او نه په احاديثو کې، خو داسې معلومېږي چې له هبوط معنوي هبوط مراد دئ.

قَالَ أَنظِرۡنِيٓ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ﴿١٤﴾ قَالَ إِنَّكَ مِنَ ٱلۡمُنظَرِينَ ﴿١٥﴾

١٤- وئې ويل: تر هغې ورځې مهلت راکړه چې (ټول له قبرونو) راپاڅول کېږي. ١٥- وئې فرمايل: ته له مهلت ورکړی شوو يې.

(١٤-١٥)- دلته څو خبرې تر سترگو کېږي:

• شيطان د مهلت مطالبه کړې، د دې لپاره چې ثابته کړي د ده ادعاء سمه او دی تر آدم عليه السلام غوره دئ.

• الله تعالی دا مهلت او فرصت ورکړ، له دې معلومېږي چې د ده هبوط معنوي وو، نه

مادي، ځکه دی نه په جنت کې پرېښودل شوی او نه په آسمان کې.

قَالَ فَبِمَآ أَغْوَيْتَنِي لَأَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَٰطَكَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ﴿١٦﴾ ثُمَّ لَآتِيَنَّهُم مِّنۢ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ أَيْمَٰنِهِمْ وَعَن شَمَآئِلِهِمْ وَلَا تَجِدُ أَكْثَرَهُمْ شَٰكِرِينَ ﴿١٧﴾

**۱۶- وئې ویل: نو چې بې لارې دې کړم، هرومرو به ستا په مستقیمې لارې کې دوی ته (په کمین کې) کښېنم، ۱۷- بیا به د دوی له مخې، له شا ئې، له ښې اړخ ئې او له کیڼ اړخ ئې ورته راځم او ډېری به ئې شکر کوونکې ونه مومې.**

(۱٦-۱۷)- دلته څو اساسي خبرې زموږ مخې ته اېښودل شوې:

- شیطان خپل عصیان او سرغړاوی الله تعالی ته منسوبوي او د ده له لورې اغوا ئې ګڼي، یعني تا زه دې ته اړ کړم، تا داسې چا ته پر ما ترجیح ورکړه چې زه ترې غوره وم، د ده له مخالفت پرته بله لار دې راته پرې نښوده!! دا داسې ده لکه په یوه حزب یا حکومت کې چې څوك د یوه مقام لپاره ځان وړ ګڼي، د لاس ته راوړو هڅه ئې کوي، خو خپل مقصد ته نه رسېږي، دا مقام بل چا ته سپارل کېږي، دی د اطاعت پر ځای د مخالفت لپاره ملا تړي، له تنظیم وځي او بیا خپل عصیان او وتل د حزب مشرتابه ته منسوبوي او وایي: تا له حزب وتلو ته اړ کړم!! قرآن د شیطان دا وینا د همدې لپاره زموږ مخې ته اېښې ده چې له داسې غلط کار ډډه وکړو.
- شیطان لوړه کوي چې د انسان د بې لارې کولو او په خپل مأموریت کې د ده د ناکامولو هڅه به کوي، په هر ګام کې به په کمین کې ورته کښېني، له هر لورې به ئې تر برید لاندې نیسي، هڅه به ئې دا وي چې ثابته کړي آدم علیه السلام او اولاد ئې د دې مقام وړ نه دي، د دې الهي پېرزویني قدر او پاس نشي اداء کولی. دا هم داسې ده لکه له حزب هغه مرور یا وتلی کس د خپل رقیب د نااهله ثابتولو لپاره هغه ته موانع راولاړوي، غواړي هرې خوا ته فتنې او ستونزې راپیدا کړي، ثابته کړي چې د ده په اړه د مشرتابه پرېکړه سمه نه وه، دا ټولې ستونزې د دغې ناسمې پرېکړې نتائج دي. قرآن د همدې لپاره موږ دې شیطاني کار ته متوجه کوي چې ځان ترې وساتو.

قَالَ اخْرُجْ مِنْهَا مَذْءُومًا مَدْحُورًا لَمَنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكُمْ أَجْمَعِينَ﴿١٨﴾

**۱۸- وئې فرمایل: له دې د رټل شوي او شړل شوي په توګه ووځه؛ چا چې ستا**

متابعت وکړ نو هرومرو به جهنم له تاسو ټولو ډک کړم.

(۱۸)- د کبر په وجه ئې ذلت او سپکاوی په برخه شو، خو د نورو د بې لاري کولو په سبب مذءوم (رټل شوی، د هر چا له خوا بد او ملامت ګڼل شوی) او مدحور (شړل شوی او هر چا له ځانه لري کړی) شو. په پای کې د ده او د ده د ملګرو او پلويانو ځای جهنم دئ.

په دې سره موږ ته لارښوونه شوې چې که تکبر وکړو، ځان تر نورو لوړ وګڼو او نورو ته په سپکه سترګه وګورو نو ذلت به مو په برخه شي او که د شيطان په څېر له صالح کسانو سره د عداوت او دښمنۍ لار غوره کړو او د دوی په وړاندې د خنډونو راولاړولو هڅه وکړو نو رټنه او شړنه به مو په برخه شي، هم به د الله تعالی له لوري ورټل شو او هم به د خلکو له لوري.

وَيَٰٓـَٔادَمُ ٱسۡكُنۡ أَنتَ وَزَوۡجُكَ ٱلۡجَنَّةَ فَكُلَا مِنۡ حَيۡثُ شِئۡتُمَا وَلَا تَقۡرَبَا هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٩

۱۹- او اې آدمه! ته او مېرمن دې په دې جنت کې مېشت شئ، نو له هره ځايه ئې چې څه غواړئ وئې خورئ؛ او دې ونې ته مه نژدې کېږئ، که نه نو له ظالمانو به شئ.

(۱۹)- د دې مبارك آيت په اړه لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

● دا کوم جنت وو چې آدم عليه السلام او مېرمن ئې په کې ځای پر ځای شول؟ دا په آسمان کې وو که په زمکې کې؟ دا همغه جنت وو چې له حساب او کتاب وروسته د انسان په برخه کېږي که د زمکې کوم باغ؟ ځيني مفسرين ئې د آسمان جنت ګڼي او ځيني ئې د زمکې کوم خاص باغ، په قرآن او د رسول الله صلی الله عليه و سلم په احاديثو کې هيڅ ځای صريحاً يا تلويحاً دا نه مومو چې دا جنت په آسمان کې وو، يا آدم عليه السلام همغه وخت آسمان ته بېول شوی، يا له آسمانه بېرته زمکې ته راکوز شوی. د هغو مفسرينو رأيه دقيقه ده چې دا د زمکې خاص باغ ګڼي، تفصيل ئې د بقرې د سورې د ۳۵ آيت په تفسير کې وګورئ.

● دا ممنوعه شجره کومه وه؟ نه دلته او نه د قرآن په بل ځای کې ښودل شوې، چا چې په دې اړه څه ويلي له ځانه ئې ويلي، هيڅ دليل ورته نه لري. که د دې ښودل ضروري وی نو قرآن به حتماً موږ ته ښودلې وه.

● دې ونې ته مه نژدې کېږئ، که نه نو مېوه به ئې وخورئ او په دې سره به له ظالمانو شئ. دوی د خاصې ونې له مېوې منع شوي، خو د قرآن اسلوب دا دئ چې ګناه ته له

ورنژدې کېدو انسان منع کوي، دا ځکه چي کله انسان د ګناه محل ته ورنژدې شي په ګناه کې د پرېوتو احتمال ئې زيات شي، قرآن تل دا سپارښتنه کوي چي د حرام پولي ته مه ورنژدې کېږئ، د حلال تر وروستۍ پولي مخکې مه درومئ، دومره مخکې مه ځئ چي که يو ګام بل واخلئ د ګناه په ډنډ کې پرېوځئ.

- که دا مېوه وخورئ نو په خپل ځان به مو ظلم کړی وي، له بدو پايلو سره به ئې مخامخ شئ، د خپل رب له امره به مو تېری کړی وي.

راشئ وګورو چي بايبل په دې اړه څه وايي، بايبل د پيدايښت د باب د دوهم فصل له پنځمي تر پنځلسمي فقرې پوري ليکي:

(له دې وروسته خدای په عدن کې چي په ختيځې سيمي کې پروت دئ يو باغ پيدا کړ او هغه آدم ئې په کې ځای پر ځای کړ چي مخکې ئې پيدا کړی وو!! خدای ډول ډول ښاپسته وني په دې باغ کې راپيدا کړې تر څو خوندوري مېوې ورکړي، ده د باغ په منځ کې (د حيات ونه) او همدا راز (د ښه او بد د پېژندو ونه) پيدا کړه، د عدن له سيمي د باغ په لوري يو سيند وبهېدو تر څو ئې خړوبه کړي، بيا دا رود په څلورو وړو رودونو تقسيم شو، لومړی رود ئې (فيشون) دئ چي د خويله له سيمي تېرېږي او هلته خالص سره زر، مرغلري او د جزع ډبري موندل کېږي، دوهم ئې (جيحون) دئ چي د کوش له سيمي تېرېږي، درېيم ئې (دجله) دئ چي د آشور ختيځ ته درومي او څلورم ئې (فرات) دئ!! خدای آدم د عدن په باغ کې پرېښود تر څو هلته کار وکړي او د باغ ساتنه او پالنه وکړي او ده ته ئې وويل: د دې باغ د ټولو ونو مېوې خوره پرته د يوې وني (د ښه او بد د پېژندا ونه) دا ځکه چي که دا مېوه وخورې مطمئن اوسه چي حتماً مرې!!

دلته څو د اعتراض وړ خبري مومو:

- د پيدايښت د باب په لومړي فصل کې ويل شوي چي د آدم عليه السلام له خلقته مخکې ټول نور ژوي د بوټو او ونو په شمول پيدا شوي وو، خو دلته ويل شوي چي د ده د پيدايښت په وخت کې د زمکي پر سر هيڅ واښه او بوټي نه ول، د ده له پيدايښته وروسته خدای په عدن کې يو باغ پيدا کړ!! دا صريح تناقض دئ.

- د بايبل له دې وينا معلومېږي چي آدم عليه السلام د زمکي پر سر يوه باغ کې ځای پر ځای شوی، خو د دې تر څنګ وايي چي په دې باغ کې خدای د نورو ونو تر څنګ او د باغ په منځنۍ برخي کې د (حيات ونه) او د (ښه او بد پېژندا ونه) هم پيدا کړه!! خو نه د زمکي پر سر په ونو کې د حيات ونه شته او نه د ښه او بد پېژندا په نامه کومه ونه!! د بايبل ليکوال او پلويان دي ووايي چي دا دوه وني چېري دي؟ تاسو کومي وني په دې نامه پېژنئ؟ د نړۍ په هيڅ ګوټ کې داسي وني نشته!! د حيات ونه، د معرفت ونه، د حيات اوبه او دې ته ورته نوري خبري بې بنسټه او د خيال په عالم کې جوړې شوې خبري دي، انسان داسي پيدا شوی چي خامخا به مري، الله تعالی داسي اوبه او مېوه نه ده پيدا کړې چي د

هغې په خوړو سره انسان دائمي او ابدي ژوند تر لاسه کړي، د انسان معرفت اکتسابي دئ، ورو ورو زياتېږي، د تعليم، تعلم، زده کړي او تجربې په نتيجه کې ئې د معرفت او د ښه او بد د پېژندا سطح لوړېږي، الله تعالى داسي مېوه نه ده پيدا کړې چي د هغې په خوراك سره انسان ته د ښه او بد د پېژندو معرفت ورپه برخه شي!! د بايبل د دې وينا په خلاف، د قرآن په هغو آيتونو کې چي تر ټولو د مخه پر رسول الله صلى الله عليه و سلم نازل شوي او په همدې آيتونو سره د قرآن د نزول لړۍ پيل شوې داسي راغلي:

ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِى خَلَقَ ۝١ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ ۝٢ ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ ۝٣ ٱلَّذِى عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ ۝٤ عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ ۝٥ العلق : ١-٥

**١- ولوله په نوم د خپل رب، هغه چي پيدا ئې کړ. ٢- انسان ئې له ځوړندو پيدا کړ. ٣- ولوله چي رب دې ډېر کريم دئ. ٤- آ چي په قلم ئې پوهه ورکړه. ٥- انسان ته ئې ورزده کړل څه چي نه پرې پوهېدو.**

په دې مبارکو آيتونو کې څو مطالب خاصه توجه غواړي:

- د الله تعالى له لوري وحي د اقرأ (ولوله) په امر پيل شوې او دا ښيي چي د اسلام له نظره د (لوست) مقام او منزلت څومره لوړ دئ او څومره اهميت لري، دا د الله تعالى لومړى امر دئ، په دغه امر سره ئې د وحي لړۍ پيل کړې.

- دا د الله تعالى د کرم او پېرزويني څرګنده نښه ښودل شوې چي انسان د يوه (ځوړند توکي) له حالته هغه ځاى ته رسوي چي (کامل انسان) ترې جوړ شي، ليك او لوست ورښيي، انسان يوازينى مخلوق دئ چي کولى شي د (لوستلو) له لاري د بل په خبره پوه شي او د (ليکلو) له لاري خپل معلومات خوندي کړي او خپل پيغام نورو ته ورسوي او په دې سره د خپل سلف له قيمتي تجاربو ګټه واخلي، د معلوماتو د ضائع کېدو مخه ونيسي او راتلونکي نسل ته ئې انتقال کړي، له انسانه پرته دا وړتيا او امتياز په هيڅ ذيروح کې نه ګورو، الله تعالى په انسان کې دا استعداد او وړتيا ايښې ده چي له (قلم) د تعليم او تعلم وسيله جوړه کړي، له دې اړخه ئې انسان ته پر ټولو نورو مخلوقاتو فضيلت ورکړى.

- په (قرائت)، (علم) او (قلم) سره هم انسان ته پر نورو مخلوقاتو فضيلت ورکړى شوى او هم په خپله د انسانانو تر منځ يوه ته پر بل.

- (قلم) د زده کړي او پوهي ډېره اغېزمنه وسيله ده، په دې سره انسان د دې مجال تر لاسه کوي چي په ډېرو هغو حقائقو پوه شي چي له بلي لاري پرې پوهېدل ورته ممکن نه وو

- لکه څنګه چي دلته د (عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ) الفاظ په دې معنى دي چي انسان ته له قلم د استفادې استعداد ورکړى شوى، الله تعالى د هغه په فطرت کې دا ملَکه ايښې چي قلم جوړ

کړي، خپل ما في الضمير وليکي او نورو ته ئې انتقال کړي او له دې د زده کړې او تعليم او تعلم وسيله جوړه کړي، همدا راز په نورو آيتونو کې دې ته ورته راغلي الفاظ لکه ((عَلَّمَهُ الْبَيَانَ) او ((وَعَلَّمَ آدَمَ الأَسْمَاءَ كُلَّهَا) هم هغو استعدادونو ته اشاره کوي چې انسان ته ورکړی شوي، انسان ته د (بيان) ملَکه ورکړی شوې، کولی شي خپل (ما فى الضمير) اظهار کړي او له کلماتو او الفاظو په استفادې سره خپل قصد، هدف، نظر او پيغام تشريح او توضيح کړي، هغه ته د هر څه د پېژندو او په هر څه د يوه مناسب نوم اېښودو استعداد ورکړی شوی، هغه کولی شي خپله پوهه د نومونو په قالب کې ترتيب، تنظيم او حفظ کړي او نورو ته ئې انتقال کړي. دا د انسان يوه ځانگړتيا ده، دا صفت په نورو مخلوقاتو کې نشته، په دې سره الله تعالی انسان ته پر ټولو مخلوقاتو فضيلت او شرف ورکړی.

- په اصل کې انسان (بې علمه) دئ، په تدريج سره زده کړه کوي او علم تر لاسه کوي. د انسان د پوهې او علم تفاوت د نورو ژوو له شعور او پوهې سره په دې کې دئ چې نور ژوي ثابت او محدود علم لري، له مخکې د دوی په خټه او دماغ کې اېښودل شوی، په فطري او الهامي توگه ورته تفهيم شوې چې څنگه ژوند وکړي، کوم کوم کارونه وکړي، څه وخوري او د څه له خوراکه ډډه وکړي، څنگه مفيد او مضر سره بېل کړي، خو انسان کولی شي چې تر هغه څه زيات هم زده کړي چې په فطري او الهامي توگه ورښودل شوي او په ضمير کې ئې اېښودل شوي. دی کولی شي زده کړه وکړي، د خپلې پوهې سطح لوړه کړي، اسرار کشف کړي او پټ حقائق ځان ته معلوم کړي، په (لوستلو)، (ليکلو) او له (قلم) په استفادې سره د خپلې حافظې ظرفيت لوړ او پراخ کړي او په هغه څه هم پوه شي چې نور پرې پوهېدلي او دی ترې غافل وو او له پېژندو ئې عاجز. که انسان ته له (قلم) د استفادې استعداد نه وی ورکړی شوی او په ليك او لوست نه پوهېدی نو د هر چا علم او پوهه به له ده سره پاته کېده، نه به په دې توانېدو چې د نورو له پوهې او تجربو گټه واخلي او نه به ئې خپل تجارب او علم نورو ته انتقالولی شو.

تاسو د قرآن دا علمي، دقيقه او په حقيقت او واقعيت ولاړه وينا د بايبل له دغي بې بنسټې ادعاء سره مقايسه کړئ چې وايي: انسان د معرفت د ونې مېوه وخوړه، سترگې ئې پرانيستل شوې، د ځان او خپل ماحول په حال پوه شو.

بايبل دلته ويلي چې لومړی آدم عليه السلام ته د عدن په سيمې کې يو باغ جوړ کړی شو، بيا د دې باغ د خړوبولو لپاره د همدې عدن له سيمې يو دومره ستر سيند جاری کړی شو چې د دجلې او فرات په څېر څلور رودونه ترې جلا شوي وو، خو دا باغ دومره ووړ وو چې آدم عليه السلام يوازې په هغه کې کار کاوو او د هغه ساتنه به ئې کوله!! او دا ستر سيند له هغه وروسته د عدن له سيمې په بهېدو شو چې خدای دا باغ تيار پيدا کړی او جوړ کړی وو!! دا ټولې خبرې هم د عقل خلاف دي او هم د واقع خلاف، معمول خو دا ده چې لومړی په يوې سيمې کې اوبه پيدا کېږي بيا په کې بوټي او ونې، خو بايبل د دې

عکس خبره کوي!! نه د دې څلورو رودونو سرچينه يوه ده، نه له يوه سينده سره جلا شوي، نه د دجلې او فرات شاوخوا کې داسي بل ستر رود شته چي دجله او فرات ترې بېل شوي وي، د بايبل دا خبره ډېره عجيبه ده چي وايي دجله او فرات له يوه ستر سينده بېل شوي، حال دا چي دجله او فرات په سر کې نه بلکې په پای کې سره يو ځای شوي، ښايي د بايبل ليکونکي ته چا ويلي وو چي دا دواړه رودونه په فلانۍ سيمي کې سره يو ځای دي او بر سره بېل، ده گمان کړی چي له بره سره يو ځای دي او په پای کې سره بېل!! که دا رودونه له جنوب شرقه د شمال غرب په لوري بهېدی نو بيا د بايبل خبره سمه وه، خو خبره برعکس ده، دا رودونه د عراق له شمال غربه د جنوب شرق په لوري بهېږي او د خليج خولې ته نژدې سره يوځای کېږي، د بايبل دا خبره هم نامعقوله ده چي د يوه کس تر ځارني او ساتني لاندې يو ووړ باغ دې په دومره ستر سيند خړوبه شي، که د دجلې او فرات تر څنگ د فيشون او جيحون په نامه رودونه هم وی، چي نشته او په نقشه کې هم نه تر سترگو کېږي، نو داسي څلور رودونه خو دومره ستر ملك ته اوبه ورکولی شي چي ټول عراق او ايران احتواء کړي، الله تعالی به څنگه داسي ستر رود د آدم عليه السلام تر ځارني لاندې د يوه واړه باغ د خړوبولو لپاره پيدا کوي؟!! او که له جيحون مراد د آمو دريا وي چي سر چينه ئې د پامير له لوړو ده او د دجلې او فرات له سرچينو نژدې پنځه زره کيلو متره فاصله لري، نو بيا خو به د بايبل د ليکونکي هغه د عدن باغ هومره ستر وي چي يوه څنډه ئې په افغانستان، تاجکستان او اُزبکستان کې او بله ئې په عراق کې!! او که جيحون کوم داسي رود وي چي له کوش تېرېږي نو کوش اوس د ايران مربوطه سيمه ده!! دا خبره هم صحيح نه ده چي د سيند سرچينه او د باغ موقعيت دې يوه سيمه (عدن) وي، معمولاً خو د سيند سرچينه له هغو زمکو ډېره لري وي چي خړوبوي ئې.

د بايبل له منونکو پوښتنه کوو: آدم عليه السلام ته د کومي مېوې د نه خوړلو توصيه شوې وه او گواښل شوی وو چي که دا مېوه وخورې حتماً مرې؟ د حيات د ونې که د معرفت د ونې؟ بايبل دلته په دې اړه څه نه وايي خو ډېر وروسته د دې وضاحت کوي، طبيعي ده چي دا د حيات د ونې مېوه نه شي کېدی دا ځکه چي هغه خو په مرگ نه بلکې په دائمي ژوند منتج کېږي!! او د دوهمي خبرې معنی خو دا ده چي که ته د معرفت تر لاسه کولو هڅه وکړې او (د ښه او بد پېژندو د ونې) مېوه وخورې نو هرو مرو مرې، يعني په پټو سترگو ژوند کوه، د معرفت د ونې مېوه مه خوره، دا مېوه ستا د مرگ باعث کېږي!! په دې اړه څو پوښتني لرو:

آدم عليه السلام خو دا مېوه وخوړه، ولې مړ نه شو؟ ولې د بايبل د خدای خبره غلطه وختله؟ هغه خو ورته ويلي وو چي که دا مېوه وخورې مطمئن اوسه چي حتماً مرې!!

د انسان د مرگ يو ستر عامل خو د بايبل د خبرې برعکس د ده عدم معرفت دئ، هغه که له بيمارۍ مري وجه ئې دا ده چي د دې بيمارۍ د علاج دوا نه پېژني، هغه که د کوم دښمن په لاس مغلوبېږي او په قتل رسېږي سبب ئې دا دئ چي معرفت ئې ناقص دئ، د

دښمن د پرځولو او د ده له شره د ځان ژغورلو په چل او چم نه پوهېږي، معرفت خو د ده د ژوند د اوږدوالي باعث دئ نه د مرگ باعث، الله تعالی به څنگه ده ته وايي چې د معرفت د ونې مېوه ستا د مرگ باعث کېږي؟!!

د دې فصل له ۱۸تر ۲٤ پورې جملې دا دي:

(خدای وفرمايل: مناسبه نه ده چې آدم يوازې وي، بايد ده ته کوم مناسب يار او ملگری پيدا کړم، نو دغه وخت خدای ټول هغه حيوانات او مرغان د آدم خوا ته راوړل چې له خاورو ئې جوړ کړي وو، چې وگوري آدم به څه څه نومونه پرې ږدي، په دې توگه ټول حيوانات او مرغان ونومول شول، نو آدم ټول حيوانات او مرغان ونومول، خو د ده لپاره مناسب يار ونه موندل شو، دغه وخت خدای آدم ويده کړ، د ده يوه پښتۍ ئې راوايسته او د هغې تش ځای ئې په غوښې ډك کړ او له دې پښتۍ ئې يوه ښځه جوړه او د آدم خوا ته ئې راوسته، آدم وويل: دا زما د هډوکو يو هډوکی او زما د غوښې يوه غوښه ده، نوم دې (نسا) وي ځکه چې له (انسان) اخيستل شوې)، (په همدې وجه ده چې انسان له خپل مور پلار بېلېږي او له خپلې مېرمنې سره جوخت کېږي او له دې وروسته دواړه سره يو کېږي)!!

په دې څو لنډو جملو کې څو عجيبې او د خندا وړ خبرې گورو:

- دا وينا داسې ده لکه چې څوك وواېي: خدای خپلې اشتباه ته متوجه شو چې آدم ئې يوازې پيدا کړی او دا مناسب کار نه وو، اوس غواړي دا اشتباه جبران کړي او ده ته کومه جوړه او ملگری راپيدا کړي.

- دا ملگری بايد دی په خپله او د حيواناتو او مرغانو له منځه غوره کړي، نو ځکه ئې ټول حيوانات او مرغان د ده خوا ته راوستل، ده د ځان لپاره کوم مناسب (يار) په دوی کې ونه موندو، هيڅ يو ئې د ملگرتيا لپاره غوره نه کړ، صرف دا کار ئې وکړ چې په هر يوه ئې يو نوم کېښېښود او په دې توگه د ټولو شيانو لپاره همغه وخت او د آدم عليه السلام له لوري نومونه غوره شول!!

- نو کله چې آدم عليه السلام له حيواناتو او مرغانو کوم (يار) ځان ته غوره نه کړ، الله تعالی د دې لپاره خوب پرې راوست چې يوه پښتۍ ئې ترې راوباسي، پرته له دې چې درد احساس کړي او له هغې ده ته يو (يار او ملگرې) جوړه کړي، آدم عليه السلام په ژور خوب ويده وو چې پښتۍ ئې ترې وايستی شوه، تش ځای ئې په غوښې ډك کړی شو، له پښتۍ ئې يوه ښځه جوړه کړی شوه، د آدم عليه السلام له راويښېدو مخکې د ده خوا ته حاضره کړی شوه، کله چې هغه له خوبه راويښ شو په خپلې خوا کې ئې ومونده او فوراً ئې وويل: دا زما د هډوکو يو هډوکی او زما د غوښې يوه غوښه ده، نوم دې (نسا) وي ځکه چې له (انسان) اخيستل شوې)!! ډېره ډېره عجيبه ده چې يو هوښيار او عقلمن انسان داسې خبرې په خوله راوړي يا ئې له بله واوري او وئې مني!! آيا داسې ناپېرتي او

خوشې خبري د الله تعالی کتاب ته منسوبول لویه بې باکي او جسارت نه دئ؟!! مګر الله تعالی خپل مخلوقات دغسې پیدا کوي لکه بایبل چې وایي؟ مګر دا هره شېبه چې الله تعالی حیوانات او د دوی جوړې پیدا کوي دغسې ئې پیدا کوي لکه بایبل چې ادعاء کوي؟ آیا کوم عاقل انسان به دا خبره ومني چې د ژوو د جوړه جوړه پیدا کولو په اړه د الله تعالی سنت همداسې دئ لکه په بایبل کې چې لیکل شوي؟ آیا سمه ده چې ووایو: لومړی د ټولو حیواناتو نارینه پیدا شوي بیا ئې له پښتیو د دوی ښځینه پیدا شوې؟! د بایبل له منونکو پوښتنه کوو: آدم علیه السلام څنګه پوه شو چې دا زما د هډوکو یو هډوکی او زما د غوښې یوه غوښه ده؟ د بایبل د ادعاء په اساس خو دی ویده وو او په دې هم نه دئ پوه شوی چې د جراحې عملیات پرې تر سره شوي او یوه پښتۍ ترې ایستل شوې!! چا تاسو ته ویلي او څنګه به دا خبره ثابتوئ چې د آدم علیه السلام ژبه عبري یا عربي وه او پر خپلې ملګرې ئې د نسا نوم ایښی؟!! که د بایبل له ادعاء سره سم په ټولو شیانو باندې نومونه د آدم علیه السلام له لوري ایښودل شوي وي ولې دا نومونه په ټولو انساني ژبو کې سره ورته نه دي؟ ستاسو په لور، زوی، خور، مور او پلار چا نومونه ایښي؟ په موټر، کمپیوټر، سیکل، تلویزیون، راډیو او... دا نومونه آدم علیه السلام ایښي که د ده اولاد؟

● دا خبره له مخکینیو سره څه ارتباط لري چې بایبل وېلي: (په همدې وجه ده چې انسان له مور او پلار بېلېږي او له خپلې مېرمنې سره جوخت کېږي او له دې وروسته دواړه سره یو کېږي)؟!! موږ خو د مخکینیو جملو په هیڅ ځای او هیڅ لفظ کې داسې څه نه وینو چې له مور او پلار د انسان بېلېدا او له خپلې مېرمنې سره یو ځای کېدا توجیه کړي!! دا بې ربطه خبرې ښيي چې د بایبل لیکوال له ادبي لحاظه هم ډېرې ستونزې درلودې او له علمي لحاظه هم.

---

فَوَسْوَسَ لَهُمَا ٱلشَّيْطَٰنُ لِيُبْدِيَ لَهُمَا مَا وُۥرِيَ عَنْهُمَا مِن سَوْءَٰتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهَىٰكُمَا رَبُّكُمَا عَنْ هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةِ إِلَّآ أَن تَكُونَا مَلَكَيْنِ أَوْ تَكُونَا مِنَ ٱلْخَٰلِدِينَ ﴿٢٠﴾

۲۰- نو شیطان وسوسه کړل، د دې لپاره چې له دوی پټې جثې ئې ورته بربنډې کړي او (ورته) وئې ویل: خپل رب یوازې د دې لپاره له دې ونې منع کړي یئ چې داسې نه فرشتې شئ او تلپاته شئ.

---

(۲۰)- دلته څو ټکو ته توجه وکړئ:

● شیطان دوی څنګه وسوسه کړل، په محسوسه توګه که په غیر محسوسه توګه؟ ورته مجسم شوی که نه؟ دوی په خپلو سترګو لیدو که نه؟ ځواب ئې دا دئ: لکه څنګه چې نن

د آدم علیه السلام اولاد وسوسه کوي همداسي ئې هغوی وسوسه کړي، لکه څنګه چي اوس په غیرمحسوسه توګه انسانان وسوسه کوي، دوی ئې نه ګوري، هلته ئې هم په همدې توګه هغوی وسوسه کړي، هغه رأیه د قرآن د وینا، د الهي سننو او د واقعیتونو خلاف ده چي له دې پرته بل څه وايي او ادعاء کوي چي شیطان په مجسمي بڼې کې ورته راغلی.

- د دې خبرې معنی څه ده چي شیطان د دې لپاره وسوسه کړل چي د ممنوعه مېوې په خوړلو سره د دوی د بدن هغه برخي ورته بربنډې کړي چي ترې پټې وې؟ ځیني مفسرین په دې نظر دي چي شیطان غوښتل د دوی عورت بربنډ شي، دوی (سوءات) د (غلیظه عورات) په معنی اخلي، په داسي حال کې چي قرآن د المائدې د سورې په ۳۱ آیت کې په ډېر وضاحت سره وایي چي له سوءة مراد بدن او جثه ده نه یوازي فرج او عورت.

فَبَعَثَ ٱللَّهُ غُرَابًا يَبْحَثُ فِي ٱلْأَرْضِ لِيُرِيَهُۥ كَيْفَ يُوَٰرِي سَوْءَةَ أَخِيهِ ۚ قَالَ يَٰوَيْلَتَىٰٓ أَعَجَزْتُ أَنْ أَكُونَ مِثْلَ هَٰذَا ٱلْغُرَابِ فَأُوَٰرِيَ سَوْءَةَ أَخِي ۖ فَأَصْبَحَ مِنَ ٱلنَّٰدِمِينَ ﴿٣١﴾

المائده: ۳۱

نو الله یو کارغه راولېږو چي زمکه ئې سپړله، چي وروښیي د خپل ورور جثه څنګه پټه کړي، وئې ویل: های افسوس، آیا له دې هم عاجز شوم چي د دې کارغه په څېر وای او د خپل ورور جثه مي پټه کړې وای، نو له پښیماني کوونکو شو.

دلته ځکه دا د عورت په معنی نشو اخیستلی چي له انسان؛ نه خپل عورت پټ وي او نه د زوج؛ په لباس سره خو عورت له نورو پټېدی شي، هغه مهال خو له دوی دواړو پرته بل انسان نه وو، دا خبره خو بیا بې معنی ده چي شیطان غوښتل دوی ته خپل عورتونه وروښیي، همدا راز که دا مصنوعي جامه وګڼو نو له مصنوعي جامې خو انسان د شیطان له وسوسې پرته په خپله ځان لوڅوي، هم د غسل په وخت کې او هم د جامو بدلولو په وخت کې او دا لوڅول یوازي د بل نامحرم انسان په وړاندي ګناه ده نه په هر صورت کې.

د قرآن الفاظ داسي دي چي ښیي په مخکینۍ الهي جامه کې د دوی بدن پټ وو، حتی په خپله له دوی نه، خو کله چي دا جامه ترې اخیستل شوې، نو داسي بربنډ شوي چي خپل ځان یعني د خپل بدن پوستکی ئې هم لیدلی. صحیح خبره دا ده چي شیطان غوښتل دوی بربنډ کړي، له هغې جامې ئې محروم کړي چي الله تعالی ورکړې وه، هغه جامه چي الله تعالی هر ژوي ته د هغه له حالت سره مناسب ورکړې، هم ئې له یخني ژغوري او هم له تودوخي، هغه چي نه زړېده، نه شړېده، نه خیرنېده، نه ئې اوبدل او ګنډل غوښتل او نه هیڅکله انسان ترې بربنډېدو، همغسي لکه چي قرآن فرمایي:

إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ فِيهَا وَلَا تَعْرَىٰ ﴿١١٨﴾ طه: ۱۱۸

يقيناً چې په دې کې به ته داسې وې چې نه به وږی کېږې او نه به بربنډ کېږې.

او تاسو پوهېږئ چې په مصنوعي جامه کې ډېر ځلې انسان لوڅ او بربنډ کېږي.

بايبل تر دې هم زياته خندوونکې وينا لري او وايي چې خدای د حيواناتو له پوستکي جوړه شوې جامه ورکړه!! حال دا چې انسان ډېر وروسته او هغه مهال د حيواناتو له پوستکو ځان ته جامه جوړه کړې چې د حيواناتو د ښکار او د دوی له پوستکي د جامو د جوړولو وسائل ئې تر لاسه کړل، پوستکي ته آړ ورکول او د جامو لپاره ئې تيارول ډېرو مهارتونو او وسائلو ته ضرورت لري چې انسانانو ډېر وروسته تر لاسه کړي. بايبل په مسخره خبرو کې تر دې هم مخکې ځي او وايي چې په پاڼو کې د آدم عليه السلام پټېدل د دې لپاره وو چې په جنت کې ئې د خدای د ګامونو غږ واورېدو او ترې پټ شو!!

د بايبل په درېيم فصل کې، د انسان سقوط تر عنوان لاندې په لومړيو ۱۹ جملو کې دا مطالب لولو: مار تر ټولو هغو حيواناتو ډېر زيرك وو چې خدای پيدا کړي وو، يوه ورځ مار د ښځې خوا ته راغی او هغې ته ئې وويل: آيا رښتيا ده چې خدای تاسو د باغ د ټولو ونو د مېوو له خوړلو منع کړي يئ؟ ښځې په ځواب کې ورته وويل: موږ ته اجازه راکړی شوې چې د ټولو ونو مېوه وخورو پرته د يوې ونې چې د باغ په منځ کې ده، خدای امر کړی چې د دې ونې مېوه ونه خورو او حتی لاس ورنه وړو که نه نو مرو. مار ورته وويل: (مطمئن اوسه چې نه مرئ، بلکې خدای ښه پوهېږي چې کله تاسو دا مېوه وخورئ سترګې مو پرانيستل کېږي، د خدای په څېر کېږئ او ښه له بده بېلولی شئ)، هغه ونه ښځې ته ښايسته وبرېښېده او له ځان سره ئې فکر وکړ چې (کېدی شي د دې ښايسته ونې مېوه خوندوره وي او پوهه مې په برخه کړي، نو د دې ونې مېوې ئې راوشکولې، وئې خوړلې او خپل خاوند ته ئې هم ورکړې او هغه هم وخوړلې) په همدې سره د دوی دواړو سترګې پرانيستلې شوې، په خپلې بربنډتيا پوه شول، نو د انځر له پاڼو ئې د ځان پټولو جامه جوړه کړه، د همدې ورځې په مازديګر کې، آدم عليه السلام او ښځې ئې د خدای غږ واورېدو چې په باغ کې ګرځېدو، نو په ونو کې پټ شول، خدای آدم ته غږ کړ: اې آدمه! چېرې يې، ولې پټېږې؟ آدم ځواب ورکړ: ستا غږ مې په باغ کې واورېدو، ووېرېدم، دا ځکه چې لوڅ وم، نو ځکه پټ شوم، خدای وفرمايل: چا درته وويل چې لوڅ يې؟ آيا د هغې ونې مېوه دې خوړلې ده چې ترې منع کړی مې وې؟ آدم ځواب ورکړ: دغې ښځې چې زما ملګرې دې ګرځولې، ما ته ئې دا مېوه راکړه او ما هم وخوړه، دلته نو خدای له ښځې وپوښتل: دا څه کار وو چې تا وکړ؟ ښځې وويل: مار وغولولم!! نو خدای مار ته وويل: د دغه کار د کولو په سبب به د زمکې تر ټولو وحشي او اهلي حيواناتو زيات ملعون وې، تر څو چې ژوندی وې په خپلې سينې به خوځې، خاوري به خورې، ستا او د ښځې او ستا د نسل او د ښځې د نسل تر منځ به تلپاته دښمني اچوم، د ښځې نسل به ستا سر ځپي او ته به د ده پنډۍ چيچې، دغه وخت خدای ښځې ته وفرمايل: ستا د زېږولو د وخت درد به درته زيات کړم، ته به په درد او کړاو سره خپل اولاد زېږوې، د خپل مېړه مشتاقه به وې او

هغه به پر تا برلاسى وي، بيا خداى آدم ته وفرمايل: له دې كبله چې د خپلې ښځې خبره دې ومنله او د هغې ونې مېوه دې وخوړله چې درته ويلي مې وو مېوه ئې مه خوره، زمكه به تر لعنت لاندې راشي او ته به په خپل ټول عمر كې په زحمت او كړاو سره خپل معاش ترې تر لاسه كوې، له زمكې به اغزي او خاشاك درته راټوكېږي او د بېديا بوټي به خورې، د عمر تر پايه به د تندې په خولو سره ډوډۍ خورې او په پاى كې به همغې خاورې ته بېرته ورگرځې چې ترې واخيستى شوې، دا ځكه چې ته له خاورو جوړ شوى يې او خاورو ته به بېرته ورگرځې، آدم خپله ښځه حواء (يعني ژوندون) ونوموله، ځكه چې دا بايد د ټولو ژونديو مور شي!!!

په دې برخې كې دومره بېهوده او د خندا وړ خبرې دي چې انسان ورته حيران شي، نه پوهېږو مسيحيان څنگه دا خبرې د الله تعالى له لورې او د يوه مقدس آسماني كتاب خبرې گڼي!! لاندې څو خبرو ته ئې متوجه شئ:

- وايي مار تر ټولو حيواناتو زيات زيرك دئ، حال دا چې د مار زيركتيا تر ډېرو ډېرو حيواناتو لږ ده.
- وايي مار د ښځې د غولولو لپاره باغ ته ورغى!! نه پوهېږو د مار ئې د ښځې له غولولو سره څه؟ كوم عاقل انسان به دا خبره ومني چې مار كولى شي ښځه وغولوي!!
- وايي: مار ښځې ته وويل: خداى تاسو ته حقيقت نه دئ ويلى، دا سمه نه ده چې د دې مېوې په خوړلو سره تاسو مرئ، حقيقت دا دئ چې د دې مېوې په خوړلو سره تاسو په ښه او بد پوهېږئ، خداى په دې خاطر نه غواړي چې تاسو دا مېوه وخورئ چې په دې سره تاسو د خداى په څېر معرفت تر لاسه كوئ او په ښه او بد پوهېږئ او د ده رقيبان درنه جوړېږي، هغه نه غواړي چې رقيب ولري!! د همدې لپاره ئې تاسو د دغې مېوې له خوړلو منع كړي يئ!! بايبل وايي چې د مار خبره سمه وخته او د خداى خبره ناسمه او د حقيقت خلاف، دوى دواړو دا مېوه وخوړه، مړه نه شول، برعكس په ښه او بد پوه شول!!

بايبل په دې بحث سره ښځه د گناه اصلي عامل او باعث معرفي كوي، د گناه پيل د دې له خوا شوى، د زمكې پر سر لومړۍ گناه د دې له لورې وه، نارينه هم د دې په لاس گناه ته هڅول شوى! او دا د حقيقت او واقع كاملاً خلاف خبره ده، د گناه په كولو كې د ښځې جسارت تر نارينه ډېر لږ دئ، په نارينه وو كې د مجرمانو شمېر تل تر ښځو زيات وي، ښځه غالباً د نارينه تقليد كوي، په هغه پسې اقتداء كوي، د ښځو جوړښت داسې دئ چې تر نارينه ئې ښېگڼو ته تمايل زيات وي، قوي عاطفه ئې د بدو پر ځاى ښو ته هڅوي، تل گورو چې نارينه د گناه لپاره په ښځو پسې ورځي.

په جنت كې د ممنوعه مېوې په اړه به د اصلي تورات او انجيل وينا حتماً هغسې وه چې په قرآن كې راغلې، قرآن دا موضوع د يوې ډېرې ژورې علمي موضوع په حيث څېړلې او يوه ستر علمي حقيقت ته ئې اشاره كړې او هغه دا چې د عالم په ټولو ژوو كې يوازې

انسان داسي پيدا شوی چي مجبور دئ د مفيد او مضر خوراك په اړه له بله معلومات تر لاسه کړي، نور ژوي داسي پيدا شوي چي د پيدايښت له لومړيو شېبو په دې پوهېږي چي کوم څه وخوري او کوم څه نه، په دماغ کي ئې د مضر او ګټور بوټي او دانې د تشخيص استعداد ايښودل شوی، د دغه استعداد په مرسته د پيدايښت له لومړۍ ورځي سم او ناسم خوراك معلوموليى شي، د غرڅه بچی، وری، سېرلی، وزګوری، سخوندر، جونګی او ټول نور ژوي او بچيان ئې هغه بوټي نه په خوله کوي چي ورته مضر وي، خو د انسان بچی ډېره، خاوره، سکروټه او هر څه په خوله کوي، تر اوږدې مودې ئې بايد مور سمبال کړي او د تاواني شيانو له خوړلو ئې وساتي، تل بايد ورته ووايي: مه مه، کيخ، باو، تو کړه، مه خوره،.. قرآن په جنت کي د آدم عليه السلام د ځای پر ځای کېدو او د ممنوعه شجرې په يادولو سره دغي اساسي او مهمي خبري ته اشاره کړې، خو د بايبل ليکوال له دې يوه خندونکې بې بنسټه قصه جوړه کړې!!

دا ډېره ډېره مسخره خبره ده چي د دغي مېوې له خوړلو مخکي دوی خپل بربنډتوب نه احساساوو او له خوړلو وروسته پوه شول چي بربنډ دي!! او دا څکه چي مخکي بې معرفته ول او د معرفت د مېوې له خوړلو وروسته ئې سترګي پرانيستلې شوې او خپل لوڅوالی ئې احساس کړ!! حقيقت د دې خبري کاملاً عکس او دا دئ چي: الله تعالی د زمکي په سر هر ژوي ته داسي لباس ورکړی چي هم ښايسته دئ، هم ئې په ځان برابر دئ، نه ګنډل غواړي او نه اوبدل، نه زړېږي او نه شړېږي، هم ئې په ژمي کي له يخنۍ ساتي او هم په دوبي کي له تودوخي. د څينو لباس خو دومره ښايسته دئ چي که د نړۍ ټول انسانان راغونډ شي نو نه په دې ظرافت، لطافت، ښايست او رنګ کي داسي لباس اوبدلی شي او نه ئې ګنډلی. په ټولو ژوو کي يوازي انسان هغه مخلوق دئ چي بربنډ دئ، د نورو په څېر جامه نه لري، دې ته اړ دئ چي ځان ته به جامه جوړوي، د ژمي لپاره بېله او د دوبي لپاره بېله، د قرآن له وينا معلومېږي چي انسان په سر کي داسي نه وو، وروسته بربنډ شوی، له لوڅېدو مخکي ئې داسي جامه وه چي هيڅکله به نه بربنډ کېدو، تل ئې دی پټ ساتو، نه د جامو اوبدلو ته اړ وو او نه ګنډلو ته، له دې جامو د يوې اشتباه په نتيجه کي محروم شو، د ممنوعه شجرې مېوه ئې وخوړه او په دې سره هغه جامه ترې وايستی شوه او بربنډ شو، لومړی ئې د ونو له پاڼو ځان ته جامه جوړه کړه او وروسته ئې نورې جامې، څيني ئې يوازي د ځان پټولو لپاره، څيني ئې د ښايست او سينګار لپاره او څيني ئې د تقوی لباس، سنګين، باوقاره له ګناه مانع لباس. د بايبل ليکونکي د آدم عليه السلام بربنډېدا هغسي توجيه کړې، له سره لوڅ ول، خو نه پرې پوهېدل، د معرفت د مېوې په خوړلو سره پرې پوه شول!! په مسلمانانو کي د بايبل تر اغېز لاندي راغلي خلك د آدم عليه السلام له لومړني لباس داسي تعبير لري چي ګواکي دا به له وړيو، وربښمو، سنډو او يا مالوچو اوبدل شوې کومه جامه وه، چي د ده په قد قامت برابره ګنډل شوي وه، حال دا چي اوبدلې او ګنډل شوې جامه بني آدم جوړه کړې، الله چي کومه جامه ورکوي هغه

اوبدل او گنډل نه غواړي. دوی نه د قرآن الفاظو ته پام کړی او نه هغه څه ته چي هره شېبه ئې په خپلو سترگو گوري، یوې خوا ته په ملیونو هغه ژوي گوري چي په ښایسته الهي جامو پټ دي او بلې خوا ته یوازې بني آدم چي له دې جامې محروم او دې ته اړ شوی چي له وړیو، وربښمو، سنډو، نیلون او یا مالوچو ځان ته جامه جوړه کړي، قرآن په دې سره یو ستر علمي حقیقت بیان کړی خو د اسرائیلي روایاتو په دام کې پرېوتو کسانو له دې افسانه جوړه کړې.

قرآن د آدم علیه السلام د غولولو او له جنت د ده د ایستلو کار شیطان ته منسوبوي، شیطان همغه څوك دئ چي د آدم علیه السلام اولاد (انسان) گناه ته هڅوي، خو آیا دا شیطان په کومې څرگندي بڼې که آدم او حواء علیهما السلام ته ځان ښودلی، لکه ځیني چي ادعاء کوي او که همغسې ورغلی او دوی ئې وسوسه کړي لکه نن چي د دوی اولاد وسوسه کوي؟ په یقین او ډاډ سره ویلی شو چي هغه وسوسه به داسې وه لکه د ده ننۍ وسوسې، نن چي موږ یو څوك احساسوو چي په زړه مو چونډۍ لگوي، گناه ته مو هڅوي، گناه او حرام راته ښایسته کوي، زموږ د (ارتقاء) او (دوام) باعث ئې گڼي، همغه چي موږ ئې په سترگو نه گورو خو هره شېبه ئې اغېز احساسوو، زموږ جد ته همدا دوکه مار مخلوق او همدا وسوسه اچوونکی په همدې توگه ورغلی، همداسې ئې ورته ویلي: که دا مېوه وخورئ (په جنت کې تل پاته کېدا) او (معنوي ارتقاء) به مو په برخه شي، قرآن په دې اړه همغه خبره کړې چي هر انسان ئې هره شېبه په خپل ژوند کې احساسوي، خو بایبل خوشې او بېهوده خبره کوي او دا وسوسه د مار له لوري گڼي!! او متأسفانه زموږ ځیني مفسرین وایي چي شیطان د مار په بڼې کې یا د مار په خوله کې جنت ته ورغلی او دوی ئې دوکه کړي!! دا د هغو خلکو کار دئ چي غواړي د قرآن آیتونه د بایبل په استناد تفسیر کړي او د قرآن او بایبل تر منځ د تلفیق هڅه کوي.

---

وَقَاسَمَهُمَآ إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ ٱلنَّٰصِحِينَ ﴿٢١﴾

۲۱- او لوړه ئې ورته وکړه چي زه مو خواخوږی یم،

---

(۲۱)- گناه ته هڅوونکی شیطان، که جني وي که انسي، نه یوازې گناه ورته ښایسته کوي بلکې په ټول تأکید سره ورته وایي چي ستا خیر غواړم، زما مشوره ستا په گټه ده، په دې کې ډېري ښېگڼې درته پرتې دي.

---

فَدَلَّىٰهُمَا بِغُرُورٍۚ فَلَمَّا ذَاقَا ٱلشَّجَرَةَ بَدَتۡ لَهُمَا سَوۡءَٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخۡصِفَانِ عَلَيۡهِمَا مِن وَرَقِ ٱلۡجَنَّةِۖ وَنَادَىٰهُمَا رَبُّهُمَآ أَلَمۡ أَنۡهَكُمَا عَن تِلۡكُمَا ٱلشَّجَرَةِ

وَأَقُل لَّكُمَآ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ لَكُمَا عَدُوٞ مُّبِينٞ ﴿٢٢﴾

۲۲- نو په دوکې سره ئې دواړه وغولول، کله چې ئې د (وني) مېوه وڅکله بدنونه ئې ورته بربنډ شول او لګیا شول په ځانونو باندې ئې د باغ پاڼې نښلولې او خپل رب ورته غږ کړ: آیا تاسو مې له دغې ونې نه وئ منع کړي؟ او نه مې وو درته ویلي چې شیطان مو څرګند دښمن دئ؟

(۲۲)- دلته د څو خبرو تفصیلي څېړل ضروري برېښي:

● شیطان وغولول، ممنوعه مېوه ئې وخوړه، په همدې سره جامه ترې وایستل شوه، بربنډ شول، لګیا شول چې ځان په پاڼو پټ کړي، د آیت الفاظ داسې دي چې ښيي ټول ځان ئې لوڅ شوی او د ټول ځان د پټولو لپاره ئې پاڼې په ځان نښلولې. د دې معنی دا ده چې له لوڅېدو وروسته د انسان لومړۍ جامه پاڼې وې، نوري جامې ئې ډېر وروسته جوړې کړې دي. د علمي تحقیقاتو په نتیجه کې څېړونکي همدې نتیجې ته رسېدلي چې لومړنیو انسانانو د ونو له پاڼو د جامې په توګه استفاده کړې، وروسته ئې د حیواناتو له څرمنو او بیا ئې له نورو شیانو جامې جوړې کړې. له الهي جامې محرومېدا انسان ته یوه داسې سزا وه چې تر نن پورې ئې عذاب څکي، د انسان په لاس جوړه شوې جامه د تبعیض وسیله شوه، دوی ئې سره بېل کړل، یوه له خپلې جامې د خلکو د غولولو وسیله جوړه کړه، بل په نورو د برلاسي او لويي ذریعه.

● راشئ وګورو چې په دې اړه بایبل څه وايي: بایبل لیکي: د همدې ورځې په مازدیګر کې (هغه ورځ چې دوی هغه مېوه وخوړه)، آدم علیه السلام او ښځې ئې د خدای غږ واورېدو چې په باغ کې ګرځېدو، نو په ونو کې پټ شول، خدای آدم ته غږ کړ: اې آدمه! چېرې یې، ولې پټېږې؟ آدم ځواب ورکړ: ستا غږ مې په باغ کې واورېدو، ووېرېدم، دا څکه چې لوڅ وم، نو ځکه پټ شوم، خدای وفرمایل: چا درته وویل چې لوڅ یې؟ آیا د هغې ونې مېوه دې خوړلې ده چې ترې منع کړی مې وې؟ آدم ځواب ورکړ: دغې ښځې چې زما ملګرې دې ګرځولې، ما ته ئې دا مېوه راکړه او ما هم وخوړه، دلته نو خدای له ښځې وپوښتل: دا څه کار وو چې تا وکړ؟ ښځې وویل: مار وغولولم!!

دلته څو خبرې د پام وړ دي:

● بایبل الله تعالی داسې معرفي کوي: په یوه وړوکي باغ کې ګرځي، د ګامونو غږ ئې آدم علیه السلام واورېدو، ترې پټ شو، خدای نه پوهېدو چې آدم چېرې دئ، غږ ئې ورته وکړ: اې آدمه! چېرې یې؟ له دې هم خبر نه وو چې دوی دواړو هغه ممنوعه مېوه خوړلې ده!!! له آدم علیه السلام پوښتنه کوي: څنګه پوه شوې چې لوڅ یې؟ آیا هغه مېوه مو خوړلې چې ترې منع کړي مې وئ؟!! له دې هم نه وو خبر چې ښځې دا کار کړی!! او له

دې هم چې مار غولولې وه!!

- په دې سزا هم لږ غور وکړئ چې مار ته د دغه غولولو په وجه ورکړی شوه: تل دې په سينه خوځېږې، خاوري دې خوراك شه!! پوښتنه كوو: آيا مار له دې د مخه په سينه نه په پښو خوځېدو؟ دا نور ډېر حيوانات او خزندې چې په سينه خوځېږي هغوی ته د كومې گناه سزا وركړی شوې؟! دا څومره نامعقوله او غلطه خبره ده چې د مار خوراك خاوره ده!! هيڅ مار خاوره نه خوري، د مار خوراك خاوره نه بلكې د مرغانو، موږكانو او چنگښو په څېر حيوانات دي!!
- ښځې ته چې كومه سزا وركړی شوې په دې هم لږ غور وكړئ: د زېږولو د وخت درد دې زيات شه!! د خاوند د اشتياق په اور وسوځې، هغه دې پر تا برلاسی وي!! پوښتنه كوو: دغو بې شمېره حيواناتو ته چې د اولاد زېږولو په وخت كې همداسې د درد احساس كوي، د كومې گناه سزا وركول كېږي؟! د مېږه اشتياق خپلې مېرمنې ته زيات دئ كه د مېرمنې خپل مېړه ته؟ مگر دا اشتياق سزا ده؟ په ټولو ژوو كې دا اشتياق شته، دوی ته د كومې گناه په وجه دا د اشتياق سزا وركړی شوې؟ دا اشتياق خو سزا نه بلكې د الله تعالی يوه لويه پېرزوينه ده، د انسان او حيوان د نسل د دوام يوه ستره وسيله ده، تاسو ولې دې اشتياق ته د سزا په سترگه گورئ؟ قرآن خو د ښځې او مېړه تر منځ دا الفت، مينه او اشتياق د الهي رحمت او پېرزوينې يوه ستره بېلگه گڼي!! آيا دا سمه ده چې د نارينه سلطه او برلاسی پر خپلې مېرمنې ښځې ته سزا وگڼو؟! دا برلاسی يوه طبيعي مسئله ده، په اكثرو حيواناتو كې هم د دې شاهد يو، داسې چې نارينه د ښځې ساتنه او څارنه كوي، ترې دفاع كوي، بل ئې خوا ته نه پرېږدي، اداره كوي ئې،... دا برلاسې نه يوازې ښځې ته سزا نه شو گڼلی بلكې د ښځې لپاره يوه ستره الهي پېرزوينه ده، چرگ له خپلو چرگو دومره دفاع كوي چې پرې زخمي زخمي شي، همداسې بې شمېره نور مرغان او حيوانات، هيڅ عاقل انسان به د بايبل دا وينا د منلو وړ ونه گڼي.

له ۲۰ تر ۲٤ پورې د دې فصل جملې داسې دي:

(خدای د حيوان له پوسته لباس جوړ كړ او آدم او مېرمنې ته ئې ورواغوست، بيا خدای وفرمايل: اوس چې آدم زموږ په څېر شوی او ښه او بد پېژني، بايد پرې ئې نږدو چې د (حيات د ونې) مېوه هم وخوري او تر ابده ژوندی وي، نو خدای دی د عدن له باغه وايست، تر څو ولاړ شي او په هغې زمكې كې كار وكړي چې له خاوري ئې جوړ شوی، په دې توگه ده آدم د عدن له باغه وايست او د عدن د باغ په شرقي برخې كې ئې د اور په داسې سرو تورو سمبال فرشتې وگمارلې چې هري خوا ته څرخي، چې د حيات د ونې لاره خوندي وساتي!!)

د دې كرښو د مطالبو په اړه څو پوښتنې راولاړېږي:

- مخلوقاتو ته د لباس په وركولو كې د الله تعالی سنت داسې نه دئ چې د كوم درزي په

څېر چا ته لباس جوړ کړي او وروائې غوندي، د بايبل ليکوال په دې نه پوهېږي چې د الله تعالی له لوري د لباس ورکولو معنی څه ده!! الله تعالی ټولو حيواناتو، ونو او بوټو ته مناسب مناسب لباس ورکړی، چې هم ئې له يخنۍ ساتي، هم له ګرمۍ او هم له حشراتو او مکروبونو، آدم عليه السلام ته هم د نورو په څېر مناسب لباس ورکړی شوی وو، خو د ممنوعه مېوې په خوړلو سره له هغه لباسه محروم شو، لومړی ئې په پاڼو ځان پټ کړ، بيا د حيواناتو په پوستکي او وروسته وروسته د ده اولاد له وړيو او تاره اوبدل شوې جامې ځان ته جوړې کړې.

- د بايبل ليکوال کله د عدن باغ په زمکې کې ګڼي او کله ئې له زمکې بهر، مخکې ئې ويلي وو چې دا د زمکې شرقي لوري ته واقع دئ، خو دلته وايي چې آدم د عدن له باغه وايستی شو او هغې زمکې ته ولېږل شو چې ترې جوړ شوی!!

- دی خدای داسې معرفي کوي چې نه غواړي د ده په مخلوقاتو کې داسې څوک وي چې په ښه او بد پوهېږي، غوښتل ئې چې آدم عليه السلام د معرفت د ونې مېوه ونه خوري، خو د ده د ارادې خلاف آدم عليه السلام د هغې مېوې په خوړلو موفق شو!! اوس نو دا تدابير سنجوي چې څنګه د دې مخه ونيسي چې آدم عليه السلام د حيات د ونې مېوه هم ونه خوري او د ده لپاره يو تلپاتی حريف او رقيب نه شي!! نو ځکه ئې له يوې خوا آدم عليه السلام د عدن له باغه وايست او له بلې خوا ئې دغې ونې ته د رسېدو په لار کې داسې فرشتې وګمارلې چې په تورو سمبال وي او دا توري هم د اور توري چې هرې خوا ته څرخي او نه پرېږدي څوک ترې تېر شي!! پوښتنه کوو: که دا باغ په آسمان کې وي طبيعي ده چې له آسمانه د آدم له راکوزېدو وروسته هغه باغ ته د ده ننوتل ممکن نه وو، نو په سرو تورو سمبال فرشتې د څه لپاره ګمارل کېدې؟ او که دا په زمکې کې وو نو موږ ته ووايئ چې چېرې دئ اوس خو له داسې پهره دارانو تېرېدل آسانه شوي، که آدم عليه السلام نه شو تېرېدی اولاد ئې اوس کولی شي د حيات ونې ته د رسېدو لپاره په هليکوپټرو سره هلته ځان ورسوي. که عادي خلك دا کار نه شي کولی پاپ ته خو ډېره آسانه ده!!

له دغو بېهوده او چټې خبرو هر څوك په دې پوهېدی شي چې د بايبل ليکوال څوك او د څنګه شخصيت خاوند دئ او د الله تعالی په اړه د ده انګېرنې څومره بې بنسټه دي!!

قرآن د بايبل د دغو غلطو خبرو د ترديد او تصحيح لپاره فرمايي چې الله تعالی آدم عليه السلام د داسې مخلوق په څېر پيدا کړ چې معرفت ئې تر فرشتو ډېر لوړ وو، په هر څه د پوهېدو توان او استعداد ئې ورکړ، په هغه څه ئې د پوهېدو توفيق ورکړ چې فرشتې پرې نه پوهېدې او د همدې معرفت او پوهې په سبب ئې د زمکې خلافت ده ته وسپارو، د معرفت په وجه ئې دی رټلی نه دئ، د ځان رقيب او حريف ئې نه دئ ګڼلی بلکې د زمکې خلافت ئې ورسپارلی او فرشتو ته ئې امر کړی چې ده ته سجده وکړي، بايبل وايي چې فرشتې په سرو تورو د آدم مقابله کوي او قرآن وايي چې فرشتو آدم عليه السلام

ته سجده وکړه او الله تعالی د زمکې او آسمان هر څه آدم علیه السلام ته مسخر کړل.

قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَآ أَنفُسَنَا وَإِن لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٢٣﴾

٢٣- دواړو وویل: اې زموږ ربه! په ځان مو ظلم وکړ، که بخښنه راته ونه کړې او رحم راباندې ونه کړې نو حتماً به له زیانمنو شو.

(٢٣)- په دې مبارك آیت کې موږ ته لارښوونه شوې چې د ګناه د ارتکاب په صورت کې کومه لار غوره کړو، ندامت، توبه، د الله تعالی په وړاندې په خپل جرم اعتراف او د بخښنې او پېرزوینې غوښتنه ترې کول. تر دې د مخه ئې موږ ته له ګناه وروسته د شیطان کړنه راوښوده، په خپلې ګناه ټینګار او اصرار او د ځان د تبرئې هڅه، پایله ئې ذلت، سپکاوی، د الله تعالی له درباره رټنه او شړنه.

رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي:

وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضى الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: " كُلُّ ابْنِ آدَمَ خَطَّاءٌ- وَخَيْرُ الْخَطَّاءِينَ التَّوَّابُونَ " رواه الترمذی

له انس رضی الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: د آدم هر زوی خطاکار دئ، د خطاکارانو غوره ئې توبه کوونکي دي.

قَالَ ٱهْبِطُوا۟ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۖ وَلَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَٰعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿٢٤﴾ قَالَ فِيهَا تَحْيَوْنَ وَفِيهَا تَمُوتُونَ وَمِنْهَا تُخْرَجُونَ ﴿٢٥﴾

٢٤- وئې فرمایل: کوز شئ، ځینې مو د ځینو نورو دښمنان او په زمکې کې تاسو ته ټمځی او تر یوې نېټې ګټه اخیستل دي. ٢٥- وئې فرمایل: په دې کې به ژوند کوئ، په دې کې به مرئ او له همدې به بېرته راایستل کېږئ.

(٢٤-٢٥)- دلته څو ټکو ته پام وکړئ:

- آیا دا خپلمنځې عداوت او دښمني به د شیطان او انسان تر منځ وي که د انسانانو تر منځ، دواړو ته راجع کېدی شي، شیطان به په انسانانو کې داسې ملګري ځان ته پیدا کوي چې د نورو په ضد ئې وجنګوي، د حق او باطل تر منځ جنګ یو تلپاتې جنګ دئ، نه باطل په خپلې خوا کې حق زغملی شي او نه حق باطل، هغه څوك چې ګمان کوي د دغو دواړو تر منځ روغه جوړه ممکنه ده، اشتباه کوي او د الهي سنت خلاف خبره کوي.

● زمکه د انسان لپاره موقتي ځمځی دئ، د دې هر څه د انسان د استفادې لپاره پيدا شوي، هر څه ته به د وسيلې په سترګه ګوري نه د هدف په سترګه، دا به د هدف په لوري د سفر توښه ګڼي، د هغو خلکو په څېر به نه وي چې په زمکې کې موقت استقرار لومړی او وروستی ګڼي او همدا د څو ورځو موقت ژوند ته د لومړي او وروستي ژوند په سترګه ګوري.

● لکه څنګه چې د انسان پيدايښت او مرګ په زمکې کې وي، د بل دائمي ژوند لپاره به هم له همدې زمکې بېرته راپاڅېږي.

يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ قَدۡ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكُمۡ لِبَاسٗا يُوَٰرِي سَوۡءَٰتِكُمۡ وَرِيشٗاۖ وَلِبَاسُ ٱلتَّقۡوَىٰ ذَٰلِكَ خَيۡرٞۚ ذَٰلِكَ مِنۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ لَعَلَّهُمۡ يَذَّكَّرُونَ ٢٦

۲٦- اې د آدم اولاده! يقيناً چې تاسو ته مې داسې لباس درولېږو چې بدن مو پټوي او د ښايست وسيله ده او غوره ئې د تقوی لباس دئ، دا الهي آيتونه دي، ښايي پند واخلي.

(۲٦)- دلته د لباس په اړه څو خبري په پام کې ولرئ:

● پر انسانانو باندې د لباس د نزول معنی دا نه ده چې الله تعالی له آسمانه ورته لباس رالېږلی، بلکې معنی ئې دا ده چې د الله تعالی په حکم انسان ته د لباس انتظام شوی، د لباس توکي هم الله تعالی ورته پيدا کړي او له دغو توکو د لباس جوړولو هنر او استعداد هم الله تعالی ورکړی.

● د لباس يو ډول هغه دئ چې انسان پرې خپل ځان پټوي، له يخني او تودوخې ئې ژغوري، بل ډول ئې د سينګار او ښايست وسيله ده، خو دلته د يوه بل ډول لباس هم يادونه شوې او تر دغو دواړو غوره ګڼل شوی؛ د تقوی لباس، خو د دې معنی څه ده؟ آيا تقوی ته د لباس نوم ورکړی شوی او که ځيني لباس د تقوی د لباس په نامه ياد شوي؟ په الفاظو کې د دواړو تعبيرونو مجال شته، خو وروستۍ توجيه په دې دليل غوره ده چې د بحث موضوع لباس دئ، نه تقوی، په دې توجيه سره د انسان لباس درې ډوله کېدی شي، د ځان پټولو لباس، د سينګار او ښايست جامه او د تقوی لباس، دا ځکه چې عملاً ګورو ځيني لباس د ګناه وسيله وي او ځيني له ګناه د مخنيوي وسيله.

له کومې ورځې چې انسان له لومړنۍ الهي جامې محروم شوی او په خپل لاس د جامو جوړولو ته اړ شوی، نو همدا جامه د انسانانو تر منځ د تفريق، تبعيض او يو په بل د لويي او تېري وسيله ګرځېدلې، نه ګورئ چې په دغه جامه کې څومره ظلمونه کېږي، په عسکري او پوليسي جامو کې هره ورځ څومره بې ګناه انسانان ځورول کېږي، څومره

شريف انسانان د خړو جامو په سبب تحقير کېږي، ځومره ذليل انسانان په فاخره جامو کې تر نورو ځان لوړ ګڼي، نه ګورئ چې يوه له خپلي جامې د ګيدړي پوستکی جوړ کړی خلك پرې غولوي، بل له جامو د پسه په څېر بې آزاره برېښي خو په سينه کې ئې د لېوه زړه او هغه بل به په خپلو جامو سره ځان داسي ښيي چي زمری دئ خو تر ګيدړ به زيات بې زړه او جبون وي. الله تعالی انسان ته د جامو جوړول ورښودلي، د دې لپاره چي ځان له تودوخي او يخنۍ پرې وژغوري او د هغه لباس ئې په درېو ډولونو وېشلی: د ځان پټولو لباس، د ښايست لباس او د تقوی لباس، خو انسان له خپلي جامې يا د غولولو وسيله جوړه کړې، يا د ظلم او تېري وسيله، يا يو په بل د لويي او تکبر ذريعه!!

---

يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ لَا يَفۡتِنَنَّكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ كَمَآ أَخۡرَجَ أَبَوَيۡكُم مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ يَنزِعُ عَنۡهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوۡءَٰتِهِمَآۚ إِنَّهُۥ يَرَىٰكُمۡ هُوَ وَقَبِيلُهُۥ مِنۡ حَيۡثُ لَا تَرَوۡنَهُمۡۗ إِنَّا جَعَلۡنَا ٱلشَّيَٰطِينَ أَوۡلِيَآءَ لِلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٢٧﴾

۲۷- اې د آدم زامنو! پام چي شيطان تاسو ونه غولوي، همغسي لکه چي ستاسو مور پلار ئې له جنته وايستل، جامه ئې ترې ايستله چي بدن ئې وروښيي (ورته لوڅ ئې کړي)، دی او قبيله ئې تاسو په داسي توګهويني چي تاسو ئې نشئ ليدلی، موږ شيطانان د هغو دوستان ګرځولي چي ايمان نه راوړي.

---

(۲۷)- په دې مبارك آيت کې ځو اساسي خبري تر سترګو کېږي:

- انسانانو ته ويل شوي چي د شيطان وسوسو ته تسليم نشي.
- شيطان د دې باعث شو چي د انسانانو لومړني پلار مور له جنت نه ووځي.
- دوی لومړی له جنت ايستل شوي بيا جامه ترې ايستل شوې.
- دا جامه يو ځلي نه ده ترې ايستل شوې بلکي ورو ورو ترې ايستل شوې، د ينزع صيغه همدا مطلب افاده کوي.
- د شيطان هدف دا وو چي انسان لوڅ او بربنډ کړي، دی پوهېدو چي د دې کار پايلي انسان ته ځومره خطرناکي دي، له ده سره د خپلو شيطاني منصوبو په عملي کولو کې ځومره مرسته کوي، ځومره فتنې وربانديراولاړولی شي، د انسان د بې لاري کولو لپاره له دې ځومره استفادې کولی شي!!
- هغه مو داسي خطرناك دښمن دئ چي په هر ګام کې ئې تاسو ته کمين نيولی، تاسو ئې نه ګورئ او هغه مو ويني.

- هغه کسان له شیطان سره دوستي کوي او د وسوسو تر اغېز لاندي ئې ځي چي ايمان نه راوړي، مؤمنان له شیطان سره دوستي نه پالي او نه غواړي د وسوسو تر اغېز لاندي ئې راشي.
- د دې آيت له دغي فقرې ﴿إِنَّهُۥ يَرَىٰكُمْ هُوَ وَقَبِيلُهُۥ مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ﴾ د محققو علماءو انتباه دا ده چي انسانان نشي کولی شیطان او د ده قبیله په خپلو سترګو وګوري، دوی هغه آراء او روايات ضعيف او بې اعتباره ګڼي چي د شیطان په ليدل کېدو ترکيز کوي. د دې آيت الفاظ هومره صريح او واضح دي چي نه شك ته کوم مجال پرېږدي او نه بلي توجيه ته. په قاطع او پرېکنده توګه وايي چي تاسو شیطان او د ده قبیله نشئ ليدی.

---

﴿وَإِذَا فَعَلُواْ فَٰحِشَةً قَالُواْ وَجَدْنَا عَلَيْهَآ ءَابَآءَنَا وَٱللَّهُ أَمَرَنَا بِهَاۗ قُلْ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَأْمُرُ بِٱلْفَحْشَآءِۖ أَتَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٢٨﴾﴾

۲۸- او کله چي د فحش کوم کار وکړي وايي: خپل پلرونه مو پرې ليدلي او الله پرې ګمارلي يو، ووايه: يقيناً چي الله په فحش باندي ګمارنه نه کوي، آيا د الله په اړه هغه څه وايئ چي نه پرې پوهېږئ؟!

---

(۲۸)- ګورئ چي جاهل، مشرك او د شیطان په پل روان خلك له خپلو غلطيو همغسي دفاع کوي چي شیطان ترې کوله، څرګنده ګناه به ئې کړې وي، خو هغه به جائز کار ګڼي او له ځانه به دفاع کوي، وايي به: زموږ پلرونو دا کار کاوو، ولي به هغه څه ته غلط وايو چي زموږ نيکونو کړی؟ دا نه يوازي زموږ د پلار نيکه له دود دستور سره برابر دئ بلکي زموږ مذهبي مشرانو ئې فتوی راکړې او ويلي ئې دي چي الله د دې اجازه درکړې!!

له فحش مراد هره هغه ګناه ده چي بدوالی ئې څرګند وي، په خاصه توګه هغه ګناه چي اغېز ئې بل ته سرايت کوي، دوی داسي ګناهونو ته هم مذهبي توجيهات جوړول.

د دوی او د دوی په شان د نورو خلکو ځواب دا دئ: الله تعالی هيڅکله خپل بندګان په فحش کار نه ګماري، کوم مذهب چي شرك، ظلم، ګناه او د فحش نور کارونه روا ګڼي، شيطاني مذهب دئ نه الهي مذهب، ستاسو دا ادعاء د جهل او ناپوهۍ په وجه ده، په دې نه پوهېږئ چي الله تعالی هيڅکله او په خپل هيڅ کتاب کي خپل بندګان په داسي بدو کارونو نه دي ګمارلي.

---

﴿قُلْ أَمَرَ رَبِّي بِٱلْقِسْطِۖ وَأَقِيمُواْ وُجُوهَكُمْ عِندَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَٱدْعُوهُ مُخْلِصِينَ﴾

لَهُ ٱلدِّينَۚ كَمَا بَدَأَكُمۡ تَعُودُونَ ٢٩

۲۹- ووایه: زما رب د قسط (عدالت کولو) امر کړی، (او دا چې) د سجدې په مهال خپله توجه سیده کړئ او په داسې حال کې ئې عبادت وکړئ چې د دین خالصوونکي وئ، لکه چې په لومړي ځل ئې پیدا کړئ بیا به هم اعاده شئ.

---

(۲۹)- دلته څو خبرو ته توجه ولرئ:

- د مخکینیو خلکو په ځواب کې ویل شوي چې الله تعالی د فحش په کارونو امر نه دئ کړی بلکې دا امر ئې کړی چې قسط او عدل تأمین کړئ، د دعاء او عبادت په مهال خپله توجه د الله په لوري سیده کړئ، په دین کې اخلاص ولرئ او له هر راز ناولتیا او شرك ئې پاك وساتئ او په دې باور ولرئ چې د لومړني ځل په څېر به بیا اعاده کېږئ.
- له دې آیت معلومېږي چې په مخکیني کې له فحش کار مراد ظلم، شرك او له آخرت انکار دئ.
- د (مسجد) صیغه د (مغرب) په څېر هم د مکان لپاره راځي او هم د زمان لپاره، دلته د زمان لپاره راغلې او معنی ئې دا ده چې د هرې دعاء او د هر عبادت په مهال یوازې الله تعالی ته مخه کړئ، بل چا ته مخ مه اړوئ، له بل چا مرسته مه غواړئ، بل چا ته لاس مه اوږدوئ. چا چې تاسو ته ویلي د دعاء په مهال بل چا ته مخ اړول جائز دي، دا د انسان په جامه کې شیطان دئ، دروغ وایي او په الله تعالی پسې افتراء کوي.

د مخلصین له الدین معنی دا ده چې خپل دین الله تعالی ته خالص کړئ، له بل دین سره ئې مه ګډوئ، په الهي دین کې څه مه زیاتوئ او له بل دین او مذهب نه څه مه په کې اچوئ.

---

فَرِيقًا هَدَىٰ وَفَرِيقًا حَقَّ عَلَيۡهِمُ ٱلضَّلَٰلَةُۚ إِنَّهُمُ ٱتَّخَذُواْ ٱلشَّيَٰطِينَ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَيَحۡسَبُونَ أَنَّهُم مُّهۡتَدُونَ ٣٠

۳۰- یوه ډله هدایت شوې او بله ډله داسې چې ضلالت پرې محقق شوی، دوی خو له الله پرته شیطانان خپل اولیاء ونیول په داسې حال کې چې اټکل کوي هدایت شوي دي.

---

(۳۰)- ګورئ چې دلته خلك په دوو ډلو وېشل شوي، هدایت شوې ډله او په ضلالت کې پرېوتې ډله، چا چې الله تعالی خپل مولا نیولی او د الهي دین متابعت کوي، هدایت ئې په برخه شوی، خو څوك چې له الله تعالی پرته، جني او انسي شیطانان، د اولیاوو په توګه نیسي او د هغوی متابعت کوي، لار ورکې دي، که څه هم په ځان د هدایت شوو ګمان

وکړي.

يَـٰبَنِيٓ ءَادَمَ خُذُواْ زِينَتَكُمۡ عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٖ وَكُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ وَلَا تُسۡرِفُوٓاْۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُسۡرِفِينَ ۝٣١

۳۱- اې د آدم اولاده! د هري سجدې په مهال خپل زينت درسره واخلئ (زينتي لباس مو واغوندئ)، وخورئ، وڅښئ خو اسراف مه کوئ، يقيناً چې الله اسراف کوونکي نه خوښوي.

(۳۱)- دلته يوه بل مذهبي ډوله انحراف ته اشاره شوې او مؤمنان ترې منع شوي: او هغه دا چې ځيني شلېدلې، شړېدلې، له راز راز پينو او رنګ رنګ ټوټو جوړه شوې ملنګي او صوفيانه جامه د دعاء قبلېدو او لوړ معنوي مقام ته د رسېدو لپاره شرط ګڼي او ځيني نور بيا رياضتونه او له حلال رزق ډډه کول د معنوي ارتقاء لپاره ضروري ګڼي، هغه چا ته د اهل الله او اولياء الله په سترګه ګوري چې وېښتان ئې ببر، نوکان ئې لوى او له خيرو ډك، جامې ئې ګنده او ناولې، په غرونو، رغونو، سوړو، ورانو او ويجاړو ځايونو کې اوسېږي او له دنيا لاس په سر شوي. قرآن د دغه غلط او انحرافي ذهنيت د تصحيح لپاره فرمايي چې: د عبادت او دعاء په مهال خپله زينتي جامه لري مه غورځوئ، په ښکلې حلالې او جائزي جامې کې دعاء او عبادت کې هيڅ مانع نشته، بلکې غوره دا ده چې ښه، ښکلې او پاکه جامه مو د عبادت او دعاء لپاره مختص کړئ، الله تعالى تاسو نه له ښکلې جامې منع کړي يئ او نه د حلال رزق له خوړلو، د حلال خوراك او څښاك په اړه ستاسو د رب حکم دا دئ چې اسراف مه کوئ، الله تعالى اسراف کوونکي نه خوښوي. دين د دنيا د ښه کولو، ښه تنظيمولو او ښايسته کولو لپاره راغلى، نه د دنيا ترك کولو او له لذتونو ئې د لاس اخيستلو لپاره.

که تاسو بايبل مطالعه کړئ وبه ګورئ چې له څو محدودو پيغمبرانو پرته نور ټول داسي معرفي کوي چې تارك دنيا دي، له خلکو بېل اوسېږي، د اوسېدو ځاى ئې غرونه، سوړې، غارونه، وران او ويجاړ ځايونه دي.

بايبل د حزقيال په کتاب کې د انبياءو په اړه يوه په ښايسته وينا لري چې د دوى د انبياءو څرنګوالى په ګوته کوي، ليکي: اې اسرائيليانو! ستاسو انبياء هغه ګيدړې دي چې ورانو ويجاړو کنډوالو کې اوسېږي، هيڅ ګټه ئې تاسو ته نه ده رسولې، هغوى هيڅکله د ښار د حصار ويجاړې نه دي رغولې، تر څو هغه ورځ د دښمن په وړاندې ودرېږئ چې خداى مقرره کړې!! خوبونه ئې باطل او وړاندويني ئې دروغجني دي، وايي چې پيغام ئې زما له لوري دئ په داسي حال کې چې ما دوى ته څه نه دي لېږلي!! ما هيڅکله له دوى سره خبري نه دي کړې!!! د دغو جعلي خوبونو او دروغو په سبب زه ستاسو په ضد يم او

تاسو به مجازات کړم، دغو شريرو کسانو زما قوم وغولولو، دوی ته ئې وويل: هر څه سم دي، خو داسي نه وه، زما قوم سست دېوال جوړوي او دا دروغجن پيغمبران دوی تشويقوي او په گچ سره دا سست دېوال سپينوي،... زه به دا دېوال نسکور کړم او دوی به ترې لاندي کړم،

بايبل د دعاء په مهال د زيږي او کرباسي جامو سپارښتنه کوي خو تاسو گورئ چي قرآن د دې ترديد کوي.

---

قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِىٓ أَخْرَجَ لِعِبَادِهِۦ وَٱلطَّيِّبَٰتِ مِنَ ٱلرِّزْقِ ۚ قُلْ هِىَ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا خَالِصَةً يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۗ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٣٢﴾

۳۲- ووايه: چا هغه زينتي شيان چي الله خپلو بندگانو ته رااېستلي او پاکيزه رزق حرام کړي؟ ووايه: دا په دنيوي ژوند کې هم د مؤمنانو لپاره دي او د قيامت په ورځ په مختصه توگه (د دوی لپاره دي)، دغسي هغو ته نښې په تفصيل سره بيانوو چي پوهېږي.

---

(۳۲)- له دې مبارك آيت څو اساسي خبري معلومېږي:

- الله تعالی نه ښايسته او زينتي شيان حرام کړي او نه پاکيزه رزق، ځوك چي دا حرام گڼي هيڅ دليل ورته نه لري.
- دا دواړه په اصل کې د مؤمنانو لپاره پيدا شوي، د دوی له کبله نورو ته هم ورکول کېږي، که د زمکي پر سر مؤمنان نه وي نو الله تعالی به د خپلو نعماتو او پېرزوينو لړۍ بندوي.
- د قيامت په ورځ به په مختصه توگه يوازي د مؤمنانو په برخه کېږي.
- له دې حقائقو يوازي ناپوه کسان انکار کولی شي، د پوهي او علم خاوندان پوهېږي چي الله تعالی به ولي هغه څه حراموي چي په خپله ئې د خپلو بندگانو لپاره پيدا کړي؟!

---

قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّىَ ٱلْفَوَٰحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَٱلْإِثْمَ وَٱلْبَغْىَ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ وَأَن تُشْرِكُوا۟ بِٱللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ سُلْطَٰنًا وَأَن تَقُولُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٣٣﴾

۳۳- وواېه: حقيقت دا دئ چې زما رب د فحش کارونو څرګند او پټ ئې، ګناه، ناحقه تېرى، دا چې له الله سره هغه څه شريك کړئ چې هيڅ دليل پرې نه دئ نازل شوى او دا چې الله ته هغه څه منسوب کړئ چې نه پرې پوهېږئ، تحريم کړي.

(۳۳)- په دې آيت کې د جاهلو مشرکينو د باورونو په خلاف لاندې شيان حرام ګڼل شوي:

- فحش کارونه که څرګند وي که پټ.
- ګناه.
- د بل په حق ناروا او ناحقه تېرى.
- له الله تعالى سره هغه څه شريکول چې په هيڅ الهي کتاب کې کوم دليل ورته نشو موندلى.
- الله تعالى ته داسې څه منسوبول چې علم پرې نه لرو.

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٣٤﴾

۳٤- او هر امت ته اجل ټاکل شوى، نو کله چې د دوى اجل راورسېږي؛ نه به يوه شېبه وروسته شي او نه به مخکې شي.

(۳٤)- دلته په څو خبرو غور په کار دئ:

- له اجل مراد د عذاب ثابته نېټه ده که د پيدايښت او زوال ثابته نېټه؟ که دا د عذاب نېټه وګڼل شي؛ نو دا پوښتنه راولاړېږي چې هيڅوك د عذاب د نېټې رامخکې کېدا نه غواړئ، خو که د امتونو د پيدايښت او زوال نېټه ونيول شي داسې پوښتنه نه راولاړېږي، ځکه امت په فکري بنسټونو جوړ شوي ولس ته ويل کېږي نه په قومي او ژبني بنسټ جوړ شوي ولس ته، هر امت؛ که دا د ايمان پر بنسټ جوړ شوى وي او که د شرك او کفر پر بنسټ، په خپل خپل وخت راپيدا کېږي، عروج ته رسي او زوال مومي.
- لکه څنګه چې هر انسان د پيدايښت او مرګ ثابته نېټه لري، همداسې هر امت هم د پيدايښت او زوال ثابته نېټه لري، په خپل وخت راپيدا کېږي او په خپل وخت درومي، نه ئې د پيدايښت نېټه وروسته کېدى شي او نه ئې د زوال نېټه رامخکې کېدى شي. دا نېټې د چا د هوى او هوس په حکم مخکې يا وروسته کېږي نه؛ د الهي ثابتو سننو مطابق په خپل خپل وخت تر سره کېږي.

يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ إِمَّا يَأۡتِيَنَّكُمۡ رُسُلٞ مِّنكُمۡ يَقُصُّونَ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتِي فَمَنِ ٱتَّقَىٰ

وَأَصۡلَحَ فَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ﴿٣٥﴾ وَٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱسۡتَكۡبَرُواْ عَنۡهَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٣٦﴾

۳۵- اې د آدم اولاده! هر کله چې ستاسو پيغمبران درشي چې تاسو ته زما آيتونه بيانوي، نو چا چې تقوی غوره کړه او ځان ئې اصلاح کړ، نو نه به څه وېره پرې وي او نه به غمجن شي. ۳٦- او چا چې زما آيتونه تکذيب کړل او لويي ئې ترې وکړه، دوی دوزخيان دي، په هغه کې تلپاته.

---

(۳۵-۳٦)- په دې دواړو مبارکو آيتونو کې له پيغمبرانو او د دوی له رسالت سره د دوو ډلو چلن توضيح شوی:

- هغه چې په الهي آيتونو ايمان راوړي، د تقوی لار غوره کوي، د الهي احکامو له مخالفت او سرغړاوي ډډه کوي او ځان اصلاح کوي، چې دوی ته د دوو خبرو ډاډ ورکړی شوی: له هيڅ څه دي وېره نه لري، په هيڅ څه به وير نه کوي، دوی داسې لار غوره کړې چې په دې کې له هيڅ څه وېره نه ده په کار، داسې څه به له لاسه ورنه کړي چې تر هغه غوره تر لاسه نه کړي، نو په دې لار کې نه د وېرې لپاره څه مجال پاته دئ او نه د وير لپاره.
- هغه ډله چې د تکبر او غرور په وجه له پيغمبرانو سره د مخالفت او د الهي آيتونو د تکذيب لار غوره کوي، چې تلپاته دوزخ ئې سزا ده.

---

فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوۡ كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِهِۦٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ يَنَالُهُمۡ نَصِيبُهُم مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُنَا يَتَوَفَّوۡنَهُمۡ قَالُوٓاْ أَيۡنَ مَا كُنتُمۡ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِۖ قَالُواْ ضَلُّواْ عَنَّا وَشَهِدُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ أَنَّهُمۡ كَانُواْ كَٰفِرِينَ ﴿٣٧﴾

۳۷- نو تر هغه چا به ستر ظالم څوك وي چې د الله په نسبت د دروغو افتراء وکړي يا ئې آيتونه تکذيب کړي، دوی ته به د کتاب خپله برخه ورورسېږي، تر هغه چې زموږ ملائکې ورشي، چې روح ترې قبض کړي، (ورته) وبه وايي: هغه چېرې دي چې له الله پرته مو ملانځل؟وبه وايي: رانه ورك شوي او په خپل ځان به د دې شهادت ورکوي چې کافران ول.

(۳۷)- د دې مبارك آيت اساسي مطالب دا دي:

- تر هغه چا ستر ظالم نه موندل کېږي چې په درواغو يو څه الله ته منسوب کړي، خپله دروغجنه خبره د الله تعالی خبره وګڼي او د الله تعالی آيتونه تکذيب کړي، هغه دلائل او احکام ونه مني چې الهي کتاب ئې د ده مخي ته ږدي.
- د دوی لپاره چې الله تعالی کوم مهلت مقدر کړی هغه به ئې په برخه شي، تر هغه به فرصت ورکړی شي چې د مرګ نېټه ئې راورسېږي او د الله تعالی له لوري لېږل شوې فرشتې د دوی روح قبضوي.
- دا ملائکې به ورته وواېي: هغه دروغجن معبودان مو چېري دي چې له الله تعالی پرته به مو مرسته ترې غوښته؟
- د دوی ځواب به دا وي: رانه ورك شوي، دلته ئې نه مومو. په دې توګه به په خپل کفر اعتراف کوي.

---

قَالَ ٱدۡخُلُواْ فِيٓ أُمَمٖ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِكُم مِّنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ فِي ٱلنَّارِۖ كُلَّمَا دَخَلَتۡ أُمَّةٞ لَّعَنَتۡ أُخۡتَهَاۖ حَتَّىٰٓ إِذَا ٱدَّارَكُواْ فِيهَا جَمِيعٗا قَالَتۡ أُخۡرَىٰهُمۡ لِأُولَىٰهُمۡ رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ أَضَلُّونَا فَـَٔاتِهِمۡ عَذَابٗا ضِعۡفٗا مِّنَ ٱلنَّارِۖ قَالَ لِكُلّٖ ضِعۡفٞ وَلَٰكِن لَّا تَعۡلَمُونَ ﴿٣٨﴾ وَقَالَتۡ أُولَىٰهُمۡ لِأُخۡرَىٰهُمۡ فَمَا كَانَ لَكُمۡ عَلَيۡنَا مِن فَضۡلٖ فَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَ بِمَا كُنتُمۡ تَكۡسِبُونَ ﴿٣٩﴾

۳۸- وئې ويل: د انسانانو او پېريانو په هغو ډلو کې ننوځئ چې تر تاسو مخکې په اور کې (لوېدلې) دي، کله چې يوه ډله ننوځي په خپلې سيالې ډلې به لعنت وايي، تر هغه چې ټول په کې راغونډ شي، وروستني به ئې د لومړنيو په اړه وايي: اې زموږ ربه! دغو موږ بې لارې کړو نو د اور دوه برابره عذاب ورکړه، وبه وايي: ټولو ته دوه برابره دئ خو نه پوهېږئ! ۳۹- او لومړني به ئې د وروستنيو په اړه وواېي: تاسو پر موږ هيڅ فضيلت نه لرئ، نو د خپلو کړنو له کبله دا عذاب وڅکئ.

---

(۳۸-۳۹)- په دې دواړو مبارکو آيتونو کې چې د دوزخيانو تر منځ د شخړو او يو بل ملامتولو هيبتناکه او عبرتناکه صحنه تمثيل شوې، دا مطالب زموږ مخي ته ايښودل شوي:

- دوزخيان به ډلې ډلې دوزخ ته ننوځي، هره ډله ئې بېل امت او د بېلو دوزخي افکارو او اعمالو څښتنان.

- هره ډله به تر ځان په مخکېنۍ ډلې لعنت وايي.
- کله چې ټول راغونډ شي، وروستني به مخکېني د خپل بې لاريتوب، شرك او كفر او په دوزخ کې د پرېوتو لامل ګڼي او له الله تعالى به دوه برابره عذاب ورته غواړي، د خپلو عملونو سزا هم؛ او د هغو هم چې بې لارې ئې کړل او دوزخ ته ئې ورسول. خو دوى ته به په ځواب کې وويل شي: ستاسو هر يوه ته دوه برابره سزا ده، هر يو مو داسي وو چې په خپله هم بې لارې شوى وو او نور ئې هم بې لارې کړي، هر يو مو د يوه دوزخي لپاره مقلد او د بل لپاره مقتدا وو.
- مخکېني به له ځانه دفاع کوي، دوى ته به په ځواب کې وايي: په هيڅ څه کې ترموږ غوره نه يئ، په خپله مو ګناه کړې اوس د خپلو کړنو سزا وګورئ او خوند ئې وڅکئ.

---

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱسۡتَكۡبَرُواْ عَنۡهَا لَا تُفَتَّحُ لَهُمۡ أَبۡوَٰبُ ٱلسَّمَآءِ وَلَا يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ حَتَّىٰ يَلِجَ ٱلۡجَمَلُ فِي سَمِّ ٱلۡخِيَاطِۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿٤٠﴾

٤٠- يقيناً هغه چې زما آيتونه ئې تکذيب کړل او لويي ئې ترې وکړه، نه به د آسمان دروازې ورته پرانيستل شي او نه به جنت ته ننوځي، تر هغه چې اوښ د ستنې په سپم ننوځي! او همداسې مجرمينو ته سزا ورکوو.

---

(٤٠)- د هغه چا په وړاندې د آسمان دروازې تړل شوې دي، هيڅ څه ئې بر نشي تلى، نه ئې عملپاڼه، نه ئې وينا او نه ئې دعاء او نه به جنت ته د ننوتو شرف تر لاسه کړي چې د الله تعالى آيتونه ئې تکذيب کړي او د الله تعالى د احکامو په وړاندې ئې له اطاعت ځان لوړ ګڼلى او د تکبر او لويي په وجه ئې له ايمان او اطاعت ډډه کړې، جنت ته د دوى ننوتل داسي محال دي لکه د ستنې په سپم چې د اوښ ننوتل محال دي.

---

لَهُم مِّن جَهَنَّمَ مِهَادٞ وَمِن فَوۡقِهِمۡ غَوَاشٖۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤١﴾

٤١- دوى ته به د اور فرش وي او له پاسه ئې د (اور) پرده او برستن؛ او همداسې ظالمانو ته سزا ورکوو.

---

(٤١)- د دغو ظالمانو سزا به دا وي چې له ټولو خواوو به د دوزخ اور احاطه کړې وي، ټولې لارې به پرې بندې وي، دا د دوى د ظلمونو سزا ده.

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَا نُكَلِّفُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٤٢﴾

٤٢- او هغه چې ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې كړي، (په داسې حال كې چې) موږ هېڅوك تر خپل وس په زيات څه نه مكلف كوو، دوی جنتيان دي، په هغه كې تلپاته.

(٤٢)- د جرم او ظلم سزا دوزخ او د ايمان او صالح عمل بدله جنت دئ، هيڅوك په داسې څه نه دئ گمارل شوي چې تر وس ئې لوړ وي، جنت ته د ايمان د خاوندانو او صالحانو داخلېدا ښيي چې الهي احكام د انسان له وس او توان لوړ نه وو، كه لوړ وی نو دوی به هم نه توانېدل چې جنت ته د داخلېدو سند تر لاسه كړي.

وَنَزَعۡنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنۡ غِلٍّ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهِمُ ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ وَقَالُواْ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي هَدَىٰنَا لِهَٰذَا وَمَا كُنَّا لِنَهۡتَدِيَ لَوۡلَآ أَنۡ هَدَىٰنَا ٱللَّهُۖ لَقَدۡ جَآءَتۡ رُسُلُ رَبِّنَا بِٱلۡحَقِّۖ وَنُودُوٓاْ أَن تِلۡكُمُ ٱلۡجَنَّةُ أُورِثۡتُمُوهَا بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٤٣﴾

٤٣- او په سينو كې ئې چې څه رخه وي هغه به وباسو، تر دوی لاندې به ويالې بهېږي او وايي به: ستاينې هغه الله ته دي چې موږ ئې هدايت كړو، كه الله زموږ لارښوونه نه وی كړې نو په دې نه توانېدو چې هدايت شو، يقيناً چې زموږ د رب استازو حق خبره موږ ته راوړې وه او غږ به پرې وشي چې دا مو هغه جنت دئ چې د خپلو عملونو په سبب په ميراث دركړی شو.

(٤٣)- دوزخيان به يو پر بل لعنت وايي خو جنتيان به داسې وي چې سينې ئې له هر راز رخې او كينې پاكې، هيڅا ته به په خپل زړه كې غل و غش نه لري، نه به څا ته د رقيب او دښمن په سترگه گوري، نه به څوك ملامتوي، نه به د هغه مؤمن ورور په اړه په سينه كې رخه لري چې په دنيا كې سره مرور شوي، يو له بل گيله من شوي او د دوی تر منځ خفگان راولاړ شوی وو.

جنت ته ننوتل به د الله تعالی پېرزوينه او احسان او د الهي لارښوونې او هدايت نتيجه گڼي، نه د خپلو عملونو بدله، د الله تعالی شكر او حمد به كوي او دا خبره به كوي: د الله تعالی د استازي په لاس چې موږ ته څه ويل شوي وو ټول حق او رښتيا وو. خو دوی ته به ويل كېږي چې دا جنت ستاسو د ايمان او نېك عمل بدله ده.

وَنَادَىٰٓ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِ أَصۡحَٰبَ ٱلنَّارِ أَن قَدۡ وَجَدۡنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا

فَهَلۡ وَجَدتُّم مَّا وَعَدَ رَبُّكُمۡ حَقّٗاۖ قَالُواْ نَعَمۡۚ فَأَذَّنَ مُؤَذِّنُۢ بَيۡنَهُمۡ أَن لَّعۡنَةُ ٱللَّهِ
عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٤﴾ ٱلَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبۡغُونَهَا عِوَجٗا وَهُم
بِٱلۡأٓخِرَةِ كَٰفِرُونَ ﴿٤٥﴾

٤٤- او جنتيان به دوزخيانو ته غږ کړي: موږ خو هغه څه رښتيني وموندل چي زموږ رب ئې وعده راسره کړې وه؛ آيا تاسو هم هغه څه رښتيني وموندل چي ستاسو رب ئې وعده درسره کړې وه؟ وبه وايي: هو؛ نو يو غږ کوونکی به د دوی تر منځ غږ کړي چي: په دغو ظالمانو دي لعنت وي. ٤٥- په هغو چي د الله له لاري ئې ډډه کوله او کوږوالی ئې ورته لټولو او له آخرته ئې انکار کولو.

---

(٤٤-٤٥)- دلته د جنتيانو او دوزخيانو تر منځ د خبرو يوه صحنه زموږ مخي ته اېښودل شوې:

- جنتيان دوزخيانو ته وايي: الله تعالی چي له موږ سره کومي وعدې کړې وې ټولي رښتيني شوې او موږ ئې مصداق په خپلو سترګو ګورو، آيا تاسو هم د الله تعالی وعدې رښتيني وموندلې؟ ځواب به ئې په لنډه توګه، هو؛ وي.
- په دې وخت کې به يو منادي په جګ غږ ووايي: پر هغو ظالمانو دي لعنت وي چي د الله په لاري له تلو ئې ډډه کوله، نور ئې ترې منع کول، په الهي دين کې به ئې تحريفونه کول، هڅه به ئې کوله چي د دين سمي خبري په کږو واړوي او له آخرته ئې انکار کولو.

---

وَبَيۡنَهُمَا حِجَابٞۚ وَعَلَى ٱلۡأَعۡرَافِ رِجَالٞ يَعۡرِفُونَ كُلَّۢا بِسِيمَىٰهُمۡۚ وَنَادَوۡاْ
أَصۡحَٰبَ ٱلۡجَنَّةِ أَن سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمۡۚ لَمۡ يَدۡخُلُوهَا وَهُمۡ يَطۡمَعُونَ ﴿٤٦﴾ ۞وَإِذَا
صُرِفَتۡ أَبۡصَٰرُهُمۡ تِلۡقَآءَ أَصۡحَٰبِ ٱلنَّارِ قَالُواْ رَبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا مَعَ ٱلۡقَوۡمِ
ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٧﴾ وَنَادَىٰٓ أَصۡحَٰبُ ٱلۡأَعۡرَافِ رِجَالٗا يَعۡرِفُونَهُم بِسِيمَىٰهُمۡ قَالُواْ مَآ
أَغۡنَىٰ عَنكُمۡ جَمۡعُكُمۡ وَمَا كُنتُمۡ تَسۡتَكۡبِرُونَ ﴿٤٨﴾ أَهَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ أَقۡسَمۡتُمۡ لَا
يَنَالُهُمُ ٱللَّهُ بِرَحۡمَةٍۚ ٱدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡكُمۡ وَلَآ أَنتُمۡ تَحۡزَنُونَ ﴿٤٩﴾

٤٦- او د دوی تر منځ به حجاب وي؛ او پر لوړو (ئې ) داسي کسان چي هر يو به له خپلو څېرو پېژني او جنتيانو ته به غږ کړي: سلام پر تاسو! ورداخل شوي به نه وي خو

طمع به ئې کوي. ٤٧- او کله چې ئې سترګې د دوزخیانو په لور واړول شي، وايي به: اې زموږ ربه! د ظالمانو له دې ډلې سره مو يو ځای نه کړې. ٤٨- او اعراف وال به ځينو کسانو ته چې له څېرو ئې پېژني غږ کړي او وبه وايي: نه ستاسو ډېروالي (د مال او پلويانو) هيڅ څه درنه دفع کړی شو او نه ستاسو هغه تکبر او لويي غوښتني. ٤٩- آيا دا همغه خلك دي چې تاسو به لوړه کوله چې الله به خپل رحمت ورپه برخه نه کړي؟ (همغه چې ورته وويل شول:) جنت ته ننوځئ، په داسې حال کې چې نه به وېره درباندې راځي او نه به غمجن شئ.

---

(٤٦-٤٩)- دلته څو خبرې په پام کې ولرئ:

- د جنتيانو او دوزخيانو تر منځ به حجاب وي، د الحديد سورې په ١٣آيت کې ويل شوي... فَضُرِبَ بَيۡنَهُم بِسُورٖ لَّهُۥ بَابُۢ بَاطِنُهُۥ فِيهِ ٱلرَّحۡمَةُ وَظَٰهِرُهُۥ مِن قِبَلِهِ ٱلۡعَذَابُ ١٣ : د دوی تر منځ به داسې دېوال جوړ شي چې دروازه به ئې وي، د ننه ئې رحمت او شا ته ئې عذاب)؛ له دې معلومېږي چې دا حجاب به پرېړ او لوړ دېوال وي، داسې چې نه به جنتيان د دوزخ له لوخړو او بد بوی ځورېږي او نه به دوزخيان د جنت له ښکلو منظرو د لذت او خوند اخيستو مجال تر لاسه کولی شي.

- د دې حجاب پر لوړو به درېيمه ډله خلك ناست وي، دوی به په دواړو ډلو کې داسې خلك ګوري چې له څېرو ئې پېژني، خو دا به څوك وي او څوك به پېژني؟ په دې اړه د مفسرينو مختلف آراء زموږ مخې ته راځي، تر ټولو غوره رأيه دا ده چې دا د مؤمنانو او کافرانو تر منځ هغه درېيمګړې ډله ده چې له يوې خوا سره ئې هم په قطعي توګه د ملګرتيا پرېکړه نه وه کړې، په مؤمنانو کې ئې هم پېژندګلوي او دوستانه تعلقات درلودل او په کافرانو کې هم، خو نه له مؤمنانو ګډ کېدل چې جنت ته تللي وی او نه له کافرانو چې اوس په دوزخ کې ورسره يوځای شوي وی، دوی به هم جنتيان ويني او هم دوزخيان، جنتيانو ته به غږ کړي: سلام پر تاسو! دا طمع به کوي چې جنت ته داخل شي، خو کله چې د دوی سترګې د دوزخيانو په لور واوړي، وايي به: اې زموږ ربه! د ظالمانو له دې ډلې سره مو يو ځای نه کړې.

- دوی به ځينو دوزخيانو ته چې له څېرو ئې پېژني غږ کړي او وبه وايي: نن خو نه د مال او پلويانو ډېروالي څه ګټه درورسوله او نه ستاسو هغه مخکيني تکبر او لويي غوښتني. آيا دا جنتيان همغه خلك نه دي چې تاسو به لوړه کوله چې الله به خپل رحمت ورپه برخه نه کړي؟ (همغه چې ورته وويل شول:) جنت ته ننوځئ، په داسې حال کې چې نه به وېره درباندې راځي او نه به غمجن شئ.

د اعراف والو په اړه به د الله تعالی وروستۍ فيصله څه وي؟ په قرآن کې په دې اړه

څه نه دي ويل شوي، ځينو رواياتو ته په پام سره ځيني مفسرين په دې نظر دي چي دا هغه خلك دي چي نېك او بد عملونه ئې سره برابر وو او په پای کې به جنت ته ورومي.

وَنَادَىٰٓ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِ أَصۡحَٰبَ ٱلۡجَنَّةِ أَنۡ أَفِيضُواْ عَلَيۡنَا مِنَ ٱلۡمَآءِ أَوۡ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُۚ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ حَرَّمَهُمَا عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٥٠﴾ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ دِينَهُمۡ لَهۡوٗا وَلَعِبٗا وَغَرَّتۡهُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَاۚ فَٱلۡيَوۡمَ نَنسَىٰهُمۡ كَمَا نَسُواْ لِقَآءَ يَوۡمِهِمۡ هَٰذَا وَمَا كَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَجۡحَدُونَ ﴿٥١﴾

٥٠- او دوزخيان به جنتيانو ته غږ کړي چي پر موږ خو لږ اوبه يا هغه څه چي الله تاسو ته درکړي راتوی کړئ! وبه وايي: يقيناً الله دا پر کافرانو حرام کړي. ٥١- پر هغو چي لهو او لعب ئې ځان ته دين گرځولی وو او دنيوي ژوند دوکه کړي ول، نو نن به ئې داسي هېر کړو لکه چي دوی له خپلي دغي ورځي سره مخامخېدا هېره کړې وه او زموږ له آيتونو ئې انکار کاوو.

(٥٠-٥١)- دلته يو ځل بيا د دوزخيانو وينا او غوښتنه له جنتيانو په دې توگه ياده شوې: دوزخيان به ټيټ د دوزخ د کندي په تل کې او جنتيان به لوړ په جنت کې وي، له لاندي به دوی ته غږ کړي او دا طمع به ترې وکړي چي لږ اوبه يا هغه خواړه پرې توی کړي چي الله تعالی دوی ته ورکړي، خو جنتيان به ورته ووايي: الله تعالی دا پر کافرانو حرام کړي، پر هغو کافرانو چي: دين ئې لهو او لعب وو، دنيوي ژوند دوکه کړي ول او آخرت ئې هېر کړی وو، نن به الله تعالی همغسي دوی ته توجه نه کوي لکه چي دوی له الله تعالی سره مخامخېدا هېره کړې وه او له الهي آيتونو ئې انکار کولو.

وَلَقَدۡ جِئۡنَٰهُم بِكِتَٰبٖ فَصَّلۡنَٰهُ عَلَىٰ عِلۡمٍ هُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿٥٢﴾

٥٢- او بې شکه چي داسي کتاب مو ورته راوړ چي علماً مو مفصل بيان کړی، هغو خلکو ته لارښود او رحمت چي ايمان راوړي.

(٥٢)- دلته د قرآن څو اساسي مواصفات بيان شوی:

- دا کتاب مفصل دئ او ټولي ويناوي ئې علمي، هر څه په تفصيل سره په کې بيان شوي، په هري وينا کې ئې د علم او پوهي مظاهر څرگند او ښکاره.
- د مؤمنانو لپاره لارښود او د الهي پېرزوينو او رحمت سبب.

هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا تَأْوِيلَهُۥ ۚ يَوْمَ يَأْتِي تَأْوِيلُهُۥ يَقُولُ ٱلَّذِينَ نَسُوهُ مِن قَبْلُ قَدْ جَآءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِٱلْحَقِّ فَهَل لَّنَا مِن شُفَعَآءَ فَيَشْفَعُوا۟ لَنَآ أَوْ نُرَدُّ فَنَعْمَلَ غَيْرَ ٱلَّذِى كُنَّا نَعْمَلُ ۚ قَدْ خَسِرُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ ﴿٥٣﴾

**٥٣- نو آيا له دې پرته د بل څه انتظار كوي چي تأويل او مصداق ئې ورته راشي؟! كومه ورځ چي تأويل ئې راشي هغه كسان چي تر دې د مخه ئې هېر كړى وو، وايي به: بې شكه چي زموږ د رب استازو حق وينا راوړې وه، نو آيا داسي كوم شفيع لرو چي زموږ لپاره شفاعت وكړي، يا بېرته وگرځول شو چي د خپلو مخكينيو كړنو مغاير عمل وكړو، يقيناً چي ځان ئې تاواني كړ او هغه څه ترې ورك شول چي له ځانه به ئې افتراء كول.**

---

(٥٣)- دلته د قرآن د منكرينو په اړه څو اساسي خبري شوې:

- په قرآن كې هر څه په پوره تفصيل او وضاحت سره ورته بيان شوي، داسي كوم دليل نه دئ پاته چي د دوى د اقناع لپاره ئې وړاندي كول ضروري او گټور وي، اوس نو دوى له دې پرته د بل څه انتظار نشي درلودى چي د دې قرآن د ويناوو عملي مصداق په خپلو سترگو وگوري.
- كله چي د قرآن د وعد او وعيد عملي مصداق په خپلو سترگو وگوري نو په دې به اعتراف كوي چي د پيغمبرانو عليهم السلام وينا حق وه.
- هلته به د مزعومو شفعاءو لټه وكړي خو هيڅ شفيع به ونه مومي.
- دنيا ته د بېرته گرځېدو طمع به كوي، له دې ژمني سره چي بيا به خپل غلط كارونه نه تكراروي، خو نه به ئې طمع تر سره شي او نه به ئې ژمني ته اعتناء وشي.
- ځان ته به ئې تاوان رسولى وي.
- هغه څه به په نظر نه ورځي چي له ځانه به ئې افتراء كول، هغه دروغجن معبودان او مزعوم شفيعان به نه مومي چي له ځانه ئې په افتراء سره معبود او شفيع جوړ كړي ول.

---

إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ يُغْشِى ٱلَّيْلَ ٱلنَّهَارَ يَطْلُبُهُۥ حَثِيثًا وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ

مُسَخَّرَٰتِۭ بِأَمۡرِهِۦٓۗ أَلَا لَهُ ٱلۡخَلۡقُ وَٱلۡأَمۡرُۗ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٥٤﴾

٥٤- يقيناً چې ستاسو رب هغه ذات دئ چې آسمانونه او زمكه ئې په شپږو ورځو كې پيدا كړل، بيا ئې پر عرش استواء وكړه، شپه پر ورځ راكاږي (پرې پټوي ئې)، داسې چې په تلوار ئې لټوي او لمر، سپوږمۍ او ستوري ئې چې د ده امر ته منقاد دي، په دې پوه شه چې هم خلقت (پيدايښت) ده ته دئ او هم امر (چاري سمبالول)، د عالمونو پالونكى الله چې بركتناك دئ.

---

(٥٤)- قرآن په دې مبارك آيت سره څو ډېرې مهمې او اساسي لارښوونې د خپل مخاطب په وړاندې ږدي:

- ستاسو رب هغه ذات دئ چې آسمانونه او زمكه ئې په شپږو ورځو (مرحلو) كې پيدا كړل.
- د دوى له پيدايښت وروسته ئې د ټول عالم د ادارې، ساتنې او پالنې چارې په خپل اختيار كې واخيستې او د مطلق ټولواك په توگه ئې د عالم د سلطنت پر عرش استواء وكړه.
- دا د ده د ټولواكۍ نښه او بېلگه ده چې شپه پر ورځ راكاږي، داسې چې په تلوار ئې لټوي.
- دا هم د ده د ټولواكۍ بله بېلگه ده چې لمر، سپوږمۍ او ستوري ئې امر ته منقاد دي، همغه كار كوي او په همغه لار درومي چې الله تعالى ئې امر ورته كړى.
- په دې پوه شه چې هم خلقت يعني پيدايښت ده لره مختص دئ، په دې كې بل شريك نه لري او هم امر يعني چارې سمبالول چې په دې كې هم هيڅ شريك نلري.
- الله تعالى مبارك او د عالمونو پالونكى او ساتونكى دئ.
- د دې مبارك او ډېر مهم آيت په اړه څو خبرې په پام كې ولرئ:
- په دې مبارك آيت كې د يوم، استواء او عرش الفاظ گورو چې په اصل كې انسانانو د ښكاره او څرگندو شيانو لپاره وضع كړي، خو په دې آيت كې د دې مطلب د افادې لپاره راغلي چې دا زمكه او آسمان په شپږو مرحلو كښې پيدا شوي، الله تعالى د هر څه مالك او ټولواك دئ او هر څه ئې تر واك او عرش لاندې دي، د استوى على العرش معنى په خپله په دې آيت كې او له همدې فقرې وروسته راغلې او هغه دا چې:

(يُغۡشِي ٱلَّيۡلَ ٱلنَّهَارَ يَطۡلُبُهُۥ حَثِيثٗا وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتِۭ بِأَمۡرِهِۦٓۗ أَلَا لَهُ ٱلۡخَلۡقُ وَٱلۡأَمۡرُۗ).

خو لكه څنگه چې دلته (يوم) د هغې ورځې په معنى نه شو اخيستى چې دولس

ساعته کېږي، همدا راز عرش او استواء هم په متبادره معنی نشو اخیستی، قرآن موږ ته لارښوونه کوي چي د الله تعالی په وړاندي کله ورځ له زرو کلونو سره برابره وي او کله له پنځوسو زرو سره، دا ئې هسي دوه مثالونه دي، هدف دا دئ چي د انسان واړه معیارونه د الله تعالی په اړه صدق نه کوي، دلته شپږ ورځي داسي شپږ مرحلې په ګوته کوي چي له الله تعالی سره ښايي.

د قرآن دا وینا په حقیقت کې د بایبل د هغې غلطي ادعاء تردید کوي چي وايي: الله تعالی په شپږو ورځو کې ټول مخلوقات پیدا کړل، په دې کار سره ستومانه شو او په اُومه ورځ ئې آرام وکړ، د بایبل د پیدایښت د باب دوهم فصل په دې خبري پیل کېږي: (په دې ترتیب آسمانونه، زمکه او څه چي په دوی کې دي تکمیل شول، د اُومي ورځي په رارسېدو سره خدای د پیدایښت کار تمام کړ او له کاره ئې لاس واخیست، خدای اُومي ورځي ته برکت ورپه برخه کړ او هغه ئې مقدسه وبلله، دا ځکه چي دا هغه ورځ وه چي خدای د پیدایښت د کار له بشپړولو وروسته آرام وکړ. په دې توګه آسمانونه او زمکه پیدا شول)!!

بایبل په دې وینا سره له خدایه داسي څوك جوړ کړی چي په خپل ټول عمر کې ئې شپږ ورځي کار کړی، په همدغو شپږو ورځو کې ئې د پیدایښت کار بشپړ کړی او د اُومي ورځي په رارسېدو سره له خپله کاره فارغ شوی، د زمکي او آسمانونو ټول کارونه ئې خپلي مخي ته پرېښي! او ده د خپلي ستړیا رفع کولو لپاره آرام کړی، بایبل دا هم نه وايي چي دا آرام یوازي د همدغي ورځي دولس ساعته وو که تر ننه دوام لري، د بیان له الفاظو خو داسي معلومېږي چي د خدای کار په شپږو ورځو کې بشپړ شوی، له کاره ئې لاس اخیستی، داسي کوم کار نه دئ پاته چي د بایبل خدای ئې د کولو لپاره راپورته شي او خپله رخصتي پای ته ورسوي!!

دوی خدای په انسان قیاس کړی؛ لکه څنګه چي انسان د خپلي ستړیا رفع کولو لپاره په اونۍ کې یوې ورځي رخصتۍ ته ضرورت لري همدا راز د بایبل خدای هم باید انسان ته ورته وي، شپږ ورځي ئې کار کړی او اُومه ورځ آرام!! آیا کوم عقلمن انسان به هغه څوك د خدای په توګه ومني چي ستړی کېږي او آرام ته ضرورت لري؟!

موږ خو عملاً ګورو چي د پیدایښت لړۍ په مسلسل او پر له پسې توګه روانه ده، یوه شېبه په کې توقف نه راځي، د دې هستۍ هري خوا ته چي مخ اړوو، ګورو چي هر څه له هیڅ پیل شي، ورو ورو ستر شي، د کمال په لوري وده ورکړی شي، د خپلي ارتقاء او کمال آخري پوړ ته ورسولی شي، یو ضروري او لازم کار ورباندي تر سره شي، یو ضرورت ورباندي رفع کړی شي، یوه تشه او خلا ورباندي ډکه کړی شي، بیا ئې زوال پیل شي، په زړښت او مرګ محکوم شي او ځای ئې بل ته تش کړی شي، زوړ او کمزوری ختم شي او ځوان او ځواکمن ته خپل ځای پرېږدي، دا کار هره شېبه، هري خوا ته تکرارېږي، د دې مظاهرو تر شا خو موږ ته د خالق او پیدا کوونکي ذات د مسلسل تصرف، ربوبیت او پالني نښي او آثار په نظر راځي، د بایبل پلویان دي موږ ته ووايي چي دا کارونه څوك کوي؟ په خپله تر

سره کېږي، که ئې الله تعالی تر سره کوي؟

تاسو د بايبل دا کچه وينا د قرآن له دې وينا سره مقايسه کړئ چي د الله تعالی په اړه فرمايي:

يَسْـَٔلُهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِى شَأْنٍ ﴿٢٩﴾ الرحمن:٢٩

د آسمانونو او زمکي هر څه ده ته خپلي غوښتني وړاندي کوي (له ده د خپلو غوښتنو تر سره کېدل غواړي)، دی هره ورځ په يوه کار کي لګيا دئ (يعني هغه هره شېبه په چارو کي د تصرف په حالت کي دئ)

يعني الله تعالی د زمکي او آسمانونو د ټولو مخلوقاتو اړتياوو ته په خپله ځواب وايي، دی ئې ضرورتونه رفع کوي او اړتياوي ئې پوره کوي. د دې عالم هر کار، هره شېبه، په خپله مالك الملك خدای تر سره کوي، الله تعالی داسي نه دئ چي د دنيا کارونه ئې خپلي مخي ته پرېښي وي او دی هيڅ تصرف په کي نه کوي، بلکي هر کار، که ستر وي او که ووړ، د ده په اراده، إذن، حکم، قدرت او مخامخ تصرف سره تر سره کېږي، هغه يوه شيبه هم د عالم د چارو له اداري، پالني او ساتني نه غافل کېږي.

همدا راز د البقرې سورې په ٢٥٥ آيت کي فرمايي:

... وَسِعَ كُرْسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ ۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْعَظِيمُ ﴿٢٥٥﴾

د قدرت او واکمنۍ) کرسۍ ئې پر آسمانونو او زمکي حاوي ده او د دوی دواړو (زمکي او آسمان) ساتنه ئې نه ستومانه کوي او هغه ستر لوړ ذات دئ

بايبل په بل ځای کي ليکي: د سبت ورځ په ياد لره او سپېڅلې ئې ګڼه... په دې ورځ به هيڅ کار نه کوئ... دا ځکه چي خدای په شپږو ورځو کي آسمان، زمکه او... راپيدا کړل او په اُومه ورځ ئې له کاره لاس واخيست... نو ده دا ورځ د استراحت ورځ ونوموله...

خو قرآن د بايبل د دې غلطي خبري په ځواب کي فرمايي چي الله تعالی د آسمانونو او زمکي له پيدا کولو وروسته د چارو واګي په خپل لاس کي ونيولې، د ټول کائنات د سلطنت پر عرش ئې استواء وکړه، هغه هم خالق دئ او هم ټولواك، لکه څنګه چي د مخلوقاتو پيدايښت د ده ځانګړتيا ده، همدا راز واکمني او د عالم د چارو سمبالول د ده کار دئ، شپه او ورځ د ده په امر ځي راځي، لمر، سپوږمۍ او ستوري دی اداره کوي، الله تعالی هم خالق دئ او هم پالونکی او ساتونکی.

ګورئ چي قرآن دا عالم داسي معرفي کوي چي د الله تعالی ملك دئ، دی ئې واکمن دئ، هر څه د ده په امر او حکم تر سره کېږي، که لمر راخېژي او لوېږي، که ورېځي په آسمان کي خوځي، باران او واوره ترې ورېږي، که ونه او بوټی له زمکي راټوکېږي او دانه او مېوه ورکوي، که ژوي پيدا کېږي، ستر کېږي او مري، هر څه او هر کار الله تعالی کوي، د ده په امر او توفيق تر سره کېږي. د بايبل دا خبره له بنسټه ردوي چي الله تعالی د عالم له پيدايښته وروسته د نوي پيدايښت لړۍ متوقف کړه، ستومانه شو او آرام ئې وکړ!! ګورئ

چې د الله تعالی په اړه د بایبل وینا څومره ناقصه او د واقع خلاف ده او د قرآن وینا څومره جامع او د حقیقت مطابق، آیا یو عقلمن انسان به هغه خدای ومني چې ستومانه کېږي او آرام کولو ته اړ کېږي او د خپل ملك چاري او واګې خپلې مخې ته پرېږدي؟!!

الله تعالی په اونۍ کې یوه ورځ د دې لپاره د تعطیل او رخصتۍ ورځ نه ده ګرځولې چې ده په خپله عالم په شپږو ورځو کې پیدا کړ او اُومه ورځ ترې وزګار شو او آرام ئې وکړ!! الله تعالی عالم پیدا کړی او له پیدا کولو وروسته ئې د دې عالم چارې په خپل واك کې نیولې، د عالم تر پیدا کولو د دې عالم ساتل او پالل که ګران کار نه وي نو آسان خو په هیڅ صورت کې نه دئ، قرآن فرمایي چې الله تعالی هم د دې عالم خالق دئ او هم ئې ټولواك، مالك او حاکم، په دې سره د بایبل د دغې غلطې وینا تردید شوی چې الله تعالی په انسان قیاسوي، ستومانه کېږي او استراحت ته ضرورت لري!! د انسان لپاره په اونۍ کې یوه ورځ د عبادت لپاره مختص شوې، د یهودانو لپاره هفته، د مسیحیانو لپاره یکشنبه او د مسلمانانو لپاره جمعه، پر مسلمانانو د جمعې لمونځ فرض شوی، په دې ورځ به ټول په جومات کې راغونډېږي، په جماعت سره به لمونځ کوي او د جمعې د ورځې هغه خطبه به اوري چې د امام او د هغه د نائب له لوري ورکول کېږي او په هغې کې د تېرې اونۍ ټولې مهمې او اساسي مسئلې څېړل کېږي. په دې ورځ به یوازې د لمانځه لپاره خپل کارونه متوقف کوي، له لمانځه وروسته خپل کارونه د نورو ورځو په څېر کولی شي!!

راشئ دا هم وګورئ چې بایبل د خدای، عرش او د عرش د حمله وو په اړه څه وایي؟ بایبل د حزقیال په کتاب کې او د حزقیال د رؤیا په ضمن کې لیکي: (... بیا د لوخړو له منځه څلور عجیب موجودات چې انسان ته ورته ول راڅرګند شول، خو هر یوه څلور مخونه او دوه جوړې وزرونه درلودل، پښې ئې هم د انسان پښو ته ورته وې، خو ګوتې ئې د سخوندر نوك ته ورته وې او د ځلانده فلز په څېر ځلېدلې، د هر وزر لاندې مې انسان ته ورته لاسونه لیدل، د وزرونو پای ئې سره وصل وو، مخامخ به ئې تګ کاوو پرته له دې چې راوګرځي!! هر یوه څلور مخونه درلودل: مخکینی ئې د انسان د مخ په څېر، ښی ئې د زمري په څېر، کیڼ ئې د غوايي په څېر او شاتنی ئې د عقاب په څېر!! هر یوه دوه جوړې وزرونه درلودل، چې یوه جوړه ئې پرانیستلې وه او د بل موجود د وزرونو څوکو ته به رسېدل او بلې جوړې د دوی بدن پوښلی وو، کوم ځای ته چې به د دوی روح تله په همغه لوري به تلل، له دې پرته چې بل لوري ته کاږه شي!! د دغو موجوداتو په منځ کې د بلو سکروټو په څېر شیان خوځېدل، چې له منځه ئې برېښنا راوته، دا ژوندي موجودات هم د برق په څېر تېز تېز مخکې شا ته خوځېدل،... څلور څرخونه مې ولیدل، تر هر یوه لاندې یو څرخ، د زبرجدو په څېر ځلېدل او یو بل ته ورته ول، د هر څرخ منځ کې بل څرخ وو، د همدې لپاره په دې توانېدل چې په هر لوري وخوځېږي، پرته له دې چې راوڅرخي، څرخونو داسې پرې درلودې چې له سترګو ډکې وې،... کله چې به دغه موجودات خوځېدل نو څرخونه به هم ورسره خوځېدل، چې له زمکې به پورته کېدل نو څرخونه به

ورسره پورته کېدل او چي ودرېدل به نو څرخونه به هم ودرېدل، دا ځکه چي د دغو څلورو موجوداتو روح په څرخونو کي هم وه، نو دا موجودات او څرخونه د خپلي روح تر حکم لاندي ول،... د هر یوه د سر له پاسه صفحې ته ورته څه خور وو چي د شیشې په څېر به ځلېدو او انسان به ئې وېراوو، د دغي صفحې لاندي د دوی وزرونه داسي پرانیستي وو چي د یوه وزر به د بل وزر ته رسېدو،... کله چي به الوتل نو غږ به ئې داسي وو لکه د ساحل د څپو غږ، یا د خدای غږ یا د یوه لوی لښکر چیغي، کله چي به ودرېدل نو وزرونه به ئې راټیټ کړل، له هر ودرېدو سره به د صفحې له سر یو غږ اورېدل کېدو، د صفحې په سر د یوه ښکلي پاچاییـ تخت په څېر یو شیء تر سترګو کېدو، داسي لکه چي له شنو یاقوتو جوړ شوی وي او د دې تخت له پاسه داسي ذات ناست وو چي انسان ته ورته وو، له ملا پورته داسي برېښېدو لکه په اور کي سور شوی فلز او له ملا لاندي لکه د اور ځلاندي لمبې، شاوخوا ئې نور راتاو وو او په دې نور کي د بوډۍ د ټال (قوس قزح) ټول رنګونه تر سترګو کېدل، د خدای پرتمین حضور داسي ما ته راڅرګند شو، کله چي ما دا صحنه ولیده، په سجده پرېوتم، )

دلته بایبل د تل په څېر خدای له انسان سره تشبیه کړی، له انسان سره ئې توپیر یوازي په دې کي دی چي (له ملا پورته داسي برېښېدو لکه په اور کي سور شوی فلز او له ملا لاندي لکه د اور ځلاندي لمبې، شاوخوا ئې نور راتاو وو...)، عرش ئې د پاچایانو ښکلي تخت ته ورته، د عرش حمله ئې داسي څلور فرشتې چي هر یو ئې څلور سرونه او څلور وزرونه لري، یو سر ئې انسان ته، بل ئې زمري ته، بل ئې غوایي ته او بل ئې عقاب ته ورته دئ!!! یو پیغمبر خو پرېږده هیڅ مؤمن انسان به د الله تعالی په اړه نه داسي خوب وګوري او نه به په خپل ذهن کي داسي غلط او ناقص انځور جوړ کړي!!

ما ته د بایبل دا وینا داسي برېښي لکه چي د انسان د سر په یوه وېښته باندي ناست یو ویروس بل ته وایي: خدای زموږ په څېر دئ، همداسي ګرد مرد، نه سر لري نه پښې، ځان ته ئې کتلي او موږ ئې د خپل ځان په څېر جوړ کړي یو، تر موږ ښایسته او ښکلی مخلوق به چېري وي چي خدای به هغه د ځان په څېر جوړ کړی وي؟! آیا خدای به د دغه لوی او بې عقله ځناور (انسان) په څېر وي چي موږ ئې د وېښته په سر ناست یو، یوې خوا بلي خوا ته ځغلو او هغه پرې خبریږي هم نه؟!! سترګي ئې دومره کمزورې دي چي موږ نه ویني، غوږونه ئې دومره درانه دې چي زموږ غږ نه اوري!! دا به د ډایناسور په څېر له منځه ځي!! بې شکه چي خدای به زموږ په څېر وي او تخت به ئې هم زموږ د پاچا تخت ته ورته، چي وزر لرونکي بکتریا به ئې له یوه ځایه بل ځای ته په خپلو اوږو وړي!!! له موږ د خدای توپیر یوازي په دې کي دی چي هغه خدای دئ او موږ ویروس، د هغه بدن ځلېږي او زموږ نه ځلېږي!!!

د کوم احمق انسان عقل به په دې قانع شي چي ستر خدای، د دې ستر عالم خالق، ټولواك، ساتونکی او پالونکی رب، د وړوکي انسان په څېر دئ، د پاچایانو په څېر تخت

باندي ناست دئ، دا تخت ئې څلور، څلور سري فرشتې په اوږو وړي؟!!!

د بايبل ليکونکي اوربېدلي چي خدای اوربېدونکی او ليدونکی دئ، هر څه ويني او هر څه گوري، خپلو پيغمبرانو ته ئې وحي لېږلې، دوی ته ئې لارښووني کړې، خپل احکام ئې ورته بيان کړي،... د تورات او انجيل له دغو اظهاراتو ئې دا انتباه اخيستې چي خدای حتماً د انسان په څېر دئ، همداسي دوه سترگي، دوه غوږونه، دوه لاسونه او دوه پښې لري، نو ځکه ئې مخکې هم ويلي چي خدای انسان د ځان په څېر پيدا کړ او دلته د حزقيال په رؤيا کې هم خدای انسان ته ورته گڼي!! ده اوربېدلي چي خدای د عرش خاوند دئ، نو ځکه ئې دلته د خدای عرش د زمکې د پاچايانو له تخت سره تشبيه کړی!! هغه په دې نه پوهېږي چي په اصلي تورات او انجيل کې د الله تعالی د عرش يادونه د دې مطلب د افادې او بيانولو لپاره شوې چي الله تعالی د عالم ټولواك دئ او هر څه د ده په حکم تر سره کېږي!! ده د تورات او انجيل دا خبره اوربېدلې چي الله تعالی فرمايي: که تاسو ايمان او تقوی ولرئ زه به مو يوازي نه پرېږدم، له تاسوه سره به وم او ستاسو مرسته او ملاتړ به کوم، هغه له دې وينا دا نظريه راايستلې چي خدای له اسرائيليانو سره دئ، په دوی کې اوسېږي، چي چېري دوی ځي خدای ورسره ځي، نو کله چي دوی په بېديا کې په خېمو کې اوسېدل خدای ته ئې هم د ځان په څېر خو ډېره ښکلې او قيمتي خېمه او په خېمې کې خاص ځای د قدس الاقداس په نامه جوړ کړ او کله چي په فلسطين کې ځای پر ځای شول نو مجلل کور ئې، د پرېمانه سرو او سپينو زرو په کارولو سره ورته جوړ کړ، له دې وروسته خدای له آسمان راکوز شو او پرېکړه ئې وکړه چي د تل لپاره به په دغه کور کې د اسرائيليانو خوا ته اوسېږي!!! په مجازي توگه کارول شوي الفاظ ئې په اصلي معنی ونيول او د الهي کتابونو آيتونه ئې غلط تعبير او تفسير کړل!!

د تورات او انجيل په شمول په ټولو الهي کتابونو کې د الله تعالی د صفاتو او د عرش په څېر د داسي شيانو په اړه هم بحث شوی چي د انسان له نظره پټ دي او انسان په خپل قاموس کې د هغه لپاره نوم نه لري، دا ځکه چي انسان په خپل قاموس کې يوازي د هغو شيانو لپاره نوم لري چي دی ئې پېژني او په خپلو سترگو ئې گوري او د غيبي شيانو لپاره نومونه نه لري، که څوك وغواړي د انسان په ژبه دا غيبي شيان معرفي کړي نو له دې پرته بله لار نه لري چي د تشبيه له فن کار واخلي او د انسان د قاموس موجود الفاظ وکاروي، په الهي کتابونو کې دغه تشبيه او مجاز کارول شوي او په دې سره انسان ته د عالم غيب په اړه نسبي پوهه ورکړی شوې، کم عقلو او غرضي خلکو دغه تشبيه او په هغه کې کارول شوي الفاظ په اصلي معنی اخيستي!! داسي لکه چي د بايبل ليکونکي د الله تعالی له عرش د پاچا ښکلی تخت جوړ کړی، خپل خدای ئې د يوه پاچا په څېر ورباندي کښېنولی او له فرشتو ئې څلور سرې موجودات جوړ کړي، چي دا تخت پر اوږو وړي او خدای له يوه ځای بل ځای ته لېږدوي!! د بايبل ليکونکي هڅه کړې چي په دې بيان سره د مسيحيانو او يهودانو دې پوښتني ته ځواب ووايي چي خدای څنگه له يوه ځايه بل ځای

ته ځان رسوي!! دا دئ هغه پیاوړي فرشتې ئې له یوه ځایه بل ځای ته رسوي چې هم د انسان هوښیارتیا لري، هم د عقاب وزرونه، هم د غوایي زور، هم د زمري مضبوطې پښې او هم خدایي روح!! له انسان سره د الله تعالی په اړه یوه پوښتنه دا ده چې خدای چېرې دئ؟ څه کوي؟ له دې عالم سره ئې تعلق څنګه دئ؟ که څوك وغواړي چې دغه پوښتنه ځواب کړي او په دې ئې پوه کړي چې الله تعالی دا عالم اداره کوي، ساتنه او حفاظت ئې کوي، دلته هر څه د ده په حکم تر سره کېږي... د دغه مطلب د افادې تر ټولو غوره او یوازینۍ طریقه دا ده چې هغه ته وویلی شي: خدای د دې عالم ټولواك، پاچا او حاکم دئ، لکه څنګه چې د یوه ځا د پاچا کېدو په اړه وایي: د پاچایۍ پر تخت کښېناستو، یعني د دې ملك او هېواد ټولواك او پاچا شو او له دې وروسته به ټول کارونه د ده په امر تر سره کېږي، په الهي کتابونو کې دغه استعاره (پر عرش استواء) د دغه مطلب د افادې لپاره کارول شوې چې الله تعالی د دې عالم ټولواك دئ، امور ئې د ده په واك کې دي او د دې عالم د پاچایي پر عرش ئې استواء کړې!! عرش او پر عرش استواء هغه الفاظ دي چې انسان ئې د یوه پاچا د واکمنۍ او قدرت ته د رسېدو لپاره کاروي، په کومو آیتونو کې چې د الله تعالی لپاره داسې الفاظ راغلي، دا متشابه آیتونه دي چې په هغه کې د تشبیه فن کارول شوی، د الله تعالی عرش چې د انسان له درك او فهمه اوچت، فوق مشهود او غائب مفهوم دئ او انسان په خپل قاموس کې بل ځانګړی او خاص لفظ او نوم ورته نه لري، په داسې لفظ معرفي شوی چې په اصل کې د یوه مشهود او ملموس شي لپاره وضع شوی، د تشبیه له لارې د انسان ذهن او فهم ته نژدې کړی شوی، په دا ډول آیتونو کې راغلي الفاظ په متبادره او متداوله معنی نه شو اخیستی، داسې نه چې د الله تعالی له عرش هغه تصور او انګېرنه ولرو چې د زمکې پر سر د کوم تخت او عرش په اړه ئې لرو!! الله تعالی د مخلوق په څېر مکان ته اړ او محتاج نه دئ، د عالم هیڅ څه په ذات او افعالو کې الله تعالی ته ورته نه دي، نه ئې عرش د زمکې د کوم عرش او تخت په څېر دئ او نه په عرش استواء ئې داسې لکه په کوم تخت د کوم مخلوق ناسته!! کله چې د عرش او په عرش باندې د الله تعالی د استواء خبره کوو باید دا مطلب مو په پام کې وي چې نه د عالم کوم څه الله تعالی ته ورته دئ او نه الله تعالی په کوم څه کې له مخلوق سره شباهت لري. پام کوه چې د فرشتو په ذریعه د الله تعالی د عرش حمل کېدا داسې ونه ګڼئ لکه چې په دنیا کې څوك کوم تخت پر اوږو وړي، که داسې تصور دې په ذهن کې راولاړ شو، اشتباه دې کړې او الله تعالی دې له خپل مخلوق سره تشبیه کړی. دا هغه غلطي ده چې د بایبل لیکونکي او منونکو وکړه!!

رسول الله صلی الله علیه و سلم دا مطلب د یوه حدیث په ترځ کې څومره ښایسته او دقیق انځور کړی هلته چې فرمایي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أُذِنَ لِي أَنْ أُحَدِّثَ عَنْ مَلَكٍ

قَدْ مَرَقَتْ رِجْلَاهُ الْأَرْضَ السَّابِعَةَ، وَالْعَرْشُ عَلَى مَنْكِبِهِ، وَهُوَ يَقُولُ: سُبْحَانَكَ أَيْنَ كُنْتَ؟ وَأَيْنَ تَكُونُ؟ " مسند ابى يعلى

له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: يقيناً چي الله اجازه راکړه له داسي يوې فرشتې مو خبر کړم چي پښې ئې له اُومي ښکتنۍ زمکي تېري شوې او عرش ئې پر اوږو دئ او هغه وايي: پاکي تا لره ده اې ربه! چي چېري وې او چېري يې!!

گورئ چي هغه باعظمته فرشته چي قامت ئې له اووه آسمانونو او زمکي تېر شوی او د عرش حامل ده د الله تعالى د ذات له درکه عاجزه او په عرش ئې د استواء له څرنگوالي بې خبره ده!! او په دې اړه خپل کامل عجز په دې الفاظو بيانوي: پاکي تا لره ده چي هر ځای وې او يې!!

که د عرش په اړه د رسول الله صلى الله عليه و سلم دا وينا د بايبل له وينا سره مقايسه کړو همدا کافي ده چي ووايو: د الله تعالى او د هغه د عرش په اړه د بايبل وينا د هغه چا وينا ده چي خدای نه پېژني او د هغه له عظمته خبر نه دئ او د زمکي پر سر له يوه پاچا سره ئې ورته گڼلی!!

متأسفانه په مسلمانانو کي هم يوه داسي کم عقله ډله راپيدا شوه چي د الله تعالى، عرش، د عرش حمله او پر عرش د الله تعالى د استواء په اړه بايبل ته ورته انگېرنه لري، هغوی هم وايي چي خدای انسان د ځان په څېر پيدا کړ، دوه سترگي، دوه غوږونه، دوه لاسونه، هر لاس ئې پنځه گوتي، دوه پښې، پنډۍ، ردا او پرتوگ لري!!! خو وايي: خدای دوه سترگي لري بلا تشبيه، دوه (ښی او کيڼ) لاسونه لري بلا تشبيه، هر لاس ئې پنځه گوتي لري بلا تشبيه، دوه پښې او پنډۍ لري بلا تشبيه، پر عرش ناست دئ بلا تشبيه، د قيامت په ورځ به خپلي پنډۍ لوڅي کړي بلا تشبيه.... يعني مُتَشَبِّهاً وَ غَيرَ مُتَشَبِّهٍ!! هم سره ورته او هم نه ورته!! دوی هم له الله تعالى کټ مټ يو انسان جوړوي، د الله تعالى عرش همغسي گڼي لکه د کوم پاچا تخت او پر عرش د الله تعالى استواء همغسي لکه پر تخت د يوه پاچا ناسته، له دې څرگندي او قبيح تشبيه وروسته د بلا تشبيه او بلا تکييف لفظ راوړل هيڅ گټه او معنى نه لري،

همدا راز چېري چي په قرآن کي د استوى على العرش ذکر راغلی، ورپسې متصل ويل شوي چي د چارو واگي د الله تعالى په واك کي دي، يدبر الامر، يغشي الليل النهار، له الخلق و الامر او دې ته ورته مطالب راغلي او دا ښيي چي په استوى على العرش سره قرآن موږ ته دا لارښوونه کوي چي الله تعالى د دې عالم ټولواك دئ، ډېر بې عقله انسان به له دې هغه انتباه اخلي چي د بايبل ليکونکي اخيستې او خپل خدای ئې د يوه داسي تخت په سر کښېنولی چي څلور سرې فرشتې ئې حمل کوي!! د قرآن له نظره څوك چي له عرش د پاچايانو د تخت په څېر تخت جوړوي او له استواء په تخت کښېناستل، د ده په زړه کي

کوږوالی دئ، مؤمن انسان به وايي: استواء على العرش يوه استعاره ده چې انسانان ئې د چا د پاچايي لپاره کاروي، الله تعالى موږ ته په دغو الفاظو سره ښيي چې دی د عالم ټولواك دئ او ټولې واګې ئې د ده په واك کې دي، نه ئې عرش کوم تخت ته ورته شىء دئ او نه ئې استواء د انسان استواء ته ورته کوم فعل!! د عرش او استواء په تأويل له الله تعالى پرته هيڅوك نه پوهېږي.

بايبل دا هم ليکي چې خدای وفرمايل: زه د انسان په لاس جوړ شوي کور کې نه اوسېږم، آسمان مې تخت او ځمکه مې تر پښو لاندې کرسۍ ده!! تاسو به څنګه ما ته کور جوړ کړی شئ؟ او څنګه به زه په دې کور کې اوسېږم؟ آيا دا آسمان او زمکه ما نه دي پيدا کړي؟ عجيبه ده چې څوك د دې وينا تر څنګ هغه بله وينا هم کوي، د چا چې ټول آسمان تخت وي، څنګه به بل وړوکی تخت هم لري؟!

ښه به وي چې د دې رأيي لړ نور وضاحت وکړم، په داسې الفاظو سره چې ښايي د هر چا سر ژر پرې خلاص شي: که له ما څوك پوښتنه وکړي چې الله تعالى عرش لري؟ ورته وايم: هو؛ يقيناً چې الله تعالى عرش لري، که راته ووايي: الله تعالى پر عرش استواء کړې؟ ورته وايم: هو؛ يقيناً چې الله تعالى پر عرش استواء کړې، که راته ووايي: لږ مخکې ولاړ شه او مزيد وضاحت راته وکړه، ورته وايم: پر عرش د استواء مراد دا دئ چې الله تعالى د عالم ټولواك دئ، امور ئې د ده په واك کې دي، دا عالم د ده ملك او دی ئې ټولواك دئ، که مزيد وضاحت رانه وغواړي ورته وايم: که څه هم د عرش متبادره معنى تخت او د استواء برابرېدا ده خو دا الفاظ د مخلوق لپاره په حقيقي معنى راځي او د الله تعالى په اړه په مجازي معنى، د الله تعالى په اړه ئې په متبادره معنى نشو نيولی، د عرش او استواء په څرنګوالي له الله تعالى پرته هيڅوك نه پوهېږي، له دې آخوا زما او زما په څېر انسانان د څه ويلو توان نه لري، نه په دې پوهېدی شي چې عرش څه دئ او نه په دې چې پر عرش استواء څنګه ده؟ او دا همغه وينا ده چې قرآن ئې کوي: مَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلا اللَّهُ، مزيد ورته وايم: څوك چې عرش داسې ګڼي لکه کوم تخت او استواء داسې ګڼي لکه څوك چې پر کرسۍ کښېني، هغه غلطي کړې، بې ځايه جسارت ئې کړی، د تأويل او تشبيه مرتکب شوی، د ټولو صحابه وو او سلف صالح مخالفت ئې کړی او په دې سره ئې په مسلمانانو کې فتنه راولاړه کړې، قرآن د دغو خلکو په اړه وېلي: فَأَمَّا الَّذِينَ فِى قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشبَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَ ابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ وَ مَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلا اللَّهُ: نو هغه چې په زړونو کې ئې کوږوالی دئ په متشابه پسې ئې درومي، د فتنې په لټه کې او د تأويل په لټه کې، په داسې حال کې چې په تأويل ئې له الله پرته هيڅوك نه پوهېږي.

---

ٱدۡعُواْ رَبَّكُمۡ تَضَرُّعٗا وَخُفۡيَةًۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُعۡتَدِينَ ﴿٥٥﴾ وَلَا تُفۡسِدُواْ فِي
ٱلۡأَرۡضِ بَعۡدَ إِصۡلَٰحِهَا وَٱدۡعُوهُ خَوۡفٗا وَطَمَعًاۚ إِنَّ رَحۡمَتَ ٱللَّهِ قَرِيبٞ مِّنَ

ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٥٦﴾

۵۵- خپل رب په زاریو او په پټه (ټیټ غږ) دروبلئ، یقیناً چې هغه تېرى كوونكي نه خوښوي. ٥٦- او په زمكې کې د هغې له اصلاح وروسته فساد مه خوروئ او له وېرې او طمعې سره ئې دروبلئ، بې شكه چې د الله رحمت نېكانو ته ورنژدې دئ.

(۵۵-٥٦)- دلته د دعاء په اړه څو مهمې لارښوونې شوې:

- په زاریو زاریو سره خپل رب ته دعاء کوئ، له دې احساس او باور سره چې ستاسو رب د هر څه پیدا کوونکی، ورکوونکی او اخیستونکی دئ او هر څه د ده په امر تر سره کېږي.
- په پټه او په ټیټ غږ دعاء کوئ.
- الله تعالی اعتداء کوونکي نه خوښوي، دلته د اعتداء کوونکو یادونه د دعاء په ارتباط شوې او معنی ئې دا ده چې دعاء ځان ته ادب لري، دا ادب باید مراعات کړئ، دا دوه ادبه (تضرع او اخفاء) په پام کې ولرئ، مه په غافل زړه دعاء کوئ او مه په چیغو چیغو سره، له دې صریح حکم د هغو خلکو په اړه قضاوت کولی شئ چې د دعاء په وخت کې نڅا او مستي کوي، څنې غورځوي، له ډول او دبلې سره یو ځای د هو هو بې معنی چیغې وهي.
- په زمکې کې د اصلاح او امن له تأمین وروسته فساد مه خوروئ، الله تعالی د مفسدینو دعاء نه قبلوي.
- په داسې حال کې ورته دعاء کوئ چې هم ترې وېرېږئ او هم طمع ترې لرئ.
- د نېكانو دعاء ژر قبلېږي، دوی ته د الله تعالی رحمت ډېر ورنژدې دئ.

وَهُوَ ٱلَّذِى يُرۡسِلُ ٱلرِّيَٰحَ بُشۡرَۢا بَيۡنَ يَدَىۡ رَحۡمَتِهِۦۖ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَقَلَّتۡ سَحَابًا ثِقَالًا سُقۡنَٰهُ لِبَلَدٍ مَّيِّتٍ فَأَنزَلۡنَا بِهِ ٱلۡمَآءَ فَأَخۡرَجۡنَا بِهِۦ مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِۚ كَذَٰلِكَ نُخۡرِجُ ٱلۡمَوۡتَىٰ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ﴿٥٧﴾

۵۷- او دی هغه ذات دئ چې بادونه تر خپل رحمت (باران) مخكې د زېرې په توګه لېږي، تر هغه چې درنې وريځې اوچتې کړي، د مړه ټاټوبي په لوري ئې وخوځوو، نو په هغه سره اوبه راوورو او په دې سره هر راز مېوې راوباسو، همدا راز به مړي راباسو، ښايي پند واخلئ.

(۵۷)- دا مبارك آیت په څو مهمو خبرو تأكید كوي:

- هغه ذات چې د ده په حکم بادونه خوځېږي، وربځې هغو لېرو لېرو سيمو ته انتقالوي چې باران ته اړې او سترګې په لارې دي، په هغوی باران وروي او په همدې باران سره د زمکې له زړه راز راز دانې او مېوې راشنې کوي، همدا ذات به مړي همداسې بيا راژوندي کوي.
- تاسو چې هره ورځ د يوې سيلۍ په ذريعه د بيا ژوندون بېلګې په خپلو سترګو ګورئ ځنګه د قيامت په ورځ بيا ژوندون درته ګران برېښي؟ له هرې سيلۍ وروسته د ژوندون د لړۍ پيل کېدل خو بايد تاسو ته هره شېبه د قيامت ورځ دريادوي.
- هغه ذات چې مړه زمکه په يوې سيلۍ او ورپسې باران سره ژوندۍ کوي او ډول ډول نباتات ترې راباسي، ستا دعاګانې او حاجتونه تر سره کولی شي.

قرآن په دې تأکيد کوي چې که له يوې خوا په باران سره د مړې زمکې د بيا بيا راژوندي کېدو ورځنی بهير د قيامت په ورځ د بيا راژوندي کېدو ښوونه کوي له بلې خوا د انسان مرګ دا خبره ثابتوي چې انسان د يوه داسې ځواك په وړاندې مقهور او محکوم دئ چې د مرګ ژوند اصلي واکمن دئ، د مرګ ژوند پرېکړې د هغه له لورې دي او انسان طوعاً او کرهاً دې پرېکړو ته تسليم دئ. انسان نه غواړي زوړ شي، د ځوانۍ ځواك او توان له لاسه ورکړي، ضعيف او ناتوانه شي او په پای کې په مرګ محکوم شي؛ دا څوك دئ چې انسان ئې د دغه بهير په وړاندې بې وسه کړی؟ دا څوك دئ چې د انسان د خوښې او رضاء خلاف د ده د زړښت او مرګ پرېکړه کوي او د مرګ په وړاندې غاړه ايښودو ته ئې اړ کوي؟ ستا د مرګ پرېکړه همغه ذات کوي چې ته ئې پيدا کړی يې.

وَٱلْبَلَدُ ٱلطَّيِّبُ يَخْرُجُ نَبَاتُهُۥ بِإِذْنِ رَبِّهِۦ ۖ وَٱلَّذِى خَبُثَ لَا يَخْرُجُ إِلَّا نَكِدًا ۚ كَذَٰلِكَ نُصَرِّفُ ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَشْكُرُونَ ﴿٥٨﴾

۵۸- او د پاکې زمکې نباتات د الله په حکم راوځي او هغه چې ناپاکه وي يوازې نيمګړی ترې راوځي، دغسې هغو ته نښې بيانوو چې شکر کوي.

(۵۸)- په دې مبارك آيت کې د دوو زمکو مثال وړاندې شوی، پاکه او ناپاکه زمکه، شېرازه او شوره زمکه، د يوې بوټي راشنه کېږي، وده کوي او خپل حاصل ورکوي، له بلې که څه راوځي نو په ډېر مشقت سره او ناقص. انسانان هم د دغو دواړو زمکو په څېر دوه ډوله دي، پاك او ناپاك، صالح او طالح، نېك او بد، د ښېګڼو عامل او بې خيره، په ځينو د حق وينا اغېز کوي او د ځينو زړونه سخت، هيڅ پند او نصيحت ته ئې د زړه دړه نه خلاصېږي.

په يوه حديث کې دا مطلب داسې راغلی:

عَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ « مَثَلُ مَا بَعَثَنِي اللَّهُ بِهِ مِنَ الْهُدَى وَالْعِلْمِ كَمَثَلِ الْغَيْثِ الْكَثِيرِ أَصَابَ أَرْضًا، فَكَانَ مِنْهَا نَقِيَّةٌ قَبِلَتِ الْمَاءَ، فَأَنْبَتَتِ الْكَلأَ وَالْعُشْبَ الْكَثِيرَ، وَكَانَتْ مِنْهَا أَجَادِبُ أَمْسَكَتِ الْمَاءَ، فَنَفَعَ اللَّهُ بِهَا النَّاسَ، فَشَرِبُوا وَسَقَوْا وَزَرَعُوا، وَأَصَابَتْ مِنْهَا طَائِفَةً أُخْرَى، إِنَّمَا هِيَ قِيعَانٌ لاَ تُمْسِكُ مَاءً، وَلاَ تُنْبِتُ كَلأً، فَذَلِكَ مَثَلُ مَنْ فَقِهَ فِي دِينِ اللَّهِ وَنَفَعَهُ مَا بَعَثَنِي اللَّهُ بِهِ، فَعَلِمَ وَعَلَّمَ، وَمَثَلُ مَنْ لَمْ يَرْفَعْ بِذَلِكَ رَأْسًا، وَلَمْ يَقْبَلْ هُدَى اللَّهِ الَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ ». قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ قَالَ إِسْحَاقُ وَكَانَ مِنْهَا طَائِفَةٌ قَيَّلَتِ الْمَاءَ. قَاعٌ يَعْلُوهُ الْمَاءُ، وَالصَّفْصَفُ الْمُسْتَوِي مِنَ الأَرْضِ. رواه مسلم والنسائی

له ابو موسی روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: هغه علم او هدایت چي الله زه ورسره مبعوث کړی یم، هغه ګڼ باران ته ورته دئ چي پر یوې زمکي ووربېږي، یوه برخه ئې پاکیزه او شېرازه چي اوبه جذب کړي او ډېر واښه او بوټي راشنه کړي، د دې بله برخه کلکه او شنډه چي اوبه راټم کړي او الله خلکو ته ترې ګټه ورسوي، خپله ئې وڅښي، نور څړوبه کړي او کرنه پرې وکړي او دا باران پر یوې بلي زمکي هم ووربېږي چي داسي آوار ډاګ وي چي نه اوبه ټمولی شي او نه نباتات راشنه کولی شي او دا د هغه چا مثال دئ چي د الله په دین پوه شو او هغه څه ورته ګټه ورسوله چي الله زه ورسره لېږلی یم، په خپله پرې پوه شو او نور ئې پرې پوه کړل او د هغه چا مثال دئ چي نه ئې سر پرې پورته کړ او نه ئې هغه لارښوونه قبوله کړه چي زه ورسره لېږل شوی یم.

---

لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ فَقَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ﴿٥٩﴾

۵۹- یقیناً چي نوح مو د ده قوم ته ورولېږو، نو وئې ویل: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ چي له ده پرته هیڅ بل معبود نه لرئ، زه د ستري ورځي له عذاب درباندي وېرېږم.

---

(۵۹)- څو خبري د پام وړ دي:

- دلته د سورې د څلورو اساسي موضوعاتو لپاره د څو پیغمبرانو علیهم السلام په قصو کي عملي بېلګي زموږ مخي ته اېښودل شوې.
- د نوح علیه السلام دعوت په څو ټکیو کي راخلاصه شوی: د الله تعالی عبادت وکړئ

چې له ده پرته بل معبود نه لرئ او دا چې زه وېرېږم چې د يوې سترې ورځې عذاب درباندې رانشي. تاسو به په قرآن کې وګورئ چې د ټولو پيغمبرانو دعوت په دغو اساسي خبرو کې راخلاصه کوي، له دې معلومېږي چې (عبادت) ډېر پراخ ابعاد لري، يوازې په مذهبي عباداتو کې محدود نه دئ، بلکې د انسان ټول ژوند احتواء کوي، د الله تعالی عبادت يعني د ده دين ته التزام درلودل، خپل ژوند هغسې تېرول چې الله تعالی ئې درنه غواړي.

- دلته د سترې ورځې له عذاب مراد هغه عذاب دئ چې الله تعالی هر باغي او عاصي قوم ته ټاکلی، د نوح عليه السلام د قوم لپاره دا الهي عذاب په ستر طوفان سره د دوی غرقېدل وو، په وروستيو آيتونو کې همدا مطلب په ګوته شوی.

---

قَالَ ٱلْمَلَأُ مِن قَوْمِهِۦٓ إِنَّا لَنَرَىٰكَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٦٠﴾

٦٠- د قوم مشرانو ئې وويل:موږ خو تا په ښکاره ضلالت کې ګورو!

---

(٦٠)- دلته دوه خبرې په پام کې ولرئ:

- لکه څنګه چې نوح عليه السلام ته د ده د قوم ملأ يعنی سردارانو او مشرانو د رد ځواب ورکړی، قرآن وايي چې تل همدغو لويي غوښتونکو د پيغمبرانو مخالفت ته ملا تړلې.
- له دې وينا د دغو مخالفينو مقصد دا وو چې تا سمه لار ورکه کړې، د پلار نيکه دين دې پرېښی، ټول ولس په يوه لار او ته په بله لار، مذهبي مشران يو څه وايي او ته بل څه وايي.

---

قَالَ يَٰقَوْمِ لَيْسَ بِى ضَلَٰلَةٌ وَلَٰكِنِّى رَسُولٌ مِّن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٦١﴾ أُبَلِّغُكُمْ رِسَٰلَٰتِ رَبِّى وَأَنصَحُ لَكُمْ وَأَعْلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٦٢﴾ أَوَعَجِبْتُمْ أَن جَآءَكُمْ ذِكْرٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنكُمْ لِيُنذِرَكُمْ وَلِتَتَّقُوا۟ وَلَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٦٣﴾

٦١- وئې ويل: اې زما قومه! هيڅ ضلالت راکې نشته، بلکې زه د رب العالمين له لوري يو استازی يم. ٦٢- چې د خپل رب پيغامونه دررسوم، نصيحت درته کوم د الهي علم په هغه څه ښه پوهېږم چې تاسو پرې نه پوهېږئ. ٦٣- آيا په دې تعجب کوئ چې ستاسو د رب له لوري تاسو ته ستاسو د يوه سړي په ذريعه يوه يادونه او ذکر راغلی، چې خبرداری درکړي، چې تقوی غوره کړئ او چې ترحم درباندې وشي؟!

(٦١-٦٣)- نوح علیه السلام د قوم په ځواب کې څو خبرې کوي:

- هیڅ ضلالت راکې نشته.
- زه د الله تعالی له لوري مأمور شوی یم، د رب العالمین استازی یم، زه ئې د خپل پیغام رسولو لپاره لېږلی یم.
- څه چې وایم زما خپلې خبرې نه دي، دا د رب العالمین پیغام دئ.
- ستاسو خواخوږی یم، ستاسو د خیر خبره درته کوم.
- الله تعالی له خپل علم هغه څه رازده کړي چې تاسو پرې نه پوهېږئ، په یوه ناپوه او جاهل ولس کې تل د پوهې او علم خاوندانو ته خلکو په همدې سترګه کتلی، چا د مجنون خطاب ورته کړئ، چا لار ورکی ګڼلی او چا د خپل پلار نیکه له دین او مذهبه باغي بللی.
- د قوم د مخالفت او د نوح علیه السلام د رسالت په اړه د دوی د تعجب او حیرت وجوهات دا وو: ۱- ولې به الله تعالی د ټول ولس له منځه ته انتخاب کړی وي؟ ۲- دوی ئې د خپلو بدو عملونو، فساد، شرك او ظلم له بدو پایلو وېرول، ۳- دوی ئې د تقوی په لوري رابلل، له فساد او ظلم لاس اخیستو ته، بدکارانو او ظالمانو دا خبرې نه شوی زغملی، ٤- دوی ته ئې ویل چې الله تعالی به د هغه چا په حال خپل رحمت شامل کړي چې ایمان ئې راوړی، مغرورو سردارانو دا خبره نه شوی منلی چې د الله تعالی پېرزوینې به د نوح علیه السلام د څو تش لاسو، کمزورو، بې وزلو او مستضعفو ملګرو په برخه کېږي او هغه الهي وعدې به رښتینې کېږي چې نوح علیه السلام ئې دوی ته وایي.

فَكَذَّبُوهُ فَأَنجَيْنَـٰهُ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥ فِى ٱلْفُلْكِ وَأَغْرَقْنَا ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَآ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمًا عَمِينَ ﴿٦٤﴾

٦٤- نو هغه ئې تکذیب کړ او موږ دی او هغه چې له ده سره (ملګري) ول په کښتۍ کې وژغورل او هغه خلك مو غرق کړل چې زموږ آیتونه ئې تکذیبول، یقیناً چې دا یو ړوند قوم وو.

(٦٤)- دوی د نوح علیه السلام ټولې خبرې دروغ وګڼلې، هم ئې دا خبره دروغجنه ګڼله چې د نوح علیه السلام ملګري به نجات مومي او هم دا چې هغه خلك به تباه کېږي چې الهي آیتونه تکذیب کړي، دواړه خبرې رښتیا شوې.

وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا ۗ قَالَ يَـٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَـٰهٍ غَيْرُهُۥٓ ۚ أَفَلَا

تَتَّقُونَ ﴿٦٥﴾ قَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦٓ إِنَّا لَنَرَىٰكَ فِي سَفَاهَةٖ وَإِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴿٦٦﴾

٦٥- او عادیانو ته مو د دوی ورور هود (ولېږو)، وئې ویل: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ چي له ده پرته بل هیڅ معبود نه لرئ، آیا ځان ساتنه نه کوئ؟ ٦٦- د قوم کافرو مشرانو ئې وویل: موږ خو تا په سفاهت (کمعقلۍ) کې ګورو! او په تا دا ګمان کوو چي له دروغجنو یې!

(٦٥-٦٦)- دلته له الهي دین سره د یوه داسي ولس د مخالفت قصه زموږ مخي ته اېښودل شوې چي قوي او ځواکمن دئ، الله تعالی ورته لوړ قد، قوي جسد، پیاوړې متې ورکړې، له مالي او مدني لحاظه هم تر ټولو قومونو مخکې، دوی ته هود علیه السلام د پیغمبر په توګه لېږل شوی، ده هم خپل قوم ته همغه د نوح علیه السلام خبره کړې او د ده د قوم د کافرو مشرانو ځواب هم د نوح علیه السلام د قوم مشرانو ته ورته وو او هغه دا چي:

- موږ خو تا په سفاهت او کمعقلۍ کې ګورو!
- دا ګمان درباندې کوو چي له دروغجنو یې!

قَالَ يَٰقَوۡمِ لَيۡسَ بِي سَفَاهَةٞ وَلَٰكِنِّي رَسُولٞ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٦٧﴾ أُبَلِّغُكُمۡ رِسَٰلَٰتِ رَبِّي وَأَنَا۠ لَكُمۡ نَاصِحٌ أَمِينٌ ﴿٦٨﴾ أَوَعَجِبۡتُمۡ أَن جَآءَكُمۡ ذِكۡرٞ مِّن رَّبِّكُمۡ عَلَىٰ رَجُلٖ مِّنكُمۡ لِيُنذِرَكُمۡۚ وَٱذۡكُرُوٓاْ إِذۡ جَعَلَكُمۡ خُلَفَآءَ مِنۢ بَعۡدِ قَوۡمِ نُوحٖ وَزَادَكُمۡ فِي ٱلۡخَلۡقِ بَصۜۡطَةٗۖ فَٱذۡكُرُوٓاْ ءَالَآءَ ٱللَّهِ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴿٦٩﴾

٦٧- وئې ویل: اې زما قومه! هیڅ کمعقلي راکې نشته، بلکې زه د رب العالمین له لوري یو استازی یم. ٦٨- د خپل رب پیغامونه دررسوم او زه درته یو امین ناصح یم. ٦٩- آیا په دې تعجب کوئ چي ستاسو د رب له لوري تاسو ته ستاسو د یوه سړي په ذریعه یوه یادونه او ذکر راغلی، چي خبرداری درکړي؟! هغه دریاد کړئ چي د نوح له قوم وروسته ئې تاسو (د دوی) ځای ناستي کړئ او تاسو ته ئې په پیدایښت کې پراخوالی درکړ، نو د الله نعمتونه دریاد کړئ چي فلاح او بریا مو په برخه شي.

(٦٧-٦٩)- دلته د خپل قوم د ګواښونو په ځواب کې د هود علیه السلام لاندې خبرې راغلې:

● هيڅ کمعقلي راکې نشته، ولې زما دې کار ته د سفاهت په سترګه ګورئ چې تاسو د شرك، كفر، ظلم او فساد له بدو پايلو وېروم، سره له دې چې ستاسو مشران مې ګواښي؟! د الله د لارې ډېرو مجاهدينو ته په دې خاطر د ناپوه او کمعقله خطاب شوی چې د ګواښونو او خطرونو پروا ئې نه ده کړې او خپلې مبارزې ته ئې دوام ورکړی.

● زه د رب العالمين له لوري په دې کار مأمور شوی يم، په خپل سر او په خپله خوښه مې دې خطرناك مأموريت ته ملا نه ده تړلې.

● د خپل رب پيغامونه دررسوم، څه چې درته وايم دا زما خپلې خبرې نه دي، زما د رب وينا ده.

● او زه درته يو امين ناصح يم، په امانت سره د الله تعالى پيغام دررسوم او په خواخوږۍ سره تاسو ته نصيحت کوم.

● آيا په دې تعجب کوئ چې ستاسو د رب له لوري تاسو ته ستاسو د يوه سړي په ذريعه يوه يادونه او ذکر راغلی، چې خبرداری درکړي؟! دا ولې د تعجب او حيرت خبره ګڼئ؟ تر ما مخکې ډېر راغلي، نوح عليه السلام ئې ښه بېلګه.

● هغه درياد کړئ چې د نوح له قوم وروسته ئې تاسو (د دوی) ځای ناستي کړئ او تاسو ته ئې په پيدايښت کې پراخوالی درکړی، نو د الله نعمتونه درياد کړئ چې فلاح او بريا مو په برخه شي.

---

قَالُوٓاْ أَجِئۡتَنَا لِنَعۡبُدَ ٱللَّهَ وَحۡدَهُۥ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَا فَأۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ٧٠

٧٠- وئې ويل: آيا د دې لپاره راغلی يې چې يوازې د الله عبادت وکړو او هغه څه پرېږدو چې زموږ پلرونو ئې عبادت کاوو؟ نو په څه چې موږ وېروې رائې وړه که له رښتينو يې.

---

(٧٠)- د قوم ځوابونه ئې دا دي:

● آيا موږ د يوه رب عبادت ته رابلې، دې ته چې نور ټول معبودان، په ځانګړې توګه هغه چې زموږ له پلرونو راته په ميراث پاته دي پرېږدو؟ ته غواړې موږ د پلار نيکه دين او مذهب پرېږدو او ستا نوی دين ومنو؟!

● که ته په رښتيا د الله له لوري لېږل شوی يې نو هغه څه موږ ته راوښيه چې ته مو پرې وېروې، ولې ستا ګواښونه تحقق نه مومي، ته او ستا ملګري چې له کومو مخالفتونو او سختو ورځو سره مخامخ يئ، ولې ستا رب ستا مرسته نه کوي او ستا مخالفينو ته سزا نه

ورکوي؟

قَالَ قَدْ وَقَعَ عَلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ رِجْسٌ وَغَضَبٌ أَتُجَٰدِلُونَنِي فِيٓ أَسْمَآءٍ سَمَّيْتُمُوهَآ أَنتُمْ وَءَابَآؤُكُم مَّا نَزَّلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلْطَٰنٍ فَٱنتَظِرُوٓاْ إِنِّي مَعَكُم مِّنَ ٱلْمُنتَظِرِينَ ﴿٧١﴾

۷۱- وئې ويل: يقيناً چې ستاسو د رب له لوري عذاب او غضب درباندي واقع شو، آيا د هغو نومونو په اړه راسره لانجه کوئ چې تاسو او ستاسو پلرونو نومولي، په داسي حال کې چې الله هيڅ دليل ورته نه دئ نازل کړی؟ نو انتظار وکړئ زه هم له تاسو سره په انتظار کوونکو کې يم.

(۷۱)- د هود عليه السلام څوابونه دا وو:

- نور نو تاسو د الهي عذاب او قهر وړ ګرځېدلي يئ، ډېر ژر به ورسره مخامخ شئ.
- آيا د هغو دروغجنو معبودانو په اړه له ما سره مجادله کوئ چې هسي نومونه دي، حقيقت نه لري، تاسو او ستاسو پلرونو په يوه او بل نامه نومولي، يوه ته يو کرامت او بل ته بل کرامت منسوبوئ، يو د حاجتونو تر سره کوونکی ګڼئ، بل د ناروغانو روغوونکی، بل د دښمنانو پرځوونکی، بل جاه او مقام ته د رسېدو سبب، بل د دعاءګانو قبلوونکی، په خپله هم او پر خدای هم!! دا ټولي خبري تاسو په خپله جوړي کړي، دا د دغو معبودانو کرامات نه دي، هغه کرامات دي چې مجاورينو او مريدانو ئې ورته تراشلي.
- الله تعالی هيڅ دليل ورته نه دئ نازل کړی، په هيڅ الهي کتاب کې به دا ونه مومئ چې له الله تعالی پرته بل څوك د عبادت او دعاء وړ دئ، حاجتونه تر سره کولی او دعاءګاني قبلولی شي.
- نو انتظار وکړئ، زه هم له تاسو سره يو ځای په انتظار کوونکو کې يم، د پرېکړو واك له الله تعالی سره دئ، نه تاسو له انتظاره پرته بله چاره لرئ او نه زه.

فَأَنجَيْنَٰهُ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَقَطَعْنَا دَابِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَمَا كَانُواْ مُؤْمِنِينَ ﴿٧٢﴾

۷۲- نو دی او د ده ملګري مو په خپل رحمت سره وژغورل او د هغو خلکو جرړي مو وايستلې چې زما آيتونه ئې تکذيبول او ايمان راوړونکي نه ول.

(٧٢)- دا دئ د هود علیه السلام په دې قصې کې هم ګورو چې د الله تعالی په آیتونو د ایمان راوړونکو پایله څه وه او د تکذیبوونکو عاقبت څه؟ یو ژغورل شوی او د بل جرړې ایستل شوې.

وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًاۚ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥۖ قَدْ جَآءَتْكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْۖ هَٰذِهِۦ نَاقَةُ ٱللَّهِ لَكُمْ ءَايَةًۖ فَذَرُوهَا تَأْكُلْ فِىٓ أَرْضِ ٱللَّهِۖ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٣﴾ وَٱذْكُرُوٓاْ إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ مِنۢ بَعْدِ عَادٍ وَبَوَّأَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ تَتَّخِذُونَ مِن سُهُولِهَا قُصُورًا وَتَنْحِتُونَ ٱلْجِبَالَ بُيُوتًاۖ فَٱذْكُرُوٓاْ ءَالَآءَ ٱللَّهِ وَلَا تَعْثَوْاْ فِى ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٧٤﴾

٧٣- او ثمودیانو ته مو د دوی ورور صالح (ورولیږو)، وئې ویل: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ چې له ده پرته بل هیڅ معبود نه لرئ، بې شکه چې تاسو ته ستاسو د رب له لوري څرګنده نښه راغلې، دا د الله اوښه تاسو ته یوه څرګنده نښه (معجزه) ده، نو پرې ئې ږدئ چې د الله په زمکې کې خوراك کوي او په بد نیت سره لاس مه وراوږدوئ، که نه نو په دردناك عذاب به اخته شئ. ٧٤- او هغه وخت درياد کړئ چې تاسو ئې له عادیانو وروسته (د دوی) ځای ناستي کړئ او په زمکې کې ئې مېشت کړئ چې په آوارو کې ئې قصرونه جوړوئ او غرونه د کورونو لپاره توږئ (تراشئ)، نو د الله نعمتونه درياد کړئ او په زمکه کې فساد کوونکي مه ګرځئ.

(٧٣-٧٤)- دلته د ثمودیانو او صالح علیه السلام په قصې کې د دې سورې هغه څلور اساسي مطالب بیان شوي، دا هغه قوم دئ چې په آوارو کې ئې دنګ دنګ قصرونه جوړول او د غرونو ډډې ئې د دې لپاره توږلې چې هلته خوندي او ښایسته کورونه ځان ته جوړ کړي، دا په لومړي ځل د دوی په لاس پیل شوي، چې آثار ئې تر اوسه پورې پاته دي. دوی ته صالح علیه السلام ولېږل شو، هغه هم خپل قوم ته د نوح او هود علیهما السلام خبره وکړه او ورته وئې ویل:

- د الله عبادت وکړئ چې له ده پرته بل هیڅ معبود نه لرئ.
- تاسو د معجزې غوښتنه وکړه، دا ده ستاسو له غوښتني سره سم یوه اوښه د معجزې په توګه درته راغله، په بد نیت سره لاس مه وراوږدوئ، که نه نو په دردناك عذاب به اخته

شئ، دا ځکه چې د معجزې په راتلو سره هغه مهلت پای ته رسي چې الله تعالی تاسو ته درکړی.

- د الله تعالی هغه پېرزوینه دریاد کړئ چې تاسو ئې له عادیانو وروسته د دوی ځای ناستي او په زمکې کې ئې مېشت کړئ، داسې چې په آوارو کې ئې قصرونه جوړوئ او غرونه د کورونو لپاره توږئ.
- د الله تعالی دا نعمتونه دریاد کړئ او په زمکه کې فساد مه خوروئ.

قَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦ لِلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُواْ لِمَنۡ ءَامَنَ مِنۡهُمۡ
أَتَعۡلَمُونَ أَنَّ صَٰلِحٗا مُّرۡسَلٞ مِّن رَّبِّهِۦۚ قَالُوٓاْ إِنَّا بِمَآ أُرۡسِلَ بِهِۦ مُؤۡمِنُونَ ﴿٧٥﴾ قَالَ
ٱلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُوٓاْ إِنَّا بِٱلَّذِيٓ ءَامَنتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٧٦﴾ فَعَقَرُواْ ٱلنَّاقَةَ وَعَتَوۡاْ
عَنۡ أَمۡرِ رَبِّهِمۡ وَقَالُواْ يَٰصَٰلِحُ ٱئۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿٧٧﴾
فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلرَّجۡفَةُ فَأَصۡبَحُواْ فِي دَارِهِمۡ جَٰثِمِينَ ﴿٧٨﴾

۷۵- د ده د قوم لویي غوښتونکو مشرانو هغو مستضعفینو ته چې ایمان ئې راوړی وو، وویل: آیا په دې پوهېږئ چې صالح د خپل رب له لوري لېږل شوی؟ دوی (ورته) وویل: موږ په هغه څه ایمان راوړی چې د ده په لاس لېږل شوی. ۷٦- لویي غوښتونکو وویل: موږ له هغه څه منکر یو چې تاسو پرې ایمان راوړی. ۷۷- نو اوښه ئې ژوبله کړه (او وئې وژله)؛ او د خپل رب له حکمه ئې سرغړونه وکړه او وئې ویل: اې صالح! هغه څه راوړه چې موږ پرې وېروې که په رښتیا له پیغمبرانو یې!، ۷۸- نو زلزلې ونیول او په خپلو کورونو کې پرمخې (مړه) پرېوتل.

(۷۵-۷۸)- ګورئ چې دلته هم دوه ډلې تمثیل شوې: مستکبرین او مستضعفین، لویي غوښتونکې او هغه چې په بې وزلۍ کې د دوی د ساتلو هڅه شوې، مستکبرین د پیغمبر په ضد د دښمنۍ په سنګر کې او مستضعفین د پیغمبر ملګري، مستکبرین مستضعفینو ته وايي: له کومه پوه شوئ چې صالح د خدای پیغمبر دئ؟ مستضعفین ځواب ورکوي: د ده له پیغام، د ده په پیغام کې د ده د رسالت څرګندي نښې ګورو، موږ په هغه څه ایمان راوړی چې دی ئې خلکو ته وړاندې کوي؛ او مستکبرین د دې مضبوط دلیل په خلاف په لجاجت سره وايي: موږ په هغه څه چې ستاسو په خبر خلك پرې ایمان راوړي، کافر او منکر یو. دوی نه د پیغام محتوی ته اعتناء لري او نه معجزې ته اهمیت ورکوي، استکبار ئې هم د رسالت انکار ته هڅوي او هم د معجزو تردید ته، د معجزې لاس پښې قطع

کوي او د معجزې راوړونکی ګواښي، ځواب ئې د الله پيغمبر ته دا: که په رښتيا د خدای پيغمبر يې نو اوس خو بايد هغه څه راوښيې چې موږ دې پرې وېرولو!! چېرې دئ هغه الهي عذاب چې تا موږ پرې وېرولو؟ چېرې دئ هغه الهي نصرت چې ورته منتظر وې؟!! نو زلزلې ونيول او په خپلو کورونو کې پړمخې (مړه) پرېوتل.

په رواياتو کې راغې چې رسول الله صلی الله عليه و سلم د تبوك په جنګ کې د ثمودیانو سيمې (الحجر) ته ورسېدو او خپلو يارانو ته ئې وفرمايل چې دلته توقف مه کوئ.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رضی الله عنهما أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلی الله عليه و سلم قَالَ (وهو بالحجر) « لاَ تَدْخُلُوا عَلَى هَؤُلاَءِ الْمُعَذَّبِينَ إِلاَّ أَنْ تَكُونُوا بَاكِينَ، فَإِنْ لَمْ تَكُونُوا بَاكِينَ فَلاَ تَدْخُلُوا عَلَيْهِمْ، لاَ يُصِيبُكُمْ مَا أَصَابَهُمْ ».

له عبدالله بن عمر رضی الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم هغه مهال چې په الحجر کې وو وفرمايل: د دغو تعذيب شوو خلکو سيمې ته له ژړا پرته مه ننوځئ او که ژړا نه درځي نو مه ورننوځئ، داسې نه چې تاسو ته همغه څه دوررسېږي چې دوی پرې اخته شوي وو.

قرآن فرمايي چې ثموديانو له قيامت د انکار په وجه بغاوت وکړ او الله تعالی د دې بغاوت او طغيان مناسبه سزا ورکړه، عذاب ئې داسې لکه د دوی خپل طغيان، باغي او طغيانګر عذاب، چې قرآن د الاعراف سورې په ۷۸ آيت کې د الرجفة (زلزله او شدید ټکان) په نامه او د هود د سورې په ٦٧ آيت کې ئې د الصيحه (تونده او هېبتناکه چيغه) او د حم سجده سورې په ۱۷ آيت کې ئې د الصاعقة (تندر) په نامه ياد کړی، يعني دا طاغي عذاب له سختې زلزلې، تونديې او هيبتناکې چيغې او آسماني تندر سره توأم وو.

---

فَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَٰقَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَةَ رَبِّي وَنَصَحْتُ لَكُمْ وَلَٰكِن لَّا تُحِبُّونَ ٱلنَّٰصِحِينَ ﴿٧٩﴾

۷۹- نو مخ ئې ترې واړاوو او وئې ويل: اې زما قومه! بې شکه چې ما د خپل رب پيغام دوررساوو او نصيحت مې درته وکړ خو تاسو نصيحت کوونکي نه خوښوئ.

---

(۷۹)- د دوی له هلاکت وروسته ئې د دوی د مړو ډېرانونو ته په خطاب کې وويل: ما د خپل رب پيغام دوررساوو او نصيحت مې درته وکړ خو تاسو نصيحت کوونکي نه خوښول، دا حالت له زړه سواندو ناصحينو سره ستاسو د مخالفتونو سزا ده.

وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ أَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ
ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٨٠﴾ إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ شَهْوَةً مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِ ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ
مُّسْرِفُونَ ﴿٨١﴾

۸۰- او لوط چې خپل قوم ته ئې وويل: آيا د فحش داسي کار کوئ چې په ټولو عالمیانو کې هیڅوك تر تاسو مخکې نه دئ ورورﺍندي شوی؟ ۸۱- تاسو خو له ښځو پرته نارینه وو ته د شهوت په غوښتنه وردرومئ!! بلکې تاسو یو مسرف قوم یئ.

(۸۰-۸۱)- لوط علیه السلام په داسي ولس کې په پیغمبرۍ مبعوث شوی چې د اخلاقي فساد په گنده ډنډ کې پرېوتي وو، په داسي گناه اخته شوي وو چې تر دوی د مخه هیچا نه وه کړې، د ښځو پر ځای ئې له نارینه وو سره جنسي رابطه ساتله، لوط علیه السلام هغوی ته ویل: آیا د فحش داسي کار کوئ چې تر تاسو مخکې په ټولو عالمیانو کې چا نه دئ کړی؟! دا نه یوازې د انساني فطرت خلاف عمل دئ، بلکې په حیواناتو کې ئې هم بېلگه نه موندل کېږي، تاسو د ژوند په نورو برخو کې هم د اسراف لار غوره کړې.

وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓا۟ أَخْرِجُوهُم مِّن قَرْيَتِكُمْ ۖ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ
يَتَطَهَّرُونَ ﴿٨٢﴾

۸۲- او د ده د قوم ځواب له دې پرته بل څه نه وو چې: له خپل کلي ئې وباسئ، دا هغه خلك دي چې ډېر پاك پاك کېږي (ځان پاك لمني ښيي).

(۸۲)- د مفسد قوم ځواب ئې له دې پرته بل څه نه وو چې: دا د پاك لمنۍ مدعیان له خپلې سیمې وشړئ!!

هو؛ لکه څنگه چې ظالمان عدالت غوښتونکي نه خوښوي، مشرکان له موحدینو سره دښمني پالي، جاهلانو ته پوهان کمعقله برېښي، چا چې له ظلم ځېلې، شرك لړلې او جهل وهلې ټولني سره روغه جوړه کړې او د ظلم، شرك او جهل په ضد له څه ویلو او څه کولو ځان ساتي، هغه چا ته د مجنون او لېوني په سترگه گوري چې د مبارزې لپاره ملا تړي، له مظلومانو دفاع کوي، د عدالت شعارونه ورکوي او په دې لار کې له خطرونو سره ډغري وهي، همدا راز بد اخلاقان له خپلو سیمو د پاك لمنو شړل غواړي. تاسو په پورتنیو قصو کې دغه دردناك حقیقت په انځور شوو صحنو کې ولید.

فَأَنجَيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥٓ إِلَّا ٱمْرَأَتَهُۥ كَانَتْ مِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ ﴿٨٣﴾ وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا ۖ

﴿فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿٨٤﴾﴾

٨٣- نو دی او د ده اهل (اتباع) مو، د ده له مېرمنې پرته وژغورل، ځکه دا له وروسته پاته کېدونکو وه. ٨٤- او پر دوی مو ځانګړی (د ډبرو) باران وورولو، نو وګوره چې د دغو مجرمينو عاقبت څنګه وو!!

---

(٨٣-٨٤)- دلته څو خبرو ته توجه وکړئ:

● ګورئ چې د پيغمبرانو ملګري ژغورل شوي او د دوی مجرم مخالفين د ډبرو په باران مجازات شوي، لوط عليه السلام له خپلو پلويانو سره ژغورل شوی خو د ده قوم، حتی مېرمن ئې، له مجرمينو سره د وروسته پاته کېدو په وجه له دوی سره يو ځای هلاکه شوې. دلته نه قومي اړيکې څوك د الله تعالی له عذاب ژغورلی شي او نه د خپلوۍ اړيکې، يوازې ايمان او صالح عمل انسان ته نجات ورکوي.

● پر دوی د ډبرو باران شوی، دا باران څنګه وو؟ د قرآن له نورو آيتونو معلومېږي چې د سختې زلزلې له امله نه يوازې د دې قوم کورونه نسکور شوي بلکې زمکه ئې ناسته او کنده ترې جوړه شوې او په همدې سره له بره وړې ډبرې پرې ورېدلې او لويې ډبرې پرې رارغړېدلې، زمکه دومره کښېنستې ده چې جهيل ترې جوړ شوی.

● راشئ وګورو چې بايبل په دې اړه څه ليکلي: بايبل د (سدوم د ښار ورانېدا) تر عنوان لاندې ليکي: (کله چې دوه فرښتې ماښام لوېدو سره د سدوم د ښار دروازې ته ورسېدلې، لوط هلته ناست وو، د دوی په ليدو سره پورته شو او د دوی استقبال ته ورغی او ورته وئې ويل: ښاغليو! نن شپه له ما سره ولاړ شئ او زما مېلمانه شئ،... دوی په سر کې دا بلنه ونه منله، خو د لوط د اصرار او ټينګار په وجه ئې موافقه وکړه، هغه ورته پتيره مړۍ پخه کړه او مکلف ماښامنی ئې ورته تيار کړ، د ويدېدو په مهال د ښار خلکو، زړو او ځوانانو د لوط کور محاصره کړ او له ده ئې وغوښتل چې مېلمانه ورو‌سپاري، تر څو بدکاري ورسره وکړي!! لوط له کوره رووت او هغوی ته ئې وويل: دوستانو! هيله کوم له دې کرکجن کار لاس واخلئ، دا دي زما دوه لونې دي، چې څه مو زړه غواړي ورسره وئې کړئ، خو د دغو دوو کسانو چې ما ته ئې پناه راوړې مه مزاحم کېږئ!! هغوی ورته وويل: زموږ له مخې لرې شه، موږ دلته پناه درکړې او اوس ته راته امر کوې چې څه وکړو او څه نه!! اوس به له تا سره هغه څه کوو چې غوښتل مو له دغو دوو کسانو سره ئې وکړو!! نو دغه وخت ئې پر لوط بريد وکړ او د دروازې د ماتولو هڅه ئې وکړه، په دې وخت کې هغو دوو کسانو لاس وراوږد کړ، لوط ئې کور ته د ننه کړ او دروازه ئې بنده کړه او د هغو کسانو سترګې ئې ورړندې کړې چې له کوره بهر ول، تر څو د کور دروازه ونه شي موندلی،... بيا ئې لوط ته وويل: زامن، لونې، زومان او ټول خپلوان دې له ښاره وباسه، موږ خدای

رالېږلي يو چي دا ښار وران کړو،... د لوط زومانو د ده خبره ونه منله، نو فرشتو ورته وويل: مېرمن او دوه لوڼې دې له ځان سره رواني کړه... ده ځنډ وکړ، فرشتو څلور سره له لاسونو ونيول او له ښاره بهر ئې خوندي ځای ته ورسول، يوه ئې ورته وويل: د خپل ځان د ژغورلو لپاره وتښتئ، غره ته ولاړ شئ، شا ته مه ګورئ، که په دشته کې پاته شوئ هلاکت مو حتمي دئ!!.. لوط وويل: تمنی کوم، موږ پرېږدئ چي په دغه واړه کلي کې پاته شو، غره ته نه شو رسېدلی،... هغه ورته وويل: ډېر ښه، ستا غوښتنه مو ومنله، دا کلی نه ورانوم،... له لمر لوېدو سره خدای په عموره او سدوم سکروټي وورولې، ټول ښارونه او کلي ئې له ټولو اوسېدونکو او نباتاتو سره له منځه يووړل، خو د لوط مېرمن شا ته وکتل او د مالګي په څلي بدله شوه!!)

که تاسو د دې قصې محتوياتو او هغو الفاظو ته چي ليکونکي کارولي لږ ځير شئ او بيا دا له هغه څه سره مقايسه کړئ چي قرآن د دې قصې په اړه ويلي، نو په دې پوهېدل به درته ګران نه وي چي قرآن د الله تعالی کلام دئ او بايبل د يوه کمزوري انسان ګډې وډې خبري. قرآن د لوط عليه السلام د ژوند دغه برخه په هغه ځای کې د يوې تاريخي بېلګي په توګه رااخلي چي غواړي د حق د لارې مبارزينو ته ووايي: الله تعالی مو هيڅکله يوازي نه پرېږدي، ستاسو د ژغورني ذمه وال دئ، که خلك مو ملګرتيا ونه کړي او ستاسو د مخالفت لپاره په ګډه ملا وتړي نو ملائکي به ستاسو مرستي ته درلېږي، هغه ستاسو د دعاءګانو اورېدونکی او منونکی دئ، مګر د لوط عليه السلام له قصې خبر نه يئ چي په څوانۍ کې ئې ايمان راوړ، له ټول قومه يوازي دی دې ته تيار شو چي د خپل تره ابراهيم عليه السلام سره د حق په لار کې د ملګرتيا لپاره ملا وتړي، له هغه سره ئې يو ځای هجرت وکړ، هغه په دغي سيمي کې د دعوت چلولو لپاره پرېښود، قوم ته ئې ويل: له الله تعالی ووېرېږئ، له بدکارۍ او بدلمنۍ لاس واخلئ، آيا هغه ښځې چي الله تعالی ستاسو لپاره پيدا کړې هغه پرېږدئ او د نارينه وو په لوري د شهوت لپاره درومئ؟!! دا هغه کرکجن کار دئ چي له تاسو مخکې هيچا نه دئ کړی، د بدکارۍ څرګند محفلونه جوړوئ او لارې شکوئ، د قوم ځواب ئې له دې پرته بل څه نه وو چي لوط او ملګري ئې له خپله ملکه وشړئ، دا د پاکۍ او پاك لمنۍ د خبرو له مکرر اورېدو خپل غوږونه آرام کړئ، هغه ته ئې وويل: يا دې دا خبري بندې کړه يا خو دې ته تيار شه چي له خپل ملکه دې وشړو!! هغه خپل رب ته دعاء وکړه: اې زما ربه! په دې مفسد قوم بريا راکړه!! الله تعالی د ده دعاء قبوله کړه، فرشتې ئې د څو تنکيو ځوانانو په بڼه کې د ده مرستي ته ورولېږلې، د فرشتو دغه ټولګی مخکې له دې چي د ده خوا ته راشي ابراهيم عليه السلام ته ورغلې، هغه د مېلمنو ګمان پرې وکړ، وريته غوښه ئې د دوی مخې ته کښېښوده، چي متوجه شو مېلمانه ئې ډوډۍ ته لاس نه وروړي، ووېرېدو، ګمان ئې وکړ چي ښايي دا خلك د دښمنۍ په نيت راغلي چي ډوډۍ ته لاس نه وروړي، فرشتو ئې پرېشاني رفع کړه او ورته وئې ويل: موږ فرشتې يو، الله تعالی رالېږلې يو چي د لوط قوم هلاك کړو، هغه وويل: هلته خو لوط هم

اوسېږي!! وئې ویل: هغه او د ده مؤمن ملګري به ژغورو، هلته له یوې کورنۍ پرته بله ایمان لرونکې کورنۍ نشته، تا ته زېری درکوو چې په کورنۍ کې به دې د اسحاق او یعقوب علیهما السلام په څېر دوه پیغمبران پیدا شي، دی او ښځه ئې حیران شول، ښځې ئې له ډېره حیرته خپل تندی په څپېړه وواهو او وئې ویل: زه بوډۍ او خاوند مې بوډا! څنګه به د اولاد خاوند کېږو؟!! هغوی ورته وویل: آیا د الله تعالی په وعدې کې شك کوئ؟ ترې رخصت شوې، د لوط علیه السلام خوا ته راغلې، هغه هم د زلمو ګمان پرې وکړ، کورته ئې بوتلل، خو د دوی په راتلو سخت پرېشانه او غمجن شو، هومره چې سینه ئې پرې تنګه شوه، له کوره ایستل ئې د مروت خلاف کار ګڼو او له ساتلو ئې ځان عاجز ګڼو، قوم پرې خبر شو، د ده کور ئې محاصره کړ، مېلمانه ئې ترې غوښتل، ده ئې په یوازې سر مخنیوی کاوو او ورته ویل ئې: ما ته سپکاوی مه رااړوئ، هغو ښځو ته مخه کړئ چې الله تعالی د همدې لپاره پیدا کړې، آیا په تاسو کې کوم هوښیار او عقلمن انسان نشته چې زما خبره واوري، کاش دلته یوازې نه وی او خپل قوم راسره وی چې ستاسو مخه مې نیولې وی!! په دغه وخت کې فرشتو ورته وویل: موږ فرشتې یو، ستا مرستې ته راغلې یو، سبا سحر به پر دوی دا کلی رانسکورو، سبا خو به لرې نه وي؟!! دی او کورنۍ ئې وژغورله، ښځې ئې ورسره ملګرتیا ونه کړه، له قوم سره پاته شوه او له هغوی سره یو ځای هلاکه شوه، کلی پرې رانسکور شو او تیږې پرې ووربېدې!!

قرآن دا قصه په ډېرې عبرتناکې او اغېزمنې بڼې کې وړاندې کړې، په هرې برخې کې ئې ستر ستر درسونه پراته، هر څه ئې طبیعي، الفاظ ئې ښکلي، بیان ئې دقیق، د حق د لارې مجاهد ته د صبر او نه مأیوسه کېدو درس ورکوي او ورته وایي: ښایي داسې حالت درباندې راشي چې ستا او د برې تر منځ هېڅ واټن نه وي، د نصرت فرشتې دې خوا ته رسېدلې وي خو ته پرې نه پوهېږې او په همدغه حالت کې هم الله تعالی غواړي تا وآزمویي که دې صبر وکړ، برې دې حتمي دئ، مه د دښمن له زیاتوالي وېرېږه او مه د خپلو ملګرو او ملاتړو د لږوالي پروا کوه، د لوط علیه السلام په څېر به دې الله تعالی مرسته کوي او د دښمنانو په وړاندې به دې یوازې نه پرېږدي.

بایبل د قرآن په خلاف ادعاء کوي چې د لوط ښځه له ده سره یو ځای له سیمې ووته خو په دې خاطر چې شا ته ئې وکتل د مالګې په څلي بدله شوه!! دا څومره خوشې او بېهوده خبره ده!! نه دا د خدای سنت دئ چې څوك د مالګې په څلي بدل کړي او نه الله تعالی په دومره وړې خبرې څوك داسې سخت مؤاخذه کوي، ولې به شا ته کتل جرم او ګناه ګڼي او ولې به د داسې وړې خبرې په سبب داسې ستره سزا ورکوي؟! قرآن هم وایي چې لوط علیه السلام ته ویل شوي وو چې تاسو ووځئ او شا ته مه ګورئ، خو د نه کتلو معنی دا ده چې وروسته پاته کسانو ته هېڅ اعتناء مه کوئ، دا پروا مه کوئ چې څوك پاته شو او څه ورسره وشول؟ که ستا مېرمن هم وروسته پاته شوه پروا ئې مه کوه!! په یقین سره ویلی شو چې په اصلي تورات او انجیل کې به دې ته ورته وینا راغلې وي خو د بایبل

ليکوال ترې داسې مسخره قصه جوړه کړې

بايبل تر دې عنوان لاندې (لوط او لوڼې ئې)، د لوط عليه السلام او د ده د پاك لمنو او مجاهدو لوڼو په اړه داسې څه ليکلي چې د هر مؤمن انسان وېښتان ورته ځيږ شي!! ليکې: (... لوط ووېرېدو او د صوغر په کلي کې د پاته کېدو پر ځاى غرنۍ سيمې ته ولاړ او په يوه غار کې ځاى پر ځاى شول، يوه ورځ د لوط مشرې لور خپلې خور ته وويل: په دې ټولې سيمې کې هيڅ نارينه نشته چې له موږ سره نکاح وکړي، پلار به مو هم ډېر ژر زوړ شي او نور به نه شي کولی چې له ځانه وروسته نسل ترې پاته شي، راځه چې شراب پرې وڅښو او نژدېکت ورسره وکړو او په دې توګه د خپل پلار نسل تلپاتې وساتو!! نو همدغه شپه ئې هغه مست کړ او مشره لور ورسره پرېوته، خو لوط د خپلې لور له نژدېکت او سحر د ده له څنګه له پاڅېدو خبر نه شو، سبا مشرې خور کشرې ته وويل: ما تېره شپه له هغه سره نژدېکت وکړ، راځه چې نن شپه بيا شراب پرې وڅښو او دا ځل ته ورسره شپه تېره کړه!! نو بيا ئې هغه مست کړ، کشره لور ورسره څملاسته، خو بيا هم لوط پرې پوه نه شو، په دې توګه دواړه نجونې له خپله پلاره حامله شوې، دواړو زامن وزېږول!!)

دا د لوط عليه السلام په څېر د يوه جليل القدره او مجاهد پيغمبر او د ده د پاك لمنو او مجاهدو لوڼو په اړه د بايبل کرکجنې او دروغجنې خبرې دي، داسې خبرې چې انسان ئې په ويلو او ليکلو شرمېږي، يو پيغمبر به څنګه شراب څښي؟ څنګه به د شرابو د څښلو په وخت کې په دې نه پوهېږي چې دا شراب دي که اوبه؟ څنګه به د ده پاك لمنې لوڼې داسې کار کوي؟ کوم عاقل انسان به دا خبره ومني چې لوط عليه السلام په داسې ځاى کې اوسېدو چې هلته هيڅ بل انسان نه وو؟ ولې به د ابراهيم عليه السلام خوا ته نه تلو؟ ابراهيم عليه السلام خو د بايبل په وينا له ده يوازې دومره لرې وو چې هغه دوه مېلمانه غرمه وخوځېدل او د ماښام لوېدو په مهال د لوط عليه السلام خوا ته ورسېدل؟ څنګه به دا خبره ومني چې په يو ځل نژدېکت سره ښځه حامله کېږي؟ او دا نژدېکت به حتماً په هغو ورځو کې وو چې د ښځو د حامله کېدو احتمال قوي وي؟ بايبل خو وايي چې لوط عليه السلام د يوه داسې غره په يوه غار کې اوسېدو چې هلته له دوی پرته بل څوك نه وو، نو دا شراب ئې له کومه او له چا تر لاسه کړل؟ دې بې ځوابو پوښتنو ته بايبل او د بايبل منونکي هيڅ ځواب نه لري!!

بايبل وايي چې لوط ته دوه فرشتې ورغلې خو قرآن ئې د فرشتو يو ټولګی ګڼي، پرته له دې چې شمېر ئې وښيي، بايبل وايي چې فرشتو ډوډۍ وخوړه خو قرآن وايي چې دوی ډوډې ته لاس نه دئ اوږد کړی.

انسان هغه مهال د قرآن په عظمت ښه پوهېدی شي چې د بايبل په څېر د کوم کتاب په څنګ کې ئې کښېږدي او دواړه سره مقايسه کړي او وګوري چې د دوی تر منځ څومره ژور توپير شته، دومره لکه د زمکې او آسمان تر منځ، يو ئې هومره لوړ او بل ئې دومره ټيټ، په دې به پوه شي چې واقعاً قرآن د الله تعالی کلام دئ او بايبل د يوه داسې انسان د

ذهن زېرنده چې غوښتل ئې د عوامو په مزاج برابره کومه قصه له ځانه ولیکي!!

وَإِلَىٰ مَدۡيَنَ أَخَاهُمۡ شُعَيۡبٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥۖ قَدۡ
جَآءَتۡكُم بَيِّنَةٞ مِّن رَّبِّكُمۡۖ فَأَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ وَٱلۡمِيزَانَ وَلَا تَبۡخَسُواْ ٱلنَّاسَ
أَشۡيَآءَهُمۡ وَلَا تُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ بَعۡدَ إِصۡلَٰحِهَاۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن
كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٨٥﴾ وَلَا تَقۡعُدُواْ بِكُلِّ صِرَٰطٖ تُوعِدُونَ وَتَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ
ٱللَّهِ مَنۡ ءَامَنَ بِهِۦ وَتَبۡغُونَهَا عِوَجٗاۚ وَٱذۡكُرُوٓاْ إِذۡ كُنتُمۡ قَلِيلٗا فَكَثَّرَكُمۡۖ وَٱنظُرُواْ
كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿٨٦﴾ وَإِن كَانَ طَآئِفَةٞ مِّنكُمۡ ءَامَنُواْ بِٱلَّذِيٓ
أُرۡسِلۡتُ بِهِۦ وَطَآئِفَةٞ لَّمۡ يُؤۡمِنُواْ فَٱصۡبِرُواْ حَتَّىٰ يَحۡكُمَ ٱللَّهُ بَيۡنَنَاۚ وَهُوَ خَيۡرُ
ٱلۡحَٰكِمِينَ ﴿٨٧﴾

۸۵- او مدین ته مو د دوی ورور شعیب (ولېږو)، وئې ویل: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ چې له ده پرته بل هیڅ معبود نه لرئ، بې شکه چې تاسو ته ستاسو د رب له لوري څرګنده نښه راغلې، نو پیمانه او تله بشپړه کوئ او د خلکو شیان مه ورکموئ؛ او په زمکې کې د هغې له اصلاح وروسته فساد مه کوئ، دا درته غوره دئ که مؤمنان یئ. ۸٦- او په لارو کې په دې موخه مه کښېنئ چې وېره خوره کړئ او د الله له لاري هغه څوك منع کړئ چې ایمان ئې راوړئ او کوږوالی ورته لټوئ او هغه وخت درياد کړئ چې لږ وئ نو زيات ئې کړئ او وګورئ چې د مفسدینو پایله څنګه وه! ۸۷- او که ستاسو يوې ډلې په هغه څه ایمان راوړی وي چې زه ورسره رالېږل شوی یم او بلې ډلې ایمان رانه وړ، ترهغه صبر وکړئ چې الله زموږ تر منځ فیصله وکړي او هغه ترټولو غوره حَکَم (فیصله کوونکی) دئ.

(۸۵-۸۷)- دلته د سورې د اساسي مضامینو لپاره د یوه داسي قوم په څېره کې تاریخي بېلګه زموږ مخې ته اېښودل شوې چې څو ستر ستر جرمونه ئې درلودل: په تلې او پیمانې کې ئې خیانت کولو، په زمکې کې ئې فساد، بې امني او وېره خوروله، لاري ئې شوکولې، خلك ئې د الله له لاري منع کول او په دین کې ئې تحریفونه کول. دوی ته شعیب علیه السلام د پیغمبر په توګه ولېږل شو، دوی ئې له دغو ګناهونو لاس اخیستو ته راوبلل، ورته وئې ویل: د ضعف او ناتوانۍ ورځې مو درياد کړئ، الله تعالی له هغه حالت وژغورلئ او

ستاسو شمېر ئې زيات کړ، د هغو مفسدينو له بدو پايلو پند واخلئ چې په الهي عذاب اخته شول، که يوې ډلې زما پر رسالت ايمان راوړی او بلې نه دئ راوړی؛ صبر وکړئ، مؤمنان مه ځوروئ، پرېږدئ چې الله تعالی زموږ تر منځ فيصله وکړي، هغه تر ټولو غوره فيصله کوونکی دئ.

دوی به په لارو کې کمينونه نيول؛ ځيني به ئې گواښل او ځيني به ئې د الله تعالی په لارې له تگ منع کول؛ په سمې لارې د تلو پر ځای به ئې هم ځان او هم نورو ته کږې لارې خوښولې.

---

قَالَ ٱلْمَلَأُ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوا۟ مِن قَوْمِهِۦ لَنُخْرِجَنَّكَ يَٰشُعَيْبُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَكَ مِن قَرْيَتِنَآ أَوْ لَتَعُودُنَّ فِى مِلَّتِنَا ۚ قَالَ أَوَلَوْ كُنَّا كَٰرِهِينَ ﴿٨٨﴾ قَدِ ٱفْتَرَيْنَا عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا إِنْ عُدْنَا فِى مِلَّتِكُم بَعْدَ إِذْ نَجَّىٰنَا ٱللَّهُ مِنْهَا ۚ وَمَا يَكُونُ لَنَآ أَن نَّعُودَ فِيهَآ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّنَا ۚ وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَىْءٍ عِلْمًا ۚ عَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلْنَا ۚ رَبَّنَا ٱفْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِٱلْحَقِّ وَأَنتَ خَيْرُ ٱلْفَٰتِحِينَ ﴿٨٩﴾

۸۸- د ده د قوم لويې غوښتونکو سردارانو وويل: اې شعيبه! يا به تا او هغه مؤمنان چې درسره دي حتماً له خپل کلي باسو او يا به هرومرو زموږ مذهب ته بېرته راگرځئ، وئې ويل: که څه هم (ترې) کرکه ولرو؟! ۸۹- که له هغه وروسته ستاسو مسلك ته دروگرځو چې الله ترې وژغورلو نو يقيناً چې پر الله به مو دروغجنه افتراء کړې وي، موږ ته نه ښايي چې هغه ته وروگرځو، مگر دا چې الله زموږ رب ئې وغواړي، زموږ رب په هر څه علماً احاطه کړې، پر الله مو توکل دئ، اې زموږ ربه! زموږ او زموږ د قوم تر منځ رښتينې فيصله وکړې او ته تر ټولو غوره فيصله کوونکی يې.

---

(۸۸-۸۹)- گورئ چې د امن، امانتدارۍ، عدالت او صلح پيغمبر ته د مستکبرينو او لويې غوښتونکو ځواب څه وو؟ يا به زموږ مسلك ته راگرځئ، زموږ په مذهبي، سياسي، اقتصادي او اجتماعي نظام به نيوکې او اعتراض نه کوئ، يا به زموږ له هېواده شړل کېږئ، يا تسليمېدا ده يا تبعيدېدا، له دې پرته په بل څه روغه جوړه نشي کېدی.

خو دا هم وگورئ چې د پيغمبر او د ده د يارانو ځواب څه دئ:

- آيا ستاسو هغه مذهب او مسلك ومنو چې کرکه ترې لرو؟!
- که له هغه وروسته ستاسو مسلك ته دروگرځو چې الله ترې وژغورلو نو يقيناً چې پر

الله به مو دروغجنه افتراء کړې وي، ستاسو مذهب پر الله تعالی له افتراءاتو پرته بل څه نه دئ.

- موږ ته نه ښايي چې هغه ته وروگرځو، مگر دا چې الله زموږ رب ئې وغواړي، ښايي په موږ کې به داسي څوك پيدا شي چې الله تعالی ئې له دې سعادت محروم کړي او بېرته ستاسو دين ته دروگرځي، موږ نه پوهېږو چې هغه به څوك وي او په دې کې به د الله تعالی څه حکمت وي؟ الله تعالی په هر څه ښه پوهېږي.
- موږ پر الله تعالی توکل کوو، نه ستاسو د مخالفت او گواښونو پروا لرو او نه له دې چې څوك له موږ بېل شي او تاسو ته درشي.
- اې زموږ ربه! زموږ او زموږ د قوم تر منځ رښتينې فيصله وکړې او ته تر ټولو غوره فيصله کوونکی يې.

دا چې قرآن په مکرره توگه فرمايي چې تل مستکبرينو د پيغمبرانو مخالفت کړی او مستضعفين ورسره ملگري شوي، په دې سره موږ ته لارښوونه کوي چې مؤمن او انقلابي دعوتگران بايد هيڅکله د ټولني له لويي غوښتونکو د حمايت او تائيد انتظار ونلري او د هغو مخاطبينو په ضمن کې ئې ونه نيسي چې د موافقې او له صف سره د يو ځای کېدو طمع ترې کېږي.

دا هم يو له هغو آيتونو دئ چې د تفسير په اړه ئې د مفسرينو تر منځ زيات اختلاف تر سترگو کېږي، د اختلاف اصلي ټکي دوه دي: ۱- د دې خبري معنی څه ده چې شعيب عليه السلام ته خپل قوم ويلي: يا به زموږ دين او مذهب ته بېرته راگرځئ او يا به شړل کېږئ، آيا معنی ئې دا ده چې شعيب عليه السلام تر پيغمبرۍ مخکې د دوی په څېر او د دوی د دين او مذهب پلوي وو؟ د دې خبري په منلو سره خو د پيغمبرانو عليهم السلام عصمت تر پوښتني لاندې راځي! ۲- د دې خبري معنی څه ده چې شعيب عليه السلام ويلي: موږ ته نه ښايي چې ستاسو دين ته بېرته دروگرځو، مگر دا چې الله زموږ رب ئې وغواړي، زموږ رب په هر څه علماً احاطه کړې؟ د دې پوښتنو دقيق او سم ځواب دا دئ:
۱- قوم د شعيب عليه السلام او د ده د مؤمنو ملگرو په اړه داسي انگېرله چې دوی د خپل پلار نيکه له مخکيني دين او مذهب لاس اخيستی او نوی دين ئې غوره کړی، نو ځکه ئې له دوی غوښتي چې بېرته خپل پلرني دين ته راوگرځئ، د دې معنی دا نه ده چې شعيب عليه السلام تر بعثت مخکې د دوی په څېر وو او د دوی په مذهب ئې باور درلود.
۲- د شعيب عليه السلام د وينا معنی دا ده چې موږ ته نه ښايي ستاسو دين ته دروگرځو، مگر دا چې الله زموږ رب ئې وغواړي، ښايي په موږ کې به داسي څوك پيدا شي چې الله تعالی ئې له دې سعادت محروم کړي او بېرته ستاسو دين ته دروگرځي، موږ نه پوهېږو چې هغه به څوك وي او په دې کې به د الله تعالی څه حکمت وي؟ الله تعالی په هر څه ښه پوهېږي.

وَقَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦ لَئِنِ ٱتَّبَعۡتُمۡ شُعَيۡبًا إِنَّكُمۡ إِذٗا لَّخَٰسِرُونَ ٩٠

۹۰- او د قوم کافرو مشرانو ئې وويل: که د شعيب متابعت مو وکړ بې له شکه چې تاوان کوئ.

(۹۰)- د قوم کافرو مشرانو ولس په دې الفاظو وګواښو چې که چا د شعيب ملګرتيا وکړه ځان ته تاوان رسوي، دا يو ګواښ وو، ولس ئې له دې وېرول چې د شعيب عليه السلام د ملګرتيا په صورت کې به خامخا له سزا سره مخامخ کېږئ، له دې ملګرتيا سره له خپل کور کلي وتل او له خپل هر څه محرومېدا تړلې ده.

فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلرَّجۡفَةُ فَأَصۡبَحُواْ فِي دَارِهِمۡ جَٰثِمِينَ ٩١ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ شُعَيۡبٗا كَأَن لَّمۡ يَغۡنَوۡاْ فِيهَاۚ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ شُعَيۡبٗا كَانُواْ هُمُ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٩٢

۹۱- نو زلزلې ونيول او په خپلو کورونو کې پړمخې پرېوتل. ۹۲- هغه چې شعيب ئې تکذيب کړی وو، داسې معلومېدل لکه چې دلته مېشت نه ول، هغو چې شعيب ئې تکذيب کړی وو په خپله زيانمن ول.

(۹۱-۹۲)- دوی شعيب عليه السلام او د ده مؤمن ملګري په تبعيد او تعذيب وېرولي ول، الله تعالی د دوی د غرور او کبر کاسه نسکوره کړه، هيبتناکه زلزله ئې پرې مسلطه کړه، کورونه ئې پرې رانسکور کړل، پر زمکې پړمخې پراته هلاك شول، ټغر ئې ټول شو، په سيمې ئې داسې حالت راغی لکه چې دلته څوك نه اوسېدل، نه ئې د کورونو، باغونو او فصلونو څه نښه پاته وه او نه ئې د قبرونو.

دوی مؤمنان ګواښل چې پام کوئ د شعيب ملګرتيا ونه کړئ چې تاوان کوئ، خو دوی په خپله ځان ته زيان ورسولو.

فَتَوَلَّىٰ عَنۡهُمۡ وَقَالَ يَٰقَوۡمِ لَقَدۡ أَبۡلَغۡتُكُمۡ رِسَٰلَٰتِ رَبِّي وَنَصَحۡتُ لَكُمۡۖ فَكَيۡفَ ءَاسَىٰ عَلَىٰ قَوۡمٖ كَٰفِرِينَ ٩٣

۹۳- نو مخ ئې ترې واړاوو او وئې ويل: اې زما قومه! يقيناً چې د خپل رب پيغامونه مې درورسول او نصيحت مې درته وکړ، نو څنګه به (اوس) د کافر قوم (په دې حالت) تأسف کوم؟!

(۹۳)- د تبليغ په اړه مي خپل مأموريت تر سره کړ، په خواخوږۍ سره مي تاسو ته نصيحت وکړ، خو تاسو د کفر او انکار لار غوره کړه، د همدې په وجه له دغه دردناك حالت سره مخامخ شوئ، ولې به ستاسو په حالت تأسف کوم؟!

وَمَآ أَرْسَلْنَا فِي قَرْيَةٍ مِّن نَّبِيٍّ إِلَّآ أَخَذْنَآ أَهْلَهَا بِٱلْبَأْسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمْ يَضَّرَّعُونَ ﴿٩٤﴾ ثُمَّ بَدَّلْنَا مَكَانَ ٱلسَّيِّئَةِ ٱلْحَسَنَةَ حَتَّىٰ عَفَواْ وَّقَالُواْ قَدْ مَسَّ ءَابَآءَنَا ٱلضَّرَّآءُ وَٱلسَّرَّآءُ فَأَخَذْنَـٰهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٩٥﴾

٩٤- او هیڅ کلي ته مو کوم پیغمبر نه دئ لېږلی مگر دا چي د هغه اوسېدونکي مو په کړاوونو او ستونزو نیولي، د دې لپاره چي زاري وکړي. ٩٥- بیا مو د بدحالۍ ځای په سوکالۍ بدل کړی، تر هغه چي شېرازه شول او دا وینا ئې پیل کړه چي: زموږ پر پلرونو هم کړاوونه او سوکالۍ راغلې وې، نو په داسې حال کې مو ناڅاپي ونیول چي په خیال کې ئې نه گرځېده.

(٩٤-٩٥)- دلته یو دائمي او تغییر نه منونکی الهي سنت بیان شوی، له سرکښ او باغي ولس سره د الله تعالی د معاملې په اړه، چي اساسي ټکي ئې دا دي:

- د زمانې په هر پړاو او د ځمکي په هر گوټ کې چي کوم پیغمبر مبعوث شوی، هلته د شخړو، ستونزو او کړاوونو لړۍ پیل شوې، په دې موخه چي خلك له کبر او مستۍ لاس واخلي او په خشوع او خضوع سره الله تعالی ته مخه کړي.
- کله چي د ابتلاءاتو په دغي لړۍ سره باغیان نه دي اصلاح شوي او له کبر او سرغړاوي ئې لاس نه دئ اخیستی، د ابتلاء بله لړۍ پیل شوې، خو دا ځل بدحالي په سوکالي بدله شوې.
- خو کله چي دوی دا الهي ابتلاءات یو طبیعي بهیر گڼلی، نه الهي آزمېښت، په غرور او تکبر سره ئې ویلي چي زموږ پر پلرونو هم داسې ښې او بدې ورځې راغلې دي، د خلکو له عمل او عقیدې سره ئې هیڅ تړاو نشته!! دغه مهال، په داسې حال کې الهي عذاب پرې نازل شوی چي په خیال کې ئې نه گرځېده.

وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ ٱلْقُرَىٰٓ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوْاْ لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَـٰتٍ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ وَلَـٰكِن كَذَّبُواْ فَأَخَذْنَـٰهُم بِمَا كَانُواْ يَكْسِبُونَ ﴿٩٦﴾

٩٦- که کلیوالو ایمان راوړی وی او تقوا ئې درلودی نو موږ به حتماً د آسمانونو او د

زمکې د برکاتو (دروازې د دوی پر مخ) پرانیستې وې، خو دوی دروغ وګڼلو، نو په هغه څه مو ونیول چې دوی کول.

(۹٦)- دا هم یو بل ثابت او نه بدلېدونکی الهي سنت چې:

- که خلك ایمان راوړي، د تقوی لار غوره کړي نو الله تعالی به د آسمانونو او زمکې د برکاتو دروازې د دوی پر مخ پرانیزي، دواړه به په سخاوت او پراخ لاس سره خپل برکات د دوی مخې ته ږدي، آسمان به له برکته ډك ورښتونه پرې وروي او زمکه به له برکت ډکې مېوې او دانې ورته راټوکوي.
- خو که دوی د الهي دین د تکذیب لار اختیار کړي، د ایمان پر ځای د کفر او د تقوی پر ځای د ظلم، فسق او فساد لار؛ نو د خپلو کړنو په وجه دې الهي عذاب ته منتظر وي.

أَفَأَمِنَ أَهْلُ ٱلْقُرَىٰٓ أَن يَأْتِيَهُم بَأْسُنَا بَيَٰتًا وَهُمْ نَآئِمُونَ ﴿٩٧﴾ أَوَ أَمِنَ أَهْلُ ٱلْقُرَىٰٓ أَن يَأْتِيَهُم بَأْسُنَا ضُحًى وَهُمْ يَلْعَبُونَ ﴿٩٨﴾ أَفَأَمِنُوا۟ مَكْرَ ٱللَّهِ ۚ فَلَا يَأْمَنُ مَكْرَ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْقَوْمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿٩٩﴾

۹۷- آیا کلیوال له دې ځان خوندي ګڼي چې د شپې شپې زموږ عذاب پرې راشي په داسي حال کې چې ویده وي؟ ۹۸- او آیا کلیوال له دې ځان خوندي ګڼي چې په غرمه کې زموږ عذاب پرې راشي په داسي حال کې چې په لوبو بوخت وي. ۹۹- نو آیا د الله له پټ تدبیر ځان مصون ګڼي، له زیانمن قوم پرته هیڅوك د الله له پټ تدبیر ځان مصون نه بولي.

(۹۷-۹۹)- له دې مبارکو آیتونو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې د هري انساني ټولني بد اقتصادي او اجتماعي وضعیت؛ فقر او ناامني؛ د دوی له ظلمونو او ګناهونو سره تړاو لري؛ عوامل ئې دوی په خپله رامنځته کړي؛ یوه ډله ئې په فساد او عصیان کې جرئ او جسور شوې او بله ډله ئې ظلم ته غاړه ایښې او ظالمانو ته تسلیم شوې؛ دواړه دوکه شوي او د مستقبل له بدو پایلو غافل شوي؛ نو ځکه په دې آیتونو که په ډېره اغېزناکه توګه د دې مزعوم مصونیت په اړه د دوی انګېرنه رد شوې؛ هغو ته چې بې باکه دي او له الهي عذاب ځان خوندي ګڼي ویل شوي:

- آیا له دې ځان خوندي ګڼئ چې د شپې له لوري کوم الهي عذاب درباندي راشي، په داسي حال کې چې په خواږه خوب ویده او له هر څه غافل یئ؟
- آیا له دې ځان خوندي ګڼئ چې په غرمه کې کوم الهي عذاب درباندي راشي په داسي

حال کې چې په لوبو بوخت يئ؟

- آيا داسې تدابير مو نيولي چې د الله له پټ تدبير مو خوندي وساتي؟

- هر څوک چې په خپلو تدبيرونو دومره مغرور شوی چې د الله له پټ تدبير ئې ځان مصون ګڼلی؛ هغه ځان ته زيان رسولی؛ هر څوک چې پر خپل بد اجتماعي وضعيت راضی شوی او ظلم او بې عدالتي ته ئې غاړه ايښې؛ هغه په تدريجي مرګ محکوم شوی؛ يو له ډېر غرور په لوبو مصروف شوی او بل تخدير شوی او د غفلت په خوب ويده شوی؛ دواړه له ګډ برخليک؛ عام الهي عذاب سره مخامخ شوي.

أَوَ لَمْ يَهْدِ لِلَّذِينَ يَرِثُونَ ٱلْأَرْضَ مِنۢ بَعْدِ أَهْلِهَآ أَن لَّوْ نَشَآءُ أَصَبْنَـٰهُم بِذُنُوبِهِمْ ۚ وَنَطْبَعُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ ﴿١٠٠﴾

۱۰۰- آيا هغو خلکو ته چې زمکه ئې له خپلو مخکينيو خاوندانو په ميراث وړې، دا نه ده جوته شوې چې که وغواړو نو د خپلو ګناهونو په وجه به ئې په مصيبتونو اخته کړو او پر زړونو به ئې داسې مهر ولګوو چې بيا به نه اوري.

(۱۰۰)- آيا د دوی لپاره د هغو خلکو بد او دردناك عاقبت يو څرګند لارښود نه دئ چې د خپلو جناياتو په وجه مؤاخذه او د زمکي له مخه ئې ټغر ټول شو او د اقتدار ماڼۍ ئې نسکوره شوه، دا دئ نن همغه زمکه او د دوی ټولې شتمنۍ تاسو ته په ميراث ورسېدې؟ دا خو پرېږده چې الله تعالی کولی شي له تاسو سره دې ته ورته معامله وکړي، ستاسو ټغر ټول کړي او هر څه مو نورو ته په ميراث ورکړي، بلکې کولی شي ستاسو د پوهې او تعقل ټول استعدادونه، د زړه او غوږونو په شمول درنه واخلي، که الله تعالی ستاسو زړه او دماغ له کاره وغورځوي، نو نه به په غوږونو څه اورئ او نه به په سترګو څه وينئ.

تِلْكَ ٱلْقُرَىٰ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنۢبَآئِهَا ۚ وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَـٰتِ فَمَا كَانُوا۟ لِيُؤْمِنُوا۟ بِمَا كَذَّبُوا۟ مِن قَبْلُ ۚ كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِ ٱلْكَـٰفِرِينَ ﴿١٠١﴾ وَمَا وَجَدْنَا لِأَكْثَرِهِم مِّنْ عَهْدٍ ۖ وَإِن وَجَدْنَآ أَكْثَرَهُمْ لَفَـٰسِقِينَ ﴿١٠٢﴾

۱۰۱- دا هغه کلي وو چې د دوی ځيني قصې مو درته بيان کړې، يقيناً چې دوی ته خپلو پيغمبرانو څرګندي نښي وروړې، خو دوی په هغه څه ايمان راوړو ته تيار نه وو چې مخکې ئې تکذيب کړي وو، الله همداسې د کافرانو پر زړونو مهر لګوي. ۱۰۲- او د دوی ډېری مو په خپلو ژمنو ولاړ ونه موندل برعکس د دوی ډېری مو فاسقان

وموندل.

(۱۰۱-۱۰۲)- دلته د تېرو امتونو د قصو يوه جامع خلاصه او ښکلې تتمه راغلې او په دغو څو ټکيو کې راخلاصه شوې:

- پيغمبران ورغلل خو دوی په هغه څه ايمان راوړو ته تيار نه ول چې د دوی پلرونو تکذيب کړي وو.
- د کفر په سبب د دوی پر زړونو مهر لګول شوی وو.
- ډېری ئې د خپلو ژمنو ماتوونکي ول.
- ډېری ئې فاسقان ول.

ثُمَّ بَعَثْنَا مِنۢ بَعْدِهِم مُّوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيْهِۦ فَظَلَمُواْ بِهَاۖ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿١٠٣﴾

۱۰۳- بيا مو له دوی وروسته موسی له خپلو آيتونو سره فرعون او د ده درباريانو ته ولېږو، چې ظلم ئې پرې وکړ، نو وګوره چې د دغو مفسدينو عاقبت څنګه وو.

(۱۰۳)- کوم مطالب چې د تېرو پيغمبرانو په قصو کې په لنډه توګه بيان شوي له دې وروسته تر ۱۷۱ آيت پورې د موسی عليه السلام د قصې په دوو برخو کې په تفصيل سره څېړل شوي، لومړۍ برخه ئې له فرعوني نظام سره د ده مبارزې ته او دوهمه برخه ئې داخلي مبارزې ته ځانګړې شوې. دا آيت د دې بحث مقدمه او خلاصه ده، چې اساسي خبري ئې دا دي:

- له مخکينيو ياد شوو پيغمبرانو وروسته موسی عليه السلام له الهي آيتونو سره ولېږل شو.
- د ده مقابل لوری فرعون او د ده درباريان ول.
- هغوی هم د مخکينيو کافرانو په څېر د فساد، انکار او ظلم لار غوره کړه او په الهي عذاب اخته شول.
- تاريخ ته رجوع وکړه او وګوره چې د دغو مفسدينو پايله څنګه وه!
- دغه مطالب په وروستنيو آيتونو کې په تفصيل سره راغلي.

وَقَالَ مُوسَىٰ يَٰفِرْعَوْنُ إِنِّي رَسُولٌ مِّن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٠٤﴾ حَقِيقٌ عَلَىٰٓ أَن لَّآ

أَقُولَ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْحَقَّ ۚ قَدْ جِئْتُكُم بِبَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ فَأَرْسِلْ مَعِىَ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿١٠٥﴾

١٠٤- او موسى وويل: اې فرعونه! زه په يقيني توگه د رب العالمين يو استازى يم. ١٠٥- د دې وړ چې د الله په اړه له حق پرته بل څه ونه وايم، يقيناً چې تاسو ته مې ستاسو د رب له لوري څرگنده نښه راوړې، نو بني اسرائيل راسره ولېږه.

---

(١٠٤-١٠٥)- دلته د موسى عليه السلام د هغې لومړنۍ وينا خلاصه راغلې چې فرعونيانو ته ئې کړې او هغه دا چې:

- زه د نورو پيغمبرانو په څېر د الله تعالى يو پيغمبر يم.
- زما حالت په دې شهادت ورکوي چې د الله په اړه له حق پرته بل څه نه وايم.
- داسې څرگنده نښه مې ستاسو د رب له لوري درته راوړې چې په همدې حقيقت شهادت ورکوي.
- که نور هيڅ نه کوئ نو د بني اسرائيلو له څورولو او په غلامۍ کې د دوى له ساتلو لاس واخلئ، که په خپل ملك کې ئې نشئ زغملى، پرې ئې ږدئ چې له ما سره بل ځاى ته هجرت وکړي.

---

قَالَ إِن كُنتَ جِئْتَ بِـَٔايَةٍ فَأْتِ بِهَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١٠٦﴾ فَأَلْقَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِىَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ ﴿١٠٧﴾ وَنَزَعَ يَدَهُۥ فَإِذَا هِىَ بَيْضَآءُ لِلنَّٰظِرِينَ ﴿١٠٨﴾

١٠٦- وئې ويل: که کومه نښه دې راوړې وي نو رائې وړه (وئې ښيه)، که رښتينى يې! ١٠٧- نو خپله عصا ئې وغورځوله، چې ناڅاپه هغه د رښتيني مار (په څېر گرځېدلې) وه. ١٠٨- او خپل لاس ئې راوايست چې له واره ليدونکو ته تك سپين او ځلانده (گرځېدلى) وو.

---

(١٠٦-١٠٨)- فرعون له موسى عليه السلام د هغې نښې وړاندې کول وغوښتل چې موسى عليه السلام ئې وينا کړې وه او هغه د دې غوښتنې په ځواب کې دا معجزې وښودې:

- خپله عصا ئې وغورځوله، چې ناڅاپه هغه د رښتيني مار په توگه راڅرگنده شوه
- خپل لاس ئې له گرېوانه راوايست چې له واره ليدونکو ته تك سپين او ځلانده برېښېدو.

دا دوه مبارك آيتونه که له يوې خوا موږ ته د موسى عليه السلام دوه سترې معجزې

راپېژني له بلي خوا موږ ته وايي: موسی علیه السلام له خپلي عصا او ید بیضاء سره د هغه فرعون مقابلې ته تللی چې ستر او مجهز فوځ لري، د ټول مصر مطلق العنان واکمن دئ، د مصر ټولي زمكي، نهرونه او شتمنۍ د ځان ګڼي، ځان د خلکو ستر او ترټولو لوړ رب بولي. د پيغمبرانو علیهم السلام په لار تلونكي مجاهدين بايد د موسی علیه السلام په څېر دوه ځانګړتياوي ولري: ١- په خپلي عصا سره د دښمن مقابله، ٢- پاك او سپين لاس، يعني په خپلو ذاتي امكاناتو د دښمن مقابله وكړئ، يعنی خپله لمن پاكه ساتئ او ګناه ته لاس مه اوږدوئ، بايد ثابته كړئ چې ستاسو لاس سپين او لمن مو پاكه ده، مطمئن اوسئ چې الله تعالی به د هر مؤمن مجاهد د سپين لاس په عصا همغه كار كوي چې د موسی علیه السلام په عصا ئې وكړ.

---

قَالَ ٱلْمَلَأُ مِن قَوْمِ فِرْعَوْنَ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٌ عَلِيمٌ ﴿١٠٩﴾ يُرِيدُ أَن يُخْرِجَكُم مِّنْ أَرْضِكُمْ ۖ فَمَاذَا تَأْمُرُونَ ﴿١١٠﴾ قَالُوٓا۟ أَرْجِهْ وَأَخَاهُ وَأَرْسِلْ فِى ٱلْمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴿١١١﴾ يَأْتُوكَ بِكُلِّ سَٰحِرٍ عَلِيمٍ ﴿١١٢﴾ وَجَآءَ ٱلسَّحَرَةُ فِرْعَوْنَ قَالُوٓا۟ إِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِن كُنَّا نَحْنُ ٱلْغَٰلِبِينَ ﴿١١٣﴾ قَالَ نَعَمْ وَإِنَّكُمْ لَمِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ ﴿١١٤﴾

١٠٩- د فرعون د قوم درباريانو وويل: دا خو حتماً يو ډېر پوه جادوګر دئ. ١١٠- غواړي تاسو له خپل ټاټوبي وباسي، نو څه امر كوئ؟ ١١١- وئې ويل: ده او ورور ته ئې مهلت وركړه او ښارونو ته اربكي ولېږه، ١١٢- چې هر ماهر او پوه ساحر درته راولي. ١١٣- او جادوګران فرعون ته راغلل او وئې ويل: حتماً به مو څه بدله په برخه كېږي، كه برلاسي شوو؟ ١١٤- وئې ويل: هو؛ او تاسو به خامخا له مقربينو وئ.

---

(١٠٩-١١٤)- دلته څو ټكي په پام كي ولرئ:

- درباريانو د موسی علیه السلام د معجزو له ليدو وروسته وويل چې دا حتماً يو ماهر جادوګر دئ، كه خپلي مخي ته پرېښودی شي نو زمكه به درته سور اور كړي، تاسو به له اقتدار او واكمنۍ محروم او د دې هېواد پرېښودو ته اړ كړي، ووايئ چې څه چاره ئې وكړو، مشوره مو څه ده، له (فَمَاذَا تَأْمُرُونَ) دا معنی هم اخيستل كېدی شي چې دوی فرعون ته ويلي چې څه امر كوې، كه څه هم تأمرون د جمع صيغه ده، خو واكمنانو ته د دوی درباريان تل همداسي خطاب كوي، دا توجيه تر ټولو غوره برېښي چې درباريانو په خپل منځ كي دا خبره ياده كړې، د دوی له منځه چا ويلي چې نو مشوره مو څه ده، ټول په دې متفق شوي چې فرعون ته ووايي: موسی او ورور ته ئې مهلت وركړه، د هېواد ګوټ ګوټ ته اربكي ولېږه چې له موسی سره د مقابلې لپاره تكړه جادوګران راغونډ كړي، فرعون

دا مشوره منلې ده. دا ځکه چې په الفاظو کې دا نه مومو چې غونډه د فرعون په حضور کې دائره شوې او هغه درباريانو ته څه ويلي.

● دلته دا پوښتنه راولاړېږي چې فرعون او درباريان ئې ولې د موسى عليه السلام له يوې معجزې دومره په وېره کې شول چې وايي تاسو له خپل ملك باسي؟! د يوه داسي ستر هېواد مطلق العنان واکمن چې له شام تر ليبيا پوري او د مديترانې له ساحله تر حبشې پوري غزېدلى وو، څنگه له تش لاسي موسى عليه السلام او د ده له بې وزلي او مريي قوم دا وېره احساس کړه؟! ځواب ئې دا دئ چې:

● د همدغه بې وزلي قوم يوه ستر او نامتو مشر يوسف عليه السلام په دغه ستر هېواد حکومت کړى وو، د مصر اکثريت اوسېدونکو له هغه سره کلکه مينه درلوده او د ده په څېر د يوه مهربان، زړه سواند، امين او مدبر مشر غوښتونکي ول، د غافر (المؤمن) سورې په ٣٤ آيت کې ويل شوي چې کله فرعون د موسى عليه السلام د وژلو خبره وکړه د ده له درباريانو يوه کس چې ايمان ئې راوړى وو خو خپل ايمان ئې نه ښرگنداوو له موسى عليه السلام په ډېرو اغېزناکو الفاظو دفاع وکړه، دوى ته ئې يوسف عليه السلام ورپه ياد کړ او وئې وويل: تر دې د مخه يوسف له ښرگندو نښو سره درته راغلى وو، د هغه له وفاته وروسته تاسو ويل چې الله به بيا داسي پيغمبر راونه لېږي، دا آيت ښيي چې د موسى عليه السلام د دعوت اغېز حتى تر دربار پوري غزېدلى وو.

● د موسى عليه السلام دعوت داسي وو چې له فرعوني نظام د بغاوت معنى ئې درلوده، فرعونيان پوهېدل چې که په مصريانو کې دا دعوت خور شي نو د دوى اقتدار له ستر گواښ سره مخامخ کوي.

● فرعون ته د جادوگرانو په وينا کې مور د سرکاري مذهبي مشرانو خصوصيات معرفي شوي، دوى د واکمنانو په حکم راغونډېږي، له حکامو د خپلو فتوى گانو اجوره تر لاسه کوي، ستر هدف ئې دا وي چې د دربارونو تقرب ئې په برخه شي.

قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلۡقِيَ وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ نَحۡنُ ٱلۡمُلۡقِينَ ﴿١١٥﴾ قَالَ أَلۡقُواْۖ فَلَمَّآ
أَلۡقَوۡاْ سَحَرُوٓاْ أَعۡيُنَ ٱلنَّاسِ وَٱسۡتَرۡهَبُوهُمۡ وَجَآءُو بِسِحۡرٍ عَظِيمٖ ﴿١١٦﴾ وَأَوۡحَيۡنَآ
إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنۡ أَلۡقِ عَصَاكَۖ فَإِذَا هِيَ تَلۡقَفُ مَا يَأۡفِكُونَ ﴿١١٧﴾

١١٥- (جادوگرانو) وويل: اې موسى! ته ئې غورځوې (خپله عصا) او که مور لومړني غورځوونکي شو (د خپلو پړو)؟ ١١٦- وئې ويل: وئې غورځوئ، نو کله چې دوى وغورځول د خلکو سترگي ئې په جادو (سره اغېزمني) کړې، وئې وېرول او ستر جادو ئې وړاندي کړ. ١١٧- او موسى ته مو وحي وکړه چې خپله عصا وغورځوه، نو ناڅاپه

دې هغه څه ښوی تېرول چې دوی په دوکې او چل ول سره جوړول.

(۱۱۵-۱۱۷)- په دې آيتونو کې څو خبرې شوې:

- جادوګرانو موسی عليه السلام ته وويل چې ته خپله معجزه ښيې او که موږ پرېږدې چې خپل هنر وړاندې کړو؟ د وينا الفاظ ئې داسې دي چې غواړي دوی ته د لومړيتوب موقع ورکړی شي. موسی عليه السلام ورسره موافقه کوې.
- د دوی هنر د لاس چالاکي او د خلکو سترګي دوکه کول او تر اغېز لاندې نيول وو، داسې څه ئې وښودل چې خلك ئې ووېرول، د جادو ستره مظاهره ئې وکړه.
- الله تعالی موسی عليه السلام ته وحي وکړه چې خپله عصا وغورځوي، عصا ئې فوراً د جادويي پړو او عصاګانو په ښوی تېرولو پيل وکړ.
- دا آيت ښيي چې سحر هسي يوه دوکه او غولونه ده؛ د دوکې داسې صحنه برابرول دي چې ليدونکو ته يو څه په غير اصلي بڼې کې ښکاره شي؛ دقيقاً دغسې لکه نن چې کوم مداري داسې هيبتانکي صحنې تمثيلوي چې له وېرې او هيبت ئې د ماشومانو او بې خبره خلکو وېښتان ورته ځيږ شي او زړه ئې دربېږي؛ داسې ښيي چې له خولې لويه ډېره راوباسي؛ لومړی ډېره وروښيي؛ بيا د خپل لاس په هنر داسې وښيي چې دا لويه تيږه ئې له کومې ښوی تېره کړه او بيا ئې بېرته راوباسي؛ په حقيقت کې ئې فقط خلك دوکه کړي وي. تش ډبې به خلکو ته وښيي؛ سپين دسمال به په کې کښېږدي او ناڅاپي به تماشاچيانو ته وښيي چې سپينه کوتره ترې راووتله.

فَوَقَعَ ٱلۡحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١١٨﴾ فَغُلِبُواْ هُنَالِكَ وَٱنقَلَبُواْ صَٰغِرِينَ ﴿١١٩﴾ وَأُلۡقِيَ ٱلسَّحَرَةُ سَٰجِدِينَ ﴿١٢٠﴾ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٢١﴾ رَبِّ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ﴿١٢٢﴾

۱۱۸- نو حق واقع او محقق شو او هغه څه باطل او محو شول چې دوی کول. ۱۱۹- دلته نو مغلوب او ذليل شول. ۱۲۰- او جادوګران په سجده پرېوتل. ۱۲۱- وئې ويل: په رب العالمين مو ايمان راوړ. ۱۲۲- د موسی او هارون په رب.

(۱۱۸-۱۲۲)- حق غالب شو، د فرعونيانو هڅي هدر ولاړې، په دې مقابلې کې مغلوب شول، د کبر او لويي پايله ئې سپکاوی او ذلت وو، د چا په هنر او کمال چې دوی تکيه کړې وه، هغوی نه يوازې ماته وخوړه بلکې د موسی عليه السلام د دعوت پر حقانيت پوه شول، د الله تعالی په وړاندې په سجده پرېوتل، په رب العالمين باندې ئې خپل ايمان څرګند

کړ، ټولو خلکو دا صحنه په خپلو سترګو ليدله، فرعونيان په خپلې لومې کې نښتي ول، هغه څه وشول چې دوی ترې وېرېدل.

دلته د سحر په ارتباط څو ظريف ټکي زموږ په وړاندې ځلېږي:

- د موسی عليه السلام معجزه حقيقي او واقعي وه او د جادوګرانو سحر باطل او د حق او واقعيت خلاف. باطل يعني غير واقعي او د حقيقت خلاف بېهوده کار.
- ساحرانو فقط دا کار کړی چې د خلکو سترګې ئې غولولې؛ نه دا چې د پړو او عصاګانو ماهيت ئې بدل کړی وي؛ کار ئې باطل وو او باطل شو.
- ټول مغلوب شول او سپکاوی ئې په برخه شو؛ يعني د مصر ټولو ماهرو او تکړه ساحرانو په ګډه داسې څه ونه کړی شو چې موسی عليه السلام ته ماته ورکړي او يا ضرر ورسوي؛ که دوی کولی شوی چې په خپل سحر سره چا ته ضرر ورسوي نو يوه به ئې د دې مسابقې تر پيلېدو وړاندې فرعون ته ويلي وو: زه به ئې په خپل سحر سره داسې بېمار کړم چې د مسابقې په ورځ نه حاضر شي او نه پر خپلو پښو ودرېدی شي؛ ټول مصريان به ومني چې موسی ماته وخوړه او له وېرې مسابقې ته حاضر نشو. خو ساحرانو نه په يوازې سر دا کار کولی شو او نه ټولو په ګډه؛ يعني چې د سحر ماهيت همداسې دئ؛ هيچا ته په خپل سحر سره هيڅ ضرر نشي رسولی؛ او دا د قرآن د هغې وينا عملي مصداق دئ چې فرمايي:

... وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَانُ وَلَكِنَّ الشَّيَاطِينَ كَفَرُوا يُعَلِّمُونَ النَّاسَ السِّحْرَ وَمَا أُنْزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَارُوتَ وَمَارُوتَ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّى يَقُولا إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلا تَكْفُرْ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهِ وَمَا هُمْ بِضَارِّينَ بِهِ مِنْ أَحَدٍ إِلا بِإِذْنِ اللَّهِ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلا يَنْفَعُهُمْ .... البقرة ۱۰۲

... او سليمان کفر نه وو کړی؛ بلکې په خپله دا شيطانان کافران شوي وو؛ خلکو ته ئې جادو او هغه څه ورښودل چې د بابل په دوو ملائکو: هاروت او ماروت نازل شوي وو، (دې ملائکو) به هيچا ته څه تعليم نه ورکاوو مګر دا چې ورته ويل به ئې: موږ (خو د يوه) امتحان (لپاره راغلې) يو، نو ته مه کافر کېږه، خو دوی له دې دواړو هغه څه زده کول چې په هغه سره نارينه او مېرمنه ئې سره بېل کړي، دا په داسې حال کې چې په دې سره دوی د الله له اذن پرته هيچا ته تاوان رسوونکي نه وو او په داسې حال کې چې هغه څه ئې زده کول چې تاوان ئې وررساوو او ګټه ئې نه وررسوله ...

د آيت د دې فقرې (فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهِ) په تعبير او تفسير کې ځينو اشتباه کړې او داسې ئې انګېرلې چې ګواکې هاروت او ماروت خلکو ته

داسې څه ورزده کول چې وکولی شي مېړمن او خاوند ئې سره بېل کړي!! خو د دې فقرې واضح معنی دا ده چې خلکو له دغو فرشتو د داسې څه زده کولو طمع او هیله درلوده او غوښتل ئې زده ئې کړي؛ چې د بل مېړمن ترې بېله کړي او د ځان مېړمن ئې کړي؛ خو فرشتو ورته ویل: موږ یوه آزموینه یو او ته په دې کار سره د هغه څه کولو هڅه مه کوه چې له کفر سره مترادف دئ. او بیا الله تعالی فرمایي چې دوی په سحر سره هیچا ته کوم ضرر او ځان ته کومه ګټه نشوی رسولی.

یعني چې شیطانانو خلکو ته سحر ورښودو؛ نه فرشتو؛ هاروت او ماروت دوی ته ویل: له سحر ډډه وکړئ او دا کافرانه کار مه کوئ؛ دا مفسدین وو چې له دغو فرشتو ئې هم د سحر زده کولو هیله او غوښتنه درلوده. او الله تعالی فرمایي چې په سحر سره نه ساحرانو چا ته تاوان رسولی شو او نه ځان ته ګټه.

---

قَالَ فِرْعَوْنُ ءَامَنتُم بِهِۦ قَبْلَ أَنْ ءَاذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّ هَٰذَا لَمَكْرٌ مَّكَرْتُمُوهُ فِى ٱلْمَدِينَةِ لِتُخْرِجُوا۟ مِنْهَآ أَهْلَهَا ۖ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿١٢٣﴾ لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَٰفٍ ثُمَّ لَأُصَلِّبَنَّكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿١٢٤﴾ قَالُوٓا۟ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ﴿١٢٥﴾ وَمَا تَنقِمُ مِنَّآ إِلَّآ أَنْ ءَامَنَّا بِـَٔايَٰتِ رَبِّنَا لَمَّا جَآءَتْنَا ۚ رَبَّنَآ أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَتَوَفَّنَا مُسْلِمِينَ ﴿١٢٦﴾

۱۲۳- فرعون وویل: آیا له دې مخکې چې زه اجازه درکړم ایمان مو راوړ؟ دا حتماً ستاسو داسې یو پټ تدبیر دئ چې په دې ښار کې مو تر سره کړ د دې لپاره چې اوسېدونکي ئې ترې وباسئ! نو ژر به پوه شئ (چې څه درسره کوم). ۱۲٤- حتماً به ستاسو لاس پښې یو د بل خلاف پرې کړم، بیا به تاسو ټول پانسی کړم. ۱۲۵- وئې ویل: یقیناً چې موږ د خپل رب لوري ته بېرته ورګرځېدونکي یو. ۱۲٦- او له دې پرته په بل څه موږ نه رټې چې د خپل رب په آیتونو مو له هغه وروسته ایمان راوړ چې موږ ته راورسېدل، اې زموږ ربه! پر موږ صبر راولېږه او په داسې حال کې مو وفات کړه چې مسلمان وو.

---

(۱۲۳-۱۲٦)- فرعون چې په خپلې لومې کې نښتی وو، له یوې خوا باید ولس ته څه ووایي او له بلې خوا جادوګرانو ته چې د ده دښمن ته تسلیم شوي او دی ئې له ستر سپکاوي سره مخامخ کړی، د همدې لپاره وایي: تاسو ولې زما له اجازې مخکې ایمان راوړ؟ په کار خو دا وه چې زما تر پرېکړې مو انتظار کړی وی، دا حتماً ستاسو چل ول وو، موسی ستاسو د

ډلې مشر دئ، په ګډه مو دا دسیسه جوړه کړې ده، غواړئ د دې ښار اصلي اوسېدونکي ترې وباسئ، نو اوس به د خپلې توطئې سزا حتماً وګورئ، د لاس پښو پرې کېدا او په دار ځوړېدا مو سزا ده!!

په دې مختصرو الفاظو کې ډېر زیات ستر ستر حقائق او درسونه پراته دي، موږ ته لارښوونه کوي چې د مظلومو او محکومو ولسونو د وېرولو لپاره د فرعونانو وینا څه وي؟ خلکو ته څه وایي؟ له څه ئې وېروي؟ دوی له یوې خوا ولس ته د عدالت غوښتونکو په ضد وایي: دوی د نظام په ضد توطئې کوي، غواړي امنیت له منځه یوسي، ستاسو هېواد په سور اور بدل کړي، تاسو د هېواد پرېښودو ته اړ کړي او له بلې خوا ئې وېروي، هم له نظام سره د مخالفت له سختې سزا او هم د مخالفینو د برلاسي له خطرناکو عواقبو.

خو د جادګرانو په ځواب کې څو مهمې خبرې تر سترګو کېږي:

- هغه کسان چې تر ایمان د مخه د فرعون په حکم خوځېدل، د اجورې لپاره ئې د موسی علیه السلام مقابلې ته ملا تړلې وه، لویه هیله ئې دا وه چې د دربار تقرب ئې په برخه شي، له ایمان راوړو وروسته نه یوازې د فرعون له سختو ګواښونو نه وېرېږي، بلکې مرګ د خپل رب په لورې د تلو وسیله ګڼي، فرعون ته وایي چې زموږ جرم فقط دا دئ چې د نښو او دلائلو له لیدو وروسته مو د الله تعالی په آیتونو ایمان راوړی، له الله تعالی د صبر او استقامت غوښتنه کوي، غواړي مرګ ئې د مسلمان مرګ وي، یعنی اوس ئې وېره په خپل ایمان او اسلام ده، یوازې له دې وېرېږي چې د تعذیبونو په وړاندې بې صبره نه شي او داسې څه ته اړ نشي چې له اسلام او د الله تعالی له اوامرو د مخالفت په معنی وي!!

دا مطلب د الشعراء د سورې په ۲۹-۵۱ آیتونو کې هم راغلی چې ژباړه ئې دا ده:

(فرعون موسی علیه السلام ته) وویل: که له ما پرته دې بل معبود غوره کړ نو له زندانیانو به دې وګرځوم، (هغه ورته) وویل: (زندان ته مې لېږې) که څه هم (د خپل حقانیت د اثبات لپاره) څرګنده نښه درته وړاندې کړم؟! هغه ورته وویل: رائې وړه که رښتینی یې! نو خپله عصا ئې وغورځوله چې ښکاره مار ترې جوړ شو او خپل لاس ئې راوایست چې لیدونکو ته روڼ او ځلانده وو، (فرعون) په خپلې خوا کې درباریانو ته وویل: دا خو ډېر پوه جادوګر دئ، غواړي په خپل جادو سره مو له خپل ملکه وباسي، نو څه مشوره راکوئ؟ وئې ویل: ده او ورور ته ئې مهلت ورکړه او په ښارونو کې ټول راغونډوونکي (جارچیان) وګماره، تر څو ټول پوه ماهر جادوګران درته راولي، نو جادوګران د معلومې ورځې ټاکلي ځای ته راغونډ کړی شول او خلکو ته وویل شو: آیا تاسو هم راغونډېدونکي یئ، تر څو د (موسی پر ځای د خپلو) دغو جادوګرانو متابعت وکړو، (په خاصه توګه هغه وخت چې ) دوی برلاسي شي، نو کله چې جادوګران راغلل فرعون ته ئې وویل: که موږ برلاسي شوو نو آیا موږ ته به حتماً څه انعام او اجوره راکول کېږي؟! وئې ویل: هو! او په هغه صورت کې خو به تاسو (دربار ته) د مقربینو په ډله کې وئ!! موسی ورته وویل: څه چې (د جادو

ښودلو لپاره) غورځوئ وئې غورځوئ!! نو خپل پړي او عصاګانې ئې وغورځولې او وئې ویل: د فرعون په عزت قسم چې موږ هرو مرو غالبېدونکي یو!! نو موسی خپله عصا وغورځوله چې ناڅاپه ئې هغه څه تېرول چې دوی په درواغو جوړول، نو جادوګران په سجده پرېوتل او وئې ویل: په رب العالمین مو ایمان راوړ، د موسی او هارون په رب، (فرعون) وویل: آیا تر دې د مخه چې زه اجازه درکړم تاسو ایمان راوړ؟!! په دې کې شك نشته چې دی ستاسو هغه مشر دئ چې جادو ئې درښودلی، نو اوس به پوه شئ، حتماً به ستاسو لاسونه او ستاسو پښې بدل بدل پرې کړم او تاسو ټول به په دار وځړوم، (دوی ورته) وویل: باك نشته، موږ د خپل رب په لوري ورګرځېدونکي یو، طمع مو دا ده چې زموږ رب به زموږ خطاګاني په دې خاطر راته وبخښي چې لومړني ایمان راوړونکي شوو)

د قرآن په دې موجزو او مختصرو الفاظو کې هومره پراخ او ژور مطالب او لارښوونې پرتې دي چې له شرحې او تفصیل ئې یو کتاب جوړېږي، ځینې مهمې برخې ئې دا دي:

- فرعونان په دلائلو نه قانع کېږي، د حق د لارې مبارزین دې له ظالمو او فرعون صفته واکمنانو دا طمع نه کوي چې د دوی دلائل به ومني او له مخالفته به لاس واخلي.

- لکه څنګه چې فرعون د موسی علیه السلام مقابلې ته د مصر جادوګران راوړاندې کړل، همدا راز به تل او د تاریخ په هر پړاو کې، د فرعون ملګري، د هر دیني تحریك په ضد، ټګمار مذهبي مشران راوړاندې کوي او د دین مقابله به په دین او د مذهب مقابله به په مذهب سره کوي، د حقپالو دعوتګرانو په ضد به د دین پلورونکو ټګمارو مذهبي مشرانو ډله لومړۍ خط ته لېږي.

- که غواړئ چې یو واقعي دعوتګر وپېژنئ او له دروغجن، ټګمار، دین خرڅوونکي او مذهب پلورونکي مذهبي مشر ئې تفکیك کړئ نو دا به د یوه ځلانده ملاك او معیار په توګه په پام کې لرئ چې له فرعونانو سره ئې چلن څنګه دئ، د هغه مقابله کوي که د هغه مزدور دئ، د ده په ضد خوځېږي که د ده په امر او اشاره، خدای ته د تقرب په لټه کې دئ که فرعون ته!! قرآن دلته د موسی علیه السلام په مقابل کې ټګمار او د فرعون مزدور مذهبي مشران د جادوګرانو په څېره کې انځوروي چې دا ئې ځانګړتیاوې ګڼې: د حقپالونکو په ضد د فرعون په امر راغونډېږي، له فرعون د مزد او اجورې طمع لري، تر ټولو ستر هدف ئې دا دئ چې فرعون ته تقرب او نژدې والی ئې په برخه شي او د درباریانو په ډله کې ونیول شي.

- د فرعوني نظامونو واکمنان به تل د دیني خوځښتونو په ضد په هغه دین او مذهب ترکیز کوي چې د دوی د واکمنۍ تر سیوري لاندې په ولس کې خور شوی، د قومي مذهب بنه ئې غوره کړې، د ټولني حاکم وضعیت د الهي مقدراتو مطابق او د الله تعالی د خوښې حالت ګڼي، ولس ته په دې حالت د قناعت توصیه کوي، له مخالفت ئې منع کوي، ولس ته ئې پیغام دا وي چې په روان وضعیت راضي اوسه، دا واکمنان د خدای سیوری ګڼه، له

دې حالت سره مخالفت له الهي مقدراتو سره مخالفت بوله!! ګورئ چې فرعون ولس ته څه وايي: ولې د موسی پر ځای د خپلو مخکینیو مذهبي مشرانو متابعت ونه کړو؟!!

- خو دغه لومړي خط ته لېږل شوي مذهبي مشران، هغه چې فرعون خلکو ته ویل: د موسی پر ځای ولې د دوی متابعت ونه کړو!! کله چې د موسی علیه السلام د دعوت پر حقانیت پوهېږي او ایمان راوړي، د دوی په اړه د فرعون دریځ او پرېکړه دا ده: موسی ستاسو په څېر دئ، ستاسو استاد دئ، تاسو ته هم ده د جادو ښودنه کړې، په ګډه مو دا لوبه او توطئه جوړه کړې وه، که داسې نه وی نو ولې مو زما له اجازې مخکې خپله ماته ومنله، د خلکو په وړاندې موسی ته تسلیم شوئ او ایمان مو راوړ؟ اوس به پوه شئ چې له تاسو سره څه کوم، لاسونه او پښې به مو بدل بدل سره قطع کوم.
- کوم ځواب چې جادوګران ئې په دې وخت کې فرعون ته ورکوي، ډېر عجیب، د پام وړ او ارزښتناك دئ، وايي: هیڅ پروا مو نشته، مرګ ته چمتو یو، دا مرګ خو له دې پرته بل څه نه دئ چې موږ د خپل پالونکي رب په لوري بیایي، هسې هم مرو او د خپل رب په لوري خامخا ورګرځو!! په دې سره قرآن موږ ته له یوې خوا دا لارښوونه کوي چې پر خدای ایمان انسان ته داسې جرأت او شهامت ورپه برخه کوي، دا جادوګران ګورئ چې څو شېبې مخکې د فرعون په امر راغونډ شوي وو، د ده لپاره ئې د موسی علیه السلام مقابله کوله، د فرعون پر سر ئې لوړه کوله او د ده د عزت او جلال په طفیل ئې خپله بریا یقیني او حتمي ګڼله، له فرعون ئې د اجورې طمع وه او تر ټولو ستر هدف ئې دا وو چې د فرعون د درباریانو په ډله کې ونیول شي، خو اوس او په الله تعالی باندې له ایمان وروسته په دوی کې دومره ژوره تبدیلي راغلې چې د فرعون د ګواښونو پروا نه کوي، له مرګ نه وېرېږي، مرګ د الله تعالی په لوري د تلو وسیله ګڼي او پرونۍ مادي طمع ئې اوس په معنوي تلوسې بدله شوې او موخه ئې دا ده چې الله تعالی ترې راضي شي او ګناهونه ئې ورته وبخښي!! له بلې خوا موږ ته وايي چې د ایمان خاوند باید داسې وي، که تاسو په رښتیا په الله تعالی ایمان لرئ نو د فرعونانو له ګواښونو به نه وېرېږئ.)

---

وَقَالَ ٱلۡمَلَأُ مِن قَوۡمِ فِرۡعَوۡنَ أَتَذَرُ مُوسَىٰ وَقَوۡمَهُۥ لِيُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَيَذَرَكَ وَءَالِهَتَكَۚ قَالَ سَنُقَتِّلُ أَبۡنَآءَهُمۡ وَنَسۡتَحۡيِۦ نِسَآءَهُمۡ وَإِنَّا فَوۡقَهُمۡ قَٰهِرُونَ ﴿١٢٧﴾

۱۲۷- او د فرعون د قوم مشرانو وویل: آیا موسی او قوم ئې پرېږدې چې په زمکې کې فساد خور کړي، تا او ستا خدایان پرېږدي؟ وئې ویل: حتماً به ئې زامن ووژنو او ښځې به ئې ژوندۍ پرېږدو، په داسې حال کې چې موږ پرې برلاسي یو.

---

(۱۲۷)- د قوم مشرانو له فرعون د موسی علیه السلام او د ده د پلویانو په ضد د قاطع او

پربکنده اقدام غوښتنه وکړه، هغه ته ئې وویل چې دوی هم له نظامه بغاوت کړی او هم له مذهبه، نه تا مني او نه ستا خدایان. د فرعون ځواب دا دئ: د دوی په ضد د هر څه کولو توان لرو، زموږ ترلاس لاندي دي، زامن ئې ورته وژنو او ښځې ئې د دې لپاره ژوندۍ پرېږدو چې د وینځو په توګه زموږ خدمت وکړي. دا د هر فرعون او فرعوني نظام منطق دئ، مخالفین نشي زغملی، یو وژني، بل په اسارت کې ساتي، د مخالفتونو د ځپلو لپاره له خپلې سلطې او واکمنۍ کار اخلي.

---

قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِ ٱسۡتَعِينُواْ بِٱللَّهِ وَٱصۡبِرُوٓاْۖ إِنَّ ٱلۡأَرۡضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۖ وَٱلۡعَٰقِبَةُ لِلۡمُتَّقِينَ ١٢٨

١٢٨- موسی خپل قوم ته وویل: له الله مرسته وغواړئ او صبر وکړئ، زمکه خو له شکه پرته د الله ده، له خپلو بندګانو ئې چې چا ته غوښتي وي په میراث ئې ورکوي او نېکه پایله د پرهېزګارانو ده.

---

(١٢٨)- د موسی علیه السلام په دې وینا کې څو اساسي لارښووني د هر مؤمن لپاره ګورو:

- له الله تعالی مرسته وغواړئ، بلې خوا ته د امید سترګې مه اړوئ، له بل چا مرسته مه غواړئ.
- د ګواښونو، ستونزو او کړاوونو په وړاندې صبر وکړئ.
- په دې پوه شئ چې د زمکې حقیقي ټولواك الله تعالی دئ، دا پرېکړه د ده له لوري کېږي چې چا ته ئې په میراث ورکړي، له چا ئې بېرته واخلي او د ده پر ځای ئې چا ته وسپاري.
- نېکه پایله د پرهېزګارانو ده، د هغو ځان ساتونکو چې له الله تعالی پرته بل ته طمع نه کوي، له بې صبرۍ ځان ساتي او دا پرېکړه د بل چا په واك کې نه ګڼي چې د زمکې واکمني به چا ته سپارل کېږي.

---

قَالُوٓاْ أُوذِينَا مِن قَبۡلِ أَن تَأۡتِيَنَا وَمِنۢ بَعۡدِ مَا جِئۡتَنَاۚ قَالَ عَسَىٰ رَبُّكُمۡ أَن يُهۡلِكَ عَدُوَّكُمۡ وَيَسۡتَخۡلِفَكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرَ كَيۡفَ تَعۡمَلُونَ ١٢٩

١٢٩- وئې ویل: ستا له راتلو د مخه هم کړول شوي یو او له راتلو وروسته دي هم، (موسی ورته) وویل: هیله ده چې رب مو ستاسو دښمن هلاك کړي او د زمکې خلافت درپه برخه کړي او بیا وګوري چې تاسو څنګه عمل کوئ.

(۱۲۹)- په دې وينا سره بني اسرائيلو موسى عليه السلام ته داډ ورکړی چي بې صبري به نه کوي، په کړاوونو کې پاخه شوي، ستا له راتلو وروسته زموږ د ځورولو او کړولو لړۍ نه ده پيل شوې، تر دې د مخه هم ځورول شوي يو، د دوی د دې وينا په ځواب کې موسى عليه السلام وفرمايل: إن شاء الله چي ستاسو رب به دښمن هلاك کړي، د دې زمکې خلافت به تاسو ته وسپاري، بيا به وګوري چي تاسو به څه کوئ؟

دې ته مو بايد پام وي چي دا مطلب هغه مهال مسلمانانو ته اورول شوی چي دوی په مکې مکرمې کې له ورته ګواښونو سره مخامخ ول، ځورول کېدل، وژل کېدل او هجرت ته مجبورېدل، په دې سره دوی ته ويل شوي چي ستاسو دريځ، وينا، صبر، مقاومت، پرالله تعالی توکل بايد همغسې وي لکه ستاسو د مخکينيو مؤمنو ورونو.

راشئ وګورو چي بايبل په دې اړه څه وايي او قرآن څنګه هغه ردوي: بايبل تر دې عنوان لاندې (موسی او هارون د فرعون په دربار کې) ليکي: (د قوم له مشرانو سره له ليدو وروسته موسی او هارون فرعون ته ورغلل او ورته وئې ويل: موږ د خدای له لوري، د بني اسرائيلو د خدای له لوري، تا ته يو پيغام راوړی، هغه فرمايي: زما قوم پرېږده چي صحراء ته ولاړ شي او زما عبادت وکړي!! فرعون ورته وويل: خدای څوك دئ چي زه ئې خبري واورم او بني اسرائيل آزاد کړم؟... دوی ورته وويل:... د عبرانيانو خدای موږ ته ويلي چي د دريو ورځو مزل په واټن صحراء ته ولاړ شو او هلته د خپل خدای لپاره قرباني وکړو، که دا کار ونه کړو نو هغه به مو په بيمارۍ يا جنګ سره ووژني!! فرعون د دوی خبره ونه منله،... په بني اسرائيلو ئې شاقه کارونه لا زيات کړل... فرعون ته د شکايت لپاره ورغلل، هغه ئې شکايت ته اعتناء ونه کړه... له قصره د راوتلو په وخت کې ئې موسی او هارون ته چي د قصر په خوله کې ورته منتظر ول وويل: خدای دې زموږ غچ له تاسو واخلي چي موږ مو د فرعون او د ده د درباريانو له نظره وغورځولو او زموږ د وژلو بهانه مو په لاس ورکړه!! موسى خدای ته شکايت وکړ چي ولې خپل قوم له کړاوونو سره مخامخ کوې؟ آيا زه دې د همدې لپاره رالېږلی وم؟ خدای ورته وويل: اوس به وګورې چي زه له فرعون سره څه کوم؟ داسې به ئې تر فشارونو لاندې ونيسم چي نه يوازې زما قوم به پرېږدي بلکې په زور به ئې له مصره وشړي، زه همغه خدای يم چي ابراهيم، اسحاق او يعقوب ته د قادر او مطلق خدای په توګه ورڅرګند شوم، خو د خدای په نامه مې ځان ورمعرفي نه کړ!! ما له دوی سره وعده کړې ده چي د کنعان سيمه به دوی ته بخښم،... خدای موسى ته امر وکړ چي بيا فرعون ته ورشه... هغه ورته وويل: چي بني اسرائيل زما خبره نه اوري نو فرعون به ئې څنګه واوري؟... )

د بايبل د دغو خبرو په وړاندې بايد لږ توقف وکړو او ناسموالی ئې په ګوته کړو: د بايبل د ادعاء له مخې موسى عليه السلام د فرعون ليدو ته ورغلی او هغه ته ئې له ځانه دا خبره کړې چي د عبرانيانو د خدای پيغام ستا لپاره دا دئ چي د خدای قوم؛ بني اسرائيل پرېږده چي له مصره د دريو ورځو په واټن صحراء ته ووځي او هلته خدای ته خپلې

قرباني وړاندي کړي، ګواکي دا يو چم او چل وو، غوښتل ئې بني اسرائيل په دې پلمه له مصره ووځي او کنعان ته ولاړ شي!! قرآن دا ادعاء ردوي او فرمايي چي موسی عليه السلام فرعون ته همغه څه ويلي چي هر پيغمبر ئې ولس او د ولس واکمنانو ته وايي، هغه ئې په الله تعالی او آخرت ايمان ته رابللی، د نورو اساسي خبرو په ضمن کې ئې هغه ته ويلي چي د بني اسرائيلو له تعذيب، ځورولو او په اسارت او غلامۍ کې د دوی له ساتلو لاس واخله، پرېږده چي آزاد ژوند وکړي، که ترې وېرېږې او د همدې لپاره ئې په اسارت او استضعاف کې ساتې او زامن ئې ورته وژنې نو پرې ئې ږده چي له مصره ووځي او د خپلي خوښي سيمي ته له موږ سره ولاړ شي... فرعون ورته وويل: آيا ته همغه نه يې چي ماشوم وې او موږ وروزلې او د خپل عمر څو کلونه دي زموږ خوا کې تېر کړل؟ او خپل هغه کار دي هم وکړ، حال دا چي هغه وخت ته هم (زموږ په څېر) د کافرانو له ډلي وې، وئې ويل: هغه کار مي په داسي حال کې کړی چي له لار ورکو او ناپوهانو وم (په ناپوهۍ کې هغه کار رانه شوی، اعتراف کوم چي هغه وخت زه هم ستاسو په څېر لار ورکی وم) نو کله چي له تاسو ووېرېدم درنه وتښتېدم، نو زما رب راته حکم راکړ او له پيغمبرانو ئې وګرځولم او دا پېرزوينه چي ته ئې پر ما منت ږدې، د دې وجه خو دا ده چي تا بني اسرائيل غلامان کړي (که دوی آزاد وی ولې به زه د خپلي مور له غېږي محرومېدم، ستا لاس ته به درتلم او ستا تر روزني لاندي به نيول کېدم او ولې به تا نن د دغي خبري منت پر ما اېښودو او خپله دا پېرزوينه به دې ما ته رايادوله؟!!) د قرآن الفاظ دا دي:

فَأْتِيَا فِرْعَوْنَ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦﴾ أَنْ أَرْسِلْ مَعَنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿١٧﴾ قَالَ أَلَمْ نُرَبِّكَ فِينَا وَلِيدًا وَلَبِثْتَ فِينَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِينَ ﴿١٨﴾ وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ ٱلَّتِى فَعَلْتَ وَأَنتَ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿١٩﴾ قَالَ فَعَلْتُهَآ إِذًا وَأَنَا۠ مِنَ ٱلضَّآلِّينَ ﴿٢٠﴾ فَفَرَرْتُ مِنكُمْ لَمَّا خِفْتُكُمْ فَوَهَبَ لِى رَبِّى حُكْمًا وَجَعَلَنِى مِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٢١﴾ وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَىَّ أَنْ عَبَّدتَّ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿٢٢﴾ الشعراء: ١٦-٢٢

د بايبل د ليکوال دا بد عادت دئ چي تل د خپلو قصو اتلان داسي انځوروي چي په چل او چم سره غواړي خپلو موخو ته ځان ورسوي!! او له دې د ليکوال مقصد دا دئ چي د بايبل منونکي او پلويان ذهناً دې ته چمتو کړي چي ومني په مکر او چل سره ځان خپل هدف ته رسول د اتلانو او پيغمبرانو کار دئ!! کاش ده داسي يوه پلمه جوړه کړې وی چي فرعون ته د منلو وړ او معقوله برېښېدی، موسی عليه السلام به څنګه د فرعون په څېر يوه ستر ظالم ته وايي چي خدای تا ته دا پيغام لېږلی چي بني اسرائيل پرېږده له مصره صحراء ته ووځي او هلته خپل خدای ته خپلي قرباني وړاندي کړي!! آيا موسی عليه السلام په فرعون باندي د داسي ساده او کم عقله انسان ګمان کاوو چي دا پلمه به ومني او د

وتلو اجازه به ورکړي؟!!

قرآن د بايبل دا خبره هم ردوي چې د بني اسرائيلو مشرانو موسی عليه السلام د خپلو ستونزو لامل گڼلی او شکايت ئې ترې کړی او ده له هغه څه شکايت کړی چې الله تعالی له بني اسرائيلو سره کول!! د دې ادعاء په خلاف فرمايي چې موسی عليه السلام بني اسرائيلو ته د صبر او له الله تعالی د مرستې غوښتو توصيه وکړه، د قرآن د وينا له مخې بني اسرائيلو په ميړانې او صبر سره د موسی عليه السلام ملگرتيا کړې او د همدغه صبر په سبب الله تعالی پر دښمن برى ورکړ او د نړۍ پر ټولو قومونو او ولسونو ئې دوی ته فضيلت ورکړ.

وَأَوْرَثْنَا ٱلْقَوْمَ ٱلَّذِينَ كَانُوا۟ يُسْتَضْعَفُونَ مَشَٰرِقَ ٱلْأَرْضِ وَمَغَٰرِبَهَا ٱلَّتِى بَٰرَكْنَا فِيهَا ۖ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ ٱلْحُسْنَىٰ عَلَىٰ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ بِمَا صَبَرُوا۟ ۖ وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهُۥ وَمَا كَانُوا۟ يَعْرِشُونَ ﴿١٣٧﴾ الاعراف: ١٣٧

او د هغې زمکې ختيځې او لوېديځې برخې چې برکتونه مو په کې اېښي وو؛ هغه قوم ته په ميراث ورکړې چې په استضعاف کې ساتل کېدل او ستا د رب غوره وينا د بني اسرائيلو په اړه په دې سبب بشپړه شوه چې صبر ئې وکړ او هغه څه مو ويجاړ کړل چې فرعون او قوم ئې جوړول او لوړول.

دلته د بايبل په وينا کې جدي تناقض گورو، له يوې خوا بني اسرائيل داسې معرفي کوي چې د فرعون په غلامۍ کې راضي وو او پر موسی عليه السلام ئې دا اعتراض درلود چې ولې ئې د مرگ له گواښ سره مخامخ کړل، خو له بلې خوا وايي چې دوی له مصر د وتلو په اړه له موسی عليه السلام سره موافق ول او د همدې لپاره د دوی مشران د فرعون ليدو ته ورغلي وو، پوښتنه دا ده چې هغه ولس به څنگه د يوه انقلابي مشر قيادت ومني، پاڅون ته به ملا وتړي او له ده سره به يوځای هجرت ته تيار شي چې هغه ته ئې څواب دا وي: ستا په سبب فرعون او درباريان ئې له موږ ناراضه شوي، له موږ ئې مخ اړولی او په مرگ مو گواښي؟! آيا دا د يوه ستر پيغمبر په نسبت لوی اتهام نه دئ چې خدای ته ئې شکايت وکړ چې ولې خپل قوم له کړاوونو سره مخامخ کوې؟ آيا زه دې د همدې لپاره رالېږلی وم؟ آيا د بايبل دا ادعاء به کوم عقلمن او په دين پوه انسان ومني چې وايي: خدای موسی ته امر وکړ چې بيا فرعون ته ورشه... هغه ورته ووېل: چې بني اسرائيل زما خبره نه اوري نو فرعون به ئې څنگه واوري؟

---

وَلَقَدْ أَخَذْنَآ ءَالَ فِرْعَوْنَ بِٱلسِّنِينَ وَنَقْصٍ مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٣٠﴾ فَإِذَا جَآءَتْهُمُ ٱلْحَسَنَةُ قَالُوا۟ لَنَا هَٰذِهِۦ ۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَطَّيَّرُوا۟ بِمُوسَىٰ وَمَن

مَّعَهُۥٓۗ أَلَآ إِنَّمَا طَٰٓئِرُهُمۡ عِندَ ٱللَّهِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿١٣١﴾

۱۳۰- او يقيناً چې فرعونيان مو په قحطۍ او د حاصلاتو په کموالي سره ونيول تر څو پند واخلي. ۱۳۱- نو کله چې به ئې ښېګڼه په برخه شوه وبه ئې ويل: دا زموږ لپاره ده، خو کله چې به کومه ستونزه وروررسېده، نو موسى او د ده په ملګرو به ئې بدفالي نيوله، پام چې بدفالي ئې له الله سره ده خو د دوی ډېری نه پوهېږي.

---

(۱۳۰-۱۳۱)- له دې مبارکو آيتونو څو خبري معلومېږي:

● الله تعالى فرعونيان له وچ کاليو، قحطيو او د حاصلاتو له کمښت سره مخامخ کړل، دا له يوې خوا د دوی د عملونو سزا وه او له بلې خوا د دوی لپاره د پند اخيستو وسيله.

● دا موږ ته ښيي چې وچ کالي، قحطي او د حاصلاتو کموالی د خلکو له عملونو سره ژوري اړيکي لري.

● فرعونيانو به ښې چارې، د نعمتونو وفرت او کثرت ځان ته منسوبول، دا به ئې د خپلو وړتياوو، تدبير او ښه کار نښه او نتيجه ګڼله او ستونزې، وچ کالي او قحطي به ئې موسى عليه السلام او د ده ملګرو ته منسوبول، په دې نه پوهېدل چې دوی د الله تعالى په نزد کې د همدې بدو ورځو مستحق دي.

---

وَقَالُواْ مَهۡمَا تَأۡتِنَا بِهِۦ مِنۡ ءَايَةٖ لِّتَسۡحَرَنَا بِهَا فَمَا نَحۡنُ لَكَ بِمُؤۡمِنِينَ ﴿١٣٢﴾ فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمُ ٱلطُّوفَانَ وَٱلۡجَرَادَ وَٱلۡقُمَّلَ وَٱلضَّفَادِعَ وَٱلدَّمَ ءَايَٰتٖ مُّفَصَّلَٰتٖ فَٱسۡتَكۡبَرُواْ وَكَانُواْ قَوۡمٗا مُّجۡرِمِينَ ﴿١٣٣﴾

۱۳۲- او وئې ويل: هره نښه چې په دې موخه موږ ته راوړې چې په هغې سره کوډې راباندې وکړې، نو درباندې ايمان راوړونکي نه يو. ۱۳۳- نو طوفان، ملخان، کنې، چنګښې او وينه مو د بېلابېلو نښو (په توګه) پرې راولېږل خو دوی لويي وکړه او يو مجرم قوم وو.

---

(۱۳۲-۱۳۳)- دلته څو اساسي ټکي په پام کې ولرئ:

● فرعونيانو موسى عليه السلام ته پرېکنده او وروستی ځواب ورکړ او ورته وئې ويل: هره نښه چې راوړې نه ئې منو، پوهېږو چې ستا ټولې معجزې له جادو او کوډو پرته بل څه نه دي، په هيڅ توګه باور نه کوو چې ته يو پيغمبر يې.

● د دغه ځواب په وجه په دوی باندې د نويو مصيبتونو يوه پړ له پسې لړۍ پيل شوه.

- د قرآن د وینا له مخې په مصریانو باندې دا عذابونه او مصیبتونه نازل شوي: قحطي، د حاصلاتو کموالی، طوفان، ملخان، کنې، چنګښې، وینې، خو قرآن وايي چې د دې مصیبتونو وجه د دوی ګناهونه وو او هدف ترې دا چې دوی پند واخلي او له خپل کفر، شرك، ظلم او فساد لاس په سر شي.
- د دې آیت د (مفصلات) له لفظ په څرګنده توګه معلومېږي چې دا مصیبتونه په یوه وخت او یو په بل پسې نه دي نازل شوي بلکې په بېلابېلو وختونو کې نازل شوي، یو کال قحطي راغلې، یو کال د باغونو او زمکو حاصلات کم شوي، یو کال ملخانو د دوی پر فصلونو برید کړی، یو وخت طوفان پرې راغلی، بل وخت کنې او بیا چنګاښې پرې مسلطې شوې او یو وخت د دوی اوبه د سرو وینو په څېر شوې او دا د بایبل د دې ادعاء خلاف ده چې وايي دا ټول حوادث د څو اونیو په منځ کې او د موسی او هارون علیهما السلام په لاس او هغه وخت تر سره شوي چې دوی د فرعون له جادوګرانو سره مقابله کوله، د بایبل ادعاء هم د عقل او واقع خلاف ده او هم د قرآن د وینا خلاف!! د الله تعالی سنت دا دئ چې له مصیبت وروسته خپلو بندګانو ته د توبې او تجدید نظر موقع ورکوي، که پند وانه خلي، بل او بل مصیبت پرې راولي، په یوه وخت د ګڼ شمېر مصیبتونو یو په بل پسې راتلو سره د توبې او تجدید نظر مجال ختمېږي.

بایبل (د هارون عصا) تر عنوان لاندې لیکي: (خدای موسی او هارون ته وویل: دا ځل به د مصر پاچا له تاسو معجزه وغواړي، نو هارون دې خپله عصا د فرعون په مخکې پر زمکه وغورځوي، عصا به مار شي... موسی او هارون بیا فرعون ته ورغلل... هارون د فرعون او درباریانو په وړاندې خپله عصا پر زمکه وغورځوله او مار ترې جوړ شو، فرعون د مصر حکیمان او جادوګران راوغوښتل، هغوی هم د خپل جادو په مرسته همدا کار وکړ، خپلې عصاګانې ئې پر زمکه وغورځولې او ماران ترې جوړ شول، خو د هارون مار د جادوګرانو ټول ماران وخوړل...خو د دې معجزې له لیدو سره سره د فرعون زړه سخت پاته شو... بیا خدای موسی ته وویل: سبا هغه عصا درسره واخله چې مار ترې جوړ شوی وو، د نیل ژۍ ته ورشه، د فرعون تر راتلو انتظار وکړه، ورته ووایه:... اوس به خدای داسې کار وکړي چې پوه شې هغه خدای دئ... زه به د ده په امر د نیل اوبه په یوه ګوزار سره په وینو بدلې کړم... هارون د پاچا او درباریانو په وړاندې د نیل اوبه په خپلې عصا ووهلې او په وینو بدلې شوې، ټول ماهیان مړه شول او اوبه ګنده شوې،...خو د فرعون زړه همغسې سخت پاته شو... له دې یوه اونۍ وروسته خدای موسی ته وویل: فرعون ته ورشه او ورته ووایه: زما قوم پرېږده چې ولاړ شي او زما عبادت وکړي، که نه نو ټول مصر به له چنګاښو درته ډك کړم، د نیل سیند به داسې له چنګاښو ډك شي چې بهر به راووځي او ستا د قصر په لورې به هجوم راوړي... ستا د خوب خونې، د اوړو نغریو او تنورونو ته به ځان ورسوي... هارون خپله عصا د نیل سیند، چینو او حوضونو ته اوږده کړه، ټول له

چنګاښو ډك شول... خو مصري جادوګرانو هم په خپل جادو سره همدا كار وكړ او ډېري زياتي چنګاښي ئې راپيدا كړې!! فرعون له موسى وغوښتل چي خپل خداى ته دعاء وكړي چي دا بلا زموږ له سره لري كړي، ژمنه كوم چي په هغه صورت كي به بني اسرائيل پرېږدم چي ولاړ شي او د خپل خداى لپاره قرباني وكړي... موسى دعاء وكړه... ټولي چنګاښي مړې شوې... خو بيا هم د فرعون زړه نرم نه شو... بيا خداى موسى ته وويل: هارون ته ووايه چي سبا خپله عصا پر زمكه ووهي تر څو ټول مصر له ماشو ډك شي... همداسي ئې وكړل او ټول مصر له ماشو ډك شو او پر خلكو ئې بريد پيل كړ... د مصر جادوګرانو وغوښتل چي همدا كار وكړي خو دا ځل موفق نه شول... نو فرعون ته ئې وويل: په دې كار كي حتماً خداى لاس لري... خو بيا هم د فرعون زړه نرم نه شو... ورپسې په همدې توګه د مچانو، طاعون، دانو، ژلۍ، ملخ او سختي تيارې داسي يادونه كوي لكه چي ئې د مخكينيو مصيبتونو يادونه كړې، الفاظ ئې تكراري او جملې ئې سره ورته، هرځل د هارون په عصا يو له دغو مصيبتونو پر مصريانو مسلط شوى او بيا فرعون له موسى غوښتي چي دعاء وكړي... د موسى عليه السلام د دعاء په وجه مصيبت ترې دفع شوى، خو فرعون په خپل قول عمل نه دئ كړى!! په پاى كي ليكي چي فرعون موسى عليه السلام ته وويل: زما له مخي لري شه او بيا مه راځه كه نه نو وژل كېږې، موسى ورته وويل: لكه څنګه چي تا وويل بيا به ما ونه ګورې، نو خداى موسى ته وويل: داسي بلا به پر فرعون او د ده پر قوم راولم چي دى به په خپله له تاسو وغواړي چي له مصره ووځئ!! د اسرائيليانو ښځو ته ووايه چي له وتلو مخكي له خپلو مصري ګاونډيو سره او سپين زر (په امانت) تر لاسه كړي!!! نو موسى فرعون ته وويل: خداى فرمايي: نن نيمه شپه به د مصر له منځه تېر شم، (په همدې سره به) د مصري كورنيو ټول مشران زامن ومري، د فرعون له مشره زويه چي د ده ځاى ناستى دئ نيولې د هغي وينځي تر زوى پوري چي كار ئې په مېچني سره د غنمو وړول وي، حتى د مصر د څارويو لومړي بچيان به هم ومري!!!... نو دغه وخت موسى له غصې سره د فرعون له قصره ووت،...)

دلته د بايبل ګڼ شمېر خبري د سالم عقل او صحيح الهي دين خلاف دي او قرآن ئې ردوي: بايبل داسي ښيي لكه چي موسى عليه السلام څو اونۍ سر په سر د فرعون په دربار كي تېري كړې وي او په همدې مودې كي خداى په وار وار ورته راغلى او ده ته ئې د نوې معجزې ښودلو لارښوونه كړې وي، ده هم خپلي ټولي معجزې د فرعون په حضور كي او له جادوګرانو سره په مقابله كي ښودلې دي، هر څه چي ده كړي جادوګرانو هم همغه كار كړى، دوى يوازي د ماشو په پيدا كولو نه دي توانېدلي!! دا هسي يوه بې بنسټه او په خرافاتو ولاړه خبره ده، هيڅ جادوګر، كه هر څومره ماهر او چالاك وي، هيڅ شىء نه شي پيدا كولى، نه مړ شىء او نه ژوندى، د جادوګر كمال او هنر په دې كي وي چي د خلكو ذهن تر اغېز لاندي راولي او يو شىء د خپلي اصلي بڼي پر ځاى په بدلي بڼي كي وګوري، جادوګر له دې پرته نور هيڅ نه شي كولى، له الله تعالى پرته نه څوك په جادو سره څه پيدا

کولی شي او نه په بل څه سره، د قرآن د وینا له مخې جادوګرانو خپل پړي اچولي او په جادو سره ئې د خلکو په ذهن او سترګو داسې اغېز کړی چې دوی ته دا پړي د مارانو په څېر خوځنده وبرېښي، د پړو په ماهيت کې څه تبديلي نه ده راغلې د خلکو په سترګو اغېز پرېوتی. قرآن په دې اړه فرمايي:

قَالَ بَلْ أَلْقُوا۟ فَإِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِن سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَىٰ ﴿٦٦﴾ طه: ٦٦

(موسی علیه السلام جادوګرانو ته) وويل: نه؛ بلکې تاسو ئې وغورځوئ، نو هغه وخت د دوی د سحر په وجه د دوی پړي او عصاګانې داسې ورته وبرېښېدې چې ګواکې خوځي.

يعني جادوګرانو په خپل جادو سره يوازې دومره څه کړي چې پر ځمکې پراته پړي او عصاګانې موسی علیه السلام او نورو ته داسې برېښېدلې چې ګواکې خوځي او ځغلي، د دوی په جادو سره د دغو شيانو په ماهيت کې څه تبديلي نه ده راغلې، بلکې د خلکو ذهن ته داسې ورغلي چې دا پړي او عصاګانې د مارانو په څېر ځغلي او په دې سره د بايبل د ټولو هغو ادعاګانو ترديد شوی چې وايي: جادوګرانو دا او هغه شيان راپيدا کړل!!

بايبل د ټولو معجزو موخه دا ښودلې چې فرعون د بني اسرائيلو پرېښودو ته اړ کړي، نه دا چې مصريان پر خدای ايمان راوړي، له کفر او شرک لاس واخلي او د الله تعالی دين ته غاړه کښېږدي!! خو که تاسو په دې اړه د قرآن وينا ته ځير شئ وبه ګورئ چې موسی علیه السلام فرعون او مصريانو ته جامع او بشپړ پيغام لري، د بني اسرائيلو آزادي د اساسي مسائلو په ضمن کې او د يوې ثانوي موضوع په څېر مطرح کوي.

که معجزې يوازې فرعون ته ښودل کېدې او مقصد ئې دا وو چې فرعون بني اسرائيلو ته له مصره د وتلو اجازه ورکړي، ولې ئې په ټولو مصريانو دا مصيبتونه راوستل؟ ولې ئې د ټولو مصريانو حتی د هغو وينځو مشران زامن هم ورته وژل چې مېچنې ئې چلولې؟!!

آيا دا خبره د کوم انسان عقل منلی شي چې الله تعالی د مصريانو د زامنو د وژلو لپاره په خپله د مصر له منځه تېر شوی؟!! او آيا الله تعالی د چا د وژلو لپاره دې ته اړ کېږي چې ځمکې ته راکوز شي او د هغه کلي له منځه تېر شي چې د کليوالو د وژلو پرېکړه ئې کړې؟!! دا هره ورځ چې انسانان د الله تعالی په اراده پيدا کېږي او مري، داسې مري لکه چې بايبل وايي؟! او تر ټولو مسخره خبره خو لا هغه ده چې بايبل تر دې وروسته کړې او ليکلي ئې دي چې خدای به په مصر کې د بني اسرائيلو او مصريانو کورونه له دې نښې سره بېلوي چې د بني اسرائيلو د کورونو دروازې به د قربانۍ په وينو سرې شوې وي او د دغو وينو په ليدو سره به د بايبل خدای له دغو کورونو تېرېږي، يوازې د مصريانو کورونو ته به ننوځي او د دوی مشران زامن به وژني!!!

ګورئ چې بايبل دلته هم خدای داسې معرفي کوي چې بني اسرائيلو ته د غدر او خيانت لارښوونه کوي، وايي چې خدای موسی علیه السلام ته ويلي وو: د اسرائيليانو ښځو ته ووايه چې له خپلو مصري ګاونډيو د سرو او سپينو زرو ښه ډېرې ګاڼې (په کومه پلمه)

تر لاسه کړي، چې بیا ئې د وتلو په وخت کې له ځانه سره یوسي!! آیا ممکنه ده چې د زمکې او آسمانونو رب به خپلو بندګانو ته داسې د غدر او خیانت درس ورکوي!!

د دې سورې د تفسیر د لیکلو په دوران کې د ۱۳۸٦ کال د حوت په میاشت (د ۲۰۰۸ کال اپریل میاشت) کې دا خبر د نړۍ د ټولو خبري رسنیو له لارې خپور شو چې د چین د یوه سیند د اوبو رنګ په ناڅاپي توګه سور شو او ځك ئې وکړ، هغه خلك چې د دې سیند له اوبو ئې استفاده کوله دې ته اړ شول چې ځاګاني وکني او د اوبو ستونزه حل کړي، دا د قرآن د حقانیت لپاره یو بل شاهد دئ، قرآن په مصر کې د داسې یوې پېښې د راتلو وینا کړې، ځینو ته به دا خبره عجیبه او ځینو ته د نه منلو وړ برېښېده، خو دا ده د چین د یوې لویې سیمې استوګن ئې بله بېلګه په خپلو سترګو ګوري.

---

وَلَمَّا وَقَعَ عَلَيۡهِمُ ٱلرِّجۡزُ قَالُواْ يَٰمُوسَى ٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِندَكَۖ لَئِن
كَشَفۡتَ عَنَّا ٱلرِّجۡزَ لَنُؤۡمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرۡسِلَنَّ مَعَكَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ﴿١٣٤﴾ فَلَمَّا
كَشَفۡنَا عَنۡهُمُ ٱلرِّجۡزَ إِلَىٰٓ أَجَلٍ هُم بَٰلِغُوهُ إِذَا هُمۡ يَنكُثُونَ ﴿١٣٥﴾ فَٱنتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡ
فَأَغۡرَقۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡيَمِّ بِأَنَّهُمۡ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُواْ عَنۡهَا غَٰفِلِينَ ﴿١٣٦﴾

۱۳٤- او کله چې به پر دوی کوم اضطراب (عذاب) واقع شو وبه ئې ویل: اې موسی! خپل رب ته زموږ لپاره په هغه څه سره دعاء وکړه چې ته ئې پرې مختص کړی یې، که دې له موږ دا اضطراب لرې کړ ایمان درباندې راوړو او بني اسرائیل درسره لېږو. ۱۳۵- خو کله چې مو له دوی دا اضطراب تر هغه نېټې لرې کړی چې وررسېدونکي ول، ناڅاپه ئې د خپلې ژمنې په ماتولو لاس پورې کړی. ۱۳٦- نو انتقام مو ترې واخیست او په سیند کې مو غرق کړل، د دې لپاره چې زما آیتونه ئې تکذیبول او ترې غافل ول.

---

(۱۳٤-۱۳٦)- دلته د فرعونیانو هغه حالت انځور شوی چې د مصیبتونو په مهال به ئې غوره کړ، کله چې به د دوی وضع سخته خرابه شوه، اضطراب به خپل تور وزر پرې وغوړاوو، نو موسی علیه السلام ته به ئې ویل: که دا مصیبت پای ته ورسوې نو ایمان درباندې راوړو او بني اسرائیل درسره لېږو، خو چې د موسی علیه السلام د دعاء په وجه به دا اضطراب تر یوې ټاکلې مودې وځنډېدو نو خپلې ژمنې به ئې ماتې کړې. نو ځکه الله تعالی انتقام ترې واخیست او په سیند کې ئې غرق کړل، د دې لپاره چې الهي آیتونه ئې تکذیبول او ترې غافله ول.

وَأَوۡرَثۡنَا ٱلۡقَوۡمَ ٱلَّذِينَ كَانُواْ يُسۡتَضۡعَفُونَ مَشَٰرِقَ ٱلۡأَرۡضِ وَمَغَٰرِبَهَا ٱلَّتِي بَٰرَكۡنَا فِيهَاۖ وَتَمَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ ٱلۡحُسۡنَىٰ عَلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ بِمَا صَبَرُواْۖ وَدَمَّرۡنَا مَا كَانَ يَصۡنَعُ فِرۡعَوۡنُ وَقَوۡمُهُۥ وَمَا كَانُواْ يَعۡرِشُونَ ١٣٧

۱۳۷- او هغو خلکو ته مو چې په بې وزلۍ کې ئې د ساتلو هڅه کېده، د هغې زمکې ختيځې او لوېديځې برخې په ميراث ورکړې چې برکت مو په کې اچولی وو او ستا د رب نېکه وينا د بني اسرائيلو په اړه له دې امله بشپړه شوه چې صبر ئې وکړ او هغه څه مو هم ويجاړ کړل چې فرعون او د ده قوم جوړول او هغه څه هم چې دوی لوړول.

(۱۳۷)- دلته څو اساسي خبرې غور او دقت غواړي:

- آيا دا بابرکته زمکه په خپله د مصر زمکه وه، که د مصر تر ولکې لاندې کومه بله زمکه او که شام او فلسطين چې په قرآن کې څو ځايه په همدې نامه ياده شوې؟ ځيني مفسرين په دې عقيده دي چې د فرعون له مرگ وروسته مصر د بني اسرائيلو په لاس کې پرېوتی، دوی د قرآن په ځينو آيتونو د خپلې رأيي په تأييد کې استناد کوي، ځيني نور تاريخي رواياتو ته په پام سره وايي چې بني اسرائيل مصر ته بېرته نه دي گرځېدلي بلکې خپل سفر ته ئې د فلسطين په لوري دوام ورکړی او زياته موده د سينا په بيديا کې لالهانده پاته شوي، که څه هم تاريخي روايات، مخصوصاً په بايبل متکي روايات قطعاً د اعتبار وړ نه دي، خو په قرآن کې داسې صريح اشاره نه مومو چې مصر ته د بني اسرائيلو د بېرته ستنېدو خبره ترې ثابته شي، داسې معلومېږي چې د فرعون سلطه د سيند ختيځې غاړې ته هم غزېدلې وه، دلته ځيني شېرازه سيمې بني اسرائيلو ته په لاس ورغلې، وروستنی آيت هم دې ته اشاره کوي چې دوی له سيند تېرېدو وروسته مخامخ صحراء ته نه دي کوز شوي بلکې مېشتو سيمو ته داخل شوي، خو دا چې ولې دلته نه دي تم شوي، ولې ترې وتلي او که، په دې اړه څه ويل گران دي.
- دا آيت ښيي چې بني اسرائيلو په لومړي سر کې د موسی عليه السلام صادقانه ملگرتيا کړې، د الله په لار کې ئې ستونزې گاللې او صبر ئې کړی او د دغه اخلاص او صبر په وجه الله تعالی خپل تأييد او نصرت د دوی په حال شامل کړی.
- آيا د فرعونيانو د جوړ کړی شوو او لوړ کړی شوو مراد د دوې وسلې، جنگي گاډۍ او قصرونه دي؟ جنگي وسائل خو ئې يقيناً په سيند کې غرق او ټول ويجاړ شول خو قصرونه ئې څنگه ويجاړ شول؟ دا ښيي چې د فرعون له مرگ وروسته په مصر کې گډوډې، ورانی او بې امني رامنځته شوې، نظام په بشپړه توگه له منځه تللی، ډېر دولتي تأسيسات ويجاړ

شوي، طبيعي ده چې کله د مصر د مجهز فوځ تر ټولو منظم ځواك او فرعون ته وفادار قطعات له منځه تللي، نو له سختو مخالفتونو سره مخامخ ديکتاتوري او استبدادي نظام نشو کولی داسې صدمه په آسانۍ وزغمي، دا آيت د هغو کسانو رأيه ترديدوي چې گمان کوي يوازې د سيند په غاړه د مصري فوځ ځيني قطعات غرق شوي او نوره هيڅ تبديلي نه ده راغلې.

---

وَجَٰوَزۡنَا بِبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱلۡبَحۡرَ فَأَتَوۡاْ عَلَىٰ قَوۡمٖ يَعۡكُفُونَ عَلَىٰٓ أَصۡنَامٖ لَّهُمۡۚ قَالُواْ يَٰمُوسَى ٱجۡعَل لَّنَآ إِلَٰهٗا كَمَا لَهُمۡ ءَالِهَةٞۚ قَالَ إِنَّكُمۡ قَوۡمٞ تَجۡهَلُونَ ﴿١٣٨﴾ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ مُتَبَّرٞ مَّا هُمۡ فِيهِ وَبَٰطِلٞ مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٣٩﴾ قَالَ أَغَيۡرَ ٱللَّهِ أَبۡغِيكُمۡ إِلَٰهٗا وَهُوَ فَضَّلَكُمۡ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٤٠﴾ وَإِذۡ أَنجَيۡنَٰكُم مِّنۡ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ يَسُومُونَكُمۡ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِ يُقَتِّلُونَ أَبۡنَآءَكُمۡ وَيَسۡتَحۡيُونَ نِسَآءَكُمۡۚ وَفِي ذَٰلِكُم بَلَآءٞ مِّن رَّبِّكُمۡ عَظِيمٞ ﴿١٤١﴾

١٣٨- او بني اسرائيل مو له بحره تېر کړل، نو په داسې قوم راغلل چې د خپلو بتانو په وړاندې ئې اعتکاف کولو، وئې ويل: اې موسی! موږ ته د دوی د معبودانو په څېر يو معبود وټاکه، وئې ويل: په رښتيا تاسو يو جاهل قوم يئ. ١٣٩- يقيناً دا خلك چې په کوم مذهب دي، هغه ويجاړ او خراب دئ او څه چې دوی کوي باطل دي. ١٤٠- آيا له الله پرته بل معبود درته ولټوم حال دا چې هغه تاسو ته پر ټولو خلکو فضيلت درکړ. ١٤١- او هغه وخت درياد کړئ چې له فرعونيانو مو وژغورلئ، چې بد بد عذابونه ئې درکول، ستاسو زامن ئې وژل او ستاسو ښځې ئې ژوندۍ پرېښودې او په دې کې ستاسو د رب له لوري ستر آزمېښت وو.

---

(١٣٨-١٤١)- له دې وروسته د موسی علیه السلام د اوږدې مبارزې بل پړاو پيلېږي، د داخلي مبارزې پړاو، د خپلو پلويانو په ليکو کې له انحرافاتو سره مبارزه، لومړی انحراف شرك دئ، لکه چې توحيد د ټولو ښېگڼو بنسټ دئ همدا راز شرك د ټولو انحرافاتو او مفاسدو بنسټ دئ، هره گناه له دغه گنده ډنډه خړوبه کېږي. موسی علیه السلام په مصر کې د دې فرصت نه وو تر لاسه کړی چې خپل قوم په فکري لحاظ ښه وروزي، ټول کالونه ئې له فرعوني نظام سره په کلکې او دوامداري مبارزې کې تېر کړل، د همدې لپاره گورو چې بني اسرائيل د يوه بت پالونکي قوم له ليدو سره سم له موسی علیه السلام د بت په څېره کې د يوه مجسم معبود مطالبه وکړه، د دې جاهلانه غوښتنې په ځواب کې موسی علیه

السلام وفرمایل:

- تاسو یو ناپوه قوم یئ، داسې غوښتنه یوازې جاهلان کوي.
- د دغو خلکو مذهب خوشی او ویجاړ مذهب دئ او عبادت ئې باطل.
- آیا له الله تعالی پرته بل معبود درته ولټوم، حال دا چې هغه تاسو ته پر ټولو خلکو فضیلت درکړ.
- د الله تعالی هغه پېرزوینه درياد کړئ چې له فرعونیانو ئې وژغورلئ، چې بد بد عذابونه ئې درکول، ستاسو زامن ئې وژل او ستاسو ښځې ئې ژوندۍ پرېښودې.
- هغه بدې ورځې هم د آزمېښت لپاره وې او دا ژغورنه هم ستاسو د رب له لوري ستر آزمېښت وو، چې وګورې تاسو څه کوئ، د الله تعالی پېرزوینې په پام کې ساتئ که د عصیان او بغاوت لار غوره کوئ.

---

وَوَٰعَدْنَا مُوسَىٰ ثَلَٰثِينَ لَيْلَةً وَأَتْمَمْنَٰهَا بِعَشْرٍ فَتَمَّ مِيقَٰتُ رَبِّهِۦٓ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ۚ وَقَالَ مُوسَىٰ لِأَخِيهِ هَٰرُونَ ٱخْلُفْنِى فِى قَوْمِى وَأَصْلِحْ وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيلَ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿١٤٢﴾

١٤٢- او له موسی سره مو د دېرشو شپو ژمنه کړې وه او بیا مو په لسو نورو بشپړې کړې، چې په دې سره ئې د رب وعده بشپړې څلوېښت شپې شوې؛ او موسی خپل ورور هارون ته وویل: په قوم کې مې نیابت وکړه، د اصلاح په کار بوخت اوسه او د مفسدینو په لار مه ځه.

---

(١٤٢)- الله تعالی موسی علیه السلام وروغوښت چې د بني اسرائیلو د ژوند د چارو تنظیمولو لپاره ضروري لارښوونې او احکام ورکړي، د دېرشو شپو لپاره غوښتل شوی وو، خو دا موده لس ورځې نوره هم اوږده شوه، موسی علیه السلام د تلو په مهال هارون علیه السلام خپل نائب وټاکو، هغه ته ئې سپارښتنه وکړه چې د اصلاح په کار بوخت وي او د مفسدینو په لار ولاړ نشي.

د قرآن داسې لارښوونو ته په پام سره به رسول الله صلی الله علیه و سلم غزواتو ته تلو په مهال په مدینه کې خپل نائب ټاکلو، د تبوك جنګ ته د تلو په ورځ ئې غوښتل علی رضی الله عنه د نائب په توګه وټاکي، په هغه باندې دا خبره ګرانه تمامه شوه، نه ئې غوښتل له یوه ستر جهاد محروم پاته شي، رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ئې عرض وکړ چې آیا ما له ماشومانو او ښځو سره پرېږدې؟! پیغمبر علیه السلام ورته وویل: آیا نه غواړې زما لپاره داسې شې لکه هارون د موسی علیه السلام لپاره، مګر دا چې له ما

وروسته پيغمبر نشته.

عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ إِلَى تَبُوكَ، وَاسْتَخْلَفَ عَلِيًّا، فَقَالَ: أَتُخَلِّفُنِي فِي الصِّبْيَانِ وَالنِّسَاءِ؟ قَالَ: «أَلاَ تَرْضَى أَنْ تَكُونَ مِنِّي بِمَنْزِلَةِ هَارُونَ، مِنْ مُوسَى إِلَّا أَنَّهُ لَيْسَ نَبِيٌّ بَعْدِي» رواه البخاري

متأسفانه ځينو شيعه وو په دغه حديث استناد کړی او ادعاء ئي کړې چي په دې سره على رضى الله عنه د پيغمبر عليه السلام ځای ناسی ټاکل شوی او خلافت د ده مسلم حق وو!! د همدې لپاره د دوی ځينو ټول صحابه په دې دليل تکفير کړل چي تر على رضى الله عنه ئې نورو ته ترجيح ورکړه، ځينو حتى على رضى الله عنه له اسلام په مخالفت متهم کړ او دا اعتراض ئې پرې وکړ چي ولي ئې پر خپل حق ټينگار ونه کړ، له نورو سره ئې بيعت وکړ!! دا ادعاء ئې د على رضى الله عنه له شهادت نژدې څلور سوه کاله وروسته وکړه. دغو جنابانو ته وايو:

ځوك چي د صحابه وو اجماع نه مني هغه بايد دغه قرآن هم ونه مني چي نن زموږ په لاس كې دئ، موږ خو په دې دليل دې قرآن ته د همغه قرآن په سترگه گورو چي پر رسول الله صلى الله عليه و سلم نازل شوی چي صحابه وو پرې اتفاق کړی!!

صحابه هغه خلك دي چي د پيغمبر عليه السلام په لاس روزل شوي، تر هر چا زيات او ښه په قرآن پوهېدل، نه ځوك د قرآن په پوهې كې هغوی ته رسېدی شي او نه په اخلاص كې، دا دوی ول چي اسلام ئې د نړۍ گوټ گوټ ته ورساوو، موږ ته دا دين صحابه وو رارسولی، هغوی تر هر چا ښه پوهېدل چي د خلافت لپاره تر ټولو وړ او مناسب شخصيت ځوك دئ، موږ د دوی پرېکړه د ابوبکر، عمر، عثمان او على رضى الله عنهم په اړه عادلانه، اصوب او احسن گڼو. ډېر ناپوه او په غرض او مرض مبتلى انسان به په دې اړه د دوی پرېکړه د اسلام او عدالت خلاف گڼي.

پيغمبر عليه السلام نور صحابه او تر علي رضي الله عنه مخكي او وروسته او ځو ځلي د موقت نائب په توگه گمارلي؛ ولي هغوی ته د ځای ناستي په سترگه نه گورئ؟!

---

وَلَمَّا جَآءَ مُوسَىٰ لِمِيقَٰتِنَا وَكَلَّمَهُۥ رَبُّهُۥ قَالَ رَبِّ أَرِنِىٓ أَنظُرۡ إِلَيۡكَۚ قَالَ لَن تَرَىٰنِى وَلَٰكِنِ ٱنظُرۡ إِلَى ٱلۡجَبَلِ فَإِنِ ٱسۡتَقَرَّ مَكَانَهُۥ فَسَوۡفَ تَرَىٰنِىۚ فَلَمَّا تَجَلَّىٰ رَبُّهُۥ لِلۡجَبَلِ جَعَلَهُۥ دَكًّا وَخَرَّ مُوسَىٰ صَعِقًاۚ فَلَمَّآ أَفَاقَ قَالَ سُبۡحَٰنَكَ تُبۡتُ إِلَيۡكَ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٤٣﴾

١٤٣- او كله چي موسى زموږ ميقات ته راغی او رب ئې ورسره خبري وکړې، وئې

ویل: اې زما ربه! ما ته (ځان) راوښیه چې درته وګورم، وئې فرمایل: هیڅکله مې لیدی نه شې، خو دې غره ته وګوره، که په خپل ځای ثابت پاته شو، نو ته به مې هم حتماً وګورې، خو کله چې د ده رب د غره په لوري تجلي وکړه، ټوټې ټوټې شو او موسی بې سده پرېووت، کله چې راپه سد شو وئې ویل: پاکي تا ته ده، تا ته مې توبه ده او زه لومړنی مؤمن او باورکوونکی یم (د دې خبري چې هیڅوك الله تعالی په خپلو سترګو نه شي لیدی).

(۱٤۳)- دلته څو ډېري اساسي او مهمي خبري زموږ توجه جلبوي:

- الله تعالی له موسی علیه السلام سره تکلم او خبري کړې، موږ د دې خبرو په کیفیت او څرنګوالي نه پوهېږو، دومره ویلی شو چې موسی علیه السلام دا خبري اورېدلې دي او پرې پوه شوی.
- خبري په داسي حالت کې شوې چې موسی علیه السلام خپل رب نه لیدو، د لیدو تمنی ئې کړې او الله تعالی ورته فرمایلي چې زما د لیدو توان او استعداد نه لرې، ستا په څېر یو انسان خو پرېږده ستر غر هم د الله تعالی د تجلي په وړاندي مقاومت نشي کولی، که دا غر زما د تجلي په وړاندي تم شو نو ته مې هم لیدی شې.
- کله چې الله تعالی د غره په لوري تجلي کړې غر ټوټې ټوټې شوی او موسی علیه السلام بې سده شوی.
- کله چې راپه سد شو وئې ویل: پاکي تا لره ده، تا ته مې توبه ده او زه لومړنی مؤمن او باورکوونکی یم، یعنی له ما غلطي وشوه، ته تر دې ډېر لوړ یې چې انسان دي په خپلو کمزورو سترګو ولیدی شي، تا ته مې توبه ده، زه لومړنی کس یم چې دې نتیجې ته رسېدلی چې هیڅوك الله تعالی په خپلو سترګو نه شي لیدی.

د قرآن دا وینا او هغه هم د موسی علیه السلام د قصې په ترڅ کې د یهودانو او د بایبل د هغو پلویانو په خوله سخت سوك دئ چې د بایبل دا غلطه خبره مني چې د دوی ګڼ شمېر انبیاءو الله تعالی په خپلو سترګو لیدلی او ډوډۍ ئې ورسره خوړلې!!

دا آیت د ټولو هغو ټګمارانو ادعاء هم ردوي چې د (شهود) او (حضور) په نامه د الله تعالی د لیدو خبره کوي. که د موسی علیه السلام په څېر اولوالعزمه پیغمبر نشي کولی الله تعالی وګوري بل څوك به ئې څنګه ولیدی شي، بخاري روایت کوي چې عائشي رضی الله عنها د محمد علیه السلام په اړه وویل:

مَنْ حَدَّثَكَ أَنَّ مُحَمَّدًا صلى الله عليه و سلم رَأَى رَبَّهُ فَقَدْ كَذَبَ وَهُوَ يَقُولُ ( لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ ) (وَ مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ اللَّهُ إِلا وحياً أَوْ مِن وَرَاء حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسولاً

فَيُوحِيَ بِإِذْنِهِ مَا يَشاءُ ) وَمَنْ حَدَّثَكَ أَنَّهُ يَعْلَمُ الْغَيْبَ فَقَدْ كَذَبَ وَهُوَ يَقُولُ لَا يَعْلَمُ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ

که چا درته وويل چې محمد صلی الله علیه و سلم خپل رب لیدلی دئ نو پوه شه چې دا شخص دروغ وايي، ځکه الله تعالی فرمايي: (سترګی ئې نشي لیدلی)، (او هیڅ انسان ته نه ښايي چې الله ورسره تکلم وکړي مګر په وحي سره، یا د حجاب له شا او یا کومه فرشته ولیږي نو هغه د الله په حکم هغه څه ورته وحي کړي چې غوښتي ئې وي) او که چا درته وويل چې هغه علم غیب لري، نو دا هم دروغ وايي ځکه الله تعالی فرمايي: له الله پرته هیڅوك علم غیب نه لري.

موسی علیه السلام لومړی او وروستی شخص دئ چې الله تعالی ورسره تکلم کړی او دا ئې په خپلو سترګو لیدلي چې نه غر او نه انسان د الله تعالی د تجلي په وړاندې مقاومت کولی شي.

---

قَالَ يَـٰمُوسَىٰٓ إِنِّى ٱصْطَفَيْتُكَ عَلَى ٱلنَّاسِ بِرِسَـٰلَـٰتِى وَبِكَلَـٰمِى فَخُذْ مَآ ءَاتَيْتُكَ وَكُن مِّنَ ٱلشَّـٰكِرِينَ ﴿١٤٤﴾ وَكَتَبْنَا لَهُۥ فِى ٱلْأَلْوَاحِ مِن كُلِّ شَىْءٍ مَّوْعِظَةً وَتَفْصِيلًا لِّكُلِّ شَىْءٍ فَخُذْهَا بِقُوَّةٍ وَأْمُرْ قَوْمَكَ يَأْخُذُوا۟ بِأَحْسَنِهَا ۚ سَأُو۟رِيكُمْ دَارَ ٱلْفَـٰسِقِينَ ﴿١٤٥﴾

۱٤٤- وئې فرمايل: اې موسی! ما په خپلو رسالتونو او په خپل کلام سره تا ته پر خلکو غوره والی درکړ، نو څه چې مې درکړل وائې خله او له شکرکوونکو اوسه. ۱٤٥- او ده ته مو په (ډبرينو) تختو کې د هر څه (په اړه) موعظه او د هر څه (په اړه) تفصيلي ليکنه ورکړه، نو په قوت سره ئې واخله او خپل قوم ته سپارښتنه وکړه چې په غوره توګه ئې تر لاسه کړي، ژر به د فاسقانو ټاټوبی دروښيم.

---

(۱٤٤-۱٤٥)- دلته څو خبرې په پام کې ولرئ:

- الله تعالی خپل پيغمبر موسی علیه السلام هغو سترو سترو پېرزوينو ته متوجه کوي چې د ده په برخه شوې وې: رسالت ئې ورپه برخه کړی وو او د ټولو انسانانو له منځه ئې يوزاې له ده سره په استثنائي او ځانګړې توګه تکلم کړی وو او ده ته ئې په لوحو کې ليکلي هدايات ورکړي وو.

- دا لوحې څو وې؟ په دې کې ټول تورات ليکل شوی وو که ځيني اساسي احکام ئې؟ په دې اړه په قرآن او د رسول الله صلی الله علیه و سلم په احاديثو کې واضح ځواب نشو

موندلی، د مفسرینو ګڼ اقوال نقل شوي، بایبل ئې دوه ډبریني لوحې ګڼي، چي لس احکام په کي لیکل شوي وو، یهودان او مسیحیان د بایبل لومړی برخي (عهد قدیم) ته د تورات په سترګه ګوري، خو څوك چي بایبل په دقت سره مطالعه کړي پوهېږي چي دا نه یوازي په موسی علیه السلام باندي نازل شوی تورات نه دئ، بلکي له خرافاتو او تناقضاتو ډك کتاب دئ.

بایبل د دغو لوحو په اړه لیکي: خدای موسی ته امر وکړ چي... د عهد صندوق به د سَرْو له لرګي جوړوئ، اوږدوالی به ئې ۱۲۵ سانتي متره، سور او لوړوالی ئې ۷۵ سانتي متره، منځ او بهر ئې په خالصو سرو زرو وپوښه او په ژی ئې د سرو زرو ګاره تېره کړه، د دې صندوق لپاره د سرو زرو څلور حلقې جوړي کړه، د صندوق څلور لاندینیو کونجونو سره ئې ونښلوه،... د صندوق د وړلو لپاره د سَرو د لرګي دوه دستکي په سرو زرو وپوښه او په حلقو کي ئې ننباسه، کله چي د صندوق جوړول بشپړ شي هغه دوه لوحې به درکړم چي قوانین او لارښووني مي په کي لیکلې دي تر څو ئې په دې صندوق کي کښېږدې. د صندوق سرپوښ به له خالص سرو زرو جوړوې، اوږدوالی ئې ۱۲۵ او سور ئې ۷۵ سانتي، دا سرپوښ د (رحمت تخت) دئ، ستاسو د ګناهونو د کفارې لپاره!! د رحمت د تخت پر سر د فرشتې د شکل دوه مجسمې له سرو زرو نصب کړه، دا مجسمې داسي جوړي کړه چي د رحمت له تخت سره جوختي او نښتې وي، دواړه یوې بلي ته مخامخ او سترګي ئې د تخت په لوري او وزرونه ئې پر تخت خواره وي، د رحمت تخت پر صندوق نصب کړه، بیا به زه همدلته ملاقات درسره کوم او د دغو دواړو فرشتو له منځه به خبري درسره وکړم او بني اسرائیلو ته به اړیني لارښووني وکړم.!!

د دې خبرو په اړه د بایبل منونکو ته وایو:

- آیا ستاسو عقل دا خبره مني چي الله تعالی به موسی علیه السلام په داسي بېهوده کارونو ګمارلی وي او د معبد په جوړولو کي د سرو او سپینو زرو او قیمتي ډبرو د کارولو امر به ئې کړی وي؟!! آیا د خدای له یوه مسکین او فقیر بنده سره چي له لوږي او بیماری مري، مرسته به غوره وي که د معبد د تزئین او ښکلا لپاره بې دربغه مصرف؟!! که دا تاسو ته پرېښودی شي نو ستاسو پرېکړه به څه وي، کوم ته به ترجیح ورکوئ؟!!

- آیا الله تعالی د تورات لوحې د دې لپاره لېږلې وې چي د سرو زرو په صندوق کي کښېښودی شي که د دې لپاره چي د خلکو د ژوند لارښود وي او عمل پرې وشي؟ څنګه ممکنه ده چي موسی علیه السلام به تورات د سرو زرو په صندوق کي ږدي؟!! قرآن خو موږ ته تورات د هغه کتاب په توګه معرفي کوي چي نسخې ترې جوړي شوې او په ولس کي خورې شوې ((وَالطُّورِ) (وَكِتَابٍ مَسْطُورٍ) (فِي رَقٍّ مَنْشُورٍ)؛ موسی علیه السلام خو د تورات له راوړلو سره سم له بني اسرائیلو په دې کتاب د عمل کولو ژمنه اخیستې وه، قرآن خو موږ ته وايي چي موسی علیه السلام دا لوحې هغه وخت لري وغورځولې چي وئې

لیدل د ده قوم د سامري په لاس دوکه شوی او د خدای پر ځای ئې د سخوندر د مجسمې عبادت پیل کړی، تورات هم همدغه خبره کوي، له دې خو معلومېږي چې د موسی علیه السلام له نظره دا لوحې نه بلکې په دې لوحو کې لیکل شوي احکام مهم ول!! د ټولو جاهلو قومونو تاریخ په دې شهادت ورکوي چې دوی له خپلو سپېڅلو کتابونو سره همدا معامله کړې ده، هغه کتاب چې په لومړي سر کې د دوی د نېکو او صالحو پلرونو لپاره لارښود کتاب وو، خو ورو ورو ترې لرې شوي، د کتاب لارښووني ئې هېرې کړې، په جامو کې ئې نغښتی، په لوړ طاق کې ئې ایښی او د تبرك وسیله ئې ترې جوړه کړې، هندوانو او سیکانو له خپلو هغو مذهبي کتابونو سره چې سپېڅلي ئې ګڼي همداسې وکړل، په درمسال کې ئې کښېښود، په ګڼ شمېر جامو کې ئې پټ کړ، خوا ته ئې عطر شیندي، خوشبویه لرګي دودوي، بوزی ورته وهي، د برکت تر لاسه کولو لپاره ئې تر خوا تېرېږي او تعظیم ئې کوي!! مسلمانانو د جهل او انحطاط په دوران کې له قرآن سره همدا معامله وکړه، هغه کتاب چې د یوه ستر سیاسي، اجتماعي او اقتصادي انقلاب لارښود وو، د ژوند د هرې پېښې په اړه به مسلمانانو هغه ته رجوع کوله، د خپلې هرې پوښتنې ځواب به ئې له قرآنه غوښت، هره شخړه به ئې په قرآن حلوله، د هرې قضیې په اړه به ئې د قرآن لارښوونه او پرېکړه وروستۍ پرېکړه ګڼله، هغه کتاب چې په نړۍ کې ئې ستره او ژوره تبدیلي راوسته، له خورو ورو قومونو ئې یو ستر او سرلوړی متحد امت جوړ کړ، د ظالمانو په ضد ئې مظلومان پاڅون ته وهڅول، اقتدار ئې له ظالمانو واخیست او مظلومانو ته ئې وسپارو، دوه سترې امپراطورۍ ئې په زوال محکومې کړې، خو آیا پوهېږئ چې څو پېړۍ وروسته، تش په نامه مسلمانانو له دغه لارښود او انقلابي کتاب سره څه وکړل؟!! هغه ئې هېر کړ، یوازې د تبرك وسیله ئې ترې جوړه کړه، په جامو کې ئې ونغاښتو، د تعظیم او احترام په نامه ئې د خپلې خونې په داسې طاق کې کښېښود چې تر ټولو لوړ وي او د هیچا لاس نه وررسي، هغه وخت به ئې له لوړ ځایه راکوزاوو چې غوښتل ئې د لوړې لپاره لاس پرې کښېږدي!!

بایبل بل ځای لیکي: کله چې موسی د سینا په غره کې وو خدای ورته هغه لوحې ورکړې چې په خپلو ګوتو ئې لس احکام په کې لیکلي وو!! خو د سینا په غره کې ئې ځنډ وکړ... خلك هارون ته راغلل چې پاڅه او موږ ته خدای جوړ کړه چې زموږ لارښوونه وکړي... هارون ورته وویل: د سرو زرو هغه ګاڼې ما ته راوړئ چې ستاسو د مېرمنو، لوڼو او زامنو په غوږونو کې دي، خلکو دا کار وکړ... هارون ټولې ویلې کړې، په یوه قالب کې ئې واچولې او سخوندر ئې ترې جوړ کړ، کله چې خلکو سخوندر ولید چیغې ئې کړې: اې بني اسرائیلو! دا ستاسو هغه خدای دئ چې له مصره ئې راوایستئ!! هارون د دې صحنې په لیدو سره د سخوندر مخې ته د قربانۍ ځای هم جوړ کړ او وئې ویل: سبا د خدای لپاره جشن نیسو!! سبا خلك سهار وختي پاڅېدل، د سخوندر مخې ته ئې د سوزولو او سلامتۍ قرباني وړاندې کړه، کښېنستل... ښه ډېر خوراك څښاك او د بې حیایۍ کارونه ئې وکړل...

خدای موسی ته وویل: په تلوار لاندې ولاړ شه چې ستا قوم فاسد شوی... پرېږده چې د خپلې غصې اور پرې بل کړم... او ټول ووژنم... خو موسی وویل: خدایه! ولې پر خپل قوم دومره غصه یې؟ سؤال کوم چې خپله غصه پرېږده او د خپل قوم له مجازاته تېر شه!!... خپله هغه لوړه درياد کړه چې ابراهيم او اسحاق ته دې ويلي وو: په خپل ذات لوړه کوم چې ستاسو اولاد به د آسمان د ستورو په څېر بې شمېره کړم!!... نو له دې کبله خدای له خپل تصميم تېر شو!!... نو موسی له غره راکوز شو... او هغه دوه ډبريني لوحې ئې په لاس کې وې چې په دواړو خواوو ئې (خدای په خپل لاس) لس احکام ليکلي وو... کله چې پنډغالي ته رانژدې شو، شور او ځوړ ئې ترغوږ شو... سترگې ئې پر طلايي سخوندر ولگېدې چې خلك ئې مخې ته په نڅا او خندا بوخت دي... داسې غصه شو چې لوحې ئې تر غره!! لاندې وغورځولې او ټوټې ټوټې شوې... بيا ئې طلايي سخوندر په اور کې ويلې کړ، وئې ټکاوو او د هغه دوړې ئې پر اوبو وشيندلې او دا اوبه ئې پر بني اسرائيلو وڅښلې!!!... هارون ته ئې وويل: ولې دې له قوم سره دا جفا وکړه؟.. د پنډغالي په دروازه کې ودرېدو او غږ ئې کړ: څوك چې د خدای پلوي وي زما خوا ته دې راشي... د لاوي ټول ټبر د ده خوا ته راغونډ شو... ورته وئې ويل: خدای امر کوي چې توري ترملا وتړئ، د پنډغالي له يوه سره تر بل سره ولاړ شئ، خپل ورور، دوست او گاونډی ووژنئ...لاويانو اطاعت وکړ او په دې ورځ درې زره اسرائيليان ووژل شول... موسی لاويانو ته وويل: تاسو ثابته کړه چې د خدای د خدمت وړ ياست... نو خدای به تاسو ته برکت درکړي!!!... موسی خدای ته وويل: دې قوم لويه گناه کړې، خو ته ئې وبخښه او يا خو زما نوم له خپل کتابه محو کړه!! خدای ورته وويل: ستا نوم به ولې محو کوم... چا چې گناه کړې هغه ته سزا ورکوم...خدای د هغه بت د لمانځنې له امله پر بني اسرائيلو لويه بلا نازله کړه چې هارون جوړ کړی وو!! بيا خدای موسی ته وفرمايل: دا قوم هغې سيمې ته بوځه چې شات او شيدې په کې بهېږي!!! خو زه به په دې سفر کې ستاسو په منځ کې نه وم، ځکه چې سرکش يئ... ممکن په لارې کې مو هلاك کړم!! که يوه شېبه ستاسو په منځ کې پاته شم نو تاسو حتماً وژنم... تر څو چې ستاسو په اړه وروستۍ پرېکړه کوم هر ډول گاڼې او جواهرات له ځانه لرې کړئ... )

که څه هم د دې وينا جمله جمله غلطه ده او هر عاقل انسان ئې په غلطۍ پوهېږي، خو د بايبل د هغو منونکو لپاره چې دا کتاب ئې له غور پرته منلی او هره وينا ئې ورته مقدسه برېښي، څو وضاحتونه ضروري گڼو:

آيا الله تعالی زموږ په څېر دئ چې د څه ليکلو لپاره بايد قلم په لاس کې واخلي او په خپلو گوتو څه وليکي؟!! د الله تعالی په اړه داسې وينا خو يوازې هغه څوك کولی شي چې نه ئې پېژني او په يوه کمزوري او محتاج انسان ئې قياسوي، راشئ د بايبل دا ضعيفه وينا د قرآن له جامع او کاملې وينا سره مقايسه کړئ چې فرمايي:

إِنَّمَآ أَمۡرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيۡـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٨٢﴾ يس: ٨٢

يقيناً چې د ده کار له دې پرته بل څه نه دئ چې کله د کوم څه اراده وکړي نو ورته وايي: وشه، نو هغه (له ځنډه پرته تر سره) کېږي!!

که په رښتيا دا د سرو زرو سخوندر ډوله بت او د هغه مخې ته د قربانۍ ځای هارون جوړ کړی وی، نو تر ټولو سخته سزا خو بايد ده ته ورکړی شوې وی!! دا څنگه موسی عليه السلام د نورو د وژلو امر کوي، هغه هم له پوښتنې او گوېرنې پرته او د پنډغالي له يوه سره تر بله سره د ټولو د وژلو امر؛ او هارون عليه السلام ته نه يوازې کومه سزا نه ورکوي بلکې دی او زامن ئې د معبد د ساتونکو او پالونکو په توگه پرېږدي او پرېمانه امتيازات ورته منې؟!!!

آيا ستاسو عقل او ايمان دا منې چې الله تعالی به داسې پرېکړه کړې وي چې يوه ډله به توري له تېکو راباسي او د پنډغالي له يوه پلوه به تر بله پلوه پوري درومي او چې څوك مخې ته ورځي، که ئې ورور وي، که دوست، که گاونډی، نو وژني به ئې؟!! پرته له دې چې وگوري د سخوندر عبادت ئې کړی وو که نه، د وژلو وړ دئ که نه؟ د عقل، عدل او دين تقاضا خو دا ده چې يوازې مجرم ته سزا ورکړی شي او يوازې بت لمانځونکي مجازات شي!! که دا د پېښو سترگو وژنه وی نو ولې به له شپږو لکو يوازې درې زره وژل کېدل؟! په کار خو دا وه چې په داسې عام قتل کې د وژل شوو شمېر ډېر زيات وی، که د بايبل دا خبره رښتيا وي چې درې زره وژل شوي نو بيا خو د دې معنی دا ده چې يوازې مجرمان وژل شوي. متأسفانه زموږ ځيني مفسرين هم د دغو اسرائيلي رواياتو تر اغېز لاندې تللې او د بايبل دا غلطه او بې بنسټه وينا ئې د قرآن د دې مبارك آيت په تفسير کې رااخيستې.

هر عقلمن انسان په دې پوهېږي چې د معبد د سينگارولو لپاره سره او سپين زر کارول او مجاور ته ئې د نفيس ټوکر جامې جوړول او قيمتي ډېري ئې په سينه بند او ملا بند کې کارول يوازې د ټگمارو مذهبي مشرانو کار کېدی شي، په اسلام کې نه خاصه مذهبي طبقه شته، نه ئې خاص امتيازات، نه ئې خاصه تبعيضي او امتيازي جامه، نه ئې په قربانيو او صدقاتو کې خاصه برخه؛ اسلام موږ ته وايي ټوله زمکه مسجد دئ، په هر ځای کې د الله تعالی عبادت کولی شئ، امام په خپله غوره کړئ، هغه امام مه نيسئ چې پر امامت اجوره غواړي، مسجد به مو ساده وي او له سينگارولو به ئې ډډه کوئ، د لمانځه په مهال به امام له مقتديانو په لوړ ځای نه ودرېږي. او دا همغه خبره ده چې د بايبل ليکونکي سهواً ليکلې وه: د قربانۍ ځای له خاورو جوړ کړئ، که ډبره کاروئ نو مه ئې تراشئ، تراشلې ډبري له ما سره نه ښايي!! په معبد کې زينه هم مه جوړوئ؛ خو ده د انجيل په دغې خبري کې تحريف کړی او دا ئې پرې اضافه کړې: داسې نه چې له دغو زينو د پورته تلو په مهال مو عورت بربنډ شي... د بايبل ليکونکی دې ته نه دئ تيار چې ووايي: زينې د دې لپاره مه جوړوئ چې د الله تعالی په وړاندې يو برابر ودرېږئ!!

آيا ستاسو عقل دا خبره مني چي موسی علیه السلام به په بني اسرائيلو له اېرو ډکې اوبه څښلې وي؟! ولې به ئې دا بېهوده او بې معنی کار کاوو او د دې ګټه څه وه او څه معنی ئې درلوده؟! قرآن د بايبل دا وينا ردوي او فرمايي چي بني اسرائيلو د سوزول شوي بت په اېرو لړلې اوبه نه وې څښلې بلکي د دې بت مينه ئې څښلې وه!!

وَإِذۡ أَخَذۡنَا مِيثَٰقَكُمۡ وَرَفَعۡنَا فَوۡقَكُمُ ٱلطُّورَ خُذُواْ مَآ ءَاتَيۡنَٰكُم بِقُوَّةٖ وَٱسۡمَعُواْۖ قَالُواْ سَمِعۡنَا وَعَصَيۡنَا وَأُشۡرِبُواْ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلۡعِجۡلَ بِكُفۡرِهِمۡۚ قُلۡ بِئۡسَمَا يَأۡمُرُكُم بِهِۦٓ إِيمَٰنُكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ٩٣ البقرة: ٩٣

او کله چي مو ستاسو ژمنه درنه واخيسته او د طور غر مو ستاسو له پاسه رااوچت کړ، (او ومو ويل:) په هغه څه منګولې کلکې ولګوئ چي تاسو ته مو درکړی او غوږ شئ، وئې ويل: غوږ شوو خو سرغړونه کوو او د خپل کفر په سبب ئې سخوندر په زړونو کې ننه ايستی شو، ووايه: که تاسو مؤمنان ياست دا ايمان خو مو په ډېرو بدو شيانو ګماري!!

يعني دوی په داسي حالت کي له الله سره کړې ژمني ماتي کړې چي د طور غر ئې د سر له پاسه وو، په همدغه وخت کي ئې په ژبه د منني او اطاعت الفاظ وو خو په زړونو کي ئې د عصيان هوډ او اراده، له همدې تعهد وروسته ئې جعلي معبود غوره کړ، دوی ته ويل شوي: چي د کفر په سبب د سخوندر مينه ستاسو د زړه تل ته کوزه شوه، که ستاسو دا ټول ناوړه اعمال د کوم ايمان په حکم او د کومي عقيدې له مخي وي نو دا خو ډېر کرغېړن ايمان او بده عقيده ده چي په داسي بدو کارونو مو ګماري.

آيا ستاسو ايمان دا اجازه درکوي چي د بايبل دا خبره ومنئ: موسی وويل : خدايه! ولې پر خپل قوم دومره غصه يې؟ سؤال کوم چي خپله غصه پرېږده او د خپل قوم له مجازاته تېر شه!!... خپله هغه لوړه درياد کړه چي ابراهيم او اسحاق ته دي ويلې وو: په خپل ذات لوړه کوم چي ستاسو اولاد به د آسمان د ستورو په څېر بې شمېره کړم!!... نو له دې کبله خدای له خپل تصميم تېر شو!! يعني دا چي خدای غصه وو، پرېکړه ئې دا وه چي بني اسرائيل هلاك کړي، خپله مخکينۍ ژمنه ئې هېره وه... موسی عليه السلام خپله ژمنه ورپه ياد کړه نو ځکه له خپل تصميم منصرف شو!!

آيا ستاسو عقل دا خبره مني چي الله تعالی به په خپلې وينا کي دومره مبالغه کړې وي او ويلي به ئې وي: دا قوم هغې سيمي ته بوځه چي شات او شيدې په کي بهېږي!!! شمېر به ئې د آسمان د ستورو په اندازه کړم!!

---

سَأَصۡرِفُ عَنۡ ءَايَٰتِيَ ٱلَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَإِن يَرَوۡاْ كُلَّ ءَايَةٖ لَّا يُؤۡمِنُواْ بِهَا وَإِن يَرَوۡاْ سَبِيلَ ٱلرُّشۡدِ لَا يَتَّخِذُوهُ سَبِيلٗا وَإِن يَرَوۡاْ سَبِيلَ

ٱلۡغَيِّ يَتَّخِذُوهُ سَبِيلٗاۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُواْ عَنۡهَا غَٰفِلِينَ ١٤٦
وَٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَلِقَآءِ ٱلۡأٓخِرَةِ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡۚ هَلۡ يُجۡزَوۡنَ إِلَّا مَا كَانُواْ
يَعۡمَلُونَ ١٤٧

١٤٦- حتماً به له خپلو آيتونو هغه كسان منصرف كړم چې په زمكې كې په ناحقه لويي كوي، كه هره نښه وگوري ايمان پرې نه راوړي، كه د كمال او رشد لار په نظر ورشي د تگلاري په توگه ئې نه نيسي او كه د ضلالت لار وگوري د تگلاري په توگه ئې نيسي، دا د دې لپاره چې زما آيتونه ئې تكذيب كړي او ترې غافل دي. ١٤٧- او هغه چې زما آيتونه او اخروي ملاقات ئې تكذيب كړل عملونه ئې حبط شول، آيا يوازې د خپلو كړنو سزا نه ده وركړى شوې؟

(١٤٦-١٤٧)- دلته د هغو متكبرينو څو ځانگړتياوې په گوته شوې چې د الله تعالى آيتونه تكذيبوي او ترې غافل دي:

- د الله تعالى له آيتونو ډډه كوي، الهي احكامو ته غاړه نه ږدي.
- تكبر او لويي ئې ناحقه ده، هسې ځان ورته ستر او لوى برېښي.
- په هيڅ دليل نه قانع كېږي، له خپل كبر، لويي او انكار لاس نه اخلي.
- د رشد، هدايت او كمال په لار تلو ته چمتو نه دي.
- تل په غلطو او ناسمو لارو درومي.
- الله تعالى به د دوى ټولې هڅې حبط او بې نتيجې كړي.
- دوى ته چې كومه سزا وركول كېږي، د دوى كړنو ته ورته ده.

وَٱتَّخَذَ قَوۡمُ مُوسَىٰ مِنۢ بَعۡدِهِۦ مِنۡ حُلِيِّهِمۡ عِجۡلٗا جَسَدٗا لَّهُۥ خُوَارٌۚ أَلَمۡ يَرَوۡاْ
أَنَّهُۥ لَا يُكَلِّمُهُمۡ وَلَا يَهۡدِيهِمۡ سَبِيلًاۘ ٱتَّخَذُوهُ وَكَانُواْ ظَٰلِمِينَ ١٤٨

١٤٨- او د موسى قوم د ده (له تلو) وروسته، له خپلو گاڼو د سخوندر داسې جسد (د معبود په توگه غوره او ) جوړ كړ چې ځانگړى غږ ئې وو، آيا دې ته ئې پام نه وو چې هغه ورسره خبرې نشي كولى او هيڅ لارښوونه ئې نشي كولى؟ هغه ئې (معبود) ونيولو په داسې حال كې چې ظالمان ول.

(١٤٨)- دلته څو خبرې په پام كې ولرئ:

● دوی تر دې د مخه له موسی علیه السلام د یوه داسې معبود غوښتنه کړې وه چې په سترګو لیدل کېږي، د خدای ځای ناستی او د هغه یو محسوس تصویر وي، سامري د دوی له دغې کمزورۍ په استفادې سره دوی ته وویل: ګاڼې مو راوړئ چې ستاسو د خوښې معبود درته جوړ کړم. د دغې قصې په ترڅ کې موږ ته قرآن دا لارښوونه کوي چې تل ټګمار مذهبي مشران په کمین کې وي، له فرصت په استفادې سره خلك د الله تعالی له عبادت د داسې څه عبادت ته بلي چې سخوندر ته ورته وي. په داسې حال کې چې نه د دوی حاجتونه تر سره کولی شي، نه ئې د دعاګانو ځواب ورکولی شي او نه ئې لارښوونه کولی شي. دا دئ ګورئ چې میقات ته د موسی علیه السلام له تلو سره سم، سامري د یوه ټګمار مذهبي مشر په توګه صحنې ته راوځي، ولس دوکه کوي، له دوی د خپلو ښځو ګاڼې غواړي چې د سرو زرو معبود ورته جوړ کړي، دا معبود ئې د سخوندر په څېره کې جوړ کړ چې د غويي په څېر غږ به ترې اورېدل کېدو. قرآن په دې سره موږ ته لارښوونه کوي چې له سرو او سپینو زرو بُت او معبود جوړول د سامري کار دئ!! واقعاً چې د سرو زرو معبد او معبود جوړل د هغو ټګمارانو کار دئ چې د سامري په څېر وي!! هیڅ واقعي خدای پالونکی به په دې راضي نه شي چې د الله تعالی په نامه دې له غولېدلو عوامو سره زر تر لاسه شي او هغه دې په داسې مواردو کې مصرف شي، واقعي الهي دین هغه دئ چې خلکو ته وایي: د الله تعالی د بې وزلو بندګانو مرسته وکړئ، شتمنۍ مو د خیر په کارونو کې، د وږو په مړولو کې، د بربنډو په پټولو کې، د بیمارانو په تداوي کې او د مسکینانو په لاس نیوي کې ولګوئ، سره او سپین زر مه ذخیره کوئ، چا چې ذخیره کړل ځای ئې جهنم دئ!!

● ګمان مه کوئ چې د معبد په تزئین او سینګارولو کې یهودان یوازې دي، د نړۍ ډېرو ټګمارانو له معبد ښایسته او غولوونکی دام جوړ کړی، پرون ئې د یوه مصلح، داعي او ناجي مقابله کړې، چې هغه تللی یا وژل شوی او په همدې سره ئې په ولس کې محبوبیت زیات شوی، همدغه د ده پروني دښمنان راپورته شوي، د ده پر قبر ئې زیارتونه جوړکړي، د ده په نامه ئې خلك غولولي، شکرانې او صدقې ئې تر لاسه کړې، پنځه ئې پر زیارت مصرف کړې او پنځه نوې ئې په خپل جیب کې اچولې، د زیارت دروازې، قبې او کړۍ ئې له سرو زرو جوړې کړې، ښه زیب او زینت ئې ورکړی، چې هیبت ئې زیات شي او عوام پرې په آسانۍ وغولوي!! په اسلامي هېوادونو کې هم داسې خلك ډېر زیات دي چې قبر ئې دکان دئ او زیارتونه ئې دام، پر قبرونو ئې داسې ستري ستري بنګلې جوړې کړې چې نه سپینه ماڼۍ ورسره مقایسه کېدی شي او نه واتیکان!! او آیا پوهېږئ چې دا زیارتونه ئې د هغه چا پر قبر جوړ کړي چې هغه په خپل ژوند کې تر یوې لوېشتي لوړ قبرونه ړنګول او د قبرونو پر سر جنډې ئې نسکورولې!!

● له مصر له وتلو او د آزادۍ له لاس ته راوړلو وروسته، بني اسرائیل یوه داسې لارښود کتاب ته اړ وو چې د دوی فردي او اجتماعي ژوند تنظیم کړي، الله ورته تورات ولېږو،

چې هم ضروري احکام او قوانين په کې وو او هم د ښه او بد د پېژندو او د مفيد او مضر تر منځ د فرق کولو او تفکيك روښانه او څرګند معيارونه، د همدغه کتاب په ترڅ کې دوی ته حکم وشو چې د سامري په متابعت او له سخوندر څان ته په معبود جوړولو سره مو ستر ظلم او جفا کړې، د دې لوی جرم د جبران لپاره بايد په يوه ستر جهاد لاس پورې کړئ. ځيني ګناهونه داسې وي چې په يوازې توبې سره ئې الله تعالی نه بخښي، د توبې قبلېدل ئې شرائط او لوازم لري، د بني اسرائيلو دا ګناه دومره ستره وه چې د توبې قبلېدا ئې په دې مشروط شوې وه چې وسله به اخلي او د هغو کسانو په خلاف به جهاد اعلانوي چې د شرك لار ئې غوره کړه او سخوندر ئې څان ته معبود کړ. له دې معلومېږي چې په ځينو حالاتو کې يوازې ګناه کوونکی نه بلکې د ګناه ليدونکی به هم کفاره ورکوي. د هغو بني اسرائيلو لپاره چې د سخوندر د ځانځني مخنيوی ئې نه وو کړی دا کفاره وټاکل شوه چې د مشرکانو په ضد به وسله وال جهاد پيلوي. د دې مبارك آيت واضح او څرګنده معنی همدا ده.

دا مطلب د طه د سورې له ۸۵ آيت تر ۹۸ پورې داسې راغلی:

- وئې فرمايل: يقيناً چې له تا وروسته مو ستا قوم په آزمېښت کې واچاوو او سامري دوکه او بې لارې کړل، نو موسی خپل قوم ته غصه ناك او افسوس ناك ستون شو، وئې ويل: اې زما قومه! آيا الله د غوره وعدو ژمنه نه وه درسره کړې، آيا (د وعدې دا) موده درباندې اوږده شوه، يا ومو غوښتل چې د خپل رب غضب درباندې راپرېوځي، نو څکه مو زما له وعدې تخلف وکړ، وئې ويل: موږ په خپلې خوښې او واك سره ستا له وعدې نه يو په شا شوې، خو د هغه قوم د ګاڼو پېټې راپه شا شول، نو ومو غورځول او سامري هم وغورځول، نو سخوندر ته ورته مجسمه ئې ورته راوايسته چې رمباړه ئې وه او وئې ويل: دا ستاسو او د موسی معبود دئ او (حق خبره ئې) هېره شوه، آيا دې ته ئې نه کتل چې هيڅ خبره نه ورګرځوي (د خبرې ځواب نه شي ورکولی) او نه دوی ته د کومې ګټې واك لري او نه د څه تاوان؛ او يقيناً چې هارون تر دې د مخه ورته ويلې وو: اې زما قومه! يقيناً چې په دې سره وآزمويل شوئ او ستاسو رب خو له شك پرته هماغه رحمن رب دئ، نو زما متابعت وکړئ او زما د امر اطاعت وکړئ، وئې ويل: تر هغه به ئې تل اعتکاف کوو چې موسی راوګرځي، وئې ويل: اې هارونه! څه شي له دې منع کړې چې دوی دې بې لارې ومومندل او زما اطاعت دې ونه کړ؟! آيا زما له امره دې سرغړاوی وکړ؟ وئې ويل: اې زما د مور بچيه! تر ږيرې او تر سر مې مه نيسه، زه له دې ووېرېدم چې ته به (راته) ووايې: په بني اسرائيلو کې دې تفرقه راولاړه کړه او زما د وينا خيال دې ونه کړ، وئې ويل: اې سامري! ستا څه حال وو؟ وئې ويل: هغه څه مې تر سترګو شول چې د نورو تر سترګو نه شول، نو د پيغمبر له آثارو مې يو موټ تر لاسه کړل، بيا مې وغورځول، نفس مې همدا راته ښايسته کړ، وئې ويل: نو درومه او ستا لپاره به د دنيا په ژوند کې دا ويل وي چې:

لاس مه راوړئ او تا ته داسي نېته ټاکل شوې چي ترې شا ته کېدا دي نشته او خپل هغه معبود ته دي وگوره چي پړمخي ئې (خوا ته) پرېوتی وې، خامخا به ئې وسوزوو، بیا به ئې د ایرو په څېر په سیند کې وشیندو، خبره دا ده بله نه ده چي ستاسو معبود هغه الله دئ چي له ده پرته بل معبود نشته، علماً ئې په هرڅه احتواء کړې.

گورئ چي قرآن (طلایي بت) جوړول د (سامري) کار گڼي، موږ ته د ټولو طلایي معبودانو او معبدونو حقیقت بیانوي او لارښوونه راته کوي چي که چېري تاسو ته داسي معبد او معبود په نظر درشي چي له سرو او سپینو زرو جوړ شوی؛ نو پوه شئ چي د دې په جوړولو کې حتماً د کوم سامري لاس وو!! قرآن موږ ته سامري او د هغه ځانگړتیاوي داسي معرفي کوي: تر عامو خلکو ئې پوهه او بصیرت نسبتاً زیات دئ، یعني شیخ او ملا دئ، هم خلك ورته د پوه په سترگه گوري او هم په خپله ځان تر نورو پوه گڼي، د پیغمبر له لارښوونو، شعارونو او علومو ئې هم څه برخه تر لاسه کړې، خو په نیمي لاري کې ئې ټول شا ته غورځولي، نفس دوکه کړی او د خلکو غولولو ته ئې هڅولی. یعني د شرك بنسټ د هغو ټگمارو مذهبي مشرانو په لاس اېښودل شوی چي د پیغمبر له آثارو او د دین له وینااوو ئې څه برخه درلوده، خو دا ئې شا ته غورځولي او د خلکو د دوکه کولو لپاره ئې ملا تړلې، د سرو زرو بت ئې ورته جوړ کړی، هغه هم په خپله د دوی له گاڼو او پیسو او ورته ویلي ئې دي: دا ستاسو رب دئ او په دې توگه ئې خلك د الله تعالی پر ځای د (سخوندر!!) عبادت ته چمتو کړي!! ښایي بې مناسبته به نه وي چي د مطلب د مزید توضیح لپاره یوه قصه رانقل کړم، له یوه دوست سره له ناگمان نومي سیمي پېښور ته راتلم، په لاري کي مي د جونگي بابا په نامه لوحه تر سترگو شوه، پوښتنه مي وکړه چي جونگی بابا څوك وو؟ موږ خو د اوښ بچي ته جونگی وایو، هغه راته وویل: څو کاله مخکي دلته د سړك په غاړه یو مړی ومونډی شو، ناپېژاندو کسانو وژلی وو، کوچی وو اوښه ورسره وه، خوا ته ئې پر زمکه چو وه، خلك راغونډ شول اوښه ئې ټومبله خو هغه له خپله ځایه نه خوځېده، په همدې حال کې چي د خلکو گڼه گوڼه زیاتېده، یو ملنگ راغی، دا صحنه ئې ولیده او په یوې گوښې کې ئې خپل څادر وغوړاوو او غږ ئې کړ: واچوئ د جونگي بابا په نامه، خدای مو وبخښه واچوئ د جونگي بابا په نامه!! مړی همدلته ښخ او هغه ملنگ ئې مجاور شو او ورو ورو زیارت پرې جوړ شو!! ډېر زیارتونه د جونگي بابا په څېر جوړ شوي!! ځیني ئې د ملنگانو په لاس او ځیني ئې د ملکانو او پاچایانو په لاس!! دواړو د خلکو د غولولو او شکولو لپاره دا کار کړی.

کله چي بني اسرائیل له مصر وتل، د لاري په اوږدو کې د داسي قوم خوا ته تېر شول چي بتان ئې درلودل، دوی هم له موسی علیه السلام وغوښتل چي همداسي کوم بت ورته جوړ کړي، موسی علیه السلام سخت ورټل او دا ئې د یوه جاهل او ناپوه قوم غوښتنه وگڼله، سامري د قوم دا تلوسه او د ضعف نقطه درك کړه، منتظر وو چي په کوم مناسب فرصت کې ترې گټه واخلي، پوه شو چي دا خلك تر سترگو کېدونکی خدای غواړي، د ولس

جاهلانه تلوسې او د موسى عليه السلام موقت غيابت دا موقع په لاس ورکړه، په بيړه پاڅېدو، خلکو ته ئې وويل: بايد د نورو قومونو په څېر د دعاء او عبادت په مهال د خدای انځور زموږ مخې ته ولاړ وي، سخوندر د قوت نښه ده، د خدای قدرت او ځواکمنې بايد د سخوندر په بڼه کې انځور کړو، که تاسو خدای منئ نو خپلې ګاڼې راوړئ، دوی ته ئې د سخوندر داسې مجسمه جوړه کړه چې کله کله به رمباړه ترې پورته کېده، قوم ته ئې وويل: دا همغه خدای دئ چې تاسو ئې له مصره وايستئ!! د ګاڼو له غونډولو معلومېږي چې ښايي په دې کار کې د ښځو ونډه تر نارينه وو زياته وه!!

قرآن د دې قصې په ترڅ کې موږ ته وايي: جاهل قومونه ډېر ژر د ټګمارو او دوکه مارو مذهبي مشرانو په لومو کې ښکار شي، دين پلورونکي ئې د دين په نامه دوکه کړي، سامري ئې مذهبي مشر شي او د سرو زرو سخوندر ئې معبود! د خدای پر ځای ئې د سخوندر په وړاندې سر ټيټولو ته چمتو کړي، هم ايمان ترې واخلي او هم ئې شتمنۍ، د سرو زرو بت ورته جوړ کړي خو له دوی د اخيستل شوو سرو زرو له يوې وړې برخې!!

عجيبه دا ده چې بايبل دلته ويلي چې خدای بني اسرائيلو ته په خپل اخطار کې وويل: که يوه شېبه ستاسو په منځ کې پاته شم نو تاسو حتماً وژنم، خو له دې څو سطره وروسته ليکي: خدای ژمنه وکړه چې له خپل قوم سره به پاته کېږي!! بايبل تل خپل خدای همداسې معرفي کوي چې نن يوه خبره کوي او سبا بله، اوس يوه ژمنه کوي او څو شېبې وروسته له خپلې ژمنې په شا کېږي او د خپلې مخکينۍ ژمنې خلاف عمل کوي!! او تر دې ئې هم عجيبه خبره دا چې مخکې ئې په لسهاوو ځله ليکلي چې خدای خلکو ته ځان ښودلی خو دلته ليکي: خدای د موسى د دې غوښتنې په ځواب کې چې ما ته خپل ځان وښيه، وفرمايل: زه به خپل جلال ستا مخې ته تېر کړم، خپل نوم به هم په جګ غږ ياد کړم... خو نه پرېږدم چې زما څېره وګورې، ځکه چې انسان نه شي کولی ما وګوري او ژوندی پاته شي!!! نو پاڅه او پر دې ډبرې زما خوا ته ودرېږه، کله چې زما جلال تېرېږي نو تا به د دې ډبرې په سوري کې کښېنوم او په خپل لاس به دې پټ کړم، تر هغه چې له دې ځايه تېر شم، بيا به خپل لاس لرې کړم چې شا مې وګورې!!

سل حيف او افسوس د هغه چا په عقل چې داسې مسخره، متناقضې او يوه د بلې ضد خبرې مني!!! خدای ئې خوا ته ولاړ دئ، خدای ئې مخې ته تېرېږي، خدای لاس پرې ايښی، د خدای شا ګوري او که ئې وګوري نو مري، خو نه مړ شو او نه ئې د هغه له خولې د هغه نوم واورېدو او قصه تمامه شوه!!

خو خبره دا ده چې تر کله دا دنيا وي، ساده لوح او سفيه انسانان به هم وي او د ټګمارو په دام کې به د دوی پرېوتل هم!! که سامري له سخوندر معبود جوړولی شي او هندو له غوا، که د يهودو ملايان د يوه واکمن په دربار کې مريم په زنا متهموي او زوی ئې ساحر ګڼي، خو د بل واکمن په دربار کې ئې دا د خدای مور ګڼي او زوی ئې د خدای زوی، که شيعه له پنځه کلن غائب ماشوم امام زمان جوړوي او خدای د ده قاصد ګڼي...

تعجب مه کوئ، دا کارونه مخکې شوي او بیا به هم کېږي، تل به سامري راپیدا کېږي او بې عقلان به ئې په لومو کې ښکار کېږي.

وَلَمَّا سُقِطَ فِيٓ أَيۡدِيهِمۡ وَرَأَوۡاْ أَنَّهُمۡ قَدۡ ضَلُّواْ قَالُواْ لَئِن لَّمۡ يَرۡحَمۡنَا رَبُّنَا وَيَغۡفِرۡ لَنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴿١٤٩﴾

۱٤۹- او کله چې د دوی مخې ته نسکور کړی شو او پوه شول چې یقیناً بې لارې شوي نو وئې ویل: که زموږ رب راباندې رحم ونه کړي او بخښنه راته ونه کړي حتماً به له زیانمنو شو.

(۱٤۹)- د دې آیت په ژباړې کې د مفسرینو څو رأیې ګورو:

- ډېری مفسرین (سُقِطَ فِيٓ أَيۡدِيهِمۡ) د پښیمانه کېدو په معنی اخلي.
- تفهیم القرآن لیکي: کله چې د دوی د غولېدا طلسم مات شو.

خو له الفاظو دا معنی د انسان ذهن ته راځي: کله چې دا بُت د دوی په مخکې رانسکور کړی شو او پوه شول چې یقیناً بې لارې شوي وو؛ نو وئې ویل: که زموږ رب راباندې رحم ونه کړي او بخښنه راته ونه کړي حتماً به له زیانمنو شو. او دا همغه مطلب دئ چې د دې مجسمې د نسکورېدا او سوزېدا په اړه د طٰهٰ په سورې کې راغلی.

وَلَمَّا رَجَعَ مُوسَىٰٓ إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ غَضۡبَٰنَ أَسِفٗا قَالَ بِئۡسَمَا خَلَفۡتُمُونِي مِنۢ بَعۡدِيٓۖ أَعَجِلۡتُمۡ أَمۡرَ رَبِّكُمۡۖ وَأَلۡقَى ٱلۡأَلۡوَاحَ وَأَخَذَ بِرَأۡسِ أَخِيهِ يَجُرُّهُۥٓ إِلَيۡهِۚ قَالَ ٱبۡنَ أُمَّ إِنَّ ٱلۡقَوۡمَ ٱسۡتَضۡعَفُونِي وَكَادُواْ يَقۡتُلُونَنِي فَلَا تُشۡمِتۡ بِيَ ٱلۡأَعۡدَآءَ وَلَا تَجۡعَلۡنِي مَعَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٥٠﴾ قَالَ رَبِّ ٱغۡفِرۡ لِي وَلِأَخِي وَأَدۡخِلۡنَا فِي رَحۡمَتِكَۖ وَأَنتَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿١٥١﴾

۱۵۰- او کله چې موسی خپل قوم ته غصه ناك او اسفناك وګرځېدو وئې ویل: له ما وروسته مو زما ډېر بد نیابت کړی، آیا د خپل رب په کار کې مو دومره تلوار وکړ؟ الواح ئې لرې وغورځولې او خپل ورور ئې تر سر ونیو او د ځان په لورې ئې راښکود، (ورور ئې) وویل: زما د مور بچیه! قوم کمزوری وګڼلم، نژدې وو ومې وژني، نو دښمنان مه راباندې ښادوه او د ظالم قوم له ډلې مې مه ګرځوه! ۱۵۱- وئې ویل: زما ربه! ما ته بخښنه وکړې او زما ورور ته هم او په خپل رحمت کې مو داخل کړې او ته

خو يقيناً چې تر ټولو رحم کوونکو زيات رحم کوونکی يې.

(۱۵۰-۱۵۱)- دا آيت موږ ته وايي:

- موسی عليه السلام خپل قوم ته غصه ناك او اسفناك راوگرځېد، له يوې خوا سخت غصه وو او له بلې خوا ئې د دې ناپوه قوم په حالت تأسف کولو چې څنگه دومره ژر دوکه شول او د شرك په گنده ډنډ کې پرېوتل.
- ورور ته ئې وويل: زما بد نيابت دې کړی.
- له ډېرې غصې ئې الواح پر زمکه وغورځولې.
- خپل ورور ئې له ږېرې او د سر له وېښتانو ونيولو او په زور ئې ځان ته راښکود.
- هارون عليه السلام د يوه مطيع او صالح ورور په توگه ورته وويل: ما خپله دنده تر سره کړې، دوی مې له دې کاره منع کړي، خو راباندې برلاسي شول، نژدې وو ما ووژني، له ما سره دا انديښنه وه چې ته به مې پر دې ملامتوې چې ولې دې په قوم کې اختلاف راولاړ کړ او زما تر راتلو دې انتظار ونه کړ، خو د انتظار خلاف گورم چې ته مې رټې، دښمنان مه راباندې ښادوه، مه مې د ظالمانو له ډلې شمېره او مه مې داسې کار ته اړ کوه چې ظالمان ئې کوي!
- د هارون عليه السلام د خبرو له اورېدو وروسته حقيقت ورته جوت شوی، له تحقيق او پوښتنې گروېږنې مخکې د هارون عليه السلام په اړه دا کار ئې خپله غلطي او اشتباه گڼلې، د ځان او خپل ورور لپاره ئې د مغفرت او رحمت دعاء کړې.
- په دې قصې کې د موسی عليه السلام لوړ همت، جلال او ديني غيرت انځور شوی، دا ئې نښو زغملی چې د ده قوم د شرك په ډنډ کې پرېوځي، گمان ئې کړی چې هارون عليه السلام تساهل او نرمي کړې، نو ځکه ئې له ږېرې او د سر له وېښتانو ونيولو او په زور ئې ځان ته راښکود. هيبت ئې هومره چې نه ئې سامري مخې ته ودرېدی شو او نه د هغه مشرك پلويان.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ ٱلۡعِجۡلَ سَيَنَالُهُمۡ غَضَبٞ مِّن رَّبِّهِمۡ وَذِلَّةٞ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُفۡتَرِينَ ﴿١٥٢﴾ وَٱلَّذِينَ عَمِلُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ثُمَّ تَابُواْ مِنۢ بَعۡدِهَا وَءَامَنُوٓاْ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعۡدِهَا لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿١٥٣﴾

۱۵۲- يقيناً هغو چې سخوندر ئې (د معبود په توگه) ونيولو، د خپل رب په غضب به اخته او په دنيوي ژوند کې به ئې ذلت په برخه شي، افتراء کوونکو ته همداسې سزا

ورکوو. ١٥٣- او هغو چې بد کارونه ئې کړي، بیا ئې له دې وروسته توبه کړې او ایمان ئې راوړی، بې شکه چې ستا رب له دې وروسته مهربان بخښونکی دئ.

(١٥٢-١٥٣)- دلته د مرتد شوو سزا بیان شوې:

- د الله تعالی غضب، د بقرې په سورې کې د دې غضب وضاحت شوی، د دوی په ضد د جهاد اعلان شوی او وژل شوي. دا د موسی علیه السلام په دین کې هم د مرتد سزا وه او په اسلام کې هم.
- دنیوي ذلت، که له وژلو وژغورل شي او په تېښته بریالی شي، نو تل به په ذلت او سپکاوي کې ژوند کوي.
- خو څوك چې له هغه بد کار چې د ارتداد مترادف وي، توبه وکړي، بېرته ایمان راوړي، نو هیله ده الله تعالی ورته بخښنه وکړي، ځکه چې هغه مهربان بخښونکی دئ.

وَلَمَّا سَكَتَ عَن مُّوسَى ٱلْغَضَبُ أَخَذَ ٱلْأَلْوَاحَ وَفِى نُسْخَتِهَا هُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِينَ هُمْ لِرَبِّهِمْ يَرْهَبُونَ ﴿١٥٤﴾

١٥٤- او کله چې د موسی غصه سړه شوه، هغه تختې ئې وراخیستې چې په لیکني کې ئې د هغو لپاره لارښووني او پېرزویني وې چې وېره ئې د خپل رب لپاره وي.

(١٥٤)- د دې آیت په اړه هم د مفسرینو تر منځ بېل آراء مومو، ځینو د بایبل وینا ته اعتبار ورکړی او ویلي ئې دي چې لوحې ماتې شوې او کله چې د موسی علیه السلام غصه سړه شوه، نو د تختو ټوټې ئې راغونډې کړې او د هدایت او رحمت لیکني ئې په کې وموندلې، په داسي حال کې چې د دې آیت له الفاظو نه یوازې د بایبل د ادعاء تردید معلومېږي بلکي ښیي چې د تختو لیکنه ئې هم روغه پاته وه؛ د بایبل ادعاء دا ده: او هغه دوه ډبریني لوحې ئې په لاس کې وې چې په دواړو خواوو ئې (خدای په خپل لاس) لس احکام لیکلي وو... کله چې پنډغالي ته رانژدې شو؛ شور او ځوړ ئې ترغوږ شو... سترګي ئې پر طلایي سخوندر ولګېدې چې خلك ئې مخي ته په نڅا او خندا بوخت دي... داسي غصه شو چې لوحې ئې تر غره لاندي وغورځولې او ټوټې ټوټې شوې... د بایبل د ادعاء له مخي موسی علیه السلام د دغو ماتو شوو لوحو په بدل کې دوه نوري لوحې تر لاسه کړې، د قرآن له دې وینا صفا معلومېږي چې د بایبل د ادعاء تردید کوي.

د (لِرَبِّهِمْ يَرْهَبُونَ) په اړه هم ګڼ شمېر توجیهات وړاندي شوي، چا لام زائد ګڼلی او چا په یوې او بلې معنی اخیستی، تر ټولو غوره ئې دا ده: د دوی وېرېدا د خپل رب لپاره وي، یعنی که له ګناه ځان لري ساتي او له پایلو ئې وېرېږي، دا کار د خپل رب لپاره کوي.

وَٱخۡتَارَ مُوسَىٰ قَوۡمَهُۥ سَبۡعِينَ رَجُلٗا لِّمِيقَٰتِنَاۖ فَلَمَّآ أَخَذَتۡهُمُ ٱلرَّجۡفَةُ قَالَ رَبِّ لَوۡ شِئۡتَ أَهۡلَكۡتَهُم مِّن قَبۡلُ وَإِيَّٰيَۖ أَتُهۡلِكُنَا بِمَا فَعَلَ ٱلسُّفَهَآءُ مِنَّآۖ إِنۡ هِيَ إِلَّا فِتۡنَتُكَ تُضِلُّ بِهَا مَن تَشَآءُ وَتَهۡدِي مَن تَشَآءُۖ أَنتَ وَلِيُّنَا فَٱغۡفِرۡ لَنَا وَٱرۡحَمۡنَاۖ وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلۡغَٰفِرِينَ ﴿١٥٥﴾

۱۵۵- او موسی د خپل قوم اویا کسان زما د مقرر وخت (ملاقات) لپاره غوره کړل، خو کله چې زلزلې ونیول، وئې ویل: اې زما ربه! کاش که غوښتلی دې وی چې دوی او زه دې تر دې د مخه هلاك کړي وی، آیا د هغه څه په وجه مو هلاکوې چې زموږ کمعقلو کړي؟ دا خو یوازې ستا یوه آزموینه ده، څوك چې غواړې پرې بې لارې کوې ئې او چا ته چې دې خوښه وې هدایت کوې ئې، ته مو مولا یې، نو موږ ته بخښنه وکړه او پر موږ رحم وکړه او ته تر ټولو غوره بخښونکی یې.

---

(۱۵۵)- که دلته د آیتونو ترتیب په پام کې ولرو، چې لومړی د سامري د دوکې او بیا قوم ته د موسی علیه السلام د راستنېدو او بیا د میقات لپاره د اویاوو کسانو د غوره کولو یادونه شوې او د بقرې د سورې په ۵۵ او ۵٦ آیتونو کې لولو چې:

وَإِذۡ قُلۡتُمۡ يَٰمُوسَىٰ لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ نَرَى ٱللَّهَ جَهۡرَةٗ فَأَخَذَتۡكُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ وَأَنتُمۡ تَنظُرُونَ ﴿٥٥﴾ ثُمَّ بَعَثۡنَٰكُم مِّنۢ بَعۡدِ مَوۡتِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴿٥٦﴾

او کله چې تاسو وویل: اې موسی! هیڅکله به درته ایمان رانه وړو چې الله څرګند ونه ګورو، نو په داسې حال کې تندر ونیولئ چې (ورته) کتل مو. بیا مو له مرګ وروسته بېرته راژوندي کړئ چې شکر وکړئ.

له دې معلومېږي چې موسی علیه السلام له بني اسرائیلو د مشرك شوو په ضد د جهاد غوښتنه کړې، خو بني اسرائیل جهاد ته تیار نه وو، موسی علیه السلام ته ئې ځواب ورکړ چې ستا دا خبره یوازې په هغه صورت کې منلی شو چې الله مخامخ وګورو او دا راته ثابته شي چې په رښتیا د جهاد دا حکم د ده له لوري دئ، موسی علیه السلام د الله تعالی په وینا د دوی اویا کسیز پلاوی له ځان سره روان کړ، هلته زلزلې او تندر نیولي، خو الله تعالی د خپلو پېرزوینو له مخې بېرته راژوندي کړل. که څه هم ځینو مفسرینو دا دوه بېلې بېلې پېښې ګڼلې دي.

---

وَٱكۡتُبۡ لَنَا فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗ وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِنَّا هُدۡنَآ إِلَيۡكَۚ قَالَ عَذَابِيٓ

أُصِيبُ بِهِۦ مَنْ أَشَآءُ ۖ وَرَحْمَتِى وَسِعَتْ كُلَّ شَىْءٍ ۚ فَسَأَكْتُبُهَا لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ
وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلَّذِينَ هُم بِـَٔايَـٰتِنَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٥٦﴾ ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلرَّسُولَ ٱلنَّبِىَّ
ٱلْأُمِّىَّ ٱلَّذِى يَجِدُونَهُۥ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِى ٱلتَّوْرَىٰةِ وَٱلْإِنجِيلِ يَأْمُرُهُم
بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَىٰهُمْ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ ٱلطَّيِّبَـٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ
ٱلْخَبَـٰٓئِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَٱلْأَغْلَـٰلَ ٱلَّتِى كَانَتْ عَلَيْهِمْ ۚ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟
بِهِۦ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَٱتَّبَعُوا۟ ٱلنُّورَ ٱلَّذِىٓ أُنزِلَ مَعَهُۥٓ ۙ أُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ
﴿١٥٧﴾

١٥٦- او موږ ته په دې دنيا کې هم او په آخرت کې هم ښېګڼه وليکه (مقرره کړه)، يقيناً چې ستا لوري ته مو رجوع کړې ده، وئې فرمايل: خپل عذاب به د هغه چا په برخه کوم چې زه ئې غواړم او رحمت مې هر څه ته شامل دئ، نو حتماً به ئې د هغو لپاره وليکم چې تقوى کوي، زکات ورکوي او زما پر آيتونو ايمان راوړي. ١٥٧- هغه چې د امي رسول او پيغمبر متابعت کوي، هغه چې دوى ئې نوم په تورات او انجيل کې له ځان سره ليکلى مومي، هغه چې دوى په نېکۍ ګماري او له بدۍ ئې منع کوي او پاك شيان ورته حلال او ناولي ورته حرام ګرځوي او بارونه ئې د دوى له اوږو راکوزوي او هغه زنځيرونه (شلوي) چې د دوى په لاسونو او پښو کې لوېدلي وو، نو چا چې پر هغه ايمان راوړ، د ده مرسته ئې وکړه او په هغې رڼا پسې ولاړل چې پر ده نازله شوې، همدا کسان برلاسي او برياليي دي.

---

(١٥٦-١٥٧)- په دې مبارکو آيتونو کې څو لارښووني مومو:

- موسى عليه السلام د مخکينيو دعاګانو په لړ کې او د خپل قوم په استازيتوب دعاء کوي چې موږ ته په دې دنيا کې هم او په آخرت کې هم ښېګڼه راپه برخه کړه، ستا لوري ته مو رجوع کړې ده او له خپلو غلطيو توبه کوو.

- الله تعالى د موسى عليه السلام د دعاء په ځواب کې فرمايي: خپل عذاب به د هغه چا په برخه کوم چې زه ئې غواړم او رحمت مې پراخ او هر څه ته شامل دئ، هغه خلك به حتماً له خپلو پېرزوينو او رحمت برخمن کوم چې تقوى کوي، زکات ورکوي او زما پر آيتونو ايمان راوړي او د هغه امى پيغمبر متابعت کوي چې ځانګړتياوې ئې دا دي: دوى ئې نوم په تورات او انجيل کې له ځان سره ليکلى مومي، خلك په نېکۍ ګماري او له بدۍ ئې

منع کوي او پاك شيان ورته حلال او ناولي ورته حرام گرځوي او بارونه يې ترې کوزوي او هغه زنځيرونه شلوي چې د دوی په لاسونو او پښو کې لويدلي.

- چا چې پر دې پيغمبر ايمان راوړ، د ده ملگرتيا ئې وکړه، د ده مرسته ئې وکړه او په هغي رڼا پسې ولاړل چې په ده باندې نازله شوې، همدا کسان برلاسي او بريالي دي.

گورئ چې پيغمبر د خلکو بارونه سپکوي، زنځيرونه شلوي، انسانان آزادوي، ټول پاك شيان چې پخوا د دوی ټگمارو مذهبي مشرانو يوه برخه ورته حرام کړي وو حلال گرځوي او ټول ناولي شيان حرام شمېري، خلکو ته داسې نور او ځراغ ورکوي چې له تيارو او خرافاتو ورباندې ووځي او د حقيقت روښانه دنيا ته لاړ شي. د قرآن له دې وينا په ډېر صراحت سره معلومېږي چې د مخکينيو امتونو مذهبي مشرانو په دين کې زيادت کړی، له خپل لوري ئې مذهبي مراسم راايستلي، ډېر حلال شيان ئې پر خلکو حرام کړي، د خلکو آزادي ئې محدوده کړې، نوې قيود ئې وضع کړي او دا ئې د الله تعالی د دين برخه معرفي کړې، د بايبل ډېرې خبرې د قرآن د دغې وينا مصداق دئ.

دا آيت موږ ته د دې لارښوونه کوي چې پر پيغمبر د ايمان څو غوښتني دي: د ده ملگرتيا، د ده مرسته، د ده متابعت او هغه مشعل او رڼا لارښود نيول چې ده راوړی، يوازې دغه کسان به برلاسي او بريا به ئې په برخه وي.

خو دا چې په تورات او انجيل کې د رسول الله صلی الله عليه و سلم نوم ذکر شوی که نه؟ او آيا دا نوم په بايبل کې چې د تورات او انجيل مجموعه ئې گڼې شته که نه؟ په دې اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

- د دې آيت له الفاظو په صراحت سره دا نه معلومېږي چې په تورات او انجيل کې د محمد صلی الله عليه و سلم نوم ذکر شوی، البته د الصف د سورې په پنځم آيت کې داسې راغلي: وَإِذْ قَالَ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ يَٰبَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ إِنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُم مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ وَمُبَشِّرًۢا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِنۢ بَعْدِي ٱسْمُهُۥٓ أَحْمَدُ: او کله چې عيسی د مريمې زوی وويل: اې بني اسرائيلو! يقيناً چې زه تاسو ته د الله رسول يم، د هغه تورات تصديقوونکی چې تر ما مخکې وو او د داسې يوه پيغمبر زېری ورکوونکی چې تر ما به وروسته وي او نوم ئې احمد دئ. په احاديثو کې راغلي چې دا هم د پيغمبر عليه السلام نوم وو، احمد هم ډېر ستايونکي ته ويل کېږي او هم ډېر ستايل شوي ته. د عربو تاريخ په دې شهادت ورکوي چې د محمد نوم تر پيغمبر عليه السلام مخکې په هيچا نه دئ اېښودل شوی.

- تورات او انجيل په عبري او سرياني ژبو وو، نه په عربي ژبه چې د (احمد) يا (محمد) صلی الله عليه و سلم دا عربي الفاظ په کې راغلي وی.

- يهودان تر نن پورې د يوه ناجي پيغمبر راتلو ته منتظر دي.

که تاسو بايبل ته په دقت سره ځير شئ نو دا حقيقت به درته جوت شي چې د مسيح

منتظر په اړه د بحث لړۍ د اشعیا له کتابه پیل شوې، د بایبل په مخکینیو کتابونو کې په دې اړه هیڅ نه دي ویل شوي، په یهودانو کې د (انتظار) عقیده هغه وخت راپیدا شوه چې دوی د ذلت او اسارت په ډېر دردناك حالت کې ژوند کاوو، هېواد ئې د پلازمېنې په شمول د دښمنانو په لاس کې پرېوتی وو، دوی له خپل کور کلي شړل شوي وو، ځیني ئې په اسارت ونیول شول او ځیني ئې تبعید شول، د غلامۍ او خوارۍ په دې بد حالت کې او د دې حالت د فطري غوښتنې په توګه، په دوی کې یوه ناجي او ژغورونکي ته د (انتظار) عقیده راولاړه شوه، په ظلم ځپلو او جهل وهلو قومونو کې د داسي یوې عقېدې راپیدا کېدل او یوه داسي چا ته انتظار کول چې راشي، د یوې ګوتې په خوځولو سره او د سترګو په رپ کې، د دوی حالت بدل کړي، له ذلت او سپکاوي ئې وژغوري او د عزت لوړو څوکو ته ئې ورسوي، یوه فطري طمع او انتظار دئ، په ډېرو قومونو کې د انتظار عقیده د دې پر ځای چې مذهبي بنسټ ولري، ذهني بنسټ لري، د دې پر ځای چې بې وزلو قومونو دا عقیده له خپلو مذهبي کتابونو اخیستې وي، برعکس همدا د مظلومیت او بې وزلۍ حالت د هغو کتابونو د رامنځ ته کېدو سبب شوی چې د (انتظار) عقیده ئې وړاندي کړې!! هیڅ الهي کتاب چا ته نه وایي چې د یوه ناجي راتلو ته انتظار وکړه، برعکس ورته وایي: ستا نجات په دې کې دئ چې په الله ایمان راوړې، له الله پرته بل ته سر ټیټ نه کړې، له الله پرته نه له بله طمع ولرې او نه وېره، ظلم ته تسلیم نه شې، د ظالمانو په ضد جهاد ته ملا وتړې او د مظلومانو ملګرتیا وکړې. قرآن پیغمبران علیهم السلام داسي معرفي کوي چې هر یوه ئې له ځانه د مخکیني پیغمبر تصدیق کړی او تر ځانه د وروستني تائید، خو دا تائید هیڅکله د انتظار په معنی نه ده، قرآن په خپل دې بیان سره د پیغمبرانو علیهم السلام یوه مهمه ځانګړتیا او له نورو مشرانو د دوی یو اساسي توپیر په ګوته کوي، نور زعماء او مشران داسي وي چې مخکیني محکوموي او په خپل څنګ کې د بل قیادت او زعامت د راولاړېدا ټول امکانات له منځه وړي، د چا په اړه چې ګمان وکړي د دوی ځای به ونیسي او د دوی قیادت به له ګواښ سره مخامخ کړي، د هغوی د ختمولو او وژلو لپاره له هیڅ جنایت دریغ نه کوي، هغوی هر د استعداد خاوند ځان ته رقیب او حریف ګڼي او د ختمولو هڅه ئې کوي، خو پیغمبرانو او د دوی له لاري د دوی امتونو ته ویل شوي چې تاسو به د هر هغه چا ملا تړ کوئ چې له تاسو وروسته راځي او په هغه لار درومي چې تاسو پرې روان یئ، قرآن په دې اړه فرمایي:

وَإِذْ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ لَمَآ ءَاتَيْتُكُم مِّن كِتَٰبٍ وَحِكْمَةٍ ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُولٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهِۦ وَلَتَنصُرُنَّهُۥ ۚ قَالَ ءَأَقْرَرْتُمْ وَأَخَذْتُمْ عَلَىٰ ذَٰلِكُمْ إِصْرِى ۖ قَالُوٓا۟ أَقْرَرْنَا ۚ قَالَ فَٱشْهَدُوا۟ وَأَنَا۠ مَعَكُم مِّنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٨١﴾ آل عمران:۸۱

او کله چې الله د پیغمبرانو ژمنه واخیسته چې دا دئ تاسو ته مې کتاب او حکمت درکړ،

نو که بیا تاسو ته داسي کوم پیغمبر راغی چي تاسو ته د درکړی شوي کتاب تصدیقوونکی وي نو حتماً به ایمان پرې راوړئ او مرسته به ئې کوئ، وئې فرمایل: آیا په دې اقرار کوئ او پر دې باندي زما دا پېټی (پر اوږو) اخلئ؟ وئې ویل: اقرار کوو، وئې فرمایل: نو شاهد اوسئ چي زه هم له شاهدانو یم.

گورئ چي الله تعالی له پیغمبرانو دا ژمنه اخیستې ده چي یو به د بل ملاتړ او مرسته کوي، په دې ژمني کې د دوی امتیان هم شامل دي، دوی به هم د خپلو پیغمبرانو پر پله گام ږدي او د هر مؤمن او د کتاب تصدیقوونکي ملگرتیا او ملاتړ به کوي. څوك چي دا کار ونه کړي په حقیقت کې ئې له الله سره کړې ژمنه ماته کړې او د پیغمبرانو له لاري منحرف شوی. دا د انتظار د عقیدې درس نه ورکوي، بلکې د عدم تعصب درس ورکوي، د هر حق پال د ملاتړ او تائید درس ورکوي!! په تورات او انجیل کې حتماً دې ته ورته خبره شوې خو یهودانو او مسیحیانو له دې یوه ناجي ته د انتظار عقیده راایستلې!!

په مسلمانانو کې هم یوه فرقه راپیدا شوه او له مسیحیانو او یهودانو ئې د انتظار عقیده کاپي کړه او له یوه ورك شوي ماشوم ئې (منتظَر امام) جوړ کړ، داسي چي نن په خپلو دعاء گانو کې وایي: عجل الله فرجه الشریف: الله دې د ده راخلاصېدل رانژدې کړي!! یعني دا چي دا منتظر امام چېري په زولنو تړل شوی، خدای ته سؤال کوي چي راخوشي ئې کړي او راشي د دوی آرمانونه تر سره کړي!!

د اشعیا د کتاب دې خبرو ته ځیر شئ:

(... اې اسرائیلیانو! آیا په کافي اندازه مجازات نه شوئ؟ له سر تر پښو ټپي ټپي یې، روغ ځای دي په بدن کې نه دئ پاته، زخمونه دي ناسور شوي، هېواد مو وران شوی، ښارونه مو سوزېدلي، پردي هر څه ستاسو په مخ کې غارت کوي، اورشلیم داسي دئ لکه په پټیو کې ویجاړه خونه،... بې دفاع او یوازې پاته دئ، که قادر خدای زموږ چیغي نه وی اورېدلې نو زموږ دا لږ پاته شمېر به هم نه وو پاته...) دا الفاظ په ډېر وضاحت سره ښیي چي د انتظار عقیده په دغسي حالت کې زېږېدلې!! د همدې لپاره ده چي د اشعیا کتاب په دې پسې لیکي: (... په راتلونکو ورځو کې به خلك هغه غره ته ځي چي د خدای کور پرې جوړ شوی او وایي به: راشئ د خدای هغه غره ته ولاړ شو چي د اسرائیلیانو د خدای کور پرې جوړ شوی، د خدای اوامر واورو او اطاعت ئې وکړو، خدای به د قومونو تر منځ جگړې پای ته ورسوي، دوی به له خپلو تورو یوې او له خپلو نېزو ارې جوړې کړي... )

یهودانو له خپلو ملایانو دې ته ورته خبري اورېدلې او دا ئې د یوه ناجي د راتلو په اړه وړاندوینې گڼلې، خو کله چي عیسی علیه السلام مبعوث شو نو تر هر چا زیات دوی د هغه مخالفت ته ملا وتړله او د دې مخالفت اساسي وجوهات دا وو: ۱- د (موعود مسیح) په اړه چي دوی له خپلو ټگمارو مذهبي مشرانو څه اورېدلي وو، په ده کې ئې هغه ونه موندل، دوی ته ویل شوي وو چي ناجي مسیح به د یوې گوتې په خوځولو سره غرونه له ځایه خوځوي، د فرشتو لښکري به ورسره وي، د اسرائیلیانو ټول آرمانونه به تر سره

کړي، د دوی ټول دښمنان به مجازات کړي، د ټولې نړۍ پاچايي به دوی ته وسپاري.. خو د عيسی عليه السلام له راتلو وروسته دا هيلې تر سره نه شوې، دی ئې د هغه موعود مسيح په ځېر ونه موندو چې مذهبي مشرانو ئې د راتلو زېری ورکاوو!! په ده کې ئې هغه نښې ونه موندلې چې مذهبي مشرانو په درواغو پيغمبرانو ته منسوبولې. ۲- دوی گمان کاوو چې موعود مسيح به د دوی د اوسنيو مذهبي مشرانو په ځېر وي، خو عيسی عليه السلام ئې داسي ومونده چې تر هر چا د مخه د اسرائيليانو په مذهبي مشرانو سخت گوزارونه کوي، دوی ټگمار او مذهب ئې غلط او محرف گڼي، د ده هره وينا د هغوی د ويناوو خلاف، د ده هر عمل د دوی د کړنو خلاف، د ټگمارو مذهبي مشرانو ډېر حلال ئې حرام او ډېر حرام ئې حلال کړل، د ده د دعوت په هينداري کې دغو مذهبي مشرانو ته خپله ځېره ډېره کرکجنه معلومېده، په دې پوهېدل چې که خلك د عيسی عليه السلام دعوت قبول کړي نو د دوی دکانونه تړل کېږي، نور نو نه شي کولی د دين په نامه خلك وغولوي او د خدای په نامه خلك وشکوي او شکرانې تر لاسه کړي...

د قرآن له ويناوو معلومېږي چې له ټولو پيغمبرانو عليهم السلام سره همدا معامله شوې، چا چې تر ټولو زيات د دوی مخالفت ته ملا تړلې هغه دين پلورونکي ټگمار مذهبي مشران وو چې تر ټولو مخکې ئې بايد په هغوی ايمان راوړی وی، خو دوی له دين دکان جوړ کړی وو او له مذهب دام!! پيغمبرانو حقيقي دين ته بللي، له الله تعالی وېرې ته، حق او عدالت ته، له حرامو ځان ساتلو ته، صداقت او رښتيا ته او دا هغه څه وو چې دوی ئې منلو ته تيار نه وو، دوی د هر نوي پيغمبر مقابله په دې سره کوله چې خلکو ته به ئې ويل: په ده کې هغه ځانگړتياوې نشته چې په مخکينيو پيغمبرانو کې وې، عوامو له دوی د مخکينيو پيغمبرانو په اړه هغه څه اورېدلي وو او هغه څه ئې هغوی ته منسوب کړي او په هغو الفاظو ئې ستايلي وو چې يوازې له الله تعالی سره ښايي، دوی پيغمبران د خدايۍ او الوهيت مقام ته رسولي، عوام د دوی د غلطو تبليغاتو تر اغېز لاندې له پيغمبرانو د هغه څه انتظار کاوو چې په وس کې ئې نه وو.

بايبل د اسرائيليانو دا ناجي يو پيغمبر نه بلکې يو پاچا گڼي او ليکي: په دې ورځ به د داؤد د کورنۍ دا نوی راولاړ شوی پاچا د ټولو قومونو لپاره د نجات بيرغ وي، خلك به د ده خوا ته راځي او د ده هېواد به له جلال او عظمت ډك وي او د ده په پاچايۍ کې د سولې او امنيت دا انځور وړاندي کوي: په هغه وخت کې به لېوه او وری يو ځای اوسي، پړانگ او سېرلی به يو ځای سره څملي، سخوندر به له زمري سره يو ځای درومي او يو ماشوم به ئې هري خوا ته چې زړه ئې وغواړي بيايي!! غويی به د يږ خوا ته څري، د يږ بچی به له سخوندر سره يو ځای څملي او زمری به د غوايي په ځېر واښه خوري!! تی خور ماشوم به له مارانو سره پرته له وېري او خطر لوبې کوي!!! له تي نيول شوی ماشوم به د افعي ځالې ته لاس ننباسي خو هيڅ تاوان به نه وررسېږي،...

دوی ته خپلو مذهبي مشرانو د (ناجي مسيح) په اړه داسي دروغجنې او له مبالغو

ډکې وړاندويني کولې، ځکه ئې عيسی عليه السلام د منتظر ناجي په توګه قبول نه کړ او ايمان ئې پرې رانه وړ.

بايبل هغه انجيل او تورات نه دئ چي قرآن ئې تصديق کوي!! بايبل په تورات او انجيل کې ژور او نه بخښونکې تحريف کړی، په بايبل کې د دې الهي کتابونو ډېره لږه برخه هغه هم په کچه الفاظو کې تر سترګو کېږي، قرآن راغلی چي د دې محرف کتاب ټولې دروغجني خبري بربنډې او حقائق خلکو ته څرګند کړي، په بايبل استناد او د قرآن د آيتونو په تفسير کې د هغه مطالب رانقلول لويه اشتباه ده!!

مسلمانان چي کله د انجيل نوم اوري نو داسي ګمان کوي چي دا به همغه کتاب وي چي پر عيسی عليه السلام نازل شوی، خو حقيقت دا دئ چي له هغه انجيل هيڅ څه نه دي پاته، تاسو به په ټول بايبل کې داسي څه ونه ګورئ چي وښيي دا همغه انجيل يا د هغه يوه برخه ده، دا انجيلونه په حقيقت کې د عيسی عليه السلام د سيرت کتابونه دي چي تر ده ډېر وروسته ليکل شوي، دا نه د اصلي انجيل په اړه ليکل شوي کتابونه دي او نه ئې شرح او تفسير. کله چي تاسو دا انجيلونه لولئ نو حيران به شئ چي د عيسی عليه السلام د سيرت کتاب ته ئې ولي د انجيل نوم ورکړی او ولي په دې کې د انجيل هيڅ برخه نه تر سترګو کېږي؟ ما ته د تحقيق په ترڅ کې معلومه شوه چي د عهد جديد ډېري برخي د عيسی عليه السلام له تلو څو پېړۍ وروسته ليکل شوې خو د يوه خاص غرض لپاره د ده شاګردانو ته منسوب شوي!! حقيقت دا دئ چي عيسی عليه السلام په داسي حالت کې دنيا پرېښوده چي ياران ئې يا ونيول شول، يا ووژل شول يا پټ او خواره واره شول، تر اوږدې مودې پوري د دې لپاره شرائط مساعد نه وو چي څوك ځان د عيسی عليه السلام پلوي وګڼي او د انجيل د ليکلو يا بيانولو جرأت وکړي، د بايبل د وينا له مخي موجود انجيلونه د عيسی عليه السلام له تلو نژدې يوه پېړۍ وروسته ليکل شوي. د ده له تلو وروسته د اختناق او رعب داسي فضاء رامنځته شوې چي په هغه وخت کې د ده شاګردانو نه دا جرأت کولی شو چي د ده په ملاتړ کې څه ووايي، يا ئې وليکي او يا ئې نشر کړي او نه اصلاً په داسي موقعيت کې وو چي ځان مسيحي وښيي!! خو وروسته شرائط بدل شوي، هم د روم په سياسي نظام کې بدلون راغلی او هم د فلسطين شاوخوا سيمو کې، په دې وخت کې د عيسی عليه السلام په نسبت خواخوږي راڅرګنده شوې، د دې خواخوږي ستره وجه هم سياسي وه، له مخکيني نظام د غچ اخيستو په غرض عنوان شوې، په همدې وخت کې د انجيل او د ده د سيرت په اړه د کتابونو د ليکلو لړۍ پيل شوې او شمېر ئې ورځ په ورځ زيات شوی، تر دې چي کنائس مجبور شوي دا کتابونه راغونډ کړي، وئې چڼي او يو کتاب ترې جوړ کړي. په درېيمي ميلادي پېړۍ کې کنائسو څلور انجيلونه معتبر وګڼل:

**د مَتّی انجيل:** بايبل ادعاء کوي چي دا د متی له خوا ليکل شوی انجيل دئ، متی د عيسی عليه السلام له دولسو شاګردانو وو. دا انجيل په عبري يا سرياني ليکل شوی او تر ټولو

مخکینۍ نسخه ئې په یوناني ژبي کې تر لاسه شوې، په دې اړه نه یوازې په مسیحیانو کې اختلاف شته چې دا کتاب په اصل کې چا لیکلی، بلکې د همدې انجیل له متن معلومېږي چې لیکونکی ئې متی نه دئ، ځکه په همدې کتاب کې د متی د ایمان راوړلو قصه په داسې توګه راغلې چې ښیي لیکونکی ئې بل څوك دئ، ما ته له تحقیق وروسته معلومه شوه چې ښايي لیکونکی ئې کوم یوناني وي، دا په اصل کې د مرقس انجیل بله او مشرح نسخه ده، معلومېږي چې لیکونکي ئې د مرقس په انجیل کې څه له ځانه علاوه کړي او داسې بڼه ئې ورکړې چې قصه خوښو او خرافات خوښوونکو عوامو ته لاجالب شي.

**د مَرقُس انجیل:** ویل کېږي چې لیکونکی ئې مرقس نومی دئ چې د عیسی علیه السلام له لوري د اویاوو کسانو په ډله کې غوره شوی وو او په ٦٢ میلادي کال کې ووژل شو.

**د لوقا انجیل:** لوقا یو یهودي طبیب او د پولس ملګری وو، دی د مسیح له ملګرو نه دئ.

**د یُوحنَا انجیل:** د یوحنا په اړه دا خبره مشهوره شوې چې دی د عیسی له دولسو حواریونو وو، خو په حقیقت کې دی حواري نه بلکې د اسکندریې د مدرسې یو طالب وو، دی لومړنی کس دئ چې د درې ګونو خدایانو او د مسیح د الوهیت عقیده ئې رامنځته کړه.

خو د دغو انجیلونو تر څنګ د برناپا په نامه یو بل انجیل هم شته چې برناپا لیکلی، دی د مرقس ماما وو، خو انجیل ئې له هغه سره ژور اختلاف لري، د اختلاف اصلي ټکي ئې دا دي: د ده له نظره الله همغه د عالمونو رب او خالق دئ، عیسی علیه السلام فقط یو پیغمبر ګڼي او بس، د عیسی علیه السلام په دار کېدا نه مني بلکې وايي چې د ده پر ځای بل څوك اشتباهاً په دار شو، په دې باور دئ چې اسمعیل علیه السلام د قربانۍ لپاره غوره شوی وو نه اسحاق علیه السلام، هغه پیغمبر چې عیسی علیه السلام ئې د راتلو زېری ورکوي د محمد (علیه السلام) په نامه یادوي، د دغو خبرو په سبب دا کتاب د اناجیلو له فهرست وغورځولی شو.

بایبل دوه برخې لري: (عهد قدیم) او (عهد جدید)، لومړۍ برخه ئې اوس له (۳۹) نه دېرشو کتابونو جوړه شوې؛ او دوهمه برخه ئې له اُوه ویشتو، لومړۍ برخې ته هم مسیحیان د سپېڅلې کتاب د مهمې برخې په سترګه ګوري او هم یهودان، د دوی له نظره دا د تورات او زبور او څو رسالو مجموعه ده، هیڅوك په یقین سره څه نه شي ویلی چې دا کتاب کله او د چا په لاس په دې بڼې کې ترتیب شوی، د بایبل لیکونکی هم په دې اړه یقیني خبره نه شي کولی چې دا کتابونه چا لیکلي، ده ته هم د دغو کتابونو لیکوالان معلوم نه دي، که څه هم د بایبل لیکونکي هڅه کړې چې د ځینو کتابونو لیکوالان په ګوته کړي خو په دې صیغه چې وايي: دا کتاب به احتمالاً فلان کس لیکلی وي!! تاسو به د دغو کتابونو په سرلیکونو کې ولولئ چې وايي: ښايي دا به سلیمان لیکلی وي، ښايي دا به عزرا لیکلی وي... د عهد قدیم د کتابونو او اسفارو د شمېر په اړه ټول مسیحیان او یهودان متفق نه دي، د کاتولیکیانو عهد قدیم تر پروتستانتیانو اُوه اسفاره زیات لري، دوهمه

برخه ئې يوازې مسيحيانو ته مختص ده، دې ته د انجيل او د هغه د شرحې په سترګه ګورې، خو دا انجيل يو نه بلکې د ځينو له نظره څلور او د ځينو له نظره پنځه دي او برناپا هم پرې علاوه کوي، د دغو انجيلونو تر منځ کله شديد اختلاف او کله توافق تر سترګو کېږي، له الفاظو او د الفاظو له ترکيب ئې په وضاحت سره معلومېږي چې دا د بېلابېلو ليکوالانو په لاس ليکل شوي انجيلونه دي، د انجيلونو تر څنګ به د عيسی عليه السلام حواريونو او شاګردانو ته منسوب څه رسالې وګورئ، کله چې دا رسالې او ليکونه له انجيلونو سره مقايسه کوئ نو متوجه به شئ چې نه دا د کوم انجيل شرح او تفسير دئ او نه په خپله د کوم انجيل يوه برخه، بس يو چا بل ته ليك لېږلی او د بايبل ليکونکي هغه په بايبل کې شامل کړی، په دې کې ډېر ليکونه پولس ته منسوب شوي.

هغه خلك چې بايبل ئې نه دئ لوستلی داسې ګمان کوي چې ښايي تورات او انجيل به هم قرآن ته ورته تاريخ ولري، خو خبره نه يوازې داسې نه ده بلکې کاملاً د دې عکس ده، بايبل نه د اصلي تورات او انجيل مجموعه ده او نه ئې شرح او تفسير، په بايبل کې چې کوم کتابونه راغونډ شوي حتی د شمېر په اړه ئې هم د بايبل منونکي متفق نه دي، که څه هم د دې اختلاف د ختمولو لپاره څو ځلې په بايبل کې تصرف شوی، مشهور مذهبي مشران ئې راغونډ شوي، په دې ئې توافق کړی چې ځيني کتابونه ترې حذف کړی او هغه جعلي وګڼي، خو وروسته بيا بلې ډلې بېرته پرې علاوه کړي، کله چې د بايبل يو کتاب لولئ نو په هغه کې به ډېر تناقضات په نظر درشي او چې بيا دا له نورو سره مقايسه کوئ نو هم به ئې په مطالبو کې شديد تناقض او اختلاف وګورئ او هم ئې په الفاظو او د الفاظو په ترکيب کې. په دې اوسنۍ بڼې او ترتيب کې د بايبل د چاپ او خورېدو تاريخ هم ډېر پخوانی نه دئ، که څه هم په يقين سره په دې اړه څه ويل ګران دي، د بايبل منونکي هم په دې اړه له څه ويلو عاجز دي، خو په دې باندې تر لسو پېړيو لږ موده تېرېږي، د موسی عليه السلام له زمانې بيا تر دغه وخته چې بايبل د يوه کتاب بڼه غوره کوله، په تورات او انجيل څه تېر شوي، څومره برخې ئې خوندي پاته شوې، څومره تغيير او تحريف په کې راغلی، څومره برخې ئې حذف شوې او څه څه پرې علاوه شوي، دې پوښتنو ته د تاريخ له مخې هيڅوك ځواب نه شي ويلی، خو په خپله د بايبل له مطالعې هر هوښيار او منصف لوستونکی دا قضاوت کولی شي چې بايبل د داسې ګڼ شمېر نوم ورکو ليکوالانو د ليکنو مجموعه ده چې نه د موضوعاتو په اړه په خپلو کې توافق لري او نه ئې د ليکنو اسلوب او د استدلال انداز يوه بل ته ورته، يوه غوښتې د شعر په ژبه خبرې وکړي، بل د متلونو په ژبه، بل په فلسفي استدلال سره، بل د قصو او ناولونو په بڼې کې، بل د تاريخ ليکونکي او د شجرو مرتب کونکي په توګه خپل مطلب بيان کړی.

دغو دلائلو ته په پام سره دا انتظار درلودل چې په اوسني بايبل کې به د پيغمبر عليه السلام د بعثت په اړه څه ومومو بې ځايه انتظار دئ.

مرحوم مولينا مودودي په خپل مشهور تفسير تفهيم القرآن کې د الصف د سورې د

نوموړي آيت په تفسير کې د بايبل د يوې يوناني نسخې په داسي لفظ استناد کوي چې معنی ئې دقيقاً ستايل شوی يعنی (محمد) ده، دا لفظ د هغه راتلونکي پيغمبر لپاره کارول شوی چې عيسی عليه السلام ئې د راتلو زېری ورکاوو.

قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيۡكُمۡ جَمِيعًا ٱلَّذِي لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِ ٱلنَّبِيِّ ٱلۡأُمِّيِّ ٱلَّذِي يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَكَلِمَٰتِهِۦ وَٱتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ﴿١٥٨﴾

١٥٨- ووايه: اې خلکو! زه تاسو ټولو ته د هغه الله رسول يم چې د آسمانونو او زمکې واکمني د ده ده، له ده پرته چې ژوند ورکوي او وژني، بل معبود نشته، نو پر الله او په هغه نبي (باخبره) امي پيغمبر ئې ايمان راوړئ چې پر الله او کلام ئې ايمان لري؛ او متابعت ئې وکړئ چې هدايت شئ.

(١٥٨)- دلته رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي چې خلکو ته څو خبري اعلان کړي:

- زه د ټولو لپاره د هغه الله رسول يم چې د آسمانونو او زمکې واکمني د ده ده، له ده پرته بل معبود نشته، د ژوند او مرگ پرېکړه د ده له لوري کېږي.
- پر الله او په هغه امي پيغمبر ئې ايمان راوړئ چې پر الله تعالی او د ده په ټولو کتابونو ايمان لري.
- د هدايت يوازينۍ لار د دغه پيغمبر متابعت ده.

وَمِن قَوۡمِ مُوسَىٰٓ أُمَّةٞ يَهۡدُونَ بِٱلۡحَقِّ وَبِهِۦ يَعۡدِلُونَ ﴿١٥٩﴾ وَقَطَّعۡنَٰهُمُ ٱثۡنَتَيۡ عَشۡرَةَ أَسۡبَاطًا أُمَمٗاۚ وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ إِذِ ٱسۡتَسۡقَىٰهُ قَوۡمُهُۥٓ أَنِ ٱضۡرِب بِّعَصَاكَ ٱلۡحَجَرَۖ فَٱنۢبَجَسَتۡ مِنۡهُ ٱثۡنَتَا عَشۡرَةَ عَيۡنٗاۖ قَدۡ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٖ مَّشۡرَبَهُمۡۚ وَظَلَّلۡنَا عَلَيۡهِمُ ٱلۡغَمَٰمَ وَأَنزَلۡنَا عَلَيۡهِمُ ٱلۡمَنَّ وَٱلسَّلۡوَىٰۖ كُلُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقۡنَٰكُمۡۚ وَمَا ظَلَمُونَا وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ﴿١٦٠﴾

١٥٩- او د موسی د قوم يوه ډله په حقه (د خلکو) لارښوونه کوي او په همدې سره عدالت قائموي. ١٦٠- او دوی مو په دولسو قومي ټوليو ووېشل او موسی ته مو هغه

مهال وحي وکړه چي قوم ئې اوبه ترې وغوښتې، چي دا ډبره په خپلي عصا ووهه، نو دولس چینې ترې راوخوټېدې، داسي چي هري قبیلې خپل اوبه خور وپېژندو او پر دوی مو ورېځي سیوری کړ او من او سلوىٰ مو پرې نازل کړل، (ورته ومو ویل) د هغه رزق پاکیزه پاکیزه وخورئ چي موږ درروزي کړي او پر موږ ئې ظلم نه دئ کړی بلکي پر خپل ځان ئې ظلم کولو.

---

(۱۵۹-۱۶۰)- په دې مبارکو آیتونو کي د موسی علیه السلام د قوم په اړه څو خبري شوې:

- یوه ډله ئې حقپاله وه، خلك ئې د حق په لوري بلل او په همدې سره ئې په ټولني کي عدالت قائمولو.
- دوی په دولسو قومي ټولیو وېشل شوي وو یعنی یو قوم وو چي دولس قبیلې ئې وې.
- کله چي د سینا په ستري بیدیا کي له سختي تندي سره مخ شول او له موسی علیه السلام ئې د اوبو غوښتنه وکړه، الله تعالی موسی علیه السلام ته وحي وکړه چي دا ډبره په خپلي عصا ووهه، نو دولس چینې ترې راوخوټېدې، داسي چي هري قبیلې خپل اوبه خور وپېژندو.
- کله چي د صحراء سختي تودوخي تنگ کړل نو الله تعالی د ورېځو سیوری پرې جوړ کړ.
- کله چي د دوی ټول خوراکي توکي ختم شول نو الله تعالی من او سلوىٰ پرې نازل کړل او ورته وئې ویل: د هغه رزق پاکیزه پاکیزه وخورئ چي موږ درروزي کړي.
- دوی د الله تعالی د دغو پېرزوینو پاس ونه ساتو، د عصیان او بغاوت لاره ئې غوره کړه او په دې سره ئې پر خپل ځان ظلم وکړ او له سپکاوي، ذلت او فقر سره مخ شول.

---

وَإِذۡ قِيلَ لَهُمُ ٱسۡكُنُواْ هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةَ وَكُلُواْ مِنۡهَا حَيۡثُ شِئۡتُمۡ وَقُولُواْ حِطَّةٞ
وَٱدۡخُلُواْ ٱلۡبَابَ سُجَّدٗا نَّغۡفِرۡ لَكُمۡ خَطِيٓـَٰٔتِكُمۡۚ سَنَزِيدُ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٦١
فَبَدَّلَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنۡهُمۡ قَوۡلًا غَيۡرَ ٱلَّذِي قِيلَ لَهُمۡ فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِجۡزٗا مِّنَ
ٱلسَّمَآءِ بِمَا كَانُواْ يَظۡلِمُونَ ١٦٢

۱۶۱- او کله چي دوی ته وویل شول: په دې کلي کي مېشت شئ او له هر ځای ئې چي غواړئ وخورئ او ووایئ: بخښنه (درنه غواړو) او په دروازې سجده کوونکي ننوځئ، چي گناهونه مو درته وبخښو، نېکانو ته به ئې حتماً زیات کړو. ۱۶۲- خو د دوی ظالمانو دوی ته له ویل شوې وینا پرته بله وینا په بدل کي خپله کړه، نو په دې

سبب مو پر دوی له آسمانه د اضطراب عذاب نازل کړ چې ظلم ئې کولو.

(١٦١-١٦٢)- بني اسرائيلو ته وويل شو چې پر دښمن بريد ته چمتو شئ، خو دې ته مو پام وي چې د بريا او فتحې په وجه مغرور نه شئ، مفتوحه سيمو ته د مغرورو فاتحانو په څېر داخل نه شئ، د دوی ويناوو ته ورته ويناوې مو په ژبه رانشي او برياوې د خپل تدبير او د خپلو متو د زور نتيجه ونه ګڼئ. برعکس الله ته د مطيع او ساجد بنده په څېر داخل شئ او له الله د خپلو ګناهونو او اشتباهاتو معافي وغواړئ. خو دوی په برياوو مغرور شول او د ظالمو او فاسقو فاتحانو کړه وړه او وينا ئې تکرار کړه، د همدې لپاره هغه له بريا او فتحې تر لاسه شوې خوشحالي، سکون او اطمئنان ئې بېرته په اضطراب او پرېشانۍ بدل شو. په دې کې د الله د لارې مجاهدينو ته ډېرې مهمې لارښوونې شوې، له برياوو او فتوحاتو وروسته له کبر او غرور ځان وساتئ، د نيول شوو سيمو له اوسېدونکو سره د مغرورو فاتحانو سلوك مه کوئ، دا ستاسو فتح په اضطراب او ماته بدلوي.

وَسۡـَٔلۡهُمۡ عَنِ ٱلۡقَرۡيَةِ ٱلَّتِي كَانَتۡ حَاضِرَةَ ٱلۡبَحۡرِ إِذۡ يَعۡدُونَ فِي ٱلسَّبۡتِ إِذۡ تَأۡتِيهِمۡ حِيتَانُهُمۡ يَوۡمَ سَبۡتِهِمۡ شُرَّعٗا وَيَوۡمَ لَا يَسۡبِتُونَ لَا تَأۡتِيهِمۡۚ كَذَٰلِكَ نَبۡلُوهُم بِمَا كَانُواْ يَفۡسُقُونَ ﴿١٦٣﴾ وَإِذۡ قَالَتۡ أُمَّةٞ مِّنۡهُمۡ لِمَ تَعِظُونَ قَوۡمًا ٱللَّهُ مُهۡلِكُهُمۡ أَوۡ مُعَذِّبُهُمۡ عَذَابٗا شَدِيدٗاۖ قَالُواْ مَعۡذِرَةً إِلَىٰ رَبِّكُمۡ وَلَعَلَّهُمۡ يَتَّقُونَ ﴿١٦٤﴾ فَلَمَّا نَسُواْ مَا ذُكِّرُواْ بِهِۦٓ أَنجَيۡنَا ٱلَّذِينَ يَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلسُّوٓءِ وَأَخَذۡنَا ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ بِعَذَابِۭ بَـِٔيسِۭ بِمَا كَانُواْ يَفۡسُقُونَ ﴿١٦٥﴾ فَلَمَّا عَتَوۡاْ عَن مَّا نُهُواْ عَنۡهُ قُلۡنَا لَهُمۡ كُونُواْ قِرَدَةً خَٰسِـِٔينَ ﴿١٦٦﴾ وَإِذۡ تَأَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبۡعَثَنَّ عَلَيۡهِمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ مَن يَسُومُهُمۡ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِۗ إِنَّ رَبَّكَ لَسَرِيعُ ٱلۡعِقَابِ وَإِنَّهُۥ لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿١٦٧﴾

١٦٣- او د هغه کلي په اړه ترې وپوښته چې د بحر په غاړه (پروت) وو، چې د شنبې (په ورځ) به ئې تېری کاوو، چې کبان به د دوی د شنبې په ورځ له هر لوري څرګند ورته راروان ول؛ او چې د شنبې ورځ به ئې نه وه نو نه به ورته راتلل، همداسې مو د دې لپاره آزمويل چې فسق ئې کاوو. ١٦٤- او کله چې د دوی يوې ډلې وويل: ولې هغو خلکو ته وعظ کوئ چې الله ئې هلاکوونکی يا په شديد عذاب سره تعذيبوونکی

دئ، وئې ویل: ستاسو رب ته د عذر په توګه او د دې لپاره چې ښايي ځان به ترې وساتي. ١٦٥- خو کله چې دوی هغه څه هېر کړل چې پند پرې ورکېدو، هغه مو وژغورل چې له بدو کړنو ئې مخنیوی کاوو او ظالمان مو د دې لپاره په بد عذاب اخته کړل چې فسق ئې کاوو. ١٦٦- نو کله چې دوی له هغه څه سرغړاوی وکړ چې ترې منع شوي ول، ورته ومو ویل: رټل شوې بيزوګانې شئ. ١٦٧- او کله چې ستا رب دا خبره په ډاګه کړې وه چې پر دوی به د قیامت تر ورځې داسې څوك مسلط کړي چې په بد عذاب به ئې اخته کوي. یقیناً چې ستا رب په عذاب ورکولو کې سریع دئ او یقیناً چې هغه مهربان بخښونکی دئ.

---

(١٦٣-١٦٧)- په دې مبارکو آیتونو کې د بني اسرائیلو د یوې قبیلې په قصې کې د دغې سورې اساسي مضامین د یوې بلې تاریخي بېلګې په ترځ کې زموږ مخې ته اېښودل شوي، دا د بحر غاړې ته مېشت قوم وو، دنده ئې د کبانو نیول، ورته امر شوی وو چې د شنبې په ورځ به له ښکاره ډډه کوي، همداسې لکه مسلمانانو ته چې ویل شوي د جمعې د لمانځه لپاره به له کاره لاس اخلئ، دوی د الله تعالی له امره سرغړاوی وکړ، په نورو مواردو کې هم او په دې خاص مورد کې هم، په نورو مواردو کې ئې فسق او سرغړاوی مقدمه او دا ئې پایله او تتمه وه، الله تعالی د همدې لپاره د شنبې په ورځ له هر لوري دوی ته ماهیان راوستل، دوی د دغې ممنوعه ورځې د ښکار لپاره مذهبي حیله جوړه کړه، ماهیان به ئې په ډنډونو کې بند کړل خو په سبا به ئې راوایستل او ادعاء به ئې دا وه چې موږ د شنبې د ورځې احترام ساتلی، ځینو دوی ته نصیحت کاوو او له دې کاره ئې منع کول، ځینو نورو به نه یوازې د دوی ممانعت نه کولو بلکې نصیحت کوونکې به ئې ترټل چې ولې خپل وخت ضائع کوئ؟ د څه لپاره ځان له دوی سره په لانجه کې غورځوئ؟ پرېږدئ چې الله تعالی په خپله سزا ورکړي، یا ئې هلاك کړي یا عذاب پرې راولېږي، کار ئې دې ځای ته ورسېدو چې د ټولنې اکثریت دین ته شا کړه، الله تعالی هغه خلك وژغورل چې له بدو کړنو ئې مخنیوی کاوو او ظالمان ئې د دې لپاره په بد عذاب اخته کړل چې فسق ئې کاوو.

د دوی سرغړاوی مزید عام او پراخ شو او الله تعالی د دوی په اړه پرېکړه وکړه چې د رټل شوو بيزوګانو په څېر مسخ شي او د قیامت تر ورځې داسې څوك پرې مسلط کړي چې په بد عذاب به ئې اخته کوي. دا ځکه چې الله تعالی د ظالمانو په نیونې او مؤاخذې کې سریع دئ او د توبه کوونکو لپاره مهربان بخښونکی.

دلته دا پوښتنه راولاړېږي چې دا مسخ جسمي وه که معنوي؟ که جسمي وه نو د رسول الله صلی الله علیه و سلم د حدیث له مخې مسخ شوي خلك مري او هیڅ نسل نه ترې پاته کېږي، خو دلته د آیت په وروستۍ برخې کې ویل شوي چې پر دوی به د قیامت تر ورځې داسې څوك مسلط کړي چې په بد عذاب به ئې اخته کوي، د دې معنی خو دا

ده چې د دوی نسل نه یوازې پاته شوی بلکې تر قیامت به پاته وي. دغه مطلب ته په پام سره ویلی شو چې یا خو دا مسخ معنوي مسخ وه، د بیزوګانو په څېر سپك، ذلیل او مقلد قوم ترې جوړ شوی او یا خو یوه ډله ئې په جسمي توګه هم مسخ شوې او له منځه تللې، نور ئې پاته شوي. دې آیت او لاندې حدیث ته په پام سره دا رأیه ارجح برېښي چې مسخ ئې معنوي وه.

وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ - رضى الله عنه - قَالَ: (قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ , الْقِرَدَةُ وَالْخَنَازِيرُ هِيَ مِمَّا مُسِخَ؟)، (فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم -: " لَمْ يَجْعَلْ لِمَسْخٍ نَسْلًا وَلَا عَقِبًا، وَقَدْ كَانَتْ الْقِرَدَةُ وَالْخَنَازِيرُ قَبْلَ ذَلِكَ "

عن عبد الله بن مسعود قال: قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ الْقِرَدَةُ وَالْخَنَازِيرُ، هِيَ مِمَّا مُسِخَ؟ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ لَمْ يُهْلِكْ قَوْمًا؛ او يُعَذِّبْ قَوْمًا، فَيَجْعَلَ لَهُمْ نَسْلًا، وَإِنَّ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيرَ كَانُوا قَبْلَ ذَلِكَ» رواه مسلم

له عبدالله بن مسعود رضی الله عنه روایت دئ چې یوه سړي وپوښتل: یا رسول الله! آیا دا بیزوګاني او خنزیران همغه خلك دي چې مسخ شوي؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: یقیناً چې الله د مسخ شوي لپاره نه نسل پرېږدي او پاته شوني؛ ( الله تعالی داسې نه کوي چې کوم قوم هلاك کړي یا ئې په عذاب اخته کړي او بیا ئې نسل ترې پرېږدي، دا بیزوګاني او خنزیران تر دې د مخه موجود وو.

---

وَقَطَّعۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ أُمَمٗاۖ مِّنۡهُمُ ٱلصَّٰلِحُونَ وَمِنۡهُمۡ دُونَ ذَٰلِكَۖ وَبَلَوۡنَٰهُم بِٱلۡحَسَنَٰتِ وَٱلسَّيِّـَٔاتِ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ۝١٦٨

١٦٨- او په زمکې کې مو په ډلو ډلو خواره واره کړل، ځینې ئې صالح دي او ځینې ئې تر دې راټیټ، په ښو او بدو مو وآزمویل چې راوګرځي.

---

(١٦٨)- دا آیت ښیي چې بني اسرائیل له پراخ تشتت او تفرق سره مخ شوي، په زمکې کې خواره واره شوي، یوه وړه ډله ئې روغه او سمه او نور ئې پرېوتي او ټیټ، الله تعالی کله په خپلو نعمتونو آزمویلي او کله په نقمتونو، په دې موخه چې پند واخلي او بېرته سمې لارې ته راوګرځي.

---

فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٞ وَرِثُواْ ٱلۡكِتَٰبَ يَأۡخُذُونَ عَرَضَ هَٰذَا ٱلۡأَدۡنَىٰ

وَيَقُولُونَ سَيُغْفَرُ لَنَا وَإِن يَأْتِهِمْ عَرَضٌ مِّثْلُهُۥ يَأْخُذُوهُ ۚ أَلَمْ يُؤْخَذْ عَلَيْهِم مِّيثَٰقُ ٱلْكِتَٰبِ أَن لَّا يَقُولُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْحَقَّ وَدَرَسُوا۟ مَا فِيهِ ۗ وَٱلدَّارُ ٱلْءَاخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَ ۗ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٦٩﴾

١٦٩- نو تر دوی وروسته داسي پاته شونې ترې پاته شول چي كتاب ئې په مېراث يووړ، په داسي حال كې چي د دې خسيسي (دنيا) مال متاع به ئې (پرې) تر لاسه كولو او ويل به ئې: خدای به ئې حتماً راته وبخښي او كه همداسي مال متاع بيا ورته رامخه كړي بيا ئې اخلي، آيا د كتاب دا ژمنه نه وه ترې اخيستل شوې چي د الله په اړه به له حق وينا پرته بل څه نه وايي؟ او هغه څه ئې لوستلي وو چي په دغه (كتاب) كې وو او د آخرت كور هغه چا ته غوره دئ چي تقوی كوي، آيا تعقل نه كوئ؟

---

(١٦٩)- دا مبارك آيت څو مهمي لارښووني لري:

● دوی ته كتاب په مېراث پاته شو، داسي نه چي كتاب ئې غوره كړی، د كتاب په محتوی كې له غور او دقت وروسته ئې هغه د الهي لارښود كتاب په توګه منلی، بلكي د يوه مېراثي توكي په څېر ئې تر لاسه كړی، محتوی ته ئې له پامه پرته او د احكامو په وړاندي ئې له التزام پرته.

● د دوی ملايانو او مذهبي مشرانو په دې موروثي كتاب دنيوي خسيسي ګټې تر لاسه كولې، له كتاب ئې دام او دكان جوړ كړی وو، خلك ئې پرې غولول او له دوی ئې شكرانې تر لاسه كولې، خو هر ځل چي به دوی دا كار وكړ، په كومي فتوی به ئې څه زهر زقوم په برخه شول، نو پټ به ئې له ځان سره وويل: زموږ مجبوريتونو ته په پام سره به خدای حتماً دا ګناه راوبخښي!! خو لا به څو ورځي نه وې تېري چي همدا سپك كار به ئې بيا او بيا تكرار كړ، دا په داسي حال كې چي له الله تعالی سره ئې ژمنه كړې وه چي د الله تعالی او د ده د دين په اړه به افتراء نه كوي، له ځانه به دروغجني فتواګاني نه وركوي، دين به نه خرڅوي، الهي احكام به د دنيوي اغراضو لپاره نه پټوي، نه د كومي طمعي په وجه او نه د كومي وېري په وجه؛ او دا ټول په داسي حال كې چي دوی دغه الهي احكام په كتاب كې لوستلي او نورو ته ئې هم ورزده كړي. دا ئې هم په كتاب كې تر سترګو شوي وو چي څوك له داسي كارونو ځان وساتي د آخرت غوره كور به ئې په برخه شي!!

دا هغه ستره جفا ده چي له هر الهي كتاب سره شوې، دا هغه ستر ظلم دئ چي تل دين پلورونكو او ټګمارو مذهبي مشرانو له دين سره كړی، دا همغه فتنه ده چي تل په هغو قومونو كې راولاړېږي چي الهي كتاب د يوه مېراثي توكي په څېر تر لاسه كړي.

وَٱلَّذِينَ يُمَسِّكُونَ بِٱلْكِتَٰبِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُصْلِحِينَ ﴿١٧٠﴾

۱۷۰- او هغه چې په کتاب تمسك کوي او لمونځ اقامه کوي، یقیناً چې د دغو مصلحینو اجر نه ضائع کوو.

(۱۷۰)- په دې مبارك آیت کې د مخکینۍ ډلې په مقابل کې د یوې بلې ډلې یادونه شوې چې قرآن ئې د مصلحینو په نامه یادوي او دا ئې ځانګړتیاوي ګڼي:

- دوی په الهي کتاب تمسك کوي، په هر څه کې د دوی مستمسك د الله تعالی کتاب وي، په وینا، قضاوت او عمل کې، دا کتاب ئې هم خپل لارښود وي او هم نورو ته په همدې کتاب لارښوونه کوي.
- لمونځ اقامه کوي، هم خپلې اړیکې له الله تعالی سره ټینګوي او هم نور دې ته رابلي چې په لمانځه سره خپلې اړیکې له الله تعالی سره ټینګې کړي.

له دې مبارك آیت په ډېر وضاحت او صراحت سره معلومېږي چې د ټولنې د اصلاح کار له دغو دوو لارو پرته له بلې لارې امکان نه لري، په الهي کتاب تمسك او د لمانځه اقامه، په کومې ټولنې کې چې الهي کتاب هېر کړی شو، شا ته وغورځولی شو، بل څه ته پرې ترجیح ورکړی شوه، جوماتونه ئې له معنوي پلوه ویجاړ شول، امامت ئې د غلطو او دین پلورونکو خلکو په لاس کې پرېوت، هیڅکله به شېرازه نشي، سمه ورځ به ئې په برخه نشي او د اصلاح هره هڅه به ئې بې نتیجې پاته شي.

وَإِذْ نَتَقْنَا ٱلْجَبَلَ فَوْقَهُمْ كَأَنَّهُۥ ظُلَّةٌ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُۥ وَاقِعٌۢ بِهِمْ خُذُواْ مَآ ءَاتَيْنَٰكُم بِقُوَّةٍ وَٱذْكُرُواْ مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٧١﴾

۱۷۱- او کله چې موږ غر پرې راپورته کړ، داسې لکه چې چترۍ وي او ګمان ئې وکړ چې پرې راپرېوتونکی دئ، (ومو ویل:) هغه څه په زور سره (ټینګ) ونیسئ چې تاسو ته مو درکړ او هغه څه ئې په یاد کړئ چې په هغه کې دي، چې تقوی او ځان ساتنه مو په برخه شي.

(۱۷۱)- دلته بني اسرائیلو ته خپلې هغه ژمنې ورپه یادوي چې د تورات د نازلېدو په مهال ئې کړې وې، دوی له الله تعالی سره په داسې حال کې ژمنه کړې وه چې لوی غر ئې پر سر داسې راپورته شوی وو لکه چترۍ، هره شېبه ئې ګمان کاوو چې غر پرې راپرېوځي، ژمنه ئې دا وه چې د الله تعالی په کتاب به کلکې منګولې لګوي او لارښوونو ته به ئې تل پام

کوي.

که له بني اسرائيلو په دې توگه ژمنه تر لاسه شوې وه، په نورو قومونو هم دې ته ورته حالات راځي، د مصيبتونو غرونه ئې پر سر سيورى وغوړوي، له سترو سترو گواښونو او خطرونو سره مخامخ شي، په دې وخت کې الله تعالی ته مخه کړي، له گناهونو د لاس اخيستو او په اخلاص او صداقت سره د الله تعالی د بندگۍ ژمني کوي. په افرادو باندې هم دې ته ورته حالتونه راځي او همداسې له الله تعالی سره ژمني او تعهدونه کوي.

---

وَإِذۡ أَخَذَ رَبُّكَ مِنۢ بَنِيٓ ءَادَمَ مِن ظُهُورِهِمۡ ذُرِّيَّتَهُمۡ وَأَشۡهَدَهُمۡ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ
أَلَسۡتُ بِرَبِّكُمۡۖ قَالُواْ بَلَىٰ شَهِدۡنَآۚ أَن تَقُولُواْ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ إِنَّا كُنَّا عَنۡ هَٰذَا
غَٰفِلِينَ ﴿١٧٢﴾ أَوۡ تَقُولُوٓاْ إِنَّمَآ أَشۡرَكَ ءَابَآؤُنَا مِن قَبۡلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةٗ مِّنۢ بَعۡدِهِمۡۖ
أَفَتُهۡلِكُنَا بِمَا فَعَلَ ٱلۡمُبۡطِلُونَ ﴿١٧٣﴾ وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ وَلَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ
﴿١٧٤﴾

۱۷۲- او کله چې ستا رب د بني آدمو له ملاگانو د دوی اولاد واخيست او دوی ئې پر خپل ځان شاهد وگرځول (او ورته وئې ويل) آيا زه مو رب نه يم؟ وئې ويل: هو؛ شهادت ورکوو، دا د دې لپاره چې د قيامت په ورځ ونه وايئ: موږ له دې غافل وو. ۱۷۳- او يا ونه وايئ: دا خو زموږ مخکيني پلرونه ول چې شرك ئې وکړ او موږ ئې وروستني اولاد وو، آيا د هغه څه په سبب مو هلاکوې چې باطلپالو کړي. ۱۷٤- همداسې آيتونه په تفصيل سره بيانوو په دې موخه چې بېرته راوگرځي.

---

(۱۷۲-۱۷٤)- په دې مبارکو آيتونو کې څو اساسي خبرې تر سترگو کېږي:

- دلته ويل شوي چې د هر انسان له صلب د ده اولاد په داسې توگه اخيستل شوي چې الله تعالی په دغې خبرې شاهد گرځولي: آيا زه مو رب نه يم؟ او هغوی ويلي هو؛ په دې خبرې شهادت ورکوو.

- آيا د دې خبرې معنی دا ده چې په جسمي توگه د دوی نطفې د آدم عليه السلام له شا رايستل شوي او همغه مهال دا پوښتنه ترې شوې او دوی هم شهادت ورکړی؟ او که په دې وينا سره د بني آدمو هغه فطرت معرفي شوی چې د الله تعالی پر ربوبيت باندې اعتراف او شهادت ئې ده ته ورپه برخه کړی؟ درې دلائل داسې دي چې د دوهمې رأيې ارجحيت ثابتوي: ۱- په آيت کې ويل شوي (وَإِذۡ أَخَذَ رَبُّكَ مِنۢ بَنِيٓ ءَادَمَ مِن ظُهُورِهِمۡ ذُرِّيَّتَهُمۡ

وَأَشْهَدَهُمْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ: او کله چې ستا رب د بني آدمو له ملاګانو د دوی اولاد واخيست) او دا د ټولو انسانانو اولاد ته اشاره کوي، نه د آدم عليه السلام له ملا د ده د اولاد د نطفو اخيستلو ته، دې ته مو هم بايد پام وي چې دلته د استخراج او رايستلو لفظ نه دئ راغلی بلکې د أخذ يعني اخيستلو لفظ راغلی. ۲- هيڅ انسان ته داسې کومه صحنه په ياد نه ورځي چې تر خپل پيدايښت مخکې بل ځل هم پيدا شوی او هغه مهال الله تعالی ترې پوښتنه کړې او ده د الله تعالی په ربوبيت اعتراف کړی، نه نن دا خبره کولی شي او نه د قيامت په ورځ، داسې شهادت خو يوازې په هغه صورت کې ارزښت او اهميت لري چې د انسان په ياد وي. ۳- که دا خبره ومنو نو بيا خو بايد ووايو چې انسان دوه ځلې پيدا شوی خو دا خبره له قرآن سره اړخ نه لګوي.

د دې آيت دقيقه توجيه همدا ده چې الله تعالی هر انسان او بني آدم داسې پيدا کوي چې ايمان بالله ئې په ختې کې ابښودل شوی، داسې فطرت ئې ورکړی چې د الله تعالی په ربوبيت اعتراف کوي، د قرآن ګڼ شمېر آيتونه په همدې دلالت کوي چې پر الله تعالی ايمان د انسان د فطرت غوښتنه ده، پر خدای باور د ده د فطرت جزء دئ، تر سخت هم سخت کافر او تر بد هم بد ملحد په ځانګړو حالاتو کې خدای ته مخه کوي، په ځانګړې توګه هغه مهال چې له ستونزو او کړاوونو سره مخ شي. د پيدايښت په همغه سر کې ئې ده ته د ډېرو نورو خبرو تر څنګ دا هم ښودلې چې رب ئې څوک دئ، ضمير او فطرت ئې په دې شهادت ورکوي چې پيدا کوونکی ئې الله دئ، د همدغې فطري لارښوونې په سبب ده چې هر انسان خدای مني، د انسانانو له پيدايښته تر نن پورې ډېر لږ کسان داسې ليدل شوي چې خدای نه مني، دا نه مننه ئې هم د انکار په توګه وي نه دا چې له زړه پرې قانع وي او د خپل انکار لپاره دليل ولري، دا چې قرآن په مکرره توګه وايي چې که له کافرانو پوښتنه وکړې چې آسمانونه او زمکه چا پيدا کړي، شپه او ورځ څوک راولي، او... او... دوی به حتماً وايي چې الله، همدغې خبرې ته اشاره کوي. د قيامت په ورځ به دغه د کافر او منکر انسان په ضد حجت وي. پيغمبر عليه السلام هم دغه مطلب ته اشاره کړې: هلته چې فرمايي: انسان له روغ او سالم فطرت سره دنيا ته راځي، د ده مور او پلار ئې يهودي، نصراني او مجوسي کړي، لکه څنګه چې له څاروي څاروی پيدا کېږي او تاسو په دوی کې غوږ پرې شوی نه ګورئ، بلکې تاسو ئې غوږ ورپرې کوئ:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ قَالَ النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم « كُلُّ مَوْلُودٍ يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ، فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ أَوْ يُنَصِّرَانِهِ أَوْ يُمَجِّسَانِهِ، كَمَثَلِ الْبَهِيمَةِ تُنْتَجُ الْبَهِيمَةَ، هَلْ تَرَى فِيهَا جَدْعَاءَ »... ) رواه البخارى

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ لنَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ « يُقَالُ لِلرَّجُلِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ يَوْمَ

الْقِيَامَةِ أَرَأَيْتَ لَوْ كَانَ لَكَ مَا عَلَى الأَرْضِ مِنْ شَىْءٍ أَكُنْتَ مُفْتَدِياً بِهِ قَالَ فَيَقُولُ نَعَمْ. قَالَ فَيَقُولُ قَدْ أَرَدْتُ مِنْكَ أَهْوَنَ مِنْ ذَلِكَ قَدْ أَخَذْتُ عَلَيْكَ فِى ظَهْرِ آدَمَ أَنْ لاَ تُشْرِكَ بِى شَيْئاً فَأَبَيْتَ إِلاَّ أَنْ تُشْرِكَ بِى ». رواه الصحيحين

له انس بن مالك روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: د قیامت په ورځ به له دوزخیانو یوه چا ته وویل شي: آیا پوهېږې چي که د زمکي د سر هر څه ستا وی آیا (اوس به دي له عذاب د نجات لپاره) په فدیه کي نه وو ورکړي؟ وبه وایي: هو؛ نو الله تعالی به ورته ووایي: تر دې آسان مي درنه غوښتي وو، د آدم په شا کي مي دا عهد درنه اخیستی وو چي له ما سره هیڅ څه مه شریکوه، خو تا ډډه وکړه مگر له دې چي زما په اړه شرك وکړې.

دا د انسان فطري جوړښت به د مشرك په خلاف حجت وي او دا دلیل به نه ترې قبلېږي چي ووایي: موږ له دې حقیقت خبر نه وو، شرك له مور پلار په میراث راته پاته شوی وو، دا خو زموږ مخکیني پلرونه ول چي شرك ئې وکړ او موږ ئې په شرك اخته کړو، ولي مو د هغه څه په سبب تعذیبوې چي باطلپالو پلرونو پرې اخته کړي وو. الله تعالی دا حقیقت په دې موخه د انسانانو مخي ته ږدي چي له شرك بېرته هغه توحید ته وگرځي چي د دوی د فطرت غوښتنه ده.

---

وَٱتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ ٱلَّذِىٓ ءَاتَيْنَٰهُ ءَايَٰتِنَا فَٱنسَلَخَ مِنْهَا فَأَتْبَعَهُ ٱلشَّيْطَٰنُ فَكَانَ مِنَ ٱلْغَاوِينَ ﴿١٧٥﴾ وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنَٰهُ بِهَا وَلَٰكِنَّهُۥٓ أَخْلَدَ إِلَى ٱلْأَرْضِ وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ ۚ فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ ٱلْكَلْبِ إِن تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ أَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَث ۚ ذَّٰلِكَ مَثَلُ ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا ۚ فَٱقْصُصِ ٱلْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١٧٦﴾ سَآءَ مَثَلًا ٱلْقَوْمُ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا وَأَنفُسَهُمْ كَانُوا۟ يَظْلِمُونَ ﴿١٧٧﴾ مَن يَهْدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلْمُهْتَدِى ۖ وَمَن يُضْلِلْ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿١٧٨﴾

۱۷۵- او دوی ته د هغه چا قصه ولوله چي خپل آیتونه مو ورکړل، خو ترې ووت او شیطان ورپسې شو او له لار ورکو شو. ۱۷۶- که مو غوښتی نو په دې سره به مو لوړ کړی وو خو هغه د زمکي په لور تلپاته شو (ونښت)؛ او په خپل هوس پسې شو، نو مثال ئې سپي ته ورته دئ، که برید پرې کوې هم ژبه راباسي او که ئې پرېږدې هم ژبه راباسي، دا د هغو خلکو مثال دئ چي زما آیتونه ئې تکذیب کړي، نو قصې ورته

بيان کړه چي فکر وکړي. ۱۷۷- څومره بد دئ د هغو خلکو مثال چي زما آيتونه ئې تکذيب کړل او په خپل ځان ئې ظلم کاوو. ۱۷۸- الله چي څوك هدايت کړي همدا هدايت شوی دئ او څوك چي بې لاري کړي همدا دوی زيانمن دي.

(۱۷۵-۱۷۸)- دلته يو ځل بيا د علماء سوء په اړه يوه جامع وينا شوې، د هغه چا په اړه چي د الله تعالی د کتاب څه علم ورکړی شوی، خو د دې پر ځای چي عمل پرې وکړي او د الهي لارښوونو په رڼا کي ژوند وکړي، له دې رڼا وتلی، شيطان ورپسې شوی، يعني د شيطان لارښود او استاد ترې جوړ شوی، د دې پر ځای چي دی په شيطان پسي ولاړ شي، شيطان په ده پسي روان شوی، په خپله تېروتی وو او نور ئې تېرايستلي. که الله تعالی غوښتلی او په ده کي د دې وړتيا وی نو په دې علم سره به ئې ده ته لوړي درجې ورکړې وې، په دنيا کي لوړ عزت او په آخرت کي د جنت لوړ مقام، خو هغه په زمکي پوري ونښت، د لوړ تگ لپاره ئې پياوړي او مضبوط وزرونه نه درلودل، بې همته وو، اوس ئې د حق مخالفت او د الله تعالی د آيتونو تکذيب ته کلکه ملا تړلې ده، که ئې په دې کار ملامت کړې او وئې رټې هم خپله خوله نه بندوي او که ئې خپلي مخي ته پرېږدې او څه ورته ونه وايي هم، مثال ئې هغه سپي ته ورته دئ چي که ورته ووايې: چغه! ژبه ئې راوتلې وي او که ئې پرېږدې هم. د آيت له وروستۍ برخي په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي دا مثال د هغو خلکو لپاره راوړل شوی چي په خپلو اوړدو او تېرو ژبو سره د الله تعالی د دين مخالفت کوي (دا د هغو خلکو مثال دئ چي زما آيتونه تکذيبوي)، (څومره بد دئ د هغو خلکو مثال چي زما آيتونه ئې تکذيب کړل او په خپل ځان ئې ظلم کاوو). الله دوی د هدايت وړ نه دي موندلي، دوی ادعاء کوي چي په سمه لار روان دي، د پلار نيکه دين او مذهب لمن ئې کلکه نيولې او د همدې لپاره د پيغمبر عليه السلام مخالفت کوي، په داسي حال کي چي عملاً د الهي لارښوونو خلاف په کږو لارو روان دي، هدايت شوی خو هغه څوك دئ چي په الهي هداياتو عمل کوي، څوك چي د الهي لارښوونو مخالفت کوي هغه لار ورکی دئ، بايد په دې پوه وي چي نه الله تعالی ته زيان رسولی شي او نه د ده دين ته، يوازې ځان ته به زيان رسوي.

وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِّنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ ۖ لَهُمْ قُلُوبٌ لَّا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ ءَاذَانٌ لَّا يَسْمَعُونَ بِهَآ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ كَٱلْأَنْعَٰمِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْغَٰفِلُونَ ﴿١٧٩﴾

۱۷۹- او يقيناً چي د دوزخ لپاره مو له پېريانو او انسانانو ډېر پيدا کړي، دوی زړونه لري خو پرې پوهېدل نه کوي، سترگي لري خو پرې ليدل نه کوي، غوږونه لري خو

پرې اورېدل نه کوي، دوی د څارویو په څېر دي بلکې لا زیات لار ورکې، همدا دوی غافل او بې خبره دي.

---

(۱۷۹)- دا آیت موږ ته ښيي: جهنم د هغه چا ځای دئ چي: د زړه دړه ئې حقیقت ته نه پرانیستل کېږي، په عالم کي له خورو نښو عبرت نه اخلي، د حق وینا اورېدو ته چمتو نه دئ، زړه، سترګي او غوږونه لري خو هغه کار ترې نه اخلي چي په دغو غړو سره باید تر سره شي، د حیواناتو په څېر او تر هغوی هم په فهم او بصیرت کي ټیټ دئ.

د دې آیت په اړه دوه پوښتني راولاړېږي:

- آیا الله تعالی دغه خلك له سره د جهنم لپاره پیدا کړي، د دوی په اړه د الله تعالی مخکینۍ پرېکړه همدا وه چي جهنم ته به درومي؟ قرآن په خپله په همدې آیت کي دې پوښتني ته ځواب ورکوي او فرمایي چي دوی ته الله تعالی زړه ورکړی خو د تفقه لپاره ئې نه کاروي، سترګي ئې ورکړې خو په عالم کي خورو نښو ته پام نه کوي، غوږونه ئې ورکړي خو د حق خبره پرې نه اوري، که ده ته دا استعداونه نه وی ورکړی شوی، هلته دا اعتراض راولاړېدو چي ښایي الله تعالی دوی له سره د دوزخ لپاره پیدا کړی وو، قرآن موږ ته په مکرره توګه وایي چي انسان په خپل اختیار سره د کفر او ایمان له دوو لارو یوه غوره کوي، یوه لار ئې جنت ته رسوي او بله دوزخ ته.

دوهمه پوښتنه دا ده چي دلته تفقه او پوهه زړه ته منسوب شوې په داسې حال کي چي علمي تحقیقات زړه نه بلکې د انسان دماغ د احساس او ادراك مرکز ګڼي او زړه یوازې د وینې د پمپ کولو وسیله بولي. له حقیقت بې خبره خلك اعتراض کوي چي قرآن ولي هغه څه زړه ته منسوب کړي چي په اصل کي د زړه کار نه بلکې د دماغ کار دئ. دې پوښتني ته د ځواب او د دغو کسانو د تشویش د رفع کولو لپاره لاندې وضاحت کوو:

- قرآن چي څه زړه ته منسوب کړي، دا د نړۍ په هر ګوټ کي، د هر قوم له خوا او په هره ژبه کي زړه ته منسوب شوي، تاسو به په هر ځای کي له هر چا واورئ چي تصدیق او تکذیب، باور او انکار، مینه او کرکه، جرأت او جبن، خوښې او خفګان زړه ته منسوبوي، په دې اړه د قرآن وینا نه د تعجب وړ ده، نه اعتراض پرې وارد او معقول دئ او نه د علمي تحقیقاتو خلاف ده. دا خبري نه یوازې په تورات، انجیل، زبور او ټولو مذهبي کتابونو کي زړه ته منسوب شوې بلکې د ملحدینو په کتابونو کي هم زره ته منسوب شوې، شعراوو هم زړه ته منسوب کړې او لیکوالانو هم، عوامو هم او علماءو هم، دیندارو شعراوو او علماءو هم او بې دینه شعراوو او ساینس پوهانو هم! دا ولي او د څه لپاره؟ دلیل ئې دا دئ:

- زړه د دماغ لپاره د سترګو، غوږونو، پزې او پوستکي په څېر یوه وسیله ده، که دغه پنځه حواس ئې د پېژندو او احساس وسائل دي نو زړه ئې د خپلو پرېکړو د انعکاس لپاره

داسي وسيله ده چي له دې لاري خپلي پرېکړي اعلانوي. زړه ته د دې خبرو منسوبول داسي دي لکه موږ چي لېدل سترګو ته منسوبوو، حال دا چي سترګي فقط دوه عدسيې دي چي له دې لاري نور دماغ ته انتقالېږي، د ليدل شوي شي په اړه پرېکړه په دماغ کي کېږي، ليدل په حقيقت کي د دماغ کار دئ نه د سترګو، سترګي او غوږونه د دماغ لپاره داسي کړکۍ دي چي له بهرني محيط دماغ ته پيغامونه انتقالوي، د دغو پيغامونو د څرنګوالي پرېکړه دماغ کوي، په اصل کي ليدا او اورېدا د دماغ کار دئ نه د سترګو او غوږونو، که د دماغ هغه برخي زيانمني شي چي له سترګو او غوږونو پيغامونه تر لاسه کوي او د هر پيغام په اړه پرېکړه کوي، نو نه به په روغو سترګو څه ليدی شو او نه په روغو غوږونو څه اورېدی، لکه څنګه چي ليدل او اورېدل سترګو او غوږونو ته منسوبول د اعتراض وړ خبره نه ده، همدا راز زړه ته دغه احساسات منسوبول يو فطري انتساب دئ. د دې تفصيل د لومړي جلد په پای کي مطالعه کولی شئ

وَلِلَّهِ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ فَٱدۡعُوهُ بِهَاۖ وَذَرُواْ ٱلَّذِينَ يُلۡحِدُونَ فِيٓ أَسۡمَٰٓئِهِۦۚ سَيُجۡزَوۡنَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٨٠﴾

۱۸۰- او د الله غوره نومونه دي نو په دغو نومونو سره ئې دروبلئ او هغه کسان پرېږدئ چي د ده په نومونو کي الحاد کوي (په کږه ځي)، حتماً به د خپلو کړنو له امله سزا ورکړی شي.

(۱۸۰)- په دې مبارك آيت کي موږ ته لارښوونه شوې چي د دعاء په وخت کي بايد الله تعالی په خپلو غوره نومونو سره ياد کړو او د هغو کسانو په څېر نشو چي د الله تعالی په نوموني کي په کږو لارو درومي. دغه مطلب د الاسراء د سورې په ۱۱۰ آيت کي داسي راغلی:
قُلِ ٱدۡعُواْ ٱللَّهَ أَوِ ٱدۡعُواْ ٱلرَّحۡمَٰنَۖ أَيّٗا مَّا تَدۡعُواْ فَلَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ وَلَا تَجۡهَرۡ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتۡ بِهَا وَٱبۡتَغِ بَيۡنَ ذَٰلِكَ سَبِيلٗا ﴿١١٠﴾
ووايه! يا الله دروبلئ يا رحمن ته دعاء وکړئ، (له دغو ئې) چي په هر نوم دروبلئ (صحيح ده) ده لره ښايسته او غوره نومونه دي او مه دي دعاء په لوړ آواز کوه او مه ئې پټوه، (بلکي) د دواړو تر منځ وسط لاره غوره کړه.
دغه آيتونه دا مطالب بيانوي:

- الله تعالی نېك او غوره نومونه لري، بايد په همدغو نومونو ئې ذکر وشي او دعاء ورته وشي، په هري دعاء کي ئې هغه نوم ياد شي چي له سؤال سره مناسبت ولري، د مثال په توګه يا رحمن ارحمني: اې مهربانه ربه پر ما رحم وکړې، ياحفيظ احفظني: اې ساتونکې ربه ما وساتې.

- باید په اسماء الله کې له انحراف او له ځانه د اسماءو او صفاتو له ایښودلو ډډه وکړو.
- د الله تعالی په وړاندې دعاء کې باید هغه طریقه غوره کړو چې دین راښودلې، لکه دا آیت چې امر کوي: نه به په ډېر لوړ غږ دعاء کوو او نه په ډېر ټیټ، بلکې د دواړو تر منځ به متوسطه لاره غوره کوو.

ابي موسی اشعري رضی الله عنه وایي: موږ په یوې غزا کې له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره وو، داحال مو غوره کړ چې کله به په کومې لوړې ختلو او کومې جګې ته پورته کېدلو او کومې درې ته به کوزېدلو نو په جګ غږ به مو تکبیرونه ویل، نو رسول الله صلی الله علیه و سلم موږ ته رانژدې شو او وئې فرمایل: اې خلکو! پرخپل ځان نرمي وکړئ (او په لوړ غږ د دعاء لپاره پر ځان زیاتی مه کوئ) ځکه تاسي نه کوڼ ته دعاء کوئ او نه غائب ته، بلکې هغه چا ته دعاء کوئ چې اورېدونکی او لیدونکی دئ، تاسي چې کوم ذات ته سؤال کوئ هغه ستاسو هر یوه ته د خپلې سورلۍ تر غاړې ډېر درنژدې دئ.

عَنْ أَبِى مُوسَى الأَشْعَرِيِّ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ فِى غَزَاةٍ فَجَعَلْنَا لاَ نَصْعَدُ شَرَفاً وَلاَ نَعْلُو شَرَفاً وَلاَ نَهْبِطُ فِى وَادٍ إِلاَّ رَفَعْنَا أَصْوَاتَنَا بِالتَّكْبِيرِ. قَالَ فَدَنَا مِنَّا رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ « أَيُّهَا النَّاسُ ارْبَعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ فَإِنَّكُمْ مَا تَدْعُونَ أَصَمَّ وَلاَ غَائِباً إِنَّمَا تَدْعُونَ سَمِيعاً بَصِيراً إِنَّ الَّذِى تَدْعُونَ أَقْرَبُ إِلَى أَحَدِكُمْ مِنْ عُنُقِ رَاحِلَتِهِ. رواه احمد

قرآن موږ ته هغه نومونه راښودلي چې باید خپل رب پرې یاد کړو، د الله تعالی هر نوم د یوه الهي صفت ښوونه کوي، موږ د الله تعالی نومونه او صفات د هغه کتاب له لارې پېژندلی شو چې الله تعالی نازل کړی او رسول صلی الله علیه و سلم ته ئې د هغه علم ورکړی، له دې پرته د الله تعالی د نومونو او صفاتو د پېژندلو بله صحیح لاره نشته. خو تاسو پوهېږئ چې الهي کتابونه د مختلفو قومونو په ژبه نازل شوي او په هر یوه کې الله تعالی په بېلو بېلو نومونو یاد شوی، که څه هم په دغو الهي کتابونو کې د الله تعالی د نومونو الفاظ مختلف دي، خو معنی او مفهوم ئې یو دئ، دا نومونه په قرآنکریم، تورات، انجیل او زبور کې په یو ډول الفاظو نه دي یاد شوي، له دې معلومېږي چې پدغو نومونو کې ترټولو د پام وړ خبره هغه صفات دي چې دا نومونه ئې په ګوته کوي.

په قرآنکریم کې له ذکر شوو نومونو علاوه، الله تعالی نور نومونه هم لري چې یا ئې په نورو آسماني کتابونو کې ذکر کړي دي او یا ئې له ځان سره ساتلي او هیڅ څوک ئې نه دئ پرې خبر کړی، لکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي:

... أَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ، سَمَّيْتَ بِهِ نَفْسَكَ؛ او أَنْزَلْتَهُ فِى كِتَابِكَ؛ او عَلَّمْتَهُ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ؛ او اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِى عِلْمِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ... رواه احمد

الهي! په هر هغه نوم دې سؤال درته کوم چې ځان دې پرې نوملی، یا دې خپل کوم

مخلوق ته ورښودلی او یا دي په خپل کتاب کې نازل کړی او یا دي په خپل علم غیب کې چې له تا سره دئ؛ ځانته مختص کړی.

له دې مبارك حدیث دا څرګندیږي چې د الله تعالی نومونه محدود نه دي، یو شمیر ئې په دې کتاب کې ذکر شوي او نور ئې په نورو کتابو کې راغلی دي، ځیني ئې پیغمبرانو علیهم السلام ته ورښودلي او ځیني ئې الله تعالی له خپل ځان سره ساتلي او هیچا ته ئې نه دي ښودلي، دا ټول نېك او پاك نومونه داسي صفات په ګوته کوي چې الله تعالی ورباندي متصف دئ. د مثال په توګه السمیع، یعنی هغه ذات چې اوریدونکی دئ، البصیر: هغه ذات چې لیدونکی دئ، الرحمن: هغه ذات چې ډېر مهربان دئ. خو هغه نومونه چې د ده په علم غیب پوري منحصر بلل شوي دا نومونه د الله تعالی داسي صفات افاده کوي چې انسان پرې نه پوهېږي.

خو دا چې د الله تعالی په نومونې کې له کوږوالي مراد څه دئ؟ آیا په قرآن او حدیث کې له راغلو عربي نومونو پرته په بل نامه د الله تعالی یادول الحاد دئ؟ ځیني خلك په دې اړه زیاته غلو کوي او الله تعالی له عربي نومونو پرته په بل نامه یادول او بلې ژبې ته د الله تعالی د نومونو ژباړه حرام او ناروا ګڼي!! حال دا چې الله تعالی په داسي نومونو یادول حرام دي چې له ده سره نه ښایي، د ده صفت نشي منعکس کولی، غلطه او ناقصه معنی ورکوي، په غلطو مواردو کې کارول کېږي لکه: معشوق، جانان، نګار، صنم، ساقي، پیرمغان او دې ته ورته نومونه، هغه نومونه چې مختلف قومونه ئې د الله تعالی لپاره کاروي لکه خدای او GOD؛ او له عربي نورو ژبو ته د الله تعالی د نومونو ژباړه لکه د مالك پر ځای څښتن یا خاوند، د رب پر ځای پالونکې، د حفیظ پر ځای ساتونکی نه یوازي څه مانع نه لري بلکې د الله تعالی د نومونو او صفاتو په حقیقي معنی د ښه پوهېدو لپاره ضروري او ګټور دي، الله تعالی په خپله دا کار کړی، په تورات، زبور او انجیل کې چې کوم نومونه راغلي وو، په قرآن کې ئې هغه موږ ته په عربي ژبې کې بیان کړي. که قرآن په پښتو نازل شوی وی نو د الله تعالی ټول نومونه به په پښتو کې وو، بیا به دغو خلکو ته ورته پښتنو ویل: له پښتو عربي ته د الله تعالی نومونه ژباړل او څښتن تعالی د الله او مالك په نامه یادول منع دي!!

وَمِمَّنْ خَلَقْنَآ أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِٱلْحَقِّ وَبِهِۦ يَعْدِلُونَ ﴿١٨١﴾ وَٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَا سَنَسْتَدْرِجُهُم مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٨٢﴾ وَأُمْلِى لَهُمْ ۚ إِنَّ كَيْدِى مَتِينٌ ﴿١٨٣﴾

١٨١- او له هغو چې موږ پیدا کړي، یوه ډله ئې داسي ده چې په حق سره د (خلکو) لارښوونه کوي او په همدې سره عدالت پلی کوي. ١٨٢- او هغه چې زموږ آیتونه تکذیبوي، حتماً به ئې له داسي لوري ورو ورو ونیسو چې نه پرې پوهېږي. ١٨٣- او

دوی ته مهلت ورکوم، یقیناً چې زما پټ تدبیر ډېر مضبوط دئ.

(۱۸۱-۱۸۳)- دلته دوه ډلې معرفي شوې:

- هغه چې په حق سره د خلکو لارښوونه کوي او په همدې سره عدالت پلی کوي.
- هغه چې د الله تعالی آیتونه تکذیبوي، دې ډلې ته به الله تعالی حتماً سزا ورکوي، خو ورو ورو او په تدریج سره، په داسې توګه چې دوی پرې نه پوهېږي، مهلتونه او فرصتونه به ئې وغولوي، ګمان به کوي چې د روښانه مستقبل په لوري پر مخ روان دي، خو په حقیقت کې به د زوال په لور خوځي..

أَوَلَمۡ يَتَفَكَّرُواْۗ مَا بِصَاحِبِهِم مِّن جِنَّةٍۚ إِنۡ هُوَ إِلَّا نَذِيرٞ مُّبِينٌ ﴿١٨٤﴾ أَوَلَمۡ يَنظُرُواْ فِي مَلَكُوتِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا خَلَقَ ٱللَّهُ مِن شَيۡءٖ وَأَنۡ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ قَدِ ٱقۡتَرَبَ أَجَلُهُمۡۖ فَبِأَيِّ حَدِيثِۭ بَعۡدَهُۥ يُؤۡمِنُونَ ﴿١٨٥﴾ مَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَلَا هَادِيَ لَهُۥۚ وَيَذَرُهُمۡ فِي طُغۡيَٰنِهِمۡ يَعۡمَهُونَ ﴿١٨٦﴾

۱۸٤- آیا په دې کې ئې فکر نه دئ کړی چې په ملګري کې ئې هیڅ لېونتوب نشته، دی خو له یوه څرګند نذیر پرته بل څه نه دئ، ۱۸۵- آیا د آسمانونو او زمکې په ټولواکۍ او په هر هغه څه کې چې الله پیدا کړي او په دې کې ئې نظر نه دئ اچولی چې شایي د دوی اجل به رانژدې شوی وي، نو له دې وروسته به په کومې خبري ایمان راوړي؟ ۱۸٦- الله چې څوك بې لارې کړي نو هیڅ لارښود به ئې نه وي او په خپل طغیان کې ئې لالهانده پرېږدي.

(۱۸٤-۱۸٦)- دلته د رسول الله صلی الله علیه و سلم او د ده د دعوت د مخالفینو په اړه ویل شوي:

- دوی ته ویل شوي چې پیغمبر علیه السلام ستاسو پرونی ملګری دئ، ښه ئې پېژنئ، هم ئې وینا او دعوت ستاسو په مخ کې او هم ئې د نن او پرون شخصي ژوند، آیا نه ګورئ چې د یوه عقلمن او پوه داعي په توګه تاسو ته بلنه درکوي، نه ئې په دعوت کې د عقل خلاف خبره مومئ او نه د ده په شخصي ژوند کې د پوهي او عقل مغایر کوم عمل، تاسو د غلطو کارونو او د عقل او علم منافي مذهب له عواقبو او بدو پایلو وېروي، ولې په دې فکر نه کوئ؟
- دا دوی ولې د آسمانونو او زمکې دې عظیم سلطنت ته او په دې پراخ ملك کې دې بې شمېره مخلوقاتو ته په غور سره نه ګوري؟ آیا دې ته پام نه کوي چې د دې پراخ او ستر

ملك واګي حتماً د يوه داسې مقتدر ټولواك په اختيار کې دي چې د عالم هر څه اداره کوي؟ همغه خبره چې د دوی ملګری محمد صلی الله علیه و سلم ئې کوي؟

● ولې په دې غور نه کوي چې د دوی د بدو عملونو بدې پايلې رانژدې شوې، د دوی په څېر ډېر ظالم، مفسد او مشرك قومونه هلاك شوي، په کومې لارې چې دوی روان دي، تر دې د مخه ډېر پرې تللي او هر يو په الهي عذاب اخته شوی؟! ستاسو ملګری همدا خبره درته کوي.

● نو له دې خبرو وروسته به په کومې خبرې ايمان راوړي؟ کوم استدلال به ئې قانع کړی شي؟ که د دغې سورې په دغو مضبوطو او قانع کوونکو دلائلو قانع نه شي او له مخالفت او لجاجته لاس وانخلي او حقيقت ته سر ټيټ نه کړي، آيا بل داسې دليل او بله داسې وينا موندی شو چې د دوی قناعت پرې راشي او په قيامت ايمان راوړي؟!!

● که څوك په دغو دلائلو قانع نه شي، بل داسې دليل نه شو موندلی چې هغه قانع کړي. د دوی د انکار وجه دا نه ده چې کافي دلائل ئې نه دي اورېدلي، پوښتنو ته ئې ځواب نه دئ ويل شوی او اغېزمنه وينا او حکيمانه بلنه ئې نه ده تر غوږ شوې!! نه، تر ټولو مضبوطه او اغېزمنه وينا او تر ټولو قوي دلائل ورته ويل شوي، تر دې غوره وينا نه موندل کېږي، تر دې متين او قوي دليل نه شو پيدا کولی، دوی په هر صورت کې له ځان سره په کلکه پتېيلې چې په خپل انکار به ترپايه ټينګار کوي، داسې کس په دلائلو نه شو قانع کولی. څوك چې په دغو مضبوطو دلائلو قانع نه شي هغه به کومه وينا او کوم دليل وي چې دوی قانع او ايمان راوړلو ته چمتو کړي؟

● اصلي خبره دا ده چې په دوی کې د هدايت استعداد ځپل شوی، خپل هغه ظرفيتونه او وړتياوې ئې له لاسه ورکړې چې د هدايت لپاره ضروري وي، الله تعالی د دې وړ نه دي موندلي چې هدايت ئې په برخه شي، په الهي معيارونو کې او د الهي سننو مطابق د ضلالت مستحق دي، نو ځکه ئې الله تعالی په خپل طغيان کې لالهانده پرېږدي.

---

يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلسَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَىٰهَا ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ رَبِّى ۖ لَا يُجَلِّيهَا لِوَقْتِهَآ إِلَّا هُوَ ۚ ثَقُلَتْ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ لَا تَأْتِيكُمْ إِلَّا بَغْتَةً ۗ يَسْـَٔلُونَكَ كَأَنَّكَ حَفِىٌّ عَنْهَا ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ ٱللَّهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٨٧﴾

۱۸۷- د دې نېټې (قيامت) په اړه تا پوښتي چې د وقوع وخت ئې کله دئ؟ ووايه: علم ئې فقط زما له رب سره دئ، له ده پرته ئې بل څوك په خپل وخت کې نه

راڅرګندوي، په آسمانونو او زمکې کې درنه شوې، نه درته راځي مګر ناڅاپي، تا داسي پوښتي چي ګواکې ترې خبر يې، ووايه: علم ئې يوازي له الله سره دئ، خو اکثر خلك نه پوهېږي.

---

(۱۸۷)- دا آيت په مکرره توګه د قيامت علم الله تعالى ته مختص کوي او پر دې تأکيد کوي چي فقط الله به ئې په خپلې ټاکلې نېټې رابرسېره کوي او له دې پټ راز به پرده اوچتوي، ناڅاپي او له مخکينۍ اطلاع پرته به تاسو نيسي، د دې لپاره چي د قيامت حادثه هومره ستره ده چي ټول آسمانونه او زمکه به احتواء کوي، نو ځکه ئې په ټاکلې نېټې پوهېدل انسان ته ګران شوی. له پيغمبر عليه السلام ستاسو پوښتني داسي دي لکه چي هغه ترې خبر وي، په داسي حال کې چي له الله پرته هيڅوك پرې نه پوهېږي.

په دغه او تر دې وروسته آيتونو کې داسي څه ويل شوي چي د شرك د خبيث بوټي جرړې ئې قطع کړې، تاسو پوهېږئ چي د شرك ګنده ډنډ له دوو ناپاکو ويالو ډکېږي: له الله تعالى پرته بل څوك په غيب پوه ګڼل او له الله تعالى پرته بل څوك د ګټي او تاوان واکمن منل. مشرك هغه دئ چي د الله تعالى تر څنګ له نورو ذواتو د ګټي طمع او د تاوان دفع کولو انتظار لري او ګمان کوي چي هغوی له اسرارو خبر دي، له هغو مواردو ئې خبرولی شي چي ده ته ګټه يا تاوان لري. دلته پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چي خلکو ته څو خبري اعلان کړي: د قيامت د راتلو له نېټې خبر نه يم، هم ئې علم الله تعالى ته مختص دئ او هم ئې راوستل. په وروستنيو آيتونو کې په دې اړه مزيد وضاحت داسي دئ:

---

قُل لَّآ أَمۡلِكُ لِنَفۡسِي نَفۡعٗا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۚ وَلَوۡ كُنتُ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ لَٱسۡتَكۡثَرۡتُ مِنَ ٱلۡخَيۡرِ وَمَا مَسَّنِيَ ٱلسُّوٓءُۚ إِنۡ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٞ وَبَشِيرٞ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿١٨٨﴾

۱۸۸- ووايه: نه د ځان لپاره د ګټي (رسولو) واك لرم او نه د ضرر او تاوان (دفع کولو)، مګر هغه څه چي الله ئې وغواړي او که په غيب پوهېدی نو ډېر خير او ښېګڼه به مي تر لاسه کړې وه او تاوان به نه رارسېدو، زه خو مؤمنانو ته له يوه خبرداری ورکوونکي او زېری ورکونکي پرته بل څه نه يم.

---

(۱۸۸)- په دې مبارك آيت سره رسول الله صلى الله عليه و سلم د څو نورو خبرو په اعلان مأمور شوی:

- خلکو ته دا خبره په واضح الفاظو اعلان کړه چي زه نه د ځان لپاره د ګټي رسولو څه واك لرم او نه د ضرر او تاوان دفع کولو، د دې واك په بشپړه توګه له الله تعالى سره دئ،

که ځان ته کومه ګټه رسولی شم یا کوم ضرر دفع کولی شم نو دا همغه دي چي الله تعالی غوښتي، د دې پرېکړه هم د الله تعالی له لوري کېږي.

● زه له غیبه خبر نه یم، که په غیب پوهېدی نو تل او په هر کار کې به مي خیر او ښېګڼه په برخه کېده او هیڅکله به کوم تاوان نه رارسېدو. ځوك چي په غیب پوهېږي په هر کار کې به ګټه کوي او د تاوان له هر مورد به خوندي پاته کېږي، دا ځکه چي هغه پوهېږي څه ورته ګټه لري او څه ورته تاوان، د ګټې ځای ته ځان رسوي او د تاوان له ځایه ځان ساتي، خو تاسو وینئ چي زه د نورو انسانانو په څېر له کړاوونو، ستونزو، بیماریو او ناخوالو سره مخ کېږم، دا ښیي چي زه له غیبه خبر نه یم. ګورئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم؛ نه یوازې دا خبره اعلانوي چي په غیب نه پوهېږي بلکي دلائل ئې هم وړاندي کوي.

● زه فقط د الله تعالی له لوري یو استازی یم چي مأموریت مي نېکانو ته زېری او بدانو ته خبرداری ورکول دي.

هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ وَجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا لِيَسْكُنَ إِلَيْهَا ۖ فَلَمَّا تَغَشَّىٰهَا حَمَلَتْ حَمْلًا خَفِيفًا فَمَرَّتْ بِهِۦ ۖ فَلَمَّآ أَثْقَلَت دَّعَوَا ٱللَّهَ رَبَّهُمَا لَئِنْ ءَاتَيْتَنَا صَٰلِحًا لَّنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿١٨٩﴾ فَلَمَّآ ءَاتَىٰهُمَا صَٰلِحًا جَعَلَا لَهُۥ شُرَكَآءَ فِيمَآ ءَاتَىٰهُمَا ۚ فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿١٩٠﴾

۱۸۹- دی هغه ذات دئ چي تاسو ئې له یوه ژوي راپیدا کړئ او له هغه ئې جوړه ورته راپیدا کړه چي خوا ته ئې آرامښت ومومي، کله چي ئې (په خپلي غېږ کې) پټه کړه، په خفیف حمل سره حامله شوه، خو کله چي درنه شوه دواړو خپل رب ته دعاء وکړه چي که دي روغ راکړ حتماً به له شکر کوونکو وو. ۱۹۰- خو کله چي ئې روغ رمټ ورکړ په هغه څه کې ئې شریکان ورته ونیول چي ده ورکړی وو، خو الله له هغه څه ډېر لوړ دئ چي دوی ئې ورسره شریکوي.

(۱۸۹-۱۹۰)- په دې مبارکو آیتونو که هم د مخکیني مطلب په اړه لاندي مزید دلائل وړاندي شوي:

● هغه ځوك دئ چي انسان ئې له یوه متنفس ژوي پیدا کړ، له همدې ئې د ده جوړه پیدا کړه، نه یوازې دا چي همدا د انساني نسل د بقاء او دوام وسیله ده بلکي په داسي توګه ئې پیدا کړي چي یو د بل په خوا کې سکون او د زړه ډاډ تر لاسه کوي، د دوی تر

منځ دا الفت څه راپیدا کړی؟ دا د څه دقیقه منصوبه ده؟ آیا په دې کې هر د عقل خاوند ته څرګنده نښه او لارښوونه نه ده پرته او نه ورته وایي چې دا فقط د الله تعالی کار دئ؟

● کله چي دا دواړه سره یو ځای او ښځه حامله شي، په لومړي سر کې ئې بار سپك وي خو ورو ورو درووند شي، دغه مهال دواړه د یوه روغ رمټ اولاد طمع کوي، خو نه په خپله څه کولی شي او نه د زمکې پر سر له بل دا طمع کولی شي چې د خپلې خوښې روغ، سالم او صالح اولاد ئې په برخه شي، ناچار الله تعالی ته مخه کوي، د طمعې سترګې ئې هغه ته واوړي، نه یوازې د هغه په وړاندې د دعاء لاسونه اوچتوي بلکې ژمنه کوي چې که روغ رمټ اولاد ورپه برخه کړې نو د ده له شکرکوونکو بندګانو به وي.

● خو کله چې الله تعالی روغ رمټ اولاد ورکړي، د دې پر ځای چې دا یوازې د الله تعالی پېرزوینه وګڼي، د نورو د عنایت او رعایت نتیجه ئې ګڼي او په هغه څه کې چې الله تعالی دوی ته ورکړي نور شریك کړي او مشرك شي.

● دا په داسې حال کې چې الله تعالی له هغه څه ډېر لوړ دئ چې دوی ئې ورسره شریکوي.

---

أَيُشْرِكُونَ مَا لَا يَخْلُقُ شَيْـًٔا وَهُمْ يُخْلَقُونَ ﴿١٩١﴾ وَلَا يَسْتَطِيعُونَ لَهُمْ نَصْرًا وَلَآ
أَنفُسَهُمْ يَنصُرُونَ ﴿١٩٢﴾ وَإِن تَدْعُوهُمْ إِلَى ٱلْهُدَىٰ لَا يَتَّبِعُوكُمْ ۚ سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ
أَدَعَوْتُمُوهُمْ أَمْ أَنتُمْ صَـٰمِتُونَ ﴿١٩٣﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ عِبَادٌ
أَمْثَالُكُمْ ۖ فَٱدْعُوهُمْ فَلْيَسْتَجِيبُوا۟ لَكُمْ إِن كُنتُمْ صَـٰدِقِينَ ﴿١٩٤﴾ أَلَهُمْ أَرْجُلٌ
يَمْشُونَ بِهَآ ۖ أَمْ لَهُمْ أَيْدٍ يَبْطِشُونَ بِهَآ ۖ أَمْ لَهُمْ أَعْيُنٌ يُبْصِرُونَ بِهَآ ۖ أَمْ لَهُمْ
ءَاذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا ۗ قُلِ ٱدْعُوا۟ شُرَكَآءَكُمْ ثُمَّ كِيدُونِ فَلَا تُنظِرُونِ ﴿١٩٥﴾

١٩١- آیا هغه څه (ورسره) شریکوي چې هیڅ څه نه شي پیدا کولی او دوی په خپله پیدا کړی شوي؟ ١٩٢- او نه د دوی د مرستې توان لري او نه د ځان مرسته کولی شي؟ ١٩٣- او که ئې د هدایت لورې ته دروبلئ په تاسو پسې نشي درتلی، پرې برابره ده چې دروئې بلئ او که ساکت پاته شئ. ١٩٤- یقیناً هغه چې له الله پرته ئې (مرستې ته) دربلئ، ستاسو په څېر بندګان دي، نو دروئې بلئ او هغوی دې ستاسو دعاء قبوله کړي که رښتیني یئ. ١٩٥- آیا داسې پښې ئې دي چې پرې تګ کوي؟ او یا ئې داسې لاسونه دي چې پرې نیول کوي؟ یا ئې داسې سترګې دي چې پرېویني؟ یا ئې

داسي غوږونه دي چي پرې اوري؟ ورته ووايه: خپل شريکان مو دروبلئ، بيا زما په خلاف پټ تدبيرونه وکړئ او مهلت مه راکوئ.

(۱۹۱-۱۹۵)- دلته د شرك د نفي لپاره څو نور مضبوط او انکار نه منونکي دلائل زموږ مخي ته اېښودل شوي:

- آيا دا مشرکان داسي څه او څوك له الله تعالى سره شريکوي، مرستي ته يې رابلي او طمع ترې لري چي نه يوازي څه پيدا کولی نشي بلکي په خپله پيدا شوي؟! له محتاج مخلوق چي په خپل پيدايښت کي بل ته اړ وي څنگه داسي طمع لري؟!
- آيا هغه چا ته لاس لمن اوږدوي چي نه د دوی د مرستي توان لري او نه د ځان مرسته کولی شي؟
- شرك داسي ځای ته رسولي چي اوس له مړو او مجسمو د مرستي طمع لري، له هغه چا چي که ئې د هدايت لوري ته دروبلئ په تاسو پسي نشي درتلی، پرې برابره ده چي دروئې بلئ او که ساکت پاته شئ، ستاسو چيغو ته هم ځواب نه درکوي!!
- له الله تعالى پرته داسي څه مرستي ته دربلئ چي ستاسو په څېر بندگان دي، که ژوندي دي که مړه، که تاسو د دوی پر قبرونو زيارتونه جوړ کړي، جنډې مو پرې ودرولې او په درشل کي ئې د دعاء لاسونه لوړوئ او که تاسو د دوی مجسمې جوړي کړې او عبادت ئې کوئ، ستاسو په څېر بندگان دي، هيڅ ئې په وس پوره نه دي، که داسي نه وي نو دروئې بلئ او هغوی دي ستاسو دعاء قبوله کړي که رښتيني يئ.
- څنگه د بې روح، راکد او ساکت بتانو عبادت کوئ او له دوی د مرستي طمع لرئ؟! تاسو خو پښې، لاسونه، سترگي او غوږونه لرئ، چي تگ، نيول، ليدل او اورېدل پرې کوئ، دوی خو دا هم نه لري!!
- که دوی د څه کولو توان لري نو زما په خلاف مرسته ترې وغواړئ، ټول دروبلئ، بيا زما په خلاف پټ تدبيرونه وکړئ او مهلت مه راکوئ.

إِنَّ وَلِـِّۧىَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى نَزَّلَ ٱلْكِتَـٰبَ ۖ وَهُوَ يَتَوَلَّى ٱلصَّـٰلِحِينَ ﴿١٩٦﴾ وَٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَكُمْ وَلَآ أَنفُسَهُمْ يَنصُرُونَ ﴿١٩٧﴾ وَإِن تَدْعُوهُمْ إِلَى ٱلْهُدَىٰ لَا يَسْمَعُوا۟ ۖ وَتَرَىٰهُمْ يَنظُرُونَ إِلَيْكَ وَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ ﴿١٩٨﴾

۱۹٦- يقيناً چي زما مولا هغه الله دئ چي دا کتاب ئې نازل کړی او هغه د صالحانو پالنه او ساتنه کوي. ۱۹۷- او هغه چي له ده پرته ئې دربلئ او عبادت ئې کوئ نه ستاسو مرسته کولی شي او نه د ځان مرسته. ۱۹۸- او که د هدايت لوري ته ئې

درولبلئ نه ئې اوري، وينې ئې چې ستا لورې ته به ګوري خو څه نه ويني!!

(١٩٦-١٩٨)- د مخکينيو خبرو په دوام کې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي چې مشرکينو ته مزيد ووايي:

- زما مولا هغه الله دئ چې دا کتاب ئې نازل کړی او هغه د صالحانو پالنه او ساتنه کوي.
- تاسو له الله تعالی پرته د داسې څه عبادت کوئ او مرسته ترې غواړئ چې نه ستاسو مرسته کولی شي او نه د ځان مرسته.
- د داسې څه چې که ئې د هدايت لورې ته درولبلئ ستاسو غږ نه اوري، هر څومره غوره کار ته چې بلنه ورکړئ غبرګون نه ښيي او له ځايه نه خوځي، په رډو سترګو به درته ګوري خو څه به نه ويني!!

خُذِ ٱلْعَفْوَ وَأْمُرْ بِٱلْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ ٱلْجَٰهِلِينَ ﴿١٩٩﴾ وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ نَزْغٌ فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ ۚ إِنَّهُۥ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٠٠﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ إِذَا مَسَّهُمْ طَٰٓئِفٌ مِّنَ ٱلشَّيْطَٰنِ تَذَكَّرُوا۟ فَإِذَا هُم مُّبْصِرُونَ ﴿٢٠١﴾ وَإِخْوَٰنُهُمْ يَمُدُّونَهُمْ فِى ٱلْغَىِّ ثُمَّ لَا يُقْصِرُونَ ﴿٢٠٢﴾

١٩٩- عفو اختيار کړه، په معروف ګمارنه کوه او له جاهلانو ډډه کوه. ٢٠٠- او که د شيطان کومه وسوسه دې وسوسه کړي نو الله ته پناه يوسه، بې شکه چې هغه ښه پوه اورېدونکی دئ. ٢٠١- يقيناً هغه کسان چې تقوی ئې کړې، کله چې ئې د شيطانانو کوم طائف مس کړي (کوم شيطاني تلقين ورته وکړي) سملاسی متوجه شي، نو هغه وخت ئې بصيرت په برخه (او د خپلې لارې د پېژندو وړ) شي. ٢٠٢- او ورونه ئې (داسې دي) چې په بې لاريتوب کې ئې راکاږي او هيڅ کمي نه کوي.

(١٩٩-٢٠٢)- دلته رسول الله صلى الله عليه و سلم او د ده له لارې ټولو مؤمنانو ته د جاهلو مشرکينو سره د چلن په اړه څو سپارښتنې شوې:

- له دوی سره د عفوې چلن غوره کړه.
- په معروف ګمارنه او نېکو کارونو ته بلنه ورکوه.
- له جاهلانو ډډه کوه او له دوی سره په بې فائدو لانجو او بحثونو کې مه ښکېل کېږه.
- که شيطان په خپلو وسوسو وځورولې، الله تعالی ته پناه يوسه، که کومه شيطاني

وسوسه تا نامناسب غبرګون ته وهڅوي، بې حوصلې دي کړي، له دعوت لاس اخيستو ته دي اړ کړي، يا له جاهلانو سره په لانجو کې ښکېل کېدو ته دي تشويق کړي، نو الله تعالی ته پناه يوسه، بې شکه چې هغه ښه پوه اورېدونکی دئ، د بنده له حاله خبر او دعاګانې ئې اوري،

● د متقي او پرهېزګارو مؤمنانو شأن دا دئ چې کله کوم شيطان کوم شيطانی تلقين ورته وکړي، سملاسی متوجه شي، الله تعالی ورپه ياد شي، په همدې سره ئې بصيرت په برخه او د سمي لاري او سمي کړنې د پېژندو وړ شي.

● خو د شيطانانو ورونه، هغه چې له شيطان سره نژدې اړيکي لري، ځان ترې نه ساتي بلکې دوستي ورسره کوي، د دوی حالت داسي دئ چې شيطان ئې لارښود شي؛ او د بې لارېتوب په تيارو کې ئې په ځان پسي راکاږي.

وَإِذَا لَمْ تَأْتِهِم بِآيَةٍ قَالُوا لَوْلَا اجْتَبَيْتَهَا ۚ قُلْ إِنَّمَا أَتَّبِعُ مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ مِن رَّبِّي ۚ هَٰذَا بَصَائِرُ مِن رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٢٠٣﴾

٢٠٣- او کله چې ته کوم آيت ورته رانه وړې، وايي: ولې دي غوره نه کړ؟ ووايه: زه خو فقط د هغه څه متابعت کوم چې زما د رب له لوري راته وحي شوي، دا ستاسو د رب له لوري د بصيرت او پوهي وسيله او د مؤمنانو لپاره لارښود او رحمت دئ.

(٢٠٣)- په تفسيرونو کې د دې آيت په اړه دوه د پام وړ توجيه او تعبير موموږ:

● کله کله به مخاطبينو له رسول الله صلی الله عليه و سلم د خپلي خوښي معجزې غوښتې، چې داسي معجزه به ورته وړاندي نشوه نو دوی به ويل: ولې ئې نه شې وړاندي کولی؟ پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چې دوی ته ووايي: زه هغه څه کوم چې د الله تعالی له لوري پرې ګمارل شوی يم، هغه څه تاسو ته وايم چې ما ته ئې وحي شوې، دا کتاب د پوهي او بصيرت منبع او د هغه چا لپاره لارښود او الهي پېرزوينه او رحمت دئ چې ايمان راوړي.

● کله کله به د وحي راتګ وځنډېدو، مخالفينو به تبليغات پيل کړل چې پيغمبر (عليه السلام) ولې دا لړۍ بنده کړې او نوي آيتونه نه وړاندي کوي؟ پورتنی ځواب دوی ته ورکړی شوی.

د آيت له وروستۍ برخي معلومېږي چې لومړی تعبير دقيق او صحيح دئ، ځکه د معجزې د غوښتني په ځواب کې ويل شوي چې دا الهي کتاب هر ايمان راوړونکي ته د بصيرت منبع، بشپړ لارښود او الهي پېرزوينه ده، عجيبه ده چې تاسو د داسي قرآن په شته والي کې بله معجزه غواړئ!!

وَإِذَا قُرِئَ ٱلۡقُرۡءَانُ فَٱسۡتَمِعُواْ لَهُۥ وَأَنصِتُواْ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ﴿٢٠٤﴾

٢٠٤- او كله چې قرآن لوستل كېږي نو ورته غوږ شئ او چوپ اوسئ چې رحم درباندې وشي.

(٢٠٤)- په دې مبارك آيت كې د قرآنكريم د تلاوت او استماع په اړه موږ ته لارښوونه شوې:

- كله چې قرآن لوستل كېږي بايد په غور سره ورته غوږ شو.
- شور او ځوږ بند كړو، چوپتيا غوره كړو.
- په دې سره به الله تعالی د خپل رحمت او پېرزوينو سيوری پر موږ وغوړوي، په قرآن د پوهېدو شرف به راپه برخه كړي، د هدايت دروازې به زموږ پر مخ پرانيزي.

وَٱذۡكُر رَّبَّكَ فِي نَفۡسِكَ تَضَرُّعٗا وَخِيفَةٗ وَدُونَ ٱلۡجَهۡرِ مِنَ ٱلۡقَوۡلِ بِٱلۡغُدُوِّ وَٱلۡأٓصَالِ وَلَا تَكُن مِّنَ ٱلۡغَٰفِلِينَ ﴿٢٠٥﴾

٢٠٥- او (تل) سبا او ماښام، له ځان سره د خپل رب ذكر كوه، په زاريو او وېرې سره او له لوړ غږ راټيټ او له غافلانو مه كېږه.

(٢٠٥)- دلته د الله تعالی د ذكر په ارتباط څو مهمې او اساسي سپارښتنې شوې:

- تل د الله تعالی په ياد او ذكر مشغول اوسه، شپه ورځ، سبا او ماښام ئې يادوه.
- له ځان سره او په خپل زړه كې ئې يادوه.
- په زاريو او زګېرويو سره ئې يادوه، ستا ذكر بايد له زاريو او وېرې سره توأم وي، غږ دې بايد د زاري كوونكو په څېر وي، د يوه محتاج او مضطر بنده په څېر، له دې احساس سره چې په هر څه كې الله تعالی ته محتاج يې، د ذكر په حال كې بايد ستا په الفاظو، غږ او څېرې كې د وېرې او خوف آثار څرګند وي، داسې چې زړه دې پوړېږي، داسې چې د يوه ستر ذات په وړاندې ولاړ يې، هغه ستا غږ اوري، حركات دې ګوري او د زړه كيفيت دې ورته معلوم دئ.
- د غافلانو په څېر مه كېږه، چې خپل رب هېر كړې يا ئې په داسې حالت كې نوم په خوله اخلې چې زړه دې ترې غافل وي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِهِۦ وَيُسَبِّحُونَهُۥ وَلَهُۥ

﴿يَسۡجُدُونَ۩ ٢٠٦﴾

٢٠٦- يقيناً هغه چې ستا د رب په خوا کې (مقرب) دي د ده له عبادت سرغړاوی او لويي نه کوي، د ده تسبيح وايي او ده ته تندی پر زمکه ږدي.

(٢٠٦)- دا آيت د الله تعالی د مقربو بندگانو حالت بيانوي او فرمايي:

- د ده له بندگۍ لويي او سرغړاوی نه کوي.
- د ده تسبيح وايي، د ده ذکر کوي، له هر عيب او نقص ئې لوړ گڼي.
- ده ته تندی پر زمکه ږدي، داسې لکه يو محتاج او مضطر بنده چې د بل پښو ته لوېږي او بخښنه ترې غواړي.

دا آيت د قرآنکريم يو له هغو آيتونو دئ چې په لوستلو او اورېدو سره ئې بايد د تلاوت سجده وشي.

دا مبارك آيت د دې سورې لپاره يوه ښکلې او جامع تتمه ده، د سورې اساسي او محوري مضامين څلور دي:

- د الهي کتاب متابعت، د الله تعالی پر ځای بل څوك متولي نه نيول او متابعت ئې نه کول.
- چا چې د الهي کتابونو مخالفت کړی په الهي عذاب اخته شوي.
- له ټولو د پوښتنې وخت خامخا راتلونکی دئ.
- د حساب و کتاب په ورځ چې د چا تله درنه وخته بريالی شو او د چا چې تلل شوي سپك وختل خاسر او نامراد شو.

دغه وروستی آيت هم وايي: د الله تعالی خوا ته مقرب بندگان هغه دي چې د ده له عبادت سرغړاوی او لويي نه کوي، د ده تسبيح وايي او ده ته تندی پر زمکه ږدي. يعنی څلور کارونه انسان ته هغه لوړ مقام ورپه برخه کوي چې د الله تعالی د مقربو بندگانو په زمره کې ونيول شي: ١- د الله تعالی عبادت، ٢- د ده په وړاندې له تکبر او لويي ډډه، ٣- د ده ذکر او تسبيح ٤- او د ده بشپړ اطاعت او په وړاندې ئې تندی پر زمکه اېښودل.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَن لَّا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

١٣٨٦\١١\١٤

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# الانفال

## د سورې معرفي

د دې مبارکې سورې نوم الأنفال دئ، چې د سورې له لومړي آيت اخيستل شوی، ۷۵ آيتونه لري، په مدينه منوره کې او د بدر له جګړې وروسته نازله شوې، د ډېری آيتونو فواصل ئې د لومړيو دوو آيتونو (مؤمنين) او (يتوکلون) ته ورته دي؛ او د څو آيتونو ئې (اقدام) او (عقاب) ته ورته. د بحث اصلي موضوع ئې په جنګ پورې تړلې اساسي قضايا دي، يو جهادي حزب چې د جګړې په ارتباط کومو اساسي لارښوونو ته ضرورت لري ټولې په دغې جامع سوره کې راخلاصه شوې، بحث د غنائمو په اړه د مؤمنانو له پوښتنې پيل شوی، په ځواب کې ورته ويل شوي چې غنائم په اصل کې په الله تعالی او د ده په پيغمبر پورې تعلق لري، د غنائمو لاس ته راوړل به نه ستاسو هدف وي او نه به ئې د ځان حق ګڼئ، داسې نه چې د غنائمو پر سر په خپلمنځيو شخړو لاس پورې کړئ، ورپسې په همدې ارتباط د واقعي مؤمنانو څو مهمې ځانګړتياوې ښودل شوې، په همدې لړ کې د بدر جګړه د يوې عملي بېلګې په توګه وړاندې شوې او ويل شوي چې د جګړې له پيل مخکې په تاسو کې ځيني داسې ول چې د جګړې په لور د خوځېدو په مهال سختې وېرې خپل وزر پرې خور کړی وو، داسې ئې انګېرله لکه چې د جګړې په ميدان کې مرګ خپل کومی ورته پرانيستی وي، په مجموعي توګه ستاسو وضعيت داسې وو چې غوښتل مو د دښمن د فوځ پر ځای د هغه له تجارتي قافلې سره مخامخ شئ، د دښمن له مجهز فوځ سره د مخامخېدو لپاره تيار نه وئ، خو الله تعالی غوښتل د بدر په ميدان کې ستاسو لومړنۍ نښته د قريشو له مجهز فوځ سره وي، ستاسو په لاس ئې له ماتې سره مخامخ کړي، همدا بريا د حق د غلبې او د باطل د زوال پيلامه شي او په دې سره مؤمنانو ته دا لارښوونه کوي چې له دښمن سره په جګړو کې لومړۍ نښته خاص او ځانګړی اهميت لري، په دې کې بريا نورو برياوو ته لار پرانيزي، ورپسې د مسلمانانو په ليکو کې د پرېشانۍ او وېرې هغه حالت انځوروي چې د دښمن د مجهز فوځ په ليدو سره رامنځته شو، ليدل ئې چې د دښمن شمېر تر دوی زيات او وسائل او تجهيزات ئې د دوی په پرتله څو برابره، دوی د جنګ لپاره کافي تياری نه درلود، په تجارتي قافلې د بريد لپاره راوتلي وو، ناڅاپه د داسې دښمن له مجهز فوځ سره مخامخ شول چې په نظامي، سياسي او اقتصادي لحاظ ئې پر ټول حجاز

او په هغه کې مېشت عرب قبائلو حکومت کاوو، هیچا ئې د مقابلې جرأت نه کولو، قرآن فرمايي چي په دې وخت کې تاسو خپل رب ته استغاثه کوله، په زاريو زاريو مو مرسته ترې غوښته، الله تعالی ستاسو دعاء قبوله کړه، سکينه ئې درباندي نازله کړه، د وېري او خوف حالت ئې په ډاډ او اطمئنان بدل کړ، ملائکي ئې ستاسو مرستي ته درولېږلې، همدا مغرور او مجهز دښمن ئې له ماتي سره مخامخ کړ. له دې وروسته مؤمنانو ته د مهمو او اساسي سپارښتنو او لارښوونو لړۍ پيل کېږي، چي مهمي برخي ئې دا دي:

- له دښمن سره د نښتي په مهال د جګړې له میدانه له تېښتي ډډه وکړئ، خپل سنګر يوازې په دوو صورتونو کې پرېښودی شئ: يو سنګر په بل سنګر بدلول او له بلي ډلې سره يو ځای کېدل.
- برياوې د خپل زور ځواك او تدبير نتيجه مه ګڼئ، دښمن ته ماته ورکول د خپلو متو زور او توري وهلو نتيجه مه بولئ، دا په بې ځايه غرور منتج کېږي، تل خپلي برياوې د الله تعالی پېرزويني ګڼئ.
- د الله تعالی او د هغه د پيغمبر اطاعت کوئ، په جنګ کې ټول هغه احکام په کلکه مراعاتوئ چي د خپل رب له لوري درکړی شوي، ستاسو ژوند، بقاء او بريا په همدې کې ده.
- له هغو فتنو ځان وساتئ چي يوازې د ظالمانو لمن نه نيسي بلکي عام مصيبت ترې جوړېږي.
- تل سختي شپې ورځې، خپل ضعف، کمزوري، له دښمن وېره په ياد ساتئ او د الله تعالی د تأييد شکر کوئ چي ستاسو ضعف او کمزوري ئې په ځواکمنۍ بدله کړه، ستاسو خوف او وېره ئې له منځه يووړه، تاسو ته ئې په زمکې کې تمکين درپه برخه کړ او د لوږې او فقر پر ځای ئې پاکيزه او پرېمانه رزق درکړ.
- له خيانتونو ځان ساتئ، که دا له الله تعالی او د ده له پيغمبر سره په خپلې معاملې کې وي او که په خپلو منځونو کې. پام کوئ چي د مال طمع او له اولاد سره مينه تاسو خيانت ته ونه هڅوي.
- که تقوی ولرئ او له دغو ګناهونو ځان وساتئ نو الله تعالی به تاسو ته فرقان، د حق او باطل د تفکيك او تشخيص بصيرت درپه برخه کړي، ستاسو حالت به اصلاح او روغ کړي، ګناهونه به مو درووبخښي او له خپل ستر او عظيم فضل به تاسو برخمن کړي. د دغه مطلب لپاره د پيغمبر عليه السلام په ضد د قريشو د هغي هڅي بې نتيجې پاته کېدا د يوې بېلګې په توګه وړاندي کوي چي غوښتل ئې پيغمبر عليه السلام ونيسي، وئې وژني يا ئې تبعيد کړي، خو تدبير ئې خنثی شو او خپلو ناولو موخو ته ونه رسېدل، الله تعالی پيغمبر عليه السلام ته داسي فراست ورپه برخه او داسي تدبير وروښود چي د دښمن توطئه شنډه کړي، د دوی له منګولو ئې وژغوري او هغي مدينې ته پناه يوسي چي څو

کاله وروسته د یوه ستر هېواد پلازمېنه ترې جوړه شوه.

په همدې لړ کې د قریشو نورو مخالفتونو او لجاجتونو ته اشاره کوي، چې ځینې ئې دا دي:

- د الله تعالی کلام ته ئې د اساطیرالاولین خطاب کاوو او ادعاء ئې کوله چې دا د انسان کلام دئ او موږ هم کولی شو داسې کلام وړاندې کړو.
- ځان ئې دومره په حقه ګڼلو او خپل مذهب ئې داسې رښتینی او الله تعالی ته مقبول مذهب او تر اسلام غوره چې ویل به ئې: که دا پیغمبر او د ده له لوري وړاندې شوی دین حق وي نو الله دې پر موږ له آسمانه ډبرې ووروي!! ولې زموږ له سخت مخالفت سره سره الهي عذاب پر موږ نه نازلېږي؟! دا ښيي چې نه دا پیغمبر د الله له لوري رالېږل شوی او نه دا دین!! دوی ته په ځواب کې ویل شوي: د عذاب د ځنډېدو وجوهات دوه دي: په تاسو کې د پیغمبر علیه السلام شته والی او د داسې خلکو شته والی چې له الله تعالی به بخښنه غواړي او ایمان به راوړي، که دلته د پیغمبر علیه السلام مأموریت پای ته ورسېږي او درنه ولاړ شي او هغه کسان چې ایمان به راوړي له تاسو بېل شي، نو یقیناً الهي عذاب به خپل وزر درباندې وغوړوي.
- ولې به په الهي عذاب نه اخته کېږي چې له مسجد الحرام خلك منع کوي، ځان د بیت الله شریف متولیان ګڼي خو د دې مقام اهلیت په کې نشته، دا مقام خو یوازې له متقیانو سره ښايي. دوی خو د بیت الله په خوا کې شپېلکیو او تاړو (چکچکو) ته د عبادت او لمونځ نوم ورکوي، خپلې شتمنۍ په دې کې لګوي چې خلك د الله تعالی له لارې راوګرځوي.

ورپسې مسلمانانو ته سپارښتنه کوي چې له کافرانو سره په خپل چلن کې څو ټکې مراعات کړي:

- له مخالفت او دښمنۍ لاس اخیستو ته ئې راوبلي، ورته ووايي: که له خپل کفر، شرك او له حق سره له دښمنۍ لاس واخلئ دا درته غوره ده، الله تعالی به ستاسو مخکیني ګناهونه وبخښي او که خپل ضد او عناد ته دوام ورکړئ نو پایله مو همغه ده چې مخکیني کافران ورسره مخامخ شوي.
- تر هغه د دوی په ضد وجنګېږئ چې فتنه او د کفر سلطه پای ته ورسېږي او د الله تعالی له دین پرته بل دین، مسلك او نظام پاته نه وي.
- مجاهدینو ته ویل شوي چې د غنیمتونو پنځمه برخه به الله تعالی او د هغه پیغمبر ته سپارل کېږي چې د مصرف موارد او مستحقین ئې دا دي: پیغمبر علیه السلام او خپلوان ئې، یتیمان، مسکینان او له خپل ټاټوبي لرې محتاجان، دا آیت ښيي چې د دولت په چارو کې مصروف اړ کسان په دې ضمن کې راځي.
- د بدر په غزا کې برخه وال مجاهدین دې ته متوجه کوي چې دا جګړه او په هغې کې

ستاسو بریا د الله تعالی په خوښه او اراده تر سره شوې، ځان ته ئې مه منسوبوئ، د غنیمتونو او نورو لاس ته راوړنو پر سر له شخړو او نزاع ځان وساتئ.

● له دښمن سره د نښتو په مهال ثابت قدم او مضبوط اوسئ، الله تعالی ډېر یاد کړئ چې بریا مو په برخه شي، د الله تعالی او د پیغمبر علیه السلام اطاعت وکړئ، له نزاع ډډه وکړئ چې قوت او هیبت مو ختموي، صبر ولرئ چې الله تعالی له صبر کوونکو سره دئ، د هغو کسانو په څېر مه کېږئ چې کبر، ځان ښودنې او د الله له لارې د خلکو مخنیوي جګړې ته هڅولي، همغه چې شیطان دوکه کړي او د جګړو پایلو ته ئې هیله من کړي.

● دوی ته ویل شوي چې خپل عاقبت د فرعون د پایلې په هینداري کې وګورئ.

● د هغه دښمن په ضد قاطع او پرېکنده چلن چې په جنګ اصرار کوي او خپلو ژمنو ته درناوی نه لري خو له هغو سره چې په خپلو ژمنو ودرېږي له هر راز خیانت ډډه کول او د معاهدو او تړونونو صادقانه درناوی کول.

● د دښمن په ضد ټول ممکن وسائل او تجهیزات برابرول، په دې اړه د کافي او ضروري لګښتونو سپماوی نه کول.

● که دښمن روغې جوړې ته غاړه ږدي، وړاندیز ته ئې مثبت ځواب ورکړئ او پر خپل رب توکل ولرئ، د دوی له غدر او خدعې د وېرې په وجه د روغې جوړې وړاندیزونو ته له منفي ځواب ډډه وکړئ، الله تعالی به ستاسو مرسته کوي، مؤمنان به ستاسو خوا ته راغونډېږي..

● یوازې پر خپلو مؤمنو ملګرو اکتفاء وکړئ، ستاسو اصلي ځواک همدغه باایمانه مجاهدین دي.

● مؤمنانو ته ویل شوي چې که د دښمن د جنګیالیو شمېر تر تاسو لس ځلې زیات وي، وېره ترې مه لرئ، په میړانې او صبر سره ئې مقابله وکړئ، د قوی ایمان غوښتنه همدا ده، لږ تر لږه د دوه برابره دښمن له مقابلې ډډه مه کوئ، الله تعالی به تاسو ته بریا درکوي.

● د جګړې په مهال باید ستاسو جدي او اساسي توجه دې ته وي چې دښمن په بشپړه توګه وځپئ، له پښو ئې وغورځوئ، د دښمن له ځپلو مخکې بل څه ته اعتناء مه کوئ، نه غنائمو ته او نه د اسیرانو نیولو ته.

● یوازې هغه مؤمنان خپل اولیاء وګڼئ چې هجرت ئې کړی، د الله په لار کې په خپل سر او مال جهاد کوي، مهاجر ته ئې پناه ورکړې او د مجاهد ملګرتیا او مرسته کوي، هغه مؤمنان چې له هجرت ئې ډډه کړې که مرسته درنه وغواړي په دې شرط ئې مرسته وکړئ چې دا د هغه چا په ضد نه وي چې له تاسو سره د عدم تعرض تړون لري.

● حقیقي مؤمنان هغه دي چې په صادقانه توګه ئې ایمان راوړی، د خپل ایمان په حکم

ئې هجرت کړی، د الله په لار کې ئې په خپل سر او مال سره جهاد کړی، مهاجر ته ئې پناه ورکړې او د مجاهد مرسته او ملګرتیا ئې کړې، څوك چې له دوی سره وروسته یوځای کېږي الله تعالی به ئې د دوی په ډله کې محسوبوي.

د دې سورې تفسیر ته له ننوتو مخکې باید وګورو چې د بدر لویه مخامخ نښته څنګه رامنځته شوه، مسلمانان په څه حالت کې وو او دښمنان ئې په څه حالت کې، د دې جګړې وجه څه وه او نتائج ئې څه؟

د پیغمبر علیه السلام له بعثت وروسته د ده دعوت په عمومي توګه په دوو برخو او په خاصه توګه په څلورو برخو وېشلی شو، په عمومي توګه مکي دور چې نژدې دیارلس کاله او مدني دور چې پاته لس کلونه احتواء کوي، په دغو دواړو مرحلو کې لاندې څلور پړاوونه تر سترګو کېږي:

پیغمبر علیه السلام د مکې په دیارلسو کلونو کې یوازې د دعوت په کار مصروف وو، د دې دعوت ځانګړتیاوې دا وې:

- د دعوت اصلي مضمون قرآن وو، بلنه قرآن ته وه، ترکیز پر قرآن وو، دوست او دښمن ته قرآن وړاندې شوی، خلکو ته د ده وینا او پیغام قرآن وو، د ټولنې په ناخوالو اعتراض ئې د قرآن په استناد وو، استدلال ئې پر قرآن وو، هغه چا به ایمان راوړلو چې د قرآن لارښوونې ئې د نجات وسیله موندلې او د قرآن په مضبوط او قانع کوونکې استدلال به قانع شوی وو.

- مؤمنانو ته د دې اجازه نه ورکول کېده چې د دښمن په ضد په کوم عملي اقدام لاس پورې کړي، کعبه ئې له بتانو ډکه لیدله خو عکس العمل ئې نه ښودو، د کعبې په خوا کې به ئې بربنډ طوافونه لیدل، د ظلم، جهل او فساد لړزوونکې صحنې به ئې تر سترګو کېدې خو غبرګون ئې نه ښودو، د پیغمبر علیه السلام یاران نیول کېدل، تعذیببدل او وژل کېدل خو هغه به ورته ویل: صبر وکړئ، چا ته اجازه نه وه چې وسلې ته لاس کړي، په پټه یا په ښکاره توګه کوم اقدام وکړي، خو د دې تر څنګ د ټولنې پر ټولو ناخوالو کلکې نیوکې او شدید اعتراضات کېدل، که د بتانو د نسکورولو هڅه ممنوع وه، خو خلکو ته ئې ویل چې ابراهیم علیه السلام دا بتان نسکور کړي وو، د قریشو ظلمونه ئې د اصحاب الاخدود په قصې کې انځورول، د دوی د مفسدو مشرانو فساد ئې د یوسف علیه السلام په قصې کې او د عزیز مصر او د هغه د مېرمنې په څېرې کې تمثیلول، خلکو ته ئې ویل: ستاسو مذهبي مشرانو ستاسو د جد دین تحریف کړی، په الله تعالی باندې افتراء کوي، له خپله ځانه ئې حلال او حرام وضع کړي، له دین ئې دام جوړ کړی، له سامري سره ئې تشبیه کول، د دوی شتمن ئې له قارون سره تشبیه کول، چې د خپل قوم په ضد له فرعون سره ملګری شوی وو. همدا وجه وه چې د قریشو قومي او مذهبي مشرانو او شتمنو د پیغمبر علیه السلام دعوت ته د خطرناك ګواښ په سترګه کتل او د هغه د مخنیوي او ځپلو لپاره ئې ملا تړله.

• که څه هم پيغمبر عليه السلام خلك يوې داسي عقيدې ته رابلل چي قريش ورسره آشنا ول، پر الله تعالی ایمان، د قیامت پر ورځي او په اخروي مکافات او مجازات باور، پر الهي کتابونو، پيغمبرانو او فرشتو ايمان، دا موضوعات خو دوی ته نوي نه وو، له يهودو او نصرانيانو ئې دا خبري اورېدلې، دوی خو د اسمعیل عليه السلام اولاد ول، ځان ئې د ابراهيم عليه السلام د دين پلويان، د بيت الله متوليان او د حجاجو خادمان ګڼل، کله چي ئې دا خبري له يهودانو او نصرانيانو اورېدلې د هغوی په خلاف ئې هيڅ غبرګون نه دئ ښودلی، خو کله چي پيغمبر عليه السلام همدا خبري هغوی ته وړاندي کړې شديد مخالفت ته ئې ملا وتړله، دا مخالفت ورو ورو دومره تشديد شو چي د پيغمبر عليه السلام د يارانو په ځورولو، بندي کولو او وژلو ئې لاس پوري کړ، محاصرې او مقاطعې ئې اعمال کړې، حتی د پيغمبر عليه السلام د وژلو لپاره ئې ملا وتړله، د دې مخالفتونو وجه څه وه؟ آيا وجه ئې اعتقادي وه، له خپل پلرني دين او مذهب د دفاع لپاره ئې دا کار کولو؟ که ئې وجه سياسي وه، د قريشو سياسي، قومي او مذهبي مشرانو دا دعوت د خپل زعامت او قيادت لپاره ګواښ ګڼلو؟ که ئې اقتصادي وجوهات درلودل، د قريشو مذهبي مشرانو او شتمنو خپلي ګټې په خطر کې وليدلې نو ځکه ئې د مخالفت لار غوره کړه؟ حقيقت دا دئ چي پيغمبر عليه السلام د ټولني په ټولو برخو کې ژوره تبديلي او بشپړ انقلاب غوښتو، دوست او دښمن د ده له پيغام او دعوت هم دا انتباه اخيستله، ده خلکو ته ويل له الله تعالی پرته نور ټول معبودان نفي کړئ، طاغوت ته سر مه ټيټوئ، د تحاکم او د خپلو شخړو د حل و فصل لپاره طاغوت ته مه دروميږئ، الله ته رجوع وکړئ، قومي او نژادي توپيرونه ختم کړئ، خلك ټول د يوه الله بندګان دي، نسل او نژاد ئې يو دئ، په رګونو کې ئې يوه وينه ده، هيڅوك پر بل له قومي، سياسي او اجتماعي پلوه هيڅ امتياز نه لري، هغه څوك غوره دئ چي تر بل ئې تقوی زياته وي، نور معيارونه جعلي دي، ټول تر پښو لاندي کړئ. د قريشو مشرانو ته دا خبري د خطر زنګ وو، د شديد مخالفت اصلي وجه ئې دغه وه، که د پيغمبر عليه السلام دعوت د يهودو او نصرانيانو د مذهبي مشرانو په څېر وی، د تبديلي او انقلاب بلنه ئې نه ورکولی، نو قريشو به حتماً د تسامح او زغم همغسي معامله ورسره کوله چي له يهودانو او نصرانيانو سره ئې کوله.

• د تعذيبونو او ځورونو څو طبيعي پايلي وې: ١- هغه څوك د پيغمبر عليه السلام خوا ته راتلو او د ده ملګرتيا به ئې کوله چي د دې دعوت په حقانيت به په بشپړه توګه پوه شوی وو، ايمان به ئې د زړه تل ته پرېوتی وو، قرباني ته به چمتو وو او په دې لار کې به د کړاوونو او ستونزو ګاللو ته تيار وو، پيغمبر عليه السلام چي د نړۍ د زعامت لپاره د کوم حزب جوړول غوښتل او دې حزب ته چي کومي ستري ستري دندي ورپه غاړه وې، بايد په کړاوونو کې له روزل شوو مجاهدينو جوړ شوی وی، داسي مجاهدين چي هيڅ حالت ئې له خپلي لاري نشي په شاکولی، په هر حالت کې خپل نفس مهارولی شي، نه د احساساتو تر

اغېز لاندي راځي او نه ئې د انتقام جذبه د دښمن په ضد څه کولو ته هڅولی شي، هر کار ئې د ايمان او عقيدې په حکم وي او په هر حالت کې خپل دين ته منقاد او اصولو ته تسليم. ۲- دې حالت له يوې خوا د قريشو د ظالمو او بې رحمو مشرانو قساوت او بې رحمي خلکو ته بربنډوله، د دوی په ضد ئې د ولس کرکه او نفرت راپارولو او له بلې خوا ئې د مسلمانانو په نسبت د عام ولس خواخوږي زياتوله او دوی ئې دې حقيقت ته متوجه کول چې وګوري په دې نوي دين کې څه اسرار دي، څنګه او ولې دا خلك د دغې عقيدې لپاره دومره سخت سخت کړاوونه ګالي، دوی ئې د دې دين ژورې مطالعې ته هڅول. کله چې به هغوی د قرآن لوستلو او د هغه په محتوی کې د غور کولو پړاو ته ورسېدل، بيا نو په قرآن کې دا ستره او قوي جاذبه وه چې خپل مخاطب جذب کړي، قناعت ورکړي او منلو ته ئې چمتو کړي.

- دين د ژوندد ټولو برخو د تنظيم لپاره د يوازيني لارښود په توګه منل، په بشپړه توګه په دين کې داخلېدل، په فکري، اعتقادي، فردي او اجتماعي برخو کې الهي دين ته بشپړ انقياد، له بل هر دين، نظام او مسلك، له کفر، شرك، ظلم او فساد خپل برائت اعلانول، داسي دعوت چې په ټولني مسلط ځواکونو نه شو زغملی، د تعذيب، زندان، مقاطعې، محاصرې او د تبعيد له ګواښونو سره مخامخ دعوت، چې سازش او مصالحه نه مني، چې له دښمن سره د روغې جوړې خبره په کې نه وي، چې له حاکم نظام د کامل بغاوت او عصيان بلنه ورکوي، د دې نظام له فکري او اعتقادي بنسټونو د برائت شعار ورکوي. داسي دعوت نه چې له نظام ئې مجوز تر لاسه کېږي او يوازې هغه خبره کوي چې واکداران ئې زغملی شي او نظام ئې اجازه ورکوي. دا دعوت به کله سري وو او کله علني، په دواړو صورتونو کې ئې خپل خصوصيات حفظ کړي. دا پړاو تر ټولو ستونزمن پړاو وو، موخه ئې د يوه داسي صالح ټولګي روزنه وه چې غړي ئې نه يوازې دې نتيجې ته رسېدلي چې پر ټولني حاکم نظام پر جهل او ظلم ولاړ دئ، د بد مرغيو عامل او سعادت ته د رسېدو په لار کې خنډ دئ، بلکې پر ټولني د مسلط فکري، اعتقادي، سياسي او اجتماعي نظام سرغړاوي او د دې نظام په ضد مبارزې ته چمتو وي، په دې لټه کې وي چې هم ځان او هم نور د دې نظام له بدو پايلو وژغوري، نوی دعوت ئې سعادت ته د رسېدو يوازينۍ لار موندلې، په دې يوه شوي چې يوازې له دې لاري کولی شي سعادت او نېکمرغي تر لاسه کړي، د دعوت حقانيت داسي ورته جوت شوی چې د زړه تل ته ئې لوېدلی، هيڅ څه نشي کولی د دې دعوت د حقانيت په اړه د دوی په زړه کې شکوك او شبهات راولاړ کړي.

- د مکې دور په وروستيو دريو څلورو کلونو کې د دښمن مخالفتونه داسي پړاو ته ورسېدل چې پيغمبر عليه السلام او ملګري ئې له مکې هجرت ته اړ کړل، پيغمبر عليه السلام د مهجر او ډاډمن پناه ځي په لټه کې وو، داسي خلك ئې لټول چې دې دعوت ته خپله غېږ پرانيزي، د طائف له خلکو ئې دا انتظار درلود، په همدې موخه دوی ته ورغی

خو نه يوازې منفي ځواب ئې تر لاسه کړ بلکې په ډېرو استقبال شو، د حبشې په اړه ئې دا معلومات تر لاسه کړل چې واکمن ئې زړه سواندی انسان دئ او عدالت خوښوي، خپلو مظلومو يارانو ته ئې اجازه ورکړه چې هلته هجرت وکړي، ځيني ياران ئې مدينې ته ولاړل، د قرآن رڼا د دوی په مبارکو لاسونو هلته انتقال شوه، هلته ئې په لنډې مودې کې ګڼ شمېر ملګري وموندل، د حج په موسم کې يو کال دولس کسيزه ډله او بل کال پنځه اويا کسيزه ډله مکې ته ولاړه او د مدينې د اوسېدونکو په استازيتوب ئې له پيغمبر عليه السلام سره وليدل او مدينې ته د تلو بلنه ئې ورکړه.

په دې توګه د اسلامي دعوت رڼا د مدينې په لوري خپله لار پرانيستله، الله تعالی دا ستر افتخار د مدينې د توريالیو په برخه کړ چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم صادقانه ملګرتيا وکړي، هغه ته بلنه ورکړي چې مدينې ته هجرت وکړي، دې ته چمتو شول چې له ده او د ده له رسالت د دفاع په لار کې هره قرباني په ورين تندي ومني، د توحيد بيرغ په خپلو مضبوطو متو لوړ کړي، خپلې توري د اسلام په لار کې د جهاد لپاره له تېکو راوباسي. الله تعالی دوی ته د داسې ستر کار افتخار او شرف ورپه برخه کړ چې د عالم ټول انسانان به د دوی د تلپاته احسان پوروړي وي، د قيامت تر ورځې چې د ځمکې پر سر څوك پيدا کېږي د مديني د مجاهدينو د ستر احسان پوروړي دي، تر قيامت پورې چې څوك ايمان راوړي، کوم نېك کار کوي، د حق او عدالت خبره کوي، د ظلم، جهل، کفر او شرك په ضد څه کوي، د مدينې انصار ئې په ثواب کې ورسره شريك دي، الله تعالی د دغه ستر عزم او همت دا بدله ورکړه چې د دوی ووړ کلی ئې د يوه داسې ستر هېواد په پلازمېنې بدل کړ چې له هند تر مراکش پورې او له هسپانيا تر يمن پورې غزېدلی وو او د هغه دور دوه ستر ستر ځواکونه د دوی په لاس له ماتې سره مخامخ شول.

د بعثت د يولسم کال د حج په موسم کې، د مدينې يوه دولس کسيز پلاوي او په دولسم کال کې ۷۵ کسيز پلاوي د مِنی د وادي په يوې ګوښې او د شپې په تياره کې له پيغمبر عليه السلام سره وکتل، نه يوازې په ايمان راوړو مشرف شول بلکې پيغمبر عليه السلام ته ئې د مدينې د خلکو په استازيتوب بلنه ورکړه چې مدينې ته ولاړ شي، دا يوازې د پناه ورکولو او دفاع ژمنه نه وه بلکې پر پيغمبر عليه السلام او د ده په رسالت د ايمان او د الله په لار کې د سر او مال په بيه د جهاد ژمنه وه، په دې سره نه يوازې پيغمبر عليه السلام او د ده ملګرو ته يو ډاډمن پناه ځی په لاس ورغی بلکې له مدينې د اسلامي دعوت لپاره يو مطمئن او خورا مضبوط مرکز جوړ شو، د مدينې خلك د دې وړانديز له خطرناکو پايلو ښه خبر ول، په دې پوهېدل چې دا کار د قريشو په څېر د يوه ځواکمن او جنګيالي قوم او د ټولو عربو قبائلو په ضد د داسې چا ملګرتيا ده چې هم د هغوی زوړ پلرنی مذهب نه مني او هم د دوی سياسي او اجتماعي سيادت او قيادت، دا يو خطرناك تصميم وو، لوی زړه، ستر همت او د قربانۍ قوي جذبه ئې غوښته، الله تعالی د مدينې انصارو ته همدا ټول ورپه برخه کړل. د دغه بيعت په دوران کې د مدينې يو شازلمی سعد

بن زراره رضی الله عنه پورته شو او خپلو ملگرو ته ئې مخ کړ او وئې ویل: لږ تم شئ، موږ خو دلته د دې لپاره راغلي یو چې پوهېږو دی د الله رسول دئ، ده ته پناه ورکول له ټولو عربو سره جنگ ته ملا تړل دي، د دې په نتیجه کې به ستاسو شازلمیان وژل کېږي او توري به دربانديي وربېږي، که په دې ټولو صبر کولی شئ نو لاس ورکړئ، اجر به ئې د الله تعالی په ذمه وي او که پر خپل ځان کومه وېره لرئ نو پرې ئې ږدئ او خپله خبره په واضح الفاظو ورته وکړئ، دا به د الله په وړاندي ستاسو عذر شي.

فَقَالَ: رُوَيْدًا يَا أَهْلَ يَثْرِبَ، إِنَّا لَمْ نَضْرِبْ إِلَيْهِ أَكْبَادَ الْمَطِيِّ إِلَّا وَنَعْلَمُ أَنَّهُ رَسُولُ اللَّهِ، وَإِنَّ إِخْرَاجَهُ الْيَوْمَ مُفَارَقَةُ الْعَرَبِ كَافَّةً، وَقَتْلُ خِيَارِكُمْ، وَأَنْ تَعَضَّكُمُ السُّيُوفُ، فَإِمَّا أَنْتُمْ قَوْمٌ تَصْبِرُونَ عَلَيْهَا إِذَا مَسَّتْكُمْ، وَعَلَى قَتْلِ خِيَارِكُمْ، وَمُفَارَقَةِ الْعَرَبِ كَافَّةً، فَخُذُوهُ وَأَجْرُكُمْ عَلَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ، وَإِمَّا أَنْتُمْ تَخَافُونَ مِنْ أَنْفُسِكُمْ خِيفَةً فَذَرُوهُ فَهُوَ أَعْذَرُ لَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ

د وفد یوه بل غړي عباس بن عباده وویل: آیا پوهېږئ له دې کس سره په څه بیعت کوئ؟ وئې ویل: هو؛ پوهېږو، هغه وویل: تاسو د خلکو له تور پوستو او سور پوستو سره د جنگ ژمنه ورسره کوئ، که داسي انگېرئ چې د مالونو د لوټ کېدو او د مشرانو د وژل کېدو په صورت کې ئې دښمن ته تسلیموئ نو همدا اوس ئې پرېږدئ، په خدای قسم که دا کار هغه مهال وکړئ نو دا به ستاسو لپاره دنیوي او اخروي ذلت او سپکاوی وي او که گمان کوئ چې په هغه څه وفا کولی شئ چې ژمنه ئې ورسره کوئ او بلنه ورکوئ که څه هم ستاسو د مالونو په غارت او د مشرانو په وژلو منتج شي، نو بلنه ورکړئ چې والله دا به ستاسو د دنیا او آخرت لپاره غوره وي.

قال: يا معشر الخزرج هل تدرون علام تبايعون رسول الله صلى الله عليه و سلم إنكم تبايعونه على حرب الأحمر والأسود فإن كنتم ترون أنها إذا انهكت أموالكم مصيبة وأشرافكم قتلا أسلمتموه فمن الآن فهو والله إن فعلتم خزى الدنيا والآخرة وإن كنتم ترون أنكم مستضلعون به وافون له بما عاهدتموه عليه على مصيبة الأموال وقتل الأشراف فهو والله خير الدنيا والآخرة

ټولو په یوه غږ وویل: موږ د خپلو مالونو د تالان او د خپلو اشرافو د وژل کېدو په بیه بلنه ورکوو!! دا ژمنه د بیعت عقبه په نامه یاده شوه.

قریش ورو ورو له دې معاهدې خبر شول، هغه مهال ئې قضیه جدي وگڼله چې مدینې ته په وړو وړو ټولگیو کې د مسلمانانو پټ هجرت پیل شو، دوی ته د دې معاهدې اهمیت او پایلي ښې معلومي وې، پرېکړه ئې وکړه چې په هره بیه وي مدینې ته د پیغمبر علیه السلام د تلو مخه ونیسي، په یوې مهمي سري غونډې کې ئې وپتېیله چې د بني هاشم له قبیلې پرته د نورو ټولو قبیلو یو یو کس راغونډ شي او د شپې په تیاره کې د پیغمبر علیه

السلام د اوسېدو پر ځای برید وکړي او د خوب په حالت کې ئې ووژني او په دې سره د خطر مخه ونیسي، د الله تعالی په فضل سره د دښمن دا توطئه شنډه شوه، پیغمبر علیه السلام په دغه شپه له کوره ووت، د ابوبکر رضی الله عنه په ملګرتیا ئې مدینې ته د هجرت په موخه مکه پرېښوده، علي رضی الله عنه ته ئې وویل چي د ده په بستر کې پرېوځي، دښمن غوښتل په داسي وخت کې برید وکړي چي ټول خلك په خوب ویده وي، د همدې لپاره ئې برید ځنډولو، پیغمبر علیه السلام ته دا فرصت په لاس ورغی چي په کافي واټن له مکې لرې ولاړ شي، د تلو لوری ئې هم بدل کړی وو، مخامخ د مدینې په لوري ونه خوځېدو، کله چي قریش کور ته ننوتل په بستر کې ئې د پیغمبر علیه السلام پر ځای علی رضی الله عنه وموند، د نیولو لپاره هري خوا ته خواره شول، خو هڅي ئې بې نتیجې پاته شوې، که څه هم د دوی یو ټولګی د هغه ځای خولې ته هم ورسېدل چي پیغمبر علیه السلام او ابوبکر رضی الله عنه په کې پناه اخیستې وه، خو تش لاس راوګرځېدل.

کله چي مدینې ته د پیغمبر علیه السلام له رسېدو خبر شول نو پیغام ئې ورولېږو چي تاسو زموږ ځینو خلکو ته پناه ورکړې، موږ د خدای په نامه لوړه کړې چي یا به تاسو په خپله ورسره جنګېږئ او له هغه ځایه به ئې باسئ او یا خو به زموږ برید ته انتظار کوئ، موږ به ستاسو نارینه وژنو او ښځي به مو وینځي کوو. د مدیني مؤمن او مدبر مشر سعد بن معاذ رضی الله عنه د عمرې لپاره مکې ته تللی وو، د حرم په دروازه کې له ابوجهل سره مخامخ شو، هغه ورته وویل: عجیبه ده چي په مکه کې دې ګورم چي په ډاډه زړه طواف کوې په داسي حال کې چي زموږ باغیانو ته دې پناه ورکړې، ګمان کوئ چي مرسته او ملګرتیا ئې کوئ!! که مې د ابي صفوان په خوا کې نه وی لیدلی نو روغ به خپل کور ته نه وې ستون شوی!! سعد بن معاذ رضی الله عنه په ځواب کې ورته وویل: په خدای قسم که مې له طوافه منع کړې له داسي څه به دې منع کړم چي تر دې تا ته زیات اهمیت لري، چي دا ستا هغه تجارتي لار ده چي د مدینې خوا ته تېرېږي.

د پیغمبر علیه السلام دعوت داسي وو چي دښمن نه شو زغملی، هغه دعوت چي په ټولني کې سیاسي، اجتماعي او فکري انقلاب غواړی او له دښمن سره د اصولو په سر سازش نه کوي، هغه به حتماً د هجرت له مرحلې سره مخامخ کېږي، هجرت د حقیقي اسلامي مبارزې یو طبیعي پړاو دئ، دا پړاو په هوښیارۍ او احتیاط نه بلکې له اصلي مسیر په انحراف او له اصلي لاري په تېروتني سره منتفي کېدی شي.

د مبارزې درېیم پړاو له دښمن سره د مسلحانه تصادم پړاو دئ، دا پړاو د مهجر له موندلو سره سم پیل کېږي، پیغمبر علیه السلام د مدینې په څېر د یوه وړوکي کلي له موندلو سره سم خپله مسلحانه مبارزه پیل کړه. په لومړي سر کې پټه مسلحانه مبارزه، د وړو وړو ټولګیو او سریو له لاري، چي هدف ئې د دښمن سلطه متزلزله کول او هغه امنیت له منځه وړل وو چي د حاکم نظام په ګټه او د هغه د بقاء باعث وو او په دوهمه مرحله کې څرګنده مقابله او مخامخ نښتي. د کفري نظام په ګټه (کاذب امنیت او ظالمانه

اقتصادي نظام) مختلول او په ولس باندي د واکدارانو مسلط رعب او هيبت ختمول او د نظام مالي سرچينې وچول د دې مرحلې اساسي او مهم اهداف دي. د چريکي جنګونو په نتيجه کې دا دروغجن امنيت ډېر ژر او په آسانۍ سره متلاشي کېږي، د لويو لارو امنيت ډېر ژر له منځه ولاړ شي، نظام له دې عاجز شي چي بډای او تاجر ته چي د نظام درېيمه ستنه ده، د کار لازم او خوندي شرائط برابر کړي، ماليه او ګمرکي محصول تر لاسه کړي، هر نظام مالي سرچينو ته اړ وي، له دې پرته هغه دوام نشي موندلی، هيڅ نظام د بې امنيو حالت د اوږدې مودې لپاره نشي زغملی، عام ولس چي د نظام له ظلم تل ځورېدلی خو له وېري ئې نه څه ويلی شو او نه څه کولی، د دغو عملياتو په نتيجه کې د څه ويلو او کولو جرأت پيدا کړي او همدا د عمومي پاڅون مقدمه شي او د يوه ستر انقلاب کار له همدې ځايه پيل شي. په دا راز عملياتو سره د رژيمونو نسکورول او لويو ځواکونو ته ماته ورکول ممکن دي، دا ادعاء کولی شو چي له کودتاګانو وروسته د رژيمونو د نسکورولو تر ټولو آسانه لار همدا ده. که د پيغمبر عليه السلام تر قيادت لاندي مسلحانه مبارزې ته ځير شو نو وبه ګورو چي پيغمبر عليه السلام په مدينې کې له مېشت قبائلو سره دا معاهدې او تړونونه وکړل چي په ګډه به له مدينې دفاع کوي، يو پر بل له تېري او له دښمن سره له ملګرتيا به ډډه کوي، له دغو معاهدو وروسته د مسلحانه مبارزې لړۍ پيل شوه، دا مبارزه د قريشو په ضد له چريکي بريدونو (سريو) پيل شوه، په دې مودې کې ګڼ شمېر سريې د عملياتو لپاره لېږل شوې او د ابواء، بواط او عشيره په څېر غزاګانې تر سره شوې. د عملياتو لمن ورو ورو تر مخامخ نښتو خوره شوه، د مکې له فتحې وروسته د جزيرې له نورو ځواکونو سره او په پای کې په نړۍ واله سطح د روم او فارس په څېر لويو ځواکونو سره مخامخ شوه. دا بهير ښيي چي د مبارزې لمن بايد په تدريج سره او په طبيعي طور له محلي ځواکونو تر منطقوي او بين المللي ځواکونو پوري خوره شي. پيغمبر عليه السلام د مدينې په لسو کلونو کې تر اويا زياتې نښتې له دښمنانو سره درلودې، يعني دا چي په هرو تقريباً څلورو مياشتو کې ئې يوه داسي جګړه کړې چي په خپله ئې په کې برخه اخيستې ده او په هرو پنځوسو (٥٠) ورځو کې ئې يوه داسي حمله تنظيم کړې چي يا ئې په خپله هم په کې برخه اخيستې او يا د ځينو خاصو وجوهاتو له مخي ئې په هغه کې شرکت نه دئ کړی خو ويلي ئې دي: په هغه ذات مي قسم چي زما ژوند د ده په واک کې دئ، که د يارانو خاطر نه وی نو زه به له يوې هغي وړې ډلي (سريې) هم وروسته نه وم پاته شوی چي جهاد ته درومي!! په همدې ذات لوړه کوي او وايي: دا غواړم چي د الله په لار کې يو ځل شهيد شم بيا راژوندی شم، بيا شهيد شم او بيا راژوندی شم او بيا شهيد شم...

د هجرت د دوهم کال د شعبان په مياشت کې پيغمبر عليه السلام ته اطلاع ورسېده چي د قريشو يوه لويه تجارتي قافله چي نژدې زرو اوښانو د پنځوس زرو دينارو تجارتي اموال له شام مکې ته انتقالول چي د حفاظت لپاره ئې د شپېتو مسلح کسانو ټولګی ورسره وو، له يارانو سره ئې مشوره وکړه چي څنګه به وي که په دې قافلې بريد وکړو؟

ځینو له دې سره موافقه نه درلوده، دا ئې له قریشو سره د یوې سترې جګړې پیلامه ګڼله، له قریشو سره ئې د تصادم جرأت او توان په ځان کې نه لیدو، له ځینو سره دا اندېښنه وه چې د مدینې انصارو د دفاع ژمنه کړې وه نه د تعرض او پر قریشو د برید ژمنه، په غونډې کې ابوبکر صدیق او عمر رضی الله عنهما د مهاجرینو له خوا او سعد بن عباده د مدینې د انصارو نامتو او زړه ور مشر د انصارو له خوا په زړه پورې جذباتي او له شهامت ډکې همت پاروونکې ویناوې وکړې، ټول په دې سلا شول چې په قافلې برید کوو، له څه باندې دریو سوو مجاهدینو سره د قافلې په لورې وخوځېدل، له دې کبله چې د حملې موخه له کوم مجهز لښکر سره نښته نه وه نو زیات او کافي جنګي وسائل او تجهیزات ئې هم له ځان سره نه درلودل، قریشو ته اطلاع ورسېده، له نژدې زرو مسلح جنګالیو سره راووتل، شپږ سوه ئې په زغرو سمبال ول، په آسونو د سپرو سل کسیزه ډله هم ورسره وه، د قریشو ستر ستر مشران هم په دې لښکر کې ول او هر یوه د خپلې خپلې قبیلې مشري کوله، موخه ئې یوازې دا نه وه چې قافله وژغوري بلکې غوښتل ئې دا ګواښ د تل لپاره له منځه یوسي، د مسلمانانو لپاره دا یوه حساسه شېبه وه، که مناسب تصمیم نه وی نیول شوی نو له داسې بدو پایلو سره به مخامخ شوي وو چې جبران به ئې ډېر ګران وو، پیغمبر علیه السلام د صفراء سیمې ته رسېدلی وو چې د قریشو د دې لښکر د راوتلو خبر ورکړی شو، یو ځل بیا ئې خپل یاران راغونډ کړل او دا خبره ئې د دوی مخې ته کېښښوده، درې بدیله ئې په مخکې وو: پر قافلې برید، له لښکر سره مقابله او له نښتې پرته بېرته ستنېدل، د درېیم صورت نتیجه به له دې پرته بل څه نه وه چې د مجاهدینو روحیه به ځپل کېده، بهرني او داخلي دښمنان به د دوی په ضد تحریك کېدل او د دې احتمال وو چې قریشو پر مدینې برید کړی وی او د مدینې یهودانو او منافقینو هم د دوی ملګرتیا کړې وی. په دې شرائطو کې پر قافلې برید د ګټې پر ځای تاوان درلود، ځکه د قریشو لښکر ئې دفاع ته رارسېدو، دوی ته له دې پرته د بل انتخاب مجال نه وو پاته چې باید له لښکر سره نښتې ته ځان چمتو کړې، دا هم معلومه شوې وه چې قافله له بلې لارې تېره شوې، خو قریشو په دې اکتفاء ونه کړه او د بدر په لورې مخکې ولاړل. د مشورې په دوران کې مقداد بن عمرو رضی الله عنه شهامت پاروونکې وینا وکړه او وئې ویل: یا رسول الله! په کوم لورې چې الله در ته امر کوي موږ روان کړه، په کوم لورې چې ستا خوښه وي دروممه موږ به درسره یو، هغه ځواب نه درکوو چې بني اسرائیلو موسی علیه السلام ته ورکړ چې ته او رب دې ولاړ شئ وجنګېږئ موږ به دلته ناست یو، برعکس موږ درته وایو: ته او رب دې ولاړ شئ وجنګېږئ موږ به ستاسو په څنګ کې تر هغه جنګېږو چې له موږ یو کس ژوندی وي او سترګې ئې خوځېږي، خو پیغمبر علیه السلام غوښتل د انصارو ځواب هم واوري او د دوی موافقه هم تر لاسه کړې، د هغوی له خوا سعد بن معاذ رضی الله عنه له غیرت او همت ډکه وینا وکړه او وئې ویل: یا رسول الله! داسې معلومېږي چې پوښتنه دې موږ ته راجع ده، موږ خو پر تا ایمان راوړی، ستا تصدیق کوو، په دې شهادت

ورکوو چې څه تا راوړي حق دي، له تا سره مو ژمنه کړې، د سمع او اطاعت تړون مو کړی، نو اې د الله رسوله! کوم لوري ته چې ستا اراده وي حرکت وکړه، په هغه ذات قسم چې ته ئې په حقه رالېږلی یې که مو دې سیند ته وړاندې کړې نو موږ به له تا سره یو ځای ځان غورځوو، زموږ یو کس به هم شا ته پاته نشي، له دې به ډډه ونه کړو چې سبا مو له دښمن سره مخامخ کړې، موږ له دښمن سره د مخامخېدو په مهال صبر کوو او د نښتې په مهال به رښتیني جنګیالي وو، هیله ده الله تعالی زموږ له لوري داسې څه دروښیي چې سترګې دې پرې روښانه شي، د الله تعالی په فضل سره موږ درسره روان کړه.

په پای کې د قریشو له لښکر سره د نښتې پرېکړه وشوه، خو دا څه معمولي پرېکړه نه وه، د دوی شمېر څه باندې درې سوه وو، ٨٦ مهاجرین ٦١ د اوس او ١٧٠ د خزرج د قبیلو ول، دوه دریو ئې آسونه او نورو په ګډه اویا اوښان درلودل چې په وار وار به ئې د سورلۍ لپاره استفاده ترې کوله، جنګي سامان ئې هم ډېر لږ وو، یوازې ٦٠ کسانو ئې زغرې درلودې.

٤. پیغمبر علیه السلام ځیني کاروانه د مکې له فتحې وروسته تر سره کړي، په ټولنې کې اقتصادي اصلاحات یو له دغو کاروانو دئ، ټول هغه کاروانه چې پیغمبر علیه السلام د مکې له فتحې وروسته تر سره کړي باید هغه پړاو ته پرېښودی شي چې د هېواد پلازمېنه د مجاهدینو په لاس کې پرېوځي، له سنت د متابعت تقاضا همدا ده چې هر کار په همغه وخت او همغه توګه تر سره شي چې پیغمبر علیه السلام تر سره کړي.

دغو څلورو پړاوونو ته په پام سره دا نتیجه تر لاسه کوو چې:

- د هغه اسلامي نهضت مبارزه د پیغمبر علیه السلام د سنت او اسلوب مطابق ګڼلی شو چې د مبارزې په تګلارې کې ئې پورتنۍ څلور مرحلې په څرګنده توګه وموندلی شو.
- کوم دعوت چې د پیغمبر علیه السلام د دعوت په څېر وي، سیاسي، اجتماعي او فکري انقلاب غواړي او له دښمن سره د اصولو په سر سازش نشي کولی، هغه به حتماً له داسې ستونزو سره مخامخ کېږي چې پیغمبر علیه السلام او یاران ئې ورسره مخامخ شول، د واکدارانو شدید مخالفتونه، د دوی په لاس له کړاوونو، زندانونو، تعذیبونو او هجرتونو سره د مؤمنانو مخامخېدا.
- د پیغمبر علیه السلام له قول او فعل دا معلومېږي چې د جهاد د پیل لپاره دوو اساسي شیانو ته ضرورت دئ: (جماعت یعني حزب او ډله) او (مهجر یعني د هجرت ځای)، پیغمبر علیه السلام فرمایي:

وَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَأَنَا آمُرُكُمْ بِخَمْسٍ اللَّهُ أَمَرَنِي بِهِنَّ، بِالْجَمَاعَةِ، وَالسَّمْعِ، وَالطَّاعَةِ , وَالْهِجْرَةِ، وَالْجِهَادِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، فَإِنَّهُ مَنْ خَرَجَ مِنَ الْجَمَاعَةِ قَيْدَ شِبْرٍ فَقَدْ خَلَعَ رِبْقَةَ الْإِسْلَامِ مِنْ عُنُقِهِ إِلا أَنْ يُرَاجِعَ، وَمَنْ دَعَا بِدَعْوَى جَاهِلِيَّةٍ فَهُو مِنْ جُثَى

جَهَنَّمَ. قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَإِنْ صَامَ وَإِنْ صَلَّى. قَالَ: وَإِنْ صَامَ وَإِنْ صَلَّى وَزَعَمَ أَنَّهُ مُسْلِمٌ،

مسند احمد

او رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: په پنځو هغو شيانو تاسو ته امر کوم چې الله تعالى ما ته د هغه امر کړی: په جماعت، سمع، اطاعت، هجرت او جهاد في سبيل الله او څوك چې د يوې لوېشتې په اندازه له جماعت لرې شو نو هغه د اسلام کړۍ له خپلې غاړې وايستله (له اسلام ووت) مگر دا چې بېرته راوگرځي او چا چې د جاهليت شعارونو ته بلنه ورکړه هغه به د دوزخ خس شي، خلکو وويل: يا رسول الله! که څه هم روژه ئې نيولې وي او لمونځ ئې کړی وي؟ وئې ويل: که څه هم روژه ئې نيولې وي او لمونځ ئې کړی وي او په ځان ئې دا گمان کړی وي چې مسلمان دئ.

له دې حديث په څرگنده توگه معلومېږي چې له جهاد مخکې بايد جماعت جوړ شي او بيا د حاکم نظام له سلطې د وتلو په موخه هجرت وشي او بيا مسلحانه مزاحمت پيل شي. پيغمبر عليه السلام په مکي دور کې جماعت جوړ کړ او مدينې ته له هجرت سره سم ئې د قريشو په ضد مسلحانه مزاحمت پيل کړ.

- بايد دا خبره په خيال کې وساتو چې دغه پنځه کارونه پر مسلمانانو واجب دي، په دې مأمور شوي چې جماعت به جوړوي، داسې جماعت چې په سمع او اطاعت ولاړ وي، بيا به د حاکم سياسي نظام له سلطې د وتلو لارې لټوي، د ضرورت په صورت کې به هجرت کوي او بيا به د همدې نظام د رانسکورولو لپاره وسلې ته لاس کوي.

- ځيني سرکاري مفتيان چې غواړي خلك له جهاد منع کړي دا تبليغات کوي چې جهاد بايد د يوه حکومت د مشر له لوري اعلان او د هغه ترمشرۍ لاندې تر سره شي، له دې فتوی د دوی غرض دا وي چې څوك د موجوده حکومتونو په ضد جهاد ته زړه ښه نه کړي او د دغو حکومتونو د واکمنو له اجازې پرته د جهاد لپاره ملا ونه تړي!! ځيني نور بيا وايي: تر څو چې له موجوده حکامو او واکمنو څرگند کفر (کفر بواح) ونه گورو بايد وسلې ته لاس نه کړو او د بغاوت لار غوره نه کړو!! حقيقت دا دئ چې د جهاد اعلان هغه څوك په حکومت پورې تړي چې يا د دغو حکومتونو نوکر وي، يا د جهاد مخالف وي او يا د جهاد اراده او همت نه لري، داسې فتوی تل سرکاري مفتيان ورکوي، هيڅ داسې غيرسرکاري عالم نه شئ موندلی چې په قرآن او حديث پوه وي او هغه دې جهاد په حکومتونو مخصوصاً موجوده مفسدو او غيراسلامي حکومتونو پورې مربوط کړي، څوك په دې نه پوهېږي چې د حکومت جوړول خو د اسلامي جهاد هدف او مقصد دئ، نه دا چې لومړی به حکومت جوړېږي بيا به دا حکومت د جهاد اعلان کوي!! جهاد خو د دې لپاره فرض شوی چې په دې سره غير اسلامي نظام رانسکور کړی شي او پر ځای ئې اسلامي حکومت قائم شي. پيغمبر عليه السلام د ابوجهل د حکومت د نسکورولو او د ټول حجاز

په مرکز او پلازمېنه (مکه) کې د یوه اسلامي حکومت د قائمولو لپاره جهاد پیل کړ. نه خو غیراسلامي حکومتونه په خپله رانسکوربږي او نه اسلامي حکومت له جهاد پرته له بلې لارې قائمېدی شي، ځوك چې دا غلطه او بابیزه خبره کوي او د جهاد د اعلان لپاره د حکومت شته والی شرط ګڼي، هغه دې ووایي چې پیغمبر علیه السلام ولې په داسې حال کې جهاد پیل کړ چې په حجاز باندې د قریشو واکمني وه، دی له پلازمېنې (مکې) د مدینې یوه ووړ کلي ته مهاجر شوی وو، هلته ئې نه حکومت وو او نه فوځ!!

● د قرآن په هیڅ آیت کې نه صراحتاً دا راغلي او نه تلویحاً او اشارتاً دا موندلی شو چې د (جهاد اعلان) به د حکومت او ریاست له خوا کېږي. په ټول قرآن کې نه د (حکومت) او (ریاست) الفاظ راغلي او نه دا خبره چې د جهاد اعلان به د حکومت، ریاست، خلافت او امارت یا حاکم، رئیس، خلیفه او امیر له خوا کېږي.

● د پیغمبر علیه السلام په احادیثو کې هم دا نه شو موندلی چې د جهاد د اعلان لپاره ئې د (حکومت) او (ریاست) شته والی ضروري ګڼلی وي او دا په کې ویل شوي وي چې جهاد یوازې په هغه صورت کې جائز دئ چې (حکومت) او (ریاست) ئې حکم صادر کړي.

● په مکه کې د ابوجهل حکومت وو، پیغمبر علیه السلام د بعثت له لومړۍ ورځې د دې حکومت د نسکورولو او پر ځای ئې د یوه الهي او دیني ریاست د قائمولو لپاره کار پیل کړ، هو؛ په مکه کې ئې وسله وال جهاد نه دئ اعلان کړی خو خلکو ته ئې ویل: ځوك چې په دې طاغوتي نظام کافر نه شي خدای ئې ایمان نه قبلوي، په الله ایمان هلته منظور او مقبول دئ چې له طاغوتي ریاست او نظام انکار وکړئ. دې نظام ته به د خپلو شخړو او منازعاتو د حل و فصل لپاره رجوع نه کوئ، د ټولو منازعاتو د حل او فصل یوازینۍ مرجع به د الله دین ګڼئ.

● د اسلامي نړۍ اوسني حکام او حکومتونه ټول غاصب او جابر حکومتونه دي، د ابوجهل او فرعون تر حکومتونو ډېر ډېر بد او د دین خلاف، هره شېبه د څرګند کفر مرتکب کېږي، خو متأسفانه دا سرکاري مفتیان د کفر او ایمان تر منځ له تفکیك او توپیر عاجز دي، په دې نه پوهېږي چې ځوك په ما انزل الله حکم ونه کړي کافر، ظالم او فاسق دئ، په دې نه پوهېږي چې دا حکام د کافرانو په لاس پر اسلامي هېوادونو تپل شوي، نه د ملتونو په خوښه او د داسې بیعت له لارې راغلي چې له اکراه او اجبار پرته تر سره شوی وي، نه د ملت په وړاندې د مسئولیت احساس کوي، نه په دې ځان مکلف ګڼي چې په ما انزل الله به حکم کوي او له ولس سره مشوره، نه له خدای وېره لري او نه په ولس ترحم، نه واکمني یو الهي امانت ګڼي او نه بیت المال د ولس امانت، د پردیو د متو په زور مسلط شوي او د پردیو د ګټو لپاره د خپل ولس قرباني کولو ته چمتو، یو هم له ابوجهل او د ابوجهل له حکومت غوره نه دي. ابوجهل ځانته خادم حجاج بیت الله او خادم الحرم الشریف ویل، ځان ئې د کعبې متولي ګڼلو او په دیانت کې ئې ځان هومره په حقه ګڼلو

چې ویل به ئې: اې خدایه!! که محمد په حقه او موږ په ناحقه یو نو پر موږ له آسمانه ډبرې ووروه!! دا جنابان دې ووایي چې په دې حکومتونو کې داسې کوم څه نشته چې د ابوجهل په حکومت کې وو؟ قرآن په مکه کې د فرعون قصه د دې لپاره رااخلي چې خلکو ته ووایي: ستاسو ابوجهل همغه فرعون دئ چې موسي علیه السلام ئې مقابلې ته لیږل شوی وو، د دې لپاره چې خلك پوه کړي چې محمد علیه السلام د مکې د موجوده فرعوني نظام په ضد همغه څه کوي چې د ده سلف موسی علیه السلام کول. پیغمبر علیه السلام فرمایي چې ابوجهل زما د امت فرعون دئ. د موجوده حکومتونو ملګري او حامیان په اصل کې د فرعون او ابوجهل ملګري دي، څوك چې وایي: د دغو حکومتونو د اجازې په صورت کې جهاد جائز دئ او له دې پرته جهاد په فساد او بې امنیتۍ منتج کیږي!! دا همغه کسان دي چې د موسی علیه السلام او محمد علیه السلام په اړه به ئې ویل: دوی شر خوروي، بې امنیتي راولي، اقتدار غواړي. څوك چې د اسلامي ملکونو موجوده حالت د امن حالت ګڼي او وایي یا غواړي چې دا حالت باید دوام وکړي او دا وایي چې په دې کې داسې څه نشته چې د کفر بواح یا د شدید بحران نوم ورکړو او د جهاد ضرورت احساس کړو!! دا کس یا ډیر ناپوه او بې خبره دئ، هم له دین او هم له دنیا او یا ډیر غرضي دئ او د حکامو نوکر او خادم. د اسلامي ملکونو حالت هومره بد دئ چې تر دې د زیات بد حالت تصور نه شي کیدی. فقر، لوږه، د غني او فقیر تر منځ ژور تفاوت، د مظلومانو په سر، مال، عزت تیری، اخلاقي فساد، شرك، الحاد او بې دیني، د پردیو په وړاندې ذلت، اسارت او غلامي، دا ټول خو پریږده نن اکثر اسلامي هېوادونه نه سیاسي استقلال لري او نه اقتصادي، له سیاسي، اقتصادي، نظامي او فرهنګي لحاظه پردي ورباندې حکومت کوي، نه د فرعون په نظام کې تر دې زیات فساد وو او نه د مکې د جاهلیت د دور په نظام کې.

- ځیني بیا داسې دي چې وایي: جهاد في سبیل الله خو یوازې دې ته نه وایي چې وسله واخله او د دښمن په ضد وجنګیږه!! دعوت او تبلیغ هم جهاد في سبیل الله دئ، د دغې غلطې انګیرنې د تردید لپاره باید ووایو: په قرآن کې د جهاد فی سبیل الله اصطلاح یوازې د دښمن په خلاف د مسلحانه جهاد په معنی راغلې، که قرآن ته مراجعه وکړئ نو وبه ګورئ چې د (جهاد فی سبیل الله) ذکر له (هجرت) وروسته راغی او دا ټول په هغو سورتونو کې راغلي چې په مدینه کې او د جهاد له فرض کیدو وروسته نازل شوې، د مکې دور په څو محدودو آیتونو کې د (جهد ایمانهم)، ( وان جٰهدٰك)، (جاهدوا فینا) او (و من جاهد) په صیغه راغلي چې هلته ئې مراد زیار او زحمت ایستل دي.
- د اسلام ټول ائمه په دې متفق دي چې له جهاد فی سبیل الله مراد قتال فی سبیل الله دئ نه بل څه.
- د قرآن له هیڅ آیت دا نه معلومیږي چې (تبلیغ) او (دعوت) ته دې (جهاد فی سبیل الله) ویل شوي وي.

● د الله په لار کې مالي قرباني ته (انفاق في سبيل الله) ویل شوي نه جهاد في سبيل الله.

● په مکي دور کې (دعوت) او (انفاق) وو خو دې ته په مکي سورتونو کې د جهاد نوم نه دئ ورکړی شوی، جهاد په مدینه کې فرض شوی او اساسي او تفصيلي ذکر ئې په مدني سورتونو کې راغلی، له دې معلومېږي چې جهاد بېل شيء دی او دعوت او انفاق بېل.

● دا خبره چې (دعوت، تبليغ او انفاق) هم (جهاد في سبيل الله) دي، په حقيقت کې هغه کسان کوي چې یا په دې نه پوهېږي چې د قرآن هره اصطلاح باید په خپل ځای کې استعمال شي او یا د الله په لار کې د جهاد اراده او همت نه لري. د دې لپاره چې په نه جهاد سره ئې څوك ملامت نه کړي نو وايي: زما دعوت او تبليغ، زما وينا او ليکنه او زما سياسي او اجتماعي مبارزه هم جهاد في سبيل الله دي!! دوی ته وايو: ستا دا ټول کارونه د قدر وړ دي، الله تعالی دې مزيد توفيق درکړي؛ خو هيڅ يو ئې جهاد في سبيل الله نه دئ.

● سرکاري مفتيان له جهاد سره د مخالفت په فتوی کې په دې خبري استناد کوي چې پيغمبر عليه السلام په مکي دور کې حتی هغه وخت هم د وسلې اخيستلو اجازه ورنه کړه چې ياران ئې يو په بل پسي وژل کېدل!! برعکس هغوی ته ئې د صبر توصيه کوله!! دې جنابانو ته وايو: دا دوی ولي وژل کېدل او دا تاسو ته ولي څوك څه نه وايي؟ نه دا ظالم، جابر او بې دينه حکام تاسو ځوروي، نه مو په زندان کې اچوي، نه مو وژني!! دا ستاسو او د صحابه وو د ايمان تر منځ څه فرق دئ چې هغوی د ايمان په خاطر وژل کېدل منل خو ابوجهل او د ده نظام ته نه تسليمېدل؟!! که هغوی دا ستاسو خبره کولی نو نه وژل کېدل او نه له ملك هجرت ته مجبورېدل. د دوی د وژل کېدو معنی خو دا ده چې دوی له حاکم نظام بغاوت کړی وو، د دې نظام واکمنان ئې نه منل، له نظام سره د ټکر او تصادم په حال کې وو، نظام له دوی وېره درلوده، د همدې لپاره ئې وژل. دا تاسو ولي په مکې کې د دوی په صبر استناد کوئ خو په مدينه کې د همدغو صحابه وو په مسلسل جهاد استناد نه کوئ؟!! ولي د دوی په هجرت استناد نه کوئ، ولي پر دښمن باندي د دوی په مسلسل بريدونو استناد نه کوئ؟!!

● دا جنابان په دې هم نه پوهېږي چې په مکه کې د جهاد د اجازې نه ورکولو وجه دا وه چې هلته جهاد نه وو فرض شوی، مدينې ته له راتلو وروسته جهاد فرض شو، د جهاد دا فرضيت تر قيامت دوام کوي، دا ځکه چې د جهاد فرضيت نه دئ منسوخ شوی. په مکي دور باندي د جهاد په اړه باید له دې اړخه استناد وشي چې که د مسلمانانو وضعيت داسي وي لکه په مکه کې او شمېر ئې هومره وي لکه په مکه کې د مسلمانانو شمېر، نو دوی ته په کار ده چې د صحابه وو په څېر صبر وکړي او وسلې ته لاس نه کړي. خو که د دوی وضعيت داسي شو چې مدني دور ته ورته وي او د مسلمانانو شمېر هومره وي چې هلته د مسلمانانو شمېر وو، نو دوی ته په کار ده چې جهاد ته ملا وتړي. د پيغمبر عليه السلام په

سنت د عمل کولو تقاضا خو دا ده چې د جهاد په ميدان کې هم هغه څه وکړو چې پيغمبر عليه السلام کړي، هغه مبارك خو په مکه کې د يوه مؤمن جماعت جوړولو په کار لګيا وو او په دې هڅه کې وو چې کوم مهجر پيدا کړي، داسې کوم قوم پيدا کړي چې ده ته پناه ورکړي او د الله په لار کې جهاد ته تيار شي، د مدينې يو شمېر اوسېدونکي دې ته تيار شول، مدينې ته له راتلو وروسته هغه جهاد پيل کړ، په لومړي سر کې ئې د عملياتو لپاره واړه واړه څو کسيز ټولګي لېږل، دښمن ئې تنګولو، په هر ځاى کې ئې دښمن ته تاوان رساوو، په ولس کې ئې د هغه رعب، وېره او اعتبار ختمولو، پرولس او ملك باندې د دښمن سلطه ئې جړقوله، بيا ئې د دښمن په تجارتي قافلو بريدونه پيل کړل، په بدر کې ئې له ۳۱٤ يارانو سره د دښمن مخامخ مقابله وکړه، تاسو ولې دا خبره نه شئ کولی چې کله د مسلمانانو شمېر درې سوه څوارلس ته ورسېږي کولی شي همغه څه وکړي چې پيغمبر عليه السلام وکړل؟!!

● د جهاد مخالفين په دې نه پوهېږي چې د اسلامي امت دا اوسنۍ وضع د هغې ماتې نتيجه ده چې اسلامي خلافت په کې له منځه لاړ او غربي ځواکونو اسلامي نړۍ په خپلو منځونو کې وووېشله او په هرې برخې ئې بېل بېل ځواکونه مسلط شول، له هغه وروسته دا څوومه پېړۍ ده چې مسلمانان په ذلت، اسارت او محکوميت کې ژوند کوي، له آزادۍ او خپلواکۍ محروم دي، په سياسي، اقتصادي او فکري لحاظ استعماري ځواکونه ورباندې حکومت کوي، لاس پوڅي حکومتونه ئې پرې مسلط کړي، له داسې اختناق او استبداد سره مخامخ دي چې د نړۍ په هيڅ ګوټ کې ئې مثال نه شو موندلی، واکداران ئې د پرديو په وړاندې سپك او ذليل او د خپل ولس په مقابل کې مغرور او بې رحمه، دوی د پرديو غلامان دي او ولس د ځان غلامان ګڼي. د غلامۍ، ذلت او محکوميت دغه دردونکې حالت په ولسونو کې د عزت النفس احساس، د آزادۍ او خپلواکۍ جذبه او د سرلوړې او پتمن ژوند تلوسه په کلکه ځپلې ده، يو وخت خو په ټولو اسلامي ملکونو استعماري ځواکونو مخامخ او د خپلو فوځونو په زور حکومت کولو، خو له هغه وروسته چې دا ځواکونه د خاصو عواملو په وجه ووتل نو داسې رژيمونه ئې شا ته پرېښودل چې د دوی ګټې خوندي وساتي، د دې هېوادو د مسلح ځواکونو جوړښت ئې داسې تنظيم کړ چې د لاس پوڅو رژيمونو مدافع او د هر ملي پاڅون د ځپلو لپاره د دغو ځواکونو په خدمت کې لاس په سينه ولاړ وي، تعليمي نظام او نصاب ئې داسې جوړ کړ چې په علمي مؤسساتو کې تر روزنې لاندې ځوانانو کې د آزادۍ او خپلواکۍ جذبه راولاړه نه شي، د پرديو په غلامۍ او تقليد کې د فخر احساس وکړي او له خپل اسلامي او ملي هويت پردي شي. د وتلو په وخت کې ئې د دې هېوادونو جغرافيائی نقشې داسې جوړې کړې چې له يوې خوا د دغو هېوادونو تر منځ تل سرحدي منازعات روان وي او له بلې خوا هغه قومونه چې له استعماري ځواکونو سره جنګېدلي، د مختلفو ملکونوتر منځ ووېشل شي، په اقتدار کې له برخې محروم

کېږي شي، هغو اقلیتونو ته قدرت وسپارل شي چې له استعماري ځواکونو سره ئې ملګرتیا کړې او په راتلونکې کې تل په دوی متکي وي او په اقتدار کې د پاتې کېدو لپاره د دوی شرائطو منلو ته اړ وي. د دې ښه مثالونه پښتانه او کردان دي، چې له استعماري ځواکونو سره د دوامدارې مبارزې په وجه یو په دریو او بل په څلورو برخو ووېشل شو. استعماري ځواکونو په دې اوږدې مودې کې په پراخو تبلیغاتو سره قومي، ژبني او محلي تعصباتو ته هومره لمن وهلې چې هیڅوك د لوی او متحد ملت او امت تصور او فکر ونه کړی شي، استعماري لیکې مقدس او تغییر نه منونکې وګڼي، دا دره د هغې بلې ګاونډۍ درې اوسېدونکې پردي او حتی دښمن وګڼي او اصلي دښمن هېر کړي. په دې نه پوهېږي چې د اسلامي هېوادونو اکثر حاکم نظامونه یا پردیو تحمیل کړي او لاس پوڅي او په اسلامي هېوادونو د زاړه استعمار د سلطې پاتې شونې دي، یا خانداني دي چې خاصې کورنۍ د ولس د ارادې خلاف په زور او د پردیو په مرسته پر دوی حکومت کوي، یا قومي او فرقه ئي بڼه لري، د یوې مذهبي فرقې پلویان اختیارات په واك کې لري، نور ئې له خپلو ټولو انسانی او اسلامي حقوقو محروم کړي، د دوی سیاسي او مذهبي مشران وژني، چا د شیعه ترنامه لاندې سنیان ځپلي او له خپلو ټولو اسلامي او انساني حقوقو ئې محروم کړي او چا د بل مذهب په جامه کې خپل رقیبان محروم کړي، د اسلامي هېوادونو په دې دردونکې حالت به هغه څوك رضایت ښیي چې یا په غلامۍ او اسارت کې ستر شوی، د غلامۍ ذهنیت لري، آزادي نه پېژني او د آزادۍ خوند ئې نه دئ څکلی او یا هغه څوك چې په خپلې ټولنې کې له خور فساد، ظلم، بې عدالتۍ او بې امنۍ خبر نه دئ، په دې نه پوهېږي چې دلته څه روان دي، هره ورځ څومره کورنۍ تباه کېږي، د څومره بې وزلو انسانانو په سر، مال او عزت تېری کېږي، بدایان څنګه بډاي شوي او نادار ولې او د چا د ظلم او تېري په وجه له هرڅه محروم شوي؟!! هغه ته د ټولنې موجود حالت د امن حالت برېښي، په دې نه پوهېږي چې دلته یوازې واکداران په امن کې دي، له حاکمانو پرته هیڅوك د امن احساس نه کوي، په سلو کې د پنځه نوي خلکو سر، مال او عزت خوندي نه دئ، که دلته تاسو له یوه عادي انسانه پوښتنه وکړئ چې د یوه پولیس په خوا کې د تېرېدو په وخت کې څه احساس کوي؟ چې کله د ده کلي ته پولیسان ورشي کلیوال څه احساس کوي؟ آیا دا ګمان کوي چې دا پولیسان د دوی حفاظت کوي او که دوی په یونیفورم کې د رښا ورځې غله ګڼي او له دوی هومره وېره لري چې له غلو ئې نه لري؟!! د محکمې او قاضي په اړه څه فکر کوي؟ هغه د مظلوم مدافع ګڼي که د ظالم حامي؟ د دفتر مأمور ته په کومه سترګه ګوري؟ د ده په عدالت او امانت څومره باور لري؟ له نظام ئې څه تر لاسه کړي او څه خیر ئې ترې لیدلی؟ له کوم ظلم ئې ژغورلي؟ چېرې ئې د ده له سر، مال او عزت دفاع کړې او د چا په مقابل کې؟! راشئ وګورئ چې هر پولیس هره ورځ څومره خلك څورووي، هره ورځ په هرکلي کې خان، ملك، شتمن او د ځمکو خاوند په بې وزلو کلیوالو څومره ظلمونه کوي، د څومره کسانو زمکې او جایدادونه د ځواکمنو له خوا غصب کېږي، د بې وزلو

ځومره لوڼې په زور نکاح کېږي، د ځومره پېغلو په عفت تېري کېږي، په هر دفتر کې هره ورځ ځومره ناروا وي او حق تلفي کېږي، په بيت المال کې ځومره غدر او خيانت کېږي، چارواکو له هغه بيت المال په استفادې سره چې له بې وزلو انسانانو په يوه بل نامه په ناروا تر لاسه شوي، ځانته څنګه اشرافي ژوند برابر کړى او عام خلك څنګه د فقر، لوږې، خوف او سپکاوي دردونکى ژوند تېروي!! دا ډېره عجيبه ده چې ځوك دې حالت ته د امن نوم ورکوي او وايي: بايد داسي څه ونه کړو چې دې موجود امن ته صدمه ورسېږي، بايد هغه وخت د دې حالت د بدلولو هڅه وکړو چې مطمئن وو تر دې غوره حالت راوستى شو!! دغو له واقعيتونو بې خبره کسانو ته بايد ووايو: ټولو پيغمبرانو ته همدا خبره شوې چې دوى موجود امنيت ختموي، شرارت خوروي، د شخړو او جګړو باعث دي!! دوى ته بايد ووايو: هغه امنيت چې د بې عدالتۍ او ظلم په خدمت کې، د ظالمانو په ګټه، د دوى د سلطې د دوام ضامن او د بې وزلو او مظلومانو په تاوان او په مظلوميت او محروميت کې د دوى د دوامدار پاته کېدو باعث وي، دي ته اور اچول په کار دئ، پيغمبران د دې لپاره راغلي چې دغه دروغجن امنيت ختم کړي او پر ځاى ئې هغه واقعي امنيت راولي چې په عدالت ولاړ وي او مظلوم له ظلم وژغوري. عجيبه ده که ځوك په دې حقيقت نه پوهېږي چې د اسلامي نړۍ موجود حالت د داخلي ظالمانو او بهرنيو استعمارګرانو په ګټه دئ، په دې کې هره تبديلي د دوى د منافعو خلاف او د ملتونو په نفع ده.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡأَنفَالِۖ قُلِ ٱلۡأَنفَالُ لِلَّهِ وَٱلرَّسُولِۖ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَصۡلِحُواْ ذَاتَ بَيۡنِكُمۡۖ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ۝١

**١- د غنائمو په اړه تا پوښتي، ووايه: غنائم د الله او رسول دي، نو له الله ووېرېږئ او خپلمنځي اړيکي مو روغي کړئ او د الله او پيغمبر ئې اطاعت وکړئ که مؤمنان يئ.**

(١)- د بدر په جګړي کې مجاهدينو ته ډېر غنائم او زيات شمېر اسيران په لاس ورغلل، تر دې نېټې د جنګ اړوند احکام او ضوابط لانه وو ورکړی شوي، د غنائمو او اسيرانو په اړه هغوی ته خاصه لارښوونه نه وه شوې، دا پوښتنه راولاړه شوه چي له غنائمو سره څه وشي؟ آيا په ټولني کې د معمول دود دستور مطابق به د هغه چا وي چي تر لاسه کړی ئې دئ او که دا نوی دين به په دې اړه هم دوی ته نوې لارښووني کوي؟! دلته د غنائمو په اړه دوی ته څو مهمي لارښووني شوې:

● غنائم ئې د انفال په نامه ياد کړي، نفل له خپلي اصلي برخي او حق زيات څه ته هم وايي او له خپل مسئوليت او وجيبې زيات څه ته هم، هم ئې په هغو عباداتو اطلاق کېږي چي انسان ئې علاوه له فرائضو تر سره کوي او هم په هغي عطيې چي انسان ته له خپل اصلي حق اضافه ورکول کېږي، دلته غنائمو ته د دې لپاره د انفال نوم ورکړی شوی چي مجاهدينو ته ووايي: دا يوه الهي پېرزوينه او عطيه ده، ستاسو اصلي بدله تر دغو ډېره ډېره ستره ده، غنائمو ته د اضافي او ثانوي شي په سترګه وګورئ.

● غنائم به د الله او د هغه د رسول حق ګڼئ نه خپل حق، داسي نه چي د هر چا په لاس کې پرېوتی نو هغه ئې ځان اصلي خاوند او مستحق وګڼي، په جګړو کې خو جنګيالي په بېلو بېلو دندو توظيف کېږي، ځيني دښمن تعقيبوي، ځيني مهم سنګرونه ساتي، ځيني له دښمن پاته وسائل راغونډوي، که د جاهليت د دور د دود دستور مطابق جنګي غنائم د هغه چا حق وګڼل شي چي تر لاسه کړي ئې دي، نو بيا خو به تل اصلي مستحقين محروم وي، هر څوك به د دې هڅه کوي چي د دښمن د تعقيب او د مهمو سنګرونو د ساتلو پر ځای د غنائمو راټولولو ته ځان ورسوي. دا نه يوازې د مجاهدينو په ليکو کې د نزاع باعث کېږي بلکي ډېر ځله لاس ته راوړې فتح په ماتي بدلوي، د احد جګړه ئې يو څرګند مثال دئ.

- له الله تعالی ووېرېږئ، د جهاد په دوران کې له هغو کارونو ځان وساتئ چې د الله تعالی د رضاء او حکم خلاف وي، په غنائمو کې غلول او خیانت مه کوئ.
- خپلمنځي اړيکې مو روغې وساتئ، له شخړو او منازعاتو ډډه وکړئ.
- د الله تعالی او د هغه د رسول اطاعت وکړئ، د ايمان تقاضا همدا ده چې د جهاد په شمول د ژوند په ټولو برخو کې د الله تعالی د يوه مطيع بنده او د ده د پيغمبر د يوه مطيع امتي په توگه عمل وکړئ.

---

إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُهُۥ زَادَتْهُمْ إِيمَٰنًا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٢﴾

۲- مؤمنان خو هغه دي چې کله د الله يادونه وشي زړونه ئې ورېږدي او چې د ده آيتونه پرې ولوستل شي ايمان ئې ورزيات کړي او په خپل رب توکل کوي.

---

(۲)- دا مبارك آيت د مؤمنانو څو ځانگړتياوې بيانوي:

- کله چې د الله يادونه وشي زړونه ئې پوړېږی.
- کله چې د ده آيتونه ورباندې ولوستل شی ايمان ئې ورزيات کړی.
- او په خپل رب توکل کوي.

يعني کله چې د دوی په وړاندې د الله تعالی نوم واخيستل شي، يا په خپله ورپه ياد شي، له وېرې او مينې ئې زړه په درېبدا شي، د خپلو گناهونو او قصور او د بخښونکي رحمان خدای جل شأنه د وسيع پېرزوينو او پراخ رحمت په رايادولو سره ئې زړه رېږدي او له سترگو ئې اوښکې بهېږي؟ دا پر الله تعالی د ايمان تقاضا ده او همدا د الله تعالی د ښه پېژندو لپاره يو دقيق معيار، هغه څوك دي په خپل ايمان ډاډه وي چې د الله تعالی د نامه په رايادولو سره ئې زړه وپوړېږي او له سترگو ئې اوښکې وبهېږي، خو که د الله تعالی د نوم په اورېدو سره ئې نه د زړه کيفيت بدل شو او نه ئې د څېرې، بايد خپل ايمان ته بيا کتنه وکړي.

آيا په کوم لمانځه کې، په دې خاطر ستا زړه لړزېدلی او له وېرې او هيبته ستا وېښتان زيږه شوي چې فکر دې کړی د رب العالمين، قهار او جبار خدای جل شأنه په وړاندې ولاړ يې؟ که داسې نه وي شوی نو تا نه په حقيقي معنی خدای ياد کړی او نه دې واقعي لمونځ کړی.

د قرآن د آيتونو په اورېدو سره چې د چا ايمان مزيد مضبوط شو، آيتونو د ده ايمان ته ځلا او قوت ورپه برخه کړ، بايد په خپل ايمان مطمئن وي او که داسې ونه شول بايد په

خپل ايمان کې تجديد نظر وکړي. که د سخت اضطراب او پرېشانۍ په حالت کې، تا د قرآن داسي څو آيتونه واورېدل چي درته وايي: صبر وکړه، الله د مؤمنانو مل دئ، مرگ په خپل وخت راځي، د مرگ پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي، په همدې سره ستا ټوله پرېشاني رفع شوه او شديد اضطراب دي په سخت ډاډمن سکون او اطمينان بدل شو، نو پوه شه چي مؤمن يې او که داسي ونه شول او د قرآن د آيتونو په اورېدو سره نه ستا پرېشاني له منځه ولاړه او نه دي زړه ډاډه او مطمئن شو، نو پوه شه چي په تا کې د ايمان يوه ځانگړتيا او نښه نشته.

ستا د ايمان يوه بله څرگنده نښه دا ده چي په خپل رب توکل ولرې، الله تعالی خپل وکيل وگڼې، ځان هغه ته وسپارې، له زړه په هغه اعتماد ولرې او په هري پرېکړې ئې راضي وې او که داسي نه وې نو ايمان دي پيکه دئ او له يوې مهمې ځانگړتيا او تقاضا محروم.

د فقهاءو او مفسرينو تر منځ په دې اړه اختلاف دئ چي آيا ايمان کمښت او ډېرښت مني؟ آيا کېدی شي د چا ايمان لږ او د چا ډېر وي؟ په دې اړه اختلاف دومره دئ چي ځيني وايي امام بخاري رحمه الله د خپل کتاب صحيح البخاري د احاديثو لويه برخه داسي تنظيم کړې او هغه احاديث ئې په سر کې راوړي چي د امام ابوحنيفه رحمه الله دا رأيه پرې ترديد کړي چي ايمان زيادت او کمښت نه مني!! حال دا چي دا اختلاف لفظي دئ او په دې نه ارزي چي دومره ژور او اوږده بحثونه پرې وشي، دا ځکه چي ايمان د محتوی او مؤمن به له مخي زيادت او کمښت نه مومي، نه په مؤمن به شيانو کې څه علاوه کېدی شي او نه څه کمېدی، که څوک له مؤمن به شيانو په يوه هم ايمان ونه لري ايمان ئې ناقص نه بلکې بې اعتباره دئ، له دې پلوه لږ يا کم ايمان ته ايمان نه شو ويلی، خو د کيفيت له پلوه ايمان هم کمښت مومي او هم ډېرښت، د چا ايمان مضبوط او قوي وي او د چا کمزوری او ضعيف، په دې اړه د قرآن گڼ شمېر آيتونه او د رسول الله صلی الله عليه و سلم ډېر احاديث دومره کافي وضاحت لري چي هيڅا ته د ايمان له ضعف او قوت يا کمښت يا زيادت د انکار مجال نه پرېږدي. دا کيفي کمښت او ډېرښت د الله تعالی په اړه د انسان په معرفت پوري تړلی دئ، د معرفت کچه له يوه انسان تر بل پوري توپير لري، د قرآن د هر آيت په اورېدو او د هغه په مطلب له پوهېدو سره د معرفت دا کچه لوړېږي او په همدې تناسب ايمان قوت مومي. په دغه آيت کې همدې مطلب ته اشاره شوې.

د دې آيت ارتباط له مخکيني سره دا دئ چي په مخکيني کې ويل شوي: له الله تعالی ووېرېږئ، خپلمنځي اړيکي مو روغي وساتئ، د الله تعالی او د هغه د رسول اطاعت وکړئ، دلته د همدغو دريو خبرو مزيد وضاحت شوی، د تقوی په شرح کې ويل شوي: د الله تعالی د نامه په يادولو سره د مؤمنانو زړونه رېږدي، د خپلمنځي اړيکو د اصلاح په شرح کې ويل شوي چي د آيتونو په اورېدو سره ئې ايمان مضبوطېږي؛ او د الله او پيغمبر د اطاعت په شرح کې ويل شوي چي ځان الله ته حواله کوي او پر هغه توکل کوي.

ﭐلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ﴿٣﴾ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ حَقّٗاۚ لَّهُمۡ دَرَجَٰتٌ عِندَ رَبِّهِمۡ وَمَغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ﴿٤﴾

۳- هغه چې لمونځ اقامه کوي او له هغه څه انفاق کوي چې موږ ورروزي کړي. ٤- همدا دوی حقیقي مؤمنان دي، د الله په وړاندې ئې (لوړي) درجې، بخښنه او غوره رزق په برخه.

(۳-٤)- په دې مبارکو آیتونو کې د حقیقي مؤمنانو دوه مهمې ځانګړتیاوې او درې بدلې او اجرونه په ګوته شوې:

- لمونځ اقامه کوي.
- انفاق کوي.
- الله تعالی به ئې درجې لوړې کړي.
- ګناهونه به ئې ورته وبخښي.
- غوره رزق به ورکړي.

یعني حقیقي مؤمنان هغه دي چې د ځانځه له لارې هم له الله تعالی سره خپلې اړیکې ټینګوي او هم خپلمنځي اړیکې، دوی نه یوازې د غنائمو په سر له نزاع او اختلاف ډډه کوي بلکې خپلې شتمنۍ او خپل رزق او روزي هم د الله تعالی په لار کې لګوي. الله تعالی به د دغو واقعي مؤمنانو درجې لوړې کړي، قصور او ګناهونه به ئې ورته وبخښي او په دنیا او آخرت کې به غوره رزق ورکړي؟.

كَمَآ أَخۡرَجَكَ رَبُّكَ مِنۢ بَيۡتِكَ بِٱلۡحَقِّ وَإِنَّ فَرِيقٗا مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ لَكَٰرِهُونَ ﴿٥﴾ يُجَٰدِلُونَكَ فِي ٱلۡحَقِّ بَعۡدَ مَا تَبَيَّنَ كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ إِلَى ٱلۡمَوۡتِ وَهُمۡ يَنظُرُونَ ﴿٦﴾

٥- همغسې لکه چې ته ئې له خپل کور په حقه وایستلې، په داسې حال کې چې د مؤمنانو یوې ډلې کرکه درلوده. ٦- د همدې حقیقت په اړه ئې له هغه وروسته له تا سره لانجه کوله چې څرګند شو، داسې لکه چې د مرګ په لورې بېول کېږي او دوی (ئې په خپلو سترګو) ګوري.

(٥-٦)- په دې مبارك آیت کې د بدر د جګړې له پیل مخکې حالت داسې انځور شوی:

- له مدينې د برید په موخه وتل سم او په حقه تصمیم وو.
- کله چې دا خبره رامنځته شوه چې د قریشو لښکر راوتلی او د برید اراده لري، نو یوازینی صحیح تصمیم دا وو چې له دښمن سره مقابله وشي، هر حساس او په وضعیت پوه انسان ته دا خبره جوته شوې وه چې له مقابلې پرته د بل هر کار پایلي به خطرناکي وي.
- ځینو له جنګ ډېره کوله او د قریشو له مجهز فوځ سره مقابله ئې داسي ګڼله لکه د مرګ په کومي کې ځان غورځول. دوی هڅه کوله چې نور هم له دې تصمیمه واړوي.
- په دې اړه ګڼ شمېر توجیهات وړاندي شوي چې د آیت د دې برخي معنی څه ده: يُجَٰدِلُونَكَ فِي ٱلۡحَقِّ بَعۡدَ مَا تَبَيَّنَ کوم حق څرګند شو او څنګه څرګند شو؟ غوره توجیه دا ده چې د جنګ پرېکړه د اکثریت په توافق وشوه، د مسلمانانو اکثریت ته دا حقیقت جوت شوی وو چې اوس له جنګ پرته بله چاره نه لري، چا چې د جنګ له تصمیم سره مخالفت کولو له داسي یوه څرګند حقیقت سره ئې مخالفت کولو چې د پیغمبر علیه السلام او د صحابه وو د مشرانو په شمول اکثریت پرې توافق کړی وو.
- په دې اړه هم د مفسرینو تر منځ د کافي اختلاف رأی شاهد یو چې د آیت دا برخه (كَمَآ أَخۡرَجَكَ رَبُّكَ مِنۢ بَيۡتِكَ بِٱلۡحَقِّ) څه معنی لري او دا اخراج له څه سره تشبیه شوی؟ غوره توجیه ئې دا ده چې تر دې په مخکي آیت کې له واقعي مؤمنانو سره د اجر او بدلې درې وعدې شوې، درجات، مغفرت او رزق کریم، چې دا هم دنیوي اجر او بدله احتواء کوي او هم اخروي، په همدې ارتباط په دې آیت کې ویل شوي چې د دې وعدې یوه څرګنده بېلګه او مصداق د بدر په جګړې کې د مجاهدینو بریا او د زیاتو غنائمو تر لاسه کول وو، یعني د بدر په هغي نښتي کې چې تاسو ته ئې پایلي خطرناکي برېښېدې او ځینو خو داسي ګڼله چې د مرګ په لوري روان دي، خو الله تعالی تاسو ته څومره ستره بریا او کافي مقدار غنائم په لاس درکړل، همداسي به مؤمنانو ته نېکي بدلې ورکوي.

---

وَإِذۡ يَعِدُكُمُ ٱللَّهُ إِحۡدَى ٱلطَّآئِفَتَيۡنِ أَنَّهَا لَكُمۡ وَتَوَدُّونَ أَنَّ غَيۡرَ ذَاتِ ٱلشَّوۡكَةِ تَكُونُ لَكُمۡ وَيُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُحِقَّ ٱلۡحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ وَيَقۡطَعَ دَابِرَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ۝٧

٧- او هغه مهال چې الله له دوو ډلو د یوې ژمنه درسره کوله چې ستاسو په برخه به شي؛ او تاسو دا خوښوله چې بې شوکته ئې ستاسو په برخه شي، په داسي حال کې چې الله غوښتل په خپل حکم سره حق محقق کړي او د کافرانو جرړې پرې کړي.

---

(۷)- په دې مبارك آيت کې دا مطالب مومو:

• الله تعالی د بدر له مجاهدينو سره دا وعده کړې وه چې د قريشو له دوو ډلو، لښکر يا تجارتي قافلې به يوه د دوی په لاس کې پرېوځي، پيغمبر عليه السلام دوی ته دغه خبره کوله چې له دغو دواړو يوه غوره کړئ، يا ستاسو په لاس د دښمن ماته او يا د تجارتي قافلې اموال تر لاسه کول، د ډېرو خوښه دا وه چې له مجهز لښکر سره د مقابلې پر ځای پر تجارتي قافلې بريد وشي، خو الله تعالی غوښتل چې د کفر اصلي ځواك وځپل شي او په دې سره د کفر جرړې له بيخه وايستلې شي، د الفاظو له فحوی معلومېږي چې پيغمبر عليه السلام دوی له لښکر سره مقابلې ته هڅول، خو ځينو په دې استناد کولو چې د قريشو له مجهز فوځ سره د مقابلې لپاره کافي وسائل او تجهيزات نه لرو، غوره دا ده چې د لښکر پر ځای پر قافلې بريد وشي. په دې سره مؤمنان دې ته متوجه کوي چې دا جګړه او په هغې کې تاريخي بريا ستاسو د تدبير نتيجه نه وه، د الله تعالی په اراده تر سره شوې، بريا ئې د ده پېرزوينه وه، د غنائمو په اړه لانجه مه کوئ، وېش ئې د الله تعالی حکم ته پرېږدئ.

• د دې لومړۍ مخامخ جګړې ځانګړې اهميت وو، د آيت الفاظ ښيي چې په دې کې د دښمن ماته به په دې منتج کېږي چې د کفر جرړې وايستل شي، همداسي وشول، قريشو داسي نه انګېرله چې مؤمنان به له دوی سره د مخامخ نښتې جسارت وکړي، د سيمې نورو ځواکونو او د مسلمانانو پټو کورنيو او بهرنيو دښمنانو هم دا ګمان نه کولو چې مسلمانان به د قريشو مخې ته د ودرېدو توان ولري، په دې جګړې کې د مسلمانانو ستري بريا له يوې خوا د دښمن روحيه وځپله، له بلې خوا ئې د مسلمانانو او د دوی د خواخوږو سر لوړ او روحيه تقويه کړه، هغه پټ دښمنان ئې هم ووېرول چې فرصت ته په انتظار ناست ول، که قريش په دې جګړې کې بريالي شوي وی نو دوی به هم د مسلمانانو په ضد په حملو لاس پورې کاوو او له قريشو سره به يو ځای کېدل.

• په دې جګړې کې د قريشو نژدې اويا کسان ووژل شول، چې په دې کې د دوی اکثر مشران او معروف جنګيالي شامل ول، نژدې اويا نور اسيران شول، ټول جنګي وسائل او تجهيزات ئې د مسلمانانو لاس ته ورغلل.

• قرآن د دغې قصې په بيانولو سره مجاهدينو ته لارښوونه کوي چې له دښمن سره لومړۍ مخامخ نښته ډېر اهميت لري، د خپلې مبارزې په دوران کې بايد دې ټکي ته خاصه توجه ولرئ.

---

لِيُحِقَّ ٱلْحَقَّ وَيُبْطِلَ ٱلْبَٰطِلَ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿٨﴾

۸- تر څو حق محقق کړي او باطل محو کړي، که څه هم مجرمين ترې کرکه لري.

---

(۸)- يعنى الله تعالى غوښتل چي په دې نښتي کې د مسلمانانو په بريا او د قريشو په ماتې سره د اسلام حق دين غالب او برلاسى کړي او د قريشو باطل مذهب له منځه يوسي، دا هغه څه وو چي د عربو ټولو مجرمينو ترې کرکه درلوده، نه ئې غوښتل چي د قريشو ماته او د مسلمانانو بريا په خپلو گنهگارو سترگو وگوري، خو همداسې وشول. دا آيت ښيي چي د عربو ټولو مفسدو ځواکونو له قريشو سره خواخوږي درلوده، د دوى برلاسي ئې غوښتله او د مسلمانانو په برلاسي او فتحي خواشيني کېدل.

---

إِذۡ تَسۡتَغِيثُونَ رَبَّكُمۡ فَٱسۡتَجَابَ لَكُمۡ أَنِّي مُمِدُّكُم بِأَلۡفٖ مِّنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ
مُرۡدِفِينَ ۝٩ وَمَا جَعَلَهُ ٱللَّهُ إِلَّا بُشۡرَىٰ وَلِتَطۡمَئِنَّ بِهِۦ قُلُوبُكُمۡۚ وَمَا ٱلنَّصۡرُ إِلَّا
مِنۡ عِندِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ۝١٠

۹- کله چي تاسو خپل رب ته په زاريو زاريو سره دعاء کوله او ستاسو دعاء ئې ومنله، چي زه مو په زرو يوه په بلي پسي راتلکونو فرشتو مرسته کوم. ۱۰- او الله خو دا يوازې د دې لپاره گرځولى چي زېرى وي او ستاسو زړونه پرې مطمئن شي. په داسې حال کې چي بريا خو يوازې د الله له لوري وي. بې شکه چي الله باحکمت عزتمن دئ.

---

(۹-۱۰)- کله چي د بدر په ميدان کې دواړه ډلې يوه بلې ته نژدې شوې او مسلمانانو ته معلومه شوه چي د قريشو شمېر د زرو شاوخوا کې او د دوى درې برابره دئ، د مجاهدينو په ليکو کې پرېشاني خوره شوه، الله تعالى ته ئې په زاريو زاريو دعاء کوله، پيغمبر عليه السلام دوى ته اطمئنان ورکولو چي که صبر او تقوى ولرئ، له بې همتي، خوف او وېرې ځان وساتئ، نو الله تعالى به ستاسو مرستي ته د دښمن د شمېر په اندازه فرشتې راولېږي، دا په داسې حال کې چي د بريا او غلبې پرېکړه د الله له لوري کېږي، د فرشتو لېږلو ته هم ضرورت نشته، هغه باحکمت عزتمن دئ، ځواکمن او غالب دئ او پوهېږي چي خپله پرېکړه څنگه عملي کړي.

دا آيت مجاهدينو ته د جگړې په اړه يوه مهمه لارښوونه کوي، يو په بل پسې د جگړې ډگر ته د ځواکونو راوړاندې کېدل، د جنگياليو په روحيې ځانگړى تأثير او اغېز لري، د يوه لوري روحيه لوړوي او د بل لوري په زړه کې وېره او خوف راولاړوي. تر دې چي ځوک خپل ټول ځواک په يو ځل د جگړې ميدان ته داخل کړي، دا ډېره غوره ده چي په لومړي سر کې په محدود شمېر جنگياليو جگړه پيل شي او بيا يو په بل پسې په مناسب وخت او له مناسب لوري پر دښمن باندې د بريد لپاره ځواکونه سوق شي.

إِذۡ يُغَشِّيكُمُ ٱلنُّعَاسَ أَمَنَةً مِّنۡهُ وَيُنَزِّلُ عَلَيۡكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً لِّيُطَهِّرَكُم بِهِۦ وَيُذۡهِبَ عَنكُمۡ رِجۡزَ ٱلشَّيۡطَٰنِ وَلِيَرۡبِطَ عَلَىٰ قُلُوبِكُمۡ وَيُثَبِّتَ بِهِ ٱلۡأَقۡدَامَ ﴿١١﴾

**١١- هغه وخت چې له خپل لوري ئې پرمښکی د ډاډېينې په توګه دربانديې غوړولو او له آسمانه ئې اوبه دربانديې ورولې چې پرې پاك مو كړي او شيطاني اضطراب له تاسو لرې كړي، زړونه مو مضبوط او په دې سره ستاسو قدمونه ټينګ كړي.**

---

(١١)- په دې مبارك آيت كې د بدر په جګړې كې د مجاهدينو روحي حالت او د دوی نظامي موقعيت په لنډو الفاظو سره په ډېره جامع او دقيقه توګه انځور شوی:

● مجاهدين پرېشانه ول، د پرېشانۍ وجه ئې له يوه پلوه د دښمن د شمېر او تجهيزاتو زياتوالی وو او له بله پلوه د دوی په موقعيت كې د اوبو كمښت، دوی د ميدان په لوړې خو شګلني برخې كې ول او دښمن لاندې او كلكې خاورينې برخې كې.

● الله تعالی د دوی دا پرېشاني په دوو پېرزوينو سره رفع كړه: له يوه پلوه ئې پر دوی سكينه او ډاډېينه نازله كړه، دومره چې په همغه سخت حالت كې پر ډېرو پرمښکی راغی، دا د ډاډ او اطمئنان انتهاء په ګوته كوي، په انسان بانديې هغه مهال خوب راځې چې ډېر ډاډه او مطمئن وي، د پرېشانۍ په حالت كې خوب ترې تښتي. له بله پلوه ئې پر سيمې باران وورولو، د دغو دوو پېرزوينو دا پايلي زموږ مخې ته ږدي: ١- مسلمانانو ته اوبه په لاس ورغلې، د څښاك او اودس او ځان وينځلو لپاره، ٢- شيطان چې د اوبو د كموالي يا نشتوالي په اړه كوم رجز او اضطراب د دوی په زړونو كې راولاړ كړی وو هغه ختم شو، ٣- زړونه ئې ډاډه او مضبوط شول. ٤- او قدمونه ئې ټينګ شول؛ او د دې معنی يا دا ده چې الله تعالی په دې دواړو پېرزوينو سره صبر، ثبات او استقامت ستاسو په برخه كړ او يا دا چې د باران د ورېدو په سبب ستاسو تر پښو لاندې شګلنه زمكه كلكه شوه او د دې په خلاف د دښمن د پښو لاندې زمكه خټې او چكړ شوه، په پلې جنګ كې دا دواړه خاص اغېز لري.

● د نعاس او پرمښكي دا حالت د بدر او احد په جګړو كې پر صحابه وو راغلی، د افغانانو په جهاد كې هم د سختو جګړو په دوران كې په ډېرو مجاهدينو دا حالت راغلی، دلته ئې يوه بېلګه ستاسو مخې ته ږدم، شهيد مطيع الله د ژېړوك اوسېدونكي مشهور قومندان راته وويل: له روسانو سره د هغې سختې نښتې په دوران كې چې زه په كې ټپي شوم، د يوې غونډۍ پر سر سنګر كې زما ملګري شهيدان شول، زه ټپي شوم، دښمن بورته راروان وو، ما لاسي بم تيار كړ چې د دښمن د رانژدې كېدو سره سم ئې د دوی لوري ته وغورځوم، په

همدې وخت کې خوب راباندې راغی، کله چې راویښ شوم، گورم چې خلاص بم مې په لاس کې او دښمن له صحنې وتلی، ما د قرآن د دغې وینا مصداق په خپلو سترگو ولید.

● ځینو درنو مفسرینو په (وَيُذۡهِبَ عَنكُمۡ رِجۡزَ ٱلشَّيۡطَٰنِ) کې (رجز) د (رجس) په معنی نیولی او دا مطلب ئې ترې اخیستی چې گواکې په ځینو مجاهدینو غسل لازم شوی وو او د دې باران په وجه د ځان وینځلو اوبه په لاس ورغلې!! دا توجیه په څو دلائلو ضعیفه ده: ١- د رجز اصلي معنی اضطراب او پرېشاني ده او د رجس معنی ناپاکي، په قرآن کې د رجز لفظ څو ځلې د عذاب په معنی راغلی، رجز د ناپاکۍ په معنی نیول صحیح نه دي، ٢- که د ناپاکۍ په معنی ونیول شي د مخکیني مطلب تکرار راځي، د پاکي ذکر د آیت په مخکینۍ برخې کې په دې صیغه راغلی: (لیطهرکم به) بیا ئې تکرار ته ضرورت نشته.

إِذۡ يُوحِي رَبُّكَ إِلَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ أَنِّي مَعَكُمۡ فَثَبِّتُواْ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۚ سَأُلۡقِي فِي قُلُوبِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلرُّعۡبَ فَٱضۡرِبُواْ فَوۡقَ ٱلۡأَعۡنَاقِ وَٱضۡرِبُواْ مِنۡهُمۡ كُلَّ بَنَانٖ ١٢ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ شَآقُّواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥۚ وَمَن يُشَاقِقِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ١٣ ذَٰلِكُمۡ فَذُوقُوهُ وَأَنَّ لِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابَ ٱلنَّارِ ١٤

١٢- هغه وخت چې ستا رب فرشتو ته وحي کوله چې زه درسره یم، نو هغه کسان ثابت قدمه کړئ چې ایمان ئې راوړی، ژر به د هغو خلکو په زړونو کې وېره واچوم چې کافران شوي، نو سرونه ئې ووهئ او هر هر بند ئې ترې ووهئ. ١٣- دا د دې لپاره چې له الله او د ده له رسول سره ئې مخالفت وکړ او څوك چې له الله او رسول سره ئې مخالفت وکړي نو یقیناً چې الله سخت عذاب ورکوونکی دئ. ١٤- همدا دئ نو وئې څکئ او دا چې کافرانو ته د اور عذاب دئ.

(١٢-١٤)- د دې مبارکو آیتونو اساسي لارښوونې دا دي:

● الله تعالی د بدر په جگړې کې ملائکو ته امر وکړ چې زه درسره یم، درومئ د مؤمنانو قدمونه ټینگ او عزم ئې مضبوط کړئ او په دوی کې صبر او استقامت راپیدا کړئ.

● مؤمنان دې ډاډه وي چې الله تعالی به حتماً د کافرانو په زړونو کې وېره او خوف اچوي، د هرې نښتې پایله د جنگیالیو په وېرې او زړه ورتیا پورې تړلې ده، هغه لوری به بریا تر لاسه کوي چې په ډاډه او مطمئن زړه سره د دښمن مقابله کوي او هغه لوری به له ماتې سره مخامخ کېږي چې وېره ئې په زړه کې راولاړه شوې.

● مؤمنانو ته ویل شوي چې د جگړې په مهال خپله ټوله توجه دې خوا ته واړوئ چې د

دښمنانو سرونه قلم کړئ او بندونه ئې قطع کړئ.

- دا د دوی د هغه مخالفت سزا ده چې له خپل رب او د ده له پیغمبر سره ئې کړی، شدید العقاب رب به دوی ته ستاسو په لاس همدا سزا ورکوي.
- دا په دنیا کې د دوی پایله ده او په آخرت کې ئې ځای د دوزخ اور دئ.

ځینو مفسرینو هغو روایاتو ته اعتبار ورکړی چې وایي: فرشتو د بدر په جګړې کې مخامخ او عملاً برخه اخیستې ده او د کافرانو د سرونو او بندونو په وهلو کې ئې ونډه درلوده، ځینو نورو ویلي چې دوی دا کار د مجاهدینو په لاس کړی، خو ځینو نورو دا روایات د اعتناء وړ نه دي ګڼلي، ځکه چې نه د آیت الفاظ دا مفهوم افاده کوي او نه دا د الله تعالی سنت دئ چې د فرشتو په ذریعه د کافرانو مقابله وکړي، د قرآن د وینا له مخې فرشتې د عذاب نازلولو لپاره ګمارل کېږي، نه د دې لپاره چې د مجاهدینو په څنګ کې له کافرانو سره وجنګېږي، که داسې وی نو یوه فرشته د ټولې نړۍ د کافرانو د مقابلې لپاره کفایت کوي.

آیت په صراحت سره وایي چې د فرشتو دنده یوازې دا وه چې د مؤمنانو زړونه مضبوط او قدمونه ټینګ کړي. د الله تعالی سنت دا دئ چې کافرانو ته د مجاهدینو په لاس سزا ورکوي.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ زَحۡفٗا فَلَا تُوَلُّوهُمُ ٱلۡأَدۡبَارَ ١٥
وَمَن يُوَلِّهِمۡ يَوۡمَئِذٖ دُبُرَهُۥٓ إِلَّا مُتَحَرِّفٗا لِّقِتَالٍ أَوۡ مُتَحَيِّزًا إِلَىٰ فِئَةٖ فَقَدۡ بَآءَ
بِغَضَبٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَمَأۡوَىٰهُ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ١٦

۱۵- اې مؤمنانو! کله چې د کافرانو له کوم لښکر سره په جګړې کې مخامخ شئ، نو شا مه وراړوئ. ١٦- او څوک چې په دې ورځ شا ورواړوي، مګر د جنګ په موخه لوری بدلوونکی او له بلې ډلې سره یو ځای کېدونکی، نو یقیناً چې په الهي غضب اخته شو او ځای ئې دوزخ دئ؛ او څومره بد دئ دا د ورتلو ځای.

---

(۱۵-١٦)- په دې مبارك آیت کې له دښمن سره د مخامخېدو په اړه څو مهمې لارښوونې شوې:

- که د دښمن د جنګیالیو له ډلې سره مخامخ شوئ، د تېښتې تکل به نه کوئ او دښمن ته به شا نه وراړوئ.
- د ضرورت او مجبوریت په حالت کې شا ته تګ او سنګر پرېښودل په دوو صورتونو کې جائز دي: ۱- د جګړې په ډګر کې له یوه سنګر بل سنګر ته تګ، له بل لوري پر دښمن

برید، نه د تېښتې په نیت بلکې له بل لوري پر دښمن د برید په نیت، ۲- د مجاهدینو له بلې ډلې سره د یو ځای کېدو په موخه، له هغوی سره د مرستې په نیت یا په زیات شمېر سره پر دښمن د برید په قصد.

● څوك چې له دغو دوو صورتونو پرته په بل نیت او موخه سنگر پرېږدي او دښمن ته شا کړي سزا ئې د الله تعالی غضب او د دوزخ اور دئ، یعني دا شا ته تگ او تېښته ئې په حقیقت کې د الله تعالی د غضب او د دوزخ په لوري تېښته ده، څومره بد لوري ته خوځېدلی!!

فَلَمۡ تَقۡتُلُوهُمۡ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ قَتَلَهُمۡۚ وَمَا رَمَيۡتَ إِذۡ رَمَيۡتَ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ رَمَىٰ وَلِيُبۡلِيَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ مِنۡهُ بَلَآءً حَسَنًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ١٧

۱۷- نو تاسو دوی نه دي وژلي بلکې الله وژلي؛ او کله چې تا ویشتل نو تا نه دي ویشتلي بلکې الله وویشتل، د دې لپاره چې مؤمنان له خپل لوري په غوره لورېینې سره وآزمویي، بې شکه چې الله پوه اورېدونکی دئ.

(۱۷)- په دې مبارك آیت کې مؤمنانو ته څو مهمې لارښوونې شوې:

● د بدر په غزا کې د دښمن د جنگیالیو مرگ ژوبله ځان ته مه منسوبوئ، دا د خپلو متو د زور او د تورو وهلو او غشو ویشتلو نتیجه مه گڼئ، د جگړې د پایلو په اړه داسې انگېرنه په مجاهدینو کې غرور او کبر راولاړوي، پر دښمن برلاسې د الله تعالی پېرزوینه او د ده د نصرت او توفیق نتیجه وگڼئ، الله تعالی دښمن ستاسو د تورو او نېزو لاندې راوستی او ستاسو غشې ئې په نښه برابر کړي.

● دا بریا هم د الله تعالی یوه آزموینه ده، غواړي معلومه کړي چې تاسو په داسې حالت کې څه وایئ او څه کوئ، لکه څنگه چې په ستونزو، کړاوونو، ماتو، تلفاتو، زخمونو او مرگ ژوبلې کې تاسو آزمویي، همداسې مو په بریاوو، فتوحاتو، برلاسیو او غنائمو سره هم آزمویي، دا به هم یوه الهي آزموینه گڼئ.

● الله تعالی پوه اورېدونکی دئ، ستاسو هره وینا او تبصره اوري او ستاسو د هرې خبرې په غرض او مقصد پوهېږي.

● له دې آیت معلومېږي چې په دې بریا کې د غشو ویشتونکو مهمه ونډه وه، د همدې لپاره ئې په ځانگړې توگه یادونه شوې، حقیقت دا دئ چې د بدر په جگړې کې پیغمبر علیه السلام داسې دقیق جنگي تدابیر نیولي وو چې د دښمن په ماتولو کې ئې لویه برخه وه، چې مهم مهم ئې دا وو: ۱- اوبه ئې په ډنډ کې ذخیره کړې، ۲- غشي ویشتونکي ئې په داسې موقعیت کې ځای پر ځای کړل چې له یوې خوا پرې نژدې دښمن اوبو ته ځان ورسوي او له

بلې خوا د برید په مهال هغوی په آسانۍ او له نژدې په نښه کړی شي، ۳- دوی ته ئې ویلي وو چې یوازې هغه مهال به پر دښمن غشي وروئ چې ښه رانژدې شي، په خپل سر، له هدایت او قومندې پرته او د دښمن له رانژدې کېدو مخکې به غشي نه ولئ، ٤- د تن په تن جګړې لپاره ئې د حمزه، علی او عبیده رضی الله عنهم په څېر درې داسې نومیالي او تکړه مجاهدین غوره کړل چې هم ئې په داسې جګړې کې کافي مهارت درلود او هم د ده له نژدې خپلوانو ول، د دښمن له لوري راوړاندې شوې درې رقیبان او حریف غوښتونکي د دوی په لاس ووژل شول، دا له یوې خوا د دښمن د روحیې په ځپلو او د مجاهدینو د روحیې په لوړولو کې ډېر اغېزمن ثابت شو او له بلې خوا مجاهدینو ولیدل چې پیغمبر علیه السلام په سختو شېبو کې او د سختو مقابلو لپاره خپل نژدې خپلوان راوړاندې کوي، هغه څه نه کوي چې ټګمار او بې دینه مشران ئې کوي، هغه چې د خطر پر ځای کې خپلوان شا ته کوي او نورو ته د رامخکې کېدو امر کوي او د امتیازاتو د وېش په وخت کې نور شا ته او خپلوان رامخته کوي.

تاسو به د دې سورې په نورو آیتونو کې وګورئ چې په جګړو کې د بریا او ماتې اساسي او مهم اسباب په ډېر دقت او تفصیل سره زموږ مخې ته ږدي.

که څه هم د دې آیت مطلب ډېر واضح دئ، د سورې له لومړي آیت او ورپسې ټول مضمون سره ئې ژور ارتباط دئ، هدف ئې دا دئ چې مجاهدین بریاوې ځان ته منسوب نه کړي، غنائم د ځان مسلم حق ونه ګڼي، د غنائمو او نورو لاس ته راوړنو پر سر له نزاع او لانجو ځان لرې وساتي، د آیت له الفاظو له دې پرته بل مطلب نشو اخیستلی، خو ځینو مفسرینو دې ته په پام سره چې په (وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ) کې مخاطب مفرد دئ، یوازې پیغمبر علیه السلام ئې د دې مخاطب ګڼلی او ویلي ئې دي چې پیغمبر علیه السلام د بدر په جګړې کې یو موټ شګه راواخیسته او د دښمن په لوري ئې وشیندله، چې الله تعالی هغه د قریشو د ټولو جنګیالیو سترګو ته ورسوله، دوی د سترګو په موښلو لګیا شول او مجاهدینو په همدې وخت کې پرې برید وکړ. په دې اړه څو خبرې په پام کې ولرئ: ۱- د آیت له دې برخې دا مطلب اخیستل صحیح نه دي، ځکه که پیغمبر علیه السلام دا کار کړي وي نو دا خو یو خارق العاده کار وو، نه ده ځان ته منسوبولو او نه بل چا، ولې به الله تعالی ورته فرمایل چې دا ستا ویشتل نه وو بلکې د الله ویشتل وو؟! په دې صورت کې خو د دغې وینا ضرورت منتفي کېږي او کاملاً غیرضروري وینا ترې جوړېږي. ۲- دلته د دې لپاره د وژلو په ارتباط د جمع صیغه او د غشو ویشتلو په اړه د مفرد صیغه راغلې چې د دښمن په وژل کېدو کې ټولو مجاهدینو په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه برخه اخیستې وه، خو د غشو ویشتلو کار د ځینو خاصو مجاهدینو کار وو، که دا د جمعې په صیغې راغلی وی په ټولو مجاهدینو ئې صدق نه کولو، د مفرد په صیغه ئې یادونه د دې لپاره غوره او ارجح ده چې یوازې په غشو ویشتونکو ئې اطلاق وشي. ۳- په دې اړه روایات متعدد، مختلف او متعارض دي، ځیني دا پېښه په بدر کې، ځیني ئې په احد کې، ځیني په

حنین کې او ځینې ئې د خیبر په جګړې کې بولي!!
دا هم باید وویل شي چې داسي خبري هغه کسان ډېر خوښوي چې غواړي د حوادثو لپاره خارق العاده اسباب راپیدا کړي، دا چې د بدر په جګړې کې د پیغمبر علیه السلام د جنګ منصوبه څنګه وه؟ مجاهدین ئې څنګه تنظیم کړل؟ غشي ویشتونکي ئې چېرې ځای پر ځای کړل او هغوی ته ئې څه وویل؟ د اوبو د ذخیره کولو لپاره ئې څه ترتیب ونیولو؟ په دې اړه ئې څه تدابیر غوره کړل چې اوبو ته د دښمن د رسېدو مخنیوی وکړي؟ پلي مجاهدینو ته ئې څه لارښوونه وکړه او کله ئې پر دښمن د برید امر وکړ؟ دا او دې ته ورته نوري مهمي او اساسي خبري نه څېړي، په دې اړه د روایاتو د راغونډولو او پر هغه د استناد کولو هڅه نه کوي، غواړي د دښمن د ماتې لپاره خارق العاده اسباب ولټوي!! دوی د حنین او احد په جګړې کې د مسلمانانو د ماتې او د پیغمبر علیه السلام د ټپي کېدو لپاره هم دې ته ورته توجیهات لټوي، خو هغه چا ته د ځواب له ویلو عاجز دي چې ترې پوښتي: ولې پیغمبر علیه السلام د احد، خندق او حنین په جګړو کې دې ته ورته کار ونه کړ، په یو موټ شګو سره ئې ولې دښمن ته ماته ورنه کړه؟ ولې ئې زغري اغوستې؟ ولې توره په لاس له دښمن سره مخامخ جنګېدو؟ ولې ټپي شو؟ دوی پیغمبر علیه السلام د یوه ستر او مدبر نظامي قاید په توګه نه بلکې د داسي چا په توګه وړاندي کوي چې د جګړو په مهال به په یوې خوندي ګوښې کې ناست وو، دښمن ته به ئې په دعاءګانو سره ماته ورکوله!! حاشا و کلا، پیغمبر علیه السلام توره په لاس او زغره په تن، د جګړې په مورچل کې خپل رب ته دعاء کوله، په دعاء ئې بسنه نه کوله، عملاً ئې په جګړې کې برخه اخیسته، د جګړې سوق او اداره به ئې په لاس کې وه، دوی د پیغمبر علیه السلام په اړه همغه خبره کوي چې بایبل ئې د موسی علیه السلام په اړه کوي، بایبل تر دې عنوان لاندي: له عمالقیانو سره نښته، لیکي: عمالقیان له اسرائیلیانو سره د جګړې لپاره رفیدیم ته راغلل، موسی یوشع ته وویل: سبا له ځینو کسانو سره د دوی مقابلې ته ورشه، زه به د خدای عصا په لاس کې لرم او د غره پر سر به ولاړ وم!!! یوشع همداسي وکړل... موسی، هارون او حور غره ته وختل... موسی خپل لاسونه د آسمان په لوري د دعاء لپاره لوړ کړل... تر څو چې به د ده لاسونه لوړ ول نو اسرائیلیان به په جګړې کې برلاسي ول، خو کله چې به ستومانه شو او لاسونه به ئې کوز کړل نو عمالیقیان به برلاسي شول، په پای کې موسی ستړی شو او خپل لاسونه ئې نه شو اوچتولی، نو هارون او حور په یوې ډېري کښېناوو او تر ملا لوېدو ئې د ده لاسونه اوچت نیولي وو او په دې سره یوشع او جنګیالیو ئې عمالقیان خواره واره کړل!!! دلته هم د بایبل د لیکونکي او د ده د ملګرو هغه بیماري ځان ښیي چې مهم قضایا په ډېرو بسیطو او شکلي حرکاتو پوري غوټه کوي، شکلیاتو ته تر اصلي حقائقو زیات اهمیت ورکوي، لکه دلته چې وایي: تر څو چې به د موسی علیه السلام لاسونه لوړ ول نو اسرائیلیان به برلاسي ول او چې راکوز به شول نو برلاسي به ئې په ماته بدله شوه!!! د بایبل له لیکونکي پوښتنه کوو: د بنده د دعاءګانو په وخت کې ستاسو خدای

د ده لاسونو ته ګوري او فيصله کوي که د ده د زړه تمنی او پر ژبې دعاء ته؟!! آيا د هغه چا دعاء نه قبلوي چې له ډېرې ستړيا ئې لاسونه راکوز شوي؟!! له دې د مخه خو تا په يوه ځای کې هم نه دي ليکلي چې د لاسونو لوړ نيولو په سبب موسی عليه السلام ته هغه ستري ستري برياوې او فتوحات ورپه برخه شول!! دا ولې؟!!

قرآن د ډېرو پيغمبرانو عليهم السلام هغه دعاءګانې رانقل کړې چې الله تعالی قبولې کړې دي، خو په هيڅ ځای کې ئې د دعاکوونکي حالت او د لاسونو لوړولو او ټيټولو ته اشاره نه ده کړې، د دوی د منل شوو دعاءګانو هغه خوندور او زړه لړزوونکي الفاظ ئې ذکر کړي چې ډېر ځله د انسان اوښکې ورته بهېږي، طبيعي ده چې د دعاءګانو منونکی رب دغو الفاظو ته چې د انسان د زړه ترجماني کوي، اهميت ورکوي، نه د لاسونو حالت ته!!

ښايي دا به هم بې فائدې خبره نه وي چې د ځينو تفسيرونو هغه لانجمن بحث ته هم اشاره وشي چې د دغه آيت په ارتباط ئې کړی او دا موضوع ئې څېړلې چې آيا د انسان د (افعالو) خالق الله تعالی دئ که په خپله انسان؟ دئ د خپلو عملونو موجد او اصلي باعث دئ که يوازې مکتسب، په دې اړه څو عرائض لرم:

- دا بې مورده او بې فائدې بحث دئ.
- له دې آيت او په دې ځای کې دا موضوع راايستل له اصلي موضوع انحراف او په غلط لوري تګ سره مترادف ده، دا آيت په دې ارتباط راغلی چې په جګړو کې برياوې، د دښمن وژل او ويشتل ځان ته مه منسوبوئ بلکې دا د الله تعالی پېرزوينه وګڼئ، د بحث موضوع دا نه ده چې انسان په خپلو کړنو کې څومره اغېز او استقلال لري.
- څوك چې له قرآنه ډېر لږ معلومات ولري پوهېږي چې د قرآن له نظره انسان محکوم او مجبور نه دئ پيدا شوی، بلکې د خپلې لارې په انتخاب کې آزاد دئ، له کفر او ايمان يو په خپله خوښه انتخابوي، انتخاب د ده له لوري دئ او إذن او توفيق د الله له لوري.
- انسان د خپل فعل فاعل، د خپل کسب کاسب او د خپل عمل عامل دئ، د فعل او عمل لپاره د فاعل، کاسب او عامل پر ځای د خالق يا موجد لفظ کارول له هيڅ پلوه د توجيه وړ نه دئ، فعل او عمل (شی) نه دئ چې د خلق اطلاق پرې وشي او موجد ورته په ګوته شي، چا چې په لومړي ځل دا بحث پيل کړی او د (فعل او عمل) لپاره ئې د (خلق) لفظ کارولی له يوه مبارك آيت ئې غلطه انتباه اخيستې، آيت داسې دئ:

وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ الصافات:٩٦

چې ترجمه ئې داسې کوي: او الله هم تاسو پيدا کړي يئ او هم ستاسو عملونه!

يعني دا تاسو نه يئ چې خپل عملونه تر سره کوئ بلکې ستاسو عملونه هم د الله تعالی له لوري پيدا کېږي!! د خپلو عملونو پرېکړه تاسو نه کوئ الله تعالی ئې کوي!!

د دغې ژباړې او استدلال په اړه بايد ووايو:

- دا ژباړه ناسمه او د آیت د مراد او مقصد خلاف ده. راشئ د دې آیت الفاظو ته لږ ځیر شو او وګورو چي د آیت دقیقه او سمه ترجمه کومه ده؟ دا په اصل کې د ابراهیم علیه السلام د هغې جامع وینا یوه برخه ده چي خپل مشرك قوم ته ئې کړې، په صحیح ترجمې او معنی ئې په هغه صورت کې سم پوهېدی شو چي دا آیت او ترې مخکینی یو ځای په پام کې ونیسو، د دواړو آیتونو ترتیب داسي دئ:

قَالَ أَتَعْبُدُونَ مَا تَنْحِتُونَ ﴿٩٥﴾ وَٱللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ ﴿٩٦﴾ الصافات: ٩٥-٩٦

وئې ویل: آیا د هغه څه عبادت کوئ چي تاسو ئې (په خپله) تراشئ؟ حال دا چي الله تعالی هم تاسو پیدا کړي یئ او هم هغه څه چي تاسو ئې جوړوئ.

په مخکیني آیت کې د دوی بتان د مَا تَنْحِتُونَ په نامه یاد شوي او په وروستني آیت کې همدا (مَا تَنْحِتُونَ) د (مَا تَعْمَلُونَ) په صیغه راغلي، یعني الله تعالی هم تاسو پیدا کړي یئ او هم هغه بتان چي تاسو په خپل لاس جوړ کړي.

دلته (مَا تَعْمَلُونَ) داسي دئ لکه په لاندي آیتونو کې چي راغلي:

أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّا خَلَقْنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَآ أَنْعَٰمًا فَهُمْ لَهَا مَٰلِكُونَ ﴿٧١﴾ یس: ٧١

آیا دې ته ئې پام نه دئ کړی چي موږ هغه څاروي ورته پیدا کړل چي زموږ لاسونو جوړ کړي او اوس ئې دوی خاوندان دي.

او یا دا آیت:

لِيَأْكُلُوا۟ مِن ثَمَرِهِۦ وَمَا عَمِلَتْهُ أَيْدِيهِمْ ۖ أَفَلَا يَشْكُرُونَ ﴿٣٥﴾ یس: ٣٥

چي مېوه ئې او هغه څه وخوري چي دوی په خپلو لاسونو جوړ کړي، نو آیا شکر نه کوي؟!

د دې آیت (وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ) دا الفاظ (وَمَا تَعْمَلُونَ) داسي تعبیرول چي الله تعالی د انسان عملونه پیدا کوي، غلط تعبیر دئ، صحیح تعبیر ئې هماغه مخکینی تعبیر دئ. له دې آیت دا انتباه اخیستل چي انسان په خپل عمل کې هیڅ راز استقلال نه لري ډېره بې بنسټه انتباه ده.

---

ذَٰلِكُمْ وَأَنَّ ٱللَّهَ مُوهِنُ كَيْدِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿١٨﴾

١٨- دغه او دا چي الله د کافرانو د تدبیر سستوونکی دئ.

---

(١٨)- یعني یوازي دا نه چي الله تعالی ستاسو غشي په نښه برابر کړل او دوی ئې ستاسو د تورو او نېزو خولو ته ودرول، بلکي د دوی ټول تدبیرونه ئې شنډ کړل، دوی په دې موخه راغلي ول چي د مسلمانانو ګواښ د تل لپاره له منځه یوسي او داسي ئې وځپي چي بیا له قریشو سره د ډغرو وهلو جسارت ونه کړي، خو نتیجه معکوس وخته، د جګړي لپاره چي

هغوی کوم تدبیرونه نیولي ول ټول بې نتیجې وختل.

إِن تَسْتَفْتِحُواْ فَقَدْ جَآءَكُمُ ٱلْفَتْحُ وَإِن تَنتَهُواْ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَإِن تَعُودُواْ نَعُدْ وَلَن تُغْنِيَ عَنكُمْ فِئَتُكُمْ شَيْـًٔا وَلَوْ كَثُرَتْ وَأَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٩﴾

١٩- که مو فتح غوښتله، نو دا فتح خو درته راغله؛ او که ډډه وکړئ نو دا درته غوره ده؛ او که بیا راوګرځئ بیا راګرځو؛ او ستاسو ډله که څه هم زیاته وي کوم څه به درنه دفع نه کړی شي؛ او دا چي الله له مؤمنانو سره دئ.

(١٩)- دلته د اسلام دښمنانو ته څو خبري شوې:

- که تاسو د بري او فتحي په انتظار وئ نو دا خو درته راغی، په دې الفاظو کي یو خوندور طنز دئ، یعنی دا ده هغه فتح چي تاسو ئې انتظار درلود!! یا په دې معنی چي ستاسو انتظار غلط وخوت، د فتحي پر ځای مو ماته په برخه شوه، یا په دې معنی چي تاسو به ویل: موږ په حقه یو، پیغمبر (علیه السلام) او یاران ئې له خپل پلرني حق دین بغاوت کړی، په جګړي کي به بریا د هغه چا په برخه کېږي چي په حقه وي، دا دئ فتح د هغه چا په برخه شوه چي په حقه دئ.
- دا ستاسو په خیر ده چي له مخالفته لاس واخلئ.
- که بیا کفر او عناد ته وګرځئ، بیا د جنګ اراده وکړئ، الله تعالی به له تاسو سره بیا همغه څه کوي چي د بدر په جګړي کي ئې درسره وکړل.
- ډاډه اوسئ چي د پلویانو زیاتوالی څه ګټه نشي دررسولی.
- دا ځکه چي الله تعالی د مؤمنانو مل او مرستندوی دئ.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا تَوَلَّوْاْ عَنْهُ وَأَنتُمْ تَسْمَعُونَ ﴿٢٠﴾ وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ قَالُواْ سَمِعْنَا وَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ ﴿٢١﴾ إِنَّ شَرَّ ٱلدَّوَآبِّ عِندَ ٱللَّهِ ٱلصُّمُّ ٱلْبُكْمُ ٱلَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ ﴿٢٢﴾

٢٠- اې مؤمنانو! د الله او د ده د رسول اطاعت وکړئ او په داسي حال کي مخ ترې مه اړوئ چي اورئ. ٢١- او د هغو خلکو په څېر مه کېږئ چي وایي: واموورېدل، په داسي حال کي چي نه اوري. ٢٢- بې شکه چي د الله په نزد کي تر ټولو بد خوځېدونکي هغه کاڼه او ګونګیان دي چي تعقل نه کوي.

(۲۰-۲۲)- دلته مؤمنانو ته څو لارښوونې شوې:

- د الله تعالی اطاعت وکړئ.
- د ده د رسول اطاعت وکړئ.
- د پیغمبر علیه السلام د وینا او لارښوونو له اورېدو وروسته له منلو او عملي کولو ئې مه په شا کېږئ.
- د هغو خلکو په څېر مه کېږئ چې په خوله وايي: ستا وینا مو واورېده، خو عمل پرې نه کوي، حالت ئې داسې وي لکه چې خبره ئې اصلاً نه وي اورېدلې.
- د الله تعالی په نزد کې تر ټولو بد انسانان هغه دي چې نه حق خبره اوري، نه په حقیقت اعتراف کوي او نه خپل عقل کاروي، لکه چې کاڼه او ګنګیان وي او له عقله بې برخي.

---

وَلَوْ عَلِمَ ٱللَّهُ فِيهِمْ خَيْرًا لَّأَسْمَعَهُمْ ۖ وَلَوْ أَسْمَعَهُمْ لَتَوَلَّوا۟ وَّهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٢٣﴾

۲۳- او که الله په دوی کې کوم خیر اوښېګڼه موندلې وی نو حتماً به ئې وراورولي وو؛ او که ئې وراورولي وی هرومرو به داسې په شا شوي وو چې اعراض کوونکي به وو.

---

(۲۳)- یعنی په دوی کې د حق د اورېدو او منلو استعدادونه ځپل شوي، الله تعالی داسې موندلي چې هیڅ خیر او ښېګڼه په کې نشته، د دې وړ نه دي چې د حق وینا د اورېدو، د حق د منلو او د حق لوري ته د تلو توفیق ئې په برخه شي، که الله تعالی احیاناً د حق د اورېدو توفیق ورکړي، عمل پرې نه کوي.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱسْتَجِيبُوا۟ لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ ۖ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ ٱلْمَرْءِ وَقَلْبِهِۦ وَأَنَّهُۥٓ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٢٤﴾ وَٱتَّقُوا۟ فِتْنَةً لَّا تُصِيبَنَّ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مِنكُمْ خَآصَّةً ۖ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿٢٥﴾

۲٤- اې مؤمنانو! کله چې الله او پیغمبر تاسو هغه څه ته بلي چې ژوند درپه برخه کوي، وئې منئ او په دې پوه شئ چې الله د سړي او د ده د زړه تر منځ حائل کېږي او دا چې د ده لوري ته به غونډ کړی شئ. ۲۵- او له هغې فتنې او مصیبته ځان وساتئ چې یوازې ستاسې ظالمان نه پرې اخته کېږي او په دې پوه شئ چې الله سخت عذاب ورکوونکی دئ.

---

(۲٤-۲۵)- په دغو مبارکو آیتونو کې څو لارښوونې شوې:

- تل د الله تعالی او د پیغمبر علیه السلام بلنې ته مثبت ځواب ووایئ.
- په دې بلنې کې ستاسو د ژوند او بقاء راز پروت دئ، په دنیا او آخرت کې غوره ژوند ستاسو په برخه کوي.
- که تاسو د الله تعالی اطاعت ونه کړئ او بلنې ته ئې مثبت ځواب ونه وایئ نو الله تعالی به ستاسو او ستاسو د زړونو تر منځ حائل شي، بیا به ستاسو زړه، دماغ، حواس او مشاعر هغه کار درته نه کوي چې د یوه روغ او صالح انسان لپاره ئې کوي، که ته له خپل رب سرغړاوی وکړې، ستا غړي به له تا سرغړاوی کوي.
- له هغې فتنې او مصیبت ووېرېږئ چې یوازې ستاسو ظالمان نه نیسي، بلکې عام وي، دا هغه مصیبتونه دي چې مختص د ظالمانو په سر نه راپرېوځي، بلکې عام وي او نور خلك هم پرې اخته کېږي، خو باید په دې پوه شو چې دا نور خلك څوك دي چې د ظالمانو تر څنګ دوی هم په دې الهي مصیبتونو اخته کېږي. د قرآن د وینا له مخې دا یا هغه خلك دي چې د ظالمانو ملګرتیا ئې کړې، د دوی په څنګ کې ودرېدلي، دوی ته تسلیم شوي، د دوی واکمني ئې منلې، د عسکر، پولیس، مأمور او مستخدم په حیث ئې د دغو ظالمانو خدمت کړی، مالیه ئې ورکړې او یا پر ظلم راضي شوي او د ظالمانو په مقابل کې ساکت پاته شوي او یا ئې د منکراتو د مخنیوي په اړه خپل مسئولیت نه دئ اداء کړی. له عام مصیبت مقصد دا نه دئ چې ګناهکار او بې ګناه دواړه نیسي، دا ځکه چې قرآن د لوط علیه السلام د قوم د هلاکت په اړه په ډېر صراحت سره فرمایي چې هلته له یوې مسلمانې کورنۍ پرته بل داسې څوك نه وو چې د ژغورلو مستحق وو او الله تعالی همدغې یوې کورنۍ ته نجات ورکړ او نور ټول ئې هلاك کړل، فرمایي:

فَمَا وَجَدْنَا فِيهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِّنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿٣٦﴾ الذاریات: ٣٦

نو موږ په هغه (کلي) کې د مسلمانانو له یوې کورنۍ پرته (بله) ونه موندله.

د آیت د دې برخې (وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ ٱلْمَرْءِ وَقَلْبِهِۦ) په اړه ګڼ شمېر نور توجیهات هم مومو، لکه دا چې: که ستا په زړه کې د کوم نېك کار اراده راولاړه شوه ژر اقدام وکړه، ځکه کېدی شي چې الله تعالی ستا او ستا د زړه تر منځ حائل شي او اراده دې بدله شي، یا دا چې: الله تعالی ستا او ستا د زړه تر منځ دئ، پوهېږي چې ستا په زړه کې څه دي، خو دا توجیهات نه دقیق دي او نه د آیت له مخکینۍ برخې سره اړخ لګوي.

---

وَٱذْكُرُوٓا۟ إِذْ أَنتُمْ قَلِيلٌ مُّسْتَضْعَفُونَ فِى ٱلْأَرْضِ تَخَافُونَ أَن يَتَخَطَّفَكُمُ ٱلنَّاسُ فَـَٔاوَىٰكُمْ وَأَيَّدَكُم بِنَصْرِهِۦ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٢٦﴾

٢٦- او هغه وخت درياد کړئ چې لږ، په ځمکې کې ضعیف کړی شوي او کمزوري وئ،

له دې وېرېدئ چې خلك مو اختطاف كړي، خو ځای پر ځای ئې كړئ، په خپل نصرت سره ئې ستاسو ملاتړ وكړ او پاكيزه رزق ئې دركړ، د دې لپاره چې شكر وكړئ.

(٢٦)- دلته د مسلمانانو د ضعف او كمزورۍ هغه مخكېنۍ حالت چې په مكه كې ئې درلود له هغه وضعيت سره پرتله شوی چې په مدينه كې د دوی په برخه شو، په دې توګه:

- په مكه كې ستاسو شمېر لږ وو خو الله تعالی تاسو په مدينه كې متمكن كړئ او شمېر مو زيات شو.
- دښمن هڅه كوله چې تاسو د ضعف او ناتوانۍ په حالت كې وساتي، خو دا دئ اوس ئې تاسو ته پر همغه ځواكمن دښمن بری دركړ.
- له دې وېرېدئ چې دښمن مو هر څه تالان نه كړي، د كينه كښ دښمن لاس ته ورنشئ او د اسلامي نهضت ټغر ټول نشي، خو دا دئ الله تعالی تاسو ته پاكيزه رزق درپه برخه كړ.
- نو د دې الهي پېرزوينو تقاضا دا ده چې د خپل رب شكر پر ځای كړئ او د غنائمو په سر اختلاف راولاړ نه كړئ.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَخُونُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ وَتَخُونُوٓاْ أَمَٰنَٰتِكُمۡ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٢٧﴾ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَآ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَأَوۡلَٰدُكُمۡ فِتۡنَةٞ وَأَنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥٓ أَجۡرٌ عَظِيمٞ ﴿٢٨﴾

٢٧- اې مؤمنانو! له الله او رسول سره خيانت مه كوئ او په خپلو امانتونو كې خيانت مه كوئ، په داسې حال كې چې پوهېږئ. ٢٨- په دې پوه شئ چې مالونه او اولاد مو د آزموينې وسيله دي؛ او دا چې د الله خوا ته ستر اجر دئ.

(٢٧-٢٨)- دلته هم مجاهدينو ته د مخكېنۍ موضوع په لړ كې څو نورې توصيې شوې:

- له الله تعالی او پيغمبر سره خيانت مه كوئ، له هر هغه كار چې له الله تعالی او د ده له پيغمبر سره د خيانت په معنی وي ځان وساتئ، داسې نه چې له غنائمو څه پټ كړئ او هغه پنځمه برخه چې بايد د الله په نامه د ده پيغمبر ته وسپارل شي، له سپارلو ئې ډډه وكړئ يا څه ترې كم كړئ.
- په خپلو امانتونو كې له خيانت ځان وساتئ، غنائم د ټولو هغو مجاهدينو ګډ حق دئ چې په جګړې كې برخه اخلي، كه ستاسو په لاس پرېوځي نو دا د ټولو ګډ امانت وګڼئ، پام كوئ چې څه ترې پټ نه كړئ، په غنيمت كې هر غلول او خيانت په حقيقت كې د مسلمانانو په ګډ امانت كې خيانت دئ.

● څوك چې خيانت ته ملا تړي، هغه ښه پوهېږي چې خيانت كوي، خپل ضمير ته مراجعه وكړه، له هغه كاره ډډه وكړه چې ستا وجدان او ضمير دې پرې ملامتوي او درته وايي چې دا خيانت دئ.

● په دې پوه شئ چې د چا لپاره مال د آزمېښت وسيله شي او د چا لپاره اولاد، داسي نه چې د مال او اولاد مينه مو خيانت ته وهڅوي، د دې لپاره خيانت ته ملا وتړئ چې زيات مال تر لاسه كړئ يا خپل اولاد ته زيات څه ذخيره كړئ.

● او په دې هم بايد پوه شئ چې ستاسو د صادقانه او مخلصانه جهاد بدله او اجر د الله تعالى په نزد كې ډېر ستر دئ، د غنيمت په وړو وړو شيانو ئې مه ضائع كوئ.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَتَّقُواْ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّكُمۡ فُرۡقَانٗا وَيُكَفِّرۡ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۗ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٢٩﴾

۲۹- اې مؤمنانو! كه تقوى وكړئ؛ الله تعالى به فرقان دركړي، بدي به مو له منځه يوسي او بخښنه به درته وكړي او الله د لوى فضل خاوند دئ.

(۲۹)- دلته د تقوى څو نتائج په ګوته شوي:

● الله تعالى به د تقوى په نتيجه كې داسي فرقان، فراست او بصيرت ستاسو په برخه كړي چې په هغه سره د حق او باطل تر منځ ژر او په آسانۍ سره توپير كولى شئ، يعنى تقوى تاسو ته داسي روڼ څراغ، دقيق محك او معيار، ژور بصيرت او فراست دركوي چې كولى شئ په هغه سره په پوره آسانۍ د حق او باطل، ښه او بد، مفيد او مضر، دوست او دښمن تر منځ توپير وكړئ او په هر وخت او هر حالت كې مناسبه فيصله وكړئ او ګټور تصميم ونيسئ. د ژورو حقائقو ادراك، د نظر وسعت، په پيچليو مسائلو او پداسي قضاياوو پوهېدل چې د سطحي نظر خاوندان ئې نه شي درك كولى، د تقوى نتيجه ده. رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايي:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم "اتَّقُوا فِرَاسَةَ الْمُؤْمِنِ، فَإِنَّهُ يَنْظُرُ بنورِ اللَّهِ" ثُمَّ قَرَأَ: إِنَّ فِي ذَلِكَ لآيَاتٍ لِلْمُتَوَسِّمِينَ. رواه الترمذى

له ابو سعيد خدري رضى الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: د مؤمن له فراست ځان وساتئ؛ ځكه چې هغه د الهي نور په رڼا كې ليدل كوي. بيا ئې دا آيت ولوست: يقيناً چې په دې كې د فراست خاوندانو ته څرګندي نښي دي.

● د تقوى په نتيجه كې به الله تعالى ستاسو ناخوالي له منځه يوسي، ستاسو فردي او اجتماعي وضعيت به اصلاح كړي، د سيئاتو او بديو هغه توري وربځي به له منځه يوسي

چې ستاسو پر فردي او اجتماعي ژوند ئې خپل وزر غوړولی.

- ستاسو گناهونه به درته وبخښي. دې ته مو باید پام وي چې د تکفیر السیئات او تغفیر الذنوب تر منځ توپیر شته، یو ئې د ناخوالو د له منځه وړلو په معنی او بل ئې د گناهونو د بخښني په معنی دئ.
- تر دې به هم زیات څه درسره وکړي، ځکه چې الله تعالی د عظیم فضل خاوند دئ.

په راتلونکي آیت کې د تقوی د دغو پایلو او نتائجو لپاره یوه عملي بېلگه زموږ مخې ته ږدي:

---

وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ ۚ وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ ٱللَّهُ ۖ وَٱللَّهُ خَيْرُ ٱلْمَٰكِرِينَ ﴿٣٠﴾

٣٠- او کله چې کافرانو ستا خلاف پټ تدبیرونه نیول چې بندي دې کړي یا دې ووژني یا دې وباسي، دوی هم پټ تدبیرونه کول او الله هم پټ تدبیر کولو؛ او الله تر ټولو غوره تدبیر کوونکی دئ.

---

(٣٠)- په دې مبارك آیت کې هغې قضیې ته اشاره شوې چې د قریشو مشران په دارالندوه (د جرگو کور) کې راغونډ شول، غوښتل ئې د پیغمبر علیه السلام په اړه وروستۍ پرېکړه وکړي، ځینو ویل چې غوره ده بندي ئې کړو، ځیني په دې نظر ول چې له مکې ئې تبعید کړي او ځینو د ده په وژلو ټینگار کولو، د جرگې په پای کې ټول په دې سلا شول چې وئې وژني، خو داسې چې د قریشو د ټولو قبیلو یو یو زړه ور ځلمی راغونډ شي او د شپې له لوري هغه مهال برید وکړي چې دی او نور خلك په خوب ویده وي، په دې توگه به د پیغمبر علیه السلام قبیلې بنو هاشمو ته دا گرانه شي چې د انتقام لپاره له ټولو قبیلو سره وجنگېږي. همداسې وشول، برید کوونکي په ټاکلې شپې راغونډ شول، منتظر ول چې شپه پخه او خلك ویده شي، پیغمبر علیه السلام ته د دوی د تصمیم اطلاع ورسېده، د شپې له کوره ووت، علي رضی الله عنه ته ئې وویل چې د ده په بستر کې څملي، دی له ابوبکر رضی الله عنه سره یو ځای له مکې ووتل، د سفر لوری ئې بدل کړ، د مدینې په ځای په بل لوري وخوځېدل، کله چې د قریشو برید کوونکي د شپې ناوخته د پیغمبر علیه السلام د خوب خونې ته ننوتل او د هغه پر بستر ئې علی رضی الله عنه وموندو، په خپلې غلطۍ پوه شول، د مدینې په لوري د تعقیب لپاره وخوځېدل، تر لرې لرې ولاړل خو څه په لاس نه ورغلل، الله تعالی د دوی مکر شنډ کړ، خپل متقي پیغمبر ته ئې دا فراست ورپه برخه کړ چې په مناسب وخت کې مناسب تصمیم ونیسي، الله تعالی به همداسې هر هغه چا ته فرقان او فراست ورکوي چې د تقوی په وسلې سمبال وي.

وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُنَا قَالُواْ قَدۡ سَمِعۡنَا لَوۡ نَشَآءُ لَقُلۡنَا مِثۡلَ هَٰذَآ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٣١﴾ وَإِذۡ قَالُواْ ٱللَّهُمَّ إِن كَانَ هَٰذَا هُوَ ٱلۡحَقَّ مِنۡ عِندِكَ فَأَمۡطِرۡ عَلَيۡنَا حِجَارَةٗ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ أَوِ ٱئۡتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٖ ﴿٣٢﴾

۳۱- او کله چې زموږ آیتونه پرې ولوستل شي وايي: واموورېدل، که وغواړو دې ته ورته څه به ووایو، دا خو د مخکینیو له نکلونو پرته بل څه نه دي!! ۳۲- او کله چې ئې وویل: الهي! که دا حقیقتاً ستا له لوري وي نو پر موږ له آسمانه کاڼي راووروه، یا کوم دردناك عذاب (راباندي) راوله.

---

(۳۱-۳۲)- په مخکیني آیت کي له پیغمبر علیه السلام سره د قریشو شدید مخالفت بیان شو او په دې مبارکو آیتونو کي له قرآن سره د دوی سخت مخالفت توضیح شوی. د قرآن په اړه به ئې ویل:

- دا خو د مخکینیو له نکلونو پرته بل څه نه دي!! که وغواړو دې ته ورته څه ویلی شو!!
- که دا حقیقتاً د الله له لوري لېږل شوی کتاب وي نو خدای دې له آسمانه پر موږ کاڼي وورويي، یا دې کوم بل عذاب پر موږ راولي! د دې خبرې له کولو د دوی موخه دا وه چې دا کتاب د الله له لوري نه دئ، که حقیقتاً د الله له لوري وی نو پر موږ خو به یا له آسمانه ډبري ورېدلې وې او یا به په کوم بل الهي عذاب اخته شوي وو!! الله تعالی د دوی په ځواب کي فرمایي:

---

وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمۡ وَأَنتَ فِيهِمۡۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ مُعَذِّبَهُمۡ وَهُمۡ يَسۡتَغۡفِرُونَ ﴿٣٣﴾

۳۳- او الله داسي نه دئ چي دوی تعذیب کړي په داسي حال کي چي ته (اې پیغمبره!) لا په دوی کي یې او الله ئې په داسي حال کي تعذیبوونکی نه دئ چي دوی بخښنه غواړي.

---

(۳۳)- دلته د عذابونو د نزول په اړه الهي سنت بیان شوی، د عذاب په راتلو کي د ځنډ دوه وجوهات ښودل شوي: په ولس کي د داعي شته والی او په دوی کي د داسي خلکو شته والی چي توبه به کوي او له کفر، شرك او گناه به لاس اخلي.

گورئ چي الله تعالی دا ځواب هغه چا ته ورکړی چي په خپله خوله د عذاب نازلېدل

غواړي او وايي: زموږ له شديد مخالفت سره سره ولې په موږ باندې له آسمانه ډبرې نه ورېږي او ولې په كوم بل عذاب نه اخته كېږو؟! الله تعالى فرمايي: زما سنت دا دئ چې د پيغمبر په شته والي کې او تر هغه چې په خلکو کې د توبې او استغفار امكان وي زه خپل عذاب نه نازلوم!! په دې سره قريشو ته ويل شوي: تاسو د پيغمبر عليه السلام وژل او شړل غواړئ، خو په دې نه پوهېږئ چې د ده شته والى د الهي عذاب د راتلو مانع دئ، تاسو په خپل لاس هغه ستنه ړنګول غواړئ چې د دردناك الهي عذاب چت ئې تم کړی. د عذاب په راتلو کې د ځنډ وجه دا نه ده چې تاسو د الهي عذاب مستحق نه يئ، بلکې وجه ئې دا ده چې د الهي سنت مطابق د راتلو نېټه ئې نه ده رارسېدلې او موانع له منځه نه دي تللي.

وَمَا لَهُمْ أَلَّا يُعَذِّبَهُمُ ٱللَّهُ وَهُمْ يَصُدُّونَ عَنِ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ وَمَا كَانُوٓاْ أَوْلِيَآءَهُۥٓ ۚ إِنْ أَوْلِيَآؤُهُۥٓ إِلَّا ٱلْمُتَّقُونَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٤﴾ وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِندَ ٱلْبَيْتِ إِلَّا مُكَآءً وَتَصْدِيَةً ۚ فَذُوقُواْ ٱلْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿٣٥﴾

٣٤- او الله به ئې ولې په عذاب نه اخته کوي، په داسې حال کې چې له مسجد الحرام (د خلکو) مخنيوى کوي؛ او دوى ئې (حقيقي) متوليان نه دي، حقيقي متوليان خو ئې يوازې متقيان دي، خو د دوى ډېرى نه پوهېږي. ٣٥- او د بيت الله خوا ته د دوى لمانځنه (او عبادت) له شپېلکې او چکچکو پرته بل څه نه وي، نو په سبب د هغه کفر چې تاسو کولو دا عذاب وڅکئ.

(٣٤-٣٥)- دوى د الهي عذاب وړ دي، دا ځکه چې په کفر او د خداى پالنې خلاف په خپلې دښمنۍ کې هغه پړاو ته رسېدلي چې له مسجد الحرام د خلکو مخنيوى کوي، دا په داسې حال کې چې ځان د مسجد الحرام متوليان ګڼي، د دې پر ځاى چې خلك د مسجد الحرام په لورې راتلو او د الله تعالى عبادت ته تشويق کړي، په دې لار کې خنډونه راولاړوي، دوى په خپله او په خپلو بدو عملونو سره د الله تعالى لورې ته د خلکو د راتلو په وړاندې خنډ او مانع دي، د مسجد الحرام حقيقي متولي خو داسې نه وي، دوى ئې حقيقي متوليان نه دي، دا سپېڅلې دنده چې کومې ځانګړتياوې غواړي په دوى کې نشته، حقيقي متوليان خو ئې متقيان دي، دوى له تقوى محروم او د ګناهونو په ګنده ډنډ کې تر ستونې غرق، جاهل او ناپوه دي، په دې هم نه پوهېږي چې د بيت الله متولي بايد څنګه وي!! هغه څوك څنګه ځان د مسجد الحرام متولي ګڼي چې د بيت الله خوا ته ئې عبادت له شپېلکيو او

چکچکو پرته بل څه نه وي؟!

له مسجد الحرام د دوی د ممانعت دوه صورتونه وو: يو دا چې خپل مخالفين به ئې نه ورته راپرېښودل، له چا سره چې به د دوی دښمني راولاړه شوه هغوی به ئې مسجد الحرام ته له ننوتلو منع کول او دوهم دا چې د دوی عملونه داسې وو چې د دين په خلاف به د خلکو د کرکې او نفرت باعث وو، کله چې د دين له حقيقت بې خبره خلك، د دين مدعيان په گناهونو او فسادونو کې غرق گوري له دين ئې زړه تور شي او گمان کوي چې د دې دين اصلي ماهيت همغه دئ چې موږ ئې د دغو خلکو په کړنو کې گورو، که په دې دين کې د اصلاح قوت وی نو خپل پلويان به ئې اصلاح کړي وو، د دوی اخلاقي او عملي وضع به دومره کرکجنه نه وه، نو ځکه دې ته زړه نه ښه کوي چې د دغه دين خوا ته راشي.

دا آيت د واقعي خدای پال بنده او دوکه شوي ديندار او د الله د دين د واقعي او صادق خادم او دروغجن او ټگمار خادم د پېژندو لپاره يو دقيق محك او معيار زموږ مخې ته ږدي، د الله تعالی مخلص بنده هغه دئ چې:

- د شعائر الله، ديني مقدساتو او خدای پالونکو درناوی کوي.
- د هغه چا مخې ته نه خنډ کېږي او دښمني ورسره نه کوي چې د الله تعالی د عبادت تکل کوي، نه يوازې مخې ته ئې نه خنډ کېږي بلکې مرسته ئې کوي.
- د عبادت په وخت کې به د ده په خبرې، الفاظو او حرکاتو کې په څرگنده توگه احساس کېږي چې په الله تعالی ايمان لري، له هغه وېرېږي، هغه ته طمع لري.
- الفاظ ئې د طمعې الفاظ او حرکات ئې د الله تعالی په عظمت له اعتراف راولاړ شوي حرکات دي، د يوه هيبت وهلي، خاضع، خاشع او محتاج بنده په توگه د ستر ټولواك په وړاندې ولاړ او په زاريو زاريو سره دعاء کوي.

خو هغه چې دوکه شوی ديندار يا د ديني مقدساتو ټگمار خادم دئ داسې به ئې گورې چې: نه ئې په خبرې کې له الله تعالی د وېرې او هيبت نښې او آثار تر سترگو کېږي، نه په الفاظو کې او نه په حرکاتو کې.

- د عبادت په وخت او معبد کې به ئې په لهو و لعب بوخت وومې، همغسې لکه چې قريشو به د طواف په وخت او د بيت الله خوا ته شپېلکې کول او چکچکې به ئې وهلې او همغسې لکه چې نن ځيني خلك د ذکر په حلقو کې ډول او دبلې ته غورځي، پرځي، ځنې اچوي، قوالي سندرې وايي، د هو هو چيغې وهي او د جذبې په نامه مستې کوي.
- له خدای پالونکو سره به دښمني کوي، کافر ته به پر مؤمن ترجيح ورکوي، له خدای او دين منکر او باغي انسان سره به دوستي کوي او د هغه چا په ضد به ئې مرسته کوي چې ديندار دئ او د الله په عبادت او لمانځنې بوخت.

- د دوی په مقابل کې د دیانت او دیني مشرتابه دروغجن مدعي هغه دئ چي:
- ديني او مذهبي منصب په ميراث ورته پاته شوی، د نېك پلار بد ځای ناستی، له هغو ځانگړتياوو بې برخي چي د مذهبي قيادت او مشرتابه لپاره ضروري دي.
- د دې پر ځای چي په قول او عمل سره خلك د دين لوري ته تشويق کړي په خپله د دين په وړاندي خنډ وي، واقعي دين ته د خلکو د راتلو مانع گرځي.

---

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ لِيَصُدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَۗ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ ﴿٣٦﴾

٣٦- يقيناً هغه چي کافران شوي خپل مالونه د دې لپاره لگوي چي د الله له لاري مخنيوی وکړي، نو حتماً به ئې ولگوي، بيا به پر دوی د حسرت باعث شي بيا به مغلوب شي؛ او دا کافران به د دوزخ لوري ته غونډ کړی شي.

---

(٣٦)- دا آيت مخکينۍ مطلب مزيد توضيح کوي او وايي:

- کافران خپل مالونه له دين او دينداراانو سره په دښمنۍ کي لگوي، موخه ئې دا چي خلك د الله له لاري راوگرځوي، نه پرېږدي چي خلك د الله لوري ته مخه کړي، خنډونه ورته راولاړوي، په داسي کارونو ئې مصروفوي چي خدای ترې هېر شي، دين ته شا کړي او د گناهونو په ډنډ کي سقوط وکړي.
- مخکينيو کافرانو دا کار کړی، اوسني به ئې هم حتماً کوي.
- خو په دې سره به خپلو موخو ته ونه رسېږي، مصارف به ئې د دوی د خوښي نتائج ورنه کړي، په خپلو لگښتونو او مصارفو به حسرت کوي.
- خامخا به مغلوب شي.
- په پای کي به د قيامت په ورځ له خپلو مخکينيو او وروستنيو ملگرو سره يو ځای په جهنم کي غونډ کړی شي.

دا نن چي تاسو گورئ غرب، په غرب پوري تړلې کړۍ او د غربي تمدن په گنده ډنډ کي پرېوتې ډلې، د اخلاقي فساد د خورولو په لار کي کوم لگښتونه کوي، د راډيوگانو، ټلويزيوني شبکو، ورځپاڼو او مجلو له لاري، فحش فيلمونه، بربنډ تصويرونه، د عفت او اخلاق منافي مطالب، اخلاقي فساد ته بلونکې سندري او بدکاريو ته هڅوونکي اشعار خپروي، د همدغه مبارك آيت بېل بېل مصداقونه دي. له کومي ورځي چي غرب د اسلام په ضد د تروريزم تر نامه لاندي د پراخ نظامي او فکري يرغل لړۍ پيل کړه، د بي بي سي، امريکا غږ او آزادي راډيو تر څنگ ئې گڼ شمېر راډيوگاني او تلويزيونونه په دې وگمارل چي د اخلاقي فساد

خورولو له لارې د اسلام مقابله وکړي، ځوانان دې ته وهڅوي چې اخلاقي پولې ړنګې کړي، ديني تهذيب ته شا کړي، په شراب، قمار، سندرو او نڅا بوخت شي، سندرغاړي د اتلانو په توګه معرفي کړي، هغه شاعران ولمانځي چې د شرابو، ساقي، يار، نګار، سرو شونډو، عاشق او معشوق ستايلو ته ئې خپل ګنده اشعار وقف کړي!!

لِيَمِيزَ ٱللَّهُ ٱلْخَبِيثَ مِنَ ٱلطَّيِّبِ وَيَجْعَلَ ٱلْخَبِيثَ بَعْضَهُۥ عَلَىٰ بَعْضٍ فَيَرْكُمَهُۥ جَمِيعًا فَيَجْعَلَهُۥ فِى جَهَنَّمَ ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَـٰسِرُونَ ﴿٣٧﴾

۳۷- تر څو الله ناولي له پاکانو بېل کړي او ناولي يو د بل له پاسه کښېږدي او ټول سره راغونډ کړي او په دوزخ کې ئې وغورځوي، همدا دوی زيانمن دي.

(۳۷)- دلته د هغه مهلت او فرصت موخه او غرض په ګوته شوی چې الله تعالی ئې کافرانو ته ورکوي، عذاب ځنډوي او دا فرصت ورکوي چې خپل امکانات د حق خلاف وکاروي او خلك د الله په لارې له تلو منع کړي. وايي دا د دې لپاره چې:

- خبيثان له پاکانو بېل شي، هغه چې په حقيقت کې ناولی دئ خو په مکر او چل سره توانېدلی خلکو ته ځان پاك وښيي، هغه چې خپل سالم فطرت ئې مختل کړی، د ضمير صفحه ئې ناولې او ککړه ده، افکار ئې ګنده او اخلاق ئې فاسد دي او په ګناهونو لړلی دئ، له هغه چا بېل شي چې پاك دئ، افکار او اخلاق ئې سوچه او ستره دي، لمن ئې پاکه، زړه ئې سپين، له شرك، کفر، ظلم، فساد او ګناهونو ئې ځان لري ساتلی. د تفکيك دا عمليه له مهلت او فرصت ورکولو پرته نه شي تر سره کېدی، له دې پرته به ښه او بد، پاك او ناپاك، عادل او ظالم، صالح او طالح نشو سره بېلولی.
- همدا فرصت د دې باعث شي چې خبيثان سره غونډ شي، يو د بل څنګ ته ودرېږي، ګډ ټولی او حزب جوړ کړي.
- د قيامت په ورځ به هم دوی په ګډه دوزخ ته ننوځي.
- دوی په دنيا او آخرت کې د زيانمنو په ډله کې دي، اصلي زيانمن هغه څوك دئ چې په دنيا او آخرت کې ئې خبيثان او ناولي خلك ملګري وي.

قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِن يَنتَهُوا۟ يُغْفَرْ لَهُم مَّا قَدْ سَلَفَ وَإِن يَعُودُوا۟ فَقَدْ مَضَتْ سُنَّتُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٣٨﴾

۳۸- کافرانو ته ووايه: که ډډه وکړي هغه څه به ورته وبخښل شي چې مخکې تېر شوي؛ او که عودت وکړي نو يقيناً چې د پخوانيو طريقه تېره شوې ده.

(٣٨)- دلته پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي چي کافرانو ته څو خبري اعلان کړي:

- که له خپل کفر او مخالفت لاس واخلي نو الله تعالی به ئې مخکیني ګناهونه ورته وبخښي.
- خو که خپل کفر ته بېرته واوړي او په خپل مخکیني مخالفت ټینګار وکړي نو باید خپل برخلیك د مخکینیو کافرانو د پایلو په هینداري کي وګوري.

وَقَٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٞ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِۚ فَإِنِ ٱنتَهَوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِمَا يَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ﴿٣٩﴾ وَإِن تَوَلَّوۡاْ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَوۡلَىٰكُمۡۚ نِعۡمَ ٱلۡمَوۡلَىٰ وَنِعۡمَ ٱلنَّصِيرُ ﴿٤٠﴾

٣٩- او تر هغه ورسره وجنګېږئ چي فتنه پاته نشي او دین ټول الله ته وي، خو که ئې ډډه وکړه نو یقیناً چي الله د هغه څه ښه لیدونکی دئ چي دوی ئې کوي. ٤٠- او که ئې مخ واړاوو نو پوه شئ چي الله مو مولا دئ، غوره مولا او غوره مرستندوی.

(٣٩-٤٠)- په دې مبارکو آیتونو کي څو مهمي لارښووني شوې:

- مسلمانان تر هغه د جګړي په دوام مکلف دي چي فتنه په بشپړه توګه پای ته ورسېږي او دین په بشپړه توګه حاکم شي.
- دلته (فتنه) د (دین) په مقابل کي ذکر شوې؛ او دا په ډېر وضاحت او پرېکنده توګه ښیي چي له فتنې مراد هغه حالت دئ چي پر ټولني باندي د الله تعالی له دین پرته بل نظام، قانون او دین حکومت کوي.
- که کافران له فتنې لاس واخلي، د بل نظام، قانون او دین په وړاندي له سر ټیټولو او د الله د دین په وړاندي له مخالفته ډډه وکړي، نو د دوی راتلونکي حالت او عملونو ته به کتل کېږي او د دې له مخي به له دوی سره معامله کېږي.
- که د الله له دین بیا سرغړاوی وکړي او بېرته د کفر لوري ته وګرځي نو مؤمنان دي ډاډه وي چي الله تعالی به بیا د دغو کافرانو په خلاف د دوی مرسته کوي. الله تعالی د دوی مولا او مرستندوی دئ، غوره مولا او غوره مرستندوی.

وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا غَنِمۡتُم مِّن شَيۡءٖ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُۥ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِ إِن كُنتُمۡ ءَامَنتُم بِٱللَّهِ وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَىٰ

عَبۡدِنَا يَوۡمَ ٱلۡفُرۡقَانِ يَوۡمَ ٱلۡتَقَى ٱلۡجَمۡعَانِۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ﴿٤١﴾

٤١- او په دې پوه شئ چي څه په غنيمت تر لاسه کوئ نو پنځمه ئې د الله، د پيغمبر، د خپلوانو، يتيمانو، مسکينانو او مسافرو ده، که په الله او هغه څه مو ايمان راوړی وي چي په خپل بنده ئې د فرقان په ورځي نازل کړ، هغه ورځ چي دواړه ډلي سره مخامخ شوې؛ او الله په هر څه ښه قادر دئ.

(٤١)- دلته د غنائمو په اړه څو لارښووني شوې:

- د غنائمو پنځمه برخه به بېلوئ؛ دا د الله، د پيغمبر، د خپلوانو، يتيمانو، مسکينانو او مسافرو برخه ده، چي تفصيل ئې دا دئ:
- د الله له برخي مراد د جهاد اړوند چاري او عام المنفعه امور دي.
- د پيغمبر او د ده د خپلوانو په برخي کي هغه خلك او د دوی کورنۍ هم راځي چي د اسلامي دولت په چارو کي بوخت دي. که څه هم ځيني فقهاء دا په مشخصه توګه د پيغمبر عليه السلام او د ده د هغو خپلوانو برخه ګڼي چي د زکات او صدقاتو له اخيستلو منع شوي او د رسول الله صلی الله عليه و سلم له رحلت وروسته دا برخه منتفي بولي او يوازي په پاته دريو کي ئې راخلاصه کوي:
- نېستمن يتيمان
- بې وزلي مسکينان
- اړ مسافر
- د غنائمو څلور برخي به په ټولو هغو مجاهدينو وېشل کېږي چي په جګړي کي ئې برخه اخيستې وي، سپور ته د پلي په پرتله دوه برابره برخه.
- که په الله تعالی ايمان لرئ او په دې مو باور وي چي د بدر په جګړي کي ستاسو بريا د الله تعالی پېرزوينه وه، نو د غنائمو په اړه به همغه څه کوئ چي ستاسو د رب له لوري درته لارښوونه کېږي.
- په دې بايد پوه وئ چي الله تعالی په هر څه قادر دئ، داسي نور فتوحات به مو په برخه او نور غنائم به په لاس در کړي.

إِذۡ أَنتُم بِٱلۡعُدۡوَةِ ٱلدُّنۡيَا وَهُم بِٱلۡعُدۡوَةِ ٱلۡقُصۡوَىٰ وَٱلرَّكۡبُ أَسۡفَلَ مِنكُمۡۚ وَلَوۡ تَوَاعَدتُّمۡ لَٱخۡتَلَفۡتُمۡ فِي ٱلۡمِيعَٰدِ وَلَٰكِن لِّيَقۡضِيَ ٱللَّهُ أَمۡرٗا كَانَ مَفۡعُولٗا

لِّيَهۡلِكَ مَنۡ هَلَكَ عَنۢ بَيِّنَةٖ وَيَحۡيَىٰ مَنۡ حَيَّ عَنۢ بَيِّنَةٖۗ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَسَمِيعٌ عَلِيمٌ
﴿٤٢﴾ إِذۡ يُرِيكَهُمُ ٱللَّهُ فِي مَنَامِكَ قَلِيلٗاۖ وَلَوۡ أَرَىٰكَهُمۡ كَثِيرٗا لَّفَشِلۡتُمۡ
وَلَتَنَٰزَعۡتُمۡ فِي ٱلۡأَمۡرِ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ سَلَّمَۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿٤٣﴾ وَإِذۡ
يُرِيكُمُوهُمۡ إِذِ ٱلۡتَقَيۡتُمۡ فِيٓ أَعۡيُنِكُمۡ قَلِيلٗا وَيُقَلِّلُكُمۡ فِيٓ أَعۡيُنِهِمۡ لِيَقۡضِيَ
ٱللَّهُ أَمۡرٗا كَانَ مَفۡعُولٗاۗ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ﴿٤٤﴾

٤٢- کله چې تاسو په نژدې څنډې کې وئ او دوی په لرې څنډې کې او کاروان له تاسو کښته، که مو په خپلو کې وعده کړې وی حتماً به مو په دې وعدې کې تخلف کړی وو، خو د دې لپاره چې الله هغه کار تر سره کړي چې کېدونکی وو، تر څو هغه څوك هلاك شي چې د بينه (عقيدې) له پلوه هلاك شوی او هغه څوك ژوندی پاته شي چې د بينه له لحاظه ژوندی دئ او يقيناً چې الله ښه پوه اورېدونکی دئ. ٤٣- هغه مهال چې په خوب کې ئې تا ته لږ وښودل، که ئې ډېر درښودلي وی نو حتماً به سست شوي وئ او حتماً به مو د کار په اړه په خپلو کې لانجه کړې وه، خو الله (ترې) سلامت او روغ وساتلئ، يقيناً چې هغه د سينو په شته وو ښه پوه دئ. ٤٤- او کله چې سره مخامخ شوئ دوی ئې ستاسو په سترګو کې لږ دروښودل او تاسو ئې د دوی په سترګو کې لږ، تر څو الله هغه کار سر ته ورسوي چې کېدونکی وو او کارونه خو الله ته ارجاع کېږي.

---

(٤٢-٤٤)- د دې مبارکو آيتونو اساسي لارښووني دا دي:

- د جګړې د ميدان يو جامع انځور وړاندې شوی، مسلمانان د ميدان هغه لورې ته ځای پر ځای شوي ول چې مدينې ته نژدې وو، د دښمن ځواکونه د ميدان بل لورې ته او له مدينې لرې، تجارتي قافله تر دوی لاندې او ساحل ته نژدې.
- دا جګړه د دواړو خواوو د نقشې او منصوبې مطابق نه ده تر سره شوې، داسې نه وه چې دواړو خواوو له مخکې دا پرېکړه کړې وه چې په دغه ورځ به د بدر په ميدان کې خپل زور آزمويي، که داسې وعده ئې هم سره کړې وی نو خامخا به يوه يا بل لورې په خپلې ژمنې کې تخلف کړی وو او له وعدې سره سم به په خپل وخت او ځای کې نه وو حاضر شوی، خبره دا ده چې دا جګړه د الله تعالی د پټ تدبير او حکمت مطابق تر سره شوې.
- الله تعالی غوښتل په دې جګړې سره هغه لوری هلاك شي چې له فکري او اعتقادي پلوه د مړو په څېر دئ او هغه چا ته ژوندون ورپه برخه شي چې له فکري او اعتقادي

پلوه د ژوندي پاته کېدو وړ دئ، د بدر په میدان کې دوه داسي لوري سره مخامخ شوي چي یو ئې د نظامي تجهیزاتو او د جنگیالیو د شمېر له پلوه برلاسی دئ خو له اعتقادي او فکري پلوه سخت پربوتی او وروسته پاته، بل لوری له نظامي لحاظه کمزوری، تجهیزات ئې لږ او د جنگیالیو شمېر ئې کم، خو له فکري او اعتقادي لحاظه برلاسی او پرمخ تللی، جگړه د هغه لوري په گټه پای ته رسي چي په فکري لحاظ ژوندی دئ او هغه څوك له ماتې سره مخامخ کېږي چي له اعتقادي پلوه مړو ته ورته دئ، الله تعالی غوښتل چي دغه حقیقت خلکو ته عملاً وښیي.

- پیغمبر علیه السلام ته په رؤیا کې د دښمن شمېر لږ ښودل شوی وو، له دې رؤیا ئې انتباه دا وه چي دښمن په حقیقت کې کمزوری دئ که څه هم شمېر ئې زیات وي، د دغې رؤیا په وجه په خپله هم ډاډه وو او مجاهدینو ته ئې هم اطمئنان ورکاوو او مقابلې ته ئې هڅول، که ئې په رؤیا کې د دوی شمېر زیات تر سترگو شوی وی نو نتیجه به ئې همغه وه چي قرآن ئې په دغو الفاظو زموږ مخې ته ږدي: سست او بې زړه شوي به وئ، څینو به د جگړې پلوي کوله او څینو به ئې مخالفت کولو، د جگړې په اړه به په تاسو کې نزاع او اختلاف راولاړېدو، خو الله ترې سلامت او روغ وساتلئ.
- الله تعالی ښه پوهېږي چي په داسي حالاتو کې د انسان په زړه کې څه تېرېږي، کله چي د دښمن شمېر او تجهیزات د خپلو ملگرو تر شمېر او تجهیزاتو زیات گوري، څه احساس کوي، څه ئې په ذهن کې گرځي، څه په خوله وایي او څه په زړه کې پټ ساتي؟

دا یوازي پیغمبر علیه السلام نه وو چي په خوب کې ئې دښمن کمزوری لیدلی وو، بلکې الله تعالی ټولو مجاهدینو ته همدا احساس ورپه برخه کړ، کله چي له دښمن سره مخامخ شول، مجاهدینو ته لږ تر سترگو شول، دښمن ته هم مجاهدین لږ په نظر ورغلل، په دې سره دواړه لوري جگړې ته تشویق شول، الله تعالی غوښتل چي دا جگړه حتماً تر سره شي او په پایله کې ئې همغه څه وشي چي الله تعالی ئې د کېدو پرېکړه کړې وه، همغه د الهي سننو مطابق کار، د حق بریا او د باطل ماته، که څه هم د حقپالو سنگر په ظاهر کې کمزوری برېښي او د کفر او باطل سنگر مضبوط او برلاسی.

دا څکه چي کارونه الله تعالی ته ارجاع کېږي او پایلې ئې د ده له لوري ټاکل کېږي.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمۡ فِئَةً فَٱثۡبُتُواْ وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴿٤٥﴾ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا تَنَٰزَعُواْ فَتَفۡشَلُواْ وَتَذۡهَبَ رِيحُكُمۡۖ وَٱصۡبِرُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿٤٦﴾

٤٥- ای مؤمنانو! کله چي له کومي ډلې سره (په جگړې کې) مخامخ شئ نو ټینگ شئ

او الله ډېر ياد کړئ چې بريالي شئ. ٤٦- او د الله او د ده د رسول اطاعت وکړئ او خپلمنځي لانجه مه کوئ، که نه نو بې زړه به شئ او پرتم او شوکت به مو له منځه ولاړ شي؛ او صبر وکړئ چې يقيناً الله له صابرانو سره دئ.

---

(٤٥-٤٦)- د دې مبارکو آيتونو په اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

- قرآن عظيم الشأن په جګړې کې د برې دوه ډوله عوامل بيان کړي: ١- د برې فکري او معنوي عوامل. ٢- جنګی قوت او حربي وسائل.

دلته فرمايي چې د حق له دښمنانو سره په جګړې کې د مخامخ کېدو په وخت کې بايد:

- ثبات ولرئ.
- الله جل جلاله زيات ياد کړئ.
- چې برلاسي او بريالي شئ.
- د الله او د ده د رسول اطاعت وکړئ.
- له خپلمنځي نزاع او اختلاف ځان وساتئ، که نه نو بې زړه به شئ او پرتم او شوکت به مو له منځه ولاړ شي.
- او صبر وکړئ چې يقيناً الله له صابرانو سره دئ.
- وروسته به وګورئ چې د جنګی قوت او حربي وسائلو په اړه مسلمانانو ته داسي امر کوي: وَ أَعِدُّوا لَهُم مَّا استَطعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَ مِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ... الانفال: ٦٠ : او دوی ته څومره چې توانېدی شئ قوت او تړلي آسونه برابر کړئ.

د قرآن له نظره په جګړې کې د بريا اصلي عوامل دا دي: د جګړې په ميدان کې ثبات، له جنګ د راولاړو شوو ستونزو په وړاندې صبر، د وحدت او نظم ساتنه، اطاعت، له تحمل کار اخيستل، تفقه او پوهه، د عقيدې او هدف لوړوالی، له کبر، لويي او ځان ښودنې ډډه او د الله جل شأنه ډېر ډېر يادول.

خو وايي: د جګړې هر لوری چې وتوانېدو له معنوي لحاظه په خپل حريف برلاسی شي، که څه هم د جنګي قوت او حربي وسائلو له خوا د هغه په پرتله ډېر کمزوری او ناتوانه وي او د دوی تر منځ تناسب ١پر١٠ وي، وروستی بری به د هماغه طرف په برخه وي.

يعنی په جګړې کې د دښمن د شمېر او وسائلو زياتوالی بايد په تاسو کې وېره راولاړه نه کړي او د خپل برې په اړه مو شکمن نه کړي. که تاسو له معنوي اړخه په دښمن خپل لوړوالی وساتو، که څه هم د هغه شمېر ستاسو په پرتله لس ځله زيات وي، آخري فتح به ستاسو وي.

د الله جل جلاله ذکر او لمونځ په تا او ستا د سنګر په ملګرو کې د برې معنوي لاملونه

برابروي، صبر او ثبات مو په برخه کېږي، د دښمن له قوت وېره او د مرگ خوف مو له زړه لري کېږي، د الله جل جلاله غيبي مرستو ته مو هيله او اميد زياتېږي او بالآخره هغه ذات چي د عالم د چارو واگي ئې په اختيار کې دي او د ماتې او برې فيصله کوي، هغه به خپل نصرت او تأييد ستا په برخه کوي او پر دښمن به برى درکوي.

وَلَا تَكُونُوا۟ كَٱلَّذِينَ خَرَجُوا۟ مِن دِيَـٰرِهِم بَطَرًا وَرِئَآءَ ٱلنَّاسِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿٤٧﴾ وَإِذْ زَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيْطَـٰنُ أَعْمَـٰلَهُمْ وَقَالَ لَا غَالِبَ لَكُمُ ٱلْيَوْمَ مِنَ ٱلنَّاسِ وَإِنِّى جَارٌ لَّكُمْ ۖ فَلَمَّا تَرَآءَتِ ٱلْفِئَتَانِ نَكَصَ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ وَقَالَ إِنِّى بَرِىٓءٌ مِّنكُمْ إِنِّىٓ أَرَىٰ مَا لَا تَرَوْنَ إِنِّىٓ أَخَافُ ٱللَّهَ ۚ وَٱللَّهُ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿٤٨﴾

٤٧- او د هغو په څېر مه کېږئ چي له خپلو کورونو په کبر او خلکو ته د ځان ښودني لپاره راووتل؛ او د الله له لاري مخنيوى کوي، په داسي حال کې چي الله په هغه څه چي دوى ئې کوي محيط دئ. هغه مهال چي شيطان خپل عملونه ورته ښايسته کړل او وئې ويل: نن په خلکو کې هيڅ غالبېدونکى (دښمن) نه لرئ، په داسي حال کې چي زه مو گاونډى (ملگرى) يم، خو کله چي دواړو ډلو سره وليدل په خپلو پوندو واوښت او وئې ويل: زه له تاسو بې زار يم، زه هغه څه گورم چي تاسو ئې نه گورئ، زه له خداى وېرېږم؛ او الله خو شديدالعقاب دئ.

(٤٧-٤٨)- په دې مبارکو آيتونو کې د الله د لاري مجاهدين له هغو خصلتونو منع شوي چي تل د کافرانو په مغرورو ځواکونو کې تر سترگو کېږي او هغه دا چي:

- د هغو جگړمارو په څېر مه کېږي چي په کبر، غرور او مستۍ سره د جنگ ميدان ته درومي.
- خلکو ته خپل زور او ځواك ښيي.
- د الله له دين او د ده له دیندارو بندگانو سره د جنگ لپاره ملا تړي او موخه ئې دا چي خلك د الله په لار له تلو منع کړي.
- شيطان خپل بد عملونه ورته ښايسته کړي او دا دروغجنه ډاډېينه ئې ورکړې چي نن او زما د ملگرتيا په صورت کې هيڅوك ستاسو د مقابلې توان نه لري، په ټولو خلکو کې داسي ځواك نشته چي پر تاسو غالب شي.

- خو کله چې نښته پیل شي، شیطان ئې یوازې پرېږدي، د جګړې له میدان تر شا شي، دا تر شا کېدا توجیه کوي، دلائل ورته تراشي، کله وايي: زه هغه څه ګورم چې تاسو ئې نه ګورئ، په هغه څه پوهېږم چې تاسو پرې نه پوهېږئ، ځان ورته عقلمن او ملګري بې عقله برېښي، جګړې ته دوام ورکول د کمعقلو او ناپوهو خلکو کار ګڼي. او کله خپلې تېښتې او په سنګر کې د خپلو ملګرو پرېښودو ته مذهبي توجیهات جوړوي، وايي: زه له خدای وېرېږم، بس دئ تر کله به دا جنګ وي او دا یو د بل وینې تویول!! له خدای ووېرېږئ او له جګړو لاس واخلئ!!

خو دا چې دلته له شیطان مراد څوك دئ؟ جني شیطان که انسي شیطان؟ څو تعبیرونه درلودی شو:

١- کوم چا قریش هڅولي، د خپلې ملګرتیا ډاډ ئې ورکړی او همدې کس ته الله تعالی د شیطان لقب ورکړی؟ دا کس د داسې قبیلې وو چې د قریشو په ګاونډ کې اوسېدل؛ لکه چې قرآن فرمايي:

إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ الشَّيْطَانُ يُخَوِّفُ أَوْلِيَاءَهُ فَلَا تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿١٧٥﴾

آل عمران: ١٧٥

دا خو فقط شیطان وو چې خپل دوستان ئې وېرول؛ نو له هغوی مه وېرېږئ؛ له ما ووېرېږئ که مؤمنان يئ.

او هغه خلك چې مسلمانان ئې وېرول په مخکیني آیت کې داسې معرفي شوي:

الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَانًا وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ ﴿١٧٣﴾ آل عمران ١٧٣

هغه چې خلکو ورته وویل: "د دښمنانو" ډېر وګړي درته راغونډ شوي؛ له دوی باید ووېرېږي؛ نو دې خبرې د دوی ایمان مزید زیات کړ او ویل به ئې: الله موږ ته کافي دئ؛ څومره غوره پالونکی.

یعني (له خلکو هغه) چې مسلمانان د دښمن له ځواکونو وېروي؛ د قرآن له نظره "شیطان" دئ؛ الله تعالی همدا لقب ورته غوره کړی؛ د دې شیطان دا وېره اچوونکې تبلیغات پر هغو اغېز شیندي چې له شیطان سره ئې دوستي وي، د ده تبلیغات پر هغه چا اثر نه کوي چې له شیطان سره ئې خپلې اړیکې قطع کړې وي.

٢- شیطان د معمول په څېر پرته له دې چې د کوم انسان په څېره کې ئې ځان ورته مجسم کړي وي؛ په خپلو وسوسو سره ئې هڅولي؟!

٣- شیطان د کوم چا په څېره کې متمثل شوی او دوی ته ورغلی، جنګ ته ئې هڅولي او د خپلې ملګرتیا ډاډ ئې ورکړی؟

په مخکینیو دوو صورتونو کې د هر یوه احتمال شته، خو دربیم او دا آخري صورت په

دوه دلائلو د منلو وړ نه دئ: ۱- د شیطان وسوسه داسې نه وي چې ځان چا ته مجسم کړي، د انسان په څېره کې ورته راڅرګند شي او وئې غولوي. ۲- قرآن موږ ته په پرېکنده الفاظو سره وايي چې تاسو شیطان او د ده قبیله په خپلو سترګو نه شئ لیدئ.

نو د هغې رأيې او روایت په منلو کې تل احتیاط کوئ چې د قرآن له کوم آیت سره اړخ نه لګوي او هغه خو هیڅکله مه منئ چې له قرآن سره تعارض لري. د قرآن د کوم آیت داسې تفسیر او تعبیر باید قطعاً ونه منئ چې له بل آیت سره تضاد او تعارض رامنځته کوي؛ یوازې هغه تعبیر او تفسیر منئ چې په قرآن کې تناقض نه رامنځته کوي؛ تناقض ستر عیب دئ او د الله تعالی سپېڅلی کلام له هر نقص او عیب منزه او مبرأ دئ. په پورتنیو دریو تفسیرونو کې وروستی ئې داسې دئ چې د قرآن له ډېرو آیتونو سره تناقض او تعارض لري.

---

إِذْ يَقُولُ ٱلْمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ غَرَّ هَٰٓؤُلَآءِ دِينُهُمْ ۗ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٤٩﴾

۴۹- هغه مهال چې منافقینو او هغو چې په زړونو کې ئې بیماري وه ویل: دغه خلك خپل دین دوکه کړي، په داسې حال کې چې څوك پر الله توکل وکړي نو یقیناً چې الله با حکمته عزتمن دئ.

---

(۴۹)- د مجاهدینو ضعف، د شمېر لږوالی، د کافي او ضروري تجهیزاتو نشتوالی او په همدې حالت کې د ځواکمن او مجهز دښمن مقابلې ته د دوی وتل، د منافقینو، د بیمارو زړونو خاوندانو او ضعیف الایمانه وګړو له نظره غرور، جنون او تهور معلومېدو، ویل ئې: دا خلك خپل دین غولولي، د دین دغو خبرو مغرور کړي چې حق به حتماً غلبه مومي او باطل به له منځه ځي، دلته د دوی په خواب کې ویل شوي چې دا غرور نه بلکې پر خپل رب توکل دئ، څوك چې پر الله توکل وکړي نو وبه ګوري چې عزیز او حکیم رب ئې څنګه مرسته کوي او پر دښمن بری ورپه برخه کوي.

تل او د زمانې په هر پړاو کې به وګورئ چې منافقین او ضعیف الایمانه وګړي به د واقعي مؤمنانو او متوکلو مجاهدینو په ضد دغه خبره تکراروي، همدا به وايي چې دوکه شوي او د دین په حقیقت سم نه دي پوه شوي، تل به د دوی توکل ته د غرور په سترګه ګوري.

---

وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذْ يَتَوَفَّى ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۙ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَٰرَهُمْ وَذُوقُوا۟ عَذَابَ ٱلْحَرِيقِ ﴿٥٠﴾ ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيكُمْ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيْسَ بِظَلَّٰمٍ

لِّلۡعَبِيدِ ﴿٥١﴾

۵۰- او کاش هغه حال وګورې چې ملائکې د دغو کافرانو روح قبضوي، پر مخ او شا ئې وهي او (ورته وايي) د اور عذاب وڅکئ. ۵۱- دا د هغه څه په سبب دي چې ستاسو لاسونو وړاندې کړي او يقيناً چې الله په (خپلو) بندګانو ظلم کوونکی نه دئ.

(۵۰-۵۱)- په دې آيتونو کې پورتني منافقين د کافرانو په نامه ياد شوي او دا ئې سزا ښودل شوې:

- کله چې فرشتې د دوی روح قبضوي پر مخ او شا به ئې وهي، دا ځکه چې د دوی ظاهر او باطن توپير درلود، د مؤمنانو په وړاندې به ئې يو څه ويل او د دوی په غياب کې بل څه، د دوی په مخ کې به ئې د ايمان او اخلاص دعوی کوله خو د دوی په غياب کې به ئې ويل: دا خپل دين مغرور کړي، متوکلو مجاهدينو ته به ئې د مغرورو خطاب کولو.
- دوی ته به وايي: دا ستاسو د خپلو هلو ځلو او لاس ته راوړنو نتيجه ده، د خپل عمل مطابق سزا درکول کېږي، الله تعالی په خپلو بندګانو ظلم نه کوي، نه مجرم ته تر جرم زياته سزا ورکوي او نه د خپل بنده اجر ضائع کوي.

كَدَأۡبِ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ
بِذُنُوبِهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِيّٞ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ﴿٥٢﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ لَمۡ يَكُ مُغَيِّرٗا نِّعۡمَةً
أَنۡعَمَهَا عَلَىٰ قَوۡمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنفُسِهِمۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ﴿٥٣﴾ كَدَأۡبِ
ءَالِ فِرۡعَوۡنَ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ فَأَهۡلَكۡنَٰهُم بِذُنُوبِهِمۡ
وَأَغۡرَقۡنَآ ءَالَ فِرۡعَوۡنَۚ وَكُلّٞ كَانُواْ ظَٰلِمِينَ ﴿٥٤﴾

۵۲- لکه د آل فرعون او د هغو خلکو حال چې تر دوی مخکې ول، چې د الله د آيتونو په اړه کافران شول او الله په خپلو ګناهونو ونيول، بې شکه چې الله سخت عذابوونکی ځواکمن دئ. ۵۳- دا د دې لپاره چې الله تر هغه د يوه داسي نعمت بدلوونکی نه دئ چې پر کوم قوم ئې پېرزو کړی وي، چې دوی خپل نفسي حالت بدل نه کړي؛ او دا چې الله پوه اورېدونکی دئ. ۵۴- لکه د فرعونيانو او د هغو خلکو حال چې تر دوی مخکې ول، چې د خپل رب آيتونه ئې تکذيب کړل، نو د خپلو ګناهونو په سبب مو هلاك کړل او فرعونيان مو غرق کړل، په داسي حال کې چې ټول ظالمان ول.

(٥٢-٥٤)- دلته د مخکيني مضمون لپاره يوه تاريخي بېلگه زموږ مخي ته ږدي، د کافرانو بد عاقبت د هغو خلکو د برخليك په هينداري کې انځوروي چې تر دوی مخکې تېر شوي، د کفر او له حقيقت د انکار لار ئې غوره کړې، د الله آيتونه ئې تکذيب کړي او ظلم ئې کړی، فرمايي:

- دوی ته د فرعونيانو او ټولو هغو مخکينيو کافرانو او ظالمانو برخليك منتظر دئ چې تر دوی مخکې تېر شوي او د خپلو گناهونو په سبب مؤاخذه شوي او له منځه تللي.
- د الله ثابت او نه بدلېدونکی سنت دا دئ چې خپل نعمتونه هغه مهال له خلکو بېرته اخلي چې دوی خپل فکري، اعتقادي او اخلاقي حالت بدل کړي، کله چې څوك د الهي نعمتونو وړتيا له لاسه ورکړي، هغه فکري، اعتقادي او اخلاقي اهليت او کفايت په کې پاته نشي چې دا نعمتونه ئې د هغه په وجه ورکړي وو، بېرته ئې ترې اخلي، له چا اقتدار واخلي، تخت او تاج ئې نسکور کړي، د واکمنۍ له کرسۍ ئې راکوز کړي، د چا دولت او شتمني بېرته ترې واخلي له فقر او مسکنت سره ئې مخامخ کړي. دا پرېکړې د هغه الله له لوري کېږي چې پوه اورېدونکی دئ، پوهېږي چې کوم بنده ئې د کومې معاملې وړ او مستحق دئ، د هغه وينا اوري، د هغه له افکارو خبر دئ، د هغه په کړنو او د عملونو په موخو پوه دئ.

د فرعونيانو او مخکينيو کافرانو او ظالمانو د بد پايلو بيا يادونه د دې لپاره شوې چې مخکينی ئې د مخکينۍ موضوع لپاره تاريخي بېلگه وه او وروستنی ئې د پورتني ثابت او نه بدلېدونکي الهي سنت لپاره عملي مصداق.

---

إِنَّ شَرَّ ٱلدَّوَآبِّ عِندَ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٥٥﴾ ٱلَّذِينَ عَٰهَدتَّ
مِنۡهُمۡ ثُمَّ يَنقُضُونَ عَهۡدَهُمۡ فِي كُلِّ مَرَّةٖ وَهُمۡ لَا يَتَّقُونَ ﴿٥٦﴾ فَإِمَّا تَثۡقَفَنَّهُمۡ فِي
ٱلۡحَرۡبِ فَشَرِّدۡ بِهِم مَّنۡ خَلۡفَهُمۡ لَعَلَّهُمۡ يَذَّكَّرُونَ ﴿٥٧﴾ وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِن قَوۡمٍ
خِيَانَةٗ فَٱنۢبِذۡ إِلَيۡهِمۡ عَلَىٰ سَوَآءٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡخَآئِنِينَ ﴿٥٨﴾

٥٥- يقيناً چې د الله په نزد کې تر ټولو بد خوځېدونکي هغه کافران دي چې ايمان نه راوړي. ٥٦- هغه چې معاهده دې ورسره کړې خو دوی هر ځلې خپله ژمنه ماتوي او پروا ئې نه لري. ٥٧- نو که په جنگ کې دي ومونډل، (د دوی په سخت ځپلو سره) هغه هم خواره واره کړه چې تر شا ئې دي، ښايي (په دې سره) پند واخلي. ٥٨- او که د کوم قوم له خيانته ووېرېدې نو په برابره توگه ئې (معاهده) وروغورځوه، يقيناً چې الله خائنان نه خوښوي.

---

(۵۵-۵۸)- دلته د هغو کافرانو څو ځانګړتیاوي بیان شوې چې د الله تعالی په نزد کې تر ټولو بد مخلوق ګڼل کېږي:

- په هیڅ صورت کې ایمان نه راوړي، که هر څومره مضبوط دلائل او نښې ئې مخې ته کښېښودی شي.
- هر ځل خپله ژمنه په ډېره بې باکۍ او بې پروایۍ سره ماتوي.
- له دغو کافرانو سره په چلن کې لاندې سپارښتنې شوې:
- که په جګړې کې ورسره مخامخ شوئ داسې ئې وځپئ چې نه یوازې دوی خواره واره شي بلکې هغه ځواکونه هم متلاشي شي چې د دوی تر شا ولاړ دي، د دوی مرسته او ملګرتیا کوي یا د دوی په څېر دي.
- که دا وېره درسره پیدا شوه چې دا خلك خپلو ژمنو ته درناوی نه لري او د خیانت په لټه کې دي نو په صفا او واضح الفاظو د معاهدې ختمېدا ورته اعلان کړه، داسې چې دوی او تاسو یو شانته پوه وئ چې نور نو ستاسو تر منځ مخکینۍ معاهده نشته.
- تل د خپلو ژمنو او معاهداتو درناوی کوئ، هیڅکله او له هیچا سره په خپلو معاهداتو کې خیانت مه کوئ، الله تعالی خیانت او خائنان نه خوښوي.

دغې لارښوونې ته په پام سره پیغمبر علیه السلام مسلمانانو ته د معاهداتو د درناوي په اړه داسې لارښوونه کړې:

عَن عَمرو بن عَنْبَسَة قال : سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم يَقُول مَنْ كَانَ بَينهُ و بَينَ قَومٍ عَهدٌ فَلا يَشدَّ عَقدهُ و لا يَحلَّها حَتَّى يَنقضىَ أَمدها أَو يَنبذَ إليهمْ عَلى سَواءٍ. الجامع الصغير

له عمرو بن عنبسه روایت دئ چې له رسول الله صلی الله علیه و سلم مې واورېدل چې فرمایل ئې: د چا چې له کوم قوم سره معاهده وي، تر هغه دې نه کومه غوټه ټینګوي او نه دې پرانیزي چې موده ئې بشپړه شي او یا خو دې معاهده په برابره توګه وروغورځوي.

عمرو بن عنبسه رضی الله عنه هغه مهال په دغه حدیث استناد وکړ او معاویه رضي الله عنه ئې له دې منع کړ چې د رومیانو خوا ته لښکر ولېږي، د مسلمانانو او رومیانو تر منځ د اوربند معاهده وه، د مسلمانانو خلیفه غوښتل چې د معاهدې پای ته نژدې ورځو کې یو شمېر فوځونه د دښمن لوري ته ولېږي، چې بیا د اوربند له ختمېدو سره سم پر دښمن برید ته چمتو وي، خو د دغه حدیث له اورېدو وروسته هغه له خپل تصمیم واوښت او فوځونه ئې ونه لېږل.

---

وَلَا يَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ سَبَقُوٓاْۚ إِنَّهُمۡ لَا يُعۡجِزُونَ ۝٥٩

٥٩- او کافران دې ګمان نه کوي چې مخکې شول، يقيناً چې دوی (موږ) نشي عاجزولی.

(٥٩)- ښايي دښمنان به د معاهداتو د درناوي په اړه مسلمانانو ته دا لارښوونه داسې تلقي کړي چې له دې په استفادې سره کولی شي هم غدر او خيانت ته ملا وتړي او هم د مسلمانانو له لوري په دې دليل ډاډه وي چې له اعلانه پرته د دوی په ضد څه نه کوي، ځکه دوی ته ويل شوي چې د مقابل لوري د خيانت له وېرې بايد خپله معاهده په يوه اړخيزه توګه نقض نه کړي، بلکې مقابل لوري ته په واضح الفاظو اطلاع ورکړي چې د دغو دلائلو په وجه نور نو زموږ تر منځ مخکينۍ معاهده نشته، دلته د دوی په ځواب کې ويل شوي چې ګمان مه کوئ مسابقه به وګټئ او پر مسلمانانو به برلاسي شئ!!

وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن قُوَّةٖ وَمِن رِّبَاطِ ٱلۡخَيۡلِ تُرۡهِبُونَ بِهِۦ عَدُوَّ ٱللَّهِ وَعَدُوَّكُمۡ وَءَاخَرِينَ مِن دُونِهِمۡ لَا تَعۡلَمُونَهُمُ ٱللَّهُ يَعۡلَمُهُمۡۚ وَمَا تُنفِقُواْ مِن شَيۡءٖ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ يُوَفَّ إِلَيۡكُمۡ وَأَنتُمۡ لَا تُظۡلَمُونَ ﴿٦٠﴾

٦٠- او د دوی لپاره له (قوت) او (له تړلو آسونو) چې څومره ستاسو په وس کې وي برابر کړئ، چې د الله دښمن او خپل دښمن او له دوی علاوه چې تاسو ئې نه پېژنئ خو الله ئې پېژني، پرې ووېروئ او څه چې تاسو د الله په لار کې خرڅ کړئ، تاسو ته به په بشپړه توګه بېرته درکړی شي او پر تاسو به هيڅ ظلم نه کېږي.

(٦٠)- په دې آيت کې مسلمانانو ته د حربي وسائلو او نظامي تجهيزاتو د جوړولو او لاس ته راوړلو او د دښمن په خلاف د کافي نظامي ځواك د تيارولو په اړه څو لارښوونې شوې:

- د دښمن په ضد دومره حربي ځواك، وسائل او تجهيزات د روزل شوو آسونو په شمول تيار کړئ چې ستاسو په وس پوره وي.
- د دښمن په ضد ستاسو نظامي ځواك بايد دومره مضبوط او پياوړی وي چې په ښرګندو او پټو دښمنانو کې وېره او خوف راولاړ کړي.
- تاسو چې د جنګي وسائلو او تجهيزاتو په جوړولو او د آسونو په تيارولو او روزلو او د جنګياليو په روزنې او تجهيز کوم مالي مصارف او لګښتونه کوئ، دا پر ځای مصرف دئ، الله تعالی به په دې اړه ستاسو مصارف نه ضائع کوي؛ په زړه پوري نتائج به پرې مرتب کوي او په دنيا او آخرت کې به ئې اجر درکوي.

دې ته مو بايد پام وي چې د جهاد مخالف سرکاري مفتيان د دې مبارك آيت داسې غلط تعبير وړاندې کوي چې له ځواکمن او برلاسي دښمن سره جنګېدل ناسم کار ثابت

کړي!! دوی وايي: د دښمن په خلاف يوازې هغه مهال بايد وسلې ته لاس کړو چې زموږ نظامي ځواك د دښمن په پرتله زيات يا لږ تر لږه ورسره برابر وي!! اوس چې له سترو سترو اسلام دښمنه ځواکونو سره مخامخ يو، مسلمانان له هغوی سره په خپل نظامي ځواك کې سيالي نشي کولی، په کار ده له مسلحانه جهاد ډډه وکړو او مناسب فرصت ته انتظار وباسو!! د جهاد د مخالفينو دا خبره چې له دښمن سره يوازې هغه وخت په مسلحانه جهاد مکلف يو چې د عدد او عدة له مخې ورسره برابر شو، د دوی په ځواب کې څو خبرې لرو:

- دوی داسې فرصت ته د انتظار سپارښتنه کوي چې هيڅکله نه راځي.
- دا آيت خو د قرآن په داسې ځای کې راغلی چې پر يوې نابرابرې جګړې بحث کوي، د بدر په جګړې، په هغې جګړې چې د دښمن شمېر د مسلمانانو په پرتله درې برابره وو، نه ئې وسائل ورسره مقايسه کېدل او نه تجهيزات.
- پيغمبر عليه السلام هغه وخت د قريشو په ضد جهاد پيل کړ چې نه ئې د مجاهدينو شمېر د قريشو د جنګياليو په اندازه وو او نه ئې وسلې او جنګي وسائل او سامان. که زموږ پيغمبر عليه السلام دا تعادل ضروري او حتمي نه وي ګڼلی او دا ئې نه وي ويلي چې جګړه به له دښمن سره يوازې هغه وخت پيل کوئ چې د قوت او وسائلو تعادل او توازن رامنځ ته شي، نو ته څنګه او په کوم دليل دا حکم کوې؟ د شمېر او وسائلو له مخې خو د جنګ کيفيت او څرنګوالی ټاکل کېږي، نه فرضيت او ضرورت ئې، که ستا شمېر تر دښمن لږ وو، د جنګ يو ډول غوره کړه او که زيات شو بل ډول ئې، همغسې لکه پيغمبر عليه السلام چې جهاد د وړو وړو ټولګيو په لېږلو سره پيل کړ، بيا ئې د بدر او احد جګړه او په پای کې د مکې د فتحې جګړه تنظيم کړه، په جګړو کې د طرفينو د جنګياليو شمېر هغه اهميت او ارزښت نه لري چې د دوی فکري او اعتقادي وضعيت ئې لري، محدود شمېر تکړه، هدفمند، پوه، صابر او د خپلو سپېڅلو اهدافو لپاره قربانۍ ته چمتو مجاهدين د هغه ستر فوځ مقابله کولی شي چې افراد ئې اجير جنګيالي وي، نه کوم سپېڅلی هدف لري، نه د قربانۍ جذبه او نه د ستونزو او کړاوونو د ګاللو حوصله، آيا نه ګورئ چې په عراق او افغانستان کې مجاهدين د څنګه دښمن مقابله کوي او څنګه ئې کوي؟!!

وَإِن جَنَحُواْ لِلسَّلۡمِ فَٱجۡنَحۡ لَهَا وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٦١﴾

٦١- او که صلحې ته متمايل شول ته هم ورته متمايل شه او پر الله توکل وکړه، يقيناً چې هغه پوه اورېدونکی دئ.

(٦١)- په دې مبارك آيت کې له دښمن سره د روغې جوړې او صلحې په ارتباط څو مهمې لارښوونې شوې:

- که دښمن روغې جوړې ته ځان اړ ومونده، له خپل غرور راکوز شو، د صلحې وړاندیز ئې وکړ، روغې جوړې ته ئې خپله تلوسه او تمایل څرګند کړ، د دوی وړاندیز ومنه او روغې جوړې ته چمتو شه.
- له دې وېرې چې ښايي دښمن به د چل ول اراده لري، د دې وړاندیز تر شا به ئې بد عزائم پټ وي او د صلحې له وړاندیز به ئې دام جوړ کړی وي، منفي ځواب مه ورکوه، پر خپل رب توکل وکړه او د روغې جوړې وړاندیز ته مثبت ځواب ورکړه.
- ډاډه اوسه چې الله تعالی پوه اورېدونکی دئ، د دوی خبرې اوري، د دوی په نیت او قصد پوه دئ او توطئې به ئې شنډوي.
- له دښمن سره د صلحې، روغې جوړې او مداهنت په اړه په قرآن کې ګڼ شمېر آیتونه مومو، ځینې ئې د پورتني آیت په خلاف له مداهنت، نرمښت او روغې جوړې ته له بلنې ممانعت کوي، لکه دا آیتونه:

فَلَا تُطِعِ ٱلْمُكَذِّبِينَ ﴿٨﴾ وَدُّواْ لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ ﴿٩﴾ القلم : ٨-٩

نو د دغو دروغجنو اطاعت مه کوه، دا خوښوي چې کاش ته مداهنت وکړې چې بیا دوی هم مداهنت وکړي:

په دې آیتونو کې څو مهم مطالب مومو:

الف: دښمن د روغې جوړې او مداهنت وړاندیز لري، تا سازش او انعطاف ته رابلي، تا دې ته اړ باسي چې خپله تګلاره بدله کړې، له قاطعیته لاس واخلې، په جوړ جاړي راضي شې. پام چې دې فشارونو ته تسلیم نه شې، د دښمن وړاندیزونه ونه منې، په خبرو ئې باور ونه کړې او له خپل دریځه راکوز نه شې.

ب: دوی دروغجن دي، دروغ ویل ئې یو څرګند او بارز خصلت دئ، په خپلو وړاندیزونو کې صادق نه دي، د روغې جوړې له وړاندیزه ئې هدف دا نه دئ چې شخړه حل شي او نزاع پای ته ورسېږي، بلکې فرصت طلبي کوي، غواړي ستا او ستا د یارانو عزم سست کړي، ستا د ملګرو په لیکو کې اختلاف راولاړ کړي او په دوو ډلو مو ووېشي: په معتدل او بنسټپال، په سوله خوښو او جنګ غواړو، سازش کوونکو او سازش نه منونکو مو ووېشي.

ج: که فشار واردوي، که ستا په ضد خپل تبلیغات زیاتوي، دلیل ئې دا دئ چې ته د حق په لار کې ثابت قدمه یې، په کلکه، میرانه او له انعطافه پرته له حق دفاع کوې، په ټولنې کې فساد او ظلم نه شې زغملی، له فکري او اخلاقي ناولتیاوو سره جوړ جاړی نه کوې، ته اجحاف، بې عدالتي او د نورو په حق تېری نه منې، د بې وزلو او مستضعفینو په ضد د زر او زور د خاوندانو د ظلم او ستم په وړاندې سکوت نه کوې، د همدې لپاره ئې ستا په ضد د پراخو او ناروااوو تبلیغاتو جبهه پرانیستې او اوس غواړي خلکو ته وښيي چې دوی سوله غواړي او ته د مخالفت په دوام ټینګار کوې، غواړي ته خپل قاطعیت او صراحت

پربېږدې، په فساد، ظلم او ناروا وو له اعتراض لاس واخلې نو دوی به هم خپل تبليغاتي جنګ متوقف کړي.

او لکه دا آيت:

فَلَا تَهِنُواْ وَتَدۡعُوٓاْ إِلَى ٱلسَّلۡمِ وَأَنتُمُ ٱلۡأَعۡلَوۡنَ وَٱللَّهُ مَعَكُمۡ وَلَن يَتِرَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ ٣٥

محمد: ٣٥

نو سست کېږئ مه او د صلحي طرف ته بلنه مه ورکوئ او تاسو لوړ ياست او الله له تاسو سره دئ او هيڅکله به ستاسو عملونه ضائع نه کړي.

دا آيت لاندي اساسي مطالب افاده کوي:

الف: د دښمن په وړاندي د ضعف او ناتوانۍ احساس مه کوئ، د دښمن په ضد د خپلي مبارزې شور او شوق له لاسه مه ورکوئ، لټي او کسالت مه کوئ.

ب: دښمن ته د صلحي او روغي جوړي پيغامونه مه لېږئ او تفاهم او سازش ته ئې مه رابلئ.

ج: تاسو لوړ ياست، لوړ تر دې چي د دښمن په وړاندي د ضعف او کمزورۍ احساس وکړئ او د سازش او روغي جوړي لاس وراوږد کړئ.

د: ګمان مه کوئ چي تجريد شوي يئ او دښمن توانېدلی چي تاسو محاصره کړي او له ولسه مو منزوي کړي، ګمان مه کوئ چي يوازي پاته شوي يئ، د يوازيتوب احساس بايد تاسو له دښمن سره جوړ جاړي ته اړ نه کړي، د زمکي او آسمانونو لوی رب له تاسو سره او ستاسو مل دئ.

هـ: ګمان مه کوئ چي له روغي جوړي پرته به ستاسو ټولي هلي ځلي هدر شي، قربانۍ به مو ضائع شي او هغه نتائج به پرې مرتب نه شي چي الله تعالی ئې له تاسو سره وعده کړې، الله تعالی به هيڅکله ستاسو قربانۍ ضائع نه کړي او ستاسو هلي ځلي به بې نتيجې پرې نږدي.

راشئ وګورو چي دا د صلحي په اړه بېل بېل او متفاوت احکام څنګه تلفيق کولی شو؟ او په کوم يوه به کله عمل کوو؟ کله له دښمن سره صلح کول جائز دي او کله ناجائز؟ آيا دا قضيه د نهضت مشرانو ته پرېښودل شوې چي مصلحت ته په پام سره مناسب تصميم ونيسي؟ آيا دا سمه ده چي ووايو: د دې آيتونو په حکم سره مسلمانان له دې منع شوي چي دښمن ته د روغي جوړي پيغامونه ولېږي، خو که د صلحي پيغام د دښمن له لوري وي او تفاهم او جوړ جاړي ته تياری وښيي بيا نو مسلمانان کولی شي مثبت ځواب ورکړي؟ ښايي ځينو ته دا استدلال معقول وبرېښي او د آيت له ظاهر سره ئې سم وګڼي!! خو دا انتباه په څو دليله سمه نه ده:

١- د دې استدلال له مخي که د صلحي وړانديز د دښمن له لوري وي نو مسلمانان کولی شي روغه جوړه وکړي، پرته له دې چي وګوري د دښمن وړانديز د ضعف له دريځه دئ

که د قوت او برلاسي له دريځه او پرته له دې چي وګوري مسلمانان د قوت په دريځ کې دي که د ضعف او کمزورۍ په دريځ کې!! که دا استدلال سم او د منلو وړ وی نو پيغمبر عليه السلام به حتماً په مکي دور کې د دښمن د صلحي وړانديزونو ته مثبت ځواب ويلی وو!! حال دا چي د مکي دور په ديارلسو کلونو کې او د مدينې په شپږو کلونو کې د حديبيې تر صلحي پوري ئې نه له دښمن سره روغه جوړه وکړه، نه ئې انعطاف او نرمي وښوده او نه خبرو آترو ته کښيناست، په داسي حال کې چي د قريشو سردارانو تل د هغې غوښتنه کوله او ډول ډول وړانديزونه ئې لرل. قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې دې حقيقت ته اشاره کوي.

٢- که له دښمن سره د روغي جوړي مربوط آيتونو د نزول ترتيب ته لږ ځير شو وبه ګورو چي د مقاطعې، عدم انعطاف، له مداهنت ډډه کول او روغي جوړي ته د نه رابللو آيتونه په هغي مرحلې کې نازل شوي چي د مکې ديارلس او د مدينې شپږ لومړني کلونه احتواء کوي. همغه مرحله چي دښمن د برلاسي احساس کاوو او نهضت ئې ضعيف او کمزورى ګاڼو. خو کله چي نهضت له تدافعي حالته ووت، د دښمن ټول بريدونه ئې په شا وټمبول او په ټولو نښتو کې ئې خپله وړتيا او قوت اثبات کړ، اوس تر دښمنه د برلاسۍ او قوت احساس کوي، دغه وخت دئ چي له دښمن سره د تفاهم او روغي جوړي اجازه ورکول کېږي. د قرآن په آيتونو کې د غور په نتيجه کې به دا وګورئ چي د (وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا) آيت د بدر په جګړي کې له بريا وروسته نازل شوی، حال دا چي له تفاهم او روغي جوړي د اجتناب آيتونه ټول تر دې د مخه نازل شوي، د حديبيې صلح هغه وخت وشوه چي د دښمن وروستی لوی بريد د خندق په جګړي کې له ماتي سره مخامخ شو او له ماتي وروسته رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: له دې وروسته به قريش د حملې توان تر لاسه نه کړي. ګورئ چي د حديبيې صلح د نهضت د قوت او برلاسي او د دښمن له مسلسل ماتو ووسته د حرم خوا کې د دښمن تر سلطې لاندي سيمي کې امضاء شوې.

د دې آيتونو په رڼا کې او د هر يوه د نزول د زمانې شرائطو ته په پام سره په وضاحت او آسانۍ سره دا حقيقت درك کولی شو چي صلح د نهضت د قوت او ځواکمنۍ د وخت کار دئ، د هغه وخت کار چي دښمن د عجز او ضعف احساس وکړي او نهضت عملاً خپله برلاسي او ځواکمني ثابته کړي، هغه وخت چي دښمن صلحي ته اړ شوی وي او له دې پرته بله چاره نه ګوري چي د مسلمانانو شرائطو ته تسليم شي. عجيبه ده که ځوك دا ټول حقائق له پامه غورځوي او صلح د ضعف او ناتوانۍ د مرحلې کار ګڼي او ادعاء کوي چي نهضت کولی شي د ضعف په وخت کې له دښمن سره روغه جوړه وکړي!!!

ځوك په دې حقيقت نه پوهېږي چي د دوو ښکېلو خواوو تر منځ روغه جوړه تل د برلاسي او غالب لوري د شرائطو په اساس رامنځ ته کېږي، د غالب لوري شرائط منل کېږي او مغلوب لوری د ده د شرائطو منلو ته غاړه ږدي، يوازي په دې صورت کې ده چي د صلحي معاهده د دوو خواوو تر منځ امضاء کېږي، اسلام هيڅکله مسلمان ته د دې اجازه

نه ورکوي چې ذلت ته سر ټيټ کړي، د دښمن شرائطو ته تسليم شي، د همدې لپاره د ضعف اوناتوانۍ په وخت کې عدم مداهنت او صلحې ته په عدم دعوت تأکيد کوي، خو د برلاسۍ په وخت کې اجازه ورکوي چې تفاهم وکړي او د صلحې بلنې ته مثبت ځواب ووايي. کوم کسان چې د قرآنکريم په تفسير کې د آيتونو شأن نزول او د هر آيت د نزول شرائطو ته پام نه کوي او هر آيت بېل بېل او له نورو سره ئې تړاو ته له پام پرته تر بحث لاندې نيسي، کله چې د يوې قضيې په اړه دوه متباين احکام ګوري او په توجيه کې ئې له ستونزې سره مخامخ کېږي او له تلفيقه ئې عاجز کېږي نو د دې پر ځای چې ووايي: د يوه حکم په يوې مرحلې پورې او بل ئې په بلې پورې مربوط دئ، برعکس د دغو پورتنيو آيتونو په څېر ئې تعبيروي!

د دوی د تعبير له مخې مسلمانان مکلف دي چې د دښمن له لورې د صلحې وړانديز ته له ځنډه پرته مثبت ځواب ووايي، ګواکې مسلمانان له دښمن سره له روغې جوړې نه بلکې يوازې له دې منع شوي چې دښمن ته په خپله د روغې جوړې وړانديز وکړي، خو که دا ابتکار د دښمن له لورې وو او د روغې جوړې پيغام هغه ورولېږو نو بيا کولی شي له ځنډه پرته روغه جوړه وکړي!! په داسې حال کې چې مسئله کاملاً د دې عکس ده، د قرآن آيتونه او عملي مصاديق ئې د پيغمبر عليه السلام په ژوند او له دښمن سره ئې په معامله کې په ډېر وضاحت سره ښيي چې صلح ځان ته خاص وخت او شرائط لري، له دښمن سره صلح او تفاهم د قوت او ځواکمنۍ د مرحلې کار دئ نه د ضعف د مرحلې، د مدني مرحلې کار دئ نه د مکي مرحلې.

دلته هم که د آيتونو ترتيب ته لږ ځير شو ګورو چې په مخکينې آيت کې د دښمن خلاف د دومره نظامي ځواک برابرولو لارښوونه شوې چې په دښمن کې وېره راولاړه کړي، بيا د دوی له لورې د روغې جوړې وړانديز ته د مثبت ځواب ويلو اجازه ورکړی شوې، د دې معنی دا ده چې لومړی خپله نظامي برلاسي ثابته کړئ بيا د دښمن د روغې جوړې بلنې ته مثبت ځواب ووايئ.

---

وَإِن يُرِيدُوٓاْ أَن يَخۡدَعُوكَ فَإِنَّ حَسۡبَكَ ٱللَّهُۚ هُوَ ٱلَّذِيٓ أَيَّدَكَ بِنَصۡرِهِۦ وَبِٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٦٢﴾ وَأَلَّفَ بَيۡنَ قُلُوبِهِمۡۚ لَوۡ أَنفَقۡتَ مَا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا مَّآ أَلَّفۡتَ بَيۡنَ قُلُوبِهِمۡ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ أَلَّفَ بَيۡنَهُمۡۚ إِنَّهُۥ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ﴿٦٣﴾

٦٢- او که وغواړي چې تا وغولوي نو يقيناً الله درته کافي دئ، دی خو هغه ذات دئ چې په خپل نصرت او په مؤمنانو سره ئې ستا ملاتړ وکړ. ٦٣- او د دوی په زړونو کې ئې الفت واچاوو، که ټول هغه څه دي لګولي وی چې په زمکې کې دي نو داسې الفت به دې د دوی په زړونو کې نه وو اچولی خو الله په دوی کې الفت واچاوو، بې شکه

چې هغه باحکمت عزتمن دئ.

(٦٢-٦٣)- د مخکيني مضمون په ارتباط مزيد لاندي لارښوونې شوې:

- که دښمن د دوکې او خدعې اراده لري، د روغې جوړې په وړانديز سره غواړي مسلمانان وغولوي، اغفال ئې کړي، فرصت تر لاسه کړي او ناڅاپې برید وکړي، نو مطمئن اوسه چې د دوی د خدعې په مقابل کې الله تعالی ستا لپاره کافي دئ، همغه الله چې تر دې د مخه ئې پر دښمن بری درکړ او د مخلصو او سرتېرو مؤمنانو مضبوطه ډله ئې ستا په څنګ کې ودروله.
- الله تعالی د دغو مؤمنانو تر منځ داسي مينه، محبت، ورورولي او الفت راپيدا کړ چې د نړۍ د ټولو شتمنيو په لګولو سره څوك نشي توانېدی داسي ډله جوړه کړي او د غړو تر منځ ئې داسي مينه او الفت راپيدا کړي.
- مطمئن اوسه چې ستا باحکمت عزتمن رب به د دښمن ټولې توطئې شنډوي.

دا آيت مؤمنانو ته لارښوونه کوي چې د پيسو په مصرف، په مالي لګښتونو او د خلکو د اخيستلو له لارې يو متحد، مضبوط او مجاهد حزب نشي جوړېدی، هغه څواکونه چې له اخيستل شوو او اجيرو افرادو جوړ شوي وي، په ظاهر کې به څواکمن او ستر برېښي خو د غړو تر منځ به ئې د ميني، الفت او ورورولۍ پر ځای کرکه، نفرت او رقابت وي، تر هغه به د وفادارۍ ډېره په سينه وهي چې څه تر لاسه کوي، خو کله چې دا لړۍ بنده شي او له هغوی د قربانۍ غوښتنه وشي، صف پرېږدي او له هغه چا سره يو ځای کېږي چې امکانات ئې زيات دي، د دوی غرضونه تر سره کولی او جيبونه ورډکولی شي، که څه هم دا د ده د مخکيني صف او د مخکينۍ عقيدې دښمن وي!!

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ حَسۡبُكَ ٱللَّهُ وَمَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٦٤﴾

٦٤- اې پيغمبره! الله او هغه مؤمنان درته کافي دي چې ستا متابعت کوي.

(٦٤)- د دې مبارك آيت يوه بله ژباړه هم کېدی شي او هغه دا چې: اې پيغمبره! الله هم تا ته کافي دئ او هم هغو مؤمنانو ته چې ستا متابعت کوي. ځينو مفسرينو دغې ترجمې ته ترجيح ورکړې، خو دې ته په پام سره چې تر دې د مخه ويل شوي: هُوَ ٱلَّذِيٓ أَيَّدَكَ بِنَصۡرِهِۦ وَبِٱلۡمُؤۡمِنِينَ: دی خو هغه ذات دئ چې په خپل نصرت او مؤمنانو سره ئې ستا ملاتړ وکړ. دلته د همغه مخکيني مطلب مزيد وضاحت شوی او ويل شوي چې په حقيقت کې يوازې الله درته کافي دئ خو په عالم اسباب کې يوازې مؤمنان کافي ګڼه، داسي څوك په خوا کې مه نيسه او حساب مه پرې کوه چې ايمان نه لري.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ حَرِّضِ ٱلْمُؤْمِنِينَ عَلَى ٱلْقِتَالِۚ إِن يَكُن مِّنكُمْ عِشْرُونَ صَٰبِرُونَ يَغْلِبُواْ مِاْئَتَيْنِۚ وَإِن يَكُن مِّنكُم مِّاْئَةٌ يَغْلِبُوٓاْ أَلْفًا مِّنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ ﴿٦٥﴾

**٦٥- اې پيغمبره! مؤمنان جګړې ته وهڅوه، که ستاسو شل صبرکوونکي وي نو پر دوو سوو به غالب شي او که ستاسو سل وي نو پر زرو کافرانو به غالب شي، دا ځکه چې هغوی نه پوهېږي.**

---

(٦٥)- په دې مبارك آيت کې پيغمبر عليه السلام ته څو لارښووني شوې:

- مؤمنان جنګ ته وهڅوه، ترغيب او تشويق ئې کړه، دا ښيي چې د پيغمبر عليه السلام د وارثانو، د علماءو او د اسلامي حکومت د چارواکو او مشرانو يوه اساسي دنده دا ده چې ولس به جهاد ته تشويقوي.
- که د مؤمنانو شمېر د کافرانو په پرتله يو د لسو په مقابل کې وي، بايد ډاډه وي چې دښمن ته ماته ورکولی شي، شل صابر مجاهدين د دوو سوو کافرانو د مقابلې توان لري او سل ئې د دوی د زرو مقابله کولی شي.
- دا ځکه چې کافران له پوهې او تفقه محروم دي.

له دې آيت معلومېږي چې په جګړو کې د بري ستر او اساسي عوامل دا دي: ايمان، صبر او پوهه. يعنی څوك چې سپېڅلي اهداف لري، د خپلې تګلارې په حقانيت باور لري، جنګ ئې د ايمان او عقيدې په حکم وي، خپله لار ئې په بصيرت او پوهې سره غوره کړې، قربانۍ ته چمتو وي، صبر، ثبات او استقامت لري، هغه به د شمېر او وسائلو له لږوالي سره سره پر هغه دښمن برلاسی کېږي چې که څه هم شمېر ئې د ده لس برابره دئ خو نه سپېڅلي اهداف لري، نه ئې خپله تګلاره او د جګړې موخې د بصيرت له مخې ټاکلې، نه د قربانۍ جذبه لري او نه د کړاوونو او ستونزو د ګاللو لپاره صبر او زغم. نه يوازې د بدر ستره غزا د دې حقيقت لپاره يوه عملي بېلګه وه، بلکې د روسانو په ضد د افغانانو جهاد او اوس د امريکايانو په ضد د افغانانو او عراقيانو جهاد د دې واضح بېلګې دي، دا نن په عراق کې د يو سل اويا زره او په افغانستان کې تر ١٦٠ زر زياتو مجهزو غربي ځواکونو مقابله د داسې چا له لوري روانه ده چې شمېر ئې د دښمن په پرتله يو پر شلو هم نه دئ، د دښمن د پرمختللو وسلو په مقابل کې له محدود شمېر کلشنکوف، راکټ او باروت پرته نور څه په واك کې نه لري او امکانات ئې دومره لږ چې د دښمن د سلو جنګياليو د يوې مياشتې مصارف د ټولو مجاهدينو د يوه بشپړ کال تر ټولو لګښتونو زيات دي، د دښمن د هرو سلو زرو ډالرو په مقابل کې مجاهدين تر يوه ډالر زيات مصارف نه لري، خو سره له دې

ګورو چې دښمن له جګړې ستومانه شوی، اعتراف کوي چې جنګیالي ئې له جګړې تنګ شوي، خپل ولس ترې غواړي چې له افغانستان او عراق ووځي، په مقابل کې ئې مجاهدین تر مخکې زیات په شور او شوق سره جنګېږي، شمېر ئې ورځ په ورځ زیاتېږي، په خپلې حتمي بریا باور لري، ډاډه دي چې دښمن ته ماته ورکولی شي. آیا دا د قرآن د دغې وینا مصداق نه دئ چې سل مؤمن مجاهدین د زرو کافرو جنګیالیو مقابله کولی شي؟!

---

ٱلْـَٔـٰنَ خَفَّفَ ٱللَّهُ عَنكُمْ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمْ ضَعْفًا ۚ فَإِن يَكُن مِّنكُم مِّا۟ئَةٌ صَابِرَةٌ يَغْلِبُوا۟ مِا۟ئَتَيْنِ ۚ وَإِن يَكُن مِّنكُمْ أَلْفٌ يَغْلِبُوٓا۟ أَلْفَيْنِ بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ مَعَ ٱلصَّـٰبِرِينَ ﴿٦٦﴾

٦٦- اوس الله له تاسو ( د پېټې) سپکونه وکړه او ورته معلومه شوه چې په تاسو کې څه کمزوري شته، نو که له تاسو سل صبر کوونکي وي پر دوو سوو به برلاسي شي او که له تاسو زر وي نو د الله په حکم سره به پر دوو زرو غالب شي او الله خو له صابرانو سره دئ.

---

(٦٦)- له دې مبارك آیت څو خبرې معلومېږي:

- د مسلمانانو اصلي مسئولیت دا دئ چې د لس برابره کافر فوځ مقابله به کوي، خو د دوی ځیني ضعفونو ته په پام سره د مسئولیت دا پېټی سپك کړی شوی او تناسب ئې یو د دوو په مقابل کې ټاکل شوی.
- دلته بیا هم صبر د بریا رمز ګڼل شوی او ویل شوي چې الله تعالی د صابرانو مل دئ.

دا آیت ښیي چې د لومړنیو او وروستنیو صحابه وو تر منځ په خپل یقین، توکل على الله او ایماني قوت کې توپیر وو، دا توپیر به د هر اسلامي صف په لیکو کې تر سترګو کېږي، لومړني به ئې په خپل ایمان، اخلاص، توکل او د قربانۍ جذبې کې تر وروستنیو وړاندي وي.

---

مَا كَانَ لِنَبِىٍّ أَن يَكُونَ لَهُۥٓ أَسْرَىٰ حَتَّىٰ يُثْخِنَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ تُرِيدُونَ عَرَضَ ٱلدُّنْيَا وَٱللَّهُ يُرِيدُ ٱلْـَٔاخِرَةَ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٦٧﴾ لَّوْلَا كِتَـٰبٌ مِّنَ ٱللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَآ أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٦٨﴾ فَكُلُوا۟ مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلَـٰلًا طَيِّبًا ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٦٩﴾

٦٧- هیڅ پیغمبر ته نه ښایي چې اسیران ئې وي، تر هغه چې په زمکې کې مضبوط شي (د دښمن په وژلو سره)، (تاسو) د دنیوي ژوند متاع غواړئ او الله آخرت (درته) غواړي او الله باحکمت عزتمن دئ. ٦٨- که هغه الهي لیکلی حکم نه وی چې مخکې تېر شوی نو حتماً به د هغه څه په وجه په ستر عذاب اخته شوي وئ چې تر لاسه مو کړ. ٦٩- نو له هغه څه چې په غنیمت مو تر لاسه کړي حلال او پاکیزه ئې وخورئ؛ او له الله ووېرېږئ، یقیناً چې الله مهربان بخښونکی دئ.

---

(٦٧-٦٩)- په دې مبارکو آیتونو کې د اسیرانو او غنائمو په ارتباط څو مهمې لارښوونې شوې:

● له هیڅ پیغمبر او د ده له پلویانو سره دا نه ښایي چې د دښمن له بشپړ ځپلو مخکې اسیران ونیسي، د اسیرانو د نیولو لړۍ باید هغه مهال پیل شي چې د دښمن پوره ځپل شوی وي، د مقاومت او مقابلې توان ئې له لاسه ورکړي وي، دا احتمال پاته نه وي چې بیا ځان راغونډ او له بلې خوا برید وکړي. دا یوه ډېره مهمه او اساسي لارښوونه ده، د دې په اهمیت هغه څوك ښه پوهېږي چې په جګړو کې ئې برخه اخیستې، ماتې او بریاوې ئې په خپلو سترګو لیدلې، د جګړو په میدان کې ئې لیدلي چې د دښمن له بشپړ ځپلو مخکې د اسیرانو په نیولو او د غنائمو په راغونډولو مصروفېدا څومره بدې پایلې لري.

● دا کار هغه څوك کوي چې د دنیوي اغراضو په لټه کې وي، د جهاد له هغه عظیم اجر او ثواب غافل وي چې الله تعالی به ئې په آخرت کې ورکوي، د الله تعالی او د ده د دین غوښتنه دا ده چې تاسو آخرت په پام کې ولرئ او د جهاد اصلي موخه مو د آخرت بریا وي.

● دا د هغه ذات له لوري درته ویل شوي چې هم عزیز دئ او هم حکیم، په هر حکم کې ئې مصلحتونه مضمر دي او په دې قادر دئ چې نور فتوحات مو په برخه کړي، نور غنائم په لاس درکړي، تر هغه څه زیات درکړي چې تاسو ئې په لټه کې یئ.

● که د الله تعالی مخکینی حکم نه وی نو د اسیرانو د نیولو او د دوی په بدل کې د فدیې د تر لاسه کولو په سبب به په سخت الهي عذاب اخته شوي وئ.

● دا درته جائز دي چې غنائم تر لاسه او استفاده ترې وکړئ، خو په دې شرط چې حلال او پاکیزه وي، د خیانت او غلول له لاري مو نه وي تر لاسه کړی او د بل حق مو نه وي غصب کړی.

● د غنائمو په اړه هم باید تقوی خپله کړئ او له الله تعالی ووېرېږئ.

● دلته یوه داسې مهمه پوښتنه راولاړېږي چې په ځواب کې ئې د مفسرینو تر منځ کافي اختلاف شته؛ او هغه دا چې:

● د اسیرانو نیول، د فدیې په مقابل کې د دوی پرېښودل او د غنائمو تر لاسه کول خو جائز کار دئ او قرآن تر دې د مخه په واضح الفاظو د دې اجازه ورکړې، هلته چې فرمايي:

فَإِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَضَرۡبَ ٱلرِّقَابِ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَثۡخَنتُمُوهُمۡ فَشُدُّواْ ٱلۡوَثَاقَ فَإِمَّا مَنَّۢا بَعۡدُ وَإِمَّا فِدَآءً حَتَّىٰ تَضَعَ ٱلۡحَرۡبُ أَوۡزَارَهَاۚ ذَٰلِكَۖ وَلَوۡ يَشَآءُ ٱللَّهُ لَٱنتَصَرَ مِنۡهُمۡ وَلَٰكِن لِّيَبۡلُوَاْ بَعۡضَكُم بِبَعۡضٖۗ وَٱلَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَلَن يُضِلَّ أَعۡمَٰلَهُمۡ ٤ محمد: ٤

نو کله چې له کافرانو سره مخامخ شئ نو د غاړو وهل دي (ستاسو دنده)، تر هغه چې ښه ئې ووژنئ، بیا (د دوی د ترلو لپاره) بندونه کلك کړئ، بیا یا احسان پرې کول دي او یا فدیه (ترې اخیستل)، تر هغه چې جګړه خپل اوزار کښېږدي (د جګړې امکانات پای ته ورسېږي)

دا آیت خو په صراحت سره وایي چې د اسیرانو نیول او د فدیې په بدل کې آزادول درته جائز دي، نو ولې به د دې کار په کولو سره پر صحابه وو عذاب نازلېدو، په داسې حال کې چې پیغمبر علیه السلام هم دغه رأیه درلوده او له یوه دوه پرته ټولو صحابه وو هم په دې اتفاق کړی؟! دې پوښتنو ته دا محترم مفسرین ځواب نه لري، ځیني مفسرین وایي چې پیغمبر علیه السلام د بدر د اسیرانو په اړه له صحابه وو سره مشوره وکړه، د ابوبکر رضی الله عنه رأیه دا وه چې اسیران د فدیې په بدل کې خوشې شي، عمر رضی الله عنه دا غوره ګڼله چې ووژل شي، پیغمبر علیه السلام او د صحابه وو اکثریت د ابوبکر رضی الله عنه رأیه غوره وګڼله، اسیران د فدیې په بدل کې آزاد شول، دوی وایي چې دا کار د الله تعالی د رضاء او خوښې خلاف وو، نو ځکه دغه آیت نازل شو: لَّوۡلَا كِتَٰبٞ مِّنَ ٱللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمۡ فِيمَآ أَخَذۡتُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ؛ دوی دا هم وایي چې ګواکې د دې آیت په اورېدو سره رسول الله صلی الله علیه و سلم ویلي چې که عذاب نازل شوی وی نو له عمر رضی الله عنه پرته به ټول پرې اخته شوي وو!!

همدا راز دې پوښتنې ته د منلو وړ ځواب نه لري چې د آیت د دې برخې لَّوۡلَا كِتَٰبٞ مِّنَ ٱللَّهِ سَبَقَ معنی څه ده؛ او کوم مخکې تېر شوي الهي حکم ته اشاره کوي؟! ځیني وایي دا په لوح محفوظ کې لیکل شوې الهي قضاء ده، ځیني وایي چې الله تعالی له مخکې دا پرېکړه کړې وه چې دې امت ته به غنائم حلالوي خو دوی د حکم له نازلېدو د مخه دا کار وکړ!! ځیني وایي چې د بدر مجاهدینو ته ویل شوي وو چې له دغو دوو خبرو یوه غوره کړي: یا د اسیرانو وژل او یا د فدیې اخیستل خو د فدیې د اخیستلو په صورت کې به په راتلونکو جګړو کې ستاسو همدومره جنګیالي په شهادت رسېږي، دوی دغه دوهم صورت غوره کړ!!

دا آراء ډېرې ستونزې لري، لومړی ئې دا چې پیغمبر علیه السلام ته داسې رأیه منسوب شوې چې د الله تعالی د رضاء خلاف وه!! دوهمه ئې دا چې د اسیرانو نیول او د

فديې په بدل کې ئې آزادول جائز کار دئ، قرآن تر دې د مخه د محمد په سورې کې په ځرگندو الفاظو د دې اجازه ورکړې وه، الله تعالی به ولې دوی په جائز کار مؤاخذه کول او په ستر عذاب به ئې گواښل؟ درېیم دا چې د کوم مخکيني حکم په سبب د دوی مؤاخذه څنډول شوې؟

خو د دغو کمزورو او متعارضو آراوو په مقابل کې غوره، دقيقه او د قرآن په نوروآيتونو مستنده رأيه دا ده چې:

د الانفال له سورې مخکې د محمد په سوره کې مسلمانانو ته لارښوونه شوې وه چې په جگړې کې له دښمن سره د مخامخېدو په دوران کې ستاسو لومړی دنده دا ده چې دښمن ښه وځپئ، داسې چې د ځان راغونډولو او بيا برید توان له لاسه ورکړي، تر دې وروسته د اسیرانو د ترلو او د غنائمو د راغونډولو اقدام وکړئ، بيا ستاسو خوښه چې له اسیرانو سره احسان کوئ او له فديې پرته ئې آزادوئ او که فديه اخلئ، داسې نه چې د دښمن د تعقیب او ځپلو کار په نيمايي کې پرېږدئ او د اسیرانو په نيولو او د غنائمو په راغونډولو بوخت شئ.

- ځينو جنگياليو د دغه صريح حکم په خلاف د جگړې په نيمايي کې د اسیرانو په نيولو او د غنائمو په راغونډولو لاس پورې کړ، دا د الله تعالی د حکم او رضاء خلاف کار وو.
- دوی ته ویل شوي چې که الله تعالی د اسیرانو په بدل کې د فديې د اخيستلو اجازه نه وی درکړې نو په دې کار سره به په ستر عذاب اخته شوي وئ. دا اجازه د محمد د سورې په پورتني آيت کې دوی ته ورکړی شوې وه.

وروستی آيت په ډېر صراحت سره وايي چې د گواښ وجه غنائم او د اسیرانو په بدل کې څه تر لاسه کول نه وو، دا تاسو ته حلال دي، د گواښ وجه له دې پرته بل څه وو او هغه د دښمن له بشپړ ځپلو مخکې د اسیرانو نيول او د غنائمو غونډول وو.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّمَن فِيٓ أَيۡدِيكُم مِّنَ ٱلۡأَسۡرَىٰٓ إِن يَعۡلَمِ ٱللَّهُ فِي قُلُوبِكُمۡ خَيۡرٗا يُؤۡتِكُمۡ خَيۡرٗا مِّمَّآ أُخِذَ مِنكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٧٠ وَإِن يُرِيدُواْ خِيَانَتَكَ فَقَدۡ خَانُواْ ٱللَّهَ مِن قَبۡلُ فَأَمۡكَنَ مِنۡهُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ٧١

٧٠- اې پيغمبره! ستاسو په لاس کې چې کوم اسيران دي ورته ووايه: که الله ته ستاسو په زړونو کې کومه ښېگڼه معلومه شي نو تر هغه څه به غوره درکړي چې درنه اخيستل شوي او بخښنه به درته وکړي او الله مهربان بخښونکی دئ. ٧١- او که له تا

سره خيانت کول وغواړي نو تر دې د مخه ئې له الله سره خيانت کړی وو، نو برلاسي ئې پرې درکړه او الله ښه باحکمت پوه دئ.

(۷۰-۷۱)- په دې مبارکو آيتونو کې له اسيرانو سره د چلن په اړه لاندې لارښوونې شوې:

- دوی ته ووايئ: که د خپل زړه حالت بدل کړئ، د کفر او شرك گند ترې وباسئ، د ايمان رڼا ته لار پرانيزئ، د خير خبرو ته په زړه کې ځای ورکړئ، که دا کار وکړئ او الله تعالی ته معلومه شي چې ستاسو زړونو ته ښېگڼو لار پرانيستې، نو الله تعالی به تر هغه څه زيات او غوره درکړي چې له تاسو اخيستل شوي، تېر گناهونه به مو درته وبخښي.
- خو که په خپل زړه کې د خيانت اراده لرئ، د تېښتې هڅه وکړئ، د فديې سپارلو ژمنه وکړئ خو بيا ئې ونه سپارئ، له مسلمانانو سره د نه جنگېدو خبره وکړئ، خو بيا په خپلې وعدې وفا ونه کړئ، پوه شئ چې الله تعالی به بيا مسلمانان پر تاسو برلاسي کړي. له عليم خدای ستاسو د زړه عزائم پټ نه پاته کېږي، مسلمانان بايد په دې باور وي چې له اسيرانو سره دا چلن حکيمانه چلن دئ، ډېر مصلحتونه په کې نغښتي دي، دا ځکه چې حکيم خدای د دې امر کړی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَهَاجَرُوا۟ وَجَٰهَدُوا۟ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلَّذِينَ ءَاوَوا۟ وَّنَصَرُوٓا۟ أُو۟لَٰٓئِكَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَلَمْ يُهَاجِرُوا۟ مَا لَكُم مِّن وَلَٰيَتِهِم مِّن شَىْءٍ حَتَّىٰ يُهَاجِرُوا۟ ۚ وَإِنِ ٱسْتَنصَرُوكُمْ فِى ٱلدِّينِ فَعَلَيْكُمُ ٱلنَّصْرُ إِلَّا عَلَىٰ قَوْمٍۭ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَٰقٌ ۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٧٢﴾

۷۲- يقيناً هغه چې ايمان ئې راوړی، هجرت ئې کړی، په خپلو مالونو او نفسونو سره ئې د الله په لار کې جهاد کړی او هغه چې (مهاجر ته ئې) پناه ورکړې او (د مجاهد) مرسته ئې کړې، دوی يو د بل اولياء دي؛ او هغه چې ايمان ئې راوړی، خو هجرت ئې نه دئ کړی، تر څو چې هجرت ونه کړي له تاسو سره د دوی د دوستۍ هيڅ اړيکه نشته او که د دين په اړه مرسته درنه وغواړي پر تاسو د دوی مرسته فرض ده، مگر د هغه قوم په ضد چې ستاسو او د دوی تر منځ کوم تړون وي؛ او الله د هغه څه ښه ليدونکی دئ چې تاسو ئې کوئ.

(۷۲)- په دې مبارکو آيتونو کې د مؤمنانو تر منځ د موالات او دوستۍ په اړه څو لارښوونې

شوې:

- چا چې ايمان راوړی، د خپل ايمان په حکم ئې هجرت کړی، د الله په لار کې ئې په خپل سر او مال سره جهاد کړې، مالي او ځاني قرباني ئې ورکړې، مهاجر ته ئې پناه ورکړې او د مجاهد ملګرتيا او ملاتړ ئې کړی، دوی يو د بل اولياء دي، يو له بله دفاع کوي، د يوې داسي کورنۍ غړي دي چې د هر بهرني دښمن په خلاف ګډ دريځ لري، په يوه تېری پر ټولو تېری ګڼي.

- او هغه چې ايمان ئې راوړی، خو هجرت ئې نه دئ کړی، له دوی سره د مخکينيو مؤمنانو له خوا، تر هغه پوري د موالات پورتنۍ اړيکي نشته چې هجرت ونه کړي، خو که د دين په اړه مرسته ترې وغواړي د دوی مرسته پرې فرض ده، مګر د هغه قوم په ضد چې د مسلمانانو او د دوی تر منځ کوم تړون وي. د دې معنی دا ده چې اسلامي حکومت يوازې له هغو مؤمنانو په دفاع مکلف دئ چې د اسلامي حکومت تر سلطې لاندي هېواد کې ژوند کوي، خو هغه چې د کافرانو تر سلطې لاندي ژوند کوي، له دوی سره په دوه صورتونو کې مرسته لازمه ده: لومړی دا چې د دين په اړه مرستي ته اړ شوي وي، د دين په وجه تر ظلم او تېري لاندي وي او د اسلامي حکومت مرستي ته اړ وي او دوهم دا چې دا مرسته د هغه قوم او حکومت په ضد نه وي چې له اسلامي حکومت سره د عدم تعرض تړون لري.

- مسلمانانو ته دا هم ويل شوي چې په اصل کې ستاسو معامله له هغه الله تعالی سره ده چې ستاسو د ټولو کړنو ناظر دئ، نه به پټه د دې لارښوونو او تړونونو مخالفت کوئ او نه په ښکاره.

د دې مبارك آيت مطالب د النساء د سورې په دغو آيتونو کې هم په تفصيل سره راغلي:

فَمَا لَكُمْ فِي ٱلْمُنَٰفِقِينَ فِئَتَيْنِ وَٱللَّهُ أَرْكَسَهُم بِمَا كَسَبُوٓاْۚ أَتُرِيدُونَ أَن تَهْدُواْ مَنْ أَضَلَّ ٱللَّهُۖ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ سَبِيلًا ﴿٨٨﴾ وَدُّواْ لَوْ تَكْفُرُونَ كَمَا كَفَرُواْ فَتَكُونُونَ سَوَآءًۖ فَلَا تَتَّخِذُواْ مِنْهُمْ أَوْلِيَآءَ حَتَّىٰ يُهَاجِرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ فَإِن تَوَلَّوْاْ فَخُذُوهُمْ وَٱقْتُلُوهُمْ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْۖ وَلَا تَتَّخِذُواْ مِنْهُمْ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿٨٩﴾ النساء: ٨٨-٨٩

نو پر تاسو څه شوي چې د منافقينو په اړه دوه ډلي شوئ، حال دا چې الله تعالی دوی د خپلو لاس ته راوړنو په وجه رانسکور کړل، آيا غواړئ هغه څوك هدايت کړئ چې الله بې لاري کړل او الله چې څوك بې لاري کړي هيڅ لار به ورته ونه مومې. خوښه ئې دا ده

چې تاسو هم داسې کافران شئ لکه دوی چې کافران شول، نو بیا به سره برابر شئ، نو تر هغه له دوی دوستان مه نیسئ چې د الله په لار کې هجرت وکړي، خو که ئې ډډه وکړه، نو وئې نیسئ او هر ځای چې ئې مومئ وئې وژنئ او مه له دوی کوم دوست نیسئ او مه کوم مرستندوی.

دا وینا د هغو خلکو په اړه ده چې د ایمان دعوی ئې کوله خو په دارالکفر کې پاته شوي او په داسې حال کې ئې مدینې ته له راتلو ډډه کړې چې له یوې خوا د هجرت کولو امر ورته شوی وو او له بلې خوا په دې نتوانېدل چې هلته خپل دیني شعائر په څرګنده توګه او په اطمئنان سره تر سره کړي، د هغو خلکو تر سلطې لاندې ئې ژوند کولو ته دوام ورکړی چې له مسلمانانو سره جنګېدل، په دارالحرب کې د دوی د پاته کېدو اصلي وجه دا وه چې د خپل دین او ایمان په خاطر قربانۍ ته چمتو نه وو، دې ته تیار نه وو چې د اسلام لپاره له خپل کور، کلي ووځي، د کافرانو له سلطې آزاد شي او د اسلام تر بېرغ لاندې د ژوند کولو لپاره مدینې ته راشي، نه مجبوریت منع کړي وو او نه ضعف او ناتوانۍ. ډېر ځله به داسې هم واقع کېده چې دوی به د کافرانو په څنګ کې او د دوی تر قوماندې لاندې د مسلمانانو په ضد په جګړو کې برخه اخیسته. ډېر ځله به له مجاهدینو سره دا اندېښنه راپیدا کېده چې که موږ د دښمن په کومې سیمې برید کوو او هلته داسې مسلمانان وي او یا دښمن پر موږ حمله کوي او داسې کسانو په دې حملې کې برخه اخیستې وي او زموږ په لاس ووژل شي، زموږ حکم به څه وي او د دوی حکم څه؟ الله تعالی د دوی د دغې اندېښنې د رفع کولو لپاره دا لارښوونه وکړه چې مهمې برخې ئې دا دي:

- دا منافقین دي.
- د دوی په اړه اختلاف مه کوئ.
- د دوی عملونه داسې دي چې دارالایمان ته د راتلو وړ نه دي، الله تعالی د دې وړ ونه ګڼل چې ستاسو خوا ته ئې راولي، د اسلام په لوري د مخکې تلو پر ځای د کافرانو تر سلطې لاندې پاته کېدو باندې راضي شول، الله تعالی پرېښودل چې په هغه کې نسکور شي.
- د دوی په اړه به ستاسو خپل منځي اختلاف څه ګټه ولري او څنګه به د دوی د هدایت باعث شي، حال دا چې الله تعالی ئې د هدایت وړ نه ګڼي او دا توفیق ئې نه دئ ورپه برخه کړی چې له هغه ناوړې ډنډ راووځي؟!
- دوی خو دا خوښوي چې کاش تاسو هم د دوی په څېر وئ، تاسو هم له خپل ملك هجرت نه وی کړی. له نورو سره د ګډ ژوند کوم صورت مو راپیدا کړی وی، نه هغوی زموږ مزاحم کېدی او نه موږ د دوی. که موږ داسې ژوند کولی شو نو تاسو ئې ولې نه شئ کولی؟

- ترهغه چې دا خلك د الله په لار كې هجرت ونه كړي، خپل اولياء او دوستان ئې مه ګڼئ.
- كه له هجرت كولو ئې ډډه وكړه نو په نيولو او وژلو ئې هيڅ صرفه مه كوئ، د دښمن له ډلي ئې وګڼئ او همغه څه ورسره وكړئ چې له دښمن سره ئې كوئ، هيڅ يو ئې مه خپل دوست ګڼئ او مه د مرستي طمع ترې كوئ.

---

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٍۚ إِلَّا تَفۡعَلُوهُ تَكُن فِتۡنَةٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَفَسَادٞ كَبِيرٞ ﴿٧٣﴾

٧٣- او هغه چې كافران شوي ځيني ئې د ځينو نورو اولياء دي، كه دا ونه كړئ نو په زمكې كې به فتنه او ستر فساد خور شي.

---

(٧٣)- له مظلومو مؤمنانو د دفاع دا لارښوونه د دې لپاره شوې چې:

- كافران يو د بل مرسته او دفاع كوي.
- كه تاسو د دوی مرسته ونه كړئ نو په هر ځای كې به پر بې وزلو او مظلومو مؤمنانو د ظلم او تېري لړۍ پيل كېږي، دښمنان به ئې دا وېره نه لري چې څوك به ترې دفاع وكړي او مرستي ته به ئې راوړاندي شي.
- مفسدينو ته به دا موقع په لاس ورځي چې هري خوا ته د فساد لمن خوره كړي؛ او په هر ځای كې مؤمنان وځوروي، له دغو فتنو او فساد د مخنيوي لپاره د هغو مظلومو مؤمنانو مرسته او دفاع وكړئ چې تاسو ته د مرستي لاس دراوږدوي.

---

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلَّذِينَ ءَاوَواْ وَّنَصَرُوٓاْ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ حَقّٗاۚ لَّهُم مَّغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ﴿٧٤﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنۢ بَعۡدُ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ مَعَكُمۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ مِنكُمۡۚ وَأُوْلُواْ ٱلۡأَرۡحَامِ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلَىٰ بِبَعۡضٖ فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمُۢ ﴿٧٥﴾

٧٤- او هغه چې ايمان ئې راوړی، هجرت ئې كړی، د الله په لار كې ئې جهاد كړی؛ او هغه چې (مهاجر ته ئې) پناه وركړې او (د مجاهد) مرسته او ملګرتيا ئې كړې، دوی حقيقي مؤمنان دي، دوی ته بخښنه او غوره رزق دئ. ٧٥- او هغه چې وروسته ئې ايمان راوړی، هجرت ئې كړی او له تاسو سره ئې (يو ځای) جهاد كړی، دوی ستاسو له

ډلي دي؛ او د الله په کتاب کې خپلوان ځيني پر ځينو نورو اولويت لري، يقيناً چې الله په هر څه ښه پوه دئ.

---

(۷۴-۷۵)- دا مبارك آيتونه د حقيقي مؤمنانو ځانګړتياوې او خصوصيات په دې توګه معرفي کوي:

- د ايمان په حکم او غوښتنه هجرت کوي.
- د الله تعالی په لار کې جهاد کوي.
- مهاجر ته پناه ورکوي.
- د مجاهد مرسته او ملګرتيا کوي.
- الله تعالی له دوی سره د دوو خبرو ژمنه کړې:
- ګناهونه به ورته وبخښي، له ايمانه مخکې ګناهونه به ئې د ايمان په وجه، له هجرت مخکې ګناهونه به ئې د هجرت په وجه، له جهاد مخکې ګناهونه به ئې د جهاد په وجه، له حمايت او نصرت مخکې ګناهونه به ئې د حمايت او نصرت په وجه ورته وبخښي.
- په دنيا اوآخرت کې به غوره رزق ورپه برخه کړي. دوی بايد ډاډه وي چې الله تعالی ئې د رزق او روزي ضامن دئ.
- هغه چې وروسته ئې ايمان راوړی، هجرت ئې کړی او له خپلو مخکينيو مؤمنو وروڼو سره ئې په جهاد کې برخه اخيستې، دوی هم د مؤمنانو له ډلي دي، خو د درجو په تفاوت سره، همداسي لکه چې د الله په کتاب کې خپلوان هم ځيني پر ځينو نورو اولويت لري، مؤمنان او مجاهدين هم د مقام او مرتبې له مخي يو د بل په نسبت فضيلت لري.
- دا د هغه الله تعالی لارښووني دي چې په هر څه ښه پوه دئ، پوهېږي چې لومړني مؤمنان او مجاهدين ولي د وروستنيو په پرتله مخکې او د فضيلت خاوندان دي او د دوی د فضيلت وجوهات څه دي.

دا مبارك آيت په ډېرو قاطع او واضحو الفاظو وايي چې د الله په لار کې هجرت او د الله په لار کې جهاد د ايمان تقاضا او د واقعي او حقيقي مؤمن نښه ده، د غير اسلامي نظام له سلطې وتل او د اسلامي نظام د اقامې لپاره جهاد يوه داسي الهي فريضه ده چې هيڅ د ايمان خاوند ئې نشي پرېښودی، کله چې مسلمانان داسي يوې مرحلې ته ورسېږي چې وسلې ته لاس کول او د دښمن په خلاف جنګېدل ضروري وګڼل شي، نو دا کار وربانديې فرض دئ او پرېښودل ئې د يوې الهي فريضې پرېښودل دي او الله تعالی د داسي جهاد له تارکينو هيڅ دليل او بهانه نه مني.

خو دا خبره بايد واضح شي چې موږ به اوس او د پيغمبر عليه السلام په غياب کې دا مرحله څنګه پېژنو او څنګه به په دې پوهېږو چې اوس وسلې ته لاس کول پر موږ فرض

شوي او ترك ئې ګناه ده؟ يوه مخلص مسلمان ته د دې مرحلې تشخيص ګران کار نه دئ، هغه پوهېږي چې کله زموږ حالت داسي شو لکه په مدينه منوره کې د مسلمانانو حالت، په موږ همغه څه کول لازم کېږي چې پيغمبر عليه السلام او صحابه وو رضی الله عنهم وکړل.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

١٣٨٦\١٢\١٤

# التوبه

## د سورې پېژندنه

دا سوره په دوو مشهورو نومونو ياده شوې: البراءة او التوبة، لومړی نوم ئې د سورې له لومړي آيت اخيستل شوی چې په هغه کې له مشرکينو د برائت او بې زارۍ اعلان شوی او دوهم ئې له ١١٨آيت چې د دريو مؤمنانو توبې ته په کې اشاره شوې. ١٢٩ آيتونه لري، د آيتونو فواصل ئې د لومړي او اتم آيتونو (مشرکين) او (فٰسقون) ته ورته دي؛ او څو آيتونه ئې (رحيم) او (حکيم) ته ورته اوزان لري چې دا هم مشرکين ته نژدې وزن لري. د سورې له متنه په ډېر صراحت سره معلومېږي چې د دې سورې ځيني برخې د مکې له فتحې لږ مخکې او ځيني ترې وروسته، ځيني په نهم هجري کال کې، ځيني د حنين له جګړې وروسته او ځيني د تبوك له جګړې مخکې او وروسته نازلې شوې او په هغو قضاياوو بحث کوي چې مسلمانان پر مکې له تسلط وروسته ورسره مخامخ ول، لومړۍ مهمه قضيه له هغو ډېرو سره د مخکينيو ژمنو قضيه وه چې ځينو د هغوی درناوی کړی وو او ځينو په وار وار ترپښو لاندې کړې وې.

## د الانفال او التوبه تر منځ تړاو

ځيني خلك د سورې په سر کې د بسم الله الرحمن الرحيم د نه راتلو له امله داسي انګېري چې ښايي دا دواړه سورې به په اصل کې يوه سوره وي، خو ځيني نور بيا په دې عقيده دي چې د سورې په پيل کې بسم الله الرحمن الرحيم د نه راتلو وجه دا ده چې د سورې د نزول په وخت کې پيغمبر عليه السلام دا نه وو ويلي چې په سر کې ئې بسم الله الرحمن الرحيم راوړئ او دا ئې هم نه وو ويلي چې دا سوره د الانفال برخه ده، د قرآن د جمع کولو پر مهال د صحابه وو تر منځ دوه رأيي وې: ځينو دا مستقله سوره ګڼله او ځينو د الانفال برخه، اتفاق پر دې راغی چې نه ئې په سر کې بسم الله الرحمن الرحيم

راوړل شي او نه له الانفال سره يو ځای کړی شي.

که د التوبې د سورې مضامينو ته ځير شو نو راته جوته کېږي چې له دې مضامينو سره د بسم الله الرحمن الرحيم راوړل مناسب نه وو، دا د ټولو مشرکينو په وړاندې د برائت اعلان دئ او طبيعي ده چې د برائت اعلان او بسم الله الرحمن الرحيم يو له بل سره نه ښايي، دا د صلح او روغې جوړې لوري ته د بلنې يا د جگړې د پای ته رسېدو اعلان نه دئ چې په بسم الله الرحمن الرحيم پيل شي، مناسبه همدا وه چې د برائت په لفظ سره دا سوره پيل شي.

دا سوره د الانفال يوه برخه گڼل اشتباه ده، ځکه که د دغو دواړو سورتونو د آيتونو ترکيب او د مضامينو ژورو توپيرونو ته ځير شو نو په بشپړ اطمئنان سره ويلی شو چې دا دواړه سورتونه مستقل سورتونه دي؛ ځيني مهم توپيرونه ئې دا دي:

- الانفال د جهاد په لومړنۍ او د پيل په مرحلې پورې مربوط قضايا څېړلې او التوبه د جهاد ډېرې پرمخ تللې مرحلې او د مکې له فتحې لږ مخکې او وروسته قضايا څېړلې.
- په الانفال کې د معاهداتو د درناوي يادونه شوې او په التوبه کې د معاهداتو پای ته رسېدل اعلان شوي.
- د دواړو سورتونو د آيتونو ترکيب او غږ ډېر توپير لري.
- د الانفال د سورې آيتونه په اوسطه توگه نږدې ٦٧ حروفه اوږدوالی لري، حال دا چې د التوبه د سورې د آيتونو اوسط اوږدوالی نږدې ٨١ حروفه دئ.
- که دا دواړه سورې يو وگڼل شي نو د قرآن د سورتونو شمېر به ١١٣ شي، حال دا چې د ١١٤ رقم خاص اهميت لري، دا ځکه چې د دې عالم د عناصرو شمېر هم ١١٤دئ، دې ته مو بايد پام وي چې الله تعالی د قرآن يوه مکمله جمله هم آيت گڼلی او د دې عالم هر توکی ئې هم د آيت په نامه ياد کړی، يو د مقروء کتاب آيت دئ او بل ئې د مشهود کتاب آيت، يو له حروفو او تورو جوړ شوی او بل ئې له توکو، يو لوستل کېږي او بل ليدل کېږي، يو کتاب هومره وړوکی چې ته ئې په خپل جيب کې وړی شې او بل ئې هومره ستر چې ته، ستا زمکه او لمر او سپوږمۍ ئې د تورو او ټکيو حيثيت لري، خو په دغه واړه کتاب کې دا ستر کتاب راغونډ شوی، که ووايو چې په دې واړه کتاب کې هومره اسرار دي چې په دې ستر کتاب کې نشته نو مبالغه مو نه ده کړې!! دا ستر غوړېدلی کتاب د دغه واړه کتاب شرح ده او دا ووړ کتاب د دغه پراخ کتاب خلاصه. ته پوهېږې چې دا ستا زمکه له داسې عناصرو جوړه شوې چې شمېر ئې ثابت دئ او تر دې نه شي زياتېدی؛ ٩٨ ئې په طبيعي توگه په زمکې کې موندل کېږي؛ ځيني داسې دي چې په مصنوعي توگه په لابراتوار کې جوړ شوي؛ مجموعي شمېر ئې ١١٨ ته رسېږي؛ په مصنوعي توگه جوړ شوي عناصر په حقيقت کې د طبيعي عناصرو په هسته کې د تغيير له لارې جوړ شوي؛ تر ٢٠١٥

کال پوري؛ د عناصرو تناوبي جدول ۱۱۸ عناصر درلودل؛ چې ۱۱۴ ئې د کيميا نړۍ والې اتحاديې له لوري منل شوي او نومونه ورته وضع شوي؛ او د الله مقروء کتاب (قرآن) له يو سل څوارلسو سورتونو او د فاتحې سوره؛ د ابن کثير د رأيي مطابق؛ له يو سل څوارلسو حروفو جوړه شوې!! تا ته دا هم معلومه شوې چې زمکه اُوه طبقې ده، آسمان ئې اُوه طبقې او د زمکې او آسمان د هر وړوکي جزء؛ اتم، انتهائي مدارونه هم اُوه او د فاتحې د سورې آيتونه هم اُوه؛ دا يو تصادف مه گڼه، دا هغه حقيقت درپه گوته کوي چې د دواړو کتابونو مرجع يوه ده، دواړه يو د بل شرح او تفصيل.

مقروء کتاب ئې د دې لپاره ووړ کړی چې ته ئې په خپل جېب کې هم وگرځولی شې او لوستل ئې درته آسان وي او مشهود کتاب ئې د دې لپاره خور او ستر کړی چې ته هري خوا ته سترگې وغړوې نو د ده د قدرت نښې وگورې او هر څه ئې هره شبهه درياد کړې.

## شأن نزول:

په شپږم هجري کال کې د قريشو او مسلمانانو تر منځ د حديبيې د صلحې معاهده لاسليك شوه، د دې معاهدې له مخې به نه يوازې تر لسو کلونو يو پر بل له بريد ډډه کېده، د مسلمانانو او قريشو تر منځ به اوربند وو او په پټه او ښکاره به ئې يو د بل په ضد له تېرې ډډه کوله بلکې د دواړو لوريو حليف قومونه به هم د دوی له بريدونو خوندي وو، په معاهده کې ويل شوي وو چې د عربو هر قوم ته به دا حق ورکول کېږي چې له کوم لوري سره يو ځای کېږي او د دې معاهدې برخه گرځي. په دې لړ کې د بني خزاعه قبيله له مسلمانانو سره او د بني بکر قبيله له قريشو سره حليف او په معاهدې کې شاملې شوې، قريشو دا معاهده نقض کړه، بني بکر پر بني خزاعه بريد وکړ، قريشو د دوی مرسته وکړه او په دې توگه دواړو د حديبيې معاهده ماته کړه، هسې هم قريشو هغه برياوې نه شوی زغملی چې له دغې معاهدې وروسته د مسلمانانو په برخه شوې، مدينه له يهودو تصفيه شوه، د عربو له څلورو نژدې درې برخې د اسلام تر واکمنۍ لاندې راغلې، د عربو ډېرې قبيلې له مسلمانانو سره يوځای شوې، خبره د شام تر پولو او له روميانو سره مخامخېدو ته ورسېده، د قريشو جذباتي زلميانو غوښتل د دې معاهدې له قيده آزاد شي او له مسلمانانو سره په يوې پرېکنده نښتې کې خپل مخکينی حيثيت راژوندی کړي، د دې لپاره ئې تياری پيل کړ، پر خزاعه د بني بکر بريد د دې تياري مقدمه وه، خو پيغمبر عليه السلام په خپل ژور تدبر او درايت سره دا موقع ورنه کړه او په اتم هجري کال ئې پر مکې بريد وکړ او هغه ئې په ډېره آسانۍ او د قريشو له لوري له کوم مقاومته پرته فتح کړه، حمله دومره ستره او منصوبه ئې دومره دقيقه وه چې قريشو نه د مقابلې او مقاومت توان په ځان کې ليدو او نه ئې له تسليمېدو پرته بله چاره درلوده. د مکې له فتحې وروسته د هوازن له جگړمارې قبيلې سره د حنين په تنگي کې کلکه نښته رامنځته شوه، چې په لومړي سر کې د مسلمانانو په ماتې منتج شوه خو بېرته وضع بدله

شوه او دا سخته جگړه هم د مسلمانانو په گټه پای ته ورسېده، د طائف خلکو هم د مسلمانانو په ضد د جنگ پرېکړه وکړه خو رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپل حکيمانه او مدبرانه سياست سره دا منصوبه شنډه کړه او طائف د مسلمانانو په لاس فتح شو. دا سوره په همداسي ظروفو او شرائطو کې نازله شوې.

---

بَرَآءَةٌ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦٓ إِلَى ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّم مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ١ فَسِيحُواْ فِى ٱلْأَرْضِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِى ٱللَّهِ وَأَنَّ ٱللَّهَ مُخْزِى ٱلْكَٰفِرِينَ ٢

د الله او د رسول له لوري ئې هغو مشرکينو ته د برائت اعلان دئ چي معاهده مو ورسره درلوده. نو په زمکي کي تر څلورو مياشتو پوري تگ راتگ کوئ او په دې پوه شئ چي د الله ناتوانه کوونکي نه ياست؛ او دا چي الله د کافرانو سپکوونکی دئ.

---

(۱-۲)- په دې مبارکو آيتونو کې څو اساسي خبرې زموږ مخې ته راځي:

له هغو مشرکينو سره د مخکينيو معاهدو د فسخ کېدو اعلان شوی چي په وار وار ئې له خپلو ژمنو سرغړاوی کړی.

دوی ته څلور مياشتي فرصت ورکړی شوی چي د خپلې راتلونکې په اړه له غور او فکر وروسته پرېکړه وکړي چي د دښمنۍ لار غوره کوي او په خپل شرك ټينگار کوي که له شرك او کفر لاس اخلي او ايمان راوړي.

ورته ويل شوي چي که د مخالفت او دښمنۍ پر دوام ټينگار وکړئ نو الله تعالى نشئ ناتوانه کولی او له سپکاوي او رسوايي سره به مخامخ کېږئ.

بايد وگورو چي له دغو څلورو مياشتو مراد هغه څلور حرامي مياشتي دي چي د ابراهيم عليه السلام له دوران راوروسته د حج او عمرې لپاره ټاکل شوې وې او عربو تل د هغوی احترام کاوو که نوري څلور مياشتي؟ که نوري څلور مياشتي وي نو د پيل نېټه ئې کومه ده، د دغو آيتونو د نزول نېټه که د برائت د اعلان ورځ؟ دې پوښتني ته د ځواب لپاره بايد ووايو: په دې اړه څو رأيې وړاندي شوې دي چي تر ټولو غوره ئې دا ده: ۱- دا څلور مياشتي همغه معروف او له مخکې پېژندل شوې څلور مياشتي دي، ځکه د دې سورې په پنځم آيت کې دغه څلور مياشتي د الاشهر الحرم په نامه يادي شوې دي او په ۳۶ آيت کې د همدې الاشهر الحرم په اړه مزيد وضاحت شوی، ۲- د دغو څلورو مياشتو پای همغه د محرم د مياشتي پای دئ، هغه رأيه کمزورې ده چي وايي دا څلور مياشتي له لسم د ذي الحجې پيل شوې او په لسم د ربيع الثاني پای ته رسېدلې. ۳- د مشرکينو يوې

ډلې ته د حرام میاشتو تر پای پورې مهلت ورکړی شوی، خو د هغو ډلو په اړه چې نه ئې له مسلمانانو سره خپلې معاهدې نقض کړې او نه ئې د مسلمانانو په ضد د دوی د دښمنانو مرسته او ملګرتیا کړې؛ د دوی په اړه مسلمانانو ته لارښوونه شوې چې تر پایه پر خپلو ژمنو او معاهدو ودرېږئ، د څلورو میاشتو قید د دوی په ارتباط نه دئ وضع شوی، د متعارضو روایاتو له مخې دا پرېکړه ګرانه او ناشونې ده چې دا آیتونه څه وخت نازل شوي، ځیني وایي چې دا آیتونه په نهم هجري کال د شوال په میاشت کې نازل شوي او ځیني نور وایي چې د ذي القعدې په میاشت کې او هغه مهال نازل شول چې پیغمبر علیه السلام د حاجیانو قافله د ابوبکر رضی الله عنه په مشرۍ مکې ته لېږلې وه، خو د آیتونو له فحوی داسې معلومېږي چې دا به د رجب له میاشتې مخکې نازل شوي وي، دا ځکه چې یوازې په دې صورت کې ویلی شو چې مشرکینو ته د همغه کال د څلورو حرام میاشتو مهلت ورکړی شوی. دغو خبرو ته په پام سره ویلی شو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ابوبکر رضي الله عنه په دې ګمارلی وو چې د حج په موسم کې به دا آیتونه خلکو ته اوروي، خو وروسته ئې دا غوره وګڼله چې د برائت دا اعلان د خپلې کورنۍ د یوه غړي له لوري د حج په ورځو کې په مکه کې وکړي، علي رضی الله عنه ئې په دې کار وګمارو، هغه دا آیتونه په لسم د ذي الحجې د ټولو حجاجو په لویې غونډې کې واورول،

د همدې سورې په پنځم آیت کې دغو څلورو میاشتو ته د اشهر الحرم نوم ورکړی شوی او ویل شوي چې د حرام میاشتو له تېرېدو وروسته په هر ځای کې چې دا مشرکان مومئ وئې وژنئ، وئې نیسئ، محاصره ئې کړئ او په هر کمین ځې کې ورته کښېنئ، نو که ئې توبه وکړه، لمونځ ئې قائم کړ او زکات ئې ورکړ، نو لاره ئې خوشې کړئ، بې شکه چې خدای بخښونکی مهربان دئ. همدا راز د دې سورې په ٣٦ آیت کې ویل شوي: یقیناً چې د الله خوا ته او د الله په کتاب کې د میاشتو شمېر دولس میاشتې دئ، له همغې ورځې چې آسمانونه او زمکه ئې پیدا کړل، څلور ئې حرامې (د درناوي وړ) میاشتې دي، له دغو دوو آیتونو معلومېږي چې له څلورو میاشتو همغه مخکینۍ څلور حرام میاشتې مراد دي، همدا راز د اعلان ورځ د پیل ورځ نه شو ګڼلی، ځکه د برائت اړوند آیتونه تر اعلان د مخه نازل شوي وو، د نزول دقیقه نېټه هم د روایاتو له مخې نشي ټاکل کېدی، ځکه ځیني ئې وایي چې په ذي القعده کې نازل شوي او ځیني ئې وایي چې په شوال کې نازل شوي، په دې توګه ویلی شو چې یا خو د دغو آیتونو د نزول له ورځې د حرام میاشتو پاته درې میاشتې ذي القعده، ذي الحجه او محرم الحرام پورې مشرکینو ته مهلت ورکړی شوی او یا دا آیتونه هغه مهال نازل شوي چې د حرام میاشتو څلورمه هم احتوی کوي.

د بخاري له ٤٦٥٧ روایت داسې معلومېږي چې ابوهریرة رضی الله عنه د ابوبکر رضی الله عنه له لوري له ځینو نورو سره په دې ګمارل شوی وو چې په منٰی کې حجاجو ته دا خبري اعلان کړي چې له سږ کال وروسته به نه مشرك حج ته راځي او نه به څوك بربنډ

طواف کوي، روایت داسي دئ:

حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا أَبِي عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَنَّ حُمَيْدَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَخْبَرَهُ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ أَخْبَرَهُ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ- رضى الله عنه- بَعَثَهُ فِى الْحَجَّةِ الَّتِى أَمَّرَهُ رَسُولُ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- عَلَيْهَا قَبْلَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ فِى رَهْطٍ يُؤَذِّنُ فِى النَّاسِ أَنْ لاَ يَحُجَّنَّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ وَلاَ يَطُوفَ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ.

له ابوهریره (رضي الله عنه) روایت دئ چي وايي: له حجة الوداع مخکي په هغه حج کي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم؛ ابوبکر (رضي الله عنه) د حجاجو امیر ټاکلی وو، زه ئې په یوې ډلي کي ولېږلم چي په خلکو کي دا خبري اعلان کړي چي له دې کال وروسته به مشرک حج ته نه راځي؛ او نه به څوک لوڅ د بیت الله طواف کوي.

په نورو روایاتو کي راغلي چي ورپسې علي رضی الله عنه راغلی او له ابوهریرة رضی الله عنه سره ئې یو ځای دغه خبري په منٰی کي اعلان کړې دي، د دې معنی دا ده چي دا اعلان هم د علي رضی الله عنه له راتلو مخکي شوی او هم وروسته، له دې په واضح توګه معلومېږي چي د برائت اړوند آیتونه هغه مهال نازل شوي وو چي د ابوبکر رضی الله عنه تر مشرۍ لاندي د حجاجو کاروان لا له مدینې نه وو خوځېدلی، ځکه د علي رضی الله عنه له رارسېدو د مخه مشرکینو ته په منٰی کي دا اعلان شوی، علي رضی الله عنه لومړی په عرفات کي د ابوبکر رضی الله عنه له خطبې وروسته او بیا په منٰی کي دا اعلان خلکو ته اورولی.

دې ته مو هم باید پام وي چي دا اعلان د قریشو لپاره نه دئ، ځکه له هغوی سره کومه معاهده نه وه پاته، دوی ته د خپلو ژمنو د ماتولو سزا لادمخه او په اتم هجري کال کي ورکړی شوې وه، چي په نتیجه کي ئې مکه فتح شوه، دا اعلان د هغو قبائلو په اړه دئ چي له مسلمانانو سره ئې خپلي ژمني او معاهدات نقض کړي وو خو د دوی په ضد کوم اقدام نه وو شوی.

په دې اعلان کي چي کومي خبري شاملي وې د روایاتو له مخي دا وې:

١- هغه څوك به جنت ته داخل نشي چي مسلمان نه وي، (مشرکان دوزخیان دي جنت پرې حرام دئ).

٢- له دې وروسته به هیڅ مشرك د حج لپاره مسجدالحرام ته نه نژدې کېږي.

٣- هیڅوك به په داسي حال کي طواف نشي کولی چي بربنډ او لوڅ وي.

٤- له هغو لوریو سره به د مسلمانانو معاهدې تر خپلي نېټي پاته وي چي خپلي ژمني ئې نه دي ماتي کړې.

متأسفانه ځینو شیعه وو په دې اړه هم یوه لانجه راولاړه کړې او وايي چي د علي

رضی الله عنه له لوري د برائت اعلان ښيي چي هغه د پيغمبر عليه السلام ځای ناستی ټاکل شوی!! په داسي حال کي چي نه صحابه وو له دې دغه انتباه اخيستې او نه په خپله علي رضی الله عنه، له مشرکينو سره په معاهداتو کي له يوه لوري پيغمبر عليه السلام او له بل لوري د مشرکينو د مختلفو قومونو مشرانو لاسليکونه کړي وو، د معاهداتو د فسخي اعلان هم بايد په خپله د دوی له لوري او يا د دوی د کورنۍ د کوم غړي له لوري شوی وی، د همدې لپاره پيغمبر عليه السلام د خپلي کورنۍ يو غړی په دې وگمارو، هغه دا اعلان په داسي حال کي کړی چي د حجاجو د کاروان امامت او امارت د ابوبکر رضی الله عنه په واك کي وو، هغه مهال چي علي رضی الله عنه مکې ته ورسېد ابوبکر رضی الله عنه ترې پوښتنه وکړه چي د امير په توگه راغلی يې که د مأمور په توگه؟ وئې ويل: د مأمور په توگه، دا اعلان ئې هم د ابوبکر رضی الله عنه په امر خلکو ته واوراوو، د دغه سفر په دوران کي هم او تر هغي ورځې چي دی د صحابه وو له لوري د امير المؤمنين په توگه غوره شو؛ د ابوبکر، عمر او عثمان رضی الله عنهم تر امارت او قيادت لاندي ئې ژوند کړی او په لمونځونو کي ئې په هغوی پسي اقتداء کړې.

---

وَأَذَٰنٌ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦٓ إِلَى ٱلنَّاسِ يَوْمَ ٱلْحَجِّ ٱلْأَكْبَرِ أَنَّ ٱللَّهَ بَرِىٓءٌ مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ وَرَسُولُهُۥ ۚ فَإِن تُبْتُمْ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ وَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِى ٱللَّهِ ۗ وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣﴾

او د الله او رسول له لوري ئې خلکو ته د ستر حج په ورځ اعلان دئ چي الله او رسول ئې له دغو مشرکانو بې زار دئ، بيا که توبه وکړئ نو دا درته غوره دئ؛ او که مخ واړوئ نو پوه شئ چي د الله عاجزوونکي نه ياست؛ او هغو ته چي کافران شوي د دردناك عذاب زېری ورکړه.

---

(٣)- دا مبارك آيت لاندي لارښووني لري:

د برائت د اعلان ورځ د حج الاکبر ورځ ښودل شوې، د ذي الحجي په ټاکلو ورځو کي د حج مناسك تر سره کولو ته حج الاکبر او له دې ورځو پرته د کال په نورو ورځو کي دا مناسك تر سره کول د حج الاصغر (عمرې) په نامه يادېدو.

دلته له يوم ځينو درنو مفسرينو يوه ورځ (يوم النحر) اخيستې او ځينو د حج ټولې ورځې، له رواياتو معلومېږي چي دا اعلان هم د يوم النحر په ورځ شوی، هم په عرفات کي او هم په منا کي، په عرفات کي ابوبکر رضی الله عنه له امامت او خطبې وروسته علي رضی الله عنه ته وويل چي د منبر خوا ته راشي او دا اعلان وکړي، په منا کي هم صحابه د مشرکينو خېمو ته ورتلل او د معاهدو په اړه ئې دا پرېکړه هغوی ته اوروله.

مشرکينو ته ويل شوي: که توبه وکړئ نو دا درته غوره ده او که مخ واړوئ نو پوه شئ چي د الله عاجزوونکي نه یاست.

دوی ته د دردناك عذاب خبر ورکړی شوی خو دا خبر د زېري په نامه ياد شوی او دا د دې لپاره چي که دوی له مخالفت د کومي بريا او لاسته راوړني انتظار لري نو پوه دي شي چي له دردناك عذاب پرته به د بل څه زېری وانه وري.

إِلَّا ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّم مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ثُمَّ لَمْ يَنقُصُوكُمْ شَيْـًٔا وَلَمْ يُظَٰهِرُواْ عَلَيْكُمْ أَحَدًا فَأَتِمُّوٓاْ إِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ إِلَىٰ مُدَّتِهِمْۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُتَّقِينَ ﴿٤﴾

مگر د مشرکينو هغه چي معاهده مو ورسره درلوده، بيا ئې ستاسو په اړه نه د کوم څه کمی کړی او نه ئې ستاسو په خلاف د چا مرسته کړې، نو تر خپلي مودې پوري د دوی معاهده ورته بشپړه کړئ، يقيناً چي الله له داسي متقيانو سره محبت کوي.

(٤)- له دې مبارك آيت څو خبري معلومېږي:

په مخکينيو آيتونو کي د معاهدو د الغاء وينا د هغو مشرکينو په اړه شوې چي خپلي ژمني ئې په وار وار ترپښو لاندي کړې، په خپله ئې تېری کړی او د نورو تېري کوونکو مرسته ئې کړې.

له هغو مشرکينو سره د معاهداتو د بشپړولو او تر خپلي نېټې د هغوی مراعاتولو لارښوونه شوې چي نه ئې په خپله د معاهداتو مخالفت کړی او نه ئې د مسلمانانو په ضد د دوی د دښمنانو مرسته کړې.

هغو مسلمانانو ته د متقيانو نوم ورکړی شوی چي د خپلو ژمنو او له دښمن سره د خپلو معاهداتو درناوی کوي او له هر هغه کار ځان ساتي چي د ژمنو او معاهداتو خلاف وي.

الله تعالی له داسي متقيانو سره محبت کوي.

له دې معلومېږي چي د "تقوی" لمن ډېره پراخه ده، د ژوند په ټولو فردي او اجتماعي برخو کي، د دوست او دښمن په اړه د الله تعالی د اوامرو اطاعت احتوی کوي، تقوی يعني له هر هغه کار ځان ساتنه چي د الله تعالی له اوامرو سرغړاوی گڼل کېږي. لکه چي دلته له مشرکينو سره د خپلو معاهداتو درناوی او له داسي کار ځان ساتل چي د معاهدې د غوښتنو خلاف وي تقوی گڼل شوې؛ په نورو آيتونو کي به وگورئ چي کله د الله تعالی په لار کي په خپل سر او مال جهاد کول تقوی گڼل شوي، کله په خپلو ژمنو وفا کولو ته تقوی ويل شوي، کله له غلطو افکارو، بدو اخلاقو، حرام، ناروا او د بل پر حقوقو له تېري ډډه کول د تقوی په نامه ياد شوي، کله له بې صبرۍ او له الله تعالی پرته بل ته له طمعي درلودو او له بل درشل د مرستي له غوښتلو ځان ساتنه تقوی گڼل شوې او کله له دښمن

سره په خپل چلند کې له نرمښت ډډه کولو ته د تقوى نوم ورکړى شوى. د دې سورې په ګڼ شمېر آيتونو کې به د دې بېلګې وګورئ.

فَإِذَا ٱنسَلَخَ ٱلْأَشْهُرُ ٱلْحُرُمُ فَٱقْتُلُواْ ٱلْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَٱحْصُرُوهُمْ وَٱقْعُدُواْ لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍۚ فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ فَخَلُّواْ سَبِيلَهُمْۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ۝٥

نو کله چې دا محترمې مياشتې تېرې شوې نو هر ځاى چې دا مشرکان مومئ وئې وژنئ، وئې نيسئ، محاصره ئې کړئ او په هر کمين ځي کې ورته کښېنئ، نو که ئې توبه وکړه، لمونځ ئې قائم کړ او زکات ئې ورکړ، نو لاره ئې خوشې کړئ، بيشکه چې خداى بخښونکى مهربان دئ.

(٥)- دلته څو خبرې په پام کې ولرئ:

له دې معلومېږي چې دا څلور مياشتې همغه د اشهر الحرام څلور مياشتې دي، مشرکينو ته يوازې د همغه نهم هجري کال څلور مياشتې مهلت ورکړى شوى، خو د دغو مياشتو درناوى تر قيامت پورې په خپل حال پاته دئ.

د حرام مياشتو له تېرېدو وروسته د دغو مشرکينو د وژلو، محاصره کولو او په هر مناسب ځاى کې دوى ته د کمين نيولو امر شوى، دې ته مو بايد پام وي چې دا حکم د هغو مشرکينو په اړه دئ چې له مسلمانانو سره جنګېدلي او خپلې ژمنې ئې په وار وار ماتې کړې، دې خبرې ته په دې خاطر بايد توجه ولرو چې ځينې بادئ الرأى کسان چې د شرك ټاپه په جيب کې ګرځوي او د خپل هر مخالف په تندي ئې لګوي؛ په دې آيت استناد کوي او د هغوى د وژلو او محاصره کولو فتوى ورکوي.

له دې آيت په څرګنده توګه معلومېږي چې د لمانځه له تارکينو او د زکات له مانعينو سره جګړه کېدى شي؛ ابو بکر صديق رضى الله عنه پر همدې آيت استناد وکړ او د هغو خلکو په خلاف ئې د جګړې فيصله وکړه چې د اسلام دعوى ئې درلوده خو د زکات له ورکړې ئې امتناع کوله. رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايي:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- قَالَ « أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَيُقِيمُوا الصَّلاَةَ، وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ، فَإِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ عَصَمُوا مِنِّى دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلاَّ بِحَقِّ الإِسْلاَمِ، وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللَّهِ* متفق عليه

له ابن عمر روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: په دې ګمارل شوى

**يم چي له خلكو سره تر هغه وجنگېږم چي په دې گواهي ورکړي چي له الله پرته بل معبود نشته او دا چي محمد د الله رسول دئ او لمونځ وكړي او زكات وركړي، نو كله چي دا وكړي خپلېويني او مال ئې له ما خوندي كړل؛ مگر د اسلامي حق په وجه (كه بل څوك ووژني يا د چا مال تلف كړي) او (نوره محاسبه او) حساب ئې له الله سره دئ.**

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم قَالَ وَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ بِحَطَبٍ فَيُحْطَبَ ثُمَّ آمُرَ بِالصَّلَاةِ فَيُؤَذَّنَ لَهَا ثُمَّ آمُرَ رَجُلًا فَيَؤُمَّ النَّاسَ ثُمَّ أُخَالِفَ إِلَى رِجَالٍ فَأُحَرِّقَ عَلَيْهِمْ بُيُوتَهُمْ * متفق عليه

**له ابو هريره روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: زما دې په هغه ذات قسم وي چي زما ژوند د ده په واك كې دئ چي ډېر ځله مې اراده كړې چي د لرگيو راغونډولو امر وكړم، نو چي راغونډ كړى شى؛ بيا د لمانځه ادا كولو هدايت وركړم، نو آذان وشي؛ او بيا چا ته ووايم چي د خلكو امامت وكړي، خلك په مسجد كې پرېږدم او ولاړ شم او د ځينو خلكو كورونه وسوزوم (په بل روايت كې راغلي: د هغو كسانو كورونه وسوزوم چي جومات ته ندي حاضر شوي.)**

**پر لمانځه هومره تأكيد شوى چي پرېښودل ئې له اسلام د وتلو نښه او په ادا كولو كې ئې كسالت د نفاق علامت گڼل شوې، پيغمبر عليه السلام فرمايي:**

عَنْ جَابِرٍ يَقُولُ سَمِعْتُ النَّبِىَّ-صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « إِنَّ بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ وَالْكُفْرِ تَرْكَ الصَّلاَةِ ». رواه مسلم

**له جابر رضى الله عنه روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مې واورېدل چي ويل ئې: د سړي او د شرك او كفر تر منځ د لمانځه پرېښودل دي، يعني چا چي لمونځ پرېښود يا مشرك دئ يا كافر.**

**دې ته مو هم بايد پام وي چي د زكات اخيستل د اسلامي حكومت دنده ده؛ اسلامي حكومت يوازې له هغو خلكو زكات او عشر تر لاسه كولى شي چي د اسلامي حكومت تر واكمنۍ لاندې د اتباعو په توگه ژوند كوي او امنيت ئې د حكومت له لوري تأمين كېږي، داسي نه چي د كومې جبهې يا ډلې امير له خلكو په زور عشر او زكات تر لاسه كړي او څوك چي اجتناب كوي هغه مباح الدم وگڼي!! داسي نه چي ولس عملاً د بل حكومت تر واكمنۍ لاندې ژوند كوي او هغه ته ماليه او ټكس وركوي خو له بل لوري د كومې جبهې او جهادي ډلې له لوري په دې مكلف شي چي خپل زكات او عشر به دغه جبهې ته سپاري؛ نه پيغمبر عليه السلام داسي كار كړى او نه راشدينو خلفاوو؛ او نه فقهاءو د داسي عشر او زكات اخيستو او د مانعينو د مباح الدم گڼلو خبره كړې. متأسفانه ځيني ډلې چي د اسلام په نامه ميدان ته راوځي، داسي افراد په خپلو ليكو كې مني چي د مالي اغراضو په موخه له**

مجاهدينو سره يو ځاى کېږي، دوى نه د حلال او حرام پروا کوي، نه حلال او حرام پېژني او نه د دې هڅه کوي چې د جهاد په اړه د اسلام له احکامو ځان خبر کړي او په هغوى عمل وکړي، ګمان کوي چې کولى شي د خپلې سيمې له وګړو عشر او زکات په زور او جبر تر لاسه کړي او مانعين مباح الدم او د وژلو وړ وګڼي؛ غله، داړه ماران، شوکماران او غارتګران داسې ډلې ډېر خوښوي چې د دوى ناروا وو ته د حلال او جائز کار په سترګه ګوري، د جواز فتوى ورکوي او د دوى مخکينيو کارونو ته مذهبي رنګ ورکوي؛ يوازې د ږيرې په پرېښودو، پټکي پر سر تړلو او اوږدو وېښتانو پرېښودو سره نه يوازې مخکينى بد نوم ئې په مجاهد بدل شي؛ بلکې تر مخکې زيات څه له خلکو په زور او جبر تر لاسه کوي؛ هغه هم د حلال او جائز عمل په توګه!! حال دا چې جهاد د هغو خداى پالو کار دئ چې د الله تعالى د رضاء لپاره خپل سر او مال قرباني کوي؛ غواړي مظلومان د ظالمانو له منګولو وژغوري؛ نه دا چې له يوه ظالمه ئې ژغوري خو د بل ظالم او بې رحمه په منګولو کې ئې غورځوي.

متأسفانه ځيني د دې پېښې ظواهرو ته په پام سره داسې انګېري چې د مسلمانانو امير کولى شي له مسلمانانو سره له مشورې پرته پرېکړه وکړي؛ په داسې حال کې چې خبره قطعاً داسې نه ده؛ مشوره يو شرعي مکلفيت دئ؛ هيڅوك حق نه لري دا الهي لارښوونه له پامه وغورځوي؛ ابو بکر رضي الله عنه د قرآن په څرګند آيت استناد کړى، د عمر رضي الله عنه په شمول له چا سره چې بله رأيه وه له خپلې رأيې تېر شوي او له ابو بکر رضي الله عنه سره ئې توافق کړى؛ او د جنګ پرېکړه په اتفاق سره شوې؛ د روايت الفاظ په ډېر صراحت سره وايي چې عمر رضي الله عنه په ډېر تأکيد سره ووېل: قسم په الله چې دا له دې پرته بل څه نه دي چې الله د ابو بکر رضي الله عنه سينه جنګ ته پرانيستلې ده؛ او زه پوه شوم چې حق همدا دئ.

که اسلامي حکومت نه وي نو مسلمانان به په خپله خوښه خپل زکات پر مستحقينو وېشي، خو دې ته ئې بايد پام وي چې د زکات د مصرف تر ټولو غوره مورد له هغې ډلې سره مرسته ده چې د اسلامي حکومت د قائمولو لپاره د الله تعالى په لار کې جهاد کوي. هيڅوك حق نه لري چې په زور او جبر سره له خلکو زکات او عشر تر لاسه کړي.

دلته ويل شوي چې که ئې توبه وکړه، لمونځ ئې قائم کړ او زکات ئې ورکړ، نو لاره ئې خوشې کړئ، خو په۱۱آيت کې ويل شوي: که ئې توبه وکړه، لمونځ ئې وکړ او زکات ئې ورکړ نو په دين کې ستاسو ورونه دي. دا ښيي چې په لومړي سر کې بايد يوازې دومره وشي چې له وژلو او محاصره کولو ئې ډډه وشي، خو کله چې دوى په خپلې توبې، لمونځ او زکات ټينګ پاته شول او عملاً ئې وښوده چې په رښتيا او اخلاص سره ئې توبه کړې او ايمان ئې راوړى؛ نو هغه مهال بايد د ورونو په څېر ورسره چلند وشي، د احتياط تقاضا دا ده چې داسې کسان بايد تر بشپړ اعتماد مخکې څه مراحل تېر کړي او د خپل اخلاص ثبوت

وړاندي کړي، دا صحيح نه ده چي په هر نوي ملګري په بشپړه توګه اعتماد وشي، په هر صف او ډلي کي نوي غړي بايد وروزل شي، وآزمويل شي او له يوې مودې روزنې او آزموينو وروسته د مزيد اعتماد وړ وګڼل شي. همدا وجه ده چي د دې آيت په تتمه کي ويل شوي چي خدای بخښونکی مهربان دئ، يعني له دوی سره بايد د دغو دوو صفتونو (بخښني او مهربانۍ) له مخي چلند وشي، نه د مخکينيو غلطيو په وجه مؤاخذه شي او نه د ترحم او عاطفي خلاف معامله ورسره وشي، خو د ١١ آيت په تتمه کي ويل شوي: هغو وګړو ته آيتونه په تفصيل سره بيانوو چي پوهېږي. او په دې سره قرآن دوه لارښووني موږ ته کوي: لومړی دا چي دا آيت د مخکيني تفصيل دئ او دوهم دا چي د دې حکم په مفاد د علم خاوندان پوهېږي.

وَإِنْ أَحَدٌ مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ٱسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ حَتَّىٰ يَسْمَعَ كَلَٰمَ ٱللَّهِ ثُمَّ أَبْلِغْهُ مَأْمَنَهُۥ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْلَمُونَ ﴿٦﴾

او که د مشرکينو کوم يو له تا پناه وغواړي نو پناه ورکړه؛ چي د الله کلام واوري؛ بيا ئې خپل امن ځای ته ورسوه، دا د دې لپاره چي دوی داسي خلك دي چي نه پوهېږي.

(٦)- دا مبارك آيت ښيي چي:

که له همدغو محاربو مشرکينو کوم يو له مسلمانانو پناه وغواړي؛ نو نه يوازي دا چي بايد پناه ورکړی شي بلکي بايد تر خپل خوندي ځای پوري ئې ورسوي.

يوازي دا هم نه بلکي بايد هغه ته د الله تعالی کلام واورول شي او د دين په حقيقت پوه کړی شي. دا ځکه چي د دوی د مخالفت اصلي وجه دا ده چي د الهي دين له حقيقت خبر نه دي.

له دې آيته په صراحت سره معلومېږي چي مشرك مخالفين هم بايد سره تفکيك شي، له هغو سره بايد د (مغفرت) او (رحمت) له مخي چلند وشي چي د ناپوهۍ په وجه له اسلام او مسلمانانو سره مخالفت کوي، مجرم او مفسد مشران ئې غولوي او د اسلام په ضد ئې جنګوي؛ او له اصلي مجرمينو سره بايد هغه معامله وشي چي د څلورم آيت په سر کي ورته اشاره شوې، وژل، محاصره کول او په کمين کي ورته کښېنستل.

ځينو درنو مفسرينو دا آيت په داسي بڼې کي تعبير کړی چي د آيت له ترکيب او د الفاظو له ترتيب سره ئې اړخ نه لګوي، وايي: که له مشرکينو کوم يو د دې لپاره له تاسو پناه وغواړي چي د الله کلام واوري نو پناه ورکړئ او بيا ئې تر خپل خوندي ځای پوري ورسوئ. دا تعبير يوازي په هغه صورت کي صحيح ګڼل کېدی شو چي (حَتَّىٰ يَسْمَعَ كَلَٰمَ ٱللَّهِ) په

لومړی فقرې پسې متصل راغلې وی او تر منځ ئې د (فَأَجِرۡهُ) صیغه نه وی.

كَيۡفَ يَكُونُ لِلۡمُشۡرِكِينَ عَهۡدٌ عِندَ ٱللَّهِ وَعِندَ رَسُولِهِۦٓ إِلَّا ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّمۡ
عِندَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِۖ فَمَا ٱسۡتَقَٰمُواْ لَكُمۡ فَٱسۡتَقِيمُواْ لَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ
ٱلۡمُتَّقِينَ ٧ كَيۡفَ وَإِن يَظۡهَرُواْ عَلَيۡكُمۡ لَا يَرۡقُبُواْ فِيكُمۡ إِلّٗا وَلَا ذِمَّةٗۚ
يُرۡضُونَكُم بِأَفۡوَٰهِهِمۡ وَتَأۡبَىٰ قُلُوبُهُمۡ وَأَكۡثَرُهُمۡ فَٰسِقُونَ ٨ ٱشۡتَرَوۡاْ بِـَٔايَٰتِ
ٱللَّهِ ثَمَنٗا قَلِيلٗا فَصَدُّواْ عَن سَبِيلِهِۦٓۚ إِنَّهُمۡ سَآءَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٩ لَا
يَرۡقُبُونَ فِي مُؤۡمِنٍ إِلّٗا وَلَا ذِمَّةٗۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُعۡتَدُونَ ١٠

څنګه به دغو مشرکینو ته د الله او د هغه د رسول په وړاندې کومه (د اعتبار وړ) ژمنه وي، مګر هغه چې د مسجدالحرام خوا ته مو معاهده ورسره کړې، نو تر هغه چې تاسو ته استوار پاته کېږي تاسو هم دوی ته استوار پاته شئ، یقیناً چې الله داسې پرهېزګاران خوښوي. څنګه (به وي)؛ په داسې حال کې چې که پر تاسو برلاسي شي نو نه ستاسو په اړه د دوستۍ پروا لري او نه د ذمه وارۍ، په خوله خو تاسو راضي کوي حال دا چې زړونه ئې ډډه کوي او ډېری ئې فاسقان دي. د الله په آیتونو ئې ناځیزه بیع وپېرله نو د الله له لارې په ډډه شول؛ یقیناً هغه څه چې دوی ئې کوي ډېر بد دي. د هیڅ مؤمن په اړه نه د خپلوۍ پروا کوي او نه د ذمه وارۍ؛ او همدا دوی تېری کوونکي دي.

(۷-۱۰)- په دغو مبارکو آیتونو کې څو لارښووني شوې:

د مشرکینو ژمني د الله تعالی او د هغه د پیغمبر په وړاندې هیڅ اعتبار نه لري، مګر د هغو مشرکینو چې د مسجدالحرام خوا ته مو معاهده ورسره کړې، نو تر هغه چې دوی د معاهدې درناوی کوي تاسو هم په خپلو ژمنو ودرېږئ.

الله تعالی متقین خوښوي، دلته له متقینو هغه مسلمانان مراد دي چې د خپلو ژمنو او معاهداتو درناوی کوي او له ماتولو ئې ځان ساتي.

تېرو تجربو وښوده چې دا مشرکین د ضعف او کمزورۍ په وخت کې له مسلمانانو سره معاهدې کوي خو د برلاسي پر مهال نه د خپلوۍ پروا کوي او نه د هغو ذمه واریو چې د معاهداتو له مخې ئې پر ځان منلې دي. دوی په خوله یو څه وایي او په زړونو کې بل څه لري، د مسلمانانو د غولولو لپاره داسې خبرې کوي چې دوی خوشحاله کړي، پر معاهدو د

التزام اطمئنان ورکوي خو نه پر معاهدو د ودرېدو اراده لري او نه له دوی سره د روغي جوړي غوښتونکي دي، ډېری ئې فاسقان دي، نه د معاهداتو پروا لري او نه کوم ديني اخلاق چي له خيانت او تخلف ئې منع کړي.

هغه خلك چي د دنيوي اغراضو لپاره د الله تعالی دين پلوري، د ناولو اغراضو لپاره الهي احکامو ته شا کوي، څنگه به له مسلمانانو سره په خپلو ژمنو ودرېږي؟! له دې آيت ځينو درنو مفسرينو دا انتباه اخيستې ده چي گواکي دلته د اهل کتاب علماءو ته گوته نيول شوې، دوی ته د دين پلورونکو او د الله تعالی په لار کې د خنډ اچوونکو نوم ورکړی شوی او د برائت په دې حکم کې شامل کړی شوي. خو مخکينيو آيتونو ته په پام سره داسي معلومېږي چي په دې کې هم خبره د مشرکينو په اړه ده ځکه تر دې مخکي او وروسته آيتونو کې د مشرکينو په اړه خبره شوې، د آيتونو نظم دا تقاضا کوي چي دا آيت هم په مشرکينو پوري مربوط او دوی د هغو کسانو له ډلي وگڼل شي چي دين پر دنيا او د الله تعالی آيتونه په قليلي بيعي پلوري، دا انگېرنه صحيح نه ده چي د مکې مشرکينو هيڅ دين نه درلود او گواکي د دوی په اړه دا خبره نشي کېدی چي د الله آيتونه ئې په قليله بيع پلورل، دوی خو ځان د بيت الله مجاورين، د مسجدالحرام متوليان، د ابراهيم خليل الله اولاد او د حجاج بيت الله خدمتگاران گڼل، همدا راز د الله تعالی د آيتونو د پلورلو معنی يوازي دا نه ده چي څوك د دين په نامه غلطه فتوی ورکړي، د الله د کتاب آيتونه پټ کړي، آيت يو څه وايي او دی د کومي بدلې په طمع هغه غلط توجيه او تعبير کړي، بلکي په دې معنی هم دئ چي د الله تعالی د کتاب آيت يو حکم کوی او دی د کوم مادي غرض په طمع د هغه خلاف عمل وکړي، الله تعالی حکم کوي چي دروغ مه وايئ، دوکه مه کوئ، خلك مه غولوئ، د خلکو مال په ناروا طريقه مه خورئ، سود مه اخلئ؛ خو دی د الله تعالی د دې ټولو احکامو مخالفت د دې لپاره کوي چي څه گټه تر لاسه کړي، دا هم د الله تعالی د آيتونو د پلورلو په معنی ده، قريشو او د دوی قومي او مذهبي مشرانو همدا کار کاوو.

دوی نه يوازي له تاسو سره په کړو ژمنو صادقانه عمل نه کوي بلکي د هيڅ مؤمن په اړه نه د خپلوۍ پروا کوي او نه د ذمه وارۍ.

کله چي ئې له وسه پوره شوې او پر نورو برلاسي شوي نو تېری ئې کړی؛ او چي کمزوري شوي او د تيري کولو امکان ئې له لاسه ورکړی نو د روغي جوړي پيغام ئې لېږلی او معاهدې ته چمتو شوي، عملاً مو په وار وار ليدلي چي د دوی ژمني هيڅ ارزښت او اعتبار نه لري.

فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ فَإِخۡوَٰنُكُمۡ فِي ٱلدِّينِۗ وَنُفَصِّلُ

ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ﴿١١﴾

نو كه ئې توبه وكړه، لمونځ ئې وكړ او زكات ئې وركړ نو په دين كې ستاسو ورونه دي او هغو وګړو ته آيتونه په تفصيل سره بيانوو چې پوهېږي.

(۱۱)- په پنځم آيت كې ويل شوي چې كه ئې توبه وكړه، لمونځ ئې وكړ او زكات ئې وركړ نو لار ئې خوشې كړئ، بې شكه چې خداى بخښونكى مهربان دئ؛ او دلته ويل شوي چې كه ئې توبه وكړه، لمونځ ئې وكړ او زكات ئې وركړ نو ستاسو ديني ورونه دي، له دې معلومېږي چې په لومړي سر كې بايد يوازې د دوى له وژلو او محاصره كولو ډډه وشي؛ خو كله چې په خپلې توبې، لمونځ او زكات ټينګ پاته شول او عملاً ئې وښوده چې په رښتيا او اخلاص سره ئې توبه كړې او ايمان ئې راوړى نو هغه مهال بايد د ورونو په څېر ورسره چلند وشي؛ او دا ډېره حكيمانه لارښوونه ده، د پوهې او علم خاوندان پرې پوهېدى شي.

وَإِن نَّكَثُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُم مِّنۢ بَعۡدِ عَهۡدِهِمۡ وَطَعَنُواْ فِي دِينِكُمۡ فَقَٰتِلُوٓاْ أَئِمَّةَ ٱلۡكُفۡرِ إِنَّهُمۡ لَآ أَيۡمَٰنَ لَهُمۡ لَعَلَّهُمۡ يَنتَهُونَ ﴿١٢﴾

او كه ئې له خپلو ژمنو وروسته خپلې لوړې ماتې كړې او ستاسو په دين ئې ملنډې ووهلې نو د دغو كافرانو مشران ووژنئ، يقيناً چې دوى هيڅ داسې لوړه نه لري چې (له ماتولو ئې) ډډه وكړي.

(۱۲)- دا مبارك آيت كه له يوې خوا مسلمانانو ته وايي چې كه پاته معاهد قومونه چې تر اوسه په خپلو ژمنو ولاړ او تاسو مكلف شوي يئ چې تر خپلې ټاكلې مودې معاهدې بشپړې كړئ، كه دوى د نورو مشركينو په څېر خپلې ژمنې تر پښو لاندې كړې او ستاسو پر دين ئې تېرې ته ملا وتړله او د اسلام په ضد ئې د طعن او بد و رد ويلو لړۍ پيل كړه نو د دوى په ضد وسلې ته لاس كړئ، خو له بلې خوا مجاهدينو ته لارښوونه كوي چې له محارب دښمن سره په جګړو كې بايد ډېره توجه د دښمن هغو مشرانو ته وي چې د كفر د جبهې زعامت او قيادت په لاس كې لري، هغه چې بې عقله او ناپوه كافران ستاسو په ضد جګړو ته هڅوي، د دوى په وژلو سره دا جبهه له قيادت محرومېږي او متلاشي كېږي. دا يوه ستره له حكمت ډكه لارښوونه ده، په اهميت ئې هغه څوك ښه پوهېږي چې په جهاد كې ئې برخه اخيستې او د كفر له جبهې سره د تصادم او ټكر تجربه لري، ځيني بې تجربې مجاهدين د دې په ځاى چې دا الهي لارښوونه مراعات كړي او اصلي دښمن ته توجه وكړي په داسې ځاى ګوزارونه كوي چې د دښمن عام وګړي په كې وژل كېږي، تر دې هم مخكې درومي او په داسې ځاى له ګوزارونو هم ډډه نه كوي چې بې خبره مسلمانان په كې

**ژوبل یا وژل کېږي، حتی د یوه دښمن د وژلو لپاره د جومات په څېر سپېڅلو ځایونو او بازارونو کې هم له لویو چاودنو ډډه نه کوي!! داسې بې تجربې جنګیالي د دې په ځای چې اسلام او مسلمانانو ته ګټه ورسوي؛ دښمن ته ګټه رسوي، د اسلام او مسلمانانو نوم بدوي، له مجاهدینو سره د عام ولس خواخوږي له منځه وړي او دښمن ته دا موقع په لاس ورکوي چې د عام ولس احساسات وپاروي او د دوی ملاتړ تر لاسه کړي.**

**د آیت له دې فقرې (طعنوا في دينكم) معلومېږي چې د دښمن هغه مبلغین هم باید د اصلي دښمنانو په فهرست کې ونیول شي چې د دین په ضد تبلیغات کوي. د پیغمبر علیه السلام له سنت معلومېږي چې د داسې دښمنانو د وژلو امر ئې کړی او مجاهدو صحابه وو هغوی وژلي.**

**په دې اړه ګڼ شمېر روایات لرو چې یو ئې دا دئ:**

عَنْ أَبِى إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ- رضى الله عنه- قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- إِلَى أَبِى رَافِعٍ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَتِيكٍ وَعَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُتْبَةَ فِى نَاسٍ مَعَهُمْ، فَانْطَلَقُوا حَتَّى دَنَوْا مِنَ الْحِصْنِ، فَقَالَ لَهُمْ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَتِيكٍ امْكُثُوا أَنْتُمْ حَتَّى أَنْطَلِقَ أَنَا فَأَنْظُرَ. قَالَ فَتَلَطَّفْتُ أَنْ أَدْخُلَ الْحِصْنَ، فَفَقَدُوا حِمَارًا لَهُمْ- قَالَ- فَخَرَجُوا بِقَبَسٍ يَطْلُبُونَهُ- قَالَ- فَخَشِيتُ أَنْ أُعْرَفَ- قَالَ- فَغَطَّيْتُ رَأْسِى كَأَنِّى أَقْضِى حَاجَةً، ثُمَّ نَادَى صَاحِبُ الْبَابِ مَنْ أَرَادَ أَنْ يَدْخُلَ فَلْيَدْخُلْ قَبْلَ أَنْ أُغْلِقَهُ. فَدَخَلْتُ ثُمَّ اخْتَبَأْتُ فِى مَرْبِطِ حِمَارٍ عِنْدَ بَابِ الْحِصْنِ، فَتَعَشَّوْا عِنْدَ أَبِى رَافِعٍ وَتَحَدَّثُوا حَتَّى ذَهَبَتْ سَاعَةٌ مِنَ اللَّيْلِ، ثُمَّ رَجَعُوا إِلَى بُيُوتِهِمْ، فَلَمَّا هَدَأَتِ الأَصْوَاتُ وَلاَ أَسْمَعُ حَرَكَةً خَرَجْتُ- قَالَ- وَرَأَيْتُ صَاحِبَ الْبَابِ حَيْثُ وَضَعَ مِفْتَاحَ الْحِصْنِ، فِى كَوَّةٍ فَأَخَذْتُهُ فَفَتَحْتُ بِهِ بَابَ الْحِصْنِ. قَالَ قُلْتُ إِنْ نَذِرَ بِى الْقَوْمُ انْطَلَقْتُ عَلَى مَهَلٍ، ثُمَّ عَمَدْتُ إِلَى أَبْوَابِ بُيُوتِهِمْ، فَغَلَّقْتُهَا عَلَيْهِمْ مِنْ ظَاهِرٍ، ثُمَّ صَعِدْتُ إِلَى أَبِى رَافِعٍ فِى سُلَّمٍ، فَإِذَا الْبَيْتُ مُظْلِمٌ قَدْ طَفِئَ سِرَاجُهُ، فَلَمْ أَدْرِ أَيْنَ الرَّجُلُ، فَقُلْتُ يَا أَبَا رَافِعٍ. قَالَ مَنْ هَذَا قَالَ فَعَمَدْتُ نَحْوَ الصَّوْتِ فَأَضْرِبُهُ، وَصَاحَ فَلَمْ تُغْنِ شَيْئًا- قَالَ- ثُمَّ جِئْتُ كَأَنِّى أُغِيثُهُ فَقُلْتُ مَا لَكَ يَا أَبَا رَافِعٍ وَغَيَّرْتُ صَوْتِى. فَقَالَ أَلاَ أُعْجِبُكَ لأُمِّكَ الْوَيْلُ، دَخَلَ عَلَىَّ رَجُلٌ فَضَرَبَنِى بِالسَّيْفِ. قَالَ فَعَمَدْتُ لَهُ أَيْضًا فَأَضْرِبُهُ أُخْرَى فَلَمْ تُغْنِ شَيْئًا، فَصَاحَ وَقَامَ أَهْلُهُ، قَالَ ثُمَّ جِئْتُ وَغَيَّرْتُ صَوْتِى كَهَيْئَةِ الْمُغِيثِ، فَإِذَا هُوَ مُسْتَلْقٍ عَلَى ظَهْرِهِ، فَأَضَعُ السَّيْفَ فِى بَطْنِهِ ثُمَّ أَنْكَفِئُ عَلَيْهِ حَتَّى سَمِعْتُ صَوْتَ الْعَظْمِ، ثُمَّ خَرَجْتُ دَهِشًا

حَتَّى أَتَيْتُ السُّلَّمَ أُرِيدُ أَنْ أَنْزِلَ، فَأَسْقُطُ مِنْهُ فَانْخَلَعَتْ رِجْلِى فَعَصَبْتُهَا، ثُمَّ أَتَيْتُ أَصْحَابِى أَحْجُلُ فَقُلْتُ انْطَلِقُوا فَبَشِّرُوا رَسُولَ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- فَإِنِّى لاَ أَبْرَحُ حَتَّى أَسْمَعَ النَّاعِيَةَ، فَلَمَّا كَانَ فِى وَجْهِ الصُّبْحِ صَعِدَ النَّاعِيَةُ فَقَالَ أَنْعَى أَبَا رَافِعٍ. قَالَ فَقُمْتُ أَمْشِى مَا بِى قَلَبَةٌ، فَأَدْرَكْتُ أَصْحَابِى قَبْلَ أَنْ يَأْتُوا النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم فَبَشَّرْتُهُ.

**له ابو اسحاق روايت شوی چي وئې ويل: له براء بن عازب رضی الله عنه مي واورېدل چي وئې ويل: رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم د يهودي ابو رافع (د وژلو) لپاره عبدالله بن عتيك، عبدالله بن عتبة له ځينو خلکو سره ولېږو، روان شول، کله چي کلا ته نژدې شول نو عبدالله بن عتيك ورته وويل: تاسو دلته تم شئ، زه ځم چي وګورم او کلا ته د ننوتو لار ولټوم، (د کلا اوسېدونکو) خر ورك کړی وو، نو د هغه په لټه کې د اور له يوې رڼا سره ووتل، ووېرېدم چي وبه پېژندی شم، نو سر مي په (څادر) داسي پټ کړ لکه چي د قضای حاجت لپاره ناست يم، بيا دروازه وان ژغ کړ: څوك چي غواړي ننوځي نو مخکې له هغه چي دروازه بنده کړم داخل دي شي، نو زه ننوتم، بيا د خرو مربط (د تړلو ځای) کې چي د دروازې په خوا کې وو پټ شوم، نو (خلکو) د شپې ډوډۍ له ابو رافع سره وخوړه، تر هغه ئې ورسره خبري وکړې چي د شپې يو ساعت تېر شو، بيا خپلو کورونو ته ستانه شول، کله چي ږغونه دپ شول او د وتلو هيڅ ږغ مي نه اورېدو، د کليانو ساتونکی مي لېدلی وو چي د کلا کلياني ئې په يوې تاخچې کې ايښې وې، هغه مي راواخيستې، د کلا دروازه مي پرانيسته، د دې لپاره چي که خلك راخبر شي نو سوکه به له کلا ووځم، بيا مي د دوی د دروازو په لوري مخه کړه او تولي مي له بهر پر دوی بندي کړې، بيا د أَبو رَافِعٍ د برنۍ خوني په لور زينو ته وختم، ګورم چي کوټه تياره ده او ډېوې ئې مړې کړی شوې دي، نه پوهېدم چي دا سړی چېري دئ، نو ومي ويل چي اې ابو رافع!! وئې ويل: دا څوك دئ؟ نو ما د ږغ لوري ته مخه کړه؛ او د توري په يوه ګوزار سره مې وواهو، هغه چيغه کړه، ګوزار مي نور څه ونه کړی شو، بيا په داسي توګه ورغلم چي ګواکې زه ئې مرستي ته ورغلی يم، ومي ويل: ابو رافع! څه درباندي شوي؟ خپل ږغ مي بدل کړی وو، هغه وويل: آيا د مور په بوري کېدا دي خوښ نشم؟ يو کس مي خوني ته راننوت او زه ئې په توري ووهلم، بيا مي د ده لوري ته مخه کړه او په توره مي وواهو، ګوزار مي نور څه ونه کړی شو، چيغي ئې کړې او عيال ئې راپورته شو، بيا ورغلم او ږغ مي د يوه مرسته کوونکي په څېر بدل کړ، که ګورم چي هغه ستوني ستغ پروت دئ، نو توره مي د ده پر نس کښېښوده، زور مي پرې وکړ تر هغه چي د هډوکو ږغ مي واورېدو، بيا په بيړه ووتم، تر هغه چي زينې ته راورسېدم چي پرې کوز شم، له زينې ولوېدم، پښه مي ووته، ومي تړله، بيا خپلو ملګرو ته راغلم، په داسي حال کې چي کرشېدم، ورته ومي ويل: لاړ شئ او رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم ته زېری ورکړئ، زه تر هغه نه ځم چي د مړيني اعلانوونکي ږغ وانه ورم، نو کله**

**چي سباوون کېدو د ماتم اعلانوونکی پورته شو او وئې ويل: د ابورافع مړينه اعلانوم، نو پورته شوم چي روان شم، په داسي حال کي چي کومه اندېښنه راسره نه وه،، نو خپل ملګري مي مخکي له هغه وموندل چي نبي صلی الله علیه و سلم ته ورشي، نو زېری مي ورکړ.**

**په بل روايت کي دا قصه داسي ده:**

۴۰۳۹ - عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أَبِي رَافِعٍ الْيَهُودِيِّ رِجَالًا مِنَ الأَنْصَارِ، فَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَتِيكٍ، وَكَانَ أَبُو رَافِعٍ يُؤْذِي رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيُعِينُ عَلَيْهِ، وَكَانَ فِي حِصْنٍ لَهُ بِأَرْضِ الحِجَازِ، فَلَمَّا دَنَوْا مِنْهُ، وَقَدْ غَرَبَتِ الشَّمْسُ، وَرَاحَ النَّاسُ بِسَرْحِهِمْ، فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ لِأَصْحَابِهِ: اجْلِسُوا مَكَانَكُمْ، فَإِنِّي مُنْطَلِقٌ، وَمُتَلَطِّفٌ لِلْبَوَّابِ، لَعَلِّي أَنْ أَدْخُلَ، فَأَقْبَلَ حَتَّى دَنَا مِنَ البَابِ، ثُمَّ تَقَنَّعَ بِثَوْبِهِ كَأَنَّهُ يَقْضِي حَاجَةً، وَقَدْ دَخَلَ النَّاسُ، فَهَتَفَ بِهِ البَوَّابُ، يَا عَبْدَ اللَّهِ: إِنْ كُنْتَ تُرِيدُ أَنْ تَدْخُلَ فَادْخُلْ، فَإِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُغْلِقَ البَابَ، فَدَخَلْتُ فَكَمَنْتُ، فَلَمَّا دَخَلَ النَّاسُ أَغْلَقَ البَابَ، ثُمَّ عَلَّقَ الأَغَالِيقَ عَلَى وَتَدٍ، قَالَ: فَقُمْتُ إِلَى الأَقَالِيدِ فَأَخَذْتُهَا، فَفَتَحْتُ البَابَ، وَكَانَ أَبُو رَافِعٍ يُسْمَرُ عِنْدَهُ، وَكَانَ فِي عَلاَلِيَّ لَهُ، فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْهُ أَهْلُ سَمَرِهِ صَعِدْتُ إِلَيْهِ، فَجَعَلْتُ كُلَّمَا فَتَحْتُ بَابًا أَغْلَقْتُ عَلَيَّ مِنْ دَاخِلٍ، قُلْتُ: إِنِ القَوْمُ نَذِرُوا بِي لَمْ يَخْلُصُوا إِلَيَّ حَتَّى أَقْتُلَهُ، فَانْتَهَيْتُ إِلَيْهِ، فَإِذَا هُوَ فِي بَيْتٍ مُظْلِمٍ وَسْطَ عِيَالِهِ، لاَ أَدْرِي أَيْنَ هُوَ مِنَ البَيْتِ، فَقُلْتُ: يَا أَبَا رَافِعٍ، قَالَ: مَنْ هَذَا؟ فَأَهْوَيْتُ نَحْوَ الصَّوْتِ فَأَضْرِبُهُ ضَرْبَةً بِالسَّيْفِ وَأَنَا دَهِشٌ، فَمَا أَغْنَيْتُ شَيْئًا، وَصَاحَ، فَخَرَجْتُ مِنَ البَيْتِ، فَأَمْكُثُ غَيْرَ بَعِيدٍ، ثُمَّ دَخَلْتُ إِلَيْهِ، فَقُلْتُ: مَا هَذَا الصَّوْتُ يَا أَبَا رَافِعٍ؟ فَقَالَ: لِأُمِّكَ الوَيْلُ، إِنَّ رَجُلًا فِي البَيْتِ ضَرَبَنِي قَبْلُ بِالسَّيْفِ، قَالَ: فَأَضْرِبُهُ ضَرْبَةً أَثْخَنَتْهُ وَلَمْ أَقْتُلْهُ، ثُمَّ وَضَعْتُ ظِبَةَ السَّيْفِ فِي بَطْنِهِ حَتَّى أَخَذَ فِي ظَهْرِهِ، فَعَرَفْتُ أَنِّي قَتَلْتُهُ، فَجَعَلْتُ أَفْتَحُ الأَبْوَابَ بَابًا بَابًا، حَتَّى انْتَهَيْتُ إِلَى دَرَجَةٍ لَهُ، فَوَضَعْتُ رِجْلِي، وَأَنَا أُرَى أَنِّي قَدِ انْتَهَيْتُ إِلَى الأَرْضِ، فَوَقَعْتُ فِي لَيْلَةٍ مُقْمِرَةٍ، فَانْكَسَرَتْ سَاقِي فَعَصَبْتُهَا بِعِمَامَةٍ، ثُمَّ انْطَلَقْتُ حَتَّى جَلَسْتُ عَلَى البَابِ، فَقُلْتُ: لاَ أَخْرُجُ اللَّيْلَةَ حَتَّى أَعْلَمَ: أَقَتَلْتُهُ؟ فَلَمَّا صَاحَ الدِّيكُ قَامَ النَّاعِي عَلَى السُّورِ، فَقَالَ: أَنْعَى أَبَا

رَافِعٍ تَاجِرَ أَهْلِ الحِجَازِ، فَانْطَلَقْتُ إِلَى أَصْحَابِي، فَقُلْتُ: النَّجَاءَ، فَقَدْ قَتَلَ اللَّهُ أَبَا رَافِعٍ، فَانْتَهَيْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَدَّثْتُهُ، فَقَالَ: «ابْسُطْ رِجْلَكَ» فَبَسَطْتُ رِجْلِي فَمَسَحَهَا، فَكَأَنَّهَا لَمْ أَشْتَكِهَا قَطُّ. بخارى

له براء بن عازب رضى الله عنه روايت دئ چي وئې ويل: رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم د انصارو يو ټولگی د يهودي ابو رافع (د وژلو) لپاره ولېږو، چي عبدالله بن عتيك ئې د ټولگي امير وټاکو، ابو رافع به رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم خورولو او د ده په خلاف به ئې د دښمنانو مرسته کوله، د حجاز په يوې کلا کې اوسېدو، کله چي هغه ته ورنژدې شول په داسي حال کې چي لمر لوېدلی وو؛ او خلك له خپلو رمو سره ولاړل نو عبدالله خپلو ملگرو ته وويل: پر خپل ځای کښېنئ، زه درومم، د دروازه وان څارنه کوم، هيله ده ننوځم، نو مخکې ولاړ تر هغه چي دروازې ته نژدې شو، بيا ئې څادر داسي پر ځان واچاوو لکه چي قضای حاجت کوي، دا په داسي حال کې چي خلك خپلو کورونو ته ننوتي ول، دروازه وان پرې ږغ کړ چي اې د خدای بنده! که غواړې چي ننوځې نو داخل شه چي زه دروازه بندوم، نو ننوتم او په يوه ځای کې پټ شوم، کله چي خلك ننوتل، دروازه ئې بنده کړه بيا ئې کلياني پر يوه مېخ وځړولې، وايي: د کليانو د اخيستو لپاره پورته شوم، هغه مي راواخيستې نو دروازه مي پرانيسته؛ او د ابورافع خوا ته به د شپې ناسته کېده؛ او هغه د ده په بوې پورتنۍ حجرې کې، نو کله چي د ده د شپې د ناستي ملگري ووتل، زه وروختم، نو چي هره دروازه به مي پرانيستله په ځان پسي مي له د اخل کلپوله، له ځان سره مي وويل چي که خلك راخبر شول نو تر ما راونه رسېږي او وئې وژنم، په پای کې ده ته ورسېدم، هغه په يوې تيارې خوني کې د خپلي کورنۍ په منځ کې وو، نه پوهېدم چي دی به د خوني په کوم ځای کې وي، نو ومي ويل: اې ابورافع! وئې ويل: دا څوك دئ؟ نو ما د ږغ لوري ته مخه کړه؛ او د توري په يوه گوزار سره مى وواهو، زه دهشت وهلی شوم، نور څه مي ونه کړی شوی، هغه چيغه کړه او زه له خوني ووتم، ډېر ځنډ مي ونه کړ چي بېرته ورننوتم او ورته ومي ويل: اې ابورافع! دا ږغ د څه لپاره وو؟ هغه وويل: مور دي بوره شه، يوه کس په خوني کې څو شېبې مخکې په توري ووهلم، بيا مي په توره وواهو خو مړ نه شو، نو د توري څوکه مي داسي د هغه په نس کې ننايسته چي له شا ئې ووته، نو پوه شوم چي هغه مي ووژلو، بيا مي دروازې يوه په بلې پسې پرانيستلې تر هغه چي د وروستۍ دروازې زينې ته ورسېدم، په دې گمان چي پښه پر زمکه ږدم پښه مي مخکې کړه او په تياره شپه کې ولوېدم، د پښې ساق مي مات شو، نو په خپلي پگړۍ مي کلکه وتړله، بيا وخوځېدم تر هغه چي د دروازې خوا ته کښېنستم او له ځان سره مي وويل: دا شپه تر هغه نه وځم چي پوه شم هغه مي وژلی دئ، کله چي چرگانو بانگ ورکړ نو د مړيني اعلانوونکی پر دېوال وخوت او اعلان ئې وکړ چي د ابورافع د حجاز تاجر مړينه

اعلانوم، نو د خپلو ملګرو په لوري وخوځېدم او ومي ويل: د بريا زېرى! الله تعالى ابورافع ووژلو، نو د رسول الله صلى الله عليه و سلم خوا ته راغلم او قصه مي ورته وکړه، هغه وفرمايل: پښه دي وغزوه، ما پښه وغزوله، هغه مسح کړه، داسي روغه رمټه شوه لکه چي هيڅ شکايت مي ترې نه درلود.

که لږ ځير شئ نو په دې دواړو روايتونو کي به ډېر توپيرونه وګورئ، حال دا چي د يوې قصې په اړه دي او اصلي راوي ئې هم يو دئ!! له دغو دواړو روايتونو يوازي يو د منلو وړ ګڼلى شو، د دوهم روايت ډېري برخي صحيح نه برېښي، لکه دا چي عبدالله بن عتيك په کلا کي دروازې په ځان پسي بندولې! حال دا چي د کلا دروازه يوه وه، د خلکو د کورونو دروازې بېلي بېلي وې، د ابورافع د کور دروازه هم يوه کېدى شي نه ډېري، په ځان پسي د دروازو بندول معقول نه برېښي، بايد د خلکو د کورونو دروازې ئې بندي کړې وي چي له اقدام وروسته ئې څوك مخه ونشي نيولى. په دې دواړو رواياتو کي ډېر تعارضات تر سترګو کېږي: په يوه روايت کي ويل شوي چي دروازې ئې په (نورو) پسي وتړلې؛ او په بل کي ويل شوي چي دروازې ئې په (ځان) پسي وتړلې، په يوه کي ويل شوي چي د کلا دروازه ئې (پرانيسته) او په بل کي دا چي د کلا دروازه ئې (بنده) کړه، په يوه کي ويل شوي کلياني ئې (پر مېخ وځړولې) او په بل کي دا چي (په تاخچه کي ئې کېښېښودې)، په يوه کي ويل شوي چي خپلو ملګرو ته له رسېدو مخکي د کلا د دروازې خوا ته تم شو چي د مړيني اعلان واوري او په بل کي ويل شوي چي ملګرو ته له رسېدو وروسته تم شو، ملګري ئې رخصت کړل بيا ئې غږ واورېدو او ورپسې وخوځېدو..... او ډېر نور تعارضونه، د لومړي روايت دا وينا دقيقه برېښي چي هغه لومړى د کلا دروازه خلاصه کړې او بيا ئې د خلکو د کورونو دروازې له بهر په اوسېدونکو پسي تړلې دي. متأسفانه بخاري دې ته اشاره نه ده کړې چي له دغو متعارضو رواياتو کوم يو ئې د درايت او عقل په رڼا کي صحيح دئ!! کاش درنو محدثينو داسي متعارض روايات له چاڼ وروسته راوړي وئ، لوستونکي به له دې تشويش سره نه مخامخېدل چي کوم يو ئې ومني.

همدا راز د يوه بل خطرناك دښمن؛ کعب بن الاشرف د وژل کېدو قصه په رواياتو کي په دې توګه راغلې:

عن عَبْدِ اللَّهِ بن كَعْبِ بن مَالِكٍ-"أَنَّ كَعْبَ بن الأَشْرَفِ الْيَهُودِيَّ- كَانَ شَاعِرًا وَكَانَ يَهْجُو رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم وَأَصْحَابَهُ، وَيُحَرِّضُ عَلَيْهِمْ كُفَّارَ قُرَيْشٍ فِي شَعْرِهِ، وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم قَدِمَ الْمَدِينَةَ وَهِيَ أَخْلاطٌ، مِنْهُمُ الْمُسْلِمُونَ الَّذِينَ يَجْمَعُهُمْ دَعْوَةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَفِيهِمُ الْمُشْرِكُونَ الَّذِينَ يَعْبُدُونَ الأَوْثَانَ، وَمِنْهُمُ الْيَهُودُ، وَمِنْهُمْ أَهْلُ الْحَلْقَةِ وَالْحُصُونِ، وَهُمْ حُلَفَاءُ الْحَيَّيْنِ: الأَوْسِ، وَالْخَزْرَجِ، فَأَرَادَ

رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، حِينَ قَدِمَ اسْتِصْلاحَهُمْ وَمُوَادَعَتَهُمْ، وَكَانَ الرَّجُلُ يَكُونُ مُسْلِمًا وَأَبُوهُ مُشْرِكًا، وَالرَّجُلُ يَكُونُ مُسْلِمًا وَأَخُوهُ مُشْرِكًا، وَكَانَ الْمُشْرِكُونَ وَالْيَهُودُ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ حِينَ قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم يُؤْذُونَ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم وَأَصْحَابَهُ أَشَدَّ الأَذَى، وَأَمَرَ اللَّهُ نَبِيَّهُ صلى الله عليه و سلم وَالْمُسْلِمِينَ بِالصَّبِرِ عَلَى ذَلِكَ وَالْعَفْوِ عَنْهُمْ، فَفِيهِمْ أَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى "وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا أَذًى كَثِيرًا"[آل عمران آية ١٨٦]، إِلَى قَوْلِهِ مِنْ "عَزْمِ الأُمُورِ"، وَفِيهِمْ أَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: "وَدَّ كَثِيرٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يَرُدُّونَكُمْ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّارًا"[البقرة آية ١٠٩]، إِلَى قَوْلِهِ "حَتَّى يَأْتِيَ اللَّهُ بِأَمْرِهِ"، فَلَمَّا أَبَى كَعْبُ بن الأَشْرَفِ أَنْ يَنْزِعَ عَنْ أَذَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَذَى الْمُسْلِمِينَ، أَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم سَعْدَ بن مُعَاذٍ، وَمُحَمَّدَ بن مَسْلَمَةَ الأَنْصَارِيَّ، ثُمَّ الْحَارِثِيَّ، وَأَبَا عِيسَى بن حَبْرٍ الأَنْصَارِيَّ، وَالْحَارِثَ ابْنَ أَخِي سَعْدِ بن مُعَاذٍ، فِي خَمْسَةِ رَهْطٍ، فَأَتَوْهُ عَشِيَّةً فِي مَجْلِسِهِ بِالْعَوَالِي، فَلَمَّا رَآهُمْ كَعْبُ بن الأَشْرَفِ أَنْكَرَ شَأْنَهُمْ، وَكَانَ يَذْعَرُ مِنْهُمْ، وَقَالَ لَهُمْ: مَا جَاءَ بِكُمْ، قَالُوا: جَاءَ بنا حَاجَةٌ إِلَيْكَ، قَالَ: فَلْيَدْنُو إِلَيَّ بَعْضُكُمْ لِيُحَدِّثَنِي بِهَا، فَدَنَا إِلَيْهِ بَعْضُهُمْ، فَقَالَ: قَدْ جِئْنَاكَ لِنَبِيعَكَ أَدْرَاعًا لَنَا لِنَسْتَنْفِقَ أَثْمَانَهَا، فَقَالَ: وَاللَّهِ لَئِنْ فَعَلْتُمْ لَقَدْ جُهِدْتُمْ مُنْذُ نَزَلَ بِكُمْ هَذَا الرَّجُلُ، فَوَاعَدَهُمْ أَنْ يَأْتُوهُ عِشَاءً حِينَ يَهْدِى عَنْهُ النَّاسَ، فَجَاؤُوهُ فَنَادَاهُ رَجُلٌ مِنْهُمْ، فَقَامَ لِيَخْرُجَ إِلَيْهِمْ، فَقَالَتِ امْرَأَتُهُ: مَا طَرَقُوكَ سَاعَتَهُمْ هَذِهِ بِشَيْءٍ مِمَّا تُحِبُّ، قَالَ: بَلَى، إِنَّهُمْ قَدْ حَدَّثُونِي حَدِيثَهُمْ، فَخَرَجَ إِلَيْهِمْ، فَاعْتَنَقَهُ مُحَمَّدُ بن مَسْلَمَةَ، وَقَالَ لأَصْحَابِهِ: لا يَسْبِقْكُمْ وَإِنْ قَتَلْتُمُونِي وَإِيَّاهُ جَمِيعًا، فَطَعَنَهُ بَعْضُهُمْ بِالسَّيْفِ فِي خَاصِرَتِهِ، فَلَمَّا قَتَلُوهُ فَزِعَتِ الْيَهُودُ، وَمَنْ كَانَ مَعَهُمْ مِنَ الْمُشْرِكِينَ، فَغَدَوْا عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم حِينَ أَصْبَحُوا، فَقَالُوا: قَدْ طُرِقَ صَاحِبُنَا اللَّيْلَةَ، وَهُوَ سَيِّدٌ مِنْ سَادَاتِنَا، فَقُتِلَ غِيلَةً، فَذَكَرَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم الَّذِي كَانَ يَقُولُ فِي أَشْعَارِهِ وَيُؤْذِيهِمْ بِهِ، فَدَعَاهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم أَنْ يَكْتُبَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْمُسْلِمِينَ عَامَّةً صَحِيفَةً فِيهَا جَامِعُ أَمْرِ النَّاسِ، فَكَتَبَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ".
له عبدالله بن كعب بن مالك روايت دئ چي يهودي كعب بن الاشرف شاعر وو او په خپلو شعرونو كې به ئې د رسول الله صلى الله عليه و سلم هجو كوله او قريش كفار به ئې هڅول؛ او رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي حال كې مدينې ته راغی چي اوسېدونكي ئې سره ګډ وډ ول، ځيني ئې مسلمانان ول چي د پيغمبر عليه السلام بلني راغونډ كړي ول؛ او ځيني ئې مشركان ول چي بُتان ئې لمانځل؛ او ځيني يهودان ول چي د حصارونو او كلاګانو خاوندان ول، چي د اوس او خزرج حليفان ول، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وغوښتل چي د دوی تر منځ صلح او روغه جوړه حاكمه وي، وضعيت داسي وو چي يو سړی به مسلمان وو، پلار به ئې مشرك وو، بل به مسلمان خو ورور به ئې مشرك وو، كله چي پيغمبر عليه السلام راغی نو د مدينې مشركانو او يهودو رسول الله صلى الله عليه و سلم او د هغه ياران ډېر ځورول، الله تعالى خپل رسول او مسلمانانو ته د دې اذيتونو په وړاندي د صبر او عفوی كولو امر وكړ، چي په همدې اړه ئې دا آيت راولېږو: (...وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا أَذًى كَثِيرًا ....) آل عمران ١٨٦ او د دوی په اړه ئې وفرمايل: (وَدَّ كَثِيرٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يَرُدُّونَكُمْ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّارًا حَسَدًا مِنْ عِنْدِ أَنْفُسِهِمْ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْحَقُّ فَاعْفُوا وَاصْفَحُوا ... البقرة ١٠٩)؛ نو كله چي كعب بن الاشرف د پيغمبر عليه السلام او مسلمانانو له ځورولو لاس وانه خيست؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم سعد بن معاذ ته امر وكړ چي د هغه د وژلو لپاره يو ټولګی ولېږي، نو سعد بن معاذ داسي يو پنځه كسيز ټولګی ولېږو چي دا كسان په كې وو: محمد بن مسلمة الانصاري، ابو عبس الانصاري او حارث د سعد بن معاذ وراره. نو ماخستن د هغه مجلس په دوران كې ورغلل چي په خپلي پورتنۍ خوني كې ئې جوړ كړی وو، كله چي كعب بن الاشرف ولېدل ناآشنا ورته معلوم شول او ترې ووېرېدو؛ او ورته وئې ويل: څه شي دلته راوستئ؟ ورته وئې ويل: تا ته يوه حاجت راوستي يو، وئې ويل: نو له تاسو دي څوك رانژدې شي چي ما ته ئې ووايي، ځيني ورنژدې شول او وئې ويل: تا ته د دې لپاره راغلي يو چي خپلي زغري درباندي وپلورو او پيسې ئې په خپلو اړتياوو ولګوو، هغه وويل: والله كه دا كار وكړئ، نو تاسو د دې سړي له درتلو وروسته له كړاوونو سره مخامخ شوي يئ، نو وعده ئې ورسره وكړه چي ماخستن داسي مهال ورشي چي خلك ترې تللي وي، نو ورغلل او يوه ئې ورړغ كړ، نو له خپله ځايه پورته شو چي ووځي، مېرمني ئې ورته وويل: په دې وخت كې به څوك دروازه د داسي كار لپاره نه درټكوي چي ستا د خوښي كار وي، وئې ويل: نه؛ دوی خپله خبره ما ته كړې ده، نو ورووت، مُحَمَّدُ بن مَسْلَمَةَ غېږ وركړه او خپلو ملګرو ته ئې وويل: كه ما هم له ده سره يو ځای وژنئ پروا ئې نشته خو چي درنه خلاص نشي، نو ځينو په خپلو تورو په شا كې وواهو، كله چي ئې هغه وواژو نو مشركين او يهودان ووېرېدل، سبا پيغمبر عليه السلام ته ورغلل؛

او وئې ویل: تېره شپه زموږ دوست چې زموږ له مشرانو وو ووژل شو، رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه خبري ورپه یاد کړې چې ده به په خپلو اشعارو کې کولې، په دې سره ئې دوی له داسي کولو منع کړل او دې ته ئې وبلل چې د پیغمبر علیه السلام، دوی او مسلمانانو تر منځ یوه پانه ولیکل شي چې ټول به دغي معاهدې ته التزام کوي، نو پیغمبر علیه السلام د لسو کلونو لپاره داسي یوه معاهده ولیکله.

دا روایت په بخاري کې پنځه ځلي راغلی، چې ما ته پورتنی تر ټولو غوره او دقیق معلوم شوی.

أَلَا تُقَٰتِلُونَ قَوۡمٗا نَّكَثُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُمۡ وَهَمُّواْ بِإِخۡرَاجِ ٱلرَّسُولِ وَهُم بَدَءُوكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٍۚ أَتَخۡشَوۡنَهُمۡۚ فَٱللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخۡشَوۡهُ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿١٣﴾

آیا له هغو وګړو سره نه جنګېږئ چې خپل قسمونه ئې مات کړل، د پیغمبر د ایستلو اراده ئې وکړه او دا دوی ول چې له تاسو سره ئې په لومړي ځل (جګړه) پیل کړه، آیا ترې وېرېږئ؟ په داسي حال کې چې الله ترټولو زیات د دې وړ دئ چې ترې ووېرېږئ که مؤمنان یئ.

(۱۳)- د دې مبارك آیت په وړاندي باید لږ توقف وکړو او وګورو چې د چا په اړه حکم شوی چې ولې به د هغه قوم په ضد نه جنګېږئ چې خپلي ژمني ئې ماتي کړې، د پیغمبر علیه السلام د ایستلو اراده ئې وکړه او جګړه د دوی له لوري پیل شوې وه؟ که مراد قریش وي نو له قریشو سره خو د مکې له فتحي وروسته جګړه پای ته رسېدلې وه؛ او له دې وروسته د دوی په اړه مسلمانان جګړي ته هڅول بې مورده برېښي؛ او که مراد ترې قریش وي نو په یقین سره ویلی شو چې دا آیتونه حتماً د مکې له فتحي مخکي نازل شوي، په څرګنده توګه برېښي چې له دې آیت نیولې د درېیمي رکوع تر پایه یو مضمون دئ چې ټول به د مکې له فتحي وړاندي نازل شوي وي. بله د منلو وړ توجیه ورته نه شو موندلی، ځکه بل داسي قوم نه وو چې د مکې له فتحي وروسته د دې آیتونو مصداق وو او د دوی په ضد مسلمانانو ته د جنګ دا لارښووني شوې وي. د مکې د فتحي لپاره د تیاریو په دوران کې باید دا لارښووني مسلمانانو ته شوې وي.

قَٰتِلُوهُمۡ يُعَذِّبۡهُمُ ٱللَّهُ بِأَيۡدِيكُمۡ وَيُخۡزِهِمۡ وَيَنصُرۡكُمۡ عَلَيۡهِمۡ وَيَشۡفِ صُدُورَ قَوۡمٖ مُّؤۡمِنِينَ ﴿١٤﴾ وَيُذۡهِبۡ غَيۡظَ قُلُوبِهِمۡۗ وَيَتُوبُ ٱللَّهُ عَلَىٰ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٥﴾

ورسره وجنګېږئ؛ الله به ئې ستاسو په لاس تعذیب کړي، رسوا به ئې کړي، تاسو ته به پر دوی برى درکړي او د مؤمنانو سینو ته به شفاء ورکړي او د دوی د زړونو غیظ به ختم کړي؛ او د هغه چا توبه به قبوله کړي چې دى ئې غواړي؛ او الله باحکمت پوه دئ.

(۱٤-۱۵)- دلته الله تعالی له مؤمنو جنګیالیو سره د شو خبرو وعده کړې ده:
د دوی دښمنان به د دوی په لاس تعذیب کړي،
دښمنان به ئې له ذلت او سپکاوي سره مخامخ کړي،
پر دښمنانو به دوی ته برى ورکړي،
د دوی سینو ته به شفاء ورکړي، چې له دې شفاء یا له سینو د هغو خیرو لرې کول او د دوی معنوي او اخلاقي روزنه ده چې الله تعالی به ئې د یوې ستري بریا په سبب د دوی په برخه کړي، یا هغه تمحیص او عیارول دي چې د الله د لارې د مجاهدینو په برخه کېږي. قرآن فرمایي چې د الله په لار کې له کړاوونو سره مخامخېدل د تمحیص او د ابرارو مقام ته د رسېدو سبب دئ. پدغو لوړو ژورو کې الله تعالی د مؤمنانو روزنه کوي، دوی د ایمان لوړو څوکو ته رسوي، د دوی ایمان او عقیدې ته مزید پوخوالی او ځلا ورکوي، دا د دوی د تربیت او روزنې یوه مؤثره ذریعه ده. د دې مطلب تفصیل د آل عمران د سورې په ۱٤۱ او ۱۵٤آیتونو کې وګورئ.
د دوی د زړونو غیظ او غصه به له منځه یوسي، د دښمن پر ماته به د دوی پرهر پرهر زړونه تسل شي.
ځینو کافرانو ته به الله تعالی د توبې توفیق ورکړي او د ایمان راوړو سعادت به ئې په برخه شي. په دې سره د جهاد یوه لویه او اساسي موخه بیان شوې او هغه دا چې د کافرانو هدایت او ایمان راوړل به د جهاد اصلي هدف وي، له مجاهدینو سره د دغو شېږو وعدو په پای کې د کافرانو هدایت او ایمان راوړل ښیي چې له جهاد به د مجاهد موخه دا وي چې مقابل لورى له کفر او بغاوت لاس واخلي، توبه وکړي، خداى ته مخه کړي او الله تعالی د خپل رب په توګه ومني.
د قتال امر د هغه الله له لوري شوى چې د علم او حکمت خاوند دئ. پوهېږي چې په څه کې ستاسو خیر او ښېګڼه مضمر ده او له کومې لارې دې خیر او ښېګڼې ته رسېدی شئ. نو خپل خیر په همدې قتال کې ولټوئ.

أَمۡ حَسِبۡتُمۡ أَن تُتۡرَكُواْ وَلَمَّا يَعۡلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ مِنكُمۡ وَلَمۡ يَتَّخِذُواْ مِن
دُونِ ٱللَّهِ وَلَا رَسُولِهِۦ وَلَا ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَلِيجَةٗۚ وَٱللَّهُ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ١٦

آیا گمان مو کړی چې همداسې به پرېښودل شئ، حال دا چې تراوسه الله ستاسو هغه کسان نه دي معلوم کړي چې جهاد ئې کړی او له الله او د ده له رسول او مؤمنانو پرته ئې د اسرارو بل محرم ځانته نه دئ غوره کړی. او الله ستاسو له کړو وړو ښه خبر دئ.

---

(١٦)- په دې مبارك آیت کې د مخلص مجاهد او غیر مخلص مؤمن د پېژندو لپاره دوه نښې په ګوته شوې:
د الله تعالی په لار کې جهاد او
له الله تعالی، د هغه له پیغمبر او له مؤمنانو پرته بل څوك خپل نژدې دوست او د خپلو اسرارو محرم نه نیول.
او ویل شوي چې الله تعالی به حتماً داسې حالت راولي چې مؤمنان له کافرانو سره نښتو ته اړ شي، د دوی تر منځ جګړه پیل شي، مسلمانان تر برید لاندې راشي، هر څوك له دښمن سره د مقابلې ضرورت احساس کړي؛ او د الله تعالی له لوري جهاد فرض شي، چې واقعي مؤمن له هغه چا بېل شي چې په درواغو د ایمان دعوی کوي، چا چې په دې مرحلې کې جهاد ته ملا وتړله، له کافرانو سره ئې خپلې ټولې څرګندې او پټې اړیکې وشلولې، له الله تعالی، د هغه له پیغمبر او له مؤمنانو پرته ئې بل څوك خپل نژدې دوست او د خپلو اسرارو محرم ونه نیولو؛ نو هغه په امتحان کې بریالی شوی او د رښتینو مؤمنانو له ډلې دئ او چا چې دا کار ونه کړ؛ د دوی له ډلې وتلی دئ. له دې مبارك آیت او د قرآن له ګڼ شمېر نورو آیتونو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې صادق او مخلص مؤمن یوازې په لمانځه، روژې، زکات او نورو عباداتو سره نشي پېژندی، دا عبادات په ایمان کې د اخلاص وروستۍ نښې نه دي، وروستۍ نښې دوه دي: د الله تعالی په لار کې جهاد او له الله تعالی، د هغه له پیغمبر او مؤمنانو پرته بل څوك په دوستۍ نه نیول. د هغه چا لمونځ، روژه، زکات او حج هیڅ ارزښت نه لري چې د خدای له دښمنانو سره دوستي کوي او د الله تعالی په لار کې له جهاد ډډه کوي.
تر هغه چې الله جل شأنه د مؤمنانو په ډلې کې دغه کسان نه وي تفکیك کړي، مجاهدین ئې نه وي معلوم کړي او هغه ئې نه وي بېل کړي چې له الله تعالی، د هغه له پیغمبر او له مؤمنانو پرته بل څوك د پټ دوست په توګه نه نیسي، ګمان مه کوئ چې الله جل شأنه به تاسو همدغسې خپلې مخې ته پرېږدي او له ابتلاءاتو او آزموینو سره به مو مخامخ نه کړي!!
د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کې د هغه چا ایمان بې اعتباره ګڼل شوی چې له کافرانو، یهودانو، نصرانیانو او مشرکانو سره دوستي پالي، په پټه او ښکاره د دوستۍ پیغامونه ورلېږي، همدا راز فرمایي: چا چې له مؤمنانو پرته له بل چا سره دوستي وکړه؛ د اسلام له

دائرې وتلی او د هغو خلکو له ډلې به ګڼل کېږي چې دوستي ورسره کوي.

پیغمبر علیه السلام فرمايي چې له مؤمنانو سره مینه د ایمان نښه ده، هغه څوك جنت ته ننوتی شي چې له مسلمان سره مینه لري:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم « لاَ تَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوا وَلاَ تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا. أَوَلاَ أَدُلُّكُمْ عَلَى شَىْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ أَفْشُوا السَّلاَمَ بَيْنَكُمْ ». رواه مسلم

له ابوهریره رضی الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: جنت ته به داخل نه شئ چې ایمان را نه وړئ او ایمان به مو ونه منل شي چې یو له بل سره مینه او محبت و نه لرئ، آیا داسې څه دروښیم چې په کولو سره به ئې په تاسو کې مینه او محبت راپیدا کېږي؟ په خپلو منځونو کې سلام خور او عام کړئ.

یعني الله جل شأنه به ستاسو ایمان په هغه صورت کې قبلوي چې په خپلو منځو کې مو مینه او محبت وي، چې همدا د ایمان تقاضا ده او د همدې په وجه به جنت ته ځئ.

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- « أَنَّ رَجُلاً زَارَ أَخًا لَهُ فِى قَرْيَةٍ أُخْرَى فَأَرْصَدَ اللَّهُ لَهُ عَلَى مَدْرَجَتِهِ مَلَكًا فَلَمَّا أَتَى عَلَيْهِ قَالَ أَيْنَ تُرِيدُ قَالَ أُرِيدُ أَخًا لِى فِى هَذِهِ الْقَرْيَةِ. قَالَ هَلْ لَكَ عَلَيْهِ مِنْ نِعْمَةٍ تَرُبُّهَا قَالَ لاَ غَيْرَ أَنِّى أَحْبَبْتُهُ فِى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ. قَالَ فَإِنِّى رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكَ بِأَنَّ اللَّهَ قَدْ أَحَبَّكَ كَمَا أَحْبَبْتَهُ فِيهِ ». رواه مسلم

له ابوهریره رضی الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: یو کس د خپل داسې ورور لیدو ته ولاړ چې د الله لپاره ئې له هغه سره وروري وه او په بل کلي کې اوسېدو، نو الله د ده د ورتلو په لار کې یوه فرشته ولېږله، کله چې هلته ورسېدو ورته وئې ویل: چېرې د تلو اراده لرې؟ وئې ویل: په دې کلي کې مې د خپل یوه ورور د (لیدو) اراده کړې، (فرشتې) وویل: آیا له هغه کس سره دې کوم نعمت (لکه مال، زمکه؛ او بل څه) دې چې پالنه ئې کوې؟ وئې ویل: نه (هیڅ څه مو تر منځ نشته) مګر دا چې زه د الله لپاره له هغه سره مینه لرم، فرشتې ورته وویل: زه د الله استازی یم، چې ستا په لوري (له دې زېري سره راغلی یم چې) یقیناً الله جل شأنه له تا سره داسې مینه ساتي لکه ته چې د الله لپاره له ده سره مینه کوې.

په بل حدیث کې راځي:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ مُعَاوِيَةُ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ عَلَى حَلْقَةٍ يَعْنِي مِنْ أَصْحَابِهِ فَقَالَ مَا أَجْلَسَكُمْ قَالُوا جَلَسْنَا نَدْعُو اللَّهَ وَنَحْمَدُهُ عَلَى

مَا هَدَانَا لِدِينِهِ وَمَنَّ عَلَيْنَا بِكَ قَالَ آللَّهُ مَا أَجْلَسَكُمْ إِلَّا ذَلِكَ قَالُوا آللَّهُ مَا أَجْلَسَنَا إِلَّا ذَلِكَ قَالَ أَمَا إِنِّي لَمْ أَسْتَحْلِفْكُمْ تُهَمَةً لَكُمْ وَإِنَّمَا أَتَانِي جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام فَأَخْبَرَنِي أَنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ يُبَاهِي بِكُمْ الْمَلَائِكَةَ. رواه مسلم

**ابوهریره رضی الله عنه له معاویه رضی الله عنه روایت کوي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د خپلو یارانو په یوې حلقې او ډلې راووت او وئې ویل: څه شي یو ځای سره کښېنولي یاست؟ وئې ویل: ناست یو الله یادوو او د ده شکر اداء کوو چي موږ ېي د اسلام په لوري هدایت کړو او پر موږ ئې ستا په وسیله پېرزوینه وکړه، وئې فرمایل: آیا واقعاً همدا د الله ذکر او خاطر سره راغونډ او یوځای کښېنولي یئ؟ وئې ویل: په الله قسم چي موږ نه یو کښېنولي مگر همدې شي، وئې فرمایل: ما د دې لپاره قسم درنه کړ چي تاسو ته کوم تهمت (راجع کوم) خو ما ته جبرئیل راغی او دا خبر ئې راکړ چي یقیناً الله د فرشتو په وړاندي په تاسو فخر کوي.**

**همدا راز فرمایي:**

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلی الله علیه و سلم قَالَ « الرَّجُلُ عَلَى دِينِ خَلِيلِهِ فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ مَنْ يُخَالِلُ ». سنن ابی داؤد

**له ابوهریره رضی الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: هر سړی د خپل دوست په دین وي، نو ستاسو هر یو دي وګوري چي له چا سره دوستي کوي.**

**همدا راز د هغو کسانو د اوچت او لوړ مقام په اړه فرمایي چي د الله لپاره یو له بل سره مینه ساتي:**

عَنْ أَبِي زُرْعَةَ بْنِ عَمْرِو بْنِ جَرِيرٍ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- « إِنَّ مِنْ عِبَادِ اللَّهِ لأُنَاسًا مَا هُمْ بِأَنْبِيَاءَ وَلاَ شُهَدَاءَ يَغْبِطُهُمُ الأَنْبِيَاءُ وَالشُّهَدَاءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِمَكَانِهِمْ مِنَ اللَّهِ تَعَالَى ». قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ تُخْبِرُنَا مَنْ هُمْ. قَالَ « هُمْ قَوْمٌ تَحَابُّوا بِرُوحِ اللَّهِ عَلَى غَيْرِ أَرْحَامٍ بَيْنَهُمْ وَلاَ أَمْوَالٍ يَتَعَاطَوْنَهَا فَوَاللَّهِ إِنَّ وُجُوهَهُمْ لَنُورٌ وَإِنَّهُمْ عَلَى نُورٍ لاَ يَخَافُونَ إِذَا خَافَ النَّاسُ وَلاَ يَحْزَنُونَ إِذَا حَزِنَ النَّاسُ ». وَقَرَأَ هَذِهِ الآيَةَ (أَلاَ إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ). سنن ابی داؤد

**یقیناً چي د الله له بندګانو ځیني داسي دي چي که څه هم نه انبیاء دي او نه شهداء، خو د قیامت په ورځ به حتی انبیاء او شهداء پدوی غبطه کوي، د هغه مقام او منزلت له امله چي د الله په خوا کي به ئې لري. صحابه وو وویل: یا رسول الله! موږ پوه کړه چي دوی څوك دي؟ وئې فرمایل: دا هغه ډله ده چي په الهي فیض او پېرزویني سره ئې یوه له بل**

سره مينه ساتله، پرته له دې چې د دوی تر منځ د خپلوۍ اړيکې وي او پرته له دې چې د دوی تر منځ د مال د راکړې ورکړې معامله وي (يوازې په الله ايمان په خپلو منځونو کې سره نژدې کړي او يو له بل سره مينه لري) په الله قسم چې د دوی مخونه به د نور په شان وي او دوی به په نور او رڼا وي، کله چې خلك وېرې اخيستي وي دوی به نه وېرېږي او کله چې خلك غمجن شي دوی به نه غمجن کېږي او بيا ئې دا آيت تلاوت کړ: پوه شه چې يقيناً د الله دوستان داسې دي چې نه پر دوی خوف او وېره شته او نه به دوی غمجن شي.

په حديث قدسي کې راغلي:

عن مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ قال سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ « قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ وَجَبَتْ مَحَبَّتِى لِلْمُتَحَابِّينَ فِىَّ وَالْمُتَجَالِسِينَ فِىَّ وَالْمُتَزَاوِرِينَ فِىَّ وَالْمُتَبَاذِلِينَ فِىَّ » رواه احمد

له معاذ بن جبل رضی الله عنه روايت دئ چې له رسول الله صلی الله عليه و سلم مې واورېدل: الله تعالی فرمايلي: زما محبت هغه چا ته واجب او لازم شو چې په خپلو منځونو کې زما لپاره مينه او محبت ساتي او زما لپاره په خپلو منځونو کې سره کښېني او زما لپاره يو د بل زيارت او ليدو کتو ته درومي او زما په خاطر يو د بل لپاره بذل کوي، قرباني ورکوي او خپل مال لګوي.

يعني د چا چې دا څلور صفات وي د هغوی لپاره زما محبت واجب شوی دئ، زه به له هغه چا سره مينه او محبت ساتم چې: زما لپاره خپلو منځونو کې مينه ساتي، خپلو منځونو کې ناسته ولاړه لري، يو د بل زيارت او ليدلو ته ځي او زما په خاطر په خپلو منځونو کې مالونه لګوي، هديه او تحفه ورکوي او يو خپل مال بل ته ورکوي. د چا تر منځ چې همدغه تعلقات وي الله جل شأنه خپل محبت هغوی لره لازم کړی.

مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِينَ أَن يَعْمُرُواْ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ شَٰهِدِينَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِم بِٱلْكُفْرِۚ أُوْلَٰٓئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَٰلُهُمْ وَفِى ٱلنَّارِ هُمْ خَٰلِدُونَ ﴿١٧﴾

مشرکينو ته نه ښايي چې د الله جوماتونه په داسې حال کې آباد کړي چې پر ځان د کفر ګواهي ورکوي، دا هغه وګړي دي چې عملونه ئې حبط شول او په اور کې به تلپاته وي.

(١٧)- له دې مبارك آيت څو خبرې په ډېر وضاحت سره معلومېږي:

دا آيت په خاصه توګه د قريشو په اړه دئ چې ځان ئې د بيت الله او مسجدالحرام

متوليان ګڼل خو مشركان ول او عقيده او عمل ئې د كافرانو په څېر وو، كعبه ئې له بُتانو ډكه كړې وه، د دوی عقيدې او عمل ګواهي وركولو چي كافران دي؛ او په عامه توګه د هر هغه چا په اړه دئ چي عقيده او عمل ئې د كافر وي خو جوماتونه جوړوي او يا ځان د جومات متولي ګڼي او د جومات امامت او خطابت په غاړه لري. په دې كې د جوماتونو ظاهري اعمار او معنوي اعمار دواړه شامل دي.

د الهي معيارونو له مخي د دوی عملونه حبط دي او هيڅ ارزښت نه لري، نه ئې د جوماتونو ظاهري آبادول څه ارزښت لري او نه ئې امامت او خطابت، له دغو كافرانو سره اصلاً دا كارونه نه ښايي، دوی د دې وړ نه دي، دوی بايد له دې مقام او منصب عزل كړی شي.

په دې سره له يوې خوا د قريشو مشركينو ته ويل شوي چي ستاسو دا د مسجدالحرام ساتنه او د حجاجو خدمت د الله تعالى په وړاندي هيڅ ارزښت نه لري او له دې وروسته تاسو د دې سپېڅلي ځای د پالني، ساتني او خدمت له دندي عزل شوي يئ، له بلي خوا د مؤمنانو هغه اندېښني رفع شوې چي د مسجدالحرام له متوليانو سره د نښتو په اړه ئې درلودې.

---

إِنَّمَا يَعۡمُرُ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَأَقَامَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ وَلَمۡ يَخۡشَ إِلَّا ٱللَّهَۖ فَعَسَىٰٓ أُوْلَٰٓئِكَ أَن يَكُونُواْ مِنَ ٱلۡمُهۡتَدِينَ ﴿١٨﴾

يقيناً چي د الله جوماتونه خو يوازي هغه څوك آبادولی شي چي پر الله او د آخرت پر ورځي ئې ايمان راوړی، لمونځ ئې كړی، زكات ئې وركړی او له الله پرته (له هيچا) نه وېرېږي. نو ښايي چي همدا خلك به له هدايت شوو وي.

---

(١٨)- په دې مبارك آيت كې د هغو كسانو مواصفات بيان شوي چي په مادي او معنوي لحاظ د جوماتونو د آبادولو وړتيا لري:

پر الله تعالى ئې ايمان راوړی،

د آخرت پر ورځي باور لري،

لمونځ ئې كړی،

زكات ئې وركړی او

له الله تعالى پرته له بل چا نه دئ وېرېدلی.

په چا كې چي دا پنځه صفات نه وي هغه د الله تعالى د جوماتونو رښتينی خدمتګار نشي كېدی، هو؛ هغه څوك به څنګه له جومات د حق سنګر جوړ كړي او له منبر به د حق بږغ لوړ كړي چي ډارن دئ او له الله تعالى پرته له بل چا وېرېږي؟! له بل چا د رزق او

روزي طمع لري، له بل چا په خپل رزق او روزي وېره لري، د بل جيب ته ئې سترګي وي؟ ځوك چي په خپله پر خداى او آخرت رښتينى ايمان نه لري بل به څنګه رښتيني ايمان ته هدايت کړي؟! د چا چي خپل لمونځ رښتينى لمونځ نه وي څنګه به په لمانځه کي د بل سم امامت کوي؟! ځوك چي د مال قربانولو ته چمتو نه وي بل به څنګه د خپل سر او مال قربانولو ته چمتو کړي، ډارن او جبون انسان نه په مسجد کي د خلکو سم امامت کولى شي، نه په سنګر کي او نه په نورو ديني چارو کي د مسلمانانو سمه لارښوونه.

يعني له معنوي پلوه د جوماتونو او مساجدو د اعمارکار هغه خلك کولى شي چي صفات ئې په دې آيت کي ښودل شوي، د جوماتونو ظاهري آبادي او اعمار بېل کار دئ او د هدايت له پلوه ئې رغول او اعمار بېل. لکه چي په يوه روايت کي راغلي چي په آخره زمانه کي به جوماتونه په ظاهر کي ښه آباد، مزين او ښايسته وي خو د هدايت له پلوه به خراب او وران وي.

جوماتونه د هدايت له ناحيې هغه ځوك آبادولى شي او هغه داعي د الله د دين خدمت کولى شي چي د مخکينيو صفاتو تر څنګ، دا صفت هم ولري چي له الله جل شأنه پرته له بل چا ونه وېرېږي. د آيت په پاى کي دا وينا چي هيله ده دغه کسان هدايت موندونکي وي، ښيي چي له دغو صفاتو علاوه هم داسي څه شته چي د هدايت لپاره ضروري دي، يوازي دغه صفات کفايت نه کوي، پر دغو صفاتو سربېره ځيني داسي پړاوونه شته چي له هغوى د تېرېدو په صورت کي دا ثابتېږي چي آيا دوى له هغو کسانو دي چي لار ئې موندلې که نه؟ يوازي دا ځو خبري کافي نه دي، بلکي مزيد څه ته ضرورت شته، چي هغه په ورپسې آيت کي توضيح کېږي، عملي جهاد به دا ثابتوي چي د چا په زړه کي له الله جل شأنه وېره ده او ځوك په رښتيا هدايت شوى دئ او ايمان لري، په جهاد کي دا معلومېږي، جهاد هغه ملاك او معيار دئ چي د هغه په ترڅ کي د چا د ايمان حقانيت او حقيقت څرګندېږي، د جهاد په دوران کي به دا معلومېږي چي ځوك په خپل ايمان کي رښتينى دئ او ځوك دروغجن، ځوك مخلص مؤمن دئ او ځوك منافق؟ په همدې خاطر د دغو صفاتو له بيانولو وروسته ويل کېږي چي: فَعَسَىٰٓ أُوْلَٰٓئِكَ أَن يَكُونُواْ مِنَ ٱلْمُهْتَدِينَ: ښايي دغه کسان به هدايت موندونکي وي.

د (عسى) په اړه دا توجيه کمزورې ده چي وايي: کله چي دا لفظ د الله تعالى له لوري ويل شوى وي نو د يقين معنى افاده کوي، يعني دا چي دا کسان په يقين سره لارموندونکي دي! غوره تعبير دا دئ چي دا لفظ په خپلي اصلي معنى ونيسو، دا هيڅکله صحيح نه ده چي په قرآن کي راغلي الفاظ د اصلي معنى په ځاى په بلي معنى واخلو، که الله تعالى غوښتلى چي ووايي: يقيناً دا کسان هدايت موندونکي دي نو هرو مرو به آيت داسي وو: اولئك هم المهتدون.

أَجَعَلۡتُمۡ سِقَايَةَ ٱلۡحَآجِّ وَعِمَارَةَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ كَمَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَجَٰهَدَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ لَا يَسۡتَوُۥنَ عِندَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٩﴾

آیا د حاجیانو خړوبه کول او د مسجدالحرام آبادول مو د هغه چا په څېر ګڼلي چي پر الله او د آخرت پر ورځي ئې ایمان راوړی او د الله په لار کي ئې جهاد کړی؟ د الله په خوا کي برابر نه دي؛ او الله دا ظالم قوم نه هدایتوي.

---

(١٩)- دلته څو خبري په پام کي نیول ضروري دي: د مشرکینو په اړه دا بحث د دې لپاره پیل شوی چي مؤمنان د دوی په ضد یوه پرېکنده اقدام ته چمتو کړي، داسي نه چي د مشرکانو هغو کړو وړو ته په پام سره چي د مسجدالحرام د ساتني، اعمار او مجاورت او د حجاجو د خدمت په اړه ئې کول؛ مسلمانان مذبذب نه شي او د وروستي او پرېکنده اقدام په کولو کي زړه نازړه نشي. دوی ته ویل شوي چي دا عملونه خو په هغه صورت کي ارزښت لري چي پر الله تعالی او د آخرت پر ورځي ایمان او د الله تعالی په لار کي جهاد ئې منشأ او محرك وي، نه د هغه چا له لوري چي ظالم دئ، په شرك کي غرق دئ او له الهي هدایت محروم.

په دې مبارك آیت کي څو لارښووني شوې:

د حاجیانو خدمت او د مسجدالحرام آباد ساتل د هغه چا له جهاد سره برابر نه دي چي پر الله او د آخرت پر ورځي ایمان راوړي او جهاد ئې د الله تعالی په لار کي وي، دا دواړه په الهي معیارونو کي سره برابر نه دي.

د آیت په پای کي دا فقره (وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ) ښیي چي له دغو ظالمانو مراد مشرکین دي، د قرآن له نظره شرك تر ټولو لوی ظلم دئ، یعني دا د قریشو مشرکین چي ځان ته د بیت الحرام مجاورین، د مسجدالحرام ساتونکي او جوړونکي او د حاجیانو خدمتګاران وایي او د همدې کارونو په سبب ځان په حقه او د الله تعالی مخلص بندګان ګڼي باید پوه شي چي د مشرکانو داسي نېك کارونه هیڅ ارزښت نه لري او دوی له هغه چا سره برابر نه دي چي پر الله تعالی او د آخرت پر ورځي ایمان لري او د الله تعالی په لار کي جهاد کوي. د آیت له دې فقرې په څرګنده توګه معلومېږي چي دا آیت د مشرکینو په اړه دئ او هغه روایت صحیح نه دئ چي وایي دا آیت د بدر له غزا وروسته نازل شوی او یا وایي د صحابه وو د هغې مباحثې په اړه نازل شوی چي یوه ویلي ما ته له ایمان راوړلو وروسته حاجیانو ته اوبه ورکول تر ټولو غوره عبادت برېښي، بل ویلي چي ما ته د مسجدالحرام آبادول غوره برېښي او بل ویلي چي ما ته جهاد تر ټولو غوره برېښي، ګواکي

**دا آیت د دوی په خوب کې نازل شوی. روایت داسې دئ:**

عن النُّعْمَانُ بْنُ بَشِيرٍ قَالَ كُنْتُ عِنْدَ مِنْبَرِ رَسُولِ اللَّهِ-صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ رَجُلٌ مَا أُبَالِى أَنْ لاَ أَعْمَلَ عَمَلاً بَعْدَ الإِسْلاَمِ إِلاَّ أَنْ أُسْقِىَ الْحَاجَّ. وَقَالَ آخَرُ مَا أُبَالِى أَنْ لاَ أَعْمَلَ عَمَلاً بَعْدَ الإِسْلاَمِ إِلاَّ أَنْ أَعْمُرَ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ. وَقَالَ آخَرُ الْجِهَادُ فِى سَبِيلِ اللَّهِ أَفْضَلُ مِمَّا قُلْتُمْ. فَزَجَرَهُمْ عُمَرُ وَقَالَ لاَ تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ عِنْدَ مِنْبَرِ رَسُولِ اللَّهِ-صلى الله عليه وسلم- وَهُوَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ وَلَكِنْ إِذَا صَلَّيْتُ الْجُمُعَةَ دَخَلْتُ فَاسْتَفْتَيْتُهُ فِيمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ. فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ (أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ) الآيَةَ إِلَى آخِرِهَا. رواه مسلم

**دا روایت په هغه صورت کې صحیح ګڼلی شو چې د صحابه وو تر منځ مناقشه د دې آیت له نزوله وروسته شوې وي او په روایت کې داسې ویل شوي وی چې پیغمبر علیه السلام دا آیت وراوروئی؛ نه دا چې د دوی په خوب کې دا آیت نازل شوی. دا ځکه چې د ټولو محققینو له نظره د برائت سوره وروستۍ نازله شوې سوره ده او د آیت متن ګواهي ورکوي چې د مشرکینو په اړه نازل شوی.**

**دا آیت ښيي چې د الله تعالی په لار کې جهاد د ټولو عباداتو په سر کې او تر ټولو لوړ دئ، که د بیت الحرام ساتنه، د مسجدالحرام آبادونه په عبادت سره او په مادي لحاظ او له شخصي عبادت علاوه د حاجیانو خدمت کول؛ دا ټول له جهاد سره برابر نه وي نو له مسجدالحرام بهر، د کوم بل جومات په کونج کې یا په کومي خانقاه کې به د چا عبادت څنګه له جهاد سره برابر وي؟!**

**له دې آیته په څرګنده توګه معلومیږي چې د دې سورې دا برخه د قریشو په اړه ده او د مکې له فتحې مخکې نازله شوې.**

---

**ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ أَعۡظَمُ دَرَجَةً عِندَ ٱللَّهِۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ ﴿٢٠﴾**

**هغه چې ایمان ئې راوړی، هجرت ئې کړی او د الله په لار کې ئې په خپلو مالونو او نفسونو سره جهاد کړی د الله په خوا کې تر ټولو لوړه درجه لري او همدا دوی بریالي دي.**

---

**(٢٠)- دا مبارك آیت په دې اړه مزید وضاحت کوي چې جهاد تر ټولو ستر عبادت دئ، د**

مجاهد درجه تر ټولو لوړه ده او د د نیا او عقبی بریا د جهاد له لاري تر لاسه کېدی شي، دا بریا به یوازې د مجاهد په برخه کېږي. لوړ معنوي مقام ته د رسېدو او د دنیا او عقبی بریا تر لاسه کولو کې ایمان مقدمه ده، هجرت له ماسوی الله خپل تعلق شلول او د خدای په لوري تگ دئ او په خپل مال او نفس سره د الله تعالی په لار کې جهاد کول وسیله ده، له دې وسیلې پرته هغه لوړ مقام ته رسېدل ممکن نه دي.

---

يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُم بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَرِضْوَٰنٍ وَجَنَّٰتٍ لَّهُمْ فِيهَا نَعِيمٌ مُّقِيمٌ ﴿٢١﴾ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥٓ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿٢٢﴾

د دوی رب له خپل لوري د رحمت، رضایت او داسې جنتونو زېری ورکوي چې دوی ته په کې تلپاته نعمتونه دي. په هغه کې تلپاته، یقیناً چې له الله سره ستر اجرونه دي.

---

(٢١-٢٢)- په دې مبارکو آیتونو کې له دوی سره څو وعدې شوې دي:

الله تعالی به د خپل رحمت وزر پر دوی وغوړوي.

الله تعالی به د دوی پر ایمان، هجرت او جهاد راضي شي او دوی به د الله تعالی پر پېرزوینو.

داسې جنتونه به ئې په برخه شي چې دوی ته په کې تلپاته نعمتونه دي.

په دې جنتونو کې به د تل لپاره اوسېږي او له نعمتونو به ئې د تل لپاره برخمن وي او داسې مزید ستر اجرونه به ئې په برخه شي چې الله تعالی له ځان سره ساتلي، نه چا لیدلي، نه ئې اورېدلي، نه ئې څکلي او نه ئې تصور کولی شي.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُوٓاْ ءَابَآءَكُمْ وَإِخْوَٰنَكُمْ أَوْلِيَآءَ إِنِ ٱسْتَحَبُّواْ ٱلْكُفْرَ عَلَى ٱلْإِيمَٰنِۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٢٣﴾

ای مؤمنانو! که مو پلرونو او وروڼو کفر تر ایمان غوره وگڼلو نو هغوی خپل دوستان مه نیسئ؛ او له تاسو چې هرچا له دوی سره دوستي وکړه؛ نو هغوی ظالمان دي.

---

(٢٣)- دا مبارك آیت څو لارښووني زموږ مخې ته ږدي:

مؤمنانو ته لارښوونه شوې چې له خپلو خپلوانو سره به په هغه صورت کې دوستي نه پالي چې کفر ته پر ایمان ترجیح ورکوي؛ که څه هم د دوی پلرونه او وروڼه وي.

څوك چې د خپلوۍ په وجه له داسې کافرانو سره دوستي پالي؛ ظالم دئ، پر خپل ځان ظلم کوي، له خپل دین او ایمان سره جفا کوي؛ او له خپل رب سره ئې چلند ظالمانه دئ، ځکه د

خدای له دښمن سره دوستي کوي.

له دې مبارك آيت هم معلومېږي چي دا برخه د برائت له اعلان او د مکې له فتحي مخکې نازله شوې، په دغو لاربښوونو سره مجاهدين له قريشو سره د اړيکو شلولو او د دوی په ضد پرېکنده اقدام ته هڅول شوي.

د عبد او مريي يو مهم خصوصيت دا دئ چي هغه به خپل دوست او دښمن د خپلو تمايلاتو په بنسټ او د هوی او هوس له مخي نه ټاکي، په دې اړه له ده اختيار سلب شوی او هغه د خپل آقا او مالك د پرېکړي او حکم محکوم دئ، که کوم غلام او مريي د خپل آقا دښمن په دوستۍ ونيسي، هغه بغاوت کړی؛ او که هغه د خپل آقا دوست دښمن وگڼي بيا ئې هم بغاوت کړی. نو ځکه دلته هغه څوك ظالم گڼل شوی چي له کافرو خپلوانو سره دوستي پالي.

له دې مبارك آيت په څرگنده توگه معلومېږي چي د اسلام له نظره له کافر سره دوستي د ايمان منافي او داسي خطرناك عمل دئ چي د ايمان نفی کوي.

قُلْ إِن كَانَ ءَابَآؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ وَإِخْوَٰنُكُمْ وَأَزْوَٰجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَٰلٌ ٱقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَٰرَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَجِهَادٍ فِى سَبِيلِهِۦ فَتَرَبَّصُوا۟ حَتَّىٰ يَأْتِىَ ٱللَّهُ بِأَمْرِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٢٤﴾

ورته ووايه: که مو پلرونه، زامن، وروڼه، مېرمني، خپلوان، راغونډ کړي مالونه مو، هغه تجارت چي د بازار له سوړوالي ئې وېرېږئ او هغه کورونه مو چي خوښوئ ئې، تاسو ته تر الله، د هغه تر پېغمبر او د ده په لار کې تر جهاد زيات محبوب وي، نو د الله پرېکړي ته انتظار وکړئ چي الله داسي فاسق قوم نه هدايتوي.

(٢٤)- په دې آيت کې د دنيا هر هغه څه راخلاصه شوي چي انسان ورسره مينه ساتي؛ که تعلقات دي، دوستان او خپلوان دي، که شتمني، مال، دولت، تجارت او بنگلې دي، هر څه چي دي دا ټول يوې خوا ته او الله، د هغه پيغمبر او د الله په لار کې جهاد بلې خوا ته، که د چا مينه او محبت له هغو سره وي او هغوی ورته تر الله، د هغه تر پيغمبر او د الله تعالی په لار کې تر جهاد غوره وي، نو دا کسان فاسقان دي او د الهي هدايت دروازې د هغوی پرمخ تړل شوې دي، الله ئې نه هدايتوي او له الهی هدايت محروم دي.

دا د انسان د ايمان د تللو لپاره ستر او دقيق معيار او ملاك دئ، په دې سره هره لحظه انسان خپل ايمان سنجولی شي، هره لحظه د دې سؤال راپيدا کېږي چي آيا ته ايمان ته

ترجيح ورکوې، الله ته، د هغه پيغمبر ته؛ او د الله په لار کې جهاد ته او که پلار، زامنو، ورونو، خپلوانو، ښځې، مال، تجارت او بنګلو ته ترجيح ورکوې؟ انسان هره شېبه د خپل ايمان په اړه د همدغه معيار او ملاك او تلې په اساس قضاوت کولی شي، د چا چې تر الله، پيغمبر او جهاد له دې شيانو سره محبت زيات وي، هغوی فاسقان دي، د الله له هدايت محروم دي، د هغوی پرمخ د هدايت دروازې تړل شوې دي.

له دې آيت په څرګنده توګه معلومېږي چې هغه څوك بايد د لارښود په توګه غوره نه کړو او د فتوی لپاره هغه ته رجوع ونه کړو چې د الله تعالی په لار کې ئې جهاد نه وي کړی، جهاد ئې تر هر څه غوره نه وي ګڼلی، د الله په لار کې ئې قرباني نه وي ورکړې او له کافرانو سره ئې د خپلوۍ او دوستۍ اړيکې نه وي شلولې. دا آيت تا ته وايي: پام کوه هغه څوك د امام، پير، مرشد، لارښود، مشر او مفتي په توګه مه نيسه چې الله تعالی، د هغه پيغمبراو د الله په لار کې جهاد د خپل ژوند تر هر څه غوره نه ګڼي او قرباني کولو ته ئې چمتو نه وي. چا چې جهاد نه دئ کړی هغه نه يوازې عالم او مرشد نه دئ بلکې د هدايت دروازې ئې پر مخ تړل شوې، که دې کس ته څوك عالم وايي نو د قرآن د وينا له مخې به داسي وي لکه په کتابونو بار خر: (.... كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا ....) الجمعة ٥

---

لَقَدْ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْـًٔا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ ٱلْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ أَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَعَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ وَأَنزَلَ جُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا وَعَذَّبَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۚ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٢٦﴾

يقيناً چې الله په ډېرو ځايونو کې ستاسو مرسته وکړه او د حنين په ورځ هم؛ هغه مهال چې خپل ډېرښت حيران کړي وئ؛ خو هيڅ څه ئې له تاسو دفع نه کړی شو او ځمکه سره له پراخوالي ئې پر تاسو تنګه شوه؛ بيا (د تېښتې لپاره دښمن ته) شا اړوونکي شوئ. بيا الله خپله ډاډېينه پر خپل رسول او پر مؤمنانو نازله کړه او هغه فوځونه ئې راولېږل چې تاسو نه ليدل او هغه کسان ئې تعذيب کړل چې کافران شوي وو او همدا د کافرانو سزا ده.

---

(٢٥-٢٦)- د دې مبارکو آيتونو په اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

دا آيتونه د حنين له جګړې وروسته نازل شوي، د حنين جګړه د مکې له فتحې وروسته؛ د اتم هجري کال د شوال د مياشتې په لسمه هغه مهال ونښته چې د هوازن، ثقيف، طائف او ځينو نورو قبيلو پر مسلمانانو د يوه پريکنده بريد پرېکړه وکړه او څلور زره جنګيالي

ئې د دې برید لپاره چمتو کړل، ښځې او ماشومان ئې هم له ځان سره روان کړل چې هیڅ جنګیالی د تېښتې هوس ونه کړي؛ او دا وېره ورسره وي چې د تېښتې په صورت کې به د ده مېرمن او ماشومان د دښمن په لاس کې پرېوځي، هوازن د غشو په ویشتو کې ډېر ماهر او په ټولو عربو کې نومیالي ول، جګړه د حنین په ناو کې ونښته، مسلمانان په ناڅاپي توګه تر برید لاندې راغلل، که څه هم د دوی شمېر نژدې دولس زره وو، لس زره له مدینې راغلی فوځ او دوه زره د مکې هغه جنګیالي چې د مکې له فتحې وروسته په اسارت ونیول شول خو بېرته آزاد کړی شول او له مسلمانانو سره یو ځای شول، برید ناڅاپي وو، د غشو تر باران لاندې راغلل، د مسلمانانو په لیکو کې وېره او بدنظمي خوره شوه، لومړی هغو دوه زرو آزاد شوو جنګیالیو له میدان پښې سپکې کړې او وتښتېدل؛ او بیا نور یو په بل پسې تر شا شول، پیغمبر علیه السلام ئې له څو ملګرو سره یوازې په میدان کې پرېښود، رسول الله صلی الله علیه و سلم هغوی د ځان لوري ته بلل او ویل ئې: الي عبادالله، الي انا رسول الله: زما خوا ته راشئ اې د الله بندګانو!، زما لوري ته راشئ زه د الله رسول یم! خو هغوی په داسې بد حالت کې ول چې زمکې ځای نه ورکاوو، د زمکې پر سر هیڅ خوندي پناه ځی په نظر نه ورتلو، هرې خوا ته تښتېدل، خو الله تعالی یو ځل بیا خپل عمیم فضل ورپه برخه کړ، خپله پېرزوینه او سکینه ئې پرې نازله کړه، وېره ئې په ډاډ او اطمئنان بدله شوه، بېرته راوګرځېدل، د خپل خوږ او زړه ور قائد خوا ته راغونډ شول، دښمن ئې په شا وټمباوو، ډېر ئې ترې ووژل او پاته ئې په اسارت ونیول.

د حنین په جګړه کې د مسلمانانو شمېر هومره وو چې دوی ئې په تعجب او حیرت کې غورځولی وو، خو ناڅاپي د حنین په ناو کې د خپل شمېر په نسبت له تقریباً درېیمې برخې دښمن سره مخامخ شول، د دوی شمېر تر دولس زره اضافه وو او د دښمن فوځ تقریباً څلور زره کسان وو، خو د دوی له ناڅاپي حملې دومره پرېشانه شول چې پیغمبر علیه السلام ئې په میدان کې یوازې پرېښود، زمکې ځای نه ورکولو، قرآن عظیم الشأن د دوی د پرېشانۍ په اړه فرمایي: زمکه له خپلې پراخۍ سره سره په تاسو تنګه شوه، دا د الله تعالی پراخه زمکه په تاسو تنګه شوه، د ټېکې او د پناه ځای مو نه موندلو او پیغمبر علیه السلام مو په میدان کې یوازې پرېښود. قرآن عظیم الشأن فرمایي چې له دې وروسته الله تعالی پر خپل پیغمبر علیه السلام او مؤمنانو باندې سکینه نازله کړه. په لومړیو شېبو کې مضطرب او پرېشانه ول، زمکې ځای نه ورکولو، د ټېکې او د امن پناه ځای ئې نه تر سترګو کېدو، خو په دې پسې متصل د دوی په زړونو کې سکون، ډاډ او اطمئنان راپیدا کېږي. دا هم د ایمان یوه نښه ده، الله تعالی په سختو حالاتو کې د ایمان په وجه د انسان په زړه کې ډاډ، اطمئنان او سکون راپیدا کوي. په دغو مبارکو آیتونو کې دغې پېښې ته اشاره شوې او ویل شوي: الله تعالی په ډېرو ځایونو کې ستاسو مرسته وکړه او د حنین په ورځ هم، هغه مهال چې خپل ډېرښت حیران کړي وئ، خو هیڅ څه ئې له تاسو دفع نه کړی شو او زمکه سره

**له ارتوالي ئې پر تاسو تنګه شوې وه، په تېښته شوئ او دښمن ته مو شا کړه، بیا الله تعالی خپله ډاډېینه پر خپل استازي او پر مؤمنانو نازله کړه او هغه فوځونه ئې راولېږل چي تاسو نه لیدل او هغه کسان ئې تعذیب کړل چي کافران شوي وو او همدا د کافرانو سزا ده.**

**په دې جګړې کې د مسلمانانو شمېر شاوخوا دولس زره وو، په ځینو روایاتو کې راغلي چي پیغمبر علیه السلام فرمایلي: د مسلمانانو دولس زره کسیز فوځ به د قلت او لږوالي په وجه ماته ونه خوري، خو ځینو محققینو دا روایات ضعیف ګڼلي، روایات دا دي:**

عَنِ ابْن عَبَّاس، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «خَيْرُ الأَصْحَابِ أَرْبَعَةٌ، وَخَيْرُ السَّرَايَا أَرْبَعُ مِائَةٍ، وَخَيْرُ الجُيُوشِ أَرْبَعَةُ آلافٍ، وَمَا هُزِمَ قَوْمٌ بَلَغُوا اثْنَيْ عَشَرَ أَلْفًا مِنْ قِلَّةٍ، إِذَا صَدَقُوا وَصَبَرُوا» ولن يغلب اثنا عشر الفا من قلة

**له ابن عباس رضی الله عنهما روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: غوره ملګري څلور دي، غوره سریه څلور سوه کسیزه ده؛ او غوره لښکر څلور زره کسیز او کوم قوم چي شمېر ئې دولس زره ته ورسېږي نو د لږوالي له امله ماته نه خوري؛ په دې شرط چي رښتیني وي او صبر کوي.**

**دا مطلب په بل روایت کې داسي راغلی:**

عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِأَكْثَمَ بْنِ أَبِي الْجَوْنِ: «يَا أَكْثَمُ خَيْرُ الرُّفَقَاءِ أَرْبَعَةٌ، وَخَيْرُ الطَّلَائِعِ أَرْبَعَةُ مِائَةٍ، وَخَيْرُ الْجُيُوشِ أَرْبَعَةُ آلَافٍ»

**له انس رضي الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم اکثم بن الجون ته وویل: اې اکثم! غوره ملګري څلور دي، غوره ټولی څلور سوه کسیز دئ او غوره لښکر څلور زره کسیز دئ.**

عَنْ أَكْثَمَ بْنِ الْجَوْنِ الْخُزَاعِيِّ ثُمَّ الْكَعْبِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يَا أَكْثَمُ بْنَ الْجَوْنِ اغْزُ مَعَ غَيْرِ قَوْمِكَ يَحْسُنْ خُلُقُكَ وَتُكْرَمْ عَلَى رُفَقَائِكَ، يَا أَكْثَمُ بْنَ الْجَوْنِ خَيْرُ الرُّفَقَاءِ أَرْبَعَةٌ، وَخَيْرُ الطَّلَائِعِ أَرْبَعُونَ، وَخَيْرُ السَّرَايَا أَرْبَعُمِائَةٍ، وَخَيْرُ الْجُيُوشِ أَرْبَعَةُ الْآفٍ، وَلَنْ يُؤْتَى اثْنَا عَشَرَ أَلْفًا مِنْ قِلَّةٍ، يَا أَكْثَمُ بْنَ الْجَوْنِ لَا تُرَافِقِ الْمِائَتَيْنِ "

**له اکثم بن الجون روایت دئ چي وئې ویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل:... اې اکثم بن الجون! له خپل قوم پرته نورو سره یو ځای غزا کوه، اخلاق دې غوره ساته، پر خپلو ملګرو اکرام کوه؛ یا أکثم! غوره ملګري څلور دي، غوره (اطلاعاتي) ډلګی څلوېښت کسیز دئ، غوره سریه (ټولی) څلور سوه کسیز دئ، غوره لښکر څلور زره کسیز دئ؛ او**

دولس زره کسيز فوځ د لږوالي له امله ماته نه خوري؛ يا أكثم! د دوه سوه کسيز ټولي ملګرتيا کوه.

اصلي خبره دا وه چې دوی تر دې د مخه په ډېرو نښتو کې په وار وار ليدلي وو چې شمېر ئې د دښمن د جنګياليو د شمېر په پرتله ډېر کم وو خو تل ئې بريا په برخه شوې، اوس دولس زره په وسلو سمبال مجاهدين د اسلام تر بيرغ لاندې د دښمن مقابلې ته درومي څنګه به نه بريالي کېږي! خو الله تعالی له مسلمانانو هيڅکله دا نه خوښوي چې له خپل رب پرته په بل څه بروسه وکړي، د جنګياليو شمېر او د وسائلو ډېرښت د بريا ضامن وګڼي، د حنين د جګړې د نښتې په ترڅ کې ئې هغوی ته وښوده چې بايد يوازې پر خپل رب توکل وکړي او د الله تعالی مرسته ځان ته کافي وګڼي.

دې ته مو بايد پام وي چې د دې ماتې لويه او اساسي وجه د هغو دوو زرو جنګياليو تېښته وه چې په مکه کې له مسلمانانو سره يو ځای شوي وو، لائې ايمان د زړونو تل ته نه وو کوز شوی، لا ئې سمه روزنه نه وه شوې، لا د ايمان په حقيقت سم نه وو پوه شوي؛ او د دې احتمال هم شته چې له دوی ځينو عمداً او قصداً دا کار کړی وي او دا ئې غوښتي وي چې په خپلې تېښتې سره د مسلمانانو په لښکر کې بدنظمي او وېره خوره کړي. ډېر ځلې داسي کسان د يوه لوی فوځ د ماتې باعث ګرځي.

که دا آيتونه د مخکينيو دوو آيتونو په رڼا کې وڅېړو نو په اصلي معنی ئې پوهېدل راته آسانه کېږي، په مخکينيو آيتونو کې له کافرانو سره د خپلوۍ اړيکو له پاللو مسلمانان منع شوي او پر دې تأکيد شوی چې الله تعالی او د هغه پيغمبر ته به پر خپلوانو او د الله په لار کې جهاد ته به پر تجارت، مال، بنګلو ترجيح ورکوئ، د حنين د جګړې په دوران کې د هغو دوو زرو جنګيالو ډېری د مهاجرينو خپلوان ول، د دوی ډېرو د خپلويو په وجه د مجاهدينو ملګرتيا کړې وه، د حنين په جګړې کې د ماتې اصلي سبب هم دوی ول، په دې وينا سره قرآن دوی ته ويلي چې د بدر په جګړې کې تاسو د خپلوانو له داسي مجهز لښکر سره وجنګېدئ چې ستاسو درې برابره وو، بريا مو په برخه شوه، دا ځکه چې هلته مو ويسا، اعتماد او توکل يوازې پر الله تعالی وو؛ او د لته مو د داسي فوځ په وړاندې ماته وخوړه چې تاسو تر دوی درې ځلې زيات وئ، دا ځکه چې د خپلوانو ملګرتيا او د خپل لښکر ډېرښت ډاډه کړي وئ!! خو همدغه خپلوان مو د ماتې باعث شول.

د حنين په جګړې کې پيغمبر عليه السلام له صفوان بن اميه چې لا ئې ايمان نه وو راوړی خو مسلمانانو ته تسليم شوی وو او پيغمبر عليه السلام امان ورکړی وو؛ څو زغرې او ځيني وسلې په عاريت واخيستې چې د جګړې په پای کې ئې بېرته ورکړې. دا په داسي حال کې چې عائشة رضی الله عنها وايي چې پيغمبر عليه السلام وفرمايل: موږ له مشرک مرسته نه غواړو.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّا لَا نَسْتَعِينُ بِمُشْرِكٍ» رواه ابن

ماجه و غيره

د دې دواړو رواياتو تلفيق داسي دئ چي يو ئې په جګړې کې د مشرك برخه اخيستل دي چي پيغمبر عليه السلام په دې ارتباط ويلي چي موږ له مشركانو استعانت نه غواړو او بل ئې له مشرك وسلې په عاريت او امانت اخيستل دي، لږ تر لږه دومره ويلی شو چي له هغه مشرك وسله او جنګي وسائل په عاريت اخيستلی شو چي د صفوان په څېر وي، نه له هغه مشرك چي محارب وي، مسلمانان ځان ته اړ ګڼي او د برلاسۍ احساس کوي.

د حنين په اړه يو بل روايت هم ډېر په زړه پوري دئ، په کوم کې چي ويل شوي: أم سُلَيم رضی الله عنها چي يوه مجاهده ښځه وه، د انس بن مالك مور او د ابو طلحه انصاري مېرمن وه، نېزه په لاس پيغمبر عليه السلام ته راغله او وئې ويل: يا رسول الله! هغه طلقاء ووژنه چي ته ئې له ماتې سره مخامخ کړې! طلقاء هغه آزاد پرېښودل شوي قريش ول چي د مکې په فتح کې اسيران شول او آزاد پرېښودل شول او د حنين په جنګ کې ئې برخه واخيسته، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: اې أم سُلَيم! يقيناً الله راته کافي شو او ښېګڼه ئې راسره وکړه (الله تعالی له دوی پرته زموږ مرسته وکړه او پر دښمن ئې بری راکړ). روايت دا دئ:

فَقَالَ أَبُو طَلْحَةَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَلَا تَسْمَعُ مَا تَقُولُ أُمُّ سُلَيْمٍ؟ قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، اقْتُلْ مَنْ بَعْدَنَا مِنَ الطُّلَقَاءِ انْهَزَمُوا بِكَ، قَالَ: «إِنَّ اللَّهَ قَدْ كَفَانَا وَأَحْسَنَ يَا أُمَّ سُلَيْمٍ»

---

ثُمَّ يَتُوبُ ٱللَّهُ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ عَلَىٰ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٢٧﴾

بيا له دې وروسته الله د هغه چا توبه قبوله کړه چي ده غوښتل؛ او الله مهربان بخښونکی دئ.

---

(٢٧)- د دښمن په ليکو کې ډېرو ته د توبې او د اسلام لوري ته د ګرځېدو توفيق او د ايمان راوړو سعادت ورپه برخه شو.

په دې جګړې کې نيول شوي اسيران هم آزاد کړی شول، په اسيرانو کې د پيغمبر عليه السلام يوه رضاعي خور هم وه چي کله ئې وپېژنده نو خپلي خوا ته ئې په خپل څادر کښېنوله او په ډېر درناوي او عزت سره ئې رخصت کړه.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡمُشۡرِكُونَ نَجَسٞ فَلَا يَقۡرَبُواْ ٱلۡمَسۡجِدَ ٱلۡحَرَامَ بَعۡدَ عَامِهِمۡ هَٰذَاۚ وَإِنۡ خِفۡتُمۡ عَيۡلَةٗ فَسَوۡفَ يُغۡنِيكُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦٓ إِن شَآءَۚ إِنَّ

ٱللَّهَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٢٨﴾

اې مؤمنانو! مشرکين ناولي او پليت دي، نو له سږکال وروسته دي مسجدالحرام ته نه نژدې کېږي؛ او که له ناداريۍ وېرېږئ نو که الله وغواړي له خپل فضل به مو شتمن کړي، يقيناً چي الله باحکمت پوه دئ.

---

(۲۸)- دا آيت مسلمانانو ته څو لارښووني لري:

مشرکان پليت او ناولي دي، له دې کال وروسته به هغوی مسجدالحرام ته (د حج او عمرې د مراسمو ادا کولو په موخه) نه نژدې کېږي.

که د دې حکم له پلي کېدو دا اندېښنه لرئ چي په دې سره به د مکې ستر تجارتي بازار سوړ شي او تاسو ته به له اقتصادي پلوه تاوان ورسېږي، نو پوه شئ چي که الله تعالی وغواړي نو نه يوازې د دې حکم پلي کېدا او مسجدالحرام ته د مشرکينو په ننوتو بنديز به تاسو ته کوم تاوان ونه رسوي بلکې د پراخ فضل له خزانو به تاسو ته هومره څه درکړي چي شتمن شئ؛ او هيچا ته اړ او محتاج نه وئ. په دې سره حکيم خدای جل شأنه مسلمانانو ته لارښوونه کوي چي که د دښمن له لوري په اقتصادي محاصرو وګواښل شوئ؛ او له دښمن سره مقاطعې او پرېکون دا وېره درسره راپيدا کوله چي ښايي له فقر، لوږې او اقتصادي ستونزو سره به مخامخ شئ، هيڅ پروا ئې مه کوئ، ډاډه اوسئ چي الله تعالی به ستاسو ستونزې او مشکلات حل کوي.

دلته يوه بل ټکي ته هم پام کول ضروري دي او هغه دا چي د مشرکينو نجاست او پليتوالی معنوی نجاست او پليتوالی دئ، هدف ترې د دوی شرکي عقائد او ناپاك افکار او اخلاق دي؛ او له نژدې کېدو مراد د حج لپاره مسجدالحرام ته راتګ دئ، له دې دا حکم رااېستل چي هيڅ مشرك مسجدالحرام او حتی نورو مسجدونو ته نشي ننوتی او مسلمانان بايد دا اجازه ورنه کړي؛ که دا اجازه ورکړي نو ګناه ئې کړې!! صحيح انتباه نه ده، نه د دې آيت له الفاظو دا انګېرنه استنباط کېدی شي او نه پيغمبر عليه السلام داسي کړي، پيغمبر عليه السلام له ډېرو کافرانو او مشرکانو سره په نبوي جومات کې ليدني کتني کړې او هغوی ته ئې بلنه ورکړې ده.

---

قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَلَا بِٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ
وَرَسُولُهُۥ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ ٱلۡحَقِّ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ حَتَّىٰ يُعۡطُواْ
ٱلۡجِزۡيَةَ عَن يَدٖ وَهُمۡ صَٰغِرُونَ ﴿٢٩﴾

له هغو سره چي کتاب ورکړی شوی؛ خو نه پر الله ايمان لري او نه د آخرت پر ورځې؛

او نه هغه څه حرام ګڼي چې الله او پیغمبر ئې حرام کړي او نه حق دین ته غاړه ږدي، تر هغه وجنګېږئ چې له خپله لاسه په داسې حال کې جزیه ورکړي چې ځان ووړ ګڼي.

---

(۲۹)- له دې آیت تر ۳۵ آیت پورې د بحث مخه له مشرکینو د اهل کتاب په لوری اوښتې، داسې معلومېږي چې له حجاز د بُتپالو مشرکینو د ټغر له ټولېدو وروسته د دې وخت رارسېدلی وو چې له مشرکو اهل کتاب هم پاکه شي، حجاز د توحید په ډاډمن مرکز بدل شي، له کورنیو دښمنانو تصفیه شي، له هغو خطرناکو دښمنانو چې په تېرو کلونو کې په وار وار له اسلام، توحید، مسلمانانو او موحدینو سره جنګېدلي وو، له مسلمانانو سره ئې خپلې ژمنې او معاهدې په وار وار تر پښو لاندې کړې وې، په حجاز کې ئې د شوکو، غارت، جګړو، بې امنیو، فساد او ظلم بازار ګرم کړی وو، نه د بې وزلو سر په کې خوندي وو، نه مال او نه عزت، یهودان او مسیحیان په هغو بهرنیو دښمنانو پورې تړلي ول چې غوښتل ئې دا سیمه د دین او مذهب تر غولوونکي نامه لاندې اشغال کړي، دوی د شتمنیو خاوندان ول، د سود له لارې ئې د عربانو شتنمۍ لوټلې، ښېرازه زمکې ئې ترې اخیستلې، ورځ په ورځ ئې په دې سیمې د سلطې دائره پراخېدله، دوی تر مسلمانانو مشرکین غوره او ځان ته نژدې ګڼل، تل به ئې د مسلمانانو په ضد د هغوی مرسته او ملاتړ کاوو، د مشرکینو له ځپلو وروسته اوس د دوی له شره د اسلامي نظام د خوندي کولو وخت رارسېدلی وو، د همدې لپاره الله تعالی مسلمانان له دغه خطرناك دښمن سره د مقابلې لپاره چمتو کوي، دوی ته وايي چې دا اهل کتاب نه پر خدای ایمان لري، نه پر آخرت، نه هغه څه حرام ګڼي چې الله تعالی او د ده پیغمبرانو حرام کړي او نه د حق دین متابعت کوي، نه ئې پر الله تعالی او آخرت د ایمان دعوی رښتینې او د اعتبار وړ ده، نه ئې دین ته د التزام دعوی؛ او نه هغه څه حرام ګڼي چې هر الهي دین حرام کړي، له دوی سره تر هغه وجنګېږئ چې یا حق دین ته غاړه کښېږدي، له شرك، کفر، ظلم او فساد لاس واخلي یا په داسې حال کې جزیه ورکړي چې زور ئې ځپل شوی، د اسلامي نظام په وړاندې خاضع او خاشع دي او له اطاعت او تسلیمېدا پرته بله چاره نه لري.

له دې مبارك آیت په ډېر صراحت سره معلومېږي چې د هغه مهال اهل کتاب هسې په نوم اهل کتاب وو، نه په خپلې عقیدې کې واقعي اهل کتاب ول او نه د حلال او حرام په مراعات کې، عقائد او افکار ئې د کتاب خلاف او عمل ئې د کتاب په ضد. دا د الله تعالی سنت دئ چې تر هغه نوی پیغمبر او نوی لارښود کتاب نه رالېږي چې خلك مخکینی کتاب په بشپړه توګه شا ته وغورځوي، د مخکیني کتاب هیڅ څه روغ او سالم پاته نه وي، د مخکیني پیغمبر ټولې لارښوونې په کامله توګه هېرې شوې وي او پر ټولنې د شرك او خرافاتو تیارې ورېځې داسې نه وي خورې شوې چې خلکو ته د حق او باطل تر منځ تفکیك ګران او دې ته اړ شوي وي چې الله تعالی د دوی د نجات لپاره نوی پیغمبر او د

دوی د لارښوونې لپاره نوی کتاب راولېږي.

اهل کتاب په جزيې مکلف شوي، جزيه هغه مال دئ چې د اسلامي حکومت تر سيورې لاندې اوسېدونکې اهل کتاب ئې بايد حکومت ته ورکړي؛ او دا د هغه امنيت او حفاظت په بدل کې چې اسلامي حکومت ئې د دوی لپاره تأمينوي، مسلمانان اسلامي حکومت ته زکات او عشر ورکوي او اهل کتاب جزيه، د جزيې مقدار هم د دوی مالي حالت ته په پام سره ټاکل شوی، له غنيانو هر کال ٤٨ درهمه، له متوسط الحال ٢٤ درهمه او له فقيرو کسبه کارانو ١٢ درهمه؛ مسکين، ړوند، ګوډ، شل، بوډا، ښځه او ماشوم نه يوازې معاف دي بلکې د مرستې مستحق ګڼل کېږي، همدا راز که اسلامي حکومت د کومې سيمې د اوسېدونکو د امنيت له تأمينولو عاجز شي نه يوازې دا چې له هغوی جزيه نشي غوښتلی بلکې تر لاسه کړې جزيه هم بايد بېرته هغوی ته مسترد کړي، البته د هغې مودې برخه چې د امنيت له تأمينولو عاجز شوی او د سيمې پرېښودو ته اړ شوی.

د دې آيت له دې فقرې (و هم صٰغرن) معلومېږي چې جزيه د هغو وګړو لپاره وضع شوې چې د مسلمانانو بر لاسي ته غاړه ږدي او د اسلامي حکومت د يوه تبعه په څېر ژوند کوي.

---

وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ عُزَيۡرٌ ٱبۡنُ ٱللَّهِ وَقَالَتِ ٱلنَّصَٰرَى ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ ٱللَّهِۖ ذَٰلِكَ قَوۡلُهُم بِأَفۡوَٰهِهِمۡۖ يُضَٰهِـُٔونَ قَوۡلَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَبۡلُۚ قَٰتَلَهُمُ ٱللَّهُۖ أَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ﴿٣٠﴾

او يهودانو وويل: عزير د خدای زوی دئ او مسيحيانو وويل: مسيح د خدای زوی دئ، دا هسې د دوی د خولو خبرې دي، له هغو کافرانو سره خپله خبره ورته کوي چې (تر دوی) مخکې ول، الله دې دوی هلاك کړي، څنګه دوکه کېږي؟!!

---

(٣٠)- دا آيت لاندې لارښوونې د يهودو او نصرانيانو د پېژندنې لپاره موږ ته راکوي:

يهودانو د خپل پيغمبر عزير عليه السلام په اړه غلو وکړه، هغه ئې د خدای زوی او څای ناستی وګڼلو او نصرانيانو مسيح عليه السلام د خدای زوی او ځای ناستی وګڼلو، دوی هغه صفات دغو پيغمبرانو ته منسوب کړل چې يوازې له الله تعالی سره ښايي.

دا د دوی د خولو خبرې وې، له خپله ځانه ئې جوړې کړې وې، نه الله تعالی په خپل کتاب کې کړې وې او نه دغو پيغمبرانو دوی ته ويلې وې.

د پيغمبرانو په اړه دا عقائد دوی له مخکينيو کافرو او مشرکو قومونو اقتباس کړي ول.

دوی د تباهۍ او هلاکت وړ دي.

د دوی په دې غلطو عقائدو حيرت او افسوس په کار دئ، څه شي د دوی پر عقل پرده غوړولې او داسي غلطو عقائدو ته ئې اړ کړي؟ څنګه يو انسان هغه مقام ته رسوي چي د خدای زوی او ځای ناستی ترې جوړ کړي؟!

بايد وګورو چي د يهودانو، نصرانيانو او نورو مشرکو او کافرو قومونو چي په شخصيت پالني او شرك کې دې پړاو ته رسېدلي چي له انسان خدای جوړ کړي؛ د دې عقيدې معنی څه ده او د دې انحراف وجه څه ده؟

څوك چي کوم انسان ته هغه صفات منسوب کړي چي يوازي له الله تعالی سره ښايي، دومره ستاينه ئې وکړي چي د انسانيت له مقامه ئې لوړ کړي او د خدايي تر مقامه ئې ورسوي، په داسي صفاتو سره ئې وستايي چي الله تعالی نه دئ ستايلی، په داسي نومونو ئې ياد کړي چي الله تعالی نه دئ ياد کړئ، داسي افعال ورته منسوب کړي چي انسان ئې له کولو عاجز دئ او يوازي الله تعالی ئې کولی شي، د داسي آفاقي اختياراتو واکمن ئې وبولي چي يوازي له الله سره دي، په غيب پوه، د دعاءګانو اورېدونکی او إجابت کوونکی، د مشکلاتو حلوونکی، د ضرر دفع کوونکی، د منفعت رسوونکی، د ټول عالم او يا د يوې برخي د چارو متصرف او سمبالوونکی او ئې د چارو په اداره کې د خدای شريك او له لرې او په غياب کې د چيغو او دعاءګانو اورېدونکی وګڼي؛ په حقيقت کې ئې هغه د الوهيت مقام ته رسولی، غلو ئې کړې او د شرك مرتکب شوی. قرآن په مکرره توګه او په وار وار او د بېلابېلو پيغمبرانو د قصو په ترڅ کې خپل مخاطب ته وايي چي پيغمبران په غيب نه پوهېدل، په خپله ئې خلکو ته ويل چي موږ په غيب نه پوهېږو، د ګټې او ضرر واك راسره نشته، نه پوهېږو چي له موږ سره به څه کېږي او له تاسو سره به څه کېږي، تاسو هم انتظار وکړئ او موږ هم منتظر يو.

د زمانې په هر پړاو کې چي خلکو د انسان په بنې کې ځان ته معبود جوړ کړی، د کوم انسان په ستاينې کې ئې دومره غلو او افراط کړی چي هغه ئې د خدای زوی او ځای ناستی او د الهي صفاتو خاوند ګڼلی، دا کاذب او دروغجن معبودان يا ټګمارو مذهبي مشرانو جوړ کړي، يا مکارو سياسي مشرانو؟! کاذب معبود هم د مذهبي مشر په لاس کې دام وي او هم د مکار سياسي مشر په لاس کې د خپل حريف د ماتولو توره او ډال؛ او دا دواړه د انساني نړۍ عجيبي او حيرانوونکي کرشمې دي. يو داعي او مصلح به د ظلم خلاف قيام وکړي، د محکومو او مظلومو انسانانو لپاره به آزادي او عدالت وغواړي او په اوچت غږ به ووايي: انسانان ټول برابر پيدا شوي، ظلم او جهل دوی په خپلو کې وېشلي، له يوه ئې بادار او له بل مريي جوړ کړی، دا د ظلم نظام ړنګ کړئ، دا د مظلومانو په لاس پښو کې پراته زنځيرونه مات کړئ، انسان بايد له خپل رب پرته بل ته سر ټيټ نه کړي... مظلومان به ده او د ده دعوت ته د شك په سترګه وګوري، ظالمان به ئې خطرناك وګڼي، د پاچا او امپراطور له نظام، دين او مذهب د بغاوت په جرم به متهم شي، مذهبي مشران

به ئې د وژلو فتوى ورکړي، قاضي به ئې په قتل محکوم کړي، په دار به شي، جسد به ئې په اور کې واچول شي، په صليب به وځړول شي، خو همدا باغي، مطرود، محکوم او په صليب خېژول شوى به له لنډې مودې وروسته د يوه نوي پاچا او امپراطور لپاره د خپل مخکيني رقيب په ضد يوه مؤثره وسيله شي، هغه به د ظلم قرباني وګڼي، مجسمې به ئې جوړې کړي، هماغه مخکيني مذهبي مشران به ئې يوه سپېڅلې هستي وګڼي، د ده د لمانځنې فتوى به ورکړي، له ده سره به هر مخالفت او د ده په ضد هره وينا او له عظمت ئې هر انکار به له خداى او له نوي نظام او له نوي دين او مذهب بغاوت وګڼي، هومره تبليغات به ورته وکړي او په داسي نومونو به ئې وستايي چې عوام به ئې خداى وګڼي، د هغه مجسمې به جوړې کړي، يو به ئې د مجسمو دکان جوړ کړي، دا به ئې حرفه شي، په خرڅولو به ئې ډېر څه تر لاسه کړي، بل به ئې د څه تر لاسه کولو لپاره مجسمې ته په سجده شي، هغه ته به خپل حاجتونه وړاندې کوي، مرستې ته به ئې رابلي، د خداى ځاى ناستى به ئې کړي، په دې ترتيب به د نوي سياسي نظام په څنګ کې نوى مذهب رامنځته شي، د زوړ نظام باغي به د نوي نظام (اله) شي، ټګمار مذهبي مشر به هم د (باغي) ګرځولو په فتوى سره خپله اجوره تر لاسه کړي او هم له هغه (باغي) د (اله) جوړولو په فتوى سره!! پرون د مخکيني نظام د معبد مجاور وو او نن د هغه (باغي) د قبر مجاور او متولي، دا د طاغوت په لاس د هر محرف مذهب د رامنځ ته کېدو قصه ده او دا د شخصيتونو، قبرونو او بتانو د لمانځونکو قصه ده. له عزير عليه السلام سره همداسي وشول، له عيسى عليه السلام سره همداسي وشول، له بودا سره همداسي وشول، له محمد عليه السلام سره بريلويان او متصوفين همداسي کوي او له علي رضى الله عنه سره شيعه ګان همداسي کوي؛ او له ډېرو نورو سره ټګمارانو، جاهلانو او مشرکانو همداسي کړي!!

آيا دې ته مو توجه کړې چې څنګه نن د هري کليسا په هر دېوال د عيسى عليه السلام هغه مجسمه ترسترګو کېږي چې په صليب ئې ځوړند ښيي، په لاسونو او پښو ئې مېخونه ټک وهل شوي، وجود ئې تغمې تغمې، زخمي زخمي او په وينو سور؟ له مجاور پوښتنه وکړه چې دا څوک دئ؟ ولې په داسي دردوونکې حالت کې ښودل شوى؟ ځواب ئې دا دئ: دا مسيح، د خداى زوى او په خپله خداى دئ، زمکې ته راغلى وو، د خپلو بندګانو د ژغورنې لپاره!! پوښتنه وکړه: مګر څوک کولى شي چې خداى په دار کړي، په لاسونو ئې مېخونه ټک وهي، په درو ئې ووهي؟ ځواب ئې دا دئ: هيڅکله نه، ده په خپله ځان قربانۍ ته وړاندې کړ، چې زمونږ د ګناهونو فديه ورکړي او د قيامت په ورځ د ده ټول منونکې له مؤاخذې او مجازات پرته مخامخ جنت ته ولاړ شي!! پوښتنه وکړه: آيا دا د عدل او عقل خلاف کار نه دئ چې يو بې ګناه د بل ګنهګار په جرم مجازات شي، ولې به خداى خپل زوى د ګنهګارانو لپاره مجازات کوي؟ ولې به عادل خداى ګنهګاران بې مجازاته پرېږدي او د دې پر ځاى به يو بې ګناه په داسي دردناکه توګه مجازات کوي؟! پوښتنه وکړه چې دا

نورې مجسمې د چا دي، دوی ولې په صليب ځوړند ښودل شوي، دوی هم هر يو بېل خدای وو که همغه يو خدای په بېلو بېلو څېرو کې؟ وايي به: دا د مسيح حواريون وو، د ده ملګرتيا ئې وکړه او په همدې جرم په صليب ځوړند او په اور کې وسوځول شول، پلار خدای او زوی مسيح همداسي غوره ګڼله!! پوښتنه وکړه: د دوی او د مسيح تر منځ توپير په څه کې دئ؟ د صليب پر سر خو ټول يو رنګ برېښي، مظلوم انسانان، د ظالمانو په لاس په دار ځړول شوي، پر لاسونو او پښو ئې مېخونه ټك وهل شوي او...!! دا ولې د هغه صليب نښه نن د هر مسيحي په سينه ځوړنده ده؟ په دې صليب خو بايد د هغه امپراطور جسد ځوړند شوی وی او د هغه د قبر د پاسه نصب شوی وی چي دا ئې مسيح عليه السلام او د ده د حواريونو لپاره جوړ کړی وو!! ولې بايد د مسيحيانو د غاړو طوق وي؟ صليب خو د ماتولو دئ نه د لمانځلو، دا خو د وحشت او ظلم نښه ده، سپکول او سوزول ئې په کار دي، نه په غاړه ځوړندول ئې؟ پوښتنه وکړه: هغه خدای به ستا حاجتونه څنګه تر سره کړی شي چي ځان ئې ونه ژغورو، خپل ملګري ئې ونه ژغورل؟ څنګه ومنو چي د زمکي او آسمانونو پيدا کوونکی خدای د مسيح د وړوکي جسد په اندازه وړوکی کېدی شي، پر خپل ځان داسي لوبي هم منلی شي؟ او دې ته ورته سلهاوو نورو پوښتنو ته هيڅ ځواب نه شې تر لاسه کولی، يو ځواب به واورې: کليسا ته راشه، د زېړو اوبو غسل وکړه، د کشيش د لاس مقدس خواړه وخوره، مسيح ته په خپل زړه کي ځای ورکړه، په تندي او د خپلي سينې په ښي او کيڼ لوري داسي لاس کېده چي د صليب نښه ترې جوړه شي، حقيقت به درك کړې او د خپلو پوښتنو ځوابونه به تر لاسه کړې!! او نور هيڅ!!

قرآن دوی ته په څومره اغېزمنه توګه وعظ کوي او فرمايي:

﴿يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَا تَغۡلُواْ فِي دِينِكُمۡ وَلَا تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّۚ إِنَّمَا ٱلۡمَسِيحُ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ رَسُولُ ٱللَّهِ وَكَلِمَتُهُۥٓ أَلۡقَىٰهَآ إِلَىٰ مَرۡيَمَ وَرُوحٞ مِّنۡهُۖ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦۖ وَلَا تَقُولُواْ ثَلَٰثَةٌۚ ٱنتَهُواْ خَيۡرٗا لَّكُمۡۚ إِنَّمَا ٱللَّهُ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ سُبۡحَٰنَهُۥٓ أَن يَكُونَ لَهُۥ وَلَدٞۘ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلٗا ١٧١﴾

النساء:١٧١

اې اهل کتاب! په خپل دين کي غلو مه کوئ او د الله په اړه له حق پرته بل څه مه وايئ، بې شکه چي مسيح د مريمې زوی خو يوازي د الله رسول او د ده هغه کلمه وو چي مريمې ته ئې القاء کړې وه او د ده يوه روح، نو پر الله او پېغمبرانو ئې ايمان راوړئ او مه وايئ چي (خدايان) درې دي، ډډه وکړئ، چي دا درته غوره دئ، الله خو يوازينی اله دئ، له دې منزه دئ چي کوم زوی ئې وي، څه چي په آسمانونو کي دي او څه چي په زمکي کي

دي ټول د ده دي او الله د وكيل په توګه كافي دئ.

ٱتَّخَذُوٓاْ أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَٱلۡمَسِيحَ ٱبۡنَ مَرۡيَمَ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُوٓاْ إِلَٰهٗا وَٰحِدٗاۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ سُبۡحَٰنَهُۥ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٣١

له خپلو ملايانو او پيرانو ئې له الله پرته خدايان جوړ كړل؛ او له مسيح د مريمې له زوى هم، په داسي حال كې چې يوازې په دې ګمارل شوي وو چې د هغه يوازيني معبود عبادت به كوي چې له ده پرته بل معبود نشته، له هغه څه منزه دئ چې (دوى ئې ورسره) شريكوي.

(٣١)- په دې مبارك آيت كې د شخصيت پالني په اړه دا لارښووني شوې: يهودانو خپل علماء او ملايان(احبار) او نصرانيانو خپل مشائخ او پيران (رهبان) او مسيح عليه السلام په ربوبيت ونيول، هغوى ته ئې د رب او معبود په سترګه وكتل، يهودانو د حلال او حرام په اړه د خپلو ملايانو او علماءو خبره وروستۍ خبره وګڼله، چې د الهي معيارونو له مخې همدا شرك او په داسي صفت كې له الله تعالى سره د بل چا شريكول دي چې يوازې له الله تعالى سره ښايي، نصرانيانو خپل مشائخ او پيران په غيب پوه او د حاجتونو تر سره كوونكي وګڼل او په الهي معيارونو كې همدا شرك او په هغه صفاتو كې له الله تعالى سره د بل چا شريكول دي چې د الله تعالى لپاره مختص دي. دا په داسي حال كې چې دوى ته امر شوى وو چې له الله تعالى پرته به د هيچا عبادت نه كوئ.

دا مبارك آيت موږ ته د (عبادت) دقيقه معنى راښيي، عبادت يوازې ځانځنه او د چا په وړاندي تندى پر زمكه ايښودل نه دي؛ له قيد او شرط پرته اطاعت، د چا په اړه دا عقيده ساتل چې په غيب پوهيږي او د ده حاجتونه تر سره كولى شي، له همدې باور سره له چا طمع او ويره درلول هم عبادت ګڼل شوى. يهودو او نصرانيانو د خپلو علماءو، پيرانو او پيغمبرانو په اړه همدا عقيده درلوده نو ځكه قرآن هغوى ته د مشرك خطاب كوي.

دا مطلب په يوه روايت كې داسي توضيح شوى:

عَنْ عَدِيّ بن حَاتِمٍ، قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم وَفِي عُنُقِي صَلِيبٌ مِنْ ذَهَبٍ، فَقَالَ:"يَا عَدِيُّ اطْرَحْ هَذَا الْوَثَنَ مِنْ عُنُقِكَ"، فَطَرَحْتُهُ، فَانْتَهَيْتُ إِلَيْهِ وَهُوَ يَقْرَأُ سُورَةَ بَرَاءَةٌ، فَقَرَأَ هَذِهِ الآيَةَ: "اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ"[التوبة: آية ٣١] حَتَّى فَرَغَ مِنْهَا، فَقُلْتُ: إِنَّا لَسْنَا نَعْبُدُهُمْ، فَقَالَ: "أَلَيْسَ يُحَرِّمُونَ مَا أَحَلَّ اللَّهُ فَتُحَرِّمُونَهُ

وَيُحِلُّونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ، فَتَسْتَحِلُّونَهُ، "قُلْتُ: بَلَى، قَالَ:"فَتِلْكَ عِبَادَتُهُمْ"، المعجم الكبير للطبراني

**له عدي بن حاتم روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم ته په داسي حال کي راغلم چي په غاړه مي د سروزرو صليب ځړېدو، نو وئې فرمايل: اې عدي! دا نښه (بُت) دي له غاړي لري وغورځوه، نو ما لري کړ، بيا په داسي حال کي د ده خوا ته ورغلم چي د براءة سوره ئې قرائت کوله او دا آيت ئې ولوست: (اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللهِ: خپل ملايان او پيران ئې له الله پرته ځان ته خدايان وگرځول)، تر هغه چي ترې فارغ شو، نو ما ورته وويل: موږ خو د دوی عبادت نه کوو، وئې فرمايل: آيا هغه څه حرام نه گڼي چي الله تعالی حلال کړي او تاسو ئې هم حرام گڼئ او هغه څه حلال نه گڼي چي الله تعالی حرام کړي او تاسو ئې هم حلال گڼئ؟ ومي ويل: هو؛ وئې فرمايل: همدا د دوی عبادت دئ.**

**يعني اهل کتاب د خپلو علماءو او مشائخو په وينا هغه څه حلال وگڼل چي د الله په دين کي حرام ول او هغه څه ئې حرام وگڼل چي الله حلال کړي ول، همدا کار په حقيقت کي هغوی ته د دوی عبادت وو.**

---

يُرِيدُونَ أَن يُطْفِـُٔواْ نُورَ ٱللَّهِ بِأَفْوَٰهِهِمْ وَيَأْبَى ٱللَّهُ إِلَّآ أَن يُتِمَّ نُورَهُۥ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿٣٢﴾

**غواړي د الله نور په خپلو خولو سره مړ کړي، په داسي حال کي چي الله تر هغه لاس نه اخلي چي خپل نور بشپړ کړي که څه هم کافران (ترې) کرکه ولري.**

---

**(٣٢)- دا مبارك آيت مسلمانانو ته لارښوونه کوي چي:**

**يهودان او نصاری غواړي په خپلو تبليغاتو سره د اسلام د خورېدو مخه ونيسي، خو د دوی هڅه دې ته ورته ده لکه څوك چي وغواړي د الله نور د خولې په پوکي سره مړ کړي، په داسي حال کي چي الله تعالی په قطعي توگه پرېکړه کړې چي خپل نور بشپړ کړي.**

**ډاډه اوسئ چي د دوی هلي ځلي به هدر کېږي او دا نور به نړۍ روښانه کوي، که څه هم کافران له دې کرکه ولري او خپل ټول توان طاقت د دې لپاره وکاروي چي د خورېدو مخه ئې ونيسي.**

---

هُوَ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلْهُدَىٰ وَدِينِ ٱلْحَقِّ لِيُظْهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْمُشْرِكُونَ ﴿٣٣﴾

دی هغه ذات دئ چې خپل پیغمبر ئې له هدایت او حق دین سره لېږلی چې پر ټولو دینونو ئې غالب کړي که څه هم مشرکان (ترې) کرکه ولري.

(۳۳)- دا آیت موږ ته وایي: پیغمبر علیه السلام له دوو شیانو سره راغلی: (حق دین) او (هدایت)، یعني هغه هم (قانون) راوړی او هم (تګلاره)، هغه موږ ته وایي: د اسلامي ټولنې په فردي او اجتماعي برخو کې به کوم (قانون) حاکم وي او د دې ټولنې د جوړولو لپاره به کومه (تګلاره) غوره کوو. په پیغمبرانو باندې د ایمان تقاضا دا ده چې موږ به د خپل فردي او اجتماعي ژوند په ټولو اړخونو کې، اهداف او اهدافو ته د رسېدلو تګلاره، د پیغمبر په دعوت او سنت کې لټوو، له خپلې خوا او په خپله خوښه به نه اهداف ټاکو او نه اهدافو ته د رسېدلو تګلارې او کړنلارې، بلکې د دواړو په اړه به د پیغمبر علیه السلام سنت او لارښوونو ته رجوع کوو.

ځیني کسان داسې دي چې که اهداف له دین اخلي، نو هدف ته د رسېدو طریقه او تګلاره په خپله خوښه ټاکي، ګمان کوي چې په دې برخه کې انسان ته کاملاً آزادي ورکړی شوې او په څه قید او شرط ملزم او مکلف نه دئ، کولی شي په خپلو خاصو ظروفو او شرائطو کې څنګه چې ئې زړه غواړي عمل وکړي او د خپل تشخیص او درك په رڼا کې چې څه کول غواړي هغه وکړي او چې کومه تګلاره غوره ګڼي اختیار ئې کړي، هر څه کول ځان ته جائز ګڼي، حال دا چې مسلمان مکلف دئ د شرعي او نېکو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره نېکې او شرعي وسیلې اختیار کړي، نه ناجائزې وسیلې او هر هغه څه چې د ده زړه ئې غواړي.

همدا راز دا آیت موږ ته وایي: د پیغمبر علیه السلام په لاس لېږل شوی لارښود حقیقي دین نه له نورو ادیانو سره د روغې جوړې لپاره راغلی او نه د دې لپاره چې دنیا له نورو ادیانو سره ووېشي، چې په یوه برخه ئې دا دین حاکم وي او په نورو برخو کې نور ادیان، د دې لپاره هم نه دئ راغلی چې د انسان ژوند له نورو ادیانو سره ووېشي چې د ژوند په ځینو اړخونو دا دین حاکم وي او په نورو ابعادو کې ئې نور ادیان، بلکې دا دین راغلی چې پر ټولو نورو ادیانو غالب شي، که څه هم مشرك عناصر له دې کرکه ولري، مشرك عناصر یا هغه دي چې ادیان سره خلطوي، څه برخه له یوه دین اخلي او څه له بل، اهداف په دین کې لټوي خو تګلاره په خپله خوښه او د خپل ذهن او تصور مطابق ټاکي؛ او یا هغه چې په الوهیت او ربوبیت کې له الله جل شانه سره بل څوك شریکوي، که څه هم دا مشرکین له دې کرکه لري چې د الله دین دې پر ټولو ادیانو غالب شي، پر ټولې نړۍ او د ژوند پر ټولو برخو دې یوازې دا دین حاکم وي؛ خو د الله جل شأنه فیصله دا ده چې دا دین به پر ټوله زمکه او پر ټولو ادیانو غالبوي. دې مطلب ته په بل ځای کې داسې اشاره شوې:

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدٗا ﴿٢٨﴾ الفتح:٢٨

الله هغه ذات دئ چي خپل پيغمبر ئې له هدايت او حق دين سره لېږلی چي پر ټولو اديانو ئې غالب کړي. او الله د شاهد په توګه کافي دئ.

يعني الله تعالی په دې خبري شهادتورکوي چي د خپل پيغمبر په لاس لېږلی دين ئې د غلبې او حاکميت لپاره لېږلی، نه له نورو اديانو سره د روغي جوړي لپاره. څوك چي د دين په اړه له دې پرته بله خبره کوي، دروغ وايي او حقيقت مسخ کوي.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلۡأَحۡبَارِ وَٱلرُّهۡبَانِ لَيَأۡكُلُونَ أَمۡوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡبَٰطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۗ وَٱلَّذِينَ يَكۡنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلۡفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٖ ﴿٣٤﴾

اې مؤمنانو! د احبار (ملايانو) او رهبان (پيرانو) ډېری د خلکو مالونه په ناحقه خوري او د الله له لاري مخنيوی کوي او هغه چي سره او سپين زر ذخيره کوي او د الله په لار کي ئې نه مصرفوي نو د دردناك عذاب زېری ورکړه.

---

(٣٤)- د دې مبارك آيت په ترڅ کي الله تعالی موږ ته د اهل کتاب ټګمار علماء او دوکه مار پيران معرفي کوي او فرمايي:

د دوی ډېری د خلکو مالونه په ناحقه خوري.

د الله له لاري مخنيوی کوي.

يعني له دين ئې ځان ته دکان جوړ کړی، خلك غولوي او شکرانې ترې اخلي، د پيسو په مقابل کي فتوی ګاني پلوري، د حکامو په خدمت کي وي، د هغوی د تخت او تاج د بقاء دعاء کوي چي څه زهر او زقوم په خوله کي ورواچوي، د سودخورو په ګټه سودي معاملات روا ګڼي، د دې لپاره چي سودخورو هغوی ته کومه چېنه او پګړۍ ورکړي وي.

دغو ټګمارانو به په دې توګه حرام مال تر لاسه کاوو: رشوت، سود، د الله په نامه څه تر لاسه کول او په خپله ئې خوړل، د ګناهونو د بخښلو، جنت ته د ننوتو او له دوزخ د ژغورل کېدو اسناد پلورل، د حکامو لپاره فتوی ګاني ورکول، په فال، تعويذ، کوډو او دم شکرانې او نذرانې تر لاسه کول. قرآن د همدې لپاره د دوی په اړه فرمايي:

وَتَرَىٰ كَثِيرٗا مِّنۡهُمۡ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِ وَأَكۡلِهِمُ ٱلسُّحۡتَۚ لَبِئۡسَ مَا

كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴿٦٢﴾ لَوْلَا يَنْهَىٰهُمُ ٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلْأَحْبَارُ عَن قَوْلِهِمُ ٱلْإِثْمَ وَأَكْلِهِمُ ٱلسُّحْتَ لَبِئْسَ مَا كَانُواْ يَصْنَعُونَ ﴿٦٣﴾ المائدة: ٦٢- ٦٣

او ډېرى به ئې وګورې چې په ګناه، تېري او د حرامو په خوړلو کې تلوار کوي، څومره بد دئ هغه څه چې دوى ئې کوي. ولې ئې خداى پالونکي او علماء د ګناه له وينا او د حرامو له خوړلو منع کوي؟! ډېر بد دئ هغه څه چې دوى ئې کوي.

په ٦٢ آيت کې د ايمان منافي درې ستر ستر کارونه په ګوته شوي:

په ګناه کې تلوار.

د بل پر حق تېري او تجاوز کې تلوار.

د حرامو په خوړلو کې تلوار.

له دغو بدو کړو وړو سره سره به الله تعالى څنګه د دوى د ايمان دعوى قبلوي؟

د دوى د علماءو او مشائخو حالت هم داسي دئ چې نه خلك له بدي او غلطي وينا منع کوي او نه د حرامو له خوړلو، د چا په ښه او بد کار نه لري، له بدو حساسيت په کې مړ شوى او له وضعيت سره ئې روغه جوړه کړې، د حکامو په خدمت کې دي، په يوه مفسد او ګنهګار قوم کې هغه څوك د منلي عالم او پير په نامه شهرت مومي چې د عام ولس په خبر وي، د دوى د خوښي خبري کوي، نه د غلطي وينا مخالفت کوي او نه سمي او حق وينا ته خلك رابلي، له حکامو سره ئې لاس يو کړى وي، د کومي ټولني علماء او مشائخ چې داسي وي، حکام او عام ولس به ئې څنګه وي؟

که تاريخ ته رجوع وکړو نو په څرګنده توګه به وګورو چې دين يا ظالمو واکمنانو تباه کړى، يا دين پلورونکو بدو علماءو او يا دوکه مارو پيرانو؛ او دا همغه څه دي چې عبدالله بن مبارك رحمه الله په خپلي کښلې (ښکلې) وينا کې ويلي: و هل افسد الدين الاالملوك و احبار سوء و رهبانها؟؛ هرکله چې د الله دين د ټګمارو علماءو او دوکه مارو پيرانو په لاس کې پرېوتی، له دين ئې دام او دکان جوړ کړى، خلك ئې پرې غولولي او خپل جيبونه ئې ډك کړي، په دين کې ئې داسي لاسوهني کړې چې خلك دوى د خداى استازي وګڼي او په خپلو مالونو کې د الله تعالى برخه دوى ته وسپاري؛ زکات، عشر او صدقات د بې وزلو، فقيرانو او مسکينانو په ځاى دوى ته ورکړي، الله تعالى هغه مهال نوى کتاب له نوي پيغمبر سره رالېږلى چې دغو ټګمارانو د الله مخکينى دين تحريف کړى او دوى پدې توانېدلي چې له دين د خلکو د تحميق او ناوړه ګټې تر لاسه کولو وسيله جوړه کړي، د پيغمبر د لېږلو وجه ئې دا ښودلې چې هم الهي دين او هم د الله مظلوم بندګان د ټګمارانو له منګولو وژغوري، د دوى له خوا جوړ شوي خرافات او په دين پورى تړل شوي تورونه له منځه يوسي، د خلکو پر اوږو په ناحقه اېښودل شوي درانه بارونه کوز کړي او د همدې مکارو او دروغجنو له خوا د خلکو په لاس پښو کې اچول شوي زنځيرونه مات کړي، د الله تعالى او

خلکو تر منځ جوړ شوي هغه حجابونه او خنډونه نسکور کړي چي خلك له خپل رب لري کوي او د دغو ټګمارانو پښو ته ئې غورزوي، خلکو ته دا وښيي چي دا د دېن دروغجن او مکار ټيکه داران، د بندګانو او الله تر منځ واسطه ندي، الله تعالى ته د رسېدو لاره له دوى نده تېره شوې، هر بنده کولى شي له خپل رب سره مخامخ او له واسطې پرته؛ او چا ته له شکرانې او نذرانې ورکولو پرته راز او نياز وکړي او دا ورته په ډاګه کړي چي خداى د ټولو رب دئ، هر چېري د هرچا دعاء او فرياد اوري، هر بنده ته د غاړى تر رګ ورنږدې دئ، هغه ته د رسېدو لپاره هيڅ وسيلى ته اړتيا نشته، هيڅوك د هغه له اجازې او امر پرته د هيچا شفاعت نه شي کولى، چا ته چي الله تعالى د زيان اراده کړې وي هيڅوك خير نشي وررسولى او چا ته ئې چه خير غوښتى وي هيڅوك ضرر نشي وررسولى. او ټولو ته اعلانوي چي خداى ته رجوع وکړئ، يوازي د ده عبادت وکړئ او يوازي له ده مرسته وغواړئ.

بايبل په دين او الهي کتاب کې د احبار او رهبان په ناولو لاسونو د تحريف څرګنده بېلګه ده، محرف بايبل د زمکو او باغونو لومړى حاصل او د څارويو لومړي بچيان د خداى حق ګڼي، خو دا نه وايي چي دا به د خداى په نامه د ده بې وزلو او نادارو بندګانو ته ورکوئ او د الله تعالى په لار کې به ئې مصرفوئ، بلکې دا د معبد د مجاور برخه ګڼي. د بايبل له دغي برخي په ډاګه معلومېږي چي دا کتاب د هغه چا له لوري تحريف شوى چي له دين دام جوړوي او جاهل عوام پرې غولوي، هر هغه دين او مذهب چي يوه مفت خوره ډله رامنځ ته کوي، د خلکو د قربانيو په اړه ئې د خداى ځاى ناستې ګڼي او عوامو ته وايي: د خداى برخه دغي مذهبي ډلي ته وسپارئ، دا يو غولوونکى دين او مذهب دئ، دا همغه مذهب دئ چي ټول پيغمبران عليهم السلام ئې مقابلې ته لېږل شوي، دا همغه دين دئ چي تر ټولو د مخه ئې د الهي دين مقابله کړې.

په دې مبارك آيت کې يو بل ظريف ټکى هم زموږ مخي ته څلېږي او هغه دا چي احبار، رهبان او د سرو سپينو زرو کنز کوونکي ئې يو ځاى ياد کړي او ټولو ته ئې په ګډه د دردناك عذاب زيرى ورکړى. حقيقت دا دئ چي په هري ظلم څپلې او جهل وهلې ټولني کې مخکيني دوه د وروستني درېيم په خدمت کې وي او دوى په ګډه د ظالمو واکمنانو د ښي او کيڼ لاس مرستيالان او مدافعان وي، يو ورته فتوى ورکوي، بل ورته دعاء کوي او درېيم د هغو پيسو يوه برخه ورکوي چي د عام ولس د شکولو او غارت کولو له لاري ئې تر لاسه کوي.

کنز هغه مال ته وايي چي که څه هم له حلالو لارو تر لاسه شوى وي خو هغه حق نه وي په کې اداء شوي چي الله تعالى لازم کړى او په هغه ځاى کې نه وي مصرف شوى چي الله تعالى ئې د مصرفولو امر کړى. که د دې کنز کوونکي سزا دومره سخته وي نو د هغه چا سزا به څنګه وي چي له حرامو لارو حتى د دين پلورنې له لاري ئې تر لاسه کوي، خپل ايمان پرې پلوري، خپل عزت پرې بايلي او خپل آخرت پرې تباه کوي؟!

خو دې ته مو باید پام وي چې که دلته قرآن د مال کنزول غندلی، په بل ځای کې ئې ویلي چې څه تر حاجت او ضرورت زیات وي هغه انفاق کړئ، خو د دې تر څنګ مؤمنانو ته لارښوونه کوي چې مه بخل کوئ او مه په پراخ لاس دومره مصرف چې سبا حیران او بل ته اړ وئ، د دواړو تر منځ وسط لار غوره کړئ، دا د انسان او د ده د ټولني حالت ته پرېښودل شوې، کله داسي حالت راشي چې په کار ده مؤمن انسان له خپل ضرورت زیات هر څه د الله په لار کې وقف کړي؛ او کله ئې لږ برخه او کله یوازي هومره چې پرې فرض دي، دا داسي وګڼئ لکه فرض لمونځ او تهجد او نفل، تهجد او نفل د انسان ظروفو او شرائطو او خپلي خوښي ته پرېښودل شوی. همداسي په مال کې له فرائضو او واجباتو علاوه انفاق د انسان خوښي او د ده او د ده د ټولني ظروفو او شرائطو ته پرېښودل شوی.

يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ
هَٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنفُسِكُمْ فَذُوقُوا مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ ﴿٣٥﴾

هغه ورځ چې د دوزخ په اور کې به سرې شي او بیا به ئې تندي، اړخونه او شاګاني پرې وداغل شي، دا هغه څه دي چې د ځان لپاره مو زېرمه کړي وو، نو د هغه څه خوند وڅکئ چې زېرمه کول مو.

(٣٥)- له حرامو لارو چې چا سره او سپین زر راغونډ کړي او ذخیره کړي، په آخرت کې به د همدغو سرو او سپینو زرو په سرو سکو سره د دوی تندي، اړخونه او ملاګاني داغل کېږي، خو پوښتنه دا ده چې ولي تندی، اړخ او ملا؟ او د چا چا؟ ولي ئې زړه، خېټه او لاسونه نه؟ په داسي حال کې چې حرام مال ئې په خپلو لاسونو تر لاسه کړی، په خېټه کې ئې اچولی او زړه ئې پرې ښاد شوی او همدغه زړه دې ګناه ته هڅولی؟! یوه او معروفه توجیه دا ده چې کنز کوونکي درې دي: هغه چې د انفاق پر مهال ئې یا تندی تریو شوی، یا ئې اړخ ګرځولی یا ئې شا اړولې، نو ځکه به د چا تندی داغل کېږي، د چا اړخ او د چا ملا، خو یوه بله توجیه هم شته او هغه دا چې: ځینو د مال په تر لاسه کولو کې خپل مخ سپېره کړی او د سپکاوي منلو ته چمتو شوی، چا د حرامو په خوړلو کې د بل ملګرتیا کړې، د مال په غونډولو کې د حرام خور اړخ ته ودرېدلی او د هغه مرسته ئې کړې او چا په خپلي فتوی سره د بل د ګناه پېټی په شا کړی او هغه ته ئې د حرام خوړلو فتوی ورکړې. نو ځکه به د چا تندی، د چا اړخ او د چا ملا داغل کېږي.

إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِندَ اللَّهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَابِ اللَّهِ يَوْمَ خَلَقَ
السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ فَلَا تَظْلِمُوا فِيهِنَّ

أَنفُسَكُمْۚ وَقَٰتِلُواْ ٱلْمُشْرِكِينَ كَآفَّةً كَمَا يُقَٰتِلُونَكُمْ كَآفَّةًۚ وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلْمُتَّقِينَ ﴿٣٦﴾

يقيناً چي د الله خوا ته او د الله په كتاب كې د مياشتو شمېر دولس مياشتې دي، له همغې ورځې چې آسمانونه او زمكه ئې پيدا كړل، څلور ئې حرامې (د درناوي وړ) مياشتې دي، دا رغنده دين دئ، نو په دې كې پر ځان (يو پر بل) ظلم مه كوئ؛ او په دغو ټولو كې له مشركانو سره همغسې وجنګېږئ چې په ټولو كې له تاسو سره جنګېږي؛ او (په دې) پوه شئ چې الله له داسې متقيانو سره دئ.

(٣٦)- دلته څو خبرې په پام كې ولرئ: د مياشتو لپاره دوه معروف تقويمونه دي، يو ئې د لمر پر محور د زمكې په حركت پورې او بل ئې د زمكې پر محور د سپوږمۍ په حركت پورې مربوط دئ، زمكه په درې سوه پنځه شپېته ورځو او څه د پاسه شپږو ساعتونو كې يو ځل د لمر پر محور څرخي، دې ته ځينو د يوه كال نوم وركړى، هغه ئې پر دولسو مياشتو وېشلى، ځينې ئې دېرش او ځينې ئې يو دېرش ورځې دي. او سپوږمۍ په څه د پاسه نه ويشتو ورځو كې يو ځل د زمكې پر محور راڅرخي، دا موده ثابته ده، كه څوك علمي محاسبې ته ارزښت وركړي نو د بشپړ كال ټولې قمري مياشتې داسې ټاكل كېدى شي چې كمى او زياتى به په كې نه راځي، د محاسبې له مخې دا معلومېدى شي چې سپوږمۍ كله خپل مياشتنى مدار بشپړوي، په كوم ځاى كې، په كوم ساعت، دقيقه او ثانيه له سترګو پټېږي او چېږي، په كوم ساعت، دقيقه او ثانيه راڅرګندېږي او د نوې مياشتې مدار پيلوي. دا چې اسلام د مياشتې د پيل او پاى لپاره رؤيت ته اعتبار وركړى دا ډېره دقيقه او علمي وينا ده، ځكه د سپوږمۍ په ليدو سره ثابته كېږي چې هغه د نوې مياشتې مدار ته داخله شوې. څوك چې رؤيت ته اعتبار نه وركوي او د هرې سيمې لپاره د مستقل او بېل رؤيت خبره كوي ډېر كمعقله او له دين او علم بې خبره دئ. اوس او د پرمخ تللو وسائلو په مرسته خو هغه ثانيه او سيمه هم په دقيقه توګه معلومولى شو چې سپوږمۍ له محاق وځي، د مخكينۍ مياشتې مدار ئې بشپړ كېږي او د نوې مياشتې مدار پيلوي. دا هم ډېره علمي خبره ده چې د رؤيت لپاره د يوه متقي انسان شهادت هم كافي ګڼل شوى. احمقان او هغه ټګماران چې د دښمن له لوري ګمارل شوي چې په امت كې اختلافات راولاړ كړي له دې موضوع هم د اختلاف وسيله جوړوي، شيعه او بريلويان له سعودي او سلفيانو سره د سياسي او مذهبي اختلاف په وجه روژه او اختر يوه او حتى دوه ورځې وروسته اعلانوي، دوه مليونه حاجيان به په عرفات كې د عرفې په ورځ راغونډ وي، په ټلويزيونو كې به د عرفې لويه غونډه، لمونځ او خطبه ګوري او اوري خو سره له دې به دوى د عرفې او لوى اختر لومړۍ ورځ يوه او دوه ورځې وروسته لمانځي!! عجيبه دا ده چې په عربي نړۍ

کې به روژه او اختر وي خو د پاکستان رؤيت هلال کميټه به يوه ورځ وروسته په کراچۍ او اسلام آباد کې غونډه کوي!! او د هغو خلکو شهادتونو ته به هم اعتبار نه ورکوي چې په پېښور کې ئې سپوږمۍ په خپلو سترګو ليدلې!! دا نه مذهبي اختلاف دئ نه علمي، بلکې سياسي اختلاف دئ او تر شا ئې د اسلام د خطرناکو دښمنانو لاس دئ. که اوس پيغمبر عليه السلام حيات وی او په مدينه او مکه کې ئې د روژې پيل او پای اعلانولی او ټولو خلکو د ټلويزيون او راډيو له لاري دا اعلان اورېدلی نو بيا به هم دغو خلکو په خپل جاهلانه دريځ ټينګار کولو او د پيغمبر عليه السلام مخالفت ته به ئې ملاتړله.

يو ځل بيا اشهر الحرم ته اشاره کول ښيي چې له مخکينيو څلورو مياشتو چې د سورې په سر کې ذکر شوې؛ همدغه څلور حرام مياشتې مراد دي.

د آسمانونو او زمکې د پيدا کېدو له ورځې د مياشتو شمېر دولس دئ او په دې کې څلور حرامې (د احترام وړ) مياشتې دي، همدا څلور مياشتې مشرکينو ته مهلت ورکړی شوی، د قيم دين غوښتنه همدا ده، الله او د هغه دين تاسو ته حکم کوي چې په دې کې به يو پر بل له تېري ډډه کوئ.

دلته د دې فقرې (فَلَا تَظۡلِمُواْ فِيهِنَّ أَنفُسَكُمۡۚ) مراد دا دئ چې په دغو څلورو مياشتو کې به هيڅ ډله بر بلې تېری نه کوي، دواړه لوري به د هغوی درناوی کوي، مراد يو پر بل عام ظلم او تېری نه دئ ځکه داسې تيری خو په هر وخت کې حرام او منع دئ.

آيا دلته (کافة) مؤمنانو او مشرکانو ته راجع دئ، په دې معني چې تاسو ټول له مشرکانو سره داسې وجنګېږئ چې دوی ټول له تاسو سره جنګېږي؟ که (کافة) مياشتو ته راجع دئ په دې معنی: لکه چې مشرکين په ټولو مياشتو کې له تاسو سره جنګېږي او د حرام مياشتو پروا نه کوي تاسو هم په ټولو مياشتو کې له دوی سره جنګېدی شئ؟ که څه هم ډېری مفسرينو لومړۍ رأيه غوره کړې، خو د آيت مخکينۍ او وروستنۍ برخې ته په پام سره داسې معلومېږي چې مراد ترې ټولې مياشتې دي، يعني که دوی د حرامو مياشتو احترام ونه کړ او په ټولو کې له تاسو سره جنګېدل؛ نو تاسو هم ورسره وجنګېږئ، د حرامو مياشتو درناوی خو په هغه صورت کې صحيح دئ چې مقابل لوری هم د دغو مياشتو درناوی وکړي او پر تاسو له بريد ډډه وکړي. د آيت له وروستۍ برخې هم دغه خبره معلومېږي چې که تاسو په دغو څلورو مياشتو کې له تېري ځان وساتئ نو د الله تعالی معيت او تأييد به تر لاسه کړئ. جلالين هم له کافة همدا تعبير لري. نور تعبيرونه نه له الفاظو سره اړخ لګوي او نه د آيت له فحوی او سياق او سباق سره.

معمولاً د يوه شي په اړه د کافة کلمه هغه مهال کارول کېږي چې تر دې د مخه د همغه شي د يوې برخې په اړه څه ويل شوي وي، دلته تر دې مخکې د دولسو مياشتو يادونه شوې، بيا څلور مياشتې ترې مستثنی شوي او د داسې مياشتو په نامه يادې شوې چې ټول خلك ئې بايد درناوی وکړي، جګړې متوقف کړي او يو پر بل له تېري ډډه وکړي،

بیا ویل شوي چې له مشرکینو سره داسې (کافة وجنګېږئ لکه چې دوی کافة له تاسو سره جنګېږي)، دلته په کافة سره د څلورو میاشتو مخکینۍ استثناء نفي شوې نه بل څه؛ او له کافة مراد ټولې میاشتي دي نه بل څه، د بل څه لپاره اصلاً کوم مجال نه تر سترګو کېږي او هیڅ دلیل ورته نه مومو، که چېري تر دې د مخه د مشرکیو د یوې ډلې په اړه څه ویل شوي وی نو بیا مو حق درلود چې له کافة ټول مشرکین مراد کړو.

او دا همغه خبره ده چې د البقرې په سورې کې په دې توګه راغلې:

﴿ٱلشَّهۡرُ ٱلۡحَرَامُ بِٱلشَّهۡرِ ٱلۡحَرَامِ وَٱلۡحُرُمَٰتُ قِصَاصٞۚ فَمَنِ ٱعۡتَدَىٰ عَلَيۡكُمۡ فَٱعۡتَدُواْ عَلَيۡهِ بِمِثۡلِ مَا ٱعۡتَدَىٰ عَلَيۡكُمۡۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُتَّقِينَ ١٩٤﴾ البقرة: ١٩٤

د حرام (محترمه) میاشت د محترمې میاشتې په مقابل کې او محترم شیان سره برابر دي، نو چا چې پر تاسو تېری وکړ، نو داسې تېری ورباندې وکړئ لکه ده چې درباندې تېری کړی او له الله ووېرېږئ او پوه شئ چې الله له متقیانو سره دئ.

یعني که دښمن د شعائرو او مقدساتو احترام نه کاوو او په حرام (محترمو) میاشتو کې یا په مسجدالحرام کې ئې پر تاسې تېری کاوو نو تاسو مکلف نه یاست چې په یوه اړخیزه توګه به د هغوی احترام کوئ او له مقابلې او دفاع به لاس اخلئ، نه، تاسو دا حق لرئ چې ځواب ورکړئ، بالمثله معامله ورسره وکړئ، خو په دې کې به تر هر څه د مخه د الله د محاسبې خیال ساتئ، داسې څه به نه کوئ چې الله ورباندې ناراضه کېږي، که مو تقوی درلوده نو د الله تعالی مرسته او ملاتړ به درسره وي.

دې ته مو هم پام وي چې قمري تقویم څو ځانګړتیاوې لري او مراعات ئې د مهال وېش په توګه ګټور دئ چې په نورو تقویمونو کې هغه نشي تر لاسه کېدی:

هر څوك؛ لوستی او نالوستی، په هر ځای کې پرې پوهېږي او د سپوږمۍ له حالته نېټه معلومولی شي.

په دې سره د کلونو حساب ډېر آسانه وي، داسې چې که څوك سږ کال د دوبي په وروستۍ میاشت کې روژه ونیسي نو شپږ دېرش کاله وروسته چې کله بیا په همدغه میاشت کې روژه پرې راشي نو پوهېږي چې شپږ دېرش کاله پرې تېر شوي. دا حساب د بل تقویم له مخې یوازې په هغه صورت کې کولی شي چې له ځان سره ئې ولیکي او یا ئې په لیکلي تقویم کې په نښه کړي په دې شرط چې دا لیکنه ترې ورکه نشي!!

﴿إِنَّمَا ٱلنَّسِيٓءُ زِيَادَةٞ فِي ٱلۡكُفۡرِۖ يُضَلُّ بِهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُحِلُّونَهُۥ عَامٗا

وَيُحَرِّمُونَهُۥ عَامًا لِّيُوَاطِـُٔواْ عِدَّةَ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ فَيُحِلُّواْ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُۚ زُيِّنَ لَهُمۡ سُوٓءُ أَعۡمَٰلِهِمۡۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٣٧﴾

يقيناً چي دا ځنډونه (يوه مياشت د بلې پر ځای حلال او حرام نيول) په كفر كې زياتوالی دئ، هغه پرې بې لاري كېږي چي كفر ئې كړی، يو كال ئې حلالوي او بل كال ئې حراموي، چي د هغو شمېر بشپړ كړي چي الله حرامي كړې، نو په دې سره هغه څه حلال وگرځوي چي الله حرام كړي. شيطان د دوی بد عملونه ورته ښايسته كړي؛ او الله دا كافر وگړي نه هدايتوي.

---

(٣٧)- مشركينو د حرام مياشتو په اړه مذهبي خدعه كوله، كه به ئې په دغو مياشتو كې پر خپل دښمن د بريد ضرورت احساس كړ او غوښتل به ئې كومه قافله تالان كړي؛ نو ناځاپي او په داسي حال كې به ئې بريد وكړ چي مقابل لوري به د حرام مياشتي په طمع د دفاع لپاره هيڅ تعبيه نه وه كړې، بيا به ئې په بلې مياشتي كې دا كمی بشپړ كړ، په دې توگه به ئې گواكې هم خپل مقصد تر لاسه كړ او هم به ئې د خپل مذهب له غوښتني سره سم د څلورو حرام مياشتو شمېر بشپړ كړ!! خو قرآن فرمايي داسي مذهبي حيله په كفر كې د زيادت په معنی ده، هغه څوك به داسي كار كوي چي د ايمان له دائرې ډېر لري وتلی وي او د كفر په گنده ډنډ كې ژور غرق شوی وي. په دې سره به د دوی مذهبي مشرانو هغه كسان غولول او بې لاري كول چي له بنسټه كافران ول، يو څه په يوه وخت كې حلال گڼل او همدغه څه په ورته بل وخت كې حرام گڼل؛ د هغه چا كار دئ چي كافر وي او د حلال او حرام لپاره له خپل هوس پرته بل معيار او ملاك ونه لري. لكه چي قرآن د قريشو په اړه فرمايي: يو كال ئې حلالوي او بل كال ئې حراموي، چي د هغو مياشتو شمېر بشپړ كړي چي الله حرامي كړې، نو په دې سره هغه څه حلال وگرځوي چي الله حرام كړي. داسي خلك شيطان غولولي، د دوی بد عملونه ئې ورته ښايسته كړي، دوی له الهي هدايت محروم دي.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَا لَكُمۡ إِذَا قِيلَ لَكُمُ ٱنفِرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱثَّاقَلۡتُمۡ إِلَى ٱلۡأَرۡضِۚ أَرَضِيتُم بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا مِنَ ٱلۡأٓخِرَةِۚ فَمَا مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ ﴿٣٨﴾

اې مؤمنانو! څه درباندي شوي چي كله درته وويل شي: د الله په لار كې ووځئ! نو د ځمكي په لور درنېږئ؟!! آيا تر آخرت د دنيا پر ژوند راضي شوي يئ؟! د دنيوي ژوند

**مال متاع خو د آخرت په پرتله له ناڅيز شي پرته بل څه نه دي.**

---

(۳۸)- په دې مبارك آيت كې مسلمانانو ته ويل شوي:

كله چې د الله په لار كې جهاد ته بلل كيږئ ولې سستي او لټي كوئ او ناستي ته زړه ښه كوئ؛ خو په دې آيت كې دا مطلب په داسي ښكلي انداز او الفاظو سره بيان شوی چې جهاد ته د نه چمتو او غير مجاهد روحي حالت په ډېر ښكلی انداز انځوروی، د هغه چا په انځور كې ئې زموږ مخې ته ودروي چې زمكه ئې د ځان لوري ته كښوي او نه ئې پرېږدي چې سريع او چټك پورته شي او توند او تېز د الله په لار كې وخوځيږي. له داسي كسانو د پوښتني اسلوب هم داسي دئ لكه چې د دې حالت لپاره هيڅ توجيه نه لري، په دې الفاظو ورته خطاب كوي: ولې د زمكې لور ته درنيږئ؟ ولې سريع او چټك نه پورته كيږئ؟ د دې لټي او سستي لپاره څه دليل لرئ؟ څه شي دې ته اړ كړي يئ؟!! دا حالت خو له مؤمن سره نه ښايي!!

آيا د دنيا په ژوند راضي شوي يئ او تر آخرت مو غوره گڼلئ؟ دنيا خو د آخرت په پرتله قليله متاع ده، دا خو وسيله ده نه هدف، ستاسو هدف خو د الله تعالى رضاء تر لاسه كول او اخروي سعادت ته رسېدل دي، ولې مو اصلي هدف هېر كړی او هغه ته په رسېدو كې لټي كوئ؟! له مؤمن سره خو دا حالت نه ښايي.

دا مطلب د هغو كسانو په اړه ويل شوی چې كله ورته وويل شي: د الله په لار كې د جهاد لپاره ووځئ، نو هغوی د زمكې طرف ته درانه كيږي، د دې په ځای چې په شور، ځوږ او شوق سره اوچت شي او وخوځيږي او په وتلو كې ئې پوره تحرك او نشاط وي، برعكس لټ او كسل وي، د زمكې لوري ته درانه كيږي، په شور او شوق سره د الله په لاره كې نه خوځيږي، د همدغو كسانو په ځواب كې فرمايي چې آيا تاسو د دنيا په ژوند راضي شوي يئ او آخرت ته مو شا كړې؟ دنيا ته مو ترجيح وركړې او هغه تر آخرت غوره گڼئ؟ حال دا چې د دنيا ژوند د آخرت په تناسب نه دئ مگر قليله متاع.

يعني هغه څوك چې دنيا ته په آخرت ترجيح وركوي، د هغه يوه علامه دا ده چې كله د الله په لار كې جهاد ته وبلل شي؛ نو د زمكې طرف ته دروند شي او په شور شوق سره د الله په لاره كې د جهاد لپاره نه خوځيږي.

دا كسالت، لټي او د زمكې طرف ته درنېدل، په شور، ځوږ او په شوق او رغبت سره د الله په لاره كې جهاد ته نه وتل؛ د نفاق علامه ده او له دغي عقيدې سرچينه اخلي چې انسان دنيا ته په آخرت ترجيح وركړي.

دې ته مو بايد پام وي چې له دې آيت د اتمې ركوع تر پايه د تبوك له غزوې مخكې نازله شوې چې په ترڅ كې ئې مؤمنان هغي نښتي ته هڅول شوي چې په لومړي ځل د روم په څېر يوه بهرني زبرځواك سره رامنځته كېده. چې تفصيل ئې په دې توگه دئ:

د خندق په جګړې کې د قریشو ماته داسې وه چې د مسلمانانو او قریشو تر منځ د جنګ انډول د مسلمانانو په ګټه واوښت، پیغمبر علیه السلام وفرمایل چې له دې وروسته به قریش پر مسلمانانو د بل برید مجال تر لاسه نه کړي، له دې وروسته به دوی د مسلمانانو تر بریدونو لاندې وي؛ د حدیبیې معاهده د همدغو ظروفو زېږنده وه، دې معاهدې د قریشو او مسلمانانو تر منځ لس کلن اوربند تضمین کړ او مسلمانانو ته ئې دا موقع په لاس ورکړه چې له دې فرصت په استفادې سره د دعوت لمن نورو لوریو ته خوره کړي، په همدغې مودې کې د عربو نژدې دریمه برخه د مسلمانانو تر اغېز لاندې شوه، له مسلمانانو سره د بېلو بېلو قبیلو یو ځای کېدا او په ډېرې جټکتیا سره په ځواکمن طاقت د مسلمانانو بدلېدا دومره تونده او تېزه وه چې د قریشو نوې نسل او ځوانانو ته د زغملو وړ نه وه، دوی غوښتل دا معاهده ماته شي او دا فرصت تر لاسه کړي چې له مسلمانانو سره د یوې پرېکنده نښتې له لارې دا بهیر ودروي او خپل تېر عظمت او شوکت راژوندی کړی؛ د مسلمانانو پر حلیف قبیلې (خزاعه) باندې د قریشو د حلیف قبیلې (بني بکر) تېری د همدې هڅې یوه برخه وه، خو پیغمبر علیه السلام هغوی ته مزید فرصت ورنه کړ، له لس زره جنګیالیو سره ئې پر مکې برید وکړ، مکه له مقاومت پرته فتح شوه، دې سترې فتحې که له یوې خوا د عربو ستر مذهبي، سیاسي او اقتصادي مرکز د مسلمانانو لاس ته ورکړ؛ له بلې خوا ئې ټول مشرك عرب قبائل وهڅول چې د مسلمانانو په ضد وروستی ګوزار وکړي، د حنین نښته له همدې عزم او احساس راولاړه شوه، خو هغوی دلته ماته وخوړه، طائف هم د مسلمانانو لاس ته ورغی، دا درې پرله پسې بریاوې داسې وې چې نور په ټول حجاز کې داسې ځواك پاته نه شو چې له مسلمانانو سره د ډغرو وهلو جسارت وکړي، خو دغو بریاوو اسلام له یوه بل ګواښ سره مخامخ کړ، روم چې د هغه مهال ستر زبرځواك وو، د عربو سیمې د روم تر مستقیم او غیر مستقیم اغېز لاندې وې؛ او پر عربو ئې د تسلط لړۍ د خورېدو په حال کې وه، د عربو ټاټوبی له کلونو کلونو راایسې د روم او فارس تر منځ د سیاسي، مذهبي او نظامي نښتو په ډګر بدل شوی وو، عرب خواره واره او په خپلمنځیو جګړو بوخت او له یوه داسې ځواکمن مشرتابه محروم ول چې ټول عرب راغونډ او له ځانه دفاع ته چمتو کړي او د روم او فارس له بریدونو ئې خوندي کړي، د داسې یوه ځواك راوړاندې کېدا هم د روم لپاره ګواښ وو او هم د فارس لپاره، خو رومیانو د دې لپاره تر فارس زیات د خطر احساس وکړ او د اسلام په ضد تر فارس مخکې میدان ته راووتل چې د شام او فلسطین په څېر سیمې ئې له فارس نېولې وې او په دې مهال کې د اسلام له بریاوو ګواښ دوی ته متوجه وو، په همدغو ظروفو کې پیغمبر علیه السلام ته اطلاع ورسېده چې رومیانو په شام کې څلوېښت زره فوځ پر مدینې د برید لپاره چمتو کړی، پیغمبر علیه السلام دا غوره وګڼله چې پر مدینې د یوه لوی فوځ تر برید مخکې هملته په شام کې ورسره مخامخ شي، ځکه چې پر مدینې د برید په صورت کې به ډېرو قبائلو هم د مسلمانانو په ضد د رومیانو ملګرتیا کوله او مسلمانانو ته به دا جګړه په

گرانه بیع تمامېده. پیغمبر علیه السلام له دېرش زره فوځ سره د شام په لوري وخوځېدو؛ دې حکیمانه او په شجاعت او شهامت ولاړ حرکت نه یوازې پر مدینې د رومیانو د تېري مخه ونیوله بلکې په شام کې هم له دې جرار او زړه ور فوځ سره له مخامخېدو ووېرېدل او د جګړې میدان ته راونه وتل. دا په حقیقت کې له جګړې پرته د یوه ستر ځواك په وړاندې داسې ستره بریا وه چې ټول عرب ئې په بشپړه توګه د اسلام تر سلطې لاندې کړ، کورنې دښمنان ئې نه یوازې له هر راز مخالفت لاس اخیستو ته اړ کړل بلکې له دې پرته د بل هر انتخاب مجال ئې ترې سلب کړ چې اسلام ته غاړه کښېږدي او ایمان راوړي، د قرآن هغه وعده بشپړه شوه چې د النصر په سورې کې ورته اشاره شوې:

إِذَا جَآءَ نَصۡرُ ٱللَّهِ وَٱلۡفَتۡحُ ۝١ وَرَأَيۡتَ ٱلنَّاسَ يَدۡخُلُونَ فِي دِينِ ٱللَّهِ أَفۡوَاجٗا ۝٢
فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ وَٱسۡتَغۡفِرۡهُۚ إِنَّهُۥ كَانَ تَوَّابَۢا ۝٣

هغه وخت چې راشي الهي بریا او فتح. او خلك وګورې چې ننوځي به فوځ فوځ د خدای په دین کې. نو لګیا شه د خپل رب په ثناء؛ او ترې وغواړه بخښنه، بې شکه چې هغه دئ د توبې ښه قبلوونکی.

په دې آیتونو کې پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي: ډاډه اوسه چې الهي نصرت راروان دئ، پر دښمن به ستا بریا تحقق مومي، خلك به ستاسو بریا او فتحې ته په پام سره ډله ډله د الله په دین کې ننوځي، تر اوسه عام ولس د نهضت له لیکو سره په پیوستون کې محتاط وو، له دې وېرې چې داسې نه نهضت له ماتې سره مخامخ شي، دښمن پرې غالب شي، زړه نا زړه او متردد ول او له پایلې ئې وېره درلوده، د دوی له منځه یوازې محدود شمېر با همته، زړه ورو او مصممو خلکو ایمان راوړ، له ګواښونو ونه وېرېدل او له کاروان سره یوځای شول، خو اوس او د بریاوو له لیدو او د خطر له منتفي کېدو وروسته به په پراخه پیمانه او فوځ فوځ له نهضت سره یو ځای کېږي او تعهد به کوي. د تبوك له بریا وروسته همداسې وشول.

د سورې دا برخه په دغو ځانګړیو شرائطو کې نازله شوې او هغه لارښوونې ئې مسلمانانو ته کړې چې په دغو ظروفو کې ورته ضرورت وو.

---

إِلَّا تَنفِرُواْ يُعَذِّبۡكُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا وَيَسۡتَبۡدِلۡ قَوۡمًا غَيۡرَكُمۡ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيۡـٔٗاۗ
وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ۝٣٩

که ونه وځئ نو په دردناك عذاب سره به مو تعذیب کړي او ستاسو په ځای به بل قوم راوړاندې کړي، هیڅ ضرر نه شئ وررسولی او الله په هر څه ښه قادر دئ.

(٣٩)- په دې مبارك آيت كې له جهاد د لاس اخيستو بد عواقب په دې توګه په ګوته شوي:
كه د الله تعالی په لار كې د جهاد لپاره ونه وځئ په دردناك عذاب به مو اخته كړي، دردناك عذاب عام دئ، هم دنيوي عذابونه احتوی كوي او هم اخروي عذاب، دنيوي عذابونه لكه د دښمن په لاس له ذلت او سپكاوي سره مخامخېدل، په داخلي جګړو اخته كېدل، له فقر او لوږي او بې امنيو سره مخامخېدل. او اخروي عذاب د جهنم په اور كې لوېدل.
د هغو خلكو ټغر به ټول كړي چې د الله تعالی په لار كې له جهاد ډډه كوي، د دغو بې همتو او ډارنو وګړو پر ځای به داسې مجاهدين راوړاندې كړي چې د الله په لار كې د جهاد ورتيا لري او الله تعالی به د دوی په لاس خپل دين غالبوي.
تاسو له جهاد په لاس اخيستو سره نه الله ته زيان رسولی شئ او نه د ده غوره دين ته، فقط خپل ځان ته تاوان رسوئ، په دې سره به تاسو له سپكاوي او ذلت سره مخامخ كېږئ.
الله تعالی په دې كار توانمن او برلاسی دئ، له تاسو پرته له خپل دين دفاع كولی شي، دښمن ته ماته وركولی شي، ستاسو پر ځای بل مجاهد او قربانيو ته چمتو ډله رامنځته كولی او هغوی ته پر دښمن بريا وركولی شي.

---

إِلَّا تَنصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ ٱللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ثَانِيَ ٱثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِى ٱلْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَٰحِبِهِۦ لَا تَحْزَنْ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَنَا ۖ فَأَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُۥ بِجُنُودٍ لَّمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلسُّفْلَىٰ ۗ وَكَلِمَةُ ٱللَّهِ هِىَ ٱلْعُلْيَا ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٤٠﴾

كه ئې مرسته ونه كړئ نو يقيناً چې الله هغه مهال هم د ده مرسته وكړه چې كافرانو په داسې حال كې وايست چې د دوو دوهم وو، هغه مهال چې دواړه په يوه غار (سوړې) كې ول، هغه مهال چې خپل ملګري ته ئې ويل: غم مه كوه، يقيناً چې الله له موږ سره دئ، نو الله خپله ډاډېينه پرې نازله كړه او په داسې لښكرو ئې د ده ملاتړ وكړ چې نه مو ليدل؛ او د كافرانو شعار ئې ټيټ كړ او د الله شعار خو (تل) لوړ دئ؛ او الله باحكمت غالب دئ.

---

(٤٠)- دلته څو خبرو ته ځير شئ:
مسلمانانو ته ويل شوي چې كه تاسو له جهاده لاس واخلئ، په جهاد كې د پيغمبر عليه السلام ملګرتيا پرېږدئ، نو پوه شئ چې په دې سره د پيغمبر عليه السلام دعوت او مبارزه

له هيڅ خنډ او مشکل سره نه مخامخ کېږي، الله تعالی به له داسي لارو د ده مرسته کوي چي تاسو ئې گمان هم نه کوئ، مگر په ياد مو نه دي چي الله تعالی هغه مهال هم د ده مرسته وکړه چي له دوو يو وو، له يوه ملگري پرته بل انسان ورسره نه وو، هغه ملگری هم غمجن او محزون او په دې اندېښنه کې چي دلته به څنگه د دښمن په لاس کې له پرېوتو خوندي پاته کېږو، که راپسي راشي او د غار خولې ته سر راټيټ کړي نو موږ ويني او نيسي، کينه کښو دښمنانو د ده د وژلو لپاره خپلې توري له تېکو ايستلې وې، د غره له يوې سمڅي پرته ئې د پناه بل ځای نه درلود، آيا الله تعالی په دغسي سخت حالت کې د ده د مرستي لپاره کفايت ونه کړ؟! که نن ئې تاسو يوازي پرېږدئ نو الله تعالی به له نورو لارو په نورو خلکو د ده مرسته کوي.

دلته په (فَأَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَيۡهِ) کې ضمير ابوبکر رضی الله عنه ته راجع دئ؛ ځکه چي د آيت لومړۍ برخه وايي چي دی غمجن وو او پيغمبر عليه السلام ورته اطمئنان ورکولو، نو سکينه هم پر ده نازله شوې او تشويش ئې رفع شوی. د پيغمبر عليه السلام زړه لا د مخه ډاډه وو او الله تعالی سکينه ورپه برخه کړې وه.

او د (وَأَيَّدَهُۥ بِجُنُودٍ لَّمۡ تَرَوۡهَا) مراد يا په بدر کې د ملائکو په لښکرو سره د ده تأييد دئ او يا د همدې سفر په دوران کې د ده تأييد، د آيت وروستۍ برخه ښيي چي دلته د بدر جگړې ته اشاره شوې او د آيت لومړۍ برخه مخاطب ته دا انتباه ورکوي چي ښايي دا هم په دغه سفر پوري تړلې وينا ده، خو د دې لپاره چي د سفر په دوران کې يوازي دوه کسان وو نو دا خبره مناسبت نه لري چي په داسي لښکرو ئې د ده ملاتړ وکړ چي تاسو نه ليدل، همدا راز هلته لښکرو ته هم ضرورت نه وو ځکه نه جگړه وه چي د لښکرو لېږلو ته ضرورت وي او نه د قريشو شمېر دومره وو چي په لښکرو سره د هغوی ماتولو ته ضرورت وو، همدا راز د کفارو بيرغ نسکورول په بدر کې واقع شوي نه په دغه سفر کې او د پيغمبر عليه السلام په نيولو کې د قريشو ناکامي په دې صيغه يادول مناسب نه برېښي؛ نو ځکه په يقين سره ويلی شو چي دلته د بدر جگړې ته اشاره شوې. خو د دې پوښتني ځواب به څه وي: ولې ويل شوي چي که تاسو د ده مرسته ونه کړئ نو الله تعالی د هغه مرسته وکړه، په بدر کې خو مؤمنانو د هغه مرسته او ملگرتيا کړې وه؟! ځواب دا دئ چي د بدر په جگړې کې ډېرو غوښتل چي نښته ئې د لښکر په ځای له تجارتي قافلې سره وي، له لښکر سره د مخامخ کېدو رأيه د پيغمبر عليه السلام وه، نورو ډېر وروسته ورسره توافق وکړ، همدا راز په بدر کې بريا داسي وه چي چا ئې گمان نه کولو او له شك پرته چي دا د الله تعالی له لوري له پيغمبر عليه السلام سره يوه ستره مرسته وه او دا ورسره ښايي چي وويل شي: که تاسو ئې مرسته ونه کړئ نو الله تعالی به ئې داسي مرسته کوي لکه په بدر کې.

لکه چي په بدر کې د دښمن بيرغ نسکور شو او د اسلام بيرغ سرلوړی او رپانده او بری

د پیغمبر علیه السلام په برخه شو؛ همداسې به تل د اسلام بیرغ لوړ او رپانده وي او الله تعالی به تل او په هر ډګر کې او پر هر دښمن خپل پیغمبر ته برى ورکوي؛ دا ځکه چې الله تعالی؛ عزیز؛ یعني برلاسی او غالب دئ او حکیم یعني د حکمت خاوند دئ؛ پوهېږي چې پیغمبر ته څنګه او له کومې لارې بریا ورپه برخه کړي.

---

ٱنفِرُواْ خِفَافًا وَثِقَالًا وَجَٰهِدُواْ بِأَمۡوَٰلِكُمۡ وَأَنفُسِكُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٤١﴾

سپک او درانه ووځئ او د الله په لار کې په خپل سر او مال جهاد وکړئ، دا درته غوره دئ که پوهیږئ.

---

(٤١)- په دې آیت سره مسلمانانو ته امر شوی چې د جهاد لپاره له ډېرو یا لږو وسلو او وسائلو سره، له لږ یا ډېرې توښې سره ووځئ او په خپل مال او ځان د الله په لار کې جهاد وکړئ، که پوه شئ نو همدا درته غوره دئ. دا آیت له یوې خوا موږ ته وایي چې جهاد د هغه چا کار دئ چې خپل سر او مال د الله په لار کې قرباني کوي، مجاهد نه د چا اجیر جنګیالی دئ او نه له خپل جهاد نه کومه مادي او مالي طمع او موخه لري، جهاد ته د الله تعالی له لوري د یوه مأموریت او وجیبې په سترګه ګوري، داسې ئې ګڼي لکه لمونځ، روژه، زکات او حج، دې ته چمتو دئ چې په خپلې وسلې او د خپل سر په بیع د خپل رب په لار کې وجنګېږئ. له بلې خوا مسلمان ته وایي چې ستاسو خیر په جهاد کې مضمر دئ، کومه ښېګڼه چې د جهاد په نتیجه کې تر لاسه کولی شئ له بلې لارې ئې نشئ تر لاسه کولی.

دلته باید یوې پوښتنې ته ځواب ورکړو چې له جهاد في سبیل الله مراد یوازې قتال في سبیل الله دئ که هر جد و جهد؟ آیا هر جد و جهد ته جهاد ویلی شو؟ آیا تبلیغ او دعوت ته هم د جهاد فی سبیل الله نوم ورکولی شو؟ څو خبرې په پام کې ولرئ:

قرآن د هر کار او عمل لپاره ځانګړې او خاص اصطلاحات لري، هره اصطلاح باید په خپل ځای او خپل خاص مورد کې استعمال شي، څوک چې په قرآن ایمان لري هغه ته په کار ده چې د قرآن هره اصطلاح په خپل ځای کې وکاروي او له خپل خاص مورد پرته ئې د بل څه لپاره استعمال نه کړي.

په قرآن کې د جهاد فی سبیل الله اصطلاح یوازې د دښمن په خلاف د مسلحانه جهاد په معنی راغلې، که قرآن ته مراجعه وکړئ نو وبه ګورئ چې د (جهاد فی سبیل الله) ذکر له (هجرت) وروسته راغئ او دا ټول په هغو سورتونو کې راغلي چې په مدینه کې او د جهاد له فرض کېدو وروسته نازل شوي، د مکي دور په څو محدودو آیتونو کې د (جهدایمانهم)، ( وان جٰهدٰك)، (جاهدوا فینا) او (ومن جاهد) په صیغه راغلي چې هلته ئې مراد زیار او

زحمت ایستل دي.

د اسلام ټول ائمه په دې متفق دي چي له جهاد في سبيل الله مراد قتال في سبيل الله دئ نه بل څه.

د قرآن له هيڅ آيت دا نه معلومېږي چي (تبليغ) او (دعوت) ته دي (جهاد في سبيل الله) ويل شوي وي.

د الله په لار کي مالي قرباني ته (انفاق في سبيل الله) ويل شوي نه جهاد في سبيل الله او دا هم هغه انفاق ته چي د جهاد په لارو چارو کي وي.

په مکي دور کي (دعوت) او (انفاق) وو خو دې ته په مکي سورتونو کي د جهاد نوم نه دئ ورکړی شوی، جهاد په مدينه کي فرض شوی او اساسي او تفصيلي ذکر ئې په مدني سورتونو کي راغلی، له دې معلومېږي چي جهاد بېل شی دئ او دعوت او انفاق بېل.

دا خبره چي (دعوت، تبليغ او انفاق) هم ( جهاد في سبيل الله) دي، په حقيقت کي هغه کسان کوي چي يا په دې نه پوهېږي چي د قرآن هره اصطلاح بايد په خپل خپل ځای کي استعمال شي او يا د الله په لار کي د جهاد کولو اراده او همت نه لري. د دې لپاره چي په نه جهاد سره ئې ځوك ملامت نه کړي نو وايي: زما دعوت او تبليغ، زما وينا او ليکنه او زما سياسي او اجتماعي مبارزه هم جهاد في سبيل الله دي!! دوی ته وايو: ستا دا ټول کارونه د قدر وړ دي، الله تعالی دي مزيد توفيق درکړي، خو هيڅ يو ئې جهاد في سبيل الله نه دئ.

لَوۡ كَانَ عَرَضٗا قَرِيبٗا وَسَفَرٗا قَاصِدٗا لَّٱتَّبَعُوكَ وَلَٰكِنۢ بَعُدَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلشُّقَّةُۚ وَسَيَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ لَوِ ٱسۡتَطَعۡنَا لَخَرَجۡنَا مَعَكُمۡ يُهۡلِكُونَ أَنفُسَهُمۡ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ إِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ﴿٤٢﴾

که نژدې متاع او لنډ سفر وی نو هرومرو په تا پسي درتلل خو واټن ورته لري وبرېښود، ژر ده چي د الله په نامه به لوړه کوي چي که توانېدلی حتماً درسره وتلو، خپل ځان هلاکوي؛ او الله پوهېږي چي يقيناً دوی دروغجن دي.

(٤٢)- دا آيت د نيمي لاري ملګرو په اړه دئ، هغه کسان راښيي چي که مزل نژدې، سفر لنډ او خپلو موخو او اغراضو ته ژر رسېدل وي نو ستا ملګرتيا کوي، خو که مزل لري، سفر اوږد؛ او مقصد ته رسېدل ګران وبرېښي؛ له ملګرتيا لاس اخلي او تا يوازي پرېږدي، په خپلي اشتباه اعتراف هم نه کوي بلکي د الله په نامه قسمونه کوي او وايي: کمزوري، بې وسي او ناتواني باعث شوه چي ملګرتيا په نيمايي کي پرېږدو او تر آخري منزل تګ ونه شو

کړی!! خو الله تعالی فرمايي چې دوی دروغجن دي، مالي او جسمي ناتوانی له ملګرتيا نه دي محرومه کړي بلکې عدم صداقت او د اخلاص ضعف او د ايمان کمزورتيا منع کړي. دوی د نيمي لارې او آسان سفر ملګري ول، په دې موخه له تا سره يوځای شوي وو چې ډېر ژر به ډېر څه په لاس ورځي: غنيمت، دولت، شهرت، نوم، کرسۍ؛ او ډېر نور څه چې ستا په ملګرتيا کې ئې ترسترګو کېدل. دوی له جهاد په پاته کېدو او دروغجنو قسمونو سره ځان هلاکوي.

دا وينا د هغو خلکو په اړه ده چې له ځان سره ئې پرېکړه کړې وه چې د تبوك په جګړې کې به له برخې اخيستو ډډه کوي، تبوك نژدې شپږ سوه کيلومتره له مدينې لرې د شام په پوله پروت وو، نښته د روم له څلوېښت زره کسيز فوځ سره وه، د دوبي ګرمي وه، فصلونه يا رسېدلي وو يا ئې حاصل ټولول نژدې وو او پاملرنه ئې غوښته، هر چا داسې ستړې جګړې ته په داسې سخت وخت کې زړه نه ښه کاوو، يوازې د مضبوط ايمان خاوندان دې ته چمتو کېدل چې دا هر څه ومني او په دې ګران او له خطرونو ډك سفر کې د خپل خوږ او ګران قائد ملګرتيا وکړي او د خپل رب رضاء تر لاسه کړي.

عَفَا ٱللَّهُ عَنكَ لِمَ أَذِنتَ لَهُمۡ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكَ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ وَتَعۡلَمَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴿٤٣﴾

الله دې درته عفوه وکړي! ولې دې اجازه ورکړه؟! چې هغه درته څرګند شوي وی چې رښتيني دي او دروغجن دې پېژندلي وی.

(٤٣)- دلته څو خبرې زموږ مخې ته راځي:

پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چې الله دې د دې کار عفوه درته وکړي چې دغو کسانو ته دې رخصت ورکړ، دوی درته درغلل چې د څه عذر په وجه په دې جنګ کې برخه نشي اخيستی، تا ورسره موافقه وکړه او اجازه دې ورکړه، غوره دا وه چې دا اجازه دې نه وی ورکړې، چې صادق او کاذب درته معلوم شوي وی.

په دې آيت کې يو ځل بيا جهاد د هغه معيار په توګه معرفي شوی چې د خلکو ايمان پرې تلل کېږي، په ايمان کې صادق هغه دئ چې د الله تعالی په لار کې جهاد کوي او دروغجن هغه دئ چې له جهاد ډډه کوي!!

تاسو به د ټول قرآن په هيڅ آيت کې صراحتاً يا اشارتاً ونه مومئ چې بل عبادت د معيار په توګه معرفي شوی وي او داسې ويل شوي وي چې په هغه سره په ايمان کې صادق له کاذب بېلولی شئ.

له دې آيت دا هم معلومېږي چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم ځيني کارونه او

ويناوی د وحی مطابق دي، ځيني ئې د وحي شرح او عملي تعبير او تفسير او ځيني ئې د ده شخصي خبري؛ ټول کارونه او ويناوي ئې وحي نه دي؛ د احکامو او لارښوونو وحی په قرآن کې خلاصه شوې؛ دلته په څرګنده توګه ګورو چې رسول الله صلی الله عليه و سلم يوې ډلې ته په خپله خوښه اجازه ورکړې؛ او الله تعالی پرې نارضايتي ښودلې.

لَا يَسْتَـْٔذِنُكَ ٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ أَن يُجَـٰهِدُوا۟ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلْمُتَّقِينَ ﴿٤٤﴾

هغه چې پر الله او د آخرت پر ورځې ايمان لري دا اجازه نه درنه غواړي چې په خپلو مالونو او ځانونو سره د جهاد له کولو (معاف شي)؛ او الله په دغو متقيانو ښه پوه دئ.

(٤٤)- د مخکې آيت مطلب دلته په لازيات صراحت سره بيان شوی او ويل شوي:

څوک چې پر الله تعالی او د آخرت پر ورځې ايمان لري؛ تل به دې ته چمتو وي چې د الله په لار کې د خپل سر او مال په بيع جهاد وکړي، دا واقعي مؤمن به هيځکله له تا دا اجازه ونه غواړي چې له جهاد د شا ته پاته کېدو رخصت ورکړې.

په الهي معيارونو کې واقعي متقي او پرهيزګار مسلمانان همدغه مجاهدين دي، الله تعالی د دوی په حال ښه پوه دئ او د همدغي پوهي په اساس وايي چې دوی له جهاده شا ته پاته کېدا نه خوښوي.

کوم قوم چې له قرآن او قرآني مفاهيمو لري پاته شي نو معيارونه ئې بدل شي، د ايمان، اسلام، تقوی، صبر، توکل، احسان؛ او نورو مفاهيمو په اړه ئې انګېرنه داسي نه وي لکه چې قرآن ئې موږ ته انځوروي، لکه دلته چې قرآن هغه مجاهد د متقي په توګه معرفي کوي چې د الله په لار کې خپل سر او مال قرباني کوي، خو که تاسو له کوم تبليغي، بريلوي، صوفي؛ او ټولو هغو ډلو او اشخاصو چې په جهاد باور نه لري؛ د تقوی په اړه پوښتنه وکړئ نو په ځواب کې به واورئ چې ځيني تقوی په اورادو او اذکارو پوري تړي، ځيني ئې په دعوت او تبليغ کې خلاصه کوي، ځيني ئې له خلکو ګوښه کېدا او د کوم جومات او خانقاه په کونج کې په نوافلو بوختېدا کې لټوي، يو به هم درته ونه وايي چې د الله په لار کې خپل سر او مال قرباني کول، د شر او فساد له ځواکونو سره دائمي او نه پخلا کېدونکې مبارزه، له طاغوت بغاوت، له کافر او منافق برائت، له الله تعالی پرته نه له چا وېره درلودل نه طمع، له الله پرته له بل چا مرسته نه غوښتل او ټول هغه جامع تعبيرونه چې قرآن ئې د دغو مفاهيمو په ترځ کې زموږ مخي ته ږدي، هيڅ يو به ترې وانه ورئ، دا په داسي حال کې چې له دې پرته نه الله تعالی د چا لمونځ، روژه، زکات او حج قبلوي او نه ئې د ايمان

دعوى رښتينې ګڼي.
په کار ده چې د قرآن دغه آيت د يوه دقيق ملاك په توګه په پام کې ولرو، هغه داعي، مبارز، مبلغ؛ او هغه سياسي او مذهبي ډله او جماعت د اعتماد او اعتبار وړ ونه ګڼو چې په وينا او عمل کې او د مبارزې په تګلارې کې ئې جهاد مطرح نه وي، له جهاد يا انکار کوي او يا د جهاد په اړه له څه ويلو او کولو ډډه کوي، هغه ډله يوه اسلامي ډله مه ګڼئ چې د دعوت تر څنګ په هجرت، جهاد او شهادت باور نه لري او دا خبره نه مني چې د اسلامي نظام د جوړلو لار همغه ده چې قرآن ئې موږ ته راښيي او پيغمبر عليه السلام غوره کړه، چې لومړۍ مرحله ئې دعوت، دوهمه ئې هجرت او درېيمه ئې د الله تعالى په لار کې وسله وال جهاد دئ. دې ته مو هم بايد پام وي چې استعماري ځواکونو ګڼ شمېر داسي ډلي د اسلام تر نامه لاندي جوړي کړې دي، مرستي ورسره کوي، تبليغاتي وسائل او امکانات او راډيوګاني او ټلويزيونونه ئې په واك کې ورکړي، د لندن په څېر ښارونو کې ئې دفاتر ورته پرانيستي او په مالي او سياسي لحاظ ئې پالي چې د جهاد نفي او منتفي ګڼل ئې مأموريت دئ. دا عادي او تصادفي خبره مه بولئ چې امريکا د وزيرستان په څېر لري پرتې سيمي کې د يوه محلي مجاهد د خپلوانو کور په ډرون جهازونو سره په نښه کوي، هغه راکټې پرې وروي چې نيم غني شوي يورانيم په کې کارول شوي، ماشومان، ښځي او بوډاګان ئې وروژني، خو په مقابل کې ئې د اسلام په نامه د جوړو شوو ځينو ډلو مشران او مشهور مبلغين په لندن او واشنګټن کې مني، نه ئې په ورتګ بنديزونه لګوي او نه په غونډو او تبليغاتو، آيا دا عادي خبره ده چې بريلويانو، قاديانانو او د اسلام په نامه ځينو نورو ډلو ته په لندن کې د ټلويزيوني چينلونو د پرانيستلو اجازه ورکوي، غړو ته ئې داسي ويزې ورکوي چې هر وخت وغواړي دغو هېوادو ته سفر کولى شي!!!
غربي هېوادونو په سر کې ئې امريکا؛ پاکستان، سعودي، مصر، اردن، عمان او ګڼ شمېر نور هېوادونه دې ته اړ کړي چې له تعليمي نصاب په جهاد او اسلامي تاريخ پوري اړوند مفاهيم حذف کړي، د قرآن د هغو سورتونو لوستل پاى ته ورسوي چې د جهاد خبره کوي، د احاديثو له کتابونو د جهاد باب وباسي، دا اوس ئې په يوه اسلامي هېواد کې د احاديثو يوه داسي سلسله راايستلې چې د جهاد اړوند هيڅ حديث په کې نشته، ښه ډېر تبليغات ورته کوي چې همدا سلسله د صحاح سته ځاى ونيسي.

إِنَّمَا يَسْتَـْٔذِنُكَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْأَخِرِ وَٱرْتَابَتْ قُلُوبُهُمْ فَهُمْ فِى رَيْبِهِمْ يَتَرَدَّدُونَ ﴿٤٥﴾

يوازي هغه کسان درنه اجازه غواړي چې پر الله او د آخرت پر ورځي ايمان نه لري، زړونو ئې شك کړى او په خپل شك کې لالهانده او متردد دي.

(٤٥)- دلته ويل شوي: له جهاد به هغه څوك ځان ډډې ته كوي او په حيلو او بهانو سره به رخصت تر لاسه كوي چې ځيني خصلتونه ئې دا دي:

پر الله تعالى ايمان نه لري،

پر آخرت باور نه لري،

په زړونو كې ئې شك دئ، د الله تعالى په اړه، د آخرت په اړه، د الله تعالى د وعدو په اړه؛ او د اسلام د حقانيت په اړه، او

په خپلو شكونو كې متردد دي.

يعني منافق به له جهاد ډډه كوي!! او له جهاد به د رخصت تر لاسه كولو هڅه كوي!! د دې آيت په اورېدو سره د هر باايمانه انسان وېښتان ځيږ كېږي، له يوه جهاده پاته كېدا ورته داسي برېښي لكه له ايمانه وتل، گوري چي كه د هغه چا په اړه الهي قضاوت داسي وي چي له جهاد د رخصت تر لاسه كولو لپاره د پيغمبر عليه السلام په حضور كې حاضرېدل، نو د هغه چا په اړه به د الله تعالى او د الهي دين حكم څه وي چي له جهاد انكار كوي، نه ئې په تگلارې كې د جهاد پېراو شته، نه ئې په درسونو كې د جهاد باب شته، نه ئې په تبليغ كې د جهاد موضوع؟!! د جهاد په ځاى وايي چي اسلام د صلحي او روغي جوړې دين دئ نه د توري دين، د اسلام جنگونه دفاعي ول نه تعرضي، اسلام كافرانو ته وايي ستاسو خپل دين او زموږ خپل دين، مه تاسو پرموږ غرض لرئ نه به موږ پر تاسو!! دا خبري په داسي وخت كې كوي چي صليبي ځواكونو فلسطين نيولى، افغانستان ئې نيولى، عراق ئې نيولى، دا اوس د دوى نژدې څلور لكه فوځ په اسلامي هېوادو كې مستقر دئ!! ټول اسلامي هېوادونه له سياسي، اقتصادي او فرهنگي پلوه د دوى مستعمرې دي، چي د خلافت له زواله وروسته تر نن پوري په مستقيمه او غير مستقيمه توگه دوى پرې حكومت كوي، خپل منافق او مفسد لاس پوڅي ئې پر مسلمانانو مسلط كړي، د ژوند په ټولو برخو كې دوى د تعرض په حال كې او موږ له دفاع هم عاجز!!.

وَلَوۡ أَرَادُواْ ٱلۡخُرُوجَ لَأَعَدُّواْ لَهُۥ عُدَّةٗ وَلَٰكِن كَرِهَ ٱللَّهُ ٱنۢبِعَاثَهُمۡ فَثَبَّطَهُمۡ وَقِيلَ ٱقۡعُدُواْ مَعَ ٱلۡقَٰعِدِينَ ٤٦

او كه ئې وتل غوښتى نو حتماً به ئې (اړوند) سامان ورته تيار كړى وو، خو الله د دوى پاڅېدل كركجن وگڼلو نو سست او منصرف ئې كړل او (ورته) وويل شو چي له ناستو سره كښېنئ.

(٤٦)- دا آيت څو لارښووني لري:

وايي كه منافقينو په جهاد كې د برخي اخيستو اراده درلودى نو هرومرو به ئې د هغه

لپاره ضروري سامان برابر کړی وو، یعني منافقین له دې هم پېژندی شئ چي هغوی په جهاد کي نه د برخي اخيستو اراده لري او نه تیاری ورته نیسي، د جهاد لپاره چي کومو وسائلو او وسلو ته ضرورت دئ او کومه روزنه او تیاری غواړي دوی به ترې بې برخي وموئ. د وسلو په استعمال نه پوهېږي، د ټوپك په ليدو سره وېره پرې راشي!!

د (ارادې نشتوالی) او د (جهادي سامان نه برابرول) د دې باعث شو چي الله تعالی دوی ته په جهاد کي د برخي اخيستو سعادت ورپه برخه نه کړي او سستي او لټي ئې په شور او شوق بدله نه کړي. او دې ته ئې پرېږدي چي د خپل نفس، خپل شيطان او خپلو منافقو ملګرو دا خبره ومني چي ورته ویل ئې: له نورو ناستو کسانو سره تاسو هم کښېنئ او په جهاد کي برخه مه اخلئ.

لَوۡ خَرَجُواْ فِيكُم مَّا زَادُوكُمۡ إِلَّا خَبَالٗا وَلَأَوۡضَعُواْ خِلَٰلَكُمۡ يَبۡغُونَكُمُ ٱلۡفِتۡنَةَ وَفِيكُمۡ سَمَّٰعُونَ لَهُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٧﴾

که ستاسو په ليکو کي وتلي وی نو له تاوانه پرته به ئې بل څه نه وو درزيات کړي، هرو مرو به ئې د فتنو په لټه کي په تاسو کي ځغلول کول او په تاسو کي د دوی لپاره اورېدونکي شته، الله د دغو ظالمانو په حال ښه پوه دئ.

(٤٧)- دا آيت د دې ډلي او د دوی د فتنو راولاړولو د هڅو او تحرکاتو په اړه څو اساسي مطالب بيانوي:

الف: د دوی شتون ستاسو قوت او ځواکمني نه زياتوي؛ بلکي د فساد او بدنظمۍ باعث کېږي.

ب: د دوی هڅه دا وي چي په تاسو کي فتنې راولاړي کړي، د شرارت آسونه به هر لوري ته ځغلوي.

ج: ستاسو په ليکو کي داسي کسان شته چي د دوی د تبليغاتو تر اغېز لاندي راځي، ځيني د سفاهت او سادګۍ په وجه، ځيني د خپلو عقدو او حسادتونو په وجه او ځيني په دې خاطر چي په يوه او بل څه ناراض دي، دوی ئې تحريك کړي او د اختلافاتو د راولاړولو په لار کي ترې کار واخلي.

د: دوی ظالمان دي.

هـ: الله تعالی چي د دې ظالمي ډلي په اړه څه ويلي دي دا په الهي علم ولاړ وضاحت دئ، دا د هغه عليم خدای وينا ده چي هم دا خلك ښه پېژني او هم ئې په کړو وړو ښه پوه دئ.

د (سَمَّٰعُونَ لَهُمۡۗ) په تفسير کي ځيني مفسرين وايي: دا منافقين د دښمن لپاره جاسوسي

کوي او اطلاعات راغونډوي او د هغوی په امر ستاسو په منځ کې فتنې راولاړوي. خو غوره تفسير ئې هغه دئ چې موږ تر دې د مخه ذکر کړی؛ دا ځکه چې دلته نه په دې آيت کې او نه تر دې مخکې او وروسته د دښمن يادونه شوې، نو په (لهم) کې اشاره په خپله دغو منافقينو ته ده نه دښمن ته؛ له منافقينو پرته بل داسې اسم نه مومو چې د (هم) ضمير ورته راجع شي. سماعون د جاسوس او اطلاعاتو راغنډوونکي په معنی رااخيستل او داسې ويل چې ستاسو په ليکو کې د منافقينو يا کافرانو لپاره جاسوسان شته؛ صحيح تعبير نه دئ؛ دا ځکه چې دلته خبره د فتنو راولاړولو ده او منافقين هغه مهال کولی شي چې فتنې راولاړې کړي چې په مسمانانو کې کمعقله خلك د دوی د زهرجنو تبليغاتو تر اغېز لاندې راشي او د دوی دروغجنې خبرې ومني او د فتنو باعث شي. د لته د (سماع) صيغه د ښه غوږ نيوونکي او د خبري اورېدونکي او منونکي په معنی ده؛ يعني په مسلمانانو کې داسې خلك شته چې د منافقينو خبرو ته غوږ نيسي او دوکه کېږي.

لَقَدِ ٱبۡتَغَوُاْ ٱلۡفِتۡنَةَ مِن قَبۡلُ وَقَلَّبُواْ لَكَ ٱلۡأُمُورَ حَتَّىٰ جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَظَهَرَ أَمۡرُ ٱللَّهِ وَهُمۡ كَٰرِهُونَ ﴿٤٨﴾

يقيناً چې تر دې د مخه ئې د فتنې لټه کړې وه؛ او کارونه ئې درته اړولي(لاندي باندي) کړي وو، تر هغه چې حق راغی او د الله کار په داسې حال کې ښکارند او غالب شو چې (دوی ترې) کرکه کوونکي ول.

(٤٨)- د منافقينو له لوري د فتنو د راولاړولو د هڅو لپاره ډېر مثالونه په گوته کېدی شي، د حقائقو مغشوشولو په اړه هم د دوی د هلو ځلو ډېري بېلگې په گوته کېدی شي، يو مثال ئې په همدې سورې کې د حنين جگړه ده، د منافقينو تېښته د ټول لښکر د موقتي ماتې باعث شوه. د عائشې رضی الله عنها په اړه اتهام ئې بله بېلگه، د احد په جگړې کې د عبدالله ابن ابی بن سلول دا خبره منل چې دا جنگ جنگ نه دئ بلکې ځان وژنه ده، بايد د مدينې له منځه مو دفاع کړې وی او په همدې بهانه له ميدانه وتل او درې سوه مسلمانان دوکه کول او د ځينو نورو په زړونو کې هم بې همتي راولاړول؛ او بيا د دوی دا تبليغات چې د دښمن لوی لښکر ستاسو په خلاف راغونډ شوی، له مقابلې ئې عاجز يئ، د احزابو په جگړې کې د دوی دا تبليغات چې راځئ عبدالله بن ابی ابن سلول ته ورشو چې هغه له قريشو موږ ته امان وغواړي، د بني المصطلق په غزوې کې هغه فتنه چې نژدې وه مهاجر او انصار سره ونښلي، منافقينو هڅه وکړه چې د کوهي پر سر د دوو مسلمانانو تر منځ يوه وړه خپلمنځي شخړه په لويې فتنې بدله کړي، خو الله تعالی د هغه مخه ونيوله. دا ټولې ئې بېلگې دي.

له (قَلَّبُواْ لَكَ ٱلۡأُمُورَ) مراد دا دئ چې د امورو او کارونو په اړه ئې پيغمبر عليه السلام

ته غلط او غیر حقیقي معلومات وړاندي کړي، کله به ئې د مسلمانانو د اغفال لپاره ویل: دښمن له موږ سره د جګړي اراده نه لري، د حملې تیاری ئې نه دئ نیولی، کله به ئې د لږ شمېر دښمن په اړه ویل چي دومره لوی فوځ زموږ په ضد راغونډ شوی چي د مقابلې توان ئې نه لرو، کله به ئې د امن په حالت کې د وېري خبري خورولې او کله به ئې د خوف او خطر پر مهال د مسلمانانو د اغفال په موخه د ډاډ او اطمئنان افواهات خورول.

وَمِنْهُم مَّن يَقُولُ ٱئْذَن لِّي وَلَا تَفْتِنِّيٓ ۚ أَلَا فِي ٱلْفِتْنَةِ سَقَطُوا۟ ۗ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌۢ بِٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٤٩﴾

او د دوی ځیني داسي دي چي وایي: اجازه راکړه او په فتنې کې مي مه غورځوه! خبردار چي (دوی لادمخه) په فتنې کې پرېوتي دي؛ او جهنم هرومرو پر دغو کافرانو احاطه کوونکی دئ.

(٤٩)- دا مبارك آیت موږ ته لارښوونه کوي چي له منافقینو ځیني داسي دي چي له جهاد د تقوی تر نامه لاندي ځان خلاصوي، داسي څه به وایي چي ته ګمان وکړې دوی د ډېري تقوی او له ګناه او فتنو د ځان ساتني لپاره له جهاده ډډه کوي، کله به وایي: نه غواړم زما په لاس د مظلوم او بې ګناه انسان وینه تویه شي، زه نه غواړم د جهاد په نامه د چا مال غصب کړم، داسي نه چي پر یوې سیمي د سلطې په دوران کې پر چا تېری رانه وشي، غواړم ځن مي بې داغه پاته شي، خدای رانه ناراضه نشي، د جهاد په ځای له نورو لارو د خدای رضاء تر لاسه کوم،... په دغو تبلیغاتو سره هغه د الله د لاري مجاهدین په همدغو ګناهونو تورنوي، د دښمنانو توري ته لاستی جوړوي، په عام ولس کې دا ذهنیت راولاړوي چي مجاهدین په دغو ناروااوو کې بوخت دي او د تقوی دغه دروغجن او ټګمار مدعیان د همدې لپاره د دوی تر څنګ په جهاد کې برخه نه اخلي!! خو قرآن د دوی په اړه فرمایي: دوی لا ډېر د مخه د فتنو په ډنډ کې پرېوتي، زړه او ځن ئې داغجن دي، په زړه کې ئې خیري دي، کافران شوي، ګناهونو داسي احاطه کړي لکه چي تیار د جهنم اور پرې راتاو وي.

که څه هم د دې آیت په اړه ځینو مفسرینو یو خاص شأن نزول بیان کړی او د جد بن قیس دا وینا ئې رانقل کړې چي د تبوك د غزا پر مهال پیغمبر علیه السلام ته ورغی او وئې ویل: یا رسول الله! ما ته اجازه راکړه چي په دې غزا کې برخه وانه خلم؛ ځکه زه له ښځو سره مینه لرم، د رومیانو ښځي ښایسته دي، داسي نه چي هلته کومه ګناه رانه ونشي، په عوض کې به څه مالي مرسته وکړم، پیغمبر علیه السلام په نه زړه دا ورسره ومنله او ده ته ئې اجازه ورکړه. خو ما ته دا شأن نزول ډېر وارد او مناسب نه برېښي. یوازي دلته نه بلکي په بې حسابه مواردو کې به وومئ چي په روایاتو کې راغلي شأن نزولونه نه یوازي داسي

دي چې عام مطلب ئې خاص کړی بلکې ډېر ئې د حقیقت خلاف دي، داسي چې سوره سږ کال نازله شوې خو د همدې سورې د ځینو آیتونو شأن نزول ئې د لس کاله مخکې قضیه ښودل شوې!! د همدغه برائت په سورې کې چې تر ټولو وروستۍ نازله شوې سوره ده؛ د ځینو آیتونو په اړه ئې داسي شأن نزولونه ښودل شوي چې د بدر په جګړې پوري مربوط دي؛ زه د تحقیق په دوران کې دې نتیجې ته رسېدلی یم چې که څه هم د شأن نزول بیانول په ځینو محدودو مواردو کې د آیت په مفهوم پوهېدا آسانه کوي خو څو ستونزې راولاړوي: عام مطلب ته د خاص مطلب بڼه ورکوي او په یوې ځانګړې قضیې او شخص پوري ئې محدودوي. لوستونکې ته دا انتباه ورکوي چې ښایي دا آیت به یوازې په همغې خاصې موضوع پوري ارتباط لري نه دا چې تر قیامت پوري په ټولو ورته قضایاوو پوري مربوط دئ.

شأن نزول په اصل کې د یوه کس رأیه ده چې ګمان ئې کړی دا آیت به د دې قضیې او یا د هغه کس د یو خاص عمل په ارتباط نازل شوی وي، حال دا چې کېدی شي داسي نه وي، کېدی شي دا ئې یوه بېلګه وي او هغه هم ناقصه بېلګه، نه په بشپړه توګه مکمله بېلګه. د قرآن اعجاز په دې کې دئ چې خپل مخاطب په دې پوه کوي چې خبره ئې چا ته متوجه ده، د چا په اړه بحث کوي او په دغه ځانګړي آیت کې کوم کار او عمل ته ګوته نیسي، دا ضرورت منتفي کوي چې څوك ورته ووایي دا آیت د فلان کس یا فلان پېښې په اړه نازل شوی. ما ته د تحقیق په دوران کې دا هم جوته شوې چې په ډېرو مواردو کې داسي شأن نزولونه بیان شوي چې په کار ده په ډېر احتیاط سره هغه ومنو یا ئې رانقل کړو یا ئې بل چا ته ووایو، که دا احتیاط ونه کړو او په روایاتو کې ذکر شوي شأن نزولونه په بې احتیاطۍ سره رانقل کړو نو کېدی شي زموږ حال به هم داسي شي لکه د شیعه وو چې د قرآن د درې سوو آیتونو شأن نزول علي رضی الله عنه او د ډېرو نورو فاطمه رضی الله عنها بولي!! او وایي: الشمس ای علي، القمر ای فاطمه!!! یعني روایت وایي چې له الشمس مراد علي دئ او له القمر مراد فاطمه، له التین مراد علي دئ او له الزیتون مراد فاطمه!! یعني دا چې الله تعالی ویلي: د علي په سر قسم، د فاطمې په سر، بیا هم د علي په سر قسم، بیا هم د فاطمې په سر قسم!! چې خبره داسي ده!! آیا دا د خندا وړ مسخره روایات او شأن نزولونه نه دي؟!! مګر قرآن مبین او آسان نه دئ؟ او آیا داسي غلط تعبیر له مبین قرآن معما نه جوړوي؟! دا خو هر چا ته د دې مجال برابروي چې څه ئې زړه غواړي د قرآن د الفاظو په اړه ئې ووایي او خپل غرضي او مرضي تعبیر د یوه آیت او یا کوم لفظ شأن نزول وګڼي!!!

إِن تُصِبْكَ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ وَإِن تُصِبْكَ مُصِيبَةٌ يَقُولُوا۟ قَدْ أَخَذْنَآ أَمْرَنَا مِن

قَبۡلُ وَيَتَوَلَّواْ وَّهُمۡ فَرِحُونَ ﴿٥٠﴾

که کومه ښېګڼه درورسېږي ناراضه کوي ئې؛ او که کوم مصيبت درورسېږي نو وايي: موږ لادمخه د خپل کار (واګي په خپل لاس کې) نيولې دي؛ او په داسي حال کې مخ اړوي چې خوشحالي کوونکي دي.

---

(٥٠)- دا مبارك آيت د منافقينو او د جهاد د مخالفينو څو خصلتونه په ګوته کوي:

که مسلمانانو ته کومه ښېګڼه ورسېږي دوی پرې ناراضه کېږي، پر مسلمانانو ئې خير او برى نه لورېږي.

او که مسلمانانو ته کوم مصيبت وروسېږي نو پرې خوشحالېږي او وايي: موږ لادمخه خپله چاره کړې ده، دښمن ته د دوستۍ پيغامونو په لېږلو سره مو دا بندوبست کړی چې د هغوی له غچ خوندي پاته شو،

دوی وايي: موږ د خپلو احساساتو مهار په خپل لاس کې ونيو او په دې ناکام جنګ کې مو د برخي اخيستو غلطي ونه کړه،

په سختو شېبو کې به مسلمانان يوازي پرېږدي، مخ به ترې اړوي او په دې بې مروتۍ به د شرم او خجالت پر ځای فخر کوي او په ډېره خوشحالۍ سره به له دوی مخ اړوي.

---

قُل لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا هُوَ مَوۡلَىٰنَاۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ﴿٥١﴾

(ورته)ووايه: هيڅکله له هغه پرته څه نه رارسېږي چې الله راته ليکلي، هغه مو مولا دئ او مؤمنان خو بايد پر الله توکل وکړي.

---

(٥١)- قرآن مؤمنانو ته لارښوونه کوي چې دغو منافقينو ته په بشپړ ډاډ او اطمئنان سره ووايي: هيڅکله کوم داسي مصيبت نه رارسېږي چې الله تعالی له مخکي نه وي راته ليکلی، که دا مرګ ژوبله وي يا په جګړي کي ماته او يا کوم بل مصيبت، مؤمنان به پر خدای توکل کوي، د مصيبتونو په اړه به هيڅکله دا شك نه کوي چې دا په خپل سر او د الله تعالی له عادلانه پرېکړي پرته نازل شوي.

همدا راز دا مبارك آيت مؤمنانو ته وايي چې د کافرانو د ګواښونو په وړاندي به ستاسو ځواب دا وي:

لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا : له هغه څه پرته چې الله تعالی راته ليکلي او مخکي له مخکي ئې راته مقدر کړي، بل هيڅ مصيبت نه رارسېږي، دا د هر مؤمن بنده د عقيدې او ايمان يوه برخه ده چې باور وکړي هيڅ مصيبت نه وررسېږي؛ مګر هغه چې الله تعالی

لادمخه ده ته مقدر کړی.

دوی به پدې خبرې باور لري چي الله مو مولا دئ، هغه به موږ يوازې نه پرېږدي، هغه به زموږ هلي ځلي نه ضائع کوي، موږ به د دښمن په وړاندې يوازې نه پرېږدي.

دوی به پر الله توکل کوي. دښمن ته به وايي: زموږ ويسا او اعتماد پر الله دئ، دا ځکه چي موږ ايمان لرو او د ايمان تقاضا دا ده چي انسان به پر الله تعالی توکل کوي.

د دې مبارك آيت مهمې لارښووني دا دي:

د الله تعالی له اذن پرته هيڅا ته کوم مصيبت نه رسېږي.

انسان ته يوازې هغه مصيبت وررسېږي چي له مخکې هغه ته مقدر او د ده په تقدير پاڼې کې ليکل شوی وي.

دا مقدرات نه بدلېږي.

او دا چي الله زموږ مولا او چاره گر دئ، موږ به يوازې نه پرېږدي، په هره پرېکړه او فيصله کې ئې زموږ لپاره خير مضمر دئ، دا ځکه چي الله زموږ مولا دئ او هر څه د هغه په اراده کېږي، که په موقتې توگه له ماتې سره مخامخ کېږو، زموږ خير په همدې کې مضمر دئ او که فتح او غلبه را په برخه کړي خير په همدې کې دئ، دا ځکه چي الله زموږ مولا دئ.

او دا چي د ايمان خاوندان بايد پر الله تعالی باندې توکل وکړي، له نتائجو مطمئن وي، کار به الله ته حواله کوي او له دې به ډاډه وي چي الله جل شأنه به په هغه باندې نېك نتائج مرتب کوي.

---

قُلْ هَلْ تَرَبَّصُونَ بِنَآ إِلَّآ إِحْدَى ٱلْحُسْنَيَيْنِ ۖ وَنَحْنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمْ أَن يُصِيبَكُمُ ٱللَّهُ بِعَذَابٍ مِّنْ عِندِهِۦٓ أَوْ بِأَيْدِينَا ۖ فَتَرَبَّصُوٓا۟ إِنَّا مَعَكُم مُّتَرَبِّصُونَ ﴿٥٢﴾

(ورته) ووايه: آيا مونږ ته د دوو ښېگڼو له منځه له يوې پرته د بل څه انتظار لرئ او مونږ خو ستاسو لپاره يا دې ته سترگې په لار يو چي الله مو له خپل لوري په کوم عذاب اخته کړي او يا زمونږ په لاس، نو انتظار وکړئ چي مونږ هم درسره انتظار کوونکي يو.

---

(۵۲)- د داسې کسانو په ځواب کې بايد ووايئ:

مونږ ته له دې پرته د بل څه انتظار نه لرئ چي له دوو ښېگڼو به مو يوه په برخه شي: يا

برى يا د الله په لار کې شهادت، هر يو ئې زموږ لپاره ښېګڼه.

خو موږ ستاسو په اړه دوو حالاتو ته منتظر يو: يا دا چې الله تعالى به تاسو له خپل لوري په کوم عذاب اخته کړي او يا زموږ په لاس.

د الله تعالى پرېکړې ته تاسو هم انتظار وکړئ او موږ هم انتظار کوو.

قُلْ أَنفِقُواْ طَوْعًا أَوْ كَرْهًا لَّن يُتَقَبَّلَ مِنكُمْ إِنَّكُمْ كُنتُمْ قَوْمًا فَٰسِقِينَ ﴿٥٣﴾

(ورته) ووايه: زړه نا زړه انفاق وکړئ؛ هيڅکله به درنه قبول نشي، يقيناً تاسو يو فاسق قوم ياست.

(٥٣)- له دې مبارك آيت معلومېږي چې په مخکينيو آيتونو کې هم خطاب منافقينو ته متوجه وو، دلته مسلمانانو ته ويل شوي چې دوى ته ووايئ:

که په خپله خوښه څه انفاق کړئ يا ئې له کرکې سره؛ الله تعالى ئې نه قبلوي، دا ځکه چې تاسو فاسقان يئ.

قرآن په ورپسې آيت کې فرمايي چې دوى انفاق نه کوي مګر دا چې له انفاق کرکه لري، ځان مجبور ګڼي، وضعيت داسې وي چې ناچار خپل صدقات او زکات به سپاري او څه به د خداى په نامه لګوي، د دې دواړو خبرو تلفيق داسې دئ: دوى هيڅکله د ايمان او عقيدې په حکم او خپله خوښه او له زړه څه نه انفاقوي، انفاق ئې تل د مجبوريت له مخې وي، خو که احياناً په خپله خوښه هم څه لګوي نو انګېزنه او محاسبه ئې دا وي چې ښه ده د کوم معمولي او کم ارزښته څه په وړاندې کولو سره د مسلمانانو اعتماد تر لاسه کړو او د دوى له ګواښونو ځان وژغورو! او د مسلمانانو تأييد او ملاتړ لاس ته راوړو، دوى له ځان سره داسې پټېيلې وي چې کېدى شي د زکات او صدقاتو په ورکولو سره له هغو امتيازاتو برخمن شو چې د مسلمانانو په برخه کېږي.

وَمَا مَنَعَهُمْ أَن تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقَٰتُهُمْ إِلَّآ أَنَّهُمْ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَبِرَسُولِهِۦ وَلَا يَأْتُونَ ٱلصَّلَوٰةَ إِلَّا وَهُمْ كُسَالَىٰ وَلَا يُنفِقُونَ إِلَّا وَهُمْ كَٰرِهُونَ ﴿٥٤﴾

او له دې چې نفقات ئې قبول شي بل څه نه دي منع کړي مګر دې چې د الله او د ده د پيغمبر په اړه ئې کفر وکړ، لمانځه ته نه راځي مګر په داسې حال کې چې لټ وي او انفاق نه کوي مګر په داسې حال کې چې کرکه کوونکي وي.

(٥٤)- دلته د جهاد د هغو مخالفينو څو خصلتونه په ګوته شوي چې غواړي له جهاد پاته کېدا په داسې انفاق جبران کړي چې محرك ئې اخلاص او صداقت نه بلکې يا رياء وي يا د

مسلمانانو له گواښ ځان ژغورل، وايي چې د دوی انفاق له دې امله نه منل کېږي چې:
دوی نه پر الله تعالی ايمان لري او نه د هغه پر پيغمبر،
ځانځه ته په داسي حال کې ودرېږي چې لټ او کسل وي او
له داسي انفاق ډډه کوي چې ايمان او د الله تعالی رضاء لټول ئې تر شا وي، که څه انفاق کوي نو په نه زړه او له کرکې سره وي.

دا مبارك آيت د منافق ستري نښي زموږ په واك کې راکوي: په ځانځه کې لټي او کسالت او په شوق او ميني سره له انفاق کرکه درلودل. قرآن په دوو خبرو ډېر تأکيد کوي او هغه د نورو الهي وجائبو د اداء کولو لپاره مقدمه گڼي: لمونځ او مالي قرباني چې کله ئې د زکات په نامه يادوي او کله د صدقې په نامه، هو؛ لمونځ ترټولو مهم او ستر عبادت دئ، په اسلام کې تر بل هر عبادت پر ځانځه زيات تأکيد شوی، هومره تأکيد چې پرېښودل ئې له اسلام د وتلو نښه او په ادا کولو کې ئې کسالت او لټي د نفاق علامت گڼل شوې، گواکې دا لمونځ دئ چې مسلمان له کافر او مؤمن له منافق بېلوي. تل د ځانځه تر څنگ د زکات يادونه کېږي او د ايمان نښه گڼل کېږي، دا ځکه چې زکات او صدقات هغه څه دي چې مسلمان د الله تعالی په لار کې نورو قربانيو ته چمتو کوي.

فَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَٰلُهُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُهُمْۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُم بِهَا فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَتَزْهَقَ أَنفُسُهُمْ وَهُمْ كَٰفِرُونَ ﴿٥٥﴾

نو نه دي د دوی مالونه تا حيران کړي او نه ئې اولادونه، يقيناً چې الله يوازي دا غواړي چې په دې سره ئې په دنيايي ژوند کې تعذيب کړي او په داسي حال کې ئې سا وخېژي چې کافران وي.

(٥٥)- په دې مبارك آيت کې مسلمانانو ته لارښوونه شوې چې: د منافقينو د مال ډېروالی او د اولاد او پلويانو زياتوالی دي تاسو حيران نه کړي او داسي ونه انگېرئ چې دا د دوی د ښه والي او الله تعالی ته د نژدې والي نښه ده، خبره داسي نه ده بلکې حقيقت دا دئ چې دغه دواړه به له يوې خوا په دنيا کې د دوی د تعذيب سبب شي او له بلي خوا په کفر کې د پاته کېدا باعث، په داسي حال کې به ئې روح له بدنه وځي چې کافران وي!! دا ځکه چې د الله تعالی سنت همدا دئ، څوك چې د نفاق لار غوره کړي نو الله تعالی غواړي چې همداسي ورسره وکړي.

حقيقت دا دئ چې مال او اولاد د چا لپاره په دنيا او آخرت کې د سعادت وسيله شي او د چا لپاره په دنيا او آخرت کې د عذاب سبب، هم ئې په راغونډولو ستومانه شي او هم په ساتلو، هم ئې په راتلو کې سپکاوی او ذلت ومني هم ئې په خوندي ساتلو او له لاسه

نه ورکولو کې، د همدې لپاره الله تعالى هېر او آخرت ته شا کړي، حاصل ئې له پرېشانۍ پرته بل څه نه وي، خالي لاس ترې درومي او داسي بد او مفسد اولاد ته ئې په مېراث پرېږدي چي خلك د همدغه نااهله او مفسد اولاد د غلطو کړنو په سبب پر ده لعنت وايي.

وَيَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ إِنَّهُمۡ لَمِنكُمۡ وَمَا هُم مِّنكُمۡ وَلَٰكِنَّهُمۡ قَوۡمٞ يَفۡرَقُونَ ٥٦ لَوۡ يَجِدُونَ مَلۡجَـًٔا أَوۡ مَغَٰرَٰتٍ أَوۡ مُدَّخَلٗا لَّوَلَّوۡاْ إِلَيۡهِ وَهُمۡ يَجۡمَحُونَ ٥٧

او پر الله لوړه کوي چي دوى ستاسو له ډلي دي، حال دا چي دوى ستاسي له ډلي نه دي؛ خو دوى هغه وګړي دي چي وېرېږي. که ئې کوم پناه ځی، څه سوړي یا د ننوتلو کوم ټاټوبی موندلی وی هرومرو به ئې هغه ته مخه کړې وه په داسي حال کې چي ځغستل به ئې.

(٥٦-٥٧)- دا مبارك آیتونه موږ ته روښانه کوي چي د منافقینو یو عام خصلت دا دئ چي قسمونه کوي، د دې سورې په څو آیتونو کې د دوى دغه خصلت ته ګوته نیول شوې، دلته ویل شوي چي دوى به د الله په نامه لوړه کوي چي د مسلمانانو ملګري او د دوى د ډلي صادق او مخلص غړي دي، په داسي حال کې چي نه مسلمانان دي او نه د مسلمانانو ملګري دي، له مسلمانانو سره د دوى د یو ځای کېدا سبب راښیي او وایي چي هغوى له مسلمانانو وېرېږي، دغي وېري دې ته اړ کړي چي د مسلمانانو په خوا کې ودرېږي، بل پناه ځی نه لري، داسي سوړه په نظر نه ورځي چي پناه وروړي، بل داسي ځای نه مومي چي ورشي او له هغو ګواښونو ځان خوندي کړي چي د مسلمانانو له زیاتو بریاوو ئې احساسوي. که ئې کوم پناه ځی، کومه سوړه یا د ننوتلو کوم ټاټوبی موندلی وی نو هرومرو به ئې هغه ته په داسي حال کې مخه کړې وه چي ځغستل به ئې.

وَمِنۡهُم مَّن يَلۡمِزُكَ فِي ٱلصَّدَقَٰتِ فَإِنۡ أُعۡطُواْ مِنۡهَا رَضُواْ وَإِن لَّمۡ يُعۡطَوۡاْ مِنۡهَآ إِذَا هُمۡ يَسۡخَطُونَ ٥٨

او د دوى ځیني هغه دي چي د صدقاتو په اړه پر تا نیوکه کوي؛ نو که څه ترې ورکړی شي راضي کېږي او که ترې ورنه کړی شي نو ناڅاپه غصه کېږي.

(٥٨)- دلته د منافقینو بل خصلت په ګوته شوی: د صدقاتو د وېش په اړه به د مسلمانانو پر مشرتابه نیوکې کوي، حتی که دا مشر په خپله پیغمبر علیه السلام وي؛ او وېش هم کاملاً عادلانه، د نیوکو وجه ئې دا نه وي چي عدالت نه دئ مراعات شوی، بلکي وجه ئې دا

وي چې دوی ته په زړه پوري برخه نه ده ورکړی شوې، که داسې څه ئې په برخه شي نو بیا کاملاً راضي وي او د عدالت د نه مراعات خبره نه کوي، خو که ئې برخه د دوی د غوښتنو مطابق نه وي نو غصه کېږي که څه هم عدالت مراعات شوی وي او دوی ته د عدالت له مخي خپله برخه ورکړی شوې وي!! د دوی قضاوت هم د وېش په اړه د هوی او هوس له مخي وي او هم د مشرتابه د تصرفاتو په اړه.

وَلَوْ أَنَّهُمْ رَضُواْ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَقَالُواْ حَسْبُنَا ٱللَّهُ سَيُؤْتِينَا ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ وَرَسُولُهُۥٓ إِنَّآ إِلَى ٱللَّهِ رَٰغِبُونَ ﴿٥٩﴾

او که دوی په هغه څه راضي شوي وی چې الله او رسول ئې ورکړي او ویلي ئې وی: ژر به الله له خپل فضل (څه) راکړي او پیغمبر ئې هم، موږ د الله په لوري رغبت او تلوسه کوو.

(٥٩)- دلته د مالي تصرفاتو او د صدقاتو د وېش په اړه د یوه مؤمن ځانګړتیا زموږ مخي ته ږدي او هغه دا چې:

د الله تعالی او د ده د پیغمبر له لوري چې کومه برخه ورته ټاکل شوې په هغې راضي وي.

خبره ئې دا وي: خدای راته کافي دئ، الله تعالی به حتماً له خپل عمیم فضل موږ برخمن کړي، پیغمبر علیه السلام به هم زموږ برخه راکړي.

موږ د مال او غنیمت تر لاسه کولو هڅه نه کوو بلکي د خپل رب په لوري رغبت او تلوسه کوو.

إِنَّمَا ٱلصَّدَقَٰتُ لِلْفُقَرَآءِ وَٱلْمَسَٰكِينِ وَٱلْعَٰمِلِينَ عَلَيْهَا وَٱلْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِى ٱلرِّقَابِ وَٱلْغَٰرِمِينَ وَفِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱبْنِ ٱلسَّبِيلِ ۖ فَرِيضَةً مِّنَ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٦٠﴾

صدقات خو یوازي د فقیرانو، مسکینانو، پرې (ګمارل شوو اړوند مأمورینو)، هغه چې زړونه ئې (پرې) رانژدې کېږي، غلامانو، پوروړو، د الله په لار کې او د مسافرانو لپاره دي؛ د الله له لوري یوه فریضه؛ او الله باحکمت پوه دئ.

(٦٠)- په دې مبارك آیت کې د زکات د مصرف موارد او مستحقین ئې په دې توګه معرفي شوي:

فقیران: هغه چې هیڅ نه لري،

مسکينان: هغه چې څه لري خو ورته کفايت نه کوي،

د زکات اړوند مأمورين،

مؤلفة القلوب: هغه چې په څه مرستو سره ئې د اسلام لوري او د مسلمانانو ملګرتيا ته د دوی راغب کول مفيد او ګټور وي،

د غلامانو آزادول او له هغه غلام سره مرسته کول چې غواړي له مالك سره د مکاتبې له لاري خپله آزادي وپيري،

د پوروړو ژغورل،

د الله په لار کې: په جهادي امورو او په عام المنفعه چارو کې،

او له هغو مسافرانو سره مرسته چې محتاج شوي وي.

دا يوه الهي فريضه ده، د الله تعالی له لوري ټاکل شوې، د هغه الله له لوري چې باحکمت پوه دئ، يعني د زکات په فريضې او د وېش د څرنګوالي په اړه پرېکړه په الهي جامع او کامل علم مبتني پرېکړه ده او ډېر حکمتونه په کې مضمر دي.

له دې مبارك آيت معلومېږي چې:

اسلامي حکومت به زکات راټولوي او تر نورو مواردو وړاندې به د دريو خلکو مالي ستونزو حلولو ته توجه کوي: ١- فقيران: هغه چې هيڅ نه لري، ٢- مسکينان: هغه چې څه لري خو ورته کفايت نه کوي، ٣- د زکات اړوند مأمورين،

يعني په اسلامي اقتصادي نظام کې حکومت مکلف دئ او پر چارواکو ئې فرض چې تر نورو مواردو وړاندې د دغو دريو طبقو خلکو مالي ستونزې حل کړي. د فقير، مسکين او د زکات اداري اړوند مأمورين.

يادونه: ځينو د دې آيت له دغي برخي (عاملين عليها) دا انتباه اخيستې ده چې په امامت باندې اجوره تر لاسه کول جائز او داسې ده لکه د زکات مأمور چې معاش تر لاسه کوي، خو حقيقت دا دئ چې نه دا قياس صحيح قياس دئ او نه دا انتباه سمه انتباه، قياس به ئې په هغه صورت کې صحيح وو چې ويلې ئې وی: د دولت هر مأمور ته معاش ورکول داسې دئ لکه د زکات اړوند مأمورينو او عاملينو ته معاش ورکول. په امامت سره ځوك نه له بل کاره منع شوی او نه ئې کوم اضافي کار کړی، د ده او نورو لمونځ کوونکو تر منځ په دې کې هيڅ توپير نشته، ولې به دی له نورو اجوره تر لاسه کوي؟! همدا راز دا وينا د هغه حديث خلاف ده چې پيغمبر عليه السلام فرمايي: داسې مؤذن غوره کړه چې پر خپل آذان اجوره نه غواړي.

دا خبره هم په پام کې ولرئ چې مؤلفة القلوب ته د اسلامي دولت له لوري څه ورکول هر هغه وخت جائز دي چې د مسلمانانو وضعيت داسې وي لکه د پيغمبر عليه السلام په وخت کې، خو که ئې حالت داسې شو لکه د ابوبکر رضی الله عنه په وخت کې نو دا لړۍ

بندېدی شي، دا انتباه هم صحيح نه ده چي ووايو: د ابوبکر رضی الله عنه د خلافت پر مهال د صحابه وو په اجماع سره دا لړی بنده شوه نو اوس دوی ته څه ورکول جائز نه دي. د صحابه وو اجماع حکم نه دئ منسوخ کړی بلکې په يوه داسي حکم ئې عمل کول متوقف کړی چي د يوه خاص ضرورت له مخي لازم شوی وو، که دا ضرورت بيا راوړاندي شي نو مسلمانان همغسي پرې عمل کولی شي لکه د پيغمبر عليه السلام په وخت کې چي پرې عمل کېدو.

په دې اړه لاندنی جالب روايت نه يوازي پورتنی مطلب ښه واضح کوي بلکې د بيت المال په اړه د راشدينو خلفاوو معامله هم زموږ مخي ته ږدي، دا روايت په مختلفو کتابونو کې په بېلو بېلو صيغو او بڼو راغلی چي ما ته ئې دا بڼه د نقلولو وړ برېښي: د پيغمبر عليه السلام له رحلت وروسته عيينة بن حصن او اقرع بن حابس ابوبکر رضی الله عنه ته راغلل او ورته وئې ويل: زموږ خوا ته داسي شاړه زمکه ده چي نه کرل کېږي او نه څه بله گټه ترې اخيستل کېږي، که ئې مناسب گڼې موږ ته ئې راکړه چي وئې کرو او که خدای کول چي د گټې وړ ئې کړو، نو هغه ورته منظور کړه، خط ئې وليکو، لاسليك ئې پرې وکړ، خو د عمر رضی الله عنه په شمول ئې د ځو نورو کسانو لاسليك هم ضروري وگڼلو، دوی د نورو لاسليکونه تر لاسه کړل او د عمر رضی الله عنه خوا ته ورغلل، هغه ليك ولوست او هملته ئې پرې کړ؛ او ورته وئې ويل: اوس مؤلفة القلوب ته د څه ورکولو وخت تېر شوی، دوی ابوبکر رضی الله عنه ته راغلل د شکايت تر څنگ ئې دا هم ورته وويل: نه پوهېږو چي خليفه ته يې او که عمر؟! ابوبکر رضی الله عنه ورته وويل: الله تعالی دي پر عمر رحم وکړي؛ د خلافت وړ خو دی وو خو هغه انکار وکړ نو ځکه دا بار زما پر غاړه پرېوت، د عمر رضی الله عنه په دې کار نه ابوبکر رضی الله عنه اعتراض وکړ او نه نورو صحابه وو، احناف په همدې پېښي استناد کوي او وايي چي د صحابه وو په اجماع سره مؤلفة القلوب ته څه ورکول متوقف شوي.

---

وَمِنْهُمُ ٱلَّذِينَ يُؤْذُونَ ٱلنَّبِيَّ وَيَقُولُونَ هُوَ أُذُنٌ ۚ قُلْ أُذُنُ خَيْرٍ لَّكُمْ يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَيُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِينَ وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنكُمْ ۚ وَٱلَّذِينَ يُؤْذُونَ رَسُولَ ٱللَّهِ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٦١﴾

او له دوی ځيني هغه دي چي پيغمبر ځوروي او وايي: دی (خو هسي يو) غوږ دئ! (ورته) ووايه: ستاسو د ښېگڼې غوږ، چي پر الله باور کوي، د مؤمنانو (پر وينا) باور کوي؛ او ستاسو د هغو وگړو لپاره د رحمت (باعث) چي ايمان راوړي؛ او هغه چي د الله پيغمبر ځوروي دوی ته دردناك عذاب دئ.

(٦١)- منافقينو يوازې د مرستو د وېش په اړه د پيغمبر عليه السلام په ضد تبليغات نه کول بلکې له هر فرصت په استفادې سره او په هر مورد کې به ئې دا کار کاوو، ويل به ئې: دی (خو هسې يو) غوږ دئ! د هر چا خبره اوري، هر څوك کولی شي د خپلې خوښې خبره ورته وکړي او پرې وئې مني!! الله تعالی د هغوی په ځواب کې فرمايي:

ستاسو د ښېګڼې غوږ، ستاسو لپاره خو همدا غوره ده چې خبرې مو واوري، د هغو مشرانو په څېر نه وي چې عادي خلك ئې ليدی هم نشي، په وړاندې ئې خبرې هم نشي کولی؛ او که د هغه خوا ته د ورتلو او خبرې کولو فرصت تر لاسه کړې هغه ئې په بې اعتنائي سره اوري.

دا هغه غوږ دئ چې پر خپل الله باور لري او لارښوونو ته ئې غوږ ږدي،

دا هغه غوږ دئ چې د مؤمنانو پر وينا باور کوي، نه د هر منافق او بې ايمانه دوکه مار انسان پر خبرې.

دا د ده د زړه سوي او ترحم نښه ده، خو د هغو وګړو لپاره د رحمت باعث چې ايمان راوړي،

او د هغو وګړو لپاره دردناك عذاب دئ چې د الله پيغمبر ځوروي.

---

يَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ لَكُمۡ لِيُرۡضُوكُمۡ وَٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَحَقُّ أَن يُرۡضُوهُ إِن كَانُواْ مُؤۡمِنِينَ ﴿٦٢﴾

پر الله درته لوړه کوي چې راضي مو کړي؛ حال دا چې الله او رسول ئې ترټولو زيات د دې حقدار دي چې راضي ئې کړي که مؤمنان وی.

---

(٦٢)- دلته يو ځل بيا ويل شوي چې منافقين د الله په نامه لوړه کوي او په دې سره غواړي چې مؤمنان له ځانه راضي او خوشحاله کړي، يا کومه ځرګنده غلطي ترې شوې او غواړي په قسمونو سره ئې توجيه کړي، يا د مسلمانانو د اعتماد تر لاسه کولو لپاره قسمونه خوري چې په خپل ايمان کې صادق دي او مسلمانانو ته اخلاص لري. خو الله تعالی د دوی په اړه فرمايي: که پر الله او د هغه پر رسول ايمان لرئ نو د خلکو په ځای د الله او د هغه د رسول رضاء ولټوئ، هغه کار وکړئ چې الله او د هغه رسول پرې راضي کېږي.

---

أَلَمۡ يَعۡلَمُوٓاْ أَنَّهُۥ مَن يُحَادِدِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَأَنَّ لَهُۥ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدٗا فِيهَاۚ ذَٰلِكَ ٱلۡخِزۡيُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿٦٣﴾

آيا په دې نه پوهېږي چې څوك له الله او رسول سره ئې دښمني وکړي نو هغه ته د

جهنم اور دئ چي په هغه کې به تلپاته وي، دا ستر سپکاوی دئ.

(٦٣)- دلته د دغو قسم خورو منافقينو په اړه ويل شوي: آيا دوی په دې نه پوهېږي چي په خپلو منافقتونو سره په حقيقت کې له الله تعالی او د هغه له پيغمبر سره دښمني کوي او د دې دښمنۍ سزا د هغه جهنم اور دئ چي په هغه کې به تلپاته وي او دغه ستر سپکاوی به ئې په برخه شي؟! په کار خو دا وه چي له دې ئې ځان ساتلی، نه دا چي ټول هم او غم ئې په رياء او قسمونو سره د مسلمانانو راضي کول وي.

يَحۡذَرُ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ أَن تُنَزَّلَ عَلَيۡهِمۡ سُورَةٞ تُنَبِّئُهُم بِمَا فِي قُلُوبِهِمۡۚ قُلِ ٱسۡتَهۡزِءُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ مُخۡرِجٞ مَّا تَحۡذَرُونَ ﴿٦٤﴾

منافقين له دې حذر کوي چي کومه داسي سوره پرې نازله شي چي دوی په هغه څه خبر کړي چي په زړونو کې ئې دي، (ورته) ووايه: ټوکې (مو) وکړئ؛ يقيناً چي الله د هغه څه رااېستونکی دئ چي حذر ترې کوئ.

(٦٤)- منافقينو به کله کله په خپلو خاصو او سري غونډو کې په ټوکو ټوکو ويل: پام کوئ چي پيغمبر بيا ستاسو په اړه داسي څه ونه وايي چي ستاسو د زړه خبري په کې بربنډې شوې وي او دې ته د الله له لوري د نازلې شوې سورې نوم ورکړي، زموږ په ضد خپله خبره د الله له لوري نازله شوې خبره ګڼي، زموږ د کړو وړو افکارو او نظرياتو په ضد خلك پاروي خو دا د الله تعالی له لوري بولي!! الله تعالی د هغوی په ځواب کې فرمايي: دوی ته ووايه: ټوکې مو وکړئ؛ يقيناً چي الله د هغه څه رااېستونکی دئ چي حذر ترې کوئ، هغه څه چي ستاسو منافقتونه به بربنډ او ستاسو پټي خبري به افشاء کړي.

وَلَئِن سَأَلۡتَهُمۡ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلۡعَبُۚ قُلۡ أَبِٱللَّهِ وَءَايَٰتِهِۦ وَرَسُولِهِۦ كُنتُمۡ تَسۡتَهۡزِءُونَ ﴿٦٥﴾

او که ئې وپوښتې نو حتماً به وايي: هسي لګيا وو او لوبې مو کولې، (ورته) ووايه: آيا پر الله، په آيتونو ئې او د ده پر پيغمبر مو ملنډې وهلې؟!

(٦٥)- دوی په خپلو پټو غونډو او مجلسونو کې داسي څه وايي چي پر الله تعالی، په آيتونو ئې او د ده پر پيغمبر له ملنډو او استهزاء سره ورته دي، خو که پوښتنه ترې وکړې چي ولې؟ نو وايي به: موږ هسي ټوکې ټکالې کولې، په بد نيت او بدغرض مو نه دي کړې! د دوی په اړه ويل شوي: آيا پر الله، په آيتونو ئې او د ده پر پيغمبر مو ملنډې وهلې؟! آيا په دې

اړه هم ملنډې کېدی شي؟!

له دې آیت د منافقینو یو بل خصلت او نښه موږ ته ښودل شوې او هغه دا چې دوی د الله تعالی، پیغمبر علیه السلام، دین، مقدساتو او شعائرالله په اړه ډېر بې باکه او بې اعتناء وي، هغه درناوی، تعظیم، احترام او احتیاط چې په دغو مواردو کې د ایمان غوښتنه ده د دوی په کړو وړو او ویناوو کې نه تر سترګو کېږي. څوك چې په دې اړه بې احتیاطي کوي په هغه کې د نفاق یوه نښه ده.

---

لَا تَعۡتَذِرُواْ قَدۡ كَفَرۡتُم بَعۡدَ إِيمَٰنِكُمۡۚ إِن نَّعۡفُ عَن طَآئِفَةٖ مِّنكُمۡ نُعَذِّبۡ طَآئِفَةَۢ بِأَنَّهُمۡ كَانُواْ مُجۡرِمِينَ ٦٦

بهانې او عذر مه وړاندې کوئ؛ یقیناً چې له خپل ایمان وروسته کافران شوي یئ، که له یوې ډلې مو تېر شو؛ بله به له دې کبله تعذیبوو چې مجرمان ول.

---

(٦٦)- دا آیت د نفاق یوه بله ځانګړتیا زموږ مخې ته ږدي: یو په بل پسې غلط کارونه کول او بیا ئې د توجیه لپاره دلائل وړاندې کول او په عذرونو او بهانو سره ځان تبرئه کول، دا غلط کارونه کله دومره ستر ستر چې د مقدساتو په نسبت سپکاوی او بې احترامي وي؛ خو دوی ئې د ژبې دې خوا آخوا خوځولو او چټې عذرونو سره توجیه کوي، الله تعالی د دوی په اړه فرمایي: دوی په حقیقت کې له ایمانه وروسته کافران شوي، که ئې یوې ډلې ته عفوه وکړو بله به ئې د دې لپاره تعذیبوو چې مجرمان دي. الله تعالی داسې سخت او بدضمیره منافقین هم په دوو ډلو وېشي: یوه ئې د عفوی او بخښنې وړ ګڼي، که توبه وکړي او په اخلاص سره ایمان راوړي نو الله تعالی به ورته عفوه وکړي، خو بله ډله ئې داسې ستر مجرمان دي او د نفاق هغه پړاو ته رسېدلې چې د توبې دروازې ئې پر خپل مخ تړلې دي، نه به د توبې توفیق تر لاسه کړي او نه به الله تعالی ورته عفوه وکړي.

---

ٱلۡمُنَٰفِقُونَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتُ بَعۡضُهُم مِّنۢ بَعۡضٖۚ يَأۡمُرُونَ بِٱلۡمُنكَرِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَقۡبِضُونَ أَيۡدِيَهُمۡۚ نَسُواْ ٱللَّهَ فَنَسِيَهُمۡۚ إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ٦٧

نارینه منافقین او ښځې منافقینې ځیني د ځینو نورو له ډلې دي، د منکر سپارښتنه کوي، له ښېګڼو مخنیوی کوي، خپل لاسونه (د خیر له کار او د مال له انفاق) بندوي، دوی خدای هېر کړی او خدای دوی هېر کړي، یقیناً چې منافقین فاسقان دي.

(٦٧)- دلته د منافقینو څو ستر ستر خصلتونه په ګوته شوي:

منافقین (نارینه او ښځې) ځیني د ځینو نورو له ډلې دي، د مسلمانانو په لیکو کې ځانګړې ډله جوړوي او یو د بل خوا ته ودرېږي، خو الفاظ داسي دي چې ښیي هسې ډله ئې یوه ده، نه ئې تر منځ خواخوږي شته، نه یو د بل مرسته کوي، نه یو له بل سره مینه لري. د دوی په مقابل کې کله چې د مؤمنانو یادونه کېږي نو الله تعالی فرمایي چې دوی یو د بل دوستان دي، د دوی تر منځ مینه او موالات وي.

د منکر سپارښتنه کوي، د داسي کارونو سپارښتنه او ملاتړ کوي چې بدوالی ئې څرګند وي او هر د سالم طبیعت خاوند ترې کرکه لري.

له ښېګڼو مخنیوی کوي، په خپلو تبلیغاتو سره هم، په خپلو کړو وړو سره هم او له خپلو امکاناتو په استفادې سره هم.

د خیر له کار او د مال له انفاق ډډه کوي، د خیر لوري ته لاس نه غزوي، د خیر په کار کې له انفاق خپل لاسونه راټولوي.

دوی خدای هېر کړی، نه به ئې په وینا کې د خدای نوم واوری، نه په خپلو تبصرو او تحلیلونو کې د قدیر خدای د وعدو یادونه، نه به ئې عمل داسي وموموئ چې ښیي خدای ئې په یاد دئ نو ځکه ئې دا عمل وکړ.

خدای دوی هېر کړي، نه ئې دعاء او عبادت ته اعتناء کوي او نه ئې له کړاوونو او ستونزو د وتلو په لار کې مرسته کوي.

دوی فاسقان دي، د ژوند په ډېرو برخو کې به وګورئ چې دوی د الله تعالی له اوامرو سرغړاوي کوي.

---

وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلْمُنَٰفِقِينَ وَٱلْمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلْكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ هِيَ حَسْبُهُمْۚ وَلَعَنَهُمُ ٱللَّهُۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴿٦٨﴾

الله له نارینه منافقینو، ښځینه منافقینو او کافرانو سره د دوزخ د اور وعده کړې چې په کې به تلپاته وي، همدا ورته بس دئ، الله رټلي او دوی ته تلپاته عذاب دئ.

---

(٦٨)- دوی په اصل کې د کافرانو ملګري دي، د مسلمانانو په ضد چې څه کوي یا ئې د کافرانو په وینا کوي یا د هغوی د خوشحالولو لپاره او یا دا چې ګټه ئې هغوی ته رسېږي، نو ځکه به د قیامت په ورځ چې هر څوك به له خپل دوست سره یو ځای کېږي او یو ځای به دوزخ یا جنت ته درومي، دوی به له کافرانو سره د تل لپاره په دوزخ کې وي، د الله تعالی په لعنت به اخته وي او تلپاتې نه سرېدونکی عذاب به ئې په برخه وي.

كَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ كَانُوٓاْ أَشَدَّ مِنكُمۡ قُوَّةٗ وَأَكۡثَرَ أَمۡوَٰلٗا وَأَوۡلَٰدٗا فَٱسۡتَمۡتَعُواْ بِخَلَٰقِهِمۡ فَٱسۡتَمۡتَعۡتُم بِخَلَٰقِكُمۡ كَمَا ٱسۡتَمۡتَعَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُم بِخَلَٰقِهِمۡ وَخُضۡتُمۡ كَٱلَّذِي خَاضُوٓاْۚ أُوْلَٰٓئِكَ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ٦٩

لکه هغه چې ترتاسو مخکې ول چې د ځواك له مخې ترتاسو مضبوط ول او مال او اولاد ئې (ترتاسو) زيات، نو له خپلو برخو ئې ګټه واخيسته او تاسو هم له خپلو برخو همغسې ګټه واخيسته لکه چې ترتاسو مخکينيو له خپلو برخو ګټه اخيستې وه او همداسې په کې لګيا شوئ لکه چې هغوی په کې لګيا شوي وو، دوی همغه دي چې عملونه ئې په دنيا او آخرت کې هدر شول او همدا دوی زيانمن دي.

(٦٩)- د منافقينو ډېری هغه کسان وو چې شتمن ول، لږ ئې د نيستمنې طبقې ول، خپلو شتمنيو، جاه او جلال ته هڅولي ول چې د صادقانه ايمان په ځای د نفاق لار غوره کړي، خپلو شتمنيو، جاه او جلال له جهاد، انفاق او د اسلام په لار کې د خطرونو او کړاوونو له ګاللو منع کول، دا مبارك آيتونه د دغو شتمنو منافقينو په اړه فرمايي:

ستاسو د نفاق پايله به همغسې وي لکه د هغو منافقينو چې ترتاسو مخکې ول چې د ځواك له مخې ترتاسو مضبوط ول او مال او اولاد ئې (ترتاسو) زيات،

هغوی هم له هغو فرصتونو، مهلتونو او امکاناتو ګټه واخيسته چې په برخه شوي ئې وو او تاسو هم له خپلو برخو د دوی په څېر ګټه واخيسته؛ او داسې په کې لګيا شوئ لکه چې هغوی په کې لګيا شوي وو، د هغوی هلې ځلې په دنيا او آخرت کې هدر شوې او له دنيوي او اخروي تاوانه پرته بل څه په لاس ورنه غلل، ستاسو پايله به هم د دوی په څېر وي.

أَلَمۡ يَأۡتِهِمۡ نَبَأُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ قَوۡمِ نُوحٖ وَعَادٖ وَثَمُودَ وَقَوۡمِ إِبۡرَٰهِيمَ وَأَصۡحَٰبِ مَدۡيَنَ وَٱلۡمُؤۡتَفِكَٰتِۚ أَتَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِۖ فَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظۡلِمَهُمۡ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ٧٠

آيا د هغو خبر نه دئ وررسېدلی چې تر دوی مخکې ول؛ د نوح قوم، عاد، ثمود، د ابراهيم قوم، مدين وال او لاندې باندې شوي؟! چې پيغمبرانو ئې څرګندې نښې ورووړې؛ او الله ظلم نه دئ پرې کړی بلکې دوی پر خپل ځان ظلم کاوو.

(۷۰)- دلته د منافقينو په اړه ويل شوي چي آيا دوی د مخکينيو قومونو عبرتناکو بدو پايلو ته پام نه دئ کړی، همغه چي تر دوی مخکي تېر شوي، هغه چي د کفر، نفاق او له خپلو پيغمبرانو عليهم السلام سره د مخالفت لار ئې غوره کړه او هلاك شول؛ لکه د نوح قوم، عاد، ثمود، د ابراهيم قوم، مدين وال او لاندي باندي شوي د لوط قوم (چي کورونه پرې رانسکور شول او سيمه ئې لاندي باندي شوه)؟! ټول هغه قومونه چي پيغمبرانو ئې څرګندي نښي ورته راوړې، خو دوی له کفر او نفاق نه لاس وانه خيست او د الله تعالی له لوري په سخت عذاب اخته شول، په دې دردناك عذاب سره الله تعالی پر دوی ظلم نه دئ کړی بلکي دوی پر خپل ځان ظلم کاوو.

وَٱلْمُؤْمِنُونَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍۚ يَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَيُطِيعُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ ٱللَّهُۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٧١﴾

او باايمانه نارينه او باايمانه ښځي؛ ځيني ئې د ځينو نورو دوستان دي، په معروف امر کوي، له منکر نه ممانعت کوي، لمونځ قائموي، زکات ورکوي او د الله او د هغه د پيغمبر اطاعت کوي، همدا کسان دي چي ډېر ژر به الله پر دوی رحم وکړي، يقيناً چي الله باحکمت عزتمن دئ.

(۷۱)- د منافقينو د خصلتونو او د نفاق د دنيوي او اخروي پايلو له څېړلو وروسته دلته د مؤمنانو مواصفات او ځانګړتياوي ښودل شوې چي په دې سره نه يوازې مخلص او واقعي مؤمنان پېژندی شو بلکي د دوی او منافقينو تر منځ ژور توپيرونه هم پېژندی شو؛ د باايمانه نارينه او باايمانه ښځي ځانګړتياوي دا دي:

ځيني ئې د ځينو نورو دوستان دي، د مؤمنانو تر منځ تل د دوستۍ او ولايت، يو له بل دفاع او حمايت او يو د بل مرستي ته د راوړاندي کېدو اړيکي وي.

په معروف امر کوي، له منکر ممانعت کوي، لمونځ قائموي، زکات ورکوي؛ او د الله او د هغه د پيغمبر اطاعت کوي؛ دوی د الله تعالی د پېرزوينو وړ دي، ډېر ژر به الله تعالی پر دوی رحم وکړي، يقيناً چي الله باحکمت عزتمن دئ، په خپل حکيمانه تدبير سره به مسلمانانو ته عزت او غلبه ورکوي.

قرآن فرمايي چي هره انساني ډله د خاصو اخلاقي او فکري مواصفاتو پر بنسټ جوړېږي، لکه څنګه چي د مؤمنانو تر منځ به د دوستۍ او ميني اړيکي وي، همدا راز به د منافقينو د ټولګي تر منځ خاص روابط وي، منافقين به يو د بل په څنګ کي، مفسدين به يو د بل خوا ته، کافران به يو د بل خوا خوړی او مؤمنان به د يوه حزب غړي او يو د بل

دوست او ولي ومومئ.

وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا وَمَسَٰكِنَ طَيِّبَةً فِى جَنَّٰتِ عَدْنٍ ۚ وَرِضْوَٰنٌ مِّنَ ٱللَّهِ أَكْبَرُ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿٧٢﴾

الله له نارينه مؤمنانو او باایمانو ښځو سره د داسي جنتونو وعده کړې ده چې ترې لاندي ويالې بهېږي، تلپاته په هغه کې او په تلپاته جنتونو کې پاکيزه مېشت ځايونه؛ او دا الهي رضاء خو ترټولو ستره ده، همدا ستره بريا ده.

(۷۲)- دا مبارك آيت له مؤمنانو سره د الله تعالی ځو وعدې زموږ مخي ته ږدي: داسي جنتونه چې ترې لاندي ويالې بهېږي، په هغه کې تلپاته او دایمي ژوند، دا جنتونه هم تلپاته او دایمي چې نه ئې خزان وهي او نه ئې مېوې ختمېږي، د تل اوسېدو په دغو جنتونو کې پاکيزه مېشت ځايونه؛ او تر ټولو ستر ئې د الله تعالی رضاء.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ جَٰهِدِ ٱلْكُفَّارَ وَٱلْمُنَٰفِقِينَ وَٱغْلُظْ عَلَيْهِمْ ۚ وَمَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿٧٣﴾

اې نبي! له کافرانو او منافقينو سره جهاد وکړه او ځيږوالی پرې کوه، د دوی استوګنځی دوزخ دئ او دا ځومره بده پايله!!

(۷۳)- دلته پيغمبر عليه السلام او د ده له لاري مسلمانانو ته ويل شوي چې: له کافرانو او منافقينو سره جهاد وکړئ، په ژبه، قلم، مال، لاس او توري سره، له هر يوه سره د حالاتو له غوښتنو سره سم او د دوی وضعيت ته په پام سره، له محاربو کافرانو سره په توره او له منافقينو سره په ژبه؛ او له ټولو سره په خپل چلند کې له ځيږوالي، شدت او غلظت کار واخلئ او نرمي مه کوئ. اسلام نه يوازي دا چې موږ له کافر، منافق، مفسد او ظالم سره له ملګرتيا، دوستي او مرستي منع کړي يو بلکې له دې ئې هم منع کړي يو چې له دوی سره نرمي وکړو او په ورين تندي ئې استقبال کړو، خو د دې معنی دا نه ده چې موږ ئې له دې منع کړي يو چې دغو خلکو ته په ښه او نرمه لهجه بلنه ورکړو، وعظ او نصيحت ورته وکړو او د اسلام لوري ته د دوی د راغب کولو په موخه ښه سلوك ورسره وکړو، معنی ئې دا ده چې کله وګورو چې دوی له اسلام سره د دښمنۍ لپاره ملا تړلې ده او يا وګورو چې دوی په خپل کفر، نفاق، فساد او ظلم کې زموږ له مسلسل دعوت سره سره ټينګار کوي نو

د نرمښت په ځای له شدت او غلظت کار واخلو، دا ځکه چې د قرآن په نورو آيتونو کې مورږ ته لارښوونه شوې ده چې په غوره او ښايسته توګه هغوی د حق لوري ته دعوت کړو، و جادلهم بالتي هي احسن.

يَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ مَا قَالُواْ وَلَقَدۡ قَالُواْ كَلِمَةَ ٱلۡكُفۡرِ وَكَفَرُواْ بَعۡدَ إِسۡلَٰمِهِمۡ وَهَمُّواْ بِمَا لَمۡ يَنَالُواْۚ وَمَا نَقَمُوٓاْ إِلَّآ أَنۡ أَغۡنَىٰهُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ مِن فَضۡلِهِۦۚ فَإِن يَتُوبُواْ يَكُ خَيۡرٗا لَّهُمۡۖ وَإِن يَتَوَلَّوۡاْ يُعَذِّبۡهُمُ ٱللَّهُ عَذَابًا أَلِيمٗا فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۚ وَمَا لَهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٖ ﴿٧٤﴾

د الله په نامه لوړه کوي چې ويلي ئې نه دي، حال دا چې يقيناً ئې د کفر وينا کړې، له خپلي مسلمانۍ وروسته (بېرته) کافران شوي او د هغه څه هڅه ئې کړې ده چې نه ورورسېدل؛ او نيوکې ئې يوازي له دې کبله وې چې الله او پيغمبر ئې دوی له خپل فضل برخمن کړل، نو که ئې توبه وکړه ورته غوره ده او که ئې مخ واړاوو نو الله به ئې په دنيا او آخرت کې په دردناك عذاب سره تعذيب کړي او په زمکې کې به ئې نه کوم دوست وي او نه کوم مرستندوی.

(٧٤)- ګورئ چې دلته يو ځل بيا د منافقينو يو بل قسم او لوړه زمورږ مخې ته اېښودل شوې، دا ځل ئې لوړه په دې باندي ده چې د کفر وينا ئې نه ده کړې او د اسلام او مسلمانانو په ضد ئې داسي څه نه دي ويلي چې د کفر بوی ترې راځي؛ او داسي څه ئې نه دي کړي چې د دوی د کفر څرګندونه کوي، خو الله تعالی فرمايي: دوی دروغ وايي، يقيناً داسي څه ئې ويلي او کړي دي چې په هغه سره له مسلمانۍ وروسته بېرته کافران شوي او د هغه څه هڅه ئې کړې ده چې نه دي پرې برلاسي شوي، غوښتل ئې د اسلام او مسلمانانو په ضد ډېر څه وکړي خو نه دي توانېدلي، منافقينو دې ته هم نه کتل چې الله تعالی د پيغمبر عليه السلام د راتلو او په مدينې منورې کې د اسلام د نور ځلېدو سره څومره ښېګڼې د دې ولس په برخه کړې، له جهل، شرك او خرافاتو وژغورل شول، خپل منځي جګړي ئې په ورورۍ بدلې شوې، د يوه ضعيف، کمزوري او نوم ورکي قوم له سطحي د قوت، عزت او نېك نوم لوړو څوکو ته ورسېدل، نه يوازي د دغو الهي پېرزوينو پاس نه ساتي بلکي د پيغمبر عليه السلام په ضد له دښمنۍ ډك تبليغات کوي، د دوی تبليغات، اعتراضات او نيوکې په حقيقت کې د هغه ستر احسان يوه ناروا او ظالمانه بدله ده چې د الله تعالی او پيغمبر عليه السلام له لوري د دوی په برخه شوی!! دوی ته دا غوره ده چې توبه وکړي، خو که له توبې مخ واړوي نو الله به ئې په دنيا او آخرت کې په دردناك

عذاب سره تعذیب کړي او په زمکې کې به ئې نه کوم دوست وي او نه کوم مرستندوی.

وَمِنْهُم مَّنْ عَٰهَدَ ٱللَّهَ لَئِنْ ءَاتَىٰنَا مِن فَضْلِهِۦ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٧٥﴾ فَلَمَّآ ءَاتَىٰهُم مِّن فَضْلِهِۦ بَخِلُواْ بِهِۦ وَتَوَلَّواْ وَّهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٧٦﴾

او له دوی ځینو له الله سره ژمنه وکړه چې که له خپل فضل نه څه ورکړي هرومرو به صدقې ورکوي او له صالحانو به وي. خو کله چې ئې له خپل فضل څه ورکړل؛ بخل ئې پرې وکړ او په داسې حال کې ئې مخ واړولو چې ډډه کوونکې ول.

(۷۵-۷٦)- دا منافقین نه یوازې له مؤمنانو سره دوکه کوي او خپلې ژمنې تر پښو لاندې کوي بلکې له الله تعالی سره هم خدعه کوي او خپلې ژمنې ماتوي، چې په دې مبارکو آیتونو کې ئې یوه بېلګه داسې ښودل شوې: له الله تعالی سره ژمنه کوي چې که ورباندې فضل وکړي او شتمن ئې کړي نو صدقه به ورکوي او صالح او نېك بنده به ترې جوړ شي، خو کله چې الله تعالی له خپل فضل څه ورکړي؛ نو بخل کوي او په داسې حال کې مخ اړوي چې ډډه کوونکې وي.

فَأَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِى قُلُوبِهِمْ إِلَىٰ يَوْمِ يَلْقَوْنَهُۥ بِمَآ أَخْلَفُواْ ٱللَّهَ مَا وَعَدُوهُ وَبِمَا كَانُواْ يَكْذِبُونَ ﴿٧٧﴾

نو په پایله کې ئې داسې نفاق ورپه برخه کړ چې تر هغې ورځې به د دوی په زړونو کې وي چې ورسره مخامخ شي؛ له دې کبله چې له الله سره ئې په کړو ژمنو کې مخالفت وکړ او له دې کبله چې دروغ ئې ویل.

(۷۷)- الله تعالی د دوی د دغو وعده خلافیو او درواغو په سبب؛ داسې نفاق د دوی په زړونو کې واچاوو چې تر قیامت به ترې ونه وځي! دا آیت موږ ته لارښوونه کوي چې وعده خلافي او درواغ انسان د نفاق په لوري بیایي، یوازې د نفاق په مرض اخته انسان به دروغ وایي او خپلې ژمنې به تر پښو لاندې کوي.

أَلَمْ يَعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَىٰهُمْ وَأَنَّ ٱللَّهَ عَلَّٰمُ ٱلْغُيُوبِ ﴿٧٨﴾

آیا په دې نه پوهېږي چې الله د دوی پر اسرارو او پټو خبرو پوهېږي او دا چې الله په غیبو ډېر ښه پوه دئ؟

(۷۸)- دا مبارك آیت د نفاق یوه اساسي وجه موږ ته راښیي؛ او هغه دا چې د الله تعالی په اړه غلط باورونه او ناسمه عقیده د دې باعث شي چې انسان د نفاق په مرض اخته او په

دې گنده ډنډ کې پرېوځي او وعده خلافي او درواغ ئې عادت شي، د همدې لپاره دلته ویل شوي: آیا دوی په دې نه پوهېږي چې الله ئې پر اسرارو او پټو خبرو پوهېږي او دا چې الله په غیبو ډېر ښه پوه دئ. که دوی د زړه له تل په دې خبري ایمان درلودی او په دې باور وی چې معامله ئې له هغه رب سره ده چې په پټو خبرو پوه دئ او د هیڅا هیڅ څه ترې پټ نه پاته کېږي، نو هیڅکله به ئې د نفاق لار نه وه غوره کړې.

ٱلَّذِينَ يَلۡمِزُونَ ٱلۡمُطَّوِّعِينَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ فِي ٱلصَّدَقَٰتِ وَٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ إِلَّا جُهۡدَهُمۡ فَيَسۡخَرُونَ مِنۡهُمۡ سَخِرَ ٱللَّهُ مِنۡهُمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٩﴾

هغه چې د مؤمنانو پر ایثارگرو (په پراخ زړه انفاق کوونکو) نیوکې کوي او پر هغو د دې لپاره ملنډې وهي چې د خپل زیار (له حاصل علاوه) څه نه مومي، الله پر دوی ټمسخر کړی او دوی ته دردوونکی عذاب دئ.

(۷۹)- دا آیت د منافقینو د مخکینۍ ډلې یو بل کرغېړن خصلت داسي بیانوي: دوی نه یوازې د شتمن کېدو په صورت کې له الله تعالی سره خپلې ژمنې ماتوي، نه صدقه ورکوي او نه صالح بنده ترې جوړېږي؛ بلکې له یوې خوا پر هغو ایثارگرو مؤمنانو نیوکې کوي چې په پراخ زړه او خلاص لاس خپلې شتمنۍ د الله تعالی په لار کې وقف کوي، وایي: دوی د ریاء او ځان ښودنې لپاره دا کار کوي او زیات مال وقف کوي!! خو له بلې خوا پر هغو بې وزلو مؤمنانو د دې لپاره ملنډې وهي چې د نیستمنۍ په وجه ډېر لږ څه د الله تعالی په لار کې وقف کولی شي، څوك د کجورو یو وړی، څوك یو سېرلی، څوك څو درهمه او څوك د خپل ورځني زیار او کار د مزد او اجورې یوه برخه، نور څه نه مومي چې د الله تعالی په لار کې ئې قرباني کړي، منافقینو به پرې خندل چې دوی غواړي د مرز په ورون سره روم فتح کړي، خو الله تعالی فرمایي چې د منافقینو حالت د ټمسخر وړ دئ نه د دغو مخلصو مؤمنانو!! دا ځکه چې نفاق ئې له هغه دردناك عذاب سره مخامخ کوي چې الله تعالی منافقینو ته ټاکلی.

ٱسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ أَوۡ لَا تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ إِن تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ سَبۡعِينَ مَرَّةً فَلَن يَغۡفِرَ ٱللَّهُ لَهُمۡۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴿٨٠﴾

بخښنه ورته وغواړه او یا بخښنه مه ورته غواړه؛ که اویا ځله هم بخښنه ورته وغواړې الله به هیڅکله بخښنه ورته ونه کړي، دا د دې لپاره چې د الله او د ده د پیغمبر په اړه ئې کفر کړی او الله داسي فاسق وگړي نه هدایتوي.

(۸۰)- ځيني منافقين داسي هم وو چي د تقوی دعوی به ئې کوله، پيغمبر عليه السلام ته به راتلل او ويل به ئې: له موږ قصور او غلطي شوې، پرې پښېمانه يو، د جبران په لټه کې يو، بل ځل به وگورې چي داسي څه وکړو چي ستا سترگي پرې روښانه شي او موږ مخکينۍ گناه پرې جبران کړو!! الله تعالی د دغي منافقي ډلي د دې ادعاء په رد کې فرمايي: اې پيغمبره! خوښه دي چي بخښنه ورته غواړې که نه، خو پوه شه چي که اويا ځله هم بخښنه ورته وغواړې نو الله به هيڅکله بخښنه ورته ونه کړي، دا ځکه چي دوی د الله او د ده د پيغمبر په اړه کفر کړی او دا د الله سنت دئ چي داسي فاسق وگړي نه هدايتوي.

دا آيت موږ ته ښيي چي د بخښني په اړه د الله تعالی خاص سنن دي، دا سنن د هيچا په خاطر نه بدلېږي، ځوک چي د الهي سننو له مخي د مغفرت او بخښني مستحق نه وي که پيغمبر هم د هغه لپاره دعاء وکړي نو الله تعالی دا دعاء نه قبولي، همداسي د شفاعت په اړه الله تعالی خاص سنن لري، د دغو سننو مطابق چا ته د شفاعت کولو اجازه ورکوي او د چا په اړه د بل شفاعت مني، که پيغمبر هم د کوم غير مستحق انسان په اړه شفاعت وکړي الله تعالی دا شفاعت نه قبلوي، دا خبره د دې لپاره بايد په پام کې ولرئ چي يوه کمعقله او د شرك په ډنډ کې پرېوتې ډله د شفاعت په اړه غلو کوي او د پيغمبر عليه السلام په اړه همغه څه وايي چي د مسيحيانو بايبل ئې د عيسی عليه السلام په اړه وايي. د شفاعت اجازه د الله تعالی له لوري ورکول کېږي، شفاعت کوونکي او د شفاعت وړ خلك د الله له لوري ټاکل کېږي، که ستا عقيده او عمل د بخښلو وړ نه وي نو نه ځوك ستا شفاعت کولی شي او نه الله تعالی ستا په اړه د چا شفاعت مني.

فَرِحَ ٱلْمُخَلَّفُونَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلَٰفَ رَسُولِ ٱللَّهِ وَكَرِهُوٓاْ أَن يُجَٰهِدُواْ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَقَالُواْ لَا تَنفِرُواْ فِى ٱلْحَرِّ ۗ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا ۚ لَّوْ كَانُواْ يَفْقَهُونَ ﴿٨١﴾

شا ته پرېښودل شوي (وگړي) د الله د رسول په خلاف په خپلي ناستي خوشحاله شول او له دې ئې کرکه وکړه چي د الله په لار کې په خپل مال او ځان سره جهاد وکړي او وئې ويل: په گرمي کې مه وځئ، (ورته) ووايه: د دوزخ اور تر ټولو زيات گرم دئ؛ کاش دوی پوهېدی.

(۸۱)- د دې آيت په اړه څو خبري ضروري برېښي:

د آيت له فحوی داسي معلومېږي چي د سورې دا برخه (له ۷۹ آيت د سورې تر پای پوري) د تبوك له غزوې وروسته او هغه مهال نازله شوې چي رسول الله صلی الله عليه و سلم له تبوك بېرته د مدينې په لوري خوځېدلی او لا مدينې ته نه وو رسېدلی، ځکه په دې

آيت کې ويل شوي چې منافقين په دې خوښ شول چې وروسته پاته شي او په دې غزوې کې برخه وانخلي، ورپسې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ويل شوي چې که الله تعالی هغوی ته ورستون کړې او دوی درنه وغوښتل چې په نورو غزواتو کې له تا سره برخه واخلي نو د رد ځواب ورکړه.

په دې مبارك آيت کې منافقين په دې نامه ياد شوي: مخلَفين: شا ته پرېښودل شوي؛ يعني دوی د دې وړتيا نه درلوده چې مخکې ولاړ شي او په جهاد کې د برخې اخيستو سعادت ئې په برخه شي؛ الله تعالی د دې سعادت وړ ونه ګڼل او دا توفيق ئې ورپه برخه نه کړ؛ که څه هم دوی په خپلې ناستې خوښ دي او دا خپله زيرکتيا او هوښياري ګڼي چې په جهاد کې ئې له برخې اخيستو ځان ګوښه کړ او داسې حيلې او بهانې ئې وړاندې کړې چې له جهاد د وروسته پاته کېدو اجازه او رخصت تر لاسه کړي؛ دا ئې د کمعقلۍ نښه ګڼله چې څوك په جهاد کې برخه واخلي، ځان له خطرونو سره مخامخ کړي، د جهاد ستونزې او کړاوونه وګالي او خپل سر او مال د يوه مجهول هدف لپاره قرباني کړي؛ دوی په خپله هم له جهاد ډډه کوي او نورو ته هم وايي چې په جهاد کې له ګډون ډډه وکړئ؛ کله ورته وايي چې ګرمي ده او شرائط د جنګ لپاره مناسب نه دي؛ کله ورته وايي: دښمن ډېر ځواکمن دئ او موږ ئې لا د مقابلې توان نه لرو، بايد څه وخت نور صبر وکړو او هغه مهال له دښمن سره د مقابلې پرېکړه وکړو چې کافي وسائل مو ورته برابر کړي وي!! خو الله تعالی د دوی په ځواب کې فرمايي: تاسو خو د دوبي ګرمي بهانه کوئ خو د دوزخ د تاوده اور به څه چاره کوئ؟!! له جهاد د مخ اړولو او مخنيوي سزا خو د دوزخ اور دئ چې تر هر څه ئې تودوخه زياته ده؛ کاش پوهېدی.

فَلۡيَضۡحَكُواْ قَلِيلٗا وَلۡيَبۡكُواْ كَثِيرٗا جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿٨٢﴾

نو لږ دې وخاندي او ډېر دې وژاړي؛ د هغه څه سزا چې تر لاسه کول ئې.

(۸۲)- خندا او خوشحالي پربېږدئ، په خپل بد عاقبت وژاړئ، هغه بد عاقبت چې ستاسو د لاسته راوړنو پايله ده، د دوزخ اور چې د نفاق او له جهاد د لاس اخيستو سزا ده!!

فَإِن رَّجَعَكَ ٱللَّهُ إِلَىٰ طَآئِفَةٖ مِّنۡهُمۡ فَٱسۡتَـٔۡذَنُوكَ لِلۡخُرُوجِ فَقُل لَّن تَخۡرُجُواْ مَعِيَ أَبَدٗا وَلَن تُقَٰتِلُواْ مَعِيَ عَدُوًّاۖ إِنَّكُمۡ رَضِيتُم بِٱلۡقُعُودِ أَوَّلَ مَرَّةٖ فَٱقۡعُدُواْ مَعَ ٱلۡخَٰلِفِينَ ﴿٨٣﴾

نو که الله دې د دوی کومې ډلې ته وروګرځوي او د وتلو لپاره اجازه درنه وغواړي (نو ورته) ووايه: ترپايه به هيڅکله له ما سره ونه وځئ او له هيڅ دښمن سره به زما

په خوا کې جهاد ونه کړئ، يقيناً چې تاسو په لومړي ځل په ناستي راضي شوئ نو (اوس هم) له وروسته شوو سره کښېنئ.

(٨٣)- که داسي وخت راشي چي ته د دوی له کومي ډلي سره مخامخ شې او له تا په جهاد کې د برخي اخيستو اجازه وغواړي؛ نو ورته ووايه: هيځکله به له ما سره يو ځای د جهاد لپاره ونه وځئ او له هيڅ دښمن سره به زما په خوا کې جهاد ونه کړئ، تاسو په لومړي ځل په ناستي راضي شوئ نو اوس هم له وروسته شوو سره کښېنئ. زما او ستاسو تر منځ به ترپايه همدا فيصله وي! دا آيت شيي چي دا برخه له تبوك د راستنېدو پر مهال او د لاري په اوږدو کې نازله شوې ده.

وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰٓ أَحَدٍ مِّنْهُم مَّاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَىٰ قَبْرِهِۦٓ ۖ إِنَّهُمْ كَفَرُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَمَاتُوا۟ وَهُمْ فَٰسِقُونَ ﴿٨٤﴾

او چي ومري پر هيڅ يوه ئې (د جنازې) لمونځ مه کوه او پر قبر ئې مه ودرېږه، يقيناً چي دوی پر الله او پيغمبر ئې کفر کړی او په داسي حال کې مړه شوي چي فاسقان ول.

(٨٤)- په دې آيت کې پيغمبر عليه السلام ته لارښوونه شوې چي که دا منافقان ومري نو مه د جنازې لمونځ پرې کوه او مه ئې پر قبر ودرېږه، دا ځکه چي دوی پر الله او پيغمبر ئې کفر کړی او په داسي حال کې مړه شوي چي فاسقان ول.

که څه هم دا حکم پيغمبر عليه السلام ته متوجه دئ او دا منافقان هغه ته معلوم ول؛ خو هر مسلمان ته په کار ده چي د هغه چا په جنازه کې له برخي اخيستو ډډه وکړي چي نفاق او فسق ئې ورته څرګند وي؛ مسلمان ته په کار ده چي نه په ژوند کې د فاسق او منافق درناوی وکړي او نه ئې له مړيني وروسته؛ د کافر او منافق لپاره د مغفرت او بخښني له دعاء هم بايد ډډه وکړي؛ هسي هم ايمان انسان ته اجازه نه ورکوي چي له منافق او فاسق انسان سره د پېرزويني او لورېيني اړيکي ولري؛ خو دا کار بدي پايلي هم لري، د فسق او نفاق په وړاندي حساسيتونه له منځه وړي، د ساده مسلمانانو د غولېدو باعث کېږي، منافقينو ته دا فرصت ورکوي چي دوی دوکه کړي، د دوی له درناوي او دوی ته له دعاء ډډه کول د دې موجب کېږي چي منافقين او فاسقان له فسق او نفاق لاس واخلي.

د دې آيت په تفسير کې ډېرو درنو مفسرينو د عبدالله بن ابى بن سلول د مړيني او د هغه په جنازه کې د پيغمبر عليه السلام ګډون او په قبر ئې ودرېدل او خپل کميس د تبرك په توګه ورکول چي هغه ته کفن ترې جوړ کړي؛ رانقل کړي او خپل خپل توجيهات ئې په

دې اړه وړاندي کړي چي که دا آيتونه د هغه له مړيني مخکې نازل شوي وي نو پيغمبر عليه السلام څنگه دا کار وکړ؟! که عبدالله بن ابي بن سلول د تبوك له غزوې وروسته مړ شوی وي نو په يقين سره ويلی شو چي دا آيت د ده له مړيني مخکې نازل شوی. ځکه له دې مخکې او وروسته په څو آيتونو کې داسي څرگندي اشارې گورو چي ښيي دا برخه د تبوك له غزوې وروسته نازله شوې. راشئ هغه روايات هم له نظره تېر کړو چي د ابن ابی د مړيني په اړه راغلي:

عَنْ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: لَمَّا تُوُفِّيَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أُبَيٍّ جَاءَ ابْنُهُ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَعْطِنِي قَمِيصَكَ أُكَفِّنْهُ فِيهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "آذِنُونِي بِهِ" فَلَمَّا أَرَادَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنْ يُصَلِّيَ عَلَيْهِ، قَالَ لَهُ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ: مَا ذَاكَ لَكَ، فَصَلَّى عَلَيْهِ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "أَنَا بَيْنَ خِيرَتَيْنِ: {اسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ} [التوبة:٨٠] ". فَأَنْزَلَ اللَّهُ سبحانه: {وَلَا تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَى قَبْرِهِ} [التوبة:٨٤] بخاري: ١٢٦٩

له ابن عمر (رضي الله عنهما) روايت دئ: کله چي عبدالله بن ابی (د منافقانو رئيس) مړ شو، زوی ئې (عبدالله بن عبدالله بن ابی) رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ته راغی او وئې ويل: يا رسول الله! کميس دي راکړه چي ورته کفن ئې کړم او جنازه ئې هم وکړه او بخښنه ورته وغواړه، نو رسول الله (صلی الله عليه وسلم) خپل کميس ورکړ او وئې فرمايل: بيا خبر راکړه چي جنازه ئې وکړم، کله چي ئې خبر ورکړ، رسول الله (صلی الله عليه وسلم) اراده وکړه چي د جنازې لمونځ ئې وکړي، عمر (رضي الله عنه) راونيو او ورته وئې ويل: آيا الله تعالی پر منافقانو له لمانځه نه يې منع کړی؟ رسول الله (صلی الله عليه وسلم) وفرمايل: ما ته دوه اختياره راکړل شوي او راته فرمايلي ئې دي: (بخښنه ورته غواړې او که نه، که اويا ځله هم بخښنه ورته وغواړې نو الله تعالی به هيڅکله بخښنه ورته ونه کړي، بيا لاړ او د هغه منافق د جنازې لمونځ ئې وکړ، نو دا آيت نازل شو: (ولا تصل على احد منهم مات ابداً: له دوی چي څوك مړ شي هيڅکله ئې د جنازې لمونځ مه کوه.

دا روايت په بخاري کې درې ځلي نور هم په دغو شمېرو ٤٦٧٠، ٤٦٧٢، ٥٧٩٦ راغلي، خو له ډېرو توپيرونو سره، په يوه کې فَسَأَلَهُ أَنْ يُعْطِيَهُ قَمِيصَهُ يُكَفِّنُ فِيهِ أَبَاهُ فَأَعْطَاهُ، ثُمَّ سَأَلَهُ أَنْ يُصَلِّيَ عَلَيْهِ په بل کې فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَعْطِنِى قَمِيصَكَ أُكَفِّنْهُ فِيهِ، وَصَلِّ عَلَيْهِ وَاسْتَغْفِرْ لَهُ، فَأَعْطَاه په يوه کې فَقَالَ « آذِنِّي أُصَلِّي عَلَيْهِ ». فَآذَنَهُ، فَلَمَّا أَرَادَ أَنْ يُصَلِّيَ عَلَيْهِ

جَذَبَهُ عُمَرُ- رضی الله عنه- فَقَالَ أَلَيْسَ اللهُ نَهَاكَ أَنْ تُصَلِّيَ عَلَى الْمُنَافِقِينَ په بل کې فَقَامَ رَسُولُ اللهِ- صلى الله عليه وسلم- لِيُصَلِّيَ فَقَامَ عُمَرُ فَأَخَذَ بِثَوْبِ رَسُولِ اللهِ- صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ تُصَلِّي عَلَيْهِ وَقَدْ نَهَاكَ رَبُّكَ أَنْ تُصَلِّيَ عَلَيْهِ په يوه کې أَنَا بَيْنَ خِيرَتَيْنِ په بل کې إِنَّمَا خَيَّرَنِي اللهُ په يوه کې فَصَلَّى عَلَيْهِ فَنَزَلَتْ په بل کې فَصَلَّى عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ- صلى الله عليه وسلم- فَأَنْزَلَ اللهُ راغلي.

دا روايت د سند له مخې داسې دئ چې په څلورو طبقو کې يو يو راوي لري، د متن له پلوه څو ستونزې لري: روايت له يوې خوا وايي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د ابن ابی د جنازې لمونځ وکړ بيا دا آيت نازل شو چې د منافقينو د جنازې لمونځ مه کوه، له بلې خوا وايي چې عمر رضي الله عنه وويل: الله تعالی د منافقينو د جنازې له لمانځه منع کړی يې!! د عمر رضي الله عنه د وينا معنی دا ده چې دا آيت تر دې د مخه نازل شوی!! څکه له دې پرته بل داسې آيت نشته چې د منافقينو د جنازې له لمانځه ئې ممانعت کړی وي، ځوك چې وايي عمر رضي الله عنه په بل آيت استناد کړی ادعاء ئې بې دليله ده څکه داسې کوم سند نشته چې وښيي د (استغفر لهم او لا تستغفر لهم) او (و لا تصل على احد منهم مات ابداً) آيتونه په بېلو بېلو وختونو کې نازل شوي، دا دواړه د التوبې د سورې ۸۰ او ۸٤ آيتونه دي، د يوه مضمون دوه آيتونه، که دا آيتونه په خپل ځای کې ولولئ نو په بشپړه توگه به درته واضح شي چې دواړه په يو وخت او متصل نازل شوي، هيڅ مفسر دا خبره نه ده کړې چې دا دواړه آيتونه په بېلو بېلو وختونو کې نازل شوي، هيڅ روايت هم دا خبره نه کوي، نه نقل دا خبره مني او نه عقل چې دا آيتونه بېل بېل نازل شوي، د دې تصور هم نشي کېدی چې دا آيتونه دي تر دې د مخه نازل شوي وي او بيا دي هم رسول الله صلى الله عليه و سلم د ابن ابی جنازه کړې وي!! که دا آيتونه د جنازې تر لمانځه مخکې نازل شوي وو نو رسول الله صلى الله عليه و سلم به هيڅکله د هغه د جنازې لمونځ نه کولو او که وروسته نازل شوي وي نو عمر رضي الله عنه څنگه او ولې او د کوم آيت په استناد د جنازې له لمانځه منع کولو؟!! دغو خبرو ته په پام سره ويلی شو چې دا روايت نه د سند له پلوه زيات وزن لري او نه د متن له پلوه د منلو وړ دئ، دا روايت خلکو ته دا انتباه ورکوي چې گواکې عمر رضي الله عنه تر رسول الله صلى الله عليه و سلم هم د الله تعالی د حکم په منشأ زيات پوهېدو او زيات ورته منقاد وو؛ حاشا و کلا.

په دې اړه بل روايت داسې دئ:

حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ عَمْرٍو سَمِعَ جَابِرًا- رضی الله عنه- قَالَ أَتَى النَّبِيُّ- صلى الله عليه وسلم- عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أُبَيٍّ بَعْدَ مَا دُفِنَ فَأَخْرَجَهُ، فَنَفَثَ فِيهِ مِنْ رِيقِهِ وَأَلْبَسَهُ قَمِيصَهُ. (بخاري: ۱۲۷۰)

له جابر (رضي الله عنه) روايت دئ چې وايي: کله چې عبدالله بن ابی دفن شو، رسول الله

(صلی الله علیه وسلم) راغی هغه ئې له قبر راوایست، د خپلو لاړو دم ئې پرې وکړ او خپل کمیس ئې ور واغوست.

دا روایت هم په بخاري کې درې ځلي نور په دغو شمېرو ١٣٥٠، ٣٠٠٨، ٥٧٩٥ راغلی، چې دا توپیرونه په کې تر سترګو کېږي: په یوه کې بَعْدَ مَا دُفِنَ فَأَخْرَجَهُ په بل کې بَعْدَ مَا أُدْخِلَ حُفْرَتَهُ فَأَمَرَ بِهِ فَأُخْرِجَ په یوه کې فَنَفَثَ فِيهِ مِنْ رِيقِهِ وَأَلْبَسَهُ قَمِيصَهُ په بل کې فَوضع عَلَى رُكْبَتَيْهِ، وَنَفَثَ عَلَيْهِ مِنْ رِيقِهِ، وَأَلْبَسَهُ قَمِيصَهُ په بل کې فَأَمَرَ بِهِ فَأُخْرِجَ، وَوُضِعَ عَلَى رُكْبَتَيْهِ، وَنَفَثَ عَلَيْهِ مِنْ رِيقِهِ، وَأَلْبَسَهُ قَمِيصَهُ، وَاللهُ أَعْلَمُ په یوه کې فَقَالَ لَهُ ابْنُ عَبْدِ اللهِ يَا رَسُولَ اللهِ، أَلْبِسْ أَبِي قَمِيصَكَ الَّذِي يَلِي جِلْدَكَ په یوه کې أَلْبَسَ عَبْدَ اللهِ قَمِيصَهُ مُكَافَأَةً لِمَا صَنَعَ په بل کې كَانَتْ لَهُ عِنْدَ النَّبِيِّ- صلى الله عليه وسلم- يَدٌ فَأَحَبَّ أَنْ يُكَافِئَهُ په بل کې وَكَانَ كَسَا عَبَّاسًا قَمِيصًا راغلي.

دا روایت هم د سند له مخې مطلق غریب دئ، په دریو طبقو کې یو یو راوي لري، د متن له مخې له مخکیني سره په بشپړه توګه تعارض لري، هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د جنازې له لمانځه مخکې خپل کمیس د ده زوی ته ورکړ او دا وایي چې له قبر ئې راوایست او خپل کمیس ئې ورواغوست، که رسول الله صلی الله علیه و سلم د هغه د جنازې لمونځ کړی وي نو د تدفین په مراسمو کې به ئې هم برخه اخیستې وي نو له قبره ئې بېرته رایستل یعني څه؟! آیا کېدی شي په داسې کمزورو او یو له بل سره متعارضو روایاتو استناد وکړو او وواېو چې د دوهم کفن لپاره له قبر د مړي راایستل جواز لري؟!! دا دواړه روایات نه یوازې د استناد وړ نه دي بلکې د اسلام له ډېرو بنیادي اصولو سره تعارض لري، د اسلام څرګند او پرېکنده اصول دا دي چې الله تعالی له بنده سره په خپلې محاسبې کې نه د هغه رنګ ته ګوري، نه حسب او نسب ته او نه جامې او کفن ته، د پیغمبر علیه السلام جامه خو پرېږدئ چې څوك د الله تعالی له مؤاخذې او عذاب نشي ژغورلی بلکې د پیغمبر له وجود جوړ شوی د هغه اولاد هم د الله تعالی له عذاب نشي ژغورل کېدی، دا هغه څه دي چې قرآن ئې موږ ته وایي او هغه څه دي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم خپلو لوڼو او خپلوانو ته ویلي، څه چې انسان ژغوري یوازې د ده ایمان او عمل دئ، لیس للإنسان إلا ما سعی. په ډېر یقین سره ویلی شو چې که د عبدالله بن ابي زوی رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د دې لپاره ورغلی وی چې خپل کمیس دې د تبرك لپاره زما پلار ته راکړه نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به ورته ویلي وو چې زما کمیس هیڅا ته ګټه نه رسوي، له هر چا سره به د ده د عمل له مخې معامله کېږي. خو که دا کمیس ئې د دې لپاره ترې غوښتی وی چې د کفن لپاره څه نه لري نو یقیناً چې خپل کمیس به ئې ورکړی وو.

په همدې اړه دې ته ورته یو بل روایت هم شته چې راوي ئې واقدي دئ او وایي: ابن ابي په خپله له رسول الله صلی الله علیه و سلم د هغه کمیس غوښتی وو چې ځان ته

کفن ترې جوړ کړي او ګواکې رسول الله صلی الله علیه و سلم خپل کمیس ورکړی وو!! د واقدي په اړه محققین ملاحظات لري، که دا ملاحظات نه وی نو ښايي په بخاري کې به دا روایت هم راوړل شوی وو، پرته له دې چې وویل شي په دې درېو متعارضو روایاتو کې کوم یو ارجح دئ؟!! لوستونکي به حیران ول چې کوم یو ترې غوره کړي او عمل پرې وکړي.

ځوك چې دا روایات صحیح ګڼي ځو پوښتني ترې لرو:

په دوی کې کوم یو صحیح دئ؟ په ځو متعارضو او متضادو روایاتو کې خو یوازې یو صحیح کېدی شي!!

آیا رسول الله صلی الله علیه و سلم په دې پوهېدو چې ابن ابی منافق دئ او د ده استغفار، لمونځ او کمیس هیڅ ګټه نه وررسوي؟ که داسي وي نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به څنګه او ولې یو بې فائدې کار کولو؟

آیا عمر رضي الله عنه د الله تعالی د حکم له منشأ ښه خبر وو که رسول الله صلی الله علیه و سلم؟

روایت خو وایي چې عمر رضي الله عنه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وویل: الله تعالی پر منافقینو له لمونځ کولو منع کړی یې، د دې معنی خو یوازې دا کېدی شي چې د منعي اړوند آیت لا د مخه نازل شوی وو، په دې توګه ستا د خبري معنی دا شوه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د صریح الهي حکم مخالفت وکړ!! (نعوذ بالله من ذالك)

دا روایت یوازې په هغه صورت کې د اعتبار وړ ګڼلی شو چې ابن ابی د تبوك له جګړې او د دغه آیت له نزول مخکې مړ شوی وي، په دې صورت کې به هغه روایات صحیح نه ګڼو چې وایي دی د تبوك له جګړې وروسته مړ شوی، دې ته مو هم پام وي چې بخاري په دې اړه یو بل روایت هم راوړی چې له مخکیني سره په بشپړه توګه تعارض لري، روایت دا دئ:

حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ - رضى الله عنهم - أَنَّهُ قَالَ لَمَّا مَاتَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أُبَيٍّ ابْنُ سَلُولَ دُعِىَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه و سلم - لِيُصَلِّيَ عَلَيْهِ ، فَلَمَّا قَامَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه و سلم - وَثَبْتُ إِلَيْهِ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ ، أَتُصَلِّي عَلَى ابْنِ أُبَيٍّ وَقَدْ قَالَ يَوْمَ كَذَا وَكَذَا كَذَا وَكَذَا - أُعَدِّدُ عَلَيْهِ قَوْلَهُ - فَتَبَسَّمَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه و سلم - وَقَالَ « أَخِّرْ عَنِّي يَا عُمَرُ » . فَلَمَّا أَكْثَرْتُ عَلَيْهِ قَالَ « إِنِّي خُيِّرْتُ فَاخْتَرْتُ ، لَوْ أَعْلَمُ أَنِّي إِنْ زِدْتُ عَلَى السَّبْعِينَ فَغُفِرَ لَهُ لَزِدْتُ عَلَيْهَا » . قَالَ فَصَلَّى عَلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ -

صلى الله عليه و سلم - ثُمَّ انْصَرَفَ ، فَلَمْ يَمْكُثْ إِلاَّ يَسِيرًا حَتَّى نَزَلَتِ الآيَتَانِ مِنْ ( بَرَاءَةٌ ) ( وَلاَ تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا ) إِلَى ( وَهُمْ فَاسِقُونَ ) قَالَ فَعَجِبْتُ بَعْدُ مِنْ جُرْأَتِي عَلَى رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه و سلم - يَوْمَئِذٍ ، وَاللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ . **(بخاري: ١٣٦٦)**

**له عمر رضي الله عنه روایت دئ چي وايي: کله چي عبدالله بن ابی بن سلول مړ شو، رسول الله صلی الله علیه و سلم ته بلنه ورکړی شوه چي پر ده د جنازې لمونځ وکړي، کله چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ودرېدو نو زه ورپورته شوم او ورته ومي ويل: يا رسول الله! آيا د ابن ابی د جنازې لمونځ کوې حال دا چي په دې او هغې ورځې ئې دا او هغه ويلي وو؟! د ده ويناگاني مي ورته تکرارولې، نو رسول الله صلی الله علیه و سلم موسکی شو او وئې فرمايل: له ما درشا ته شه اې عمره! خو کله چي ما ډېر ټينگار پرې وکړ وئې فرمايل: ما ته اختيار راکړی شوی او يو مي ترې غوره کړ، که پوه شم چي تر اويا ځلي زيات استغفار سره ده ته بخښنه کېږي نو زه به ئې زيات کړم، عمر رضي الله عنه وايي: نو رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې د جنازې لمونځ وکړ بيا له لمانځه فارغ شو، لنډه موده لا نه وه تېره شوې چي د براءة د سورې دا دوه آيتونه نازل شول: ( وَلاَ تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا) تر (وَهُمْ فَاسِقُونَ) پوري، نو زه له هغه وروسته حيران وم چي څنگه مي د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اړه هغه جسارت وکړ، الله تعالی او د هغه رسول ډېر ښه پوهېږي.**

**لکه چي گورئ دا روايت هغه خبره نه کوي چي په بل روايت کي راغلې او گواکي عمر رضي الله عنه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ويلي وو چي څنگه د يوه منافق د جنازې لمونځ کوې حال دا چي الله تعالی ترې منع کړی يې؟!! له دې هم معلومېږي چي د ابن ابی د مړيني په وخت کي دا آيت نه وو نازل شوی او عمر رضي الله عنه دا خبره نه ده کړې.**

---

**وَلَا تُعۡجِبۡكَ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَأَوۡلَٰدُهُمۡۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُعَذِّبَهُم بِهَا فِي ٱلدُّنۡيَا وَتَزۡهَقَ أَنفُسُهُمۡ وَهُمۡ كَٰفِرُونَ ﴿٨٥﴾**

**او د دوی مالونه او اولادونه دې تا حيران نه کړي، يقيناً چي الله يوازي دا غواړي چي په دې سره ئې په دنيا کي تعذيب کړي او په داسي حال کي ئې سا وخېژي چي کافران وي.**

---

**(٨٥)- دا همغه مطلب دئ چي تر دې د مخه په ٥٥ آيت کي هم له لږ توپير سره راغلی او**

ښيي چي دا خبره ډېر اهميت لري او مسلمانان بايد هغې ته جدي توجه ولري.

وَإِذَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٌ أَنۡ ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ وَجَٰهِدُواْ مَعَ رَسُولِهِ ٱسۡتَـٔۡذَنَكَ أُوْلُواْ ٱلطَّوۡلِ مِنۡهُمۡ وَقَالُواْ ذَرۡنَا نَكُن مَّعَ ٱلۡقَٰعِدِينَ ﴿٨٦﴾ رَضُواْ بِأَن يَكُونُواْ مَعَ ٱلۡخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا يَفۡقَهُونَ ﴿٨٧﴾

او کله چي کومه داسي سوره نازله شي چي (وايي) په الله ايمان راوړئ او د ده له پيغمبر سره يوځای جهاد وکړئ؛ نو د دوی وسي او توانمن به اجازه درنه غواړي او وايي به: موږ پرېږده چي له ناستو سره وو. په دې راضي شول چي له وروسته پاته ښځو سره وي! او پر زړونو ئې مهر لګول شوی نو ځکه نه پوهېږي.

(۸٦)- کله چي داسي سوره نازله شي چي د الله تعالی په لار کي د جهاد حکم کوي، يعني د جهاد وخت راورسېږي، حالت د دې تقاضا وکړي چي مسلمانان جهاد ته ملا وتړي، هر پر دين پوه مؤمن ته دا جوته شي چي اوس نو د دين غوښتنه دا ده چي وسلې ته لاس کړو او د الله تعالی په لار کي وجنګېږو، نو د منافقينو شتمن او توانمن به وګورې چي غواړي په جهاد کي له برخي اخيستو معاف شي، په دې راضي کېږي چي د هغو ښځو په څېر وروسته پاته شي چي له جهاد معافي دي، د مېړنيو مجاهدينو په څېر جهاد ته ملا نه تړي، بلکي دا پيغور مني چي د وروسته پاته ښځو په قطار کي محسوب شي، د دې بې همتۍ او منافقت وجه دا ده چي د منافقتونو په سبب ئې پر زړونو مهر لګول شوی او پر حقيقت له پوهېدا عاجز دي. معيارونه ئې بدل شوي، دوی سره له دې چي شتمن او توانمن دي په جهاد کي برخه نه اخلي او همدا د بې همتۍ کار ته د پوهي او زيرکتيا نوم ورکوي، دا ځکه چي د دوی معيارونه بدل شوي او دا ځکه چي د قرآن د معيارونو له مخي دوی هوښيار او پوه نه بلکي کمعقله دي او نه پوهېږي.

لَٰكِنِ ٱلرَّسُولُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ جَٰهَدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلۡخَيۡرَٰتُۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴿٨٨﴾ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿٨٩﴾

خو پيغمبر او هغه مؤمنان چي له ده سره دي په خپل مال او نفس ئې جهاد کړی، دوی ته ښېګڼي دي او همدا دوی بريالي دي. الله دوی ته داسي جنتونه تيار کړي چي ترې لاندي ويالې بهېږي، تلپاته په کي، همدا ستره بريا ده.

(۸۸-۸۹)- دلته د جهاد په اړه د پیغمبر علیه السلام او د ده په خوا کې د مجاهدو مؤمنانو صفت بیان شوی چې په ترڅ کې ئې موږ ته د ایمان غوښتنه او د پیغمبر علیه السلام په سنت د عمل کولو حقیقت راښیي، پیغمبر علیه السلام او د هغه مؤمنو ملګرو د الله په لار کې په خپل سر او مال جهاد کړی، که څوك غواړي د پیغمبر علیه السلام په سنت عمل وکړي او په خپل ژوند کې د هغه تګلاره غوره کړي نو باید په سر او مال جهاد ته چمتو شي، که څوك غواړي د صحابه وو په منهج عمل وکړي باید دې ته تیار شي چې خپل سر او مال د الله په لار کې قرباني کړي، د ایمان حقیقت همدا دئ، د پیغمبر علیه السلام په سنت د عمل کولو معنی همدا ده، د صحابه وو په مسلك د تلو معنی همدا ده، هغه څوك دروغجن دئ چې وایي زه له پیغمبر علیه السلام سره مینه او محبت لرم، نعتونه ئې وایي، په داسي نومونو ئې ستاینه کوي چې الله تعالی نه دئ پرې ستایلی، خو په عمل کې به ګورې چې د پیغمبر علیه السلام دین تر پښو لاندې کېږي، د ده او د ده دین ته سپکاوی کېږي، هره ورځ د ده په لسګونو بې وزلي او مظلوم امتیان په وینو کې رغړول کېږي، عراق او افغانستان د صلیبي ځواکونو په لاس نیول کېږي، فلسطینیان، افغانان او عراقیان وژل کېږي؛ خو د دې دروغجن مدعي تندی هم نه تریو کېږي، د منبر پر سر معمولي د ژبي عکس العمل هم نه ښیي، د دښمن پر ځای هغه مجاهدین ملامتوي چې له دښمن سره جنګېږي، خپل سر په لاس کې نیسي او د دښمن په لیکو بریدونه کوي او په شهادت رسېږي!! دا دروغجن مدعي وایي چې زه د پیغمبر علیه السلام په سنت عمل کوم خو نه ئې جهاد کړی او نه د جهاد اراده لري، وایي زه له خدای سره مینه لرم، خو د الله تعالی په لار کې ئې یوه ټنګه نه ده مصرف کړې، سر او ویني خو پرېږده، قرآن پیغمبر علیه السلام ته فرمایي: دوی ته ووایه: که په رښتیا له خدای سره مینه لرئ نو زما متابعت وکړئ، یعني څوك چې د پیغمبر علیه السلام په څېر جهاد ته چمتو نه وي نه ئې له الله تعالی سره د میني درلودو ادعاء رښتینې ده او نه ئې د پیغمبر علیه السلام په سنت د عمل کولو ادعاء، څوك چې د الله او د هغه د دین له دښمنانو سره همغه سلوك نه غوره کوي چې پیغمبر علیه السلام غوره کړی وو؛ د پیغمبر په سنت د عمل کولو ادعاء ئې دروغجنه ده، په وړو وړو، آسانو او خوندورو سنتونو؛ لکه عطر استعمالول، مسواك وهل، کجورو باندې روژه ماتول او دې ته ورته نورو سنتونو باندي خو په ډېر تأکید سره عمل کوي، خو که پوښتنه ترې وکړې: جهاد دې کړی؟ د اسلام له دښمنانو سره دې مقابله راغلې؟ د همدې مخالفت په وجه ته او ستا ملګري زندان ته تللي یئ؟ هجرت مو کړی؟ پیغمبر علیه السلام خو د مدینې په لس کلن ژوند کې تر اویا زیات غزوات درلودل؛ داسي چې په اُوه ویشتو کې ئې په خپله برخه اخیستې ده، تا په ټول عمر کې څو ځلي په عملي جهاد کې برخه اخیستې؟ نه یوازي ځواب نه لري بلکي داسي څه به ترې واورې چې ښیي له جهاد منکر دئ!! او له جهاد داسي تعبیر وړاندي کوي چې څرګند تحریف ته ورته دئ!!

زه يو ټلويزيوني چينل پېژنم چي مركز ئې په لندن کې دئ، انګرېزانو ضروري تسهيلات ورته برابر کړي او مالي مرسته ورسره کوي، نوم ئې (Q) دئ، چي د (قادري) مخفف دئ، خاوند ئې قادري نومېږي، دا چينل د تصوف د قادري طريقې لپاره تبليغات کوي، داسي اعلانات خوروي چي ډېر کچه او غير ديني ټلويزيونونه ئې خوروي، د سنګار شوو ښايسته نجونو نعتونه خپروي، زياتره وخت په دغو اعلاناتو او نعتونو تېروي، اکثراً د قادري ويناګاني خپروي، په دې ويناګانو کې د بحث محوري موضوع د تصوف په اړه بحثونه، د جهاد مخالفت او په داسي الفاظو او نومونو سره د پيغمبر عليه السلام ستاينه وي چي نه په قرآن کې پرې ستايل شوی او نه په احاديثو کې، هڅه ئې دا وي چي ثابته کړي پيغمبر عليه السلام په غيب پوهېدو، د الله تعالی د عطاياوو وېشونکی وو، له الله تعالی سره ئې ليدلې، د قيامت په ورځ به ئې الله تعالی د ځان خوا ته پر کرسۍ کښېنوي، ټول جنتيان به د ده په شفاعت جنت ته ننوځي، د جنت کونجياني به له ده او د ده له اهل بيت (يعني يوازي علي، فاطمه، حسن او حسين) سره وي، هغه څوك به جنت ته ننوځي چي دوی ئې وغواړي او د جنت دروازه ورته پرانيزي....!! او دې ته ورته ډېر نور خرافات چي په ښرګنده توګه د قرآن خلاف خبري دي!! خو دغه جناب کله چي د جهاد له قضيې سره تماس نيسي نو داسي څه به وايي لکه چي په قرآن کې اصلاً له کافرانو سره د تصادم او مخامخ نښتو او جهاد هيڅ يادونه نه وي شوې، همغه خبره به کوي چي انګرېزان ئې خوښوي، د جهاد مخالفت او اسلام د صلحي او امنيت د دين په توګه معرفي کول، د همدې لپاره ئې دا چينل ده ته په واك کې ورکړی، هغه هم په لندن کې!! ما د ده ځيني ويناګاني اورېدلې دي، د قرآن د آيتونو او د پيغمبر عليه السلام د احاديثو په اړه د ده تفسير او تعبير په حيرت کې غورځولی يم، حيران شوی يم چي څنګه به د ايمان او عقل خاوند د داسي تعبير او تفسير جسارت کوي، مخصوصاً هغه مهال چي دی خپل سر ته ګوته ونيسي او وايي: ما دا تفسير په کوم کتاب کې نه دئ ليدلی؛ بس الله تعالی زما ذهن ته راوست!! نو په دې وخت کې خو داسي څه ووايي چي د اقبال خبره: خدای، جبرئيل او مصطفی حيران کړي!!! ولی تعبير او در حيرت انداخت _ خدا و جبرئيل و مصطفی را

وَجَآءَ ٱلۡمُعَذِّرُونَ مِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ لِيُؤۡذَنَ لَهُمۡ وَقَعَدَ ٱلَّذِينَ كَذَبُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥۚ سَيُصِيبُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٩٠﴾

او د کوچيانو او بانډه والو عذرکوونکي د دې لپاره راغلل چي اجازه ورکړی شي او له هغو سره کښېني چي الله او د هغه پيغمبر ئې تکذيب کړل، د دوی هغو ته به حتماً دردناك عذاب ورسېږي چي کفر ئې کړی.

(۹۰)- له جهاد سره د مخالفت اصلي عاملين منافقين دي، دوی په خپلي ناستي سره هغه

کسان هم له جهاد تر شا کېدو ته وهڅول چي کوچیان ول، د مدینې شاوخوا اوسېدل او د دیني امورو په اړه ئې کافي پوهه نه وه په برخه شوې، دوی به هم له منافقینو په تقلید سره پیغمبر علیه السلام ته راتلل او په جهاد کي د برخي نه اخیستو رخصت به ئې غوښتو، الله تعالی د دوی په اړه فرمايي: کافران به ئې په دردناك عذاب اخته شي، خو د هغو په اړه څه نه وايي چي په ناپوهۍ سره ئې دا کار کولو. له دې معلومېږي چي دا کسان ئې مستثنی کړي، کېدی شي الله تعالی د دوی عذر قبول کړي.

که څه هم ځینو درنو مفسرینو د آیت دوهمه فقره (وَقَعَدَ ٱلَّذِينَ كَذَبُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥۚ) د بېلي ډلي په اړه ګڼي؛ او داسي ئې ژباړي: او هغه وګړي کښېناستل چي الله او د هغه پیغمبر ئې تکذیب کړي، خو دې پوښتني ته ئې د منلو وړ ځواب نه دئ ویلی چي په دریېمه فقره (سَيُصِيبُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡهُمۡ عَذَابٌ أَلِيم) کي د (هم) ضمیر کومي ډلي ته راجع دئ؟ مخکینۍ ته نشي راجع کېدی، ځکه هغوی خو نه یوازي کافران دي بلکي الله او د هغه پیغمبر ئې تکذیب کړي، په دې مجبور یو چي (معذرون) ته ئې ارجاع کړو، خو دا په هغه صورت کي صحیح ده چي (قعد) د (جاء) په څېر د (معذرون) دوهم فعل وګڼل شي، که نه نو د آیت په نظم او ترتیب کي خلل رامنځته کېږي، دا به داسي وي لکه چي له دوهمي مستقلي فقرې لومړۍ ته واوړو او دا فقره له هغې سره وتړو، دغو اشکالاتو ته په پام سره موږ هغه ژباړه غوره کړې چي ټول آیت او درېواړه فقرې ئې د یوې ډلي په اړه ښيي.

---

لَّيۡسَ عَلَى ٱلضُّعَفَآءِ وَلَا عَلَى ٱلۡمَرۡضَىٰ وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يُنفِقُونَ
حَرَجٌ إِذَا نَصَحُواْ لِلَّهِ وَرَسُولِهِۦۚ مَا عَلَى ٱلۡمُحۡسِنِينَ مِن سَبِيلٖۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ
رَّحِيمٞ ٩١ وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ إِذَا مَآ أَتَوۡكَ لِتَحۡمِلَهُمۡ قُلۡتَ لَآ أَجِدُ مَآ أَحۡمِلُكُمۡ
عَلَيۡهِ تَوَلَّواْ وَّأَعۡيُنُهُمۡ تَفِيضُ مِنَ ٱلدَّمۡعِ حَزَنًا أَلَّا يَجِدُواْ مَا يُنفِقُونَ ٩٢

نه پر کمزورو څه ګناه شته، نه پر مریضانو او نه پر هغو چي داسي څه نه مومي چي انفاق ئې کړي؛ (خو) هغه مهال چي له الله او د هغه له پیغمبر سره ئې خواخوږي کړې وي، په داسي نېکانو (د ملامتیا) کومه لار نشته؛ او الله مهربان بخښونکی دئ. او نه پر هغو چي تا ته د دې لپاره راغلل چي (پر سپرلیو ئې) سپاره کړې؛ تا (ورته) وویل: داسي څه نه مومم چي تاسو پرې سپاره کړم، (نو) په داسي حال کي تر شا شول چي له سترګو ئې اوښکي څوټېدې، له دې غمه چي داسي څه نه مومي چي انفاق ئې کړي.

(۹۱-۹۲)- دا مبارك آيتونه موږ ته وايي چي په جهاد کي د برخي نه اخيستو په اړه الله تعالی يوازي د دغو کسانو عذر مني:
کمزوری (لکه عمر خوړلي بوډاگان)،
هغه مريض چي د جهاد کولو توان نه لري،
ناتوانه او نيستمن چي په جهاد کي د شرکت لپاره لازم او ضروري وسائل او سامان نه مومي،
هغه چي غواړي په جهاد کي برخه واخلي؛ له پيغمبر عليه السلام يوازي د سورلۍ غوښتنه کوي، خو چي ورنه کړی شي نو ئې اوښکي پر مخ وبهيږي؛ له دې حسرته چي ولي دومره نيستمن دئ چي په جهاد که د برخي اخيستو لپاره سورلۍ هم نشي برابرولی!!
د دغو خلکو عذر هم په دې شرط منل کيږي چي له الله او د هغه له پيغمبر سره ئې خواخوږي وي، د اسلام او مسلمانانو بريا او برلاسي غواړي او په دې ئې زړه ناقراره وي چي ولي په جهاد کي د شرکت سعادت ورپه برخه نه شو.

إِنَّمَا ٱلسَّبِيلُ عَلَى ٱلَّذِينَ يَسْتَـْٔذِنُونَكَ وَهُمْ أَغْنِيَآءُ ۚ رَضُوا۟ بِأَن يَكُونُوا۟ مَعَ ٱلْخَوَالِفِ وَطَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٩٣﴾

يقيناً چي الزام پر هغو دئ چي له تا په داسي حال کي اجازه غواړي چي شتمن دي، په دې راضي شول چي له وروسته پاته ښځو سره وي؛ او الله ئې پر زړونو مهر لگولی نو ځکه نه پوهيږي.

(۹۳)- ملامت هغه خلك دي چي له جهاد د پاته کېدو رخصت په داسي حال کي غواړي چي شتمن او توانمن دي او هيڅ عذر نه لري، په دې راضي شوي چي د ښځو په قطار کي له جهاده پاته شي، د دوی د منافقت په سبب الله تعالی د دوی پر زړونو مهر لگولی نو ځکه نه پوهيږي چي څومره ستره گناه کوي او له ستر سعادت ځان محروموي!!

يَعْتَذِرُونَ إِلَيْكُمْ إِذَا رَجَعْتُمْ إِلَيْهِمْ ۚ قُل لَّا تَعْتَذِرُوا۟ لَن نُّؤْمِنَ لَكُمْ قَدْ نَبَّأَنَا ٱللَّهُ مِنْ أَخْبَارِكُمْ ۚ وَسَيَرَى ٱللَّهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُۥ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَىٰ عَٰلِمِ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٩٤﴾

کله چي دوی ته وروگرځئ نو تاسو ته به عذرونه وړاندي کوي، ووايه: عذرونه مه وړاندي کوئ؛ هيڅکله به باور درباندي ونه کړو، يقيناً چي الله ستاسو له حاله خبر

کړي يو؛ او الله او د هغه پيغمبر به حتماً ستاسو عملونه وګوري، بيا به په غيب او څرګند پوه ذات ته وګرځول شئ، نو پر هغه څه به مو خبر کړي چې تاسو کول.

(٩٤)_ له دې آيت معلومېږي چې د تبوك د جګړې په مهال او هغه وخت نازل شوی چې مسلمانان لا مدينې ته نه وو راګرځېدلي، په همدې وخت کې د هغو منافقينو په اړه لارښوونه ورته شوې چې په جګړې کې ئې له کوم عذر پرته برخه نه وه اخيستې، خو کله چې پيغمبر عليه السلام مدينې ته ستون شي دوی به ډله ډله د مجاهدينو خوا ته راځي او له ځانه جوړ شوي عذرونه به وړاندې کوي، مسلمانانو ته ويل شوي چې ورته ووايئ: عذرونه مه وړاندې کوئ، ستاسو په خبرو هيڅکله باور نه کوو، يقيناً چې الله تعالی ستاسو له حاله خبر کړي يو، صبر وکړئ بيا به داسې وخت راشي چې تاسو يو ځل بيا له بل امتحان سره مخامخ شئ، بيا جهاد ته د تلو بلنه درکړی شي، هلته به الله او د هغه رسول بيا ستاسو د کړنو شاهد وي، وبه ګوري چه څه کوئ، جهاد ته درومئ او که عذرونه وړاندې کوئ؟!! په پای کې به د هغه رب په لوري درومئ چې په غيب او څرګند پوه دئ، هغه به مو پر هغه څه خبر کړي چې تاسو کول، يعني که په دنيا کې ستاسو منافقت له خلکو پټ پاته شي نو د آخرت په ورځ به ټولو ته بربنډ شي.

غيب هغه څه ته ويل کېږي چې د انسان له نظره پټ وي او شهادة هغه څه ته چې انسان ئې مشاهده کوي او په خپلو سترګو ئې ګوري، الله تعالی په غيب او شهادة، ماضي، حال او مستقبل، لري او نژدې، ووړ او لوی يو برابر علم لري، دا شيان د انسان په اړه مطرح دي، د هغه حواس محدود او د ظروفو تابع دي.

سَيَحْلِفُونَ بِٱللَّهِ لَكُمْ إِذَا ٱنقَلَبْتُمْ إِلَيْهِمْ لِتُعْرِضُواْ عَنْهُمْۖ فَأَعْرِضُواْ عَنْهُمْۖ إِنَّهُمْ رِجْسٌۖ وَمَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَكْسِبُونَ ﴿٩٥﴾ يَحْلِفُونَ لَكُمْ لِتَرْضَوْاْ عَنْهُمْۖ فَإِن تَرْضَوْاْ عَنْهُمْ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يَرْضَىٰ عَنِ ٱلْقَوْمِ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٩٦﴾

کله چې د دوی لوري ته وروګرځئ نو حتماً به تاسو ته د الله په نامه لوړه کوي چې ترې تېر شئ، نو ترې ډډه وکړئ، يقيناً چې دوی پليت دي؛ او استوګنځی ئې دوزخ دئ، د هغه څه سزا چې کول ئې. تاسو ته به لوړه کوي چې ترې راضي شئ، خو که ترې راضي شئ نو الله له دې فاسق ټولی نه راضي کېږي.

(٩٥-٩٦)- په دغو دواړو آيتونو کې دوه ځلي د منافقينو دروغجنو قسمونو ته ګوته نيول شوې: ١- کله چې مجاهدين له جهاد بريالي ستانه شي نو دوی ئې خوا ته راځي او د الله په نامه قسمونه کوي چې د دوی له اشتباه او غلطۍ تېر شي، الله تعالی مؤمنانو ته

سپارښتنه کوي چي دوی ته هيڅ اعتناء مه کوئ، مخ ترې واړوئ، دا پليتان په دې نه ارزي چي ځان ورسره مصروف کړئ، استوګنځی ئې دوزخ دئ؛ او دا د دوی د منافقتونو مناسبه سزا ده. ۲- د دې لپاره به د مؤمنانو په وړاندي د الله په نامه لوړه کوي چي ترې راضي شي، الله تعالی مؤمنانو ته فرمايي: پام کوئ چي ترې راضي نه شئ، په دې بايد پوه وئ چي که تاسو ترې راضي هم شئ نو الله له دې فاسق ډلي نه راضي کېږي.

ٱلۡأَعۡرَابُ أَشَدُّ كُفۡرٗا وَنِفَاقٗا وَأَجۡدَرُ أَلَّا يَعۡلَمُواْ حُدُودَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ﴿٩٧﴾ وَمِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ مَن يَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ مَغۡرَمٗا وَيَتَرَبَّصُ بِكُمُ ٱلدَّوَآئِرَۚ عَلَيۡهِمۡ دَآئِرَةُ ٱلسَّوۡءِۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ﴿٩٨﴾

صحرايان (بانډه وال) په کفر او نفاق کي تر ټولو کلك دي؛ او تر ټولو زيات د دې وړ دي چي د هغه (دين) پر پولو او حدودو پوه نه شي چي الله پر خپل پيغمبر نازل کړی. او الله باحکمت پوه دئ. او د صحرايانو ځيني داسي دي چي هغه څه يو تاوان بولي چي انفاقوي ئې او ستاسو په اړه د حالاتو بدلېدو رابدلېدو ته سترګي په لار دي، بد بدلون دي پر دوی وي؛ او الله پوه اورېدونکی دئ.

(۹۷-۹۸)- د ښاري منافقينو له معرفي وروسته په دې مبارکو آيتونو کي د کوچي او صحرايي منافقينو لاندي خصلتونه په ګوته شوي:

دوی په کفر او نفاق کي ډېر شديد او کلك دي، په آسانۍ لاس نه ترې اخلي.

د دې ډېر وړ دي چي د هغه دين پر پولو او حدودو پوه نه شي چي الله پر خپل پيغمبر نازل کړی،

ځيني ئې داسي دي چي زکات او صدقاتو ته د تاوان په سترګه ګوري،

دې ته منتظر دي چي حالات د مسلمانانو په خلاف بدلون ومومي.

د ۹۷ آيت په پای کي ويل شوي چي الله باحکمت پوه دئ، چي ارتباط ئې د آيت له لومړۍ برخي سره داسي دئ: د کوچيانو په اړه دا وينا د پوهي او حکمت خلاف مه ګڼئ، داسي ګمان مه کوئ چي که د دې په ځای يا دوی ستايل شوي وی يا څه نه وی ويل شوي دا به غوره وو او د دوی حساسيتونه او مخالفت به ئې نه راپاراوو!! نه دا د عليم او حکيم ذات وينا ده، د دوی په اړه همدا حقيقت روښانه کول غوره دئ او په دې کي ډېر مصلحتونه دي. بايد داعي دې ته متوجه کړی شي چي له څنګه مخاطب سره مخامخ دئ او خصلتونه ئې څه دي، چي په هوښيارۍ سره عمل وکړي او د مخاطب د طبيعي او فطري مخالفتونو په ليدو سره مأيوس نشي او دعوت په نيمايي لاري کي پرېنږدي. او د ۹۸

آیت په پای کې ویل شوي: الله پوه اورېدونکی دئ، چې ارتباط ئې د آیت له لومړنۍ برخې سره داسې دئ: الله تعالی دوی ښه پېژني چې زکات او صدقات په خپله خوښه نه ورکوي، داسې ئې ګڼي لکه چې په زور ترې اخیستل کېږي، د تاوان په سترګه ورته ګوري، دې ته منتظر دي چې وضعیت د مسلمانانو په خلاف بدل شي او دوی د دې زکات، عشر او صدقاتو د تاوان له ورکولو وژغورل شي، الله تعالی د دوی هغه پټې وېناوې اورېدلې دي چې په دې اړه ئې کړې دي. دا هم د قرآن یو اعجاز دئ، د پیغمبر علیه السلام له رحلت وروسته ټولو په خپلو سترګو ولیدل چې دغو اعرابو د زکات له ورکولو امتناع وکړه او د اسلامي حکومت په ضد ئې بغاوت ته ملا وتړله.

وَمِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ مَن يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَيَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ قُرُبَٰتٍ عِندَ ٱللَّهِ وَصَلَوَٰتِ ٱلرَّسُولِۚ أَلَآ إِنَّهَا قُرۡبَةٞ لَّهُمۡۚ سَيُدۡخِلُهُمُ ٱللَّهُ فِي رَحۡمَتِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٩٩﴾

او د بانډه والو ځینې داسې دي چې پر الله او د آخرت پر ورځې ایمان راوړي او هغه څه چې انفاقوي ئې د الله خوا ته د نژدې والي او د پیغمبر د دعاء وسیله ګڼي، خبردار چې یقیناً دا ورته د نژدې والي وسیله ده، الله به ئې حتماً په خپل رحمت کې داخل کړي، یقیناً چې الله مهربان بخښونکی دئ.

(٩٩)- په دې مبارك آیت کې د کوچیانو دربیمه ډله په دې توګه معرفي شوې: پر الله تعالی او د آخرت پر ورځې ایمان راوړي، زکات، عشر او صدقات؛ الله تعالی ته د تقرب او د پیغمبر علیه السلام د دعاء وسیله ګڼي، یقیناً دا انفاق د دوی لپاره د تقرب او نژدې والي وسیله او سبب ده، الله تعالی به ئې له خپلو پېرزوینو او رحمت برخمن کړي او د رحمت سیوری به پر دوی وغوړوي، دا ځکه چې هغه مهربان بخښونکي دئ؛ نه یوازې داسې مخلصو بندګانو ته د دوی ګناهونه بخښي بلکې مزید پر دې پېرزویني ورپه برخه کوي.

وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلۡأَوَّلُونَ مِنَ ٱلۡمُهَٰجِرِينَ وَٱلۡأَنصَارِ وَٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُم بِإِحۡسَٰنٖ رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُ وَأَعَدَّ لَهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي تَحۡتَهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿١٠٠﴾

او د مهاجرینو او انصارو لومړني سبقت کوونکي او هغه چې په غوره توګه ئې د دوی متابعت کړی؛ الله ترې راضي شوی او دوی ترې راضي شوي او داسې جنتونه ئې ورته

تيار کړي چي ترې لاندي ويالې بهېږي، تلپاته په هغه کې، همدا ستره بريا ده.

(۱۰۰)- دلته الله تعالی له لومړنيو مهاجرو او انصارو صحابه وو او له هغو چي په ښه او غوره توگه ئې د دوی متابعت کړی؛ خپل رضايت اعلان کړی، له (اولون) لومړني مؤمنان مراد دي او (سابقون) د دوی بل صفت دئ چي معنی ئې د ښېگڼو په لوري تلوار کوونکي ده، يعني لومړني په ښېگڼو کې تلوار کوونکي، الله تعالی له دوی راضي شوی او دوی له خپل مهربان رب چي د ايمان سعادت ئې ورپه برخه کړ او په ډېرو سترو سترو پيرزوينو سره ئې دوی ونازول، دوی ته ئې داسي جنتونه تيار کړي چي ترې لاندي ويالې بهېږي، تلپاته په هغه کې، همدا ستره بريا ده.

يقيناً چي د لومړنيو صحابه وو، چا چي د الله تعالی په لار کې هجرت وکړ او چا چي دوی ته پناه ورکړه او دواړو په گډه د پيغمبر عليه السلام ملگرتيا وکړه، هر څه ئې د الله په لار کې قرباني کړل، له سترو سترو گواښونو سره ئې په ډاډه زړه او مېړاني سره مقابله وکړه، د الله دين ئې د نړۍ گوټ گوټ ته ورساوو، له لرو کسانو پرته نور ټول ئې د الله په لار کې شهيدان شول، له مليزيا تر هسپانيا پوري او له بخارا تر نيجريا پوري د دوی د شهيداونو په قبرونو ښايسته شوي او هر چا ته د دغو سرتېرو موحدينو د ايمان او اخلاص حقيقت او عظمت انځوروي. اسلام د نړۍ گوټ گوټ ته د دوی د قربانيو په بيع ورسېدو، موږ په خپل ايمان کې د دوی د قربانيو پوروړي يو، ډېره عجيبه ده چي څوك له دې ستر او ځرگند حقيقت انکار کوي، نه د قرآن وينا مني او نه د تاريخ شهادت، د دوی په اړه کره خوله خوځوي او هغه څه وايي چي منصف کافر هم ترې ډډه کوي، هغه خو لري پرېږده چي يوه ذره ايمان ئې په زړه کې وي!! د چا په زړه کې چي د دغو صحابه وو مينه او درناوی نه وي؛ نه ايمان لري او نه عقل او مروت، د شيعه وو د غلط او کرکجن مذهب د ترديد لپاره يوازي دغه آيت کافي دئ، څوك چي د صحابه وو په اخلاص او صداقت باور نه لري نه يوازي د قرآن دغه آيت به نه مني بلکي ټول قرآن به نه مني، موږ دا قرآن څکه پر پيغمبر عليه السلام نازل شوی قرآن گڼو چي ټولو صحابه وو پرې اجماع کړې، موږ د دې لپاره وايو چي ابوبکر رضی الله عنه د علم، درايت، تدبير او اهليت له مخي تر ټولو صحابه وو افضل وو چي هغوی همدا خبره کړې او هغه ئې د خلافت لپاره تر ټولو غوره او اهل گڼلی، همدا راز عمر، عثمان او علي رضی الله عنهم يو په بل پسي تر ټولو افضل گڼو څکه چي په دې خبري ټولو صحابه وو د علي رضی الله عنه په شمول اجماع کړې، علي رضی الله عنه له دوی سره بيعت کړی، د دوی په امامت کې ئې لمونځونه کول، پيغمبر عليه السلام فرمايي:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ- رضى الله عنه- عَنِ النَّبِىِّ- صلى الله عليه وسلم- قَالَ « آيَةُ الإِيمَانِ حُبُّ الأَنْصَارِ، وَآيَةُ النِّفَاقِ بُغْضُ الأَنْصَارِ »

له انس رضی الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: له انصارو سره مینه درلودل د ایمان تقاضا او نښه ده او له انصارو سره عداوت درلودل د نفاق نښه ده.

وَمِمَّنْ حَوْلَكُم مِّنَ ٱلْأَعْرَابِ مُنَٰفِقُونَ ۖ وَمِنْ أَهْلِ ٱلْمَدِينَةِ مَرَدُواْ عَلَى ٱلنِّفَاقِ لَا تَعْلَمُهُمْ ۖ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ ۚ سَنُعَذِّبُهُم مَّرَّتَيْنِ ثُمَّ يُرَدُّونَ إِلَىٰ عَذَابٍ عَظِيمٍ ﴿١٠١﴾

او ستاسو شاوخوا کې ځینې کوچیانو منافقین دي او د مدینې ځینې اوسېدونکي هم، په نفاق کې ډېر ماهران شوي، نه ئې پېژنې، موږ ئې پېژنو، ژر به ئې دوه ځلي تعذیب کړو، بیا به د ستر عذاب لوري ته وگرځول شي.

(۱۰۱)- دلته د منافقینو یوې بلې ډلې ته گوته نیول شوې، هغه چې په نفاق کې ډېر مهارت لري، پېژندل ئې ډېر گران دي او حتی هر انسان ته محال، دا ماهر منافقین هم په کوچیانو کې شته او هم په ښاریانو کې، په داسې مهارت سره ئې د مسلمانانو په لیکو کې ځای نیولی وو او خپلې منافقانه هلې ځلې ئې کولې چې هوښیار صحابه ئې هم له پېژندو عاجز ول.

په دې سره قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې د منافقینو د پېژندو لپاره چې په دې مبارکې سورې کې د دوی ډېر خصلتونه بیان شوي او تاسو کولی شئ د دغو آیتونو په رڼا کې ډېر ئې وپېژنئ، خو داسې منافقین هم شته چې د پېژندو لپاره ډېرو نورو لارښوونو ته ضرورت شته او حتی ډېر هوښیار خلك ئې له پېژندو عاجز دي.

دلته ویل شوي چې دا ماهر منافقین به دوه ځلې تعذیب کړو، چې مراد ئې یا دا دئ چې د عادي منافقینو دوه برابره سزا به ورکړو؛ او یا دا چې په وار وار به ئې مجازات کړو، خو لومړی تعبیر غوره برېښي. ځینې داسې گمان کوي چې له (سنعذبهم مرتین) مراد د نیا او قبر عذاب دئ، خو دا تعبیر ډېر کمزوری دئ، په ډېر تکلف سره هم دا معنی نه شو ترې اخیستی، د آیت له وروستۍ فقرې (ثم یردون الی عذاب عظیم) معلومېږي چې دا دوه ځلي عذابونه له مرگ مخکې د دنیا دوه ځلي عذابونه دي.

وَءَاخَرُونَ ٱعْتَرَفُواْ بِذُنُوبِهِمْ خَلَطُواْ عَمَلًا صَٰلِحًا وَءَاخَرَ سَيِّئًا عَسَى ٱللَّهُ أَن يَتُوبَ عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٠٢﴾

او نور چې په خپلو گناهونو ئې اعتراف کړی او یو نېك عمل ئې له کوم بل بد سره

ګډ کړی؛ ښايي الله به ئې توبه قبوله کړي، بې شکه چې الله مهربان بخښونکی دئ.

(۱۰۲)- د دې لپاره چې په هر ګنهګار د منافق ګمان ونه شي قرآن د يوې داسي ډلي يادونه کوي چې هم بد عملونه لري او هم نېك، د قرآن په اصطلاح نېك او بد عمل ئې سره خلط کړي، دوی منافقان نه دي، د ځينو کمزوريو په سبب بد عملونه ترې شوي، ښايي الله تعالی د دوی نېك عملونو ته په پام سره دوی ته عفوه وکړي، توبه ئې قبوله کړي او ګناهونه ئې ورته وبخښي او دا ځکه چې الله مهربان بخښونکی دئ. نو له هغو خلکو سره په چلند کې احتياط کوئ چې په خپل ژوند کې داسي نېك عملونه لري چې د دوی ايمان او اخلاص ترې څرګندېږي. داسي لارښوونو ته په پام سره پيغمبر عليه السلام د حَاطِبِ بْنِ أَبِي بَلْتَعَةَ چې لويه غلطي ترې شوې وه او قريشو ته ئې د يوه بريد په اړه اطلاع ورکړې وه، خط ئې په لاري کې ونيول شو، پوښتنه ترې وشوه، هغه اعتراف وکړ خو وئې ويل چې دا مي د نفاق په وجه نه دئ کړی د مجبوريت له مخي مي کړی، خپل عذر او دليل ئې وړاندي کړ، عمر رضى الله عنه وويل: يا رسول الله! د دې منافق د وژلو امر وکړه، پيغمبر عليه السلام وفرمايل: إِنَّهُ قَدْ شَهِدَ بَدْرًا، وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ اللهَ أَنْ يَكُونَ قَدِ اطَّلَعَ عَلَى أَهْلِ بَدْرٍ فَقَالَ اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ، فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ: هغه د بدر په جګړې کې برخه اخيستې وه، څه پوهېږې ښايي الله تعالی به د بدريانو حالت داسي موندلی وي چې ورته ويلي ئې وي: څه چې غواړئ هغه وکړئ؛ ما بخښنه درته کړې ده!!

په دې آيت کې دا فقره (عَسَى ٱللَّهُ أَن يَتُوبَ عَلَيۡهِمۡۚ) ځينو درونو مفسرينو داسي تعبير کړې چې ګواکې الله به حتماً د دوی توبه قبوله کړي، دوی په دې عقيده دي چې د (عسي) کلمه د الله تعالی په ارتباط د احتمال او هيلي په معنی نه شو نيولی! خو دا رأيه نه دلته او نه د قرآن په نورو ځايونو کې د منلو وړ رأيه ده، دا رأيه ځکه کمزورې ده چې د قرآن الفاظ په اصلي معنی نه نيسي، دلته خو د دوی تعبير په هيڅصورت کې صحيح نه شو ګڼلی ځکه چې تر دې وروسته ويل شوي چې په صدقاتو سره دوی تطهير او تزکيه کړه او دا ښيي چې توبه ئې په صدقې پوري مشروط شوې.

خُذۡ مِنۡ أَمۡوَٰلِهِمۡ صَدَقَةٗ تُطَهِّرُهُمۡ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيۡهِمۡۖ إِنَّ صَلَوٰتَكَ سَكَنٞ لَّهُمۡۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ١٠٣

له مالونو ئې داسي صدقه تر لاسه کړه چې پرې پاك او تزکيه ئې کړې او دعاء ورته وکړه، يقيناً چې ستا دعاء ورته يوه ډاډېينه ده؛ او الله پوه اورېدونکی دئ.

(۱۰۳)- دا آيت پيغمبر عليه السلام ته لارښوونه کوي چې: د دغو مؤمنانو د اصلاح، روزنې او د ګناهونو د معافېدا لار دا ده چې هغوی په صدقاتو او د الله تعالی په لار کې د خپل

مال په لګولو وګمارل شي، دا به د دوی د (تطهیر) او (تزکیې) باعث شي، نو ته صدقه ترې واخله او دعاء ورته وکړه، ستا دعاء د دوی د تسل او ډاډ باعث ده. په دې مبارك آیت کې د څو الفاظو په وړاندې لږ توقف ضروري برېښي: له (تطهیر: پاکولو) د ګناه او بد عمل له اغېز د انسان پاکول مراد دي؛ او له (تزکیه) د انسان روحي او معنوي روزنه مراد ده، تطهیر او تزکیه دواړه پاکول افاده کوي خو په تزکیه کې له پاکولو علاوه د ودې ورکولو او شېرازه کولو معنی هم پرته ده. یعني په صدقاتو سره هم الله تعالی د دوی ګناهونه بخښي او هم له روحي او معنوي پلوه وده ورکوي.

د آیت په پای کې د الله تعالی دوه صفات: سمیع او علیم راغلي، سمیع د پیغمبر علیه السلام د دعاء په ارتباط دئ او دا مطلب افاده کوي چې الله تعالی د دوی په اړه ستا دعاء اوري او قبلوي ئې؛ او (علیم) د صدقاتو د پایلو او نتائجو په ارتباط چې ښیي دا د هغه علیم رب وینا ده چې پوهېږي صدقه د انسان د روحي او معنوي ودې او د ګناهونو له اغېز د انسان د ژغورنې وسیله ده.

---

أَلَمۡ يَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ هُوَ يَقۡبَلُ ٱلتَّوۡبَةَ عَنۡ عِبَادِهِۦ وَيَأۡخُذُ ٱلصَّدَقَٰتِ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٠٤﴾

آیا په دې نه پوهېږي چې الله له خپلو بندګانو توبې قبلوي او صدقې اخلي؛ او دا چې الله مهربان توبه قبلوونکی دئ؟

---

(۱۰٤)- ټول باید په دې پوه وي چې الله تعالی د توبې دروازه پرانیستې پرېښې ده، د ګناهګار بنده توبه قبلوي او په صدقاتو سره ګناهونه بخښي، دا ځکه چې هغه مهربان توبه قبلوونکی دئ، د توبې قبلول او په صدقاتو سره د ګناهونو بخښل د همدغو صفاتو غوښتنه ده.

---

وَقُلِ ٱعۡمَلُواْ فَسَيَرَى ٱللَّهُ عَمَلَكُمۡ وَرَسُولُهُۥ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۖ وَسَتُرَدُّونَ إِلَىٰ عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿١٠٥﴾

او ووایه: عمل وکړئ چې الله به حتماً ستاسو کړنه وګوري او د ده پیغمبر هم او مؤمنان هم؛ او حتماً به په غیب او څرګند پوه ذات ته وروګرځول شئ نو په هغه څه به مو خبر کړي چې کول مو.

---

(۱۰۵)- دا مطلب تر دې د مخه په ۹٤ آیت کې هم راغلی؛ یوازې په دومره توپیر سره چې دلته د الله او پیغمبر تر څنګ د مؤمنانو یادونه هم شوې ده، مقصد ئې دا دئ چې تاسو

ته به يو ځل بيا مهلت درکړی شي، بيا به داسي مواقع راشي چي ستاسو د ايمان حقيقت ښکاره شي، جهاد ته به بلنه درکړی شي او هغه مهال به الله، د هغه پيغمبر او مؤمنان وګوري چي تاسو څه کوئ، د مخکي په څېر له جهاد ډډه کوئ او که داسي څه چي هم خپل فرض ادا کړئ او هم خپل مخکيني اشتباهات جبران کړئ!! او که احياناً داسي ونه شول، د امتحان موقع رانه غله، ستاسو د ايمان او اخلاص څرنګوالی د خلکو له نظره پټ پاته شو نو د آخرت ورځ راتلونکې ده او هلته به هر څه څرګند شي.

وَءَاخَرُونَ مُرْجَوْنَ لِأَمْرِ ٱللَّهِ إِمَّا يُعَذِّبُهُمْ وَإِمَّا يَتُوبُ عَلَيْهِمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٠٦﴾

او نور چي د الله حکم ته (منتظر) پرېښودل شوي؛ يا به ئې تعذيب کړي او يا به ئې توبه قبوله کړي او الله باحکمت پوه دئ.

(۱۰۶)- دا مبارك آيت د يوې بلي ډلي په اړه د الله تعالی پرېکړه زموږ مخي ته ږدي: هغه چي منتظر پرېښودل شوي، غلطي ترې شوې خو الله تعالی د دوی په اړه وروستۍ پرېکړه نه ده کړې، وروسته او د دوی راتلونکو کړنو ته په پام سره به يا د عذاب پرېکړه کوي او يا به ئې توبه قبلوي، د دوی منتظر پرېښودل، د تعذيب يا توبې قبلېدا ئې راتلونکې ته معطلول د هغو خاصو مصلحتنو له مخي شوې چي عليم او حکيم رب پرې ښه پوهېږي. د دې ټولګي په اړه به تاسو د ۱۱۸آيت په تفسير کې مفصل بحث وګورئ.

وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مَسْجِدًا ضِرَارًا وَكُفْرًا وَتَفْرِيقًۢا بَيْنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَإِرْصَادًا لِّمَنْ حَارَبَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ مِن قَبْلُ ۚ وَلَيَحْلِفُنَّ إِنْ أَرَدْنَآ إِلَّا ٱلْحُسْنَىٰ ۖ وَٱللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ ﴿١٠٧﴾

او هغه چي يو جومات ئې د ضرر، کفر، د مؤمنانو تر منځ د تفريق (وسيله) او هغه چا ته مورچل ګرځولی چي تر دې مخکي له الله او د هغه له پيغمبر سره جنګېدلی؛ او حتماً په تأکيد سره لوړه کوي چي له ښېګڼي پرته مو د بل څه اراده نه وه کړې؛ او الله ګواهي ورکوي چي دوی له شك پرته دروغجن دي.

(۱۰۷)- دلته د هغو کسانو په اړه بحث شوی چي د اسلام او مسلمانانو په ضد او د دښمن په ګټه د جنګ سنګر او مورچل پرانيزي خو د جومات په څېر تر يوه غولوونکې نامه لاندي، موخه ئې دا وي چي دښمن ته ګټه ورسوي، مسلمانان متضرر کړي، د اسلام په ضد

د کفر مرسته او خدمت وکړي، د مسلمانانو تر منځ تفرقه او اختلافات راولاړ کړي او د هغو خلکو لپاره پناه ځی او مورچل جوړ کړي چې له اسلام او مسلمانانو سره جنګېدلي، خو له دې ټولو سره سره به د الله په نامه لوړه کوي چې کوم بد نیت نه لري، د اسلام او مسلمانانو د ښېګڼې لپاره ئې دا کار کړی، دا په داسې حال کې چې الله تعالی ګواهي ورکوي چې دوی دروغجن دي، نه ئې نیت او اراده سمه ده او نه ئې دا کار د اسلام او مسلمانانو په ګټه، که څه هم د دې یو مصداق خو هغه جومات وو چې منافقینو جوړ کړی وو، په روایاتو کې راغلي چې دا منافقین خزرجیان ول، د ابوعامر خزرجي چې لومړی مکې ته او د مکې له فتحې وروسته روم ته تښتېدلی وو او له هغه ځایه ئې ځینو منافقینو ته پیغام لېږلی وو چې زه له لوی لښکر سره درروان یم، تاسو د قباء له مسجد لرې لرې ځان ته جومات جوړ کړئ، دا به ستاسو د راغونډېدو مرکز وي، دوی همدا کار وکړ، پیغمبر علیه السلام ته ورغلل او بلنه ئې ورکړه چې په خپل امامت سره ئې افتتاح کړي، ورته وئې ویل چې مخکینی جومات له موږ لرې دئ، په تودوخي او د باران په ورځو کې نه شو وررسېدی، ځکه مو دلته بېل جومات جوړ کړ، پیغمبر علیه السلام ورسره وعده وکړه چې له تبوك راستنېدو وروسته به دا کار وکړم، خو لامدینې ته نه وو رارسېدلی چې په لاري کې د (ذي اوان) په سیمي کې دا آیتونه پرې نازل شول، نو امر ئې وکړ چې دا جومات ړنګ کړي،... خو دا لارښوونه په سلګونو نور مصداقونه لري، داسې ډېرې ډلې رامنځته شوې دي چې د اسلام تر نامه لاندې له اسلام سره جنګېدلې، که ووایو چې د تاریخ ټول جنګونه د حقیقي مذهب په ضد د جعلي مذهب تر پردې لاندې شوي، مبالغه مو نه ده کړې، تل د باطل پلویان د حق دین په ضد د دین او مذهب تر شعار او بیرغ لاندې جنګېدلي، دښمنانو تل مذهب د مذهب په ضد کارولی او د دین مقابله ئې د دین تر نامه لاندې کړې، د اسلامي ډلو د ځپلو لپاره ئې د اسلام تر نامه لاندې ډلې میدان ته رااېستلې، روسانو همدا کار وکړ، کله چې د خپلو فوځونو، وسلو، پیسو او کمونیستو مزدورانو په زور د مقاومت له ځپلو عاجز شول د مجاهدینو تر نامه لاندې یوه ډله ئې استخدام کړه، له کمونیستانو سره ئې یو ځای کړه، د خپل فوځ نیمګړی جنګي مأموریت ئې وروسپارو او په افغانستان کې د یوه اسلامي حکومت د جوړولو مخه ئې ونیوله. همدغه ډله دا دئ اوس امریکایانو استخدام کړې او د مجاهدینو په ضد ئې جنګوي. تل د اسلام نه ماتېدونکې کلا له داخله او د منافقینو په لاس او له اسلام د دفاع تر نامه لاندې د دښمن په ګټه فتح شوې، د افغانستان په جهاد کې هم دښمن په خپلو پرمخ تللو وسلو، مجهزو فوځونو، روزل شوو باتجربه جاسوسي شبکو، پراخو امکاناتو، تبلیغاتو، د مجاهدینو په وژلو، نیولو، د کلیو او کورونو په ورانولو، بمباریو او بې شمېره جنګي جنایاتو سره ونه توانېدو چې مجاهدینو ته ماته ورکړي، خو هغه مهال په دې وتوانېدل چې د مجاهدینو د لازیاتو بریاوو مخه ونیسي او په خپلمنځیو جګړو ئې اخته کړي چې د مسجد ضرار په څېر ډلې ئې جوړې کړې، له دغو ډلو ئې د مورچلو په توګه استفاده وکړه، د روسي فوځونو

نیمګړی جنګي مأموریت ئې دغو ډلو ته وسپارو او د مجاهدینو په لاس د یوه اسلامي حکومت د جوړېدو مخه ئې ونیوله. کوم کار چې دوی په خپلو مجهزو فوځونو ونه کړی شو، په دغو ډلو سره ئې وکړ!! دا نن صلیبي ځواکونو زموږ هېواد د خپلو فوځونو په زور نه دئ نیولی؛ بلکې د هغو ډلو په لاس ئې نیولی چې د دوی د زمکنیو فوځونو په څېر ئې عمل وکړ، د دوی لپاره وجنګېدل، که له پاسه هغوی بمونه ورول نو لاندې دوی مخکې تلل او سنګرونه ئې ورته فتح کول او د راکوزېدو شرائط ئې ورته برابرول. دا همغه ډلې دي چې قرآن ئې د مسجد ضرار په نامه یادوي او وایي: دا د دښمن لپاره مورچل، اسلام ته د ضرر رسولو باعث، د کفر په ګټه او د مسلمانانو د تفریق وسیله دئ، په افغانستان کې جهاد د یوې منظمي او ځواکمني اسلامي ډلې په لاس پیل شو، دښمن نه غوښتل چې دا اسلامي پاڅون د یوه داسې حزب تر مشرۍ لاندې دوام وکړي چې د اسلامي حکومت د جوړولو توان او کفایت لري، نوري ډلې ئې، هغه هم له هېواده بهر او هغه مهال جوړې کړې چې په لکونو افغانان پاکستان او ایران ته مهاجر شول، د مقاومت ورځ په ورځ ځواکمنېدو ته په پام سره دښمن وېرې واخیست چې د دې لړۍ پایله به هغه څه وي چې ترې سخته ترهه لري، د اسلامي حکومت جوړېدا، د امت ویښېدا، د جهاد د فریضې احیاء او د اسلامي خلافت تأسیس هغه څه وو چې دښمن تل ترې وېرېدو، د همدې لپاره ئې دا ډلې په پاکستان او ایران کې جوړې کړې، ډېر پرې وغولېدل، د دوی په قسمونو ئې باور وکړ، ګمان ئې دا وو چې دا په نېك نیت جوړې شوې ډلې دي او موخه ئې جهاد او د هېواد آزادي ده، خو راشئ وګورئ چې هغه ډلې اوس چېرې دي؟!! آیا له روسانو او کمونیستانو سره یو ځای نه شوې؟! آیا دا اوس د امریکایانو تر قومندې لاندې د خپل ملت په ضد نه جنګېږي؟! آیا دا دوی نه ول چې امریکایانو ته ئې ویل: لوی بمونه ووروئ، لومړی خط راته مات کړئ، موږ ته وسائل راکړئ او د اردو په قطعاتو کې زموږ جنګیالي ونیسي، موږ ترتاسو ښه جنګېدی شو، ور او ګودر راته معلوم دئ او په غرنیو سیمو کې د جنګېدو تجربه لرو؟!!

مجاهدینو د جهاد په تېرو کلونو کې د قرآن د ډېرو آیتونو مصداق په خپلو سترګو ولید، ډېر داسې خلك ئې ولیدل چې د اتحاد تر پردې او شعار لاندې ئې د اختلاف راولاړولو هڅې کولې، د بېلې ډلې جوړولو په موخه به ئې د مجاهدینو تر منځ د یووالي تر نامه لاندې غونډې جوړې کړې؛ خو لنډه موده وروسته به څرګنده شوه چې دا ډله د دښمنانو لخوا استخدام شوې او موخه ئې د مجاهدینو تر منځ د اختلافاتو تشدید او د یوې نوې ډلې جوړول دي!!

دښمن تل هڅه کوي چې د استخدام شوو ډلو لپاره غولوونکي نومونه غوره کړي، د تخریب سنګر ته د مسجد نوم ورکړي، ځیني د اتحاد په نامه د اختلاف لپاره، ځیني د اصلاح په نامه د افساد لپاره او ځیني د صلحې په نامه د جهاد په ضد میدان ته راوباسي.

دا دئ قرآن موږ ته وايي: ځيني به د دښمن لپاره سنګر جوړوي خو د مسجد په نامه، ځيني داسي دي چي ځان ته مصلح وايي، د صلح او اصلاح په نامه به صحنې ته راوځي خو په حقيقت کي به د دښمن له لوري د افساد او اختلاف لپاره ګمارل شوي وي، د مسلمانانو په وړاندي به ځان مسلمان ګڼي خو کله چي له خپل شيطان سره خلوت کوي نو ورته وايي: موږ ستاسو ملګري يو، پر مسلمانانو ملنډي وهو، د اسلام او اصلاح خبري مو هسي د ملنډو خبري دي. اصلي خبره مو همغه ده چي تاسو ئې غواړئ، له جهاد د خلکو راګرځول او وسله پر زمکه کښېښودل!!

مجاهدين بايد دې ته متوجه وي چي د دښمن چلند له يوې ډلي سره د معيار او محك په توګه ونيسي، هري هغې ډلي ته بايد د شك په سترګه وګوري چي دښمن ئې په خپلي خوا کي مني، د دښمن تر تسلط لاندي په ډاډ او اطمئنان سره اوسي، نه دښمن له دوی تشويش لري او نه دوی له دښمنه.

تجربو دا هم وښوده چي د يوې فعالي اسلامي ډلي په شتون کي د بلي ډلي جوړول يا د دښمن کار دئ، يا د غرضي او مرضي خلکو او يا د کمعقلو او جاهلانو، دغه نوې ډله به حتماً د دښمن په مورچل بدلېږي او دښمن به ئې د اسلام او مسلمانانو په ضد جنګوي.

---

لَا تَقُمْ فِيهِ أَبَدًاۚ لَّمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى ٱلتَّقْوَىٰ مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ أَحَقُّ أَن تَقُومَ فِيهِۚ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُواْۚ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلْمُطَّهِّرِينَ ﴿١٠٨﴾

هيڅکله مه په کي ودرېږه، بې له شك چي هغه جومات تر ټولو غوره دئ چي په کي ودرېږې چي له لومړۍ ورځي د تقوی پر بنسټ جوړ شوی، په هغه کي داسي مېړني دي چي پاکېدو ته لېوالتيا لري؛ او الله داسي ځان پاکوونکي خوښوي.

---

(۱۰۸)- د دې مبارك آيت په ارتباط څو خبري په پام کي ولرئ:

پيغمبر عليه السلام ته او د ده له لاري ټولو مؤمنانو ته امر شوی چي په مسجد ضرار او دې ته ورته جومات او جماعت کي له ودرېدو په کلکه ډډه وکړي.

د ودرېدو لپاره تر ټولو غوره جومات او جماعت هغه دئ چي له لومړۍ ورځي د تقوی پر بنسټ جوړ شوی وي، په لومړني جومات کي چي بنسټ ئې پر تقوی ولاړ وي او پاکان او متقيان په کي راغونډ شوي وي ودرېږئ،

الله تعالی پاکان او د پاکانو ټولی خوښوي.

په دې مبارك آيت کي دا فقره لږ دقت غواړي چي وايي: فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُواْۚ: په دې کي داسي مېړني دي چي پاکېدو ته لېوالتيا لري، که څه هم ځيني مفسرينو د يوه روايت په استناد ويلي دي چي په دې سره د دغو خلکو هغه صفت ته اشاره شوې چي په

استنجاء کې به ئې له لوټې علاوه له اوبو هم استفاده کوله، خو د آيت سياق او سباق او تر بحث لاندې موضوع اهميت ته په پام سره ويلی شو چې له دې پاکوالي مراد له نفاق، شرك، کفر، فسق او فساد پاکوالی مراد دئ نه يو فرعي او د ثانوي اهميت وړ پاکوالی!! کومې موضوع ته چې دغو درنو مفسرينو گوته نيولې ده هغه دومره ثانوي او فرعي موضوع ده چې قرآن په هيڅ ځای کې حتی معمولي اشاره هم نه ده ورته کړې، دا ډېره بعيده خبره معلومېږي چې دلته او د داسې مهمې قضيې د بحث په ترڅ کې دې دغې فرعي خبرې ته دومره اهميت ورکړی شوی وي!! په کوم روايت چې دوی استناد کړی د هغه په مقابل کې نور روايات داسې دي چې وايي له دې د مسجد نبوي لمونځ کوونکي مراد دي، نه د مسجد قباء، په دغو متعارضو رواياتو کې يوازې يو منلی شو، د آيت الفاظو ته په پام سره په يقيني توگه ويلی شو چې دا روايت ضعيف دئ. احق جومات مسجد نبوي دئ نه مسجد قباء.

دا مبارك آيت هر مؤمن ته؛ د قيامت تر ورځې؛ لارښوونه کوي او دا ځلانده مشعل په لاس ورکوي چې له څنگه ډلې سره به ملگرتيا کوي، په څنگه جومات کې به لمونځ کوي او په څنگه جماعت کې به غړيتوب قبلوي؟ په هغه جومات او جماعت کې به ودرېږې چې بنسټ ئې پر تقوی ايښودل شوی، تر نورو مخکې جوړ شوی، پاکان او متقيان په کې راغونډ شوي، هغه چې غواړي له نفاق، شرك، کفر، فساد او فسق ئې لمن پاکه پاته شي، هغه چې له گنده افکارو، ناولو اخلاقو او کرغېړنو عملونو ځان لرې ساتل غواړي.

تجربو ثابته کړې ده چې په لومړۍ ډلې کې د ټولني تر ټولو صالح او مخلص وگړي راغونډېږي، په دا کې چې تر نورو اخلاص او صداقت زيات وي تر هغوی مخکې ميدان ته راوځي، وړاندې وړاندې درومي، د نورو لپاره مخکښ وي، هغه چې وروسته وروسته ميدان ته راوځي؛ ايماني جذبه ئې تر مخکينيو کمزورې او اخلاص ئې لږ وي، د همدې لپاره قرآن سابقين د مخکښانو په نامه يادوي او مقام ئې تر ټولو لوړ گڼي.

خو دا چې په دې فقرې کې (لَّمَسۡجِدٌ أُسِّسَ عَلَى ٱلتَّقۡوَىٰ مِنۡ أَوَّلِ يَوۡمٍ أَحَقُّ أَن تَقُومَ فِيهِۚ: هغه جومات تر ټولو غوره دئ چې په کې ودرېږې چې له لومړۍ ورځې د تقوی پر بنسټ جوړ شوی،) کوم جومات ته اشاره شوې، بايد ووايو چې که څه هم دا حکم عام دئ او غوره دا ده چې په کوم خاص جومات پورې ئې مربوط نه کړو، د آيت له الفاظو هم خاص جومات نه معلومېږي، خو دومره په وضاحت سره معلومېږي چې مراد ئې مسجد قباء نه دئ، ځکه که داسې وی نو پيغمبر عليه السلام به حتماً او تل په هغه کې لمونځ کولو او هغه به ئې احق گڼلو. گڼ شمېر روايات هم دغه خبره کوي.

أَفَمَنۡ أَسَّسَ بُنۡيَٰنَهُۥ عَلَىٰ تَقۡوَىٰ مِنَ ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٍ خَيۡرٌ أَم مَّنۡ أَسَّسَ بُنۡيَٰنَهُۥ

عَلَىٰ شَفَا جُرُفٍ هَارٍ فَٱنْهَارَ بِهِۦ فِي نَارِ جَهَنَّمَۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِي ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٠٩﴾

آيا هغه چې بنسټ ئې د الله (له عذابه) په ځان ساتني او رضاء ایښودل شوی غوره دئ او که هغه چې بنسټ ئې د یوې داسې کندې په نړېدونکې ژۍ ایښودل شوی چې د دوزخ په اور کې به ئې ړنګ کړي؛ او الله دا ظالم وګړي نه هدايتوي.

(۱۰۹)- دلته مخکينۍ ډلې او د دوی جوماتونه او جماعتونه په ډېرې ښکلې بڼې کې انځور شوي، يو د هغه چا جومات چې بنسټ ئې د الله له مؤاخذې او عذابه په ځان ساتني او د الله په رضاء لټوني ایښودلی، د جومات له جوړولو ئې موخه دا وه چې د خپل رب اوامر په ځای کړي او رضاء ئې تر لاسه کړي او بل د هغه چا جومات ډوله د دښمنانو مرصاد چې د دوزخ د کندې په نړېدونکې ژۍ ئې جوړ کړی؛ چې د دې ژۍ په نسکورېدو سره دی او جومات ئې د دوزخ د کندې په اور کې پرېوځي، ووايئ! کوم ئې غوره دئ؟ په کوم کې ودرېدل غواړئ؟ خو پوه شئ چې الله تعالی هيڅکله دا ظالمان نه هدايتوي، د دوی پر مخ ئې د هدايت دروازه تړلې ده، دوی به هيڅکله خپلو ناولو موخو ته ونه رسېږي، الله تعالی به دا موقع ورنه کړي چې خپلو ناولو موخو ته د رسېدو لار ومومي.

لَا يَزَالُ بُنْيَٰنُهُمُ ٱلَّذِي بَنَوْاْ رِيبَةً فِي قُلُوبِهِمْ إِلَّآ أَن تَقَطَّعَ قُلُوبُهُمْۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١١٠﴾

تل به د دوی هغه ماڼۍ چې جوړه کړې ئې ده؛ د دوی په زړونو کې د شك (باعث) وي، مګر دا چې زړونه ئې ټوټې ټوټې شي؛ او الله باحکمت پوه دئ.

(۱۱۰)- دوی په نفاق کې هغې پولې او پړاو ته رسېدلي چې بېرته راګرځېدا ئې محال ده، د جومات په نامه د دښمن لپاره مورچل جوړول هغه څه دي چې تل به د دوی زړونه له شکونو او بدګمانيو ډك ساتي، هيڅکله به دا سعادت تر لاسه نه کړي چې له شکونو وژغورل شي او په صفا زړه د ايمان لوري ته راوګرځي. شکونه به ئې يوازې هغه مهال له منځه ځي چې دا په شديد نفاق لړلي زړونه ئې ټوټې ټوټې شي.

إِنَّ ٱللَّهَ ٱشْتَرَىٰ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَٰلَهُم بِأَنَّ لَهُمُ ٱلْجَنَّةَۚ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَۖ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي ٱلتَّوْرَىٰةِ وَٱلْإِنجِيلِ

وَٱلۡقُرۡءَانِۚ وَمَنۡ أَوۡفَىٰ بِعَهۡدِهِۦ مِنَ ٱللَّهِۚ فَٱسۡتَبۡشِرُواْ بِبَيۡعِكُمُ ٱلَّذِي بَايَعۡتُم بِهِۦۚ وَذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿١١١﴾

يقيناً چي الله له مؤمنانو د دوی سرونه او مالونه اخيستي دي؛ په دې پار چې جنت به ئې په برخه کېږی؛ نو دوی د الله په لار کې جنگېږي، وژني او وژل کېږي؛ رښتينې وعده چي په تورات، انجيل او قرآن کې ئې پر ځان (منلې ده)؛ او تر الله به څوك په خپلي وعدې ډېر وفا کوونکی وي؟ نو پر خپل هغه پېر پلور خوښ اوسئ چې تر سره کړی مو دئ؛ او همدا ستره بريا ده.

---

(۱۱۱)- دلته د الله تعالی په لار کې خپل سر او مال قرباني کول داسي ښودل شوي لکه چې مؤمنان خپل مال او نفس د جنت په بدل کې پر خپل رب پلوري، يعني که له الله تعالی جنت غواړې نو پوه شه چي د دې جنت بيع ستا سر او مال دئ، په هغه ورځ چې تا پر الله تعالی ايمان راوړی د جنت په مقابل کې دي خپل سر او مال پر خپل رب پلورلي، جنت ته د ننوتو سند به هغه مهال تر لاسه کوې چي له الله تعالی سره د پېر پلور په دغي معاملې او ژمني عمل وکړې، دلته د دغه پېر پلور او تجارت تقاضاوي په دې توگه ښودل شوې: ۱- دوی د الله په لار کې جنگېږي، ۲- د الله دښمنان وژني، ۳- او د الله د دښمنانو په لاس وژل کېږي.

دا هغه حقيقي الهي ژمنه ده چي په تورات، انجيل او قرآن کې ئې يادونه شوې، څوك به تر الله تعالی په خپلې ژمني ډېر وفا کوونکی وي؟ نو پر خپل هغه پېر پلور خوښ اوسئ چي تر سره کړی مو دئ؛ او همدا ستره بريا ده.

ته بايد د دې معاملې او پېر پلور له مخي داسي وگڼې لکه چي د الله تعالی له لوري يو پېرل شوی مريي يې، ستا لپاره الله تعالی همدغه د عبد (مريي) نوم غوره کړی، د دغي معاملې او نومَوَنې له مخي نور ته د خپل نفس او مال خاوند نه يې، ستا نفس او مال په حقيقت کې له تا سره د الله تعالی امانتونه دي. د مريي او غلام ځانگړتيا او خصوصيت دا دئ چي هغه په خپلو ټولو هڅو، هلو ځلو او تصرفاتو کې د خپل آقا رضاء لټوي، همدا د هغه هدف وي، هغه خپل حرکات او سکنات، خوی او عادت، کړه وړه او خپلي اړيکي او تعلقات داسي عياروي چي د هغه آقا او مالك ترې راضي شي، هر هغه څه چي دی ئې د خپل آقا او مالك د رضاء خلاف کوي، هغه ته بغی ويل کېږي؛ او پدې صورت کې هغه باغي گڼل کېږي، قرآن عظيم الشأن د مؤمنانو په اړه فرمايي:

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشۡرِي نَفۡسَهُ ٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ رَءُوفُۢ بِٱلۡعِبَادِ ﴿٢٠٧﴾
البقره: ۲۰۷

له خلکو ځيني هغه دي چي خپل نفس د الله د رضاء په لټه کي پلوري او الله په دغو بندګانو رؤف او مهربان دئ.

يعني الله جل شأنه په هغه بنده رؤ ف او مهربان دئ چي خپل نفس د الله د رضاء په لټه کي خرڅوي، د دې لپاره چي خپل رب راضي کړي خپل هر څه وقف کوي.

د عبد او مريي بل خصوصيت دا دئ چي هغه په خپل ټول ژوند کي، د خپل آقا د فرمان مطيع وي، هغه له خپله طرفه د هيڅ کار په اړه فيصله نه کوي، هغه ته چي د څه کولو کوم دستور او هدايت ورکول کېږي، همغه کوي، کوم اقدام چي د خپل آقا او مالك له اذن پرته وکړي، بغاوت ګڼل کېږي، دا د غلامۍ او مرييتوب له حده تجاوز ګڼل کېږي، هغه د ژوند په هيڅ برخه کي په خپله تصميم نه نيسي، هره خبره چي کوي او هر تصميم چي نيسي، نو هغه به د خپل آقا له امر او هدايت سره سم نيسي، قرآن عظيم الشأن د مؤمنانو په اړه فرمايي:

وَمَا كَانَ لِمُؤۡمِنٖ وَلَا مُؤۡمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمۡرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلۡخِيَرَةُ مِنۡ أَمۡرِهِمۡۗ وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلٗا مُّبِينٗا ﴿٣٦﴾ الاحزاب:٣٦

او هيڅ با ايمانه نارينه او ښځي ته دا نه ښايي چي کله الله او د هغه پيغمبر د کوم کار فيصله وکړي بيا دي دوی لره په خپل کار کي څه اختيار وي؛ او څوك چي له الله او د هغه له پيغمبر سرغړاوی وکړي، يقيناً چي په څرګنده توګه بې لاري شوی.

يعني د کوم کار په اړه د الله تعالی او د ده د پيغمبر له پرېکړي وروسته له هر مؤمن بنده دا ا ختيار سلب کېږي چي له خپل لوري بله پرېکړه وکړي، له دې وروسته هغه په بشپړ اطاعت مکلف دئ، د بلې پرېکړي او فيصلې حق نه لري، څوك چي سرغړاوی وکړي د هغه په بې لاريتوب او ضلالت کي هيڅ شك نشته.

د عبد او مريي بل خصوصيت دا دئ چي هغه به خپل دوست او دښمن د خپلو تمايلاتو پر بنسټ او د هوی او هوس له مخي نه ټاکي، په دې اړه هم له ده اختيار سلب شوی او هغه د خپل آقا او مالك د پرېکړي او حکم محکوم دئ، که کوم غلام او مريي د خپل آقا دښمن په دوستۍ ونيسي، هغه بغاوت کړی؛ او که هغه د خپل آقا دوست دښمن وګڼي بيا ئې هم بغاوت کړی. قرآن عظيم الشأن د مؤمنانو په اړه همدغسي فرمايي:

لَّا تَجِدُ قَوۡمٗا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ يُوَآدُّونَ مَنۡ حَآدَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَوۡ كَانُوٓاْ ءَابَآءَهُمۡ أَوۡ أَبۡنَآءَهُمۡ أَوۡ إِخۡوَٰنَهُمۡ أَوۡ عَشِيرَتَهُمۡۚ أُوْلَٰٓئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلۡإِيمَٰنَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٖ مِّنۡهُۖ وَيُدۡخِلُهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ رَضِيَ

ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُۚ أُوْلَٰٓئِكَ حِزۡبُ ٱللَّهِۚ أَلَآ إِنَّ حِزۡبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴿٢٢﴾

المجادله

هغه قوم چې پر الله او پر آخرت ئې ایمان وي؛ هیڅکله به ئې داسي ونه مومې چې له هغه چا سره دوستي وکړي چې له الله او د هغه له پیغمبر سره ئې دښمني کړې وي؛ که څه هم دوی ئې پلرونه وي، زامن ئې وي، وروڼه ئې وي او خپلوان ئې وي؛ همدغه کسان دي چې الله د دوی په زړونو کې ایمان ثبت کړی او په خپله روح "یعني په غیبي فیض" سره ئې د هغوی مرسته کړې، هغوی به داسي جنتونو ته داخل کړي چې ترې لاندي نهرونه بهېږي؛ په هغه کې تلپاته، الله له هغوی راضي شوی، دوی له الله راضي شوي؛ همدا د الله حزب دئ، " دغه کسان د الله د حزب غړي دي" یقیناً چې د الله حزب بریالی دئ.

---

التَّائِبُونَ الْعَابِدُونَ الْحَامِدُونَ السَّائِحُونَ الرَّاكِعُونَ السَّاجِدُونَ الآمِرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّاهُونَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَالْحَافِظُونَ لِحُدُودِ اللَّهِ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ﴿١١٢﴾

همغه توبه کوونکي، عبادت کوونکي، ستایونکي، (د الله په لوري) سفر کوونکي، رکوع کوونکي، سجده کوونکي، په معروف ګمارونکي، له منکر منع کوونکي او د الله د حدودو ساتونکي؛ او دغو مؤمنانو ته زېری ورکړه.

---

(۱۱۲)- دا مبارك آیت د هغو مؤمنانو ځانګړتیاوي او مواصفات موږ ته راښیي چې له خپل رب سره ئې پورتنۍ معامله او مبایعه تر سره کړې او پر مقتضی ئې عمل کوي؛ په دې توګه:

- دوی توبه کوونکي دي؛ که معمولي غلطي ترې وشي؛ ژر د خپل رب لوري ته راګرځي او پر خپلي ژمني د عمل کولو مجدد هوډ کوي.
- دوی عبادت کوونکي دي؛ له خپل رب سره ئې معامله داسي وي لکه د مریي معامله له خپل بادار سره.
- دوی ستایونکي دي؛ تل او په هر حالت کې د خپل رب په ستاینې مشغول وي.
- (د الله په لوري) سفر کوونکي، هر خوځښت ئې د خپل رب لوري ته سفر وي او په هغه لار درومي چې خپل رب ته ئې وررسوي؛ د سائحون ډېر تعبیرونه شوي خو تر ټولو غوره ئې همدا دئ.
- دوی رکوع کوونکي دي؛ تل د خپل رب پر عظمت اعتراف کوي او په وړاندي ئې سر ټیټوي.

- دوی سجده کوونکي دي؛ تل د خپل رب په وړاندي د مضطر او محتاج بنده په توګه تندی پر زمکه ږدي؛ او د الله تعالی ښنو ته لوېږي.
- دوی پر معروف ګمارونکي دي؛ دا خپل الهي مأموریت ګڼي چي خلکو ته بلنه ورکړي او پر نېکو کارونو ئې وګماري؛ نه فقط په وینا او دعوت سره؛ بلکي له خپلو ټولو امکاناتو په استفادې سره عملاً خلك ښېګڼو او معروف ته چمتو کول؛ ګمارل همدې ته وايي.
- دوی له منکر منع کوونکي دي؛ دا خپل دیني مسئولیت بولي چي د هر کرغېړن او ناروا کار مخنیوی وکړي؛ دا هم نه فقط په وینا او انتقاد سره؛ بلکي عملاً خلك له بدو او منکراتو راګرځول؛ نهي دې ته وايي.
- او دوی د الهي حدودو او د الله د دین د پولو ساتونکي دي؛ نه پرېږدي څوك له دغو حدودو تېر شي او له دغو پولو آخوا واوړي.

دغو مؤمنانو ته زېری ورکړه چي په رښتیا سره ئې خپله ژمنه تر سره کړې، له الله تعالی سره ئې کړې معامله او معاهده په صادقانه او رښتینې توګه سر ته رسولې او الله تعالی به له دوی سره په خپلې ژمني وفا کوي.

ګورئ چي له الله تعالی سره د مؤمنانو د بیع او شراء (پېر پلور) دا معاهده څومره درنه ده او څومره ستر ستر مسئولیتونه او دندي د مسلمان پر اوږو ږدي؟!!

---

مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن يَسْتَغْفِرُواْ لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوٓاْ أُوْلِي قُرْبَىٰ مِنۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَٰبُ ٱلْجَحِيمِ ﴿١١٣﴾

پیغمبر او مؤمنانو ته دا نه ښايي چي مشرکینو ته له هغه وروسته بخښنه وغواړي چي ورته څرګنده شوه چي دوی دوزخیان دي، که څه هم خپلوان (ئې) وي.

---

(۱۱۳)- دلته له مشرکینو سره د مسلمانانو د مقاطعې او پرېکون او له دوی او د دوی له شرك د برائت او بې زارۍ څرنګوالی انځور شوی، وايي: له پیغمبر او مؤمنانو سره دا نه ښايي چي مشرکینو ته له هغه وروسته د مغفرت او بخښني غوښتنه وکړي چي د دوی شرك ورته جوت شي او پوه شي چي دوی دوزخیان دي او له خپل شرك لاس اخیستو ته چمتو نه دي، که څه هم دا مشرکین د دوی نژدې خپلوان وي.

---

وَمَا كَانَ ٱسْتِغْفَارُ إِبْرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَن مَّوْعِدَةٍ وَعَدَهَآ إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥٓ أَنَّهُۥ عَدُوٌّ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ ۚ إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ لَأَوَّٰهٌ حَلِيمٌ ﴿١١٤﴾

او خپل پلار ته د ابراهيم بخښنه غوښتل خو يوازې د هغې وعدې له مخې وو چې له ده سره ئې د هغې ژمنه کړې وه، خو کله چې ورته جوته شوه چې هغه د الله دښمن دئ نو ترې بې زاره شو، يقيناً چې ابراهيم ډېر نرم زړی او د زغم خاوند وو.

(۱۱٤)- په دې مبارك آيت كې مسلمانانو ته ويل شوي چې ستاسو جد؛ ابراهيم عليه السلام هغه مهال له خپل پلار سره خپلې اړيکې وشلولې او خپل برائت ئې ترې اعلان کړ چې ورته معلومه شوه هغه د خدای دښمن دئ. تر يوې مودې ئې د دې لپاره هغه ته د بخښنې دعاء کوله چې د همدې استغفار ژمنه ئې ورسره کړې وه، خو کله چې پوه شو هغه د الله دښمن دئ او له خپل شرك او كفر لاس نه اخلي نو خپل برائت ئې ترې اعلان کړ.

که څه هم ځينو درنو مفسرينو د دې آيتونو لپاره خاص خاص شأن نزولونه بيان کړي، هر يوه په ځانگړي روايت استناد کړی، ځينو لا بيا د ابوطالب په اړه گڼلی، خو دا حکم عام دئ او د خاصولو هيڅ مجال ئې نه تر سترگو کېږي. دا ډېره عجيبه ده چې څوك ووايي: دا آيتونه د ابوطالب په اړه نازل شوي!! د ابو طالب خبره چېري او د دې آيت د نزول نېټه چېري؟!! ابوطالب په مکه کې وفات شوی او دا آيتونه د پيغمبر عليه السلام له رحلت لږ مخکې نازل شوي.

د آيت شأن نزول يوه معنی لري او مصداق ئې بله معنی، څوك چې مصداق ته د شأن نزول نوم ورکوي مغالطه کوي، شأن نزول د نزول د وخت خاص حالت دئ چې په بل وخت ئې اطلاق نشي کېدی او مصداق ئې د نزول له ورځې وروسته تر قيامت پورې ورته موارد دي. څوك چې د التوبه د سورې د کومې برخې شأن نزول د مکې دور حوادث گڼي رأيه ئې په دې دليل بې بنسټه ده چې التوبه د مدني دور په وروستيو ورځو کې نازله شوې؛ او هيڅ داسې صحيح روايت نه مومو چې وښيي د دې سورې يوه برخه شل کاله مخکې په مکه کې نازله شوې يا د بدر له جگړې سره متصل. د يوه روايت د عدم صحت لپاره دا دليل کافي دئ چې د نن نازل شوي آيت لپاره لس او شل کاله مخکې حادثه شأن نزول گڼي. له مشرکينو د برائت موضوع په هغو آيتونو کې راغلې چې د مکې له فتحې لږ مخکې نازل شوي؛ او د دې لپاره چې مسلمانان له قريشو سره وروستۍ پرېکنده جگړې ته چمتو کړي؛ او دا ټول آيتونه د يوه بشپړ مضمون نه بېلېدونکې برخې دي، همدا راز که دا آيت په مکه کې نازل شوی وی نو پيغمبر عليه السلام به له ابوطالب خپل برائت اعلاناوو نه دا چې د هغه په حمايت کې به اوسېدو!! دې ته مو هم پام وي چې ابراهيم عليه السلام د خپل پلار په ژوند کې د هغه لپاره مغفرت غوښتو نه د هغه له مرگ وروسته، کله چې پوه شو پلار ئې د خدای دښمن دئ نو خپل برائت او بې زاري ئې ترې اعلان کړه، د دې معنی دا ده چې د آيت اصلي موخه مسلمانانو ته دا لارښوونه ده چې په ژوند کې له خپلو هغو مشرکو خپلوانو سره خپلوي او دوستي ونه پالي او د مغفرت هيله ئې ونه کړي

**چې شرك او كفر ئې ورته ځرګند شوی. ځكه د هغه چا په اړه د قرآن حكم ډېر واضح او صريح دئ چې كافر او مشرك ومري، الله تعالی هيڅكله هغوی ته بخښنه نه كوي، رسول الله صلی الله عليه و سلم او مؤمنان د قرآن له دې صريح حكم خبر ول، د دې هيڅ امكان نشته او تصور ئې هم نشي كېدی چې رسول الله صلی الله عليه و سلم به ابوطالب ته او مؤمنانو به خپلو مشركو پلرونو او خپلوانو ته د دوی له مړيني وروسته د مغفرت دعاء كړې وي.**

**په بخاري کې چې په دې اړه كوم روايت راغلی هغه داسې دئ:**

عن سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ لَمَّا حَضَرَتْ أَبَا طَالِبٍ الْوَفَاةُ جَاءَهُ رَسُولُ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- فَوَجَدَ عِنْدَهُ أَبَا جَهْلِ بْنَ هِشَامٍ، وَعَبْدَ اللَّهِ بْنَ أَبِى أُمَيَّةَ بْنِ الْمُغِيرَةِ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- لأَبِى طَالِبٍ « يَا عَمِّ، قُلْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، كَلِمَةً أَشْهَدُ لَكَ بِهَا عِنْدَ اللَّهِ ». فَقَالَ أَبُو جَهْلٍ وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِى أُمَيَّةَ يَا أَبَا طَالِبٍ، أَتَرْغَبُ عَنْ مِلَّةِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَلَمْ يَزَلْ رَسُولُ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- يَعْرِضُهَا عَلَيْهِ، وَيَعُودَانِ بِتِلْكَ الْمَقَالَةِ، حَتَّى قَالَ أَبُو طَالِبٍ آخِرَ مَا كَلَّمَهُمْ هُوَ عَلَى مِلَّةِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، وَأَبَى أَنْ يَقُولَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- « أَمَا وَاللَّهِ لأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ، مَا لَمْ أُنْهَ عَنْكَ ». فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى فِيهِ ( مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ ) الايَةَ. (بخارى: ١٣٦٠)

**د سعيد بن مسيب (رضي الله عنه) له پلار روايت دئ چې وايي: كله چې د ابو طالب د ځنكدن (ساختو) وخت شو، رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ورته راغی او د هغه خوا ته ئې ابو جهل بن هشام، عبدالله بن ابي اميه بن مغيره وموندل، رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ابو طالب ته وويل: (اې تره! (لا إله إلا الله) ووايه، چې په همدې كلمې سره به د الله تعالی په وړاندې ستا لپاره شهادت وړاندې كړم)، نو ابو جهل او عبدالله بن ابي اميه ورته وويل: ابو طالبه! آيا د عبدالمطلب دين پرېږدې؟، رسول الله (صلی الله عليه وسلم) تر هغه دا (د شهادت كلمه) او هغوی دواړو خپله وينا وړاندې كوله چې ابو طالب خپله وروستۍ خبره داسې ورته وكړه: دی (ابو طالب) د عبدالمطلب په دين دئ او د (لا إله إلا الله) له ويلو ئې ډډه وكړه، نو رسول الله (صلی الله عليه وسلم) وفرمايل: (په الله قسم تر هغه به د مغفرت دعاء درته كوم چې ترې منع شم)، نو الله تعالی دا آيت نازل كړ: (ما كان للنبي... ).**

**د دې روايت په اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:**

**بخاري په دې اړه دوه متعارض روايات لري، يو ئې وايي چې د القصص د سورې دغه آيت**

نازل شو: إِنَّكَ لا تهْدِى مَنْ أَحْبَبْت وَ لَكِنَّ اللَّهَ يهْدِى مَن يَشاءُ وَ هُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ : القصص:٥٦، بل ئې وايي چې د البراءة د سورې ١١٣ آيت نازل شو، بخاري دا وضاحت نه دئ کړی چې په دې دواړو خبرو کې کومه يوه صحيح ده، د القصص سوره د مکې دور په منځنيو کلونو کې نازله شوې او په دغه آيت کې پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چې دا ستا په واك کې نه ده چې څوك له هدايت برخمن کړې او د ايمان راوړو سعادت ئې په برخه کړې، ستا دنده ايمان او سمې لارې ته د دوی بلنه ده، دا پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي چې چا ته په سمې لارې د تلو توفيق ورکوي او څوك ترې محروموي. خو کوم آيت ته چې په پورتني روايت کې اشاره شوې هغه د التوبه د سورې ١١٣ آيت دئ؛ او تاسو گورئ چې دا آيت د سورې د هغې رکوع يو آيت دئ چې په هغې کې د تبوك د جگړې يوې اړوند موضوع ته اشاره شوې، چې هغه له دې غزوې د درېو مخلصو مؤمنانو د پاته کېدو او د هغوی د توبې د قبلېدو موضوع ده او دا ښيي چې د سورې دا برخه او په ځانگړې توگه دغه رکوع د تبوك له غزوې وروسته نازله شوې. دا ټول آيتونه د يوه بشپړ مضمون نه بېلېدونکې برخې دي، د بېل بېل نازلېدو تصور ئې هم نشي کېدی. هيڅ داسې صحيح روايت نه مومو چې وښيي دا آيتونه دې دوه ځلې (يو ځل مکه کې او بل ځل د تبوك له جگړې وروسته) نازل شوي وي.

دې ته مو هم بايد پام وي چې کله انسان د احتضار (ځنکدن او سا ختو) حالت ته ورسېږي نه ئې توبه قبلېږي او نه ايمان، روايت وايي رسول الله صلى الله عليه و سلم د ابو طالب د احتضار په حالت کې د هغه خوا ته ورغلی، ابو جهل او ملگري ئې د هغه خوا ته موندلي او له خپل تره ئې غوښتي چې لا إله إلا الله ووايي!! دا په داسې حال کې چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په دې پوهېدو چې په دې حالت کې دا کلمه ويل هيڅ گټه نه لري.

---

وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُضِلَّ قَوۡمَۢا بَعۡدَ إِذۡ هَدَىٰهُمۡ حَتَّىٰ يُبَيِّنَ لَهُم مَّا يَتَّقُونَۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ﴿١١٥﴾

او الله داسې نه دئ چې يو قوم له هغه وروسته بې لارې کړي چې هدايت ئې کړ؛ تر هغه چې دوی ته هغه څه څرگند نه کړي چې (بايد) ځان ترې وساتي، يقيناً چې الله په هر څه پوه دئ.

---

(١١٥)- دا آيت موږ ته لارښوونه کوي چې د (هدايت) او (ضلالت) په اړه د الله تعالی سنت داسې دئ: لومړی يوه قوم او ولس ته لارښوونه کوي او ټول هغه څه ورته ښيي چې بايد ځان ترې وساتي، که دوی له دغه هدايت او لارښوونې او د ځان ساتلو د مواردو له

پېژندو مخکې کومه غلطي وکړي؛ الله تعالی ئې ورته بخښنه کوي او په دې ئې نه نيسي، خو که له دې وروسته چې الهي لارښوونه ئې په برخه شوه، هغه موارد ورته جوت شول چې بايد ځان ترې وساتي، گناه ته مخه کړي او د غلطۍ مرتکب شي نو سزا ورکوي او د بې لارې شوي قوم په توگه ئې مؤاخذه کوي. يعني له مشرکانو سره د اړيکو د شلولو له حکم مخکې که له تاسو په دې اړه څه غلطي شوې وي الله تعالی ئې درته بخښي، خو له دې وروسته که دا غلطي وکړئ نو سزا ته ئې انتظار وکړئ.

إِنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ يُحْىِۦ وَيُمِيتُ ۚ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِىٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿١١٦﴾

بې شکه چې الله هغه ذات دئ چې د آسمانونو او زمکې پاچايي د ده ده، ژوند ورکوي او وژني او تاسو ته له ده پرته نه کوم مولا او دوست شته او نه کوم مرستندوی.

(١١٦)- که د دې آيت دقيقه معنی د هغو آيتونو په رڼا کې وڅېړو چې ترې مخکې راغلي نو ژور ارتباط ئې له دې موضوع سره دئ چې له مشرکانو سره خپلې اړيکې وشلوئ، حتی که ستاسو نژدې خپلوان هم وي، د آسمانونو او زمکې ټولواك رب ځان ته کافي وگڼئ، له دوی کومه طمع دې تاسو د دوی دوستۍ ته ونه هڅوي، دا ځکه چې د آسمانونو او زمکې ټولواك خو الله تعالی دئ، د خپل ژوند او مرگ په اړه کومه طمع او وېره دې تاسو د دوی دوستي ته تشويق نه کړي، د ژوند او مرگ پرېکړه خو د الله له لوري کېږي او د دوی د مرستي او ملگرتيا تر لاسه کولو طمع دې تاسو دې ته ونه هڅوي چې هغوی ته د ملگرتيا او دوستۍ لاس اوږد کړئ دا ځکه چې له الله تعالی پرته نه کوم مولا او دوست درته شته او نه کوم مرستندوی.

لَّقَد تَّابَ ٱللَّهُ عَلَى ٱلنَّبِىِّ وَٱلْمُهَٰجِرِينَ وَٱلْأَنصَارِ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ فِى سَاعَةِ ٱلْعُسْرَةِ مِنۢ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِّنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّهُۥ بِهِمْ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١١٧﴾

يقيناً چې الله پر پيغمبر او هغو مهاجرينو او انصارو باندې (له پېرزوينې سره) رجوع کړې چې په يوه سخت حالت کې ئې له هغه وروسته د ده متابعت کړی چې نژدې وه د دوی د يوې ډلې زړونه کاږه شي، بيا (په پېرزوينې سره) پرې راوگرځېد، يقيناً چې دی پرې ډېر مهربان زړه سواند دئ.

(۱۱۷)- په دې مبارك آيت کې يو ځل بيا د مخلصو مهاجرينو او انصارو ستاينه شوې، له پيغمبر عليه السلام سره په داسې سخت او ستونزمن حالت کې د دوی صادقانه او مخلصانه ملګرتيا ته اشاره شوې چې نژدې وه ځيني ئې مقاومت ونه شي کړی، قدمونه ئې وښويږي او زړونه ئې کاږه شي، خو الله تعالی د عميم رحمت سيوری پر دوی وغوړاوو او بخښنه ئې ورته وکړه، دا ځکه چې الله تعالی پر دوی ډېر مهربان زړه سواند دی.

د آيت له سياق و سباق معلومېږي چې دا هم له مشرکانو سره د اړيکو په ارتباط راغلی؛ او په همدې اړه هغو اشتباهاتو ته ګوته نيسي چې الله تعالی بخښلي، د دوی اخلاص او صداقت ته په پام سره او د دې لپاره چې لا په دې اړه مشرح احکام نه وو نازل شوي.

وَعَلَى ٱلثَّلَٰثَةِ ٱلَّذِينَ خُلِّفُواْ حَتَّىٰٓ إِذَا ضَاقَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَرۡضُ بِمَا رَحُبَتۡ وَضَاقَتۡ عَلَيۡهِمۡ أَنفُسُهُمۡ وَظَنُّوٓاْ أَن لَّا مَلۡجَأَ مِنَ ٱللَّهِ إِلَّآ إِلَيۡهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيۡهِمۡ لِيَتُوبُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١١٨﴾

او پر هغو دريو (هم) چې وروسته پاته کړی شول، تر هغه چې زمکه سره له ارتوالي ئې پرې تنګه شوه او خپل زړونه پرې تنګ شول او ګمان ئې وکړ چې له الله؛ دده لورې ته (له پناه وړلو) پرته بل پناځی نشته، بيا له پېرزويني سره پر دوی راوګرځېد، بې شکه چې الله ډېر مهربان توبه قبلوونکی دی.

(۱۱۸)- دلته د هغو دريو مخلصو صحابه وو يادونه شوې چې د تبوك په غزا کې له برخې اخيستو محروم شول، خو کله چې پيغمبر عليه السلام له تبوك راستون شو او له وروسته پاته شوو د پوښتنو او ګرويږنو لړۍ پيل شوه، دوی د دې په ځای چې کومه دروغجنه بهانه وړاندې کړي د پيغمبر عليه السلام په وړاندې ئې په خپلې غلطۍ اعتراف وکړ او وئې ويل چې د پاته کېدو په اړه هيڅ شرعي عذر نه لرو، د دوی توبه دومره ژوره او د زړه له تله وه چې الله تعالی په قرآن کې د دوی د توبې د قبلېدا اعلان وکړ او دا مبارکه سوره د دوی د توبې په نامه ياده شوه، ښه به وي چې دا قصه په خپله د دوی د يوه کس له لورې واورو: کعب بن مالك رضی الله عنه د تبوك په غزا کې له برخې اخيستو پاته کېدا او له پاته شوو سره د مسلمانانو د عمومي مقاطعې قصه داسې بيانوي: "کله چې د تبوك غزا ته تياری نيول کېدو او پيغمبر عليه السلام اعلان وکړ چې ټول بايد د دې غزا لپاره چمتو شي او لازم وسائل او سامان برابر کړي، ما اراده وکړه چې سامان او وسائل برابر کړم، بيا لټې رانه وشوه او له ځان سره مې وويل: لازيات وخت لرم، پرېږده کله چې لښکر

خوځېدو ځان به همغه ورځ تيار کړم، د لښکر د خوځېدو ورځ ورو ورو رانژدې کېده، خو زه لا تيار نه وم، کله چې لښکر روانېدو له ځان سره مې وويل: پروا ئې نشته، دوی دې وخوځېږي، زه به يوه دوه ورځې وروسته پسې وخوځېږم او له لښکر سره به يو ځای شم، کسالت راباندي غلبه وکړه، کار مې هغه ځای ته ورسېد چې په دې غزا کې له برخې اخيستو محروم شوم، د پيغمبر عليه السلام تر راستنېدو پورې په مدينه کې اوسېدم، کله چې به مې خپلې شاوخوا ته سترګې وغړولې نو له منافقينو او ځينو معذورو مسلمانانو پرته به مې بل څوك نه تر سترګو کېدو، نو له سختې پرېشانۍ او ندامت سره به مخامخېدم، بالآخره پيغمبر عليه السلام په خير سره له تبوك راستون شو، مدينې ته له ننوتو سره سم نبوي مسجد ته داخل شو، د معمول مطابق ئې دوه رکعته لمونځ وکړ، کله چې له لمانځه فارغ شو نو منافقين ډله ډله ورته راتلل او په دې غزوې کې د برخې نه اخيستو په اړه ئې رنګ رنګ بهانې او عذرونه وړاندې کول، پيغمبر عليه السلام به د هر يوه خبره په دقت سره اورېده، د دوی معقول برېښېدونکې عذرونه به ئې منل او د دوی باطنې خبره به ئې الله تعالی ته محول کوله؛ او ويل به ئې: الله دې تاسو ته عفوه وکړي، بالآخره زما وار راورسېد، زه د پيغمبر عليه السلام خوا ته وروړاندې شوم، سلام مې پرې ووايو، پيغمبر عليه السلام د سلام له جوابه وروسته، ما ته ځير شو، تبسم ئې وکړ او وئې ويل: ته راوړاندې شه، ووايه چې څه شي منع کړې؟ ما عرض وکړ: يا رسول الله! په خدای قسم چې که زه د الله له رسول پرته د بل هر چا په وړاندې ودرېدلی وی نو داسې دليل به مې وړاندې کړی وو چې هغه مې راضې کړی وی، عذر او بهانه وړاندې کول ما ته ګران کار نه دئ، خو د پيغمبر عليه السلام په اړه مې عقيده دا ده چې باور لرم؛ که نن ئې د کومې بهانې او عذر په وړاندې کولو سره راضې کړم، الله تعالی به هرومرو داسې شرائط راولي چې پيغمبر عليه السلام بېرته رانه ناراضه شي، خو که رښتيا ووايم او په دې سره پيغمبر عليه السلام رانه ناراضه شي نو د ارحم الراحمين رب دربار ته مې دا هيله ده چې ما به وبخښي او زما له خطاء به راته تېر شي، حقيقت دا دئ چې زه د پاته کېدا لپاره هيڅ توجيه او دليل نه لرم چې ستا حضور ته ئې وړاندې کړم، زه له هره پلوه په دغې غزا کې د برخې اخيستو لپاره مستعد وم. پيغمبر صلی الله عليه و سلم په داسې حال کې چې زما لورې ته ئې اشاره کوله وئې فرمايل: دی له هغو کسانو دئ چې رښتيا ئې وويل، بيا ئې راته وويل: اوچت شه او منتظر اوسه چې الله تعالی ستا په اړه څه پرېکړه کوي! زه له خپله ځايه پورته شوم او د خپلې قبيلې د خلکو خوا ته کښېنستم، ټول زما خوا کې راغونډ شول، زه ئې ملامتولم او راته ويل ئې چې ولې دې کوم عذر او بهانه وړاندې نه کړه؟ د دوی رټل او ملامتول دومره زيات شو چې کله به مې زړه راته ويل چې بېرته پيغمبر عليه السلام ته ورشه او کوم عذر وړاندې کړم، خو په همدې حالت کې وم چې خبر شوم دوو نورو نېکو بندګانو؛ مرارة بن ربيع او بلال بن اميه هم پر حقيقت اعتراف کړی او د دروغجنې بهانې او عذر له ويلو ئې ډډه کړې، نو زه د کوم عذر د وړاندې کولو له تصميم

واوښتم. بیا پیغمبر علیه السلام امر وکړ چي له موږ دریو سره به هیڅوك خبري نه کوي، د دې حکم له صادرېدو وروسته که څه هم زه به له کوره وتلم او لمونځ به مي په جماعت سره ادا کولو، بازار ته به هم تلم راتلم، خو هیچا به له ما سره خبري نه کولې، داسي مي انګېرله لکه چي دا زمکه زما لپاره پردۍ ده او زه په دې ښار کي پردی یم، داسي لکه چي هر څه بدل شوي وي او دلته هیڅوك زما له پرېشانه حالته خبر نه وي، کله چي به جومات ته ولاړم، د تل په څېر به مي پر پیغمبر علیه السلام سلام واچاوو، انتظار به مي وکړ چي د ده د شونډو له خوځېدا د خپل سلام ځواب تر لاسه کړم، د لمانځه په حال کي به مي د پیغمبر علیه السلام په لوري کتل چي وګورم زما خوا ته څنګه ګوري، خو حالت داسي وو چي کله به زه په لمانځه بوخت وم پیغمبر علیه السلام به زما خوا ته له شفقت او پېرزویني ډك نظر سره کتل خو کله چي به له لمانځه فارغ شوم هغه به خپله توجه له ما واړوله او بل لوري ته به متوجه شو. د عمومي مقاطعې په دوران کي یوه ورځ له وېري او ډار سره د ماشومتوب د دوران ملګري ابو قتاده خوا ته ورغلم، هغه زما د تره زوی هم وو، د بڼ له دېواله مي ابوقتاده ته سر ورلوړ کړ او سلام مي پرې وواېو، هغه هیڅ ځواب رانه کړ، ورته ومي ویل: اې ابو قتاده! ستا دي په رب قسم وي چي زه له الله او د هغه له پیغمبر سره مینه نه لرم؟ هغه پټه خوله پاته شو او څه ئې ونه ویل، بیا مي پوښتنه ترې وکړه، خو هغه بیا هم ساکت پاته شو، خو چي درېیم ځل مي ترې پوښتنه وکړه او قسم مي ورکړ، هغه زما په ځواب کي فقط دومره وویل: الله او د هغه پیغمبر ښه پوهېږي!! د دې ځواب په اورېدو سره مي اوښکي له سترګو رواني شوې او له دېواله راکوز شوم.

د همدې مقاطعې په دوران کي یوه ورځ په بازار کي روان وم چي ناڅاپه د روم له نبطیانو یوه کس د غسان د پاچا هغه لیك راکړ چي د ورېښمو په ټوکر کي تړل شوی وو، ما لیك پرانیست؛ دا مطالب مي په کي ولوستل: اورېدلي مو دي چي ستا ملګري ډېره جفا درسره کړې، ته بې عزته کس نه یې، ستا شخصیت تر دې لوړ دئ چي داسي ضائع شي، زموږ خوا ته راشه چي ستا قدر وکړو. ما د دې خط په لوستلو له ځان سره وویل: دا هم د الله تعالی یوه بله آزموینه، اوس زما دا حال دئ چي کافران هم له ما طمع کوي چي د دوی دین ته واوړم؛ او مرتد شم، لیك مي په تنور کي وغورځاوو او ومي سوزاوو. څلوېښت ورځي پر له پسې همداسي تېري شوې، ناڅاپه یو څوك زما کور ته راغی او د پیغمبر علیه السلام دا دستور ئې راواوراوو چي له غزوې وروسته پاته شوي دي له خپلو مېرمنو هم بېل شي! ما عرض وکړ: آیا هغوی ته طلاق ورکړو؟ ځواب ئې راکړ چي نه، یوازي ترې بېل شئ، ما خپلي مېرمن ته وویل: ښه به وي چي د خپلوانو کره ولاړه شې او د الله تعالی تر پرېکړي انتظار وکړې!

ورځي همداسي یوه په بلې پسي تېرېدې، خو داسي چي زه نور له ژوندده بې زاره وم، په پنځوسمه ورځ، د سحر د لمانځه په مهال، په داسي حال کي چي پر خپل ځای ناست وم،

ناڅاپه یوه کس نعرې کړې چې: مبارك دي شه کعب بن مالکه! زه د دې خبرې په اورېدو سره په سجده پرېوتم؛ او د الله تعالی شکر مي پر ځای کړ او پوه شوم چې الله تعالی زموږ ګناه رابخښلې ده، په ده پسي ډېر نور خلك ډله ډله یوه په بلې پسي او په داسي حال کې راتلل چې غوښتل ئې تر بل مخکې راشي، مبارکي ئې راکوله او راته ویل ئې: بالآخره الله تعالی ستا توبه قبوله کړه، زه له هغه ځایه مسجد ته راغلم، پیغمبر علیه السلام مي ولید چې مخ ئې له خوشحالۍ ځلېدو، سلام مي پرې ووایو، هغه د سلام له ځوابه وروسته راته وویل: تا ته دي مبارك وي، دا ستا د ژوند تر ټولو غوره ورځ ده، ما پوښتنه وکړه: آیا د عفوې اعلان د پیغمبر علیه السلام له لوري دئ که د الله تعالی له لوري؟! وئې ویل: د الله تعالی له لوري، بیا ئې د دې وینا په تأیید کې دا آیت تلاوت کړ: و علی الثلاثة الذین خلفوا.... کعب رضی الله عنه وایي: ما وویل: زما په توبې کې دا هم شامل دي چې خپل ټول مال مي دي د الله تعالی په لار کې وقف وي، پیغمبر علیه السلام راته وویل: دا درته غوره ده چې یوه برخه ئې له ځان سره وساتې، ما وویل: نو یوازې د خیبر برخه مي له ځان سره ساتم.

دې ته مو باید پام وي چې د مقاطعې دا معامله له هغه کعب رضی الله عنه سره شوې چې له تبوك پرته ئې په ټولو غزواتو کې برخه اخیستې وه!! له دې معلومېږي چې له عذره پرته جهاد پرېښودل څومره ستره ګناه ده او پیغمبر علیه السلام او صحابه وو له داسي خلکو سره څه معامله کوله؟!!

دا مبارك آیت او پورتنۍ قصه موږ ته د هغه مخلص بنده چې غلطي ترې شوې وي؛ له یوه منافق توپیر راښیي، یو ئې داسي چې د ګناهونو په ډنډ کې تر ستوني غرق وي خو هیڅ پروا ئې نه وي، نه توبه کوي، نه د ځان د اصلاح هڅه کوي او نه د خپلو ګناهونو د جبران لټه، خو بل ئې داسي چې خپله ګناه ئې ځوروي، توبه کوي، له خپل رب بخښنه غواړي، له خپلي ګناه او غلطۍ د دفاع او توجیه پر ځای اعتراف کوي او د غلطۍ د جبران لټه کوي.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَكُونُواْ مَعَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١١٩﴾

اې مؤمنانو! له الله ووېرېږئ او له صادقانو سره واوسئ.

---

(۱۱۹)- د مخکیني آیت په رڼا کې او له هغه سره په تړاو؛ د دې آیت لارښوونه دا ده: اې مؤمنانو! د دغو رښتینو مؤمنانو په څېر شئ، د دوی لار غوره کړئ، کله چې شیطان او نفس وغولولئ او کوم غلط کار ئې درباندي وکړ نو خپل رب ته مخه کړئ، توبه وکړئ، له خپل بخښوونکي رب بخښنه وغواړئ او د خپلي غلطۍ د جبران هڅه وکړئ.

مَا كَانَ لِأَهْلِ ٱلْمَدِينَةِ وَمَنْ حَوْلَهُم مِّنَ ٱلْأَعْرَابِ أَن يَتَخَلَّفُوا۟ عَن رَّسُولِ ٱللَّهِ وَلَا يَرْغَبُوا۟ بِأَنفُسِهِمْ عَن نَّفْسِهِۦ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ لَا يُصِيبُهُمْ ظَمَأٌ وَلَا نَصَبٌ وَلَا مَخْمَصَةٌ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا يَطَـُٔونَ مَوْطِئًا يَغِيظُ ٱلْكُفَّارَ وَلَا يَنَالُونَ مِنْ عَدُوٍّ نَّيْلًا إِلَّا كُتِبَ لَهُم بِهِۦ عَمَلٌ صَـٰلِحٌ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٢٠﴾

مدينه والـو او د دوى شاوخوا بانډه والو ته نه ښايي چي د الله له رسول تر شا پاته شي او نه دا چي خپل ځانونه د ده تر ځان غوره وګڼي، دا د دې لپاره چي نه دوى ته د الله په لار کې کومه تنده رسي، نه کومه ستونزه، نه کومه لوږه، نه کومه داسي سيمه تر پښو لاندي کوي چي کافران غصه کړي او نه له دښمن نه کومه لاسته راوړنه تر لاسه کوي مګر دا چي په دې سره يو صالح عمل ورته ليکل کېږي، بې شکه چي الله د دغو محسنينو اجر نه ضائع کوي.

(۱۲۰)- که څه هم د دې مبارك آيت لومړني مخاطبين د مدينې منورې اوسيدونکي او د هغې شاوخوا بانډه وال دي او هغوى ته ويل شوي چي له تاسو سره دا نه ښايي چي پيغمبر عليه السلام په جهاد کې يوازي پرېږدئ، تر شا شئ او ځان تر هغه غوره وګڼئ، هغه جهاد ته درومي، خطر قبلوي خو تاسو ته خپل ځان دومره مهم وبرېښي چي په جهاد کې تر برخي اخيستو ځان لوړ وګڼئ، خو دا لارښوونه هر مسلمان ته متوجه ده، ټولو ته په کار ده چي نور مسلمانان او خپل مشران په جهاد کې يوازي پرېنږدي، دا ځکه چي د جهاد په لار کې به د دوى هر کار د نېك عمل په نامه ليکل کېږي؛ که دا کومه تنده وي، کومه لوږه وي، کومه ستونزه وي، کومه داسي سيمه تر پښو لاندي کول وي چي کافران پرې غصه کېږي او که له دښمن اطلاعات يا غنايم تر لاسه کول وي، هر يو به الله تعالى د دوى لپاره د صالح عمل په توګه ليکي او اجر به ئې ورکوي؛ او دا چي الله تعالى د دغو محسنينو اجر نه ضائع کوي.

تاسو به ډېر داسي خلك وموئ چي د مسلمانۍ او له پيغمبر عليه السلام سره د ميني دعوى کوي خو پر اسلام او مسلمانانو د الله د دښمنانو له لوري پراخ او پر له پسي بريدونه ګوري خو هيڅ غبرګون نه ښيي، په توري او ټوپك سره د دښمن مقابله خو پرېږده؛ په ژبه هم د دوى مخالفت نه کوي او تندى ئې هم نه ورته تريو کېږي، ځيني بيا شيطان داسي دوکه کړي چي ځان ورته دومره ستر او مهم برېښي چي په جهاد کې برخه اخيستل د ځان لپاره پيغور ګڼي، دا د غير مهمو کسانو دنده ګڼي چي په خپلي وسلي سره

د دښمن مقابله وکړي او ځان په خطر کې واچوي!! هو؛ دوى ته ځان تر پيغمبر عليه السلام هم مهم بريښي، پيغمبر عليه السلام په خپله په جهاد کې برخه اخيسته، د جنګ په ميدان کې به ئې د مجاهدينو لارښوونه کوله، هغه به ځوك وي چې تر پيغمبر عليه السلام هم مهم وي او داسې ګمان وکړي چې د اسلام بيرغ د ده په ښکر ولاړه دئ که ده ته کوم خطر پيښ شو نو دا بيرغ به د تل لپاره نسکور شي!!

وَلَا يُنفِقُونَ نَفَقَةً صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً وَلَا يَقْطَعُونَ وَادِيًا إِلَّا كُتِبَ لَهُمْ لِيَجْزِيَهُمُ ٱللَّهُ أَحْسَنَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٢١﴾

او نه کوم وړوکى شى مصرفوي او نه کوم لوى شى او نه له کوم ناو پوري وځي مګر دوى ته ليکل کېږي، د دې لپاره چې الله دوى ته د دوى د هغو عملونو په تناسب بدله ورکړي چې تر ټولو غوره دي.

(١٢١)- دا آيت د مخکيني تتمه ده او فرمايي چې دوى نه کوم وړوکى شى مصرفوي او نه کوم لوى شى او نه له کوم خوړ پوري وځي او کوم ناو پلى کوي مګر دا چې دوى ته ليکل کېږي او د قيامت په ورځ به د هغه عمل له مخې د دوى مقام او منزلت ټاکل کېږي چې تر ټولو غوره وي، يعني د جهاد له مخې به د دوى مقام ټاکل کېږي، نور عملونه به ئې په نسبي توګه په پام کې نيول کېږي او الله تعالى به ئې اجر ورکوي.

وَمَا كَانَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُوا۟ كَآفَّةً ۚ فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا۟ فِى ٱلدِّينِ وَلِيُنذِرُوا۟ قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوٓا۟ إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ ﴿١٢٢﴾

او مؤمنان داسې نه دي چې ټول (د جهاد لپاره) ووځي، ولې دي د دوى له هرې ډلې يو ټولګي ونه وځي، چې په دين کې پوهه تر لاسه کړي او هغه مهال چې خپل قوم ته بېرته ستنېږي انذار ئې کړی، چې ځان ساتنه وکړي.

(١٢٢)- د دې آيت په مطلب باندې ښه پوهېدا لږ غور او دقت غواړي، په دې کې ويل شوي چې مؤمنان داسې نه دي چې ټول ووځي، بايد د دوى له هرې ډلې يو ټولګى ووځي، چې په دين کې پوهه تر لاسه کړي او کله چې خپل قوم ته بېرته ستنېږي؛ خبرداری ورکړي چې ځان ساتنه وکړي. خو دا نه دي ويل شوي چې د څه لپاره به ټول يو ځاى نه وځي، د جهاد لپاره که د علم تر لاسه کولو لپاره؟ په دين کې تفقه او پوهه به په سنګر کې تر لاسه کوي که په کومې مدرسې کې؟ ځوك چې د قرآن په ژبه پوهېږي او د زړه او دماغ دړه ئې د قرآني علومو لپاره پرانيستل شوې وي؛ دې پوښتنو ته د قرآن په رڼا کې ځواب موندلى شي

او پوهېږي چې دلته د بحث موضوع جهاد ده، تر دې د مخه ویل شوي چې ښاریان او بانډه وال باید پیغمبر علیه السلام یوازي پرېنږدي، دلته د نفیر کلمه راغلې او د قرآن په قاموس کې دا اصطلاح د جهاد لپاره د وتلو په معنی راغلې نه په بله معنی؛ او په داسي حال کې چې پیغمبر علیه السلام په خپله په جهاد کې برخه اخلي نو چا چې غوښتل په دین کې تفقه حاصله کړي باید د پیغمبر علیه السلام په خوا کې جهاد ته تللی وی او له هغه ئې دین زده کړی وی، له دې پرته به ئې څنګه او له چا د دین زده کړه کوله؟! باور وکړئ چې په دې دین یوازي مجاهد پوهېدی شي، ځوك چې د جهاد له سعادته محروم وي په قرآن باندي پوهېدل ورته ګران دي، دا قرآن د الله د لاري د مجاهد لارښود دئ نه د قاعد، دا زما شخصي وینا نه ده قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کې همدا خبره کوي، لکه چې فرمايي:

وَدَّت طَّآئِفَةٌ مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ لَوْ يُضِلُّونَكُمْ وَمَا يُضِلُّونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿٦٩﴾ آل عمران: ٦٩

چا چې زما لپاره جهاد وکړ هرومرو به ئې پر خپلو لارو هدایت کړم او یقیناً چې الله له دغو محسنینو سره دئ.

یعني ځوك چې د الله تعالی لپاره جهاد ته ملا وتړي د هدایت دراوزې به ئې پر مخ پرانیزي، د محسنینو مقام ته به ئې ورسوي او د الله تعالی معیت او ملتیا به ئې په برخه شي.

کله جهاد فرض عین وي چې پر هر مسلمان که نارینه وي او که ښځینه، که آزاد وي که غلام فرض وي، ټول باید په جهاد کې برخه واخلي، چې دا یا هغه مهال فرض عین شي چې د مسلمانانو هېواد د کافرانو تر برید لاندې راشي او یا د مسلمانانو امیر امر وکړي چې ټول دې په جنګ کې برخه واخلي؛ او کله فرض کفایي وي او دا هغه مهال چې له مسلمانانو که ځیني په جنګ کې برخه واخلي نو کفایت کوي، په دې صورت کې د ټولو وتل نه یوازي ضروري نه دي بلکې ډېر ځلي د ګټي په ځای تاوان کوي. د مجاهدینو د شمېر په اړه باید د وضعیت له مخي او د دښمن شمېر ته په پام سره پرېکړه وشي، ځکه دلته ویل شوي چې مؤمنان نه داسي وي چې کله نفیر عام وي نو ځیني شا ته پاته شي او نه داسي چې د لږ شمېر مجاهدینو لېږل ضروري وي خو دوی ټول د وتلو هڅه وکړي، باید د خپل مشرتابه پرېکړه معتبره وګڼي او د هغې مطابق عمل وکړي.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ ٱلْكُفَّارِ وَلْيَجِدُواْ فِيكُمْ غِلْظَةً ۚ وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلْمُتَّقِينَ ﴿١٢٣﴾

اې مؤمنانو! له هغو کافرانو سره وجنګېږئ چې درنژدې دي او حتماً دې په تاسو کې

زيړوالى ومومي او په دې پوه شئ چي الله له داسي متقيانو سره (مل) دئ.

(۱۲۳)- دلته ګورو چي له يوې خوا مؤمنانو ته ويل شوي چي له دښمنانو سره په جنګ کې دا ترتيب مراعات کړي چي لومړى له نژدې دښمن سره وجنګېږي بيا له لري سره، يعني د جګړې لمن بايد په تدريج سره خوره شي، نه په يو وخت له ټولو دښمنانو سره خوا ورکول صحيح دي او نه د نژدې دښمن په شته والي کې له لري سره، له بلې خوا ورته ويل شوي چي له دښمن سره په خپل چلند کې بايد زيړوالى او غلظت وښيئ او له نرمښت ډډه وکړئ، له بلې خوا ګورو چي هغو جنګياليو مجاهدينو ته د متقيانو نوم ورکړى شوى چي له نژدې کافرانو سره جنګېږي او له هغوى سره په خپل چلند کې زيړوالى ښيي، دوى ته ډاډ ورکړى شوى چي د الله تعالى تأييد او ملتيا به تر لاسه کړي. دا آيت هم موږ ته ښيي چي د تقوى په اړه د هغو خلکو تعبير ناسم او د قرآن د لارښوونو خلاف دئ چي په اورادو او اذکارو کې ئې خلاصه کوي او داسي چا ته ئې منسوبوي چي له خلکو ګوښه کېږي او د کومي خانقاه په کونج کې په نوافلو ځان بوختوي!! دا آيت موږ ته وايي چي متقي يعني مجاهد او وايي چي الله تعالى د همدغه مجاهد مل دئ.

وَإِذَا مَآ أُنزِلَتْ سُورَةٌ فَمِنْهُم مَّن يَقُولُ أَيُّكُمْ زَادَتْهُ هَٰذِهِۦٓ إِيمَٰنًا ۚ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ فَزَادَتْهُمْ إِيمَٰنًا وَهُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿١٢٤﴾ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا إِلَىٰ رِجْسِهِمْ وَمَاتُوا۟ وَهُمْ كَٰفِرُونَ ﴿١٢٥﴾

او کله چي کومه سوره نازله کړى شي نو د دوى ځيني وايي: دې (سورې) ستاسو د کوم يوه ايمان درزيات کړ؟ نو هغه چي ايمان ئې راوړى ايمان ئې ورزيات کړ؛ په داسي حال کې چي خوشحالي کوي. او هغه چي په زړونو کې ئې بيماري ده؛ د دوى پر پليتي ئې پليتي ورزياته کړه او په داسي حال کې مړه شول چي کافران ول.

(۱۲۴-۱۲۵)- د ۱۲۴آيت لومړۍ فقره وايي: د کومي سورې د نازلېدو پر مهال به ځينو منافقينو ويل: دې سورې ستاسو د کوم يوه ايمان زيات کړ؟ دا ښيي چي د دوى ځيني کسان ډېر جسور ول او د قرآن په اړه به ئې د داسي ويلو جسارت هم کولو چي وښيي له دې خو موږ کوم نوى شى زده نه کړ، خاص اغېز ئې نه وو، نه پوهېږو چي د چا ايمان به پرې زيات شوى وي؟!! په دې مبارکو آيتونو کې د دوى په ځواب کې د قرآن په اړه د دوو ډلو عکس العمل او غبرګون انځور شوى: يوه د مؤمنانو ډله چي د قرآن د هري سورې په نزول سره ئې ايمان لازيات مضبوط شي، د قرآن آيتونه د دوى ايمان او باورونو ته ځلا او قوت ورکړي، د دې آيتونو په رڼا کې په لازياتو حقائقو پوه شي، د خپل رب نوري وعدې ئې

تر سترګو شي، په دې سره ئې زړه لازيات ډاډه او خوشحاله شي. خو د دې مؤمنانو په مقابل کې بله ډله داسې ده چې په زړونو کې ئې بيماري ده، زړونه ئې له خيرو ډك دي، د دې په ځای چې د قرآن د آيتونو په اورېدو سره د دوی بيمار زړونه روغ شي، په خلاف د دې د زړونو بيماري او خيري ئې لازياتې شي، پټ نفاق ئې په ښکاره کفر بدل شي او د همدې کفر په حالت کې ومري!! دوی د هرې سورې د نزول په مهال وايي: دغې سورې د چا ايمان زيات او مضبوط کړ؟! ګواکې په دې کې خو داسې څه نشته چې ايمان پرې مضبوط شي!!

دلته مو دې خبرې ته هم بايد پام وي چې يو مهال په مسلمانانو کې د دې خبرې پر سر لويه شخړه او منازعه راولاړه شوې وه چې آيا ايمان زيادت او نقصان مومي که نه؟ حتی خبره دې حد ته ورسېده چې پر همدغې موضوع مذاهب رامنځته شول، ځينو ويل: ايمان ثابت دئ، پر ثابتو شيانو د باور په معنی دئ، د قرآن له بشپړېدو وروسته په هغه کې زياتوالی او کموالی نشي راتلی؛ او ځينو ويل چې د قرآن ګڼ شمېر آيتونه په تأکيد سره وايي چې ايمان زيادت مومي!! دا په داسې حال کې چې دا اختلاف له يوه لفظي اختلاف پرته بل څه نه وو، يوې ډلې زيادت په يوې معنی او بلې په بلې معنی تعبيرولو، يوې ډلې ويل چې (مؤمن به) شيان ثابت دي، انسان هغه مهال مسلمان ګڼل کېدی شي چې پر ټولو ايمان ولري، نه کم او نه زيات؛ او دا په خپل ځای سمه خبره ده، چې هيڅوك ترې انکار نشي کولی، بلې ډلې ويل چې پر مؤمن به شيانو د ايمان او باور کيفيت او حالت بدلېږي رابدلېږي او له يوه تر بل توپير لري، د چا زيات او مضبوط او د چا کمزوری او کم، چې دا هم صحيح وينا ده او له حقيقت ئې هيڅوك انکار نشي کولی!! نو اختلاف په څه کې دئ؟!! موږ د دغو دواړو خبرو په تلفيق باور لرو، د هغه چا وينا راته جسارت برېښي چې وايي ايمان زياتوالی نه مومي، دا ځکه چې د قرآن ګڼ شمېر آيتونه همدا خبره کوي، د قرآن د وينا خلاف خبره کول لوی جسارت دئ. په دې کې هيڅ شك نشته چې ايمان د کيفيت له پلوه بدلېږي رابدلېږي، کله ډېر ځلانده او مضبوط شي او کله تت او کمزوری، د قرآن په لوستلو سره ئې ځلا په برخه شي، د الله تعالی په ذکر سره لامضبوط شي، په عباداتو کې اهتمام ئې مزيد ښېرازه کړي او په دغو امورو کې د غفلت او کسالت په وجه تت او مړژواندی شي.

---

أَوَلَا يَرَوْنَ أَنَّهُمْ يُفْتَنُونَ فِي كُلِّ عَامٍ مَّرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ لَا يَتُوبُونَ وَلَا هُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٢٦﴾

آيا دې ته پام نه کوي چې هر کال يو ځل يا دوه ځلې آزمويل کېږي؛ (خو) بيا هم نه توبه کوي او نه پند اخلي.

(۱۲٦)- يو ځل بيا د خطاب مخه د منافقينو په لور اوړي او د دوی په اړه ويل کېږي چي: آيا دې ته ئې پام نه دئ چي هر کال يو ځل دوه ځلي آزمويل کېږي، خو سره له دې توبه کوي او نه پند اخلي، يعني هر کال يو وار دوه واره داسي حالت راشي چي دوی له الهي آزمويني سره مخامخ شي، يا د دښمن له لوري پر مسلمانانو د بريد آزموينه او يا د مسلمانانو له لوري پر دښمن بريد، دواړه د دوی لپاره سخته آزموينه، يا به خطر قبلوي او په جنگ کي به برخه اخلي او يا به په جهاد کي له برخي اخيستو بيا هم ډډه کوي او د نفاق پرده به ئې لازياته څيري کېږي او د دوی په سينو کي پټ نفاق به راښکارېږي.

له دې مبارك آيت په ډېر صراحت سره معلومېږي چي د پيغمبر عليه السلام په حيات کي د مديني نظامي وضعيت څنگه وو؟ دا آيت وايي چي هر کال لږ تر لږه يو يا دوه ځلي داسي ستره جگړه رامنځته شوې چي منافقين ئې په آزمېښت کي غورځولي، طبيعي ده چي د هغو وړو وړو نښتو شمېر به د دې څو برابره وو چي منافقين ئې له آزمېښت سره نه مخامخول، د ټولو نښتو شمېر تر اويا زيات دئ، په نژدې اُوه ويشتو کي پيغمبر عليه السلام په خپله برخه اخيستې ده، که د لسو کلونو دا نښتي وشمېرو نو ويلی شو چي په اوسطه توگه په هرو شپږو اونيو کي يوه وړه يا لويه نښته واقع شوې!! عجيبه ده چي څوك دا حقيقت له پامه غورځوي او له جهاد د انکار په موخه وايي چي اسلام د امن دين دئ!! هو اسلام د امن دين دئ خو هغه امن چي اسلام ئې غواړي يوازي د جهاد له لاري راتلی شي، قرآن هغه حالت ته د امن نوم ورکوي چي حق غالب وي او عدالت تأمين شي، د حق له غلبې او د عدالت له تأمين پرته امن دروغجن امن دئ، په هغه امن دي اور ولگېږي چي د ظالمانو، مفسدينو او باغيانو په خدمت کي وي، بې وزلي له خپل حق محروم او غږ ئې په سينه کي خفه وي، د هغه امن بيرغ دي تل نسکور وي چي د پوليس او فوځي درېشي د ظالم، مفسد او غله په تن وي، واك د هغه چا په لاس کي وي چي نه له الله تعالی وېره لري او نه پر مظلومانو زړه سوی او ترحم!!

عجيبه ده! زورور ظالمان به راولاړ شي؛ د کمزورو مظلومانو ملك به ترې ونيسي، د خپلي خوښي نظام او واکمنان به پرې مسلط کړي، د دوی هر څه به د ځان گڼي، د دوی په هېواد کي به د هر څه کولو حق ځان ته ورکوي، څوك به نيسي او په زندان کي به ئې اچوي، څوك به وژني او څوك به له خپله هېواده شړي، بيا به وايي: موږ امنيت غواړو، امنيت د ټولو په گټه دئ، زموږ د شتون مخالفين جنگ غواړي او بې امنيتي راولاړوي، سرکاري مزدور مفتيان به فتوی ورکړي چي اسلام د امن دين دئ او امنيت خوښوي! جهاد د امير له لوري اعلانېږي، امير نشته، نو څکه اوس جهاد شرعي اعتبار نه لري!! دا خبري په هر جهاد کي تکرار شوې او بيا بيا به تکرارېږي، يا به ساده او له دينه بې خبره خلك پرې غولېږي او يا به ئې منافقان زمزمه کوي.

وَإِذَا مَآ أُنزِلَتْ سُورَةٌ نَّظَرَ بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ هَلْ يَرَىٰكُم مِّنْ أَحَدٍ ثُمَّ ٱنصَرَفُوا۟ۚ صَرَفَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُم بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ ﴿١٢٧﴾

او كله چې كومه سوره نازله كړى شوې (نو) ځينو ځينو نورو ته كتلي (او ويلي ئې دي:) آيا كوم څوك مو ويني، بيا تللي، الله د دې لپاره د دوى زړونه (كاږه) ګرځولي چې دوى هغه وګړي دي چې نه پوهېږي.

---

(۱۲۷)- د دې مبارك آيت په اړه دوه د پام وړ توجيهات وړاندې كېدى شي:

منافقين داسې دي چې كله يوه سوره نازله شي او پيغمبر عليه السلام ئې په كومې غونډې كې خلكو ته اوروي، نو دوى له دې غونډې د وتلو لارې لټوي، غواړي په پټه له غونډې ځان وباسي، نو ځكه د نازل شوو آيتونو له فيوضاتو محروم او زړونه ئې د مخكې په څېر خيرن او زنګ وهلي پاته كېږي، كه دوى قرآن ته غوږ نيولی او د قرآن د تدريس او تعليم په غونډو كې ئې برخه اخيستی او د همدغو آيتونو په اورېدو سره د ايمان په حقيقت او مزيت پوه شوي وى؛ نو دا هيله كېده چې د زړونو خيرې ئې زايل او ايمان ئې په برخه شي.

- دوى له داسې غونډو په څرګنده وځي، زړه ئې دا غواړي چې د وتلو پر مهال ئې نور هم وګوري، نو ځكه يو له بل پوښتنه كوي چې آيا چا وليدئ؟ له دې ئې هدف دا وي چې په غونډې كې بې نظمي راشي، د قرآن د آيتونو په اړه خپله بې اعتنائي وښيي، نورو ته هم دغه ذهنيت وركړي چې په دې كې خو كوم مهم او د پام وړ مطلب نه ترسترګو كېږي، څه ته ناست يئ او غوږ ورته نيسئ؟!! غواړي نور خلك هم وهڅوي چې له غونډې ووځي، په مخكيني آيت كې د دوى په اړه دا وينا چې كله كومه سوره نازله كړى شي نو د دوى ځيني وايي: دې ستاسو د كوم يوه ايمان درزيات كړ؟ ښيي چې دوى غواړي د قرآن د سورتونو په اړه بې اعتنائي وښيي او بې اغېزه ئې وګڼي. له دې معلومېږي چې ځينو به جسارت كولو او د قرآن د آيتونو په اړه به ئې په څرګنده داسې غلطې تبصرې كولې او ځينو به له غونډې په وتلو سره همدغه كار كولو.

كه څه هم دوهمه توجيه ډېره مستنده او مضبوطه برېښي خو كېدى شي د منافقينو يوه ډله د لومړنۍ توجيه مصداق وي.

---

لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِٱلْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢٨﴾

يقيناً چې تاسو ته ستاسو له منځه داسې پيغمبر درغی چې څه تاسو ځوروي پر ده

ګران تمامېږي، ستاسو پر (هدايت او لارښوونې) حريص دئ او د مؤمنانو په اړه ډېر زړه سواند او مهربان.

(١٢٨)- په دې مبارك آيت كې د پيغمبر عليه السلام دغو ځانګړتياوو او صفاتو ته د مؤمنانو پام اړول شوی:

دی ستاسو له منځه غوره شوی،

څه چې تاسو ځوروي پر ده ګران او سخت پرېوځي او پرې ناراضه کېږي،

ستاسو د هدايت تلوسه لري،

د مؤمنانو په اړه ډېر زړه سواند او مهربان دئ.

يعنې پيغمبر عليه السلام د انسانانو له ډلې او ستاسو د قوم يو غړی دئ، ښه ئې پېژنئ، حالت ئې درته معلوم دئ، په خبرو ئې پوهېږئ، ګورئ چې هغه ستاسو سوکالي غواړي، هغه څه ئې سخت ځوروي او زغملی ئې نشي چې تاسو په مشقت كې اچوي، ستاسو د نجات، سعادت او هدايت کلکه تلوسه لري، د مؤمنانو په اړه ډېر مهربان او زړه سواند دئ، څنګه له داسې مهربان پيغمبر سره مخالفت کوئ!!

قرآن موږ ته وايي: د درد او مسئوليت دغه احساس، د خلکو د هدايت او لارښونې دا ژوره تلوسه، د مؤمنانو په اړه دا زړه سوی او مهرباني همغه څه وو او هغه دروند پېټی ترې جوړ شوی وو چې د پيغمبرعليه السلام پر اوږو ئې داسې دروندوالی کاوو چې نژدې وه د دې اولوالعزم پيغمبر ملا ماته کړي.

فَإِن تَوَلَّوْاْ فَقُلْ حَسْبِيَ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُۖ وَهُوَ رَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْعَظِيمِ ﴿١٢٩﴾

كه ئې ډډه وکړه نو ورته ووايه: الله راته کافي دئ، له ده پرته بل معبود نشته، په ده مې توکل وکړ؛ او دی د ستر عرش واکمن دئ.

(١٢٩)- دا د دې مبارکې سورې د پای آيت دئ، د سورې د ټولو مضامينو لپاره يوه خوندوره او جامع تتمه، په ډېرو سترو او مهمو خبرو شامل تتمه، په دې كې پيغمبر عليه السلام ته دا لارښوونې شوې: كه ستا د دعوت مخاطبين او مخالفين مخ واړوي او د ملګرتيا په ځای مخالفت ته ملا وتړي؛ نو ورته ووايه چې زما لپاره هغه الله کافي دئ چې له ده پرته بل اله او معبود نشته، پر هغه مې توکل کړی او هغه د ستر عرش رب او ټولواك دئ. د دوی د مخالفتونو پروا مه کوه، له الله تعالی پرته مه له چا وېره لره مه طمع، په هر څه كې هغه ځان ته کافي وګڼه، هغه ذات ته ځان وسپاره چې دا ټول ستر عالم

د ده په واك کې دئ، د دې عالم د پاچايي عرش د ده عرش دئ، دى ئې ټولواك او پالونکى او ساتونکى دئ.

دلته يوه خبره په پام کې ولرئ چې کله د الله تعالى لپاره داسي لفظ راځي چې په اصل کې د مخلوق لپاره وضع شوى وي؛ نو بايد هغه په مجازي معنى واخلو نه په حقيقي معنى، لکه دلته چې الله تعالى ته عرش منسوب شوى، د عرش نوم په اصل کې انسانانو د داسي شي لپاره وضع کړى چې دوى په خپل لاس جوړ کړى، دوى هغه چا ته د عرش(تخت) خاوند وايي چې د يوه هېواد پاچا وي، کله چې غواړي ووايي فلان کس د دې هېواد پاچا شو نو وايي پر تخت کښېناست، خو کله چې دې ته ورته الفاظ د الله تعالى په اړه راشي نو هلته يوازي مجازي معنى مراد وي نه حقيقي معنى، په حقيقي معنى ئې له الله تعالى پرته هيڅوك نه پوهېږي، نه د الله تعالى عرش داسي څه دئ چې موږ دا نوم ورته غوره کړى او نه پر عرش د الله تعالى استوى داسي ده لکه انسان چې پر کوم تخت کښېني، دغه اساسي ټکي ته په نه پام سره ځيني کمعقله خلك په مغالطه کې پرېوځي او الله تعالى له مخلوق سره تشبيه کوي. عرش داسي شى ګڼي لکه کوم تخت او پر عرش د الله استوى داسي ګڼي لکه پر کوم تخت د انسان ناسته!!

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

۱۳۸۸/۷/۱٤

د میثاق ایثار نشراتي اداره
کابل - دارالامان
Tel: ۰۷۷۰۴۰۱۰۱۷